تسهیلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تالیف مولانا شاه فیصل

[illegible]

[illegible]

[illegible]

تسهیلات

تسهیلات

پښتو شرح

مشکواة

تالیف:- مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

اول جلد (۱)

د شلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دا دی

① پیښوری، پښتو سره بین القوسین د قندهاری پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربی او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافی قیوداتو ترجمه
④ دحدیث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول
④ په فهقی اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑤ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
⑥ دهرحدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج
⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل
⑧ دقوله په عنوان سره دحدیث د هرې مشکلې جملې تشریح
⑨ دهرباب په اول کښې دهغې د احادیثو خلاصه
⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکي
فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

دکتاب نوم : تسهیلات شرح مشکواة

شارح: مولانا پروفیسر شاه فیصل
فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده
معاون مترجم:: عبدالکریم صدیقی

د ملاوید پتې

- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- دینی کتب خانه تیمرگره
- تاج کتب خانه صوابی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- مکتبه دارالاخلاص کابل
- مکتبه رحمانیه قندهار
- مکتبه رحمانیه کوئټه
- الوری کتب خانه قندهار
- نعمت کتب خانه کابل
- مکتبه علمیه اکوړه ختک
- حقانیه کتب خانه گردیز
- وطن دوست کتب خانه گردیز
- إقرأ کتب خانه جلال آباد
- مکتبه معروفیه کوئټه
- مکتبه عمریه چمن
- مکتبه عباسیه تیمرگره
- مکتبه امیر حمزه قندهار

اجمالی فہرست

د احاديثو د عنواناتو فهرست

فهرست اختلافِ مذاهب

*****

تقریظات الأعلام

....

تقریظ شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب په دارالعلوم حقانیه (نوښار) او دارالعلوم نعمانیه (اتمانزئ چارسده)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذی یخرج الحی من المیت ویخرج المیت من الحی، والصلاة والسلام علی من خرج أمته من ظلمات الکفروالعصیان إلی نورالایمان والطاعات، وعلی آله وصحبه وسلم تسلیماً کثیراً.

اما بعد: د ډیرې مودې راسې زمونږ د علاقې هشنغر (چارسده) مولانا شاه فیصل د ترجمې، اوتالیف وتصنیف په میدان کښې د طالبانواومسلمانانو علمی تنده ماتوی اودوی د دربار رسالت د لګولی شوی باغ سره مالوف کوی. مولانا صاحب د دارالعلوم اسلامیه چارسده اوامداد العلوم پیښور فاضل دې او زمونږ د حضرت شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا محمد حسن جان مدنی شهید نور الله مرقده قابل فخر شاګرد دې. فی الحال د پیښور پوهنتون نه په عربی کښې د دکتوراه مقاله هم لیکی.

تالیفات: د دوی تالیفی خدمات په پښتو کښې لکه د نمبر روښانه دی په کومو کښې چې ① تسهیل الهدایه شرح هدایه (۸ جلده)، ② منهاج الصالحین شرح ریاض الصالحین (۵ جلده)، ③ فوز المبتدی شرح مختصر القدوری (۳ جلده) وغیره شامل دی،

پښتو ترجمې: اودغه شان د ترجمې په میدان کښې د بخاری شرح ① کشف الباری (۲۴ جلده)، ② تفسیر خیر کثیر (۶ شپږ جلده) ③ معارف القرآن (۱۱ جلده) ④ انوار الهلالین ترجمه جمالین شرح جلالین،

عربی تالیفی خدمات: بل طرف دعربی په تالیفی دریاب کښې ئې هم لامبو وهلې ده لکه ① ,, صلاة الحنفیه في ضوء أحادیث النبویه،، ② أحکام العبادات فی فقه الأحناف،، ③ تسهیل مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ④ اواوس ئې په عالمګیری باندې هم کار کړې دې، د کومې چپائی چې شروع ده او انشاء الله ډیره زربه د شپږو اضافی خصوصیاتو سره ستاسو؟ په خدمت کښې پیش کړې شی. دغه شان سراج المنتهی شرح جامع الترمذی ئې هم کارشروع د تکمیل چې د راروان شوال په میاشت کښې متوقع دې. الله تعالی دې ورته زرترزره د تکمیل توفیق ورکړی.

تسهیلات پښتو شرح مشکاة: ددوی په دې دینی خدماتو کښې یو نوې خدمت د تسهیلات شرح مشکاة المصابیح په نوم باندې تکمیل ته اورسیده کومه چې په دولس جلدونو باندې مشتمله ده، مولانا موصوف د تسهیلات په مقدمه کښې د ټول کتاب خلاصه په (۲۷) خصوصیاتو کښې بیان کړې ده

دتسهیلات خصوصیات: په کومو کښې چې بعضې خصوصیات دا دی.

① په عربی کښې دهر باب خلاصه بیانول:- ② هر حدیث ته عنوان ورکول: ③ متن او دهغې ترجمې ته د جملو په اعتبار سره نمبرې ورکول: ④ داحادیثو تخریج:- ⑤ تشریحی ترجمه: ⑥ د راوی مختصر حالات: ⑦ د لغاتو حل: ⑧ دحدیث مشکلو جملو ته د قوله عنوان ورکول:- ⑨ په شرح کښې هرې یوې خبرې ته مناسب عنوان ورکول: ⑩ د مذاهبو بیان: ⑪ د اصول حدیث مقدمه : ⑫ د اردو د شروحاتو مجموعه: ⑬ د مذاهبو جدا فهرس: ⑭ د اوږدو احادیثو تقسیم:

دتسهیلات مقام: اګرچې ماته د ټول کتاب د مطالعې فرصت ملاؤ نشو خود بعضې ځایونو د مطالعې نه راته معلومه شوه چې مولانا موصوف په پښتوژبه کښې د تسهیلات په نوم د احادیثو کوم خدمت کړې دې د ستائنې وړ دې، ځکه چې کوم خصوصیات په دې شرح کښې راجمع شوی دی دا خصوصیات د اردو او عربی په نورشروحاتو کښې اګرچې متفرق به وی خو په یو ځائې په یوه شرح کښې هم نشته، بلکه که زه دا اووایم چې دا د اردو د ټولو او عربی د بعضې شروحاتو مجموعه ده نو مبالغه به نه وی. زما خپلو علمی متعلقینو ته ناصحانه مشوره ده که د احادیثو سره تعلق ساتل غواړئ نو تسهیلات په خپلې کتب خانې ښائسته کړئ، چې تفاولاً مو د تسهیلات په برکت په ټولو دنیوی او اخروی کارونو کښې تسهیلات پیدا شی.

دقبولیت دعا: زما د لوې رب نه دعا ده چې د مولانا موصوف ټولو کتابونو ته بالعموم او تسهیلات ته بالخصوص د مقبولیت سهره په سر کړی او په دنیا او آخرت کښې ئې د نجات ذریعه اوګرځوی. آمین

د نبوی احادیثو خادم په

① (دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک (ضلع نوښار)

② او دارالعلوم نعمانیه اتمانزی (ضلع چارسده)

.....

تقريظ فضيلة الشيخ عبد الحميد الحماسي
شيخ الحديث بالجامعة المحمدية الإسلامية ببلدة كابول (عاصمة أفغانستان)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي أرسل رسوله بالهدى، ودين الحق ليظهره على الدين كله و لو كره المشركون، و الصلوة والسلام على جميع الانبياء و المرسلين، لا نفرق بين أحد منهم، و نحن له مؤمنون، خصوصا منهم على أفضل الأنام،محمد و آله و أصحابه الذين نقلوا إلينا الكتاب و السنة، واجتهدوا فيما لم ينص عليه الشارع بأيهم اقتدينا اهتدينا.

وبعد: قال العلامة محمد أنور شاه الكشميري:لا أعرف قوما أسلموا كلهم إلا العرب و الترك و الأفغان، فهذه من نعمه تعالى علينا أن أسلمنا كلنا،فنعم الله على هذا القوم الغيور لا تنقطع كما هو عادته تعالى، بل تدوم و مظهر ذلك أن اوجد فينا علماء عاملين وجاهدين في كل ميادين الحق، وأبرز ما هو لائق ان يبرز، و ألقم لمن أراد أن يلتقم من موائد العلم، و أروى لمن خبق لأن يرتوي من آجام العلم، فمنهم أخونا الشيخ العلامة شاه فيصل صاحب مؤلفات كثيرة،و من نعم الله عليه أن اشتهرت مؤلفاته في حياته في بلاد الأفغان كتسهيل الهداية، و ترجم كشف الباري عما في صحيح البخاري، و درس الترمذي،و تفسير ابن كثير و غيرها كثيرة من الكتب إلي اللغة الأفغانية و طبع مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، لعلي القاري على منهج جديد معنونا لمسائله،عنواناً مناسباً و استغرق فيما جهد سنين.

وأخيراً أرسل إليّ من تاليفاته الجديدة شرحه على مشكاة المصابيح وسماه ,,تسهيلات شرح مشكات،،في إحدى عشرة مجلداً يريد طباعته، فطالعته فوجدته ما تروي الغليل و تشفي العليل و انقاد الحاسد والغابط، و قعد الغابط وتحيرالحاسد و أسأل الله تعالى, أن يتقبل منه سعيه الجميل. آمين

خادم الأحاديث النبوية بالجامعة المحمدية الإسلامية كابول

تقريظ د شيخ القرآن والحديث

حضرت مولانا رحيم الله حقاني دارالعلوم زبيريه پيښور ښار

ما د مولانا شاه فيصل صاحب تسهيلات شرح مشكات بعض مقامات مطالعه كړل. ما شا الله مولانا صاحب د عربۍ او د اردو شروحاتو نچوړ او خلاصه په نوی ترتيب سره راجمع كړي دي. په شرح كښې چه كوم خصوصيات دی زما په نظر كښې داسې جامع شرح لا تر اوسه پوري چا په اردو يا پښتو كښې نه ده ليكلى.

زما طالبانو ته وينا ده چه دا شرح د خپلو المارو زينت او د خپلې مطالعې مركز جوړ كړی.

د دې په مطالعه سره په لږ وخت كښ د خپل نوې ترتيب په وجه ډير څه په ذهن كښ كينی.

د الله تعالى نه مې دعا ده چه مولانا موصوف ته د نور ديني خدمت توفيق وركړی او دې شرحې ته د دوی د نورو تولو تاليفاتوسره مقبوليت وركړی. آمين

د نبوی احاديثو خادم په دارالعلوم زبيريه (سپيرسائنس كالج روډ پيښور)

رحيم الله حقاني

....

تقريظ سماحة الشيخ أبي سعيد النقشبندي محمد فيض الباري

شيخ الحديث بمدرسة دارالعلوم بانية گلداره باغيچه چمن

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي منّ علينا برسوله، و هدانا به إلى سواء سبيله، و أمرنا بتعظيمه، و فرض على كل مؤمن أن يكون أحب إليه من نفسه و أبويه و خليله، صاحب لواء الحمد و المقام المحمود أبي القاسم محمد بن عبد الله بن عبد المطلب صلى الله عليه و آله و صحبه أجمعين.

أما بعد! فمن منن الله تعالى علينا أنه تعالى وفقنا لخدمة هذا الدين القويم في زمن الفتن، و وفقنا أن نعمل في شتى مجال العلوم الإسلامية،و نكشف عن لؤلؤها المستور نهتدي إلي إبرازها على منصة الظهور، لينفع بها العلماء و الطلباء و عامة المسلمين.

قد سرّحت النظر في بعض المواضع من هذا الكتاب المسمى ((ب-تسهيلات شرح مشكات)) الذی صنفه مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس وإمداد العلوم ببلدة بشاور،فنسأل الله تعالى أجراً عظيماً لمؤلف هذا الكتاب الذي جمع اللؤلؤ والمرجان وأن يجعله خالصا لوجهه الكريم إنه سميع قدير وبالإجابة جدير و الحمد لله رب العلمين.

كتبه أبو سعيد نقشبندي محمد فيض الباري غفر له الباري

خادم الحديث النبوي بمدرسة دارالعلوم بانية گلداره باغيچه چمن

تقريظ فضيلة الشيخ أبي الحنيف محمد أمير الرحمن النعماني
شيخ الحديث بجامعة أم العلوم جلال آباد (افغانستان)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذي أخرج الناس بنوره من كدورات النفس و جهل الظلمات. و شرف من بين سائر المؤمنين العلماء، حيث قال: ((يرفع الله الذين آمنوا منكم والذين أوتوا العلم درجات)) و الصلوة و السلام على من حُمد و مُدح في أقواله و أفعاله و أحواله أفضل الصلوات و أكمل التسليمات، و على آله و صحبه الذين سبقوا الناس في خدمات الدين و سائر أنواع الخيرات.

أما بعد: فهذا الكتاب المستطاب المسمى (ب- تسهيلات شرح مشكات)كتاب كاسمه مُسهّل للكتاب المشهور ب- مشكوة المصابيح، الذي جمعه و رتبه صاحب التاليفات الكثيرة الشهيرة النافعة،أخونا في الله تعالى مولانا و بالفضل أولانا شاه فيصل حفظه الله تعالى عن الفتن و الحلل، و أطال الله عمره في طاعته و خدمة دينه و جزاه الله خيرا و زاده علماً و توفيقاً، و جعل كتابه هذا و سائر كتبه و خدماته الدينية والعلمية مقبولة بقبول حسن و أنبتها نباتاً حسناً.

آمين آمين لا أرضى بواحدة ـــــــ حتى أبلغها ألفين آمينا
و صلى الله على نبينا محمد و على آله و صحبه أجمعين

آخوكم في الله، العبد أبو الحنيف محمد أمير الرحمن النعماني
خادم علوم القرآن و السنة بجامعة أم العلوم جلال آباد (افغانستان)
١١٢ ربيع الاول ١٤٤١هـ

....

تقريظ سماحة الشيخ حبيب الله الحسني شيخ الحديث بالمدرسة العربية الإسلامية أنوار العلوم الصديقية والمفتي بها (كوئته)

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله ذي الجود و الآلاء، و صلى الله تعالى على حبيبه خاتم الرسل و الأنبياء، و على آله و أصحابه و أعوانه الأتقياء.

أما بعد: فيقول العبد الأواه خادم الأحاديث و الإفتاء المعتصم بحبل الله القوي حبيب الله الحسني شرح الله تعالى صدره و زينه بحق اليقين:

إني رأيت هذه التشريحات المسماة ((ب-تسهيلات شرح مشكات)) تأليف العلامة صاحب التصنيفات الكثيرة، مولانا شاه فيصل أطال الله تعالى عمره بصحة و سلامة،فوجدتها حقا صريحا فلم أجدها إلا كزهرة فوق ربوة ندية، و أرجو أن ينتفع بها الصغير و الكبير و القاصي و الداني، فأوصي لمن يعتمد على كلامي، أن يتمسك بها تمسكاً حقاً و يتقبلها بقبول حسن، و يشكر للمؤلف المحترم شكراً جزيلاً.

اللهم اجعل سعي مصنفها و مؤلفها مقبولاً و جميع عمله الشرعي مبروراً. و صنيعه مأجوراً، و اجعله فوق كثير من خلقك في الدنيا و الآخرة.آمين ثم آمين الحمد لله أولاً و آخراً.

و أنا العبد الأحقر المحتاج إلى الله تعالى الأكبر،

خادم الأحاديث و الإفتاء بالمدرسة العربية الإسلامية أنوار العلوم الصديقية

ستيلائث تاون كوئته بلوجستان باكستان حبيب الله الحسني عفي عنه

......

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه د مؤلف

الحمد لله الذي رفع السماء بغير عمد، والصلاة والسلام على الذي عرج به إلى السماء من غير سند، وعلى أصحابه الذين في الدين عليهم يعتمد.

اما بعد: د ډير وخت راسې مې د جامع ترمذی په شرح سراج المنتهی شروع کړې وه خو په مينځ کښې په کښې عوارضات اومشکلات پيښيږي.د سراج المنتهی د تاليف په دوران کښې د مشکاة المصابيح يوه اردو شرح د،،توضيحات،، په نوم بازار ته راغله. نوما د هغې پښتو ترجمه شروع کړه خو يوسبب داسې پيدا شو چې ما هغه تکميل ته اونه رسوله.اواراده مې د خپلې مستقلې شرحې ليکلو اوکړه.چې په دې خصوصياتو مشتمله وی.

① **دهر کتاب په اول کښې د ضروری مباحثو بيان:** چې کوم نوې کتاب شروع کيږی نو په هغې کښې دهغه کتاب سره متعلق مباحث په کښې بيان شوی دی مثلاً د کتاب الصلاة په اول کښې دا مباحث بيان شوی دی.

۱- په صلاة باندې د طهارت د تقديم وجه.
۲- د صلاة لغوی معنی
۳- د صلاة اصطلاحی معنی
۴- د مونځ شرطونه او ارکان
۵- د مونځ ارکان
۶- د مونځ حکم
۷- د مونځ د فرضيت دلائل
۸- د سورة بقرې نه د پنځو مونځو د فرضيت اثبات
۹- د مونځ د فرضيت تاريخ
۱۰- د پنځومونځونو په فرضيت کښې حکمتونه
۱۱- د مونځ د فرضيت نه وړاندې د دتهجدو د مونځ په فرضيت کښې اقوال.
۱۲ د مونځ د فرضيت نه وړاندې د بل مونځ په فرضيت کښې اقوال.

② **دباب خلاصه بيانول:** د هر باب په شروع کښې مې د باب خلاصه بيان کړې ده.مثلاً چې په دې باب کښې دومره احاديث دی او په دغه باب کښې چې د دغه باب سره څومره مسائل راغلی وی دهغې شمار مې هم کړې دې.چې د دې باب په احاديثو کښې دومره مسائل ذکر شوی دی.او بيا په کومو احاديثو کښې چې دغه مسائل راغلی دی نو په حواله کښې د هغې ارقام ورکړې شوی دی چې مثلاً په د ريح (باد) په وتلو د اودس

ماتیدل د دې باب په فلانی فلانی نمبر احادیثو کښې ذکر شوی دی.

③ **هر حدیث ته عنوان ورکول:** په کوم باب کښې چې کوم حدیث راغلی وی نو اګرچې په هغه حدیث کښې نور مسائل هم ذکر وی خو مونږ هم د هغه باب د مسئلې عنوان ورکړې دې.چې په اول نظر سره پته لګی چې په دې حدیث کښې کومه مسئله ذکر شوې ده.

④ **د مشکاة متن په ټیبل کښې بندول:** د مشکاة چې کوم احادیث دی هغه مونږ په ټیبل یعنی چوکور کښې بند کړی دی چې واضحه ښکاری چې دا د مشکاة حدیث دې.

⑤ **متن اودهغې ترجمې ته د جملوپه اعتبارسره نمبرې ورکول:** زما وړاندینې تالیف تسهیل الهدایه شرح هدایه کښې ما د جملة ترجمې نهج خپل کړې وویعنی د هدایه د متن یوه جمله او وړپسې متصل د هغې ترجمه دواړه په ټیبل کښې بنده کړې شوې وو.دغه ترتیب دطالبانودپاره د آسانتیا سبب وو ځکه هغوی دا ترتیب خوښ کړلو.په تسهیلات کښې مې هم هغه نهج اوطریقه خپل کړه خو دومره فرق په کښې دې چې د مشکواة احادیث پوره په ټیبل کښې بنددی او وړپسې دهغې د ترجمې په عنوان سره ترجمه ده خو په عربی متن کښې چې کومه اوله جمله ده نوهغې ته مو ① نمبر ورکړې دې اوپه ترجمه کښې مودهغې عربی جملې ترجمې ته هم ① نمبر ورکړې دې دغه شان دویمې جملې ② او دریمې جملې ته ③ نمبرات ورکړی دی په دې طریقه کښې عربی متن جدا په ټیبل کښې دې اودهغې ترجمه دهغې ځخه بهر، خود نمبراتو په ترتیب سره هغه عربی جمله اودهغې ترجمه واضحه اوښکاره ده.چې مبتدی طالب علم توې هم ډیره په آسانه فائده اخستې شی.

⑥ **د مشکاة احادیثوته نمبرات ورکول:** د تسهیلات ځخه وړاندې احقر شاه فیصل په مرقاة المفاتیح عربی شرح مشکاة المصابیح باندې د تسهیل کار کړې دې.کوم کښې چې دالاندې راتلونکی تسهیلات پیدا کړی شوی دی.اوالحمد لله اوس د چهاپ د مراحلو سره تیر شواو بازار ته راغلې دې.

۱- تشکیل المشکاة والمرقاة

۲- وضع العناوین المناسبة للعبارات المهمة

۳- تخریج الأحادیث بالعزو إلی الکتب والأبواب والأرقام

۴- ترقیم الأقوال والروایات والتوجیهات والاحتمالات والمذاهب.

نوپه مرقاة کښې مونږ د مشکاة ټولو احادیثو ته نمبرې ورکړې وې.دې دپاره چې په مراجعت او حواله ورکولو کښې آسانتیا وی.نودمرقاة المفاتیح هغه نمبرې مو تسهیلات ته هم منتقل کړې.چې افادیت ئې زیات شی.په دې حساب سره د مشکاة ټول احادیث شپږ زره دوه سوه څلور نوی (۶۲۹۴) دی

⑥ **د احاديثو تخريج:** څنګه چې مخکښې د دې ذکر اوشو چې ما په مرقاة المفاتيح باندې د تسهيل کار کړې دې.نو په هغه تسهيلاتو کښې د مرقاة د احاديثو تخريج هم دې.هسې خو اوس هم په متداول مرقاة باندې د تخريج کار شوې دې.خو زمونږ په تخريج کښې ورسره مونږ د کتاب او باب اضافه هم کړې ده.چې مثلاً دا حديث بخاری په کتاب الايمان کښې ((باب دعاءكم ايمانكم))کښې نقل کړې دې.په دې کښې دا فائده ده چې زمونږ په پاکستان او افغانستان کښې چې کومې نسخې دی په هغې ارقام نشته نو صرف په رقم باندې مطلوبه حديث معلومول ګران وو.دغه مشکل مونږ حل کړو او اوس يو عالم اوطالب په آسانتيا سره هر حديث په فهرس کښې کتلې شی او مطلوبه حديث ته ورتلې شی.

⑧ **تشريحی ترجمه:** په تسهيلات کښې د مشکاة د احاديثو تشريحی ترجمه شوې ده.يعنی بين القوسين مې په کښې د معارف القرآن د خلاصه تفسير اومنهاج الصالحين شرح رياض الصالحين پشان داسې اضافی قيودات لګولی دی. که يو لوستونکې شرح او نه ګوری نو هم به د حديث په مفهوم او مطلب باندې پوهيږی.اوستاسو په علم کښې دې وی چې دا اضافی قيودات مونږ د مظاهرحق داردو ترجمې څخه اخستی دی اوصاحب د مظاهر حق دا اضافی قيودات د مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح څخه اخستی دی.په دې اعتبار سره مونږ دا وئيلی شو چې د تسهيلات پښتو ترجمه د مرقاة د اضافی قيوداتوپه رڼړا کښې شوې ده. په دې اضافی قيوداتوکښې دا فائده ده بعضې وخت کښې د وخت کمې وی نو د نفس ترجمې په مطالعه سره هم د حديث په مفهوم باندې قاری پوهيدې شی اومطلب ترې اخستې شی.

⑨ **د راوی مختصر حالات:** څنګه چې ما د منهاج الصالحين شرح رياض الصالحين په تاليف کښې د حديث د راوی مختصر تعارف کړې دې.دغه شان مې په تسهيلات کښې هم په کوم حديث کښې چې په اول ځل د حديث د راوی نوم راغلی وی.دهغه تعارف او پيژندګلو مې کړې ده.

⑩ **د لغاتو حل:** لکه څنګه چې ما د هدايه په شرح تسهيل الهدايه کښې د هر متن څخه روسته د حل اللغات په عنوان سره د د ګرانو او مشکلو تکو معانی ليکلی دی دغه شان مې په تسهيلات کښې هم چې کوم حديث کښې ګران لغات وو.دهغې معانی ليکلی دی. اودا طريقه موڅکه اختيار کړه چې بعضې وخت د وخت د کمی په وجه په حديث کښې مشکل اوګران تکی راغلی وی چې هغې لغوی ترجمه ګرانه وی نود حل اللغات په کتلو سره که شرح اونه ګوری هم د حديث په مفهوم باندې پوهيدې شی.هسې خو د مشکاة المصابيح د توضيحات څخه علاوه نورې هم ګڼې شرحې شته دا ټيک ده چې هغوی هم د مشکلو لغاتو حل کړې دې.خو په تسهيلات کښې د مرقاة المفاتيح څخه په عربی

کښې د ګرانو ټکو معانی نقل کړې شوی دی.او ورسره په پښتو کښې د هغې معانی هم لیکلې شوی دی.دا خصوصیت صرف او صرف د تسهیلات دې د بلې اردو یا پښتو هیڅ شرحې ته دا شرف نه دې حاصل.

⑪ دهر باب احادیثو ته مستقلې نمبرې ورکول: څنګه چې مونږ مخکښې ذکر کړل چې د مشکاة ټولو احادیثو ته مونږ نمبرې ورکړی دی.خو هغه مسلسل نمبرې دی.یعنی د اول څخه واخله تر آخره پورې د مشکاة د ټولو احادیثو نمبر، خو د دې څخه علاوه په هر باب کښې چې څومره احادیث دی نوهغې ته جدا نمبرې هم ورکړې شوی دی چې په دې باب کښې دومره احادیث دی او بیا هر حدیث ته دباب په اعتبار سره نمبرات ورکړې شوی دی. هم هغه نمبرات د مرقاة څخه تسهیلات ته نقل شوی دی.اودا نمبرات په خلاصة الابواب کښې ډیر ضروری دی ځکه چې هلته مونږ دا وئیلی دی چې دا مسئله په دې نمبر حدیث کښې ذکر شوې ده.بس دغه مطلوبه مسئله په باب کښې د حدیث نمبر کتلو سره سمدستی ملاویدې شی.

⑫دحدیث مشکلو جملو ته د قوله عنوان ورکول: په هر حدیث کښې چې کومه مشکله جمله وی نو د هغې مفهوم او وضاحت دپاره مونږ هغې ته د قوله: عنوان ورکړې دې.په دې کښې دا فائده ده چې کله یو قاری حدیث لولی اوپه هغې کښې ورته مشکله جملې په نظر راشی نو په قوله باندې نظر اوچولو سره هغه ته معلومیږی چې په دې عنوان سره د دې جملې په کوم ځائې کښې وضاحت شوې دې.نو ډیر په آسانه خپلې مطلوبه جملې ته ورتلې شی.

⑬په شرح کښې هرې یوې خبرې ته مناسب عنوان ورکول: څنګه چې مخکښې ذکر شو چې د حدیث مشکلې جملې د قوله په عنوان سره ښکاره کړې شوی دی بیا دغې جملې ته په شرح کښې مناسب عنوان ورکړې شوې دې.او دا د عنواناتو طریقه مونږ ځکه اختیار کړه.چې موجوده وخت کښې عنواناتو ته نا قابل انکار عظمت او حیثیت حاصل دې.په یو نظر سره په لاندې عبارت کښې چې څه وی د هغې خلاصه سړی ته په نظر راځی. په کثرت عنوانات باندې احقر شاه فیصل د مرقاة الفاتیح په تسهیل کښې هم کار کړې دې. هلته هم تاسو د دې افادیت کتلې شئ.

⑭اقوالو مذاهبو وغیره ته ارقام ورکول: په شرح کښې چې څومره اقوال، مذاهب، روایات، دلائل، وجوه ترجیح وغیره راغلی دی هغې ټولو ته ارقام ورکړې شوی دی.چې په دې مسئله کښې دومره مذاهب دی.یا دومره توجیهات دی یا دومره اقوال دی او بیا هر یو شمارلې شوې دې.

⑮د مذاهبو بیان: په فهقی اختلافی مسائلو کښې د څلورو امامانو بالخصوص او د نورو نادرو مذاهبو ذکرشوې دې.د مذاهبو په بیان کښې کوشش د دې خبرې شوې دې چې

دنورو امامانومذاهب هم د هغوی د معتبرو کتابونو څخه اوشی.ځکه چې بعضې وخت هغوی ته غلط نسبت اوشی مسئله هغه شان نه وی څنگه چې نقل شوی وی په دې سره وخت هم ضائع شی اوغلط فهمی هم پیدا شی.په کومو مقاماتوکښې چې په یوه مسئله کښې مذاهب وی نوهغې ته مو «.... کښې مذاهب:» عنوان ورکړې دې.

⑭**دمذاهبوبيانولو ترتيب:** مونږ په تسهيلات کښې د مذاهبو په نقل کولو کښې دا ترتيب اختيار کړې دې چې اول مو نور مذاهب ذکر کړی دی او په آخرکښې مو خپل مذهب ذکر کړې دې.اودا ترتيب مو ځکه غوره کړې دې. چې د دلائلو په ذکر کولو کښې آسانتيا وی د دې آسانتيا وضاحت په لاندينی عنوان کښې اوګورئ.

⑮**د مذاهبو دلائل بيانول:** د مذاهبو په بيان کښې مو دا طريقه اختيار کړې ده اول مو د نورو امامانو دلائل ذکر کړی دی خو په دې کښې ما د متداولو شروحاتو څخه جدا نهج او طريقه اختيار کړې ده په نورو شروحاتو کښې اول د فريق مخالف دلائل ذکر کولی شی دهغې څخه روسته خپل دلائل ذکر کولی شی اودهغې څخه روسته بيا د نورو مذاهبو د دلائلو څخه جوابات ذکر کولی شی.او د جواباتو په بيان کښې دا وئيلی شی چې مثلاً د امام مالک د اول دليل څخه چې دا حديث دې دا جواب دې.او د دويم دليل څخه ئې دا جواب دې.په طريقه طالب باندې دوچنده بوج راځی.يو خو د فريق مخالف د دليل څخه جواب کوی او بل دا ياد ساتی چې د فريق مخالف اول دليل کوم يو وو او دويم دليل ئې کوم يو وو.مونږ دا طريقه اختيار کړې ده چې اول د فريق مخالف دلائل ذکرکړو او ورسره ورسره دهر دليل جواب هغې سره متصل ذکر کوو.چې قصه ختميږی. اوپه آخر کښې مو خپل دلائل کښې کړی دی.

⑱**په شرح کښې حوالې:** په شرحه کښې چې کومې خبرې شوی دی نواول خو مونږ حواله ورکړې ده.خو که حواله نه وی نو تاسو دا فرض کړئ چې دا خبره په مرقاة المفاتيح کښې ده.ځکه چې زما تسهيلات زيات ماخذ هم مرقاة المفاتيح دې.

⑲**د اصول حديث مقدمه:** د دې خطبې په اول کښې ذکرشو چې ما د سراج المنتهی په نوم د جامع ترمذی شرح شروع کړې ده خو تر اوسه پورې د عوارضو ښکار ده. د هغې په اول کښې ما يوه مقدمه ليکلې ده.هم هغه مقدمه مې دلته تسهيلات ته منتقل کړه.اوپه اول جلد کښې مو شامل کړې ده.خودا ياد ساتئ چې دا مقدمه د شيخ الاسلام علامه مفتی تقی العثمانی مدظله العالی د تقرير ترمذی مقدمه ده چې ما پښتو ته ترجمه کړې ده.او په تسهيلات کښې مې لګولې ده.

⑳**کتابونواو بابونو ته ارقام ورکول:** په مشکاة المصابيح کښې چې څومره کتابونه دی هر يو کتاب ته مو نمبر ورکړې دې.دغه شان په مشکاة المصابيح کښې ټول (۳۰) کتابونه

دی.اوبیا په هر کتاب کښې چې څومره بابونه دی هغه.ته موهم ارقام ورکړی دی چې په دې کتاب کښې دومره بابونه دی.مثلاً په کتاب المناقب کښې (۱۴) بابونه دی دغه شان په هر یو کتاب کښې شمار کړه.

⑪ **دهرې صفحې په اول کښې د کتاب اوباب عنوانات مع ارقام:** د هرې صفحې په اول کښې چې کومه اولنئ کرښه وی په هغې باندې تاسو ته د کتاب نوم او رقم دغه شان د باب رقم او عنوان ښکاری اوپه دغه باب کښې چې څومره احادیث دی د هغې شمار هم په کښې هم ذکر شوی دې.

⑫ **د اردو د شروحاتو مجموعه:** په اردو کښې چې څومره شروحات دی لکه مظاهر حق، خیر المفاتیح، خیر التوضیح، تنظیمات الاشتات وغیره د هغې ټولو څخه په دې شرح کښې استفاده شوې ده که څوک د دغې مذکوره شروحاتو ددې تسهیلات شرح مشکات سره موازنه اوکړی نو د رڼړا ورځ پشان به ورته ښکاره شی.د دې څخه علاوه د مرقاة اشعة اللمعات بذل المجهود وغیره عربی شروحاتو څخه هم د تسهیلات په تالیف کښې استفاده شوې ده.خلاصه دا چې اوس نه مظاهر حق ته ضرورت پاتې شو اونه نورو شروحو ته بلکه د اردو د ټولو شروحاتو مجموعه د تسهیلات په شکل کښې ستاسو وړاندې ده.

⑬ **د مذاهبو جدا فهرس:** زمونږ په مدارسو کښې عام اختلافی مسائل اوبالخصوص فقهی اختلافی مسائل ډیر په تفصیل سره وئیلی شی.اواکثرپه وفاق المدارس وغیره په امتحاناتو کښې هم راځی.ددې د طالبانواومدرسینو د آسانتیا په غرض مود اختلافی مسائلو جدا فهرس هم جوړ کړې دې چې د اختلافی او اهمو مسائلو په لټون کښې څخه مشکل نه وی.

⑭ **قندهاری-اوپېښوری-پښتو:** زمونږ پښتانه رونړه دپښتوژبې د لهجې په لحاظ سره په دوو حصو کښې تقسیم دی قندهاری پښتو اویوسفزئ (پېښوری) پښتو ددې وجې کوم کتابونه چې په پېښوری پښتوکښې لیکلی شوی وی نو د کوئټې چمن قندهار پښتانه پرې صحیح نه پوهیږی اوکوم کتابونه چې په قندهاری پښتوکښې لیکلی شوی وی نو د خیبرپختونخوا اوجلال آباد خوست وغیره پښتانه پرې صحیح نه پوهیږی. بالخصوص په کوئټه چمن قندهارکښې چې کوم طالب علم کتاب اخلی نواول پښتنه کوی چې په کومه پښتوکښې لیکلې شوې په قندهاری کښې که پېښوری کښې،چې د قندهاری پښتو نوم واوری نووائی راوې ښایه اوچې د پېښوری پښتو نوم واوری نو په تندی ئې دخفگان آثار ښکاره شی ددې مشکل حل کولودپاره فی الحال مونږ د احادیثو په ترجمه کښې د قندهاری پښتو اهتمام کړې دې اوځه وخت پس به انشاء الله په پوره کتاب کښې د پېښوری پښتو سره بین القوسین د قندهاری پښتو ټکی هم ورکوو.چې د قندهاریانو

رونړو ګیله هم ختمه شي.

⑮ د احادیثو عنواناتو ته ارقام ورکول: تقریباً د هر حدیث څخه وړاندې مونږ په پښتو کښې عنوانات لګولی دی.چې کوم حدیث ته عنوان ورکړې شوې دې نو د هغه حدیث رقم مو پورته د هغې حدیث عنوان ته هم ورکړې دې.دا په دې غرض چې دولس آخری جلد کوم چې مونږ د ،،مفتاح حل الصحاح،، په نوم مرتب کړې دې. په هغې کښې د دې ارقامو څخه فائده واخستې شي.

⑯ د اوږدو احادیثو تقسیم: په مشکاة کښې چې کوم احادیث اوږده دی.او په ترجمه کښې ئې خپله مطلوبه ترجمه پیدا کول ګران وی نو په آسانتیا سره د خپل مطلوبه ترجمې پیدا کولو په غرض مونږ اوږده احادیث د موضوع په لحاظ سره په مختلفو حصو کښې تقسیم کړل.اوبیا مود هرې حصې سره د ترجمې څخه روسته د هغې حل اللغات هم اولګول چې د مشکل تکی په لټون کښې هم آسانتیا وی.

⑰ د هرې صفحې په اوله کرښه د کتاب اوباب خودنه: تاسوته به د هرې صفحې په اوله کرښه کښې کتاب، باب په نظر راځی مثلاً کتاب الطهارة، باب التیمم دغه شان دا سلسله د کتاب د آخره پورې روانه ده په دې کښې دا فائده ده چې که یو قاری فهرس ته لاړ هم نشی نو د اولې صفحې څخه دا معلومولې شی چې دا کوم کتاب او کوم باب دې.

⑱ تسهیلات د مرقات خلاصه: په تسهیلات کښې مونږه په اکثرو مباحثو کښې حواله نه ده ورکړې ددې غټه وجه دا ده چه دتسهیلات اولنې ماخذ مرقاة المفاتیح دې نود کوم بحث حواله چې تاسوته ملاؤ نه شی دا اوګنړئ چې دا د مرقات نه اخستې شوې دې. البته د کومو نورو کتابونو نه چې نقل شوې دې نو هلته مونږه حواله ذکر کړې ده.مثلاً اشعة اللمعات وغیره.

دعا: د دې مقدمې څه حصه مې په حرم مکی کښې شروع کړې وه او بیا د ماخوستن د مانځه څخه روسته په تاخانه کښې ناست ووم او تکمیل ته مې اورسوله دا ۳۱ مارچ ۲۰۱۹ کال وو.په دغه وخت کښې لا په تسهیلات کار شروع وو.خود تبرک په غرض مې مقدمه هلته اولیکله چې الله تعالی په کښې برکت واچوی او مقبولیت ورته حاصل شی. اګرچې په مقدمه کښې نوی اضافات هم شوی دی خوشروع ئې په حرم مکی کښې شوې وه. ستاسو څخه دا سوال کوم که د تسهیلات څخه مو څه فائده واخستله نو ما احقر (شاه فیصل او ماسره په دې شرح کې ټول معاونین) په خپلو دعاګانو کښې یاد ساتئ دوه ورځې ژوند دې معلومه نه ده چې کله به راته د اجل فرښته راځی او د دې فانی دنیا څخه به د کفن په پرده کښې مخ پټوم. الله دې زمونږ ایمان نصیب کړی او دا تسهیلات دې راته د قبر او حشر په مشکلاتو کښې د تسهیلات سبب جوړ کړی.

ستاسو د دعاګانو محتاج عاجز شاه فیصل ۲۸ ستمبر کال ۲۰۲۰

مقدمه

(يعني د مشكاة المصابيح سره متعلقه ابتدائي مباحث)

په مشكوة او مصابيح كښې د فرق وجوهات:

① په مصابيح كښې دَحديث دَمتن نه وړاندې دَ صحابى ذكرنه وو. صاحب مشكوة رحمه الله دا التزام اوكړو چه دَهرحديث نه وړاندې ئې دَهغه صحابى رضي الله عنه نوم مبارك ذكركړو چاچه داحديث دَ رسول الله ﷺ نه روايت كړې دې.

② په مصابيح كښې دَحديث په آخره كښې دَمخرجينو حواله بالتعيين ذكر نه وه صاحب مشكوة رحمه الله دَهرحديث په آخره كښې دَ متعين مخرج حواله وركړې ده.

③ مصابيح اومشكوة دواړه خوپه دې امر كښې يوشان دى چه دَ احاديثو پوره سندونه په دې كښې ذكرنه دى فرق دا دې چه په مصابيح كښې تعيين دَمخرج هم نشته اوپه مشكوة كښې شته دې او تعيين دَمخرج په منزله دَ پوره سندذكركولو دى.

④ په مصابيح كښې هرباب په دوو حصوكښې تقسيم وو دَرومبې حصې احاديث دَ من الصحاح په عنوان سره او دَ دويمې حصې من الحسان په عنوان سره شروع كړې شوى دى. په مشكوة كښې دابدلون كړې شوې دې چه رومبې حصه الفصل الاول سره تعبير كړې ده او دويمه حصه الفصل الثانى سره. احاديث هم هغه دى كوم چه په مصابيح كښې وو په فصل اول كښې دَ شيخينو او په ثانى كښې دَغيرشيخين روايات دى. دَ غيرشيخين احاديثوته حسان وئيل ياخوتغليبًا دى يادَهغوى خپله اصطلاح ده.

⑤ دَمصابيح دَهرباب صرف دوه حصې وې صاحب مشكوة رحمه الله په اكثرابواب كښې دَ دريمې حصې اضافه فرمائيلې ده كوم چه په الفصل الثالث سره تعبيركوى. په دې فصل كښې ئې چه كوم احاديث راوړى دى هغه په مصابيح كښې نه وودَدې اضافه ده.

⑥ په مصابيح كښې أصالةً صرف مرفوع حديثونه ذكركړې شوى دى صاحب مشكوة رحمه الله په الفصل الثالث كښې موقوف اومقطوع احاديث هم ذكركړى دى.

⑦ په مصابيح كښې بعض احاديث مختصر وو صاحب مشكوة رحمه الله خو چرته دا هم مختصر پريخودل اوچرته ئې دَبعض اسبابو اوداعى په وجه دَدغه مختصر احاديثو تكميل كړې دې.

⑧ په مصابيح كښې بعض احاديث مكرر وو صاحب مشكوة رحمه الله تكرار ختم كړې دې.

⑨ صاحب مصابيح بعض احاديث الصحاح دَ عنوان لاندې ذكر كړى وو دَ كومې نه چه معلومه شوه چه دادَ شيخين حضراتو احاديث دى ليكن صحيح بخارى، صحيح مسلم، جمع بين الصحيحين للحميدى اوجامع الاصول نه په يو كښې هم دَ نه ملاويدو په وجه

صاحب مشكوة رحمه الله په بعض احاديثو كښې دَغير شيخين حواله وركړې ده.

⑩ بعض احاديث دَمصابيح په دويمه حصه كښې وو دكومې نه چه دامعلومه شوه چه دا احاديث به په صحيحين كښې نه وى ليكن په دې كښې بعض احاديث صاحب مشكوة رحمه الله ته په صحيحين كښې ملاؤ شو په دې وجه ئى دَ شيخين حواله وركړه.

⑪ اكثر په مصابيح كښې دَ حديث نور لفظ وى اومشكوة كښې نور. دَدې وجه داچه په مصابيح كښې پيش كړې شوې لفظونوحواله صاحب مشكوة رحمه الله ته ملاؤنه شوه په دې وجه ئى دَحديث هغه الفاظ پيش كړل دكوم سند اوحواله چه هغوى ته ملاؤ شوه.

⑫ دَمصابيح بعض احاديث نقل كولوسره كله صاحب مشكوة رحمه الله داسې وائى چه ما وجدت هذه الرواية فى كتب الاصول ياداسې وائى وجدت خلافهافيها. داهغه وخت فرمائى كله چه دَمصابيح روايت بعينها دَ تفتيش تام نه پس هم هغه ته ملاؤنه شى په دې صورت كښې چه دَ روايت كوم اختلاف وى هغه نقل كوى.

⑬ دَمصابيح دَ بعض احاديثو متعلق شيخ بغوى رحمه الله داوئيلى دى چه داضعيف دې يا غريب دې يائى بل څه وصف بيان كړې دې. صاحب مشكوة رحمه الله په داسې موقع باندې دا طريقه اختيار كړې ده چه په عام توګه دَ ضعف يا دَ غرابة وغيره وجه ئى بيان كړې ده اوبعضې ځائى كښې ئى وجه نه ده بيان كړې دَ نه معلوميدو دَ وجې نه يا په دې وجه چه په هغې كښې اختلاف وو اوده طول ته نه تلل غوښتل.

⑭ په كتب اصول كښې كله دَ يوحديث متعلق صحيح يا حسن يا غريب ياضعيف يامنكروغيره څه صفت بيان كړې شوې وى ليكن صاحب مصابيح دا نه وى نقل كړې صاحب مشكوة هم په عدم نقل كښې دَهغوى اتباع كوى ليكن چرته چرته دَ څه غرض دَ وجې نه دانقل كوى هم.

⑮ صاحب مشكوة دَ بعض احاديثو په آخره كښې دَ مخرج حواله دَ نه معلوميدودَ وجې نه بياض يعنى خالى ځائى پريخودې دې.

دَذكرصحابى رضي الله عنه فوائد: صاحب مشكوة رحمه الله دَهريو روايت په شروع كښې دَصحابى رضي الله عنه ذكر كوى دَچانه چه دغه حديث روايت وى. دَصحابى نوم ذكركولوسره ډيرفائدې حاصليدې شى مثلاً ① دَ ناسخ اومنسوخ په پيژندګلوكښې امداد ملاويږى. مثلاً په يومسئله كښې دوه متعارض احاديث زمونږ مخې ته دى اوس به غور كولې شى چه په دې كښې كوم يوحديث متقدم دې اوكوم يو متأخر دې. متأخرناسخ وى. دَدغه وړانديوالى اوروستوالى پته لګولوكښې دَ صحابى په ذكرسره امداد ملاويدې شى مثلاً يوحديث روايت كونكې صحابى دَ پخوانه په اسلام دې اودويم حديث نقل كونكې

صحابي روستو اسلام راوړلې دې. په دې سره به څه اندازه اوشي چه کوم يوحديث وړاندې دې.
② بله داچه کله په دوو احاديثوکښې تعارض وي دَ صحابي په ذکرسره يوته ترجيح ورکولې شي هغه داسې چه مثلاً دَ يوحديث روايت کونکې صحابي فقيه وي اودَ دويم حديث روايت کونکې صحابي فقيه نه وي. ټول په ټول صحابه کرام عادلان خو دي ليکن دَهر صحابي فقيه کيدل ضروري نه دي. دَ فقيه روايت ته دَغيرفقيه په روايت باندې ترجيح ورکولې شي. دَصحابي په ذکرسره په دې کارکښې امدادملاويږي.
③ کله دَ صحابي په ذکرسره دَ حديث دَ قوت يا ضعف هم اندازه لګيدلې شي. هغه داسې چه دَ يوصحابي حديث کوم چه وړاندې تلې دې هغه خو په ښه سندسره رسيدلې دې. په طالبانوکښې مشهوردي چه دا دَ ښه سندوالا دې. اودَ بل صحابي حديث چه په کوم سندسره وړاندې رسيدلې دې هغه سند کمزورې دې اوطالبانوته دَدې خبرې هم پته ده چه دا حديث په کوم سندسره رسيدلې دې هغه کمزورې دې. دَصاحب مشکوة دَ صحابي ذکرکولوسره په دې پيژندګلو کښې امدادملاويږي.
دَ مخرج دَ تعيين فوائد: صاحب مشکوة دا التزام کړې دې چه دَمخرج تعيين کوي. په دې کښې ډيرفوائددي:
① په اجمالي توګه باندې دَ سند حالت معلوميږي ځکه چه دکومو مخرجينو او مصنفينو حوالې ورکوي دَهغوي شرائط معروف دي مثلاً علماء اوطلباء پوهيږي چه امام بخاري رحمه الله دَ کوم شرط او معيار مطابق حديث راوړي. کله چه مصنف وائي رواه البخاري نوپه دې سره مونږ اندازه کولې شو چه دادَدې معيارحديث دې. علی هذاالقياس.
② مخرجينو قلت اوکثرت معلوميږي کله کله صاحب مشکوة يوحديث نقل کوي او دَ متعدد مخرجينو حوالې ورکوي په دې سره دَدې حديث باره کښې اطمينان زياتيږي چه دَدې تخريج کونکي دومره حضرات دي.
قواعدوفوائد "همزة ابن"
په ديباچه کښې لفظ ابن ډير استعمال شوې دې او هسې هم دَحديث په کتابونوکښې لفظ ابن په کثرت سره استعماليږي. عموماً دَدې دَقواعدونه طالبان ناخبره وي. په دې وجه دَدې لفظ باره کښې اهم فوائد وړاندې کول مناسب دي.
① دَ لفظ ابن همزه وصلي ده اودَ همزه وصلي عام قاعده داده چه کله په وسط دَ کلام کښې واقع وي نو په ليکلو کښې پاتې کيږي او په لوستلوکښې پريوځي.
② په قاعده مذکوره باندې په درج کلام کښې دَ راتلو په صورت کښې دَ ابن همزه په کتابت کښې راتلل پکاردي صرف په تلفظ کښې پريوتل پکاردي ليکن دَابن دَ استعمال

يو خاص صورت دادي چه په کوم کښې دَدې همزه تحفيفاً دَ کتابت نه هم غورزولې شي. هغه صورت دَ استعمال دادي چه ابن دَ علمين متناسلين په مينځ کښې واقع وی يعنی رومبې علم ځوئی اودَ ابن نه پس والا علم پلار يامور وی اودا (ابن) دَ رومبې علم صفت جوړيږی اودَ بل طرف ته مضاف وی. په داسې صورت کښې دَ ابن همزه په ليکلو کښې هم غورزولې شی لکه محمد بن اسماعيل محمد ځوئی دې دَ اسماعيل دا علمين متناسلين شو ابن دمحمد صفت او دَ اسماعيل طرف ته مضاف دې په دې وجه به دلته دَدې همزه نه شی لوستلې اونه به ليکلې شی. په مشکوة شريف کښې چه دَ څومره محدثينو حضراتو نومونه ذکرکړې شوی دی په ټولو کښې داقاعده چليږی. په دې صورت کښې همزه خطاً غورزولو وجه داده چه دا ترکيب په عربو کښې په کثرت سره استعماليږی اوکثرت استعمال دَ خفت تقاضا کوی. په لوستلو کښې خودَدې همزه پريوتل وو نور تخفيف دا اوشو چه په ليکلو کښې ئی هم اوغورزوله.

③ که چرې لفظ دَ ابن دَ علمين متناسلين په مينځ کښې وی اومذکوره شرطونه هم پوره وی خولفظ ابن دَ کرخې په شروع کښې راځی نو بيادَدې همزه ليکلې کيږی.

④ په صورت مذکوره کښې يو تخفيف داهم کيږی چه دَ ابن نه وړاندې علم که قابلِ تنوين وی نودَدې تنوين هم غورزولې شی لکه محمد بن اسماعيل کښې محمد منصرف اوقابلِ تنوين دې په دې باندې تنوين تخفيفاً غورزولې شوې دې.

⑤ که چرې ابن دَعلمين متناسلين په مينځ کښې خو راغلې دې ليکن دَ رومبې صفت نه وی بلکه دَ هغې نه خبر وی نودَ ابن همزه ليکلو کښې نه پريوځی ليکل ضروری دی لکه زيدٌ ابن عمرو کله چه ابن عمرو مرکب دَ زيد خبر جوړول مقصودوی (زيد دَعمرو ځوئی دې). اوس به دَ ابن همزه صرف په تلفظ کښې پريوځی په کتابت کښې به راځی.

⑥ محمدبن يزيدابن ماجه دَ مشکوة شريف په دې عبارت کښې دوه ابن دی دَ رومبې ابن الف ليکلو کښې غورزول پکاردی ځکه چه ددَ علمين متناسلين په مينځ کښې دې محمدځوئی دې دَ يزيد ليکن دَ دويم ابن الف ليکل پکار دی ځکه چه دا دَ علمين متناسلين په مينځ کښې نه دې. يزيددَ ماجه ځوئی نه دې بلکه دَهغه عين دې دَ يوقول مطابق او خاوند دې دَدويم قول مطابق په دَې وجه دا ابن ماجه دَ يزيدصفت نه شی جوړيدې په دې وجه په دې باندې دَتخفيف قاعده مذکوره نه شی لګيدې. دَدې الف ليکل پکاردی لکه چه ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات [ص۲۵ج۱] کښې فرمائی ((بإثبات ألف ابن خطاً فإنه بدل من ابن يزيد ففي القاموس ماجه لقب والد محمد بن يزيد صاحب السنن لا جده وفي شرح الأربعين إن ماجة اسم أمه))

حاصل دادې چه دويم ابن دَ يزيدصفت نه شي جوړيدې بلکه ابن يزيدنه بدل دې محمدځوئی دَ يزيد يعنی ځوئی دَ ماجه دابنه ذهن کښې اوساتئ. محمدبن يزيدابن ماجة غوندې تراکيب دَ حديث په کتابونو کښې نور هم ډير ملاويږی مثلاً

① عبدالله بن عمرو ابن ام مکتوم رضي الله عنه عمرو دَام مکتوم ځوئی نه دې بلکه خاوند دې، عمرو دَعبدالله دَ پلار نوم دې اوام مکتوم دَ مور دَ دويم ابن الف ليکل پکاردی.

② عبدالله بن ابی ابن سلول. سلول دَعبدالله مور او ابی ښځه ده.

③ عبدالله بن مالك ابن بحينة. بحينة دَعبدالله مور دَمالك ښځه ده.

④ محمد بن علی ابن الحنفية. حنفيه دَ محمدمور اودَ حضرت علی رضي الله عنه بی بی ده.

⑤ إسمعيل بن ابراهيم ابن عُلَيّةَ. عليه دَ ابراهيم بی بی اودَ اسمعيل مور ده.

⑥ إسحاق بن ابراهيم ابن راهويه. راهويه هم دَ ابراهيم لقب دې. ([1])

دَ لفظ ماجه تحقيق: لفظ ماجه دَجيم په تخفيف سره دې په دې باندې تشديدلوستل غلط دی. محمدبن يزيد ابن ماجه متعلق په عام توګه دَ ناخبرئی دَ وجې نه داګنړلې کيږی چه ماجه دَمحمد نيکه او يزيدئی پلار دې حالانکه داغلط دی يزيدخودَمحمد پلار دې ماجه دَ يزيدپلار اودَ محمدنيکه نه دې نو بيادَ ماجه دَ يزيداو دَهغه دَ ځوئی محمدسره څه رشته ده؟ په دې کښې دوه رائې دی يودا چه ماجه دَ يزيد ښځه اودَمحمد (صاحب سنن ابن ماجه) مور ده په دې صورت کښې په يزيد اوماجه کښې علاقه دَ زوجيت ده. دويمه رائې داده چه ماجه دَمحمد دَ پلار يزيد لقب دې په دې صورت کښې ماجه او يزيدهم دَ يوسړی دوه نومونه دی. يزيد دَ محمددَ پلار علم دې اوماجه هم دَدې لقب اوعرف دې اوس په يزيد اوماجه کښې علاقه دَ عينيت ده.

په تاريخی حيثيت سره په دې کښې کومه يوه رائې صحيح اووزنی ده دَدې دَمکمل تفصيل خوداموقع نه ده البته مختصراً دومره خبره ياد لرئی چه په دې کښې هم اختلاف دې دواړو طرفوته تصحيح ملاويږی. علامه سيد مرتضی زبيدی رحمه الله دَ بعض حکماء نه دَ قول اول (ماجه دَ صاحب سنن محمدمور ده) تصحيح نقل کړې ده. چنانچه په تاج العروس شرح قاموس کښې فرمائی: ((وهناك قول آخروصححوه وهی أن ماجة اسم لأمه والله أعلم.)) ([2]) او په دې باره کښې يوبل قول هم دې اودَهغې هم علماؤ تصحيح کړې ده چه ماجه دَهغوی دَ مور نوم وو. والله اعلم.

---

[1]) شرح مسلم للنوی ص۶۸ج۱.

[2]) امام ابن ماجه اوعلم حديث مؤلفه حضرت مولانا عبدالرشيدنعمانی ص ۱.

شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمه الله بستان المحدثين (۱) كښې هم داصحيح گرځولې دى. نواب صديق حسن خان صاحب هم خپل كتاب الحطة بذكر الصحاح الستة او اتحاف النبلاء ا لمتقين كښې بعينه هم دغه فرمائيلى دى. (چه ماجه دَ محمدمورده) مگر شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمه الله په عجاله نافعه كښې په صفا لفظونوكښې تصريح كړې ده چه ماجه دَهغه دَ پلار يزيد لقب دې دَمحمد دَمور نوم نه دې. [عجاله نافعه ص۲۳]

شاه صاحب رحمه الله چه په عجاله نافعه كښې كوم څه ليكلى دى دَاكثرعلماؤ تصريحات هم دَدې موافق دى. حقيقت دادې چه دَدې بحث دَ فيصله كولوحق دَ ټولونه زيات مؤرخين قزوين ته دې ځكه چه امام ابن ماجه رحمه الله پخپله قزوينى دې. صاحب البيت ادرى بما فيه دوې (مؤرخين قزوين) بيانات هم دَدې تصويب كوى چه ماجه دَيزيدلقب دې. چنانچه محدث رافعي رحمه الله په تاريخ قزوين كښې دَامام ابن ماجه رحمه الله په تذكره كښې ليكى چه ((أنه محمدبن يزيدوأن ماجة لقب يزيد)) (۲)

دَهغه نوم محمدبن يزيد دې اوماجه دَ يزيد لقب دې. اوحافظ ابن كثير رحمه الله په البدايه والنهايه كښې دَحافظ خليلي په حواله چه دَ قزوين مشهور مورخ دې نقل كړى دى چه ماجه دَ يزيد عرف اولقب وو. [البدايه والنهايهص۵۲ج۱۱]

دَ ټولو نه زيات دا چه په دې باره كښې پخپله دَامام ابن ماجه رحمه الله دَ ټولونه مشهورشاگرد دَ حافظ ابوالحسن بن القطان بيان موجود دې په كوم كښې چه هغه په ډير زيات جزم سره تصريح كوى چه ماجه دَهغوى دَ پلار لقب وو. ښكاره خبره ده چه دَدې تصريحاتو په موجودگئ كښې اوس په دې باره كښې هيڅ شبه نه پاتې كيږى چه ابن ماجه په حقيقت كښې دَ هغوى دَپلار لقب وو. هم په دې وجه امام نووى رحمه الله تهذيب الأسماء واللغات كښې اوعلامه مجد الدين فيروز آبادى القاموس المحيط كښې اوعلامه ابوالحسن سندهى شرح ابن ماجة كښې صفا تصريح كړې ده چه ماجه دَهغوى دَ پلار لقب وو نيكه ئې نه وو. په داسې صورت كښې دَ املاء دَ قواعدو مطابق ابن ماجه كښې ابن الف سره ليكل پكاردى دې دَپاره چه دادَ محمد صفت اوگنړلې شى دَ يزيديا دَ عبدالله صفت اونه گنړلې شى.

دَ"الجمع بين الصحيحن للحميدى" تذكره: ديباچه مشكوة كښې "الجمع بين الصحيحن" للحميدى تذكره كړې شوې ده. دَحميدى نه مراد ابوعبدالله بن ابى نصر حميدى اندلسى دې. دَ ظاهريه مذهب طرف ته نسبت په وجه دوى ته ظاهرى هم وائى. دوى په اندلس مصر شام عراق او حرم شريف كښې دَ حديث سماعت كړې دې. دَابن حزم ظاهرى هم

۱) دَتفصيل دَپاره ص۲۹۸.
۲) تهذيب التهذيب ص۵۳۲ج۹.

شاگرد دي. دَ ابوعبدالله قراعی، ابن عبدالبر، ابوبکر الخطیب او دَنورو محدثینونه ئی استفاده کړې ده. [بستان المحدثین فارسی اردو ص۲۱۲]
دوی ډیر پرهیزګار اوعفیف الطبع وو. دَدوی دَ عفت اندازه په دې واقعه سره لګولې کیدیشی چه یوځل ابوبکربن میمون دَهغوی حجرې ته راغلو اودروازه ئی اوټکوله. دَهغوی دَ څه مشغولتیا په وجه هغه ته خبر اونه شو اوڅه جواب ئی ورنه کړې شو. ابوبکربن میمون دا اوګڼړل چه ممانعت اونه شو نو هم اجازت به وی. دننه ئی تشریف یوړو. دَ حمیدی رحمه الله پتون ښکاره وه. په هغوی دا ډیر بد اولګیدل اوترډیره وخته پورې ئی داسې وینا کوله او ژړل ئی چه دَ کله نه ماته تمیز اوهوش راغلې دې تردې وخته پورې زما پتون چا برینډ نه دې لیدلې. [ایضاً ص۲۱۳]
ولادت: دَهغوی دَ ولادت په سلسله کښې په بستان المحدثین کښې دی: تولد اودر عشرۂ اولی از قرن خامس است یعنی دَهغوی پیدائش دَ قرن خامس په عشره اولی کښې شوې. حاشیه بستان المحدثین کښې دَ ابن خلکان په حواله نقل کړې شوی دی چه ۴۲۰هجری نه وړاندې پیدا شوې دې.
وفات: دَهغوی وفات ۱۷ذوالحجه ۴۸۸هجری کښې شوې دې. هم دغه تاریخ وفات بستان المحدثین (۱)کښې نقل کړې شوې دې. اومرقات [ص۳۴ج۱. کښې او دَ لمعات اودَ التنفیح په حاشیه کښې په حواله دَتعلیق الا لبانی دَهغوی دَوفات کال ۴۸۰لیکلې شوې دې.
کرامت: دَهغوی (۲) دَوفات نه وړاندې څوځل دَ ښار لوئی افسر مظفر ته وصیت کړې وو چه ما بشرحافی سره خښ کړئی لیکن هغه دَ څه وقتی عذر دَ وجې نه هغوی هلته خښ نه کړې شو بلکه چرته بل ځائی کښې ئی دفن کړو. یوه ورځ هغه په خوب کښې حمیدی رحمه الله اولیدو چه هغه دَدې خبرې ګیله کوله. چنانچه هغه دَ مجبوراً دَ صفرمیاشت کال ۴۹۱ هجری کښې هغه دَ دغه ځائی نه منتقل کړو او بشر حافی سره ئی خښ کړو. هغه وخت دَهغوی داکرامت ښکاره شو چه دَهغوی کفن بالکل تازه وو اوبدن ئی بالکل صحیح سالم وو اودَهغوی دَبدن مبارك نه ترډیره لرې پورې خوشبوئی خوریدله.
دَ هغوی مفید اشعار: بستان المحدثین کښې دَهغوی ډیر زیات مفید اشعار نقل کړې شوی دی. په هغې کښې دوه شعرونه دلته نقل کولې شی چه په حقیقت کښې ډیر نافع او مفید دی:

لقاء الناس لیس یفید شیئًا　سوی الهذیان من قیل وقال
فأقلل من لقاء الناس إلا　لأخذ العلم أو إصلاح حال

---
۱) بستان المحدثین ص ۲۱٤. عمدة القاری ص۱۸ج۱.
۲) بستان المحدثین ص ۲۱٤.

یعنی دَ خلقو ملاقات څه نفع نه رسوی سوا دَتاوئیلو ما وئیلو اودَ فضول خبرونه، نودَ خلقو ملاقات کم کړه مگر هغه ملاقات چه دَعلم حاصلولودَپاره وی یادَ اصلاح احوال دَپاره وی.

تنبیه: داحمیدی دَ چا تذکره چه کولې شی اوچاچه الجمع بین الصحیحن تصنیف کړې دې. دې دَامام بخاری رحمه الله نه ډیره موده پس تیر شوې. یوبل حمیدی هم دې چه دَ امام بخاری رحمه الله استاذ دې. امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کښې دَټولونه اول هم دَهغه حدیث راوړلې دې دَهغه نوم عبدالله بن الزبیر رحمه الله دې دَدوی انتقال ۲۱۹هجری کښې شوې دې. په دې دواړو کښې په عام توگه اشتباه راځی.

دَ جامع الاصول تذکره: په دیباچه دَمشکوة کښې دَ جامع الاصول هم ذکرراغلې دې. دادَ ابن الاثیر الجزری تصنیف دې په کوم کښې چه هغه دَ صحاح سته احادیث راجمع کړی دی او دَ ابواب ترتیب ئی دَ حروف تهجی په لحاظ سره کیخودې دې. دا ډیر جامع اومفید کتاب دې اودَ دې نه استفاده هم آسانه ده. علامه یاقوت رومی دَدې کتاب دَ تعارف نه پس لیکلی: «**أقطع قطعًا أنه لم یصنف مثله قط ولایصنف**» ([1]) یعنی زما پوخ یقین دې چه دَدې په شان کتاب نه مخکښې تصنیف کړې شوې اونه به اوشی.

دَهغوی نوم مبارك داسې دې مجدالدین ابوالسعادات مبارك بن محمد الجزری. ډیر مشهور په ابن الاثیر الجزری سره دې دَهغوی انتقال ۶۰۶هجری کښې شوې دې.([2]) هغوی لغات الحدیث باندې یومفید کتاب لیکلې دې دکوم نوم چه النهایه دې.

دَ مصنف حالات

داکتاب دَ حدیث یوډیر دَ برکت نه ډك او ډیر دَ فائدې کتاب مشکوة المصابیح دې. په سلف کښې یوه لویه ډله داسې تیره شوې ده چه دَ نبی کریم ﷺ دَمبارکو احادیثو خدمت ئی دَخپل ژوند تیرولو مصرف گنړلې وو اوخپل ټول وختونه اوصلاحیتونه ئی هم دَدې کاردَپاره وقف کړل او تحریراً تقریراً ئی دَحدیث دَ حفاظت عظیم کارنامه سرته اورسوله. هم دَدغه شان شخصیاتو نه یوصاحب مشکوة رحمه الله هم دې.

په یوعلم کښې دَتصنیف دوه طریقې وی یودا چه په دغه علم کښې یومستقل کتاب اولیکلې شی بل دا چه یوبل کتاب دَخپل محنت میدان کړې شی اولو په هغې کښې څه اضافات کولوسره هغې ته یونوې شکل ورکړې شی. په کوم سره چه دَ دغه کتاب په افادیت کښې نوره اضافه اوشی. صاحب مشکوة رحمه الله دا دویم انداز خپل کړې دې.

[1]) فواندجامعه ص۱۰۷۳ ناقلاً عن معجم الابار ص۲٤۱ج۶

[2]) مرقا۲) دَتفصیل دَپاره ص۲۹۸.

۲) تهذیب التهذیب ص۵۳۲ج۹.ت ص۳٤ج۱، حاشیه لمعات ص ۱۸ ناقلاً عن کشف الظنون.

چنانچه هغوی دَامام بغوی رحمه الله دکتاب المصابيح انتخاب اوکړو او په دې کښې ئې مناسب اواهم اضافات کولوسره دا کتاب جامع ترين جوړکړو اودَدې نوم ئې مشکوة المصابيح کېخودو. چونکه داکتاب دَ دوو عظيم شخصياتو دَ محنت نتيجه ده. په دې وجه دلته دَدغه دواړو حضراتو مختصر حالات ذکرکولې شي.

ترجمه دَ صاحبِ مصابيح

نوم اونسب: محى السنة ركن الدين ابومحمد اَبوحسين بن مسعود الفراء البغوى محى السنة لقب ابومحمد کنيت او حسين ئى نوم دې. مسعوددَهغوى دَپلار نوم دې. البغوى دَ صاحب مصابيح نسبت دې. الفراء دَهغوى دَ پلار صفت دې دا مشتق دى دَ الفرو دَ الفراء معنى ده څرمن يا دَ څرمن خرڅونکې دَهغوى پلار حضرت مسعود رحمه الله به هم دغه کار کولو.

دَهغوى دَلقب محى السنة وجه داده چه هغوى دَ حديث يوکتاب شرح السنة تاليف کړې دې. کله چه دَدې دَتاليف نه فارغ شو نو په خوب کښې ئى دَ رسول الله ﷺ زيارت نصيب شو حضورپاك ارشاد اوفرمائيلو ((أحياك الله كما أحييت سنتى)) دَحضورپاك هم دَدغه ارشاد مبارك په وجه دَ هغوى لقب محى السنة مشهورشو.

البغوى دا بغ يا بَغشور طرف ته نسبت دې دا علاقه خراسان کښې دَهرات او مرو په مينځ کښې يوکلې دې دې ته بغا هم وئيلى شى دَدې طرف ته دَ نسبت په وجه هغوى ته بغوى وائى. که چرې دادَ بغشور طرف ته نسبت دې نوبغشور مرکب امتزاجى دې. دَ بغ او شور نه مرکب دې. دَ مرکب امتزاجى طرف ته دَنسبت کولو دوه طريقې دى يو دا چه دَ پوره مرکب امتزاجى په آخره کښې يا نسبت اولګولې شى. نودَدې مطابق بغشورى پکار وو. دويمه طريقه داده چه دَمرکب امتزاجى دويم جز حذف کړې شى يادَ نسبت دَ جز اَول په آخر کښې اولګولې شى لکه دَ معديکرب طرف ته نسبت کولوپه وخت کښې معدى وئيلې شى. دَدې قسم مثالونه دَعربو په کلام کښې په کثرت سره ملاويږى. دلته هم په دغه طريقه سره دَ بغشورنه بغوى جوړشو.

البته په بغوى کښې يوخبره دَ غور قابل ده هغه دا چه دبغ په آخره کښې دَ ياء نسبت لګولو سره بغى جوړيږى نه چه بغوى. نو بيا بغوى څنګه جوړشو؟ دَدې حل دادې چه لفظ بغ يوشان دې لفظ دم سره اودم دَ اسماء محذوفة الاعجاز نه دې. اسماء محذوفة الاعجاز هغه نومونوته وائى دَ کوم چه آخرى حرف حذف شوې وى. دَ ا سماء محذوفة الاعجاز باره کښې ضابطه داده چه کله دَهغې په آخره کښې ياء نسبت اولګولې شى نوهغه پريوتلې حرف واپس راځى چنانچه دَ دم په آخره کښې ياء نسبت اولګولې شى نودموى به جوړشى اوبغ سره دَدې چه دَ اسماء محذوفة الاعجاز نه نه دې ليکن چونکه دې سره يوشان دې په

دې وجه دې سره هم دغه شان معامله اوکړې شوه په دې وجه بغوی جوړشو اوداسې کولوکښې يوحکمت داهم دې که چرې هم بغی پريخودې شوې وې نو په معنی کښې د التباس خطره وه دَ بغی معنی بدکار ده او په بغوی کښې دَدې التباس خطره نشته دې.

وفات او وفات: دَهغوی (۱) ولادت ۴۳۶هجری کښې شوې دې اووفات (۲) دَ راجح قول مطابق ۵۱۶هجری ماه شوال کښې شوې دې اودَ خپل استاذ قاضی حسین په خواکې طالقان کې دفن کړې شو (۳) يوقول داهم دې چه ۵۱۰هجری کښې دَهغوی وفات شوې دې.

مناقب: الله تعالی هغوی ته په علم اوعمل دواړو کښې لوړ مقام نصيب کړې وو. اودې سره هغوی ډير لوئی زاهد هم وو. خوراك (۴) به ئی ډير کم کولو. په عام توګه به ئی دَ روټئ په اوچو ټکړو باندې ګذاره کوله. کله چه دَ عمر په آخری حصه کښې کمزوری ډيره زياته شوه نودَشاګردانو په اصرار باندې ئی روټئ سره دَ روغن زيتون استعمال شروع کړو.

دَهغوی دَتبحر علمی شهادتونه: لويولويو اکابر محدثينو اوعلماء کرامو دَهغوی دَ اوچتې مرتبې شهادت ورکړې دې. مثلاً

① حافظ ذهبی رحمه الله (۵) فرمائی البغوی الإمام الحافظ إبورك له فی تصانيفه لقصده الصالح فإنه کان من العلماء الربانين کان ذاتعبدٍ ونسك وقناعة بااليسير" يعنی دَهغوی دَنيکې ارادې دَ وجې نه دَهغوی په تصانيف کښې برکت ورکړې شوې وو. ځکه چه هغوی دَعلماء ربانيين نه دې. هغوی عبادت کونکې حج کونکې او په لږ څه باندې قناعت کونکې وو.

② حافظ البدايه والنهايه ص۱۹۵ج۱۲. ابن کثير رحمه الله فرمائی "کان علامة زمانه فيها أی فی العلوم، وکان ديناً ورعاً زاهداً عابداً صالحاً" يعنی هغوی په علوم کښې دَخپلې زمانې علامه وواو ديندار متقی زاهد عبادت ګذار اونيك وو.

③ علامه (۶) سبکی رحمه الله فرمائی "کان إماماً جليلاً ورعاً زاهداً فقيهاً محدثاً مفسراً جامعاً بين العلم والعمل سالکاً سبيل السلف له فی الفقه اليد الباسطة" يعنی هغوی جليل القدر امام متقی پرهيزګار فيقه محدث مفسردَعلم اوعمل جامع اودَ سلفو دَ طريقې تابعدار وو. هغوی ته په فقه کښې يدطولی حاصل وو.

④ امام بغوی رحمه الله ته په حديث فقه اوتفسير دريواړو فنون کښې ډير کمال حاصل وو.

---

۱) فوائدجامعه ص۱۹۳.
۲) فوائدجامعه ص ۱۹۴البدايه والنهايه ص۱۹۳ج۱۲.تذکرة الحفاظ ص:۵۴ج ٤.
۳) البدايه والنهايه ص۱۹۵ج۱۲.
٤) تذکرة الحفاظ للذهبی ص:۵۵ج ٤ بستان المحدثين فارسی اردو ص۱۳۷.
۵) تذکرة الحفاظ ص۵٤ج ٤.
۶) فوائدجامعه ص ۱۹٤ بحواله الطبقات الکبری للسبکی ص:۲۱٤.

شاه عبدالعزیز محدث دهلوی رحمه الله فرمائی دي جامع است در سه فن. و هر یک را بکمال رسانیده است. محدث بینظیر ومفسر بے عدیل وفقیه شافعی صاحب فقه است (۱) یعنی هغوی په دریوارو فنونوکښې جامعیت لرلو او هریوئی کمال ته رسولې وو. هغوی بې مثال محدث او بې مثال مفسر اودَفقه شافعی فقیه وو.

تصانیف: ① المصابیح
② إرشاد الأنوار فی شمائل النبی المختار
③ ترجمة الأحکام فی الفروع
④ التهذیب فی الفروع
⑤ الجمع بین الصحیحین
⑥ شرح السنة
⑦ الکفایة فی الفقه
⑧ الکفایة فی القراءة
⑨ معالم التنزیل
⑩ معجم الشیوخ. په دې کښې ډیر مشهور المصابیح معالم التنزیل اوشرح السنة دی.

ترجمه دَ صاحب مشکوة: دَمشکوة المصابیح مصنف ابوعبدالله محمدبن عبدالله الخطیب العمری التبریزی دې. ابو عبدالله دَهغوی کنیت دې ولی الدین ئی لقب دې محمد دَهغوی نوم مبارک دې. دَمشهور قول مطابق دَهغوی دَ پلار نوم عبدالله دې. لیکن صاحب مشکوة پخپله په خپله رساله الإکمال فی أسماء الرجال بالکل آخره کښې دَخپل پلار نوم عبیدالله لیکلې دې. چونکه هغوی په تبریزکښې خطیب ووپه دې وجه په خطیب تبریزی باندې مشهور دې اونسبًا عمری دې.

هغوی په کال ۷۳۷هجری کښې دَ مشکوة المصابیح دَ تالیف نه فارغ شو. دَمشکوة دَ تالیف نه دَ فارغیدونه پس هغوی یوه رساله تصنیف کړه دکوم نوم چه الإکمال فی أسماء الرجال دې. په دې کښې ئی دَهغه صحابه کرامو، تابعینو او أئمؤ حالات مختصرًا او جامع انداز کښې لیکلی دی دکومو تذکره چه په مشکوة کښې شوې ده. هغوی دَ دې رسالې دَتالیف نه ۷۴۰هجری کښې فارغ شو. او غالبًا هم دغه دَهغوی دَ وفات کال هم دې. هسې دَ تحقیق باوجود دَهغوی دَ وفات کال په تعین سره معلوم نه شو البته دومره خبره یقینی ده چه دَ ۲۰ رجب ۷۴۰هجری نه پس دې. ځکه چه هغوی پخپله په

۱) بستان المحدثین فارسی اردو مطبوعه ایچ ایم سعید کراچی ص۱۳۷.

خپله رساله الإكمال في أسماء الرجال كښې ليكلى دى چه دَدې دَ تاليف نه فراغت په ورځ دَ جمعه ۲۰ رجب ۷۴۰هجرى شوې دې.

په علم اوفضل كښې هغوى ته كوم لوړ مقام حاصل وو هغه دَهغوى تاليف مشكوة المصابيح دَ مقبوليت اونافعيت نه واضح كيږي. ملاعلى قارى رحمه الله دَهغوى تذكره په دې الفاظوسره كړې ده: ((لما كان كتاب مشكوة المصابيح الذي ألفه مولانا الحبر العلامه والبحر الفهامة مظهر الحقائق وموضح الدقائق الشيخ التقي النقي......)) يعنى كتاب مشكوة المصابيح چه تاليف كړې دې مولانا لوئى عالم علامه اودَعلم او دانش درياب دَحقائق ښكاره كونكې اودقائق وضاحت كونكې شيخ چه متقى دې پاك صاف دې.

دَهغوى دَ لوړمقام اندازه دَدې نه كيدې شى چه دَهغوى جليل القدر استاذ علامه طيبى رحمه الله دَهغوى تذكره بقية الاولياء قطب الصلحاء الفاظو سره كړې ده.(۱)

شروح مشكوة شريف: مشكوة شريف ته دَالله تعالى دَ طرف نه ډير زيات قبوليت نصيب شو دَتاليف نه واخله تر اوسه پورې دَدې نه افاده اواستفاده په مختلف انواع سره په پوره عالم اسلام كښې عوام اوخواص، علماء، طلباء، خطباء اومصنفين غرض دا چه هره طبقه كښې ډير په عموم اوشيوع سره جارى دې. ذالك فضل الله يؤتيه من يشاء. دَامت علماؤ په مختلف اطوار سره دَدې كتاب مقدس خدمت كړې دې. يوقسم خدمت دَدې شروح اوحواشى ليكل دى. نو په دې باندې په مختلف انداز سره شروح كثيره وحواشى ليكلې شوى دى په كوم كښې چه مونږ دَ يوڅو تذكره تبركاً كوو.

①**الكاشف عن حقائق السنن:** دادَ صاحب مشكوة دَ استاذ علامه طيبى رحمه الله ليكلې شوې شرح ده. دادَ مشكوة شريف دَ ټولونه رومبې شرح ده. داشرح دَ شرح طيبى په نوم سره مشهوره ده. دَعلامه طيبى رحمه الله انتقال دَ صاحب مشكوة رحمه الله دَ انتقال نه درې كاله پس ۷۴۳هجرى كښې شوې دې. لكه چه دا شرح دَتاليف مشكوة نه پس دَ شپږ كالوپه موده كښې دننه ليكلې شوې ده. په دې شرح كښې علامه طيبى رحمه الله زيات تر دَ فصاحت اوبلاغت دَنكاتوبيانولوطرف ته توجه ګرځولې ده.

علامه طيبى رحمه الله دَ شرح مشكوة نه علاوه نور هم ډيرمفيد كتابونه ليكلى دى مثلاً په فن بلاغت كښې ئى ((التبيان في علم المعاني والبيان)) په اصول حديث كښې ئى يوكتاب الخلاصة في اصول الحديث ليكلې دې. دَ قرآن پاك يوتفسيرئى ليكلې دې دَ كوم نوم چه كشاف دې. دادَ زمخشرى دكتاب نه علاوه دې. په دې كښې ئى دَزمخشرى دَمعتزلانه

---

۱) بحواله فوائد جامعه ص ۵۱۵.

نظريات ترديد كړي دي. آخر عمر (۱) كښې هغوی يو مبسوط تفسير ليكل شروع كړې وو. دَ سحر اوماسپښين دَمونځونو په مينځ كښې به ئى دَدې تفسير ليكلې شوې حصې روزانه په لويه مجمع كښې درس وركولو. دَ ماسپښين اومازيګرپه مينځ كښې دَ بخارى شريف اورولو معمول وو. دَ منګل په ورځ ۲۳شعبان ۷۴۳هجرى حسب معمول دَ درس بخارى دَپاره قبلې ته ئى مخ وو دَ فرضو په انتظاركښې دَ مراقبې په حالت كښې ناست وو چه هم په دې حالت كښې انتقال شو.

④**لمعات التنقيح فى شرح مشكوة المصابيح** دَ مشكوة شريف داشرح په عربى ژبه كښې ده. دَهندوستان مشهور محدث شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله ليكلې ده. دَ شيخ ولادت ۹۵۸هجرى او وفات ئى ۱۰۵۲هجرى كښې شوې دې. دَدې شرح ړومبې قلمى نسخې چرته ناچرته موجود وې اوس دا شرح چهاپ شوې ده.

③**اشعة اللمعات**: داهم دَ شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله ليكلې شوې شرح ده. په دې كښې ئى دَاحاديث مشكوة سليس اونفيس فارسى ژبه كښې ډيره فصيح ترجمه كړې ده اودې سره سره ئى دَ ضرورى تشريحاتو او فوائدو اهتمام كړې دې. دَمشكوة دَ حل دَپاره ډيره كافى ده.

④**مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح**: داشرح په عربى ژبه كښې ده مشهورمحدث اوفقيه حنفى علامه على بن سلطان محمد چه دَ ملاعلى قارى په نوم سره مشهور دې دَهغوى تصنيف دې. دَ ملاعلى قارى رحمه الله انتقال ۱۰۱۴ هجرى كښې شوې دې. مبسوط شرح ده دَ رواياتودَضبط ئى په خصوصيت سره ډيراهتمام كړې دې. په هرلحاظ سره مفيداوجامع ده.

⑤ دَحضرت شاه محمداسحاق محدث دهلوى رحمه الله مشهورشاګرد علامه قطب الدين خان دهلوى رحمه الله په قديم اردو ژبه كښې دَ مشكوة شريف بهترين شرح ليكلې ده دكوم نوم چه مظاهرحق دې. په علماؤ كښې ډيره مستند اومقبول شرح ده. ددې مضامين زيات تر دَ أشعة اللمعات نه ماخوذ دى.

⑥ علامه سيد شريف رحمه الله په مشكوة شريف باندې حاشيه ليكلې ده چه دَعلامه طيبى رحمه الله دَ شرح نه اختصاركړې شوې ده.

⑦ مشهورمحدث حضرت مولانا محمدادريس كاندهلوى رحمه الله دَخپل استاذ محترم دَحضرت علامه محمدانورشاه كشميرى رحمه الله په ايماء باندې په عربى ژبه كښې دَ مشكوة شريف شرح اوليكله دَ كوم نوم چه التعليق الصبيح على مشكوة المصابيح دې. په اتو جلدونو كښې ده.

---

۱) فوائدجامع ص ۲۳۴ناقلاعن الدررالكامنة للحافظ ابن حجر.

مقدمه د اصول حديث

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على أفضل الرسل وسيد البشر.

هندوستان ته احاديث څنګه راورسيدل او بيا پاکستان ته:

امابعد: الله تعالى لکه څنګه چې د خپل کتاب د حفاظت وعده کړې ده. دغه شان يې د خپل حبيب د ارشاداتو د حفاظت دپاره هم اسباب جوړ کړي وو. که تاسو نورو د پيغمبرانو په سيرت باندې نظر واچوئ نو د هغوی د ژوند حالات د جهل په تيرو کښې پټ پراته دي. خو زمونږ دخوږ پيغمبر د ژوند هره يوه لمحه او هره يوه ادا محفوظ ده. دا څکه چې حضرات صحابه کرامو ﷺ دخپل پيغمبر اراشادات او فرامين په خپل عمل او زړه سره محفوظ اوساتل. او د دنيا ګوټ ګوټ ته يې اورسول. د دنيا په دغه ګوټونو کښې د هندوستان زمکه هم ده. هسې خو په ۹۳ هجرئ کښې هندوستان ته د نبی کريم ﷺ احاديث رارسيدلی وو. او دلته د احاديثو رواج شروع شوې وو. خو بيا روستو په دې کښې تعطل پيدا شوې وو. او بيا څه موده پس دوباره د هندوستان فضاء د احاديثو مبارکو په درس او تدريس سره روښانه شوه. مونږ په هندوستان کښې د احاديثو ترويج او اشاعت په پنځو دورونو تقسيمو و. تفصيل يې دا دې.

اولنۍ دور: څنګه چې وړاندې اجمالا ذکر اوشو. چې په ۹۳ هجرئ کښې د عربو څخه عالمان هندوستان ته راغلی وو. او دلته يې دنبی کريم ﷺ احاديث خلقو ته بيان کړې وو. دغه شان دا سلسله د دريمې هجری صدئ پورې جاری وه.

دويم دور: په دويم دور کښې هم په هندوستان کښې د علم د نشر او اشاعت سلسله شروع وه د عربوڅخه به د سوداګرو په حيثيت عربيان راتلل او دهغوی په وجه به په هندوستان کښې احاديث خوريدل.

دريم دور: د څلورمې صدئ څخه واخله تر لسمې صدئ اولنۍ حصې پورې د هندوستان څخه د علمِ حديث رڼاګانې ختميدې. دلته به صرف د مشکاة المصابيح درس کيدو. باقی کتابونه هډو چا پيژندل هم نه. په دې دور کښې دلته معقولاتو ته يعنی منطق فلسفه وغيره علومو ته توجه ورکړې شوې وه. او د مدرسو څخه فارغين به يو طرف ته ډيرلوئې منطقی او فلسفی وو. خو بل طرف ته به هغه د احاديثو په باب کښې د مکتب ماشوم وو. اودا زمانه په هندوستان کښې د احاديثو دپاره د خزان زمانه وه.

څلورم دور: بيا د لسمې هجرې صدئ دنيمې څخه د بعضې ملکونو څخه عالمان هندوستان ته راغلل. او د ځان سره يې دعلمِ حديث رڼا راوړه. او د دې ځائې عالمان يې د حديث طرف ته متوجه کړل. د هغوی د کوشش ميوه وه. چې يو ځل بيا په هندوستان کښې

د احاديثو درس او تدريس شروع شو.بلكه بعضې عالمان حرمينو شريفينو ته لاړل.اود هغه ځائې د عالمانو ځخه يې علوم حديث زده كړل.اوواپس چې خپل ملك ته راغلل.نو د دې نشرواشاعت يې شروع كړل.

پنځم دور: په يو لسمه صدئ كښې د علم حديث رواج شروع شو.هم په دې دور كښې حضرت مولانا شيخ عبدالحق محدث دهلوى رحمه الله د علم حديث خدمات كړى دى.او په علم حديث كښې يې دومره مهارت پيدا كړې وو.چې په مشكاة يې دوه شرحې ليكلې وې.دغه شان دا دور د حضرت مجدد الف ثانى د خدماتو دور وو.هغوى په خپله د علم حديث ډير لويې خدمت كړې وو.دغه شان د هغوى د مجدديه سلسلې يو عالم په جامع ترمذى باندې په فارسئ ژبه كښې يوه شرح ليكلې وه.او د مجدد رحمه الله نمسى ته اويا زره احاديث د سند او جرح او د تعديل سره ياد وو.

د شاه ولى الله رحمه الله دور: په هندوستان كښې دعلم حديث بهار په هغه وخت كښې شروع شو.كله چې په كال ١١٧٢ هجرئ كښې حضرت شاه ولى الله رحمه الله په مسند حديث باندې جلوه گر شو.نو د هندوستان گوټ گوټ يې د حديثو په انواراتو روښانه كړه.حضرت شاه رحمه الله حرمينو شريفينو ته د علم حديث د زدكړې دپاره تشريف اوړې وو. او هلته ئې د شيخ ابوطاهر الكورانى رحمه الله ځخه علم حديث زده كړې وو.هغوى به د شاه صاحب په تعريف كښې پخپله فرمائيل چې شاه صاحب زما ځخه د حديث الفاظ زده كوى.اوزه د ده ځخه د حديث معانى او اسرار زده كوم.

هندوستان ته تشريف راوړل: استاذ محترم ابو طاهر الكوراني خپل ټول علوم د حضرت شاه صاحب سينې ته منتقل كړل.او هغه ورځ هم راغله چې حضرت شاه صاحب د حرمينو شريفينو ځخه هندوستان ته تشريف راوړلو.او دلته يې د علم حديث هغه خدمت شروع كړو. چې لا تراوسه پورې د هندوستان په زمكه چا نه دې كړې.دوى صرف د مشكاة په تدريس باندې اكتفاء اونكړه.بلكه دې سره يې د صحاح سته د درس آغاز هم اوكړو.او دغه شان باقاعدگئ سره دهندوستان په مدارسو كې دصحاح سته ددرس طريقه شروع شوه.

د شاه صاحب رحمه الله د درسِ حديث خصوصيات: حضرت شاه رحمه الله به د احاديثو صرف ظاهرى په ترجمه باندې اكتفاء نه كوله بلكه هغوى به د حديثو د ظاهرى معانيو سره سره د دې احاديثو ځخه مستنبط مسائل،په هغې كښې د فقهاؤ مسالك، د احاديثو علل او د احاديثو حكمتونه او د تصوف رموزات وغيره هم بيانول.او حضرت شاه صاحب خپل باطنى فيوضات د خپلو شاگردانو سره سره خپل اولاد ته هم منتقل كړل.هسې خو د حضرت شاه رحمه الله ټول ځامن عالمان وو.خو خصوصاً په علم حديث كښې حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله هغه مقام حاصل كړې وو.چې دهندوستان راتلونكې هر فاضل به د دوى

په روحاني اولاد كښې شامل وې.دوى ته په علم حديث كښې د خصوصي مقام د حاصليدو په وجه عالمانو دوى ته د، ،سراج الهند او حجة الله، ، القاب وركړل.حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله دعاميانو دپاره تقليد ضروري اوګرځول.او په فقهي مسالكو كښې يې مسلك حنفي ته ترجيح وركړه.او د عالمانو د اجتهاد دپاره يې دومره سخت شرطونه مقرر كړل چې هرچا ته ئې د اجتهاد دعوى كولو دروازه بنده كړه.اوپه دې طريقه هغوى د خواهش پرستئ او دين دخپلو خواهشاتو تابع كونكو خلقو په باطلو اميدونو خاورې وارولې.

د شاه عبدالعزيز رحمه الله هغه د رونړو زده كړه: دغه شان حضرت شاه عبدالعزيز د خپل پلار علمي ميراث خپلو رونړو ته منتقل كړو. د دوى رونړه حضرت شاه عبدالقادر،حضرت شاه رفيع الدين اوددوى نمسي حضرت شاه محمد اسحاق رحمهم الله وو.په دوى كښې حضرت شاه محمد اسحاق صاحب ته په علمَ حديث كښې خصوصي مقام حاصل وو.د دوى څخه روسته د دوى شاګرد حضرت شاه عبدالغني متوفى ۱۲۹۲ هجري د احاديثو منصب سنبال كړو.اوهغوى د احاديثو په ګلونو د هندوستان هريو باغ تازه او روښانه كړو.

د حضرت شاه عبدالغني رحمه الله د علم وارثان: د دې څخه پس په هندوستان كښې حضرت شاه عبدالغني رحمه الله هغه شاګردان پريخودل.په كومو كښې چې د خپل وخت ابوحنيفه يعنى رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله غوندې مخلص او باعمله شخصيت هم وو.دغه شان د دارالعلوم ديوبند باني حضرت قاسم نانوتوى هم وو.اود دوى څخه علاوه نورهم ډير عالمان د حضرت شاه عبدالغني رحمه الله د علم وارثان جوړ شول.

د حضرت رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله شاګردان: حضرت رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله چې په علم حديث كښې كوم مقام لرلو، نو هغه د نورو محدثينو څخه په دې ممتاز وو چې دوى يواځې محدث نه بلكه فقيه هم وو.د دوى حلقۀ درس وسيعه شوه او د دوى څخه علوم نبوت حضرت خليل احمد سهارنپوري رحمه الله،شيخ الهند محمود حسن، اوحضرت محمد يحى كاندهلوى رحمه الله حاصل كړل.دحضرت شيخ الهندمحمود حسن، حضرت مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله او د محمد يحيى كاندهلوى رحمه الله څخه دا علوم نبوت حضرت مولاناعبدالرحمن كاملپوري رحمه الله محدث العصر حضرت مولانا انور شاه كشميرى رحمه الله حضرت مولانا محمد زكريا رحمه الله حضرت مولانا حسين احمد مدني رحمه الله شيخ الاسلام حضرت مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله وغيره حاصل كړل.

پاكستان كښې د احاديثو اشاعت: دا خو دهغه وخت خبره وه.څه وخت چې متحده هندوستان وو.كله چې هندوستان تقسيم شو.نو څه عالمان په بهارت كښې پاتې شول.او څه عالمانو پاكستان ته هجرت اوكړو.پاكستان ته چې كوم عالمان راغلي وو.نو هغوى هم د

دغه جیل القدر محدثینو شاگردان دی.چا چې د حضرت شیخ الهند محمود حسن رحمه الله شخه احادیث زده کړی وو.البته زیات شاګردان د حضرت حسین احمد مدنی رحمه الله، مولانا محمد زکریا کاندهلوی، مولانا حسین علي الوانی، مولانا انور شاه کشمیری وغیره شاگردان دی.

اوما احقر شاه فیصل ته چې د احادیثو اجازت ملاؤ شوې دې.نو په هغې کښې زما محترم استاذ شهید ملت حضرت مولانا حسن جان مدنی نور الله مرقده دې.د دوی استاذ حضرت شیخ الحدیث مولانا محمد ادریس الکاندهلوی او د هغوی استاذ حضرت خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله وو.دغه شان دویم استاذ چې ماته یې په احادیثو کښې اجازت کړې دې.په پاکستان کښې د وفاق المدارس صدر او د جامعه فاروقیه شیخ الحدیث حضرت سلیم الله خان مدظله العالی دې.د دوی په استاذانو کښې شیخ الاسلام حسین احمد مدنی دې.

د علم حدیث مباحث:

دعالمانو داطریقه ده. چه دهرعلم خاص کردعلم حدیث په شروع کښې ددې علم دمبادیؤ متعلق څه مباحث بیانوی. اودې مباحثوته رؤوس ثمانیه وائی. چه په اتوخبرومشتمل دی.

① دعلم تعریف ② موضوع ③ غرض ④ وجه دتسمیه ⑤ دعلم فضیلت ⑥ ددې علم دمصنفاتو اقسام ⑦ دتدوین دعلم تاریخ ⑧ په اجناس العلوم کښې ددې مقام.

مونږ ددې علمَ حدیث په مقدمه کښې چه کومې خبرې بیانول غواړو. دې کښې به دا اته څیزونه هم وی او دې څخه علاوه څه نورې خبرې به په کښې هم شامل وی. په د دې وجه به ددې مقدمې د مباحثود رؤوس ثمانیؤ ترتیب لږ مختلف وی.

د حدیث لغوی معنی: د عربی لغت امام علامه جوهری رحمه الله په صحاح کښې دحدیث معنی داسې بیان کړې ده: ((الحديث هو الكلام قليله وكثيره وجمعه احاديث)) حدیث کلام دې که کمې او که زیاتې وی او د دې جمع احادیث ده دا د حدیث لغوی معنی ده ددې حاصل دادې چه حدیث دلغت په اعتبارهرقسم کلام ته وئیلې کیږی.

په اصطلاحی معنې کښې د اصولیینو او محدثینو په تعریف کښې فرق: د حدیث په اصطلاحی معنی کښې د عالمانو عبارتونه مختلف دی. خودا اختلاف داقوالو یا خو لفظی دې یا اعتباری په دې موضوع د ټولوڅخه بهترین بحث علامه طاهر بن صالح الجزائری په خپل کتاب "توجيه النظر فی اصول الاثر" کښې کړې دې. علامه طاهر بن صالح الجزائری رحمه الله د څوارلسمې صدئ دشروع یو مشهور عالم دې. او د دوئی کتاب د توجیه النظر په علم اصول حدیث کښې یو جامع کتاب دې؛ فرمائی چه اصل کښې د اصولِ حدیث دعلماؤ په

اصطلاح کښې په یوه معنی دې او د محدیثنو په اصطلاح کښې په بله معنی دې. هم په دې وجه د دواړو په تعریفونو کښې فرق دې.

د اصولیانو په نیز د حدیث تعریف: د اصولیانو په نیز د حدیث تعریف دا دې ((اقوال رسول الله صلی الله علیه وسلم وافعاله)) یعنی د رسول الله ﷺ اقوال او افعال. په دې تعریف کښې تقریر هم داخل دې. ځکه چه لفظ دافعال دې ته هم شامل دې دغه شان احوال اختیاریه هم په لفظ د افعالوکښې داخل دې. البته د دې تعریف په رڼرا کښں هغه روایات په حدیث کښې نه شاملیږی کومو کښې چه دنبی کریم ﷺ داحوال غیر اختیاریه بیان شویدې. مثلاً د نبی کریم ﷺ دحلیه مبارك، دنبی کریم ﷺ د ولادت او د وفات د واقعاتو بیان. خو د اصول فقه د عالمانو په نقطۀ نظر سره داسې روایات که د حدیث دتعریف ځخه خارج شی نوځه مضرنه دې ځکه چه د اصول فقه د عالمانو مقصد د حدیث ځخه استنباط د احکامو دې او د دوئ په نظرکښې حدیث صرف هغه دې چه دهغې ځخه ځه حکم مستنبط کیږی. اوپه کومو روایتونو کښې چه دنبی کریم ﷺ احوالِ غیر اختیاریه بیان شوې دې د هغې ځخه ځه حکم نه مستنبط کیږی په دې وجه د حدیث د تعریف ځخه خارجیدل د اصول فقه د عالمانو په نیز مضر نه دې.

د محدثینو په نیز د حدیث تعریف: ددې په خلاف محدثین دنبی کریم ﷺ په احوال اختیاریه اوغیراختیاریه کښې ځه فرق نه کوی او ددوئ مقصود استنباط داحکامونه وی بلکه دوئ هرهغه روایت جمع کوی چه هغه نبی کریم ﷺ ته په ځه نا ځه حیثیت منسوب وی په دې وجه ددوئ په نیزدحدیث تعریف دادې [اقوال رسول الله صلی الله علیه وسلم وافعاله واحواله)) دا تعریف احوال غیراختیاریه ته هم شامل دې هم دا تعریف حافظ سخاوی په فتح المغیث کښې داسې بیان کړې دې

((والحدیث لغة ضد القدیم واصطلاحاً ما اضیف الی النبی صلی الله علیه وسلم قولاً اوفعلاً اوتقریراً اوصفة حتی الحرکات والسکنات فی الیقظه والمنام))

دحدیث په وجۀ تسمیه کښې مختلف اقوال: دحدیث په وجه دتسمیه کښې یعنې ددې د لغوی او اصطلاحی معنی په مینځ کښں د مناسبت په باره کښې هم ځواقوال دی. ① حافظ ابن حجرپه فتح الباری کښې فرمائی چه حدیث دقدیم ضد دې، کلام الله قدیم دې. ددې په مقابله کښې کلام رسول ته حدیث اووئیلې شو. حافظ سخاوی هم په فتح المغیث کښې دې ته اشاره کړې ده. خودا وجه دتسمیه بعیده معلومیږی.

② علامه عثمانی رحمه الله په مقدمه ((فتح الملهم)) کښې یوه لطیفه توجیه ذکرکړې ده فرمائی: لفظ دحدیث ((وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ)) ځخه ماخوذده. په اصل کښې الله تعالی په

دې سورة کښې په نبی کريم ﷺ باندې دخپلو دريو انعاماتو ذکر کړې دې او په هر انعام ئې دشکر اداکولو يوه طريقه ښودلې ده:

(١) ((أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ)) آيا ته يې يتيم نه وې موندلې نو تاسو ته يې ټکانه درکړه. ددې انعام په شکريه کښې نبی کريم ﷺ ته حکم ورکړې شويدې چه ((فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ)) نو يتيم ته مه غصه کيږه.

② ((وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَىٰ)) او ته يې غريب موندلې وې نو مالدار يې کړې ددې په مقابله کښې داحکم دې چه ((وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ)) نو ته سوال کونکې مه رټه.

(٣) ((وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ)) او ته يې د شريعت د احکامو خخه بې خبره موندلې وې نو هدايت يې درته اوکړو، په دې کښې د ضال څخه مراد د احکامو او شرائعو نه بې خبره کيدل دی. اودهدايت څخه مرادشرائعوتعليم دې، ددې نعمت دشکريه باره کښې يې وئيلی دی ((وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ)) نو د خپل رب د نعمت يادګيرنه کوه دلته دنعمت څخه مراد دشرائعوتعليم دې او مطلب دادې چه الله تعالی تاته دکوموشرائعوتعليم درکړې دې. ته نبی کريم ﷺ هغه نوروخلقوته اورسوه او نبی کريم ﷺ دخپل قول اوفعل په ذريعه دقرآن ددې حکم تعميل اوکړو. په ددې وجه دنبی کريم ﷺ داقوالواوافعالونوم حديث کيښودې شو.

د مفتی تقی عثمانی د دې قول په باره کښې رائې: مفتی تقی عثمانی مدظله العالی فرمائی دعلامه عثمانی رحمه الله داتوجيه اګرچه يوه لطيفه توجيه ده ليکن دا نکته بعدالوقوع ده. د مفتی محمد تقی عثمانی صاحب په نيز صفا او واضحه خبره داده چه دنبی کريم ﷺ داقوالواو افعالودپاره دحديث لفظ خاص کول داستعارة العام للخاص دقبيلې څخه دی اود استعارې ماخذپخپله درسول الله ﷺ بعضې ارشادات دی کوم کښې چه نبی کريم ﷺ پخپله د خپلو اقوالو او افعالودپاره د حديث لفظ استعمال کړيدې. لکه ارشاددې ((حدثواعنی ولاحرج))(١)

✿ دغه شان دحضرت علی رضی الله عنه څخه روايت دې چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل ((اللهم ارحم خلفائی قلنا يا رسول الله ومن هم خلفاءك؟ قال الذين يأتون من بعدی يروون احاديثی

---

(١) صحيح مسلم ٤١٤/٢ کتاب الزهدباب التثبب فی الحديث وحکم کتابة الحديث فی حديث ابی سعيد الخدری رضی الله عنه)

(٢) اخرجه ابو نعيم احمد بن عبدالله الحافظ من طريق الطحاوی هذا فی اخبار اصفهان ٨١/١، وفيه احاديثی وسنتی والهيثمی فی مجمع الزوائد ١٢٦/١ عن طبرانی فی الاوسط والغزالی فی الاحياء ١١/١، والسيوطی فی مفتاح الجنة ١٢ فی تعليقات الالماع الی معرفة اصول الروايه وتقييد السماع /١٧)

ویعلمونها الناس)) (۱) دا حدیث بعضې محدیثنو ضعیف بلکه بعضو موضوع ګڼرلې دې. لیکن قاضی عیاض په ((الالماع الی معرفة اصول الروایة وتقیید السماع)) کښې (۲) دا حدیث په ډیرو سندونو سره روایت کړې دې. چه د هغې څخه معلومیږی چه دا حدیث بې اصل نه دې یعنی اصل ئې شته

✿ هم ددې مفهوم یو بل روایت په ډیرو طرقو سره منقول دې چه ((من حفظ علی امتی اربعین حدیثا فی امردینها بعثه الله فقیها وکنت له یوم القیامة شافعا وشهیدا (۳) دا حدیث هم اګرچه د سند په لحاظ سره ضعیف دې او حافظ سخاوی په ((المقاصد الحسنة)) کښې ددې تحقیق کړیدې لیکن د مختلفو طرقو په وجه دې ته حسن لغیره وئیلې کیدې شی دا رنګ په مشکاة کښې د حضرت سمره بن جندب ﷺ او د مغیره بن شعبه حدیث مروی دې ((قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من حدث بحدث یُری انه کذب فهو احد الکاذبین رواه مسلم (۴)

(د) وعن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اتقوا الحدیث عنی الا ما علمتم فمن کذب علی متعمدا فلیتبوأ مقعده من النار (۵)

بهر حال ددې روایاتونه معلومیږی چه د نبی کریم ﷺ د اقوالو او افعالو د پاره د حدیث د لفظ استعمال د د وروستو زمانو اصطلاح نه ده بلکه په خپله ذ رسول الله ﷺ څخه ثابته ده ددې وجې په دې سلسله کښې د بې ځایه توجیهاتو هیڅ ضرورت نشته

د حدیث هم معنی یو څو منقاوب الفاظ: د حدیث په معنی کښې یو څو نور الفاظ هم مستعمل دی یعنی (۱) روایت (۲) اثر (۳) خبر (۴) سنت.

صحیح خبره داده چه دا ټول الفاظ د حدیث د علماؤ په اصطلاح کښې مترادف او هم معنی اودا د یو بل په معنی کښې ډیر استعمالیږی خو بعضې حضراتو په دې اصطلاحاتو کښې فرق کړې دې البته ترکومه حده پورې چه د روایت تعلق دې. نو ددې تعلق په اتفاق سره د حدیث په لغوی مفهوم کیږی یعنی که یوه واقعه یا قول که هغه بیا د هرچاوی نو هغې ته روایت وائی: صرف د باقی څلورو الفاظو حدیث، اثر، خبر او سنت په باره کښې اختلاف دې.

د حدیث او خبر وضاحت: (۱) حافظ ابن حجر ﷫ فرمائی: چه صرف د نبی کریم ﷺ اقوالو او احوالو ته حدیث وائی

---

(۲) باب فی شرف علم الحدیث و شرف اهله۱۸۱))
(۳) مشکاة کتاب العلم فی الفصل الثالث ((۳۱۱
(۴) مشکاة المصابیح کتاب العلم الفصل الاول ۳۲۱۱
(۵) رواه الترمذی (مشکاة ۳۵۱۱ فی الفصل الثانی من کتاب العلم)

④ بعضې حضرات خبر هم په دې معنی استعمالوی
③ لیکن دبعضوپه نیزباندې په دواړوکښې دتبائن نسبت دې داسې چه حدیث دنبی کریم ﷺ داقوالواوافعالونوم دې اونبی کریم ﷺ څخه علاوه دنورو خلقو افعالو او اقوالوته خبر وائی.
④ اودبعضې حضراتوپه نیزباندې ددواړوپه مینځ کښې د عموم او خصوص نسبت دې، خبرعام دې یعنی دنبی کریم ﷺ او د نورو حضراتو اقوالو او افعالو لره شامل دې او حدیث مبارک صرف حضرت نبی کریم ﷺ سره مخصوص دې.
د اثر وضاحت: ① دخراسان دفقهاؤ اصطلاح داده ((ان الحدیث اسم للمرفوع والاثراسم للموقوف علی الصحابة والتابعین)) هم په دې مناسبت امام محمد ابن الحسن رحمه الله د خپل کتاب نوم کتاب الاثار ایښې دې په کوم کښې چه هغوی اثارموقوفه ذکرکړې دی امام غزالی رحمه الله هم په احیاء العلوم کښې دخراسان دفقهاؤ اصطلاح اختیارکړې ده
② لیکن امام نووی رحمه الله دصحیح مسلم په شرح کښې لیکلی دی. چه د جمهورو سلفواوخلفوپه نیزباندې په حدیث او اثرکښې هیڅ فرق نشته دې. ددواړو اطلاق،په مرفوع، موقوف،اومقطوع ټولوحدیثونوباندې کیږی. علامه لکهنوی رحمه الله هم په ظفرالامانی ص:۴،۵ کښې داخبره غوره کړې ده.
د سنت وضاحت:
① دسنت په باره کښې دبعضې حضراتوخیال دا دې چه دا د نبی کریم ﷺ او د صحابؤ صرف عمل ته وائی او دا احادیث په دې کښې شامل نه دی. لیکن څرنګه چه مخکښې بیان شوچه په عام استعمال کښې په حدیث خبر، آثر او سنت کښې څه فرق نشته.
دحدیثو په مشهورکتاب ((منتقی الاخبار من کلام سید الابرار صلی الله علیه وسلم)) کښې دخبرلفظ حدیث هم معنی شوې دې.
دا رنګ امام طحاوی رحمه الله دخپل کتاب نوم شرح معانی الآثار ایښې دې حالانکه په دې کتاب کښې مرفوع احادیث ډیرزیات دی. د دې څخه دامعلومه شوه چه په لفظ آثر کښې مرفوع احادیث هم شامل دی دا رنګ حافظ ابن حجریرطبری رحمه الله هم دخپل کتاب نوم تهذیب الآثار ایښې دې په کوم کښې چه مرفوع اوموقوف هرقسمه احادیث شته دې.
هم داسې امام ترمذی رحمه الله، امام ابوداود رحمه الله، نسائی رحمه الله،ابن ماجه رحمه الله، بیهقی رحمه الله، دارقطنی رحمه الله اودارمی رحمه الله وغیره خپل کتابونه د "السنن" په نوم سره ذکر کړی دی، حالانکه په دې کښې ډیر قولی احادیث موجوددی.
نتیجه د بحث: د محدیثونو دا طرزعمل دا خبره ښائی : چه تحقیق ته رسیدلې خبره داده

چه په عام استعمال کښې دا ټول الفاظ مترادف او هم معنی دی او دیوبل په ځائې ډیراستعمالولې شی.

دا بحث دحضرت مولانا ظفراحمد عثمانی په "انهاءالسکن" کښې دحضرت شیخ عبدالفتاح ابوغده الحلبی دتحقیق اوحاشیې سره موجوددې. (۱)

د علم حدیث تعریف: تردې ځایه صرف دحدیث تعریف بیان شو اوس دعلم حدیث د تعریف د زده کولو هم ضرورت دې. دعلم حدیث دتعریف په باره کښې دعلماؤ مختلف اقوال دی:

① علامه بدرالدین عینی په عمدة القاری کښې دعلم حدیث داتعریف نقل کړې دې ((علم يعرف به اقوال رسول الله صلى الله عليه وسلم وافعاله واحواله)).

② حافظ سخاوی رحمه الله په فتح المغیث کښې داتعریف کړې دې. ((معرفة ما اضيف الى النبي صلى الله عليه وسلم قولاً اوفعلاً اوتقريرًا اوصفة))

دا دواړه تعریفونه په ظاهره خوجامع دی لیکن اشکال پرې دا دې چه په دې کښې موقوف اومقطوع احادیث نهٔ شاملیږی حالانکه په علم حدیث کښې د دوئ متعلق هم بحث کیږی؟

③ ددې اشکال ځخه دبچ کیدو دپاره په فتح الباقی شرح الفیة العراقی کښې دعلم حدیث داسې تعریف شویدې ((معرفة ما اضيف الى الرسول الله صلى الله عليه وسلم اوالى صحابي اوالى من دونه قولاً اوفعلاً اوصفة اوتقريرًا))

په دې تعریف اشکال: دا تعریف اګرچه جامع دې ځکه چه په دې کښې موقوف اومقطوع احادیث هم شامل دی. لیکن اشکال دادې چه دا مانع نه دې ځکه چه په دې کښې د ((من دونه)) الفاظ ډیرعام دی چه پکښې دصحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله ځخه علاوه بادشاهان امراء اود هغوئ ځخه روستوخلق شامل دی. ددوئ دوجې په علم حدیث کښې تاریخ هم شاملیږی.

د تاریخ د شاملیدو وجه- داسې معلومیږی چه تعریف کونکی هم داغوښتل چه په علم حدیث کښې علم تاریخ هم شامل کړې شی اوداحقیقت دې چه تر ډیرې زمانې پورې په علم حدیث اوعلم تاریخ کښې ځه فرق نه وو هم په دې وجه حاجی خلیفه په کشف الظنون کښې اوشیخ محمدعلی تهانوی رحمه الله په کشاف اصطلاحات الفنون کښې چه دعلم حدیث کوم تعریف ذکرکړې دې. دهغې په رڼا سره علم تاریخ هم په دې کښې داخلیږی هغوئ لیکلې دې: ((جملة الاخبار المرويات حديث))لیکن داخبره ترهغه وخته صحیح وه ترکومې

۱) داعلاء السنن دامقدمه د قواعد فی علوم الحدیث په نوم سره د ادارة القرآن والعلوم الاسلامیة کراچۍ ځخه شائع شویده ۱۲۱_

چه علم حدیث اوعلم تاریخ یووو اوترکومې چه ددواړوځان ځان له تدوین نه ووشوې لیکن کله چه روستوتاریخ له خپله مستقل حیثیت ورکړې شونودعلم حدیث داسې تعریف په کاردې چه علم تاریخ په کښې شامل نه وی.

په تعریف کښې د یو قید اضافه: نو بهتره خبره داده چه مخکښې ذکرشوی تعریف کښې د یو قید اضافه اوشی او داسې اووئیلې شی. چه ((هومعرفة ما اضیف الی رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصحابی اوالی من دونه ممن یقتدی بهم فی الدین قولاً اوفعلاً اوصفة اوتقریرًا)) په دې قید سره به دعلم حدیث دتعریف نه دبادشاهانو او دغیرعلماء واقعات خارج شی. او د مقتدی حضراتو اقوال به په کښې داخل پاتې شی. ځکه چې د احادیثو کتابونه د دې څخه ډک دی.

تنبیه: دعلم حدیث یوځونور تعریفونه هم منقول دی اوپه ظاهره په هغې کښې تضاد او تعارض ښکاری. لیکن ددې وجه داده چه دعلم حدیث ګڼرقسمونه دی چا د یوقسم تعریف کړې دې اوچا د بل قسم اوچا په کښې ټول قسمونه راجمع کړې دی کوم تعریف چه مونږ ذکرکړې دې په دې کښې دحدیث ټول قسمونه شامل دی بیاهم هریوقسم ځان ځان له پیژندل ضروری دی.

د علمِ حدیث قسمونه: علامه ابن الاکفانی رحمه الله په "ارشادالقاصد" کښې لیکلی دی چه دعلم حدیث ابتدائی قسمونه دوه دی. (۱) علم روایة الحدیث ② علم درایة الحدیث.

① دعلم روایة الحدیث تعریف: ((هوعلم بنقل اقوال النبی صلی الله علیه وسلم وافعاله واحواله بالسماع المتصل وضبطها وتحریرها.))

② اودرایة الحدیث: دعلم تعریف دې. ((هوعلم یعرف به انواع الروایة واحکامها وشروط الرواة واصناف المرویات واستخراج معانیها))

د دواړو علومو میدان: لهذا دیوحدیث په باره کښې دامعلومول چه دا په فلانکی کتاب کښې فلانکی سندسره په فلانکی الفاظو سره مروی دې دا علم روایة الحدیث دې او ددې حدیث په باره کښې دامعلومول چه داخبرواحددې یامشهور، صحیح دې یا ضعیف، متصل دې یامنقطع، ددې رجال ثقه دی یاغیرثقه اوددې حدیث څخه دکومو کومو احکامواستنباط کیږی اوڅه تعارض خونشته دې که چرته وی، نو هغه به څنګه لرې کولې شی. داټولې خبرې علم درایة الحدیث سره تعلق ساتی.

د درایة الحدیث او اصول حدیث د ترادف قول: بعضې علماؤعلم درایة الحدیث او اصول حدیث مرادف ګرځولی دی چنانچه علامه عثمانی رحمه الله دفتح الملهم په مقدمه کښې دارائې ظاهره کړې ده. مولانامحمدزکریاصاحب رحمه الله هم په اوجزالمسالك کښې دې طرف ته میلان ښکاره کړیدې.

د مفتی تقی عثمانی مدظله رائې: مفتی صاحب په درس ترمذی کښې فرمائیلی دی چه دا خبره د غور قابله ده. وجه ئې دا ده چه بره مونږ دعلم درایة الحدیث کوم تعریف ذکرکړې دې هغه دعلامه ابن الاکفانی رحمه الله څخه نقل کړې شوې دې او زمونږ د علم مطابق په اول ځل باندې علامه موصوف دعلم حدیث تقسم کړیدې. روستو راتلونکوحضراتود هغه تابعداری کړیده. هم دغه شان علامه سیوطی رحمه الله په تدریب الراوی کښې هم دا تقسیم دعلامه ابن الاکفانی رحمه الله په واسطه بیان کړې دې. په دې تعریف که چرې غوراوکړې شی نو داخبره واضحه کیږی چه علم درایة الحدیث اوعلم اصول حدیث مترادف او هم معنی نه دې ځکه چه په دې تعریف کښې د استخراج معانی هم ذکردې چه د هغې څخه معلومیږی چه دروایت چه داحکامواستنباط هم دعلم درایة الحدیث یوه حصه ده حالانکه په علم اصول حدیث کښې د استخراج معانی متعلق بحث نه کیږی لهذا داخبره صحیح ده چه علم درایة الحدیث اوعلم اصول حدیث په مینځ کښې دعموم او دخصوص نسبت دې علم درایة الحدیث عام او علم اصول حدیث خاص دې. ددې تجزیې په رنړا کښې دا وئیلې شی چه دعلم درایة الحدیث هم دوه شاخونه دی:

① علم اصول حدیث: په دې کښې دروایت داسنادی حیثیت په باره کښې بحث کیږی.

② علم فقه الحدیث: په دې کښې چه دیوحدیث څخه داحکامواودمسائلواستنباط نه بحث کیږی.

د علم حدیث موضوع: ① بعضووئیلې دی. چه سند اومتن دعلم حدیث موضوع ده

② بعضې علماؤوئیلې دی دعلم حدیث موضوع دنبی کریم ﷺ اقوال، افعال اواحوال دی.

③ خودتولونه مقبول قول دعلامه کرمانی رحمه الله دې هغوی وئیلی دی چه دعلم حدیث موضوع درسول الله ﷺ ذات دې.

اشکال: علامه سیوطی رحمه الله په تدریب الراوی کښې لیکلې دی. چه زمااستاذعلامه محی الدین کافیجی به دعلامه کرمانی رحمه الله په دې قول اعتراض کولو او وئیل به ئې چه درسول الله ﷺ ذات خودعلم طب موضوع کیدې شی دعلم حدیث نه؟

د اشکال جواب: علامه سیوطی رحمه الله فرمائی: چه زه دخپل شیخ په دې خبره ډیرحیرانیږم ځکه چه علامه کرمانی رحمه الله ذات لره ((من حیث هی هی)) دعلم حدیث موضوع نه ده ښودلې بلکه ((من حیث انه رسول الله صلی الله علیه وسلم))ئې موضوع ګرځولې ده اوظاهره خبره ده چه هغه دعلم طب موضوع نه ده نو دکافیجی دا اعتراض صحیح نه دې.

تحقیقی قول: تحقیق ته رسیدلې خبره داده چه د رسول الله ﷺ ذات ((من حیث انه رسول

الله صلى الله عليه وسلم)) مطلق علم حدیث موضوع ده او سند او متن د علم دراية الحديث موضوع ده.

دعلم حدیث غرض وغایت: دعلم حدیث غرض و غایت دادي ((الاهتداء بهدى النبي صلى الله عليه وسلم)) او اخروي غایت د ټولو دیني علوموېودي یعني ((الفوز بسعادة الدارين))

د علم حدیث شرف اوفضیلت: ترکومې چه دعلم حدیث دشرافت اوفضیلت تعلق دې نودې دپاره دځه اوږد بیان ضرورت نشته دې د قرآن او د حدیث بې شمیره نصوص ددې علم فضیلت ثابتوي. دلته نه ددې استیعاب مقصوددې اونه ممکن دې که ضرورت وي نو دحافظ ابن عبد البر اندلسی کتاب "جامع بيان العلم وفضله" طرف ته دې رجوع اوکړې شي البته ددې علم دفضیلت دپاره دومره خبره هم کافی ده. چه ددې په وجه د ډیر درود شریف دلوستو موقع ملاویږي. ځکه چې کله هم د نبی کریم ﷺ نوم یا صفت راشی نو درود پرې لوستلې شی اود درود فضائل بې شمیره دی.

د علومو دوه قسمونه:

اول قسم: علماء فرمائی چه دعلوموېو قسم علوم نقلیه دی

بیا دغه شان دا علوم نقلیه په دوه قسمه دی

① علوم نقلیه عالیه ② علوم نقلیه آلیه،

په اول قسم یعنی علوم نقلیه عالیه کښې تفسیر، حدیث اوفقه وغیره شامل دی

او په ټولوکښې اشرف ترین دا قسم دی اوعلم حدیث هم دی سره تعلق لري.

په دویم قسم یعنی په علوم آلیه نقلیه کښې علوم عربیت لکه صرف اونحو اوبلاغت شامل دی.

دویم قسم: اود علومو دویم قسم علوم عقلیه دی.

بیا دا علوم عقلیه هم په دوه قسمه دی ①علوم عقلیه عالیه ② علوم عقلیه آلیه،

په اول قسم یعنی په علوم عقلیه عالیه کښې فلسفه، رمل (۱)، جفر، (۲) نجوم وغیره شامل دی. اوپه دویم قسم یعنی په علوم عقلیه آلیه کښې منطق وغیره شامل دی.

---

۱) دا یو داسې علم دې چې په دې کښې په شړو باندې کرښې راښکلې شي اود راروانې زماني حالات معلومولی شی. دا علم د یو قول مطابق دحضرت دانیال علیه السلام اود بل قول مطابق حضرت ادریس علیه السلام ته ښودلې شوې وو خوپه دې زمانه کښې د دې علم پوهیدونکې څوک نشته. اوکه څوک د دې دعوی اوکړی نو دروغژن به وی.

۲) (په دې علم کښې د حروف د اسرارو څخه بحث کولې شی د دې د ماهرینو دعوی ده چې هغوی د دې په مدد سره د راروانې زمانې حالات او واقعات معلومولی شی خو د شریعت په رڼا کښې د دې هیڅ څه حیثیت نشته او نه د دې زده کول صحیح دی)۔

حجية الحديث:

د مغربي تهذيب څخه متاثرين: دامت محمديه على صاحبها الصلاة والسلام په دې باندې اجماع ده چه دقرآن مجيد څخه روستو ددين دوئم اهم ماخذ حديث دې ليکن دشلمې صدئ په شروع کښې چه کله په مسلمانانو باندې دمغربي قومونو تسلط زيات شو نو دکم علمه مسلمانانو يوه داسې ډله پيدا شوه چه د مغربي افکارونه ډير متاثره وه هغوئ دا ګڼړله چه دمغرب د تقليد څخه بغير په دنيا کښې ترقي نه شي حاصليدې ليکن د اسلام ډير احکامات ددوئ په لاره کښې خنډ وو. ددې وجې دوی په اسلام کښې دتحريف سلسله شروع کړه چه دا دمغربي افکارو مطابق جوړ کړي دې طبقې ته اهل تجدد وائي.

د انکار حديث بانيان: په هندوستان کښې سرسيد احمد خان، په مصر کښې طه حسين، په ترکی کښې ضيا ګوک الپ ددې طبقې مشران وو. ددې ډلې مقاصد تر هغې پورې نه حاصليدل کومې پورې چه حديث دلارې نه لرې کړې شوې نه وی. ځکه چه په احاديثو کښې د ژوندد هرې شعبې متعلق داسې مفصل هدايات موجود دی کوم چه د مغربي افکارو سره ښکاره ټکر خوری چنانچه ددې طبقې بعضې افرادو حديث لره دحجت منلو څخه انکار وکړو.

د سرسيد طريقه کار: دا اوازپه هندوستان کښې دټولوڅخه مخکښې سر سيد احمد خان او دهغه ملګری چراغ علی پورته کړو ليکن هغوئ دانکارِ حديث نظريه علی الاعلان ښکاره اوپه وضاحت سره دپيش کولوپه ځائې داطريقه خپله کړه چه چرته ورته يوحديث دخپلې مدعا خلاف په نظر راغې نو د هغې حديث دصحت نه ئې انکار اوکړو اګرچه ددې سندبه هرڅومره قوی وو. کله کله به يې ددې خبرې هم اظهار کيدو. چه په موجوده زمانه کښې دا احاديث حجت کيدل نه دی پکار اودې سره سره به ئې په بعضې مقاماتو کښې دخپل مطلب د احاديثوڅخه استدلال هم کولوهم په دې طريقه تجارتی سود حلال کړې شو، د معجزاتو نه انکار اوکړې شو، د پردې نه انکاروکړې شو او ډيرومغربي نظرياتو ته سند د جوازورکړې شو

په انکار حديث کښې ترقي: ددوئ څخه روستوپه نظريهٔ انکارحديث کښې نوره هم ترقي اوشوه.او دې نظرئې ته په منظم طريقې سره دعبدالله چکړالوی په مشرئ کښې ترقي اوکړه. او دا د يوې فرقې بانی وو چه خپل ځان ته به ئې اهل قرآن وئيلودهغه مقصد دحديث نه کلية انکارکول وو. د دې څخه روستواسلم جيراج پورې داهل قرآن نه علاوه دې نظرئې ته ترقي ورکړه تردې چه غلام احمدپرويز ددې فتنې واګې په خپلولاسو کښې واخستلې اودې ته ئې ديوې منظمې نظرئې او د مکتبِ فکر شکل ورکړو په نوجوانانو باندې دهغه په تحريرکښې ډير اثر وو. ددې وجې نه دهغه په زمانه کښې دافتنه ډيره

خوره شوه دلته به مونږ د دې فتنې په بنیادي نظریاتو مختصرې خبرې کوو.

دمنکرینِ حدیث درې نظرئې:

دمنکرینِ حدیث له طرفه چه کومې نظرئې تراوسه مخې ته راغلې دي هغه درې قسمه دي. ① درسول الله ﷺ فریضه صرف دقرآن رَسول وو. صرف دقرآن اطاعت واجب دې. دنبي کریم ﷺ اطاعت ((من حیث الرسول)) نه په صحابو ﷺ باندې واجب وو او نه په مونږه باندې (معاذالله) او وحی صرف متلو ده. وحی غیرمتلو هډو څه څیزنه دې اودقرآن دپوهې دپاره دحدیث ضرورت نشته.

② دنبي کریم ﷺ ارشادات په صحابو ﷺ باندې حجت وو په مونږه نه دې.

③ دنبي کریم ﷺ ارشادات په ټولو انسانانو حجت دی لیکن موجوده احادیث مونږ ته په قابل اعتماد ذرایعو سره نه دی رارسیدلې. د دې وجې مونږ ددې په منلو مکلف نه یو. د منکرین حدیث تعلق که دهرې ډلې سره وی دهغوئ لیك په دې دریو نظریاتو کښې خامخا د یو ترجماني کوی دې. وجې مونږ به په دې متضاد نظریاتو کښې په هریو مختصرې خبرې کوو.

داولنئ نظرئې تردید: ① ((وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآئِ حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ مَا يَشَآءُ)) په دې آیت کښې دارسالِ رسول الله ﷺ څخه علاوه وحیاً یومستقل قسم ذکر کړې شوې دې هم داوحی غیرمتلوده

② ((عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَكُمْ)) دې آیت کښې ئې د رمضان په شپو کی د جماع کولو څخه تعبیرپه خیانت سره اوکړو. او روستوئې اجازت ورکړو دې څخه معلومه شوه چه قرآن کریم داواضحه کړله چه دې څخه وړاندې دحرمت دجماع حکم وو. حال دا دې چه داحکم په قرآن کریم کښې چرته هم ذکرنه دې نو خامخا به داحکم دوحی غیرمتلوپه ذریعه وو او د دې مخالفت دقرآن کریم په نظرکښې خیانت وو.

③ په قرآن کښې دی. ((وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ)) په دې کښې د "القبلة" څخه مرادبیت المقدس دې اودې طرف ته دمخ کولوحکم الله پاك د "جعلنا" په لفظ سره خپل ځان ته منسوب کړې دې. حال دادې چه په پوره قرآن کښې چرته هم بیت المقدس ته د مخ کولوحکم ذکر نه دې. نو خامخا دا حکم به د وحی غیرمتلوپه ذریعه وو. او خپل طرف ته منسوب کولو سره الله تعالی دا واضحه کړله چه د وحی غیرمتلوحکم هم واجب التعمیل دې څنګه چه دوحی متلو دې.

④ ((وَاِذْ يَعِدُكُمُ اللّٰهُ اِحْدَى الطَّآئِفَتَيْنِ اَنَّهَا لَكُمْ)) دې کښې هم چه د کومې وعدې ذکردې هغه د وحی غیرمتلوپه ذریعه وو. ځکه چه قرآن کریم کښې چرته هم د دې وعدې ذکرنشته.

⑤ ((وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ)) ((الی قوله تعالی)) ((وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَىِٕنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ۭ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ)) دا آیت دغزوه احد په موقع نازل شوې وو. اودې کښې داوئیلې شوې دی چه الله تعالی په غزوه بدرکښې د فرشتو د نازلیدو پیشن گوئی کړې وه. حال دا دې چه دا پیشن گوئی په قرآن کښې چرته هم ذکرنه ده. ظاهره ده چه دا د وحی غیرمتلوپه ذریعه وه.

⑥ ((سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ۭ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ)) په دې آیت کښې دا ذکردی چه دمنافقانوپه غزوه خیبرکښې دنه شریك کیدوپیشن گوئی الله تعالی دوړاندې نه کړې وه. ظاهره ده چه داپیشن گوئی هم د وحی غیرمتلوپه ذریعه وه ځکه چه قرآن کریم کښې ددې چرته ذکرنشته.

⑦ ((وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ۭ قَالَ نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ)) دې کښې صفاذکردی چه دحضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت حفصه رضی الله عنها پوره واقعه الله تعالی په نبی کریم ﷺ ظاهره کړې وه. اوقرآن کښې چرته هم داواقعه ذکرنه ده نو خامخا به دا د وحی غیرمتلوپه ذریعه وه.

⑧ ((فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا)) دې آیت څخه صفاواضحه ده چه د نبی ﷺ د ارشاداتو اطاعت نه صرف واجب بلکه دایمان مداردې

⑨ دنبی کریم ﷺ د فرائضِ منصبی د بیانولو په موقع وئیلې شوې دی ((وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ)) ددې آیت څخه صفاواضحه ده چه د دوئ منصب معاذالله د ډاکی په شان صرف پیغام رسول نه وو. بلکه تعلیم دکتاب او د حکمت اوددې تشریح بیانول هم وو. اوس سوال دادې چه ددوئ ﷺ ارشادات حجت نه دې نو دکتاب اودحکمت تبیین څنګه کیدې شی آیا دکتاب الله دتشریح او تبیین دپاره به دوئ ته دخپل طرف نه دخبرې کولوضرورت نه راتلو؟ اوظاهره ده چه دې څخه بغیرتعلیم ممکن نه دې نو که د نبی ﷺ خبرې حجت نه شی نو بیادتعلیم څه فائده.

⑩ په قرآن کښې ځائې په ځائې د ((اَطِيْعُوا اللّٰهَ)) سره د ((وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ)) ذکردې چه صراحة په حجت حدیث دلالت کوی.

په دې دلیل باندې یوه شبه: دې باره کښې عموما منکرین دحدیث داوائی چه دا اطاعت په حیثیت دحجت فی الشرع کیدونه دې. بلکه په دې حیثیت دې چه دې مرکزدملت دې یاحاکم دملت دې. یعنی ددوئ فرمان دیوحاکم په حیثیت د دغه زمانې په خلقوواجب العمل وو اوددوئ نه پس چه کوم حاکم هم راځی دهغه اطاعت به کیږی نه ددوئ ﷺ

دوه جوابونه: ① يوخو داچه دحاكم داطاعت مستقل ذكردې يعني ((أُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ))دې د وجې اطاعت رسول په دې نه شي محمول كيدې.

② دويم دلته د اطيعوالرسول جمله استعمال شوې ده. اودامسلم قاعده ده چه كله په يو اسم مشتق حكم اولګولې شي نوماده داشتقاق ددې حكم علت اومداروي. لكه اكرم العالم كښې داكرام علت علم دې دغه شان اطيعوا الرسول كښې داطاعت علت رسالت دې نه حاكميت.

④ په قرآن مجيد كښې په ډيرو ځايونو كښې د مخكينو انبياؤ خبرې او واقعات نقل دى او دهغوى ارشادات دهغوى د امتونو دپاره واجب العمل ګرځولې شوى دى، اوپه نه منلو پرې عذاب نازل كړې شوې دې دا خبره د حجيتِ حديث واضح دليل دې.

② په مخكينو انبياؤ كښې ډير حضرات داسې تيرشوى دى چه په هغوى باندې هيڅ كتاب نه دې نازل شوې، كه چرې دهغوى ارشادات واجب العمل نه وو نوهغوى بيا راليږلې شوى وو؟

③ په قرآن كريم كښې دحضرت ابراهيم عليه السلام د خوب واقعه ذكرده چه په هغې كښې د ځوى د ذبح كولو حكم وركړې شوې وو، ددې نه دا ثابتيږي چه د انبياء عليهم السلام خوب هم وحى وى، او ښكاره ده چه دا وحى غيرمتلو ده.{درس ترمذي : ص: ۲۸، ۲۹}

عقلي دلائل: ① صرف رسول نه بلكه معلم كيدل ضروري دى د مشركين مكه دا خواهش وو چه كتاب الله دې د رسول دواسطې په ځائې په مونږ براه راست نازل شي. ((حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيْنَا كِتَابًا نَّقْرَؤُهُ)) ظاهريده چه داسې صورت كښې به معجزه هم زياته ظاهره وه او د مشركانو دايمان راوړوبه هم زيات اميد وو. خو الله تعالى داطريقه اختيارنكړه. سوال دادې چه كه احاديث حجت نه وې. نو په رسول راليږلوولې اصرارشوې دې ؟ په حقيقت كښې درسول ارسال ځكه شوې دې چه يواځې كتاب ديوقوم داصلاح دپاره كله هم نه شى كافى كيدې. تر څو چه داسې يو معلم نه وى چه ددې معانى متعين كړى. اوپه خپله ددې عملى نمونه په خپل عمل اوښائى اوداترهغه وخته پورې ممكن نه ده ترڅو چه د ده هريوفعل اوقول واجب الاتباع نه وى.

قرآن اجمال او احاديث تشريح ده: ②په قرآن كريم كښې چه دژوندهرې شعبې متعلق كوم هدايات وركړې شوى دى هغه عموماپه څو بنيادى احكامومشتمل دى، ددې احكامو تفصيل اودعمل طريقه احاديثوبيان كړې ده، دمونځ كولوطريقه اوددې اوقات اوشمير د ركعتونودې كښې يوخيزهم په قرآن كښې ذكرنه دې، كه احاديث حجت نه منى نو په ((اقيموا الصلوة)) باندې د عمل كولوطريقه به څه وى؟ كه يوسړې دا اووائى: چه دصلوة

معنی دعربی لغت په اعتبار تحریك الصلوین یعنی د کوناټو خوزول نو د "اقیموا الصلوة" مطلب دادې چه درقص اډې جوړې کړی، نو ددې به تاسره څه جواب وی؟

③ آیا ټول امت ترڅوارلس سوه کالو پورې په حجیت حدیث نه وو پوهه شوې؟ ټول امت بلااستثناء احادیث حجت منی که داټول خلق ګمراه وو اوڅوارلس سوه کالوکښې دپرویز صاحب څخه علاوه په اسلام پوهیدونکې پیدا شوی نه وو. نو بیا د ا سوچ پکاردې چه آیا هغه دین قابل اتباع کیدې شی چه په کوم تر څوارلس سووکالو پورې یوفردبشرهم نه وی پوهه شوې.

د منکرینِ حدیث څو دلائل:

① **قرآن آسان دې:** منکرین حدیث دټولونه اول داآیت دلیل کښې رواړی ((وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ)) دوئ وائی چه ددې آیت مطابق قرآن ډیرآسان دې. د دې وجې په دې دپوهیدو اوپه دې دعمل کولودپاره دچاد تعلیم اودتشریح حاجت نشته.

جواب: دقرآن کریم مضامین په دوه قسمونومشتمل دی څه مضامین خوداسې دی چې دهغې مقصد د الله تعالی ویره، دآخرت فکر، الله تعالی ته د رجوع پیدا کول، او د عام نصیحت خبرې کول دی. اوڅه داسې دی چه هغې کښې احکام اوشرائع اودهغې اصول بیان شوې دی ((وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ)) د ړومبې قسم مضامینومتعلق دې ددوئم قسم سره نه دې اودهغې دلیل دادې چه ((وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ)) سره د للذکر قید لګولې شوې دې که استنباط د احکاموهم آسان وې نو دا قیدبه نه وو بیا وړاندې ((فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ)) وئیلې شوې دې ((هل من مستنبط، هل من مجتهد)) نه دی وئیلې شوې د دې څخه علاوه په څو آیتونو کښې وضاحت شوې دې چه په دې کتاب بغیر د رسول څخه پوهیدل نه شی کیدې مثلاً: ((وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ))

② **قرآنی آیاتونه واضح دی:** منکرین احادیث وائی چه قرآن ځائې په ځائې خپل آیات بینات ګرځولې دی. دې څخه معلومیږی چه دا پخپله واضح دی اودتوضیح ضرورت نشته.

جواب: دا مضمون همیشه دبنیادی عقائدوسره متعلق راوړې شوې دې، مطلب دا دې چه دتوحید، رسالت اورآخرت دلائل داسې واضح دی چه لږې توجه سره زړه ته ننوځی، نه د عیسیانو د عقیدهٔ تثلیث په شان چه ټوله دنیا پرې نه پوهیږی، د دې څخه دانه لازمیږی چه د احکامو په معامله کښې هم دابالکل آسان دې یا ګنی ددې دتوضیح دپاره دیورسول حاجت نشته.

③ **نبی دعامو انسانانو پشان انسان دې:** ((إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَىٰ إِلَيَّ)) منکرین حدیث وائی چه

دې آيت کښې حضرت محمد ﷺ دنوروانسانانوپه شان انسان ګرځولې شوې دې. په دې وجه دا آيت صريح دې چه په دوئ نازل شوې وحی متلوخوواجب الاتباع ده. خوپخپله ددوئ ارشادات واجب عمل نه دی.

جواب: په حقيقت کښې د دوی دا استدلال آيت لره د سياق نه جدا کولو سره کړې شوې دې په حقيقت کښې دا آيت دمشرکانو په جواب کښې راغلې دې، چه دنبی کريم ﷺ نه به ئې د معجزاتومطالبه کوله، جواب کښې ئې ورته اوفرمائيل چه زه ستاسوپه شان بشريم زه په خپلې مرضئ سره په معجزوخودلوقادر نه يم ترکومې چه الله تعالی اونه غواړي، دې څخه معلومه شوله چه مثلکم کښې تشبيه صرف په((عدم القدرة على المعجزة بغيرمشية الله)) کښې ده. من کل الوجوه نه ده.

بله دا چه هم دې آيت کښې دنوروانسانانوسره مابه الفرق وحی ګرځولې شوې ده،اود وحی لفظ مطلق استعمال شوې دې. کوم چه وحی متلواوغيرمتلودواړوته شامل ده لهذا د دې څخه واجب الاتباع نه کيدوباندې استدلال لغودې.

④ **د نبی په بعضې افعالو انکار خداوندی:** منکرين حديث دهغه واقعاتونه هم استدلال کوی چه په کوموکښې چه دنبی کريم ﷺ په څه عمل باندې قرآن کريم کښې عتاب نازل شوې دې، مثلاً په غزوه بدرکښې قيديان په فديه آخستوپريښودل. ددوئ وينا داده چه دې واقعه کښې قرآن کريم تصريح کړې ده، چه دنبی کريم ﷺ فيصله درضاء الهی موافق نه وه، دې وجې د نبی عليه السلام اقوال اوافعال علی الاطلاق حجت نه شی کيدې

جواب: د دې جواب دا دې چه دې واقعاتوکښې بې شکه دوئ نه اجتهادی لغزش شوې وو، چه په هغې د وحی په ذريعه متنبه شو، خوکه غوراوکړې نوهم دا واقعه په حجيت حديث دلالت کوی، څکه چه ترکومې قرآن شريف په دې اجتهادی لغزش باندې تنبيه نه وه کړې ترهغې پورې ټولوصحابؤ رضي الله عنهم د دوئ ﷺ ددې حکم اتباع اوکړه، اوچه کله قرآنی تنبيه نازل شوه، نودې کښې په نبی کريم ﷺ د مينې په انداز کښې عتاب دې((مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَىٰ حَتَّىٰ يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ..الخ))

خو په صحابه کرامو باندې دا اعتراض نه دې شوې چې په دې فيصله کښې تاسو ولې ددوئ اتباع اوکړله، دې څخه صفامعلوميږی چه دې معامله کښې صحابؤ رضي الله عنهم دنبی کريم ﷺ اتباع اوکړه او خپله فريضه ئې اداکړې وه اود نبی عليه السلام دفيصلې ټوله ذمه واری هم په دوی ﷺ باندې پخپله وه.

⑤ **دتابير د واقعې نه استدلال:** منکرين حديث دهغه واقعه نه هم استدلال کوی، په کومه کښې چه دوی ﷺ انصارمدينه دتابيرنخل نه منع کړل. يعنی صحابه کرامو به په مدينه

کښې په قجورو کښې قلم لګول په دې سره به د قجورو په پیداوار کښې اضافه کیده نبی کریم ﷺ دوی د دې څخه منع کړل نو په راروان کال قجورې کمې اوشوې نبی کریم ﷺ د کمې د سبب پوښتنه اوکړه نو صحابو ﷺ ورته د تابیر نه کولو سبب اوخودلو په دې باندې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ((انتم اعلم بأمور دنیاکم)) یعنی دې معامله کښې ځما اتباع په تاسو واجب نه ده.

جواب: د دې جواب دا دې چه دنبی کریم ﷺ دارشادات دوه حیثیتونه دی یو هغه ارشادات چه دوی په حیثیت درسول الله ﷺ بیان کړې دی. اودویم هغه ارشادات چه دوی ﷺ دشخصی مشورو په حیثیت بیان کړې دی نو د((انتم اعلم بأمور دینکم)) تعلق د دوئم قسم سره دې اومحل دبحث ړومبې قسم ارشادات دی. د دې وجې دا استدلال صحیح نه دې.

اشکال: په دې دا اشکال کیدې شی چه داپته لګول زمونږ دپاره ګرانه ده چه کوم ارشاد په کوم حیثیت دې، د دې وجې د دوئ ﷺ افعال اواقوال علی الاطلاق حجت نه شې کیدې.

جواب: ددې جواب دا دې چه د دوئ ﷺ اصل حیثیت د رسول د حیثیت دې د دې په وجه ددوئ ﷺ هرقول اوفعل به په دې حیثیت محمول وی اوحجت به وی مګردا چه څه دلیل یاقرینه په دې قائمه شی چه دا ارشاد دشخصی مشورې حیثیت لری اوواقعه هم دا ده چه پوره ذخیره داحادیثو کښې دشخصی مشورومثالونه دشمیر یو څودی. اوپه داسې مقاماتودا تصریح موجوده ده چه دا ارشاد شرعی حکم نه دې بلکه شخصی مشوره ده. د دغه څومقاماتو څخه علاوه نورټول ارشادات په حیثیت د رسول دی اوحجت دی

د دویمې نظریې تردید:

د دې نظرئې مطابق احادیث د صحابو دپاره حجت وو زمونږ دپاره حجت نه دی، دا نظریه داسې بدیهی البطلان ده چه ددې دتردید دپاره دتفصیل ضرورت نشته. ددې خلاصه خود اراوځی چه معاذ الله دنبی کریم ﷺ رسالت صرف عهد دصحابو ﷺ پورې مختص وو. حال دا دې چه په لاندینی آیتونو سره ددې صراحة تردید کیږی.

① ((وَمَآ اَرۡسَلۡنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيۡرًا وَّنَذِيۡرًا)) اومونږ ته د ټولو خلقو دپاره زیرې ورکونکې او ویرونکې لیږلې یې.

② ((قُلۡ يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّىۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ اِلَيۡكُمۡ جَمِيۡعَا)) اې خلقو زه ستاسو ټولو طرف ته پیغمبر (رالیږلې شوې) یم.

③ ((تَبٰرَكَ الَّذِىۡ نَزَّلَ الۡفُرۡقَانَ عَلٰى عَبۡدِهٖ لِيَكُوۡنَ لِلۡعٰلَمِيۡنَ نَذِيۡرَا)) د برکت خاوند دې هغه ذات چې په خپل بنده باندې یې قرآن نازل کړې دې دپاره چې د ټولو خلقو دپاره ویرونکې شی.

۴ ((وَمَآ أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ)) او مونږه ته د ټول مخلوق دپاره رحمت رالیږلې یې دینه علاوه بنیادي سوال دا دې، چه دفهم القرآن دپاره دتعلیم درسول الله ﷺ حاجت شته اوکه نه ؟ که نه وی نورسول ئې ولې رالیږلې وو اوکه شته نوعجیبه خبره ده چه صحابو ته خودتعلیم ضرورت وو اومونږ ته نشته. حال دادې چه صحابود نزول قرآن په خپله مشاهده کړې وه. د اسبابو د نزول څخه پوره پخپله خبرداروو، د نزول قرآن ماحول ددوئ وراندې وو، اومونږ ددې ټولوڅخه محروم یو.

ددې په جواب کښې منکرین حدیث هم هغه زړه خبره کوی چه ددوئ ﷺ اطاعت په صحابوپه حیثیت د مرکزِ ملت واجب وو. نه په حیثیت درسول، خو ددې خبرې تردید شوې دې.

د دریمې نظریې تردید:

داوئیل بالکل غلط دی چه احادیث حجت خودی خومونږ ته په قابلِ اعتماد ذریعې سره نه دی راغلی. په دې دلائل دی.

الزامی جواب: مونږ ته قرآن شریف هم په هغه واسطو رارسیدلې دې په کومو واسطو چه حدیث راغلې دې. اوس که دا واسطې ناقابلِ اعتماددی. نودقرآن شریف نه هم لاس وینځل پکار دی.

د منکرین حدیث جواب: منکرین حدیث ددې جواب دا ورکوی، چه د قرآن شریف د حفاظت ذمه الله تعالی پخپله اخستې ده الله تعالی فرمائی ((انا له لحافظون)) دحدیث په باره کښې داسې ذمه واری نشته.

دجواب څخه جوابونه: (ا) خوددې رومبې جواب دادې چه ((إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحٰفِظُوْنَ)) آیت هم مونږ ته په دغه واسطورارسیدلې دې چه ستاسوپه قول ناقابلِ اعتماددی. نو ددې څه دلیل دې چه دا آیات چادخپل ځان څخه زیات کړې نه دې.

(ب) بله دا چه په دې کښې دقرآن شریف دحفاظت ذمه واری اخستې شوې ده.او قرآن د علماء اصول په اتفاق سره د نظم او معنی دواړو نوم دې.ددې وجې دا آیت صرف د قرآن پاک د الفاظو د حفاظت دپاره نه دی بلکه د قرآن پاک د معانیود حفاظت ذمه واری هم اخلی اودقرآن شریف د معانیو تعلیم په احادیثو کښې شوې دی.

یواشکال: اوکه دا اوئیلې شی چه دقرآن شریف منجانب الله کیدل مونږ ته په دغه واسطونه بلکه داعجاز او د بلاغت د وجه ظاهر شوې دې او احادیثو کښې دا اعجازنشته.

جواب: نو ددې جواب دا دې چه اول خونن صبا دقرآن شریف اعجاز خلقوته دآیات تحدی

څخه ثابتیږی او آیات تحدی هم په دغه واسطورارسیدلي دي. آیادا نشی کیدي چه آیات دتحدی دغه ناقابل اعتماد واسطودي دپاره زیات کړي وی چه خلق قرآن شریف منجانب الله اوګنړی.

دویمه خبره داده چه داعجاز قرآن شریف ثبوت د دي واقعي په منلو موقوف دي چه دقرآن شریف دچیلنج په جواب کښي چا داسي کلام وړاندي نه کړي شو، او دا واقعه د احادیثو څخه سوا بل ځائي کښي نه معلومیږی.

احادیث واجب العمل: چه کله تاداتسلیم کړه چه احادیث واجب العمل دی نودي نه پخپله دانتیجه رااوځی چه دا به دقیام قیامته پوري محفوظ وی، ګنی دا به لازم شی چه الله تعالی احادیث خو واجب العمل کړل، خودديِ دحفاظت انتظام ئي اونه کړو، ګویابندګان ئي په تکلیف مالایطاق کښي مبتلاء کړل. اوداخبره د ((لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا)) خلاف ده.

احادیث اخبار احاد دی: منکرین حدیث داهم وائی چه احادیث یعنی اخبارآحاد پخپله د محدثینو د تصریح مطابق ظنی دی اود ظنی تابعداری دقرآن شریف مطابق ممنوع ده ((إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّن وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا)) یعنی دوی صرف د ګمان تابعداری کوی او ګمان د حق په مقابله کښي هیڅ نه دي.

جواب: د ظن دري معانی: خو د دوی دا قول هم دجل اوتلبیس دي، خبره داده چه ظن په عربئ کښي په دري معانیواستعمالیږی.

① داټکل اودتخمین په معنی② دظن غالب په معنی③ دعلم یقینی استدلالی په معنی. پخپله په قرآن شریف کښي ظن په معنی دیقین مستعمل دي.

(ا) ((الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا رَبِّهِمْ)) هغه خلق چي یقین کوی چي دوی به د خپل رب سره ملاقات کونکی دی.

(ب) ((قَالَ الَّذِينَ يَظُنُّونَ أَنَّهُم مُّلَاقُوا اللّٰهِ)) هغه خلق به اووائی چي یقین یي کولو چي دوی به د الله تعالی سره ملاقات کوی.

(ج) ((وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ)) او داود علیه السلام یقین اوکړو چي مونږ په هغه باندي امتحان اوکړو.

احادیثو ته د ظنی وئیلو وجه: اوس په دي پوهه شه چه احادیثوته چه ظنی وئیلي کیږی نو دا د اټکل اوتخمین په معنی کښي نه دی بلکه بعضي ځاینوکښي په معنی دظن غالب او بعضي ځایونو کښي په معنی دیقین راځی. اوقرآن شریف کښي چه دکوم ظن دتابعداری نه منع شوي ده هلته دي نه مراداټکل اوتخمین دي ګني ترکومي چه دظن غالب تعلق دي، شریعت په بي شمیره مسائلوکښي دا حجت ګرځولی دي. اوحقیقت دادي چه ددي

دحجت منلونه بغير انسان يوورځ هم ژوندې نه شي پاتې کيږي. ځکه چه ټوله دنياپه ظن غالب قائم ده، اوحافظ ابن حجرليکلې دی چه اخبار آحاد هم دا قسم ظن غالب پيداکوی. البته بعضې اخبار آحاد چه کوم مؤيدبالقرائن وی دادعلم نظرې يقينی فائده هم ورکوی، مثلاً هغه احاديث چه کوم مسلسل بالحفاظ والائمه وی.
احاديث چه په کومواسطومونږ ته رارسيدلې دی په هغې دناقابل اعتمادکيدوفتوی لګول دبې خبرئ دليل دې، په حقيقت کښې داحاديثودحفاظت چه کوم انتظام شوې دې هغه بې نظيردې، چه دهغې تفصيل دتدوين حديث دتاريخ څخه معلوميږی.

تدوين حديث:

منکرين حديث وائی چه احاديث په دريمې صدئ هجری کښې مدون شوې دی. په دې وجه دا اعتماد نشته چه دا په اصلی صورت به باقی وی، خودا مغالطه بالکل بې بنياده ده ځکه چه دټولونه وړاندې داکتل پکاردی، چه دحديث دحفاظت دعهدرسالت څخه راواخله تراوسه پورې څنګه اهتمام شوې دې
د حفاظت حديث لاره صرف کتابت نه دې بلکه نور قابل اعتماد ذرائع هم دی او دتحقيق څخه معلوميږی چه په عهدرسالت او عهد صحابه کښې دحفاظتِ حديث دپاره درې طريقې استعمال شوی دی چه لاندې ليك دی.

د حفاظت حديث درې طريقې:

ړومبئ حفظ روايت : دحفاظت حديث ړومبئ طريقه احاديث يادول دی اودا طريقه ددغه دور په لحاظ سره انتهائی قابل اعتماد وه، اهل عربو ته الله تعالی غير معمولی حافظې ورکړې وې هغوئ به صرف خپلې نه بلکه د خپلو آسونو نسب نامې هم يادې ساتلې، يويوسړی ته به په زرګونو اشعار ياد وو، او ډير کرتې به ئې يوه خبره صرف يو ځل اوليدله ياواوريدله اوپوره به ورته ياده شوه، تاريخ کښې ددې بې شميره مثالونه ملاويږی چه هغې کښې يو دوه دلته بيانيږی.
دحضرت وحشی حافظه: صحيح بخاری کښې دحضرت جعفربن عمروالضمری بيان دې چه زه يوځل دعبيدالله بن عدی بن الخيارسره دحضرت وحشی ﷺ ملاقات ته لاړم، عبيدالله دهغوئ څخه تپوس اوکړوچه تاسوماپيژنئ؟ نو حضرت وحشی ﷺ اوفرمائيل چه زه خوتانه پيژنم البته ماته دومره ياددی چه د نن څخه څوکاله وړاندې زه يو ورځ دعدی بن الخيارنومې يوسړی ته ورغلې ووم، په دغه ورځ دعدی کره يوبچې پيدا شوې وو، مادغه بچې په څادرکښې انغښتې شوې دهغه مرضعې ته يوړو دبچې ټول جسم پټ وو، مائې صرف پښې ليدلې وې او ستاپښې د هغه بچی دپښوسره ډيرې مشابه دی.
نتيجه: دغورکولوخبره ده چه کوم قوم دومره معمولی خبرې په دومره اعتمادسره ياد

ساتی هغوئ به د حضرت محمد ﷺ د اقوالو اود افعالو دیاد ساتلو څومره اهتمام کوی چه دوئ دا د نجات لار هم ګنړی بیا خاص طور چه دنبی کریم ﷺ دا ارشادهم د دوی مخې ته راغلې وی. «نضرالله عبدًا سمع مقالتی فحفظها ووعاها واداها الخ»[1]، نو داخبره واضح ده چه صحابو به ددې ډیرزیات اهتول کولو.

دابوهریره رضی الله عنه امتحان اخستل: حافظ ابن حجر په خپل کتاب الاصابة کښې نقل کړی دی چه یوځل عبدالملك بن مروان دحضرت ابوهریره رضی الله عنه دحافظې امتحان اخستلو، نودې ئې راوبللو او د احادیثو داورولو درخواست ئې اوکړو حضرت ابوهریره رضی الله عنه ډیر احادیث واورول، یو کاتب به هغه لیکل تردې چې ابوهریره رضی الله عنه لاړلو. عبدالملك په بل کال دې بیا راوغوښتو اودوئ ته ئې اووئیل چه پروس کال تاسو کوم احادیث راباندې لیکلی وو هغه بیا واوروئ هم په دغه ترتیب، حضرت ابوهریره رضي الله عنه بیا احادیث شروع کړل.اوکاتب د خپل کتاب سره ددې مقابله کوله په یوځائې کښې هم د یو حرف یا دیوې نقطې تبدیلی اونه کړله خلاصه دا چه ترتیب هم هغه وو او یوحدیث هم مقدم مؤخرنه شو.

استدلال: دا قسم حیرت انګیز واقعات ددې خبرې دلیل دې چه الله تعالی دې حضراتو ته داسې حافظې صرف دحفاظت حدیث دپاره ورکړې وې، بلاشبه داسې حافظې دحدیث دپاره دومره قابلِ اعتمادذرائع دی څنګه چه کتابت دې.

دویمه طریقه تعامل:

دحفاظت حدیث دویمه طریقه چه کومه صحابو رضی الله عنهم اختیارکړې وه، هغه دتعامل وه یعنی دوئ به دنبی کریم ﷺ په اقوالو او په افعالو باندې بجنسها عمل کولو او هغه به ئ یادولو. د ډیروصحابو رضی الله عنهم نه منقول دی چه دوئ به څه اوکړل او دې نه پس به ئې اوفرمائیل «هکذا رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یفعل» دا طریقه ډیره قابل اعتماد طریقه ده ځکه چه په کومه خبره انسان عمل اوکړی هغه په ذهن کښې ((کالنقش علی الحجر)) وی.

دریمه طریقه دکتابت:

د احادیثو د حفاظت دکتابت په ذریعه سره هم شوې دې اوتاریخی طور باندې کتابتِ حدیث په څلورومراتبو تقسمولې شی.

① متفرق طورباندې احادیث لیکل.

② دیوسرې په صحیفه کښې احادیث جمع کول. د کومې حیثیت چې دذاتی یادداشت وی.

[1]) رواه الشافعی والبیهقی فی المدخل ورواه احمد والترمذی وابوداوٗد وابن ماجه والدارمی عن زید بن ثابت کذا فی مشکاة المصابیح کتاب العلم الفصل الثانی ۳۵۱۱)

③ احادیث په کتابی صورت کښې بغیر د تبویب نه جمع کول
④ احادیث په کتابی صورت کښې د تبویب سره جمع کول
په عهد رسالت کښې رائج دوه طریقې: په عهدِ رسالت او عهدِ صحابه کښې رومبې دوه طریقې د کتابت ښه رائج وې،
د منکرینِ حدیث په عهد رسالت کښې د کتابت حدیث نه انکار: منکرین حدیث په عهدِ رسالت کښې کتَابتِ حدیث نَه تسلیموی او د مسلَم (۱) وغیره هغه حدیث نه استدلال کوی کوم چې د ابو سعید خدری نه مروی دې چه دوی ﷺ اوفرمائیل ((لاتکتبوا عنی ومن کتب عنی غیرالقران فلیمحه)) تاسو زما نه لیکل مه کوئ او چا چې زما څخه د قرآن کریم نه سوا بل څه لیکلی وی هغه دې وران کړی
د منکرینِ حدیث استدلال: منکرین حدیث وائی چه نبی کریم ﷺ د کتابت حدیث څخه منع اوکړله دا د دې دلیل دې چه دغه زمانه کښې احادیث نه دی لیکلې شوې. دغه شان دې څخه دا هم معلومیږی چه احادیث حجت نه دې.
جواب: خو حقیقت دا دې چه د کتابت حدیث دا ممانعت په ابتداء د اسلام کښې وو، او د هغې وجه دا وه چه دغه وخت قرآن کریم په یوه نسخه کښې مدون نه وو بلکه متفرق طور د صحابؤ سره لیکلې شوې وو. بل طرف ته صحابه هم تردې وخته پورې د اسلوبِ قرآن سره مانوس نه وو چه هغوئ په قرآن کریم او غیرقرآن کښې په اول نظر سره تمیز اوکړی. نو دې حالاتو کښې که حدیث هم لیکلې کیدې نو خطره وه چه قرآن سره به گډوډ شوې وو د دې خطرې د وجې او د دې د انسداد د پاره دوی ﷺ د کتابت حدیث ممانعت اوکړو. خو چه کله صحابه کرام د اسلوب د قرآن کریم څخه پوره مانوس شو نو دوی ﷺ د کتابت حدیث اجازت هم ورکړې دې، چه د هغې متعدد واقعات د احادیثو په کتابونو کښې نقل دی.

په عهد رسالت کښې د کتابت حدیث واقعات:

① په جامع ترمذی کښې امام ترمذی په ابواب العلم کښې په دې یو مستقل باب منعقد کړې دې ((باب ما جاء فی الرخصة فیه)) او دې کښې ئې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا روایت نقل کړې دې چه ((قال کان رجل من الانصار یجلس الی رسول الله ﷺ فیسمع من النبی ﷺ الحدیث فیعجبه ولا یحفظه فشکی ذلك الی لرسول الله ﷺ فقال یارسول الله ﷺ انی لاسمع منك الحدیث فیعجبنی ولا احفظه فقال رسول الله ﷺ استعن بیمینك واومأ بیده لخط)) (۲)

---

(۱) کتاب الزهد باب التشبت حکم کتابة العلم (۲/٤۱٤)-
(۲) جامع ترمذی جلد ۲ ص: ۱۰٦ و ۱۰۷)

۲ امام ابوداود په خپل سنن کښې او امام حاکم په مستدرك [۱] کښې دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه روایت کوی چه ((کنت اکتب کل شئ اسمعه من رسول الله صلی الله علیه وسلم ارید حفظه فنهتنی قریش وقالوا اتکتب کل شئ تسمعه ورسول الله صلی الله علیه وسلم بشر یتکلم فی الغضب والرضاء فامسکت عن الکتابة فذکرت ذلك الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاومأ باصبعه الی فیه فقال اکتب فوالذی نفسی بیده مایخرج منه الاحق)) [۲]

۳ عن ابی هریرة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم خطب فذکر قصة فی الحدیث فقال ابوشاه اکتبوالی یارسول الله صلی الله علیه وسلم فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم اکتبوا لابی شاه وفی الحدیث قصة)) هذا حدیث حسن صحیح)) [۳]

۴ مستدرك حاکم کښې هم د عبدالله بن عمرو څخه روایت دې چه نبی علیه السلام اوفرمائیل ((قیدوا العلم قلت وماتقییده قال کتابته)) [۴]

خلاصه د بحث: دا قسم احادیث ددې خبرې واضح دلیل دې چه دکتابت ممانعت د څه عارض د وجې وؤ، اوچه کله دغه عارض ختم شو نو ددې صرف اجازت نه بلکه حکم اوشو.

د علامه نووی توجیه: علامه نووی رحمه الله د کتابت حدیث د منع یوه بله توجیه ذکر کړیده، هغه دا چه مطلق کتابت په یوه زمانه کښې هم ممنوع نه وو، بلکه بعضې حضرات صحابؤ به داسې کول چه د قرآن کریم د آیتونو لیکلو سره به ئې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم تشریح اوتفسیرهم هغه ځائې کښ لیکلو دا صورت ډیرخطرناك وو ځکه چه دې سره دقرآنی آیتونو د التباس ډیره خطره وه نو صرف ددې صورت ممانعت شوې وو. دقرآن کریم څخه جُدا د حدیث د لیکلو ممانعت نه وو، دعلامه نووی رحمه الله دا توجیه ډیره قرین قیاس وه.

تائید: ددې تائید دسنن نسائی دیو روایت څخه هم کیږی کوم چې امام نسائی [۵] نقل کړیده چه حضرت عائشه رضی الله عنها خپل یوغلام ته دقرآن کریم د لیکلو حکم اوکړو، اوچه کله هغه دې آیت ته را اورسیدلو ((حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ)) [۶] نو عائشه رضی الله عنها د لفظ د وسطی څخه روسته د ((وصلوة العصر)) زیاتولو حکم اوکړو. او ښکاره ده چه لفظ "العصر" دقرآن کریم جزء نه وو بلکه په طور د تشریح زیات کړې شوې

---

[۱] کتاب العلم الامر بکتابة الحدیث ۱/۱۰۴
[۲] لفظه لابی داوٴد ۲/۵۱۳ او ۵۱۴ کتاب العلم.))
[۳] ترمذی ۲/۱۰۷ ابوب العلم باب ماجاء فی الرخصة فیه ورواه البخاری فی کتاب العلم تحت باب کتاب العلم ۱/۲۱، ۲۲)
[۴] مستدرک ۱/۱۰۶ کتاب العلم باب قیدوا العلم بالکتابة)
[۵] "کتاب الصلوة" ((باب المحافظة علی صلوة العصر))
[۶] البقرة: ۲۳۸

وو او په دغه زمانه کښې د شرح او متن د امتیازدپاره هغه علامات رائج نه وو کوم چې روستو رائج شول د دې څخه معلومیږی چه نورو صحابوکرامو رضی الله عنهم به د دوی ﷺ بیان کړې تشریحات هم داسې لیکل، ظاهره ده چه که دا رواج عام شوې وې نو دقرآن کریم د متن تعیین اوحفاظت به یولوې درد سر وو، نوحقیقت کښې دکتابت حدیث څخه دممانعت وجه ددې عظیم خطرې سدباب وو خو د قرآن کریم څخه بیل د حدیث دلیکلو رواج په هره زمانه کښې جاری وو بلکه په عهدصحابه کښې دحدیث څومجموعې چه کوم د ذاتی نوعیت وې تیارې شوې وې ددې څومثالونه لاندې لیکو.

په عهد نبوی کښې د کتابت حدیث ذاتی مجموعې:

① **الصحیفة الصادقة** : مسند احمد کښې روایت دې چه حضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه چه کومه د احادیثو مجموعه تیاره کړې وه، دهغې نوم ئې "الصحیفة الصادقة" ایښې وو دا په عهد صحابو کښې د حدیثو په مجموعه کښې د ټولو څخه زیاته ضخیمه وه، د دې د احادیثوپوره تعداد په یقینی طور نه دې معلوم خو د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د یوروایت څخه چه په صحیح بخاری کښې موجود دې [۱] په دې څه رڼا پربوځی هغه فرمائی ((مامن أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم أحد أکثرحدیثا عنه، أی عن النبی صلی الله علیه وسلم منی الاماکان من عبدالله بن عمروفأنه کان یکتب ولاأکتب)) دې څخه معلومه شوه چې د حضرت ابن عمرو رضی الله عنه احادیثو د حضرت ابوهریره رضی الله عنه داحادیثو څخه زیاته وو. دحضرت ابوهریره رضی الله عنه درواياتو تعداد پنځه زره درې سوه څلور شپیته یا پنځه زره درې سوه څلوراویا دی اوصحیح قول هم دا دویم دې. د دې وجې د ابن عمرو رضی الله عنه احادیث به ددې څخه یقیناً زیات وی بل طرف ته دعبدالله بن عمرو رضی الله عنه دا ارشادپه حواله دابوداود تیرشوې دې چه ((کنت اکتب کل شئ اسمعه من رسول الله صلی الله علیه وسلم)) د دې څخه اندازه کیدې شی. چه د "الصحیفة الصادقة" احادیث دپنځه زره درې سوه څلورشپیتو څخه زیات وو.

اشکال: په دې دا اشکال کیدې شی چه دعبدالله بن عمرو رضی الله عنهما مرویات چه د مختلفو کتابونوپه ذریعه مونږ ته رارسیدلې دی هغه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د مرویاتو نه لږ دی نو بیاحضرت ابوهریره رضی الله عنه څنګه فرمائی چه ده ته څما څخه زیات احادیث یاد وو؟

جواب: ددې جواب دا دې چه د احادیثو دیادیدو مطلب دا نه دې چه ده کوم احادیث یادکړې دینوهغه دې د نوروخلقو وړاندې هم روایت کړی وی واقعه داده چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه په مدینه منوره کښې وو او هغه د علم دین دطالبانومرکز وو د دې وجې

---

۱) ۲۲/۱ " کتاب العلم، باب کتابة العلم " وغیره

دوئ ته د روایت حدیث زیاته موقع ملاؤشوه، ددې په خلاف حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما په شام کښې وو او هلته د حدیث دطالبانودومره رجوع نه وه نو اګرچه دوی ته احادیث زیات یاد وو خو د مرویاتو تعداد ئې دحضرت ابوهریره رضی الله عنه د مرویاتو نه کم دې، بهرحال صحیفهٔ صادقه په دغه زمانه کښې ضخیم ترین مجموعه دحدیثو وه او حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه به دا ډیره په حفاظت سره ساتله ددوئ د وفات څخه پس د دوئ کړوسې حضرت عمرو بن شیعب ته دا صحیفه منتقل شوه کوم چې اکثر د ((عن ابیه عن جده)) په سند سره روایت کوی بلکه حافظ ابن حجر رحمه الله په "تهذیب التهذیب" کښې د امام یحیی بن معین او دعلی بن المدینی قول نقل کړې دې چه کوم حدیث د ((عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده)) په سند سره راشي نو پوهه شه چه دا د صحیفه صادقه حدیث دې.

② کتاب الصدقة دا د هغه احادیثو مجموعه ده کوم چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم املاء فرمائیل وه دې کښې د زکوة، صدقاتو، عشر وغیره احکام وو. او دسنن ابی داؤد څخه معلومیږی چه داکتاب نبی علیه السلام خپلو عمالو ته دلیږلو دپاره لیکلې وو خودوئ لا دا لیږلې نه وو چه دوئ صلی الله علیه وسلم وفات شو ددوئ صلی الله علیه وسلم د وفات څخه پس دا د حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره وو او بیا د حضرت عمر رضی الله عنه سره اوبیا د دوئ دوؤ ځامنو حضرت عبدالله اوعبیدالله ته راورسیدو. بیاددوئ څخه حضرت عمربن عبدالعزیز حاصل کړو اود دې نقل ئې اوکړو او ددوئ څخه بیا حضرت سالم بن عبدالله ته منتقل شو، د حضرت سالم څخه دا امام ابن شهاب زهری رحمه الله حفظ کړو او نورو ته به ئې لوستلو.

③ **صحیفة علی:** ابوداودکښې دحضرت علی رضی الله عنه دا قول نقل دې ((ماکتبنا عن رسول الله صلی الله علیه وسلم الاالقرآن ومافی هذه الصحیفة الخ))[1] هم دا روایت په بخاری کښې په څلورو مقاماتُو اوپه مسلم کښې په دوه مقامونو کښې دې اوپه نسائی اوترمذی کښې ئې هم تخریج شوې دې د حضرت علی رضی الله عنه صحیفه به ددوئ دتورې په تیکی کښې وه او ددې روایت د ګنړو الفاظوڅخه معلومیږی چه دې کښې دیات، معاقل، فدیه اوقصاص، احکام داهل ذمه، نصاب د زکوة اودمدینې طیبې دحرم کیدو متعلق ارشادات نبوی لیك وو.

④ **صحف انس بن مالک رضی الله عنه :** حضرت سعیدبن هلال رضی الله عنه فرمائی. ((کنا اذا اکثرنا علی انس بن مالك رضی الله عنه فأخرج الینا محالاعنده فقال هذه سمعتها من النبی صلی الله علیه

[1]) ابوداود ۲۷۸\۱ کتاب المناسک باب فی تحریم المدینة))

وسلم فكتبتها وعرضتها)) ()د دې څخه معلومیږي چه دحضرت انس بن مالك رضی الله عنه سره دحدیث څو مجموعې وې.

⑤ **صحیفه ابن عباس رضی الله عنه** : په طبقات ابن سعد کښې دحضرت کریب ابن ابی مسلم چه دابن عباس مولی وو دا واقعه نقل ده چه دوئ ته د حضرت ابن عباس رضی الله عنه دکتابونو دومره ذخیره ملاؤشوې وه چه دپوره یو اوښ بار وو.

⑥ **صحیفة عمروبن حزم رضی الله عنه** : کله چې حضرت نبی کریم ﷺ عمروبن حزم رضی الله عنه د نجران عامل جوړ کړو او دئ لیږلو نو دوئ ته ئې یوه صحیفه حواله کړه چه د حضور علیه السلام په احادیثو مشتمله وه اودا حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه لیکلې وه، ابوداؤد وغیره کښې ددې صحیفې چه کوم اقتباسات راغلې دی د هغې څخه معلومیږي چه دې کښې د طهارت، صلاة، زکاة، حج، عمرې، جهاد، سیر او مغانم وغیره متعلق احادیث لیك وو.

⑦ **صحیفة جابربن عبدالله رضی الله عنه** : صحیح مسلم کښې روایت دې چه حضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه دحج په احکامویوه رساله تالیف کړې وه امام بخاری په تاریخ کبیرکښې دحضرت معمر څخه نقل کړې دی ((قال رأیت قتادة قال لسعیدبن أبي عروبة أمسك على المصحف فقرأ البقرة فلم یخط حرفا فقال یا أبا النضر لأنا لصحیفة جابر أحفظ مني لسورة البقرة(۲)

⑧ **صحیفة ابن مسعود رضی الله عنه** : علامه ابن عبدالبرپه خپل کتاب "جامع بیان العلم وفضله" کښې نقل کړې دی چه حضرت عبدالرحمن بن مسعودیوکتاب راویستلو او وې فرمائیل چه زه قسم خورم چه دا عبدالله بن مسعود لیکلې دې.

⑨ **صحیفه سعدبن عبادة رضی الله عنه** : امام ابن سعدپه طبقات کښې نقل کړې دی چه حضرت سعدبن عبادة یوه صحیفه مرتب کړې وه چه په هغې کښې ئې احادیث جمع کړې وو.

⑩ **صحیفه سمره بن جندب رضی الله عنه** : حافظ ابن حجرپه "تهذیب التهذیب" کښې نقل کړې دی چه سلیمان بن سمره بن جندب رضی الله عنه د خپل پلار سمره بن جندب نه یوه لویه نسخه روایت کړې ده، اوامام محمدبن سیرین فرمائی چه ((ان الرسالة التی کتبها سمرة لاولاده یوجد فیها علم کثیر))

⑪ **صحف ابی هریره رضی الله عنه** : امام حاکم په مستدرك کښې اوعلامه ابن عبدالبرپه "جامع بیان العلم" کښې د حضرت حسن بن عمرو دا واقعه نقل کړې ده چه هغه فرمائی چه ما د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په وړاندې یوحدیث بیان کړو حضرت ابوهریره رضی الله عنه ددې

---

[1]) تدوین حدیث مولانا سید مناظراحسن گیلانی (ص:۶۷، ۶۸) بحواله د مستدرك حاکم ج/۳، ص/۵۷۳، ۵۷٤ ذکرانس بن مالک رضی الله عنه کتاب معرفة الصحابة ۱۲) _

[2]) "کتاب التاریخ الکبیر ۱۸۶/۷)

حديث څخه د لاعلمئ اظهاراوکړو، ماعرض اوکړو چه ما دا حديث هم ستاسو څخه اوريدلې دې، حضرت ابوهريره رضی الله عنه اوفرمائيل که ما دا حديث بيان کړې وی نوما سره به ليك وی چنانچه دوئ څه کتابونه را اوويستل اورائې وړل چه هغې کښې احاديث ليک وو. په هغې کښې موتلاش کړل نودا حديث ملاؤشو.

دې څخه معلومه شوه چه دحضرت ابوهريره رضی الله عنه سره د هغوی ټول مرويات ليکلې موجود وو ګويا هغوی څخه د پنځو زرو درې سوو څلورشپيتو احاديثوليکلې شوې ذخيره موجود وه.

اشکال: خوپه دې داسوال راځی چه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه دا قول وړاندې تير شو چه ما به احاديث نه ليکل بيا د دې روايت څه توجيه ده؟

جواب: ددې جواب دا دې چه داسې معلوميږی چه حضرت ابوهريره رضی الله عنه په عهدرسالت اود خلفاؤ په ابتدائی دورکښې حديث نه ليکل خو آخری عمرکښې به ئې دا خيال راغلې وې چه هسې نه دا روايات رانه هير شی نوخپل مرويات ئې جمع کړل، د دې وجې څه تعارض پاتې نشو چنانچه حضرت ابوهريره رضی الله عنه ته څوصحيفې منسوب دی

حضرت ابوهريره رضی الله عنه ته منسوب شوې صحيفې:

① **مؤلف بشيربن نهيک:** د حضرت ابوهريره رضی الله عنه شاګرد دې او امام دارمی نقل کړی دی چه دې فرمائی چه مابه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه څه اوريدل هغه به مې ليکل روستوما دا مجموعه دحضرت ابوهريره رضی الله عنه په خدمت کښې وړاندې کړه اوعرض مې اوکړو چه دا هغه احاديث دی کوم چې ما ستاسو څخه اوريدلی دی حضرت ابوهريره رضی الله عنه اوفرمائيل آو دا هغه احاديث دې کوم چې تا زما څخه اوريدلی دی

② **مسندابی هريره رضی الله عنه:** امام ابن سعدپه طبقات کښې نقل کړی دی چه دحضرت عمربن عبدالعزيزپلار عبدالعزيزبن مروان دمصر دګورنرئ په زمانه کښې کثيربن مره ته خط اوليکو چه تاسره د صحابوچه څومره مروی احاديث وی هغه ټول ماته راوليږه ((الا ماكان من حديث ابی هريره رضی الله عنه فانه عندنا)) دې څخه معلوميږی چه دحضرت ابوهريره رضی الله عنه مرويات ده سره کتابی شکل کښې موجود وو.

③ **صحيفة عبدالملك بن مروان:** وړاندې ذکرشوې دی چه عبدالملك بن مروان امتحاناً دحضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه څه روايات ليکلې وو.

④ **صحيفه همام بن منبه رحمه الله:** حضرت همام بن منبه رحمه الله هم د حضرت ابوهريره رضی الله عنه شاګرد دې. دوئ د حضرت ابوهريره رضی الله عنه د رواياتويوه مجموعه مرتب کړې وه. چه د هغې نوم حاجی خليفه په "کشف الظنون" کښې الصحيفة ذکرکړې دې، امام احمدپه خپل مسندکښې

دا صحيفه ټوله نقل کړې ده امام مسلم هم په صحيح مسلم کښې هم ډيراحاديث ددې صحيفې په واسطه نقل کړې دی. چه کله دې ددې صحيفې څه حديث ذکرکوی نو فرمائی: ((عن همام بن منبه رحمه الله قال هذا ما حدثنا به ابوهريره رضی الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكر احاديثا منها وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم)) يعنی همام بن منبه فرمائی چه دا هغه احاديث دی کوم چې مونږ ته حضرت ابوهريره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت کړی دی.

د صحيفه همام دريافت کيدل: په حسن اتفاق سره څوکاله وړاندې د دې صحيفې اصل مخطوطه پيدا شوه، ددې يوه نسخه په جرمنې کښې د برلن په کتابخانه کښې موجوده ده دويمه نسخه ددمشق په کتب خانه مجمع علمی کښې ده د سيرت او د تاريخ مشهور محقق ډاکټرمحمدحميدالله ددې دواړونسخوموازنه اوکړه اوشائع ئې کړله دې کښې يوسل اته ديرش احاديث دی اوچه مسنداحمدسره ئې مقابله اوشوله نو يوحرف يايوه نقطه کښې هم فرق نه وو.

خلاصه د کلام: دا څومثالونه د دې خبرې واضح کولودپاره کافی دی چه عهدرسالت او عهد صحابۇکښې کتابت حديث ښه رائج وو دلته مونږ صرف د لويو مجموعو ذکر کړې دې، دې څخه علاوه چه رسول الله ﷺ کوم انفرادی خطوط ليکلې دی يائې چاته څه خبره ليکلې ده او ورکړې ده، يائې فرامين جاری کړې دی هغه دې څخه علاوه دی. اوپه اوږدو کتابونوکښې ددې تفصيل کتلې شی.

دتدوين حديث کوششونه انفرادی وو: البته دا صحيح ده چه دتدوين حديث دا کوششونه د انفرادی نوعيت وو، اوپه سرکاری سطح د درې واړه خلفاؤ په دورکښې دتدوين او د اشاعت حديث څه داسې خاص اهتمام نه وو شوې. لکه څنګه چې د جمع دقرآن شوې وو، حضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه او حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په خپلوخپلوزمانوکښې دا اراده اوکړله چه د قرآن پاك پشان داحاديثويوه مجموعه هم دحکومت په نګرانئ کښې تياره کړې، خودوئ دواړو په دې اراده عمل اونه کړو ځکه چه دغه وخت دقرآن کريم صرف يوه نسخه د حکومت په نګرانئ کښې تياره شوې وه {باقي ۴۲} چه دې سره به د روستنو مسلمانانو د احترام اوعقيدت تعلق قريب قريب د قرآن کريم درجې ته رسيدلې. ددې خطرې اظهارحضرت عمر رضی الله عنه په دې الفاظوکښې کړې دې ((انی کنت اردت ان اکتب السنن وانی ذکرت قوما کانوا قبلکم کتبوا کتبا فاکبوا عليها وترکوا کتاب الله الخ))[1]

دمنکرينِ حديث استدلال: منکرين حديث دحضرت عمر رضی الله عنه په دې فيصله د مسرت

---

[1]) (مقدمه فتح الملهم ۱\۲۳۱، بحواله مدخل للبيهقی)

اظهار کوی اودا د حجيت حديث خلاف دليل جوړه وی خو د دوئ دا دليل بالکل بې بنياده دې، اول خو ددې وجې چه حضرت عمر رضي الله عنه په سرکاری سطح دتدوين حديث مخالفت کړې وو د انفرادی کتابت هم نه چنانچه دده په زمانه کښې انفرادی طوره ډيرو صحابو احاديث ليکلې وو.

دحضرت عمر رضی الله عنه د کثرت روايت څخه منع کول: پاتې شو هغه روايت چه هغې کښې ذکردی چه حضرت عمر رضي الله عنه د صحابو د احاديثو جمع کړې ذخيره اوسوزوله اوده به صحابه دکثرت روايت حديث څخه هم منع کول.

د منکرين د دلائل (شبهاتو) څخه جوابونه:

نوپه دې موضوع علامه ابن عبدالبرپه جامع بيان العلم کښې تفصيلی بحث کړې دې د هغې خلاصه دا ده.

① اول خو دا روايات ضعيف دی لکه علامه ابن حزم په "الاحکام" کښې په دې کښې په هر روايت جرح کړې ده، اوددې په راويانوئې تنقيد کړې دې.

② دويم که دا روايات صحيح هم وی نو د حضرت عمر رضي الله عنه اصل منشاء دا وه چه په روايت حديث کښې دې د ډيراحتياط څخه کار واخستلې شی اودا هله ممکن وه چه په اکثارِ روايت باندې دابتداء څخه پابندی اولګی، ګنې ترکومې چه د احتياط سره د روايت حديث تعلق دې، حضرت عمر رضي الله عنه نه صرف دا چه ددې مخالف نه وو بلکه ددې داعی وو. همدغه وجه ده چه دوی دعالم اسلام هرې صوبې ته معلمين ليږلی وو او ددوئ مقصدئې دا ښودلو چه دوی به خلقوته فرائض او دسننو تعليم ورکوی اوپخپله حضرت عمر رضي الله عنه دسوونو احاديثو راوی دې. ددوی د مروياتو تعداد د اووه سوونه زيات دې اوحافظ ابونعيم تعدد دطرقو له لرې کولو سره او ددوئ د روايت کرده متون ئې د دوو سوو څخه زيات بيان کړې دی

دازالة الخفاء عبارت: د دې څخه علاوه حضرت شاه ولی الله صاحب په "ازالة الخفاء" کښې ددوئ دا خطبه نقل کړې ده چه ((سيأتى أقوام ينكرون بالرجم وبالدجال وبالشفاعة وبعذاب القبر وبقوم يخرجون من النار بعد ما امتحشوا)) ظاهره ده چه ددې ټولوڅيزونوذکرصرف احاديثوکښې دې لهذا صرف د دوئ په تدوين د احاديثو د نه اماده کيدو يا د اکثارِ فی الروايت منع کولو څخه څنګه دانتيجه را اوباسئې چه دې دحجت حديث خلاف وو بيادحضرت عثمان رضي الله عنه په دورکښې هم دتدوين حديث کار هم په هغه مرحله کښې ووچه کوم دحضرت شيخينوپه دورکښې وو.

دحضرت علی رضی الله عنه خدمات: حضرت علی رضي الله عنه هم په ابتدائی دورکښې د اکثارفی

الروايت مخالف وو ، اوخپله صحيفه دحديثوبه ئې هم خلقوته په مشكله ښودله خو د دوئ زمانه کښې دعبدالله بن سباء په مشرئی کښې عظيمه فتنه سبائيه ظاهره شوه چه د اسلام خلاف ديهوديانوسازش وو ، دوئ مسلمانانو کښې ګډشو او داسلام ختمولو کوشش ئې کولو ، او د دې مقصددپاره ئې دوه کارونه په يوځائې شروع کړل يودا چه خلق ئې د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه بدګمانه کړل ، دويم دا چه د دروغو احاديث به ئې جوړول نوې نظام عقائد ئې تيار کړې وو چه يو په کښې حضرت علی رضي الله عنه د الوهيت درجې ته رسولې شوې وی خو د نورو صحابو په ايمان کښې هم شکوك پيدا کړی

دحضرت علی رضي الله عنه په رائې کښې تبديلی: حضرت علی رضي الله عنه ته ددې عظيمې فتنه احساس هله اوشو چه کله د سبائې فرقې افراد په مسلمانانوکښې ښه ګډشو په دې موقع حضرت علی رضي الله عنه دا جمله اووئيله کومه چه ابن سعد وغيره نقل کړې ده ((قاتلهم الله أی عصابة بيضاء سودوا وأی حديث من حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم أفسدوا)) يعنی الله تعالی دې دوی هلاك کړی څومره سپين (پاك) جماعت (د صحابؤ) دوی تور کړو او څومره د رسول الله صلى الله عليه وسلم احاديث دوی خراب کړل نوحضرت علی رضي الله عنه ددې فتنې سدباب دپاره يو خو د فضائل صحابه اشاعت اوکړو اوبل طرف ته ئې د حديث په بابت کښې خپل طرزعمل بدل کړو او د اقلال روايت په ځائې ئې اکثار روايت اختيارکړو چه طريقه ئې دا ده، په قول د امام ابن سعد دوئ به په منبر اوختل اواعلان به ئې اوکړو ((من يشتری منی علما بدرهم فاشتری الحارث الاعور صحيفة بدرهم فكتب فيها علما كثيرا)) يعنی څوك به زما نه علم په يوه روپئ واخلی نو حارث اعور ترې صحيفه په يوه روپئ واخستله اودوی په هغې کښې ډيرې علمی خبرې اوليکلې

دغه شان حضرت علی رضي الله عنه صحيح احاديث په کثرت سره روايت شروع کړل اودسبائی موضوعاتو مقابله ئې اوکړله چنانچه ددوئ دشاګردانو سره ددوئ دروايت شوې احاديثو مجموعی وې

دحضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله زمانه : دحضرت عمربن عبد العزيز رحمه الله د زمانې پورې کتابت حديث په ړومبو دوو مرحلوکښې وو خواوس هغه وخت راغلې وو چه د احاديثو باقاعده تدوين اوشی ، ځکه چه اوس ئې دقرآن کريم سره د اختلاط او التباس خطره نه وه چنانچه په بخاری کښې دی چې حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله مدينه منوره کښې قاضی ابوبكربن حزم ته خط اوليکو اوپه هغې کښې ئې دوئ ته حکم کړې وو چه ((انظر ما كان من حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم فاكتبه فانی خفت دروس العلم وذهاب العلماء))(¹)

---

¹) صحيح بخاری ۱/۱۰باب كيف يقبض العلم

موطاامام مالك کښې هم داخط مروی دې او دې کښې د احادیث نبویه سره دخلفاء راشدینُو دسُنت د راجمع کولوهم حکم دې خودې دواړو کتابونوکښې دا حکم صرف دمدینې د قاضی په نوم دې،

خوحافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې د حافظ ابونعیم رحمه الله په روایت سره نقل کړې دی چه دا خط صرف دقاضی مدینې په نوم نه وو، بلکه د ملك دهرې صوبې دقاضی په نوم ئې لیږلې وو، دهغوی الفاظ دا دی ((فکتب بها الی الافاق)) د دې څخه معلومیږی چه حضرت عمر رضی الله عنه په خپل ټول حکومت کښې په لویه پیمانه دتدوین حدیث کارشروع کړې وو چنانچه د دوئ د حکم مطابق دړومبئې صدئ هجرئ په آخرکښې لاندې لیکلی شوی د حدیثوکتابونه په وجود کښې راغلل.

په عهد عمرثانی کښې د حدیثو کتابونه:

① **رساله سالم بن عبدالله فی الصدقات**: علامه جلال الدین سیوطی رحمه الله "تاریخ الخلفاء" کښې نقل کړې دې چه دا رساله د حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په فرمائش لیکلې شوې وه.

② **کتب ابی بکر**: قاضی ابوبکر ته چه کوم حکم ورکړې شوې وو ددې باره کښې علامه ابن عبدالبر په خپل کتاب "التمهید" کښې د امام مالك څخه نقل کړې دی چه ابوبکر رحمه الله څوکتابونه د حدیث جمع کړل خولا حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله ته ئې لیږلې نه وو چه د هغوئ وفات اوشو.

③ **کتاب السنن لمکحول**: دا کتاب امام ابن مکحول تحریرکړې دې گویاددې کتاب په تالیف سره کتابت حدیث په څلورمه مرتبه کښې داخل شو، علامه ابن ندیم په "الفهرست" کښې ددې ذکر کړې دې، په ظاهره دا کتاب هم دعمربن عبدالعزیز رحمه الله دحکم په تعمیل کښې لیکلې شوې وو ځکه چه حضرت مکحول ددوئ په زمانه کښې قاضی وو.

④ **دفاترالزهری**: علامه ابن عبدالبر په "جامع بیان العلم" کښې د امام زهری دا قول نقل کړې دې چه مونږته عمربن عبدالعزیز رحمه الله د تدوین حدیث یا د تدوین سنن حکم اوکړو. نو مونږ دفترونه اولیکل اودا واقعی خبره ده چه په دغه زمانه کښې د امام زهری څخه زیات دتدوین حدیث خدمات شاید چاکړې وې بیا د حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په خپل مملکت کښې هر اړخ ته ددې د دفترونو نه یو یو دفتراولیږلې شو.

⑤ **ابواب الشعبی**: دا د حضرت عامربن شراحیل رحمه الله تالیف دې. اوعلامه سیوطی په تدریب الراوی کښې دحافظ ابن حجر رحمه الله په حواله سره ذکرکړې دې چه دا د علم حدیث ړومبنی مبوب کتاب دې حضرت شعبي هم په کوفه کښې دعمربن عبدالعزیز رحمه الله قاضی وو دې وجې په ظاهره دا کتاب هم د هغوئ په ارشادلیکلې شوې دې.

دحضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله په سنه ۱۰۱ء کښې وفات شوې دې، نو داټول کتابونه ددې څخه وړاندې لیکلې شوې دی.

دویمه صدی هجری کښې د احادیثو تدوین:

په فقهی ترتیب د احادیثو تدوین: دا د مبوب کتب حدیث صرف ابتداء وه، په دویمه صدی هجری کښې دتدوین حدیث کارپه زیات قوت سره شروع شو په دې دورکښې چه کوم کتب حدیث لیکلې شوی دی، د هغوئ تعداد د شلو څخه هم زیات دې په هغې کښې څومشهورکتابونه دا دی.

① **کتاب الآثار لابی حنیفه رحمه الله:** په دې کتاب کښې په ړومبی ځل احادیث په فقهی ترتیب سره مرتب شو، په علم حدیث کښې ددې مرتبه ډیره اوچته ده، او امام ابوحنیفه رحمه الله په څلویښتو زرو احادیثوکښې ددې کتاب انتخاب کړې دي[1] ددې کتاب څو نسخې دی په روایت د امام محمد رحمه الله، په روایت د امام ابویوسف رحمه الله، په روایت د امام زفر رحمه الله نقل شوی دی او دا کتاب د موطا امام مالك رحمه الله نه د زماني په لحاظ سره مقدم دې. دلته دا هم ثابته ده چه امام مالك رحمه الله د امام ابوحنیفه رحمه الله دتالیفاتو څخه استفاده کړې ده. دې وجې دا کتاب پخپل طرز تدوین کښې د موطا امام مالك رحمه الله د اصل حیثیت لری ډیرو عالمانو ددې شروح لیکلې دی اوددې په رجالو ئې کتابونه تصنیف کړې دی. په هغوی کښې حافظ ابن حجر رحمه الله هم شامل دې.

دلته یوه خبره دا هم یاد ساتل پکاردی. چه علم حدیث کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله بلا واسطه مرتب کرده کتاب هم دا کتاب الآثاردې دې څخه علاوه مسندابی حنیفه رحمه الله په نوم چه کوم کتابونه ملاویږی هغه پخپله د امام صاحب تالیف نه دې بلکه دوئ رحمه الله څخه روستو ډیرو محدثینوحضراتوددوئ مسندات تیارکړې دی، دوئ کښې حافظ ابن عقده رحمه الله، حافظ ابونعیم اصفهانی رحمه الله، حافظ ابن عدی رحمه الله اوحافظ ابن عساکر رحمه الله مشهور دی روستو بیا علامه خوارزمی دا ټول مسانید په یوه مجموعه کښې راجمع کړل چه د "جامع مسانید الامام الاعظم" په نوم مشهوردې.

② **الموطاء للامام مالک رحمه الله:** دې کتاب ته په خپله زمانه کښې "اصح الکتب بعدکتاب الله" وئیلې شو. دې څخه پس دا لقب صحیح بخاری ته ملاؤشو، ځکه چه دې کښې دموطا تقریبًا د ټولو احادیثو سره بې شمیره نور احادیث موجود دی.

③ **جامع سفیان ثوری رحمه الله:** امام شافعی رحمه الله ددې کتاب څخه استفاده کړې ده.

④ **جامع معمربن راشد:** دا هم د امام مالك هم عصردې اوپه خپل دورکښې د دوئ کتاب ډیرمقبول وو. خونن سبانایاب دې

[1]) ذکره الموفق فی مناقب الامام ابی حنیفه رحمه الله

⑤ **السنن لوکیع بن الجراح:** دا کتاب د امام وکیع تالیف دې.
⑥ **السنن لابن جریح** رحمه الله : دې ته "سنن ابی الولید" هم وائی.
⑦ **کتاب الزهد لعبدالله بن المبارک:** دا کتاب د مشهور زاهد او عالم عبدالله بن مبارک کتاب دې.

په دویمه صدئ کښې تدوین حدیث:

دې صدئ کښې دتدوین حدیث کار په خپله ځوانئ کښې وو. سندونه اوږده شول، یو یوحدیث په څوڅوطریقوسره روایت شو، اود علم د خوریدو په وجه په فن حدیث کښې لیکلې شوې کتابونه په نوې نوې ترتیب اوتبویب سره وجود ته راغلل اودکتب حدیث اقسام د شلوڅخه واوړیدل، داسماء الرجال علم باقاعده یوصورت اختیارکړو اوپه دې ګڼړ کتابونه اولیکل شول، په دې دورکښې صحاح سته تالیف شول اوترکومې چه د صحاح سته تعلق دې دلته د هغې دتعارف ضرورت نشته، د دورهٔ حدیث د هرکتاب په ابتدا کښې دهغې د تعارف ذکر کیګی. البته د هغه څو کتابونو تعارف کول مقصود دې کوم چې د درسیاتو څخه علاوه دی او د علم حدیث په مباحثوکښې ددې حوالې ډیرې راځی

① **مسندابی داؤد طیالسی :** دا ابوداو د طیالسی دې، اود هغه ابوداؤد څخه مقدم دې د چا سنن چه په صحاح سته کښې شامل دې، بعض حضرات وائی چه دا کتاب په مسانیدو کښې د ټولو څخه رومبې دې خو صحیح دا ده چه دټولوڅخه وړاندې "مسند عبیدالله بن موسی" دې. او ابوداود طیالسی اګرچه ده څخه مقدم دې خو د ده مسند دده د وفات څخه ډیر روستو بعضې خراسانی عالمانو مرتب کړې دې او دا هله مرتب شو چه کله مسندعبیدالله بن موسی وجود ته راغلې وو.

② **مسنداحمد:** دې ته جامع ترین مسندوئیلې شوې دې دې کښې تقریباً څلویښت زره احادیث دی. دا امام احمد په اووه نیم لکهو احادیثوکښې منتخب کړې دی. امام احمد په خپل ژوندکښې دا احادیث مرتب کړې خو وو خوددې ترتیب اوتبویب ئې اونه کړې شو. د دوئ د وفات څخه پس ددوئ جلیل القدر ځوی عبدالله بن احمدد دې ترتیب او تهذیب اوکړو، اودې کښې ئې تقریباً دلسو زرو احادیثو اضافه اوکړه. ددوئ څخه پس دې کښې حافظ ابوبکر قطیعی رحمه الله هم څه اضافه اوکړه چه هغې ته "زیادات المسند" وئیلې کیږی. په مسند احمدکښې صحیح حسن اوضعیف هرقسم احادیث شته اودې کښې اختلاف دې چه موضوع حدیث په کښې هم شته اوکه نه؟ ډیره موده پس بعضې حضراتو مسند احمد د فقهی ابوابو مطابق مرتب کړو. د متقدمینو دا کوششونه نایاب دی. البته الفتح الربانی بترتیب الامام احمد بن حنبل الشیبانی په نوم سره د مسند احمدتبویب

اوس شته دي.

③ **مصنف ابی بكربن ابی شيبه** : دا هم د امام بخاری اود امام مسلم وغيره استاد دي او د ده د مصنَف ① رومبۍ خصوصيت دا دې چه دې كښې صرف احاديث احكام په فقهی ترتيب جمع شوې دی. ②او دويم خصوصيت ئې دا دې چه دې كښې د احاديث مرفوعه سره د صحابؤاو د تابعينو فتاوی هم په كثرت سره منقول دی. ددې په وجه د اصولِ احناف مطابق په حديث پوهيدل اسانيږي. ③ دريم خصوصيت ئې دا دې چه دې كښې امام موصوف د هرمذهب مستدلات په پوره غيرجانبدارئ سره جمع كړې دی. ④څلورم خصوصيت ئې دا دې چه امام ابوبكر چه پخپله كوفی دی د دې وجې دوئ د اهل عراق مسلك ډيرښه بيان كړې دي. هم دغه وجه ده چه د حيفيه مستدلات په دې كتاب كښې ډيرموندلې كيږی اود دې وجې علامه زاهدالكوثری ليكلې دی چه دا((احوج مايكون الفقيه اليه كتاب ابن ابی شيبة))

④ **مصنف عبدالرزاق** : په پخوا زمانه كښې به د لفظِ مصنف اطلاق هم په هغه اصطلاحی مفهوم كيدلود كوم دپاره چه نن سبا لفظ د "السَنن" معروف دې. دا مصنَف د امام عبدالرزاق بن الهمام اليمانی مرتب كرده دې. اوپه څواعتباره لوې جليل القدركتاب دې ①يو خو په دې وجه چې عبدالرزاق د امام ابوحنيفه رحمه الله او د معمربن راشد پشان امامانو شاگرد دې او د امام احمدپه شان د امام استاذ دې. د دې وجې دې مصنف كښې اكثر احاديث ثلاثی دي ②دوئم د دې وجې چه د امام بخاری دتصريح مطابق ددې مصنف ټول احاديث صحيح دی.

⑤ **المعاجم للطبرانی:** د امام طبرانی معاجم په درې قسمه دی: كبير، اوسط او صغير. كبير په حقيقت كښې مسنددې يعنی دې كښې د صحابؤد ترتيب مطابق روايتونه جمع كړې شوې دی اومعجم اوسط كښې امام طبرانی د خپلوشيوخو دترتيب مطابق روايات جمع كړې دی، او دې كښې ئې صرف د خپلو شيوخو غرائب اوتفردات جمع كړې دی اوپه معجم صغيركښې ئې د خپل هرشيخ يويو روايت ذكركړې دې. اوزيات هم دهغه شيوخو روايات دی چه دهغوی څخه امام طبرانی صرف يوروايت اوريدلې دې.

⑥ **المستدرک للحاكم** : داكتاب مستدرك علی الصحيحين دې. خود نقداحاديث په معامله كښې امام حاكم ډيرزيات متساهل مشهوردې. د دې وجې دوئ ډيرداسې احاديث علی شرط الشيخين يا علی شرط احدهما گڼرلی دی اوپه خپل كتاب كښې ئې ليكلی دی كوم چه په حقيقت كښې ډيرضعيف دی. حافظ شمس الدين ذهبی رحمه الله په دې كتاب يوه حاشيه ليكلې ده په هغې كښې ئې د مستدرك تلخيص هم كړې دې او د امام

حاکم په مسامحت تنبیه هم دا حاشیه هم د مستدرك سره چهاپ شوې ده. د امام حاکم په باره کښې بعضې خلقو دا خیال ظاهرکړې دې چه دې شیعه وو. خو محققینو دا الزام ردکړې دې

⑦ **مسند الدرمی:** دې کتاب ته هم د محدثینود اصطلاح خلاف مسندوئیلې شوې دې خو په حقیقت کښې دا سنن دې.

⑧ **مسندالبزار:** دې ته المسندالکبیر هم وائی. دا د امام ابوبکربزار تصنیف دې اومعلل دې یعنی دې کښې امام د روایاتو اسباب قادحه په تفصیل سره بیان کړې دی. دمعلل کتابونو دا اصول دی چه په کوم حدیث دوئ خاموش پاتې شی د دوی په نیز صحیح یاقابل عمل گنړلې کیږی.

⑨ **مسندابویعلی:** داکتاب دمسند په نوم مشهوردې حالانکه دامعجم دې.

⑩ **سنن الدار قطنی:** [پیدائش کال ۳۰۲ هجری وفات ۳۸۵ هجری] دا کتاب په فقهی ابوابو مشتمل دې، په دې کښې دهرحدیث طرق په نهایت تفصیل سره بیان شوی دی.

⑪ **السنن الکبری للبیهقی:** دا کتاب امام بیهقی رحمه الله دفقه شافعی د مشهورمتن "مختصرالمزنی" په ترتیب جمع کړې دې او چاپ شوې دې. و الله اعلم

انواع المصنفات فی الحدیث:

علم حدیث داسې علم دې چې د دې ډیر خدمت شوې دې دې کښې په مختلفو حیثیتونو باندې کتابونه لیکلې شوې دی. دحدیثو د کتابونود خپلې موضوع اودترتیب په لحاظ سره ډیراقسام دی چه دې کښې د هریوقسم یوخاص اصطلاحی نوم دې د یو طالبِ حدیث د مراجعت الی الکتب دپاره دې اقسامو لره په تفصیل سره پیژندل ضروری دی.

① **الجوامع:** دا د جامع جمع ده جامع د حدیث هغه کتاب ته وائی. چه په هغې کښې د اتو مضامینو احادیث جمع شوې وی. دا اته مضامین په یوشعرکښې بیان شوې دی.

سیرآداب وتفسیروعقائدفتن اشراط واحکام مناقب

د دې اتو مضامینو وضاحت: "سیر" دسیرت جمع ده یعنی هغه مضامین چه کوم د حضرت رسول الله ﷺ د حیات طیبه په واقعاتومشتمل وی "آداب" د ادب جمع ده. مراد ترې آداب المعاشرت مثلاً د خوراك څښاك آدب "تفسیر" یعنی هغه احادیث چه دقرآن د تفسیر سره متعلق دی "عقائد" هغه احادیث یا مضامین چه د عقائدو سره تعلق ساتی. "فتن" د فتنة جمع ده یعنی هغه لوې لوې واقعات چه دهغې پیشنگوئی رسول الله ﷺ کړې ده. "اشراط" یعنی دقیامت علامات "احکام" یعنی عملی احکام چه په هغې فقه مشتمل ده. دې ته "سنن" هم وئیلې کیږی، "مناقب" د منقبت جمع ده. یعنی د صحابه کرامو او

صحابیاتو اودمختلف قبیلو اوطبقاتو فضائل. غرض دا چه کوم کتاب په دې اتو مضامینومشتمل وی. هغې ته جامع وئیلې کیږی.

اولنې جامع: د ټولو څخه ړومبې جامع "جامع معمر بن راشد" دې (١). چې د امام زهری د مشهور شاګرد د حضرت معمرتالیف دې اوپه ړومبئ صدئ هجرئ کښې مرتب شوې دې خو اوس "جامع معمر" نایاب دې.

دویم جامع: دویم جامع سفیان ثوری دې څخه امام شافعی استفاده کړې ده دا کتاب هم نایاب دې.

دریم جامع: دریم جامع عبدالرزاق دې چه د امام عبدالرزاق بن همام صنعانی تالیف دې اوپه دویمه صدئ هجری کښې معروف شوې وو. دا د مصنف عبدالرزاق په نوم مشهور دې. او اوس اوس په یوولسو جلدونوکښې شائع شوې دې

جامع دارمی: جامع دارمی هم یومشهورجامع دې(٢)

جامع بخاری: خودټولو څخه زیات مقبولیت جامع بخاری ته حاصل دی د دې څخه پس جامع ترمذی دې. په صحاح سته کښې دبخاری او د ترمذی په جامع کیدو اتفاق دې.

د مسلم جامع کیدو کښې اختلاف: البته د صحیح مسلم په باره کښې اختلاف دې بعضې دې ته جامع وائی ځکه چه دې کښې اته واړه بابونه شته. خوبعضې حضرات ددې د جامع کیدو څخه انکارکوی ځکه چه دې کښې کتاب التفسیرډیر مختصردې خوصحیح دا ده چه دا هم جامع دې. ځکه چه دجامع کیدو دپاره دیوکتاب مفصل کیدل ضروری نه دی. صرف د هغې وجود کافی دې اوصحیح مسلم کښې دکتاب التفسیر احادیث اګرچه لږ دی خونفس کتاب به هرحال شته. دغه شان د تفسیر ډیر احادیث امام مسلم د نورو ابوابو لاندې نقل کړې دی. د دې وجې علامه فیروزابادی صاحب قاموس دا جامع ګرځولې دې او صاحب کشف الظنون هم دې په جوامع کښې شمارکړې دې .

② **السنن** : دا د هغه کتاب نوم دې چه هغې کښې احادیث د فقهی ابوابوپه ترتیب مرتب شوی وی دې نوع ته به په ابتداء کښې "ابواب" وئیلې کیدل روستوددې نوم بدل شو او مصنف شو او آخرکښې ورته سنن وئیل شروع شو ددې نوع ړومبې کتاب د امام ابوحنیفه رحمه الله استاذ حضرت عامربن شراحیل الشعبی لیکلې دې چه د ابواب الشعبی په نوم مشهور دې. صحاح سته کښې نسائی ابوداؤد، ترمذی، او ابن ماجه سنن دی. نو چه د سنن اربعه لفظ اووئیلې شی نوهم دا څلورکتابونه به مراد وی. سنن اربعه څخه علاوه

---

١) امام ابوحنیفه رحمه الله اوعلم حدیث ازمولانامحمدعلی کاندهلوی رحمه الله

٢) (لامع الدارمی ١١٤٤)

سنن بیهقی، سنن، دارمی، سنن دارقطنی اوسنن سعیدبن منصور ددې نوع مشهور کتابونه دی، دې څخه علاوه سنن ابن جریح اوسنن وکیع بن الجراح ددې نوع قدیم کتابونه دی. دغه شان مصنف عبدالرزاق اومصنف ابن ابی شیبه وغیره هم ددې نوع کتابونه دی بعضې حضراتو د مکحول کتاب السنن هم دې کښې شماری.

③ **المسانيد:** د مسند جمع ده دا د حدیثو هغه کتابونو ته وائی چه هغې کښې احادیث د صحابه کرامو رضی الله عنهم په ترتیب جمع کړې شوې وی. یعنی چه دیوصحابی ټول مرویات په یوځل ذکرشی که هغه هم د ي هر یو باب سره متعلق وی بیا د بل صحابی و هلم جرا.

دمسانیدو دترتیب مختلف طریقې: بیا دې کښې بعضې وخت د حروف تهجی دترتیب اعتبار وی او بعضې وخت د سابقیت فی الاسلام اعتبار وی اوبعضې وخت د فضیلت اعتبار وی. دغه شان د مهاجرینو اود انصارو په طبقاتو باندې هم مسندمرتب کیږی.

دمسانیدو مؤلفین: دټولو څخه ړومبی مسند حضرت نعیم بن حمادلیکلې دې [1]

دې څخه پس بې شماره مسانیدلیکلې شوی دی. تردې چه دغه زمانه کښې دا مشهوره وه چه داسې یولوې محدث هم نشته چه هغه مسندنه وې لیکلې لکه د امام بخاری ډیر استاذان د مسانیدو مؤلفین دی دغه شان عثمان بن ابی شیبه او ابوبکربن ابی شیبه هم مسانید لیکلی دی. دې کښې مسند اسدبن موسی، مسند عبد بن حمید، مسند البزار او مسندابی یعلی مشهور دی.

نن صبا مشهور مسانید: نن صبا درې مسانید مطبوعه شکل کښې ملاویږی اومشهور دی:

✿ مسند ابوداود طیالسی.

✿ مسند حمیدی مصنف د امام بخاری استاد دې.

✿ مسند امام احمدچه کوم نهایت جامع مسند دې. اوټولوڅخه زیات متداول او مشهوردې د دې تعارف تیرشوې دې او حال کښې علامه ابن الساعاتی دا په ترتیب د ابوابو مرتب کړې اوشائع کړې دې. چې د "الفتح الربانی لترتیب مسند الامام احمد بن حنبل شیبانی" په نوم مشهور دې. لکه چه ړومبی هم د دې ذکر شوې دې

④ **المعجم:** دا خبره عامه مشهوره ده. چه معجم هغه کتاب ته وائی چه هغې کښې محدث د خپلو شیوخُو او استاذانو په ترتیب سره احادیث جمع کړې وی یعنې د یو استاذ احادیث په یو ځائې کښې او د بل استاذ احادیث په بل ځائې کښې هم دغه شان وړیسې

[1]) قال السیوطی رحمه الله فی التدریب قال الدار قطنی اول من صنف مسندا نعیم بن حماد وقال الخطیب وقد صنف اسدبن موسی مسنداً وکان اکبرمن نعیم سبعة فی حداثته وقال الحاکم اول من صنف المسند علی تراجم الرجال فی الاسلام عبیدالله بن موسی العنسی وابوداود الطیالسی وقال بن عدی یقال ان یحی الحمانی اول من صنف المسند بالکوفة واول من صنفه بالبصرة مسدود د اول من صنفه بمصر اسدالسنة لا مع الداری (۴۵/۱)_

ځه خو حضرت شيخ الحديث مولانامحمدزکريا صاحب ليکلي، دی چه دا تعريف صحيح نه دي. حقيقت کښې معجم د حديث هغه کتاب دي چه هغې کښې د حروف تهجي ترتيب قائم وی که دا ترتيب په صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې وی. او که شيوخو کښې نودمعجم او د مسند په مينځ کښې د عموم خصوص مطلق نسبت دي. د دې نوعې هم ګڼړ کتابونه مشهور دی. مثلامعجم اسماعيلی، معجم ابن الغوطی وغيره (۱)

مشهور معاجم: خو دټولو څخه زيات مشهور د امام طبرانی معاجم دی. دوئ درې معاجم ليکلی دی.

۞ المعجم الکبير: په دې کښې د صحابه کرامو په ترتيب سره احاديث جمع دی.

۞ المعجم الأوسط: په دې کښې د شيوخو په اعتبارسره احاديث جمع شوې دی.

۞ المعجم الصغير: په دې کښې امام طبرانی د خپل هريوشيخ يويوحديث ذکرکړې دې رومبنی دوه کتابونه نایاب دی. البته د دوئ احاديث د علامه هيثمی رحمه الله په مجمع الزوائد کښې ملاويږی. البته المعجم الصغير رومبې په هندوستان کښې او بیاپه مصرکښې چاپ شوې دې.

⑤ المستدرک : هغه کتاب ته وائی چه هغې کښې دحديثو د يو کتاب هغه پاتې شوی احاديث چې د دغه مذکوره کتاب په شرطونو برابر وی خو دهغه څخه پاتې شوې وی او په خپل کتاب کښې يې نه وی نقل کړې په صحيحينو يعنی بخاری او مسلم ګڼړو عالمانو "مستدرك" ليکلی دی په هغې کښې "کتاب الالزامات لدارقطنی" او "المستدرك علی الصحيحين" للحافظ ابی ذرعبدً مشهور دی (۲)

مشهور مستدرک: خومشهور ترين کتاب دامام ابوعبدالله حاکم نيشاپوری "المستدرك علی الصحيحين" دې چه دټولوڅخه زيات پاتې شوې دې دې کښې دوئ هغه احاديث راجمع کړې دی چه کوم په صحيحينو کښې نه دی ذکرخو ددوئ په خيال کښې دبخاری يادمسلم په شرطونو برابر دی.

خو امام حاکم په تصحيح د احاديثو کښې ډيرمتساهل دې چنانچه دوی ډير حسن، ضعيف منکر، بلکه موضوع احاديث هم علی شرط الشيخين ګرځولی دی. او په مستدرك کښې ئې داخل کړی دی. د دې وجې حافظ ذهبی ددې تلخيص کړې دې. اود امام حاکم په غلطوئې تنبيه وزکړې ده دا تلخيص دمستدرك حاکم سره شائع شوې دې. ترڅو چه دې دحديث تصحيح اونه کړی ترهغې صرف د حاکم دتصحيح معتبر نه وی.

(۱) وذكرت في الاتحاف المعاجم الكثيرة منها معجم ابی بکرالمقری وشهاب الدين القوصی وابن قانع وغير هم) (الامع الدرمی ۱\۴۵)_

(۲) الرسالة المستطرفة ص ۲۲\ )-

⑥ **المستخرج:** هغه کتاب ته وائی چې هغې کښې دیوبل کتاب احادیث په خپل داسې سند روایت شوې وی چه هغې کښې د مصنف واسطه نه وی. لکه "مستخرج ابی عوانه علی صحیح مسلم" په دې کښې دوئ د صحیح مسلم روایات په داسې سند سره روایت کړې دی چه هغې کښې د مصنف واسطه نشته هغه شان مستخرج ابی نعیم علی صحیح مسلم.

⑦ **الجزء:** هغه کتاب ته وائی چه هغې کښې د یوجزئی مسئلې سره متعلق ټول احادیث یوځائې ذکر شوی وی. لکه.

- جزء القراءة للامام البخاری
- جزء القراءة للبیهقی
- وجزء رفع الدین للبخاری
- جزء الجهر بسم الله للدارقطنی
- وجزء الجهر بسم الله للخطیب البغدادی
- کتاب القراءة للبیقهی.

په روستنی دورکښې د جزء تالیف: په دې روستنی دورکښې دحضرت محمد انور شاه صاحب، اود حضرت مفتی شفیع صاحب، کتاب "((التصریح بما تواتر فی نزول المسیح)) او د شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا کاندهلوی. جزء حجة الوداع هم دې قسم کښې داخل دی.

فائده: بعضې حضراتو دې سره دکتب حدیث یوه بله نوع "الرسالة" هم بیان کړې ده او د دې تعریف ئې کړې دې. چه دا هغه کتاب دې چه دې کښې صرف د یو شیخ احادیث جمع کړې شوې وی. خوصحیح دا ده چه دا څه مستقل نوع نه ده بلکه د الجزء مترادف ده.

⑧ **المشیخه:** داهغه کتاب دې چه هغې کښې صرف دیو یا د څو شیوخو احادیث جمع شوی وی لکه "مشیخة ابن للبخاري وعلیهاذیل للحافظ المذي، مشیخة بن شاذان الکبری، مشیخة ابن القاري[1]

⑨ **التجرید:** چه دیوکتاب د حدیثونه سند او د دهغې مکررات حذف شی او صرف د صحابی نوم أو د حدیث متن بیان شی نودې ته "تجرید" وائی لکه

- تجرید البخاری للزبیدی
- "تجرید صحیح مسلم للقرطبی" او تجرید الصحیحین" وغیره.

⑩ **الافراد والغرائب:** دا هغه کتاب دې چه دې کښې دیوکس تفردات جمع کړې شوې وې. "کتاب الافراد للدارقطنی"

[1]) ذکره الشیخ فی لامع الدراری کثیر ص(۵۰۱، ۵۱)

⑪ **التخریج** : هغه کتاب دي چه دې کښې د یوبل کتاب د معلق یا د بې حواله احادیثو سند او حواله بیان کړی شی مثلاً هدایه کښې ټول احادیث بلاحواله دی. د دې د احادیثو د سند او حوالې دتلاش په غرض چه څومره کتابونه لیکلې شوې دی. هغې ته د هدایه تخریج وائی مثلاً

✿ نصب الرایه فی تخریج احادیث الهدایة" د امام زیلعی

✿ الدرایه فی تخریج احادیث الهدایة" د حافظ ابن حجر

✿ التلخیص الحبیر فی تخریج احادیث الرافعی الکبیر" په نوم سره حافظ ابن حجر [1] یو تفصیلی کتاب لیکلې دې په کوم کښې چې فقه شافعی یو مشهور متن رافعی د احادیثو تخریج کړې دې د هغوی دا کتاب د احکام د احادیثو یوجامع ترین (ډیره لویه) ذخیره ګڼړلی شی.

✿ الکافی الشافی فی تخریج احادیث الکشاف" حافظ ابن حجر.

✿ تخریج احادیث احیاء العلوم"د حافظ زین الدین عراقی

⑫ **کتب الجمع** : هغه کتاب دې چه په کښې دیوڅخه زیاتوکتابونو د حدیث روایتونه په حذف د تکرار سره جمع کړې شوې وی.

✿ ددې نوعې د ټولوڅخه ړومبې کتاب د امام حمیدی "الجمع بین الصحیحین" دې.

✿ د دې څخه پس حافظ رزین بن معاویه "تجرید الصحاح السته" لیکلې دې البته ددوئ په اصطلاح کښې دابن ماجه په ځائې موطاء امام مالك په صحاح سته کښې شامل وو ددې وجې څخه دوی په خپل کتاب کښې د ابن ماجه په ځائې د موطاء امام مالك احادیث راجمع کړې دی.

✿ د دوی څخه روستو حافظ ابن الاثیر جزری د "جامع الاصول" په نوم یوکتاب لیکلې دې چه هغې کښې ئې د صحاح سته احادیث راجمع کړې دی. او د حافظ رزین بن معاویه څخه چه کوم احادیث پاتی شوی وو.هغه ئې په کښې هم شامل کړی دی. خو د دوئ په اصطلاح کښې هم موطا امام مالك په صحاح سته کښې شامل وو نه چې ابن ماجه

✿ د دوئ څخه روستوعلامه نورالدین هیثهی د "مجمع الزوئد ومنبع الفوائد" په نوم یو کتاب اولیکلو اودې کښې ئې د "مسنداحمد، مسندبزار، مسندابی یعلی او امام طبرانی د معاجم ثلاثه هغه زائد احادیث یوځائې کړل چه کوم صحاح سته کښې نه وو. خو د علامه هیثمی په اصطلاح کښې ابن ماجه په صحاح سته کښې شامل وو ، نه چې موطا امام مالك،په دې

[1] هوتخریج الشرح الکبیر للرافعی علی وجیزالغزالی فی الفقه الشافعی وقدقام بتخریج احادیثه ایضا سراج الدین عمربن الملقن فی کتاب البدرالمنیرفی تخریج الاحادیث والاثارالواقعة فی الشرح الکبیرفی سبع مجلدات ۱۲ الرسالة المستطرفه ۱۵٤)_

وجه هغوی په مجمع الزوائد کښې د ابن ماجه احاديث را جمع نکړل. ددې نتيجه دا شوه چه د ابن ماجه احاديث نه په جامع الاصول کښې جمع شو او نه په "تجريد الصحاح الستہ" کښې او نه په "مجمع الزوائد" کښې.

✿ د دې ځخه روستو علامه محمد بن محمد بن سليمان د "جمع الفوائد من جامع الاصول ومجمع الزوائد" په نوم يو کتاب اوليکلو، چه هغې کښې ئې د "جامع الاصول" او د "مجمع الزوائد" روايات بحذف التکرار جمع کړل او د ابن ماجه روايتونه چه د دوی ځخه پاتې شوی وو هغه ئې هم جمع کړل بلکه د دې ځخه علاوه يې د سنن دارمی روايات هم جمع کړل. دغه شان دا کتاب د ځوارلسو کتابونو د احاديثو مجموعه شوه. بلاشبه "جمع الفوائد" دخپل اختصار سره دحديثو يوه لويه جامع مجموعه ده خو بيا هم په دې کښې ډير احاديث پاتې شوی دی نو که يو حديث په دې کښې اونه مونديږ شی نو دا خيال به غلط وی چه په دا ځوارلسو کتابونو کښې هم نشته.

دحروف تهجی په اعتبار سره د احاديثو جمع: اوسه پورې دکتب الجمع لاندې چه مونږ دکومو کتابونو ذکر اوکړو دا ټول کتابونه د ابوابو په ترتيب ليکلې شوې دی. بعضې حضراتو د حروف تهجی په اعتبار سره هم احاديث را جمع کړې دی. ددې نوع دټولونه ړومبې کتاب "فردوس الديلمی" دې. د دې ځخه پس علامه سيوطی د "جمع الجوامع" په نوم يو کتاب ليکلې دې چه دې کښې ئې د احاديثو دپوره ذخيرې جمع کولو کوشش کړې دې په دې کښې دوی قولی احاديث د حروف تهجی په اعتبار سره جمع کړې دی او فعلی احاديث ئې د صحابه کرامو په ترتيب سره جمع کړی دی.

د مذکوره کتاب تلخيص: بيا علامه سيوطی ددې کتاب تلخيص کړې دې په "الجامع الصغير فی احاديث البشير النذير" په نوم، په دې کتاب کښې يې د ټولو موجوده کتابونو د احاديثو قولی احاديث د حروف تهجی په اعتبار سره جمع کړې دی. "الجامع الصغير" نن صبا په مارکيټ کښې ملاويږی. دې کښې دهر حديث سره د حوالې نه علاوه د هغې اسنادی حيثيت هم داسې متعين کړې شوې دې چه د صحيح دپاره حرف "صح" د ضعيف دپاره حرف "ض" او د حسن دپاره حرف "ح" ليکلې شوې دې. خو مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله په "الاجوبة الفاضلة" کښې په صفحه ۱۲۷ کښې ليکلی دی چه دا علامتونه علامه سيوطی رحمه الله نه دی لګولې. بلکه د ده نه پس کوم بل عالم لګولې دی[1]

[1]) ولذالاينبغی ان يوثق بهذه الرموز قال المناوی واما مايوجد فی بعض النسخ من الرمز الی الصحيح والحسن والضعيف بصورة راس "ص" و "ح" و "ض" فلا ينبغی الوثوق به لغلبة تحريف النساخ علی انه وقع له ذلک فی بعض دون بعض کمارايته بخطه (فيض القدير ۱/۴۰ باحالة الاجوبة الفاضلة مع تعليقه ۱۲/۱۲۷_

دجامع صغیر شروحات: د "الجامع الصغیر" ګڼ شروحات هم لیکلی شوی دی چه هغې کښې دعلامه مناوی رحمه الله "فیض القدیر" اود علامه عزیزی "السراج المنیر" مشهور اومتداول دی. دې دواړو کښې علامه مناوی دتصحیح احادیث په معامله کښې زیات محتاط دې دده په خلاف علامه عزیزی رحمه الله لږ متساهل دې.

په جوامع کښې بهترین کتاب: ددې سلسلې دټولوڅخه زیات قابل قدراو جامع کارعلامه علی المتقی کړې دې ددوی ((کنزالعمال فی سنن الاقوال والافعال)) بغیر د څه شك د احادیثو جامع ترین کتاب دې. دوی خپل کتاب د علامه سیوطی په "جمع الجوامع،، باندې مبنی کړې دې یعنی ړومبې ئې د هرباب هغه قولی احادیث جمع کړی دی چې په "جمع الجوامع" کښې وو. اودې څخه پس ئې هغه قولی احادیث جمع کړی دی چه کوم د علامه سیوطی رحمه الله څخه پاتې شوی وی. اوددې ئې نوم "الاکمال فی سنن الاقوال"کیښودو. بیا د "جمع الجوامع" فعلی احادیث چه د صحابؤ په ترتیب مرتب وو. هغه یې د ابوابو په ترتیب مرتب کړل.او د دې مجموعې نوم "کنزالعمال"دې. دې کښې د هرحدیث حواله په رموزو کښې ورکړې شوې ده. لکه د بخاری دپاره "خ" اود مستدرك حاکم دپاره "ك"وغیره علامه علی المتقی په خپل دې کتاب کښې تقریباً د احادیثودیرش کتابونه جمع کړی دی. دغه شان دا کتاب د یوحدیث دتحقیق دپاره د بې نظیررهنما حیثیت لری.

⑬ الاطراف: د احادیثو هغه کتابونه چه هغې کښې د حدیثوصرف د اول او د آخرلفظ ذکر شوې وی. چه په هغې سره ټول حدیث پیژندلې کیږی اوآخرکښې ددې حدیث حواله ذکر شوې وی چه دا حدیث دفلانی فلانی کتابونوڅخه اخستې شوی دی د دې فائده دا وی چه یوسړی ته د یو حدیث اول او آخرلفظ یادوی خونه یې پوره حدیث په ذهن کښې وی اونه ورته اسنادی حیثیت معلوم وی په داسې وخت د اطراف کتابونه ډیرښه کارو ورکوی.

په دې فن کښې اولنی کتاب: په دې موضوع دټولوڅخه ړومبې حافظ ابن عساکر دمشقی رحمه الله کتاب اولیکوچه په دوه جلدونومشتمل دې.ددې نوم ئې "الاشراف فی معرفة الاطراف" کیخودو. دې کښې حافظ ابن عساکر د ابوداود، نسائی، ترمذی، اطراف ذکرکړې دی دا کتاب دوئ په حروف معجم باندې مرتب کړې دې خو دا کتاب نایاب دې.

دې څخه روستوحافظ عبدالغنی مقدسی "اطراف الکتب السنة" تحریرکړو نن صبا د دې نوع زیات متداول کتاب د حافظ مزی "تحفة الاشراف فی معرفة الاطراف" دې د "الفهارس" په ذیل کښې بیان شوې "المعجم المفهرس لالفاظ الحدیث النبوی" او د دې تلخیص،،مفتاح کنوزالسنة" هم ددې نوع ترلاندې راځی.

⑭ **الفهارس:** د احادیثو هغه کتابونه چه هغې کښې یو یا د زیاتو کتابونود احادیثو فهرست جمع شوې وې چه د حدیث راویستل آسان وی. مثلاً دعلامه زاهدالکوثری رحمه الله یوشاګرد د "فهارس البخاري" په نوم یو مفید کتاب لیکلې دې چه د هغې د وجې دبخاری احادیث راویستل ډیر آسان شوی دی.

ددې سلسلې یو جامع اومفید کار الله تعالی د مستشرقینو[1] دیو جماعت څخه آخستې دې چه هغوی د ډاکټر وینسنك په مشرئ کښې په اووه ضخیم جلدونو کښې یو مفصل کتاب مرتب کړې دې "المعجم المفهرس لالفاظ الحدیث النبوی" چه دې کښې دوئ د صحاح سته موطا امام مالك سنن دارمی اود مسند احمد د احادیثو فهرست مرتب کړې دې. اوددې طریقه دا ده چه د حروف تهجی په حساب سره دوئ د هرلفظ ترلاندې دا بیان کړی دی. چه دالفظ کوم کوم حدیث کښې راغلې دې اوهغه حدیث کوم کوم ځائې ذکردې خودې کتاب کښې دا خلق د احادیثو په استیعاب نه دی قادر شوې بلکه دې کښې ډیر احادیث پاتې شوی دی. بیا د دې کتاب یو تلخیص هم ((وینسنك)) "دمفتاح کنوز السنة" په نوم سره شائع کړې دې. چه د مختصرکیدو دوجې ډیرمفید دې اودهرطالب علم دپاره ضروری دې.

⑮ **الاربعینات:** جمع د "الاربعین" په معنی د څلویښت حدیثونو هغه کتابونو ته وائی چه هغې کښې څلویښت احادیث دیوباب یادمختلفوبابونو جمع شوې وی ((والمصنفات فی ذلك لاتعد ولاتحصی)) بې شمیره محدیثنو اربعین، لیکلې دی او د دوئ د تالیف مقصد د امام بیهقی په دې حدیث عمل کول دی چه هغوی په "شعب الایمان" کښې د حضرت ابودرداء رضی الله عنه څخه مرفوعاً نقل کړې دې ((قال سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم ما حد العلم الذی اذا بلغه الرجل کان فقیهاً فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم من حفظ علی امتی اربعین حدیثاً فی امردینها بعثه الله فقیهًا وکنت له یوم القیامة شافعًا وشهیداً)) [2] دا حدیث په عوام الناس کښې ډیرمشهوردې خود امام احمد رحمه الله قول دې ((حدیث متنه مشهور فیما بین الناس ولیس له إسناد صحیح)) چه دا یو داسې حدیث دې چې متن یې دخلقو په مینځ کښې مشهوردې خو د دې سند صحیح نه دې. [3] چنانچه امام نووی رحمه الله دخپل اربعین

---

[1]) مستشرقین جمع د مستشرق ده د دې څخه هغه خوك مراد دی چې مسلمان نه وی خو د اسلامی تعلیماتو مطالعه یې کړې وی او څه ډکری یې په کښې اخستې وی د دې خلقو په اسلامی علومو تحقیق کول د دې دپاره نه وی چې د اسلام خدمت اوکړی بلکه د تنقید دپاره د اسلام مطالعه کوی او د خپل مقصد حاصلولو دپاره دا کار کوی.

[2]) مشکاة المصابیح کتاب العلم فصل ثالث

[3]) کذا فی مشکاة المصابیح

په شروع کښې ددې حديث په باره کښې تحريرفرمائى ((اتفق الحفاظ على انه حديث ضعيف وان كثرت طرقه)) نود احديث سندا ضعيف دې. خود تعدد طرقُ اودکثرت اسانيدو په وجه ديته حسن لغيره وئيلې کيدې شى ددې وجې دامت ډيروعالمانو اومحدثينوپه دې عمل کړې دې او اربعينات ئې ليکلې دى زمونږپه علم کښې د ټولوڅخه ړومبې اربعين عبدالله بن مبارك ليکلې دې. بيا محمدابن اسلم طوسى روستوبيابې شميره عالمانوپه مختلف موضوعاتواربعينات مرتب کړل. مثلاً امام دارقنطى، حاكم، ابونعيم، ابوعبدالرحمن سلمى اوابوبکربيهقى وغيره [انظر مقدمة الاربعين النووي]

⑯ **الموضوعات**: يعنى هغه کتابونه چه هغې کښې احاديث موضوعه جمع کړې شوې وى ياد متهم بالوضع احاديثو تحقيق شوې وى شروع کښې به کتب موضوعه په دې انداز ليکلې کيدل. چه د ضعيف راويانو تذکره به کيدله اودوى څخه چه به کوم موضوع يا ضعيف احاديث مروى وو هغه به په نښه کولې شو د حافظ ابن عدى "الكامل" دامام عقيلى رحمه الله الضعفاء او د امام جوزقانى الاباطيل هم په دې انداز دى (۱)

د موضوعاتو روستنئ طريقه:روستو بيا د موضوعاتوطريقه دا شوه چه موضوع يا متهم بالوضع احاديث د ابوابو په ترتيب يا د حروف تهجى په ترتيب سره ذکرکول شروع شول او دابه ورسره بيانولې شى چه دا چا روايت کړې دې اودې کښې سنداً څه نقص دې.

په دې فن کښې اولنې کتاب:دې باندې د ټولوڅخه ړومبې علامه ابن جوزى رحمه الله قلم اوچت کړو د دوئ دوه کتابونه دى: يو ((العلل المتناهية فى الاخبارالواهية)) دويم ((الموضوعات الكبرى خو اهل علم په دې اتفاق لرى چه ابن الجوزى په احاديثود وضع حکم لګولو کښې متشدد دې اوده ډيرصحيح احاديث هم موضوع ګرځولى دى.

دابن جوزى د موضوعاتو ترديد:د دې وجې روستو عالمانو د دوئ په کتابونو تنقيدونه ليکلى دى حافظ ابن حجر رحمه الله د هغوى په ترديد کښې ((القول المسدد فى الذب عن مسند احمد)) کښې ددوى شبه ترديدکړې دې دې کتاب کښې حافظ د مسند احمد رحمه الله د هغه احاديثوتحقيق کړې دې کوم ته چه ابن الجوزى رحمه الله موضوع وئيلې دى اوبيان ئې کړې دې چه په کوم احاديثو ابن الجوزى رحمه الله د موضوع کيدو حکم لګولې دې. په هغې کښې يوحديث په صحيح مسلم کښې هم شته اويو حديث د بخارى احمدشاکر والانسخه کښې هم شته او داسې ډير احاديث دى. چه امام بخارى تعليقاً روايت کړى دى اوابن الجوزى موضوع ګرځولې دى بياعلامه سيوطى د ابن الجوزى په موضوعاتو يومفصل تنقيد

(۱) خوداکتاب هم متشددګرځولې شوې دې۔

لیکلې دې چه د هغې نوم ((النکت البدیعات علی الموضوعات)) دې. بیائې د دې تلخیص کړې دې. او دې کښې ئې څه اضافه کړې ده چه د ((اللالی المصنوعة فی الاحادیث الموضوعة)) په نوم مشهور دې کوم چه په څو جلدونو کښې شائع شوې دې. خو علامه سیوطی د حدیث په معامله کښې څه قدرې متساهل دې. د دې وجې بعضې ضعیف یا منکر احادیث هم صحیح ګرځوی.

په دې فن کښې نور کتابونه: د علامه ابن الجوزی او سیوطی څخه پس ډیرو حضراتو په موضوعاتو کتابونه لیکلې دی چه په هغې کښې د ملاعلی قاری "الموضوعات الکبیر" ښه مقبول او مشهور دې. په آخری دور کښې قاضی شوکانی " الفوائد المجموعة فی الاحادیث الموضوعة" او د علامه طاهر پټنی "تذکرة الموضوعات" مختصر خو مفید کتابونه دی.

په دې فن کښې جامع ترین کتاب: د دې نوع جامع ترین کار علامه ابن عراقی کړې دې، دوئ پخپل کتاب " تنزیه الشریعة المرفوعة عن الاحادیث الشنیعة الموضوعة" کښې د ابن جوزی، جوزقانی، عقیلی، ابن عدی، حافظ ابن حجر، علامه سیوطی، او د ملاعلی قاری ټول کتابونه را جمع کړې دی، او د هر حدیث ئې ښه تحقیق هم کړې دې نو د دوئ کتاب جامع ترین او محقق ترین دې، چه کله کله د ړومبنو ټولو کتابونو څخه استغناء راولی. د دې کتاب کښې علامه ابن عراقی د ابن جوزی، جوزی جانی او د سیوطی په بیان کړی احادیثو کښې صرف هغه احادیث جمع کړی دی چه فی الواقع موضوع دی.

⑮ **غریب الحدیث:** یعنې هغه کتابونه چه هغې کښې په حدیثو کښې د راتلونکو کلماتو لغوی او اصطلاحی تحقیق او تشریح شوې وی. د دې موضوع د ټولو څخه ړومبې کتاب د امام نضر بن شمیل او د ابوعبیده معمر بن المثنی کتاب دې روستو امام اصمعی او علامه ابن قتیبة دینوری هم په دې موضوع قلم اوچت کړې دې. د دې څخه پس علامه خطابی رحمه الله دا ټول را جمع کړې دی. خو په دې موضوع د ټولو څخه ړومبې جامع او مفصل کتاب د امام ابوعبید قاسم بن سلام "غریب الحدیث" دې البته دې څخه د څه لفظ معنی تلاش کول ډیر مشکل دی. ځکه چه دې کښې د حروف تهجی هیڅ لحاظ نشته. د دې څخه پس علامه زمخشری رحمه الله "الفائق " په نوم یو کتاب اولیکو چه د حسن ترتیب په لحاظ سره په سابقه ټولو کتابونو فائق دې.

په دې فن کښې جامع کتاب: خو د دې نوع د ټولو څخه زیات جامع کار علامه مجد الدین ابن الاثیر الجزری رحمه الله کړې دې. چه د هغه کتاب "النهایة فی غریب الحدیث والاثر" ښه جامع هم دې او مرتب هم دې. دوې دا د حروف تهجی په ترتیب مرتب کړې دې، د دې وجې په دې موضوع کښې د دې کتاب فائده عامه شوه او دا په ماخذ کښې شمار شو.

په دې موضوع نورهم ډیر مفید کتابونه دی لکه دعبدالغافر فارسی کتاب "مجمع الغرائب" او د قاسم سرقسطی "غریب الحدیث" وغیره

مقبول ترین کتاب: په آخری دورکښې علامه طاهر پټنی "مجمع بحار الانوار فی غرائب التنزیل ولطائف الاخبار" تالیف کړو چه ددې نوع مقبول او مستند کتاب دې علامه انور شاه کشمیری به دې کتاب لره د غریب الحدیث په ټولو کتابونوفوقیت ورکولود دې وجه دا وه چه دې کتاب کښې صرف د الفاظوتشریح نه ده بلکه هرلفظ چه په کومو احادیثو کښې راغلې دې دهغې احادیثوهم مختصر او ملخص تشریح موجوده ده او حضرت شاه صاحب فرمائی چه ددې مؤلف د الفاظوتشریح .کولوکښې د لغت دکتابونو څخه علاوه ټول شروح حدیث هم ملحوظ ساتلې دی.

⑱ **کتب الاحادیث المشتهرة:** یعنی هغه کتابونه چه په هغې کښې د هغې احادیثوتحقیق شوې وی کوم چه عام مشهور او د هرچاپه ژبه وی خو د هغې د سندعلم عام طور سره نه وی. په دې موضوع د ټولوڅخه ړومبې علامه زرکشی رحمه الله د "التذکرة فی الاحادیث المشتهرة" په نوم یوکتاب لیکلې دې.د دوئ څخه پس حافظ ابن حجر " اللالی المنثورة فی الاحادیث المشتهرة" روستو بیا علامه سیوطی "الدرر المنتثرة فی الاحادیث المشتهرة" اوعلامه ابن درویش "أسنی المطالب فی أحادیث مختلفة المراتب " هم دخپل اختصارسره کافی مشهورشو خو د دې نوعې د ټولو څخه مشهوراومتد اول کتاب دحافظ شمس الدین سخاوی "المقاصد الحسنة فی الاحادیث المشتهرة علی الالسنة " دې. چه دا دوئ په حروف تهجی مرتب کړې دې او د هرحدیث ئې ښه تحقیق کړې دې.

⑲ **الترتیب:** یعنی هغه کتاب چه په هغې کښ سره دیوبل غیر مرتب کتاب احادیثو لره په یوخاص ترتیب سره جمع کړې شی. مثلاً "ترتیب مسند احمد علی الحروف لابن کثیر" او ((ترتیب مسند احمد علی الحروف لابن المجیب)) دغه شان په آخری دورکښې علامه ابن ساعاتی مسند احمد د "الفتح الربانی" په نوم د ابوابو په ترتیب مرتب کړو.

⑳ **اسباب الحدیث:** په حدیث کښې ددې هم هغه حیثیت دې کوم چه تفسیرکښې د اسباب النزول دې یعنی دې کښې د قولی احادیثوسبب ورود بیان شوې وی. چې نبی کریم ﷺ کوم ارشادپه کوم حالت کښې فرمائیلې دې په دې نوع کښې ډیر لږ کتابونه لیکلې شوی دی.خو په دې نوع کښې د ټولو څخه ړومبې تصنیف د امام ابوحفص العکبری دې دوئ څخه روستوعلامه حامدبن کزنی اوعلامه سیوطی پرې هم قلم اوچت کړې دې. صاحب د کشف الظنون لیکی چه زمونږ په دورکښې ددې نوع صرف یو کتاب باقی دې چه د هغې

نوم "البیان والتعریف فی اسباب ورود الحدیث الشریف" دي اودا د علامه ابراهیم بن محمد الشهیر بابن حمزه الحسینی الدمشقی الحنفی تالیف دي چه شائع شوې دې.

⑪ **مشکل الحدیث**: دې نوعې ته شرح الآثار" او مختلف الحدیث" هم وائی اودې څخه مراد د احادیثو هغه کتابونه دی چه هغې کښې د متعارض احادیثو تطبیق او د مشکل المراد احادیثو محمل متعین کړې شوې وی. دې کښې څه خاص ترتیب نه وی بلکه مؤلف کیف ما اتفق [بغیر د څه خاص طریقې او شرطونو څخه] احادیث ذکرکوی اوتشریح ئې کوی. په دې نوع هم ډیرکتابونه لیکلی شوی دی. وئیلې کیږی چه دې نوع کښې د ټولوڅخه رومبې مصنف امام شافعی دې چه هغوئ د خپل "کتاب الام" په بعضې حصوکښې دا کارکړې دې. خو باقاعده طورباندې په دې د ټولو څخه رومبې قلم امام ابن جریج اوچت کړې دې. دغه شان ابو محمدبن قتیبه او امام ابن عبدالبر پرې هم کتابونه لیکلې دی. په موجوده دورکښې په دې موضوع دوه کتابونه معروف اومتداول دی. یود امام ابوجعفرطحاوی " مشکل الاثار" دویم دعلامه ابو بکربن الفورك ،،مشکل الحدیث " دواړه کتابونه شائع شوی دی.

⑫ **العلل**: دحدیثوهغه کتاب چه هغې کښې داسې حدیث ذکر کړې شوې وی چه د هغې په سند کښې کلام وی لکه ،،کتاب العلل،، دامام بخاری او "کتاب العلل،، د امام مسلم او ،،کتاب العلل الصغیروالکبیر،، د امام ترمذی. دغه شان د امام دارقطنی اود امام ابن ابی حاتم "کتاب العلل،، هم معروف دی.

⑬ **الزوائد**: یعنی هغه کتاب چه هغې کښې دیوبل کتاب صرف هغه احادیث جمع کړې شوې وی چه کوم صحیحینو کښې نه وی مثلاً دعلامه نورالدین هیثمی "موارد الظمآن الی زوائدابن حبان" چه دې کښې د صحیح ابن حبان صرف هغه احادیث جمع کړې شوې دی چه په صحیحینو کښې نشته دغه شان ،،زوائدابن حبان علی الصحیحین،، ، د حافظ مغلطائی کتاب دې، بعضې وخت د زوائد لفظ د مستدرك مرادف ګڼړلې کیږی. لکه "زوائدمسنداحمد،،لعبد الله بن احمد رحمه الله په دې معنی دې.

⑭ **التراجم**: د احادیثوهغه کتاب ته وائی چه په هغې کښې دیوطریق سندټول احادیث په یوباب کښې جمع کړې شوې وی. مثلاً باب داسې قائمیږی ،،ذکرما روي مالك عن نافع عن ابن عمررضی الله عنه،، اوددې لاندې هغه ټول احادیث نقل کولې شی کوم ته چه ((من روی عن ابیه عن جده)) وئیلې کیږی

⑮ **الامالی**: په وړاندې زمانه کښې دتدریس طریقه دا وه چه استاذ به خپل یادکړی

احادیث شاگردانو ته املاء کول دغه شان شاگردانو سره به چه کومه مجموعه تیاره شوه دې ته به د شیخ امالی ' وئیلې کیده لکه د حافظ ابن حجر امالې مشهوردی. کله چه دطباعت رواج عام شو نو د احادیثود تدریس دپاره د املاء ضرورت باقی پاتې نشو. خو د احادیثوتشریح او د دې متعلقات چه استاذ ئې په طور د تقریر بیانوی ددې دلیکلو رواج اوس هم جاری دې اونن صباهم دغه تقریرونو ته امالی وائی. ددې نوع دیرتقاریرشائع شوی دی چه هغې کښې مفصل ترین کتاب، «فیض الباری» دې چه په صحیح بخاری باندې دعلامه انورشاه کشمیری د تقریرونو مجموعه ده حضرت مولانابدرعالم صاحب میر تهی مرتب کړې ده، دغه شان دعلامه کشمیری تقریر ترمذی چه د "العرف الشذي" په نوم شائع شوې دې. دغه شان، «الکوکب الدری»، د حضرت گنگوهی د ترمذی امالی ده او "لامع الدراری" په بخاری باندې هم د دوئ امالی ده چه حضرت مولانا محمد یحیی سهارنپوری مرتب کړې ده. په دې د حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله تعلیقات هم دیدغه تقریر الجنجوهي علي صحیح مسلم د گنگوهي رحمه الله تقریر دې چه مولانا حسین علي رحمه الله جمع کړې دې او شایع شوې دې.

⑭ **الوحدان:** یعنی د هغه راویانو د احادیثومجموعه چه د هغوئ څخه صرف یویوحدیث مروی دې.

الثنائیات: په دې موضوع باندې د امام مالک اوامام ابو حنیفه ثنائیات موجود دې

⑮ **الثلاثیات:** یعنی داحادیثوهغه کتابونه چه کوموکښې صرف هغه احادیث ذکرشوې وی چه مصنف ته په درې واسطو رارسیدلې وی یعنی چه دهغې په سندکښې د مصنف څخه د نبی کریم ﷺ پورې ټولې درې واسطې وی لکه ثلاثیات البخاری ' ثلاثیات الدارمی ' ثلاثیات عبدبن حمید ' ثلاثیات امام احمد وغیره.

⑱ **شروح الحدیث:** یعنی هغه کتابونه چه هغې کښې دیوکتاب د حدیثوشرح شوې وی. مثلاً 'فتح الباری ' عمدة القاری ' وغیره.

⑲ **الترغیب والترهیب:** دا د حدیثو هغه کتابونه دی چه هغې کښې صرف دترغیب اوترهیب احادیث جمع شوی وی دې کښې دټولو څخه زیات جامع کتاب دحافظ منذری ' الترغیب والترهیب دې.

⑳ **الاذکار:** دا د احادیثو هغه کتابونه دی چه دې کښې د نبی کریم ﷺ څخه منقول دعاگانې او ذکرونه جمع شوې وی لکه د امام نووی "کتاب الاذکار" دعلامه ابن الجزری "الحصن الحصین من کلام سید المرسلین صلی الله علیه وسلم" وغیره

㉑ **المسلسلات:** دا هغه کتابونوته وائی چه هغې کښې داسې احادیث ذکر شوی وی چه

دهغې روایت کښې ټول راویان په یوصفت یاپه خاص لفظ یاپه خاص فعل متفق شوې وی مثلاً دیوحدیث ټول راویان فقهاء یا محدثین وی. یا د هغې هرراوی د روایت حدیث په وخت څه خاص کارکړې وی مثلاً هر راوی د روایت په وخت مصافحه کړې وی وغیره. (په دې موضوع باندې د شاه ولی الله رحمه الله کتاب ,,الفضل المبین،، شته.

⑭ کتب المصاحف: دا هغه کتابونوته وائی چه هغې کښې دقرآن پاك جمع او ترتیب، اختلاف قراءت اود اختلاف نسخه تاریخ بیان شوې وی. مثلاً دابن عامر،،کتاب المصاحف،، دې څخه علاوه ډیرو خلقود "کتاب المصاحف" په نوم کتابونه لیکلې دی، په هغې کښې د ابن اشته "کتاب المصاحف" اود ابن ابوداود "کتاب المصاحف"او د ابن الانباری "کتاب المصاحف" زیات مشهور دی.

طبقات کتب الحدیث باعتبار الصحة

دحدیث دطالب علم دپاره په دې پوهیدل هم ضروری دی چه د حدیث کوم کتاب د صحت په اعتبارکومه درجه لری؟ حضرت شاه عبدالعزیزخپل یوشاګردته خط اولیکوچه د یو مختصرې رسالې حیثیت ئې لرلو د هغې نوم "مایجب حفظه للناظر" دې. دې کښې حضرت شاه عبدالعزیز د حدیثو کتابونه په پنځو طبقاتومنقسم کړې دی. مونږ دلته ددغه پنځوطبقاتو په باره کښې څه ضروری معلومات بیانوو.

اوله طبقه: ړومبئ طبقه د حدیثو د هغه کتابونوده چه د هغې مصنفینو د دې خبرې التزام کړې وی چه ددوئ دکتاب ټول احادیث د صحیح په شرائطوپوره وی. داسې کتابونوته صحاح مجرده وائی. چنانچه د دې طبقې دکتابونو د هر حدیث په باره کښې دا وئیلې شی چه دا د دې د مؤلف په نیز صحیح دې. دې طبقه کښې لاندې لیکلی شوی کتابونه شامل دې:

① صحیح بخاری ② صحیح مسلم ③ مستدرك حاکم ④ صحیح ابن حبان⑤ صحیح ابن خزیمه ⑥ المنتقی لابی محمدعبدالله ابن الجارود⑦ المنتقی للقاسم ابن اصبغ، ⑧المختاره لضیاء الدین المقدسی ⑨ صحیح ابن السکن ⑩ صحیح ابن العوانه.

نوټ: خو دا یاد ساتل پکاردی چه دا کتابونه په صحاح مجرده کښې شمارل په دی اعتباردی چه ددی مؤلفینوصرف هغه احادیث نقل کړی دی کوم چه ددوی په ګمان کښې صحیح دی. خوپه نفس الامرکښې ددی صحیح کیدل ضروری نه دی ترکومې چه د صحیحینو او د مؤطا امام مالك تعلق دی ددوی په باره کښې اتفاق دې چه د دوی ټول احادیث په نفس الامرکښې هم صحیح دی.

د دارقطنی تنقید: صرف امام دارقطنی دې څخه اختلاف کړې دی او په خپل کتاب "التتبع

على الصحيحين " كښې ئې د صحيحينو په ډيرو احاديثو تنقيد كړې دې اودائى غير صحيح ثابت كړې دى.

جواب: خو حافظ ابن حجر په ((هدى السارى مقدمه فتح البارى)) كښې هغه ټول احاديث كوم چه امام دارقطنى داعتراض دپاره منتخب كړى دى هغه نقل كړى دى او بيايې د امام دار قطنى د اعتراض كافې شافې جواب كړې دې. چنانچه د دوئ نه روستو دټول امت عالمانو د صحيحينو د هر حديث په صحت باندې متفق دى.

دمستدرك حاكم درجه: البته دمستدرك حاكم په باره كښې دا وئيل صحيح دى چه داپه نفس الامر كښې صحيح مجرد نه دې. چنانچه تقريباً دټول و اهل علم په دې اتفاق دې چه حقيقت كښې مستدرك حاكم د دريمې طبقې سره تعلق لرى. ځكه چه امام حاكم دتصحيح حديث په معامله كښې ډير متساهل دې. او دوئ صرف ضعيف او منكر نه بلكه موضوع حديث هم صحيح ګرځولې دې. تركومې چه دوئ لره په ړومبئ طبقه كښې د شمارلو تعلق دې. نو هغه صرف ددې وجې دې چه ددې مصنف د خپل زعم مطابق ټول احاديث دبخارى او د مسلم د شرائطو مطابق صحيح جمع كړې دى. اګرچه هغه په دې كوشش كښې قطعاً كامياب شوې نه دې. چنانچه دامام حاكم تساهل دومره مشهور او معروف دې چه ابو سعيد المالينى رحمه الله خو به دا اوئيل چه مستدرك كښې يو حديث هم صحيح نه دې

دمستدرك حاكم باره كښې انصافى خبره: خو حقيقت دا دې چه د دې ډير احاديث صحيح دى چنانچه حافظ شمس الدين ذهبى رحمه الله چې د حاكم د مستدرك دټولو څخه زيات نقاد دې. د دوئ دا قول علامه سيوطى رحمه الله په تدريب الراوى كښې نقل كړى دى چه د مستدرك حاكم خو تقريبا نيم احاديث بيشكه د بخارى اودمسلم په شرائطو پوره دى، اوڅلورمه حصه داسې ده چه د هغې د راويانو نقل قابل د استدلال دى. خودوى كښې څه علت موندلې كيږى داسې احاديث دوه سوه يا د دې څخه لږ زيات دى په هغې عمل كول مناسب نه دى. اوباقى څلورمه حصه انتهائى ضعيف منكراوموضوع احاديثو باندې مشتمله ده[1]

حافظ ذهبى دمستدرك تلخيص كښې چه دمستدرك سره چاپ شوې دې په هرحديث ځانله ځانله تبصره كړې ده.

د امام حاكم دتساهل اسباب: بيا عالمانو كښې دا خبره زيربحث پاتې شوې ده چه د امام حاكم غوندې حافظ دحديثو څخه داسې تساهل ولې اوشو؟ ددې ډير وجوه بيان شوى دى. ① بعضې حضراتو په ده دتشيع الزام لګولې دې خو دا صحيح نه ده.

(۱) اوګورۀ تدريب الراوى فى شرح تقريب النواوى تساهل الحاكم فى المستدرك ۱۲_

۲ بعضې وائی چه د روافضو سره د اختلاط دوجې ده ته ډیرو احادیثو د ضعف احساس اونه شو (۱)

۳ خودي سوال د ټولو ښخه بهترین او فاضلانه جواب حافظ جمال الدین زیلعي په نصب الرایه کښې د جهربسمله دبحث ترلاندې ورکړې دې

دامام زیلعی په نیز د امام حاکم د تساهل اسباب: هغه فرمائی چه دحاکم دتساهل څو اسباب دی.

۱ **د متابعت په وجه غلطی:** امام بخاری رحمه الله اوامام مسلم رحمه الله کله دیو متکلم فیه راوی روایت هم نقل کوی. خودا هله کوی چه کله دده ډیرمتابعات اوشواهد موجود وی. مثلاً ابو اویس متکلم فیه دې خوامام مسلم ده حدیث ((قسمت الصلوة بینی وبین عبدی نصفین رحمه الله))نقل کړې دې (۲)

څکه چه حدیث د نورو قوی راویانو مثلاً د امام مالك، شعبه او ابن عینیه وغیره ښخه هم مروی دی په داسې مواقع حاکم صرف دا ګوری چه ابواویس د مسلم راوی دې اودې (حاکم) د هغوئ هغه احادیث هم نقل کوی چه د هغې متابعات نه وی. ددې باوجود دې دا وائی چه ((هذاصحیح علی شرط مسلم))

۲ **دشیخ په وجه غلطی:** ډیرکرتې داسې وی چه د یو راوی احادیث د یو شیخ ښخه قوی اوصحیح وی. خو د بل شیخ ښخه قوی نه وی. داسې موقع باندې بخاری او مسلم د ده صرف هغه احادیث راخلی کوم چې د ړومبنی شیخ ښخه مروی وی مثلاً بخاری اومسلم د خالد بن مخلد القطوانی هغه احادیث روایت کړی دی کوم چه د سلیمان بن بلال ښخه مروی دی. حاکم صرف د خالدبن مخلدنوم اولیدو اودې ئې د شیخینوراوی خیال کړو او د دوئ هر حدیث ئې صحیح علی شرط الشیخین ورته اووئیل. سره د دې چې د نورو شیوخو ښخه د دوی روایات ددې درجې نه دی دکومې درجې چه د سلیمان بن بلال ښخه دی، نوکه یوسړې په یوبل روایت کښې خالدبن مخلدعن عبدالله بن المثنی اووینی اودا خیال اوکړی چه خالد او عبدالله دواړه دبخاری راویان دی. ددې وجې دا حدیث هم صحیح علی شرط البخاری دې نو دا به سخته غلطی وی څکه چه دخالدبن مخلدروایت

---

(۱) وقال الامام الکشمیری رحمه الله لا أدری ما وقع للحافظ الحاکم وأی أمر دعاه الی وضع الموضوعات فی کتابه ؟ وکیف ساغ له ذلک ؟ وقد اعتذرعنه الناس وذکروا فی التفصی عنه وجوهًا لاترجع الی کثیرطائل ثم اعلم انی أری فیه أحادیث فی أسانیدها رجال البخاری من أعلاها والوضاعون والکذابون من طرف آخرومع ذلک یحکم علیها الحاکم أنها علی شرطه ثم ظهرلی أن حکمه هذا ینسحب علی قطعة دون قطعة فکانه اصطلاح جدید منه والا فالظاهر أن یحکم باعتبار مجموع الاسنادلاباعتبارجزء منه أهه (مقدمة فیض الباری ۱/۳۶) ـ

(۲) صحیح مسلم ۱/ ۱۲۹، ۱۷۰ کتاب الصلوة باب وجوب قراءة الفاتحة فی کل رکعة وانه اذلم یحسن الفاتحة ولا امکنه تعلمها قرا ما تیسر له غیرها ـ

د عبدالله بن المثنی څخه مقبول نه دي.

③ **د زمانې د بدلیدو په وجه غلطی:** بعضې وخت د یوراوی احادیث دځه زمانې پورې صحیح او مقبول وی اودې څخه پس روایت ئې ضعیف اومردود وی امام بخاری په داسې موقع ددې خبرې خیال ساتی چه د داسې راوی د ړومبنې زمانې روایات راواخلی لکه د مروان بن الحکم په باره کښې د علماء رجال کلام مشهوردې خودده باره کښې قول فیصل دا بیان شوې دې. چه دده د حاکم کیدو څخه مخکښې روایات مقبول دې. او د حاکم جوړیدو څخه پس دده عدالت اوثقاهت مشکوك شو. نوامام بخاری چه د ده کوم روایات راوړې دی هغه د حاکم کیدو څخه وړاندې دی اوس که یوسړې د مروان بن حکم نوم اووینی او دا خیال اوکړی چه دا د بخاری راوی دې. د دې وجې د ده هر حدیث صحیح دې نودا به غلطه وی امام حاکم ته داسې مغالطې راغلې دی.

④ **د ثقه راوی د ضعیف سره په روایت کښې د ملګرتیا په وجه غلطی:** بعضې وخت امام مسلم یوضعیف راوی دیوثقه راوی سره یوځائې کوی. مثلاً امام مسلم عبدالله بن لهیعه دعمروبن الحارث سره یوځائې کړې دې او ذکرکړې ئ دې. یعنی عن عمروبن الحارث وعبدالله بن لهیعه، ددې مطلب د عبدالله بن لهیعه توثیق نه دې بلکه هغوی د روایت مدار عمروبن الحارث ګرځولې دې اوعبدالله بن لهیعه ئې ضمناً ذکر کړې دې اوس که یوسړې په دې بناء ابن هیعه دمسلم راوی ګڼړی اودده هرحدیث ته صحیح علی شرط مسلم وائی نودا سخت تساهل دې.

⑤ **صرف د سند راوی ته د کتلو په وجه غلطی:** دحاکم دتساهل یو سبب دا هم دې چه امام حاکم د سند بعضې راویانوته ګوری چه دا د بخاری راویان دی او یعني نورو ته ګوری چه دا د مسلم راویان دی او دا سند صحیح علی شرط الشیخین ګرځوی حال دا دې چه دا صحیح نه ده.

⑥ **د سند د راویانو په وجه غلطی:** یو سبب دا دې چه حاکم ډیرکرتې دیو سند اکثر راویانوته ګوری چه دا د صحیحینو راویان دی خو دوئ کښې یوراوی یادوه راویان ضعیف وی اودده ددوئ په ضعف نظر نه وی.

بله وجه: علامه کتانی مغربی رحمه الله "الرسالة المستطرفه" کښې د امام حاکم د تساهل یوبل عذرهم بیان کړې دې او هغه دا چه امام حاکم د مسودې تیارولو څخه پس نظرثانی اونه کړې شوه. اود تصحیح اوتنقیح څخه وړاندې د دوی وفات اوشو هم دا وجه ده چه کتاب په ړومبې خُمس چه ئې نظرثانی کړې ده هغې کښې تسامحات ډیرکم دی. بهرحال د دې اسبابو د وجې امام حاکم د تصحیح په باره کښې متساهل دې اوددې وجې حافظ ذهبی

په "تلخیص المستدرك" کښې په بعضې ځایونو کښې په دوئ سخت نکیر کړې دې.

دویم کتاب صحیح ابن حبان: د دې طبقې دویم کتاب صحیح ابن حبان دې. بعضې حضرات فرمائی چه دا کتاب هم د مستدرك په شان صحت ته نه رسی ځکه چه ابن حبان هم د حاکم پشان د تصحیح په معامله کښې متساهل دې. خو علامه سیوطی رحمه الله (۱) لیکی چه صحیح ابن حبان په دې لحاظ د مستدرك څخه فائق دې ځکه چه ابن حبان چه کوم شرائط مقرر کړې دی. دوئ د هغې پوره پابندی کړې ده.

د ابن حبان د شرائطو د نرموالی وجوه: البته دا صحیح ده چه د تصحیح په معامله کښې دا ابن حبان شرائط د نورو په مقابله کښې ډیر نرم دی د هغې دوه وجې دی.

① **حسن د صحیح یو فرد دې:** یو خو دا چه ابن حبان حسن احادیث هم صحیح ګرځوی د دوئ په نیز حسن څه جُدا قسم نه دې بلکه د صحیح یو فرد دې. د دې وجې دوئ په خپل کتاب کښې دا سې ډیر احادیث روایت کړې دی چه د نورو محدثینو په نیز د دې مرتبې ته نه رسی خو ابن حبان د حسن کیدو په بناء دا صحیح ګرځولې دی.

② **د استاذ او شاګرد معلومیدل د راوی جهالت نه دې:** دویمه وجه دا چه د ابن حبان په نیز چې د یو مجهول راوی استاد او شاګرد دواړه معلوم او ثقه وی نو دده جهالت مضر نه دې بلکه د ده حدیث د دوی په نیز صحیح دې. او نور محدثین دا حدیث د جهالت د راوی په بناء رد کوی. د ابن حبان دا دستور دده په "کتاب الثقات" کښې هم جاری دې ځکه چه د دوی په نیز د ثقه تعریف دا دې چه په چا څه سبب د جرح ثابت نه وی. د دې وجه دوئ ډیر مجهول راویان د ثقاتو په فهرست کښې شمار کړی دی. د دې وجې عام محدثین د یو راوی توثیق صرف په دې بناء نه کوی چه ابن حبان په ثقاتو کښې شمار کړې دې. تر څو چه دده غیر مجهول کیدل ثابت نه وی. به هرحال صحیح ابن حبان خو په دې لحاظ په مستدرك بې شکه فائق دې. چه ابن حبان د خپلو شرطونو پابندی کړې ده. خو دا شرائط دومره نرم دی چه حسن بلکه ضعیف احادیث هم د صحیح ترلاندې راځی نو دده ته خو په مستدرك اګرچه فوقیت حاصل دې. خو د نورو صحاح مجرده مقام ته نه رسیږی.

دریم کتاب: دریم کتاب صحیح ابن خزیمه دې. دې ته د صحت په یو اعتبار سره په صحیح ابن حبان فوقیت ورکړې شوې دې خو حافظ سخاوی په "فتح المغیث" کښې لیکی چه د صحیح ابن خزیمه ټول احادیث صحیح نه دی بلکه بعضې احادیث په کښې ضعیف هم شته مثلاً دې کښې یو حدیث مروی دې. ((عن کثیر بن عبدالله المزنی عن ابیه عن جده قال سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم عن هذه الآیة ((وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّىٰ)(الأعلى: ۱۵))) قال

---

(۱) تدریب الراوی ۱۰۸\۱

انزلت فی زکوة الفطر))
خو حافظ منذری په ترغیب او ترهیب کښې[۱] دا حدیث د صحیح ابن خزیمه په حواله سره نقل کولونه پس فرمائی چه [کثیربن عبدالله واه] حافظ سخاوی داسې څو مثالونه نور هم ورکړې دی. د دې وجې دې څخه ثابته شوه چه صحیح ابن خزیمه صحیح مجرده ګرځول د دې مؤلف دزعم مطابق دې په نفس الامر کښې ددې بعضې احادیث ضعیف دی.
حافظ ابن فهد مالکی رحمه الله په "لحظ الالحاظ فی طبقات الحفاظ" کښې د حافظ ابن حجر رحمه الله تذکره کښې لیکی چه د صحیح ابن خزیمه درې حصې د حافظ ابن حجر د وخت نه وړاندې نایاب شوې وې. اوصرف یو څلورمه حصه ملاویده حافظ سخاوی په "فتح المغیث" کښې لیکی چه دا څلورمه حصه هم زمونږ په زمانه کښې ډیره نایابه ده. دې نه پس څو کالو پورې ددې کتاب هیڅ څه پته نه لګیده.
څلورم کتاب المنتقی: دا د ابو محمدبن الجارود کتاب دې چې د څلورمې صدئ هجری تصنیف دې. او ددې اکثر احادیث صحیح دی البته د شمیر په یوڅو احادیثو تنقید شوې دې خو دا یو مختصر کتاب دې اودې کښې زیات هغه احادیث دی چه کوم صحیحینو کښې مروی دی. تقریباً دا حال د المنتقی للقاسم بن اصبغ هم دې.
شپږم کتاب المختاره: دا د ضیاء الدین المقدسی کتاب دې. چه د اوومې صدئ هجرئ تصنیف دې دا د حروف تهجی په اعتبار سره د صحابؤ په ترتیب مرتب دې اوضخیم کتاب دې. خود نفس الامر په اعتبار سره دیته صحیح مجرد وئیل مشکل دی ځکه چه دې کښې هم غیرصحیح احادیث راغلې دی. اګرچه دهغې تعداد ډیر کم دې.
اووم کتاب صحیح ابن سکن: دا کتاب صحیح ابن سکن دې. د مذکوره تفصیل څخه دا ثابته شوه چه د طبقهٔ اولی په کتابونو کښې صرف بخاری او مسلم داسې دی چه دوئ ته دنفس الامر په اعتبار سره صحیح وئیلې شې. باقی یو کتاب ددې درجې نه دې. د حدیثو د باقی کتابونو په باره کښې دا ضرور وئیلې شی. چه دا د دوئ د مؤلفینو په نیز صحیح دی. او ډیر کرتې د حدیث د تصحیح او د تضعیف په باره کښې د محدثینو اختلاف پیدا کیږی داسې صورت کښې ددې حضراتو تصحیح قابل لحاظ وی.
دویمه طبقه: دې طبقه کښې هغه کتابونه راځی چه دهغې مؤلفینو دا التزام کړې وی چه یو حدیث به د درجې د حسن څخه کم نه راوړی. او که یو حدیث ضعیف راشی نو دوئ د هغې په ضعف تنبیه ورکوی. د دې وجې چه د کوم حدیث څخه دا خلق سکوت او خاموشی اختیار کړی نو دا به کم از کم د دوئ په نیز صحیح وی.

[۱] ((الترغیب والترهیب" الجزء الثانی ۱۵۲\ الترهیب فی صدقة الفطروبیان تاکیدها رقم الحدیث ٤\

په دې طبقه کښې د ټولو څخه اعلی کتاب: په دې طبقه کښې د ټولو څخه اوچت مقام د سنن نسائی دې چنانچه دې کښې داسې حدیث نشته کوم چې د امام نسائی په نیز د حسن څخه کم وی مګر دا چه دوئ پخپله ددې دضعف تصریح کړې وی

په دې طبقه کښې د دویم نمبر کتاب: په دویم نمبرسنن ابی داؤد دې په دې کښې هم ابوداود چه په کوم حدیث سکوت اوکړی هغه ددوئ په نیز قابل استدلال وی التبه بعضې وخت د حدیث په سند کښې معمولی ضعف وی خو امام ابوداود ددې پروا نه ساتی اوپه دې سکوت کوی د ابوداود تلخیص حافظ منذری لیکلی دی په هغې کښې دې دغه معمولی ضعف هم بیانوی دې وجې چه په کوم حدیث د ابوداؤد څخه علاوه منذری پرې هم سکوت کړې وی ددې درجه د قوت زیاتیږی

د ابوداود څلور قسمه احادیث: حافظ ذهبی لیکی چه ابوداؤد کښې

① تقریبًا نیم احادیث خو هغه دی چه د هغې تخریج شیخینوهم کړې دې

② اوبعضې احادیث هغه دی چه ((علی شرط الشیخین یاعلی شرط احدهما)) دی

③ او بعضې احادیث داسې دی چه هغې کښې دیوراوی په حافظه کښې کمې موندلې کیږی چه دهغې دوجې دې د صحیح د مرتبې څخه راښکته شی اوحسن کښې داخل شی په دې دریو واړه قسمونو امام ابوداود عام طور سکوت کړې دې

④ البته څلورم قسم دهغه احادیثودې چه هغې کښې واضح ضعف اونکارت وی داسې احادیثوباندې امام ابوداؤد عام طور سکوت نه کوی البته شاذونادر په یوموقع کښې په داسې حدیث څکه سکوت کوی او کلام پرې نه کوی چه ددهغې نکارت بې حده مشهور وی

اشکال: دلته دا اشکال واردیږی چه دفقهی اختلافاتوپه مباحثوکښې ډیرکرتې په مشاهده کښې راغلې ده چه بعضې ائمه دهغه احادیثوپه سند هم کلام کوی اوپریږدی ئې چه هغه ابوداؤد په سکوت سره روایت کړی وی؟

جواب: ددې جواب دا دې چه د ابوداؤد سکوت صرف د دې خبرې علامت دې چه دا حدیث د ابوداؤد په نیز قابل استدلال دې خو یو محدث چه په علوم حدیث کښې د اجتهاد په درجه فائزوی دابوداؤدد رائی څخه اختلاف کولې شی

په دریمه درجه کښې جامع کتاب: په دریمه درجه کښې جامع ترمذی دې هغه په دې لحاظ د حدیثو په ټولوکتابونو کښې منفرد دې چه دې کښې د هر حدیث سره د ده د صحت مرتبه هم صراحة بیان شوې ده. چنانچه امام ترمذی رحمه الله یو ضعیف حدیث هم بغیر د تنبیه علی الضعف نه ذکرکوی.

دامام ترمذی په تحسین اوتصحیح کښې تساهل: البته بعضې عالمان دې دتحسین اودتصحیح په مقابله کښې نسبة متساهل ګرځوی. دهغې وجه دا ده چه دوئ د بعضې داسې احادیثو تصحیح یاتحسین کړې دې چه دنوروپه نیز ضعیف دی.

سنن دارمی لره په دې طبقه کښې په شاملولو کښې اختلاف: دا درې واړه کتابونه په اتفاق سره په دویمه طبقه کښې شامل دی. بعضې حضراتو دې کښې سنن دارمی هم داخل کړې دې. او بعضودا په دریمه طبقه کښې شمیرکړې دې.

د مسند احمد په دې طبقه کښې شاملولو کښې اختلاف: او شاه ولی الله فرمائی چه مسند احمدهم دې طبقه کښې شامل دې یعنی دې کښې هیڅ یو حدیث د حسن څخه کم نشته خو د حضرت شاه صاحب دا ارشاد صحیح نه دې. حقیقت دا دې چه د مسند احمد ډیر روایات ضعیف اومنکردی. د دې وجې بعض عالمانودا په طبقه ثالثه کښې شمارکړې دې. اوحقیقت هم دا دې.

تنبیه: دلته دا خبره خیال کښې اوساتئ چه دا اختلاف د اصل مسندپه باره کښې دې د مسنداحمدیو حصه زیادات هم ده کومه چه ددوئ دوفات نه پس ددوی ځوئ عبدالله ابن احمدجمع کړې ده او د مسندسره ئې لګولې ده. ددې حصې په باره کښې اتفاق دې چه دا په دریمه طبقه کښې شامل ده یعنی دې کښې احادیث ضعیفه هم شته.

دریمه طبقه : دې طبقه کښې هغه کتابونه راځی کومو کښې چه هرقسم احادیث وی، صحیح او حسن هم اوضعیف اومنکراوموضوع دې. ددې طبقې دکتابونو مختصر تعارف ضروری دې.

① **سُنن ابن ماجه :** دا اګرچه صحاح سته کښې شامل دې خودې کښې د ضعیف اود منکر احادیثو تعداد ډیر زیات دې تردې چه دې کښې کم نه کم نورلس ۱۹ احادیث موضوع هم دی. په دې وجه د عالمانویوې لوې ډلې دا په صحاح کښې شامل کړې نه دې. ددې په ځائې یې موطاء امام مالك شامل کړې دې اوبعضو سنن دارمی.

② **سُنن دارقطنی:** دا د امام ابوالحسن دارقطنی تصنیف دې چه د لوې درجې حافظ دې. دوئ دې کتاب کښې دهر فقهی باب ترلاندې ټول متعلقه احادیث د متن اود سند سره د جمع کولو اهتمام کړې دې. د دې وجې دا کتاب د احکامو د احادیثو جامع ذخیره ده. امام دارقطنی دهرحدیث سره ددې په سندمختصرکلام هم کړې دې. دې کښې هم هر قسم رطب یابس احادیث شته خوعام طور امام دارقطنی د احادیثوپه ضعف تنبیه ورکوی. په دې کتاب مولاناشمس الحق عظیم آبادی [چه مشهور اهل حدیث عالم دې] یوحاشیه لیکلې ده چه د هغې نوم ((التعلیق المغنی علی سنن الدارقطنی)) دې د امام دارقطنی څخه چه دکوم حدیث په سندپه کلام کولوکښې کمې راځی هغه عموماً دې پوره کوی. دا

حاشیه د اصل کتاب سره چاپ شوې ده.

③ **السنن الکبری للبیهقی:** امام بیهقی د امام دارقطنی شاګرد دې او دوی دا کتاب د فقه شافعی مشهور متن "مختصرالمزنی" په ترتیب لیکلې دې او دد وئ اصل مقصد د شافعی دلائل بیانول دی. نودې د خپلو مستدلاتو توثیق او د مخالفینو د دلائلو تضعیف اوتوهین کوی. په دې حافظ علاء الدین الماردینی چه د ابن الترکمانی په نوم مشهوردې یوه حاشیه لیکلې ده چه د هغې نوم "الجوهرالنقی فی الردعلې البیهقی" دې. دې حنفی المسلک دې اوعلم حدیث کښې ئې اوچت مقام حاصل کړې دې. د دې وجې د امام بیهقی په دلائلو مستحکم تنقید کوی او دې کښې د احنافو د دلائلو ډیره ښه ذخیره ملاویږی.

④ **مصنف عبدالرزاق:** دا د امام عبدالرزاق بن همام الصنعانی تالیف دې چه د امام ابوحنیفه رحمه الله شاګرددې اود امام بخاری استاذ دې.دې کښې دوئ د احادیث مرفوعه څخه علاوه د صحابؤ اودتابعینو فتاوی هم په کثرت نقل کړې دی. او دې کښې هر څنګه احادیث ملاویږی.

⑤ **مصنف ابن ابی شیبه:** دا د امام ابوبکربن ابی شیبه تالیف دې چه د صحاح سته په مؤلفینو کښې د زیاتو استاذ دې. او د ده طرزتالیف د مصنف عبدالرزاق پشان دې. دې دواړو کتابونو کښې د احنافو د دلائلو یوه لویه ذخیره ملاویږی.

⑥ **مسندالطیالیسی** رحمه الله : دا د امام ابوداود الطیالیسی تالیف دې چه د امام ابوداؤد سجستانی څخه وړاندې دې. بعضې حضرات فرمائی چه دمسند په تالیف کښې د اولیت شرف ده ته حاصل دې. خودا خبره صحیح نه ده. [1]

⑦ **سُنن سعیدبن منصور:** دې کتاب کښې معضل ومنقطع او مرسل احادیث ډیرموجود دی.

⑧ **مسندالحمیدی:** د دې مؤلف د امام بخاری استاذدې اود امام ابوحنیفه رحمه الله سخت مخالف دې.

⑨ **معاجم طبرانی:** ددوئ تعارف وړاندې تیر شوې دې.

په دې طبقه نور کتابونه: دا څوکتابونه هغه وو. چه ددوئ حوالې ډیرې راځی. د دې څخه علاوه نور زیات کتابونه هم په دې طبقه کښې داخل دی.چه هغې کښې ① مسند بزار② مسندابویعلی الموصلی ③ مسندعبدبن حمید ④ مسند احمدبن منیع ⑤ حلیة الاولیاء لابی نعیم ⑥ دلائل النبوة لابی نعیم ⑦وللبیهقی ⑧ مسندابن جریر⑨ اوددوئ تهذیب الاثار⑩ ⑪ تفسیرالقرآن ⑫ اوالتاریخ ⑬ تفسیرابن مردویه.

دغه شان دتفسیرډیرکتابونه هم په دې طبقه کښې داخل دی. البته تفسیر ابن کثیر

[1]) دتفصیل دپاره اوګوره "الرسالة المستطرفة _ "

مستثنی دي ځکه چه حافظ ابن کثیردحدیث محقق نقال دي. اودي عموماپه ضعیف احادیثو دتنبیه کولوعادی دي.

تنبیه: ددې دریمې طبقې کتابونوکښې دیوحدیث په لیدلوترهغې اطمینان نه دی کول پکارترکومې چه ددې د سند مکمل تحقیق اونشی اګرچه ددې مؤلف ډیرجلیل القدر وی.

څلورمه طبقه:

په دې طبقه کښې شامل کتابونه: دا هغه کتابونودی چه دهغې احادیث زیات ضعیف وی بلکه حضرت شاه عبدالعزیز خو تردې لیکلې دی چه ددې هرحدیث ضعیف دی.

① لکه د ابوعبدالله محمدبن علی بن الحسن بن بشر [1] چه دحکیم ترمذی په نوم معروف دي. ((نوادرالاصول فی احادیث الرسول الله صلی الله علیه وسلم))

② اودابن عدی "الکامل چه په شپیتو(۶۰) حصو مشتمل دي او دولسوجلدونوکښې دي دمرتضی په شرح قاموس کښې دی چه دا په اتو جلدونوکښې دې د جرحې په کتابونو کښې دکامل ابن عدی مقام ډیراوچت دې. اودا جامع ترین کتاب ګڼړلې کیږی. او ابن الرومیه ابوالعباس ابن طاهرددې احادیث دمعجم په ترتیب مرتب کړې دی. او ابن الرومیه ابوالعباس احمدبن محمدبن معرج الاموی الاندلسی الاشبیلی په الکامل "باندې حاشیه هم لیکلې ده چه د "الحافل فی تکملة الکامل" په نوم معروف ده. اوپه یوضخیم جلدباندې مشتمل ده.

③ دغه شان "کتاب الضعفاء للعقیلی"

④ دعلامه دیلمی رحمه الله مسندالفردوس " چه هغې کښې ئ لس زره (۱۰۰۰۰) مختصر قولی احادیث د حروف تهجی په ترتیب جمع کړی دی.

⑤ اودعلامه سیوطی "تاریخ الخلفا"

⑥ دحافظ ابن عساکرتاریخ دمشق" چه په اتیاجلدونوکښې دي.

⑦ اودخطیب بغدادی تاریخ بغداد چه تقریباپه شلو جلدونوکښې دي. داټول کتابونه هم په ددې طبقې کښې راځی.

داول الذکر درې کتابونوباره کښې تبصره: ترکومې چه د اول الذکر یعنی دنوادر الاصول للحکیم الترمذی رحمه الله اودالکامل لابن عدی اودکتاب الضعفاء للعقیلی رحمه الله تعلق دې ددې په باره کښې حضرت شاه عبدالعزیز صاحب دا فرمائیل "ترډیرحده صحیح ده چه ددوئ هرحدیث ضعیف دي" د دې وجه دا ده چه دې حضراتودا کتابونه د ضعیف راویانوپه تذکره کښې لیکلې دی. او د دوی احادیث ئې هم بیان کړې دی نوظاهره ده. چه ددوئ هر[illegible] یث به ضعیف وی. تر هغه وخت چه د صحت به قوی دلائلو سره ثابت نه شی

---

[1] اللمؤذن الصوفی احد الاوتاد الاربعة وصاحب التصانیف المتعددة مقتولا ببلخ قبل سنة خمس وتسعین ومائتین۔

د مؤخر الذکر څلورو کتابونو باره کښې تبصره: خو د باقی کتابونوپه باره کښې د حضرت شاه صاحب د قول مطلب غالبًا دا دې چه دې کتابونوکښې هغه روایات ضعیف دی کوم چه ددې کتابونوڅخه علاوه په نوروکتابونوکښې مروی نه وی ګنی دې کښې بعضې احادیث داسې هم شته چه صحاح سته کښې مروی دی داسې احادیثوته علی الاطلاق ضعیف نشی وئیلې کیدې

پنځمه طبقه:

داپه هغه کتابونومشتمل ده چه د موضوعاتوپه تذکره کښې لیکلی شوی دی لکه:

① "موضوعات کبری لابن الجوزی"

② الموضوعات للصنعانی

③ الالی الموضوعة للسیوطی

ددې په باره کښې ظاهره داده چه دا د موضوعاتومجموعې دی.

دعلم حدیث کثیرالتالیف مصنفین:

دحدیثودکتابونود طبقاتوسره د هغه عالمانو اود محدثینوحال معلومول هم ضروری دی چه کوم خپلوتصانیفوکښې احادیث په کثرت سره تعلیقا نقل کوی. مثلا امام غزالی، علامه ابن الجوزی، حافظ منذری حافظ ابن حجر، حافظ ذهبی علامه سیوطی، علامه ابن تیمیه، علامه ابن قیم، علامه قرطبی، علامه نووی

امام غزالی: ترکومې چه دامام غزالی تعلق دې هغه دکلام، تصوف، معقولات و او د اصول فقه امام دې. خود علم حدیث سره دده اشتغال ډیرکم پاتې شوې دې. دوی پخپله پخپل یوکتاب کښې ددې اعتراف داسې کړې دې "بضاعتی فی الحدیث مزجاة" یعنی په احادیثو کښې زما سرمایه ډیره کمه ده. چنانچه امام غزالی رحمه الله په کثرت سره په خپلوکتابونوکښې ضعیف، منکر او موضوع احادیث ذکر کوی.

د احیاء علوم احادیث: خاص کر ددوئ مشهورکتاب احیاء العلوم الدین" کښې ډیرداسې احادیث ذکر دی چه دمحدیثنوپه معیارډیرکمزورې دی. د دې وجه ګنړو محدثینود احیاء العلوم د احادیثو تخریج هم کړې دې چه دې کښې د حافظ زین الدین عراقی تخریج ډیر مشهوردې.دې کښې ئې د داسې احادیثوپه سندکلام کړې دې. دغه شان علامه مرتضی زبیدی په، اتحاف السادة المتقین بشرح احیاء علوم الدین" کښې هم ددې احادیثوتخریج کړې دې اوپه دې احادیثوئې محدثانه کلام کړې دې.

علامه ابن جوزی: بل کثیرالتصنیف محدث علامه ابن الجوزی دې مخکښې بیان شوی دی چه دې د حدیث په تنقید کښې ډیرمتشدد دې. چنانچه په علم حدیث کښې ددوئ کتابونه د ضرورت څخه زیات متشدد دی. او دوئ ډیرصحیح احادیث هم موضوع

کرځولې دي. خو دا عجيبه خبره ده چه د خپل تشدد باوجود دوی چه د وعظ اونصيحت دپاره کوم کتابونه ليکلې دي. مثلاً تلبيس ابليس ذم الهوی او التبصره وغيره کښې د نقد حديث دغه معيار باقي پاتې نه دې، بلکه دې کښې ډير ضعيف منکر او موضوع احاديث بغير د څه تنبيه څخه يې هم ذکرکړی دی، د دې وجې ددوئ په کتابونو اعتماد صحيح نه دې

حافظ منذري: دريم کثيرالتصنيف عالم حافظ منذری دې. دا جليل القدر محدث دې اود حديث محقق نقال (نقل کونکې) دې. دې يو ضعيف حديث بغيردتنبيه څخه نه نقل کوی.د دې وجې د دوئ يو حديث بغيرد څه تنقيدنه نقل کول ددې خبرې دليل دې چه دا حديث د دوی په نيز قابل استدلال دې.

په ترغيب کښې يوه خاصه اصطلاح: خودوئ په خپل مشهورکتاب "الترغيب والترهيب" کښې يوخاص اصطلاح مقررکړې ده چه دهغې څخه د ناواقفيت په سبب اکثر خلق په دهوکه کښې پريوځی. هغه اصطلاح دا ده چه کوم روايت ددوئ په نيز صحيح يا حسن وی دا دې په لفظ د ،،عن،، سره روايت کوی. مثلاً عن ابی هريرة خو کوم حديث چې د دوی په نزد ضعيف وی هغه په رُوِيَ عن " سره روايت کوی مثلاً" ((روی عن ابن عمر كذا)) اوپه سند باندې څه کلام نه کوی چه کوم خلق ددې اصطلاح نه ناواقفه دی هغوئ دا دويم قسم احاديث هم په دې اعتمادقابل استدلال ګڼړی چه داحافظ منذری بغير دڅه کلام نه ذکرکړيدې حال دا دې چه هغه صحيح نه وی.

ابن حجر عسقلاني: څلورم کثيرالتصنيف عالم ابن حجرعسقلانی رحمه الله دې دا د حديثو امام او مشهور حافظ اونقاددې. عالمان ليکی چه ددوی کتاب فتح الباری او التلخيص الخبيرکښې چه کوم حديث بغيردڅه کلام څخه راشي نو داکم نه کم حسن ضروروی.

شمس الدين ذهبي: پنځم کثيرالتصنيف عالم حافظ شمس الدين ذهبی دی دا بې شکه د علم حديث بهترين نقاددې. د دی وجې ددوی په کتابونوکښې هم ديوضعيف حديث بغير د څه کلام نه راتللواحتمال ډيرکم دې. البته د دوی،،کتاب الکبائر،،کښې ضعيف احاديث هم راغلی دی

جلال الدين سيوطي: شپږم عالم علامه جلال الدين سيوطی دې، دې اګرچه په هرعلم اوفن کښې مجتهدانه مقام لری خودتصحيح احاديث په معامله کښې ډيرمتساهل دې. د دی وجې په علم حديث کښې د دوی لقب حاطب ليل مشهور دې. دی چه کله يوموضوع احاديث نقل کوی نو هرقسم رطب او يابس احاديث راوړی اوپه هغې څه تنقيدنه کوی. د دوی کتاب،،الخصائص الکبری،، او تفسير،،الدرالمنثور،، او ،،الاتقان فی علوم القرآن،، د هرقسم رطب او يابس احاديثومجموعی دی اګر چه دوی پخپله په ابتداء

دکتاب کښې دا لیکلي دی چه زه به دې کتاب کښې د کذاب یا د وضاع حدیث نه نقل کوم خود دې باوجود ذوی په ،،الجامع الصغیر،، کښې ډیر موضوع احادیث راوړیدې دی. تردې چه دې کښې ډیراحادیث داسې هم شته چه علامه سیوطی په،، اللالی المصنوعة،، کښې دا موضوع ګرځولی دی. اوس یا خو د دی وجه دا ده چه دوئ څخه یا خو سهوه شوې ده او یا روسته د دوی رائی بدل شوې ده. اودا خبره وړاندې ذکرشویده چه جامع صغیرکښې د هرحدیث سره چه صح،خ،یا د ض،کوم رموز لګیدلی شوی دی دا قابل اعتمادنه دی. محاکمه علامه عبدالروؤف مناوی په،،فیض القدیرشرح الجامع الصغیر،،کښې لیکلې دی چه دې کښې ډیر رموز د دوی څخه روسته خلقو لیکلی دی او چه کوم پخپله علامه سیوطی لیکلی دی په هغې کښې ډیر تحریف شوې دې.

علامه ابن تیمیه: اووم کثیرالتصنیف عالم علامه ابن تیمیه دې. دې د احادیثوپه معامله کښې د ضرورت څخه زیات متشدد دې اوصحیح اوحسن احادیث هم کله ناکله ضعیف ګرځوی. حافظ ابن حجر،،لسان المیزان،، کښې د یوسف بن حسین مطهرالحلی په ترجمه کښې لیکی چه علامه ابن تمیه په منهاج السنن کښې ډیر احادیثِ صحیح هم ناقابل استدلال ګرځولی دی.

علامه ابن قیم: اتم عالم علامه ابن القیم دې دا د علامه ابن تیمیه شاګرد او په علم حدیث کښې د اوچت مقام حامل دې زیات د احادیثو نقل کولوکښې د صحت اهتمام کوی خوکله د ضعیف احادیثونه صرف توثیق کوی بلکه دا د متواتر په شان قطعی ګرځوی اوکلهِ قابلِ استدلال احادیث هم ضعیف ګرځوی.

علامه قرطبی: نهم عالم علامه قرطبی دی ددوې په باره کښې عبدالفتاح ابوغده الحلبی د ،،الاجوبة الفاضلة،،په حاشیه کښې لیکی چه ددوی طریقه دا ده چه دې کوم حدیث قابل اعتمادګنړي. هغه د حوالې سره ذکرکوی اود چه کوم په باره کښې دوی ته شك وی نوهغه بغیرد حوالې څخه ذکرکوی د دې وجې د ده په دویم قسم احادیثو بغیر د تحقیق څخه اعتمادکول نه دی نه پکار.

علامه نووی: لسم عالم علامه نووی دی. دې د احادیثوپه معامله کښې ډیرمحتاط دې عام طور ضعیف اوموضوع حدیث بغیردتنبیه څخه نه ذکرکوی.چنانچه د حدیث په معامله کښې ددوی په کتابونواعتمادکیدې شی. البته،،کتاب الاذکار،،دې څخه مستثنی دې ځکه چه دې کښې ضعیف احادیث هم شته.

نوټ: آخر کښې دا هم یاد ساتل پکار دی چه د وعظ،تصوف،تاریخ، سیر، علامات قیامت، بدء الخلق اوتفسیر وغیره روایاتو کښې عام طور ضعیف او موضوع احادیث ډیرزیات وی نوپه دې ابوابو کښې پورا احتیاط او تحقیق کول پکار دی.

د راویانو طبقات:

د راویانو دوه قسمه تقسیم: دحدیث د راویانو طبقات په دوهٔ مختلفو حیثیتونو سره بیان کړې شوی دی.

① د راروېانو د قوت حفظ اود شیخ د صحبت په اعتبارسره

② د دوئ د زمانی او دتاریخ په اعتبارسره

اول تقسیم: په ړومبنی حیثیت سره د راویانو پنځه طبقی دی. زمونږ د علم مطابق دا پنځه طبقات دټولو څخه ړومبې علامه ابوبکرحازمي رحمه الله په خپل کتاب، شروط الائمة الخمسة، کښې ذکرکړیدی هغه پنځه طبقات دا دی

① **قوی الضبط، کثیرالملازمة** یعنی چه حافظه ئې هم قوی وی ا و د خپل استاذ او شیخ سره ئې صحبت هم زیات تیر کړی وی

② **قوی الضبط قلیل الملازمة** چه حافظه ئی قوی وی خو د استاذ او د شیخ سره ئې صحبت زیات نه وی تیر کړې

③ **قلیل الضبط کثیرالملازمة:** چه حافظه ئې کمزورې وی خود استاذ او د شیخ سره ئې صحبت زیات تیر کړی وی.

④ **قلیل الضبط قلیل الملازمة:** چه حافظه ئې هم کمزورې وی اود شیخ سره ئې صحبت هم کم کړی وی

⑤ **الضعفاء والمجاهیل.** په دې طبقه کښې ضعیف او مجهول راویان وی.

د صحاح سته استنادی مراتب:

ددې پنځو طبقاتو په اعتبارسره دصحاح سته استنادی درجه متعین کړې شوې ده.

① د امام بخاری رحمه الله معمول دا دی چه مستقلا صرف د ړومبئ طبقې احادیث نقل کوی البته کله کله د استشهاد په طور د دویمې طبقې حدیث هم نقل کوی د دې وجې د صحت په اعتبارسره د دوی جامع په ټولو مقدم دې

② امام مسلم د ړومبو دواړو طبقوڅخه خو بلاتکلفه روایات نقل کوی البته دوی کله کله شاذ اونادر په طور د استشهاد د دریمې طبقې څخه هم روایات نقل کوی.

③ امام نسائی د اولنو دریو طبقوڅخه مستقلا روایات نقل کوی په دې وجه د دوی کتاب په دریم نمبرکښې دې

④ امام ابوداود دړومبودریوطبقوڅخه مستقلا اود استشهاد په طور د څلورمې طبقې روایات هم ذکرکوی. د دې وجې د دوی سنن په څلورم نمبر دې

⑤ امام ترمذی څلورمه طبقه مستقلا اوپه بعضې مقاماتوکښې د پنځمې طبقې څخه هم

روایات نقل کوی د دې وجې د دوی دکتاب پنځم نمبر دی
⑥ امام ابن ماجه دپنځو واړو طبقاتو روایات بلاتکلفه اومستقلا نقل کوی د دې وجې دې به شپږم نمبر دی لهذا د قوت سند په اعتبار سره د صحاح سته مراتب په لاندینی ترتیب سره دی
① صحیح بخاری ② صحیح مسلم ③ سنن نسائی ④ سنن ابي داؤد ⑤ جامع ترمذی
⑥ سنن ابن ماجه

په ابن ماجه تبصره: په ابن ماجه کښې د ضعیف اود منکرروایاتویوه لویه برخه ده بلکه دې کښې بعضې موضوع روایات هم شته چې د هغې تعدادبعضو اوولس بعضونورلس بعضویوویشت اوبعضو پنځویشت ښودلې دی. ددې وجې د محدثینویوه طبقه داپه صحاح کښې نه شماری بلکه ددې په ځائې موطاء امام مالك اوبعضې مسند دارمی شماری. خو د ابن ماجه دحسن ترتیب په بناء دجمهورو رجحان دې ته دې چه دا په صحاح کښې شامل دې د راویانودا طبقات د اسناد د معیار په اعتبارسره وو.

په تاریخی لحاظ سره د راویانو تقسیم:
په تاریخی اعتبارسره د راویانو دولس طبقات مقرر شوې دی اوچه کله د رجالو په کتابونوکښې دراوی طبقه بیانیږی نو دې ځخه مراد دا تاریخی طبقات وی دا تاریخی طبقات دټولوځخه ړومبې حافظ ابن حجرپه " تقریب التهذیب " کښې بیان کړی دی. روستنوحضراتوددوی اتباع کړې ده هغه طبقات دا دی.
① **طبقة الصحابة:** په دې کښې د مرتبو د فرق ځخه بغیر ټول صحابه کرام داخل دی
② **طبقة التابعین:** په دې کښې جلیل القدر تابعین شامل دی لکه حضرت سعیدبن المسیب وغیره
③ **الطبقة الوسطی من التابعین:** په دې کښې د تابعینو درمیانه راویان شامل دی لکه حسن بصری رحمه الله اومحمدبن سیرین رحمه الله وغیره
④ **د درمیانه ځخه روسته طبقه:** دا د راویانو هغه طبقه ده چه د هغوی روایات د صحابه کرامو ځخه کم اود کبارتابعینوځخه زیات وی لکه امام زهری رحمه الله قتاده وغیره.
⑤ **الطبقة الصغری من التابعین:** دا د تابعینو هغه طبقه ده چه دوی دیویا ددوؤ صحابؤ زیارت کړې وی خو دوی ځخه ئې روایت نه وی نقل کړې لکه سلیمان الاعمش.
⑥ **الطبقة الأخیرة من التابعین:** دا هغه تابعین دی چه د پنځمې طبقې معاصرین دی. خو دوئ د صحابی زیارت نه وې کړې لکه ابن جریج په حقیقت کښې دا تابعی نه دی خودتابعینود معاصرکیدو د وجې دوئ دتابعینوپه طبقات کښې شمارلې کیږی.

⑦ **طبقة کبار آتباع التابعین:** په تبع تابعینو کښې د اکابرینو طبقه لکه امام مالك او سفیان ثوری.
⑧ **الطبقه الوسطی من آتباع التابعین:** په تبع تابعینو کښې درمیانه طبقه لکه اسماعیل بن علیه اوسفیان بن عیینه.
⑨ **الطبقه الصغری من اتباع التابعین :** په تبع تابعینو کښې وړه طبقه لکه امام شافعی امام عبدالرزاق وغیره.
⑩ **اخذ الاکابر عن تبع الاتباع:** د تبع تابعینو څخه د اکابرینو روایت کونکو طبقه لکه امام احمدبن حنبل رحمه الله وغیره.
⑪ **الطبقة الوسطی منهم** :دتبع تابعینو څخه روایت کونکو کښې درمیانه طبقه لکه امام بخاری رحمه الله امام ذهلی وغیره.
⑫ **الطبقة الصغری منهم** :د تبع تابعینو څخه روایت کونکو کښې صغری طبقه لکه امام ترمذی رحمه الله او ددوئ معاصرین.
دې دولسوطبقوکښې د ړومبې دوه طبقوزیات راویان د ړومبئ صدئ هجرئ دی. او د دریمې طبقې څخه تر داتمې طبقې پورې زیات رایان د دویمې صدئ هجرئ دی. او د نهمې طبقې څخه تردولسمې پورې راویان د دریمې صدئ هجری دی.
د طبقاتو د تقرر فائده: ددې طبقاتوپه مقررکولو سره داسماء الرجال مصنفینوته اسانتیا شوه ځکه چه د کتب الرجال د مصنفینو دستور دې چه دوئ د هر راوی سره د ده د استاذانو او شاګردانو یو اوږد فهرست نقل کوی.د استاذانوپه ذکرکښې د دوئ عبارت داسې وی:((روی عن فلان وعن فلان)) او دشاګردانو تذکره کښې ددوئ عبارت داسې وی:((روی عنه فلان وفلان))خو چه کله څخه مختصرکتب رجال اولیکلې شو. نو په هغې کښی د استاذانو اود شاګردانو د اوږد فهرست په ځائې دراوی صرف په تاریخی طبقه بیانولو باندې اکتفاء کولې شی، دا طریقه دټولوڅخه ړومبئ حافظ ابن حجر په، ،تقریب التهذیب ' کښې شروع کړې ده. روستنوحضراتو ددوئ تابعداری کړې ده. د دې وجې اوس صرف د راوی سره دومره لیکل کافی دی. ((ثقة من الثالثة)) وغیره یعنی دې دمتوسط تابعینوڅخه دې. د استاذانو او شاګردانو د طویل فهرست لیکلو ضرورت پاتې نشو.

د حدیث د تحمل (حاصلولو) کولو قسمونه:

دشیخ څخه احادیث حاصلولوته د محدثینو په اصطلاح کښې ' تحمل ' وائی. او د دې پنځه قسمونه دی. ددې قسمونو مختصر تعارف لاندې بیانولی شی. اګرچه عام طور د دې

اته قسمونه دی. یعنی درې په کښې مزید دا دی (۸ اقسام هې اجازت، وصیت، اعلام)

① **السماع:** ددې مطلب دا چه استاذ حدیث وائی او شاګرد ئې اوری دې صورت کښې شاګرد ته د ،،حدثنی" اخبرنی،، سمعت فلانایقول،، صیغو وئیلواجازت دې.بیا دې کښې اختلاف دې چه دې کښې کومه صیغه افضل ده. بعضې حضرات د" سمعت" صیغې ته ترجیح ورکړې ده. اوبعضې "حدثنی" ته.

② **القراة علی الشیخ:** یعنی چه شاګرد حدیث وائی.او استاذ ئې اوری. دې صورت کښې هم د شاګرد دپاره د استاذ څخه روایت جائزدې.اودې کښې د " اخبرنی " انبانی " اوقرآت علیه" صیغې استعمالیږی. که جماعت دیوڅخه زیاته وی نو " اخبرنا " او انبانا" وئیل پکار دی. بعضې حضرات دې دواړوکښې هم فرق بیانوی چه جماعت کښې کوم شاګرد لولی هغه به اخبرناوائی اوچه کوم شاګرد اوری هغه به "انبانا" وائی. د ،،انبانا،، په صورت کښې د" قرآت علیه" وانا اسمع" الفاظو اضافه مستحسن ده بیا دې کښې اختلاف دې چه " سماع او" قرآءت علي الشیخ،، کښې کومه طریقه افضل ده. د امام مالك رحمه الله اود امام شافعی رحمه الله څخه منقول دی چه دوی سماع ته افضل وائی. اود امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز" قرآءت علی الشیخ،، افضل دې. د دې وجه دا ده چه دې صورت کښې احتیاط اوثبت زیات دې ځکه که شاګرد څه غلطی کوی نواستاذ د ده اصلاح کولې شی. حافظ سخاوی رحمه الله قول فیصل بیان کړې دې چه اصل څیز د خطاء د امکان څخه بچ کیدل دی.اودا څیز چه په کومې طریقه کښې زیات حاصلیږی هغه افضله ده.او د حالاتوپه اعتبارسره کله دا خبره په سماع سره حاصلیږی اوکله په قراءت سره.

③ **المراسلة یا المکاتبة:** یعنې په خط کښې لیکل اوچاته روایت لیږل دې کښې اختلاف دې چه داسې صورت کښې شاګرد لره روایت کول کله جائزکیږی د بعضې حضراتو په نیز چه ترڅودشیخ څخه دروایت ښکاره اجازت نه وی. شاګرد دپاره روایت کول جائز نه دی. خومعتمده خبره دا ده چه که شاګرد د شیخ خط پیژنی نو روایت جائز دې که د اجازت تصریح وی اوکه نه البته دې صورت کښې د"اخبرنی" یا د" حدثنې،، صیغه نشی استعمالولې بلکه،،کاتبنی یاکتب الی،، الفاظ به استعمالوی.

④ **المناولة :** یعنی شیخ د خپلو مروياتویوه مجموعه شاګرد ته حواله کړی بعضې حضرات دې څخه د روایت کولودپاره هم د شیخ ښکاره اجازت ضروری ګرځوی. خو دلته هم قول فیصل دادې چه د صریح اجازت ضرورت نشته که د شاګرد اعتماد وی چه استاذ دا مجموعه د روایت کولودپاره راکړیده نودې روایت کولې شی البته دلته هم اخبرنی" یا حدثنی وئیل جائز نه دی بلکه" ناولنی" وئیل پکار دی.

⑤ **الوجادة:** یعني دیوشیخ د مرویاتومجموعه د شیخ څخه علاوه په بله څه طریقه ملاویدل په دې باره کښې د اکثرو حضرات محدثینو مسلك دا دې چه دې څخه روایت جائزنه دې ځکه چه ممکن ده چه د شیخ دا مجموعه د موضوعاتو یا د معلولاتو د یادولودپاره تیاره کړې وی بعضې حضرات دې څخه هم روایت جائز ګڼړی اوفرمائی چه دې صورت کښې د شیخ په خطاکه اعتماد وی نو په ((وجدت خط فلان)) سره روایت کښې څه حرج نشته.

د احادیثو دتصحیح اودتضعیف اُصول اوقواعد:

اګرچه د احادیثوتصحیح اوتضعیف یومستقل فن دې کوم چې علم اصول حدیث او جرح اوتعدیل کښې مدون شوې دې اودلته ددې پوره تفصیل بیانول ممکن نه دی خودې سلسله کښې څوقواعدبیانیږی کوم چه عام طور د خلقو د نظر څخه پناه وی او د حدیث په بحث کښې د هغې ضرورت پیښیږی. او د هغې څخه د جهالت په وجه خلق په احنافو دا اعتراض کوی چه د احنافو زیات مستدلات ضعیف دی.

اولنۍ قاعده: صحیح احادیث صرف په صحیحینو کښې منحصر نه دی : بعضې خلق دا خیال کوی چه صحیح احادیث صرف په بخاری اومسلم کښې منحصردی دغه شان د بعضې خلقو خیال دا دې چه کوم حدیث صحیح نه وی هغه به خامخا کمزورې وی او په هیڅ حال کښې هم د صحیحینو دحدیث مقابله نشې کولې، حال دا دې چه دا خیال بالکل غلط دې ځکه چه د حدیث د صحت اعتبارپه بخاری یاپه مسلم کښې په کیدوباندې نه دې بلکه د صحت اعتبار د هغې په خپل سند دې. پخپله امام بخاری فرمائی چه ما په خپل کتاب کښې د صحیح احادیثو استیعاب نه دې کړې. د دې وجې دا ممکن ده چه یو حدیث په بخاری کښې نه وی. خوهغه دې د سندد صحت په اعتبارسره دصحیحینود حدیث څخه هم اوچت وی. مثلاً مولانا عبدالرشیدنعمانی رحمه الله، «ماتمس الیه الحاجة»، کښې د ابن ماجه بعضې داسې روایات نقل کړې دی. چه د هغې په باره کښې د محدثینوفیصله دا ده چه د هغې سند دبخاری د سند څخه هم افضل دې او صحیحینوته چې ((اصح الکتب بعد کتاب الله)) وئیلې کیږی نوداپه مجموعی اعتبارسره دې د هریوحدیث په اعتبارسره نه وئیلې کیږی. د دې مسئلې دزیات تفصیل دپاره دعلامه ظفراحمدعثمانی صاحب رحمه الله ((انهاء السکن الی من یطالع اعلاء السنن)) دکتوقابل دې.

دویمه قاعده: تصحیح اوتضعیف د یوې زمانې پورې مخصوص نه دې: د احادیثو تصحیح او تضعیف ډیرنازك کاردې د دې دپاره د ښه وسیع اوعمیق علم ضرورت دې، د دې وجې ددې اهل هغه خلق دی کوم چې په دې علم کښې د اجتهادپه درجه فائز وی، ددې وجې

حافظ ابن صلاح په خپله مقدمه کښې دا خيال ظاهرکړې دې چې د پنځمې صدئ هجرئ څخه پس چاته دا حق نشته چه هغه دې د يوحديث دنوې سره څخه تضعيف ياتصحيح اوکړې خو جمهورو د دې خيال مخالفت کړې دې. اومحققه خبره داده چه تصحيح او تضعيف يوې زمانې پورې مخصوص نه دې بلکه دعلم اودفهم مطلوبه شرائط چه چا کښې هم وي هغه دتصحيح اودتضعيف فيصله کولې شي لکه دپنځمې صدئ هجرئ څخه پس ډيروعالمانو دتصحيح اودتضعيف کار کړې دې او دا امت معتبر ګڼړلې دې مثلاً حافظ ذهبي، حافظ ابن حجر رحمه الله، علامه عيني رحمه الله، حافظ سخاوي رحمه الله، حافظ زيلعي رحمه الله اوحافظ عراقي پشان محدثين چه دپنځمې صدئ هجرئ څخه روستنی دی او ددوئ تصحيح او تضعيف معتبر دې آخرى دور کښې حضرت علامه انور شاه کشميرى رحمه الله هم په دې منصب فائز وو.

دريمه قاعده: په تصحيح او تضعيف کښې اختلاف: بعضې وخت ديو حديث يا د يو راوى په باره کښې د عالمانو مختلف اقوال ملاويږى بعضې حضرات دده تضعيف کوى اوبعضې توثيق. سوال دا دې چه په داسې موقع باندې به د چا قول اختيارولې شي ؟ د دې سوال جواب حضرت مولاناعبدالحى په "الاجوبة الفاضلة" کښې په تفصيل سره ذکر کړې دې چه د هغې خلاصه دا ده چه دې اقوالوکښې دترجيح درې طريقې دی: [۱]

(ا) دمتساهل تصحيح به غيرمعتبر وى: دا ده چه که په دوؤ عالمانو کښې يوعالم دتصحيح په معامله کښې متساهل وى اوبل محتاط نود دويم په قول به عمل کيږى. مثلاًديوحديث حاکم تصحيح کوى اوحافظ ذهبى ورته ضعيف وائى نود حافظ ذهبى قول به معتبر وى ځکه چه حاکم متساهل دې دغه شان يوراوى ته ابن حبان ثقه وائى. اونور حضرات ورته غيرثقه وائى نود ابن حبان قول به معتبرنه وى ځکه چه دې مجاهيلُ هم ثقۆ کښې شمارى.

(ب) د متشدد تضعيف به غير معتبر وى: دويمه طريقه داده چه که دوه محدثين وى يو متشدد او بل معتدل نود دويم قول به معتبروى مثلاً ابن الجوزى ډيرمتشدد دې. او حافظ ابن حجر يا حافظ ذهبى معتدل دې. د دې وجه د ابن الجوزى په مقابله کښې به ددې دوؤ حضراتوقول معتبر وې.

څوک متشدد او څوک معتدل دی؟: مولاناعبدالحى لکهنوى رحمه الله دحافظ ابن حجر څخه نقل کوى چه د جرح اوتعديل امامانو کښې د زمانې په اعتبارڅلورطبقات دی. دې طبقاتو کښې ابن حجربيان فرمائى چه په دوى کښې کوم معتدل اوکوم متشدد دې؟

رومبۍ طبقه: د سفيان ثورى اود شعبه رحمه الله ده دوئ دواړوکښې شعبه اشد (سخت) دې.

---

[۱] ..الاجوبة الفاضلة " ۱۶۱\ نه تر ۱۸۰..

دویمه طبقه: دیحیی بن سعید القطان اوعبدالرحمن بن مهدي ده دي دواړوکښې یحیی اشد (سخت) دې.

دریمه طبقه: دیحیی بن معین اوعلي بن المدینی ده دي دواړوکښې یحیی بن معین اشد دې.

څلورمه طبقه: د ابن ابی حاتم او د امام بخاری ده دوئ کښې ابن ابی حاتم اشد (سخت) دې نوچه کله ددې حضراتو اختلاف راشی نو د اشدقول به پریخودې شی او د معتدل قول به اختیارولې شی.

نور متشددین: مولاناالکهنوی رحمه الله فرمائی چه دې حضراتو څخه روستو عالمانو کښې علامه ابن الجوزی رحمه الله، عمر بن بدرالموصلی علامه جوزقانی حافظ صنعانی او صاحب سفرالسعادة اوابوالفتح ازدی اوعلامه ابن تیمیه هم متشددین دی. د دې وجې د حافظ ابن حجر رحمه الله، حافظ ذهبی رحمه الله، حافظ عراقی رحمه الله اوحافظ زیلعی رحمه الله پشان معتدلو عالمانوپه مقابله کښې به ددوئ قول پریښودې شی.

③ **د قوی دلائلو قول اختیارول:** دریمه طریقه دا ده چه دفریقینوپه د لائلو غور اوکړې شی اوچه د چا دلائل قوی معلوم شی د هغه قول اختیار شی خو دا کار هغه کس کولې شی چه د چا د علم حدیث په متعلقاتومکمل عبوروی دمعتدل عالمانود اختلاف په صورت کښې دا دریمه طریقه اختیارولې شی یعنې که یوسړی کښې د دواړو فریقینو د دلائلو د موازنه کولو صلاحیت وی نوهغه دې موازنه اوکړی اویوقول ته دې ترجیح ورکړی نو چې د چا په قول ئې زیات اعتماد وی هغه دې اختیارکړی.

څلورمه قاعده: د یو مجتهد قول د بل مجتهد په مقابله کښې حجت نه دې: د احادیثو تصحیح یا تضعیف یو اجتهادی کار دې لکه چه محقق ابن همام ددې تصریح کړې ده.دې کښې د مجتهدینو آراء مختلف کیدې شی او داسې صورت کښې په یومجتهدهم ملامتیا نشته دغه شان دیومجتهدد یوحدیث څخه استدلال کول ددې خبرې دلیل دې چه دا حدیث دده په نیز قابل استدلال دې. د دې وجې دده په مقابله کښې د بل مجتهد دا قول وړاندې کول صحیح نه دی چه دا حدیث ناقابل استدلال دې ځکه چه دیومجتهدقول دبل مجتهدخلاف حجت نه دې.

پنځمه قاعده: ضعف په روستنۍ زمانه کښې راغلی وی: بعضې وخت داسې کیږی چه یومتقدم مثلاً امام ابوحنیفه رحمه الله ته یوحدیث بالکل په صحیح سندسره رسیدلې وی. خو ده څخه روستو د دې حدیث په سند کښې ضعیف راوی راغلې وی او روستو خلقو دې ضعیف ګرځوی ظاهره ده چه د روستنوخلقو دا تضعیف په امام ابوحنیفه رحمه الله حجت نشی جوړیدې. د احنافو څخه علاوه نورو عالمانوهم ددې قاعدې تصریح کړې ده، د دې وجې

دا ضروری نه ده چه یوحدیث د امام بخاری رحمه الله په زمانه کښې ضعیف شو هغه دې په پخوانۍ زمانه کښې هم ضعیف وی.

شپږمه قاعده :تصحیح او تضعیف یقینی نه دی: حافظ ابن صلاح په مقدمه کښې لیکلې دی چه کله مونږ یوحدیث صحیح اوګرځوو، نو د دې مطلب به دانه وی چه دا په نفس الامرکښې هم یقیناً صحیح دې بلکه مطلب دا دې چه دې کښې د صحیح هغه فنی شرائط موجود دی کوم چه محدثینو د صحیح دپاره مقرر کړی دی. د دې وجې ظن غالب به دا وی چه دا به په نفس الامرکښې هم صحیح وی ځکه چه په نفس الامرکښې د صحت یقین بغیردتواتر څخه نه وی.د دې وجې صحیح کښې دااحتمال شته چه نفس الامر کښې په دې کښې څه غلطی پاتې وی. ځکه چه خطا اونسیان دثقه څخه هم ممکن ده او د دې امکان شته چه یو راوی ته څه وهم شوې وی البته په دې احتمال عمل ترهغې جائزنه دې ترکومې چه ددې احتمال ثبوت په نورو قرائنواو قوی دلائلو سره اونشی.د دې وجې که دلائل قویه په دې خبره دلالت کوی چه دې حدیث صحیح کښې یو راوی ته وهم شوې دې. نودا حدیث به ترک کولې شی مثلاً دا چه زیات صحیح احادیث د دې معارض وی یا دا حدیث د قرآن کریم د یو واضح آیت خلاف وی دغه شان چه مونږ اووایو چه فلانې حدیث ضعیف دې نود دې مطلب به دانه وی چه نفس الامرکښې ضعیف دې. بلکه مطلب دا دې چه دې کښې د صحیح یا د حسن فنی شرائط نشته دهغې په وجه دې دومره قابل اعتماد نه دې. چه په دې دځه شرعی مسئلې بنیادکیښودې شی ګنې دا احتمال شته چه یوضعیف راوی بالکل رښتیا خبره نقل کړې وی ځکه چه ضعیف راوی همیشه غلطی نه کوی. خوپه دې احتمال عمل ترهغه وخته پورې جائز نه دې ترکومې چه په نورو قوی دلائل سره داثابته نشی. اوس ډیرکرتې داسې وی چه یو مجتهد سره داسې قوی دلائل وی چه دهغې په بناء دې ضعیف لره راجح اوګرځوی او یو صحیح حدیث ترک کړی نودې صورت کښې ده ته د صحیح حدیث تارك یا په ضعیف حدیث عامل نشې ګڼیلې دا خبره به یومثال سره واضح شی.

بغیردځه عذر څخه په حضرکښې جمع بین الصلاتین: امام ترمذی په خپل کتاب العلل کښې لیکلی دی چه ځما کتاب کښې دوه حدیثونه داسې دی چه په دې د هیڅ یوفقیه عمل نشته یود حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت ((قال جمع رسول الله صلى الله عليه وسلم بين الظهر والعصر وبين المغرب والعشاء بالمدينة من غير خوف ولا مطر الخ)) [1] حالانکه د سند په إعتبار سره دا حدیث قابل استدلال دې.

[1]) ترمذی ۱/۴۸ باب ماجاء فی الجمع بین الصلوتین

په څلورم ځل د شرابو په څکلو باندې قتلول: دويم حديث د امير معاويه رضي الله عنه دي «قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من شرب الخمر فاجلدوه فان عاد في الرابعة فاقتلوه»[1] حال دا دې چه دا حديث هم قابل استدلال دې او د دې دواړو حديثونو ظاهرپه اجماع دامت ترک شوې دې. ځکه چه نور دلائل قويه د دې معارض شته. خو د دې حديثونو دترک په بناء چا ته هم تارك السنة نه دی وئيلې شوې.

مشرک زوجين په سابقه نکاح برقرار ساتل: دغه شان امام ترمذی د ابن عباس روايت نقل کړې دې. «رد النبي صلى الله عليه وسلم ابنته زينب على أبي العاص بن الربيع بعد ست سنين بالنكاح الاول ولم يحدث نكاحاً»[2] د دې صريح تقاضا دا ده چه که يو مشرکه ښځه اسلام راوړې او د هغې زوړ خاوند شپږ کاله پس هم مسلمان شي نو دتجديد دنکاح ضرورت نشته حال دا دې چه په دې يوفقيه هم عمل نه دې کړې. چنانچه امام ترمذی ددې حديث دنقل نه پس فرمائی. «هذا الحديث ليس بأسناده بأس ولكن لا نعرف وجه الحديث ولعله قدجاء هذا من قبل داؤد بن الحصين من قبل حفظه» دلته امام ترمذی يوصحيح حديث د راوی دوهم احتمال لره دنورو دلائلو په وجه راجح ګرځولې دې.

په ضعيف حديث د امامانو عمل: ددې په عکس کله کله په ضعيف حديث دنورو دلائلو وجې عمل نه کيږی لکه هم دې باب کښې امام ترمذی دعمرو بن شعيب روايت نقل کړې دې «عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان رسول الله صلى الله عليه وسلم رد ابنته زينب على أبي العاص بن الربيع بمهر جديد ونكاح جديد» ددې حديث په باره کښې امام ترمذی ليکی. «هذا حديث في اسناده مقال والعمل على هذا الحديث عند أهل العلم الخ، ثم قال وهوقول مالك بن أنس والاوزاعي والشافعي وأحمد واسحاق» آيا ددې ټولو امامانو په باره کښې دا وئيلې شی چه دوی په ضعيف حديث باندې عمل کونکی دی. ظاهره ده چه ددې حضراتو دا حديث ځکه مختار ګرځولې دې چه د دې په نورو دلائلو سره تائيد کيږی. نو که امام ابوحنيفه رحمه الله په يومقام په ضعيف حديث د نورو دلائلو په وجه عمل اوکړی نو صرف هغه ولې دملامتيا نښه ګرځولې شی؟[3]

دا بحث په تفصيل سره دمولانا ظفر احمد عثمانی صاحب په کتاب، ،انهاء السنن، ، کښې کتلې شی.

---

[1]) ترمذی ۲۰۹/۱ ابواب الحدود باب ماجاء من شرب الخمر فاجلدوه فان عادفي الرابعة فاقتلوه
[2]) ابواب النكاح باب ما جاء في الزوجين المشركين يسلم احدها
[3]) باب ماجاء ان طلاق الامة تطليقتان_

اوومه قاعده: ضعیف په تعامل سره قابلِ استدلال گرځی: که یوضعیف حدیث موید بالتعامل وی یعنی د صحابوو او د تابعینو عمل ددې مطابق ثابت وی نودې د ضعف باوجود قابل استدلال گرځی ((کما صرح به الجصاص فی احکام القرآن وغیر واحد من المحدثین والاصولیین" امام جصاص په احکام القرآن کښې او ډیرو محدثینو او اصولینو د دې تصریح کړې دې

① مثلاً ((حدیث" طلاق الامة تطلیقتان وعدتها حیضتان)) یعنی د وینزې طلاق دوه دی او د دې عدت دوه حیضه دی.دا حدیث ضعیف دې خودتعامل د وجې قابل استدلال شو، چنانچه امام ترمذی ددې ترلاندې لیکی. ((حدیث عائشة رضی الله عنه حدیث غریب لانعرفه مرفوعاً الامن حدیث مظاهربن أسلم ومظاهرلایعرف له فی العلم غیرهذا الحدیث والعمل علی هذا عند أهل العلم من أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم وغیرهم))[1] یعنی د عائشې رضی الله عنها حدیث مونږ ته سوا د مظاهر بن اسلم د حدیث ځخه مرفوع معلوم نه دې.اود مظاهر په علم حدیث کښې د دې حدیث ځخه سوا بل حدیث نشته.اوپه دې حدیث باندې اهل علم د نبی کریم ﷺ د صحابوٗ کښې او د نورو کسانو عمل شته.

② دغه شان حدیث ((لاوصیة لوارث والقاتل لایرث)) [2] یعنی د وارث دپاره وصیت نشته.یعنی قاتل به میراث نه اوړی. د دې سندونه ضعیف دی خودتلقی بالقبول دوجې قابل استدلال گنړلی شویدی.

③ دغه شان حدیث ((هوالطهور ماؤه والحل میتته)) یعنی د سمندر اوبه پاکې دی او د دې مرداره حلاله ده. ډیرو محدثینو ضعیف گرځولې دې خودتلقی بالقبول د وجې قابل استدلال دې. ددې اصل مطابق امام ابوحنیفه او نور احناف کله داسې ضعیف احادیث اختیاروی چه مؤید بالتعامل وی که ضعیف حدیث په متعدد طرقو سره مروی وی نودې صورت کښې دا حسن لغیره اوقابل استدلال گنړلې شی.

اتمه قاعده: د شریعت د اصولو موافقت وجه د ترجیح ده که دوه قابل استدلال احادیثو کښې تعارض شی نودفقهاؤ او محدثینویوه ډله مطلقاً قوت د سند وجه دترجیح گرځوی او ((اصح مافی الباب)) اختیاروی. خودامام ابوحنیفه مسلك په داسې مواقع کښې دا دې چه دې هغه حدیث لره ترجیح ورکوی چه دقرآن یا د شریعت دکلی اصولو موافق وی اگرچه هغه د قوتِ سند په بناء راجح نه وی والله سبحانه اعلم.

[1] ترمذی جلد اول ابواب الطلاق باب ماجاء ان طلاق الامة تطلیقتان
[2] ترمذی ۱۲-۲ ابواب الفرائض باب ماجاء فی ابطال میراث القاتل عن ابی هریرة مرفوعاً۱۲_

د قواعدو د حفظ فائده: که دا قواعد په ذهن کښې وی نو ډېرو اعتراضونو جوابونه به معلوم شی کوم چه عام طور په حنفیانو باندې کیږی.

اصحاب الحدیث او اصحاب الرائی څوک دی؟

د متقدمینو د زمانې څخه د دوؤ مختلف قسم عالمانو د پاره دا اصطلاحات معروف دی. چه یو طبقې ته اصحاب الحدیث او بلې طبقې ته اصحاب الرائی وائی بعضې معاندین دې ته داسې شهرت ورکوی چه اصحاب الحدیث هغه دی چه دوی صرف د حدیث اتباع کوی او قیاس او رائی د دې مقابله کښې ترک کوی. د عهد حاضر بعضو مستشرقینو هم دې خیال ته شهرت ورکړې دې. حال دا دې چه دا خبره د حقیقت څخه بلکل خلاف ده او دا دواړه طبقې اُصولی طور څخه لوې اختلاف نه لری، نه اصحاب الحدیث د قیاس څخه منکر دی، او نه اصحاب الرائی د حدیث د اهمیت څخه منکر دی. بلکه دې کښې دواړه په دې خبره متفق دی چه نصوص په قیاس مقدم دی او چه کوم ځائې نصوص نه وی هلته به د قیاس څخه کار اخستې شی.

سوال: په دې سوال کیدې شی چه په دې دواړوکښې څه اختلاف نشته نو دا دوه اصطلاحات ولې جدا جدا دی.

جواب: د دې جواب دا دې چه ابتدائی زمانه کښې به هغه کسانو ته چې په حدیثو کښې به مشغول وو اصحاب الحدیث وئیلې کیدل. او چې څوك به په علم فقه کښې مشغول وو هغوی ته به اصحاب الرائی وئیل. ګویا دوه فرقې یا دوه مکتب فکرنه وؤ بلکه د علوم دین دوه جدا جدا ځانګې وې. محدثینو ته اصحاب الحدیث په دې بناء وئیلې کیدل چه دوی د حدیث حفظ او روایت خپل شغل جوړکړې وو. او دوی ټول طاقت په دې کښې لګولو، د احادیثو نه احکام مستنبط کولو ته د دې خلقو توجه کمه وه او فقهاوو ته اصحاب الرائی په دې بناء وئیلې کیدل چه دوی استنباط احکام خپل شغل جوړکړې وو. او د دوئ زیاتهٔ توجه د احادیثو کتابونه تالیف کول او د حدیثو نشر واشاعت په ځائې د احادیثو څخه مسائل مستنبط کولو ته او د هغې نشرواشاعت ته وه. بیا د دې حضراتو به د استنباط د احکامو د پاره د قیاس څخه زیات کار اخستلو نو په دې وجه دوئ ته اصحاب الرائی او وئیلې شول نو دا د علم دوه جُدا جُدا ځانګې دی چه حقیقت کښې په دواړو کښې څه تضاد نشته.

یو پروپیګنډه: په عام طور د دې خبرې تشهیر کولې شی چه اصحاب الرائی صرف احنافو او اهل کوفه ته وئیلې کیږی.

حقیقت څه دې؟: خو واقعه دا ده چه دا لقب د ټولو فقهاوؤ د پاره استعمالیدلو. لکه ابن قتیبه په خپل کتاب "المعارف" کښې د ټولو فقهاوؤ تذکره د اصحاب الرائی په

عنوان سره کړې ده. اودې کښې دوئ امام مالك رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام اوزاعی رحمه الله، اوسفیان ثوری رحمه الله غوندې محدثين هم شامل کړی دی.

دغه شان علامه محمدبن الحارث الخشنی خپل کتاب "قضاة القرطبة" کښې د مالکی عالمانو تذکره "داصحاب الرأی" په عنوان سره کړیده. د مالکیانو تذکره کوی دغه شان حافظ ابوالولید الفرضی المالکی په خپل کتاب ,, تاریخ علماء أندلس،، کښې د مالکیانو تذکره کوی اودوی ته اصحاب الرائی وائی.

علامه ابوالولید باجی مالکی دموطاء په شرح منتقی کښې دټولو فقهاؤ دپاره د اصحاب الرائی لفظ استعمال کړیدې. علامه ابن عبدالبرهم د مالکیانو عالمانو دپاره دا لفظ په کثرت سره استعمال کړې دې تردې چه دوئ چه دموطاء کومه شرح لیکلې ده د دې نوم دې "((الاستذکار لمذاهب الامصار فیماتضمنه الموطاء من معانی الرأی والاثار)) د دې څخه ښکاره واضحه ده چه د اصحاب الرائی لقب دټول فقهاوؤ دپاره استعمالیدو.

اهل رائې د کوفیانو دپاره متعارف کیدل: البته دا صحیح ده چه روستوپه قلار قلار دا لفظ داهل عراق او کوفیانو دپاره استعمالیدل شروع شو. اودې څخه روستو د امام ابوحنیفه رحمه الله اودده دمتبعینودپاره مخصوص شو.

د شهرت وجه: د دې وجه دانه وه چه دوئ قیاس اورائې په نصوصومقدم کولو. بلکه ددې وجه دا وه چه د نوروعالمانو په مقابله کښې به اهل کوفه خاص طورسره امام ابوحنیفه رحمه الله او د دوئ متبعینوبه د احکامو استنباط دېرزیات کولو اودا ئې خپله خصوصی مشغله جوړه کړې وه. د نورو حضراتوخودا کاروو چه روزانه به کومې مسئلې راتللې صرف هغه به یې دقرآن کریم اوحدیث څخه مستنبط کولې خو امام ابوحنفه رحمه الله وغیره صرف دروزمره په مسائلواکتفاء نه وه کړې بلکه دیومسئلې چه څومره صورتونه عقلاً ممکن وو. ددې ټول احکام یې منضبط کړل اوظاهره ده. چه د دې کار دپاره دقیاس استعمال په وسیع پیمانه اوشو د دې وجې دوئ ته په خاص طورسره اصحاب الرائی اووئیلې شو او د احنافوپه حق کښې دا څه عیب نه وو بلکه دوئ دپاره دا خبره باعث فخروه چه ړومبی دوئ فقه مدون کړله.

د پروپیګنډې موقع په لاس ورتلل: چونکه د "اصحاب الرأی" لفظ زیات د احنافو دپاره استعمالیږی. د دې وجې د احنافو بعضې دښمنانوته دپروپیګنډې موقع په لاس ورغله چه دا خلق رائی لره په نصوصوترجیح ورکوی. دې پروپیګنډې څخه بعضې اهل علم متاثرشو. او ددوئ زړه کښې هم دا غلط فهمی راغله چه دحنفیانو د اصحاب الرائی کیدو مطلب دا دې چه دوئ رائې په نصوصومقدم ګڼړی. د دې وجه د بعضې اهل علمو

څخه د احنافو خلاف سختې جملې هم نقل دی. ګنې حقیقت صرف هغه وو کوم چې پورته بیان شو. ځکه چه احناف خو احادیث مرفوعه بلکه اثار د صحابؤ او اقوال د تابعینو هم په قیاس مقدم ګڼړی. ددې تفصیل به انشاء الله وړاندې راشی.

د شافعی المسلک عالم تصریح: هم دا وجه ده چې بې شمیره مخالفین دا لقب څه د تنقیص اود مذمت دپاره نه استعمالوی اوچه کوم عالمان ددې حقیقت څخه واقف وو. هغوی د حنفیانو خلاف ددې امرپوره تردید کړې دې. لکه علامه ابن حجرمکی چه شافعی المسلك دې پخپل ((الخیرات الحسان فی مناقب ابی حنیفة النعمان)) کښې په صراحت سره لیکلی دی.چه چا حنفیان اصحاب الرائی ګرځولی دی. ددې منشا څه عیب لګول نه وؤ بلکه دې خبرې ته اشاره وه چه دوی د احکامو په استنباط پوره توجه ساتله.

حقیقت څه دې؟: نو دې څخه دا نتیجه راویستل چه امام اعظم صاحب رحمه الله به قیاس ته په نصوصو ترجیح ورکوله یا دا چه دې او دده ملګری په علم حدیث کښې کمزورې وو. یا دا چه دوی سره د حدیث د روایاتو تعداد کم وو دا ټولې خبرې کول لویه نادانی ده. حقیقت دا دې چه امام ابوحنیفه رحمه الله په خپله یو جلیل القدرمحدث وو او په علم حدیث کښې د دوئ مرتبه دلویو لویو محدثینو څخه اوچته وه. خو دوئ خپله مشغله روایت حدیث نه وه جوړه کړې. د دې وجې د حدیث په مشهورو کتابونو کښې ددوی مرویات کم دی ګنې ترکومې چه په حدیث کښې ددوئ د مهارت تعلق دې دایو مسلم امر دې او د دې د اندازې کولو دپاره دټولو څخه وړاندې د امام صاحب رحمه الله دوطن دکوفې په علمی حالاتو یونظر اچول مناسب وی.

په کوفه کښې د حدیثو علم:

کوفه د عبدالله بن مسعود د علم څوروولو مرکز: د صحابؤ او دتابعینو په زمانه کښې کوفه دعلم حدیث اودعلم فقه دټولو څخه لوې مرکز اومخزن وو. دا ښارحضرت عمرفاروق رضی الله عنه آبادکړې وو. او دا د نومسلم افرادو مسکن وو. د دې وجې ئ دې کښې دتعلیم وتربیت طرف ته خصوصی توجه ورکړې وه او دې کښې یې د صحابؤ ډیر تعداد آباد کړې وو. تردې چه صحابؤ کښې دټولو څخه لوې فقیه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یې دلته معلم مقررکړې وو. اواهل کوفه ته یې فرمائیلې وو. ((اثرتکم بعبدالله علی نفسی)) زه تاسو ته د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په درلیږلو په خپل ځان باندې ترجیح درکوم.

دعبدالله بن مسعود فضائل: د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په باره کښې د حضرت حذیفه رضی الله عنه دا ارشاد مشهور دې چه ((ماکان رجل اشبه برسول الله صلی الله علیه وسلم هدیاً ودلاً وسمتاً من عبدالله بن مسعود رضی الله عنه)) (۸۹) دغه شان حضرت عمر رضی الله عنه ددوئ په باره

کښې فرمائیلې وو. ((کنیف ملئی علماً)) نو حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تر آخر عمره پورې په کوفه کښې مقیم وو. اودا ښارېې د علم حدیث اوعلم فقه مرکز جوړ کړو. او د نبوت د انواراتو یې ښه په تیزئ سره اشاعت اوکړو. اودلته یې دداسې شاګردانو یو داسې لوې جماعت تیارکړو چه شپه ورځ به دعلم په تحصیل اوتدریس کښې مشغول وو. ددوی د داسې شاګردانو تعداد څلور اویا (۷۴) بیان کړې شوې دې.

په کوفه کښې نور صحابه کرام: بیا د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه علاوه نور فقهاء صحابه هم دلته راغلل اومقیم شول چه هغوئ کښې حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه، حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه، حضرت حذیفه بن الیمان رحمه الله، حضرت سلمان فارسی رضي الله عنه، حضرت عمار بن یاسر رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن ابی اوفی او حضرت عبدالله بن الحارث بن الجزء په خاص طور قابل ذکر دی. دې څخه علاوه په سوونونور صحابه هم په کوفه کښې مقیم وو. تردې چه کوفې لره د وطن جوړونکی صحابؤ تعداد امام عجلی رحمه الله پنځلس سوه بیان کړې دې. او دې تعدادکښې هغه صحابه شامل نه دی کوم چه به عارضی طور باندې کوفې ته راغلې وو او بیا بل ځائې ته منتقل شوې وو. ظاهره ده چه د صحابؤ د دومره لوې تعداد په موجودګئ کښې به کوفه کښې د علم اوفضل څومره چرچا او شهرت وو!

کوفه دارالخلافه جوړول: هم دا وجه وه چه حضرت علې کوفه خپله دارالخلافه جوړه کړې وه. اوکله چې دغلته یې دعلم اوفضل چرچا اولیدله نوډیرخوشحاله شو اووې فرمائیل ((رحم الله ابن ام عبد قد ملاء هذه القریة علماً)) یعنی الله تعالی دې په حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه باندې رحم اوکړی چې دا کلې یې د علم څخه ډك کړې دې.دغه شان یې اوفرمائیل ((اصحاب ابن مسعود سُرُج هذه الامة)) د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه شاګردان د دې امت ډیوې دی. د حضرت علی دتشریف راوړوڅخه روسته دکوفې په علمې شهرت کښې نوره هم اضافه اوشوه. ځکه چه دې پخپله جلیل القدرصحابی وو او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هم په صحابؤکښې د فقاهت او دعلم په اعتبار ډیرمشهوروو. د دې اندازه د دې څخه لګیدې شی چه حضرت معاذبن جبل رضي الله عنه غوندې فقیه صحابی خپل شاګرد حضرت عمروبن میمون ته حکم اوکړو چه ته لاړشه او دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه علم حاصل کړه. د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه سره چې حضرت علې هم ملاؤشو نودې سره دکوفې علمې مقام په نورو ټولو ښارونو اوچت شو ځکه چه دا دوه حضرات د صحابه کرامو دعلومو خلاصه وه.

د مسروق قول: لکه حضرت مسروق بن اجدع فرمائی ((درت فی الصحابة فوجدت علمهم ینتهی

الی ستة ثم نظرت فوجدت علمهم ینتهی الی اثنین علی وعبدالله رضی الله عنهما)) د حضرت مسروق ددې قول مطابق حضرت علی او حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د صحابؤ د علومو جامع وو. او دا دواړه حضرات په کوفه کښې وو. ددې وجې وئیلې شی چه کوفه کښې د صحابؤ د علومو خلاصه جمع وه.

کوفه او علم حدیث: کوفه کښې دعلم حدیث داسې بازارګرم وو چه په هرکورکښې دعلم حدیث چرچا وه. اوپه محله محله کښې دعلم حدیث درس ګاهونه وو. لکه علامه ابو محمد الرامهرمزی په "المحدث الفاصل" کښې د حضرت انس بن سرین رحمه الله دا مقوله نقل کړې ده.((اتیت الکوفة فوجدت بها اربعة آلاف یطلبون الحدیث واربع مائة قد فقهواء)) زه کوفې ته راغلم نو هلته مې څلور زره کسان بیا موندل چې د حدیث طلب یې کولو او څلور سوه کسان مې اولیدل چې فقیهان جوړ شوی وو.

په یو میاشت کښې دیرش زره احادیث لیکل: دغه شان علامه تاج الدین ابن سبکی په طبقات الشافعیه الکبری" کښې د حافظ ابو بکر بن داؤد قول نقل کوی چه زه کوفې ته اورسیدم نو ما سره یو درهم وه ماپه دې دیرش مده لوبیا واخسته. هرورځ به مې یو مد لوبیا خوړله او د حضرت اشبح څخه به مې زرحدیثونه لیکل تردې چه په یومیاشت کښې دیرش زره احادیثو مجموعه تیاره شوه. اندازه اوکړئ چه په یومیاشت کښې صرف دیو استاد سره دیرش زره (۳۰۰۰۰) احادیث لیکلې کیږی هلته به دعلم د وسعت څه حال وی هم دا وجه ده که صرف د یو بخاری په رجالو نظر واچولې شی نودې کښې درې سوه کسان صرف د کوفې دی. هم دا وجه وه چه امام بخاری به بیا بیا دکوفې سفرکولو.

د حضرت امام اعظم رحمه الله په علم حدیث کښې مهارت:

حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله هم دې ښارکښې پیدا شوې وو کوم چې په دغه دور کښې د حدیث اوفقه مرکز وو اودلته یې پرورش شوې وو او د دې ځائې د استاذانو څخه یې علم حاصل کړې وو. چونکه په صحاح سته کښې د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله څخه څه حدیث نه دې مروی. د دې وجې بعضې تنګ نظره خلقو دا خیال اوکړو چه امام ابوحنیفه رحمه الله په علم حدیث کښې کمزورې وو. خودا ډیره دجهالت خبره او بې بنیاده افتراء ده. د دې څه اصل نشته. حقیقت دادې چه صحاح سته کښې صرف د امام ابوحنیفه رحمه الله نه بلکه د شافعی هم څه حدیث مروی نه دې بلکه امام احمد رحمه الله چه د امام بخاری خاص استاد دې. د هغوی احادیث هم په بخاری کښې صرف درې ځایه راغلې دی. اود امام مالك رحمه الله هم یو څو روایات دی.

د ائمه اربعۀ څخه د روایاتو د کمی وجوهات: ددې وجه دا نه ده چه معاذالله دا حضرات په علم

حدیث کښې کمزورې وو. بلکه وجه دا ده چه ① اول خو دا حضرات فقهاؤ وو نوددوئ اصل مشغله احکام اومسائل بیانول وو ② دويم دا حضرات ائمه مجتهدين وو په سوونو شاګردان اومتبعين موجود وو د دې وجې اصحاب صحاح سته خيال اوکړو چه ددوئ علوم به د دوئ دشاګردانو په ذريعه محفوظ وى نو دوئ د هغې حضراتو د علومو حفاظت اوکړو چه د هغوى د علومو د ضائع کيدو خطره وه.

امام ابوحنیفه بالاتفاق مجتهد وو: ګنې ترکومې چه په علم حدیث کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله د جلالت قدرتعلق دې نودا يو مسلم اوناقابل انکارحقيقت دې ځکه چه دې بالاتفاق امام اومجتهددې. او د مجتهدپه شرائطوکښې دا شرط لازمى دې چه ده ته به په علم حديث کښې پوره بصيرت حاصل وى. که په دې اعتبار سره په امام ابوحنیفه رحمه الله کښې څه کمزورى وې نو بيا دې مجتهد څنګه منلې شى. چنانچه لوې لوې محدثينو دده د اوچت مقام اعتراف کړې دې. که د هغوى اقوال نقل کړې شى نو پوره کتاب به تيارشى. د امام ابوحنيفه رحمه الله د مناقبو په کتابونوکښې دا اقوال کتلې شى.

د امام ابوحنیفه په حقله د محدثینو اقوال: دلته صرف څواقوال بيانوو:

① يوقول: دحضرت مکې بن ابراهيم دې. دا د امام بخارى هغه جليل القدراستاذ دې چه ده څخه د امام بخارى اکثرثلاثيات مروى دى. دې دامام ابوحنيفه رحمه الله شاګرد دې په تهذيب التهذيب کښې دده دا قول د امام ابوحنيفه رحمه الله په باره کښې مروى دې ((كان أعلم أهل زمانه)) [1] واضحه دې وى چه دغه زمانه کښې دعلم اطلاق به په علم حديث کيدلو نوددې مقولې مطلب دا شو چه امام ابوحنيفه رحمه الله په خپله زمانه کښې د علم حديث کښې د ټولو نه لوې عالم وو.

② دويم قول دمشهورمحدث حضرت يزيدبن هارون دې دې فرمائى چه ((أدركت ألفا من الشيوخ وكتبت منهم فما وجدت أفقه ولا أورع ولا أعلم من خمسة أولهم ابوحنيفة)) [2]

ترجمه: ما زر شيوخو سره ملاقات کړې دې او دهغوى نه مې احاديث ليکلى دى نو په هغوى کښې د پنځونه زيات فقيه، او زيات پرهيزګار او زيات پوهه بل څوک نه دى ليدلى چه په هغه پنځو کښې ړومبې امام ابوحنيفه رحمه الله وو.

③ حافظ ذهبى په خپل سند سره دسفيان بن عيينه قول ذکر کړې دې. ((لم يكن في زمان

[1]) وذكرالموفق المكى بسند إلى إسمعيل بن بشرقال كنافى مجلس المكى فقال حدثنا أبوحنيفة فصاح رجل غريب حدثنا عن ابن جريج ولا تحدثنا عن أبى حنيفه رحمه الله فقال المكى إنا لانحدث السفهاء حرمت عليك أن تكتب عنى قم عن مجلسى فلم يحدث حتى أقيم من مجلسه ثم قال حدثنا أبوحنيفة ومرفيه، وفى رواية إبراهيم ابن أبى بكرالمرابطى فغضب غضبًا شديدا حتى رؤى ذلك فى وجهه فقال الرجل تبت وأخطات فابى أن يحدثهم (مناقب الامام الاعظم للموفق ۲۰٤\۱) _

[2]) ذكرهماالذهبى فى تذكرة الحفاظ "

أبي حنيفه بالكوفة رجل أفضل منه ولا أورع ولا أفقه عنه)) (۱) ترجمه: په کوفه کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله نه زیات افضل، پرهیزګاره او فقیه بل څوک نه وو.

④ اوهم حافظ ذهبي دامام ابوداؤد قول ذکر کړې دې ((ان اباحنیفه کان اماما))(۲)

ترجمه: امام ابو حنیفه رحمه الله امام وو.

د امام ابو حنیفه د استاذانو او شاګردانو کثرت: دامام ابوحنیفه رحمه الله دعلم حدیث اندازه دده په شیوخو اوپه شاګردانو باندې یو نظر اچولو سره کیدې شی. حافظ ابوالحجاج مزی په تهذیب الکمال کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله څلوراویا شیوخ شمارکړې دی. اوحافظ سیوطی په ((تبییض الصحیفة لمناقب ابي حنیفة رحمه الله)) کښې د دغه شیوخو نومونه ذکر کړې دی. او عالمانو ته معلومه ده چه حافظ مزی د یو راوی دټولو شیوخو استیعاب نه کوی بلکه صرف یوڅوپه طورد نمونه بیانوی. هم دا وجه ده چه ملاعلی قاری د "مسندابی حنیفة" په شرح کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله د شیوخ تعداد څلورزره بیان کړې دې او بیا د دوی شیوخ هم د هغه درجې دی چه د دې درجې شیوخو روستنی معروف او مشهور محدثینو کښې چاته نه دی نصیب شوې ځکه چه د امام صاحب شوخو یا خو صحابه وو یا تابعین یا تبع تابعین د دې څخه لاندې یو شیخ یې هم نشته.

دحضرت امام اعظم رحمه الله تابعیت: ترکومې چه د صحابؤ تعلق دې نود امام صاحب تابعیت یومسلم اوناقابل انکارحقیقت دې. ① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: چه د امام ابوحنیفه رحمه الله ولادت په سنه ۸۰ هجری کښې اوشواودغه وخت په کوفه کښې حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضي الله عنه موجود وو نوناممکن ده چه امام ابوحنیفه رحمه الله ددوئ زیارت نه وې کړې.

② دغه شان امام ابن سعدپه طبقات کښې نقل کړې دی چه امام ابوحنیفه رحمه الله د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه زیارت کړې دې.

③ دې څخه علاوه علامه سیوطی په ((تبییض الصحیفه لمناقب ابی حنیفه)) کښې متعدد روایات نقل کړې دی. د هغې څخه معلومیږی چه امام ابوحنیفه رحمه الله دحضرت انس رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن الحارث بن الجزء رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن انیس رضي الله عنه، حضرت واثله بن اسقع رضي الله عنه، او د حضرت عائشه بنت عجرد رضي الله عنها څخه روایات اوریدلې دی.

④ حافظ ابومعشرعبدالکریم بن عبدالصمد الصابری یومستقله رساله په دې موضوع لیکلې ده اودې کښې یې دامام ابوحنیفه رحمه الله هغه روایات راجمع کړی دی کوم روایات

---

۱) تذکرة الحفاظ ۱\۱۶۸

۲) تذکرة الحفاظ ۱\۱۶۰

چه ئې بلاواسطه د حضرات صحابه کراموڅخه اوریدلې دی. دې کتاب کښې د نورو صحابوڅخه علاوه دحضرت جابربن عبدالله او د حضرت معقل بن یسار رضی الله عنهما څخه یې هم د امام ابوحنیفه رحمه الله سماع ثابته کړې ده. اګرچه حافظ ابن حجر لیکلې دی چه د دې ټولو روایاتوپه سندکښې ضعف دې خوددې قطعی باطل کیدو حکم چا هم نه دې لګولې که فضائل اومناقب کښې ضعیف روایات قبلیږی. نود دې روایاتوڅخه به د امام ابوحنیفه رحمه الله علمی فضیلت ولې نه ښکاره کیږی.

⑤ د دې څخه علاوه علامه سیوطی په " تبییض الصحیفه" کښې یوروایت دحافظ ابومعشر په حواله نقل کړې دې. ((ابوحنیفه رحمه الله عن انس مالك رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول طلب العلم فریضة علی کل مسلم)) ددې روایت په باره کښې علامه سیوطی فرمائی: چه دا د صحیح برابردې. اوحافظ مزی رحمه الله خیال دې چې دا روایت د تعدد طرق په وجه د حسن په درجه کښې شامل شوې دې.که دا صحیح وی نو بیا په دې کښې شک نه پاتې کیږی چې د امام ابوحنیفه رحمه الله دصحابه کرامو څخه سماع هم ثابته ده.اوکه بالفرض سماع ترې ثابته هم نه وی نو د صحابؤ سره د زیارت ثبوت خو یقینی دې.

د محققینو په نیزد امام ابوحنیفه تابعیت: ددې وجې ددوئ تابعی کیدل د محققینوپه نیز مسلم دی.① لکه امام ابن سعدپه طبقات کښې ② حافظ ذهبی په تذکرة الحفاظ کښې، ③ حافظ ابن حجر رحمه الله دعلامه سیوطی دقول مطابق دیوسوال په جواب کښې ④ حافظ مزی په تهذیب الکمال کښې ⑤ علامه قسطلانی په شرح بخاری کښې ⑥ علامه نووی په تهذیب الاسماء واللغات کښې ⑦ علامه سیوطی په تبییض الصحیفه کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله دتابعې کیدو په وضاحت سره اعتراف کړې دې.

د امام اعظم رحمه الله اکابرین استاذان: بیا د امام صاحب خاص اساتذانو کښې هغه حضرات شامل دی چه هغوی دتابعینوپه دورکښې د علم ستنې ګڼړلې کیدې هغې کښې یوڅو لاندې لیك دی.

① **عامربن شراحبیل:** امام صاحب دحضرت عامربن شراحبیل (امام شعبی) څخه علم حدیث حاصل کړو. حافظ ذهبی لیکی چه ((هو اکبر شیوخ ابی حنیفة رحمه الله)) إمام شعبی دپنځوسو صحابو څخه علم حدیث حاصل کړې دې ددوئ د حافظې دا حال وو چه کله یې یوحدیث هم په لیکلونه وو یادکړې. ده به فرمائیل چه زما د شعرسره زیات شوق نشته خو ((لوأردت لانشدت شهرا وما أعدت)) یوځل ده د حضرت ﷺ په غزواتوبیان کولو چه دې کښې حضرت عبدالله بن عمرېې په خوا کښې تیر شو چه د امام شعبی خبرې یې

واوریدلې نو وې فرمائیل چه زه د حضرت ﷺ سره په غزواتو کښې شامل شوې یم خو شعبی ته د غزواتو په باره کښې زما څخه زیات علم دې
خطیب بغدادی د حضرت علی بن المدینی قول نقل کړې دې چه د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه علوم په علقمه اسود، حارث، عمرو، اوپه عبیده بن قیس باندې ختم دی. او ددوئ ټولو علوم په دوؤکسانو کښې جمع شویدی یو ابراهیم نخعی اوبل عامر شعبی او دا دواړه په دواړه دامام ابوحنیفه رحمه الله استاذان دی.

② حمادبن سلیمان: دامام صاحب بل خصوصی استاذ حضرت حماد بن سلیمان دې چه دې بالاتفاق دحدیث اودفقه امام منلې شوې دې دوی د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دعلوموحافظ ګڼړلې کیږی. صحیح مسلم، ابوداؤد، ترمذی، کښې ددوئ روایات موجود دی. دوئ د حضرت انس رضی الله عنه، حضرت زیدبن اوهب، سعیدبن المسیب، عکرمه، ابووائل، ابرهیم نخعی اوعبدالله بن بریده څخه علوم حاصل کړې وو. حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دوئ څخه دوه زره احادیث روایت کړی دی. امام اعظم رحمه الله به د دوئ دومره قدر او احترام کولوچه ددوئ کور طرف ته به یې په ملاسته کښې پښې نه غزولې

③ ابواسحاق سبیعی: دامام صاحب دریم استاذ ابواسحاق سبیعی دې چه دوئ داته دیرش صحابؤنه علم حاصل کړې دې. او دابوداؤد طیالسی دقول مطابق دې ((اعلم الناس بحدیث ابن مسعود رضی الله عنه وعلی رضی الله عنه)) وو. دې دصحاح سته راوی هم دې. د دوئ نه علاوه دامام اعظم رحمه الله په استاذانو کښې ابراهیم نخعی، قاسم بن محمد، قتادة، نافع، طاوس بن کیسان عکرمه، عطاء بن ابی رباح، عمرو بن دینار، عبدالله بن دینار، حسن بصری، امام شیبان سلیمان الاعمش رحمه الله غوندې جلیل القدرتابعین اواساطین الائمه داخل دی.

دامام صاحب جلیل القدرشاګردان : اوس د امام صاحب شاګردانوته راځو په دې فهرست کښې خود لویو لویو محدثینونومونه په نظر راځی:

① عبدالله بن مبارک: د دوئ په خصوصی شاګردانو کښې عبدالله بن مبارک موجود دې چه دوئ فرمائی ((لولااعانني الله بأبي حنيفه رحمه الله وسفيان لكنت كسائرالناس)) که چرته الله تعالی د حضرت امام ابوحنیفه او سفیان په ذریعه زما مدد نه وو کړې نو زه به هم دعامو خلقو پشان وم.

② یحیی بن سعید القطان: دغه شان دجرح اودتعدیل مشهورامام یحیی بن سعید القطان هم د امام صاحب شاګرد دې. حافظ ذهبی وغیره لیکی چه ده به دامام صاحب په قول فتوی ورکوله. حافظ ابن حجرپه تهذیب کښې د یحیی بن سعید القطان نه نقل کړې دې

چه دې فرمائی ((قد اخذنا بـأكثراقواله)) او حافظ عبد القادر قریشی په «الجوهر المضیئة فی طبقات الحنیفة» کښې اوموفق په مناقب الامام ۱۹۱|۱ کښې دیحیی بن معین څخه د یحیی بن سعید القطان دا قول نقل کړې دې، «جالسنا والله اباحنیفه رحمه الله وسمعنا منه وکنت والله إذانظرت إلیه عرفت فی وجهه انه یتقی الله عزوجل))(۱)

۴ **وکیع بن الجراح:** دغه شان د امام شافعی خاص استاذ حضرت وکیع بن الجراح هم د امام صاحب شاګرد دې. اود امام صاحب څخه دوئ نهه سوه احادیث روایت کړی دی. ابن عبد البر په «الانتقاء» کښې دیحیی بن معین څخه نقل کړی دی چه ده به هم د امام صاحب رحمه الله په قول فتوی ورکوله چه واضح دې وی چه د امام صاحب په قول فتوی ورکول د مقلد مطلق په شان نه وو بلکه دمجتهد فی المذهب په شان وو. لکه څنګه چه به امام ابویوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله وغیره په بعض مسائلو کښې د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه خلاف کولو. دغه شان بعضې مسائلو کښې به ده هم اختلاف کولو لکه د اشعار فی الحج مسئله کښې داسې شوې ده. ((کماسیاتی فی کتاب الحج ان شاء الله))

نور مشهور شاګردان: دې څخه علاوه مشهور محدثینو کښې ۴ مکی ابن ابراهیم رحمه الله ۵ زیدبن هارون ۶ حفص بن غیاث النخعی ۷ یحیی بن زکریا بن ابی زائده ۸ مسعربن کدام ۹ ابوعاصم بن النبیل ۱۰ قاسم بن معین، ۱۱ علی بن المسهر ۱۲ فضل بن دکین ۱۳ عبدالرزاق بن همام په شان جلیل القدر محدثینو د امام صاحب شاګردی کړې ده. اوچه په شاګردانو کښې داسې حضرات موجود وی. نود هغه باره کښې دا وئیل چه علم حدیث کښې د ده مرتبه اوچته نه وه څومره لوې ظلم دې ؟

دتاریخ اوسیرپه کتابونوکښې د امام ابوحنیفه رحمه الله دحفظ حدیث متعلق حیرانونکی واقعات نقل دی. دنمونې په طوردلته دوه واقعات لیکو.

۱ **امام اعمش د ابوحنیفه د علمیت اقرار کوی:** ملاعلی القاری په مناقب الامام الاعظم رحمه الله کښې نقل کړې دی چه یو ځائې کښې امام صاحب او امام عمش دواړه موجود وو چا د مسئلې تپوس اوکړو او دوئ جواب ورکړو. امام اعمش چه جواب واوریدلو وې وئیل «من این اخذت هذا» امام ابوحنیفه رحمه الله سمدست جواب ورکړو ((أنت حدثتنا عن أبی صالح عن أبی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کذا وأنت حدثتنا عن أبی إیاس عن أبی مسعود الانصاری وأنت حدثتنا عن أبی وائل عن عبدالله قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کذا وأنت حدثتنا عن أبی مجلز عن حذیفة رضی الله عنه بن الیمان

---

۱) تاریخ بغداد ۳۵۲|۱۳

قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم وأنت حدثنا عن ابی الزبیر عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کذا)) په دې امام اعمش حیران شو اووې فرمائیل ((حسبك ما حدثت به في مائة یوم حدثتني به في ساعة واحدة)) بس کافی ده ما چې تا ته په سلو ورځو کښې څومره احادیث بیان کړي وو تا ماته هغه په یو ساعت کښې بیان کړل بیایې اوفرمائیل ((یامعشر الفقهاء أنتم الاطباء ونحن الصیادلة وأنت أیها الرجل أخذت بکلا الطرفین)) اې د فقهاؤ جماعته تاسو طبیبان یې او مونږ پنساریان یو.او اې سړیه تا دواړه لارې خپلې کړې دی.

②د احادیثو په ضعف پوهیدل: دویمه واقعه د امام ابویوسف ده هغه فرمائی چه کله به امام ابو حنیفه رحمه الله یوشرعی مسئله بیانوله نوزه به دکوفې د حدیثو ټولو استاذنوته ورتلم او ددوئ څخه به مې هغه احادیث جمع کول چه کومو به دامام ابوحنیفه رحمه الله دقول تائید کولو. اوپه دې خیال به مې امام اعظم رحمه الله ته اورول چه دوئ به یې واوری نوخوشحاله به شی. خوچه کله به ما احادیث واورول اوفارغ به شوم نو امام صاحب به اوفرمائیل چې دې کښې په فلانی حدیث کښې فلانی نقص دې اوفلانی حدیث کښې فلانې راوی ضعیف دې اوفلانې علت په کښې موندلې کیږی ددې وجه دا قابل استدلال نه دې. او بیا به امام اعظم رحمه الله اوفرمائیل ((أنا عالم بعلم أهل الکوفة)) زه د اهل کوفه په علم باندې پوهه یم.

کتاب الآثار: دامام ابوحنیفه رحمه الله په مآثر علمیو کښې ددوئ کتاب،،کتاب الآثار،، په علم حدیث کښې د دوئ د اوچت مقام ګواه دې. داکتاب په فقهی ابوابو باندې په حدیثو کښې دټولو څخه ړومبی مرتب کتاب دې. چنانچه علامه سیوطی په "تبییض الصحیفة" کښې لیکلې دی چه علم حدیث کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله دا فضیلت څه لږ نه دې چه دټولو څخه ړومبې د فقه په ابوابو باندې مرتب کتاب ئ تالیف کړو. دا فضیلت بل چاته نه دې حاصل دې. د امام اعظم رحمه الله داکتاب د "موطا امام مالك" دپاره د ماخذ حیثیت لری. ځکه چه حافظ ذهبی په مناقب کښې دقاضی ابوالعباس محمد بن عبدالله بن ابی العوام د"اخبار ابوحنیفه رحمه الله" په حواله سره په سندمتصل سره د مشهورمحدث عبدالعزیز دراوردی دا قول نقل کړې دې ((کان مالك ینظر في کتب أبي حنیفة وینتفع بها)) د دې څخه واضحه ده چه امام ابوحنیفه رحمه الله "کتاب الاثار" مقام د مؤطا امام مالك په نسبت داسې دې لکه دمؤطا مقام چه دصحیحین په نسبت دې.

دکتاب الآثار راویان: دحدیث دنورو کتابونو په شان د،،کتاب الآثار،،هم ډیرراویان دی.په هغې کښې څلورمشهور دی:

① حضرت امام ابویوسف رحمه الله ② حضرت امام محمد رحمه الله

③ حضرت امام زفر رحمه الله
④ حضرت امام حسن بن زیاد رحمه الله

د کتاب الآثار انتخاب: بیا چه څنګه امام بخاری په شپږو لاکهو احادیث کښې خپل صحیح منتخب کړې او مرتب کړې دې دغه شان امام ابوحنیفه رحمه الله هم د خپلو ډیرو احادیثو څخه د دې انتخاب کړې دې. او دایې مرتب کړو. چونکه امام ابوحنیفه رحمه الله د امام بخاری وغیره څخه ډیر وړاندې دې. او د دوی په زمانه کښې د اسانیدو په طرقو کښې دومره وسعت نه وو پیدا شوې. د دې وجې د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دا انتخاب د څلویښتو زرو احادیثو څخه دې.

① چنانچه علامه موفق مکی رحمه الله په ،،مناقب الامام الاعظم،، کښې[۱] د ابو بکر بن محمد الزرنجری قول نقل کړې دې. ((انتخب أبوحنیفة الاثار من أربعین ألف حدیث))

② او هم علامه موفق د حافظ ابویحیی زکریا بن یحیی نیشاپوری د ،، مناقب ابی حنیفه رحمه الله،، په حواله د دوئ په سند د یحیی بن نصر بن حاجب څخه نقل کړې دې چه ((سمعت أبا حنیفة رحمه الله یقول عندی صنادیق من الحدیث ما أخرجت منها الا الشئ الیسیر الذی ینتفع به))

③ دغه شان علامه زبیدئ په ،،عقود الجواهر المنیفة،، کښې د حافظ ابونعیم اصفهانی په سند سره د یحیی ابن نصر دا قول نقل کړې دې چه زه یو ځل امام ابوحنیفه رحمه الله ته ورغلم نو اومې لیدل چه د هغه کمره د حدیثو د کتابونو څخه ډکه وه. ماتپوس اوکړو دا څه دی؟ نو دوئ جواب راکړو چه د حدیث کتابونه دی.

کتاب الآثار ته شرفِ اولیت حاصل دې: د دې واقعاتونه دا واضح کیږی چه کتاب الاثار کښې څومره احادیث هم دی. نو دا د امام صاحب ټول احادیث نه دی بلکه داد دوئ یو مختصر انتخاب دې. بهرحال د امام اعظم رحمه الله فضیلت دا دې چه د حدیث څومره کتابونه اوس متداول دی دې کښې د ټولونه ړومبې مبوب کتاب د دوئ تالیف دې.

شاګردانو ته د کتاب الآثار د مطالعې مشوره: په علم حدیث کښې د دې کتاب مقام څه وو؟ د دې اندازه د محدثینو د هغه اقوالو څخه کیږی چه هغوئ خپلو شاګردانو ته صرف د دې د مطالعې مشوره نه وه ورکړې بلکه تاکید ئې ورته هم کړې وو اوفرمائیلی یې وو ورته چه بغیر د دینه علم فقه نشی حاصلیدې. دا اقوال د امام اعظم رحمه الله د مناقبو په کتابونو کښې په تفصیل سره منقول دی.

د کتاب الآثار شروحات: بیا محدثینو چه د کتاب الاثار کوم خدمت کړې دې. د هغې څخه اندازه کیږی چه د دې کتاب ته د دوئ په نیز یو اهم مقام حاصل دې. هم دغه وجه ده چه د دې کتاب الاثار ډیر شروحات لیکلی شوی دی:

---

[۱] مناقب الامام الاعظم ۱/۹۵ مطبوعه دکن سنة ۱۳۲۱هـ

① دعلامه ابن همام شاګرد، ،حافظ زین الدین بن قطلوبغا، ، دکتاب الاثار شرح لیکلی ده اویو مستقل کتاب ئی ددې په رجالو تصنیف کړې دې.
② دغه شان حافظ ابوبکرابن حمزه الحسینی یوکتاب "دالتذکرة لرجال العشرة" په نوم لیکلې دې چه دې کښې یې دصحاح سته او دائمه اربعه رجال راجمع کړې دی. دې کښې دکتاب الاثار ټول رواة موجود دی.
③ دغه شان حافظ ابن حجرعسقلانی یوکتاب دکتاب الاثارپه رجالو لیکلې دې چه د هغې نوم "الإیثار لذکر رواة الاثار" دې. ددې کتاب تذکره هغوی پخپله په ((تعجیل المنفعة بزوائد رجال الاربعة)) کښې کړې ده.بیا حافظ ابن حجر په خپل مشهورکتاب ((تعجیل المنفعة بزوائد رجال الاربعه)) کښې دکتاب الاثار ټول روات را جمع کړی دی. ځکه چه داکتاب حافظ د ائمه اربعه یعنی د امام ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام مالك رحمه الله، اود امام احمدبن حنبل رحمه الله په رجالو لیکلې دې.

تنبیه: دلته دې دا خبره هم واضحه وی چه دنواب صدیق حسن خان صاحب په " اتحاف النبلاء" کښې دا خبره بالکل غلطه لیکلی ده چه د حافظ ابن حجرکتاب، ،تعجیل المنفعه د سنن اربعه په رجال دې. داسې معلومیږی چه نواب صاحب پخپله د تعجیل المنفعه، مطالعه نه ده کړې ګنې داسې غلطه خبره به یې نه کوله. ځکه چه حافظ ابن حجر دکتاب په مقدمه کښې داتصریح کړې ده چه د دوئ مقصد دائمه اربعه د رجالِ زوائد تذکره ده.

دامام ابوحنیفه د مرویاتو مسانید: داخوکتاب الاثاروو چه د امام صاحب واحد تصنیف دې. د دې څخه علاوه لوې لوې محدثینود امام ابوحنیفه رحمه الله مرویات د مسندابی حنیفه رحمه الله په نوم جمع کړې دی. ددې مسانیدو تعداد شلو ٢٠ ته نزدې دې. مسند لیکونکو کښې ① ابونعیم اصفهانی ② حافظ ابن عساکر③ حافظ ابوالعباس الدوری ④ حافظ ابن منده ⑤ تردې چه حافظ ابن عدی شامل دې کوم چه په شروع کښې دامام صاحب لوې مخالف وو. روستوچه کله دامام طحاوی شاګرد شو نو د امام صاحب د لوړ مقام اندازه ورته اوشوه. او بیا یې د خپلوسابقه خیالاتود تلافی دپاره مسندابی حنیفه رحمه الله مرتب کړو. دارنګه مسندابی حنیفه رحمه الله په نوم اوولس یاددې څخه زیات کتابونه لیکلی شوی دی دا روستو بیاعلامه ابن خسرو د جامع مسانید الاعظم په نوم جمع کړل.

په امام اعظم د قلیل الحدیث الزام: حقیقت دادې چه په امام ابوحنیفه رحمه الله دا الزام چه دې قلیل الحدیث وو یاده سره ټول اوولس احادیث وو.[1] نو داداسې ښکاره دروغ دی چه د دې دتعصب یا دناواقفیت څخه علاوه بل هیڅ توجیه نشی کیدې

[1] ((کما نقله ابن خلدون عن بعض الناس))

د ابن خلدون د قول تردید: ابن خلدون پته نشته په څه بناء دا لیکلی دی چه د امام ابوحنیفه رحمه الله د صحت حدیث شرائط چونکه ډیر سخت وو د دې وجې ددوئ په نیز اوولس احادیث صحیح وو. په اصل کښې ابن خلدون د امام ابوحنیفه رحمه الله نه دومره لرې پاتې شوې دې چه ده ته د حقیقت حال علم اونشو. حقیقت خو هغه دې چه د کوم اظهار علامه زاهد الکوثری د((شروط الائمة الخمسة للحازمی)) په حاشیه ۵۰۱ کښې کړې دې چه په حقیقت کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله مروج احادیث داسې اوولسو دفترونوکښې دی چه هغې کښې دټولوڅخه وړوکی دفتر هم د«سنن الشافعی بروایة الطحاوی» اود«مسند الشافعی بروایت ابی العباس الاصم))څخه لوې دې. اود امام شافعی د احادیثو مدار هم په دې دوؤ کتابونو باندې دې.

د امام اعظم د مرویاتو تعداد: د امام صاحب دیوشاګردقول دې چه دامام صاحب په تصانیفو کښې اویازره احادیث ملاویږی بعضې خلق په دې دتعجب اظهارکوی او دا مبالغه ګنړی ځکه چه دامام صاحب په تصانیفوکې دومره احادیث په ظاهره په نظرنه راځی.

د متقدمینو د روایت حدیث دوه طریقې: خوکه د متقدمینو طریقه کار په ذهن کښې وی نو ددې مقولې صداقت به واضح شی، په حقیقت کښې د محدثینوپه نیز د حدیث د بیانولودوه طریقې وې:

① کله به دوئ حدیث نبی کریم ﷺ ته منسوب کولو اومرفوعًا به یې بیانولو

② اوکله به دوئ د احتیاط د وجې ددې نسبت نبی کریم ﷺ ته د کولوپه ځائې خپل قول ګرځولو اودفقهی مسئلې په طوربه یې بیانولو. دا د دوئ ډیراحتیاط وو که په نقل روایت کښې څه خطاوی نو چه هغه د نبی کریم ﷺ ته منسوب نه شی.

حضرت عمر رضی الله عنه په متوسطینو کښې شمارل: په صحابه کرامو اوتابعینوکښې به چه کوم حضرات زیات محتاط وو هغوی به عمومًا دا دویمه طریقه اختیاروله لکه د حضرت عمر رضی الله عنه زیات روایت هم ددې قسم دی. دهغې دلیل دا دې چه د حضرت عمر رضی الله عنه څخه کوم احادیث مرفوع مروی دی دهغې تعداد دپنځوسووڅخه زیات او زروڅخه کم دې د دې تقاضا دا ده چه دمحدثینود اصطلاح مطابق دې به متوسطینو صحابؤ کښې او شمارلې شی لکه چه محدثینو دې په متوسطینوکښې شمارکړې دې.

د شاه ولی الله رحمه الله رائې: خو شاه ولی الله په ،ازالة الخفاء٬ کښې لیکلې دی چه دوئ په مکثرینوکښې شمارل پکار دی. مکثرین د محدثینو په اصطلاح کښې هغه حضراتو ته وائی چه د هغوئ مرویات د زروڅخه زیات وی. شاه صاحب حضرت عمر رضی الله عنه په مکثرینو کښې دشمارلو وجه دا بیانوی چه ددوئ زیات روایات پخپله ددوئ دقول په

طور مروی دی. دغه شان دبعضې تابعينو مقوله مشهوره ده. ((لان نقول قال علقمة قال عبدالله أحب إلينا من أن نقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم)) دغه شان نورهم ځو واقعات دی چه مولاناظفراحمدعثمانی صاحب په "إنجاء الوطن عن الإزدراء بإمام الزمن» کښې په تفصيل سره بيان کړی دی.

دبحث نتيجه: دې ټخه دا خبره واضحه کيږي. چه متقدمينو ډيراحاديث مرفوعه خپل اقوال ګرځولې دی.اود فقهی مسئلې په طور يې بيان کړی دی که دې لحاظ سره اوګوری نو د امام ابوحنيفه رحمه الله دمرویاتوتعداد اویازرو ۷۰۰۰۰ ته رسيدل څه لرې نه ده، ځکه چه امام ابوحنيفه رحمه الله هم دا طريقه اختيارکړې وه. دا حقيقت چه خيال کښې وساتې اود هغه مسائلو مطالعه اوکړئ کوم چه امام محمد وغيره د امام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت کړی دی نودې کښې د داسې مسائلوتعداد بې شميره په نظر راځی کوم چه براه راست دحديث ټخه منقول دی. دې صورت کښې دامام اعظم رحمه الله دمرویاتو تعداد د اویا زروڅخه زیاتیدل څه لرې نه دی.

دامام اعظم رحمه الله مشغله استنباط احكام وه: دې ټخه علاوه مسئله په حقيقت کښې دانه ده چه امام ابوحنيفه رحمه الله ځومره روايات د نورونه بيان کړی دی. بلکه مسئله داده چه څومره روايات دوئ ته رسيدلې دی واقعه داده چه امام صاحب خپله مشغله د روايت حديث په ځائې استنباط احکام جوړه کړې وه. د دې وجې ددوې روايات په خپل حيثيت باقې پاتې نه شو بلکه د فقهی مسائلوپه حيثيت باقی پاتې شو والله سبحانه تعالى اعلم بالصواب

په امام ابوحنيفه رحمه الله داعتراضاتومنصفانه جائزه:

اوس يونظرپه هغه اعتراضاتو واچوئ کوم چه عموماً په امام ابوحنيفه رحمه الله کيږی.

① **امام اعظم ضعيف راوی دې:** دټولونه رومبې اعتراض دا دې چه امام نسائی په خپل کتاب الضعفاء کښې دامام ابوحنيفه رحمه الله تذکره کوی اوليکی چه ((نعمان بن ثابت ابوحنيفه ليس بالقوی فی الحديث))

هيڅوک هم بغير د جرح پاتې نه دې: ددې جواب دادې چه علماؤ دجرح اوتعديل څه قاعدې مقررکړې دی. او د يو راوی په باره کښې د جرح اودتعديل فيصله کولوکښې د دې قواعدو خيال ساتل ضروری دی ګنې دلوې ټخه لوې محدث عدالت اوثقاهت به هم ثابت نشی ځکه چه په ټولو لويو امامانو باندې د ځانه ځا جرح شته دې لکه امام شافعی رحمه الله باندې ابن معين اوپه امام احمد رحمه الله باندې امام کرابيسی رحمه الله، امام بخاری رحمه الله باندې ذهلی او په امام اوزاعی رحمه الله باندې امام احمد رحمه الله جرح کړې ده. که د دې ټولو اقوالو اعتباراوکړې شی نو دوی کښې به يوهم ثقه پاتې نشی. انتهاء دا ده چه ابن حزم

امام ترمذی او امام ابن ماجه ته مجهول هم وئیلی دی پخپله امام نسائی باندې هم دومره عالمانو د تشنیع الزام لګولې دې اوپه دې بناء یې دوئ ته مجروح وئیلې دی.

موصوف بتواتر العدالة شخصیت باندې د جرح حیثیت: حقیقت دا دې چه علماؤ د جرح اوتعدیل څه اصول مقررکړی دی.په هغې کښې رومبې اصل دا دې چه دکوم کس امامت اوعدالت تواترته رسیدلی وی نودهغه باره کښې د یو دؤه کسانو جرح معتبره نه ده. د امام ابو حنیفه رحمه الله امامت اوعدالت هم حدتواترته رسیدلې دې د حدیثو لویو لویو امامانو ددوئ دعلم او تقوی صفات بیان کړی دی. ددې وجې په امام صاحب هم د آحادُو جرح معتبر نه ده.

په دې قاعده یو اعتراض: په دې جواب کښې زمونږ دزمانې بعضې جاهلان دا اعتراض کوی چه د محدثینو مشهوره قاعده ده. ((الجرح مقدم على التعديل))نوچه دامام صاحب په باره کښې جرح اوتعدیل دواړه منقول دی نوجرح به راجح وی؟

د اعتراض جواب: خودا اعتراض دجرح اودتعدیل د اصولو څخه د ناواقفیت په بناء دې ځکه چه د حدیثو امامانو ددې تصریح کړې ده چه د((الجرح مقدم على التعديل)) قاعده مطلق نه ده بلکه څو شرائطو سره مقیده ده.

د ترجیح دوه طریقې: ددې تفصیل دادې چه که د یو راوی په باره کښې د جرح اودتعدیل اقوال متعارض وی نو دې کښې د ترجیح دپاره اولاً علماؤ دوه طریقې اختیارکړی دی.

اوله طریقه: دا طریقه د جرح اوتعدیل ددویم اصل حیثیت لری خطیب بغدادی په ((الكفاية في اصول الحديث والرواية)) کښې دا بیان کړې دی چه په داسې مواقعوبه داکتلی شی چه د جارحینو تعداد زیات دې اوکه دمعدلینو، چه دکوم طرف تعداد زیات وی هغه به اختیارولې شی. شوافعو کښې علامه تاج الدین سبکی هم ددې قائل دې، که دا طریقه اختیارشی نو بیا هم د امام ابوحنیفه رحمه الله په تعدیل کښې هیڅ شبه نه پاتې کیږی. ځکه چه په امام صاحب باندې جرح کونکې یو څوکسان دی یعنی امام نسائی، امام بخاری، امام دارقطنی اوحافظ ابن عدی. اومونږ وړاندې بیان کړی دی چه حافظ ابن عدی د امام طحاوی د شاګرد کیدو څخه پس د امام صاحب دعظمت قائل شوې دې اوبل طرف ته دامام صاحب د مادحینو تعداد دومره دې چه په شمیرکښې نشی راتلې. دنمونې په طور مونږ څو اقوال پیش کوو:

دامام اعظم مادحین: ① دعلم جرح اوتعدیل دټولو څخه لوې عالم چه هغه دټولو څخه رومبې باقاعده په رجالو کلام کړې دې امام شعبه بن الحجاج دې چه د امیرالمومنین فی الحدیث په لقب مشهوردې دې دامام ابوحنیفه رحمه الله په باره کښې فرمائی:(كان والله ثقة)

② دجرح اوتعدیل دویم لوې عالم یحیی بن سعید القطان دې دې پخپله د امام ابوحنیفه رحمه الله شاګرد دې. اوحافظ ذهبی "په تذکره الحفاظ" کښې اوحافظ ابن عبدالبر په "الانتقاء" کښې نقل کړې دی چه ده به دامام ابوحنیفه رحمه الله په اقوال وفتوی ورکوله اوددوی مقوله ده. (۱) ((جالسنا والله أبا حنيفة وسمعنا منه فكنت كلما نظرت إليه عرفت في وجهه أنه يتقي الله عزوجل)) اوهم د یحیی بن سعید القطان دویمه مقوله علامه سندهی "دکتاب التعلیم" په مقدمه کښې نقل کړې ده. (إنه لاعلم هذه الامة بما جاء عن الله ورسوله صلى الله عليه وسلم)

③ دجرح تعدیل دریم امام دیحیی بن سعید القطان شاګرد یحیی بن معین دې دې دامام ابوحنیفه رحمه الله په باره کښې فرمائی : ((كان ثقة حافظًا لايحدث إلا بما يحفظ ماسمعت أحدًا يجرحه)) یوبله موقعه کښې دوئ نه دامام صاحب په باره کښې تپوس اوشو ((أثقه هو؟)) نودوئ جواب ورکړو ((نعم ثقة ثقة هو أورع من أن يكذب وأجل قدرا من ذلك"كذا في مناقب الامام الاعظم للكردى))

④ دجرح اوتعدیل څلورم لوې امام علی بن المدینی دې چه د امام بخاری استاذ او دنقدِ رجال په باره کښې ډیرمتشدد دې. ((كما صرح به الحافظ في مقدمة فتح البارى)) دې فرمائی:((ابوحنيفة رحمه الله روى عنه الثورى وابن المبارك وهشام ووكيع وعباد بن العوام وجعفر بن عون وهوثقة لابأس به))

⑤ دغه شان عبدالله بن المبارك فرمائی : ((لولا أعانني الله بأبي حنيفة رحمه الله وسفيان لكنت كسائر الناس))

⑥ اودمکی بن ابرهیم داقول وړاندې تیر شو، ((كان اعلم اهل زمانه))

نور مادحین: دې څخه علاوه دیزیدبن هارون سفیان ثوری، سفیان بن عینیه، اسرائیل بن یونس، یحیی بن آدم، وکیع بن الجراح، امام شافعی اودفضل بن دکین رحمه الله پشان ائمه دحدیثو څخه هم دامام ابوحنیفه رحمه الله توثیق منقول دې دعلم حدیث ددې لوې لوې اساطین په مقابله کښې ددوه درې کسانو جرح څنګه قابل قبول کیدې شی؟ نو که فیصله په کثرت تعداد وی نوبیا هم دامام صاحب دتعدیل تله درنه وی.

دویمه طریقه: دجرح اودتعدیل دتعارض رفع کولودویمه طریقه چه دجرح اودتعدیل ددریم اصل حیثیت لری داحافظ ابن صلاح په مقدمه کښې بیان کړې ده او د جمهورو محدثینو مذهب یې ګرځولې دې. هغه داده چه که جرح مفسرنه وی یعنې دې کښې سبب د جرح نه وی بیان شوې نو تعدیل به همیشه په دې راجح وی که تعدیل مفسر وی اوکه

---

(۱) دا مقوله دتاریخ بغداد ۱۳\۳۵۲ په حواله تیره شوې ده ۱۲ـ

مبهم، که دې اصل ته اوکتلې شی نو په امام ابوحنیفه رحمه الله چه څومره جرح شوې دی نو ټولې مبهم دی او یوهم مفسر نه ده. د دې وجې ددې اعتبار نشته او تعدیلات ټول مفسر دی ځکه چه دې کښې ورع، تقوی او د حفظ د ټولو څیزونو اثبات شوې دې. خاص طور سره که تعدیل کښې د اسبابو د جرح تردید شوې وی. نو دا به د ټولو څخه زیات مقدم وی او د امام صاحب په باره کښې داسې تعدیلات هم شته. مثلا حافظ ابن عبدالبر ((الانتقاء فی فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء)) کښې لیکلې دی. ((وأكثر ما عابوا عليه الإغراق في الرئي والقياس وليس ذلك بعيب)) خلاصه دا چه د ،،الجرح مقدم علی التعدیل،، قاعده هله معتبره ده چه کله جرح مفسر وی. او د دې سبب هم معقول وی. او د بعضې عالمانو په نیز دا شرط هم دې چه د معدلینو تعداد د جارحینو څخه زیات نه وی که معدلینو تعداد زیات وو نو بیا جرح مقدم نه وی.

۲ دویم اعتراض: په میزان الاعتدال کښې د امام اعظم رحمه الله تضعیف: په امام ابوحنیفه رحمه الله دویم اعتراض دا کیږی چه حافظ شمس الدین ذهبی رحمه الله په،، میزان الاعتدال فی اسماء الرجال، کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله تذکره په دې الفاظو سره کړې ده. ((النعمان بن ثابت الكوفي إمام أهل الرأي ضعفه النسائي وابن عدي والدارقطني واخرون))

د ضعف قول الحاقی دې: ددې جواب چه دا دې چه د ((میزان الاعتدال)) کښې بلاشبه الحاقی دې یعنی د مصنف نه دې بلکه بل چا دا په حاشیه کښې لیکلې او روستو بیا دا متن کښې شامل شوې دې. یا خود کاتب د غلطئ د وجې یا قصداً داخل شوې دې. ددې دلائل لاندینې دی:

۱ په میزان کښې د امام اعظم رحمه الله د نه ذکر کولو صراحت: حافظ ذهبی رحمه الله د میزان الاعتدال په مقدمه کښې دا تصریح کړې ده چه زه به دې کتاب کښې د هغه لویو لویو امامانو تذکره نه کوم چه د چا جلالت قدر حد د تواتر ته رسیدلې وی اګر چه د دوئ باره کښې یو کس څه کلام هم کړې وی بیا دې لویو امامانو کښې دوی د امام ابوحنیفه رحمه الله نوم په صراحت سره ذکر کړې دې نو بیا دا څنګه ممکن ده چه دوئ په دې کتاب کښې د امام صاحب ذکر کړې وی.

۲ په تذکرة الحفاظ کښې د امام اعظم توصیف او مدح: بیا چه د کومو لویو لویو امامانو تذکره حافظ ذهبی په میزان الاعتدال کښې نه ده کړې د هغوی د تذکرې د پاره دوئ یو مستقل کتاب تذکره الحفاظ لیکلې دې او دې کتاب کښې نه صرف د امام ابوحنیفه رحمه الله تذکره شته بلکه د دوئ یې ډیر مدح او توصیف بیان کړې دې.

۳ په لسان المیزان کښې د امام اعظم عدم ذکر: حافظ ابن حجر خپل کتاب لسان المیزان

په ،،میزان الاعتدال،، بنا کړې ده یعنی چه دکوم رجالو تذکره په میزان الاعتدال کښې نشته د هغوئ تذکره په لسان المیزان ' کښې هم نشته سوا دیوڅونه اوپه لسان المیزان کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله تذکره نشته نودا ددې خبرې صریح دلیل دې چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په باره کښې دا عبارت په اصل،،میزان الاعتدال ' کښې هم نه وو. روستوبیازیات کړې شوې دې.

③ **د میزان الاعتدال د اصلی نسخو سره موازنه:** عبدالفتاح ابوغده الحلبی رحمه الله د،،الرفع والتکمیل،،په حاشیه کښې لیکلې دی چه ماددمشق په،،مکتبه ظاهریه،، کښې د ،،میزان الاعتدال ' یوه نسخه اولیدله 'تحت الرقم ۳۶۸ حدیث' چه ټوله دحافظ ذهبی رحمه الله د یوشاګرد علامه شرف الدین الوانی په قلم لیکلې شوې وه. اودې کښې داتصریح وه چه ما دا نسخه د خپل استاذ حافظ ذهبی رحمه الله په وړاندې درې ځله لوستلې ده او د هغوی دمسودې سره مې ددې مقابله کړې ده. دې نسخه کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله تذکره نشته. دغه شان ما د مراکش دارالحکومت،،رباط،، په مشهوره کتب خانه ' الخزانه العامره' کښې ۱۳۹ق نمبر ترلاندې د ،،میزان الاعتدال،، یوه قلمی نسخه اولیدله چه په هغې باندې د حافظ ذهبی رحمه الله د ډیرو شاګردانو د لوستلو تاریخونه لیکلی شوی دی اوپه هغې کښې دا تصریح هم شته چه دحافظ ذهبی رحمه الله یو شاګرد د دوئ د وفات نه صرف یوکال مخکښې د دوی په وړاندې لوستلې وه چې دې نسخه کښې هم د امام ابوحنیفه رحمه الله تذکره نشته.

نتیجه: دا ددې خبرې د ستاویزی ثبوت شو چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په باره کښې دا عبارت چا روستو زیات کړې دې اصل نسخه کښې نه وو نو ثابته شوه چه د حافظ ذهبی لمن دامام ابوحنیفه رحمه الله دتضعیف او دتنقیض نه بلکل پاکه ده. بله دا چه حافظ ذهبی داسې خبره څنګه لیکلې شی حالانکه دوئ پخپله دامام ابوحنیفه رحمه الله په مناقبو کښې مستقل کتاب لیکلې دې. ترکومې چه د حافظ ابن عدی تعلق دې نو د دوی په باره کښې وړاندې ذکر اوشو چه بې شکه په شروع کښې دوی د امام ابوحنیفه رحمه الله مخالف وو. اودغه زمانه کښې دوئ په امام صاحب جرح هم کړې وه. خو روستو چه کله دې د امام طحاوی شاګرد شو نو د امام صاحب دعظمت احساس ورته اوشو نو دوئ د سابقه غلطئ دکفارې په طور د امام ابوحنیفه رحمه الله مسند مرتب کړې دې. د دې وجه نه د دوئ پخوانئ قول دامام ابوحنیفه رحمه الله خلاف حجت نه دې اودامام نسائی دجرح جواب وړاندې شوې دې.

④ **دریم اعتراض: د دارقطنی جرح:** داکیږی چه امام دارقطنی په خپل سنن کښې دحدیث

نبوی ﷺ (۱) ((من كان له إمام فقراءة الإمام له قرآءة)) يعنى چې د چا امام وى نو د امام قراءت د هغه دپاره قراءت دې. دې لاندې ليکلى دى. چه ((لم يسند عن موسى بن ابى عائشة غير أبى حنيفة والحسين بن عمارة وهما ضعيفان))

جواب: د دې جواب دا دې چه بې شکه دامام ابوحنيفه رحمه الله په باره کښې دامام دارقطنى جرح ثابته ده خودډې جواب هم هغه دې کوم چې د امام نسائى د جرح دې د غور کولو خبره ده چه د امام ابوحنيفه رحمه الله په باره کښې به د امام شعبه، يحيى بن سعيد القطان، يحيى بن معين، على بن المدينى، عبدالله بن المبارك، سفيان ثورى، وكيع بن الجرح، مكى بن ابرهيم اسرائيل بن يونس او يحيى بن آدم په شان ائمه د احاديثو قول معتبروى چه د امام ابوحنيفه رحمه الله معاصر دى. او يا د دوئ زمانې ته نزدې دى اوکه د امام دارقطنى قول به معتبر وى چه د امام صاحب نه دوه سوه کاله پس پيدا شوې وو بلکه ديحيى بن معين دقول څخه خو دا معلوميږى چه د ده د زمانې پورې چا هم په امام صاحب جرح نه وه کړې څکه چه دې وائى ((ماسمعت أحدا يجرحه))

بې تحقيقه جرح څنګه شوې ده: اوس سوال دا دې چه د امام نسائى او د امام دارقطنى غوندى د حديثو امامانو د امام صاحب په باره کښې داسې بې بنياده خبره څنګه کړې ده؟

جواب: ددې جواب دا دې چه زمونږه ددې بزرګانو په اخلاص هيڅ بدګمانى نشته خو واقعه دا ده چه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله ته الله تعالى کوم مقام ورکړې وو د هغې په بناء ددوئ حاسدين بې شميره وو اودوئ د امام صاحب په باره کښې قسما قسم خبرې مشهورې کړې وې.

د پروپيګنډې شهرت: مثلا داخبره عامه وه چه امام صاحب قياس لره په احاديثو ترجيح ورکوى دا پروپيګنډه دومره زياته شوه چه بعضې داسې اهل علم هم د دې څخه متاثر شول چه کوم د امام ابوحنيفه رحمه الله دحالاتو څخه ذاتى طور باندې واقف نه وو. دې اهل علمو کې چه چاته د حقيقت حال علم اوشو. هغوئ روستوبيا دامام صاحب دمخالفت نه رجوع هم اوکړله لکه د حافظ ابن عدى مثال تيرشو دويم مثال د امام اوزاعى دې.

د امام اوزاعى رحمه الله پخوانې قول: علامه کردرى رحمه الله د صيمرى رحمه الله څخه په خپل سند سره دعبدالله بن المبارك دا قول په، مناقب الامام الاعظم، (۲) کښې نقل کړې دې چه زه شام ته راغلم او داوزاعى سره مې ملاقات اوشو. دوئ چه کله واوريدل چه زه دکوفې نه راغلم نو زما نه يې تپوس اوکړو. ((من هذا المبتدع الخارج بالكوفة يكنى بأبى حنيفة رحمه الله)) دا په

---

(۱) ۳۲۲۳\۱ باب ذكر قوله ﷺ من كان كاله امام فقراءة الامام له قرآة واختلاف الروايات ۱۲_
(۲) مناقب الامام الاعظم صحفه ۳۹\۱

کوفه کښې کوم بدعتی څرګند شوې دې چې د ابوحنیفه په کنیت یادیږی؟

دعبدالله بن مبارک رحمه الله حکمت عملی: عبدالله بن المبارک فرمائی چه مادغه وخت ځه تفصیلی جواب ورکول مناسب اونه ګڼړل او خپل ځائې ته واپس راغلم البته روستو مې دا اوکړل چه د امام ابوحنیفه رحمه الله مستنبط کړې فقهی مسائل کوم چه ما سره موجود وو درې ورځوکښې مې د هغې یوه مجموعه تیاره کړله. او د دې په شروع کښې مې دقال ابوحنیفه رحمه الله په ځائې قال النعمان بن ثابت اولیکل اودا مې په دریمه ورځ امام اوزاعی ته راوړل.دوی ددې مطالعه اوکړله اوځمانه یې تپوس اوکړو. ((من النعمان؟ قلت أبوحنیفة الذی ذکرته)) دې څخه پس مې اولیدل چه امام اوزاعی د امام ابوحنیفه رحمه الله سره ملاقات اوشو دواړو کښې په هغه مسائلو خبرې اوشوې چه د کومو مسائلو ذکر ما اوزاعیؒ ته وړاندې کړې وو امام اعظم رحمه الله دا مسائل زما د بیانولو نه په زیات وضاحت سره بیان کړل نو چه کله امام ابوحنیفه رحمه الله لاړلو نو ما د امام اوزاعی څخه تپوس اوکړو ((کیف رایته)) تاسو دوی څنګه اولیدل؟ نو دوئ جواب راکړو. ((غبطت الرجل لکثرة علمه ووفور عقله أستغفر الله لقد کنت فی غلط ظاهر الزمه فأنه بخلاف ما بلغنی عنه)) یعنی ما د دې سړی سره د هغه د زیات علم او د کامل عقل د وجې غبطه اوکړه.یقینا زه په ښکاره غلطئ کښې وم. او د الله تعالی څخه د هغه غلطئ ښننه غواړم چې ما په امام ابوحنیفه بآندې کومې تړلې وې ته دې لازم اونیسه ځکه چې دې د هغه خبرو په خلاف وو کومې چې ماته رارسیدلې وې.(یعنی په هغوی کښې هغه خبرې نه وی کومې چې ماته رارسیدلې وې چې د قیاس ته په حدیث ترجیح ورکوی)

البته چه کومواهل علم ته دامام صاحب باره کښې حقیقت معلوم نه شو هغوئ په خپل پخوانی موقف قائم پاتې شول د خپل اخلاص د وجې هغوی به انشاء الله معذور وی خو د دوئ قول د داسې خلقوپه مقابله کښې حجت نشی جوړیدې چه کوم د امام صاحب حقیقت څخه واقف وو.

د بحث خلاصه: خلاصه دا چه په علم حدیث کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله مقام ډیر اوچت دې او چه د کومو حضراتودده څخه کدورت وو هغه د غلطې پروپیګنډې په وجه وو. هم دغه وجه ده چه کومو حضراتوپه انصاف سره د امام صاحب د حالاتومطالعه کړې ده. هغوی دې نتیجې ته رسیدلی دی چه علم حدیث کښې هم امام صاحب د اوچت مقام خاوند وو اوپه ده اعتراضات صحیح نه دی.

دامام اعظم باره کښې د نواب صدیق حسن خان رائې: بلکه نواب صدیق حسن خان صاحب په خپل کتاب: ،التاج المکلل،، کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله تذکره کوی او د دوئ د فقه او د

ورع تعریف کوی او اخر کښې لیکی ((ولم یکن یعاب بشئ سوی قلة العربية)) په ده باندې د عربیت د علم د کمی څخه سوا بل څه عیب نه وو لګیدلې.

د نواب صاحب ه جرح عدم صحت: دلته نواب صاحب دعلم حدیث په اعتبارسره په امام ابوحنیفه رحمه الله هیڅ الزام نه دې لګولې، البته دقلت عربیت الزام پرې لګولې دې، اودا الزام هم څه صحیح نه دې په اصل کښې دا جمله د نواب صاحب نه ده بلکه د قاضی ابن خلکان ده. "وفیات الاعیان" نه ئې رانقل کړې ده خوورانديې پخپله قاضی ابن خلکان د دې الزام تردیدې کړې دې.

په امام اعظم د قلت عربیت الزام لیګیدو واقعه: قاضی ابن خلکان لیکلې دی چه په امام صاحب چه کوم د قلت عربیت الزام لګیدلې دې ددې بنیاد صرف یوه واقعه ده او هغه دا چه یو ځل امام ابوحنیفه رحمه الله په مسجدحرام کښې ناست وو. نو دلته یو مشهورنحوی د دوئ څخه تپوس اوکړو چه که یوسړې څوك په کاڼرې اولی اوهلاك یې کړی نو په ده به قصاص وی اوکه نه؟ امام صاحب اوفرمائیل نه په دې دې نحوی په تعجب سره اووئیل: ((ولو رماه بصخرة)) که هغه په غټه کټه اولی نو بیا څه حکم دې؟ په دې امام صاحب اوفرمائیل ((نعم ولو رماه باباقبیس)) آو هم دغه حکم دې اګرکه په ابی قبیس غر یې اولی. په دې څخه دې نحوی دا مشهوره کړه چه امام صاحب په عربیت کښې مهارت نه لری ځکه چه بابی قیس وئیل پکار وو.

د قاضی ابن خلکان تصویب: خوقاضی ابن خلکان لیکی چه په امام صاحب دا اعتراض صحیح نه دې ځکه چه بعضې قبائیل عرب کښې د اسماء سته مکبرۀاعراب په حالت جری کښې هم په الف سره وی لکه دیوشاعر مشهور شعر دې.

إن أباها أبا أباها قد بلغا في المجد غايتاها

دلته دقاعدې په بناء ((أبا أبيها)) وئیل پکار وو خو شاعرحالت جری کښې هم اعراب په الف سره ظاهرکړو د دې وجې د امام ابوحنیفه مذکوره قول د عربو د دې قبیلې د لغت مطابق وو. صرف دا واقعه بنیاد جوړول او په امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله غوندې شخصیت باندې د قلت عربیت الزام لګول ناانصافی ده. دلته د دې بحث مختصرخلاصه ذکر شوه. تفصیل د علامه ظفراحمدعثمانی کتاب ((إنجاء الوطن من الإزدراء بامام الزمن رحمه الله)) کښې کتلې شی.

④ **د امام اعظم رحمه الله په باره کې د سفیان ثوری قول:** څلورم اعتراض دا کیږی چه امام بخاری

په تاریخ صغیر کښې د نعیم ابن حماد په حواله روایت کړې دې. (١) چه کله د امام ابوحنیفه رحمه الله وفات شو خبر د سفیان ثوری مجلس ته اورسیدو نو دوئ اوفرمائیل ((الحمدلله كان ينقض الإسلام عروة عروة ما ولد في الإسلام أشئم منه)) الله تعالى لره تعریف دې چه دې مړ شو ځکه ده به د اسلام یوه یوه کړئ ماتوله په اسلام کښې د ده څخه سپیره څوك نه دې پیدا شوې.

جواب: د ابوحنیفه رحمه الله په باره کښې د نعیم موضوعی روایت: ددې جواب دا دې چه دا روایت بلا شبه غلط دې ددې په باره کښې امام بخاری خومتهم نه شې کیدې دوئ چه څنګه اوریدلې وو.هم هغه شان ئې نقل کړې دې دا نعیم بن حماد د امام ابوحنیفه رحمه الله په باره کښې سخت متعصب دې. د دې وجې د دې روایت دتکذیب دپاره دومره وئیل کافی دی چه دا د نعیم بن حماد څخه مروی دې ځکه چه حافظ ابن حجر په،،تهذیب التهذیب،،کښې د حدیث د څو امامانو څخه نقل کړی دی. چه اګر چه بعضې خلقو د نعیم توثیق کړې دې خو دې د امام ابوحنیفه رحمه الله په باره کښې دروغ روایات نقل کوی. حافظ فرمائی ((يروى حكايات في ثلب أبي حنيفة كلها كذب)) ددې جملې څخه پس ددې حکایت جواب ورکولو ته هډو ضرورت نشته.د سوچ خبره ده چه سفیان ثوری دا خبره څنګه کولې شی. ځکه چه دې پخپله د امام صاحب شاګرد دې. اوتقریبا نوی فیصده مسائلو کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله موافق وو.

د سفیان ثوری د امام اعظم دپاره اودریدل: پخپله امام ابوحنیفه د دوئ د رور دتعزیت دپاره دوی له راغلونو سفیان ثوری په خپله حلقهٔ درس کښې اودریدو او ددوئ استقبال یې اوکړو. بعضې حاضرینوپه دې تعظیم اعتراض اوکړو. نو امام سفیان ثوری جواب ورکړو ((هذا رجل من العلم بمكان فان لم اقم لعلمه قمت لسنه وان لم قم لسنه قمت لفقهه وان لم اقم لفقهه قمت لورعه (٢) دا سړې د علم هغه مقام ته رسیدلې دې چې مادپاره پکار وو چې زه د ده د علم د وجې اودریدلې وې اوکه علم هم نه وو نو زه به د ده د مشرئ د وجې اودریدم اوکه د مشرئ د وجې هم نه اودریدم نو زه به د ده د فقاهت د وجې اودریدم اوکه د ده د فقاهت د وجې هم نه اودریدم نو د ده د پرهیزګارئ د وجې به اودریدم. دې څخه ظاهره ده چه سفیان ثوری به د امام ابوحنیفه رحمه الله څومره عزت کولو.

امام بخاری رحمه الله ولې دروغ قصه نقل کړه: دلته دا سوال کیدې شی چه د امام بخاری غوندې جلیل القدرمحدث داسې دروغ قصه څنګه روایت کړه؟

(١) ذكرالبخاری فیمن مات فیما بین اربعین اومائة الی خمسین ومائة من التاریخ الصغیر ص،١٧١) طبعة المكتبة الاثرية شیخوپوره ١٢

(٢) تاریخ بغدادی ٣٤١\١٣_

جواب: د دې جواب دا دې چه د امام ابوحنیفه رحمه الله خلاف تعصب لرونکو امام بخاری د امام ابوحنیفه رحمه الله خلاف مکدرکړې وو د دې وجې دوئ ته دنعیم بن حماد په روایاتوکښې هیڅ خرابی نه محسوسیده. دحاسدینودسازش نه علاوه د امام بخاری د تکدریو سبب دا هم دې چه د امام بخاری رحمه الله استاذ حمیدی ظاهری المسلك وو. او ظاهریه د همیشه راسې د احنافو خلاف غیظ او غصه لری نو امام بخاری هم د خپل استاذ د اثراتوڅخه خالی نه وو.

د سفیان ثوری د خپلې سابقه رائې څخه رجوع: شیخ عبدالوهاب شعرانی رحمه الله په، ،المیزان الکبری، ، کښې نقل کړی دی چه شروع کښې سفیان ثوری رحمه الله هم د بعضې خلقو ددې خیال څخه متاثر وو. چه امام صاحب قیاس لره په نصوصو ترجیح ورکوی چنانچه یو ورځ سفیان ثوری رحمه الله مقاتل بن حیان، حماد بن سلمه او جعفرصادق رحمه الله دوئ ته ورغلل اوپه ډیرو مسائلو باندې یې د سحر څخه ترماسپخین پورې خبرې اوکړې په دې کښې امام صاحب د خپل مذهب دلائل پیش کړل. آخرکښې دې ټولوحضراتود امام صاحب لاسونه ښکل کړل.او دوی ته ئې اووئیل «أنت سید العلماء فاعف عنافیما مضی منا من وقیعتنا فیك بغیرعلم» ته د عالمانو سرتاج ئې مونږ ته هغه څه معاف کړه چې مونږ ستا په باره کښې وئیلی وو اود هغې دحقیقت مونږ ته علم نه وو.

⑤ **د ولید بن مسلم جرح:** یواعتراض داهم کیږی چه ولیدبن مسلم وائی ((قال مالك بن انس ایذکرابوحنیفة رحمه الله فی بلادکم قلت نعم فقال ماینبغی لبلادکم ان تسکن)) آیا د ابوحنیفه ستاسو په علاقه کښې ذکر کیږی.ما ورته اوئیل آوهغوی اوفرمائیل مناسب نه دی چې ستاسو په علاقه کښې اوسیدل مناسب نه وی.

جواب: ددې جواب کښې شیخ عبدالوهاب شعرانی رحمه الله په، ،المیزان الکبری، ، کښې وائی چه حافظ فرمائی ددې روایت راوی ولیدبن مسلم ضعیف دې اوکه بالفرض د امام مالك دا قول ثابت هم شی نو د دې مطلب به دا وی چه په کوم ښارکښې د امام ابوحنیفه رحمه الله غوندې عالم وی نو هلته دبل عالم ضرورت نشته.

⑥ **په صحاح سته کښې د امام اعظم عدم ذکر:** یو اعتراض دا کیږی چه د امام ابوحنیفه رحمه الله روایات په صحاح سته کښې نشته د دې څخه معلومیږی چه د صحاح سته د مصنفینو په نیز دې قابل استدلال نه وو.

عدم ذکر عدم صحت لره مستلزم نه دې: ددې جواب دا دې چه دا ډیرعامیانه اعتراض دې ددې حضراتودیوجلیل القدرامام څخه روایات په خپل کتاب کښې نه ذکرکول د هغه تضعیف لره مستلزم نه دی ښکاره خبره ده چه ① امام بخاری رحمه الله د امام شافعی رحمه الله یو

روایت هم نه دي راغستي.
④ بلکه امام احمد بن حنبل رحمه الله چه د امام بخاری رحمه الله استاذ دې اودوئ سره يې ډير صحبت کړې دې. د هغوی هم په ټول بخاری کښې صرف دوه روايتونه دی يو تعليقًا منقول دې او بل امام بخاری رحمه الله د چاپه واسطه روايت کوی.
③ دغه شان امام مسلم خپل صحيح کښې د امام بخاری رحمه الله نه هيڅ روايت نه دې نقل کړې حال دا دې چه دې ددوئ استاذ دې.
④ دغه شان امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې د امام مالك رحمه الله صرف درې روايتونه ذکر کړی دی. حال دا دې چه د امام مالك سند " اصح الاسانيد،، دې آيا د دې څخه دا نتيجه راوځی چه امام شافعی رحمه الله، امام مالك رحمه الله، امام احمد رحمه الله درې واړه ضعيف دی.
د ضائع کيدونکو احاديثو د روايت کولو زيات اهتمام کول: په دې معامله کښې حقيقت هغه دې کوم چه علامه زاهد الکوثری رحمه الله د ((شروط الائمة الخمسة للحازمی)) په حاشيه کښې ليکلی دی چه حقيقت کښې د صحاح سته د مصنفينو مقصد دا خبره وه چه هغه احاديث زيات نه زيات محفوظ کړی شی چې دکومو د ضائع کيدو خطره وه. په خلاف د امام ابوحنيفه رحمه الله، امام مالك رحمه الله، امام شافعی رحمه الله او د امام احمد رحمه الله په شان حضراتو چه ددوی دتلامذو او مقلدينو تعداد دومره زيات وو چه ددوئ درواياتو ضائع کيدو يره نه وه. د دې وجې دوئ ددې دحفاظت زيات ضرورت محسوس نکړو.
⑤ **قياس ته په نصوصو ترجيح ورکول:** په امام ابوحنيفه رحمه الله دټولونه لوې اعتراض داکيږی چه دې قياس په نصوصوباندې مقدم کوی.
جواب: ضعيف حديث ته هم په قياس ترجيح ورکول: ددې جواب دا دې چه دا خبره د واقعه څخه بالکل خلاف ده. د دې په عکس امام صاحب خوکله کله د متکلم فيه حديث د وجې هم قياس پريږدی. لکه د نقض الوضوء بالقهقه په مسئله کښې دوئ قياس ترك کړې دې حال دا دې چه دې باب کښې احاديث متکلم فيه دی. او نورو امامانو دا پريښې دې اوپه قياس يې عمل کړې دې.
دامام اعظم په باره کښې د امام شعرانی قول: دې مسئله کښې شيخ عبد الوهاب شعرانی رحمه الله چه پخپله شافعی المسلك دې پخپل کتاب "الميزان الکبری" کښې يو مستقل فصل قائم کړې دې ((فصل فی بيان ضعف قول من نسب الامام اباحنيفة إلى انه يقدم القياس على حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم)) دې فصل کښې دې ليکی:
پوهه شه چې دا کلام چې امام ابوحنيفه د نصوصو په مقابله کښې قياس اخلی د هغه چا څخه نقل شوې دې چې دامام ابوحنيفه سره تعصب ساتی او په خپله خبره کښې پرهيزګار

نه دي او د الله تعالی د دې قول څخه غافل دې ((اِنَّ السَّمۡعَ وَالۡبَصَرَ وَالۡفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنۡهُ مَسۡئُوۡلًا٥)) بې شکه غوږ، سترګه او زړه د دې ټولو په باره کښې به تپوس کولې شي او د الله تعالی د دې قول څخه غافله دې،، انسان چې څه هم د خلې څخه راؤباسی نو د ده سره لیکونکې فرښته تیاره موجوده وی،،

د دې نسبت په تردید کښې پخپله د امام اعظم قول: او امام ابوجعفر الشیزاماری (د بلخ يو کلی ته نسبت دې) په متصل سند سره د امام ابوحنیفه څخه نقل کړی دی چې په الله قسم هغه کس په مونږ باندې دروغ جوړ کړی دی څوک چه زمونږ باره کښې دا وائی چې مونږ د نص په مقابله کښې قیاس وړاندې کوو.آیا د نص څخه پس قیاس ته څه ضرورت پاتې کیږی او امام ابوحنیفه رحمه الله به فرمائیل مونږ صرف د سخت ضرورت په وخت کښې قیاس کوو.اودا په دې طریقه چې د ټولو څخه وړاندې مونږ د یوې مسئلې دلیل په قرآن یا په سنت یا د صحابؤ په فیصلو کښې ګورو.که مونږ په دې کښې دلیل بیا نه مومو نو په دغه وخت کښې مونږ قیا س کوو.او په یو روایت کښی دی چې دوی به فرمائیل کوم روایت چې مونږ ته د رسول الله ﷺ څخه راشی نو په سرسترګو ئې منو او زما مور او پلار دې د هغوی څخه قربان شی.او زمونږ هیڅ څه مخالفت نه وی.او کوم روایت چې مونږ ته د صحابؤ څخه راشی نو مونږ په هغې کښې اختیار لرو.اوکوم روایت چې مونږ ته د صحابؤ څخه علاوه د بل چا څخه راشی. (لکه تابعین او تبع تابعین) نو هغوی هم سړی دی او مونږ هم سړی یو.(هغوی ته نه د نبی ﷺ صحبت حاصل شوې دې.اونه پیغمبران دی چې په مونږ باندې د هغوی هره خبره منل ضروری دی) (۱)

دې نه علاوه شیخ شعرانی رحمه الله لیکی: ((إعلم یا أخی أنی لم أجب عن الامام بالصدر واحسان الظن فقط کما یفعل بعض وانما اجبت عنه بعد التتبع والفحص فی کتب الادلة ومذهبه اول المذهب تدوینا واخرها انقراضا کما قال بعض اهل الکشف))

⑧ **د امام اعظم اکثر مستدلات ضعیف دی:** په امام ابوحنیفه رحمه الله دا اعتراض هم کیږی چه ددوئ اکثرمستدلات د علم حدیث په رڼا کښې ضعیف دی.

دامام شعرانی قول: ددې تفصیلی جواب خوبه دهرې مسئلې لاندې انشاء الله راشی. د دې

۱) اعلم أن هذا الکلام صدر من متعصب علی الإمام المتهم فی دینه غیرمتورع فی مقاله غافلا عن قوله تعالی ((إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤادَ كُلُّ أُولٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا)) وعن قوله تعالی " مایلفظ من قول إلا لدیه رقیب عتید وقد روی الإمام أبوجعفرالشیزاماری نسبةً إلی قریة من قری بلخ " بالسند المتصل إلی الامام أبی حنیفة رحمه الله کذب والله وافتری علینا من یقول عنا إننا نقدم القیاس علی النص وهل یحتاج بعد النص ألی قیاس وکان رضی الله عنه عنه یقول نحن لانقیس إلا عند الضرورة الشدیدة وذلک إننا ننظر أولا فی دلیل تلک المسئله من الکتاب والسنة وأقضیة الصحابة فان لم نجد دلیلا قسنا حینئذ وفی روایة أخری کان یقول ما جاء عن رسول الله صلی الله علیه وسلم فعلی الراس والعین بابی وامی ولیس لنا مخالفة وماجاءنا عن أصحابه تخیرنا وما جاءنا عن غیرهم فهم رجال ونحن رجال)

څخه علاوه ددې مجموعي جواب شيخ عبدالوهاب شعراني رحمه الله ورکړې دې. هغه ليکي چه ما د ابوحنيفه رحمه الله په دلائلو ښه غوراوکړو. چه د امام صاحب دلائل يا خو د قرآن څخه ماخوذ دي. يا د صحيح احاديثو څخه يا د احاديث حسنؤ څخه يا د داسې ضعيف احاديثو څخه چه د تعدد طرق په وجې په درجه دحسن کښې دی. دې څخه علاوه هيڅ دليل نشته دې. انتهى كلامه،

د دې څخه علاوه د حديث دتضعيف او دتصحيح چه کوم اصول وړاندې بيان شوی دی که هغه په ذهن کښې اوساتلې شي نو د دې اعتراض اوپه احنافوباندې د نورو اعتراضونو جوابونه په آسانه معلوميدې شي د امام اعظم رحمه الله په باره کښې دومره خبرې ديومنصف دپاره کافي کيدې شي.

دامام ابوحنيفه د تعارف کتابونه: زيات تفصيل دپاره به لاندې ليك کتابونه مفيدوی.

① إنجاء الوطن عن الإزدراء بإمام الزمن لمولانا الشيخ ظفر أحمد عثمانی نورالله مرقده

② الرفع والتكميل فی الجرح والتعديل "للإمام عبدالحی لكهنوی رحمه الله مع تعليقه للشيخ عبدالفتاح أبی عدة الحلبی رحمه الله

③ مقدمة التعليقات الممجد على الموطاء للامام محمد "للشيخ لكهنوی رحمه الله

④ الانتقاء فی فضائل الثلاثة الائمة الفقهاء للحافظ ابن عبدالبر الاندلسی رحمه الله

⑤ تبييض الصحيفة فی مناقب الامام ابی حنيفه رحمه الله لجلال الدين السيوطی رحمه الله

والله سبحانه وتعالى اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب

داماماتو د تقليد مسئله:

اطاعت بالذات صرف د الله تعالى پکار دې نه د بل چا: په هرمسلمان اطاعت په اصل کښې د الله او د هغه د رسول الله ﷺ فرض دې بلکه درسول الله ﷺ اطاعت هم صرف دې وجې کيږی چه دوی ﷺ د الله د احکامو تشرّيح کړې ده. ګنې د بالذات د تابعدارئ مستحق الله تعالى دې بل څوك نشته خوظاهره ده چه يوعامی سړی لره خودا ممکن نه ده. چه د الله تعالى سره براه راست خبرې اوکړی اود هغه مرضی معلومه کړی. اونه دا ممکن ده چه رسول کريم ﷺ څخه براه ست رجوع اوکړی. اود الله تعالى د احکامو علم حاصل کړی. د دې وجې د الله تعالى او دهغه د رسول الله ﷺ د اطاعت لاره د دې څخه علاوه بله نشته چه د الله تعالى کلام يعنی قرآن کريم او د نبی کريم ﷺ اقوالو اوافعالو يعنی سنت ته رجوع اوکړې شي.

قطعی الثبوت اوقطعی الدلالت مسائل: اوس دقرآن کريم اود سنت بعضې احکام خوداسې دی چه قطعی الثبوت اوقطعې الدلالة دواړه دی. اودې کښې هيڅ ابهام اواجمال نشته

اونه د دلائلو څه تعارض شته، مثلا د زنا حرمت د پنځو مونځونو فرضيت، د زكاة او حج فرضيت، د محرماتو سره د نكاح عدم جواز وغيره. دا قسم احكام هرسړې دقرآن كريم اوسنت څخه معلوموليې شي. د دې وجې دا مسائل خونه د اجتهاد محل دي اونه دتقليد. البته دقرآن اوسنت دويم قسم هغه دې چه هغې كښې څه ابهام يا اجمال يا د دلائلو تعارض وي.

① **د قروء په لفظ كښې تعارض:** مثلاً دقرآن كريم ارشاد ((وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ)) دې كښې قروء په لغوى اعتبارسره مشترك دې. د دې معنى حيض هم راځى او طهر هم. دلته دا سوال پيدا كيږى چه دلته د دې په كومه معنى عمل اوشى.

② **د مزارعت په جواز اوعدم جواز كښې تعارض:** دغه شان حديث كښې ارشاد دې: ((من لم يذر المخابرة فليؤذن بحرب من الله ورسوله)) [۱] يعنى كوم كس چې مزارعت نه پريږدى نو هغه دې د الله تعالى او د هغه د رسول جنګ ته تيار شى. دې كښې د "مخابرة" يعنى د مزارعت ممانعت شوې دې. اوس دمزارعت څوصورتونه دى او حديث كښې د دې بيان نشته چه كوم صورت جائز اوكوم ناجائز دې؟

③ **په قراءت خلف الامام كښې تعارض:** يا مثلاً يوطرف ته حديث كښې ارشاد دې ((لاصلاة لمن لم يقرأ بفاتحة الكتاب)) [۲] دهغه چا مونځ نه كيږى څوك چې سورة فاتحه اونه وائى. د دې حديث د ظاهر تقاضا دا ده چه قراءت فاتحه په امام مقتدى اومنفرد ټولوفرض ده خو دويم حديث كښې ارشاد دې ((من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة)) [۳] چې د چا امام وى نو د امام قراءت د هغه قراءت دې. ددې تقاضا دا ده چه په مقتدى باندې هيڅ قسم قراءة واجب نه دې.

د قراءت په مسئله كښې د تعارض رفع كول:

① ددې ظاهرى تعارض رفع كولو دپاره يو صورت خو دا دې چه داسې اووئيلې شى چه رومبى حديث اصل دې او دويم حديث كښې د قراءت څخه مراد قراءت فاتحه نه ده بلكه قراءت سورة مراد دې.

② او دويم صورت دا دې چه داسې اووئيلې شى چه دويم حديث اصل دې او رومبى حديث كښې خطاب صرف امام اومنفرد ته دې مقتدى ته نه دې. اوس په دې دواړو

---

[۱] لفظه لابى داؤد ۲\٤٨٣ باب فى المخابرة ورواه الطحاوى فى شرح معانى الاثار ۲فى كتاب المزارعة والمساقاة ۱۲_

[۲] بخارى ۱\۱۰٤ كتاب الصلوة باب وجوب القراءة للامام والماموم والصلوة كلها فى الحضر والسفروما يجهرفيها وما يخافت ۱۲_

[۳] رواه الطحاوى فى شرح معانى الاثار ۱\۱۰٦ فى باب القراءة خلف الامام_

صورتونو کښې کوم صورت اختیارکړې شی ؟ دغه شان مسائل دقرآن او سنت په تشریح کښې په کثرت پیدا کیږی.

په متعارض صورت کښې په خپل عقل اعتماد کول: په داسې موقعو عقلاً دوه صورتونه ممکن دی یوصورت دادې چه داسې معاملاتوکښې مونږ په خپل عقل اوخپل علم باندې اعتماداوکړو اویوجانب متعین کړو اوپه هغې عمل اوکړو.

په متعارض صورت کښې د مجتهد په اجتهاد اعتماد کول: اودویم صورت دا دې چه مونږ په خپل عقل اوعلم باندې د اعتمادکولو په ځائې دیته اوګورو چه زمونږ جلیل القدر اسلافو دې معاملاتوکښې څه طرز عمل اختیارکړې وو.اوپه اسلافو کښې چه زمونږ دکوم مجتهد عالم په علم زیات اعتما د وی د هغه په قول عمل اوکړو. دې دویمې طریقې ته اصطلاحاًتقلیدوائی.

زمونږ علم او تقوی د اسلافو په مقابله کښې: که انصاف سره غوراوکړې شی نودې کښې هیڅ شبه نه پاتې کیږی چه دې دواړو طریقوکښې رومبئ طریقه زیاته خطرناکه ده. او دې کښې د ګمراهئ زیات امکانات دی. ځکه چه دې حقیقت نه څه څوك بد ترین جاهل انکارکولې شی چه زمونږ د علم اوتقوی د اسلافو دعلم اودتقوی سره هیڅ نسبت نشته.

دمجتهدینو عهد رسالت ته نزدیکت: ائمه مجتهدین خو اول زمونږ په مقابله کښې عهد رسالت ته ډیرزیات نزدې وو د دې وجې هغوی زمونږ په نسبت د قرآن پاك د نزول د ماحول ښخه ښه واقف وو.او دغه شان د نبی کریم ﷺ د ارشاداتو دپوره پس منظر څخه هم ښه واقف وو.

د مجتهدینو قوت حافظه: دویم دې حضرات ته چه الله تعالی کوم قوت حافظه اوکوم علم وفضل ورکړې وو. زمونږ علم اوحافظه هغې ته نشی رسیدې. د دې امتحان او معلومات هر هغه وخت لګیدې شی.

دمجتهدینو ورع او تقوی: دریمه الله تعالی دخپل او د خپل رسول الله ﷺ دکلام حقائق او معارف هغه کس ته نه ښکاره کوی کوم چه دده نافرمانوته ملا تړلې وی.د دې وجې د قرآن او سنت په صحیح مرادپوهیدو دپاره دعلم سره سره دتقوی زیات ضرورت دې په دې لحاظ هم چه کله مونږه دخپلوحالاتوموازنه دائمه مجتهدینو سره کوو. نو بلاشبه د زمکې او د آسمان نسبت دې.

د منصف مزاج طریقه کار: ددې وجې به هر انصاف پسند سړې په دغه دوؤ لاروکښې لازماً هم دغه د احتیاط لاره اختیاروی چه پخپل عقل اوپه علم د اعتمادکولو په ځائې په ائمه مجتهدینوکښې د چاپه عقل اوپه علم اعتماد اوکړی او د دې مطابق عمل اوکړی. او دې ته په اصطلاح کښې تقلید وائی :

د تقليد تعريف: دتقليد تعريف اصوليانو داسې کړی چه ((العمل بقول إمام مجتهد من غيرمطالبة دليل)) د امام مجتهد په قول باندې بغير د دليل د غوښتلو څخه عمل کولو ته تقليد وائی.

د غير مقلدينو اعتراض: غيرمقلدين په دې تعريف دا اعتراض کوی چې هرکله بغير د دليل څخه د چا قول باندې عمل کولې شی نو دا خو هغه ته د شارع حيثيت ورکول دی.او دا خو يو قسم شرك دې.چې د مجتهد قول ته د شارع د قول حيثيت ورکولې شی.

د اعتراض څخه جواب: خودتقليد چه کوم حقيقت پورته بيان شو د دې په بناء دا اعتراض پخپله ختميږی ځکه چه دمجتهدقول په دې خيال نشی اختيارولې. چه دې مُطاع يا شارع دې بلکه د شارح په حيثيت دده په شرح اعتمادکولې شی.

په غير صريحی مسئلو کښې تقليد کولی شی: ددې واضح دليل دا دې چه دقرآن اوسنت چه کوم احکام قطعی الثبوت اوقطعی الدلالت دی. هغې کښې مونږ يو امام مجتهدته رجوع نه کوو بلکه مجتهدته رجوع صرف په هغه معاملاتوکښې کوو چه کوم ځائې د اجمال يا ابهام يا دتعارض په بناء دقرآن اوسنت په تشريح کښې څه مشکل راپيښ شی.

دمجتهد بالذات اطاعت نشی کولې: اودتقليد په تعريف کښې د((من غيرمطالبة دليل)) د الفاظوڅخه دې ځوك په دې مغالطه کښې نه پريوځی چه ګنی د مجتهد بالذات اطّاعت کيږی بلکه حقيقت دا دې چه مجتهدته رجوع صرف په دې وجه کيږی چه زمونږ پرې اعتماد وی چه ده سره په خپل قول دقرآن يا د حديث څخه څه مضبوط دليل شته. البته مونږ د دوئ څخه د دليل د بيانولو مطالبه ځکه نه کوو چه په دلائلو کښې د فيصلې د پاره چه کوم قوت اجتهادی پکار دې هغه په مونږ کښې نشته.ددې وجې مونږ د مجتهد دقول اختيارولو دپاره د ده په دليل پوره پوهيدل شرط نه ګرځوو چنانچه په ډيرو معاملاتو کښې د مجتهد دليل زمونږ په پوهه کښې راځی اوډيرو معاملاتو کښې نه راځی په دې سره د غير مقلدينو دا اعتراض هم ختميږی چه کله تقليد د بې دليل عمل نوم دې نو بيا مقلدين په خپلو تصنيفاتو اوتقريرونوکښې د دلائلو څخه بحث ولې کوی؟

جواب: دجواب حاصل دا دې چه د مجتهد په دلائلو ځان پوهه کول دا دتقليد منافی نه دې البته په مطالبه ددليل باندې دامام پيروی موقوف ساتل دتقليد منافی دې په دې وجه د دلائلو علم حاصلولوکښې چه څومره کوشش هم اوشی.د دې څخه د تقليد مخالفت نه لازميږی.

تقليد غيرشخصی: بيادتقليد دوه قسمونه دی.يو صورت خودا دې چه دتقليد دپاره يو امام او مجتهد متعين نه کړې شی بلکه په يوه مسئله کښې ديوامام دقول تقليد اوشی اوپه

بله مسئله کښې دبل امام دقول تقلید اوشی. دې ته تقلید مطلق یا تقلید غیر شخصی وائی
تقلید شخصی: اودویم صورت دا دې چه دتقلید دپاره دیوامام تعین اوشی اوپه هره مسئله کښې ده ته رجوع کولې شی. دې ته تقلید شخصی وائی د دې دواړو قسمونو حقیقت ددې څخه زیات نه دې چه کوم سړې براه راست دقرآن اوسنت څخه د احکامو داستنباط صلاحیت نه لری هغه د داسې امام په قول اعتمادکوی چه دعلم اوتقوی په لحاظ سره دده په نظرکښې قابل اعتماد وی، اودا هغه څیز دې چه د دې جواز بلکه وجوب دقرآن وسنت څخه ثابت دې.

قرآن کریم اوتقلید:

دتقلید دپاره اصول هدایت خو پخپله قرآن کریم کښې شته.

① **د،،اولی الامر،، څخه مراد مجتهدین:** سورة نساء کښې ارشاد دې ‹‹يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوٓا اَطِيعُوا اللّٰهَ وَاَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاُولِي الْاَمْرِ مِنْكُمْ›› دې آیت کښې د،،اولی الامر،، داطاعت حکم شوې دې.
د آیت اول تفسیر: د،،اولوالامر،، تفسیر بعضې حضراتوپه امیرانو اوحکمرانانو سره کړې دې.
د آیت دویم تفسیر: خو د مفسرینویوې لوې ډلې فرمائیلی دی چه دې څخه مراد علماء مجتهدین دی، حضرت عبدالله بن عباس، حسن بصری، عطاء بن ابی رباح، عطاء بن السائب اوابوالعالیه رحمهم الله وغیره څخه هم داتفسیر منقول دې.کمافی تفسیرابن جریر اوامام رازی په تفسیرکبیر کښې هم دا راجح ګرځولې دې. د دې تفسیر مطابق دا آیت د تقلید واضح دلیل دې ځکه چه دې کښې د الله تعالی او د رسول د اطاعت سره د مجتهدینو عالمانو د اطاعت هم حکم ورکړې شوې دې. نوګویا د آیت مفهوم دا دې چه دالله تعالی اودهغه درسول د اطاعت طریقه داده چه د عالمانو اطاعت دې اوکړې شی.
اعتراض: په دې بعضې غیرمقلیدین دا اعتراض کوی چه هم دې آیت کښې وړاندې ارشاد دې‹‹فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ›› یعنی که ستاسو په یوه مسئله کښې څه اختلاف راشی نو هغه مسئله الله او رسول ته یوسئ، نو ددې تقاضا دا ده چه په علماؤ کښې اختلاف وی نو هلته د یو د تقلیدکولو په ځائې د الله تعالی او ذهغه رسول ته رجوع کول پکار وی یعنی داکتل پکار دی چه کوم یوقول دقرآن اوسنت زیات مطابق دې اودا کتل دتقلید منافی دی.
جواب: ددې جواب دادې چه‹‹فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ›› کښې خطاب مجتهدینوته دې عواموته نه دې یعنی دا د مجتهدینوکار دې چه دوی په اختلا فی مسائلوکښې دا اوګوری چه کوم حکم اوفق بالکتاب والسنة دې لکه مشهور اهل حدیث عالم نواب صدیق حسن خان صاحب

په خپل تفسیر "فتح البیان" کښې ددې آیت لاندې لیکی ((والظاهر أنه خطاب مستأنف موجه للمجتهدين)) یعنی ظاهره دا ده چې دا د ابتداء څخه مجتهدینو ته خطاب دې، اوچه کله دا خطاب مجتهدینوته شو نوددې دتقلید سره هیڅ تعارض پاتې نشو.

② **د اولی الامر څخه مراد فقهاء دی:** په سورة نساء کښې ارشاد دې((وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِۦ ۖ وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنۢبِطُونَهُۥ مِنْهُمْ ۗ))

د آیت پس منظر: ددې آیت پس منظر دادې چه د جنګ په زمانه کښې به منافقینو رنګ په رنګ افواه ګانې خورولې او بعضې ساده مسلمانانو به په دې افواه ګانو اعتماد کولو او وړاندې به یې خورولې. دغه شان به غلطې افواه ګانې په ښار کښې خورې شوې او دې سره په بدنظمې پیدا شوه. قرآن کریم کښې ارشاد اوشو. چه مسلمانانو لره پکار دی چه کله څه افواه واوری نوددې د خورولو څخه وړاندې دې فقهاؤ اصحابو ته رجوع کوی او هغوی ته دې اووائی چه هغوی د معاملې تل ته اورسیږی اومناسب کاروائی اوکړی.

استدلال: دا آیت اګرچه دیوې خاص واقعې سره متعلق دې خود اصول تفسیر مسلمه قاعده ده چه ((العبرة لعموم اللفظ لالخصوص السبب)) یعنی اعتبار د لفظ عموم لره وی د خاص سبب نه وی. د دې وجې په دې آیت کښې دتقلید اصولی جوازشته.لکه امام رازی رحمه الله په تفسیرکبیرکښې اوامام ابوبکرجصاص رحمه الله په احکام القرآن کښې ددې څخه د تقلید په مشروعیت استدلال کړې دې. بعضې غیر مقلدین دا هسې لرې اوبعید استدلال ګڼړی.خوپخپله نواب صدیق خان صاحب په تفسیر "فتح البیان" کښې ددې آیت څخه په جحیت قیاس استدلال کړې دې که د دې نه په قیاس استدلال کول بعید نه دې نو په تقلید هم استدلال کول بعیدنه دی.

③ **په معلمینود حاضرینو دخبرې منلو وجوب:** ((فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ))

په دې آیت کښې تعلیم دې چه ټولوخلقودپاره په یوکارکښې مشغوله کیدل نه دی پکار بلکه څه خلق دې جهاد اوکړی اوڅه دې علم حاصل کړی بیا علم حاصلونکی دې ړومبې قسم خلقوته ددین مسائل اوښائی اوظاهره ده چه په ړومبې قسم خلقوبه واجب وی چه ددې خلقوخبره اومنې اوهم داتقلید دی.

④ **غیرعالم به عالم ته رجوع کوی:** ((فَسْـَٔلُوٓا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ)) دې آیت کښې دا اصولی تعلیم ورکړې شوې دې چه بې خبره سړې دې خبر دارته رجوع اوکړی. دلته هم دا آیت اګرچه د اهل کتابوپه باره کښې نازل شوې دې.خو د((العبرة بعموم اللفظ)) مطابق داقاعده را اوځی چه غیرعالم دې عالم ته رجوع اوکړی او د دې نوم تقلید دې.

تقليداوحديث:

① **د شيخينو د تابعدارئ حکم:** د حضرت حذيفه رضی الله عنه څخه روايت دې چه ((قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إني لا أدري مابقائي فيكم فاقتدوا بالذين من بعدي أبي بكر وعمر)) [1] ماته علم نشته چې زه به څومره وخت په تاسو کښې موجود يم نو تاسو زما څخه پس د ابوبکر او عمر اقتداء کوئ.

په دې حديث کښې داقتداء حکم ورکړې شوې دې اولفظ د اقتداء په انتظامی امورو کښې د اطاعت دپاره نه بلکه دينی امورو کښې د اطاعت حکم دې.

② **تابعين دې د صحابؤ اتباع اوکړی:** په صحيح بخاری کښې مروی دی چه بعضې صحابه کرام به جماعت ته روستوراتلل نو نبی کريم صلى الله عليه وسلم دوی ته د زر راتلو اوپه ړومبی صفونو کښې د مونځ کولوتاکيداوکړو اوورته يې ارشاد اوکړو. ((ائتموا بي وليأتم بكم من بعدكم)) [2]

يومطلب: ددې حديث يومطلب دا دې چه د ړومبی صفونوخلق دې نبی کريم صلى الله عليه وسلم ته ګوری او د نبی عليه السلام اقتداء دې کوی.

دويم مطلب: خوددې دويم مطلب دا هم دې چه صحابه کرام دې د نبی کريم صلى الله عليه وسلم مونځ ښه اووينی څکه چه راتلونکې نسلونه به د صحابؤ تقليداو اتباع کوی لکه حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې ددې حديث شرح کښې ليکلی دی ((وقيل معناه تعلموا مني أحكام الشريعة وليتعلم منكم التابعون بعدكم وكذلك اتباعهم إلى انقراض الدنيا)) اووئيلی شوی دی چې تاسو زما څخه د شريعت احکام زده کړئ او ستاسو څخه پس دې تابعين ستاسو څخه زده کړه اوکړی او دغه شان د هغوی څخه پس خلق دې د هغوی نه تر دنيا ختميدو پورې.

③ **د عامی کس د تاويل ترديد:** په مشکاة کښې د امام بيهقی د 'المدخل' په حواله د حضرت ابراهيم بن عبدالرحمن العذری څخه روايت دې چه نبی کريم صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ((يحمل هذا العلم من كل خلف عدوله ينفون عنه تحريف الغالين وانتحال المبطلين وتأويل الجاهلين)) [3]

استدلال: دې حديث کښې دجاهلانو دتاويلاتو مذمت شوې دې.اوبيان يې کړې دې چه د دوئ د تاويلاتو ترديد په عالمانوفرض دې. دې څخه معلومه شوه چه کوم خلق دقرآن

---

[1] رواه الترمذي وابن ماجه وأحمد (مرقاة المفاتيح ٥٤٩/١٥ باب مناقب ابى بكروعمر رضی الله عنهما ۱۲_

[2] ((الصحيح البخاري ٩٩/١ كتاب الصلوة باب الرجل يأتم بالإمام و يأتم الناس بالمأموم))

[3] مشكوة المصابيح ٣٦/١ كتاب العلم الفصل الثالث

اوسنت په علوموکښې مجتهدانه بصیرت نه لري هغوئ لره په خپل فهم اعتماد کول اوقرآن اوسنت کښې تاویلات نه دي کول پکار بلکه عالمانوته دې رجوع اوکړي. هغوی څخه دې د دین مسائل معلوم کړي او ددې نوم تقلید دې.

په دویمه طریقه استدلال: بیا دلته دا خبره هم قابل غور ده. چه قرآن او سنت کښې تاویلات هغه سړې کولې شی چه دکوم قرآن اوسنت سره څه مناسبت وی خوحدیث کښې داسې سړی ته هم جاهل وئیلې شوی دی دې څخه معلومه شوه چه دقرآن اوسنت څخه د مسائلو د استنباط دپاره لږ ډیرمعلومات کافی نه دی.

د صحابؤ په زمانه کښې تقلید مطلق

د عامو صحابؤ فقهاؤ صحابؤ ته رجوع کول: هم دغه وجه ده چه دصحابؤ په زمانه کښې که د اجتهاد ډیرمثالونه ملاویږی نو د تقلید هم ډیر مثالونه موجود دی یعنی چه کومو صحابؤ به دقرآن اوسنت څخه براه راست د مسائلو استنباط نشوکولې. هغوئ به فقهاؤ صحابؤ ته رجوع کوله او د هغوی څخه به یې مسائل معلومول. اوفقهاء صحابؤ به ددې جواب په دوه طریقو ورکولو. کله به یې دلیل بیانولو او کله بغیرددلیل بیانولو څخه. البته دصحابه کرامو رضي الله عنهم په زمانه کښې تقلید شخصی ضروری نه ګڼړلې کیدلو. بلکه دتقلید مطلق اوتقلید شخصی دواړو رواج وو.

په صحابؤ کښې د فتوی رواج: دتقلید مطلق مثالونه د صحابه کرامو په زمانه کښې بې شمیره دی ځکه چه هرفقیه صحابی به په خپله خپله حلقهٔ اثرکښې فتوی ورکوله.اونورو حضراتوبه د هغه تقلید کولو. لکه علامه ابن القیم په خپل کتاب "اعلام الموقعین" کښې لیکی ((والذین حفظت عنهم الفتوی من أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم مائة ونیف وثلثون نفسا ما بین رجل وامرأة)) ترجمه: هغه صحابه کرام چه د هغوی د فتوی ورکولو معلومات محفوظ دی د هغوی تعداد یو سل دیرش نه هم زیات دی په هغوی کښې سړی هم وو او ښځې هم.

د صحابؤ د عمل تقلید: ددې حضراتوعامې فتاوی دتقلید مطلق مثال دې بلکه د متعددو روایاتو څخه معلومیږی چه د صحابه کراموصرف د قول نه بلکه دعمل هم تقلید کیدلو. مثلا مؤطا امام مالك کښې روایت دې چه حضرت عمر طلحه رضي الله عنه په حالت د احرام کښې رنګینه جامې اغوستې اولیدلونوپه دوی ئې اعتراض اوکړو. نودوئ جواب ورکړو چه دې رنګ کښې خوشبونشته په دې حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائیل چه ((إنکم أیتها الرهط أئمة یقتدی بکم الناس فلو أن رجلا جاهلا رأی هذا الثوب لقال أن طلحة بن عبید الله قد کان

يلبس الثياب المصبغة في الإحرام فلا تلبسوا أيها الرهط شيئا من هذا الثياب المصبغة))[1]
اې د امامانو جماعته په تاسو پسې خلق اقتداء کوی که چرته یو جاهل سړې دا جامې اووینی نو هغه به وائی چې طلحه بن عبیدالله رضي الله عنه به په حالت احرام کښې رنګ شوې جامې اغوستې نو اې جماعته تاسو ددې رنګ شوې جامو څخه هیڅ مه اغوندئ.

استدلال: ګورئ په دې روایت کښې حضرت عمر رضي الله عنه حضرت طلحه رحمه الله ته فرمائی چې خلق ستاسو په عمل پسې اقتداء کوی او هغه خپل دلیل جوړوی.معلومه شوه چې د صحابؤ عمل هم قابل تقلید ګڼړلې شو.

په عهد صحابه کښې تقلید شخصی:

دغه شان عهد صحابه کښې دتقلید شخصي هم ګڼړ مثالونه ملاویږی د هغې څخه څو لاندې لیکلی شی:

① **د زید بن ثابت رحمه الله تقلید:** په بخاری کښې د حضرت عکرمه رضي الله عنه نه روایت دې ((إن أهل المدينة سألوا ابن عباس رضي الله عنه عن امرأة طافت ثم حاضت قال لهم تنفر قالوا لانأخذ بقولك وندع قول زيد))[2] یعنی اهل مدینه د ابن عباس رضي الله عنهما څخه د هغه ښځې په باره کښې تپوس اوکړو چې طواف اوکړی او بیا حائضه شی. نو ابن عباس ورته اوفرمائیل چې لاړه دې شی هغوی ورته اووئیل مونږ ستا په قول عمل نه کوو چې ستا په قول عمل اوکړو اود حضرت زید قول پریږدو. اوهم داروایت په معجم اسماعیلی کښې د عبدالوهاب الثقفی په سند سره نقل دې هغې کښې د اهل مدینه دا الفاظ مروی دی ((لانبالي افتيتنا أو لم تفتنا زيد بن ثابت يقول لاتنفر))[3] یعنی مونږ څه پرواه نه کوو که ته مونږ ته فتوی راکوئ اوکه نه راکوئ (مونږ ستا په فتوی عمل نه کووځکه چې) زید بن ثابت فرمائی (چې په مذکوره صورت کښې) ښځه به نه ځی. اومسند ابی داؤد طیالسی کښې ددوئ داالفاظ مروی دی ((لانبايعك يا ابن عباس وأنت تخالف زيدا))[4] یعنی اې ابن عباس مونږ تا سره بیعت نه کوو. حالانکه ته د حضرت زید مخالفت کوې.

استدلال: د دې څخه ښکاره معلومیږی چه دوئ د حضرت زیدبن ثابت رضي الله عنه تقلید شخصی کولو. ددې په بناء دوئ د حضرت ابن عباس رضي الله عنه غوندې صحابی فتوی قبول نه کړله اوددوئ د قول ردکولو وجه ئې ماسوا د دې څخه بله بیان نکړه چه د دوئ دا قول د زید

---

[1]) اخرجه الموطا في الحج في باب ليس الثياب المصبغة في الاحرام واحمد في مسنده ١٩٣١١ في احاديث عبدالرحمن بن عوف رحمه الله

[2]) صحيح بخاري ((٢٣٧١١ كتاب الحج باب اذا حاضيت المراة بعد ما افاضت)

[3]) فتح الباري ٤٦٨١٣ طبع ميريه ١٣٠٠ ھ وعمدة القاري ٧٧٧١٤، ١٢

[4]) مسند ابوداؤد طيالسي ٢٢٩١ مرويات ام سليم١٢ـ

رضی الله عنه دفتوی خلاف وو. او حضرت ابن عباس رضی الله عنه هم په دوی اعتراض اونکړو. چه تاسو تقلید شخصی کوئ دګناه یا د شرك مرتکب شوئ. بلکه دوی دا هدایت اوکړو چه د حضرت ام سلیم رضی الله عنها ځخه د مسئلې تحقیق اوکړئ او حضرت زیدبن ثابت رضی الله عنه ته بیا رجوع اوکړئ. اوهمداسې اوشوه او حضرت زید رضی الله عنه د حدیث تحقیق اوکړو اود خپلې سابقه فتوی ځخه ئې رجوع اوکړه دمسلم وغیره روایتونوکې دهغوی درجوع بیان شته[1] بهرحال ددې واقعې ځخه داخبره معلومیږی چه اهل مدینه د حضرت زید بن ثابت تقلید شخصی کولو.

② دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه تقلید شخصی: په بخاری کښې د حضرت هذیل بن شرحبیل ځخه مروی دی چه د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه ځخه ځه خلقودیوې مسئلې تپوس اوکړو. دوئ جواب خو ورکړو خوورسره ئې دا هم اوونیل چه ((لاتسئلونی مادام هذا الحبر فیکم)) ترڅو پورې چې په تاسو کښې دا د علم سمندر (یعنی عبدالله بن مسعود رضی الله عنه) موجود وی نو تاسو زما ځخه تپوس مه کوئ.[2]

اود مسند احمد دروایت داالفاظ دی ((لاتسئلونی عن شئ ما دام هذا الحبر بین اظهرکم))[3] تاسو زما ځخه د یوې مسئلې تپوس هم مکوئ ترڅو چې دا دعلم سمندر په تاسو کښې موجود وی. دلته دحضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه دا مشوره ورکول چه تاسوهره مسئله د ابن مسعود رضی الله عنه ځخه تپوس کوئ داتقلید شخصی وو.

③ د معاذبن جبل رضی الله عنه تقلید شخصی: په ابوداؤد اوترمذی وغیره کښې مشهوره واقعه ده چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه یمن ته اولیږلو اودوئ ته ئې د شریعت د مآخذو هدایت اوکړلو. په دې واقعه کښې ئې حضرت معاذ رضی الله عنه صرف ګورنرنه وو مقررکړې. بلکه قاضی اومفتی ئې هم مقررکړې وو. د دې وجې د یمن دخلقو دپاره د دوی د تقلید کولو ځخه سوا بله لاره نه وه نو اهل یمن دده تقلید شخصی کولو.

اعتراض: په دې بعضې غیرمقلدین وائی چه حضرت معاذ رضی الله عنه قاضی وو مفتی نه وو.

جواب: خودا خیال بالکل غلط دې په بخاری کښې د حضرت اسود بن یزید رضی الله عنه روایت دې چه ((أتانا معاذبن جبل بالیمن معلماً أو أمیراً فسألناه عن رجل توفی وترك ابنة وأخته فأعطی الابنة النصف والاخت النصف))[4] دې ځخه ښکاره معلومیږی چه دوی د مفتی په حیثیت

---

[1] ۴۲۷\۱ کتاب الحج باب وجوب طواف الوداع وسقوطه عن الحائض ۱۲_
[2] صحیح بخاری ((۹۹۷\۲ کتاب الفرائض باب میراث ابنة ابن مع ابنة)
[3] مسنداحمد ۴۶۴\۱ فی أحادیث عبدالله بن مسعود رضی الله عنه
[4] صحیح بخاری ((۳۹۷\۲ کتاب الفرائض باب میراث البنات)

فتوی ورکوله. اوزیربحث مسئله کښې دوی په خپله فتوی څه دلیل هم نه دې بیان کړې اواهل یمن دا قول صرف د تقلید په وجه قبول کړو.

خلاصه د بحث: غرض په عهدصحابه کښې دتقلیدمطلق اودتقلیدشخصی نظائر ډیر دی او واقعه هم دا ده چه د اصل په اعتبارسره دواړه جائزدی.اوپه قرون اولی کښې په دواړو طریقو بغیر د څه انکار عمل کیدلو خوروستنی عالمانو دیوعظیم انتظامی مصلحت په بناء دتقلیدِ مطلق په ځائې دتقلیدِ شخصی التزام کړې دې.

د هوی تابعداری: په دې مصلحت دپوهیدودپاره په ذهن کښې دا راوستل ضروری دی چه اتباع هوی دقرآن کریم دبې شمیره تصریحاتومطابق ډیرسخت مرض دې. بیا اتباع هوی یوخو دا ده چه انسان حرام حرام اوګنړی اوارتکاب یې اوکړی.اودې څخه هم بدترین صورت دا دې چه انسان داتباع هوی د وجې د حرام د حرمت څخه انکاراوکړی. دا شکل ځکه ډیر خراب دې چه دې کښې انسان ته په خپل فعل ندامت هم نه وی.

د تقلید مطلق ممانعت: فقهاءکرامو دا محسوس کړه چه په قرون اولی کښې دیانت عام وو نو دغه وخت په تقلید مطلق کښې داتباع هوی څه خطره نه وه خو روستو د دیانت هغه معیار باقی پاتې نشو. نوکه دتقلیدمطلق دا دروازه بالکل لرې پریښودې شی نوخلقو به خپل نفس د خواهشاتو مطابق چه دکوم امام په قول کښې ډیره آسانی وینی هغه به ئې اختیاروی او دا لویه ګمراهی ده چه په دې کښې د چا شك هم نه راځی چې دا د اسلام څخه خلاف دی بکله هر یو کس په دې باندې پوهیږی چې دا طریقه د اسلامی تعلیماتو بالکل خلاف ده. پخپله علامه ابن تیمیه رحمه الله دا طرز عمل ډیر مذموم ګرځولې دې چه دنفسانی خواهشاتوپه اتباع کښې کله دیوامام قول اختیارشی اوکله دبل.

حقیقت دا دې چه که ددې خبرې آزادی ورکړې شی چه دکوم مجتهدقول دې خوښ شی هغه اختیارکړه.نو ددین څخه به تهوقې جوړې شی ځکه چه اکثرو مجتهدینو په اقوالو کښې څه ناڅه منفرد اقوال داسې ملاویږی چه د خواهشات نفس مطابق وی

په سهولت مبنی منفرد اقوال: ① مثلاً د امام شافعی رحمه الله په نیز دشطرنج لوبه جائزده.

② حضرت عبد الله بن جعفر طرف ته د موسیقی د جواز نسبت شوې دې.

③ حضرت قاسم بن محمد ته منسوب دې چه ده به بې سوری تصویر ته جائز وئیلې.

④ مالکیانو کښې امام سحنون ته منسوب دی چه دې د خپلې زوجې سره وطی فی الدبر ته جائز وائی.

⑤ دامام اعمش څخه منقول دی چه دده په نیز روژه د نمر ختلوڅخه نیول شروع کیږی.

⑥ د ابن حزم ظاهری مذهب دا دې چه دکومې ښځې سره دې د نکاح اراده وی هغې ته په بربنډه کتل هم جائزدی.

⑦ دغه شان ددوی مسلك دا دې چه که دیوې ښځې دیوسړې څخه پرده کول مشکل وی نو هغې لره جائزدی چه دې بالغ سړې باندې دخپل تې پئې اوڅکی داسې به حرمت رضاعت ثابت شی.اوهغه ښځه به د ده دپاره رضاعی محرمه اوګرځی اود پردې کولو حکم به ختم شی.

⑧ د حضرت عطاء بن ابی رباح مسلك دا دې چه که د جمعې په ورځ اختر راشی نو په دغه ورځ به د ماسپخین مونځ اوجمعه دواړه ساقط شی.

په آسان قول د عمل کولو مذمت: غرض داکه یوسړې داسې اقوال تلاش کړی نو یوداسې دین به تیارشی چه د هغې بانی به ماسوا د شیطان اونفس څخه بل څه نه وی د دې وجې د بعضې اسلافو قول دې چه ((من أخذ بنوادر العلماء خرج من الاسلام)) یعنی کوم کس چې د عالمانو په نوادراتو عمل اوکړو نو دې به د اسلام څخه خارج شی. اوحافظ ابن حجر په تلخیص الحبیر کښې د حضرت معمر قول نقل کړې دې. چه ((لوأن رجلاً أخذ بقول أهل المدينة فى استماع الغناء وإتيان النساء فى أدبارهن وبقول أهل مكة فى المتعة والصرف وبقول المسكر كان شرالرجال))[1]

د تقلید شخصی وجوب: خلاصه داچه دتقلید مطلق په اجازت ورکول کښې ددې قسم اتباع هوی شدید خطره وه. د دې وجې عالمانو په څلورمې صدئ هجری کښې تقلید شخصی واجب اوګرځولو.حضرت شاه ولی الله صاحب رحمه الله په حجة الله البالغه کښې دعالمانو ددې فیصلې ذکرکوی اولیکی چه ((وكان هذا هوالواجب فى ذلك الزمان)) یعنی دا تقلید شخصی په هغه زمانه کښې واجب وو.

اشکال: په دې اشکال راځی چه کوم څیز د صحابؤ په زمانه کښې واجب نه وو هغه روستو څنګه واجب شو؟

جواب: د واجب دوه قسمونه: ددې جواب حضرت شاه ولی الله صاحب په،،الانصاف فی بیان سبب الاختلاف،، کښې ورکړې دې چه واجب دوه قسمه دې: ①یوواجب لعینه ② دویم واجب لغیره.

① واجب بعینه خوهغه څیز دې چه کوم عهد رسالت کښې واجب شوې دې اودې څخه روستو دې کښې اضافه نشی کیدې.

② واجب لغیره : په واجب لغیره کښې اضافه کیدې شی او هغه داسې چه مقصود د یو

---

[1]) دا مقدمه ما د درس ترمذی څخه رانقل کړې ده په هغې کښې دا عبارت هم داسې دې.څنګه چې تاسو ته ښکاری ما په تلخیص الحبیر کښې دا عبارت اوکتل خو ماته ملاؤ نشو کیدې شی په درس ترمذی کښې په حواله کښې غلطی وی احقر شاه فیصل

واجب اداء کول وی خو که ددې واجب د اداء کولو په څه زمانه کښې یوه طریقه پاتې شي نودا طریقه هم واجب ګرځی.

مثال: مثلاً عهد رسالت کښې حفاظت د حدیثو واجب وو کتابت واجب نه وو ځکه چه دحفاظت حدیث فریضه صرف په حافظه هم اداء کیدې شوه خو روستوچه کله په حافظو باندې اعتماد پاتې نشو. نود حفاظت حدیث طریقه ما سوا دکتابت څخه بله پاتې نشوه نوځکه کتابت واجب شو.

استدلال: دغه شان په عهد صحابه اوتابعین کښې دغیرمجتهد دپاره تقلید مطلق واجب وو خوچه کله دتقلید مطلق لاره خطرناکه شوه نو اوس صرف تقلید شخصی واجب اوګرځولې شو. هم دې خبره ته حضرت شیخ الحدیث په دې الفاظو کښې اشاره کړې ده چه تقلید شخصی څه شرعی حکم نه دې بلکه یو انتظامی فتوی ده.

د یو مصحف اتباع واجب ګرځول: ددې یو واضح نظیر دا دې چه دحضرت عثمان ﷛ څخه وړاندې قرآن کریم په هر رسم الخط کښې لیکل جائز وو خو حضرت عثمان ﷛ دیوې سختې فتنې د سدباب دپاره ټول امت په یو رسم الخط جمع کړو اوپه بل رسم الخط لیکل یې ناجائز اوګرځول نوپه دې د امت اجماع منعقد شوه. په دې باندې څوک دا اعتراض نشی کولې چه یو غیر واجب څنګه واجب اوګرځولې شو بالکل هم دا معامله د تقلید شخصی هم ده چه دیو عظیم فتنې دسدباب دپاره دا واجب اوګرځولې شو.

د تقلید مختلف درجات: تردې خود تقلید مطلق اثبات وو البته د مقلد د علمي صلاحیت په لحاظ سره د تقلید مختلف درجات وی ددې درجاتو څخه د ناواقفیت په وجه بعضې وخت سړې په افراط اوتفریط کښې واقع کیږی. اودغیرمقلدینو د زیاتو اعتراضاتو وجه فرق مراتب د نه پیژندو نتیجه ده نویاد ساتل پکار دی چه د تقلید څلور درجې دی او د هغې احکام جُدا جُدا دی:

①**دعوامو تقلید:** دټولو څخه ړومبۍ درجه دعوامو د تقلید ده د عوامو څخه مراد زمونږ درې قسمه خلق دی:

① یو خو هغه خلق چه دعربۍ او اسلامی علومو څخه بالکل خبر نه وی په بل فن کښې چه هرڅومره ماهر وی.

② دویم هغه خلق چه په عربۍ ژبه خوښه پوهیږی خو اسلامی علوم دوئ باقاعده نه وی وئیلي.

③ اودریم هغه خلق چه په رسمي طور خوفارغ التحصیل دی خو په اسلامی علومو کښې ورته بصیرت تجربه اومهارت حاصل نه وی.

په درې واړه قسمه د تقلید وجوب: ددې درې واړو حکم دا دې چه په دوئ په هرحال کښې

تقليد واجب دي د خپل امام يا د مفتي قول نه ورته خروج جائز نه دي. اګرچه ده ته دده قول په ظاهره دحديث خلاف معلوميږي په ظاهره ورته دا خبره عجيبه معلوميږي چه دانسان وړاندې دې يوحديث وي اوهغه دې دغه حديث پريږدي. اود خپل امام اويا مفتي په قول عمل دې کوي. خو دکومو عوامو چې مونږ خبره کوو د هغوئ دپاره د دې څخه سوا بله څه چاره نشته ځکه چه دا خلق دقرآن اواحاديثو په دلائلو کښې د غور او د محاکمې اهل نه دي کله کله د قرآن اود حديث متبادره معنی يوه وي خو دنورو دلائلو په رڼا کښې ددې محمل بل وي داسې صورت کښې که داسې عواموته ددې خبرې اجازت ورکړې شي چه تاسوکه يوحديث د خپل امام دقول خلاف بيا مومی نو د امام قول پريږدئ نو د دې نتيجه به ډيرکرتې د سختې ګمراهئ څخه علاوه بل څه نه وي بلکه بې شماره خلق په دې طريقه ګمراه شوی دي.

د فرضيت استقبال الى القبله څخه انکار: مثلاً بعضې خلقودقرآن کريم د آيت «وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ» يعنی مشرق او مغرب ټول اړخونه دالله تعالی دپاره دی نو چې کوم طرف ته تاسو (په مانځه کښې) مخ کوئ هم هغه طرف ته دالله تعالی ذات دې (اوستاسو مونځ کيږي) څخه استدلال کړې دې. اوپه مونځ کښې ئې د استقبال قبلې د فرضيت څخه انکارکړې دې.

بغير د آواز اوريدو څخه په هوا خارجيدو د اودس نه ماتيدل: مثلاً په حديث ((لاوضوء إلا من صوت أو ريح)) يعنی نشته اودس مګر د آواز او هوا څخه مطلب دا دې چې اودس نه ماتيږي مګر په دې صورت کښې چې د سړی نه هوا خارجه شي او آواز هم اوځی. نو که يوعام سړې ددې متبادره معنې باندې عمل اوکړی اود امامانو قول پريږدی نو په اجماع سره به ګمراه وی.

په حجامت سره د روژې ماتيدل: لکه امام ابو يوسف رحمه الله فرمائی: چه که يو سړې د روژې په حالت کښې احتجام اوکړی او دې حديث ته اوګوری. ((أفطر الحاجم والمحجوم))(١) نو په ده کفاره واجب ده اوکه يومفتی ده ته غلطه مسئله اوښائی چه په حجامت سره روژه

١) (رواه ابوداؤد ٣٢٢١١) عن ثوبان مرفوعافی کتاب الصيام باب فی الصائم يحتجم دا حديث سندا صحيح دي خوصحيح بخاری کښې يوبل حديث مروی دې چه نبی کريم ﷺ پخپله د روژې په حالت کښې ښکر اولګولو. اونسائی کښې د حضرت ابوسعيد خدری څخه روايت دې چه دوئ روژه دارته دښکرلګولو اجازت ورکړو د دې په بناء جمهور عالمان ددې خبرې قائل دی چه د ،، افطر الحاجم والمحجوم،، حکم يا منسوخ دې يا دوئ دغه خاص کسان داسې په يوبل کاراوليدل چه هغې سره د دوی روژه ماته شوله. ددې حديث نورهم توجيهات شوې دی تفصيل به انشاء الله «ابواب الصوم باب ماجاء فی کراهية الحجامة للصائم» کښې راشي.

ماتیږي. اوده د دې وجې خوراك څښاك اوکړو نو په ده کفاره واجب نه ده. اوددې وجه بیانوی ((لان علی العامی الاقتداء بالفقهاء لعدم الاهتداء فی حقه إلی معرفة الاحادیث)) ([1])یعنی ځکه چې د عامی دپاره په فقهاؤ پسې اقتداء کول پکاردی ځکه چې د احادیثو په مفهوم باندې دې نه پوهیږی. نو هر کله چې ده په حدیث باندې پخپله عمل اوکړو.اود عالم څخه یې تپوس اونکړو.نوپه ده باندې کفاره واجب ده.ځکه چې ده د حدیث په مفهوم پوهیدو کښې کوتاهی اوکړه چې عالم ته یې رجوع اونکړه.اوپه کوم صورت کښې چې ده ته فقیه غلط ه فتوی ورکړه نو په ده کفاره ځکه نشته چې ده خپله ذمه واری پوره کړه چې عالم ته یې رجوع اوکړه نو ځکه به په ده باندې فدیه نه واجبیږي.

۲دویمه درجه د متبحر عالم تقلید: دویمه درجه دمتبحرعالم دتقلید ده. دمتبحرعالم څخه مراد زمونږ هغه کس دې چه درجه د اجتهاد ته نه وی رسیدلې خودقرآن اوسنت په علومو کښې ورته کافی مهارت اوبصیرت حاصل وی.اوکم نه کم د خپل مذهب د مسائلو استحضار اوملکه ورته پیدا شوې وی. د داسې سړی تقلیدد عوامو د تقلید څخه مختلف دې یعنی داسې سړې به لاندې لیکلی شوی امورو کښې ممتاز وی:

۱ د خپل امام په مذهب کښې یې که دیوڅخه زیات اقوال وی نوپه دې کښې د ترجیح یاتطبیق کولو استعداد او صلاحیت ورته حاصل وی.

۲ چه په کومومسائلو کښې د امام څخه څه صراحت منقول نه وی. په هغې کښې د امام د اُصولو مطابق احکام مستنبط کوی.

۳ د ابتلاء عام اودضرورت شدیده په موقع بعضې وخت دې دیوبل مجتهد په قول فتوی ورکوی چه دهغې شرائط د اصولِ فتاوی په کتابونو کښې مذکور دی.

۴ داسې سړی ته که د امام یوقول د څه صحیح او صریح حدیث خلاف معلوم شی او د هغې معارض، څه بل حدیث هم نه وی اود امام په قول دده شرح صدر نه وی شوې نو داسې صورت کښې به دې د امام قول پریږدی اوپه حدیث به عمل کوی. مثلاد مزارعت په مسئله کښې د حنفیانو مشائخو د امام ابوحنیفه رحمه الله قول پرینبې دې اود جواز فتوی ئې ورکړې ده.

دغه شان اشر به اربعه څخه علاوه نورو شرابونو کښې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز د مقدار مسکر څخه کم څکل د قوت حاصلولو دپاره جائز دې خو احنافو مشائخو د صریح احادیثو په بناء ددوی قول ترك کړې دې.

۱) کذافی الهدایه ۱\۲۲٦ باب مایوجب القضاء والکفارة)

③**دریمه درجه دمجتهد فی المذهب تقلید:** دریمه درجه د مجتهدفی المذهب دتقلیدده مجتهدفی المذهب هغه کس ته وائی چه د اجتهاد مطلق په منصب خو فائز نه وی یعنی اصول استدلال پخپله وضع کولې نه شی خو د استدلال د اصولو په رنړا کښې په استنباط احکام باندې قادر وی. داسې سړې اصولوکښې مقلد وی او فروع کښې مجتهد لکه ابویوسف رحمه الله، امام محمد رحمه الله، امام زفر رحمه الله، اوشوافعو رحمه الله کښې امام ابوثور رحمه الله امام مزنی رحمه الله اومالکیانوکښې سحنون بن القاسم رحمه الله اوحنابلو کښې خرقی او ابوبکرالاثرم وغیره.

④**څلورمه درجه دمجتهدمطلق:** دتقلیددټولوڅخه آخری درجې ته د مجتهدمطلق هم ضرورت پېښیږی. هغه اګرچه بذات خود مجتهد وی خو بعضې ځایونوکښې دې هم تقلید کوی یعنی هغه مقامات چه هلته قرآن کریم کښې څه صراحت موجود نه وی. دغه ځائې کښې ائمه مجتهدین عمومًا داسې کوی چه په خپل قیاس او رائی باندې دعمل کولوپه ځائې خپلو اسلافوکښې دیوقول اختیاروی. مثلاً امام ابوحنیفه رحمه الله عمومًا د ابرهیم نخعی رحمه الله پیروی کوی امام شافعی رحمه الله د ابن جریج په قول عمل کوی. امام مالک رحمه الله په فقهاء مدینه کښې د چا اتباع کوی.

په تقلید باندې دغیر مقلدینو اعتراضات:

①**د قرآن په مقابله کښې تقلید:** بعضې حضرات په تقلید پورې دا آیت لګوی چه ((وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَآ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا)) یعنی کله چې دوی ته اوئیلی شی چې الله تعالی کوم کتاب نازل کړې دې د هغې تابعداری اوکړئ نو دوی وائی بلکه مونږ د هغه دین تابعداری کوو چې په کوم باندې مونږ خپل پلاران موندلی دی.

درې جوابونه: ① خوجواب بالکل ښکاره دې هغه داسې چه قرآن کریم دې آیت کښې دکوم تقلیدمذمت کړې دې.هغه په ایمانیاتوکښې وو.او دا وړاندې بیان شوی دی چه ایمانیات اوقطعیات د تقلید محل نه دې.

② بله دا چې هغوی به د ((مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ)) څخه صراحةً اعراض کولو او د خپلو آباؤ عمل به ئې ددې په مقابله کښې دحجت په طور پیش کولو. او مقلدین ائمه د ((مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ)) څخه اعراض نه کوی بلکه ددې دتشریح دپاره د مجتهدپه قول اعتمادکوی اود مجتهدقول مستقل حجت نه ګنړی. لکه علامه ابن نجیم وغیره دتقلید تعریف په دې الفاظوکښې کړې دې ((العمل بقول من ليس قوله من إحدى الحجج بلاحجة)) ترجمه: تقلید د هغه چا په قول عمل کول دی چې د هغه قول د شریعت په دلائلو کښې څه شرعی دلیل نه وی. او دا عمل پرې بغیر د دلیل څخه اوکړی.

③ دریم قرآن کریم دتقلید آباء دممنوع کیدلو علت هم وړاندې بیان کړې دې. یعنی «أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ» دې څخه معلومه شوه چه د دوی د اتباع د عدم جواز اصل علت ددوئ غیر عاقل او غیر مهتد کیدل دی او دائمهٔ اربعه باره کښې غیر مقلد هم دا منی چه دوئ عاقلین او مهتدین وو.

② **مجتهدينو ته د تحريم او تحليل منصب ورکول:** په جامع ترمذی کښې دحضرت عدی بن حاتم رحمه الله روايت دې چه نبی کريم ﷺ دقرآن کريم آيت «اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ» یعنی دوی خپل عالمان او راهبان دالله تعالی څخه سوا خدایان جوړ کړی وو. د دې په تفسیر کښې ارشاد اوفرمائیلو چه «أما إنهم لم يكونوا يعبدونهم ولكنهم كانوا إذا أحلوا لهم شيئاً استحلوه وإذا حرموا عليهم شيئاً حرموه» (١) یعنی اهل کتاب داسې نه وو چې د هغوی عبادت به ئې کولو بلکه کله چې به ئې د هغوی دپاره یو څیز حلال کړو نو دوی به هغه حلال ګڼړلو او کله چې به ئې په دوی باندې یوڅیز حرام کړو نو دوی به هغه حرام ګڼړلو.

جواب: ددې جواب هم دادې ①چه اهل کتابو به خپل عالمان صرف شارح نه بلکه شارع او قانون ساز ګرځولو. لکه نن هم د رومن کیسالك عیسایانوپه کتابونو کښې دا تصریحات شته چه پوپ ته د قانون سازئ اوشریعت سازئ مکمل اختیاردې. ②بله دا چه کله چې هغوی د شریعت په باره کښې څه قانون نافذکوی نودوی معصوم عن الخطاء وی. د دې په خلاف ائمه مجتهدينو ته نه څوك معصوم وائی اونه هغوی ته د شارع حیثیت ورکوی.هم دغه وجه ده چه کله کله متبحرعالمان ددوئ قول ترك کوی هم. کمامر.

③ **قرآن کريم آسان دې:** بعضې خلق دتقلید خلاف دا دلیل پیش کوی چه دقرآن کریم ارشاد دې «وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ» د دې څخه معلومیږی چه قرآن کریم بالکل آسان دې. د دې وجې ددې په احکامودپوهیدودپاره د یو مجتهد دتقلید ضرورت نشته.

جواب: ددې جواب بالکل ښکاره دې اوهغه دا چه دقرآن کریم آیتونه دوه قسمه دی:
①یوهغه چه کوم په احکامومشتمل دی. ② او دویم هغه چه ذکومو مقصد نصیحت او عبرت دې. دا دویم قسم آیتونه بالکل آسان دی اوهرسړې دې څخه نصیحت حاصلولې شی. د دې وجې مذکوره آیت کښې د دویم قسم بیان دې. او د دې دلیل دا دې چه قرآن کریم پخپله د ،،للذکر،،قید لګولې دې. او وړاندې هم،، فهل من مدکر،، دې فهل من مستنبط نه دې.

---
۱) جامع ترمذی ۱۲/۲ ابواب التفسیرومن سورة التوبه

د تقلید د په موضوع یو څو مفید کتابونه: دلته دومره بحث کافی دې. ددې مسئلې د زیات تفصیل او تحقیق دپاره لاندې کتابونه اوګورئ:

① الاقتصاد فی التقلید والاجتهاد مولفه حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی رحمه الله

② خیر التنقید فی سیر التقلید مولفه حضرت مولانا خیر محمد صاحب رحمه الله

③ إنهاء السکن جلد دوم، مؤلفه حضرت مولانا حبیب احمد صاحب کیرانوی.

④ سبیل الرشاد" مولفه حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی صاحب رحمه الله

⑤ تقلید شخصی" مولف حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب نور الله مرقده

⑥ تقلید کی شرعی حیثیت مولفه مفتی تقی عثمانی مد ظله العالی

⑦ د تقلید په موضوع د ټولو څخه جامع کتاب،،الکلام المفید في إثبات التقلید،، مؤلفه شیخ محمد سرفراز خان صفدر رحمه الله دې.

صحاح سته او د هغې اغراض او شروط

شپږ مآخذ: داسې خود حدیثونې شمیره کتابونه لیکلی شوی دی. خودې کښې شپږو کتابونوته دمآخذ حیثیت حاصل دې. چه هغې ته،،الامهات الستة،، یا،،الاصول الستة،، یا،، صحاح سته،، یا کتب سته وئیلې کیږی.

دوه غلطې نظریې: ① د صحاح سته دنوم څخه بعضې خلق دا خیال کوی چه دې کښې هرحدیث صحیح دې.② اود بعضوخلقو دا خیال دې چه دې څخه علاوه بل صحیح حدیث نشته.

د صحاح سته د اصطلاح مطلب: خو دا دواړه خبرې غلطې دی حقیقت دا دې چه نه د صحاح سته هر حدیث صحیح دې اونه د دې څخه بهرهرحدیث ضعیف دې بلکه د صحاح سته د اصطلاح مطلب دا دې چه کوم سړې دا شپږ کتابونه اووائی. دده وړاندې د اصول دین سره متعلق د صحیح روایتونو یوه لویه ذخیره راشی کومه چه ددین په معاملاتو کښې کافی ده.

دابن ماجه په صحاح کښې شمولیت: شروع کښې د صحاح خمسه اصطلاح مشهوره وه او ابن ماجه په صحاح کښې شامل نه وو په دې بناء امام ابوبکرحازمی رحمه الله،،شروط الائمة الخمسة،، تالیف کړو.

اوددې وجې علامه ابن الاثیرجزری رحمه الله په،،جامع الاصول،،کښې ابن ماجه نه ده شامله کړې خو روستو زیاتو حضراتو ابن ماجه د حسن ترتیب د وجې په صحاح سته کښې شامله کړله.

بعضې حضراتو د ابن ماجه په ځائې موطاء امام مالك رحمه الله اوبعضو سنن دارمی په صحاح سته کښې داخل کړې دې. خو مقبولیت ابن ماجه ته حاصل شو. نو اوس صحاح سته کښې صرف ابن ماجه شامل ګڼړلې کیږی.

دصحاح سته دمؤلفینو د اغراضو اختلاف:

د بخاری غرض تالیف استنباط احکام: د امام بخاری مقصدتالیف دا دې چه دې د صحیح احادیثو څخه فقهی احکام، عقائد، سیر اوتفسیر مستنبط کړی. دوی چه دیوحدیث څخه کوم حکم مستنبط کوی. دا په ترجمة الباب کښې ذکرکوی. کله کله دده استنباط دومره دقیق وی چه حدیث اوترجمة الباب کښې مطابقت نه معلومیږی.اود دې وجې اکثر هغه داسې کوی چې یو اوږد حدیث ټکړې ټکړې کړی او د مختلفو تراجمو لاندې یې ذکر کوی. دغه شان د دوئ په نیز د حدیث ټول طرق یوځائې نه وی. بلکه مختلفو بابونوکښې منتشروی.هم دغه وجه ده چه په بخاری کښې دیوحدیث تلاش کول ډیرمشکل وی.

د مسلم غرض د تالیف د یوې موضوع احادیث په ټولو طرقو سره جمع کول: ددې په خلاف د امام مسلم مقصدتالیف دا دې چه دیوې موضوع احادیث د هغې د ټولو طرقو سره په یوځائې مرتب شکل کښې جمع کړی. نو د دوئ په کتاب کښې دیوموضوع احادیث یوځائې ملاویږی. استنباطِ احکام سره د دوئ څه غرض متعلق نه دې هم دغه وجه ده چه د خپل کتاب تراجم ابوابَ هم دوئ خپله نه دی قائم کړی.بلکه روستوعالمانو لګولی دِی. د حسن ترتیب په لحاظ سره د امام مسلم کتاب بې نظیره دې. اودې کښې حدیث تلاش کول ډیر آسان دی.

د نسائی غرض د تالیف د اسانیدو علل بیانول: د امام نسائی رحمه الله د تالیف مقصد د اسانیدو علل بیانول دی. نو د دوئ طریقه دا ده چه دې عمومًا دهر باب په شروع کښې هغه حدیث راوړی چه په کوم کښې د دوی په نیز څه علت وی.دعلتونوبیانولوڅخه روستو هغه حدیث راوړی چه کوم د دوئ په نیز صحیح وی ددې سره د دوئ لږه توجه استنباط احکام ته هم وی.ددوئ تراجم ابواب ددقت نظرپه اعتبارسره دبخاری څخه پس په دویم نمَبردی.

د ابوداؤد غرض تالیف د فقهاؤ مستدلات جمع کول: د امام ابوداؤد مقصد د تالیف هغه احادیث جمع کول دی چه په هغې باندې یوفقیه په څه فقهی مسئله استدلال کړې وی. اوهغه داسې احادیث د هغې د ټولو طرقو سره یوځائې ذکرکوی. په دې لحاظ د دوئ طریقه د امام مسلم مشابه ده چونکه دوی دټولو فقهاؤ مستدلات ذکرکوی د دې وجې دې د امام مسلم په شان د صحیح احادیثو التزام اونکړې شو. بلکه ددوی کتاب کښې حسن او ضعیف احادیث هم راغلل البته دې په ضعیف او مضطرب احادیثو باندې دکلام کولوهم عادې دې او د هغې ضعف بیانوی په دې شرط چه ضعف زیات وی او چه

په کوم حدیث دې سکوت اوکړي. نوددې مطلب دا دې چه دا حدیث د دوئ په نیز قابل استدلال دې البته کله کله چه ضعف معمولي وي. نوهغه نظر اندازکوي په هغې کلام نه کوي او امام ابوداؤد د امام نسائی په عکس د باب آغاز په هغه روایت سره کوي کوم چه د دوئ په نیز اصح مافی الباب وي بیا روستو هغه روایت ذکرکوي کوم چه د دوئ په نیز مرجوح وي.

د ترمذی غرض د تالیف د هر فقیه مستدل ذکر کول: امام ترمذی رحمه الله د امام ابوداؤد رحمه الله، او د امام نسائی رحمه الله طریقې جمع کړې دی، د دوئ مقصد دتالیف د هرفقیه مستدل په جُدا باب کښې ذکر کول دی خودې دیوموضوع د احادیثو استیعاب نه کوي. بلکه هرباب کښې عام طور صرف یوحدیث راوړی اوحدیث هم حتی الامکان هغه منتخب کوي چه کوم نورو امامانو نه وی تخریج کړې. اوددې موضوع سره متعلق باقی احادیثوته «وفی الباب عن فلان عن فلان» سره اشاره کوي. اودې د امام نسائی په شان په علتونوهم تنبیه ورکوي. دې څخه علاوه دې دفقهاؤمذاهب په صراحت سره بیانوي. دترمذی د نورو خصوصیاتو بیان به مستقل راشي.

دابن ماجه غرض د تالیف: د امام ابن ماجه رحمه الله طریقه د امام ابوداؤد مشابه ده فرق دا دې چه دده په نیز دصحت یا د حسن هغه اهتمام نشته کوم چې د ابواؤد په نیز دې.

د صحاح سته شروط:

د صحاح سته په شرائطو د دوؤ رسالو تالیف: د صحاح سته د تالیف اغراضو څخه پس د دې د مصنفینو د شرطونو وضاحت دې. یعنی چې دې حضراتو یوحدیث په خپل کتاب کښې د درج کولو دپاره کوم شرطونه په نظرکښې ساتلی دی. دا یوډیر ګران سوال دې. ځکه چه دې حضراتو دا شرطونه په صراحت سره نه دی ذکر کړي. البته روستنی عالمانو د دوئ دکتابونو دکتلو څخه پس د دوئ د طرز عمل څخه دا شرطونه معلوم کړی دی.اوپه دې مسئله یې بحث کړې دې. په دې موضوع دوه رسالې متداولې او مشهورې دی. د امام ابوبکر حازمی رحمه الله ،،شروط الائمة الخمسة،، او د حافظ ابوالفضل مقدسی " شروط الائمة" علامه زاهد الکوثری رحمه الله دا دواړه رسالې د خپلو تعلیقاتو سره شائع کړی دی په دې رسالو کښې په دې موضوع تفصیلی بحث شوې دې دلته د هغې خلاصه پیش کوو.

د ټولو څخه سخت شرائط: دټولو څخه سخت شرائط د امام بخاری دی د هغوئ بنیادی شرط دا دې چه زه به په صحیح بخاری کښې صرف هغه احادیث نقل کوم کوم چې د صحیح په شرائطو پوره وي. او دوی د راویانو په پنځو طبقاتو کښې صرف د ړومبئ طبقې احادیث مستقلاً ذکرکوي او د دویمې طبقې احادیث کله کله صرف د استشهاداً دپاره راوړی

د امام حاکم په نیز د بخاری یو شرط: امام حاکم رحمه الله بیان کړې دی چه د امام بخاری رحمه الله یو

شرط دا هم دې چه دا حدیث غریب نه وی. یعنی په هره طبقه کښې ددې راویان کم از کم دوهٔ وی.

د دې قول تردید: خو حافظ مقدسی رحمه الله او امام حازمی دواړو د دې خیال په سختئ سره تردید کړې دې. ځکه چه صحیح بخاری کښې ډیر احادیثِ غریبه موجود دی بلکه دبخاری ړومبې حدیث ((إنما الاعمال بالنیات)) هم غریب دې ځکه چه د حضرت عمر رضی الله عنه څخه راواخله تر د یحیی بن سعید انصاری پورې ددې ټول راویان متفرد دی داسې د بخاری آخری حدیث ((کلمتان حبیبتان الخ))هم غریب دې.

د حافظ مقدسی په نیز د بخاری شرط: حافظ مقدسی رحمه الله یوشرط د امام بخاری رحمه الله دا بیان کړې دې چه دې صرف دهغه راویانو روایات نقل کوی چه دهغه په ثقه کیدو باندې د پوره امت اتفاق وی

د دې قول تردید: خودا خبره هم صحیح نه ده امام حازمی رحمه الله ددې هم تردید کړې دې. بلکه واقعه دا ده چه دبخاری اتیا راویان داسې دی چه په هغوئ چا کلام کړې دې. خاص طور امام نسائی. مثلاً خالدبن مخلد القطوانی او ابواویس وغیره راویان البته دا صحیح ده چه دا جرح د امام بخاری په نظر کښ صحیح نه وه یا صحیح وه خو امام بخاری د دوی څخه صرف هغه احادیث راغستې دی چه هغې کښې سبب د جرح نه وو موجو. د دې تفصیل د امام حاکم دتساهل په اسبابو کښې د نصب الرایة په حواله تیر شوې.

امام مسلم اګرچه دصحیح التزام کوی یعنی یوحدیث لره په خپل کتاب کښې ددرج کولو د پاره دده صحت لازمی ګرځوی خوددې شرائط د امام بخاری په مقابله کښې نرم دی. په درې وجوه سره واضح کیدې شی:

① **د ړومبئ طبقې څخه نقل کول:** امام بخاری رحمه الله د راویانو په پنځو طبقاتو کښې صرف د ړومبئ طبقې یعنی د قوی الضبط کثیر الملازمة طبقې راویات نقل کوی اوکله د تائید دپاره د دویمې طبقې څخه هم روایات نقل کوی. دده په مقابله کښې امام مسلم دړومبې دوهٔ طبقو څخه بلاتکلیفه روایات نقل کوی. اود دریمې طبقې نه هم د تائیددپاره روایات نقل کوی [1]

② **د حدیث معنعن دپاره د راوی او مروی عنه معاصر کیدل:** د امام مسلم رحمه الله په نیز دحدیث معنعن د صحت دپاره د راوی او مروی عنه صرف معاصرکیدل کافی دی. ثبوتِ لقاء او سماع ضروری نه ده اوامام بخاری ثبوت لقاء اوسماع دواړه ضروری ګرځوی.

③ **د تنقیدِ رواة په باره کښې د مسلم طریقه:** امام مسلم رحمه الله دتنقیدرواة په معامله کښې د

[1] (کذا حققه الحازمی فی شروط الائمة الخمسة

امام بخاري رحمه الله څخه نرم دې دوئ د داسې ډيرو متکلم فيه راويانو روايت ذکر کړې دی. کوم چه امام بخاري رحمه الله پريښې دی مثلاً حمادبن سلمه، حسن بن صالح، عبد الرحمن بن العلاء او ابوالزبير وغيره.د دې وجې حافظ مقدسي رحمه الله دا بيان کړې دې چه امام مسلم رحمه الله د دې راويانو په باره کښې د ښه تحقيق کولونه پس دافيصله کړې ده. چه په دوئ جرح صحيح نه ده په هرحال په صحيح مسلم کښې د متکلم فيه رواة تعداد د صحيح بخاري په مقابله کښې دوچنده يعنی يوسل شپيته دې

آيا د صحيحينو روايات په حقيقت کښې صحيح دی؟: بيا په دې هم کلام شوې دې چه دصحيحينو احاديث فی الواقع صحيح دی. اوکه نه؟

① **د امام دارقطني رائې:** امام دارقطني رحمه الله يوه مستقله رساله ليکلې ده چه دې کښې يې د صحيحينو احاديثو تعاقب کړې دې اوددې د ثابتولوکوشش يې کړې دې چه د صحيحينو دوه سوه اولس احاديث صحيح نه دی په کوم کښې چې دوه ديرش احاديث متفق عليه دی. اواته اويا صرف دبخاري اوسل صرف د مسلم دی.

② **د امام طحاوي رائې:** دغه شان امام طحاوي هم د صحيحينوپه بعضې احاديثوکلام کړې دې. مثلاً د تورك په باب کښې د حضرت ابوحميد ساعدي رضي الله عنه حديث امام طحاوي ضعيف ګرځولې دې حال دا دې چه دا په صحيح مسلم کښې موجود دې.

③ د **حافظ عبدالقادر قرشي رائې:** دغه شان حافظ عبدالقادر القرشي رحمه الله په خپل کتاب طبقات کښې ددې کليه تسليم کولو څخه انکارکړې دې چه د صحيحينو هر حديث صحيح دې

د حافظ ابن حجر رحمه الله جوابات: خو حافظ ابن حجر رحمه الله په،،هدی الساري مقدمة فتح الباري،، کښې د امام دارقطني رحمه الله د يويو اعتراض تفصيلي جواب ورکړې دې او هغه ټول احاديث يې صحيح ثابت کړی دی. چه کوم په بخاري يا مسلم کښې راغلې دی. د نورو حضراتو محدثينو رجحان هم دې ته دې چه د صحيحينوهرحديث صحيح دې. البته دومره ضرور ده چه د امام دارقطني رحمه الله په دې احاديثوباندې دکلام کولو د وجه څخه دا احاديث متکلم فيه شول.

د نورو څلورو امامانو شرائط: د صحاح سته د باقي امامانو شرائط هم هغه دی چه د طبقات خمسه په بحث کښې بيان شوی دی. د رجال په باره کښې نسائي رحمه الله د ابوداؤد رحمه الله څخه او ابوداؤد رحمه الله د ترمذي رحمه الله څخه اوترمذي رحمه الله د ابن ماجه رحمه الله څخه زيات سخت دی.

آغاز کتاب

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ

ترجمه: ټول تعريفونه الله تعالى جل جلاله لره ښايي مونږ د هغه تعريف کوو او د هغه څخه مدد او بخښنه غواړو.

تسهيلات:

قوله: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ:

د تسميه اوتحميد د راوړلو وجه: حضرت مصنف قدس سره دَ قرآن پاك ترتيبِ کتابی، دَحضورپاك ﷺ دَحديث پاك اوطريقې دَ سلفو صالحينو دَ اتباع کولوپه وجه دَخپل کتاب مقدس شروع په تسميه اوحمد سره کړې ده. حديث،،"کل أمرذي بال"په مختلفو الفاظوسره راغلې دي په بعض رواياتوکښې دا الفاظ دی:

کل امرذي بال لم يبدأفيه بسم الله الرحمن الرحيم فهوابتر رواه الخطيب بهذااللفظ في کتاب الجامع. (۱)

يعنی هرقابل دَ اهتمام کار کوم چه بسم الله الرحمن الرحيم سره شروع نه کړې شی هغه بې برکته دې.

دَ بعضې رواياتو الفاظ دا دی: کل کلام ذي بال لايبدأفيه بالحمدلله فهواجذم رواه ابوداؤد والنسائي فش عمل اليوم الليلة. (۲)

يعنی هريوذی شان کار کوم چه دَ الحمدلله سره شروع نه کړې شی هغه بې برکته دې.

په دې لاندينی الفاظوسره هم دا حديث ملاويږی:

کل امرذي بال اليبدأفيه بالحمدلله فهواقطع رواه ابن ماجه. (۳)

دَدې ټولو رواياتو حاصل هرمبتهم الشان کار يا کلام په بسم الله او الحمدلله سره دَ شروع کولو ترغيب ورکول دی. دا حديث په دې لاندينو الفاظو سره هم راغلې دي:

کل امرذي بال لايبدأفيه بذکرالله فهواقطع رواه الرهادي في اربعينه وحسنه ابن الصلاح. (۴)

يعنی هريو ښه کار دکوم شروع چه دَ الله تعالى په ذکر سره نه وی هغه به دَ برکت نه خالی وی.

(۱) کذاه في المرقاة ص:۳ ج:۱.
(۲) کذاه في المرقاة ص:۳ ج:۱.
(۳) کذاه في المرقاة ص:۳ ج:۱.
(۴) کذاه في المرقاة ص:۳ ج:۱.

علامه رهاوی دَدې حدیث الفاظ دا لاندینی هم نقل کړی دی:
کل امر ذی بال لم یبدأ فیه بذکر الله ثم بالصلوة علی اقطع ممحوق من کل برکة اخرجه الرهاوی عن ابی هریرة مرفوعا. (۱)
یعنی دَ هرذی احترام کار کوم چه دَ الله تعالی په ذکر سره او بیا په ما باندې درود وئیلو سره شروع نه کړې شی هغه دَ هربرکت نه خالی دې.
اشکال: د بعضې احادیثو څخه معلومیږی چه دهرکارشروع په بسم الله سره کول پکار دی اودبعضې راوایاتو څخه معلومیږی چې دهرکارپه شروع کښې دالله تعالی تعریف اوحمد وئیل پکاردی. حالانکه شروع په یوځیزسره کیږی په دوو سره نه کیږی. نودا تعارض دې؟
داشکال دوه جوابونه: ① علامه رهاوی فرمائیلي دی چې دَحضرت شارع ﷺ اصلی مقصددادې چه دَهرذی بال کار په شروع کښې دَ برکت پیداکولودَپاره دَالله تعالی ذکر کول پکاردی که هغه دَبسم الله وئیلو په صورت کښې وی اوکه دَ الحمدلله وئیلو په شکل کښې وی. که دَمقصودنه وړاندې دواړه ذکرکړې شی نو نورعلی نوردې. دَ برکت دَحاصلولودَپاره دَدې دواړو نه یو یا دَ الله تعالی دَ ذکردَ قبیل نه څه بله کلمه وئیل هم کافی کیږی. په دې تقریر سره د تعارض چې کومه شبه ده هغه پخپله ختمه شوه ځکه چه دَدواړو احادیثو مقصد دَالله تعالی په ذکرسره دَ یوکار دَ شروع کولوترغیب ورکول دی.
② که چرې علی سبیل التنزل تعارض تسلیم کړې شی نوآسان او صفا جواب دادې چه حقیقی شروع اګرچه امربسیط غیرممتددې هم په یوځیزسره کیدې شی لیکن دَ رسول الله ﷺ کلام دَ محاورات عامه او دَعرف مطابق وی. په عرف کښې دَمقصودنه وړاندې دَ مقام مناسب هر کیدونکی کار ابتدائی کارګڼړلې شی. ابتدائې عرفی امر ممتد اوموسّع دې په دې کښې ډیراموررواقع کیدې شی. په دې وجه دَ شروع فی المقصودنه وړاندې تسمیه، تحمیداو صلاة علی النبی ﷺ وغیرها امور ټول دَعرف په اعتبارسره ابتدائی اموردی.

دتسمیه په حمد د تقدیم وجوهات: ① الحمدلله دَ الله تعالی شکرلره متضمن ده. تکلم بالحمدپورې ځومره نعمتونه چه الله تعالی ورکړی دی په ټولو باندې اجمالاً شکرکول مقصود دی. دَکتاب شروع په بسم الله سره دکولوتوفیق ملاویدل هم ډیرلوئی نعمت دې. په دې وجه ئی حمد دَتسمیه نه پس راوړلو. دې دَپاره چه په دغه ورکړې شوی نعمت باندې هم شکراداکړې شی.
② بله دا چه دَبسم الله لوستلو ترغیب دَهربنه کارنه وړاندې ورکړې شوې دې که هغه دَ جنس کلام نه وی اوکه دَ جنسِ طعام او دَ خوراك څښاك وغیره نه وی. او حمد (عادةً

(۱) من المرقاة ص: ٤ ج:۱ مع توضیح.

خطبو او جنس کلام سره خاص ګنړلې شی لهذا تسمیه عام شوه اوحمدخاص اوعام دَخاص نه مقدم وی. په دې وجه تسمیه په حمدباندې مقدم کړې شوه.

قوله: اَلْحَمْدُلِلّٰهِ:

حمد په دوو جملو کښې د راوړلو وجه: ① شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائیلی دی چه حضرت مصنف رحمه الله دَحمددپاره دوه جملې ذکرکړې دی. یوه اسمیه یعنی الحمدلله او دویمه فعلیه مضارعیه یعنی نحمده اوس دلته ظاهر دادې چه په الحمدلله سره دَدې خبرې خبر ورکول مقصود دی چه ټول محامدذات پاك سره مخصوص دی او په نحمده سره انشائې حمد مقصوددې لکه چه ړومبې جمله صورةً اومعنًی خبریه ده اودویمه صورةً خبریه ده اومعنًی انشائیه ده. په دې صورت کښې به تکرارپاتې نه شی.

② داهم احتمال دې چه دواړه معنًی انشائیه وی. دویمه جمله اګرچه ظاهراً تکراردې لیکن دې نه پس نستعینه وئیلو سره به تجدیدفائده شی چه مونږ انشائې حمد د الله تعالی د مدد څخه بغیر چرته کولې شو.

په دواړو جملو کښې فرق: الحمدلله جمله اسمیه ده. اسمیت جمله په استمرار او دوام باندې دلالت کوی. دَ اسمیه جملې معنی ده "عدول الجملة عن الفعلية الى الاسمية" نحمده جمله فعلیه مضارعیه ده. فعل په حدوث او تجدید باندې دال دې او مضارعیت په استمرار باندې دلالت کوی. دغه شان جمله فعلیه مضارعیه په استمرار تجددی باندې دال وی.

په دوو جملو ذکر کولو کښې حکمتونه: ① جنس نعم باری تعالی مستمرد دائم دې. یوه لمحه داسې نه ده په کوم کښې چه په مونږ دَ هغه جنس نعمت دَ یو نه یو قسم یا کس په ضمن کښې فائض کیږی نه. البته دَ منعم پاك دَ نعمت انواع جزئیات فوری ټك په ټك قسم په قسم ترو تازه رانازلیږی. دَ جنسِ نعم دَ دوام او استمرار په وړاندې ئی جمله اسمیه راوړله او انواع او جزئیات دَنعم دَ تجدد په مخکښې ئی جمله مضارعیه راوړله. مطلب دادې لکه څنګه چه دَ هغه نعمتونه نوی په نوی قسم په قسم په مونږ باندې فائض کیږی هم دَ هغې مطابق زمونږ دَ طرف نه قسم په قسم دَ حمد سلسله جاری وی.

② الله تعالی پاك ذات چه دَ ثنا اوتعریف لائق او واحد دئم لم یزل او لا یزال دې اودَ هغه نعمتونه متجدد دی. دَ امر اول په رڼړا کښې جمله اسمیه اودَ دویم په رڼړا کښې جمله مضارعیه راوړله.

③ دَ حمد دوه قسمونه دی: (الف) دَ الله تعالی حمد په خپل ذات باندې، دا دائم او مستمر دی اصل حمد هم دغه دې. حامد چه څومره اوچت وی اودَ محمود چه څومره پیژندګلو کونکې وی هم په دغه اندازه باندې به دَ هغه حمد اوچت وی. ښکاره خبره ده چه دا حمد دَ الله تعالی دَ ذات برابر په چا کښې هم نشته. (ب) حمد دَ مخلوق دَ خالق دَ

پاره. قسم اول دائم دي دوام دَ حامد دَ وجې نه دَ هغه په مناسبت سره اولنۍ جمله ئې اسمیه راوړله او دویم قسم حادث او متجدد دي. حدوث دَ حامد دَ وجې نه دَ هغه په مناسبت سره ئې دویمه جمله فعلیه مضارعیه راوړله. (۱)

د جمع صیغه راوړلو کښې حکمتونه: په ظاهره حمد کونکې دَ تصنیف کولو په وخت ځان له مصنف دې مقتضی ظاهرًا حمده بصیغة الإفراد وو. مصنف رحمه الله نحمده وئیلې دې دَ عدول عن مقتضی الظاهر ډیروجوهات دی.

① صیغه دَ جمع متکلم راوړل عظمت شان حمدطرف ته اشاره ده چه دَهغه جامع الکمالات پاك ذات حمددومره لوئې کاردې چه دا پوره کول دَ بنیادمونه دَ یوکس کارنه دې په دې وجه دَ جمع صیغه راوړلوسره هرحامدشریك کړې شوې دې که دَهغه حمدحالی وی که قالی. دارنګ دې سره نستعینه وئیلوکښې ئې اوخودل چه ټول مخلوق یوځائې شی نو بیا هم دا لوئې کار نه شی اداکولې ترکومې چه دَهغه اعانت شریك حال نه وی.

② حضرت مصنف رحمه الله تواضعًا صیغه دَ جمع اختیارکړې ده چه ځان له زما حمدکول دَدې قابل نه دې چه دې ته دَ الله تعالی په لوئې دربارکښې شرف قبولیت حاصل شی. خپل حمدئې دَ انبیاء کرامو علیهم السلام اولیاء عظامو او صالحین مخلصین رحمهم الله دَ حمدسره یوځائې کولوسره پیش کړو دې دَپاره چه دَ دغه نفوس قدسیه دَمخلصانه محامد په ضمن کښې داعیبناکه سودا هم اوځی. مسئله داده چه که چرې صفقه واحده کښې دَډیرو ځیزونو سودا شوې وی بیا په هغې کښې په بعض کښې نقص یا عیب راؤځی نو په دې صورت کښې دَ شریعت حکم دادې چه که ردکوی ئې نو ټول به رد کوی اوکه ساتی ئې نوټول به ساتی. عیبناك ردکول او صحیح سالم ځیزساتل جائزنه دی. نو چه الله تعالی کمزور بندګانو ته داتعلیم ورکړې دې نو هغه کریم ذات به پخپله په درجه اولی مخلوط ځیزونونه صحیح سالم کیخودو سره عیبناك ځیز نه ردکوی بلکه دَ صحیح سالم په برکت به عیبناك ځیزونه هم قبلوی. دَ جمع په مونځ کښې یوحکمت داهم دې چه ادنی به دَ اعلی په برکت مقبول شی.

③ په خپلو رونړو او ملګرو باندې دَ شفقت اوهمدردئې دَ وجې نه دَ جمع صیغه راوړلې ده دې دَپاره چه دې اهم عبادت کښې هغوی هم شریك کړې شی. دَ ایمان دَ کامل والی تقاضا داده چه کوم ځیزخپل ځان دَپاره خوښ کړې شی چه هم هغه دَ نورو دَپاره هم خوښ کړې شی. (کمافی الحدیث)

---

۱) التقریرات الثلاثه من رقوم الشیخ قدس سره مع ایضاح.

قوله: وَنَسْتَعِيْنُهُ:

دالله تعالى څخه مدد غوښتل: يعنى دَالله تعالى دَحمد په عظيم امركښې اونورو ټولو اموروكښې مونږ دَخپل عاجزئى او قصور اعتراف كوؤ او په هركاركښې دَهغه پاك ذات اوقادر مطلق ذات نه دَامداد طلبګاريو.

دحصر صيغه نه ذكر كولو وجه: دلته حضرت مصنف رحمه الله اياه نستعين (مونږ ټول هم دَهغه نه امداد غواړو) په عنوان دَحصرئى ذكر نه كړو ځكه چه دَمقام اختصاص ادراك وظيفه دَ خواصو ده. دَهرچا دامقام نه دې چه دَ زړه په صدق سره دا اووئيلې شى چه دَقدرت مشاهده په مونږ باندې دومره غالب راغلې ده چه زمونږ دَ هيڅ يوغيرطرف ته هډو خيال نه ځى. مطلب دادې چه عقيده خودَدې امر هرمؤمن ته حاصله ده ليكن دَدې استحضار صادق وظيفه دَ خواصو ده. په دې وجه ابن دنيار رحمه الله فرمائى ((لولا وجوب قرأة الفاتحة لما قرأتها لعدم صدقي فيها)) (مرقات ص٧ ج١)

قوله: وَنَسْتَغْفِرُهُ:

دالله څخه ښښنه غوښتل: يعنى چه په حمدكښې كوم غفلتونه اوتقصيرات زمونږ نه واقع شوى دى دارنګ دَدې نه علاوه دكومو اسرافونو او ګناهونو مونږ ښكارشوى يو دَټولونه معافى غواړو.

وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا. مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ.

ترجمه: او مونږ د خپل نفس د بدو څخه او د خپلو بدو عملونو څخه د الله جل جلاله پناه غواړو. چاته چې الله تعالى جل جلاله نيغه لار وښودله هغه څوک بې لارې كولې نشي او څوک چې الله تعالى جل جلاله بې لارې كيدو ته پرېښودې وې هغه ته نيغه لار ښودونكې هيڅوک نشته.

تسهيلات:

قوله: وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا.

په شرور او سيئات كښې اشاره: شرور أنفس او اعمال سيئه كښې ټول محرمات او مكروهات ظاهرى اوباطنى بالعموم اودَحمد اوتصنيف دَموقع بې اعتدالئى بالخصوص داخل دى. مثلاً دَحمدنه غفلت، په دې كښې رياء او سمعه اودَ شوائب نفس اختلاط، قلت، عدم اخلاص، په خپل استعداد اوقابليت باندې نظر، دَ الله تعالى توفيق هيرول اومسائلو دَتفصيل په وخت قلت تدبر او دَ اعتدال دَحد نه تجاوز وغيره امور.

قوله: مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ:

هدايت اوضلالت من جانب الله: دَ كلام دا صورت خودَدې خبرې خبر دې چه دَ هدايت او اضلال په وصف كښې الله تعالى متفرددې دَ هيڅ خيراوشر خالق دَهغه نه علاوه بل څوک

نشته لیکن معنی داجمله انشائیه او دعائیه ده. مطلب دا دي چه هدایت او اضلال هم دهغه په قبضه د قدرت کښې دې په دې وجه مونږ دهغه نه سوال اودرخواست کوو چه مونږ دهرقسم ضلالت نه په حفاظت کښې اوساتی او هدایت راته نصیب کړي.

وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ شَهَادَةً تَكُوْنُ لِلنَّجَاةِ وَسِيْلَةً وَلِرَفْعِ الدَّرَجَاتِ كَفِيْلَةً وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

ترجمه: زه شاهدي اداکوم چې د الله جل جلاله څخه ماسوا بل هیڅوک د عبادت لایق نشته هغه ګواهي چې هغه د نجات د پاره وسیله اود درجاتو د اوچت والي د پاره ضامن ده او زه شاهدي اداکوم چې محمد ﷺ د الله جل جلاله بنده او د هغه رسول دي.

تسهیلات:

قوله: وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ شَهَادَةً تَكُوْنُ لِلنَّجَاةِ وَسِيْلَةً وَلِرَفْعِ الدَّرَجَاتِ كَفِيْلَةً

د جملې ترکیب: شهادةً د اشهد مفعول مطلق دې اوجمله تکون للنجاة وسیلة الخ د شهادت صفت دې.

یعنی زه د الله تعالی د توحید داسې ګواهی ورکوم چه ① د نجات د پاره وسیله وی ② په جنت کښې د درجات عالیه د حصول ضامن وی.

د توحید د شهادت دوه مرتبې: ① د توحید د شهادت دوه مرتبې دی اول دا چه عقیده اویقین خو صحیح دې لیکن لا دهغه زور اوطاقت نه دې چه د اعمال صالحه ارتکاب اود اعمال طالحه څخه د اجتناب موجب جوړشی دا درجه د خلودفی النار نه د نجات سبب دې

② دویمه درجه دا ده چې چه یقین قلبی په اعضاؤ او جوارحو باندې د اعمال حسنه او طاعاتو په صورت کښې ښکاره کیږی نودا درجه که صرف د طاعات واجبه پورې وی نود دخول اولی فی الجنة سبب به وی. اوکه د طاعات نافله پورې رسونکی وی نود دې په برکت به په جنت کښې دخول اولی هم وی او درجات عالیه به هم حاصلیږی.

غرض دا چه وسیلۀ نجات کېدل د شهادت درجه اولی د دنیا او ضامن د رفع درجات کېدل د دې دویمه درجه او د علیا ثمره ده. نیکا اعمال، طاعات او پاك اخلاق هم د دغه دویمې مرتبې ثمرات او نتائج دی وبما قررنا ان رفع ما یردعلی المصنف من أن دخول الجنة بالإیمان ورفع الدرجات بالأعمال فکیف اضاف رفع الدرجات الی الشهادة. (۱)

قوله: وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

دعبد اضافت دپاره د شرافت: د الله تعالی طرف ته د عبد اضافت تشریفی دي چه د حقوق ربوبیت په اداکولو کښې په ټول کائنات باندې فوقیت لرلو په وجه د الله تعالی سره د قرب

---

۱) کذافی المرقاة ص۸ ج۱.

اومحبت په منازلو کښې اګرچه رسالت دټولو نه اوچته مرتبه ده لیکن چونکه دَعبد اصل موضوع هم عبدیت اوبندګی ده په دې وجه ئی دا مقدم اوفرمائیلو.

عبدیت دَنبی ﷺ په اوصافو کښې دَ ټولونه قیمتی او اشرف وصف دې. په دې وجه دَحضورپاك دَ ډیرو اهمو اودَعزت دَ مقاماتواومناصبو تذکرې په موقع کښې قرآن پاك دَ رسول الله ﷺ ذکرخیر په عنوان دَ «عبد» سره کړې دې.

قرآن کښې نبی علیه السلام ته د عبد نسبت: ① مثلاً دَمعراج عظیم واقعه ذکرکولوسره یې فرمائیلی دی ﴿ سُبۡحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ ﴾

② دَ فرقان غوندې عظیم الشان نعمت په نبی کریم ﷺ باندې د نازلو ذکر کوی نو د نبی کریم ﷺ د نورو صفاتو په ځائې ئی د عبدیت صفت ذکر کړې دې، فرمائی: ﴿ تَبٰرَكَ الَّذِیۡ نَزَّلَ الۡفُرۡقَانَ عَلٰی عَبۡدِهٖ ﴾.

③ د وحی په موقع ئی فرمائیلی دی: ﴿ فَاَوۡحٰۤی اِلٰی عَبۡدِهٖ مَاۤ اَوۡحٰی ۞ ﴾.

دَعشق مجازی په مذهب کښې هم چه دَعبدوصف کله دَ محبوب طرف ته منسوب شی نوهغه ته ډیر خاص شرافت او حلاوت حاصلیږی. هم دَدې مزاج یوشاعر وائی:

لاتَدۡعُنِی اِلّا بیاعبدها فإنه أشرف سمائیا

یعنی ماته چه کله هم آواز کوې نوصرف دَهغه محبوبې دَ عبد وئیلوسره آواواز کوه ځکه چه دَ دې سره برابر په شرافت کښې زمابل څه نوم نشته دې. (۱)

قاضی عیاض رحمه الله شارح مسلم او صاحب الشفاء رحمه الله فرمائی:

ومما زادادنی عجبا وتیهًا وکدت بأخمصی اَطأ الثریا
دخولی تحت قولك یاعبادی وأن صیّرت أحمدلی نبیاً

یعنی ستا ارشاد پاك یاعبادی کښې داخله او دَاحمدمجتبٰی ﷺ زمونږ دَپاره نبی او زمونږ دَهغه په امت کښې کیدل داسې انعامات دی دکوم دَ خوند اومزې دَ وجې چه دَ خپو تلی په زمکه باندې نه لګی. (۲)

د عبدیت په نسبت کښې فوائد: ① په وصف عبدیت ذکر کولوکښې دا فائده ده چې که یوطرف ته نبی کریم ته رسالت ورکړې شوې دې معراج ته بوتلې شوې دې خو د دې لویومرتبو ورکولو باوجود رسول د عبدیت نه نه اوځی بلکه هم دَ عبدیت په صفت موصوف وی بلکه مقامات عالیه دَهغوی په عبدیت کښې نوره هم ترقی او خوند پیدا کوی.

---

(۱) کذا فی المرقاة:ص۸ج۱.
(۲) کذا فی المرقاة:۸ج۱.

② په دې کښې د اعتقاد صحیح کول دی چه دَ رسول الله ﷺ په باره کښې دَ نصاری په شان افراط اونکړې شی چه دَ عبدیت څخه اوویستلې شي او الوهیت ته اورسولې شی. دغه شان چې دَیهودو په شان تفریط اونکړې شی چه رسول الله ﷺ دَ الله تعالی رسول اومقبول بنده هم اونه ګنړلې شی.

الَّذِي بَعَثَهُ وَطُرُقُ الْإِيمَانِ قَدْ عَفَتْ آثَارُهَا وَخَبَتْ أَنْوَارُهَا وَهَنَتْ أَرْكَانُهَا وَجُهِلَ مَكَانُهَا.

ترجمه: چې الله تعالی جل جلاله هغه وخت خپل رسول جوړلو سره راولیږلو چې د ایمان د لارو نښانې ورانې شوې وې د هغه رڼا ګانې مړې شوې وې د هغه آثار کمزورې شوې وو او د هغه ښودل شوې منزلونه د نظرونو څخه غائب شوې وو.

تسهیلات: قوله: الَّذِي بَعَثَهُ:

د جملې ترکیب: ،،الَّذِي،، اسم موصول دې، ،،بَعَثَهُ،، څخه واخله دَ ،،وَجُهِلَ مَكَانُهَا،، پورې دَدې صله ده، ،،وَطُرُقُ الْإِيمَانِ،، کښې واؤ حالیه دې. فَشَيَّدَ.. او ،،شَفَى،، او ،، أَوْضَحَ،، او ،، أَظْهَرَ،، هم په دې فعل صله باندې مرتب دی. موصول خپلې صله سره دَ ،،رَسُوْلُهُ،، صفت دې.

دعبارت مقصود: په دې عبارت سره مقصود دا خودل دی چه دَ حضورپاك ﷺ دنیا ته تشریف راوړل دَ ډیر سخت ضرورت په موقع شوی دی ځکه چه دَ رسول الله ﷺ دَ بعثت په وخت خلق دَ جهالت او ضلالت آخری حدته رسیدلی وو. چرته یوداسې صحیح قیادت موجودنه وو چه دَ لارڅخه بې لارې شوی خلقو لره دَ عقائدو، اعمالو او دَ اخلاقو صحیح منزل ته اورسوی لکه چه په قرآن پاك کښې ارشاد مبارك دې: ﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ حَتَّى تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ۝ رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۝﴾ (سورة البينة الآيه:۲-۱.)

یعنی کوم خلق چه دَاهل کتاب اومشرکینونه کافران وو هغوی دَ (خپل کفرنه هیڅ کله) منع کیدونکی نه وو ترکومې چه هغوی له واضح دلیل نه وو راغلې (یعنی) دَ یوالله تعالی رسول چه هغوی ته پاکې صحیفې تلاوت کولوسره واوروی.

قوله: وَطُرُقُ الْإِيمَانِ قَدْ عَفَتْ آثَارُهَا:

دطرق الایمان څخه مراد: دَدې شیخ قدس سره په أشعة اللمعات :ص۲۴ج۱ کښې دوه مطلبونه بیان کړی دی:

① دَ طرق الایمان څخه مراد حضرات انبیاء کرام علیهم السلام اودَ هغوی نائبین علماء عظام رحمهم الله دی

② طرق الایمان نه مراد عقائد، اعمال، اخلاق، آداب اوریاضات دی چه دَانسانیت دَتکمیل ذریعې دی.

قوله: عَفَتْ آثَارُهَا:

آثار ختمیدو څخه مراد: دَ نخښو ورانیدو او رڼاګانو مړه کیدو یعنی دَ نخښو نخښانو ختمیدل

قوله: وَخَبَتْ أَنْوَارُهَا:

د رڼاګانو مړه کیدو څخه مراد: اورڼا ګانې مړه کیدلو نه مراد په علمی اوعملی توګه باندې دَدغه کارونو مشهورنه پاتې کیدل دی

قوله: وَهَنَتْ أَرْكَانُهَا:

دارکانو د کمزورئ څخه مراد: دَ ارکان کمزورې کیدو نه مراد دادې چه دَ دغه شخصیات مقدسه تعلیمات اودَ هدایاتو سلسله دَتعلیم اوتعلم ختمه شوې وه. اودَ هغې دَمقتضٰی مطابق دَ عمل رواج باقی نه وو پاتې شوې

قوله: وَجُهِلَ مَكَانُهَا:

د جهل مکان څخه مراد: دَ «وَجُهِلَ مَكَانُهَا.» څخه مراد دادې چه دَهغوی دَ علومو اومعارفو دَقدر اومنزلت نه ناواقفیت اوناخبری عامه وه.

مطلب دا چه زمونږ دَمحبوب پیغمبر ﷺ بعثت په هغه وخت کښې شوې دې کوم وخت چه دَ انبیاء سابقینو تعلیمات بالکل ختم شوی وو صحیح لارخودنه بالکل معدوم شوې وه چرته یو نه یو کس به دَحضرت عیسیٰ علیه السلام په تعلیم باندې عمل کونکې څوك وو خوهغه غریبانان دَ زمانې دَ حالاتو نه مجبوره وو خپل ځان اوایمان ئی چرته په یو ګوټ کښې پټ کړې ناست وو دَعامو خلقو قیادت ئی نه شوکولې.

فَشَيَّدَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ وَسَلَامُهُ مِنْ مَعَالِمِهَا مَاعَفَى وَشَفَى مِنَ الْعَلِيْلِ فِي تَأْيِيْدِ كَلِمَةِ التَّوْحِيْدِ مَنْ كَانَ عَلٰى شَفَا. وَأَوْضَحَ سُبُلَ الْهِدَايَةِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يَسْلُكَهَا وَأَظْهَرَ كُنُوْزَ السَّعَادَةِ لِمَنْ قَصَدَ أَنْ يَمْلِكَهَا.

ترجمه: نو نبي کریم ﷺ هغه ورانې شوې نښانې د نوي سره راسرګندي کړي او د کلمهٔ توحید سره یې هغه بیمار (ناجوړه) ته شفاء ورسوله، کوم چې هلاکت غاړي ته رسیدلي وو. او د هغه سړي د پاره یې د هدایت لاره روښانه کړه چې په هغه دتلو اراده وکړي او د هغه سړي د پاره یې د نیک بختي خزانې ظاهري کړي چې د هغوئ د مالک کیدو اراده وکړي.

حل اللغات: ① **فَشَيَّدَ** معنی پورته کول ښکاره کول اوقوی کول ده. ② **مَعَالِمِ**، دا جمع د معلم ده علامه اونښه جمع معلم، ③ **شَفٰی** «دا د ماضی صیغه ده د شفاء بکسرالفاء څخه ماخوذ ده. تندرسته کولو ته وائی اوپه فتح الفاء سره دهریوڅیز اړخ او طرف ته وائی. ④ **الْعَلِيْلِ**، «دا بیمار او رنځور ته وائی

د مشكاة مدون كولو ضرورت

أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ التَّمَسُّكَ بِهَدْيِهٖ لَا يَسْتَتِبُّ إِلَّا بِالْاِقْتِفَاءِ لِمَا صَدَرَ مِنْ مِّشْكٰوتِهٖ وَالْاِعْتِصَامَ بِحَبْلِ اللهِ لَا يَتِمُّ إِلَّا بِبَيَانِ كَشْفِهٖ.

ترجمه: د دې څخه وروسته پوهيدل پکار دي چې: د نبي كريم ﷺ اسوهٔ (طريقه) اختيارول هغه وخت معتبره كيدي شي چې: د هغه شي كامل اتباع (پيروي) وشي چې د نبي كريم ﷺ د سيني مباركي څخه ظاهر شوې وو، يعنى د نبى كريم ﷺ ارشادات او احكام، دغسې دالله جَلَّ جَلَالُهٗ رسي يعنى په قرآن كريم باندې اعتماد او په هغه عمل هلته ممكن كيدي شي چې د هغه تشريح او وضاحت د احاديثو نبويوو څخه وي.

حل اللغات: ① لَا يَسْتَتِبُّ دا لفظ د استفعال نه دې، بمعنى لايستقيم او لا يستمر. ② الْاِقْتِفَاءِ: دتلاش كولو او لټولو په معنى دې، ددې نه مراد اتباع ده. ③ مِّشْكٰوتِهٖ: مشكاة غير نافذه طاقچې ته وائى، ④ الْاِعْتِصَامَ: يو څيز په موټى كښې مضبوطيا سره رانيولو ته وائى. ⑤ حَبْلِ اللهِ: ددې نه مراد قرآن كريم دې. ⑥ بِبَيَانِ كَشْفِهٖ: دبيان اضافت كشفه طرف ته اضافت بيانيه دې.

تسهيلات:

د دوو مقاصدو د حصولو دپاره دمشكاة د ليكولو ضرورت: دلته صاحب مشكوة دا بيانول غواړى چې ددې باوجود چې د كتاب مصابيح په شان يو عظيم او قابل اعتماد كتاب موجود وو، بيا يې د مشكوة المصابيح د تاليف ضرورت ولې محسوس كړو.

① د حضرت نبى كريم ﷺ په نقش قدم باندې تلل ممكن نه دى تر كومې چې د احاديثو علم حاصل نه كړې شى.

② د قرآن كريم په تفصيلى احكاماتو عمل كول بغير د احاديثو نه ممكن نه دى.

ددې دواړو اهمو مقاصدو دحصول دپاره دحديثو ضرورت وو او د حصول حديث دپاره د يو جامع كتاب ضرورت وو چې په هغې كښې هر قسمه ضرورى احاديث جمع كړې شوى وى. داشان جامع كتاب د امام حديث شيخ محى السنة كتاب مصابيح وو كوم چې دخپل فن يو شاهكار كتاب وو.

د مذكوره عبارت مطلب: د قرآن كريم د مجملاتو تفصيل د احاديثو نه بغير ممكن نه دې. قرآن كريم كښې اصول وقواعد دى. احاديثو د هغې وضاحت اوكړو. كه د احاديثو تفصيلات د قرآن كريم نه جدا كړې شى نو قرآن كريم به معطل پاتې شى، ځكه چې داحكاماتو فرائض وواجبات وسنن او ددې د اوقاتو اوكيفياتو تفصيلات په قرآن كريم كښې نشته دې، ملحدينو هم دا كوشش كړې دې چې احاديثولره دقرآن كريم نه جدا كړى چې د دين اسلام جرړې پريكړې شى.

د کتاب المصابیح ستائنه

وَكَانَ كِتَابُ الْمَصَابِيحِ الَّذِيْ صَنَّفَهُ الإِمَامُ مُحْيِي السُّنَّةِ قَامِعُ الْبِدْعَةِ أَبُوْ مُحَمَّدِنِ الْحُسَيْنُ ابْنُ مَسْعُوْدِنِ الْفَرَّاءُ الْبَغْوِي رَفَعَ اللهُ دَرَجَتَهُ أَجْمَعَ كِتَابٍ صُنِّفَ فِي بَابِهِ وَأَضْبَطَ لِشَوَارِدِ الْأَحَادِيْثِ وَأَوَابِدِهَا.

ترجمه: امام محي السنة (سنت ژوندي کونکي) قامع البدعة (بدعت لري کونکي) ابو محمد حسين الفراء بغوي الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دي د هغه درجي اوچتې کړي (آمين) چې کوم کتاب (مصابیح) تالیف فرمایلي وو هغه د خپل فن یو جامع کتاب وو چې په هغه کې امام صاحب ډير په حسن او ښکلا سره منتشر او متفرق احادیث را جمع کړي وه.

حل اللغات: ① أَضْبَطَ: أضبط: دا د مرتب په معنی کښې دې. یعنی دا کتاب د حفظ و ضبط ټولو نه زیات لائق وو ② شَوَارِدِ: دا د شاردة جمع ده، یعنی تښتیدونکې اوښ، ③ أَوَابِدِهَا: دا د أبدة جمع ده. تریدونکي ځناور،

د مذکوره عبارت مطلب: په دې دواړو لفظونو کښې دا وئیلې شوی دی چې ځینې احادیث چې د حدیث په کتابونو کښې په مختلفو ځایونو کښې مذکور دی، هغه د یو طالب علم نه لکه د تښتیدونکی اوښ په شان دی کوم چې په لاس نه رازی. او د ځینې احادیثو معنی د طالب علمانو نه پټې وی، دهغې تشبیه یې داسې ځناورو سره ورکړه کوم چې متوحش او آموخته نه دی. دواړو لفظونو کښې تشبیه ده. او دا استعاره ده، او أوابد، د شوارد دپاره عطف تفسیر دې.

ځناورو سره د احادیثو د تشبیه وجه: ملا علی قاری رحمة الله علیه لیکلی دی چې د احادیثو د تښتیدونکی وحوش سره ئې تشبیه ځکه ورکړې ده چې څنګه یو وحشی ځناور ته موقع ملاؤ شی او اوتښتی. همداشان احادیثو نه هم که لږ شان غفلت هم اوکړې شی نو هغه د حافظې نه اوځی او غائبیږی. هم ددې وجې وئیلې شوی دی چې: العلم صيد والكتابة قيد.

اشکال: د احادیثو تشبیه ئې غیر مانوس وحوشو سره ولې ورکړې شوې ده. دا یو قسمه بې ادبی ده. کوم چې د مصنف د شان سره نه ښائی.

د اشکال جواب: په تشبیه کښې د ټولو صفاتو او ټولو کیفیاتو لحاظ نه دې. نو دلته هم دا هم ضروری نه دی چې د مشبه نه مشبه به همیشه اعلی وارفع وی، ځینې وخت کښې مخصوص وضاحت دپاره د یو مخصوص اړخ لحاظ ساتلو سره تشبیه ورکړې کیږی. حالانکه مشبه به ادنی وی، لکه څنګه چې: اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ آیت کښې كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ دی.

دصاحب مصابیح اسناد حذف کول

وَلَمَّا سَلَكَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ طَرِيقَ الْاِخْتِصَارِ وَحَذَفَ الْأَسَانِيدَ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ النُّقَّادِ. وَإِنْ كَانَ نَقْلُهُ وَأَنَّهُ مِنَ الثِّقَاتِ كَالْإِسْنَادِ لٰكِنْ لَيْسَ مَا فِيهِ أَعْلَامٌ كَالْأَغْفَالِ فَاسْتَخَرْتُ اللهَ تعالى وَاسْتَوْفَقْتُ مِنْهُ فَأَوْدَعْتُ كُلَّ حَدِيثٍ مِنْهُ فِي مَقَرِّهِ

ترجمه: اوکوم وخت چې مصنف رحمه الله د نقل حدیث په وخت د اختصار طریقه اختیار کړله او اسنادونه یې حذف کړنو په دي بعضو محدثینو او ناقدینو اعتراض وکړي. اګرکه د مصنف حدیث بي له سنده نقل کول داسې دي لکه چې د سند سره یې نقل کړي وي، ځکه چې هغویٔ د نقلِ حدیث په معامله کې معتبر او قابلِ اعتبار محدثینو کې شمیرل کیږي لیکن بیا هم کوم شي چې بي نښاني وي هغه د نښاني والا شي په درجه کې نشي کیدي، ځکه ما د الله تعالی جل جلاله څخه مدد وغوښتي او د هغه د توفیق طلبګار شوم.

حل اللغات: ① أَعْلَامٌ: أعلام د علم جمع ده، دنخښي په معنی دي. دهمزه په فتحې سره، اوددې ترجمه اثر هم ده. ② أَغْفَالٍ: د همزې په فتحې سره دي، دا د غفل جمع ده. اوغفل هغه زمکې ته وائی په کومه چې علامت، اثر یا نخښه نه وی.

تسهیلات:

قوله: وَلَمَّا سَلَكَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ طَرِيقَ الْاِخْتِصَارِ:

دمصابیح د اختصار طریقه:

① صاحب د مصابیح امام بغوی رحمه الله د حدیث سند نه وو ذکر کړې

② هغوی د کتاب حواله هم نه وه ورکړې چې دا حدیث په فلانی کتاب کښې دې.

③ هغوی په شروع کښې دهغه صحابی نوم هم نه وو لیکلې دچا نه چه دا حدیث روایت شوې دې.

قوله: وَحَذَفَ الْأَسَانِيدَ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ النُّقَّادِ:

په مذکوره طریقه باندې اعتراض: صاحب د مشکاة فرمائی چې د مذکوره درې واړه خبرې داسې خبرې دی چې په فن حدیث کښې ډیرې خطرناکې وې، ځکه چې ماهرین حدیث او حفاظ حدیث نه علاوه نورو خلقو لره ددې نه فائده اخستل ډیر مشکل وو، صاحب مصابیح پخپله سل په سل فیصده ثقه او قابل بهروسه وو مګر دنورو معامله خو بیله وه. او د حدیث د صحت او غیر صحت دپاره چې محدثینو کومه ضابطه قائمه کړې وه په هغې پورا ختل هم ضروری وو. ځکه چې: الإسناد من الدین ولولا الإسناد لقال من شاء ماشاء: دا یو هم قانونی ضابطه وه، او په دې پورا ختل ضروری وو، هم په دې وجه صاحب مشکوة ته موقع په لاس ورغله چې په مصابیح کښې ترمیم او اضافه اوکړی او یو نوې تصنیف پیش کړی نو هغوی هم داشان اوکړل.

قوله: لٰكِنْ لَيْسَ مَا فِيْهِ أَعْلَامٌ كَالْأَغْفَالِ:

په مشكاة كښې نوې كار: دأعلام نه صاحب مشكوة خپل كتاب مشكوة مراد اخستې دې. او أغفال نه مصابيح مراد دې. ځكه چې په مشكوة كښې د صحابي د نوم نخښنه لګيدلې ده. د سند علامت پرې اولګيدو، كوم چې مصابيح كښې نه وو.

دصاحب مشكاة په عبارت كښې عاجزي: دلته د عبارت تقاضا دا وه چې مصنف داشان عبارت راوړې وې: ليس ما فيه أغفال كالأعلام: يعنى بې نخښنو مصابيح ددې درجې نه وو لكه څنګه نخښنو والا مشكاة دې. ليكن د هغه صلحاء كرامو د آدابو نه قربان شم چې صاحب د مصابيح د صاحب مشكوة استاذ هم نه دې او د دواړو په زمانو كښې د پيړو فاصله ده مګر بيا هم صاحب مشكوة د قصور نسبت خپل ځان طرفته كوى چې په كوم كتاب كښې نخښنې لګيدلې دى هغه د هغه درجې نه دې كوم كښې چه نخښنې نشته دې. په دې كښې يئ د كسر نفسى او آدابو پورا پورا خيال ساتلې دې.

دمشكاة كښې د مشهورو محدثينو د كتابونو څخه احاديث نقل كول

فَاَعْلَمْتُ مَا اَغْفَلَهُ كَمَا رَوَاهُ الْاَئِمَّةُ الْمُتْقِنُوْنَ وَالثِّقَاتُ الرَّاسِخُوْنَ مِثْلُ ① اَبِيْ عَبْدِ اللهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِسْمَاعِيْلَ الْبُخَارِيِّ ② وَاَبِي الْحُسَيْنِ مُسْلِمِ بْنِ الْحَجَّاجِ الْقُشَيْرِيِّ ③ وَاَبِيْ عَبْدِ اللهِ مَالِكِ بْنِ اَنَسِ الْاَصْبَحِيِّ ④ وَاَبِيْ عَبْدِ اللهِ مُحَمَّدِ بْنِ اِدْرِيْسَ الشَّافِعِيِّ ⑤ وَاَبِيْ عَبْدِ اللهِ اَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ الشَّيْبَانِيِّ ⑥ وَاَبِيْ عِيْسٰى مُحَمَّدِ بْنِ عِيْسٰى التِّرْمِذِيِّ ⑦ وَاَبِيْ دَاوُدَ سُلَيْمَانَ ابْنِ الْاَشْعَثِ السِّجِسْتَانِيِّ ⑧ وَاَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَحْمَدَ بْنِ شُعَيْبٍ النَّسَائِيِّ ⑨ وَاَبِيْ عَبْدِ اللهِ مُحَمَّدِ بْنِ يَزِيْدَ ابْنِ مَاجَةَ الْقَزْوِيْنِيِّ ⑩ وَاَبِيْ مُحَمَّدٍ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الدَّارِمِيِّ ⑪ وَاَبِي الْحَسَنِ عَلِيِّ ابْنِ عُمَرَ الدَّارَقُطْنِيِّ ⑫ وَاَبِيْ بَكْرٍ اَحْمَدَ بْنِ الْحُسَيْنِ الْبَيْهَقِيِّ ⑬ وَاَبِي الْحَسَنِ رَزِيْنِ ابْنِ مُعَاوِيَةَ الْعَبْدَرِيِّ وَغَيْرِهِمْ وَقَلِيْلٌ مَّا هُوَ.

ترجمه: ماهر حديث چې د كوم باب سره د هغه تعلق وو په هغه باب كې نقل كړي او عالمانو او محدثينو چې څنګه هغه روايت كړي ما هم د سند او د كتاب د حوالي سره د هغه ذكر وكړي، مثلا: امام بخاري رحمة الله عليه، امام مسلم رحمة الله عليه، امام مالك رحمة الله عليه، امام شافعي رحمة الله عليه، امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه، لمام ترمذي رحمة الله عليه، امام ابو داود رحمة الله عليه، امام نسائي رحمة الله عليه، امام ابن ماجه رحمة الله عليه، امام دارمي رحمة الله عليه، امام دارقطني رحمة الله عليه، امام بيهقي رحمة الله عليه، امام رزين بن معاويه عبذري رحمة الله عليه، دي امامانو او محدثينو چې څنګه په خپلو كتابونو كې حديث نقل كړي دي دغسې ما د هغې كتابونو څخه حديث اخستو سره په دي كتاب كې جمع كړل، د دې امامانو او محدثينو څخه علاوه څه نور محدثين هم شته چې د هغوئ د كتابونو څخه احاديث نقل شوې دي خو د هغوئ تعداد ډير كم دي.

په مشکاة کښې د سند نه ذکر کولو وجه

وَاِنِّي اِذَا نَسَبْتُ الْحَدِيْثَ اِلَيْهِمْ كَاَنِّي اَسْنَدْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ لِاَنَّهُمْ قَدْ فَرَغُوْا مِنْهُ وَاَغْنَوْنَا عَنْهُ.

ترجمه: او حقیقت دادي چې هر کله ما د دې احادیثو هغه امامانو او محدثینو طرف ته نسبت وکړي نو لکه چې د هغه سند مي د نبي کریم ﷺ پورې رسولي دي. اوما و دي کتاب ته هغه ترتیب ورکړي کوم چې صاحب د مصابیح اینبي وو او په دي سلسله کې مي د هغه د نقش قدم پیروي کړي ده.

تسهیلات:

قوله: وَاِنِّي اِذَا نَسَبْتُ الْحَدِيْثَ اِلَيْهِمْ:

اشکال: څنګه صاحب مصابیح سند نه دې ذکر کړې، نو صاحب مشکوة هم سند ترک کړې دې، لهذا کوم اعتراض چې محدثینو په مصابیح کړې وو هغه په صاحب مشکوة هم تر اوسه باقی دې؟

داشکال جواب: په دې عبارت سره صاحب مشکوة هم ددې اعتراض جواب ورکړې دې د هغې خلاصه داده چې صاحب مشکوة د کومو أئمه محدثینو د کتابونو نه احادیث راجمع کړی دی اوحدیث نسبت یئ هغه کتاب طرف ته کړې دې نو ګویا چې دا حدیث ئې د سند په اعتبار سره نبی کریم ﷺ ته اورسولو. ځکه چې دغه محدثینو او ددې کتابونو محدثینو ډیر محنت او مشقت کړې دې او ددې احادیثو سندونه یئ ذکر کړی دی. یعنی دې حضراتو دا احادیث د تلاش، تحقیق و تدقیق او بحث و تمحیص او جرح و تعدیل د مرحلونه پس راجمع کړی دی. لهذا هغوی طرف ته صرف نسبت کول او حواله ورکول سند دپاره کافی دی.

دمشکاة د فصلونو تقسیم

وَسَرَدْتُ الْكُتُبَ وَالْاَبْوَابَ كَمَا سَرَدَهَا وَاقْتَفَيْتُ اَثَرَهُ فِيْهَا. وَقَسَّمْتُ كُلَّ بَابٍ غَالِبًا عَلٰى فُصُوْلٍ ثَلَاثَةٍ اَوَّلُهَا مَا اَخْرَجَهُ الشَّيْخَانِ اَوْ اَحَدُهُمَا وَاكْتَفَيْتُ بِهِمَا وَاِنِ اشْتَرَكَ فِيْهِ الْغَيْرُ لِعُلُوِّ دَرَجَتِهِمَا فِي الرِّوَايَةِ. وَثَانِيْهَا مَا اَوْرَدَهُ غَيْرُهُمَا مِنَ الْاَئِمَّةِ الْمَذْكُوْرِيْنَ وَثَالِثُهَا مَا اشْتَمَلَ عَلٰى مَعْنَى الْبَابِ مِنْ مُلْحَقَاتٍ مُنَاسِبَةٍ مَعَ مُحَافَظَةٍ عَلَى الشَّرِيْطَةِ وَاِنْ كَانَ مَاْثُوْرًا عَنِ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ.

ترجمه: او ما هر باب په دري فصلونو کې تقسیم کړي دي، په اول فصل کې مي هغه احادیث جمع کړي دي چې: شیخینو یعنی بخاري او مسلم روایت کړي دي یا په دي دواړو کې یوه روایت کړي دي که څه هم په هغه احادیثو کې بعضې داسې هم دي چې هغه نورو محدثینو هم روایت کړي دي لیکن په دي فصل کې ما یوازې د شیخینو په

ذکر باندې اکتفاء کړې ده ځکه چې د شیخینو درجه په ټولو محدثینو باندې اوچته ده. او په دویم فصل کې مې هغه احادیث جمع کړي دي چې د شیخانو یعنی بخاري او مسلم څخه علاوه په نورو ذکر شوو امامانو کې چې چا روایت کړي وي او په دریم فصل کې مې د احادیثو څخه علاوه د صحابؤ او تابعینو هغه اقوال او آثار مې هم راجمع کړي دي چې د باب مناسب او لایق وو، لیکن آثار او خبر شاملولو سره د حدیث شرطونه په نظر کې ساتل شوې دي.

تسهیلات:

قوله: وَسَرَدْتُ الْكُتُبَ وَالْأَبْوَابَ كَمَا سَرَدَهَا وَاقْتَفَيْتُ أَثَرَهُ فِيهَا:

دمشکاة په تدوین کښې دامام بغوی متابعت: دمصنفینو دا دستور دې چې په خپل تالیف کښې د مسائلو ذکر دپاره د کتاب عنوان لیکی. لکه کتاب الطهاره، بیا ددې په ضمن کښې مختلف قسمه مسائل دابوابو په صورت کښې ذکر کوی کوم چې ددې عنوان سره مناسب وی.لکه باب الوضوء، باب الحیض، هم داشان د ابوابو په ضمن کښې د فصل ذکر کوی. او د ټولو مسائلو د راجمع کولو کوشش کوی. صاحب مشکوة فرمائی چې زه د محی السنة په نقش قدم تلې یم

قوله: وَقَسَّمْتُ كُلَّ بَابٍ غَالِبًا عَلَى فُصُولٍ ثَلَاثَةٍ:

په مشکاة کښې د دریم فصل اضافه: په مصابیح کښې د فصل اول او فصل دوم یوه نوې اصطلاح وه، چې اول کښې د بخاری او مسلم روایتونه ذکر کوی او فصل ثانی کښې د حسان احادیث وی. لیکن صاحب مشکوة په دې کښې د یو دریم فصل اضافه کړې ده چې د احادیث مرفوعه نه علاوه اقوال صحابه او آثار هم په دې کښي د موقعې مناسبت سره ذکر کړې شی.د بخاری او مسلم روایات اګر چې نورو محدثینو هم ذکر کړی دی خو صاحب مشکوة فرمائی چې ما په ذکر کولو کښې صرف د بخاری او مسلم نوم اخستې دې. ځکه چې د هغوئ یو ځانګړې شان دې.

قوله: مَعَ مُحَافَظَةٍ عَلَى الشَّرِيطَةِ وَإِنْ كَانَ مَأْثُورًا عَنِ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ:

د دریم فصل داحادیثو کیفیت: صاحب مشکاة فرمائی چې ما دریم فصل کښې مناسب د موضوع سره دسلف صالحینو آثار هم د مرفوع احادیثو سره جمع کړې شوی دی. لیکن اول او دویم فصل کښې چې کوم شرائط وو، په دریم فصل کښې هم د هغې لحاظ ساتلې شوې دې. یعنی دصحابی راوی نوم ذکر کول، دکتاب او مخرج حواله ورکول او د روایت د صحتِ خیال ساتل.

د مصابیح د بعضې حدیث د حذف او تکمیل وجه

ثُمَّ اِنَّكَ اِنْ فَقَدْتَ حَدِيْثًا فِي بَابٍ فَذٰلِكَ عَنْ تَكْرِيْرٍ أُسْقِطُهُ. وَاِنْ وَجَدْتَ اٰخَرَ بَعْضَهُ مَتْرُوْكًا عَلٰى اِخْتِصَارِهٖ اَوْ مَضْمُوْمًا اِلَيْهِ تَمَامُهُ فَعَنْ دَاعِيْ اِهْتِمَامٍ اَتْرُكُهُ وَاُلْحِقُهُ.

ترجمه: بیا په تحقیق سره که ته په یو باب کې څه حدیث پیدا کوې نه شی نو ودي کښل شی چې هغه ما د تکرار په وجه نه دي نقل کړي. او که ته یو حدیث پیدا کړې چې د هغه بعضې حصه د اختصار په وجه حذف شوې ده یا په هغه کې د هغه حدیث بقیه حصه یو ځاي شویده نو دا حذف کول او یو ځاي کول دیو خاص مقصد لاندي دي. او که په دواړو فصلونو کې اختلاف په نظر درشي یعنی غیر د شیخینو احادیث خو په اول فصل کې ذکر شوې وي او د شیخینو احادیث په دویم فصل کې نقل شوې وي نو پوهیدل پکاردي چې اختلاف د غلطي یا د غفلت په وجه نه دي شوې بلکه د امام حمیدي د کتاب (جمع بین الصحیحین) او کتاب (جامع الاصول) کې د ډیر تلاش او تحقیق او تفتیش څخه وروسته کړي دي او په دي سلسله کې ما د بخاري او مسلم په اصل نسخو او د هغه په متن اعتماد کړي دي.

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ اِنَّكَ اِنْ فَقَدْتَ حَدِيْثًا فِي بَابٍ فَذٰلِكَ عَنْ تَكْرِيْرٍ أُسْقِطُهُ:

د مصابیح حدیث په مشکاة کښې د نه ذکر کولو وجه: صاحب مشکوة فرمائی چې صاحب مصابیح د مکررو احادیثو ذکر کړې وو. نو که تاسو ته داسې په نظر راشی چې په مصابیح کښې یو حدیث شته او هغه په مشکوة کښې نشته نو د هغې وجه داده چې په مصابیح کښې د احادیثو تکرار وو او مشکوة کښې دا تکرار ختمولو دپاره دغه حدیث ترک کړې شوې دي. او باب سره زیات مناسبت والا حدیث درج کړې شوې دي.

قوله: وَاِنْ وَجَدْتَ اٰخَرَ بَعْضَهُ مَتْرُوْكًا عَلٰى اِخْتِصَارِهٖ اَوْ مَضْمُوْمًا اِلَيْهِ الخ:

د مصابیح په احادیثو کښې حذف او تطویل: دمذکوره عبارت په تشریح کښې علامه طیبی رحمة الله علیه فرمائی چې صاحب مصابیح کله کله د یو اوږد حدیث یوه حصه د باب مناسبت سره ذکر کوی او طویل حدیث پریږدی، صاحب مشکوة هم د اختصار په طور هم دا طریقه خپلوی او کله کله داسې هم کوی چې مختصر حدیث باندې د پوهیدو دپاره د هغه طویل محذوف حدیث ذکر ضروری وی، نو صاحب مشکوة هغه ذکر کوی. غرض دا چې ضرورت حدیث او د مناسبت مقام په وجه دا حذف او اثبات اودا ترک کول او ذکر کولې کیږی. دې ته یئ أترکه وألحقه فرمائیلی دی.

ملا علی قاری رحمة الله علیه فرمائی چې أترکه وألحقه کښې واؤ، د اؤ په معنی دې. یعنی د

داعي او ضرورت پيش نظر کله په ترك او حذف باندې عمل کيږي او کله ذکر کولو او الحاق کولو باندې عمل کيږي.

د صحيحينو په متن باندې اعتماد کول

وَإِنْ عَثَرْتَ عَلٰى اِخْتِلَافٍ فِي الْفَصْلَيْنِ مِنْ ذِكْرِ غَيْرِ الشَّيْخَيْنِ فِي الْأَوَّلِ وَذِكْرِهِمَا فِي الثَّانِي فَاعْلَمْ أَنِّي بَعْدَ تَتَبُّعِي كِتَابَيِ الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّحِيحَيْنِ لِلْحُمَيْدِي وَجَامِعِ الْأُصُولِ اعْتَمَدْتُ عَلٰى صَحِيحَيِ الشَّيْخَيْنِ وَمَتْنَيْهِمَا.

ترجمه: او که په دواړو فصلونو کې اختلاف په نظر درشي يعنی غير د شيخينو احاديث خو په اول فصل کې ذکر شوې وي او د شيخينو احاديث په دويم فصل کې نقل شوې وي نو پوهيدل پکاردي چې اختلاف د غلطي يا د غفلت په وجه نه دي شوې بلکه د امام حميدي د کتاب (جمع بين الصحيحين) او کتاب (جامع الاصول) کې د ډير تلاش اوتحقيق اوتفتيش څخه وروسته کړي دي اوپه دي سلسله کې ما د بخاري او مسلم په اصل نسخو او د هغه په متن اعتماد کړي دي.

تسهيلات:

قوله: وَإِنْ عَثَرْتَ عَلٰى اِخْتِلَافٍ فِي الْفَصْلَيْنِ مِنْ ذِكْرِ غَيْرِ الشَّيْخَيْنِ فِي الْأَوَّلِ الخ

دمذکوره عبارت مطلب: صاحب مصابيح دا طريقه خپله کړې ده چې فصل اول کښې د بخاري او مسلم روايات ذکر کوی او فصل ثانی کښې هغه احاديث راجمع کوی کوم چې د بخاري او مسلم نه علاوه ائمۀ حديث په خپلو کتابونو کښې ذکر کړی دی ليکن صاحب مشکوة ځينو ځايونو کښې داسې کړی دی چې مصابيح کښې چې کوم احاديث شيخينو ته منسوب کړې شوی او نقل شوی دی، دوی هغه احاديث نورو ائمه کرامو طرف ته منسوب کړی دی. لکه کتاب فضائل القرآن کښې په صفحه نمبر ١٨٥ د انس حديث کښې: رواه الترمذي: دی. ليکن فصل اول کښې دی. همدا شان صاحب مشکوة ځينې مقاماتو کښې د فصل ثانی حديث لره د شيخينو بخاری او مسلم طرف ته منسوب کړې دې. لکه باب مايقرأ بعد التکبير ص/٧٨ باندې د سمره بن جندب ﷺ روايت ئې فصل ثانی کښې د مسلم طرف ته منسوب دې. آخر دا تغير وتبدل او دا اختلاف ولې دې؟

صاحب مشکوة ددې ردوبدل او ددې فرق باره کښې فرمائيلی دی چې دا زما دغلطي يا سهوي په بناء نه دی بلکه ما کتاب الجمع بين الصحيحين او کتاب جامع الاصول او داشان د بخاری او مسلم اصل نسخې او ددې کتابونو متون ډير غور او ژور تحقيق سره اوکتلې، نوپه دې کتابونو کښې چې کوم احاديث شيخينو طرف ته منسوب کړې شوی دی او صاحب مصابيح هغه په فصل اول کښې شيخينو طرف ته منسوب کړی دی نو ماهغه احاديث په مشکوة کښې شيخينوطرف ته دمنسوب کولوپه ځائې دهغې اصل راوی او ناقل طرف ته منسوب کړی دی لکه څنګه چه ما په باب سنن الوضوء کښې کړی دی.

او هم داشان کوم احاديث چې صاحب مصابيح د شيخينو نه علاوه نورو ائمه کرامو طرف

ته منسوب کړی دی او هغه یئ په دویم فصل کښې نقل کړی وو،او ما ته هغه احادیث په مذکوره کتب اربعه کښې د شیخینو طرف ته منسوب په نظر راغلل نو ما هغه د شیخینو طرف ته منسوب کړل.

اوچونکه زما په خپل تحقیق او څېړنه باندې بهروسه وه، بیا راته ددې کتب اربعه تائید هم ملاؤ شو نو ما صاحب مصابیح سره اختلاف اوکړو او دا خیال مې اوکړو چې کیدیشی چې صاحب مصابیح ددې په نقل کولو کښې سهوه شوې وی.

د مصابیح او مشکاة دا حادیثو په الفاظو کښې د اختلاف وجه

وَاِنْ رَاَیْتَ اِخْتِلَافًا فِی نَفْسِ الْحَدِیْثِ فَذٰلِكَ مِنْ تَشَعُّبِ طُرُقِ الْاَحَادِیْثِ. وَلَعَلِّی مَا اطَّلَعْتُ عَلٰی تِلْكَ الرِّوَایَةِ الَّتِی سَلَکَهَا الشَّیْخُ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَقَلِیْلًا مَا تَجِدُ اَقُوْلُ مَا وَجَدْتُ هٰذِهِ الرِّوَایَةَ فِی کُتُبِ الْاُصُوْلِ اَوْ وَجَدْتُ خِلَافَهَا فَاِذَا وَقَفْتَ عَلَیْهِ فَانْسِبِ الْقُصُوْرَ اِلَیَّ لِقِلَّةِ الدِّرَایَةِ لَا اِلٰی جَنَابِ الشَّیْخِ رَفَعَ اللهُ قَدْرَهٗ فِی الدَّارَیْنِ حَاشَا لِلّٰهِ مِنْ ذٰلِكَ. رَحِمَ اللهُ مَنْ اِذَا وَقَفَ عَلٰی ذٰلِكَ نَبَّهَنَا عَلَیْهِ وَاَرْشَدَنَا طَرِیْقَ الصَّوَابِ. وَلَمْ اٰلُ جُهْدًا فِی التَّنْقِیْرِ وَالتَّفْتِیْشِ بِقَدْرِ الْوُسْعِ وَالطَّاقَةِ وَنَقَلْتُ ذٰلِكَ الْاِخْتِلَافَ کَمَا وَجَدْتُ.

ترجمه: او که اختلاف په اصل حدیث کې په نظر درشي نو دا به د احادیثو په سندونو کې د اختلاف په وجه وي. او کیدي شی چې کوم روایت شیخ رحمه الله نقل کړي دي هغه ماته نه وي حاصل شوې خو داسې کم کیږي چې هغه روایت دي ماته نه وي حاصل شوې یا ماته د اصول په کتابونو کې د شیخ د نقل شوې روایت خلاف هغه روایت رارسیدلي وي لیکن که چېرته دا اختلاف معلوم وي نو د خطا او قصور نسبت دي زما دکوتاهئ د علم په وجه زما طرف ته وشي او شیخ رحمه الله دي د غلطي څخه پاک وګڼل شي، الله تعالی جل جلاله لره پاکي ده د دې کار څخه.

تسهیلات:

قوله: وَاِنْ رَاَیْتَ اِخْتِلَافًا فِی نَفْسِ الْحَدِیْثِ فَذٰلِكَ مِنْ تَشَعُّبِ طُرُقِ الْاَحَادِیْثِ:

دمصابیح اومشکاة د احادیثوپه الفاظوکښې د اختلاف وجه: یعنی صاحب مصابیح یو حدیث نقل کړو او هم هغه روایت چې کله صاحب مشکوة ذکر کړو نو ددې دواړو په الفاظو کښې فرق بیا موندې شو، یو کښې یو شان الفاظ دی او بل کښې نور الفاظ دی. ددې متعلق صاحب مشکوة فرمائی چې دا فرق په حقیقت کښې دسندونو د اختلاف په وجه دې. یعنی صاحب مصابیح ته چې هغه روایت په کوم سند سره ملاؤ شو نو هغه هم هغه الفاظو سره نقل کړو، او ماته چې هغه روایت په کوم سند سره راورسیدو نو ماهم هغه الفاظو سره نقل کړو، او شاید چې ماته هغه روایت ملاؤ نشو کوم چې شیخ اختیار کړې دې.

قوله: وَقَلِیْلًا مَا تَجِدُ اَقُوْلُ مَا وَجَدْتُ هٰذِهِ الرِّوَایَةَ فِی کُتُبِ الْاُصُوْلِ:

دمذکوره عبارت مطلب: صاحب مشکوة په ځینې مقاماتو کښې د فصل اول یا فصل ثانی روایات واحادیث نقل کوی او د حدیث د مآخذ ومخرج حواله ورکولو په ځائې وائی: ما

وجدت هذه الرواية في كتب الأصول أو وجدت خلافها: ماته په كتب اصول كښې دا روايت نه دې ملاؤ نشو، يا راته د هغه برعكس ملاؤ شو كوم چې صاحب مصابيح نقل كړې دې. ددې متعلق ډير د ادب خيال ساتى او فرمائى چې دا زما د تتبع او لټون نقص دې، په دې كښې د شيخ هيڅ قصور نشته. حاشا وكلا! هغوئ ددې قصور نه بريئ الذمه دى. ما په لټون كښې ډيره خوارى اوكړه خو ماته ملاؤ نشو، نو چې څنګه مې اختلاف اوموندو د هغې اظهار مې اوكړو او هم هغه شان مې نقل كړې دې.اوس كه يو كس ته هغه روايت په صحيح طريقه معلوم شى كوم چې صاحب مصابيح نقل كړې دې او ماته معلوم نشو نو هغه كس دې زما په ژوندې ماته خبر اوكړى. ګنى روستو دې په كتاب كښې اضافه اوكړى. الله تعالى به په هغه رحم اوكړى. دې كمال ادب او كمال ديانت ته لږ پام اوكړئى چې د ډيرو صديانو روستو هم دهغه په زړه كښې څومره احترام دې.دا ټول د دينى علومو بركت دې. په هغه سړي دي دالله جَلَّ جَلَالُهُ رحمت وي چې هغه ته روايت معلوم وي او مونږ ته په خبرولو سره حقه لار وښايي. ما په خپل تحقيق او لټون کې هيڅ کمي پري نه ښوده او د خپل وس او طاقت مطابق مي دا اختلاف چې ما څنګه پيدا کي هغسي مي نقل کي.

د مصابيح د ضعيفو احاديثو ذکر

> **وَمَا أَشَارَ إِلَيْهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ مِنْ غَرِيْبٍ أَوْ ضَعِيْفٍ أَوْ غَيْرِهِمَا بَيَّنْتُ وَجْهَهُ غَالِبًا وَمَا لَمْ يُشِرْ إِلَيْهِ مِمَّا فِي الْأُصُوْلِ فَقَدْ قَفَّيْتُهُ فِيْ تَرْكِهِ إِلَّا فِيْ مَوَاضِعَ لِغَرَضٍ.**

ترجمه: او په کومو احاديثو باندې چې شيخ د ضعيف يا غريب وغيره حکم لګولي دي ما د هغه سبب بيان کړي دي او د کومو احاديثو او اصولي خبرو طرفته چې شيخ څه اشاره نه ده کړي نو ما هم د شيخ پيروي کولو سره هغه پريښي دي خو په بعضې ځايونو کې د مجبوري په وجه ما دهغه وضاحت کړي دي.

تسهيلات:

قوله: وَمَا أَشَارَ إِلَيْهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ مِنْ غَرِيْبٍ أَوْ ضَعِيْفٍ أَوْ غَيْرِهِمَا:

دصاحب مصابيح د حديث ضعيف وجه نه بيانول: په دې عبارت کښې صاحب مشکاة فرمائى چې يو ځائې کښې يو حديث ته ضعيف يا غريب يا منکر وئيلى دى او د هغې وجه اوسبب يئ نه دې بيان کړې، نو صاحب مشکوة په اکثرو مقاماتو د هغې وجه بيانوى چې دا په دې وجه منکر، شاذ، ضعيف يا غريب دې. ليکن ځينې مقاماتو کښې صاحب مصابيح پخپله سکوت اختيار کړې دې. نه يئ وزته ضعيف وئيلى دى اونه غريب. حالانکه د اصولو په کتابونو کې دهغې د نوعيت په باره کې ليکلى دى چې دا ضعيف دې يامنقطع يا مرسل.

د صاحب مشکاة د حديث دضعف وجه بيانول: نوصاحب مشکوة فرمائى چې ما هم په داسې مقاماتو کښې دصاحب مصابيح لاره اختياره کړې ده او سکوت مې اختيار کړې دې. البته

ځينو ځايونو کښې مې د مجبورئی نه څه بيان کړې دې. ځکه خلقو حديث ته موضوع اووئيل يا يئ ورته باطل اووئيل نو ما د خلقو د الزام د ترديد دپاره داسې اوکړل او د ترمذی وغيره حوالې سره مې د هغه حديث د نوعيت تعين کړې دې. مثلاً: المرأعلی دين خليله فلينظر أحدکم من يخالل.(مشکوة ص: ۴۲۷) ځينې خلق دې حديث ته موضوع وائی. حالانکه ترمذی دې ته حسن وئيلی دی. نو صاحب مشکوة د هغې وضاحت کړې دې. او اګرچې مصابيح سکوت اختيار کړې دې. علامه نووی رحمة الله عليه فرمائی :اسناده صحيح.

دمشکاة د بعضې احاديثو حوالې نه ذکر کول

وَرُبَّمَا تَجِدُ مَوَاضِعَ مُهْمَلَةً وَذٰلِكَ حَيْثُ لَمْ أَطَّلِعْ عَلٰى رَاوِيْهِ فَتَرَكْتُ الْبَيَاضَ فَإِنْ عَثَرْتَ عَلَيْهِ فَأَلْحِقْهُ بِهٖ أَحْسَنَ اللّٰهُ جَزَاءَكَ.

ترجمه: او حتّٰي داسې ځايونه به هم پيداشي چې هلته د احاديثو څخه وروسته ما دکتاب حواله نه ده ورکړي ځکه چې باوجود د تحقيق اوتلاش زه د روايت کونکي د نوم څخه خبر نه شوم نو هغه ځاي به ما پريښودي وي که تاسو ته درروايت کونکي نوم معلوم وي نو په هغه ځاي کې د هغه حواله ورکړي په دي به الله جَلَّجَلَالُہٗ جزايي خير درکړي.

تسهيلات:

قوله: وَرُبَّمَا تَجِدُ مَوَاضِعَ مُهْمَلَةً وَذٰلِكَ حَيْثُ لَمْ أَطَّلِعْ عَلٰى رَاوِيْهِ:

د بعضې احاديثوحوالې نه ذکر کولو وجه: صاحب مشکوة ځينو ځايونو کښې دحوالې ځائې خالی پريښودې دې، ځکه چې دا حواله ورته نه ده ملاؤ شوې. ځکه دلته فرمائی چې چا ته حواله ملاؤ شی نو هغه دې دې ځائې کښې اوليکی. دې خالی ځائې ته يئ د بياض نوم ورکړې دې. مشکوة کښې به په ډيرو مقاماتو کښې بياض په نظر راځی. چنانچه په صفحه ۲۲۷ بياض دې او همداشان په صفحه ۴۶۸ بياض دې. بيا په صفحه ۴۷۰ بياض دې. همداشان په ډيرو نورو ځايونو کښې دی اوهلته محدثينوحواله ورکړې ده اوپه هغه ځائې کښې يئ د ليکلو محنت کړې دې.

دمشکاة وجه تسميه:

وَسَمَّيْتُ الْكِتٰبَ بِمِشْكٰوةِ الْمَصَابِيْحِ وَأَسْأَلُ اللّٰهَ التَّوْفِيْقَ وَالْإِعَانَةَ وَالْهِدَايَةَ وَالصِّيَانَةَ وَتَيْسِيْرَ مَا أَقْصُدُهٗ وَأَنْ يَّنْفَعَنِيْ فِي الْحَيٰوةِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ وَجَمِيْعَ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ.

ترجمه: او ددي کتاب نوم ما مشکوٰة المصابيح ايښي دي، د دي کتاب د تصنيف دپاره زه دالله تعالی جَلَّجَلَالُہٗ څخه نيک توفيق د هغه مدد او د هدايت خواستګاريم او د خپل تصنيف د مکمل کولو دخطا او قصور څخه دحفاظت او دمشکلاتو دآساني دپاره دعا کوم. او دعا

کوم چې خداوند قدوس دي په دي ژوند کې او د مرګ څخه وروسته ماته هم او هر مسلمان سړي او ښځي تهٔ نفع ورسوي او الله تعالٰی ﷻ زما دپاره کافي او ښه کار سازدي او دبدي څخه دبچ کيدو طاقت او دنيک کار کولو قوت دالله تعالٰی ﷻ دطرف څخه دي چې په ټولو کارونو باندې غالب او دحکمت خاوند دي.

د مشکاة په وجه تسميه کښې بلاغي نکتبه: مشکوة دديوال هغه تاخ يا طاقچې ته وائی کومې کښې چې مشال يا ډيوه ايښودې کيږي. او مصابيح د مصباح جمع ده، مشال ته وائی. د المصابيح نه مراد د شيخ محی السنة کتاب هم کيديشی. او احاديث نبوی هم کيديشی. ځکه چې کتاب او حديث ديندارو دپاره د مشال په شان دی. د مشکوة المصابيح په نوم کښې يوه لطيفه اشاره هم ده، هغه دا چې کله مشال په يو ميدان کښې پروت وی نو دهغې رڼړا خوريدو سره سره کمزورې کيږي. خو که دا په تاخ يا طاقچه کښې کيخودې شی نو د هغې رڼړا مجتمع او تيزه شی. همداشان دا کتاب يا احاديث رسول هم نافع وو ليکن مشکوة المصابيح کښې د راتلو نه پس ددې خلا او پړق نور هم دوچند شو. او ددې په افاديت کښې د دې خاص ترتيب په وجه اضافه اوشوه.

[١] دَ نيت د اخلاص حديث

١ ــ ( )[١] ⑴ عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⑵ "«إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، ⑶ وَإِنَّمَا لِامْرِءٍ مَا نَوَى، ⑷ فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، ⑸ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ، وَرَسُولِهِ، ⑹ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا، ⑺ أَوِامْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا ⑻ فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ⑴ دعمربن الخطاب رضی الله عنه څخه روايت دې فرمائی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دی ⑵ د عملونو دارومدار په نيتونو دې ⑶ اويقينا هرسړی ته به هغه څه ملاويږي د څه چې ئې نيت کړې وی ⑷ نود چا هجرت چې د الله تعالی اود هغه د رسول (د رضا) دپاره وی ⑸ نودهغه هجرت الله تعالی اودهغه رسول ته مقبول دې ⑹ اود چا هجرت چې د دنيا دپاره وی چې دنيا حاصله کړی ⑺ يا د ښځې دپاره وی چې هغې سره نکاح وکړی ⑻ نود هغه هجرت د هغه څه دپاره دې د څه دپاره چې ئې هجرت کړې وی.

حل اللغات: ① هِجْرَتُهُ: هجرت په لغت کښې ترک يعنی پريخودلو او جدا کيدو ته وائی، وَهُوَتَرْكُ الْوَطَنِ الَّذِي بِدَارِ الْكُفْرِإِلَى دَارِالْإِسْلَامِ: دلته ددې نه مراد دار کفر پريخودل او دار اسلام ته ورتلل دی (د هجرت ضد وصل دې)، ② يُصِيبُهَا: أَيْ: يُحَصِّلُهَا: چه اورسيږی هغې ته يعنی حاصل ئې کړی.

[١]) اخرجه البخاری كتاب الإيمان /باب: ما جاء إن الأعمال بالنية والحسبة، ولكل امرئ ما نوى رقم(٥٤) ومسلم فی كتاب الإمارة/باب باب قوله صلى الله عليه وسلم: «إنما الأعمال بالنية»، وأنه يدخل فيه الغزو وغيره من الأعمال(رقم-١٩٠٧) والنسائی كتاب الطهارة/باب النية فی الوضوء(رقم-٧٥) وابوداود فی كتاب الطلاق/باب فيما عنى به الطلاق والنيات(رقم-٢٢٠١) والترمذی كتاب فضائل الجهاد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن يقاتل رياء وللدنيا (رقم-١٦٤٧) وابن ماجه كتاب الزهد/باب النية (رقم-٤٢٢٧) واحمد فی مسنده ٢٥/١.

د راوي مختصر تعارف :

د هغوی نوم عمر، کنیت ابو حفص، لقب فاروق اعظم او د پلار نوم ئې خطاب دې. دویم خلیفه راشد دې، دا امتیاز هم هغوی ته حاصل دې چه هغوی د ټولو نه مخکښې د امیر المومنین په لقب سره مشهور شو. د نبوت په شپږم کال باندې ورته د اسلام دولت نصیب شو. د هغوی په اسلام قبلولو باندې مسلمانانو ډیر مضبوط شو، د دې نه مخکښې به مسلمانانو په پټه باندې د فرائض ادائیګی کوله خو د سیدنا عمر رضي الله عنه د اسلام راوړلو نه پس د فرائضو ادا کول او د اسلام تبلیغ ښکاره شروع شو. د سنن ابن ماجه یو روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د عمر رضي الله عنه په اسلام راوړلو باندې په آسمانونو کښې هم خوشحالئ اوکړې شوې. د سیدنا ابوبکرصدیق رضي الله عنه نه پس هغوی متفقه طور سره د اسلام دویم خلیفه منتخب کړې شو او ټولو مسلمانانو د هغوی په حق پرست لاس باندې بیعت اوکړو. د هجرت په څلیرشتم کال په ۲۷ ذی الحجة د چارشنبې په ورځ ئې په مسجد نبوی ﷺ کښې د سحر مونځ ورکولو چه ابولؤلؤ نومې یو بدبخته نصرانی په هغوی باندې خنجر سره حمله اوکړه او هغوی شهید شو. د شهادت په وخت د هغوی عمر مبارک ۶۳ کاله وو. د جنازې مونځ پرې سیدنا صهیب رومی رضي الله عنه اوکړو. د عمر رضي الله عنه نه د مرفوع احادیث تعداد ۵۳۷ بیانولې شی.

تسهیلات:

د باب نه وړاندې د دې حدیث په بیان کښې حکمتونه: ړومبې خبره داده چې دا حدیث عمومًا دباب د مناسب څخه بغیردَ باب څخه وړاندې درج کیږی، ددې څه وجه ده؟

① سلفًاوخلفًا مصنفینو او محدثینو دا حدیث پاك بې ربط او بې جوړ په ابتداء کښې لیکلې دې چې د هر لوستونکی اول نظر په اصلاح احوال و افعال او دنیت اودَ قول دَ صحیح والی په روښانه مینار باندې پریوځی او د وړاندې ټول سفر په صحیح نیت او خلوص افعال و اعمال سره اوشی. چنانچه ددې حدیث پاك جلالت شان ا و عظمت مقام متعلق علماء کرام او ائمه عظام، عظیم الشان رائې لری.

② ددې یوه وجه داده چې دې حدیث طرفته د لوستونکو توجو رااړول غرض دی او د مناسبت څخه بغیر په ابتداء کښې درج کیږی لکه څنګه چې ددنیا والو دستور دې چې هغوئ د خلقو د توجهاتو حاصلولو دپاره عجیبه عجیبه او مهیب شکلونه اختیاروی. نو خلق دې کښې دلچسپی اخلی او غور په کښې کوی. دا حدیث پاك هم جدا رااوړلې شو چې د طلباء کرامو او علماء کرامو توجه حاصله کړی څکه چې دلته د احادیثو بحر دخار دې، چې په دې غوټه اووهی او لالونه حاصل کړی.

ددې حدیث عظمتِ شان:

① عبد الرحمان بن مهدی رحمه الله فرمائی چې:[من أراد أن يصنف كتابا فليبتدأ بهذا الحديث] یعنی کوم کس چې د کتاب د تصنیف کولو اراده اوکړی نو په هغه لازم دی چې ددې حدیث پاك څخه کتاب شروع کړی.

② امام ابوداود رحمه الله فرمائی.داسلام دارومدار په څلور احادیثو دے.(١)

① ((انما الأعمال بالنيات))

② ((من حسن إسلام المرء تركه مالا يعنيه))(٢)

③ ((الحلال بين والحرام بين..))(٣)

④ ((أزهد في الدنيا يحبك الله..))(٤)

دا خبره طاهربن مفوز رحمه الله په نظم کښې بیان کړې ده.

عمدة الدين عندنا كلمات　　أربع من كلام خير البرية

أتق الشبهات،،و،،ازهد،،و،،دع　　مالايعنيك،،و،،اعملن بنية،،(٥)

③ امام احمد رحمه الله فرمائی.چه اصول داسلام په درے احادیثو باندے دی.

① ((انما الأعمال بالنيات)) ② ((الحلال بين والحلام بين..))

③ ((من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهورد))(٦)

④ امام شافعی رحمه الله دې حدیث ته نصف العلم وئیلی دی. ځکه چې علم قلب سره تعلق لری یا ژبې او جوارحو او قالب سره تعلق لری. او د حسن نیت تعلق نیت او زړه سره دې

(١) اوګورئ الفتوحات الربانية (٦٤/١) وعمدة القارى (٢٢/١) خوپه عمدة القارى کښې د څلورم حدیث ((أزهد فى الدنيا..)) په ځائې ((لايكون المؤمن مؤمناً حتى يرضى لأخيه ما يرضى لنفسه)) ذکردے.

(٢) أخرجه الترمذى فى جامعه فى كتاب الزهد باب (بلاترجمة)) بعد باب فيمن تكلم بكلمة يضحك بها الناس رقم ٢٣١٧ وابن ماجة فى كتاب الفتن باب كف اللسان فى الفتنة رقم ٣٩٧٦)_

(٣) أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب الإيمان باب فضل من إستبرأ لدينه رقم ٥٢، وفى كتاب المساقاة باب الحلال بين والحرام بين وبينهما مشتبهات رقم ٢٠٥١، ومسلم فى صحيحه فى كتاب المساقاة باب أخذ........الحلال وترک الشبهات رقم (١٥٩٩) والنسائى فى سننه فى كتاب البيوع باب إجتناب الشبهات فى الكسب والترمذى فى جامعه فى كتاب البيوع باب ماجآء فى ترک الشبهات رقم (١٢٠٥) وابن ماجة فى سننه فى كتاب الفتن باب الوقوف عند الشبهات (٣٩٨٤)_

(٤) أخرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب الزهد باب الزهد فى الدنيا رقم ٤١٠٢)_

(٥) عمدة القارى (٢٢/١) والفتوحات الربانية (٦٤/١)_

(٦) أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب الصلح باب إذا إصطلحوا على صلح جور مردود رقم(٢٦٩٧) ومسلم فى صحيحه فى كتاب الأقضية باب نقض الأحكام الباطلة ورد محدثات الأمور رقم (١٧١٨) وابوداود فى سننه فى كتاب السنة باب لزوم السنة رقم ٤٦٠٦، وابن ماجه فى سننه فى المقدمة باب تعظيم حديث رسول الله ﷺ والتغليظ على من عارضه رقم ١٤)_

نو دا نصف العلم دې.

⑤ علامه خطابی رحمه الله فرمائی چې زمونږ استاذانو او متقدمینو به په هر ښه کار او دینی امورو کښې دا حدیث په شروع کښې ذکر کول خوښول.

⑥ امام ابوحنیفه رحمه الله دې حدیث ته ربع العلم وائی، ځکه چې دین اسلام په څلورو شعبو کښې تقسیمولې شی.

① اتقاء الشبهات ② زهد فی الدنیا ③ ترک مالا یعنیه ④ خلوص النیة

نو څلورمه حصه په دې حدیث کښې ده کوم چې خلوص نیت دې.

دحدیث شانِ ورود: امام طبرانی په صحیح سنده سره دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه ددے حدیث شان ورود ذکر کړے دے.چه په مونږ کښے یو کس ام قیس نومے ښځے ته د نکاح پیغام اولیږلو.نوهغے ورته شرط اولګولو.چه هجرت اوکړه.نو نکاح به درسره اوکړم. دے کس مدینے منورے ته هجرت اوکړلو.اوهغه ښځے سره ئے نکاح اوکړه.مونږ به هغه ته ,,مهاجرام قیس، ،وئیل.([1])نبی صلی الله علیه وسلم ته چه کله داخبره اورسیدله.نودا حدیث ئے اوفرمائیل.

یو اشکال:دلته یو اشکال دا کیږی.چه حضرت ابوطلحه رضی الله عنه چه حضرت ام سلیم رضی الله عنها (دحضرت انس رضی الله عنه مور) ته دنکاح دپاره اووئیل.نوحضرت ام سلیم رضی الله عنها ورسره شرط لګولے وو.چه ایمان راوړه.نونکاح به درسره اوکړم.نوحضرت ابوطلحه رضی الله عنه ایمان راوړلو. او ددے نه پس نکاح هم اوشوه.([2])

داسلام معامله خودهجرت نه هم اهمه اومعززه ده.نبی صلی الله علیه وسلم دنکاح دپاره په هجرت باندے انکار کړے دے.او ((فمن کانت هجرته إلی دنیا یصیبها أو إمرأة ینکحها فهجرته إلی ما هاجر إلیه)) ئے اوفرمائیل.اود ناخوښئ اظهار ئے اوکړلو.خو د حضرت ابوطلحه رضی الله عنه د اسلام په باره کښے د دوی صلی الله علیه وسلم نه څه نکیر منقول نه دے.دا لرے خبره ده.چه نبی صلی الله علیه وسلم ته به د دے خبر نه وی شوے.ځکه چه ام سلیم رضی الله عنها ته په دربار رسالت کښے ډیر نزدیکت حاصل وو.([3])

د اشکال جواب:داسلام عالمانو فرمائیلی دی.چه په اصل کښے دحضرت ابوطلحه رضی الله عنه د وړاندے نه داسلام راوړولو اراده وه.هغوی هم په هغه طریقه اسلام قبول کړلو.لکه څنګه چه عاموخلقو علی وجه البصیرة اسلام قبول کړے وو.([4])خو ورسره ورسره هغوی د تزویج

([1]) اوګورئ عمدة القاری (۲۸/۱) بیان السبب والمورد)_

([2]) عن أنس رضی الله عنه قال تزوج أبوطلحة أم سلیم رضی الله عنها فکان صداق ما بینهما الإسلام.أسلمت أم سلیم، قبل أبی طلحة فخطبها فقالت إنی قد أسلمت فإن أسلمت نکحتک فأسلم أبوطلحة فکان صداق ما بینهما))_

([3]) حضرت انس رضی الله عنه فرمائی.((أن النبی صلی الله علیه وسلم کان یزور أم سلیم فتتحفه بالشئ تصنعه له)) دغه شان حضرت انس رضی الله عنه نه منقول دی.((لم یکن رسول الله صلی الله علیه وسلم یدخل بیتاً غیر بیت أم سلیم إلا علی أزواجه فقیل له فقال إنی أرحمها قتل أخوها وأبوها معی)) اوګورئ الإصابة (۴۶۱/۴)_

([4]) د لاندینی روایت نه ددے تائید کیږی.((عن أنس بن مالک رضی الله عنه أنا أباطلحة رضی الله عنه خطب........

مباح یعنی جائز نکاح نیت هم شامل کړے وو.
اودا داسے ده.لکه چه یو سړے روژه نیسی.نیت ئے د روژے نیولو وی.خو ورسره ورسره دپرهیز خیال هم کوی.
یا یو کس د بیت الله طواف کوی.نیت ئے هم د طواف وی.خو ورسره ورسره ئے دا نیت هم وی.چه زما مدیون چه هغه هم طواف کوی.هغه به هم د نظر لاندے ساتم. نو لکه څنګه چه د پرهیز په خیال باندے په روژه کښے نقصان نه راځی.او د ((ملازمة الغریم)) په اراده په طواف کښے فرق نه راځی.دغه شان د ابوطلحه ﷜ د تزویج مباح په نیت سره دهغه په اسلام کښے څه خرابی نه راځی.
په جواب باندې اشکال: خودلته دا سوال کیدے شی.چه هم دا توجیه هم تاسو د مهاجر ام قیس په باره کښے هم کولے شئ.خوهلته تاسو دا توجیه نه کوئ؟
د اشکال جواب: د دے جواب دا دے.چه دمهاجر ام قیس په باره کښے دنبی کریم ﷺ نه د ((ومن کانت هجرته إلی دنیا یصیبها أو إمرأة یتزوجها فهجرته إلی ما هاجر إلیه)) په الفاظو سره نکیر راغلے دے.نودهغه په قصه کښے به څه تاویل یا توجیه نشی کولے.او د ابوطلحه ﷜ په قصه کښے نکیر موجود نه دے.نوهلته د تاویل ګنجائش شته.په دے باره کښے به څه تفصیل وړاندے راشی.انشاء الله والله اعلم

قوله: إِنَّمَا:

د کلمه: إنما تحقیق:

اهل لغت او اصولیانو په دې اتفاق کړې دې چې واضع انما لره دَ حصر دپاره وضع کړې ده. او دې څخه د حکم تاکید مقصود وی. لکه [إِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ○ وَ إِنَّمَا اللَّهُ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ] بهر حال انما څخه د مذکور اثبات کیږی، او د غیر مذکور نفی کیږی. دحصر معنی به داشان وی [انما الأعمال تعتبر بالنیة ولا تعتبر بغیرها] یا به داشان وی [لیست الأعمال حاصلة إلا بالنیة]

قوله: الْأَعْمَالُ:

د الأعمال تحقیق:

اعمال د عمل جمع ده. ددې په مقابله کښې النیات مذکور دی، او کله چې د جمع مقابله جمع سره اوشی نو تقسیم په آحاد باندې وی. نو نتیجه دا شان شوه چې هر هرعمل دَ نیت

.... ام سلیم رضی الله عنها یعنی قبل أن یسلم فقالت:یا أباطلحة ألست تعلم أن إلهک الذی تعبد نبت من الأرض؟ قال بلی قالت أفلا تستحی تعبد شجرة إن أسلمت فإنی لا أرید منک صداقاً غیره.قال حتی أنظر فی أمری فذهب ثم جاء فقال أشهد أن لا إله إلا الله وأن محمداً رسول الله ﷺ. اوګورئ الإصابة (٤٦١/٤) ترجمه ام سلیم بنت ملحان)

سره وابسته دي. عمل او فعل کښې لږشان فرق دې. علماء کرامو ښودلی دی هغه دا چې د عمل اطلاق صرف په اختیاری کارونو باندې کیږی او غیر اختیاری کارونو ته عمل نشی وئیلې. او فعل عام دې. اختیاری وی او که غیر اختیاری وی، نو [اعْمَلُوْا صَالِحًا] راغلې دي [افعلوصالحا] نه دې راغلې. دویم فرق دادې چې د عمل په مفهوم کښې دوام او استمرار پروت دې او فعل کښې داسې نشته دې.

قوله: بِالنِّيَّاتِ:

د نیت لغوی او شرعی معنی: اَلنِّيَّات د نية جمع ده، په لغت کښ د نیت معنی د ارادې او قصد راځی او د شریعت په اصطلاح کښ د نیت معنی ﴿ یوجه القلب نحوالفعل ابتغاءلوجه الله﴾ خو په حدیث کښ معنی لغوی مراد ده، ځکه چه روستنې تقسیم او تفصیل کښ هجرت ﴿ هجرت لوجه الله ولغیر الله ﴾ د دواړو بیان دې. لهذا نیت په معنی د قصد به په دواړو باندې منطبق وی نه معنی شرعی. (فتح الباری، التعلیق الصبیح)

په نیت او اراده کښې فرق: بیا په نیت او اراده کښ فرق دا دې چه اراده هغه مراد صادرولو ته وائی چه په هغې کښ د غرض اعتبار نه وی، په خلاف د نیت چه په دې کښ د غرض اعتبار وی. اوچونکه دافعال باری تعالی معلل بالاغراض نه کیدل مسلم مسئله ده په دې وجه ﴿نوی الله تعالی﴾ به نه شی وئیلې کیدې بلکه ﴿اراد الله﴾ مستعمل دې. (فیض الباری)

د نیت دوه قسمونه: بیا نیت په کلام د عربو کښ په دوه قسمه مستعمل دې ۱: د پاره د تمیز د یو عمل د بل عمل نه، ۲: د پاره د تعمیر د یو معبود د بل معبود نه. لکه تمیز د اهل اخلاص او اهل ریاء او شهرت ترمینځه، (یعنی نیت یو عبادت لره د بل عبادت نه د ممتاز کولو دپاره وی. د یو مخلص د عبادت نیت د الله پاک د راضی کولو دپاره وی او د ریا کار او د شهرت دپاره د عبادت کونکی نیت د شهرت او ریاء دپاره وی) او دا حدیث د خپل عمومیت د وجې نه دواړو ته شامل دې، خو بالقصد استعمال ثانی معتبر دې، ځکه چه رسول الله ﷺ د مخلص کوم چه د الله پاک د رضا طالب دې او د غیر مخلص کوم چه د دنیا او ښځې طالب دې ترمینځه فرق کړې دې د عمل ئې د عمل سره فرق نه دې کړې. (التعلیق الصبیح)

په ((إنما الأعمال بالنیات)) کښې لغوی معنی مراد ده او که شرعی؟

په دے خبره د پوهیدلو نه پس دا هم په زړه کښے کینوئ چه په دے مقام کښے د نیت نه لغوی معنی مراد ده.ددے وجه دا ده.چه نبی کریم ﷺ په دے حدیث کښے دوه قسمه اعمال ذکر کړی دی.یو **((فمن كانت هجرته إلى الله ورسوله))** او دویم **((ومن كانت هجرته إلى دنيا**

يصيبها أو إمرأة يتزوجها فهجرته إلى ما هاجر إليه» په دے كښے په اولنى عمل كښے «ابتغاء مرضاة الله» ملحوظ ده.او په دویم عمل كښے ملحوظ نه ده.نودا به وئیلی شی.چه دلته د جنس نیت ذکر دے.په دے كښے لغوی معنی مراد ده.شرعی معنی مراد نه ده.([1])

په فعل او عمل کښې فرقونه : ① د فعل معنی د کولو راځی او د عمل معنی د بار بار کولو ده، په فعل کښ دوام او استمرار نه وی او په عمل کښ د دوام او استمرار مفهوم موندلې شی. په دې وجه په قرآن کريم کښ ﴿ واعملوا صالحا ﴾ فرمائیلې شوې دې چه په عمل صالح باندې مواظبت او دوام مطلوب دې.

②دویم فرق دا دې چه د عمل صدور صرف د ذوی العقول نه کیږی، د ځناورو په افعالو باندې د عمل اطلاق نه کیږی، په دې حدیث کښ مطلق هغه افعال اختیاریه مراد دی کوم چه د مکلفین نه ځادر کیږی ځکه چه کلام شرعی په هم داسې قسم افعالو کښ وی.

بالنيات کښې دباء متعلق څه څيز دې؟: اوس سوال دادې چې ډير داسې اعمال دی کوم چې حساً او صورة د نیت څخه بغیر نه حاصلیږی. او کوم چې غیر اختیاری اعمال دی لکه چت وغیره څخه راغورزیدل دا ټول بغیر دنیت څخه وجود کښې رازی. لهذا دلته بالنيات دپاره یو داسې عبارت مقدر کول پکار دې چې دهغې څخه د حدیث مفهوم واضح شی. داشان بالنیات کښې د جار مجرور متعلق معلوم شی؟

د تقدير راويستلو دوه صورتونه :

① **فعل عام مقدر منل:** اوس یو صورت دادې چې یا خو په افعال عامۀ کښې یو فعل مقدر راوویستلې شی یعنی [کون، ثبوت، حصول، وجود] دې څلورو افعال عامه کښې یو فعل مقدر رااویستلې شی لیکن په دې کښې نقصان دادې چې د افعال عامه تعلق حسی افعالو سره وی. لهذا په دې کښې یو فعل مقدر منلو سره دا لازمیږی چې د اعمالو حسی وجود بغیر د نیت څخه نه کیږی. دا خبره صحیح نه ده، ځکه چې د افعال حسی وجود خو بغیر دنیت څخه کیدې شی.

② **د خاص فعل د تقدير ضرورت:** اوس ضروری شوه چې دلته یو فعل خاص مقدر اومنلې شی، اوس به کوم یو فعل خاص راوستلې کیږی؟ نو جمهور آئمه ددې متعلق [صحة یاتصح یامنوطة بالنیات] منلې دی. یعنی هیڅ یو عمل بغیر د نیت نه صحیح کیږی. د هر عمل دارومدار په نیت باندې دې. ائمه احناف کاملة او ثواب فعل مقدر منی. یعنی [إنما الأعمال تثاب بالنیات] یعنی که نیت نه وی نو عمل باندې به ثواب نه مرتب کیږی، خود

---

[1] اوګوری: فتح الباری (۱۳/۱)_

نفس عمل وجود به وی.

په دوارو مقدراتو اعتراضات: په دې دوارو مقدراتو باندې په خپل خپل ځائې خپل خپل انداز سره اعتراضات دی. احناف د ثواب مقدر منلو ته ترجيح ورکوی او وائی چې د ثواب مقدر منلو سره ټولو ته فائده ده. خو که صحة اومنو نو دا د جمهورو خلاف دی. ځکه چې ډير افعال داسې دی چې ددوئ په نيز بغير د نيت نه متحقق کيږی.

د ملا علی قاری تحقيق: د ملاعلی قاری رحمه الله په نزد [تعتبراومعتبرة] مقدر منل زياد واضح دې چې ټولو عباداتو ته په آسانی سره شامل شی. يعنی [انما الاعمال معتبرة] او [تعتبرة بالنيات] په دې کښې ټول اعمال راغلل.

① که عبادات مقصوده وی لکه صوم وصلوة، زکوة او حج وغيره. دلته [انما الاعمال تعتبرلصحتها النية] يعنی ددې عباداتو فرضيو صحت دپاره نيت ضروری دې بغير د نيت څخه فرض عبادات صحيح نه دې.

② يا به هغه اعمال دَعبادات فرضيه دپاره د شرائط په درجه کښې وی لکه طهارت، سترعورت، وغيره نو دلته لحصول ثوابها مقدر منلې کيږی. لکه [انما الاعمال تعتبر لحصول ثوابها النية] يعنی ترکومې پورې چې دشرائط د درجې اعمال لکه غسل، اودس، تيمم، طهارت دَ مکان وبدن، طهارت دَ لباس وغيره کښې د ثواب نيت نه وی نو ثواب بهٔ نه ملاويږی. اګر چې عمل به صحيح وی.

③ يا هغه اعمال بهٔ امور مباحه وی نو هلته تعتبرڅخه وروستو تصيروتنقلب به مقدر منلې کيږی. [انما الاعمال المباحة تعتبراي تصيروتنقلب بالنية الحسنة حسنات وبالنية السيئة سيئات]

بهر حال تعبر عام لفظ دې. ددې عموم پيش نظر دموقع او محل مناسبت سره به فعل راويستلې کيږی. نو عبادات مقصوده او غير مقصوده او مباح ټولوته به شامل شی. بلکه متروکاتو لکه خمر، زنا وغيره ترک کولو ته به هم شامل شی چې دا په نيت حسنه سره پريښودلو باندې اجر و ثواب ملاويږی. ابن دقيق العيد ددې تائيد کړې دې چې د متروکات په ترک کولو ثواب ملاويږی.

امام غزالی رحمه الله د اعمال متعلقه بالنيات تفصيل داسې بيان فرمائيلې دې:

① **معاصی**: معصيت کښې نيت سره هيڅ تغير نه راځی، د ګناه کار په ښه نيت سره نيک کار نه جوړيږی. لکه حرام مال خرچ کولو کښې د ثواب نيت ئې اوکړو، يا ئې په دې مسجد جوړ کړو، يا ئې په دې مدرسه جوړه کړه، يا ئې په يو بل نيک کار کښې اولګولو نو دې ټولو صورتونو کښې به ثواب نه ملاويږی.

② طاعات او عبادات مقصوده کښې د نیت ضرورت: دا عبادات په اصل صحت کښې هم د نیت محتاج دی، او په زیات فضیلت کښې هم د نیت محتاج دی. اصل نیت کښې خو په دې وجه چې عبادت ضائع نه شی. او اکثار فضیلت دَ رفع درجات دپاره په دې کښې دې دآشان نیت اوکړې شی چې ډیر نیتونه په یو عمل کښې شامل کړې شی او ډیر ثوابونه حاصل کړې شی. لکه مونځ دپاره مسجد ته راغلو، د قبله رخ کیدو نیت ئې اوکړو،د اعتکاف نیت ئې هم اوکړو، د انتظار صلوات نیت ئې هم اوکړو، د غریب د مدد کولو نیت ئې هم اوکړو، وغیره وغیره نو په دې ټولو نیتونو باندې به ثواب ملاویږی.

③ په مباح عمل کښې نیت کول: مباح کار د ښه نیت احتمال لری. لکه عطر لګول په ښه نیت سره یو مبارح امر دې، خو د فخر او مباهاتو او تکبر په طور ناجائز دی. خو که د اقتداء سنت رسول ﷺ نیت اوکړی نو ثواب به پرې ملاویږی ګنی هسې مباح عمل باندې ثوابَ نه ملاویږی. یا د مسجد د احترام نیت اوکړی نو په دې مباح عمل کښې هم ثواب ملاویږی بلکه په یو عمل کښې که په ډیرو نیکو عملونو نیت اوکړی نو په دې بهٔ ډیر ثوابونه ملاویږی.

داحنافو په نیزپه وسائلو کښې د نیت عدمِ ضرورت: ددې ټولو بحثونو څخه وروستو په دې پوهه شی چې دَ احنافو په نیزپه وسائط او وسائلو کښې نیت ضروری نه دې، او په مقاصدو کښې ضروری دې. خو د شوافعو په نزد مقاصد او وسائل او وسائط دواړو کښې نیت ضروری دې. په دې باندې یو اختلافی مسئله متفرع ده کومه چې به په راتلونکی درس کښې راشی.

قوله:"وَإِنَّمَا لِامْرِءٍ مَا نَوَى:

په دواړو جملو کښې فرق: دلته کښے دا بحث دے چه په «انما الأعمال بالنیات» اوپه «انما لکل إمرئ مانوی» کښے څه فرق دے؟ په دے سلسله کښے د عالمانو څو اقوال دی.

① دعلامه قرطبی رحمه الله رائے دا ده.چه دویمه جمله د اولنۍ جملے دپاره تاکید دے. د نیت معامله چونکه مهتم بالشان وه.څکه نبی ﷺ د «انما الأعمال بالنیات» جمله اوونیله.اوهم دا مضمون ئے په بل انداز کښے بیان کړلو.حالانکه خبره یوه ده.د اولنۍ جملے مطلب دا دے.که نیت صحیح وی.نو عمل به مقبول وی.اوکه نیت صحیح نه وی.نوعمل به مقبول نه وی.او د دویمے جملے مطلب دا دے.چه نیت ښه وی.نو عمل د ښه جزاء سبب جوړیږی. اوکه په نیت کښے فتور او خرابی وی.نوعمل د خرابی بدلے سبب جوړیږی.لکه چه عنوان

بدل شو.او مُعنُونْ یو دے.(۱)

④ نور حضرات فرمائی.چه په اولنۍ جمله کښے داعمالو په باره کښے خودلی شوی دی.چه ددے تعلق د نیت سره دے.اود حکم ترتب به په دے کیږی.او په دویمه جمله د عامل دحالت بیان دے.چه ده ته به دخپل نیت مطابق جزا ملاویږی.(۲)

③ علامه نووی رحمه الله فرمائی.چه په اوله جمله کښے د نیت اوعمل په مینځ کښے ربط بیان شوے دے.چه داعمالو تعلق دنیت سره دے.او ددے دحسن او قبح مدار په نیت دے.اوپه دویمه جمله کښے د تعین منوی داشتراط فائده حاصلیږی.مثلاً د یوکس په ذمه د ماسپخین اومازیگر د مونځونه قضا ده.اوس که هغه مطلق نیت اوکړی. اود ماسپخین مونځ ادا کول غواړی.نونهٔ ادا کیږی.دغه شان د مطلق څلورو رکعتو په کولو سره د مازیگر مونځ نه ادا کیږی.بلکه د ماسپخین د ادا کولو دپاره د ماسپخین او د مازیگر دادا کولو دپاره د مازیگر تعین ضروری دے.لکه چه په دویمه جمله کښے دا خودلے شوی دی.چه عامل ترڅو منوی متعین نکړی.نودهغه دعمل اعتبار به نه وی.(۳)

④ د ابن السمعانی رحمه الله توجیه دا ده.چه په اوله جمله کښے هم د هغه «ربط بین العمل والنیة» بیانول دی.اوپه دویمه جمله کښے دهغه مباح اعمالو بیان دے.کوم چه په عبادات کښے شامل نه دی.اوپه هغے کښے د نیت نه بغیر اجر او ثواب نه ملاویږی.چه نیت ئے د ثواب وی.اود خیر نیت اوکړی.نوثواب به ورته ملاؤ شی.ګنی نه.(۴)

مثلا خوراك څکاك په مباحاتو کښے دی.په دے باندے به ثواب په هغه وخت کښے ملاویږی.کله چه د «تقوی علی العبادة» نیت وی.یعنی چه زه دا خوراك ددے دپاره کوم.چه زما په بدن کښے طاقت پیدا شی.اوهغه قوت زه دالله تعالی په عبادت کښے خرچ کړم.

⑤ علامه ابن دقیق العید رحمه الله دا توجیه فرمائیلے ده.چه اوله جمله د «ربط بین العمل والنیة» دپاره ده.اوپه دویمه جمله کښے دا خودلے شوی دی.چه په عمل باندے به اجر اوثواب په هغه وخت کښے مرتب کیږی.چه په دغه عمل کښے نیت هم وی.او ورسره ورسره د شرطونو خیال هم ساتلے شوےوی.که صرف د شرطونو خیال اوساتلےشی.اونیت نه وی.نواجربه نه ملاویږی.دغه شان چه دعمل نیت اوکړی.اود هغے د پوره کولوپخه اراده ئے هم وی.خو د څه شرعی عذر د وجے هغه کار اونکړے شی.نوده ته به د هغے کار ثواب ملاویږی. خو

(۱) فتح الباری (۱/۱٤)_
(۲) فتح الباری (۱/۱٤)_
(۳) عمدة القاری (۱/۲۷)_
(۴) فتح الباری (۱/۱٤) وعمدة القاری (۱/۲۷)_

صرف دهغه عمل چه نیت ئې کړې وی.(۱)

⑥ بعضې شاحینو دا توجیه کړې ده.چه په دویمه جمله کښې د «نیابة فی النیة» نه منع شوې ده.چه بغیر دعذر نه د بل دطرفه نیت کول معتبر نه دے.بلکه هرسړے دے دخپل عمل په خپله نیت کوی.(۲)

⑦ شیخ عزالدین عبدالسلام رحمه الله فرمائی.چه داولنئ جملے مقصد دا دے.چه کوم عمل معتبر دے.او د دویمې جملے مقصد دا دے.چه په اعمالو به نتائج کله مرتب کیږی.نو په اوله جمله کښې دا خودلے شوی دی.چه هغه عمل معتبر دے.چه په هغې کښې نیت وی. او چونکه په یو عمل کښې ښه نیت او بد نیت هم کیدے شی.نوځکه ئې په «إنما لکل إمرئ ما نوی» کښې اوخودل.چه د عمل په وخت کښې څنګه نیت اوکړی.نتیجه به هم هغه مرتب کیږی.(۳)

⑧ اتمه توجیه دا ده.چه په اولنئ جمله کښې هم هغه د نیت او عمل په مینځ کښې ربط بیان شوے دے.چه د عمل دارومدار په نیت دے.چه څنګه نیت وی.هغه شان به عمل وی.او د دویمې جملے مقصد دا دے.که په یوعمل کښې ګنړ نیتونه جمع کیدے شی.نود ټولو ثواب به ملاویږی.مثلاً یو سړے جمات ته ځی.اوصرف د مونځ نیت کوی.نوصرف یو ثواب یعنی د مانځه ثواب به ورته ملاویږی.اوکه هغه کس جمات ته دتلو په وخت کښې د مانځه د نیت سره دا نیت هم اوکړی.چه د جماعت انتظار اوکړم.اوتلاوت به اوکړم.نفلی اعتکاف به اوکړم.د مسئلے د زده کولو او بل ته دخودلو نیت هم اوکړی.د نیکانو سره د ملاقات اود هغوی د لیدونیت هم اوکړی.د ګناهونو نه د بچ کیدو قصد هم اوکړی.نو په دے ټولو نیتونو به ورته مستقل او ځانله ځانله ثواب ملاویږی.(۴)

⑨ علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه اولنئ جمله مقدمه تجربیه عرفیه عقلیه ده.او دویمه جمله د شرعی حکم بیان دے.یعنی په اوله جمله کښې دا خودلے شوے دی.چه عقلاً اوعرفاً دا خبره منلے شوے ده.او ټولو ته معلومه ده.چه داعمالو دارومدار په نیت وی.اوپه دویمه جمله اولنئ جملے ته شرعی استناد ورکوی.اودا ښائی.چه شرعاً هم دا عرف او عقلی فیصله معتبر ده.(۵) په احادیثو کښې ددے څو مثالونه موندلی شی.

د حضرت ابوعبیده رضی الله عنه په منقبت کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.«لکل أمة أمین، وأمین

---

(۱) فتح الباری پورتنئ حواله)_
(۲) عمدة القاری (۲۷/۱)_
(۳) فتح الباری (۱۴/۱)_
(۴) تقریر بخاری ازشیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب کاندهلوی قدس سره (۷۴/۱)_
(۵) اوګورئ حاشیه علامه سندهی رحمه الله برصحیح بخاری (۸/۱)_

هذه الأمة أبوعبيدة بن الجراح»(۱)په دے حدیث کښے «لكل أمة أمين» یوه جمله عرفیه تجربیه ده.او«أمين هذه الأمة أبوعبيدة بن الجراح» دا جمله شرعیه ده.شریعت دے عرف ته استناد ورکړلو.

⑩ علامه طیبی رحمه الله فرمائی.چه داولنئ جملے تعلق د اصل عمل سره دے.یعنی اعمال به په هغه وخت کښے محبوب اومعتبر وی.چه د نیتونو سره د هغے اقتران وی.او په دویمه جمله کښے ددے بیان دے.چه نیابت به په هغه وخت کښے معتبر وی. چه د اخلاص سره اقتران وی.خلاصه دا چه په دویمه جمله کښے د نیت نه مراد ،،اخلاص،، دے.(۲)

⑪ یوه توجیه دا شوے ده.چه په دے کښے اولنئ جمله په منزله د علت فاعلیه ده.اودویمه جمله علت غائیه.یعنی په اولنئ جمله کښے دا خودلی شوی دی.چه څنګه فاعل په فعل کښے موثر وی.دغه شان نیت په عمل کښے موثر وی.او په دویمه جمله کښے غایت بیان شوے دے.چه څنګه نیت وی.دعمل ثمره به هم هغه شان وی.(۳)والله اعلم

قوله:فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ:

دهجرت لغوی تعریف: هجرت او ددے قسمونه په لغت کښے د ،،هجرة،، معنی ده. پریخودل. اوپه عرف کښے هجرت ترک وطن ته وائی.

دهجرت صورتونه: بیا د وطن د پریخودلو مختلف صورتونه دی.

① کله خو سړے د دنیاوی غرض دپاره وطن پریږدی.لکه ډیرخلق دتجارت په غرض یا د ملازمت په نیت په نورو ملکونو کښے اوسیږی.

② بعضے وخت کښے ترک وطن ددے وجے کیږی.چه په خپل وطن کښے امن او اطمینان نه وی.نو سړے د خوف د ځائے نه د امن ځائے ته منتقل شی.لکه چه د حبشه په دواړو هجرتونو کښے داسے شوی وو.مسلمانانو ته په مکه کښے امن حاصل نه وو.هروخت به په ویره کښے وو.نوهغوی دغه وطن پریخودلو.اوحبشه ته لاړل.چه هلته کښے امن وو.

③ دغه شان په اول کښے چه مسلمانانو مدینے منورے ته هجرت اوکړلو.نو مدینه دارالامن وو.خو چه کله نبی ﷺ مدینے ته تشریف یوړلو.اوهلته ورسره قرار ملاو شو.نو بیا دالاسلام شو.ددے نه پس چه کومو خلقو هجرت کړے وو.نو دا هجرت من دارالکفر الی دارالاسلام وو.دا هجرت د ترک وطن یو دریم صورت شو. (۴)

④ بیا په آخره زمانه کښے به یو بل هجرت وی.کوم چه به شام طرف ته وی.په مسند احمد

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب قصة أهل نجران رقم ۴۳۸۲_
(۲) الکاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطیبی (۱/۹۰)_
(۳) امدادالباری (۲/۲۱۷)_
(۴) اوګوری فتح الباری (۱/۱۶)_

(۱) و ابوداود (۲) کښې یو حدیث دے.((ستكون هجرة بعد هجرة، فخيار أهل الأرض ألزمهم مهاجرا إبراهيم عليه السلام...))

د هجرت شرعی تعریف: او په شریعت کښې هجرت د ترک معاصی نوم دے.اوهم دا حقیقی هجرت دے. نبی ﷺ فرمائیلی دی.((المهاجر من هجر ما نهى الله عنه))(۳)

لکه چه د هجرت درے اهم قسمونه دی.

①هجرت لغوی ② هجرت عرفی ③ هجرت حقیقی شرعی. د تجزیه کولو په صورت کښې ددے په شمار کښې زیادت راځی.

قوله: إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا:

د دنیا لغوی معنی: ،،دنیا ،، د ،،دنو ،، نه مشتق دے.ددے معنی ،،نزدیکت ،، دے.

د دنیا وجه تسمیه: ①چونکه دا زوال ته نزدے ده.ځکه ورته ،،دنیا ،، وائی.

② اوبعضو وئیلی دی.چه ،،دنیا ،، ورته ځکه وائی.چه دا دآخرت په نسبت نزدے ده.(۴)

③دبعضے حضراتو رائے دا ده.چه دا د ((دناءة)) نه ماخوذ ده.ددے معنی خست او رذالت دے.چونکه دا د آخرت په نسبت خسیسه او ذلیله ده.ځکه ورته ،،دنیا ،، وائی.(۵)

د دنیا تعریف : د دنیا په تعریف کښې دوه اقوال دی.

① ((ما على الأرض من الهواء والجو)) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.دا تعریف غوره دے.خو په دے کښې د ((قبل قيام الساعة)) قید لګولو ضرورت دے.

② دویم قول دے.((كل المخلوقات من الجواهر والأعراض الموجودة قبل الدار الآخرة)) علامه عینی رحمه الله د علامه نووی رحمه الله نه ددے دویم قول ترجیح نقل کړے ده.(۶)

قوله: أَوِامْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا:

امرأة مستقل ولې ذکر شوه؟ : دلته کښې په ،،دنیا ،، کښې ښځه داخله وه.ددے باوجود ئے مستقلاً ښځه ولے ذکر کړه؟

جوابونه: د دے څو جوابونه ورکړے شوی دی.

① امام نووی رحمه الله فرمائی.چه ،،دنیا ،،نکره ده.اوتحت الاثبات ده.او په نکره تحت النفی

(۱) مسنداحمد (۲/۲۰۹) مسند عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما)_

(۲) سنن أبی داود کتاب الجهاد باب فی سکنی الشام رقم ۱۴۸۲)_

(۳) صحیح بخاری کتاب الإیمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده رقم،۱۰)_

(۴) فتح الباری (۱/۱۶)_

(۵) امدادالباری (۲/۴۲۵)_

(۶) اوګورئ فتح الباری (۱/۱۶) وعمدة القاری (۱/۲۴)_

کښې عموم وی.په دے صورت کښې د((امرأة)) په،،دنیا،، کښې دخول یقیني وو.اوس چونکه نکره تحت الاثبات ده.نود ((امرأة)) د،،دنیا،، په مفهوم کښې دخول متیقن نه وو. ځکه ئے دا ذکر کړله.(۱)

خود امام نووی رحمه الله په دے جواب باندے اعتراض شوے دے.چه لکه څنګه په نکره تحت النفی کښې د عموم مفهوم وی.نو دغه په نکره في سیاق الشرط کښې هم عموم وی.او دلته هم داسې ده.نو عموم راغلو.او په دے کښې،،ښځه،، هم داخله ده.(۲)

② دا د قبیلې د ذکرالخاص بعدالعام دے.او دا زیادت د اهتمام دپاره وی.(۳)

③ ابن بطال رحمه الله د ابن سراج رحمه الله نه نقل کړی دی. چه د ښځې تخصیص ذکر ځکه راغلو. چه عربیانو به د اسلام نه وړاندے د غلام سره دعربی ښځې نکاح نه کوله.او دکفاءت اعتبار به ئے کولو.کله چه اسلام راغلو.نو دا ئے باطل کړلو.نو مدینې منورے ته ډیرو غلامانو په دے نیت باندے هجرت اوکړلو.چه دلته به دعربی ښځې سره نکاح اوکړی.(۴)

④حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه دلته خو اول ددے خبرے دثبوت ضرورت دے. چه هجرت کونکے سړے غلام وو.اوهغه ښځه عربیه وه.بیا دا چه څه وئیلی شوی دی.چه عربیانو به د موالیو سره د عربی ښځو نکاح نه کوله.دا هم نه ده منلې شوے.ځکه چه د اسلام نه وړاندے د موالیو سره د نکاح ډیر واقعات ثابت دی.بیا دا هم مطلقاً نشی منلے. چه اسلام مطلقاً کفاءت باطل اوګرځولو.(۵)((وسیأتي البحث عنه في موضعه إن شاء الله تعالی))

⑤ مهاجرینو رضی الله عنهم کله مدینې منورے ته تشریف راوړلو. نوانصارو د ایثارے مثاله مظاهره اوکړله.اود همدردئ انتها ئے اوکړله. دخپلو مهاجرینو رونړو دپاره دخپلو زمکو او مالونو تقسیم ته غاړه کیخودله.بعضو په کښې خپلو مهاجرینو رونړو ته تر دے پورے اووئیل.چه زما په نکاح کښې دوه بیبیانے دی.په هغوی کښې زه یوه ستا دپاره پریږدم.چه کومه غواړے.نوخوښه ئے کړه.نودا خطره پیدا شوه.چه د انصارو د دے قربانو او ښه اخلاقو په باره کښې څوک واوری.اوڅوک دا سوچ اونکړی.چه زه غریب او تنګ حاله یم.هجرت به اوکړم.او مدینې منورے ته به لاړ شم.هلته به راته مال هم ملاؤ شی.او ښځه هم.نو نبی صلی الله علیه وسلم ((سداًللباب))او د تنبیه دپاره دواړه څیزونه ذکر کړل.(۶)

(۱) فتح الباری (۱۷/۱)_
(۲) پورتنئ حواله)_
(۳) اوګورئ شرح نووی علی صحیح مسلم (۱٤۱/۲) کتاب الإمارة باب قوله ﷺ إنما الأعمال بالنیة وفتح الباری (۱۷/۱)
(٤) فتح الباری (۱۷/۱)_
(۵) پورتنئ حواله)_
(۶) فضل الباری (۱٤۹/۱) وامداد الباری (۲/۲۲۵، ۲۲۶)_

[١]كِتَابُ الإِيمَانِ

دایمان ابواب

د كتاب الإيمان د تقديم وجه: دعملونو او عبادتونو قبوليت او صحت په ايمان باندې موقوف دې. كه هغه اعمال او عباداتود قبيل څخه وی يا دمعاشرت معاملات واخلاقياتو دَ قبيل څخه وی. اوكه ددې تعلق شخصي عملونو سره وی يا اجتماعي عملونو سره وی. كه ددې تعلق احوالو دَ غم سره وی اوكه خوشحالۍ سره وی. دټولو دقبوليت دارومدار په ايمان باندې دې. په دې وجه ئې كتاب الايمان په ټولوعملونو باندې مقدم كړو.

دحديثِ جبريل د اول ذكركولو دوه وجوهات: ① دحديث جبرئيل دتقديم وجه او ددې مناسبت دَ حديث [انماالاعمال بالنيات] سره څه وو نو ددې متعلق علامه طيبي رحمه الله، قاضي عياض رحمه الله، ملا علي قاری رحمه الله او شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله ليكلی دی چې داحديث جبرئيل چونكه په هر قسم عبادات ظاهره وباطنه باندې مشتمل دې. عقائد قلبيه طرفته لفظ د ايمان سره اشاره ده. او دَ اعضاء ظاهريه متعلق امورو طرفته په لفظ دَ الاسلام سره اشاره ده، اودَ اخلاص وسرائر طرفته په لفظ دَ الاحسان سره اشاره كړې شوې ده.

غرض دا چې دا حديث په شريعت وطريقت او حقيقت باندې په اجمالی توګه مشتمل دې او سنن نبويه او آداب شرعيه باندې په توګه دَ اختصار حاوی او محيط دې، هم په دې وجه دا حديث په ام السنة په نوم سره يادېږی. لكه څنګه چې سورة فاتحه دپورا قران كريم په مضامينو باندې مشتمله ده. نو دې ته ام القرآن وئيلې كيږی. اوس ربط او ترتيب داشان جوړ شو چې حديث [انماالاعمال بالنيات] بمنزله بسم الله دې او حديث جبرئيل دَ جامعيت او دَ ام السنة كيدو په وجه بمنزله سورة فاتحة دې.

② علامه طيبي رحمه الله ليكلی دی چې امام بغوی خپل كتاب مصابيح لره دې داواړه حديثونو څخه شروع كړو چې فی الجمله دقرآن كريم اتباع وی. بيا حديث جبرئيل پوره دين دپاره بمنزل خلاصه او نچوړ دې چې په ديرويشت كاله كښې كوم شريعت د آسمان څخه نازل شوې وو دهغې خلاصه او اجمال حديث جبرئيل كښې دې. هم دا وجه ده چې قرآن پاك كښې تصريح ده چې جبرائيل عليه السلام نبی كريم صلي الله عليه وسلم څخه په آخری عمر كښې دا سوالات كړی وو. فتح الملهم كښې دی چې ممكن دی چې د اسوال وجواب

د حجة الوداع څخه ورستوی شوی وی.

د کتاب، باب او د فصل تعریف:

① الكتاب هو طائفة من المسائل اعتبرت مستقلة اشتملت أنواعاً أولم تشتمل.

② الباب نوع من المسائل اشتمل عليها الكتاب وليست بفصل.

③ الفصل طائفة من المسائل تغيرت أحكامها بالنسبة الى ما قبلها غير مترجم بالكتاب والباب.

کتاب بمعنی متکوب و مجموع دې، څکه چې الکتاب والکتبیه جمع او د مجموعې په معنی کښې دې. نو د کتاب الایمان ترجمه به دا شان وی:

«هذا المجموع ومكتوب في الأحاديث الواردة في الإيمان»

مناسب معلومیږی.چه دایمان د مباحثو شروع کولو نه وړاندے د اسلامی ډلو مختصر تعارف اوکړے شی.

داسلامی ډلو تعریف: اسلامی فرقے هغے ته وائی.چه داسلام دعوی کوی.اوخپل ځان اسلام طرف ته منسوب کوی.که ګمراه وی اوکه په صحیح لاره وی. معتزله، خوارج، مرجیه، جهمیه، وغیره ټولے علی سبیل التشکیک،،فرق ضاله،، دی.صحیح اسلامی فرقه،اهل السنة والجماعة،، ده. کوم چه د«ما أنا عليه وأصحابي» مصداق دے[1]

د اهل سنت والجماعة دوه ډلې: بیاپه اهل سنت والجماعة کښے څلورډلے په صحیح اسلام باندے دی.

① **محدثین:** دا حضرات په عقائدو کښے د امام احمد رحمه الله متبعین دی.

② **متکلمین:** دا دوه ډلے دی.

(الف) أشاعره: دا خلق عام طور د امام مالك اوامام شافعی رحمهماالله نه د منقولو عقائدو تشریح اوترویج کوی.

(ب) ماتریدیه: دا حضرات د امام اعظم رحمه الله اود دوی نه دمنقولو عقائدو تائید اوتفصیل کوی.په اشاعره او ماتریدیه کښے لږ غوندے اختلاف دے.ابوالحسن اشعری رحمه الله د اولنئ اود ابومنصور ماتریدی رحمه الله د دویمے ډلے امام دے.دا دواړه د امام طحاوی رحمه الله هم عصر دی.[2]

په لغت کښې د ایمان د استعمال څلور طریقې:

د ایمان استعمال په څلورو طریقوسره کیږی.

---

[1] هذا جزء من حديث أخرجه الترمذي في جامعه عن عبدالله بن عمروبن العاص رضى الله عنهما فى كتاب الإيمان باب ماجآء في إفتراق هذه الأمة رقم.(۲٦٤١)_

[2] فضل الباري(۲۳۵/۱)_

① دا متعدی بنفسه وی.که یو مفعول طرف ته متعدی وی.اوکه مفعولینو ته وی.بل مفعول ته په واسطه د حرف جر سره لاړ شی.اوکه بغیر د واسطه دحرف نه.
② ایمان په معنی د ،،تصدیق،،شی.او د باء په صلهٔ سره راغلی وی.
③ دا د انقیاد معنی لره متضمن شی.اود په صلهٔ د لام سره استعمال شوے وی.
④ دا د اعتماد معنی لره متضمن وی.په دے صورت کښے به ددے صله،،علی،، راځی. او دا ډیره کمه ده.والله اعلم

دایمان په شرعی تعریف کښې مختلف اقوال: د ایمان اصطلاحی تعریفات دالفاظو اختلاف سره شپږ دی. اګر چې مفهوم او مرجع د ټولو یوه ده. بیا هم څه فوائد په تعدد دَ تعریفاتو کښې شته. په دې وجه څه شپږ تعریفات مکمل نقل کوم. اګر چې،یو هم کافی دې خو انشاء الله نقل کولو کښې به برکت وی.

① علامه سید محمود بغدادی رحمه الله دایمان تعریف داشان کړې دې:
[الإيمان هوالتصديق بما علم مجئ النبی صلى الله عليه وسلم به ضرورة وتفصيلا فيما علم تفصيلا وإجمالا فيما علم إجمالا] (روح المعاني: جلد ١: ص: ١١٠)
یعنی ایمان دَ هغه څیزنوم دې چه سړې دَ هغه څیزونو تصدیق اوکړی دَ کومې ثبوت چه دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په یقینی توګه باندې متحقق وی. کوم څیزونه چه په تفصیل سره ثابت اومعلوم وی دَ هغې په تفصیلی توګه باندې اقرار اوتصدیق او کړی اوکوم څیزونه چه په اجمالی توګه ثابت وی دَهغې اجمالی اقرار اوکړی. مثلاً دَمانځه حکم، دَ هغې دَ رکعتونوحکم په تفصیل سره قوی او ضروری دې. اودَ قبر دَ عذاب دَ تفصیلاتو ذکر دَعلم اخبار آحاد نه ثابت دې اوضروری نه دې. دَ تصدیق نه مراد انقیاد باطنی دې صرف زبانی نه دې. هم په دې وجه دَ هرقل اسلام معتبرنه شو. بل دَ تصدیق نه منطقی تصدیق مراد نه دې.

د ضرورة د قید مفهوم: نه مراد دادې چه هرخاص اوعام ته معلومه وی یا دَدې ثبوت یقینی وی اودَ دین دَ ضروریاتونه وی.

② امام غزالی رحمه الله [فیصلة التفرقة بین الإیمان والزندقة] کښې دَ ایمان تعریف داسې کړې دې: [التصديق بجميع ما جاء به النبی صلى الله عليه وسلم والكفر تكذيب النبی صلى الله عليه وسلم فی شئ مما جاء به]
(په دې تعریف کښې یوه فائده دا اوشوه چه دَ ایمان په مقابله کښې دَ کفر تعریف هم په دې کښې راغلو او دویمه فائده دا اوشوه چه دَ ایمان دَپاره ضروری دی چه سړې دې پوره اسلام اومنی. لیکن دَ کافر جوړیدو دَپاره دَ پوره اسلام نه انکار کول ضروری نه دی

بلکه دَ هر یو ضروری حکم دَ انکار سره سړې دَ اسلام نه وتلو سره کافر کیدې شی.
④ شاه عبدالعزیز رحمه الله دَ ایمان تعریف داسې کړې دې: ,,دَ کتاب الله ظاهراً او باطنًا اقرار کول اودَ هغې معانې دَ قرآن او حدیث موافق استعمالول،،
④ علامه شاه انورشاه کشمیری رحمه الله داسې تعریف کړې دې: [تصديق النبي بما جاء به النبي بالاعتماد على النبي].
دَدې تعریف نه دا فائده حاصله شوه چه کوم خلق دَ عقل په زور او په عقلی دلائلو دَ نبی کریم ﷺ تصدیق کوی هغه مسلمان کیدې نه شی. ځکه چه هلته اعتماد علی النبی نشته بلکه اعتماد په خپل عقل او دلیل باندې دې.
⑤ شیخ عبدالقادر جیلانی، مرزا مظهرجان جانان او قاضی ثناء الله پانی پتی رحمهم الله تعالی دَ ایمان په تعریف کښې فرمائی: [دَ ایمان یو ظاهری صورت دادې اودادَدې حقیقت او باطنی صورت دې. ظاهری صورت خودادې چه تصدیق بالجنان عمل بالارکان اقرار باللسان وی، اودَ ایمان حقیقت دا چه مقتضاء طبع دَ مقتضاء شرع تابع شی]
⑥ امام محمد رحمه الله دَ ایمان تعریف داسې کړې دې:
[تصديق النبي بما جاء به مع التبري عن جميع ما سواه]
په دې تعریف کښې یوه ډیره ښه فائده داده چه په دې کښې بغیردَ اسلام نه دَ کفریه ټولو قوانینونه ویزاری هم دَ ایمان حصه ګرځولې شوې ده.

دایمان پنځه قسمونه:

دَ ایمان دَ دې تعریفاتونه پس دَ ایمان یوڅو اقسام هم اوګورئې:
① **ایمانِ مطبوع:** دا دَ فرښتو ایمان دې لکه چه دا مهرشوې ایمان دې. په دې کښې هیڅ فرق نه شی راتلې او په کښې بدلون راتلې شی.
② **ایمانِ معصوم:** (یعنی محفوظ ایمان) دا دَ انبیاء کرامو علیهم السلام ایمان دې.
③ **ایمانِ مقبول:** دا دَ عامو مؤمنانو ایمان دې.
④ **ایمانِ موقوف:** دا دَ اهل زیغ، بطلان او اهل بدعت ایمان دې کوم چه موقوف دې ځکه چه کیدې شی دَ بدعت نه توبه اوکړی اودَ ایمان طرف ته واپس راؤګرځی.
⑤ **ایمانِ مردود:** دادَ منافقانو ایمان دې کوم چه نامقبول او مردود دې.

دَ کفر حقیقت اودَ هغې قسمونه

کفرپه لغت کښې: کفر دَ ایمان مقابل اوضد دې په دې وجه دَ دې وضاحت هم ضروری دې.
,,وبضدها تتبين الاشياء] کفردَ لغوی معنې په اعتبارسره ستر اودَ پټولو په معنی کې دې.

دكفرپه شرعی تعریف کښې اقوال: ① په شریعت کښې دَ کفر تعریف او حقیقت امام غزالی رحمه الله دَ ایمان په تعریف کښې بیان کړې دې ,,والکفرتکذیب النبی فی شئ مما جاء به]
② یومختصر تعریف دکافرانوداهم دې ,,الذین ستروا الحق عنادا] یعنی چا چه دَ عناد دَ وجې حق پټ کړو.
یوه ضروری خبره: دا خبره اول لیکلې شوې ده چه دَ اسلام راوړلودَپاره ضروری دی چه دَ پوره اسلام ټول احکاماتو سرې اقرار او تصدیق اوکړی لیکن دَ کافر کیدودَپاره صرف هم دومره کافی دی چه دَ دین دَ ضروریاتو نه دَ یو حکم انکار اوکړی شی. په دې سره دَعامو خلقو دَدې نظریې تردید کیږی چه دا ګنړی چه دَ یو حکم دوو دَ انکار سره هیڅ هم نه کیږی مونږ خو کلمه هم وایو او مونځ هم کوو. کافر خو به هغه وی چه دَ شریعت دَ هر یو حکم نه انکار کوی اودَ اسلام نه اوتختی.

د کفر قسمونه:

① **کفرِ انکار:** کوم سړې چه دَ زړه او ژبې په سختئی سره دَ اسلام نه انکار کوی داکفرِ انکار دې هم په دې باندې عام کافران دی.
② **کفرِ جحود:** دا دې چه په زړه سره دین اسلام رښتونې ګنړی دَ دې دَ حقانیت قائل دې لیکن په ژبه سره اقرار نه کوی بلکه انکارکوی. یعنی ښه ورته معلومه ده خو منی نه لکه کفر ابلیس، کفر یهود وغیره ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾(سورة النمل)
③ **کفرِ عناد ومعانده:** دادې چه اسلام په زړه سره هم رښتونې منی او په ژبه سره هم اقرار کوی لیکن دَ دین حق نه علاوه دَ باطل ادیان نه ویزاره کیږی نه اودَ دین حق تابعداری نه کوی لکه دَ هرقل کفر اودَ ابوطالب کفر په دې دواړو کښې انقیاد ظاهری نه وو.
④ **کفرِ نفاق:** دادې چه په زړه کښې تکذیب اوانکاردې صرف دَ مصلحت او دنیاوی اغراضو دَ وجې نه په ژبه باندې اقرار کوی لکه عبدالله بن ابی ابن سلول اودَ هغه ډله که هرڅوك وی. دَ نفاق دَ دې شعبې لاندې نور هم ډیرزیات اهل باطل، زندیق، روافض، آغاخانی، قادیانی، بهائی، پرویزی او یو قسم کمیونسټ هم داخل دی چه دَ ضرورت په وخت کله خو وائی مونځ هم کوی خو بل طرف ته دَ دین دَ ضروریاتو نه یو امر ضروری نه انکارهم کوی. دَ دوی مختلف درجات دی بعضې په نفاق کښې دی او بعضې په واضحه کفرکښې پریوتلی دی.

دایمان په حقیقت کښې مشهور مذهبونه

د شرعی ایمان دوه جهتونه:

① جهت دنیوی کوم سره چې د ځان او مال حفاظت په هغه وخت کښې کیږی کله چې یو

كس په ژبې سره ددې اقرار اوكړي.

② جهت اخروى هغه دې چې د مرګ نه پس عذاب او خلود في النار څخه حفاظت كيږي. جهت دنيوى دپاره اتفاقا صرف اقرار لسانى كافى دې. او جهت اخروى دپاره ټول اووۀ مذهبونه دى. دوه مذهبونه داهل حق دى او پنځه مذهبونه د اهل باطل دى.

دايمان په تعريف كښې مذاهب:

اول مذهب: اهل باطل كښې اول مذهب د معتزلۀ دې. ددوئ په نزد د ايمان تعريف دادې ,,الايمان هوالتصديق بالجنان والإقرار باللسان والعمل بالأركان]

يعنى زړه سره تصديق كول، ژبه سره اقرار كول او اعمال اسلام او اركان اسلام باندې عمل كول،

يعنى معتزلۀ چې كوم تعريف كړې دې دا دهغوئ د عقيدې موافق دې ځكه چې ددوئ په نزد مرتكب كبيره اسلام څخه خارج دې. ليكن په كفركښې داخل نه دى. دغه شان دَهغوى په نيز په دوزخ كښې هم دَ دوو درجو په مينځ كښې يوه درجه ده په كوم كښې چه به نه خالص كافران وى اونه خالص مسلمانان بلكه هم دغه به دَ كبيره مرتكب وى.

دويم مذهب: دويم مذهب د خوارجودې.د خوارجو په نزد د ايمان حقيقت دادې چې:,,الإيمان هو التصديق بالجنان والإقرار باللسان والعمل بالأركان ويخرج بالكبيرة من الاسلام ويدخل فى الكفر فهوكافر]

د دواړو مذهبونو د بطلان دلائل: ① صحابه كرام تابعينو او سلف صالحين او ټول اهل اسلام په دې متفق دى چې د كوم كس په زړه كښې د مثقال برابر او د اورى د دانې برابر ايمان وى نو هغه به مخلدفى النار نه وى. (يعنى هميشه به دوزخ كښې نه وى).

② په دې هم اتفاق دې چې د نبى كريم ﷺ شفاعت اهل كبائر دپاره دې. ,,شفاعتى لأهل الكبائر] حديث پاك كښې دى چې ,,يخرج من النار من كان فى قلبه مثقال ذرة من إيمان]

③ په قرآن پاك كښې دى چې : [وَإِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَأَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا] دلته دواړه جنګيدونكو ته مسلمان اووئيلې شو.

③ په سورة فاطركښې دى. [يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوْا عَلٰى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ إِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ؕ] دغه شان د توبې ويستلو نور آيتونه هم دى.

④ او دحضرت ابو ذر غفارى ﷛ وغيره احاديث ,,وان زنى وان سرق] په دې باندې دال دى چې مرتكب د كبيرې ناقص مؤمن دې. خو مخلد في النار نه دې بلكه د سزا تيرولو نه

پس به دوزخ نه راووځي.
نو دا د معتزلؤ او خوارجو د بدعاتو او واهياتو څخه دی چې معتزله د مسلم څخه د مسلمان نوم واخستو او خوارجو مسلمان د مؤمن خوږ لفظ څخه محروم کړو. او کافرئې ترې جوړل کړل.

دریم مذهب: دجهميو په نيز دايمان تعريف دا دې. ,,الايمـان هو معرفة القلب فقط] يعنى صرف قلبى معرفت كافى دې، د اقرار لسانى او عمل اركانى هيڅ حاجت اوضرورت نشته دې.

د دریم مذهب د بطلان دلائل: دا باطل مذهب د جهميه دې. دا د جهم بن صفوان د جماعت خلق دی. دا مذهب بالكل باطل دې.

① داهل كتابو باره كښې قرآن پاك اعلان كوى چې: [يَعْرِفُونَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ] نو آيا دا خلق مسلمانان شو؟

② هرقل ته معرفت قلبى حاصل وو حالانكه هغه په كفرياندې مړ شوې دې.

③ دغه شان د ابوطالب حال تاسو اولوستو نو آيا هغه دحصولِ معرفت سره مسلمان شو؟

د يهوديانو متعلق قرآن اعلان كوى چې:[فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ] كه صرف معرفت قلبى دَ ايمان دپاره كافى وو نو هغوئ ته قرآن پاك ولې كافر اووئيل، او آيا دا مسلمانان دی؟

څلورم مذهب: اهل باطل ډلوكښې څلورم مذهب د مرجئو دې هغوئ وائى چې:
,,الايمـان هو التصديق فقط ولاتضر مع الايمـان معصية كمـا لاتنفع مع الكفر طـاعة]
يعنى ايمان صرف دتصديق نوم دې، تعريف هم دومره دې، اوس دوئ وړاندې ددې تعريف په رڼړا كښې وائى چې ايمان سره كه څه معصيت او نافرمانى وى نو دا دې ته نقصان نه وركوى. لكه څنګه چې كفر سره يو طاعت فائده نه وركوى.

دڅلورم مذهب د بطلان دلائل: دا مذهب هم باطل دې ځكه چې د دخولِ جنت وعده عمل صالح څخه بغير قرآن كريم كښې چرته هم نه ده راغلې. بلكه تصديق قلبى آمنوا سره د امنوا وعملوا الصالحات لفظ هم هر ځائې كښې راغلې دې. او د نبى كريم ﷺ ژوند او د صحابه كرامو ژوند ددې مذهب نفى كوى. ځكه چې ددې حضراتو باره كښې دا هډو امكان نه وو چې دوئ به مونځ وغيره ترك كړې وى. معلومه شوه چې د دخولِ جنت دپاره د اعمال صالحه كيدل ضرورى دى.

پنځم مذهب: اهل باطل ډلوكښې څلورم مذهب د كراميؤ دې. ددوئ په نزد د ايمان تعريف دادې: ,,الايمـان إقرار باللسان فقط،،

د پنځم مذهب د بطلان دلائل: دا تعریف هم غلط دې اودا مذهب هم باطل دې. ځکه چې قرآن کریم منافقان بدترین کافر ګرځولی دی. حالانکه هغوئ په اقرار لسانی کښې کمی نه وه کړې. ① [وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ۝]
② [اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ۝]
که صرف لسانی اقرار کافی وې نو الله تعالی به کله هم دوئ ته کافر نه وئیل.
دا خلق د محمد بن کرام پیروکار دی. ځینې علماء کرامو وئیلی دی چې دا خلق د [اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ قَالُوْا بَلٰى ۛ] اقرار ایمان دپاره کافی ګڼړی.
شپږم مذهب: د اهل باطل د پنځو مذهبونو ځخه وروستو دوه مذهبونه د اهل حق دی، نو مسلسل د شمیر په لحاظ شپږم مذهب اهل حق کښې د احنافو او دَ جمهور متکلمینو دَ ابومنصور ماتریدی او دَ ابوالحسن اشعری وغیرهم دې، دوی د ایمان تعریف داسې کوی. ,,الإيمان هوالتصديق بالجنان فقط] وراندې ددې تعریف او نتیجه اوثمره ده چې: ,,والعمل بالأركان والإقرار باللسان شرطان لاشطر للإيمان]
دَ ایمان دپاره دوه شرطونه دی خو ایمان دپاره شطر یا جزء یا رکن نه دی. ددې مذهب مطابق ایمان تصدیق قلبی امر بسیط ته وائی.
اووم مذهب: اهل حق کښې د جمهورمحدثینو اودَ شوافعو او دَ مالکیؤ په نزد د ایمان تعریف داشان دې: ,,الإيمان هوالتصديق بالجنان والإقرار باللسان والعمل بالأركان]
ددوئ په نزد دریو څیزونو څخه ایمان مرکب دې بسیط نه دې.
دَاهل حق دا دواړه جماعتونه داهل سنت والجماعة څخه دی. ددوئ خپلو کښې اختلاف حقیقی نه دې. بلکه لفظی اوظاهری دې. لکه ځنګه چې دې پسې فصل کښې راروان دی.
بهر حال د اهل حق په مینځ کښې دومره اختلاف خو یقینی دې چې احناف او جمهور متکلمین ایمان ته بسیط وائی، او شوافع او جمهور محدثین ایمان د دریو څیزونونه مرکب ګڼړی. امام بخاری رحمه الله د ایمان په مرکب کیدو ډیر دلائل جمع کړی دی.
یوه اهمه تنبیه: دلته یوه اهمه خبره باندې پوهیدل ضروری دی او هغه دا چې حضرات شوافعو اوجمهور محدثینود ایمان کوم تعریف کړې دې، دا بعینه هم هغه تعریف دې کوم چې معتزلؤ اوخوارجو کړې دې. خو دا صرف لفظی مشابهت دې ګڼی په حقیقت کښې ډیر فرق دې. ځکه چې معتزله او خوارج ایمان دَ اجزاء ثلاثه څخه مرکب منی چې ددې یو جز پریښودو سره ایمان ختمیږی. او ددوئ په نزد تارك اعمال مخلد فی النار دې. داشان احنافو او متکلمینو چې د ایمان کوم تعریف کړې دې هغه بعینه هم هغه

تعریف دي کوم چې مرجئو کړې دې خو د لته هم صرف لفظی مشابهت دې ګنی حقیقت کښې ډیر فرق دې. ځکه چې احناف او متکلمین د اعمالو ضرورت منی او تارك اعمال لره فاسق ګنړی، او د مرجئه په نزد د عملونو هیڅ حیثیت نشته دې،

بهرحال د تعریف د اشتراك په وجه محدثینو اوشوافعو لره معتزلؤسره یوشان ګنړل به داسې ظلم وی لکه څنګه چه تعریف د ایمان دَ اشتراك لفظی په وجه احنافو لره مرجئه پشان ګنړل ظلم عظیم دې.

امام ابوحنیفه رحمه الله ته یوغلط نسبت: بیاامام صاحب طرفته د ارجاء نسبت کول لویه غلطی ده او ډیره لویه ګستاخی ده. د ایمان په تعریف کښې اشتراك لفظی لره بنیاد جوړول او دومره جسارت کول دا لویه بې انصافی ده. که معتزلؤ او خوارجو سره دایمان په تعریف کښې اشتراك لفظی حضرات شوافع او محدثینو لره معتزله او خوراج نه جوړوی نو احناف ولې مرجئه جوړولې شی؟

دایمان په بساطت اوترکیب کښې دوه مذاهب:

① د جمهور محدثینو او شوافعو او حنابلو او مالکیو ایمان لره د دریو څیزونو څخه مرکب کړې دې،

② احناف چې د ایمان کوم تعریف کړې دې هغه دادې چې ایمان تصدیق د قلب ته وائی. ددې څخه دا نتیجه اخذ کیږی چې ایمان بسیط دې او احناف ایمان لره بسیط منی، په دې باندې ددوئ په نزد چې کوم دلائل دی هغه لاندې ذکر کیږی:

داول فریق دلائل: ① [لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلٰئِكَةِ وَالْكِتٰبِ]

دې آیت مبارك کښې ډیر ابواب البر لره ایمان سره پیوسته کړې شوی دی چه دهغې څخه د ایمان د ترکیب پته لګی.

② [الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ - أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ - شُعْبَةً، فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ]

دې حدیث پاك کښې هم دَ ډیرو شعبو ذکر کړې شوې دې او ددې څخه د ایمان د ترکیب مدعا ثابتیږی.

③ [بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَن لا اله الا الله، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ......الخ]

دې حدیث پاك ایمان لره دَ پنځو ارکانو نه مرکب خودلې دې. معلومه شوه چې مرکب دې بسیط نه دې ځکه چې احادیث مبارکؤ کښې نیك اعمال داشان ایمان سره تړلې شوی دی چې ګویا ټول هم دَ یو څیز یعنی دایمان څو اجزاء دی او ایمان ددې څخه مرکب دې. امام

بخاری رحمہ اللہ په صحیح بخاری کښې کتاب الایمان کښې داسې قسمه ډیر آیاتونو او احادیثو څخه باربار استدلال کړېدې.

د دویم فریق دلائل: قرآن پاك کښې ځائې په ځائې ایمان باندې د عمل صالح عطف راغلې دې. او عطف تغایر غواړی نو ایمان بیل څیز دې او اعمال بیل څیز دې.

① [اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ کَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا] (الکهف: ۱۰۷)

[اُولٰٓئِکَ کَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ] (المجادلة: ۲۲)

[وَلَمَّا یَدْخُلِ الْاِیْمَانُ فِیْ قُلُوْبِکُمْ] (الحجرات: ۱۴)

[قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ قُلُوْبُهُمْ] (المائدة: ۴۱)

[وَلٰکِنْ لِّیَطْمَئِنَّ قَلْبِیْ] (البقرة: ۲۶۰)

[وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّ بِالْاِیْمَانِ] (النحل: ۱۰۶)

دې ټولو آیتونو کښې زړه لره د ایمان محل ګرځولې شوې دې. او دایمان نسبت زړه ته کړې شوې دې. زړه کښې دننه خو صرف عقیدهٔ جازمه راتلې شی او هغه امر بسیط دې، هلته دترکیب امکان نشته.

② [مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَکَرٍ اَوْ اُنْثٰی وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْیِیَنَّهٗ حَیٰوةً طَیِّبَةً] (النحل: ۹۷)

دې آیت مبارك کښې دعمل د قبولیت دپاره ایمان شرط کړې شوې دې نو ایمان شرط دې او عمل مشروط دې، او شرط او مشروط کښې مغایرت ضروری دې نو ایمان د شرط په درجه کې بیل څیز دې او عمل د مشروط په درجه کې بیل څیز د ې. نو ایمان بسیط شو.

③ دایمان ضد کفر دې. او د کفر محل قلب دې نو د ایمان محل به هم قلب وی. ,,وبضدها تتبین الاشیاء] هرکله چې محل قلب شو نو ایمان بسیط شو.

④ د حضرت اسامه بن زید رضی اللہ عنہ مشهوره واقعه ده چې یوکس کلمه اووئیله او حضرت اسامه هغه اوژلو، او بیا یې اوفرمائیل چې ده د ځان بچ کولودپاره کلمه وئیلې وه ګنی په زړه کښې ئې ایمان نه وو. نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې ,,فهلا شققت من قلبه] معلومه شوه چې دایمان محل زړه دې نو دا بسیط دې.

⑤ حدیث جبرئیل کښې د ماالایمان؟ په جواب کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې: ,,أن تؤمن بالله وملائکته الخ] او دا تصدیق د قلب دې. څکه چې ایمان راوړه په الله باندې او دهغه په فرښتو باندې او کتابونو باندې اورسولانو باندې، داټول تصدیق قلبی دې.

⑥ کله چې به نبی کریم ﷺ چا ته فرمائیل چې آمنوا نو هغه بهٔ دا ګڼړله چې د امنوا څخه مراد دزړه څخه منل دی تصدیق قلبی به ئې په ذهن کښې راتلو. معلومه شوه چې تصدیق

قلبی ایمان نه وائی. او زړه کښې دننه چې څه دی هغه به بسیط وی، مرکب نشی کیدې.

دایمان په زیادت او نقصان کښې مذاهب:

① حضرات محدثین او شوافع او معتزله او خوارج د ایمان د زیاتوالی قائل دی.

② دَ ائمه احنافو او دَ متکلمینو په دې په ایمان کښې کمې زیاتې نه کیږی.

داختلاف نوعیت: امام رازی رحمه الله فرمائی چې دا اختلاف اصل کښې هم دې ماسبق اختلاف باندې متفرع دې کوم کښې چې دې حضراتو دایمان په مرکب او بسیط کیدو کښې اختلاف کړې دې. نو کوم خلق چې ایمان لره بسیط ګڼړی دهغوئ په نزد امر بسیط کښې زیاتوالی او نقصان نه وی. ځکه چې بسیط حقیقی ,,الذي ما لا جزء له أصلا] ته وائی. او بسیط عرفی د ,,ما لا یرکب من الأجسام المختلفة] نوم دې. نو په دې کښې دزیاتوالی او نقصان امکان نشته دې. او کوم خلق چې ایمان لره مرکب من الاجزاء الثلاثة منی هغوئ د زیاتوالی او نقصان قائل دی. لهذا دا اختلاف هم د اولنی اختلاف پشان لفظی دې، اختلاف حقیقی نه دې.

داول فریق دلائل: محدثینو او شوافع حضراتو د ایمان په زیاتوالی او نقصان باندې د قرآن عظیم الشان دَ ډیرو آیتونو او حدیثونو نه استدلال کړی دی کوم کښې چې د زیادت لفظ راغلې دې. امام بخاری رحمه الله خپل کتاب صحیح بخاری کښې دا قسمه دلائل په شروع د کتاب الایمان کښې ډیر زیات راوړی دی، د هغې څخه یو څو اوګورئ:

① [لِيَزْدَادُوٓا۟ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ] (فتح: ۴)

② [وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ] (انفال: ۲)

③ [وَيَزْدَادَ الَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِيمَٰنًا وَلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا۟ الْكِتَٰبَ] (مدثر: ۳)

④ [فَأَمَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَزَادَتْهُمْ إِيمَٰنًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ] (بقره: ۱۲۴)

⑤ [الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا۟ لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَٰنًا وَقَالُوا۟ حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ] (آل عمران: ۱۷۳)

⑥ [إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ ءَامَنُوا۟ بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَٰهُمْ هُدًى] (کهف: ۱۷۳)

⑦ [قال ابن عمر رضي الله عنه تعلمنا الإيمان ثم تعلمنا القرآن فازددنا إيمانا]

⑧ [وقال ابن مسعود رضي الله عنه: اللهم زدنا إيمانا ويقينا وفقها]

داول فریق د دلائلو شپږ جوابونه: ① شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چې کومو نصوصو کښې د ایمان د زیادت او نقصان ذکر دې دهغې څخه مراد دَ ایمان په حلاوت کښې زیاتوالی دې. نفس ایمان کښې زیاتوالی مراد نه دې. دا دوه جدا جدا څیزونه دی. یعنی اجزء

تحسينيه،تزيينه،تخييليه] كښې زياتوالی مراددې.

④ يو ايمان اجمالی دې. او يو ايمان تفصيلی دې، ايمان اجمالی زياتوالی او نقصان نه قبلوی او ايمان تفصيلی زياتوالی او نقصان قبلوی، امام ابوحنيفه رحمه الله ديو سائل په جواب کښې فرمائی:,,الإيمان المجمل لايزيد ولا ينقص وأما المفصل فهو يزيد،،

③ دا زياتوالې او نقصان د مؤمن به په وجه دی چې دوحی په ذريعه څومرهٔ مؤمن به زياتيږی په دې باندې ايمان هم زياتيږی. دوه آيتونو باندې ايمان راوړو څخه وروستو په لسو آيتونو باندې ايمان نور هم زياتيږی او د مؤمن به په وجه ايمان زياتيږی.

④ د وحی د نزول په زمانه کښې خو يزيد وينقص کيدې شو ليکن د وحی دَ بنديدو نه وروستو اوس خو لايزيد ولا ينقص دې.

⑤ مشهور قول د امام مالك رحمه الله او يو بل قول د امام ابوحنيفه رحمه الله دې چې ,,الايمان يزيد ولاينقص] يعنی نصوص آيتونو او احاديثو څخه د ايمان د زياتوالی پته لګی خو د نقص او نقصان پته نه لګی. لهذا نقصان نشته دې.

⑥ د زياتوالی او کموالې د ايمان دنور په وجه دې. د اصل ايمان په اعتبار سره نه دې، ګويا اجزاء نورانيه کښې نقص او انبساط ځی راځی.

دايمان او اسلام په نسبت کښې مذاهب:

نوټ: دلته کښې اګرچې په شروحاتو کښې د مذاهبو ذکر نشته صرف د درې قسمه دلائلو ذکردې خومونږ چونکه په دې کښې د تحقيق دپاره د مذاهبو عنوان ورکوو.ددې وجې دلته کښې مو هم د ((دايمان او اسلام په نسبت کښې مذاهب))عنوان ورکړو.چې په رجوع کولو کښې آسانی وی.

په ايمان او اسلام کښې فرق: په نصوصو کښې ددے استعمال علی سبيل الترادف،علی سبيل التباين اوعلی سبيل التداخل درے قسمه راغلے دے.

په ايمان او اسلام کښې د ترادف دلائل: ① الله تعالی فرمائی.﴿ فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝ فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ۝﴾(۱)

② الله تعالی په دويم ځائے کښے فرمائی﴿وَقَالَ مُوسَىٰ يَا قَوْمِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ۝﴾(۲)

(۱) سورة الذاريات:۳۵،۳۶_
(۲) سورة يونس:۸٤_

اونبی ﷺ فرمانیلی دی.((بنی الإسلام علی خمس: شهادة أن لا إله إلا الله..الخ)) (۱) بیا تقریباً هم دا څیزونه د وفد عبدالقیس په حدیث کښې (۲) دایمان په تفسیر کښې ذکر شوی دی.

د ایمان اواسلام په مینځ کښې د تباین دلائل: ① په قرآن کریم کښې دی. ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ (۳)

② په حدیث جبریل ؑ کښې دایمان تفسیر په عقائد معینه معلومه سره شوے دے.اود اسلام تفسیر په اعمال معینه سره.(۴)

③ حضرت انس ؓ په حدیث کښې دی.((الإسلام علانیة والإیمان فی القلب))(۵)

د ایمان او اسلام په مینځ کښې د تداخل دلائل: ① د نبی ﷺ نه چه کله تپوس اوشو.چه ((أی العمل أفضل)) نونبی ﷺ اوفرمائیل. ((إیمان بالله و رسوله)) (۶)

② دحضرت عمروبن عبسه ؓ په روایت کښې دی.((فأی الإسلام أفضل؟ قال الإیمان))(۷)

په نصوصو کښې تطبیق: په اصل کښې خبره دا ده.چه د ایمان اواسلام جدا جداحقیقت شرعیه دے.لکه څنګه چه ددے جدا جدا حقیقت لغویه دے.ایمان خو نوم دے د مخصوص اعتقاد ،اواسلام نوم دے داحکام شرعیه د ادا کولو،خود هر یو دبل سره دتکمیل تعلق دے.لکه څنګه چه یومعتقد کامل نشی کیدے.ترڅوچه اعمال اونکړی.دغه شان مسلمان مطیع کامل نشی کیدے.ترڅوچه ئے د زړه نه اعتقاد نه وی.اوس که دا دواړه کلمات په یوځائے راغلی وی.اوپه مقام د سوال کښې وی.نوددے حقیقت به متباین وی.په حدیث جبریل کښې هم دا صورت دے.اوکه یوځائے نه وی وارد شوے.یا په مقام د سوال کښې نه وی. نوبیا په دے صورت کښې کیدے شی.چه په یوبل کښې داخل شی.(۸)

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الإیمان باب أعاءکم إیمانکم رقم ۸ وکتاب التفسیر،باب (؟) رقم (۴۵۱۴) وصحیح مسلم کتاب الإیمان باب بیان أرکان الإسلام ودعائمه العظام رقم (۱۲۰، ۱۲۳)_

(۲) صحیح بخاری کتاب الإیمان باب أداء الخمس من الإیمان رقم(۵۳) وصحیح مسلم کتاب الإیمان باب الأمر بالإیمان بالله تعالی وشرائع الدین..رقم (۱۲۴)_

(۳) سورة الحجرات: ۱۴)_

(۴) صحیح مسلم فاتحة کتاب الإیمان رقم(۱۰۲)_

(۵) مسند أحمد (۱۳۵/۳) مسند سیدنا أنس بن مالک ؓ)_

(۶) صحیح بخاری (۸/۱) کتاب الإیمان باب من قال إن الإیمان هوالعمل رقم،۲۶) وکتاب الحج باب فضل حج المبرور،رقم (۱۵۱۹)_

(۷) رواه الطبرانی وأحمد أنظرمجمع الزوائد(۵۹/۱) کتاب الإیمان باب أی العمل أفضل وأی الدین أحب إلی الله)

(۸) فتح الباری(۱۱۵/۱) کتاب الإیمان باب سؤال جبریل ؑ النبی ﷺ عن الإیمان والإسلام والإحسان وعلم الساعة وبیان النبی ﷺ له)_

حافظ ابن رجب حنبلی رحمه الله فرمائی.چه کله ایمان اواسلام دواړه جدا جدا ذکرکړے شي.نوپه دے دواړوکښے څه فرق نه وي.اوچه کله دواړه یوځائے ذکرکړے شي.نوبیا به فرق وي.هغوی فرمائی.((فالإیمان والإسلام کإسم الفقیر والمسکین إذا إجتمعا إفترقا،وإذا إفترقا إجتمعا)) یعنی ایمان او اسلام داړه د فقیر او مسکین په شان دوه نومونه دی کله چه جدا جدا ذکر شی نو معنی ئې هم جدا وی نو ددې حقائق متباین وی اوکله چه یو ځائ ذکرشی نو معنی ئې هم یوه وی نویوپه بل کښې داخل وی.(۱)

په ایمان کښې د استثناء په بحث کښې مذاهب:

دلته یوه مسئله د استثناء في الایمان ده.یعنی یوسړے به دځپل ځان په باره کښے ((أنا مؤمن)) مطلقاً وائی.اوکه د ((إن شاء الله)) قید به ورسره لګوی.اودا به وائی.چه ((أنا مؤمن إن شاء الله))

① یوه ډله وائی.چه استثناء کول پکار دی.دا د ائمه ثلاثه،حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت علقمه،حضرت ابراهیم نخعی،سفیان ثوری،سفیان بن عیینه،اویحیی بن سعید قطان رحمهم الله مذهب دے.

② یوه بله ډله وائی.چه استثناء کول جائز نه دی.د احنافوددوی اکثرومتکلمینو رحمهم الله هم دا قول دے.هم دا مذهب مختار اوداهل تحقیق دے.

③ امام اوزاعی رحمه الله فرمائی.چه استثناء اوعدم استثناء دواړه صورتونه جائز دی. استثناء خوددے وجے جائز ده.چه د راروان وخت څه پته نه لګی.چه په ایمان به ثابت قدم پاتے شی که نه؟ اوعدم استثناء ددے وجے چه في الحال ایمان موجود دے.اوپه ده باندے حالاً د ایمان احکام جاری دی.

داول فریق دلیل: کوم حضرات چه دا وائی.چه ((أنا مؤمن إن شاءالله)) وئیل پکار دی.دا حضرات فرمائی.چه اصلی ایمان خوهغه دے.کوم چه د مرګ په وخت کښے وی.اودهغے څه نښه نشته.ځکه چه دانجام چاته علم نه وی.نوځکه سړی ته بطور تبرک (نه د شک په طور) ((إن شاءالله)) وئیل پکار دی.قال الله تعالی: ﴿وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا﴾(۲)

د دویم فریق دلیل: کوم حضرات چه دا وائی.چه ((إن شاء الله)) وئیل نه دی پکار.هغوی فرمائی.چه دا کلام دتعلیق دپاره استعمالیږی.اوس که یو کس دا اووائی.نوبل ته دهغه په ایمان کښے شک پیدا کیدے شی.هم داسے کیدے شی.چه په وئیلو وئیلو نفس ددے کلمے

(۱) فتح الملهم (۴۲۸/۱، ۴۲۹) البحث الأول فی موجب اللغة)_

(۲) سورة الکهف:۲۳)_

د وجې د شك اوشبه عادي جوړ شي.

د ابن تيمية رحمه الله تحقيق: علامه ابن تیمیه رحمه الله رائې ده.چه «أنا مؤمن إن شاءالله» وئيل پكار دي.خوددې تعليق وجه دا ده.چه ايمان د سلفو رحمهم الله په نيز يوډير وسيع څيز دې.چه په هغې كښې د زړه عقيده،د ژبې اقرار، اواعمال اركان ټول داخل دي.اوس كه يو كس «أنا مؤمن» مطقاً وائي.نوددې دا معنى ده. چه هغه وائي.زه كامل مومن يم.اومؤمن كامل جنتي وي.په نوروالفاظو كښې داسې اووايه.چه هغه خپل خان ته جنتي وائي.اوڅوك دخپل خان په باره كښې دا ذمه واري نشي وركولې.چه ده د ايمان ټول اعمال ادا كړي دي.په كومو باندې چه جنت مرتب كيږي.هم دا وجه ده.چه يوكس حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته راغلو.اووئې وئيل.«إني مؤمن» نوحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ورته د انكار په طورسره اوفرمائيل.بياخوداسې وايه.چه «إني في الجنة» بيا ئې ورته ددې نه هدايت اوكړلو. چه داسې وئيل پكاردي.«لكنا آمنا بالله وملائكته وكتبه ورسله»(۱)

تنبيه: داخبره دې ياده وي.چه په سلفو كښې ددې مسئله په وجه ډيره فتنه پاتې شوې وه. يوې ډلې دحد نه زياته غلو كړې ده.او«إن شاء الله» ويونكو ته ئې ،،مستثنيه شكيه،، پته نه لګي.چه څه څه وئيلي دي.

په دې مقام كښې علامه زبيدي رحمه الله صاحب د «إتحاف السادة المتقين» په هغې غلاة احنافو باندې انكار كړې دې.اوفرمائيلې ئې دي.چه حقيقت دا دې.چه په دې مسئله كښې ژبه بندول پكار دي.اوچه ضرورت پيدا شي.نوپه اعتدال سره خبره كول پكار دي.دامام اعظم رحمه الله نه اګرچه د «أنا مؤمن إن شاءالله» باندې انكار منقول دې.خودهغوى نه داسې تشديدي كلمات كوم چه د متاخرينونه صادر شوي دي. منقول نه دي.هسې هم د سوچ خبره ده.كه د استثناء كونكو تكفير اوتضليل اوكړې شي. نوحضرت عبدالله بن مسعود، علقمه،ابراهيم نخعي، رحمهم الله په باره كښې به څه وئيلي شي. كوم چه د احنافو رحمهم الله د مذهب ستنې دي.اوپه چا باندې چه د احنافو رحمهم الله د مستدلاتو انتها كيږي.(۲)

فائده: د ايمان محل: دشوافعو په نيز د ايمان محل قلب دې ځكه چې نصوصو كښې د ايمان نسبت قلب طرفته شوې دې لكه [وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالْإِيمَانِ] ، امام ابوحنيفه رحمه الله طرفته

---

(۱) رواه الطبراني في الكبيرورجاله ثقات..كذا في مجمع الزوائد (۱/۵۵) كتاب الإيمان باب في الإسلام والإيمان)

(۲) دمكمل بحث دپاره اوګورئ فتح الملهم (۱/۴۵۷، ۴۵۹) حكم الإستثناء في قول الرجل أنا مؤمن إن شاء الله)

منسوب دی چې محل د ایمان دماغ دی. صاحب هدایه اشاره کړې ده چې محل د ایمان قلب دې نو د دماغو خبره او امام صاحب ته ددې نسبت کول صحیح نه دی. خو قلبی رڼرا دپاره دماغ پشان د بلب دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۲] حديث جبرائيل (عليه السلام)

۲-(۱)[۱] «[۱] عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ يَوْمٍ، [۲] إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ، [۳] شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعْرِ، لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ، وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ، [۴] حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ، وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ، [۵] وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ. [۶] قَالَ: "الْإِسْلَامُ: أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، [۷] وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا" [۸] قَالَ: صَدَقْتَ. فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ، وَيُصَدِّقُهُ! [۹] قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ. [۱۰] قَالَ: (أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ)، [۱۱] قَالَ: صَدَقْتَ.

ترجمه: [۱] د حضرت عمر بن الخطاب (رضي الله عنه) بیان دي چې یوه ورځ مونږ (صحابه) د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په مجلس کې ناست وو [۲] چې ناګاه یو سړي زمونږ په مینځ کې راغې دهغه جامې ډیرې صفا او په سپینو کپړو باندې مشتمل وو [۳] او وریښتیان یې تک تور او ځلیدونکي وه په هغه سړي د سفر څه علامت نه وو (چې هغه یو ځایي څخه په سفر راغلي دي او اجنبي وګڼل شي) او نه په مونږ کې چا هغه پیژندي (د دي دا مطلب وو چې هغه ځايي سړي یا د چا میلمه هم نه وو) [۴] بهر حال هغه سړي نبي کریم (صلى الله عليه وسلم) ته دومره نزدي کیناستل چې د حضور (صلى الله عليه وسلم) د ځنګنونو سره یې خپل ځنګنونه ولګول او بیا هغه خپل دواړه لاسونه په خپلو ورنو کیښودل (ځنګه چې یو نیك بخته شاګرد د جلیل القدر استاذ په مخکې په ادب سره ناست وي او د استاد خبري اوریدو د پاره پوره متوجه وي) [۵] د دي څخه وروسته هغه عرض وکړواي محمد (صلى الله عليه وسلم) ما د اسلام د حقیقت څخه خبر کړه، [۶] رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وفرمایل اسلام دادي چې ته د دې خبري اعتراف وکړي او ګواهي ورکړي چې د الله (جل جلاله) څخه ماسوا بل معبود نشته او محمد (صلى الله عليه وسلم) د الله (جل جلاله) رسول دي [۷] او بیا ته په پابندئ سره مونځ کوي (که صاحب د نصاب یي نو) زکوٰة ورکوي درمضان روژي نیسي، که د لاري توښه درسره وي نو د بیت الله شریفي حج کوي [۸] هغه سړي دا اوریدلو سره اوویل تا رښتیا وویل، حضرت عمر (رضي الله عنه) وایي چې په دي باندې

---

[۱]) اخرجه مسلم كتاب الايمان /باب معرفة الإيمان، والإسلام، والقدر وعلامة الساعة (رقم-۱) وابوداود كتاب السنة/باب في القدر (رقم-۴۶۹۵) وابن ما جه باب في الإيمان (رقم-۶۳) واحمد في مسنده ۵۱/۱.

مونږ، ته تعجب وشو چې دا سړي (د يو بې علمه سړي په شان مخکې خو) د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کوي بيا د هغه ﷺ د جواب تصديق هم کوي لکه چې د دې خبرو هغه ته دمخکې څخه علم وي ⑨ بيا هغه سړي اوويل اې محمد ﷺ اوس د ايمان حقيقت ماته بيان کړه ⑩ حضور ﷺ ورته وفرمايل ايمان دادې چې ته الله ﷻ او دهغه فرښتې او دهغه کتابونه او د هغه رسولان او د قيامت ورځ په زړه سره ومنې او په دې خبره يقين وکړې چې خير او شر څه چې پيښيږي هغه ټول دتقدير مطابق دي ⑪ د دې اوريدو سره هغه سړي اوويل تا ﷺ رښتيا وفرمايل.

حل اللغات: ① طَلَعَ: بِمَعْنَى الظُّهُورِ: دظهورپه معنى کښې دې يعنى راښکاره شو. ② سَوَادِ الشَّعْرِ: تک تور ويښته ئې وو، ③ فَأَسْنَدَ: د باب افعال نه دې، اوئې لګولې، جختې ئې کړې، ④ الْإِسْلَامِ: اسلام په لغت کښې مطلق انقياد او تسليم کيدو ته وائی. اوپه شريعت کښې ظاهرى انقياد ته وائى په شرط ددې چه باطنى انقياد ورسره هم وى چه هغې ته ايمان وائى. ⑤ الْبَيْتَ: أَيِ الْحَرَامَ: د بيت نه مراد بيت الله يعنى مسجد حرام دې. ⑥ بِالْقَدَرِ: مَا قَدَّرَهُ اللّٰهُ، وَقَضَاهُ: دقدر نه مراد دالله تقدير او فيصله ده.

① قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ. ② قَالَ: " أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ ③ قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ قَالَ: "مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ " ④ قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا. ⑤ قَالَ: "أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا، وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ، يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ. ⑥ قَالَ: ثُمَّ انْطَلَقَ، فَلَبِثْتُ مَلِيًّا، ⑦ ثُمَّ قَالَ لِي: " يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟ قُلْتُ: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. ⑧ قَالَ: " فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

① بيايې اوويل ښه اوس ماته دا وښايې چې احسان څه شي دې؟ ② ده ﷺ ورته وفرمايل احسان دادې چې ته دالله ﷻ عبادت داسې کوې لکه چې ته هغه وينې او که داسې ممکن نه وي (يعني دومره د زړه حضور ميسر نه وي) نو بيا (دا په خيال کې ساته چې هغه تا وينې) ③ بيا هغه سړي عرض وکړو د قيامت په باره کې ماته اووائې چې کله به راځي؟ ده ﷺ وفرمايل په دې باره کې جواب ورکونکې د سوال کونکې څخه زيات نه پوهيږي (يعني د قيامت علم چې کله به راځي زما علم ستا د علم څخه زيات نه دې څومره چې ته پوهيږې هغومره ماته معلوم دي) ④ د دې څخه وروسته هغه سړي اوويل اوس ماته دقيامت څه نښانې وښايه! ⑤ ده ﷺ ورته وفرمايل مينځه به خپل آقا يا مالك وزيږوي او ښکاره پښې او ښکاره بدن والا بې وسه او فقير او بزې (چيلۍ) څرونکې به ته په ښايستو کورونو او عماراتو کې د فخر او غرور ژوند تيرونکې وويني. ⑥ حضرت عمر ﷺ وايې چې د دې څخه وروسته هغه سړي لاړلو او ما سمدستې د هغه په باره کې د حضور ﷺ څخه معلومات ونه کړ بلکه څه قدر توقف مې وکړو ⑦ بيا ده ﷺ خپله زما

څخه پوښتنه وکړه اي عمره پو هیږي چې هغه پوښتني کونکي سړي څوك وو؟ ما عرض وکړو الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږي ⑧ده ﷺ وفرمایل دا جبرائیل (علیه السلام) وو چې په دي طریقه تاسو خلقو ته د دین ښودلو د پاره راغلي وو (مسلم) دا روایت ابوهریره رضي الله عنه هم د ځینو الفاظو د اختلاف او فرق سره بیان کړي دي د هغه د روایت آخري الفاظ داسې دي (حضور ﷺ د قیامت دنښو په باره کې جواب ورکولو سره وفرمایل چې) هر کله چې ته خپې آبله پښي ښکاره بدن او کانړه ګونګیان خلق په زمکه حکمراني کونکي ووینې (نو پوه شه چې قیامت نزدي دي) او قیامت خو د هغه پنځو ځیزونو څخه یو دي چې دغه علم د الله تعالى جل جلاله څخه علاوه بل چاته نشته، بیا حضور ﷺ دا آیت وفرمایلي: اِنَّ اللهَ عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ تر آخره پورې، چې د هغه ترجمه دا ده: الله تعالى جل جلاله ته د قیامت علم دي او د باران چې کله به کیږي او هغه (د حاملي ښځي) د خیټي په ځیزونو پوهیږي (چي هلك دي یا جینۍ) او یو چاته نه ده معلومه چې صبا به هغه څه کوي او یو چاته نه ده معلومه چې په کومه زمکه کې به دهغه مرګ راځي بیشکه الله جل جلاله پو هیږي او خبرداره دي. (بخاري ومسلم)

حل اللغات: ⑦أَمَارَاتِهَا: د أَمَارَةٍ جمع ده، علامت او نښې ته وائی. ⑧تَلِدَ: اوبه زیګوی، پیدا به کړي. ⑨الْأَمَةُ: وینزه، ⑩رَبَّتَهَا: أي مَالِكَهَا وَمَوْلَاهَا: خپل مالک، خپل مولی. ⑪الْحُفَاةَ: دا جمع د حَافِي ده. وَهُوَمَنْ لَانَعْلَ لَهٗ: هغه چاته وائی چه پیزار ئې نه وی یعنی خپې آبله. ⑫الْعُرَاةَ: دا جمع د عَارِي ده، هغه چاته وائی چه د بدن څه حصه ئې بربنډه وی یعنی کپړې ئې نه وی. ⑬الْعَالَةَ: جمع د عَائِل ده، د عال یعیل نه دې فقیر او محتاج ته وائی، ⑭رِعَاءَ: د رَاعٍ جمع ده. شپونکی ته وائی څوک چه ګډې، بزې څروی. ⑮الشَّاءِ: جمع د شَاة ده، اسم جنس دې ګډو، بزو ټولو ته وائی. ⑯يَتَطَاوَلُونَ: أَيْ: يَتَفَاضَلُونَ فِي ارْتِفَاعِهٖ وَكَثْرَتِهٖ: ددې نه مراد یا حقیقی اوږدوالې دې یا ددې نه مراد زیادت دې یعنی اوچت اوچت کورونه به جوړوی یا دا چه ډیر کورونه به جوړوی، ⑰انْطَلَقَ: أي ذَهَبَ: لاړلو، ⑱مَلِيًّا: أَيْ: زَمَانًا: لږ وخت،

تسهیلات:

قوله: إِذْطَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ:

د عالمانو د اقوالو په رڼرا کښې دحدیث جبریل عظمت: ① دا یو جامع حدیث پاك دې او د شریعت مطهره په ټولو شعبو باندې محیط دې. چونکه ددې بنیادی خبرو سوالونه حضرت جبرائیل علیه السلام د نبی کریم ﷺ څخه کړي وو، په دې وجه دې حدیث پاك ته حدیث جبرئیل وئیلې کیږی. هرکله چې سوال کوؤنکې جبرئیل وی او جواب ورکوؤنکې خاتم النبیین ﷺ وی نو بیا ددې حدیث بنیادی مضامین خپل تر خپله واضح کیږی.

② قاضی عیاض مالکی رحمه الله بیان کوی چې دا حدیث په ټولو ظاهری او باطنی عباداتو او په داسې احکامو باندې مشتمل دې کوم چې ایمان، اعمال، جوارح او اخلاص سرائر سره متعلق دی. تردې چې د شریعت ټول علوم دې طرفته راجع دی. او ټول ددې څخه راؤځی.

③ ددې جامعیت په وجه علامه قرطبی رحمه الله فرمائیلی دی چې ,,یصلح أن یقال له أم السنة] یعنی څنګه چې سورة فاتحه ته ام القرآن وئیلې کیږی، دا حدیث پاك ټولو احادیثو دپاره ام السنة دې.

④ علامه طیبی رحمه الله فرمائی چې همدا وجه ده چې امام بغوی رحمه الله د خپل کتاب مصابیح او شرح السنة ابتداء هم ددې حدیث مبارك څخه کړې ده. دې حدیث سره متعلق تیرشوی مباحثو کښې څو خبرې لیکلې شوی دی، هلته د کتلو وړ دی.

قوله: بَيْنَمَا: دا لفظ مفرد دې، او ظرفیت دپاره راځی. او جمله اسمیه او فعلیه دواړو طرفته مضاف کیږې. اذ او بینما دواړه ظرف مکان بمعنی مفاجاة راځی. او هم دا دمفاجاة معنی ددې ظرف عامل جوړیږی. د حدیث معنی دا شوه.

,,وقت حضورنا فی مجلس النبی صلی الله علیه وسلم فاجأنا طلوع هذا الرجل]

ترجمه کښې د بینما ترجمه داشان کیږی، دې دوران کښې یا ددې په مینځ کښې او هم په دې دوران کښې.

د جبریل دراتلو زمانه: د حضرت جبرئیل علیه السلام د انسان په شکل دا راتلل کله شوی وو؟

① په دې سلسله کښې د ابن منده په روایت کښې دی. ((أن رجلاً فی آخر عمر النبی جاء إلی رسول الله ﷺ......))(١) ددې روایت نه معلومه شوه. چه د نبی کریم ﷺ دا راتلل د نبی کریم ﷺ په آخری عمر کښې شوی وو.

② د امام ابوحاتم ابن حبان بُستی رحمه الله رائې داده. چه دا قصه د حجة الوداع نه وړاندې راپیښه شوې وه. (٢) هم دا د علامه توربشتی رحمه الله رائې هم ده. (٣)

③ او د حافظ ابن حجر رحمه الله رجحان دې طرف ته دې. چه دا واقعه د حجة الوداع نه پس راپیښه شوې ده. ځکه چه هم دا ((آخر عمر النبی ﷺ)) دې. حضرت جبرئیل علیه السلام په آخر عمر

---

١) فتح الباری (١١٩/١) وعمدة القاری (٢٩٢/١، ٢٩٣)

٢) هغوی دحضرت جبرئیل علیه السلام د راتلو ددې واقعه ذکرکولونه پس فرمائی. ((ثم إن النبی ﷺ أراد أن یحج حجة الوداع)) اوګورئ: الثقات لابن حبان (١٢٣/٢، ١٢٤)

٣) فقال هذه الأسئلة والأجوبة صدرت قبیل حجة الوداع فی السنة العاشرة من الهجرة، قریب انقطاع الوحی و إستقرار الشرع، أنظر شرح الطیبی (١١/١١)_

کښې ددې ټولو احکامو، مسائلو او د معتقداتو د خلاصې بیانولو دپاره تشریف راوړلې وو.چه دا په متفرق طور باندې دری ویشتو کالوکښې نازل کړې شوی وو.ګویا چه د حجة الوداع نه پس،چه نبی کریمﷺ درې میاشتې هم نه وو پاتې شوې.د شریعت د استقرار نه پس ددې خلاصه او نچوړ د حضرت جبرئیلؑ سوالونه او د نبی کریمﷺ جوابونه د صحابه کرامو﷡ په وړاندې راوستل مقصود وو.([1])

قوله: ذَاتَ يَوْمٍ:

د ذات یوم څخه مراد: لفظ ذات زیات کړې شوې دې. دا دَ دې وهم لرې کولو دپاره دی چې دلته مجازًا مطلق زمان مراد نه دې بلکه هم ورځ ترې مراد ده.

د ذات په لفظ کښې دوه احتمالات:

① د ذات لفظ دَ ذات د کلام دتحسین دپاره هم وئیلې کیږی.

② څینو دې لره مقحم یعنی زائد ګرځولې دې.

قوله: إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا:

د دخل په ځائې د طلع لفظ اختیارولووجوهات: ① د دخل په ځائې د طلع لفظ استعمال کړې شوې دې. ددې یوه وجه دا وه چې راتلونکې یو کس یکدم راغلې وو، او یکدم راتلو سره طلع زیات مناسب وو. ځکه چې طلوع الشئ یکدم کیږی.

② لفظ دَطلع ئی کمال ظهور،کمال عظمت او علومرتبت دپاره اختیار کړی دی لکه ,,طلع البدر علینا یاطلع الشمس] الفاظ د عظمت دپاره وئیلې کیږی.

③ جبرئیل امین او فرښتې نورانی مخلوق دی، ددې نور او رڼا دپاره د طلع لفظ زیات مناسب وو. رجل کښې تنوین دَ تعظیم دپاره دې. یعنی یو شان والا کس راښکاره شو، فرښته همیشه کله چې د چا شکل خپلوی نو د سړو په شکل کښې راځی. د ښځې په شکل کښې نه راځی.

قوله: رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ:

په اضافت کښې دوه ترکیبه: ① دلته اضافت لفظیه د تخفیف دپاره دی. او مضاف الیه کښې الف لام عوض دَ مضاف الیه دې. یعنی,,شدید بیاض ثوبه]

② شدید مضاف باندې تنوین دې.په دې صورت کښې بیاض ددې فاعل جوړدې. یعنی ,,شدید بیاض ثوبه]

قوله: وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ:

اشکال: حضرت عمر فاروق ﷛ څنګه اوفرمائیل چې په مونږ کښې چا هم هغه نه پیژندو.

---

[1] فتح الباری(۱۱۹/۱)_

ممکن ده چې په پورا ډله کښې چا پيژندلو؟
داشکال جواب: حضرت عمر فاروق ﷺ د خپل گمان مطابق ټولو طرفته دا نسبت اوکړو يا دا چې د حاضرينِ مجلس دَ قول او دَ تصريح مطابق ئې دا اوفرمائيل ځکه چې دا قول د ابن حجر عثمان بن غياث په روايت کښې شته.
قوله: وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ:
د،،فخذيه،،د ضميرپه مرجع کښې دوه احتمالات: ① دا ضمير پخپله،،رجل،،يعني جبرئيل ﷺ طرف ته راګرځي. امام نووي او علام توربشتي رحمهما الله راجح هم دا ګرځولې دې. چه دا ضمير پخپله حضرت جبرئيل ﷺ طرف ته راګرځي.ځکه چه ددې نه وړاندې د،،کفيه،، ضمير هم حضرت جبرئيل ﷺ طرف ته راګرځي.او د ادب تقاضه هم دا ده.چه لاسونه پخپلو کنډو باندې کيخودې شي.داسې نه چه د نبي کريم ﷺ په کونډو باندې کيخودې شي. (۱)
② دا ضميرنبي کريم ﷺ طرف ته راوګرځولی شي.او د امام بغوي، اسماعيل تيمي، او علامه طيبي ﷺ وغيره رجحان دې هم دې طرف ته دې.چه دا ضمير نبي کريم ﷺ طرف ته راګرځي.ځکه چه د سليمان تيمي په روايت کښې تصريح ده.چه،،ثم وضع يده على ركبتي النبي ﷺ،، (۲)
اشکال: په ظاهره دا صورت د ادب خلاف معلوميږي؟
داشکال دوه جوابونه:①په دې روايت کښې د يو راوي تصرف اومنلې شي.او اووئيلې شي.چه د رکبتيه،، وئيلو په ځائې کوم يو راوي د خپلې پوهې مطابق ،،رکبتي النبي،، وئيلې وي.په دې صورت کښې به ضمير حضرت جبرئيل طرف ته ګرځول متعين وي.او د خلاف ادب کيدو اشکال به نه کيږي.
② اصل کښې طالب علم دپاره ضروري ده.چه هغه استاذ طرف ته پوره متوجه وي.او دا صورت په مکمل توجه باندې دلالت کوي.(۳)
③ هغه دا غوښتل.چه دده حال بالکل مستور (پرده کښې) پاتې شي.چاته هيڅ پته اونه لګي. خلق اوګنړي.چه څوك عامي او بانډيچي سړې دې.چه دې د ادابو نه بالکل ناخبره دې.په دې غرض سره دا سړې د خلقو په څټونو (او اوګو) باندې راواوختو.او د نبي کريم ﷺ مخې ته کيناستو. (۴)او په دې وجه دوی خپل لاسونه د نبي کريم ﷺ په کونډو باندې کيخودل اوصحابو توجه مکمل طور باندې خپل طرف ته راګرځولو دپاره دوی

---
(۱) فتح الباري(۱۱۶/۱) وعمدة القاري(۲۸۷/۱) وشرح الطيبي(۹۵/۱)
(۲) فتح الباري(۱۱۶/۱) وعمدة القاري(۲۸۷/۱) دغه شان اوګورئ: شرح طيبي(۹۵/۱)
(۳) فتح الباري(۱۱۶/۱)-
(۴) عمدة القاري(۲۸۷/۱)

داسې اوکړل. والله اعلم.

قوله: وَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ:

اشکال: قرآن کریم داپه دې طریقه مخاطب کولو نه منع کړې ده چې دَ نبی کریم ﷺ ارشاد دې [لَا تَجْعَلُوا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بعضيكُمْ بعضيا] ددې باوجود جبرئیل علیه السلام یا محمد نبی علیه السلام ته ولې اووئیل ؟ دارنګ قرآنی ممانعت سره سره په داسې خطاب کښې بې ادبی هم ده؟

داشکال درې جوابونه: ① ددې خطاب او ددې ممانعت مکلف او پابند انسانان دی فرښتې نه دی. دا یو ښه جواب دې. څکه چې په نورو ډیرو مقاماتو کښې هم جبرئیل علیه السلام نبی کریم ﷺ ته په دې نوم سره خطاب کړې دې.

② د محمد څخه وصفی معنی بمعنی ستوده صفات، حمیده خصال والا، مراد اخستې شوی دی. علمی معنی مراد نه ده.

③ جبرئیل امین خپل ځان پټولو، ددې دپاره داشان بلل ضروری وو. بهر حال هرکله چې شارحینو د حدیث په دې کښې د بې ادبۍ احتمال راویستې دې نو اوس یا محمد وئیل حرام دی.

قوله: أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ:

دامرد صیغې نوعیت: دلته امر د استدعاء په معنی دی، استعلاء او د حکم په معنی کښې نه دی. څکه چې انبیاء کرام د فرښتو څخه افضل دی.

قوله: أَنْ تَشْهَدَ:

دمذکوره جملې ترکیب: دلته أن مصدریه دې، کوم چې تشهد نه شهادة مصدر جوړ کړو. ,,أن لا إله إلا الله] کښې ,,ان مخففه من الثقیلة] دې. کوم چې د ,,انه] په معنی کښې دې.او ضمیر شان دې او ,,لااله الاالله] کلمه د توحید ده.

قوله: مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ:

ددې جملې څخه د نبوت او رسالت طرفته اشاره کړې شوې ده. او د شهاد مفهوم کښې د ,,مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللّٰهِ] مفهوم پخپله پروت دې، څکه چه که دا دواړه لازم او ملزوم دی نو کله دا ذکر کیږی او کله صرف د شهادت په لفظ باندې اکتفا کولې شی.

قوله: قَالَ: صَدَقْتَ. فَعَجِبْنَا لَهُ: یعنی په دې صحابه کرام حیران شو.

د تعجب دوه وجې: ① دا کس ځان څخه سائل جوړوی او د خپلې لاعلمۍ اظهار کوی او بیا دَ تصدیق نه پس خپل ځان عالم ظاهروی.

② دصحابه کرامو د تعجب بله وجه علامه قرطبی رحمه الله بیان فرمائیلې ده چې صحابه

كرامو ته معلومه وه چې د علم سرچشمه د نبی کریم ﷺ ذ ات مبارك دې، د نبی کریم ﷺ څخه د آؤریدو نه بغیر هیڅ یو کس ته دا علوم نه معلومیږي. دا سائل کله هم نبی کریم ﷺ سره ملاؤ شوې نه وو نو څنګه تصدیق کوی، ځکه چې تصدیق دپاره خو علم ضروری دې.

قوله: قَالَ: أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ:

دسوال نوعیت: دلته هم امر دَ استدعاء معنی کښې دې. نبی کریم ﷺ ته معلومه شوه چې سوال دَ مؤمن به او متعلقاتو دَ ایمان باره کښې دې، حقیقت ایمان او تعریف باره کښې نه دې. په دې وجه نبی کریم ﷺ په جواب کښې ددې امورو مؤمن به ذکر اوفرمائیلو، ګنی حقیقی ایمان خو تصدیق بالقلب دې.

اشکال: نبی کریم ﷺ د [قَالَ: أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ] په جواب کښې [أن تؤمن] اوفرمائیل. نو دا خو [تعريف الشئ بنفسه] شو؟

داشکال جواب: سوال کښې دایمان شرعی ذکر دې. او جواب کښې دایمان لغوی ذکر دې. نو حد او محدود جدا جدا دی. داشان ایمان چې کله په جواب کښې راغلو نو ددې په صله کښې باء راغله او ایمان ددې صلې په وجه د [تعترف] په معنی کښې شو. یعنی سائل تپوس اوکړو چې ایمان شرعی څه څیز دې؟ جواب اوشو چې د الله تعالی، دهغه درسول ﷺ او دَ ملائکو........ الخ اقرار کولو ته ایمان وائی.

قوله: وَمَلَائِكَتِهِ:

د ملَک لغوی معنی: دا په اصل کښې [مألكة من الألوكة] څخه بمعنی الرسالة دې، بیا په همزه باندې لام مقدم کړې شو نو [مَلَائِكَة] شو، بیا د همزې فتح لام ته ورکړې شوه، او همزه حذف کړې شو، نو ملك پاتې شو، او ددې جمع ملائکة دې،

د فرشتوسره متعلقه عقائد: د امام بیهقی دتصریح مطابق دفرښتو متعلق دا عقیده او ایمان لرل پکار دی:

① دا عقیده دې وی چې ددوئ وجود شته دې، دا دالله تعالی عظیم مخلوق دې.

② الله تعالی ورته عظیمه مرتبه ورکړې ده، دوئ ئې په عالم بالا او عالم سفلی کښې په لوې کارونو باندې لګولې دی.

③ دا عقیده دې وی چې [لَا يَعْصُونَ اللهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۝]

④ دا عقیده دې وی چې ځینې فرښتې د انبیاء علیهم السلام طرفته دالله تعالی طرف نه سفراء دی،

قوله: وَكُتُبِهِ:

د کتب څخه مراد: ددې څخه صحيفې او کتابونه مراد دی. په دې باندې ايمان دادې چې دا دالله تعالی کلام دې، قديم دې، مجرد از حروف وصوت دې.

دآسمانی کتابونوشمار:

① تورات عبرانی ژبه کښې په حضرت موسی ﷺ باندې نازل شوې دی.
② انجيل په سريانی ژبه کښې په حضرت عيسی ﷺ باندې نازل شوې دې.
③ زبور يونانی ژبه کښې په حضرت داؤد ﷺ باندې نازل شوې دې.
④ فرقان حميد عربی ژبه کښې په محمد ﷺ باندې نازل شوې.

دآسمانی صحيفوشمار:

① پنځوس صحيفې په حضرت شيث ﷺ باندې نازلې شوې وې.
② ديرش په حضرت ادريس ﷺ باندې نازلې شوې وې.
③ او لس په حضرت آدم ﷺ باندې نازلې شوې وې.
④ او لس په حضرت ابراهيم ﷺ باندې نازل شوې وې.

قوله: وَرُسُلِهِ:

په رسولانو دايمان راوړلو مطلب: په رسولانو باندې به اجمالا يا تفصيلا ايمان راوړل وی چې الله تعالی دخلقو د هدايت دپاره نبيان ليږلی دی، دا د خالق او مخلوق تر مينځه په پيغام رسولو باندې مامور وو. دوئ ته معجزې ورکړې شوې وې. دوئ د نبوت څخه وړاندې د کبائرو څخه پاك او معصوم وو. او قرآن پاك چې د کومو لغزشونو ذکر کړې دې مونږ نه دی پکار چې هغه دخپل بحث موضوع جوړه کړو. الله تعالی خالق دې، که هغه په معمولی لغزش باندې سخت زورنه ورکوی نو هغه کولې شی.

دپيغمبرانوشمار: انبياء کرام د يو معتمد روايت مطابق يو لاکهه څليريشت زره دی. په دې کښې درې سوه ديارلس رسولان دی، د نبيانو عليهم السلام په شمير کښې د کم وبيش کلمه ذکر کول پکار دی، چې په کلام کښې احتياط راشی.

قوله: الْيَوْمِ الْآخِرِ:

په يوم آخرت باندې دايمان راوړلو مطلب: ددې څخه مراد د قيامت ورځ ده. ځکه چې هغه ددنيا آخری ورځ ده. بل دا چه ددې ورځې څخه روستو به شپه هميشه هميشه دپاره ختمه شی. نو هغه آخری ورځ شوه، په آخرت باندې ايمان دادې چې يوه ورځ به دا عالم ختم شی، د انسان جسم به روح سره يو ځائې کړې شی او د محشر ميدان ته به د حساب دپاره راوستلې شی، بيا به جنت يا دوزخ کښې واچولې شی.

قوله: وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ:

په تقدیر باندې دایمان راوړو مطلب: دې جملې سره په هغه خلقو باندې رد اوشو کوم چې تقدیر نه مني یا ئې مني خو د شر خالق اهر من او د خیر خالق یزدان مني. لکه څنګه چې د مجوسیانو عقیده ده. د مؤمن عقیده دا پکار ده چې د خیر او شر مالك یو الله تعالی دې خِلق خو کمال دې، خو اکتساب دَ شر کوم چې انسان کوي، هغه عیب دې او عقیده به دالرې چې کوم تفصیلات خارج کښې راځي، دهغې یو اجمالي خاکه ده، ددې خاکې مطابق ټول تفصیلات ښکاره کیږي. ددې مسئلې تفصیل به باب الإیمان بالقدر کښې به ان شاء الله راشي.

قوله: فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ:

داحسان دوه معانی: ① بغیر صله چې کله د احسان لفظ راشي نو ددې مفهوم اخلاص وي. یعني د اخلاص په معنی کښې دې.

② او که صلې سره راشي نو بیا دا دَ نیکۍ او دَ انعام په معنی کښې راځي. [أحسن الیه أي أنعم علیه] لغت په توګه احسان د نیکۍ او ښیګړې په معنی کښې دې. او ددې اصطلاحي تعریف هم هغه دې کوم چې حدیث شریف کښې دې.

قوله: أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ،

په حدیث کښې معنی مراده: علامه ابن حجر رحمه الله فرمائي چې دلته د احسان ظاهري معنی مراد نه ده بلکه جمله اولی څخه مشاهدې د حق بیان مقصود دې د کوم مطلب چې دادې چې د عبادت په وخت په عابد باندې داسې کیفیت راتلل پکار دي. لکه چه واقعي دَ حق مشاهده کیږي او په عبادت کښې ذوق او شوق، عظمت او حیاء او د کامل درجې استغراقي کیفیت پکار دې. اګر چې په د نیا کښې في الحقیقت د ذات حق مشاهده هیڅوك نشي کولې.

فائده: په شریعت اوطریقت کښې فرق: حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله د شریعت او طریقت فرق داشان بیان کړې دې چې کله د علم د کشمکش اودَ دلائلو دور وي نو دا شریعت دې. او کله چې طمانینت راشي نو دا طریقت دې. یا داشان پوهه شي چې کله احکامو د اسلام باندې بتکلف روان وي نو دا شریعت دې او کله چې طبعیت جوړ شي نو دا طریقت دې. احسان هم ددې طریقت د درجې نوم دې.

قوله: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ:

په سوال کښې د مسؤل عنها تعین: دا سوال نفس وقوع د قیامت باره کښې نه دې ځکه چې وقوع دَ قیامت خو قطعي او یقیني ده بلکه دا سوال تعیین دَ وخت دپاره وو او یو روایت

كښې متى الساعة يعنى قيامت به كله راځى الفاظ راغلى دى كوم چې ددې خبرې تائيد كوى چې سوال د تعيين دَ وخت متعلق وو.

قوله: السَّاعَةِ:

د ساعة څخه مراد: د زمانې دهغه جزء غير معين نوم دې، كوم كښې چې څلېريشت اجزاء شپه ورځ كښې جوړيږى. دلته د ساعة اطلاق په قيامت باندې شوې دې.

د قيامت درې مراحل:

① قيامت كبرى هغه دې كله چې د عالم خپل ټول كائناتو سره ختمه شى.

② دَ قيامت وسطىٰ ده. دا هغه ده چه يوقرن ختم شى مثلاً دَ صحابه كرامو قرن يا دَ تابعينو قرن يا دَ تبع تابعينو.

③ قيامتِ صغرىٰ ده او هغه د هر كس ذاتى او شخصى مرګ دې. يعنى [من مات فقد قامت قيامته]

د قيامت د عقيدې اهميت: دقيامت عقيده د اسلام په عقائدو كښې په بنيادى عقيدو كښې ده، په كومو قومونو كښې چه دا عقيده نه وى نو هغه قومونه دهغه ګاډى پشان وى دكوم چې بريك فيل شوې وى. لكه د يهود او نصارى عقيدهٔ آخرت دخپلو مشرانو او بزرګانو متعلق د غلطو خيالاتو او نظرياتو په وجه خرابه شوه چې دې بزرګانو مونږ بخښلې يو. په دې باندې هغه خلق تباه شو. بيا د آغاخانيانو، روافضو او بيا د بريليانو عقائد دآخرت باره كښې دومره كمزورى شو لكه څومره چې دوئ د عملونو څخه لرې شو. ځكه چې دآخرت كښې دَ جواب وركولو عقيدې دنياوى ژوند كنټرول كړې دې.

قوله: مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ:

د مذكوره جملې مفهوم: د قيامت باره كښې چه دَ قيامته پورې د چا څخه سوال اوكړې شى هغه بهٔ دسائل څخه زيات پوهه نه وى. بلكه عدم علم كښې به دواړه برابر وى. بأعلم كښې باء تاكيد دَ نفى دپاره ده.

قوله: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ قَالَ: "مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ

په مذكوره الفاظو سره جواب وركولو كښې حكمت: نبى كريم ﷺ لا أدرى يا لا أعلم نه دى فرمائيلى بلكه يو طويله جمله ئې اختيار كړې ده، ددې وجه داده چې لا أعلم او لست أعلم، څخه زيات نه زيات د خپل ذات څخه دَ علم قيامت نفى كيږى ليكن ددې طويلې جملې څخه نبى يوه ضابطه جوړه كړې ده چې د قيامت باره كښې يو سائل كله هم سوال كوى نو عدم علم كښې به دواړه يعنى سائل او مسئول به دواړه برابر وى. د عدم علم مساوات صرف د قيامت باره كښې دى، باقى احكاماتو كښې نه دى.

قوله: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا:

دقیامت دوه قسمه علامات: ① علامت صغری، او علامات صغری تر ظهور مهدی پورې دی.
② علامات کبری. ظهور مهدی، خروج دجال، نزول عیسیٰ او خروج یاجوج ماجوج تر قیامته پورې واقع کیدونکې علامات کبری دی. په دې حدیث کښې دَ ظهورمهدی نه وړاندې واقع کیدونکی علامات صُغریٰ مراد دی.

قوله: أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا:

اشکال: دلته تړول شخه اول دا امر دتشریح وړ دې چې لفظ ربتها کښې تانیث ولې راوړلې شوې دې. حالانکه دلته لفظ د رب بمعنی آقا او مولی دې؟

داشکال جواب: تانیث ئې دې دپاره ذکر کړو چې رب العباد سره لفظی اشتراك هم رانشی. اګر چې خصوصی اضافت سره د رب اطلاق غیرالله باندې هم کیږی.

د مذکوره جملې په مفهوم کښې اقوال: ① د دې جملې مطلب دا دې چې نافرمانی به زیاته شی تر دې چې اولاد به مور پلار سره داسې رویه اختیار کړی لکه څنګه چې سردار خپلې وینځې سره کوی. هغه سردار دې ته کنځلې کوی، وهی یې، یا پرې خپل خدمت کوی. هم دا سلوك به اولاد کوی. د جینۍ ذکر ئې په دې وجه اوکړو ځکه دا اطاعت کوونکې وی. هرکله چې دَ پرده دارې جینۍ دا حال وی نو دهلکانو به څه حال وی. دا د زمانې انقلاب او انعکاس طرفته اشاره ده. غلام به آقا جوړ شی، تربیت حاصلوونکې به مربی جوړ شی. په دې صورت کښې د ربتها لفظ مجازا والدینو دپاره استعمال کړې شو.
② لور به د مور پلارباندې د نافرمانۍ په وجه داسې حکم کوی لکه څنګه چې یو سرداره په خپلې وینځې باندې کوی.
③ دې کښې اشاره ده چې قیامت ته نزدې به شرفاء او باعزت خلق ذلیله شی. او ذلیل خلق به د عزت مقام باندې راشی. لکه څنګه چې د مور مقام دعزت مقام دې، بیا لور به آقا جوړ شی نو معامله به الټه شی.
④ دې کښې د اسلامی فتوحاتو کثرت طرفته اشاره ده چې غلام او آقا به زیات شی، د وینځو به کثرت شی، نو خلق به د فسادِ احوال په وجه خپلې وینځې خرڅول شروع کړی. په دې اخستلو خرڅولو کښې به داسې هم اوشی چې څه مور به دَ خپل ځوئی په لاس کښې خرڅه شی. نو اوس ځوې آقا شو کوم چه دې وینځې مور زیږولې وو نو وینځې آقا اوزیږولو.
پنځم: دا چې دَ وینځو په اولاد کښې به بادشاهان پیدا شی. نو دا میاندې به ددې بادشاه ځوې په رعیت کښې راشی. نو وینځې نه آقا پیدا شو. حافظ ابن حجر رحمۃ اللہ علیہ، علامه خطابی

رحمة الله، ملا علی قاری رحمة الله علیه، علامه سندهي رحمة الله او مولانا ادریس کاندهلوی رحمة الله علیه ټولو دې پورتني توجیهاتو کښې یو نه یو توجیه کړې ده.

قوله: وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ:

د مذکوره جملې مطلب: په دې جمله کښې د حالاتوبدلون ته اشاره ده یعنی د مال او دولت زیاتوالې به راشي. غریبانان خلق به مالداران شي. نیچ او کم نسبه خلق به مشران شي. په اوچتوعهدو به نا اهله خلق مقررشي. په مختلفو احادیثوکښې ددې خبرو ذکر راغلط دې. نوحدیث ددې جملې مطلب دا شوچې په زمانه کښې به انقلاب اوبدلون راشي.

قوله: يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ:

د محلونو په اوچتولوکښې مقابله کول: دعالیشان عمارتونو او محلاتو په وجه به په یو بل باندې فخر او تکبر کوی. د چیلو شپونکی کوم چې ,,أعجز خلق الله وضعفهم] وی په هغوی کښې به انقلاب او تغیر راشي چې هغوی به تکبر شروع کړی. صرف اوښانو والا نه کوم چې طبعی طور متکبر وی بلکه چیلو والا به هم متکبره شی، کوم چې طبعی طور متواضع وی. په کورنوکښې یوبل سره مقابله کول په موجوده وخت کښې دچا څخه پټ پناه نه دې. چې چاته لږه غوندې پیسه هم راشي نوهغه د ټولوڅخه اول کار دا وی چې زمکه اخستلو اود کور په جوړلوکښې لګیا شی. اود کورونو په ښائست او زیب او زینت کښې څه کوتاهی نه کوی.

قوله: فَلَبِثْتُ مَلِيًّا:

ملاء ډکیدو ته وائی. او ملیا د اوږدې زمانې په معنی کښې دې.

اشکال: د ابو داود په روایت کښې د ملیا تعین موجود دې چې نبی کریم صلي الله علیه وسلم درې ورځې پس حضر ت عمر فاروق رضي الله عنه ته اوفرمائیل چې تا اوپیژندو چې دا څوك وو؟ بل طرفته دابوهریره رضي الله عنه روایت کښې دی چې په دې مجلس کښې نبی کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل چې دا جبرئیل علیه السلا م وو. تاسو ته ستاسو ددین خودلو دپاره راغلې وو. دواړو روایتونو کښې تعارض په نظر راځی؟

داشکال جواب: د سائل په تلاش کښې ډیر صحابه کرام د مجلس څخه پورته شو لاړل. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم لاړو. اوبیا خپل کور ته لاړو. او کله چې درې ورځې پس ئې نبی کریم صلي الله علیه وسلم سره ملاقات اوشو نو نبی کریم صلي الله علیه وسلم تپوس اوکړو چې آیا تا ته معلومه ده چې هغه سائل څوك وو؟ او د عمر رضي الله عنه دَ تللو نه پس نبی کریم صلي الله علیه وسلم مجلس ته حقیقت حال بیان کړو چې دا جبرئیل علیه السلام وو، لهذا په دې کښې هیڅ تعارض نشته دې.

قوله: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ:

په حدیث کښې د أعلم مفهوم: دَ أعلم مطلب دا نه دې چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه الله او رسول ته خواعلم وائی او خپل ځان ته عالم وائی. بلکه د اعلم لفظ داسم تفضیل په معنی کښې نه بلکه اصل د فعل په معنی کښې ر اغلې دې. لکه الصیف أحرمن الشتاء، دلته احر د نفس حرارت په معنی کښې راغلی دی. ددې مطلب دا نه دې چې د ګرمئ موسم د یخنئ موسم څخه زیات ګرم دې. حالانکه دَ ژړی موسم هډو ګرم نه وی. صحابه کرامو همیشه دَ دې ادب خیال ساتلې دې.

قوله: فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ:

د فاء کلمې نحوی حیثیت: أي إذا فوضتم العلم الی الله ورسوله فأنه جبرئیل: دې عبارت کښې د فا جزئیه راتلو وجه معلومه شوه، دالله تعالی علم کلی او اصلی دې. دالله تعالی خودنې سره رسول ته علم اوشی. نو د ادب تقاضا داده چې الله ورسوله اعلم اووائی. او صحابه کرامو همیشه د ادب خیال ساتلې دې.

قوله: يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ:

د دین څخه مراد: دلته دین اسلام، ایمان او احسان ټول امور نبی کریم صلي الله علیه وسلم پخپله بیان کړل. خو چونکه جبرئیل علیه السلام امین وو او ښه سوال نیم علم وی، په دې وجه مجازی توګه دَ هغه طرفته دَ یعلمکم نسبت اوکړې شو.

دبخاری زیادت: په صحیح بخاري کښې په دې روایت کښې د دې کلماتو اضافه ده.((فِي خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ ثُمَّ تَلَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ الْآيَةَ ثُمَّ أَدْبَرَ فَقَالَ رُدُّوهُ فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ هَذَا جِبْرِيلُ جَاءَ يُعَلِّمُ النَّاسَ دِينَهُمْ))

دبخاری په زیادت باندې اشکال: مغیبات صرف دا پنځه خو نه دی نه په دې کښې رابند دی بیا صرف هم دَدې ذکر ولې اوشو؟

تنبیه: دا د سائل په جواب کښې د یو څو مغیباتو ذکر دې، حصر مقصود نه دې.

اوس د یو مسلمان دا عقیده پکار ده چې د الله تعالی علم کلی دې کوم چې الله تعالی سره دې، هیڅ یو فرښتې یا نبی ته ئې علم کلی نه دې ورکړې. او علم جزئی په شرعیاتو کښې، الله تعالی نبی کریم ﷺ ته کثیر مقدار کښې ورکړې وو. او علم جزئی تکوینیاتو سره متعلق هم نبی کریم ﷺ ته دومره ورکړې شوې وو چې د ټولو نبیانو علیهم السلام علم دهغې په مقابله کښې یو قطره بنسبت د دریاب دې، هم داشان د الله تعالی دعلم کلی په مقابله کښې دټولو اهل الله علم د یوې قطرې بنسبت د دریاب دې.

د منصور بادشاه خوب: منصور بادشاه خوب کښې د مرګ فرښته اولیده، نو د هغې څخه ئې تپوس اوکړو چې زما څومره عمر باقی دې؟ مرګ به راته کله راځی؟ فرښتې ورته پنځو

ګوتو سره اشاره اوکړه. منصور پریشانه شو، چا ورته تعبیر اووئیلو چې ستا په عمر کښې پنځۀ ورځې باقی دی، چا ورته اووئیل چې پنځه میاشتې باقی دی، چا ورته اووئیل چې پنځه کاله باقی دی، حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ته ئې چې کله تپوس اوکړو نو دوئ ورته اوفرمائیل چې دا اشاره ده چې د مرګ وخت د پنځو مغیباتو څخه دې، چې صرف دَ الله تعالی سره ددې علم دې.

[۲] د اسلام بنیادي پنځه ستنې

۳-(۱)[۲]۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ: ۲ بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ شَهَادَةِ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ۳ وَاِقَامِ الصَّلَاةِ وَاِيْتَاءِ الزَّكَاةِ ۴ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: ۱ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایلې:
۲ د اسلام بنیاد په پنځو خیزونو دي اول: د دې خبري په زړه سره اقرار کول او ګواهي ورکول چې دالله جل جلاله څخه سوا بل معبود نشته او محمد ﷺ دالله جل جلاله بنده او رسول دي، ۳ دویم: په پابندي سره مونځ کول، دریم: زکوٰة ورکول، ۴ څلورم: حج کول، پنځم: د رمضان د میاشتي روژي نیول، بخاري او مسلم

د راوي مختصر تعارف: د حضرت ابن عمر نوم عبدالله دې. مکه مکرمه کښې خپل والد صاحب سره مسلمان شو، بعثت نبوی څخه یو کال وړاندې پیدا شو، او بالاتفاق جنګ خندق کښې شریك شو، جنګ بدر کښې وأحد کښې ددوئ عمر پنځلس کاله څخه کم وو. په دې وجه په دې جنګونو کښې شامل نشو.
حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چې مونږ کښې یو هم داسې نشته چې هغه طرفته دنیا په منډه راغله او هغه دې طرفته مائل شوې نه وی سوا د عمر او ابن عمر رضی الله عنهما څخه.
حضرت ابن عمر رضی الله عنه به علم او تقویٰ کښې په اعلی مقام باندې وو، صاحب احتیاط او صاحب فکر او متبع سنت صحابی وو. د حجاج بن یوسف په سازش په ایام حج کښې شهید کړې شو. په اووۀ دیرشمه هجری کښې د څلوراتیاؤ کالو په عمر کښې وفات شو.

تسهیلات:

قوله: بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ:

د اسلام تشبیه دعمارت سره: دې حدیث پاك کښې نبی کریم ﷺ د اسلام تشبیه د ارکانو دوام او استمرار کښې د یوې خیمې او مکان سره ورکړې ده کومې کښې چې یو اصل عمود یعنی ستن وی، او باقی رسئی او میخونه (موګی) وی. اصل عمود باندې خیمه

(۱) اخرجه البخاری کتاب الایمان/ رقم الحدیث ۵۰ ومسلم فی کتاب الایمان / رقم الحدیث ۹

ولاړه وی. او ددې په قطب باندې باقی ارکان ولاړ وی. هغه قطب او مرکزی ستن کلمه شهادت ده. او باقی ارکان اطناب واوتاد دی.

که دخیمې رسئی او موګی دَ غاړې نه ستن لرې کړې شی نو دغې طرف کښې نقصان راځی لیکن خیمه ولاړه وی. او که دَ غاړو ټولې ستنې پریوځی اودَ مینځ نیغه ستن ولاړه وی نودَ نوم خیمه به بیا هم ولاړه وی. اګر چې ددې څخه کار نه شی اخستې کیدې، نه به هغه د سیوری قابله پاتې شی، او به په کښې دګرمۍ او یخنۍ نه دَ بچاؤ صلاحیت باقی پاتې شی. خوکه د خیمې عمود اعظم او مرکزی قطب ستن لرې کړې شی په کومې باندې چې دَ خیمې دَ قیام دارو مدار وی نو اوس به خیمه بالکل باقی پاتې نشی. اګرکه د اړخونو ستنې موجودې وی خوهغه به خیمه د غورزید وڅخه بچ نه کړې شی.اودا خیمه به راپریوزی.

په تشبیه ورکولو کښې مناسبت: همداشان دا تشبیه ا وهم دا صورت حال د اسلام دَ عالیشان عمارت دې، کوم کښې چې مونځ، زکوة، روزه او حج څلور ستنې دی، اودا په اړخونو باندې واقع دی، او کله شهادت د مینځ ستن او عمود دې که باقی ارکانو کښې نقص راشی نو عمارت کښې خو به نقص راځی خو عمارت به باقی پاتې وی، خو که د کلمې شهادت په رکن کښې نقص راغلو او ددې وجود باقی پاتې نشی او یا دَ قائمیدونه پس ختم شی نو اوس بهٔ د اسلام عمارت بالکل باقی پاتې نشی.

نو په دې حدیث پاك کښې پنځه مشهور اصول ددین او مشهور ارکان ذکر شوی دی کوم چې فرضیات عینیه دی، ددې څخه علاوه باقی ټول اعمال ددې په ضمن کښې دی، ځکه چې شهادت څخه مراد ,,تسلیم بجمیع ماجاءبه النبی صلی الله علیه وسلم[دی. په دې کښې د اسلام ټول احکام راغلل، خلاصه دا ده چې د مشهورو ارکانو ذکر اوشو، د باقی نفی مراد نه ده یعنی فرضیات عینیه ذکر شو، د فرضیات کفایه وغیره نفی مقصود نه ده.

داسلام دقبلولو دپاره په شهادتینو باندې د اکتفا کولو وجه: ددې حدیث څخه معلومه شوه چې د اسلام بناء په پنځؤ څیزونه ده خو فقهاء کرامو اسلام دپاره صرف شهادتینو لره کافی ګڼړلی دی ځکه چې د شهادتینو په ضمن کښې پورا اسلام دَ خپلو ټول محاسنو سره ملحوظ او مراد دې.

[۵] د حیا عظمت

۵- (۱)[۳] ۱ وَعَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ ۲ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ: اَلْاِیْمَانُ بِضْعٌ وَّسَبْعُوْنَ شُعْبَةً ۳ فَاَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ۴ وَاَدْنَاهَا اِمَاطَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِیْقِ ۵ وَالْحَیَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ

---

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الإیمان (رقم-۹) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان خصال من اتصف بهن وجد حلاوة الإیمان (رقم ۵۸) وابن ماجه باب فی الإیمان (رقم-۵۷) واحمد فی مسنده ۳۷۹/۲. والنسائی کتاب الإیمان وشرائعه/زیادة الإیمان(رقم-۵۰۰۵)

الْإِيمَانِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [۱]حضرت ابوهریره ﷺ وایي:[۲] رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایلي: د ایمان ښاخونه (څانګي) د اویاوو څخه هم زیات دي [۳]په هغه کې د ټولو څخه د اعلي درجې ښاخ په ژبه او په زړه سره د دې خبرې اعتراف او اقرار دې چې د الله جل جلاله څخه ماسوا بل معبود نشته [۴]او د ټولو څخه کمه درجه ښاخ یو تکلیف ورکونکي شي د لارې څخه لرې کول دي[۵] او شرم او حیا هم د ایمان یو ښاخ دي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① بِضْعٌ: وَهِيَ الْقِطْعَةُ: ټکړې اوحصې ته وائی خوبیا ددې استعمال د عدد دپاره شوې دې چه دد ري نه نهو پورې عدد باندې ددې اطلاق کیږي. ② شُعْبَةٌ: دوونې څانګې ته وائی خودلته ترې ښه خوئی او صفت مراد دې. ③ إِمَاطَةُ: أَيْ: إِزَالَتُهُ: لرې کولو په معنی کښې دې. ④ الْأَذَى: ضرر او تکلیف ته وائی دلته ترې مرادهغه څیزدې چه ضرر او تکلیف رسوي مثلاً ازغې، کاڼړې وغیره.

د راوي مختصر تعارف: د هرة تصغیر دې، د حضرت ابوهریره ﷺ په نوم او نسب کښې ډیر اختلاف دې. اصل نوم کښې تقریبا دیرش اقواله دی، مشهور دادی چې ددوئ نوم د جاهلیت په زمانه کښې عبد الشمس یا عبد عمر وو.

داسلام قبلول: اسلام کښې داخلیدو څخه وروستو ددوئ نوم عبد الله یا عبد الرحمان شو. احمد او حاکم وئیلی دی چې زمونږ په نزد صحیح ترین تحقیق د ادې چې ددوئ نوم په اسلام کښې عبد الرحمان بن صخر وو. ددوئ تعلق دَ دوس قبیلې سره وو. ددوئ کنیت دومره غالب شو چې ګویا ددوئ هډو بل نوم نه وو. دوئ په اوومه هجري کښې د جنګ خیبر په موقع اسلام قبول کړې وو. بیا نبی کریم ﷺ سره ډیر نزدې پاتې شو. ملازمه او مواظبه ئې اوکړه، د دین علم زده کولو ډیر شوقین وو، اوړې به وو. نبی کریم ﷺ چې به چرته تللو نو دوئ به ئې څان سره بوتلل. ددې ملګرتیا او د نبی کریم ﷺ ددعا برکت وو چې په ټولو صحابه کرامو کښې ددوئ حافظه د ټولو څخه تیزه وه. امام بخاری رحمه الله فرمائی چې ددوئ نه اته سوؤ څخه زیاتو صحابه او تابعینو علم حاصل کړې دې.

دابوهريره وجه کنیت: دابوهریره رضي الله عنه دَ کنیت وجه پخپله د ابوهریره ﷺ روایت دې کوم چې ابن البر نقل کړې دې. فرمائی چې یوه ورځ ما په لستونړي کښې پیشو پورته کړې وه، نبی کریم ﷺ څه اولیدلم او تپوس ئې اوکړو چې دا څه دی؟ ما ورته اووئیل چې یارسول الله ﷺ! دا پیشو ده، یعنی هرة ده، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل فأنت ابوهریرة، بس دا وئیل وو چې ددوئ اصل نوم غیب شو او کنیت پرې غالب شو. ددوئ ټول مرویات ۵۳٦٤ دی. په یو کم شپیته هجري کښې په مدینه منوره کښې د اووه اوتیاؤ کالو په عمر کښې وفات شو، او جنت البقیع کښې مدفون شو.

تسهیلات:

قوله: اَلْإِيْمَانُ:

تقدیری عبارت: ایمان خو بسیط ددې وجې به دلته تقدیرراویستل وی.تقدیر د عبارت داسې دې ,,ثمرات الایمان وفروعه،،

قوله: بِضْعٌ وَّسَبْعُوْنَ شُعْبَةً:

په روایاتوکښې تعارض: ①په دې حدیث پاك کښې د ,,بضع وسبعون] ذکر دې.

② په بخاری کښې د ,,ستون] ذکر دې.

③ یو روایت صرف ,,ستون] دې.

④ یو کښې ,,اربع وستون] ذکر شوی دی.

ټولو کښې تضاد دې، ددې څه جواب دې؟

دتعارض درې جوابونه: ① دا دهغه وخت خبره ده کله چې من جانب الله ټولې شعبې مکمل شوې نه وی. نو د شپیتو ذکر وو. بیا د وحی په ذریعه د اویاؤ حکم راغلو. قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چې راجح ,,بضع وسبعون] والا روایت دې. ځکه چې دا کثرت سره راغلې دې.

② ځینو شعبو کښې تداخل کولو سره کم ذکر کیږی، او هرکله چې تداخل نه وی نو د زیات ذکر کیږی. هسې که دا اعداد په تکثیر باندې حمل کړې شی نو بیا دتحدید مسئله نه پاتې کیږی. نو بیا تعارض نشته دې، تکثیر دپاره دعدد راتلل معروف دی.

③ عدد اقل داکثر نفی نه کوی بلکه ساکت وی کوم کښې چې تعارض نه راځی.

قوله: فَأَفْضَلُهَا:

د فاء کلمې په نوعیت کښې دوه احتمالات:

① کلمه د فا تفریعیه تفصیلیه ده.

② کلمه دفا جزائیه ده.

قوله: قَوْلُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ:

د کلمه توحیدافضلیت: کلمه توحیدچونکه د دین اسلام د ټولوتعلیماتو نچوړ او خلاصه ده.ددې ورته افضله شعبه وئیلې شوې ده.لکه څنګه چې په یوبل حدیث کښې ورته افضل الذکر وئیلې شوې دې.

قوله: وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذٰى عَنِ الطَّرِيْقِ

دادنی په ماده اشتقاق کښې دوه احتمالات:① که ادنیٰ دَ دُنو څخه یعنی د قرب په معنی کښې وی. نو مطلب به داوی چې ,,أقربها منزلة] یعنی د قرب و تقرب په حصول کښې

قریب تر ,,اماطة الأذي" دې، په یو روایت کښې دې ,,أرفعها" هم دې کوم چې د دُنو بمعنی تقرب تائید کوی.

②که ادنیٰ د دنائت څخه واخستې شی نو بیا به د کم تر او حقیر په معنی کښې وی. یعنی کمتر شعبه ,,أماطة الاذی" دې سیاق اوسباق سره دا زیات مناسب دی.

دوارو شعبو متعلق: ① حدیث مبارک کښې اوله شعبهٔ د عبادت قولیه سره یا د معامله مع الحق سره تعلق لری

②دویمه شعبه دَ طاعاتو فعلیه سره یا معامله مع الخلق سره تعلق لری.

قوله: وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ.

حیاء لره د مستقل ذکر کولو دوه وجوهات: ① حیاء اګرچه د ایمان په شعبو کښې داخله ده. خود ,,تخصیص بعد التعمیم" په طورددې عظمت په وجه مستقل ذکرشوه.هم دا وجه ده چې شعبة کښې تنوین دَ تعظیم دپاره دې، یعنی حیاء د ایمان شعبو څخه یو عظیم الشان او اهمه شعبه ده.

② دمستقل ذکر کولووجه داده چې حیاء د ایمان په ټولو شعبو باندې حاوی ده. او ټولو شعبو دپاره سبب او داعی دې ځکه چې ددې په وجه انسان خصائل حمیده کولې شی. او په دې باندې قائم اوسیدې شی.

د حیاء دوه غټ قسمونه: ① حیاءِ ایمانی. ② حیاءِ طبعی.

دحیاء ایمانی په تعریف کښې درې اقوال: ① ددې یو تعریف داشان دې: ,, هو خلق یمنع الشخص من الفعل القبیح بسبب الإیمان،، یعنی حیاء دهغه ملکې او خلق نوم دې کوم چې یو کس د ایمان په وجه دَ قبیح فعل څخه منع کوی، لکه بربنډیدل، د خلقو په وړاندې فحش حرکات، زناکول، وغیره وغیره، ددې څیزونو څخه ایمانی شرعی حیاء منع کوی.

② دریم تعریف داسې شوې دې. ,,الحیاء أن لا یراك حیث نهاك،، ددې تعریف پیش نظر حیاء بعینه د احسان مقام دې. په حدیث حدیث جبریل علیه السلام کښې اجمالاً ددې ذکر دې.

③ جنید بغدادی رحمه الله د ایمانی حیاء تعریف داسې کړې دې.,,د الله تعالی دنعمتونو نظاره کولو نه پس خپل تقصیرات او کوتاهیانې کتلو سره چې کوم کیفیت پیدا کیږی هم دا حیاء ده،،.

د حیاء طبعي تعریف: د حیاء طبعی تعریف داسې شوې دې. ,, هو تغیر وانکسار یعتري المؤمن من خوف ما یلام علیه،، مطلب دادې چې قابل دَ ملامت کار کولو سره د یو کس اندامونه

او بدن باندې انقباض راځي. هم دا طبعي حياء ده.

په حديث كښې د حياء مصداق: په دې حديث كښې چې د كومې حياء ذكر دې هغه ايماني حياء ده طبعي حياء نه ده.

د حياء درې قسمونه:

① **حياء جنايت:** لكه چې د حضرت آدم عليه السلام حياء وه چې تيښته سر په جنت كښې منډه گرځيدل، الله تعالى ترې تپوس اوكړو چې ولې منډې وهې؟ وې فرمائيل چې حياء منك يا الله.

② حياء حشمت: لكه حضرت على رضی الله عنه د مذى متعلق مسئله د حشمت و حجاب په وجه پخپله د حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم څخه اونه پوښتله بلكه دَ حضرت مقداد رضی الله عنه وغيره په واسطه ئې سوال كړې وو.

③ حياء إجلال: چې د جلال په وجه حياء راځي، لكه ,,تسربل إسرافيل بجناحيه حياء من الله لإجلاله،، شعب ايمان باندې ډيرو علماء كرامو تصانيف كړى دى.

[٦] دمؤمن او مسلم مفهوم

٦ –(۱)[٣] ①وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ②قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -(③«الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، ④وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ» "هَذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ. ⑤وَلِمُسْلِمٍ قَالَ: «إِنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ؟ ⑥قَالَ: " مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ»).

ترجمه: ①او د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما څخه روايت دي ②چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل③ كامل مسلمان هغه دي چې د هغه د لاس او ژبي (د تكليف) څخه مسلمان محفوظ وي④ او اصل مهاجر هغه دي چې هغه ټول هغه څيزونه پريښودل د كومو څخه چې الله تعالى جل جلاله منع فرمايلي ده، دا الفاظ دبخاري دي ⑤او مسلم دا روايت په دې الفاظو كې نقل كړي دي چې يو سړي د نبي كريم صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وكړه چې په مسلمانانو كې د ټولو څخه بهتر څوك دي؟ ⑥حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې د هغه د ژبي او لاس (د ضرر) څخه مسلمانان محفوظ وي.

حل اللغات: ①سَلِمَ: چه سلامت او محفوظ شى. ②هَجَرَ: أَيْ: تَرَكَ: چه پريږدى.

د راوي مختصر تعارف: عمرو: واؤ سره لوستلې كيږي چې عمر او عمرو فرق اوشى. عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه قريشى دې. د خپل پلار څخه ئې وړاندې اسلام قبول كړې وو. د

(۱) اخرجه البخارى كتاب الإيمان (رقم-۱۰) ومسلم فى كتاب الإيمان / رقم الحديث (٦٥، ٤١) وابوداود فى السنن رقم الحديث ٢٤٨١ واحمد فى مسنده ١٨٧/٢. والنسائى كتاب الإيمان وشرائعه /زيادة الإيمان(رقم-٤٩٩٦)

پلار ځخه یولس، دولس یا دیارلس کاله کشر وو. کثیر العلم او کثیر العبادة صحابی وو. د ډیرې ژړا په وجه ئې په آخری عمر کښې بینائی تلې وه. دډیرو احادیثو کاتب وو. مکه یا طائف او یا مصر کښې په شپږ پنځوستمه هجری کښې وفات شو. رحمه الله رحمة واسعة.(۱)

تسهیلات:

قوله: اَلْمُسْلِمُ:

دمسلمان مصداق: ددې ځخه مراد کامل مسلمان اخستې کیږی چې دا اعتراض پید ا نشی چې د چا د لاس او ژبې ځخه عام مسلمان محفوظ نه وی نو آیا هغه مسلمان پاتې نشو؟ نو عام شارحین کامل مسلمان مراد اخلی.

په حدیث کښې دحصرِ ادعائی قول: ددې تقدیر په راویستلو کښې د شارع علیه السلام غرض فوت کیږی. په دې وجه ددې ترجمه کامل سره نه دی کول پکار بلکه دا حصرادعائی دې چې مسلمان خوهم هغه دې چې دهغه دلاس او ژبې ځخه بل مسلمان محفوظ وی.

په حصرِ ادعائی باندې قرینه: دلته مبتداء او خبر دواړه معرفه دی، ددې فائده هم دا حصر دې، د اشان د عربی محاوره هم ده چې ,,الناس العرب، المال الإبل] دا ټول د حصرادعائی قبیل ځخه دې. یعنی ,,أفضل المال الإبل، أفضل الناس العرب] نو الف الام جنسی دَ مدح دپاره دی،

دانورشاه کشمیری رحمه الله رائې: شاه انور شاه کشمیری رحمه الله هم دا فرمائیلی دی چې دعلمی تحقیق اودَ قیوداتو د تدقیق و تعمیق حد پورې خو دا قید لګول درست دی خو دا تاویل په دې وجه مناسب نه دې چې دې سره په کلام کښې زور باقی نه پاتې کیږی. او مقصود دَ شارع فوت کیږی. دا قسمه دَ ټولو احادیثو هم دا مطلب اخستل پکار دی.

دحصرِ ادعائی په صورت کښې دحدیث ترجمه: یعنی مسلم خو هم هغه دې چې په هغه کښې سلامتی وی، مهاجر خو هم هغه دې چې په هغه کښې هجرت عن المعاصی وی مجاهد خو هم هغه دې چې په هغه کښې جهد فی العمل وی، هغه به ځنګه مسلمان وی چې په هغه کښې د سلامتیا ماده نه وی، هغه به لا ځه مهاجر وی چې په هغه کښې د هجرت ماده نه وی. ، هغه به لا ځه مهاجر وی چې په هغه کښې د هجرت صفت نه وی، هغه به ځه مجاهد وی چې په هغه کښې جهد عمل نه وی او دعبادت مشقت نه وی. (۲)

(۱) المرقات: ۱۴۲، ۱/۱۴۳
(۲) للکاشف : ۱۱۱، ۱/۱۱۲

قوله: مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ:

اشکال: د تکلیف رسولو څخه حفاظت صرف د مسلمان دپاره خا ص کړې شوی دی. حالانکه نا جائزه تکلیف رسول خو یو کا فر او ځناور ته هم منع دی. لکه څنګه چې په احادیثو او قرآن کښې ددې تصریح ده نو د لته المسلمون ولې خاص کړې شوې دې؟

داشکال جواب: چونکه مسلمان ته الله تعالی تاکید کړ ې دې چې د تکلیف ورکولو څخه به ځان ساتی. په دې وجه ددې ذکر اوکړې شو. دا قید احترازی نه دې بلکه اتفاقی دې چې مسلمان سره زیاته واسطه راځی. ګنی هسې خو په ناحقه تکلیف رسول خو هیڅ یو سړی یا ښځې، مسلم غیرمسلم بلکه ځناور ته هم جائز نه دی. هم دا وجه ده چې ځینې روایاتو کښې د المسلمون په ځائې ,,من سلم الناس من لسأنه ويده] الفاظ راغلی دی او دَ ,,المؤمن من أمنه الناس على دمائهم واموالهم] الفاظ ذکر دی. (۱)

بعضې مستثنیات: دې نه پس ددې لحاظ ساتل پکار دی چې د حدود الله تنفیذ او اجراء، تعزیرات، ضرب اطفال، جهاد فی سبیل الله، دا ټول امور اصلاح دپاره دی، دا عرفًا ایذاء نه ده یا شرعًا مستثنی دی ا و المسلمون وئیلو سره جهاد جدا کړې شوې دې. ځکه چې جهاد کفارو سره کیږی، بهر حال حدیث پاك کښې بلا وجه او بغیرد صحیح غرض نه ناحق توګه باندې ایذاء رسولو څخه منع کړې شوې ده، صحیح وجه ا ومعقول سبب سره سزا ورکول منع نه دی.

قوله: مِنْ لِسَانِهِ:

د ژبې تکلیفونه: ایذاء لسانی کښې ټول سب وشتم، لعن طعن، غیبت، چغل خوری، بهتان وغیره ټول داخل دی.

د لسان په ید باندې د تقدیم وجه: ژبه په ید باندې مقدم کړې شوې ده، په دې وجه چې د ژبې ایذاء، ژوندو، مړو، حاضرینو، غائبینو، مخکینو، روستنو او ابراروفجار ټولو لره عام ده. یا ئې په دې وجه مقدم کړې ده چې د ژبې زخم ډیر سخت وی. نو ددې ایذاء هم عام ده. او تام هم ده. چا په عربۍ کښې وئیلی دی: (۲)

په پښتو کښې غالباً د عبدالرحمن بابا شعر دې.

پرهرد تورې ښه دې چې رغیږی په مرهم — بد پرهر د ژبې چې د عمر سره سم.

جراحات السنان لها التيام — ولا يلتام ما جرح اللسان (۳)

---

(۱) المرقات: ۱/۱۴۳

(۲) المرقات: ۱/۱۴۳

(۳) المرقات: ۱/۱۴۳

قوله: وَيَدِهِ:

د لاس تکلیفونه: د لاس په ایذا رسولو کښې ضرب، قتل، هدم، دیکا ورکول او دچا خلاف ناجائز تحریر کول، یا د لاس په اشارې سره ایذا رسول ټول داخل دی.

د لاس څخه مراد: لاس ئې ذکر کړو خو کنایه ده دَ ټولو اندامو نه ځکه چې هم د لاس څخه د ټولو افعالو ظهور کیږی. په دې وجه خاص توګه سره د لاس ذکر اوشو. د لاس څخه مراد ظاهری لاس هم دې. او ددې معنوی لاس یعنی په یو څیز باندې قبضه کول او ناجائز طور اخستل هم داخل دی. (١)

قوله: وَالْمُهَاجِرُ:

دهجرت دوه قسمونه: ① ظاهری هجرت: کوم چې ترك وطن لأجل الدین دپاره وی،
② باطنی هجرت: یعنی ,,ترك ما تدعوا الیه النفس الأمارة ,, یا ,,ترك ما نهى الله عنه,, دا دویم اطلاق د لغوی مفهوم په رڼا کښې کیږی کوم کښې چې دَ مهاجر مبدأ اشتقاق حوالې سره خبره شوې ده.

دظاهری هجرت حکم: د هجرت ظاهری حکم دا دې.چه سړې په دارالکفر کښې اوسیږی.او هلته د اسلامی احکامو ادا کولو دپاره ده ته ګنجائش نه وی.نو دده دپاره هجرت کول فرض دے.اوکه هلته د اسلامی احکامو ادا کولو کښې څه خلل نه وی.نو دده دپاره هجرت فرض خو نه دې.البته خوښ او مستحب بیا هم دې.ځکه چه د مسلمانانو په یوځائې څومره زیاته اجتماع وی.نو هومره د اسلام او مسلمانانو په حق کښې زیاته خیګړه وی.

د باطنی هجرت حکم: د هجرت دویم قسم کوم چه هجرت باطنی دې.دې ته هجرت حقیقی هم ونیلی شی.یعنی هجرت «من الذنوب والمعاصی» ځکه چه هجرت « من دارالکفر إلى دارالإسلام» کیږی.دا بذات خود څه مقصود نه دې.دا خو ددې دپاره وی.چه د ګناهونو او د اسلام د احکامو پریخودلو نه سړې بچ شی.نوځکه دا هجرت «من الذنوب والمعاصی» حقیقی هجرت او باطنی هجرت دې.ښکاره ده چه دا هجرت په ټولو باندې لازم او ضروری دې.

قوله: أَيُّ الْمُسْلِمِينَ خَيْرٌ؟:

اشکال: په احادیثو کښې ,,أي المسلمین خیر؟] په شان ,,أي الإسلام احب] یا ,,أي الإعمال أفضل]وغیره مختلف سوالات دَ حضورپاك نه کړې شوې دی اودَ ټولو مقصد دا دې چه په اسلامی اعمالو کښې دَ ټولو نه افضل عمل کوم یودې؟ ددې ټولو جواب په ظاهره

(١) المرقات: ١/١٤٣

باندې هم يو راتلل پکاردي. ځکه چه دَ ټولو نه افضل عمل خو هم يو کيدې شي ليکن په احاديثو کښې مختلف جوابات راځي؟

دمختلفوجوابونومثالونه: ① دلته په مذکوره حديث کښې ,,من سلم المسلمون من لسانه] راغلي دي.

② بعضې کښې ,,برالوالدين] راغلې دي.

③ بعضې رواياتو کښې ,,أي الإسلام خير] په جواب کښې ,,تطعم الطعام وتقرأ السلام] راغلي دي. ④ بعضې رواياتو کې ,,أي الأعمال أفضل] په جواب کښې ,,الصلوة لوقتها] راغلې دي

داشکال حلور جوابونه: ① دَ زمانې دَ احوالو په اعتبارئى جواب ورکړې دې. دَ حج په زمانه کښې دَ حج دَ ترغيب دَپاره هم دې ته دَ ټولو نه افضل اووئيل. دَ جهاد په زمانه کښې جهاد ته دَ ټولو نه افضل اووئيل. دَ مونځونو په وختونو کښې دَ مونځ ترغيب ورکړې شو، دَ بل څه قربانئى او ايثار په وخت ئى دَ هغې ترغيب ته افضل وئيلې دې.

② دَسائلينو دَاحوالو په اعتبارسره جواب ورکړې وې دې په چاکښې چه کوم کمې محسوس کړې شو هم دَهغې په ترغيب کښې جواب ورکړې شو. يا په چا کښې چه کوم استعداد اوکتلو هم دَ هغې موافق ئى جواب ورکړو.

③ علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله اوفرمائيل چه دَ افضليت اعتبارات مختلف دى مثلاً حضرت ابوبکر رضی الله عنه افضل دې دَ ,,ارحم امة] په اعتبارسره، حضرت عمر رضی الله عنه ,,اشدهم فى امرالله] اعتباسره افضل دې. حضرت عثمان رضی الله عنه ,,اصدقهم حياءً] په اعتبار سره افضل دې او حضرت على رضی الله عنه ,,اقضاهم] په لحاظ سره افضل دې نو هيڅ تضاد اوتعارض نشته دې. جهات فضيلت مختلف دى.

④ امام طحاوى رحمه الله اوفرمائيل چه افضل يو نوع دې دَ کوم لاندې چه يو کس نه بلکه ډيرکسان دى. اوس چه په کومو کومو خيزونو باندې دَ افضليت حکم لګولې شوې دې هغه ټول هم دَدې نوع لاندې داخل دى. دا کسان دَ يو بل معارض نه دى بلکه معاون اوموافق دى.

[۷] دکامل ايمان نښه او د نبى محبت

> ۷ ـ(۱)[۵] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ۲ «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ ۳ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ، وَوَلَدِهِ، وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

۱) اخرجه البخارى الإيمان /باب حب الرسول - صلى الله عليه وسلم - من الإيمان. (رقم-۱۵) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب بيان خصال من اتصف بهن وجد حلاوة الإيمان (رقم-۶۹ - ٤٤) وابن ماجه باب فى الإيمان (رقم-۶۷) واحمد فى مسنده ۴۰۷/۳. والنسائى كتاب الإيمان وشرائعه /زيادة الإيمان(رقم-۵۰۱۳)

ترجمه: ① انس بن مالك رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي ② چې په تاسو كې هيڅوك ترهغه وخته پورې پوره (كامل) مومن نشي كيداى ③ ترڅو پورې چې هغه ته زه د خپل پلار او د خپل زوي او د ټولو خلقو څخه زيات خوښ نشم. بخاري اومسلم

حل اللغات: ① لَايُؤْمِنُ: أَيْ: إِيمَانًا كَامِلًا: يعنى كامل ايمان والا نه دي.

د راوي مختصر تعارف: انس بن مالك بن نضر الانصارى الخزرجى رضي الله عنه، د لسو كالو په عمر كښې ددوئ مور بى بى ام سليم رضي الله عنها دوئ نبى كريم ﷺ ته په داسې وخت كښې راوستو چې دده پلار وفات شوې وو. او ددوئ مور بى بى د ابوطلحه رضي الله عنه سره نكاح كړې وه. ام سليم رضي الله عنها نبى كريم ﷺ ته اوفرمائيل چې: ,,خويدمك ادع الله له] نبى كريم ﷺ د مال او اولاد د بركت دپاره دعا ورته داشان اوفرمائيله: ,,اللهم بارك فى ماله وولده وأطل عمره واغفرذنبه] ددې دعا اثر دا شو چې پخپله فرمائى چې ما پخپل لاس دوه كم سل ماشومانْ دفن كړى دى. د ميوؤ دا حال وو چې په كال كښې به دوه ځل فصل كيدو. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د تعليمِ حديث و فقه دپاره بطور معلم دوئ بصرې ته اوليږل، ورته ئې اوفرمائيل چې اوس د اوږد عمر څخه ستړې شوې يم، او د نبى كريم ﷺ د آخرى دعا د مغفرت په اميد كښې يم. لسو كالو پورې په طور خاص د نبى كريم ﷺ خادم پاتې شو او د سلو كالو څخه څه زيات عمر ئې وو او د درې نوى هجرئى په بصره كښې وفات شو.

تسهيلات:

قوله: أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ: احب د محبوب په معنى كښې دې.

دعالمانوپه مينځ كښې اختلاف دې چې دلته محبت نه كوم محبت مراد دې؟ نواول تاسو د محبت معنى اوددې قسمونه زده كړئى. بيا به دې نه پس پوهه شئ چه دلته د محبت كوم قسم مراد دې.

دمحبت تعريف: امام راغب رحمه الله نقل كړى دى چه محبت: ,,إرادة ما تراه أوتظنه خيراً،، ته وائى. (١) يعنى په كوم څيز چه ته د خير ګمان كوې. اودهغې ته اراده اوكړې. نودا محبت دې.

دمحبت شپږ قسمونه:

① **محبت طبعى:** لكه د اولاد، مور پلار اويا خپل ځان سره محبت شو. د دې محبت منشا قرب دې. دخپل ځان سره قرب خو معلومه دې. دغه شان د خپل مور پلار سره، ځكه چه دې د هغوى جزء دې. اود بعضيت او جزئيت د وجې د دوى سره ډير زيات نزديكت وى. دغه شان په خپل اولاد كښې هم د جزئيت او بعضيت قرابت موجود دې. نود دوى سره هم

(١) المفردات فى غريب القرآن (١٠٥)

محبت زيات وي.دې محبت ته محبت طبعي وائي.اودا غير اختياري دې.

② **محبت احساني:** يو كس مونږ سره احسان اوكړي.مونږسره ښه سلوك اوكړي.نو زمونږ دهغه سره محبت پيدا شي. ځكه چې.الإنسان عبد الإحسان،، نواحسان كوم چه د دې محبت سبب دې.هغه اختياري فعل دې.نو ځكه دا محبت هم اختياري دې.

③ **محبت جمالي:** په دې محبت كښې د محبت سبب جمال اوښائست وي.او دا هم اختياري وي.ځكه چه ته په خپل اختيار باندې دغه ښكلي څيز ته ګورې.د هغې آواز طرف ته غوږ آږدي.او په خپل اختيار باندې د هغه سره ګډون او ربط قائم ساتې. نو هركله چه ته په خپل اختيار سره دا ټول كارونه كوې.نو وئيلى شي.چه دا محبت جمالي هم اختياري دې.

④ **محبت كمالي:** يعنى دچا د څه كمال د وجې د هغه سره محبت كول وي، لوې لوې د كمال خاوندان تير شوي دي.اومونږ د هغوي واقعات،د هغوي د علومو او مهارتونوپه كتابونو كښې لوستنه كړې ده.دهغوي سره زمونږ محبت دې.چه دهغوي ذكر راشي.نود ادب خيال ساتو.په زړه كښې دننه هغوي ته ميلان پيدا كيږي.اوچه څوك هغوي په بدئ سره ياد كړي.نود دفاع دپاره تياريږو. اود هغوي په شان كښې ګستاخئ اوريدو ته بيخى تيارنه يو.نودهغوي دكمال د وجې مونږ ته دا محبت دهغوي سره پيدا شوې دې.دا هم اختياري دې. ځكه چه مونږ د هغوي كمالات اويدلو لوستلو او په هغې كښې مو غور او فكر كړي دي. اودا ټول كارونه اختياري دي.نودا محبت هم اختياري شو.

⑤ **محبت عقلي:** په دې محبت كښې چه نفع او نقصان سرې ويني.نوبيا هغه د فائدې په صورت كښې محبت كوي.يوسوداګريو كاروبار كوي اوهغه په دغه كاروباركښې ډيره ګټه كيږي نودې د دغه كاروبار سره محبت كوي.عقل ده ته حكم كوي چې ته دې كاروبار سره محبت كوه ځكه چې په دې كښې تاته ګټه كيږي.

⑥ محبت ايماني شرعي: د دې تعريف دا دې ايثار جميع اغراض المحبوب على اغراض غيره حتى القريب والنفس وهذا الحب هو الناشي عن الإيمان والإجلال والتوقير والرحمة]

يعنى د محبوب ټولواغراضو لره د نورو ټولو په اغراضو ترجيح وركول تردې چې د خپل نفس او رشته دارانو په اغراضو هم،اود دې محبت منشا (سبب) ايمان ،اود محبوب تعظيم او په مهرباني او رحمت دې.

د محبت په مصداق كښې دوه اقوال: ① قاضي بيضاوي رحمه الله فرمائي. دلته د محبت نه عقلي محبت مراد دې.په كوم كښې چه د عقل سليم مقتضى ته ترجيح وركولې شي.

اگرچه د خپل خواهش خلاف وی.لکه مریض چه دوائی د خپل طبعیت په اعتبار سره نه خوښوی.اوددې نه تختی.(۱)
امام خطابی رحمه الله هم فرمائی.چه دلته طبعی نه بلکه اختیاری محبت مراد دې.(۲) یعنی دا سوچ کول پکار دی.که د نبی ﷺ مونږ تابعداری اوکړو.اود نبی ﷺ سره محبت اوساتو.نوپه دې کښې زمونږ نفع او فائده ده.اوکه مونږ د نبی ﷺ تابعداری اونکړو.اود دوی سره محبت اونه ساتو.نوزمونږ نقصان دې.د دنیا فائده هم په دې کښې ده.چه د نبی ﷺ تابعداری اوکړې شی.چه دا سوچ اوکړې.نوته به دنبی ﷺ سره محبت شروع کړې.دا محبت عقلی دې.
③ بعضې حضراتودا هم فرمائیلی دی.چه دلته محبت طبعی مراد دې.ځکه چه مقابله د والد او ولد د محبت سره شوې دې.او دقران مجید په آیت کښې د آباء،ابناء،اخوان، ازواج،عشیره،اموال،تجارت،اوکورونوسره ورکړې شوې ده.اودا ټول محبتونه چونکه طبعی دی.نوځکه به دالله اود رسول د محبت نه هم طبعی مراد وی.(۳)
اشکال: خوبیا به هغه اشکال راځی.چه محبت طبعی خو غیر اختیاری وی. او د غیراختیاری امورو انسان نشی مکلف کولې.
بنه فیصله: نوځکه غوره خبره هغه ده.کومه چه تاته د محبت د تعریف اوددې دقسمونو نه پس اوخودلې شوه.چه دلته خطابی او بیضاوی رحمهما الله چه ځنگه محبت عقلی او اختیاری مراد اخستې دې.هلته کښې ئې ترې ته مراد واخله.خودا کوتاهی اوسستی مکوئ.چه په محبت عقلی باندې اکتفاء اوکړئ. بلکه منشاء او مقصد دا دې.چه د محبت عقلی سره نور محبتونه هم جمع وی.اوکله چه ورسره هغه جمع شی.نوبیا به دا محبت عقلی ترقی اوکړی.نوددې نه به محبت ایمانی اومحبت عشقی جوړ شی.اودا به په محبت طبعی باندې هم غالب شی.
قوله: وَالِدِهِ:
دوالد او ولد دتخصیص وجه: دلته په روایت کښې د والد او ولد ذکردې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی. چه ددې وجه دا ده.چه د عاقل په نیزد دا دواړه د اهل اومال نه اوچت دی. بلکه بعضې دخپل ځان نه هم اوچت وی.ځکه خو د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په حدیث کښې د ،،نفس،، ذکرنشته.(۴)

(۱) فتح الباری (۶۱۱) باب حلاوة الإيمان)_
(۲) فتح الباری(۵۹۱۱) باب حب الرسول من الإيمان)_
(۳) تقرير بخاری(۱۲۳۱۱)_
(۴) فتح الباری(۵۹۱۱)_

د والد په مفهوم کښې د ام دخول: که د ،،والد،، نه،،من له الولد،، مراد وی.نوپه دې کښې ،،ام،، هم داخله ده.بلکه ددې معنی په اعتبارسره په کښې اجداد ،جدات اوددې نه د پورته سلسلهٔ خلق هم داخلیږی.ځکه چه د ولادت تعلق ددې ټولو سره دې.داسې هم وئیلی شی.چه په والدینوکښې صرف په پلارباندې اکتفاء اوکړې شوه.خوپه دې کښې مور هم داخله ده.(۱)

عقلاً والدته په خپل ځان ترجیح ورکول: دعاقل په نزد اهل و مال بلکه خپل نفس څخه هم والد او والده معزز وی. خپل ځان په هلاکت کښې اچوی خو دوئ بچ کوی. هم دا وجه ده چې دَ انس ﷺ په حدیث پاك کښې دنفس لفظ نشته دې او نورو روایتونو کښې شته دې. په دې کښې څه تعارض نشته دې. ځکه چې کله د والد لفظ راغلو نو والد خو د نفس څخه زیات عزیز دې لهذاد َ نفس د ذکر کولو ضرورت نشته دې.

د محبت اسباب: ابن بطال رحمه الله د اسابو په اعتبار سره محبت په دریو اقسامو تقسیم کړې دې.

① محبتِ اجلال و عظمت لکه چه مور پلار سره محبت وی. په دې حدیث په والد څخه دې اول قَسم ته اشاره ده،

② محبتِ شفقت لکه د اولاد محبت. په دې حدیث کښې په ولد څخه دې دویم قسم ته اشاره ده.

③ محبتِ لذت لکه چه د ښځې خاوند محبت وی، په دې حدیث په [وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ] سره دې دریم قسم اشاره ده.

هم په دې باندې په نورو الفاظ کښې ځان داسې پوهه کړئی چې محبت یا خو لوې سره وی یا وړوکی سره او یا مساوی وی. حدیث پاك کښې والده څخه لوې، ولده سره وړوکې او [وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ] کښې مساوی طرفته اشاره شوې ده. درې واړه قسمه محبت په کښې راغلو.

اشکال: په دې حدیث پاك کښې محبتِ رسول لره د ایمان دپاره معیار ګرځولې شوې دې. خو طبعی محبت والدینو او اولاد سرهَ زیات وی. نو بیا به څوك مؤمن پاتې شی، محبت غیر اختیاری څیز د ې، دې لره د ایمان معیار څنګه ګرځولې شوې دې؟

داشکال جواب: دلته د محبت څخه محبت ایمانی شرعی مراد دې د کوم تفصیل چې هم د دې حدیث په تسهیل کې د محبت په شپږو قسمونو کښې تیرشوې دې هغې ته رجوع اوکړئ.

---

(۱) المصدرالسابق)_

[۸] د ایمان د خوند حاصلولو دپاره درې څیزونه

۸-()[۲] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -": [۲] «ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ: [۳] مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، [۴] وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ، [۵] وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ اللَّهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ روايت كوي چې رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايلي [۲] چې په كوم سړي كې چې دا دري څيزونه وي هغه به د دې په وجه د ايمان په حقيقي خوند پوهيږي، [۳] اول دا چې هغه ته به د الله ﷻ او د هغه د رسول محبت د دنيا د ټولو څيزونو څخه زيات وي [۴] دويم دا چې ديو بنده سره به د هغه محبت محض د الله ﷻ د رضامندي دپاره وي [۵] دريم دا چې هر كله الله ﷻ هغه دكفر دتيارو څخه را ويستي د ايمان او اسلام په رڼا سره او نمانځلي نو اوس به هغه داسلام څخه ګرځيدل دومره بد ګڼي لكه په اوركي غورځيدل. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① حَلَاوَةَ: أَيْ لَذَّتَهُ وَرَغْبَتَهُ: دخوږوالی نه مراد خوند اوشوق دې. ② يَكْرَهُ: بد ګڼړي، نه خوښوي. ③ يَعُودَ: أَيْ: يَرْجِعَ: چه واپس شي، ④ أَنْقَذَهُ: أَيْ: أَخْلَصَهُ وَنَجَّاهُ: چه خلاص ئې كړو او نجات ئې وركړو. ⑤ يُلْقَى: أَيِ الرَّمْيِ وَالطَّرْحِ: غورځول او اچول.

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ:

د مذكوره جملې تركيب: ثلاث مبتداء ده او من كن فيه پورا جمله شرطيه ددې خبر دې. اوس سوال دادې چې ثلاث نكره ده، دا څنګه مبتداء واقع شوه؟ ددې جواب دادې چې دا نكره محضه نه ده بلكه نكره مخصصه ده، دا پخپله صفت دې او موصوف خصال مخذوف دې، يعني خصال ثلاث، نو اوس به اعتراض نه وي. دويم جواب دادې چې د ثلاث تنوين دتعظيم دپاره دې يعني درې لوې څيزونه دي.

قوله: حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ:

دحلاوت په مفهوم كښې دوه اقوال: ددې حلاوت ايماني دوه مطلبونه دي.

① أي استلذاذ الطاعات وإيثار الطاعات على جميع الشهوات وتحمل المشقات في مرضاة الله ورسوله والرضا بالقضاء في جميع الحالات..

---

[۱]) اخرجه البخاری كتاب الايمان /باب حب الرسول - صلى الله عليه وسلم - من الإيمان. باب حلاوة الإيمان. (رقم-۱۶) ومسلم فی كتاب الإيمان/ باب بيان خصال من اتصف بهن وجد حلاوة الإيمان (رقم-۶۹ - ۴۳) والترمذی كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ما جاء في افتراق هذه الأمة (رقم-۲۶۴۴) وابن ماجه كتاب الفتن/باب الصبر على البلاء (رقم-۴۰۳۳) واحمد فی مسنده ۱۷۲/۳. والنسائی كتاب الإيمان وشرائعه/حلاوة الإيمان(رقم-۴۹۸۸)

② حلاوة ایمانی څخه مراد التذاذ قلبی دی، کوم ته چه په نورو روایتونو کښې بشاشت قلبی وئیلې شوې دې. د کوم په وړاندې چه دنیاوی لذتونه معمولی ښکاری او صرف په طاعات کښې اصلی حلاوت اولذت محسوسیږی، د الله تعالی اود هغه درسول ﷺ محبت په هر مسلمان کښې شته، خو عند المعارضه ظاهریږی. د حب فی الله اعلی درجه داده چې کثرت عطایا سره په دې کښې اضافه نه وی شوی او دَ مصیبتونو او سختو په وخت کښې په دې کښې کمی نه وی راغلې.

دحدیث مفهوم: په دې حدیث پاك کښې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چې د ایمان حلاوت هغه کس محسوسولې شی دچا زړه چې روحانی صفاتو څخه منور وی،او هغه په روحانی اعتبار سره بالکل تندرست وی، که یو کس روحانی طور سره بیمار وی یعنی دده زړه د روحانی صفاتوڅخه محروم وی نو هغه کس د ایمان حلاوت نشی محسوسولې.

د حدیث مفهوم د مثال په رڼړا کښې: ددې مثال دیو تندرست او بیمار کس په شان دې. که یو کس تندرست او صحت مند دې نو هغه د شاتو حلاوت هغه شان موندلې شی لکه څنګه چې د شاتو حقیقت دې. خو که یو کس دصفراء مریض دې نو هغه به شاتو څکلو سره اعلان کوی چې دا تراخه دی. حالانکه شات تراخه نه وی. بلکه دا قصور د هغه د بیمارئ دې چې دصفراء په وجه په ده باندې یو لذیذ ترین څیز تریخ لګی. بالکل هم دغه شان که یو کس په روحانی مرض کښې اخته دې نو هغه به داسلام حقیقت او لذت هیڅ کله هم محسوس نه کړې شی، هغه به التهٔ دې لذیذ ترین څیز ته تریخ وائی. خوکه روحانی اعتبار سره دا کس تندرست دې نو هغه به دایمان اعلی ترین لذت مسحوسوی او ددې اعتراف به کوی او اعلان به هم کوی چې آؤ دَ روحانی تندرستۍ دپاره دا لذیذ ترین نعمت دې.

د حلاوت محسوسولودپاره د دریو څیزونو ضرورت: دې حدیث پاك کښې د ایمان حلاوت محسوسولو دپاره درې څیزونه ضروری ګرزولې شوی دی.

① د الله تعالی او د هغه دَ رسول ﷺ محبت په نورو ټولو محبتونو غالب وی،

② که چا سره محبت وی نو هغه به هم صرف دالله تعالی دپاره وی،

③ دَ مسلمانیدو نه پس کفر نه دومره نفرت وی څومره چې اور کښې غورزولو څخه دې،

قوله: مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ:

تقدیری عبارت: دلته تقدیری عبارت منل ضروری دی. یعنی [احداهما محبة من كان الله ورسوله أحب الخ] احب څخه محبت اختیاری شرعی مراد دې.

قوله: مِمَّا سِوَاهُمَا:

د سواهما عمومیت: دا سواهما عام دې. ذوي العقول وی یا غیر ذوي العقول وی، مال وی یا جاه ومنصب وی، یا دَ شهواتو څخه وی.

اشکال: نبی کریم ﷺ دلته دالله تعالی نوم او خپل نوم تثنیې سره په یو ضمیر کښې جمع فرمائیلی دی. یعنی مما سواهما داشان د نکاح په خطبه کښې هم دواړه ضمیرونه هما کښې جمع فرمائیلې دی. حالانکه نبی کریم ﷺ پخپله یو خطیب په دې الفاظو باندې رټلې وو کوم چې دا الفاظ وئیلی وو چې: [من یطع الله ورسوله فقد رشد ومن یعصهما فقد غوي، فقال علیه السلام بئس الخطیب أنت قم] اوس به دَ دې جواب څه وی ؟

داشکال درې جوابونه: ① دا چې دا اعتراض نبی کریم ﷺ طرفته متوجه نه دې ځکه چې کله یو څیز د امت دپاره منع وی خو نبی کریم ﷺ دپاره منع نه وی. ددې وجه داده چې مثلا د هما ضمیر کښې که نبی کریم ﷺ دواړه نومونه یو ځائې کړی دی نو دنبی کریم ﷺ نه خو د شرك، تسویه او برابرۍ وهم نشی کیدې خو په نورو خلقوکښې دا احتمال شته چې هغوی د اتحاد ضمیر په وجه د اشتراك او مساوات گمان اوکړی، په دې وجه ئې منع اوفرمائیله.

② اطاعت کښې دواړه جمع کول خو صحیح دی ځکه چې دَ یو اطاعت ناتمام دې، پاتې شوه د معصیت معامله نو په دې کښې دَ یو معصیت هم تباه کوؤنکې دې او خطیب د دواړو معصیت دَ تباهی او گمراهۍ دپاره ضروری جوړ کړو.

③ د نبی کریم ﷺ په وړاندې بغیردَ اجازت نه دَ خطبې دپاره اودریدل او خطبه ورکول خومره بې آدبی ده، شاید چه هم په دې وجه نبی کریم ﷺ هغه ته په قهر شو. دا وجه په توضیحات شرح مشکاة کښې مولانا فضل محمد صاحب دام ظلهم العالی لیکلې ده.

قوله: وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ:

د عود دوه معانی: ① یو کس اسلام باندې پیدا شو او هم په دې باندې ځوان شو، اوس دا کس کفر طرفته تلل بد گنړی. نو دا د عود دَ صیرورت په معنی کښې دی، گویا ددې معنی ابتداءً د یو څیز طرفته رجوع او واپس کیدو شوه.

② دعود دویمه معنی حالت اولی طرفته واپس کیدل دی. دا به د هغه خلقوباره کښې مناسب وی کوم چې اول په کفر باندې وو بیا مسلمانان شو، اوس دوباره حالت اولی حالت د کفر طرفته واپس تلل بد گنړی.

د حلاوت په نوعیت کښې دوه اقوال: ① عام علماء کرامو معنوی حلاوت مراد اخستې دې.

② ابن حجر رحمه الله نقل کړی دی چې ددې څخه حلاوت حسی مراد دې. اگرچې ملا علی

قاري رحمه الله په حلاوت حسي مراد اخستلو باندې ډير سخت د تعجب اظهار كړې دې.خود صوفياء كرامو اكثريت هم ددې قائل دى چې حسي ظاهري خوږوالي كيديشي.بهر حال دباطن صفائي سره ددې تعلق دې، نو اصحاب كمال دا تشريح نه نظر اندازكوي.

[٩] دايمان د خوند حاصلولو دپاره نور درې څيزونه

٩-()[٧][١] وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ:[٢] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-:[٣] «ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[١] او حضرت عباس بن عبد المطلب وايي[٢] چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٣] چې كوم سړي چې الله تعالى خپل پروردګار اسلام خپل دين او محمد ﷺ خپل رسول په خوښي سره ومني نو پوه شه چې هغه د ايمان خوند وكتلي. مسلم

حل اللغات: ① ذَاقَ: أَيْ: نَالَ وَأَدْرَكَ: يعنى بيائې موندو، حاصل ئې كړو خوند، اصل كښې د ذوق معنى ده: وُجُودُ أَدَقِّ طَعْمٍ فِي الْفَمِ: په خوله كښې د يو څيز خوند او خوږوالي محسوسول، خو دلته ددې نه مراد ذوق معنوى دې. ② طَعْمَ: خوند، مزه.

د راوي مختصر تعارف: حضرت عباس رضي الله عنه دَرسول الله ﷺ تره دې دوه كاله دَهغوى نه په عمركښې مشردې.چادَ هغوى نه تپوس اوكړو چه په تاسو كښې كوم يومشردې نوهغوى اوفرمائيل چه نبى كريم ﷺ لوئى دې البته زه "اسن" يم يعنى په عمركښې زيات يم، دادَهغوى ذكاوت وو، قديم الاسلام وو مګراسلام به ئى پټولو، دَ فتح مكې نه ئى لږ شان وړاندې هجرت اوكړو اودَاسلام سره ئى اظهاراوكړو، په بدركښې مجبوركړې شو اودَ جنګ دَپاره راوستلې شوې وو، په دې وجه حضورپاك مسلمانان دَهغه دَ قتل نه منع كړې وو.

دَهغوى مور ړومبې ښځه وه چاچه بيت الله ته دَغلاف اچولو طريقه شروع كړه دَهغې په بې دركه كيدوباندې ئى نذر منلي وو چه غلاف به ورته اغوندوم.

دَ حضرت عباس رضي الله عنه عمر ٨٨ كاله وو ٣٢ هجرى كښې دَ ده انتقال شوې دې، په جنت البقيع كښې خښ شوې دې.

تسهيلات:

قوله: ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ:

د حلاوت په نوعيت كښې دوه اقوال: ① ابن حجر رحمه الله دَ معنوى حلاوت په ځائى دَحسى حلاوت قول كړې دې ملاعلى قارى رحمه الله د دوى دا قول ډيرعجيبه ګرځولې دې.

② عام محدثين دلته د حلاوت څخه معنوى حلاوت اخستې دې.

[١]) اخرجه مسلم فى كتا ب الايمان/باب ذاق طعم الإيمان من رضى بالله ربا (رقم-٥٦ - ٣٤) والترمذى كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٦٢٣) واحمد فى مسنده ٢٠٨/١.

قوله: مَنْ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا:

دالله تعالی په ربوبيت باندې راضی کيدل: دَالله تعالی په ربوبيت باندې راضی داسې چه نه شکايت اونه حکايت، په هرحالت اودزمانې په هرقسم حالاتو راضی،

قوله: وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا:

په اسلام راضی کيدل: په اسلام باندې راضی په داسې شان چه ټول احکامات بغيردَ څه کمی زياتې نه په ځائی راوړی،

قوله: وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا:

د نبی عليه السلام په رسول منلوباندې راضی کيدل: په رسول الله ﷺ باندې داسې راضی چه په طبعی توګه دَ محبت دَوجې نه دَحضورپاك سنت اودَهغوی طريقې ئی خوښې وې اودَ الله تعالی په قضا باندې رضا وی.

نوټ: دَدې حديث مضمون هم دَ رومبی حديث په شان دې چه دَ شاتو خوند حسی اومعنوی هم هغه سړې محسوسولې شی دَ چا ذائقه چه صحيح وی، صفراوی بيماروسره دَ هغه دَ ژبې خوندختم شوې او خراب شوې نه وی، دغه شان دَ ايمان خوند اومزه هم هغه سړې محسوسولې شی چه اسلامی عقائدو او صحيح اسلامی صفاتو سره متصف وی، هغه اسلام ايمان او نبی آخرزمان باندې داسې عقيده لری څنګه چه ده ته دَ رب تعالی دَ طرف نه حکم ملاؤشوې دې.

[۱۰] اسلام نه قبلونکې جهنمی دې

۱۰ ـ(۱)[۸] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (۲ «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، ۳ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ ۴ ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په هغه ذات مې دي قسم وي چې د چا په قبضه کې د محمد ﷺ ساه ده ۳ په دي امت کې چې کوم سړي هم برابره خبره ده که هغه يهودي وي يا نصراني زما د نبوت خبر پيدا کي ۴ او زما په راوړي شريعت باندي ايمان راوړلو څخه بغير مړ شی نو هغه دوزخي دي. مسلم

حل اللغات: ① نَفْسُ: أَيْ رُوحُهُ: ساه، ② لَا يَسْمَعُ بِي: أَيْ: مَا يَسْمَعُ مُخْبِرًا بِبَعْثِي: نه آور يوکس زما باره کښې يعنی چه زما د رسالت نه خبر شی. ③ أُرْسِلْتُ بِهِ: أَيْ: مِنَ الدِّينِ: څه سره چه زه راليږلې شوې يم، يعنی دين، شريعت.

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/ باب وجوب الإيمان برسالة نبينا محمد صلی الله عليه وسلم إلی جميع الناس، ونسخ الملل بملته(رقم-۲۴۰ - ۱۵۳)

د راوي مختصر حالات: نوم ئې عمر، كنيت ئې ابوهريره او د پلار نوم ئې عامر دې خانداني نوم ئې عبدشمس وو كله چه نبی كريم ﷺ خيبر ته تلې وو نو په هغه وخت كښې د يو وفد سره د اسلام قبلولو په غرض حاضر شواو بيا خيبر ته اورسيدلو اوهم هلته مسلمان شو (۲).

د اسلام قبلولو نه پس ئې ترمرګه پورې د نبی كريم ﷺ لمن نه وه پريخودې او بيا حضرت عمر رضی الله عنه د بحرين عامل جوړ كړې وو.

د علم شوق: د حضرت ابوهريره رضی الله عنه د علم سره ډير شوق وو عام صحابه كرام رضی الله عنهم به د نبی كريم ﷺ نه په تپوس كولو كښې شرميدل خو حضرت ابوهريره رضی الله عنه به د نبی كريم ﷺ نه ډير تپوسونه كول هم دا وجه وه چه په ټولوصحابه كراموكښې ددوی نه زيات روايات منقول دی بعضې خلقو به ددوی په كثرت روايت باندې اعتراض كولو نو دوی به د هغې جواب دا وركولو نوروخلقوبه خپل وخت په بازارونو كښې تيرولو او زه يو محتاج سړې ووم ما خپل ژوند د نبی كريم ﷺ مجلس ته وقف كړې وو.(۳)

وفات: دوليد په زمانه كښې په مدنيه كښې ناجوړه شو او هم په مدينه كښې وفات شو وليد پرې د جنازې مونځ اوكړو دحضرت عثمان رضی الله عنه ځامنو د جنازې كټ ته اوږې وركړې او جنت البقيع ته ئې اورسولو نور اكابرين صحابه كرام رضی الله عنهم هم موجود وو (۴)

عمر: انتقال په وخت كښې د دوی عمر ۷۸ كاله وو

مرويات: د دوی د رواياتو تعداد ۵۳۷۴ وو په دې كښې ۳۲۵ په بخاری او مسلم دواړو كښې دی ۷۹ صرف په بخاری كښې او ۹۳ په مسلم كښې منفرد دی (۵)

تسهيلات:

قوله: وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ:

د نبی عليه السلام د قسم خوړلو حكمتونه:

① داقسم دې حضورپاك دَ امت دَتعليم دَپاره قسمونه خوړلی دی. په كوم سره چه امت ته داتعليم ملاؤشوې دې چه حضورپاك دَالله تعالی محبوب بنده وودَ خدائې مالك نه ووبلكه دَ حضورپاك ځان دَالله تعالی په قبضهٔ قدرت كښې وو.

② دا خودل مقصود وو چه قسم صرف دَالله تعالی په نوم باندې خوړل پكاردی.

③ دامعلومه شوه چه بغيردَ ضرورت نه دَ كلام دَ تاكيددَپاره قسم خوړلې شی حرام نه دې. امام شافعی رحمه الله فرمائيلی دی چه ما نه كله دَدروغوقسم خوړلې دې اونه دَ رښتياؤ دادَ هغوی امتيازی شان دې.

قوله: نَفْسُ مُحَمَّدٍ:

د نفس محمد مراد: روح محمد ﷺ، ذات محمد ﷺ، حالات، حرکات اوسکناتِ محمد ﷺ مراد دی.

قوله: بِيَدِهِ:

په متشابهاتو کښې دوه نظریات:

① "بیده" یعنی دَالله تعالی دَقدرت اودَالله تعالی دَنعمت اورحمت په لاسونو کښې دې. لفظ "ید" دَ متشابهاتو نه دې، دَمتشابهاتو یوقسم هغه دې دکوم معنې چه معلومه وی لیکن دَمراد علم ئی نشته لکه ید، وجه، ساق، جلوس، مجی، استعلاء وغیره په دې کښې دَ سلف صالحینو مسلك دادې چه دَ ایمان راوړلودَپاره هم دغه ظاهری الفاظ دی دَدې معنی مایلیق بشانه ده. دَدې علم الله تعالی ته حواله دې لکه څنګه چه امام مالك رحمه الله فرمائی: "الاستواء معلوم والكيفية مجهولة والسؤال عنها بدعة" امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی دَ "ید" تاویل په قدرت سره کول دَالله تعالی صفاتو کښې دَ تحریف مترادف دې هم په دې وجه چه کوم الفاظ راغلی دی په هغې باندې ایمان راوړلوسره مایلیق بشانه وئیل او الله تعالی ته حواله کول پکاردی.

② متاخرینو دَ فتنو او بدعاتو دَ راښکاره کیدو دَ وجې نه څه مناسب تاویلونه کړی دی. دَایمان او عقیدې دَ حفاظت په غرض سره دَزمانې دَ احوالودَ تغیردَ وجې نه دَدې هم ګنجائش شته مګردا صرف تاویلات دی یقینی مطلب نه دې.

قوله: لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ:

د لایسمع نحوی تحقیق: په دې حدیث کښې "لایسمع" کښې لا په معنی دَ لیس دې او "احد" دَدې اسم دې او "یسمع من هذه الأمة" دَ "أحد" صفت دې او "یهودی ولانصرانی" دَ "أحد" نه بدل واقع دې اودَ لیس خبر محذوف دې عبارت داسې دې لیس أحد یسمع من هذه الأمة یهودی ولانصرانی الخ کائنا من أصحاب شئ إلا كان من أصحاب النار.

قوله: مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ:

دامت دوه قسمونه:

① **امت اجابت:** خوک چه اسلام قبول کړې دې دکلمهٔ توحید اقرار ئی کړې دې،

② **امت دعوت:** دا د امت هغه خلق دی چه دَتوحیداقرارئی نه دې کړې، دَ اسلام قبلولونه ئی انکارکړې دې دَ مسلمانانونه علاوه ټول انسانان امت دعوت دی.

په حديث کښې درې قسمه خلق:

① چا چه دَ حضورپاك دَ نبوت واؤريدو خو ايمان ئى رانوړو دا جهنميان خلق دى

② هغه څوك چاچه واؤريده او ايمان ئى هم راوړو دادَ جنت والا خلق دى

③ هغه څوک چه نه ئى واؤريده اونه ئى ايمان راوړودوى دَ مسکوت عنهم په درجه کښې دى.

دحديث مفهوم: دَحديث شريف مطلب داشو چه په حضورپاك باندې ايمان راوړل په ټولو باندې يوشان فرض دى. دَ يهودو او نصارىٰ ذكرئى دلته په خاص توګه څکه اوكړو چه هغوى صاحب كتاب اواهل كتاب وو. كله چه دَ اصحابِ كتاب نجات په حضورپاك باندې دَايمان راوړلونه بغيرممكن نه دې نوچاسره چه هيڅ هم نشته لكه هندو، سيكان، دهريه، ملحد، بې دين نودَدوى نجات بغيردَ ايمان نه څنګه كيدې شىٰ؟

[١١] دوچنده اجر كټونكى درې كسان

١١ -()[٩] ١ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: «ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ: ٣ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ، ٤ وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ، ٥ وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ يَطَؤُهَا فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ تَأْدِيبَهَا، ٦ وَعَلَّمَهَا فَأَحْسَنَ تَعْلِيمَهَا، ثُمَّ أَعْتَقَهَا فَتَزَوَّجَهَا -فَلَهُ أَجْرَانِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابو موسىٰ اشعري ﷺ وايي ٢ چې نبي كريم ﷺ وفرمايل درې سړي داسې دي چې هغوئ ته به دوه دوه اجرونه وركول كيږي ٣ ① يو هغه اهلِ كتابو (يهوديانو او عيسايانو) ته چې اول يې په خپل نبي ايمان لري بيا يې په محمد ﷺ ايمان راوړو ٤، ② دويم هغه غلام چې د الله حقوق هم ادا كوي او د خپلو بادارانو حق هم اداكوي ٥ ③ دريم هغه سړي چې د هغه يوه مينځه وه چې د هغه سره يې صحبت كوي بيا هغه ته يې د ښو اخلاقو تعليم وركړي او د يو ښه ادب او اخلاقو خاونده يې جوړه كړه ٦ بيا وهغې ته ښه تعليم وركړي بيا يې هغه آزاده كړه او نكاح يې ورسره وكړله نو دي به هم د دوچنده اجر حقدار وي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① مَوَالِيهِ: أَيْ أَسَادَةٌ وَمُلَّاكَهُ: يعنى د سردارانو او مالكانو خپلو، ② أَمَةٌ: وينزه، ③ يَطَؤُهَا: أَيْ يُجَامِعُهَا: جماع يعنى صحبت ورسره كوى، ④ فَأَدَّبَهَا: أَيْ عَلَّمَهَا الْخِصَالَ الْحَمِيدَةَ: يعنى د ښه اخلاقو تعليم ئې وركړو.

د راوي مختصر تعارف: حضرت ابوموسى اشعرى ﷺ د نبى كريم ﷺ جليل القدر صحابى

(١) اخرجه البخارى باب فضل العلم، باب تعليم الرجل أمته وأهله. (٣١) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب وجوب إيمان أهل الكتاب برسالة الإسلام(رقم-٢٤١ - ١٥٤)) والترمذى كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الفضل فى ذلک (رقم-١١١٦) واحمد فى مسنده ٤٠٢/٤

دي، مکه مکرمه کښې ئې اسلام قبول کړې وو. بیائې حبشې ته هجرت اوکړو. بیا اهل سفینه سره په هغه وخت کښې مدینې منورې ته راغلو کله چې اوومه هجری کښې نبی کریم ﷺ غزوۀ خیبر ته تلی وو. حضرت عمر فاروق ﷺ دوئ د بصرې ګورنر مقرر کړی وو. دوئ اهواز فتح کړو، دعثمان بن عفان ﷺ د خلافت دور پورې هم هلته وو، بیا کوفې ته راغلو، او هم دهغه ځائې والی پاتې شو. کله چې حضرت عثمان ﷺ شهید شو نو دوئ مکې مکرمې ته لاړل او هم هلته په دوه پنځوستمه هجری کښې وفات شو.

تسهیلات:

قوله: ثَلَاثَةٌ لَهُمْ أَجْرَانِ:

اشکال: دحدیث ښخه خو دا معلومیږی.چه درې کسانوته به دوه اجرونه ملاویږی.حالانکه د بعضې نصوصو ښخه ددې درې کسانوښخه علاوه د نور کسانودپاره هم د درې اجرونوخوشخبری راغلې ده.مثلاً

① په قرآن کریم کښې د ازواج مطهراتو په باره کښې راغلی دی. ﴿وَمَنْ يَقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلَّهِ وَرَسُولِهِ وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُؤْتِهَا أَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ﴾(۱)

② ((مثل الذی یقرأ القرآن وهوحافظ له مع السفرة الکرام، ومثل الذی یقرأ وهویتعاهده وهوعلیه شدید فله أجران))(۲)

③ ((إذاحکم الحاکم فاجتهد ثم أصاب فله أجران))(۳)

داشکال جواب: ددې احادیثو په رڼرا کښې غوره دا دی.چه دا اوونیلی شی.چه د دریو عدد د احتراز دپاره نه دې.بلکه دصحیح قول مطابق دعدد مفهوم معتبرنه وی. نو د یو عدد تنصیص دهغې نه علاوه د نورو اعدادو نفی نه کوی. (۴)

د درې کسانو د تخصیص وجوهات: ① چونکه دوی دوه کارونه کړی دی.ددې وجې دوی ته دوه اجرونه ملاویږی.

خوپه دې باندې اشکال واردیږی.چه په دې کښې ددوی څه خصوصیت دې؟ څوك چه هم دوه عملونه کوی.نوهغوی ته دوه اجرونه ملاویږی.(۵)

---

(۱) الأحزاب:۳۱)_

(۲) صحیح البخاری (۷۳۵\۱۲) کتاب التفسیر،سورة عبس رقم ۴۹۳۷)_

(۳) صحیح البخاری (۱۰۹۲\۱۲) کتاب الإعتصام بالکتاب والسنة باب أجرالحاکم إذا إجتهد فأصاب أو أخطاء رقم (۷۳۵۲) وصحیح مسلم کتاب الأقضیة باب بیان أجرالحاکم إذا إجتهد فأصاب أو أخطأ ۴۴۸۷ و ۴۴۸۹) وسنن أبی داود کتاب القضاء باب فی القاضی یخطئ رقم ۳۵۷۴ وسنن ابن ماجه أبواب الأحکام باب الحاکم یجتهد فصیب الحق رقم ۲۳۱۴)_

(۴) عمدة القاری (۱۲۲\۱۲)_

(۵) الکنزالمتواری (۳۲۹\۱۲)_

② دې درې واړو ته به په هريو كار باندې دوه دوه اجرونه ملاويږي.
خوپه دې باندې اشكال دا دې.چه دې درې واړو داسې څه لويه كارنامه نه ده كړې.چه اوس به دوى ته په هريوعمل باندې دوه دوه اجرونه ملاويږي.([1])
③ زمونږ دعالمانواومشائخو رحمهم الله دا رائې ده.چه په كومو اعمالو او افعالوكښې تزاحم وى.په هغې كښې به ورته دوه دوه اجرونه ملاويږي.([2])
④ د مشقت د زيادت په وجه دوه اجرونه ملاويږي.چې كله په يوعمل كښې مزاحم او ركاوټ وى.اوبيا هم سړې مجاهده كوى نوهغه ته يو د نفس عمل ثواب ملاويږي.اوبل ورته دهغه مشقت اومقابلې ثواب ملاويږي.كوم چې هغه د دغه عمل په كولو كښې كوى.
داهل كتابوپه ايمان راؤړلو كښې مشقت: اهل كتاب د وړاندې نه په يو حق پيغمبر،اوآسمانى دين اوكتاب الهى باندې ايمان راوړونكى دى.په حقيقت كښې چه دهغوى ايمان هرڅنګه وى.كه صحيح وى يا غيرصحيح،معتبر وى.اؤكه غيرمعتبر،هغه خلق په خپل ګمان كښې خپل ځان داسې ګڼړى.چه مونږ داسې يو.چه زمونږ داسې پيغمبردې.اوداسې كتاب دې.داسې څيز عادةً دانسان په طبيعت كښې بعضې وخت روسته راتلونكى پيغمبر باندې ايمان راوړوكښې اودهغه په اتباع كولو كښې استغناء غوندې پيدا كوى.
بلكه يوقسم استنكاف پيدا كوى.بيا خاص كركه چه راتلونكې پيغمبر عليه السلام دهغوى د كتاب اوپيغمبر عليه السلام د صداقت اوحقانيت، عظمت او وجاهت، او جلالت اقراركوى. او پخپله دهغې په مدح اوتعريف كښې دهغه ژبه لونه وى. ځكه چه هغه داګڼړى.چه هركله مونږ سره داسې عظيم الشان پيغمبراوداسې د اوچتې درجې كتاب شته.دكوم تصديق او تعظيم پيغمبر عليه السلام دهغوى قران هم كوى.نوبيا مونږته څه ضرورت دې.چه مونږ ددې دويم كس تابعدارى اوكړى.ددې وجې به بعضې يهوديانونبى صلى الله عليه وسلم ته (رسول الأمين)وئيل.([3])
دغلام په خدمت كښې مشقت: هم دغه حال دهغه غلام دې.چه دخپل مولى حق كماحقه ادا كوى.اودالله تعالى حقوق په اعلى اواكمله طريقه باندې ادا كوى. هريوكس ته معلومه ده.چه ده ته به دالله تعالى دحقوقو په ادا كولوكښې څومره مشقت اوتكليف وى.دهغه كس په نسبت سره چه هغه آزاد وى.اويا دخپل مولى دحقوقو پوره كولوڅه پرواه نه كوى.
نوهركله چه داغلام دا دواړه حقوق په ښه طريقه سره جمع كوى.چه دهغې جمع كول ډير ګران كاردې.ځكه چه دمولى د حقوقو ادا كول د دالله تعالى دحقوقو په ادا كولوكښې مانع اوركاوټ وى.خوچه ددې مزاحم،مانع باوجود هغه دالله تعالى حقوق ادا كوى.نوده

[1] المصدر السابق)_
[2] المصدر السابق وفضل البارى(۱۲/۱۰٤)_
[3] كما فى حديث ابن صياد.أنك رسول الأمين... أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الفتن باب ذكر ابن صياد رقم ۷۳۵٤)

ته دوه اجرونه ملاویدل بیخی مناسب او په خپل ځائې صحیح دی.

دوینځې آزادول او ورسره نکاح کولو کښې مشقت: دغه شان دریم کس دې.چه اول خوهغه په وینځه باندې احسانات اوکړل.اوبیا ئې په هغې باندې آخری احسان دا اوکړو.چه هغه ئې په خپل زوجیت کښې واخستله،لکه چه خپل ځان سره ئې برابر کړه.قرآن کریم د بیبیانود دبرابری حقوق ذکر کړی دی.﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِىْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾[1] اوددې نکاح نه دده صرف شهوت پوره کول مقصود نه وو.ځکه چه رقیت موجود وو.نوبیا هم په دې کښې څه د وطی نه څه ممانعت موجود نه وو. بیا دا چه داسې نکاح په عرف کښې عار ګڼړلې شی. چه د آزادولونه پس ئې ورسره نکاح اوکړه.خودې کس هغه وینځه په خپله نکاح کښې واخسته. اوپه دې ئې خپل احسان مکمل کړو.اوپه دې کښې ئې څه شرم محسوس نکړو.چه یوه وینځه ئې ځان سره برابر کړه.نودې ته په دوو اجرونو ملاویدو کښې څه لرې والې نشته.[2]

قوله: رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د کتاب په مصداق کښې دوه اقوال: ① دکتاب اطلاق په لغت کښې په هرکتاب باندې کیږی.خوپه شریعت کښې د کتاب الطلاق په کتب سماویه باندې کیږی.[3]

② فقهاء چه کله دا اووائی.چه په کتاب اوسنت کښې دا دی.نوهلته دکتاب نه مراد قرآن کریم وی.

په حدیث کښې د اهل کتابوپه مصداق کښې دوه مذاهب:

① ابوعبدالملك بونی وعلامه تورپشتی رحمهما الله وغیره وائی.چه ددې نه عیسایان مراد دی.[4]

② علامه طیبی،علامه کرمانی،حافظ ابن حجر،ملاعلی قاری رحمهم الله وغیره رائې دا ده.چه اهل کتاب عام دی.یهود اونصارا دواړه ترې مراد دی.[5]

دامام بخاری رحمه الله رجحان هم دې طرف ته دې.ځکه چه هم دا حدیث دوی د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه په کتاب الجهاد کښې تخریج کړې دې. اوپه هغې باندې ئې ترجمه قائمه کړې ده.((باب فضل من أسلم من أهل الكتابين))[6]

داول فریق دلائل: ① هم د ددې حدیث په دویم سند کښې دا دی.((وإذاآمن بعيسى ثم آمن

---

[1] البقرة:۲۲۸)_
[2] دتفصیل دپاره اوګورئ فضل الباری (۱۰۴/۲و ۱۰۷)_
[3] فتح الباری(۱۹۰/۱)_
[4] فتح الباری(۱۹۱/۱)_
[5] فتح الباری(۱۹۱/۱) وشرح الطیبی(۱۲۶/۱) وشرح الکرمانی(۸۸/۲) والمرقاة (۷۸/۱)_
[6] صحیح البخاری (۴۲۲/۱) کتاب الجهاد والسیر)_

ی..)) راغلی دی.([1])

داول فریق د اول دلیل جواب: دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه د دې حدیث یو سند دې.اوهغه سند مرجوح دي.ددې د مرجوحیت دپاره کشف الباری ته رجوع کولې شي.

② یهودیت دعیسائیت په وجه منسوخ شوې وو.نوپه دین منسوخ باندې ایمان راوړول څه فائده نه ورکوی.([2])

داول فریق ددویم دلیل جواب: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه دلته د نسخې دشرط لګولو څه ضرورت نشته.څکه چه حضرت عیسی علیه السلام هم بنی اسرائیلو طرف ته لیږلې شوې وو. په دې کښې څه اختلاف نه وو.په هغوی کښې چه چا په حضرت عیسی علیه السلام باندې ایمان راړو.هغه ته، ،مسیحی، ، ،وئیلی شی.اوچا چه پرې ایمان راونړلو.بلکه تکذیب ئې اوکړو. اوپه خپل یهودیت باندې قائم پاتې شو.نوهغه مومن نه دې.اودا حدیث داسې کسانوته

شامل نه دي.څکه چه په دې کښې دا شرط دې.چه ((مؤمن بنبیه)) دې.

البته هغه کسان کوم چه په یهودیت کښې داخل شوی وی.اوهغوی په بنی اسرائیلوکښې نه وو.اویا هغوی حضرت عیسی علیه السلام سره نه وو.اونه ورته دحضرت عیسی علیه السلام دعوت رسیدې وو.نودداسې کسانو په باره کښې وئیلی شی.چه دغه یهودیان دی.اودحضرت عیسی علیه السلام د بعثت نه پس هم هغوی مومنان دی.څکه چه هغوی په حضرت موسی علیه السلام باندې ایمان لری.اودهغوی نه پس دوی د هیڅ پیغمبرتکذیب نه دې کړې.نوکه داسې یوکس دنبی صلی الله علیه وسلم نبوت بیا موندو(یعنی دده په ژوند پیغمبرد نبوت دعوه اوکړه).نوهغه به ددې خبرپه مصداق کښې داخل وی.دیمن بعضې قبائل هم داسې قسم وې.چه هغوی یهودیان وو.اودحضرت عیسی علیه السلام دعوت هغوی ته نه وو رسیدلې.

د دویم فریق دلائل: ① چه کله په کتاب اوسنت کښې داهل کتابوذکراوشو.نومراد ترې هم دا دواړه وی.

② په قرآن کریم کښې ﴿اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْکِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ یُؤْمِنُوْنَ ۝ وَاِذَا یُتْلٰی عَلَیْهِمْ قَالُوْۤا اٰمَنَّا بِهٖۤ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّنَاۤ اِنَّا کُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِیْنَ ۝ اُولٰٓئِکَ یُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَیْنِ بِمَا صَبَرُوْا﴾([3]) آیاتونودحضرت عبدالله بن سلام اوددوی دملګرو دایمان راوړوپه باره کښې نازل شوی دی.

په طبرانی کښې د رفاعه قرظی رضی الله عنه نه روایت دې.((نزلت هذه الآیات فی وفیمن آمن معی))([4])

---

[1] صحیح البخاری(۱۱/۴۹۰) کتاب أحادیث الأنبیاء باب واذکرفی الکتاب مریم إذا انتبذت من أهلها رقم ۳۴۴۶)
[2] فتح الباری(۱۱/۱۹۰)_
[3] القصص:۵۲و ۵۴)_
[4] فتح الباری(۱۱/۱۹۱) والمعجم الکبیر للطبرانی (۵/۴۴۲) أحادیث رفاعة بن قرظة القرظی رقم ۴۵۶۳و ۴۵۶۴) والدرالمنثور (۵/۱۳۱) ومجمع الزوائد (۷/۸۸) کتاب التفسیر،سورة القصص)_

③ طبراني دعلي بن رفاعه قرظي نه په صحيح سند سره نقل كړي دي.«خرج عشرة من أهل الكتاب منهم أبي رفاعة إلى النبي ﷺ فآمنوا به فأوذوا فنزلت ﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤْمِنُونَ﴾»(۱) دا ټول د بني اسرائيلو سره تعلق ساتي.(۲)

داهل كتابو څخه ټول كه محرفين مراد دي په دې کښې دوه مذاهب:

① امام طحاوي اوقرطبي رحمهما الله فرمائي.چه داهل كتاب نه صرف هغه خلق مراد دي.چاچه تحريف اوتبديلي نه وه كړې.څكه چه اجر اوثواب د حق په اتباع باندې ملاويږي (۳)

② علامه سراج الدين بلقيني، حافظ ابن حجر،علامه عيني اوملا علي قاري ﷭ فرمائي. چه اهل كتاب عام دي.(۴)

نوټ: د فريقينودلائل د كشف الباري په اول جلد كتاب الايمان «باب تعليم الرجل امته» كښې اوګورئ.

د تضاعف د حكم په عهد نبوي پورې په تخصيص اوعدم تخصيص كښې مذاهب:

① علامه كرماني ﷫ فرمائي.چه دا د نبي ﷺ د زمانې پورې خاص دې.څكه چه د نبي ﷺ د بعثت نه پس خو دټولې دنيا پيغمبر هم نبي ﷺ دې.نوديوكس په حضرت عيسى ﷤ اوحضرت موسى ﷤ باندې ايمان راوړي.دا دهغه په خپل پيغمبر باندې ايمان نه دې.څكه چه دهغه نبي حضرت موسى اوحضرت عيسى عليهما السلام نه دي.بلكه دهغه پيغمبرحضرت محمد ﷺ دې.(۵)

اشكال: بيا خو د نبي ﷺ په زمانه كښې هم دا حديث معمول به نشي كيدې.څكه چه كله د نبي ﷺ بعث اوشو.نو د ټولو پيغمبر به محمد ﷺ وي.نو د يوكس په حضرت موسى يا حضرت عيسى ﷤ باندې ايمان راوړل.پكار ده چه نافع نه وي.

داشكال جواب: كه ددې جواب داسې وركړې شي.چه د حديث تعلق دهغه كسانو سره دې.چاته چه د نبي ﷺ د بعثت علم نه وو شوې.نوبيا د نبي ﷺ د زمانې پورې دخاص كولو څه ضرورت نشته. دنبي ﷺ نه پس هم كه يوكس دا اووائي.چه دا هغه يهودي يا نصراني دې.چه د نبي ﷺ د بعثت علم ورته نشته.اوبيا هغه مسلمان شي.نوپه دې صورت كښې به هغه ته په خپل پيغمبرباندې د ايمان راوړو ثواب ملاويږي.اوزمونږ په

(۱) المصادرالسابقة)_
(۲) فتح الباري(۱۹۱\۱)_
(۳) مشكل الآثار (۲۲۶\۵و ۲۲۸) كتاب بيان مشكل ما روى عن رسول الله ﷺ من قوله ((ثلاثة يؤتون أجرهم مرتين.. وإكمال إكمال المعلم للأبي ومكمل إكمال الأكمال للسنوسي (۲۶۳\۱و) وفتح الباري(۱۹۱\۱)_
(۴)فتح الباري(۳۸\۱) كتاب بدء الوحي حديث هرقل و(۱۹۱\۱) وعمدة القاري(۱۱۹\۲) ومرقاة المفاتيح (۷۸\۱و ۷۹)-
(۵)شرح الكرماني(۸۸\۲)_

پیغمبرد ایمان راوړو ثواب هم ملاویږی.[۱]

② علامه سراج الدین بلقینی رحمه الله فرمائی.چه دا حکم عام دې.ترقیامته پورې هم دا حکم دي.کوم کتابی چه هم ایمان راوړی.نوهغه ته به دوه اجرونه ملاویږی.[۲] کوم غلام چه هم د الله تعالی اود مولی حق ادا کوی.هغه ته به دوه اجرونه ملاویږی.دغه شان هریوکس چه خپلې وینځې ته تعلیم ورکوی.اوآزاده ئې کړی اوپه خپله نکاح کښې ئې راولی.نوهغه ددوو اجرونو مستحق دې.

صحیح قول هم د علامه بلقینی رحمه الله دې.هغوی فرمائیلی.چه دا حکم عام دې.د نبی ﷺ په زمانې پورې خاص نه دې.والله اعلم.

قوله: وَالْعَبْدُ الْمَمْلُوكُ إِذَا أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ:

عبد سره د مملوک د قید لګولو نکته: دلته کښې د «عبد» سره د مملوك قید ددې وجې لګولې شوې دې.ځکه چه هسې خو ټول خلق دالله تعالی بندګان اوهغه غلامان دی.خودلته دا خودل مقصود دی.چه دا کس دالله تعالی دغلامۍ سره سره د خلقوغلام هم وی.[۳]

د موالیه جمع صیغې راوړلودوه نکتې: ① بیانې دلته «حق موالیه» فرمائیلی دی.«حق مولاه» ئې نه دی فرمائیلی.یعنی د جمعې صیغه راوړې شوې ده.د مفرد صیغه نه ده.

① دلته د «العبد» نه مراد یوغلام نه دې.بلکه جنس مراد دې.په کوم کښې چه دکثرت هم احتمال شته.ددې وجې د «موالی» لفظ استعمال کړې شو.

② بعضې وخت یوغلام د څومالکانوپه مینځ کښې مشترك وی.هغه صورت ته هم د شاملولوډپاره دلته د«موالی» جمع صیغه استعمال کړې شوه.[۴]

نوټ:عبدمملوك ته د دوه اجرونو ملاویدو تفصیل وړاندې هم په دې حدیث کښې د «د غلام په خدمت کې مشقت» په عنوان سره تیر شوې دې.

قوله: وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ أَمَةٌ فَأَدَّبَهَا الخ

وینځې سره څلور خیګړې کول: یوهغه کس دې.چه هغه سره یوه وینځه وی.

① وینځې ته ښه ادب ورکول.

② وینځې ته ښه تعلیم ورکول.

---

[۱] فتح الباری(۱۹۱\۱و ۱۹۲)-

[۲] فتح الباری(۱۹۱\۱و ۱۹۲)_

[۳] عمدة القاری(۱۲۱\۲)_

[۴] المصدر السابق)_

④ وینځه آزادول.
⑤ آزادې کړې وینځې سره نکاح کول.

اشکال: دلته څلوراعمال مذکور دی نوپکارده چه اجر هم په دې مقدارسره وې.

داشکال څلور جوابونه: ① علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه اصل کښې د وینځوپه باره کښې صرف د اعتاق اوتزویج اعتبار کړې شوې دې.ځکه چه دتادیب اوتعلیم په وجه اجر صرف د وینځوسره خاص نه دې. بلکه دا خو د پردی اوځپل اولاد په باره کښې هم د اجرباعث دې.
② علامه عینی رحمه الله فرمائی.چه چونکه دتعلیم یافته وینځې سره نکاح کول د زیات برکت باعث وی.ځکه چه تعلیمافته اوادبناکه ښځه دځپل خاوند په دینی امورکښې ښه اعانت کولې شی.نوځکه نې تادیب اوتعلیم د تمهید په طورسره ذکر کړل.([1])
③ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه ددې کس دپاره دوه اجرونه د دوو متنافی امورو په وجه دی.دوه متنافی امور رقیت اوحریت دې.درقیت تقاضې جدا وی.اودحریت تقاضې جدا وی.په دې حیثیت ده ته دوه اجرونه ملاویږی.([2])
④ امام بخاری رحمه الله په کتاب النکاح کښې دحضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه معلق حدیث ذکرکړې دې.په هغې کښې دی.«ثم أعتقها ثم أصدقها» ([3])ددې مطلب دا دې.چه دا آزده کړې.اودې سره کومه نکاح اوکړی.په دې کښې عتق لره مهر اونه ګرځوی.بلکه مستقل مهر ورته ورکړی.والله اعلم.

قوله: فَلَهُ أَجْرَانِ:

داجران د تکرار په توجیه کښې دوه اقوال: په شروع کښې «ثلاثة لهم أجران» راغلی وو.اواوس نې دلته دوباره ذکرکوی.ددې وجه یاخوهغه ده.کومه چه
① علامه عینی رحمه الله فرمائی دلته تنبیه ورکول مقصود دی.چه د وینځو په تعلیم اوتربیت اواعتاق اوتزویج باندې به دوه اجرونه ملاویږی. زیاتی نه،([4]) په دې صورت کښې ددې جملې تعلق صرف ددې آخری صورت سره دې.
② ظاهره دا ده.چه ددې تعلق ددې ټولو سره دې.اودلته ددې تکرارد طول کلام اوپه مینځ کښې د فصل په وجه راغلې دې.([5])

---

[1])المصادرالسابقة)_
[2])شرح الکرمانی(۱۲/۹۰)_
[3])صحیح البخاری (۱۲/۷۶۱) کتاب النکاح باب إتخاذ السراری ومن أعتق جاریته ثم تزوجها رقم ۵۰۸۳) ووصله أبواود الطیالسی فی مسنده (۶۸) رقم ۵۰۱) وانظرفتح الباری(۱۹/۱۲۷و ۱۲۸) کتاب النکاح باب إتخاذ السراری)_
[4]) عمدة القاری(۱۲/۱۱۹)_
[5]) فتح الباری(۱۱/۱۹۲)_

[۱۲] د مال او جان د حفاظت اسباب

۱۲ -(١)[١٠] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، ٣ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ. ٤ فَإِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ، إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ، ٥ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، ٦ إِلَّا أَنَّ مُسْلِمًا لَمْ يَذْكُرْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ.

ترجمه: ١ د ابن عمر ﷠ څخه روایت دي چې نبي کریم ﷺ ارشاد وفرمايلي ٢ چې ماته د الله تعالى د طرف څخه حکم را کول شوې دي چې زه (د دین دښمنه) خلقو سره تر هغه وخته پورې جنګ وکړم ترڅو پورې چې هغه د دې خبرې ګواهي ونه کړي چې د الله څخه ماسوا بل معبود نشته محمد ﷺ د الله تعالى رالیږل شوې رسول دي ٣ او مونځ کوي او زکوٰة ورکوي ٤ اوهر کله چې هغه داسې کول شروع کړي نو هغوئ خپل ځان او مال زما څخه بچ کړي، کومه پوښتنه چې د اسلامي ضابطي لاندي وي هغه به اوس هم باقي وي، ٥ د دې څخه وروسته دهغوئ د باطن معامله الله تعالى ته سپارل شوې ده، (هغه پوهيږي چې د هغوئ اسلام د زړه د اخلاصه وو او که محض د خپل ځان ومال د حفاظت دپاره ښودلي وو) بخاي او مسلم، ٦ د مسلم په روایت کې الا بحق الاسلام لفظونه نشته.

حل اللغات: ① عَصَمُوا: أَيْ: حَفِظُوا وَمَنَعُوا: دخپل ځان حفاظت ئې اوکړو، ځان ئې بچ کړو، ② بِحَقِّ الْإِسْلَامِ: أَيْ دِينِهِ: په اسلامی حقوقو کښې به بیا هم راګیر وی، یعنی قصاص او حدود وغیره احکام به پرې جاری کولې شی. ③ حِسَابُهُمْ: د حساب کتاب معامله ئې دالله سره ده، یعنی که څه نافرمانی او کفر وغیره ئې په زړه کښې پټ ساتلې وی نو الله به ورسره پوهه شی.

تسهيلات:

قوله: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ:

د آمر تعيين: دا د مجهول صيغه ده. ځکه چې ددې فاعل متعين وو. چې الله تعالى دې. ځکه چې نبى ته حکم ورکونکې هم الله تعالى دې. لکه څنګه چې به صحابهٔ کرامو وئيل [أمرنا] نو هلته فاعل نبى کريم ﷺ متعين وو، نو د [أمرت] مطلب دا شو چې [أمرني الله بأن أقاتل الناس].

١) اخرجه البخاری الإیمان /باب (فإن تابوا وأقاموا الصلاة وآتوا الزكاة فخلوا سبيلهم). (رقم-٢٥) ومسلم فی كتاب الإيمان/باب الأمر بقتال الناس حتى يقولوا: لا إله إلا الله محمد رسول الله(رقم-٣٦ - (٢٢) و نسائيكتاب تحريم الدم(رقم-٣٩٧٣) وابوداود كتاب الجهاد باب على ما يقاتل المشركون(رقم-٢٦٤١) والترمذی كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ما جاء فی افتراق هذه الأمة (رقم-٢٦٤١) وابن ماجه باب فی الإيمان (رقم-٧١) واحمد فی مسنده ٣٤٥/٢

په مزيد درې څيزونو سره د مال او جان حفاظت:

① د جزيه په ورکولو سره دذمي جان او مال محفوظ کيږي.

② معاهد بغير د قتال څخه پاتې کيدې شي. د هغه مال او جان ته تعرض نشي کولې.

③ کافرانو سره صلح هم جائز ده په صلحې سره د هغوی مال او جان محفوظ پاتې کيږي.

اشکال: په زيربحث حديث کښې مطلق د جنګ کولو حکم دې، حالانکه وړاندې مزيد درې صورتونه هم بيان شو. چې د کافر جان او مال ته به تعرض نشي کولې.

د اشکال درې جوابونه: ① په الناس کښې الف لام عهد خارجي دپاره دې او ددې څخه مراد د جزيره عرب مشرکان دی کومو دپاره چې د [إما السيف أو الاسلام] تائيد د نسائي په روايت کښې کيږي. په هغې کښې الفاظ دی چې [أمرت أن أقاتل المشركين]

② دالناس څخه مراد اهل عرب دی، ذمي او معاهد پخپله ترې اووتل. ځکه چې دا عام حکم دې. او هر عام مخصوص البعضې وی، نو جنګ کوؤنکو سره به جنګ کوی. ذمي او معاهد د دې څخه مستثنی دی. (كذا قال الطيبي)، والكائف: ١/١٢٧

③ په حديث کښې تاويل شوې دې يعنی [يستسلموا ويسلموا] چې يا اسلام په حقيقت کښې راوړئی يا دَ اسلام په مخکښې ټيټيد شئی او د استسلام په صورت کښې ذمي او معاهد داخل دی. ځکه چې اوس دوی اطاعت کړې دې، يعنی جهاد څخه مراد اعلاء كلمة الله ده او ددې دوه صورتونه کيديشی، اسلام يا استسلام، کافر چې په کفر باندې اوسی او هر کله چې اسلامی حکومت قبول کړی نو اعلاء كلمة الله متحقق شو.

د صوم او حج د عدم ذکر وجوهات: ① په دې حديث کښې د راوی د طرفه اختصار شوې دې. ګنی په حقيقت کښې په دې حديث کښې د صوم او حج ذکر موجود وو.

② دنبی عليه السلام ددې حديث د وينا تروخته پورې صوم او حج لافرض شوې نه وو.

③ نبی کريم ﷺ ټول ارکان نه بيانول بلکه دا خودل مقصود وو چې کوم مسلمان شی او د مونځ او زکوة اهتمام کوی، دا دهغه د مسلمانيدو علامت دې. اوس هغه سره تعرض نشته.

④ دلته د شهادتينو د اقرار ذکر دې او کوم کس چې د نبی کريم ﷺ د رسالت ګواهی ورکوی نو ددې مطلب دادې چې هغه د جميع ما جاء به النبی ﷺ اقرار کوی. په دې کښې ټول شريعت راغلو.

د تارک الصلاة دوه قسمونه: په دې حديث پاك کښې چونکه دَ حفظ جان دپاره د کلمهٔ شهادت نه پس د مونځ ذکر راغلې دې، په دې وجه شارحينو د تارک صلوة متعلق يو بحث رانيولې دې.

① هغه خلق دی کوم چې مونځ پرېښودو لره حلال ګنړي. دې پسې ترقي کوي. اودې ته نزدې نه ورځي. دا خلق اتفاقا کافر مرتد او واجب القتل دی.

② هغه خلق دی کوم چې د سستۍ په وجه مونځ نه کوي خو ددې فرضيت مني، ددې پرېښودل ناجائز ګنړي،

د دویم قسم تارک الصلوة په حکم کښې مذاهب:

① د احمد بن حنبل بن مبارك رحمه الله او اسحاق بن راهويه رحمه الله مسلك دادې چې بغير د څه عذر څخه مونځ پرېښودلو والا كافر دې. داسې كس دې قتل كړې شي. او دا قتل د مرتد قتل دې.

② د امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله مسلك دادې چې تارك صلوة كافر نه دې خو ددې جرم سزا قتل ده. اودا قتل د مرتد قتل نه دې بلكه د فاسق او فاجر قتل دې.

③ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چې تارك صلوة كافر نه دې او دده سزا قتل نه ده بلكه حاكم وخت دې داسې كس په جيل كښې واچوي او تركومې چې توبه اونه كړي نو د مونځ په وخت كښې دې دا سړې په كوړو وهي. تر دې پورې چې دې توبه اوباسي اويا په جيل كښې مړ شي.

④ سلطان باهو رحمه الله فرمائي چې تارك صلوة دې د مسلمانانو په قبرستان كښې ښخ نه كړې شي.

⑤ بابا سعدی رحمه الله فرمائي چې تارك صلوة ته قرض مه وركوئ. كوم كس چې دَ الله تعالى قرض نه ادا كوي هغه به ستا قرض څنګه ادا كړي.

دتارک الصلاة د کفر دلائل: کومو حضراتو چې تارك صلوة ته كافر مرتد وئيلي دي دهغوئ دلائل هغه آيات مباركه او هغه احاديث مباركه دي كومو كښې چې د تارك صلوة طرفته د كفر نسبت شوې دې.او دا ډير احاديث دي.

د تارک الصلاة د کفرپه دلائلو کښې تاويل: كوم حضرات چې د تارك صلوة د كفر قائل نه دي هغوئ فرمائي چې په دې احاديثو كښې به تاويل كولې شي چې دې كس كافرانو والا كار كړې دې، ده سره دې جنګ اوكړې شي، خووژلې به نشي ددې څخه دا نه لازميږي چې دا كس مرتد شو دا كس دې قتل كړې شي ځكه چې د كبيرې د مرتكب باره كښې د امت فيصله داده چې هغه خارج از اسلام نه دې. نوداسې قسم احاديث په تشديد او تغليظ او تهديد باندې حمل كوؤ ځكه چې اسلامي تاريخ ددې خبرې ګواه دې چې كله هم په امت كښې تارك صلوة نه دې قتل كړې شوې.

قوله: إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ:

په دريو صورتونو کښې د مسلمان د وينې عدمِ حفاظت: هغه کوم صورتونه دی په کومو کښې چې د مسلمان وينه محفوظ نه پاتې کيږي بلکه دې غيرمحفوظ الدم ګرځي. هغه درې صورتونه دی.

① د قصاص په صورت کښې چې دې د بل مسلمان قاتل اوګرځي
② د ارتداد په صورت کښې چې والعياذ بالله دې مرتد شي.
③ د زنا بعد الاحصان په صورت کښې چې دې واده شوې وی خوبيا هم زنا اوکړي. نو په رجم سره به هلاکولې شي.

قوله: وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ:

د شريعت نظر ظاهر ته: يعنی کله چې يوکس دغه مذکوره اعمال کوی نود ده ظاهری اعماتو په کتلو سره به دې مسلمان حسابيږي. اودده د مال اوجان حفاظت په مسلمانانو فرض دې. باقی که دې په باطن کښې کافر وی. نوهغه دده او دالله تعالی معامله ده. الله پوهه شه او دې چې الله تعالی ورسره څه کوی هغه صاحب اختيار دې.

دتارک الصلاة د تکفير اوعدم تکفير باره کښې عجيبه مناظره: د تارك صلوة په تکفير او عدم تکفير کښې د امام شافعی رحمه الله او احمد بن حنبل رحمه الله يو ښکلې بحث شوې دې، اوهغه داشان دې چې امام شافعی رحمه الله د امام احمد بن حنبل رحمه الله څخه د تارك صلوة باره کښې تپوس اوکړو، نو امام احمد بن حنبل رحمه الله اوفرمائيل چې کافر دې. امام شافعی رحمه الله سوال اوکړو چې بيا به دې څنګه مسلمانيږي؟ دوئ اوفرمائيل چې کلمه دې اووائی. امام شافعی رحمه الله اوفرمائيل چې کلمه خو دې د اول څخه وايی خو مونځ نه کوی. دوئ اوفرمائيل چې مونځ دې اوکړی، امام شافعی رحمه الله اوفرمائيل چې هر کله هغه کافر دې نو بغيرد ايمان څخه څنګه مونځ اوکړی؟. په دې باندې امام احمد بن حنبل رحمه الله خاموش شو.

[۱۳] دالله تعالی په حفاظت او ذمه وارۍ کښې راوستونکی اعمال

> ۱۳ —([۱])[۱۱] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (②«مَنْ صَلَّى صَلَاتَنَا، وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا، ③وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا، فَذَلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ، ④فَلَا تُخْفِرُوا اللَّهَ فِي ذِمَّتِهِ») رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② چې کوم سړي چې زمونږ په شان مونځ کوي زمونږ قبلې ته مخ کوي ③ او زمونږ ذبيحي (حلالي) خوري

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الصلاة، باب فضل استقبال القبلة (رقم-۳۹۱) والنسائی کتاب الإيمان وشرائعه/باب صفة المسلم(رقم-۴۹۹۷)

هغه مسلمان دي او د الله او د الله د رسول په عهد او آمان کښې دي۴ نو کوم سړي چې د الله عهد او امان کښې وي. تاسو د هغه سره عهد شکني مه کوئ. بخاري

حل اللغات: ① ذِمَّةُ اللّٰهِ وَذِمَّةُ رَسُوْلِهٖ: أَيْ أَمَانُهُمَا وَعَهْدُهُمَا: د الله اود رسول د ذمې کیدو نه مطلب دا چه د الله اود رسول په عهد او امان کښې به وي یعنی په دوی به احکام داسلام جاري کیږي. ② فَلَا تُخْفِرُوا اللّٰهَ: دا د اخفار نه دې د باب افعال نه په معنی د بې لوظی کولو، أَيْ لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ فِي عَهْدِهٖ: یعنی دهغه په عهد کښې دالله سره خیانت او بې لوظی مه کوئ.

تسهیلات:

قوله: مَنْ صَلّٰى صَلَاتَنَا:

په اسلامی شعائروکښې د مونځ اهمیت: یعنی چا چې زمونږ مونځ ادا کړو، دا عمل یو مسلمان موحد کولې شي کوم چې د نبی کریم ﷺ د نبوت اقرار کوي. هرکله چې د نبوت اقرار اوشو نو د نبی کریم ﷺ د راوړلې شوي پورا شریعت اعتراف هم اوشو، هم دا وجه ده چې ددې کس مونځ دده دایمان دپاره یو علامت جوړ کړې شو. دلته د شهادتینو ذکر نشته دې ځکه چې شهادتین حقیقتًا یا حکمًا پخپله د مونځ په ضمن کښې راغلل.

اشکال: د دین اسلام خو ډیر احکامات دي. دلته په حدیث کښې صرف د دریو اعمالوذکر دې. نوکه یو کس دا درې واړه اعمال کوي. اود دین اسلام نور اعمال پریږدي. آیا هغه ته به هم دا بشارت حاصل وي. داسې خونشي کیدې نوبیا څنګه صرف دا درې اعمال دالله تعالی د ذمه وارۍ سبب جوړیدې شي.

داشکال جواب: دلته حدیث کښې د کوم کس ذکر دې او چا مسلم او مؤمن کیدو تعارف کړې شوې دې، دا هغه کس دې کوم چه اوس په اسلام کښې داخلیدل غواړي او خپل دین پریخودل غواړي او اسلام قبلول غواړي. په دې وجه په دې حدیث پاك کښې د مابه الامتیاز اعمالو ذکر کړې شوې دې یعنی د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې اهل کتاب او اهل اسلام په مینځ کښې ما به الامتیاز هر یو که بل لره د ممتاز کولو والا اعمال که وو نو هغه هم دا درې اعمال وو. ځکه چې ایمانی تصدیق قلبی په درجه کښې وی اوکه اقرار لسانی سره وی، په دې کښې د غیر مسلم د ښکاره کولو دومره مواقع نه وې څومره چې په دې مذکوره دریو عملونو کښې وې ځکه چې دا اسلامی شعائر او ممتاز اعمال دي. تاسو غور اوکړئی چې مونځ په اسلامی شعائرو کښې ټولو څخه زیات واضح او امتیازی عمل دې. داشان دقبلې معامله ده، چه ددې باره کښې یهود ونصاری ډیر حساس دي، او ددوئ په نزد حقانیت دپاره قبلې ته معیاری مقام حاصل دې. دا خو د عباداتو حوالې سره امتیازی علامتونه وو.

وړاندې د ذبیحې معامله هم یو امتیازی معامله ده. یهود ونصاری د خپل ځان نه ما سوا

د بل چا ذبیحه نه خوری، او ذبیحې لره هغه خلق معاشرتی لحاظ سره امتیاز او د جدائی لوې حد فاصل گنړی نو په دې حدیث پاك کښې د ا بیان کړې شو چې کوم کس اسلام کښې داخلیدل غواړی، بیا هغه د عبادت حوالې سره زمونږ په شان امتیازی مونځ کوی. او قبلې ته مخ کوی، او معاشرتی لحاظ سره زمونږ ذبیحه خوری، نو اوس دا کس د عبادتونو نه وروستو هم غیر مسلمو څخه ممتاز شو. لهذا اوس به دې ټولو صفاتو سره مسلمان گنړلې کیږی. الکاشف : ۱/۱۳۱

د استقبال قبله په تکرار باندې اشکال: په [من صلي صلوتنا] کښې استقبال د قبلې داخل وو ځکه چه زمونږ مونځ هم زمونږ قبلې طرف ته کیږی. بیا دَ دې جملې راوړل زیاتی معلومیږی حالانکه دلته دا دَ ایمان معیار خودلې شوې دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① دَ مونځ په نسبت دَ قبلې معامله ډیره مشهوره وه ځکه چه ډیرو زیاتو مسلمانانو مونځونه کول هم نه او پیژندل ئی هم نه لیکن قبله ئی پیژندله او منله ئی په دې وجه دَ مونځ نه پس دَ قبلې ذکر ضروری وو.

② په مونځ کښې دَ نورو مذهبونو خلق هم په یو نه یو طریقه کښې شریك دی نوپوره امتیازئی نشته لیکن په قبله کښې خو ښکاره امتیاز دې. دَ هرمذهب خپله قبله ده دَ یهودو بیت المقدس کښې گنبد صخره دې اودَ انصارو بیت المقدس کښې مشرقی طرف دې اودَمسلمانانو په مکه مکرمه کې بیت الله دې په دې وجه دَدې ذکرکول ضروری وو.

قوله: فَذَٰلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِي لَهُ ذِمَّةُ اللَّهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ:

په مذکوره صفاتو موصوف دپاره د الله اورسول ذمه واری: یعنی په چاکښې چه دادرې صفات وی هغه مسلم دې. چه دَ الله تعالی په ذمه کښې دې یعنی دَ الله تعالی دَ طرف نه په امن کښې دې دَ الله تعالی په عهد او ذمه وارئی کښې دې. نه دَ ده قتل جائز دې اونه دَ هغه دَ ننګ او ناموس بې عزتی جائز ده. په دې وجه دَ الله تعالی عهد شکنی نه بچ شئی.

قوله: فَلَا تُخْفِرُوا اللَّهَ فِي ذِمَّتِهِ:

دالله تعالی د حفاظت په ذمه وارۍ کښې د عدم خیانت حکم: یعنی تاسو د هغه چا سره خیانت او دهوکه مه کوئ څوک چې الله تعال د خپل حفاظت په ذمه وارئ کښې اخستې وی. دلته د اخفار څخه بدعهدی اووعده ماتول، خیانت کول او دَ هغه جان اومال ته تعرض کول مراد دې چه دې نه ځان اوساتئی. دَ الله تعالی عهد شکنی دَ رسول عهدشکنی وه په دې وجه هم دَ یو ذکر کول کافی اوګنړلې شو.

دقادیانانو اعتراض: قادیانان وائی چه دا درې کارونه خو مونږ هم کوو بیا خو مونږ مسلمانان شو مونږ ته کافر ولې وئیلی شی؟

د اعتراض جواب: دَدې دریو کارونو خپلولوسره دا ضروری دی چه هغه سړې دَ ضروریات دین نه دَ یو امر ضروری نه انکار اونه کړی ځکه چه ایمان او اعمال هم هغه معتبر دی دَ کوم منافی چه یو بنیادی څه داسې عمل نه وی چه دَدې ټولو کارونو دَ تباهئی ذریعه جوړشی. قادیانان نوی نبوت راپیداکوی نودَهغوی ایمان په شریعت باندې څنګه باقی پاتې کیدې شی؟

اشکال: په دې حدیث کښې حضورپاك دَ زکوة، روژې، حج ذکراونه کړو؟

دوه جوابونه: ① دَ نبی کریم ﷺ ټول ارکان بیانول مقصود نه وو بلکه دَمسلمان دَ تعارف دَ حده پورې چه څومره مقصود وو هغه ئی بیان کړه.

② هغه وخته پورې دا احکام نه وو فرض کړې شوې.

[۱۴] جنت ته بوتلونکي اعمال

۱۴ —()[۱۴][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«أَتَى أَعْرَابِيٌّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳]فَقَالَ: دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ، [۴] قَالَ: " تَعْبُدُ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، [۵]قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا شَيْئًا وَلَا أَنْقُصُ، [۶]فَلَمَّا وَلَّى قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۷]مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهریره ﷺ روای دي[۲] یو صحرایي د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو [۳]او عرض یي اوکړو چې یا رسول الله ماته څه داسې عمل را وښایه چې د هغه په کولو سره زه په جنت کښې داخل شم [۴]حضور ﷺ ورته وفرمایل د الله عبادت کوه، د هغه سره څوک مه شریک کوه، فرض مونځ کوه، فرض زکوٰة اداکوه او د رمضان د میاشتي روژي نیسه [۵]په دي آوریدو سره هغه صحرایي اوویل په هغه ذات مي دي قسم وي چې د هغه په قبضه کښې زماه ساه ده زه به نه دي څخه زیات کوم نه کم، [۶]کوم وخت چې هغه صحرایي لاړلو نو نبی کریم ﷺ وفرمایل[۷] کوم سړي چې د جنتي سړي د لیدو سعادت او خوشحالي حاصلول غواړي نو هغه دي دا سړي ووینې. بخاري

۱) اخرجه البخاری کتاب الزکاة /باب وجوب الزکاة (رقم-۱۳۹۷) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان الإیمان الذی یدخل به الجنة، وأن من تمسک بما أمر به دخل الجنة(رقم-۱۵ - (۱۴)

حل اللغات: ① دُلَّنِي : أَيْ أَرْشِدْنِي : راته اوښایه، ② تُقِيمُ: قائم کړه (مونځ، یعنی د فرائضو او سنتو پوره لحاظ ساته). ③ لَا أَزِيدُ: أَيْ قَبِلْتُ قَوْلَكَ: نه به پکښې څه زیاتې کوم نه څه کمې، یعنی ستا قول زما قبول دې، ④ وَلَّى :أَيْ أَدْبَرَ: شا کړه بانديچی یعنی لاړو روان شو.

تسهیلات:

قوله: دَخَلْتُ الْجَنَّةَ:

ددخولِ جنت څخه مراد: یعنی په دخول اولی سره داخل شئی په کوم کښې چه دَ څه قسم سزا اوعذاب نه وی.

قوله: تَعْبُدُ اللَّهَ:

د تعبد په ترکیب کښې دوه احتمالات: ① داخبر په معنی دَ امردې. [اي عبدالله]
② ان مصدریه مقدردې [أي أن تعبدالله]

د توحید اوشهادتینو دنه ذکر کولو اشکال: نبی علیه السلام دغه سړی ته دَ توحید خپلولو حکم ورنه کړو، دَ شهادتین ذکر ئی ورته اونه فرمائیلو کوم چه دَ جنت دَ داخلیدو او دَ صحت اعمال دَپاره ضروری دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① دا سړې دَ اول نه مسلمان شوې وو. دَ بخاری شریف په روایت کښې دی چه هغه تپوس کړې وو [ماذا فرض الله عمل] یعنی په ما باندې دَ الله تعالی څه فرائض دی؟ په دې صورت کښې دَ توحید او دَ شرك نه دَ ویزاره کیدو ذکر په توګه دَ تبرك او شرف او په توګه دَ تاکید شوې دې.
② دَعبادت نه مراد توحید او شهادتین دې. په دې صورت کښې به دغه سړې دې وخت کښې مسلمان شوې نه وی نوهغه ته حکم ورکړې شو چه توحید خپل کړه.

قوله: وَلَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا:

دعدمِ شرک څخه مقصود: یعنی دَ شرك جلی او شرك خفی نه بچ شه، توحید اوعبادتونه خپل کړه، ددې جملې نه معلومیږی چه دَ عبادت نه مراد دَ توحید کلمه ده اودَ توحید په ضمن کښې رسالت هم راغلو.

دحج نه ذکر کولو درې وجوهات: ① دَنبی علیه السلام هم دومره ارکان بیانول مقصود وو
② کیدې شی دغه وخته پورې حج نه وو فرض شوې
③ کیدې شی راوی اختصار کړې وی.

قوله: لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا شَيْئًا وَلَا أَنْقُصُ:

دعدمِ زیادت اوعدمِ نقصان په مفهوم کښې اقوال: ① [لا ازید فی السوال ولا انقص فی الحمل]

يعنى زه به په تپوس كولوكښې زيادت نه كوم اوستاسود حديث په نقل كولوكښې به كمې نه كوم.

④ زه به دَدې تعليم په تبليغ كولو او نورو ته رسولوكښې هيڅ كمې زياتې نه كوم. چونكه دا سړې دَ قوم مشر وو داد هغه ذمه واری وه.

③ [لاازيد شيئامن تلقاءنفسي ولاانقص كذالك من نفسي] زه به ستاسو په حديث كښې د خپل طرفه نه زيادت كوم اونه كمې كوم.

④ داكلام دَ محاورې په توګه وو مثلاً چه كله يو سړې څه څيز اخلى نو وائى په قيمت كښې به څه كمې زياتې نه وی. دلته اصل مقصود كمې كول دی دَزياتوالی لفظ خو تبعاً په خبره كښې راغلو. دغه شان په حديث كښې [لا ازيد] لفظ تبعاً راغلې دې مقصود [لا انقص] دې ګنی په عبادت كښې خو زياتوالې مصود دې.

⑤ حق خبره داده چه دا عبارت او دا جواب دكمال اطاعت نه كنايه ده.

قوله: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ:

د مذكوره صحابى دپاره دجنت زيرې: د دې جملې مطلب دا دې چې د چا خواهش وی چه هغه دې يوجنتي اوګوری نودې سړی ته دې اوګوری. حضورپاك ته دَ وحی په ذريعه معلومه شوه چه دَ دې سړی انجام محمود دې اودا مامون العاقبة دې اودې به بغيردَ سزا نه دخول اولی سره جنت كښې داخليږی. (كما فی الطبرانی)

قوله: فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا:

د مشاراليه صحابى نوم: دَدغه كلي وال نوم سعد بن الاحزم وو.

[١٥] د ايمان څخه روستو استقامت اختيارول

١٥ —()[١٣] ١ وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الثَّقَفِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ قُلْتُ: «يَا رَسُولَ اللَّهِ، قُلْ لِي فِي الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ - ٣ وَفِي رِوَايَةٍ: غَيْرَكَ - ٤ قَالَ: "قُلْ آمَنْتُ بِاللَّهِ، ثُمَّ اسْتَقِمْ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

١ او حضرت سفيان بن عبد الله الثقفي ﷺ وايي ٢ چې ما د رسول الله ﷺ په خدمت اقدس كې عرض وكړو چې يا رسول ﷺ ماته د اسلام څه داسې خبره را وښايه چې ستاَ ﷺ څخه وروسته ماته د پوښتنې كولو ضرورت پاتې نشي، ٣ او د يو روايت الفاظ داسې دي چې ستا څخه علاوه وبل چاته د پوښتنې كولو حاجت پاتې نشي، ٤ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې په ژبه او په زړه سره د دې خبرې اقرار وكړه چې ما په الله ايمان

[١] اخرجه مسلم فی كتاب الايمان/ باب جامع أوصاف الإسلام (رقم-٦٢ - (٣٨) وابن ما جة كتاب الفتن/باب إذا التقى المسلمان بسيفيهما(رقم-٣٩٧٢) واحمد فی المسنده ٣/٤١٣.

راوړي بيا په دي اقرار او اعتراف قايم اوسه. مسلم

حل اللغات: ① اسْتَقِمْ: استقامت اختيار کړه، قائم او مضبوط اوسيږه، يعنى كامل تابعدارى كوه او افراط تفريط مه كوه.

د راوي مختصر تعارف: دَ حضرت سفيان رضي الله عنه كنيت ابوعمر دې. داسړې صحابى دې اودَحضرت عمر فاروق رضي الله عنه دَ طرف نه ګورنرمقرروو، بنوثقيف سره دَده تعلق دې اود طائف اوسيدونکې دې دوى نه صرف پنځه احاديث نقل دى.

تسهيلات:

قوله: قُلْ لِي فِي الْإِسْلَامِ قَوْلًا لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَدًا بَعْدَكَ:

دصحابى مطالبه: "فى الاسلام": يعنى تكميل اسلام سره متعلق يوجامع قول ارشاد اوفرمائيلو په دې جمله کښې توابع اسلام ټول په ټول راغلى لکه چه دَ پوره شريعت خبره اوشوه. "آمنت بالله" يعنى په هغه ټولوخيزونوباندې مې ايمان راوړې دې په کومو چه ايمان راوړل ضرورى دى. په دې کښې هم پوره شريعت راغلو.

قوله: قُلْ آمَنْتُ بِاللّٰهِ، ثُمَّ اسْتَقِمْ:

داستقامت تعريف: دَهرمامور امتثال اودَهرمحظوراوحرام څخه داجتناب نوم استقامت دې.

د كرامت څخه د استقامت افضليت: صوفياء كرامو وئيلى دى "الاستقامة خير من ألف كرامة" يعنى په دين باندې استقامت د زرو كرامتونوڅخه غوره اوافضل دې.که يوکس د شريعت متبع وى اودده څخه د كرامت ظهورهم‌و اونشى نودا كس دهغه چا څخه غوره دې چې هغه د شريعت كامل متبع نه وى اودهغه څخه د كراماتوظهور كيږى.معلومه شوه چې اصل خيز استقامت دې.اودا ګران كار هم دې.

دَ استقامت په مفهوم کښې پنځه اقوال: ① دَحضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه نه چه کله دَ استقامت باره کښې پوښتنه اوکړې شوه نوونى فرمائيل "أن لا تشرك بالله شيئًا" يعنى استقامت دَخالص توحيدنوم دې.

② امام غزالى رحمه الله فرمائى چه په دې دنياکښې په صحيح لارباندې استقامت دومره ګران دې څومره چه په عالم آخرت کښې په پل صراط باندې استقامت ګران دې په دې دنيا کښې دَ استقامت هريو ساعت دَ ويښته نه زيات نرې اودتورې نه زيات تيره دې.

③ حضرت عثمان رضي الله عنه دَ استقامت باره کښې اوفرمائيل "أخلصوا العمل لله" يعنى خالص دَالله تعالى دَ رضادَپاره هركاركول استقامت دې.

④ دَحضرت عمر رضي الله عنه نه تپوس اوکړې شو نو وئى فرمائيل "تستقيم على الأمر والنهى ولا تروغ

روغان الثعالب" يعنى دَحق اوباطل په وخت په حق باندې کلك اودريږه اودَ لومبړې په شان اخوا ديخوا اوړه راوړه مه.

⑤ حضرت علی رضي الله عنه اوفرمائيل "داوموا الفرائض كلها" يعنى په ټولو فرائضو باندې دوام اواستمرار سره پاتې کيدل استقامت دې.

دحديث جامعيت: داحديث دَجوامع الكلم څنې دې کوم چه په اصول اسلام توحيد اوارکان اسلام يعنى طاعاتو باندې مشتمل دې دَتوحيد طرف ته اشاره "آمنت بالله" سره اوشوه او باقى دَ طاعاتو طرف ته اشاره "ثم استقم" سره اشوه.

[١٦] په اسلامى فرائضو باندې عمل د فلاح ذريعه ده

١٦ –(١)[١٤] [١]وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢]«جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ، [٣]ثَائِرُ الرَّأْسِ، نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهِ وَلَا نَفْقَهُ مَا يَقُولُ، [٤]حَتَّى دَنَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٥]فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٦]خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ". فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُنَّ؟ فَقَالَ: لَا، إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ ". [٧]قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "وَصِيَامُ شَهْرِ رَمَضَانَ"، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ: "لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ ". [٨]قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الزَّكَاةَ، فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ فَقَالَ": لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ ". [٩]قَالَ: فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ: وَاللَّهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ. [١٠]فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١]او حضرت طلحه بن عبد الله فرمايي[٢] چې د اهلِ نجد څخه يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت مبارك کې حاضو شو [٣]چې د هغه د سر ويښتان بَبر وو مونږ د هغه د آواز کنګړ خو اوريدي ليکن (د څه ليروالي په وجه) په دي نه پو هيدو چې هغه رسول الله صلي الله علي وسلم ته څه وايي، [٤] تر دي چې هغه رسول الله ﷺ ته بيخي نږدي او رسيدي [٥]نو مونږ واوريدل چې هغه د اسلام (د فرائضو) په باره کې پوښتني کوي، رسول الله ﷺ په جواب کې ورته وفرمايل[٦] په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه (فرض دي، (په دي اوريدو سره) هغه سړي اوويل آيا د دې لمونځونو څخه علاوه په ما څه نور لمونځونه هم فرض دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې نه، مګر د نفل لمونځونه کولو تاته اختيار دي، [٧] بيا رسول ﷺ وفرمايل او د رمضان دمياشتي روژي (فرض) دي هغه سړي اوويل ايا ددي روژو څخه ماسوا څه نوري روژي په ما فرض دي، رسول

(١) اخرجه البخارى كتاب الإيمان /باب الزكاة من الإسلام. (رقم-٤٦) ومسلم كتاب الايمان /باب بيان الصلوات التى هى أحد أركان الإسلام(رقم-٨ - (١١) وابوداود كتاب الصلاة باب فرض الصلاة(رقم-٣٩١) والنسائى كتاب الصلاة/باب كم فرضت فى اليوم والليلة(رقم-٤٥٨) واحمد فى مسنده ١٦٢/١

ﷺ ورته وفرمايل چې نه، مګر د نفل روژو وتاته اختيار دي، ⑧روايت کونکي وايي چې رسول ﷺ د دې څخه وروسته د زکوٰة ذکر او کي، هغه عرض وکړو آيا د دې څخه علاوه هم په ما څه صدقه فرض ده؟ رسول ﷺ ورته وفرمايل چې نه، مګر د نفل صدقې تاته اختيار دي، ⑨د دې څخه وروسته هغه سړي د ي ويلو سره لاړلو چې په الله دي مې قسم وي چې زه به نه په دې کې څه زياتي کوم او نه به په دې کې څه کمي کوم، ⑩رسول الله ﷺ وفرمايل که دي سړي رښتيا ويلي وي نو دخلاصی لار به پيدا کې او کا ميابه شو. بخاري او مسلم

حل اللغات: ①نَجْدٍ: مَا ارْتَفَعَ مِنَ الْأَرْضِ: اوچتې زمکې ته وائی، ددې په مقابل کښې تهامه راځی ښکته زمکې ته وائی. ②ثَائِرُ الرَّأْسِ: أَيْ مُنْتَشِرُ شَعَرِ الرَّأْسِ: چه د سر ويښته ئې ګډ وډ وی او ګومنز شوی نه وی. ③ دَوِيَّ صَوْتِهِ: أَيْ شِدَّتَهُ وَبُعْدَهُ فِي الْهَوَاءِ: ګونړ ګونړ آواز چه په مفهوم ئې څوک نه پوهيږي. ④دَنَا: أَيْ قَرُبَ: نزدې شو. ⑤ إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ: إِلَّا أَنْ تَشْرَعَ فِي التَّطَوُّعِ: مګر که په نفلو ئې شروع اوکړه (نو ددې پوره کول به هم واجب وی). ⑥ أَفْلَحَ: أَی فَازَوَظَفِرَ: کامياب شو.

د راوي مختصر تعارف: حضرت طلحه بن عبيدالله ﷺ کنيت ابو محمد دې، دوئ په عشره مبشره کښې شامل دی، د بدر څخه علاوه باقی په ټولو غزواتو کښې شامل شوی وو. بدر کښې نبی کريم ﷺ ذوئ د يوبل ملګری سره د ابو سفيان د خبرداری دپاره ليږلې وو. د احد په ورځ ئې د نبی کريم ﷺ دفاع کوله چې په غشی باندې اولګيدو او لاس ئې شل شو. ددوئ په بدن باندې پنځه اويا د تورې زخمونه وو. نبی کريم ﷺ هم په دې ميدان کښې دوئ ته دا اعزاز ورکړو چې [أَوْجَبَ طَلْحَةُ]. يعنی طلحه خپل ځان دپاره جنت واجب کړو. د جمل په واقعه کښې حضرت عائشه صديقه ﷺ سره په شپږ ديرشمه هجری کښې د څلوروشپيتو کالو په عمر کښې شهيد شو.

تسهيلات:

قوله: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

درجل په مصداق کښې دوه اقوال: ① علامه طيبی رحمه الله، حافظ تورپشتی رحمه الله او دَ قاضی عياض رحمه الله وغيره رائې داده

چې د حضرت ابوهريره روايت په کوم کښې تپوس کونکې اعرابی وو. اودهغه په باره کښې نبی عليه السلام دا فرمائيلی وو.,, **من سره أن ينظره الخ**،، اوپه دې حديث کښې سائل يوکس دې چې ضمام بن ثعلبه دي.

② د امام قرطبی رحمه الله، امام نووی رحمه الله او شاه انور شاه کاشميری رحمه الله رائې داده چې دا دواړه جدا جدا واقعات دی.

داول فريق دلائل: دوی په خپل تائید کښې قرائن اود ځينې احاديثو اشارات او دامام مسلم طرز بیان پیش کوی.

د دویم فریق دلائل: دوی فرمائی دواړو احاديثو طرز بيان هم مختلف دې. د دواړو ځایونو دَ سوالاتو انداز هم مختلف دی. او د نبی کریم ﷺ د طرفه د بشارت په کلماتو کښې هم فرق دې. لهذا دې حدیث پاك کښې دا واقعه د ضمام بن ثعلبه ده. او تیر شوی حدیث پاك کښې واقعه د سعد بن احزم وه.

قوله: ثَائِرَ الرَّأْسِ:

په ثائر الرأس کښې دوه احتمالات:

① دلته مضاف محذوف دې. یعی منتشر شعر الرأس، ګډوډ ویښته،

② دا په توګه د مبالغې فرمائيلې شوی دی چې ویښته ئې دومره ګډوډ وو لکه چې سر ئې ګډوډ وی.

قوله: نَسْمَعُ دَوِيَّ صَوْتِهِ:

د دوی مفهوم: دا دَ روی النحل پشان دې، ګنړارې ترې مراد دې. علامه خطابی رحمه الله فرمائی چې دَ دوی څخه مراد داسې کلمات دی چې دهغې آواز خو آؤریدې شی خو مفهوم ئې په پوهه کښې نه راځی. لکه د شاتو د مچی آواز.

قوله: فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ:

دتعجب کولووجه: اذامفاجاتیه: تعجب دپاره رااوړلې شوی دی چې داسې کمزوری او ګډوډ ویښتو والا او داسې بدوی کلیوال د اسلام متعلق سوال کوی، دا د تعجب باعث وو او غیر متوقع وو.

قوله: عَنِ الْإِسْلَامِ:

داسلام د فرائضو متعلق تپوس: یعنی د اسلام دهغه فرائضو متعلق ئې سوال کولو کوم چې رسول منونکی او موحد باندې فرض وی، د اسلام حقیقت او تعریف باره کښې سوال نه وو. هم په دې وجه د فرائضو او ارکانو ذکر راغلې دې،

دشهادتینودنه ذکر کولووجه: د شهادتینو ذکر نشته دې. دا کس چونکه د اول څخه مسلمان وو، په دې وجه د شهادتینو د ذکر کولو ضرورت نه وو. دبخاری شریف روایت څخه ددې تائید کیږی. هلته الفاظ دی چې: [فَأَخْبِرْنِي مَاذَا فَرَضَ اللَّهُ عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ؟]

دحج په عدم ذکر اشکال: په فرائضِ اسلام کښې دلته د حج ذکر نشته دې؟

①دا ممکن دی چې دا کس د حج قابل نه وو. غریب وو نو نبی کریم ﷺ ورته د حج ذکر او نه کړو.

④ دا ممکن ده چې یو راوی نسیانًا یا د اختصار په طور ددې ذکر نه وی کړې. حالانکه د بخاری په روایت دا الفاظ هم شته.

③ ممکن دی چې په هغه وخت کښې حج فرض نه وو ځکه چې حج په شپږنه یا اتمه یانهمه هجری کښې د مختلفو اقوالو مطابق فرض شوې وو.

قوله: خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ

د وترپه عدم ذکرباندې اشکال: په دې روایت کښې د وترو ذکر نشته دې، بلکه د پنځو فرائضو څخه علاوه ټولوته نوافل وئیلې شوی دی. حالانکه د وترو وجود هم شته دې، او وجوب ئی هم شته دې؟

داشکال درې جوابونه: ①دې ځائې د فرائضو سلسله او بیان وو، د وترو سلسله د فرائضو نه ده بلکه د واجبو ده.

② په هغه وخت کښې دوترو وجوب نه وو. د اخترونو وجوب هم نه وو.

③ وتردعشاء تابع دی نو جدا ذکر ئې اونه کړو.

قوله: إِلَّا أَنْ تَطَّوَّعَ:

په استثناء کښې دوه احتمالات: ① که په دې جمله کښې استثناء منقطع وی، یعنی الا په معنی د لکن وی نو ددې جملې مطلب دادې چې ستا په ذمه خو صرف پنځه مونځونه دی، خو که نوافل ادا کول غواړې نو ادا کولې شې.

② که په دې جمله کښې استثناء متصل وی نو مطلب به دا وی چې ستا په ذمه د صلوات خمسه څخه علاوه هیڅ یو مونځ واجب نه دې. خو که نوافل دې شروع کړل نو ددې څخه وروستو به واجب شی. اوبیا ددې مکمل کول ضروری دی.

د نفلو په فساد سره د هغې په وجوب کښې دوه مذاهب:

① د شوافعو وغیره حضراتو په نیزکه یوکس نفل مونځ شروع کړل اوبیا ئې هغه فاسد کړل نو په ده باندې د هغې قضاء راوړل واجب نه دی.

② داحنافو په نیزد نفلو په فساد باندې قضاء واجبیږی.

داول فریق دلیل: د دوی په نیز په حدیث کښې استنثناء منفصل ده او ترجمه داسې کوی چې د اوقات خمسه څخه علاوه بل فرض نشته البته نفل کولی شی او ددې څخه دا ثابتوی چې د نفلو په شروع کولو سره اتمام فرض نه دې او په ماتولو سره د دې قضاء واجب نه ده.

داول فریق د دلیل جواب: په استثناء کښې اصل اتصال دې اود مجبوری څخه بغیر داصل څخه انحراف کول صحیح نه دی په خپله حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری کښې فرمائی

((فمن قال انه متصل تمسك بالاصل)) او استثناء من النفی مفیده د اثبات وی نو په شروع کولو سره به نفل واجبیږی اوپه ماتولو سره به قضاء لازمیږی.

دَدويم فريق دلائل: ① د الله تعالی دا قول: [لَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ] د دوی دلیل دی. په دې کښې الله تعالی د عمل باطلولو څخه منع فرمائیلې ده. نودا ترې معلومیږی. که یو کس مونځ فاسد کړه. ده ناجائز عمل اوکړو. اود دې ناجائزعمل کفاره دا ده چې ددې قضاء به راؤړلې شی.

② داشان د صحابه کرامو په نفلی حج باندې اجماع ده چې شروع فی الحج نه پس ددې اهتمام واجب دی. شوافع حضرات پخپله هم نفلی حج او نفلی عمره شروع څخه وروستو ددې مکمل کول واجب ګنړی.

اشکال: چې کله نص قرآنی او احادیثو څخه اتمام ثابت دې نو بیا د نوافلو دې اتمام ته فرض ولې نه وئیلې کیږی؟

داشکال جواب: [لَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ] دَ خپل دلالت کښې قطعی نه دې، اګر چې په ثبوت کښې قطعی دې، نو ددې څخه فرضیت نه ثابتیږی.

قوله: لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ:

نوټ: دعدم زیادت اوعدم نقصان په مفهوم کښې پنځه اقوال د حدیث نمبر ۱۲ په تسهیل کښې تیر شوې دې.

قوله:. أَفْلَحَ الرَّجُلُ:

د رجل څخه مقصود: الف لام جنس دپاره دې، مراد هر هغه کس دې کوم چې دَ ده په شان دَ عزم بالجزم پابندی اوکړی.

د فلاح دوه قسمونه: ① دنیوی فلاح: دا هغه دط چې ژوند هم ملاؤ شی او د ژوند ټول اسباب هم ملاؤ شی. ② اخروی فلاح: دا هغه دې چې نجات تام حاصل شی.

قوله: إِنْ صَدَقَ:

د دواړو روایاتوپه الفاظو کښې اختلاف: په دابوهریره په سابقه روایت کښې د رجل په باره کښې دا الفاظ دې ,,من سره أن ينظر إلى رجل من أهل الجنة فلينظر إلى هذا،، اودلته د رجل د فلاح خوشخبری ده خو د ,,إن صدق،، قید سره.

د واقعې د تعدد په صورت کښې عدمِ اعتراض: کوم عالمان چې د واقعه د تعدد قائل دی نودهغوی دپاره خو څه اشکال نشته. ځکه که په الفاظو کښې اختلاف دې نو واقعات خو دوه دی یونه ده. لکه څنګه د علامه قرطبی وغیره نظردې.

د واقعې دوحدت په صورت کښې اشکال: خودچا په نیزچې د ابوهریره رضی الله عنه د روایت اوطلحه بن عبدالله د روایت واقعه یوه وی نوپه هغوی باندې اعتراض راځی. که واقعه یوه وی،

يو سړي وی، نوبیا سوال دادې چې ړومبی حدیث کښې جزم سره او دې حدیث کښې شك سره حکم ولې راغلې دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① په جزم او یقین سره حکم په هغه وخت کښې واؤرولې شو کله چې دا کس موجود نه وو، او کله چې موجود وو شك کښې ئې واچولو چې هسې نه دا کس په غرور، تکبر او سستئ کښې اخته نشي.

② دخلقود احوالو تغیر سره به د وحی په ذریعه نوې نوې حکم راتلو، کله د یقین حالت وو، کله د شك حالت.

[۱۷] وفد عبد القیس ته د امور اربعو حکم او د امور اربعو مما نعت

۱۴-(۱)[۱۵] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: «إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَنِ الْقَوْمُ؟ أَوْ: مَنِ الْوَفْدُ؟" ۳ قَالُوا: رَبِيعَةُ. قَالَ: "مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ - أَوْ: بِالْوَفْدِ - غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامَى. ۴ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّا لَا نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيَكَ إِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ، وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ، ۵ فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرُهُ مَنْ وَرَاءَنَا وَنَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ، ۶ وَسَأَلُوهُ عَنِ الْأَشْرِبَةِ فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ؛

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بیان کوي چې کوم وخت وفد عبد القیس د رسول الله ﷺ په خدمت کې مدینې ته ورسیدي ۲ نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا کوم خلق دي یا داسې پوښتنه یې وکړه چې دا د کومې قبیلې وفد دي؟ (روایت کونکي ته شك شو چې حضور ﷺ دلته دقوم لفظ وفرمایلو یا د وفد) ۳ خلقو جواب ورکړو چې د قبیله ربیعه خلق دي رسول الله ﷺ وروسته وفرمایل په خیر راغلې دې وی دوی ته، او (چې تاسو خلق په خوښې سره مسلمانان کیدو سره راغلي یئ ځکه) نه په دنیا کې ستاسو د پاره رسوایي شته او نه د آخرت شرمندګي، ۴ وفدوالاؤ عرض وکړو یا رسول الله ﷺ زمونږ او ستاسو په مینځ کې د کفار مضر (مشهوره جنګ جو) قبیله پرته ده ځکه مونږ ستا په خدمت کې زر زر نه شو حاضریدي، یوازې په هغه میاشتو کې راتلي شو چې په هغه کې جنګ کول حرام دي، ۵ نو ته ﷺ د حق او باطل په مینځ کې فرق کونکې داسې حکمونه مونږ ته را که چې په هغه مونږ خپله هم عمل وکو او خلق هم د هغه څخه خبر کو، چې هغه مې ترشاه (په وطن او قوم کې) پریښې دي او په هغه باندې عمل کولو سره مونږ په جنت کې داخل شو ۶ او د دې سره هغوئ د هغه لوښو په بابت کې هم پوښتنه وکړه (چې په هغه کې نبیذ جوړیږي)، چې کوم په استعمال کې راوستې شو او کم نه شو را

(۱) اخرجه البخاری الإیمان باب أداء الخمس من الإیمان. (۵۳) ومسلم کتاب الایمان/باب الأمر بالإیمان بالله ورسوله، وشرائع الدین، والدعاء إلیه(رقم-۲۴ - (۱۷)

وستي) رسول الله ﷺ هغوئ ته د ځلورو خبرو حکم ورکړو او دځلورو خبرو څخه يي منعه کړل،

حل اللغات: ① وَفْدٌ: د وَافِدٍ جمع ده، أي رَهْطٌ كِرَامٌ: د عزت مندو خلقو يو جماعت، ② أَتَوْا: أي حَضَرُوْا: چه راغلل، حاضرشو. ③ مَرْحَبًا: مرحب مصدر ميمي دي بمعنى وسعت. [أي أصاب القوم رحبا وسعة] دا لفظ هم ددې فعل مخدوف په وجه منصوب دې. [رحب يرحب رحبا ومرحبا] ددې معنى وسعت او فراختيا ده. ④ غَيْرَ خَزَايَا: د خزيان جمع ده.او خزى د رسوائى او ذلت په معنى کښې ده.يعنى ستاسو د پاره رسوائى نشته (په دنيا کې). ⑤ لَا نَدَامَى: د ندمان جمع ده.او ددې معنى نادم او پښيمانه ده.يعنى نشته شرمندګى (په آخرت کښې). ⑥ لَا نَسْتَطِيعُ: وس او طاقت نه لرو مونږ. ⑦ الْحَيُّ: حیّ په اصل کښې د قبيلې منزل ته وائى، خو مراد ترې قبيله ده، ⑧ مُضَرَ: د قبيلې نوم دې،

[۱] أَمَرَهُمْ بِالْإِيمَانِ بِاللَّهِ وَحْدَهُ، [۲] قَالَ: (أَتَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ بِاللَّهِ وَحْدَهُ؟) قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۳] قَالَ (شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَصِيَامِ رَمَضَانَ، [۴] وَأَنْ تُعْطُوا مِنَ الْمَغْنَمِ الْخُمُسَ). [۵] وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ: عَنِ الْحَنْتَمِ، وَالدُّبَّاءِ، وَالنَّقِيرِ، وَالْمُزَفَّتِ، [۶] وَقَالَ: (احْفَظُوهُنَّ، وَأَخْبِرُوا بِهِنَّ مَنْ وَرَاءَكُمْ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ.

[۱] اول د الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ په يو والي يي د ايمان راوړلو حکم ورکړو [۲] او وي فرمايل پوهيږي چې د الله تعالى په وحدانيت دايمان راوړلو څه مطلب دي؟ هغوئ عرض وکړو الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، [۳] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (د الله په وحدانيت باندې ايمان راوړل) د دې حقيقت ګواهي کول دي چې د الله څخه ماسوا بل د عبادت لايق نشته او محمد ﷺ د هغه رسول دي، دويم دا چې په پابندئ سره مونځ کول، دريم دا چې زکوة ورکول، او څلورم د رمضان د مياشتي روژې نيول، د دې [۴] ځلورو خبرو څخه علاوه وروسته رسول الله ﷺ د مال غنيمت څخه دپنځمي حصي ورکولو حکم هم ورته وفرمايلي،[۵] او د دې څلورو (لوښو) د استعمال څخه يي منعه کړل،(اول) د شرابو د منګو (چاټو) څخه، (دويم) دکدو جوړشوي لوښوڅخه (دريم) د ونو د تنو څخه د جوړ شوو لوښو څخه، (ځلورم) د روغني کټوو څخه،[۶] او وي فرمايل دا خبري په ښه شان يادي ساتي او کوم مسلمانان چې مو وروسته په وطن کې پريښي دي هغه هم د دې خبرو څخه خبر کي.(۱) بخاري ومسلم

[1]، دا څلور لوښوي په مختلفو معنيٌ ؤ سره شارحينو تعبير کړي دي او دا څلور لوښوي چې منع يي په دي حديث کښي راغلي ده، دا يو مخصوصه قسم لوښي وو چې عربو به د شرابو جوړلواو اېښولو دپاره استعمالول، چونکه شراب حرام شوي وه ځکه يي ددي لوښو د استعمال څخه هم منع وفرمايله، خو وروسته د شرابو حرمت د مسلمانانو په زړو کښي محکم شو ....

حل اللغات: ⑨ أَتَدْرُونَ: أَيْ: أَتَعْلَمُونَ: آيا تاسو پوهيږئ؟ ⑩ أَنْ تُعْطُوا: چه ورکړئ تاسو، ⑪ الْحَنْتَمِ: د شرابو چاټئ، منگی (کوم چه به د خټې يا څرمن نه جوړې شوې وې). ⑫ الدُّبَّاءِ: وِعَاءُ الْقَرْعِ: د کدو لوښې، ⑬ النَّقِيرِ: جِذْعٌ يُنْقَرُ وَسَطُهُ: د ونې تنه به د منځ نه اوتراشلې شوه هغې لوښی ته به ئې نقير وئيلې. ⑭ الْمُزَفَّتِ: الْمَطْلِيُّ بِالزِّفْتِ: لوښې چه تارکول به ورکړې شوی وو.

د راوي مختصر تعارف: حضرت عبدالله بن عباس ﷺ د نبی کريم ﷺ د تره ځوې دې. د هجرت څخه درې کاله مخکښې مکه مکرمه کښې پيدا شوې وو، د نبی کريم ﷺ دانتقال په وخت ددوئ عمر ديارلس کاله وو. نبی کريم ددوئ دپاره د فقاهت، حکمت او دَ تفسير قرآن دعا غوښتلې وه. په دې وجه ددوئ په خبرو کښې فصاحت وو. علم کښې أعلم الناس وو. او په شکل کښې أجمل الناس وو. قد ئې اوږد وو. کله چې به پيدل تلل نو داسې به معلوميدل چې په سورلۍ باندې سوارۀ دی. دوه ځل ئې حضرت جبريل عليه السلام ليدلې وو.

حضرت عمر فاروق ﷺ به په خپل دور خلافت کښې دوئ نه په عمررسيده صحابهٔ کرامو باندې فوقيت ورکولو او ددوئ څخه به ئې مشوره اخيسته. آخری عمر کښې نابينا شوی وو. د يو اويا کالو په عمر کښې په اته شپيتمه هجری کښې وفات شو. طائف کښې دَ جامع مسجد ابن عباس په مکتبه ابن عباس کښې مدفون دی.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ:

د وفدتعريف: وفد د وافد جمع ده، لکه رکب د راکب جمع ده، وفد دهغه جرگې نوم دې کومه چې د يو قوم د طرفه په اشرافو مشتمله يو جماعت وی او يو امير او حاکم طرفته د خپل حاجت دپاره لاړ شی.

د عبدالقيس پيژندگلو: عبد القيس د ددوئ د مشر نيکه نوم وو يا د وفد د مشر نوم وو، دې وفد کښې څلويښت کسان شامل وو او ددوئ تعلق د قبيلهٔ بنی نزار سره وو. او دا د قبيلهٔ مضر مقابل وو.

د وفد د حاضرۍ په تاريخ کښې دوه اقوال: ① د حديث داکثرو علماء کرامو او شارحينو مطابق دا وفد په اتمه هجری کښې راغلې وو او دا خلق په خپله رضا او رغبت سره مسلمانان شوی وو. امام تاريخ علامه واقدی رحمه الله او قاضی عياض رحمه الله هم ددې قول تائيد کوی.

......او د دې لوښو په اړه هم دا احتمال نشو ياته چې دا لوښې خاص د شرابو د پاره جوړيږي نو د دې لوښو استعمال يې مباح وګرځولې، لهٰذا اوس دا حکم منسوخه بلل کښيږي.

④ امام مغازی ابن اسحاق رحمه الله او ابن کثیر رحمه الله وغیره د اهل تاریخ په نزد دا وفد په نهمه هجری کښې راغلې وو. ابن اثیر او تاریخ خمیس والا وائی چې دا وفد په لسمه هجری راغلې وو.

په قولینو کښې تطبیق: د تحقیق څخه وروسته دا خبره راجحه معلومیږی چې دا وفد دوه ځله د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وو. یو ځل په پنځمه هجری کښې او په دویم ځل په نهمه هجری کښې حاضر شوې وو.

د وفد عبدالقیس د راتلو سبب: د دې خلقو ایمان راوړل څنګه ممکن شو دا د یوې واقعې په نیتجه کښې اوشو هغه واقعه دا ده.

د منقذ بن حیان ایمان راوړل: د بحرین خلق تاجران وو. دوئ کښې یو تاجر منقذ بن حیان د تجارت په غرض مدینې منورې ته راغلې وو. نبی کریم ﷺ سره ددوئ ملاقات اوشو نو نبی کریم ﷺ ددوئ څخه د بحرین د شرفاؤ حالات ډیر په شوق معلوم کړل. او د یو صاحب منذر بن عائذ حالات ئې په خصوصیت سره معلوم کړل. نبی کریم منقذ بن حیان ته د اسلام دعوت ورکړو، هغه مسلمان شو او د اسلام ضروری څیزونو زده کولو څخه ورستو واپس وطن ته لاړو. نبی کریم ﷺ دوئ ته د بحرین د سردارانو په نا مه خطوط ورکړل. منقذ بن حیان دې خطونو سره بحرین ته اورسیدو او منذر بن عائذ باشج عبدالقیس ته ئې حواله کړل.

د اشج بن عبدالقیس اسلام قبلول: منقذ بن حیان دَ اشج عبد القیس زوم وو. ددوئ بی بی د اشج لور وه. کله چې به منقذ بن حیان عبادت کولو نو هغې به دې لیدلو او په دې به حیرانیده. هغې ددې ذکر خپل پلار اشج ته اوکړو چې زما خاوند کله راسې د مدینې منورې څخه راغلې دې نو هغه عجیبه عیجبه عبادتونه کوی. اشج چې کله د نبی کریم خط اولوستو او د لور څخه داسلام باره کښې ئی واؤریدل نو مسلمان شو. بیا هغه دا خط په ډله کښې اولوستو نو دې سره خلق اسلام کښې داخل شو. او بیا د نبی کریم په خدمت کښې حاضر شو. دې ځل دې وفد کښې دیارلس کسان وو.

داشج ذکاوت: مدینې ته په رسیدو ټولو زر زر نبی کریم ﷺ ته سلام اوکړو. د لاس څخه ئی بوسې واخستې. خواشج اول د ملګرو سامان محفوظ کړو، بیا ئې اوښان اوتړل، بیا ئې نوې کپړې واغوستې او ډیر په وقار سره د نبی کریم په خدمت کښې حاضر شو. د لاس مبارک څخه ئې بوسه واخسته. شکل و شباهت ئې ښه نه وو، کله چې ورته نبی کریم تعجب سره اوکتل نو وې فرمائیل چې یارسول الله ﷺ چې د انسان دا څرمن خو دَ مشکیزې په شان ده، اصل انسان خو دا نه دې. حقیقت کښې ,,الإنسان بأصغريه،، یعنی انسان د دوؤ وړوکو اندامونو په وجه سره انسان دې. او هغه زړه او ژبه دی.

د اشج د دوؤ خصلتونو ستائنه: نبی کریم ﷺ أشج ته اوفرمائیل چې په تا کښې دوه خصلتونه دی کوم چې الله اودهغه رسول ﷺ ته ډیر خوښ دی. هوښیارتوب او صبر. اشج تپوس اوکړو چې یارسول الله ﷺ دا خصلتونه پیدائشی دی که ما اختیار کړی دی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې په تا کښې دا پیدائشی طور دی. نو په دې هغه ډیر خوشحاله شو او بیا ئې اووئیل چې [الحمدلله الذي جبلني على خليقتين يحبهما الله ورسوله].

د دربار رسالت څخه داشج لقب ملاویدل: چونکه د منذر بن عائذ په مخ باندې د زخم نشان وو، نو نبی کریم هغه ته د اشج لقب ورکړو. نووی ؒ فرمائی چې منذر بن عائذ ته د اشج لقب نبی کریم ﷺ ورکړې وو، بیا هغه په اشج عبدالقیس مشهور شو.

قوله: مَنِ الْقَوْمُ؟أَوْ:مَنِ الْوَفْدُ؟:

دحدیث په نقل کولوکښې د صحابؤ احتیاط: دې کلام کښې راوی ته شك دې چې نبی کریم من القوم فرمائیلی وو او که من الوفد. دا د صحابه کرامو ډیر زیات احتیاط او دهغوئ اعلی ذهانت، امانت او دنبی کریم ﷺ سره مینه وه چې تلفظ کښې به ئې تغیر نه خوښولو. لفظ أونه پس قال وئیلې کیږی.

د رسول الله ﷺ د تپوس کولودوه احتمالات: ① د نبی کریم ﷺ دهغه خلقو څخه دا سوال د طلب استیناس په غرض وو. دا د نبی کریم ﷺ عام عادت وو کوم کښې چې سراسر محبت وو. ② د نبی کریم ﷺ دهغه خلقو څخه دا سوال د تعارف دپاره وو

قوله: غَيْرَخَزَايَاوَلَانَدَامَى:

د ندامی لغوی تحقیق: په دې حدیث کښې ندامی د نادم په معنی کښې استعمال شوې ده.ځینې ندامی ته د نادم جمع وئیلې ده خو دا قید ئې لګولې دې چې دا خلاف القیاس دی. ځکه چې د نادم جمع د قیاس مطابق نادمین ده. بهر حال د خزایا هم وزن جوړولو دپاره ئې ندامی راوړې دې. ګنی نادمین به ئې راوړې وې،

دَ هم وزن خیال په عربی. کښې ساتلې شی. لکه عشایا دپاره غدایا راوړلې کیږی حالانکه د غداة جمع غدوات ده، غدایا نه ده. همداشان د لادریت د رعایت دپاره لادریت ولا تلیت راوړلې شوې دې. حالانکه دا لا تلوت دې خو د ګواند خیال ساتلې کیږی.

د غیرندامی څخه مقصود: نبی کریم ﷺ دې وفد ته دا وئیل غوښتل چې ښهٔ ده چې تاسو سره زمونږ جنګ نه دې شوې، د جنګ څخه مو وړاندې اسلام قبول کړو، نو د جنګ د رسوائی څخه بچ شوئی. دارنګ د جنګ نه کیدو په صورت کښې پښیمانی اوچتول هم رانغلل. ګنی که جنګ شوې وې نو خلق به مړهٔ شوی وو یا بهٔ ګرفتار شوی وو، نو پښیمانتیا به وه چې کاش مونږ مسلمانانو سره جنګ نه وې کړې.

قوله: إِلَّافِي الشَّهْرِالْحَرَامِ:

د الف لام په نوعيت کښې دوه اقوال: ① دلته الشهر کښې الف لام جنس دپاره دې، ددې اطلاق په قليل اوکثير باندې کيږي. نو اشهر الحرام څخه د د تقدس او احترام څلور مياشتې مراد دی. ددې تائيد بخاري اومسلم څخه کيږي، هلته اشهر الحرام دجمع لفظ دې.
② دبعضې شارحينو په نيز دلته الف لام د عهد دپاره دی.او معهود په کښې د رجب مياشت ده.دوی فرمائی چې د مضر قبيلې به د رجب ډير زيات احترام کولو تر دې چې د رجب نوم ئی رجب مضر کيخودلې ددې رائې تائيد د بيهقی او ابوبکره روايت څخه هم کيږي چې الشهر الحرام څخه مراد رجب مضر دې،

اشکال: په نهمه هجری کښې جزيره عرب آزاد شوې وو، بيا دې خلقو د مضر د جنگ او د لارې خبره ولې راپورته کړه؟

داشکال جواب: وفد يو ځل په شپږمه هجری کښې راغلې وو، دا دهغه وخت خبره ده. په هغه وخت کښې قبيلهٔ مضر نه وو مسلمانان شوی.

قوله: فَمُرْنَابِأَمْرٍفَصْلٍ:

د فصل په مطلب کښې دوه اقوال: ① دفصل يو مطلب خو دا کيديشی چې دا دفاصل په معنی کښې دې کوم چې د حق او باطل په مينځ کښې فيصله کن امر وی
② فصل د مفعول ومفصل په معنی کښې دې چې مونږ ته ښهٔ په تفصيل سره بيان کړه چې مونږ بل چاته محتاج پاتې نه شو.

قوله: نُخْبِرْهُ مَنْ وَرَاءَنَا:

د تبليغ اهميت: يعنی مونږ به دا واضح احکامات خپل قوم ته وړاندې کړو. ددې څخه د اشا[illegible]ت ددين اهميت واضح کيږي. او د تبليغ د ذمه دارئ احساس هم معلوميږي. خو اول [illegible]زده کړې اوبيا د تللو په اصولو باندې عمل کول پکار دی.

[illegible]وله: وَنَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ:

د نخبر اوندخل په ترکيب کښې احتمالات: ①نخبر وندخل دواړه فعل مجزوم هم دی ځکه چه دا مرنا د أمر په جواب کښې راغلی دی،
② دواړه د جملې مستانفې په صورت کښې مرفوع هم دی.

د دخولِ جنت څخه مراد: دخول جنت څخه مراد دادې چې مونږ دالله تعالی د رضا خاص مقام غواړو کوم چې جنت دې. ځکه چې جنت دالله تعالی د رضا د مجموعې نوم دې.
په دې وضاحت سره دا اعتراض نه راځی چې عمل خو د دخول جنت مؤثره ذريعه نه ده، مؤثر علت خو دالله تعالی رحمت دې، عمل خو صرف وسيله ده، بيا هم د نفس جنت سوال

کول هم جائز دی. ځکه چې هغه هم مامور به حکم دې خو د اعلی خلوص خبره بیله ده..

قوله: فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ:

په اجمال اوتفصيل کښې د عدمِ مطابقت اشکال: په حدیث کښې په اجمال کښې د څلورو څیزونو اوکړې شوه چې [فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ] خو په تفصیل کښې د پنځو څیزونو ذکر دې. یعنی د ایمان، مونځ، روژې، زکوة، إعطاء خمس. دا پنځه څیزونه دی او که تفصیل واجمال یو دې نو بیا صرف د ایمان ذکر اوشو او هم ددې د فروعاتو ذکر راغلو، او د څلورو څیزونو وعده پورا نه شوه؟

دااشکال څلور جوابونه: ① شهادت لره امر اول شمیرکړئ، مونځ، زکوة، روژه دا څلور شو. او د خمس د جواز چې کوم ذکر راغلې دې د هغې عطف امرهم باندې دې. عبارت داشان دې [أمرهم بأربع وأمرهم أن تعطوا من المغنم الخمس] نو د خمس ذکر په شمیر کښې د ننه نشته دې. بلکه د وفد په ماموراتو کښې دې چې دا اوکړئ، او خمس ادا کړئ. دا دوه جوابونه ټولو څخه بهترین دی او قابل اعتماد دی.

② نبی کریم ﷺ دوئ سره د څلورو څیزونو وعده فرمائیلې وه او [وَإِقَامُ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ، وَصَوْمُ رَمَضَانَ، وَتُعْطُوا مِن الْخُمُسَ] پورې ئې څلور څیزونه بیان اوفرمائیل. پاتې شو شهادتین نو هغه د توطیه او تمهید او تبرک په طور وو ځکه چې داخلق د اول څخه مسلمانان وو، ددوئ دپاره د شهادتینو ذکر صرف د تبرك په طور کیدې شو، ددې تائید د بخاری روایت سره کیږی، چرته چې د شهادتینو ذکر نشته دې، دبخاری الفاظ دا دی.,,

عن ابْنِ عَبَّاسٍ فقال علیه السلام: أربع و أربع: وَأَقِيمُوا الصَّلَاةِ، وَاٰتوا الزَّكَاةِ، وَصَوْمُ رَمَضَانَ، وَأَعْطُوا الْخُمُسَ ماأغنتم الخ ،،

ددې روایت نه په واضحه توګه معلومیږی چې د شهادتین ذکر د څلورو څیزونو په وعده کښې نه دې.کوم ځائې کښې چې ذکر شوې دې هلته د تبرك، توطیه وتمهید په طور شوې دې.

③ د شهادتینو څخه تر خمس پورې څلور څیزونه نبی کریم ﷺ ذکر اوفرمائیل او د مال غنیمت او خمس ذکر ئې د اضافي په طور ددې وفد مناسبت سره ددوئ دپاره اوکړو چې دا خلق قبیلهٔ مضر سره د جنګ په میدان کښې وو، هغوئ ته ددې حکم ضرورت وو.

④ نبی کریم ﷺ د څلورو څیزونوشمیر کړې وو، خو یو راوی اختصار اوکړو ټول ئې پریښودی دی او د ایمان دَ اجمال وتفصیل ذکر ئې او کړو. دا عجیبه جواب دې.

په حديث کښې د حج د عدمِ ذکر وجه:
دې حديث پاك کښې دحج ذكر نشته دې ځکه چې حج په نهمه حجرئ کښې فرض شوې وو. او وفد عبدالقيس يو ځل د نهمې هجرئ ځخه وړاندې راغلې وو.

قوله: وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ:

د نبی علیه السلام د جواب مقصود: او د جواب ځخه معلومیږی چې نبی کریم ﷺ ګویا اوفرمائيل چې تاسو دمشروب باره کښې تپوس کوئی ځه خو ددې مشروباتو لوښی هم جائز نه ګڼړم کومو کښې چې دشرابو ايښودلو اوځکلو عمل شوې وو. ځکه چې دا لوښی مذکرات دی، ددې ځخه منع کول هم تاکيدی حکم دې چې د شرابو ځخه مکمل منع او پرهيز اوشی. هرکله چې ددې نفرت د صحابه کرامو په زړ ونو کښې کيناستو نو بيا د لوښو د ايښودلو اجازت هم ملاؤ شو. بهرحال اشربه بحذف مضاف ده، [أي عن ظروف الأشربة] ځکه چې دا خلق مسلمانان وو، د شرابو د حرمت د اول ځخه قائل وو.

دځلور قسمه لوښو ځخه د منع کولو علت: نبی کریم ﷺ هغوئ د ځلور قسمه داسې لوښو ځخه منع کړل کومو کښې چې هغوئ شراب جوړول. دهغې مسامات به بند وو. او هغې کښې به ډير زر شراب جوړيدل. او زر به سکر پرې راتللو نو په شروع کښې په دې کښې دنبيذو جوړلو ځخه هم ممانعت وو چې هسې نه دوباره شراب جوړول شروع شی، دا ټول ځلور لوښی وو.

قوله: الْحَنْتَمِ:

د حنتم په تفسير کښې شپږ اقوال:
امام نووی رحمه الله ددې په تفسير کښې شپږ اقوال نقل کړی دی:

① د ټولو نه صحيح او قوی قول دا دې چه شين رنګ چاټئ ته وئيلې شی.دا قول په صحيح مسلم کښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه منقول دې.هم دا د حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه قول دې.اکثرو عالمانو، ډيرو لغوی حضراتو، او محدثينو او فقهاء هم دا اختيار کړې دې.([1])

② دويم قول دا دې.چه ،،حنتم،، هرقسمه چاټئ ته وئيلې شی.دا د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ، د سعيد بن جبير، او ابو سلمه رحمهماالله نه منقول دې.([2])

[1]) شرح نووی (۱\۳٤) كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله تعالى ورسوله ﷺ)_
[2]) المصدرالسابق)_

③ دریم قول دا دې.چه دا مخصوص قسم چاټئ وې.چه دا به دمصر نه راوړلې کیدې.دا د حضرت انس رضی الله عنه نه نقل دی.ابن ابی لیلی هم د ،،حنتم،، یو تفسیر هم دا بیان کړې دې.البته دوی د سور رنګ قید لګولې دې.(۱)

④ څلورم قول دا دې.چه دا د سور رنګ خاص چاټئ دی.چه ددې خوله په یو اړخ کښې وی.په دې کښې به د مصر نه شراب درآمد (راغوښتلی) کولې شو.دا قول د حضرت عائشه رضی الله عنها نه منقول دې.(۲)

⑤ د ابن ابی لیلی رحمه الله نه یوتفسیر هم دا منقول دې.چه هغه چاټئ چه د هغې خولې په ډډه کښې وې.او په دې کښې به طائف نه شراب درآمد کولی شو.بعضو خلقو به په دې کښې نبیذ تیارول.چه په دې به شرابو سره مشابهت کیدو. (۳)

⑥ شپږم قول دا دې.چه دا خاص قسم چاټئ وې.چه دا به خاوره، ویخته، او وینې ملاوولو سره تیارولې شوې.دا د عطاء رحمه الله نه منقول دې.(۴)

قوله: وَالدُّبَّاءِ:

ددباء لغوی معنی: کدو چه به کله اوچ شو.نو ددې د مینځ نه به ئې زړی (او کچره) اوبنکله.او بعضو وختونو کښې به ئې د کچه نه زړی اوبنکل.او دا به ئې اوچول.او په دې کښې به ئې نبیذ تیارول. (۵)

قوله: وَالنَّقِيرِ:

د نقیر لغوی وضاحت:

دا د ،منقور،، په معنی کښې دې.د کجورې بیخ (تنه) به ئې کنستله.او لوخې به ئې جوړولو. هغې ته ،،نقیر،، وائی.(۱)بعضې حضرات وائی.چه مطلقاً لرګې یا د ونې تنه به ئې کنستله.او لوخې به ئې جوړولو.هغې ته ،،نقیر،، وائی.(۷)

قوله: الْمُزَفَّتِ:

دمزفت لغوی تحقیق: داهغه لوښې وو کوم باندې چې به خلقو تور تارکول لګول. یعنی روغن زفت یا روغن قار کوم چې په کشتو باندې لګولې کیږی او دجاهلت په زمانه کښې

---

۱) المصدرالسابق)_
۲) المصدرالسابق)_
۳) المصدرالسابق)_
۴) المصدرالسابق)_
۵) شرح نووی (۱\۳٤)-
۶) أعلام الحدیث (۱\۱۸۶)_
۷) شرح نووی (۱\۳٤)_

به د شرابو په دې لوښو باندې لګولې کيدل ځکه چې ددې مسامات بند شي. دا هم روغني لوښې دې.

د مذکوره لوښو په استعمال کښې دوه مذاهب:

① احناف فرمائي چې په شروع کښې دشرابو ددې لوښو هم حرمت وو. بيا اجازت ملاؤ شو،
② دَ امام مالك رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز دَ دغه لوښو استعمال اوس هم ناجائز دې.

داول فريق دليل: دوی دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما يوقول او فتویٰ اخلي چه هغوی منع کړې ده.

داول فريق د دليل جواب: دَ صحيح احاديثو نه په واضحه توګه دامعلوميږي چه دا ممانعت روستو ختم کړې شوې وو. لهذا دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په قول کښې به تاويل کولې شي چه کيدې شي هغوی ته دَ نسخ علم نه وی شوې.

د دويم فريق دليل: ددوی مستدل دا حديث دې «وَنَهَيْتُكُمْ عَنِ النَّبِيذِ إِلَّا فِي سِقَاءٍ، فَاشْرَبُوا فِي الْأَسْقِيَةِ كُلِّهَا، وَلَا تَشْرَبُوا مُسْكِرًا» (١)

[١٨] د صحابو د نبی عليه السلام سره په څو خبرو بيعت

١٨ – (٢)[١٦] ١ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ: (٣ «بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا، وَلَا تَسْرِقُوا، وَلَا تَزْنُوا، ٤ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ، وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ، ٥ وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ. فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ، ٦ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ بِهِ فِي الدُّنْيَا، فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ، ٧ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا، ثُمَّ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا ٨ فَهُوَ إِلَى اللَّهِ، إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ») ٩ فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه وايي ٢ يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابه ؤ رضي الله عنهم جماعت ته چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ګيرچاپيره ناست وو ٣ (په مخاطب کولو سره) وفرمايل چې زما سره په دې خبرو باندې بيعت (عهد او اقرار) وکړئ چې د الله تعالىٰ جل جلاله سره به څوك نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، (د غريبئ د ويرې څخه به ٤ خپل ماشومان نه قتلوئ، قصداً به په چا بهتان نه وايئ ٥ او د شريعت مطابق چې

---

(١) اخرجه مسلم فى كتاب الجنائز/باب استئذان النبى صلى الله عليه وسلم ربه عز وجل فى زيارة قبر أمه (رقم) ١٠٦ - (٩٧٧) وابوداود فى السنن كتاب الأشربة/باب فى الأوعية(رقم-٣٦٩٨) والنسائى كتاب الجنائز/زيارة القبور(رقم-٢٠٣٢) واحمد فى المسند ١٤٥/١

(٢) اخرجه البخارى الإيمان باب علامة الإيمان حب الأنصار. (رقم: ١٨) ومسلم فى كتاب الحدود باب الحدود كفارات لأهلها(رقم-٤١ - (١٧٠٩) والنسائى كتاب البيعة/جزاء من أمر بمعصية فأطاع (رقم-٤٢٠٥) واحمد فى مسنده ٣١٤/٥.

تاسو ته کوم احکام درکړم د هغوئ نافرماني به نه کوئ، بس په تاسو کې چې کوم سړي دا عهد واقرار پوره کړ د هغه اجر د الله په ذمه دي (چې په آخرت کې به يې په خپلو انعاماتو سره ونازوي) ⑥او کوم سړي چې (ماسوا د شرك څخه) په څه ګناه کې اخته شي او بيا په دنيا کې هغه ته د هغي ګناه سزا هم ورکول شي (لکه حد وغيره جاري شي) نو دا سزا به د هغه (ګناه) کفاره شي ⑦او که الله تعالى په هغه کې د څه شي د ارتکاب کونکي دګناه پرده پوشي وفرمايله (او په دنيا کې يې هغه ته سزا ورنه کړله) ⑧نو اوس به دا د الله تعالى په مرضي منحصروي که غواړي نو هغه دخپل فضل د مخه به په آخرت کې هم ورته معافي وکړي او که غواړي نو عذاب به ورکړي، ⑨ (روايت کونکي وايي چې) مونږ په دي ټولو شرطونو باندې د رسول الله ﷺ سره بيعت (لاس نيوي) اوکړي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ①بَايَعُونِي : أَيْ عَاقِدُونِي وَعَاهَدُونِي: بيعت يعنى عهد او اقرار ئې راسره اوکړو. ②لَا تَسْرِقُوا: وَهُوَ أَخْذُ مَالِ الْغَيْرِ مُحْرَزًا بِخُفْيَةٍ: د بل چا محفوظ مال په پټه اخستلو ته سرقه (غلا) وائى، سرقه يعنى غلا مه کوئ. ③بِبُهْتَانٍ : وَهُوَ الْكَذِبُ الَّذِي يَبْهَتُ سَامِعَهُ: چا باندې داسې دروغ تړل چه اوريدونکي حيران پاتې شي هغې ته بهتان وائى. ④تَفْتَرُونَهُ : أَيْ تَخْتَلِقُونَهُ: چه تاسو ئې دځانه جوړ کړئ ⑤بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ: أَيْ مِنْ عِنْدِ أَنْفُسِكُمْ: يعنى دخپل ځانه پرې دروغ جوړ کړئ. ⑥مَعْرُوفٍ: مَا عُرِفَ فِي الشَّرْعِ: څه چه په شريعت کښې خودلی شوی وی چې دې کولوکښې ثواب دې يا په دې کښې ګناه ده هغې ته معروف وائى. ⑦وَفَى: پوره ئې کړی، عمل پرې اوکړی، ⑧فَعُوقِبَ: يَعْنِي أُقِيمَ عَلَيْهِ الْحَدُّ: سزا به ورکولې شي يعنى حد وغيره. ⑨كَفَّارَةٌ : أَيْ يُكَفِّرُ إِثْمَ ذَلِكَ: يعنى دغه ګناه به ئې معاف شي (په آخرت کښې به سزا نه ورکولې کيږي، سوا د شرک نه). ⑩سَتَرَهُ اللَّهُ: الله تعالى دغه ګناه پټه اوساتله او ده ته پرې شرعى سزا ورنکړې شوه.

د راوي مختصر تعارف: عبادة: چرته هم چه راځي نود فُعَاله عجاله په وزن به راځي. مګر د امام بخاری شيخ محمدبن عباده واسطی رحمه الله کښې به داسې نه وی. هلته عين مفتوح دې. د حضرت عباده رضي الله عنه کنيت ابوالوليد انصاری دې. دې د نقباء نه دې. په عقبه اولی، ثانيه او ثالثه دريواړو کښې شريك دې. دغه شان بدر او نورو ټولو غزواتوکښې هم شريك شوې دې. حضرت عمر رضي الله عنه هغه د شام قاضی جوړکړې وو. دې په حمص کښې پاتې شوې دې بيا فلسطين ته لاړو او رمله بيت المقدس کښې ٣٤هجری کښې وفات شو. دهغوی عمر ۷۲کاله وو.

تسهيلات:

قوله: وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ:

دعصابة اطلاق: ددې اطلاق دلسو نه ترځلويښتو پورې کيږي.اوکله مجازاً د ځلويښتو نه په زياتو باندې هم ددې اطلاق کيږي.

د رهط اطلاق: دنسائی شریف په یو روایت کښې دی.چه دلته د ،،عصابة،، په ځائې د ،، رهط،، لفظ هم راغلې دې.اوددې اطلاق د دریو نه واخله ترلسو پورې کیږی.

قوله: بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا:

دبیعت مفهوم: بیعت په اصل کښې وعده او معاهده وی.چه دالله رسول یا هغه کس چه د الله د رسول تابعدار وی.دهغه پوره تابعداری اوکړې شی.

دنبی علیه السلام په مختلفوخبرو بیعت اخستل: د نبی ﷺ په لاس باندې په مختلفو طریقو بیعت شوې دې.

① رسول الله ﷺ په مرګ باندې هم بیعت اخستې وو.(۱) ددې مطلب هم هغه بیعت علی الجهاد دې.چه مونږ به د الله تعالی د دین اوچتولو دپاره د کافرانو سره جنګ کوو.تردې چه مونږ ته مرګ راشی.یا دالله تعالی دین غالب شی.

② د صلاة او زکاة د پابندئ دپاره هم نبی ﷺ بیعت اخستې دې.(۲)

③ د فواحشو او منکراتوپه ترک باندې ئې هم بیعت اخستې وو.(۳)

④ د هرمسلمان په خیګړه باندې(۴)

⑤ دکلمه حق په ادا کولو.او د عدم کتمان حق باندې بیعت اخستې دې. (۵)

د مذکوره بیعت په تاریخ وقوع کښې مختلف اقوال:

① د قاضی عیاض رحمه الله اوددوی د متبعینو رائې دا ده.چه دا بیعت العقبة د هجرت نه وړاندې په لیلة العقبه کښې واقع شوې وو.(۶)

② دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده.چه دا بیعت د لیلة العقبه په شکل یوبل بیعت دې.کوم چه د هجرت بلکه د فتح مکه نه پس واقع شوې دې.(۷)

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا بیعت،بیعت دلیلة العقبه وو.

نوټ: حافظ بن حجر اوعلامه عینی په خپله دعوی باندې مختلف دلائل پیش کړی دی که څوک شوق لری نو کشف الباری طرف ته دې رجوع اوکړی.

(۱) سنن نسائی (۱۱۸۰) کتاب البیعة باب البیعة علی النصح لکل مسلم)_
(۲) سنن نسائی (۱۸۲\۱۲) کتاب البیعة باب البیعة علی فراق المشرک)_
(۳) کما فی حدیث الباب)_
(۴) سنن نسائی (۱۸۰\۱۲) کتاب البیعة باب البیعة علی النصح لکل مسلم)_
(۵) سنن نسائی (۱۸۰\۱۲) کتاب البیعة باب البیعة علی النصح لکل مسلم)_
(۶) فتح الباری(۶۶\۱)_
(۷) پورته حواله)_

قوله: وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ: خپل بچي مه قتلوئ.

دبچو د قتلولو قباحت وجوه: په عربو کښې دبچو قتلولويو رواج وو.هغوی به خپل بچي ژوندي ښخول. نو نبي کريم ﷺ ددې نه منع اوکړله.

① قتل فی نفسه يو لوې جرم دې.

② ماشومان بې ګناه دی.

③ دويم دا چه دا ډيرشنيع فعل دې.چه ژوندي په قبر کښې دفن کولې شي.

④ په دې کښې دقتل سره دصله رحمئ کټ کول دی.

⑤ ماشومان غريبانان کمزوري وي.هغوی داسې نه وي.چه مزاحمت او مقابله اوکړي. اوخپل ځان بچ کړي.هسې هم د بې ګناه قتل په هرصورت کښې ناجائزدې.که اولاد وي اوکه غيراولادوي.([1])

قوله: وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ:

اوتاسوداسې بهتان مه لګوئ.کوم چه تاسودخپلو لاسونو اوپښوپه مينځ کښې جوړ کړې وي.بهتان هغه دروغو ته وائی.کوم چه اوريدونکې چپ کړي.([2])

د تفترونه په زيادت باندې اشکال: صرف ،،لاتأتوا ببهتان،، وئيل کافی وو.د ،،تفترونه،، راوړلو څه ضرورت وو؟

داشکال جواب: ددې فعل شنيع د مزيد قباحت اوشناعت ښکاره کولو دپاره داطناب دا طريقه اختيار کړې شوه.([3])

دبين أيديکم وأرجلکم مختلف معانی: ① علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه ددې مطلب دادې.،،لاتأتوا ببهتان من قبل أنفسکم،، او ،،أيدی،، او،،ارجلکم،، د ذات نه کنايه ده.ځکه چه اکثرافعال هم ددې نه صادريږي.کله داسې کيږي. چه سړی ته دقولی جنايت دوجې سزا ملاويږي. خوونيلې شي.،،هذا بما کسبت يداك،، ([4])

② يومطلب دا بيان شوې دې.چه د ،،مابين الأيدی والأرجل،، جوړ شوې بهتان نه زړه مراد دې.اومطلب دادې.چه په خپل زړه کښې په چا باندې بهتان مه لګوئ. ([5])

---

[1]) فتح الباری(۱/۶۴، ۶۵) عمدة القاری(۱/۱۵۹)_

[2]) شرح کرمانی(۱/۱۰۶)_

[3]) شرح کرمانی (۱/۱۰۶)_

[4]) شرح کرمانی(۱/۱۰۶)_

[5]) شرح کرمانی(۱/۱۰۶)_

③ امام خطابی رحمه الله فرمائی.چه،،بین أیدیکم وأرجلکم،، نه مراد دا دي.چه،،لاتبهتوا الناس بالمعایب کفاحا مواجهة،، یعنی په خلقو باندې مخامخ په مخامخ بهتان مه لګوئ.اودا داسې دی.لکه چه وئیلی شی.،،فعلت هذا بین یدیك،،.[1]

④ علامه تیمی رحمه الله په دې باندې اعتراض کړې دې.اوفرمائیلی ئې دی.چه دا صحیح نه ده. ځکه چه عربیان دا خووائی.چه،،فعلته بین أیدی القوم،، خو دا نه وائی. چه،،فعلته بین أرجلهم،،ددوی نه دا چرته منقول نه دی.[2]

⑤ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه دعلامه خطابی رحمه الله قول ته غلط وئیل ټیك نه دی. ځکه چه دا خو صحیح دی.چه،،فعلته بین أرجلهم،، نه وائی.خوپه،،فعلته بین أیدی القوم وأرجلهم،، وئیلو کښې څه قباحت نشته.لکه چه مراد او مقصود خو د،،أیدی،، ذکر دې.او،،ارجل،،د تاکید دپاره راوړلې شوې دې.[3]

⑥ عارف ابن ابی جمره رحمه الله فرمائی.چه کیدې شی.د،،بین أیدیکم،، نه مراد حال وی.اود،،بین أرجلکم،، نه مراد مستقبل وی.دوی اشاره کړې ده په،،بین أیدیکم،، سره دې خبرې ته چه فی الحال هم تاسو بهتان مه لګوئ.او په،،أرجلکم،، کښې اشاره ده روانیدو ته،اومطلب دا دې. چه ددې ځائې نه بل خواه ته لاړ شئ.نوهم په مستقبل کښې په بل وخت کښې بهتان مه لګوئ.[4]

قوله: وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ:

د معروف په تعریف کښې پنځه اقوال: ① بعضوفرمائیلی دی.چه معروف دې ته وائی.،،ما عرف حسنه من الشارع أمراً اونهیاً،،[5] یعنی د کوم څیزحسن چه د شارع نه معلوم وی.برابره ده که د امرد قبلیې څنی وی اوکه دنهی څنی.

② بعضو فرمائیلی دی.چه دمعروف معنی مشهور ده.یعنی د شارع نه ددغه کار کول ثابت او مشهور وی.[6] بعضې فرمائی.چه ددې نه مراد طاعات دی.[7]

---

[1] شرح کرمانی(۱۰۶۱۱)_
[2] شرح کرمانی(۱۰۶۱۱)_
[3] شرح کرمانی (۱۰۶۱۱)_
[4] فتح الباری (۶۵۱۱)_ وعمدة القاری (۱۶۰۱۱)
[5] فتح الباری (۶۵۱۱)_
[6] عمدة القاری (۱۵۵۱۱)_
[7] عمدة القاری(۱۵۵۱۱)_

③ بعضو فرمائیلی دی.چه ددې نه مراد ،بر، او تقوی ده.(۱)

④ بعضو فرمائیلی دی.چه، ،هوما لم ینه الشارع فیه،، یعنی هغه څیزچه په هغې کښې د شارع د طرفه نهی نه وی راغلې.(۲)

⑤ صاحب د ،،النهایه،، ابن الاثیر رحمه الله فرمائی.چه، ،وهو اسم جامع لکل ما عرف من طاعة الله والتقرب إلیه والإحسان إلی الناس، وکل ماندب إلیه الشرع ونهی عنه من المحسنات والمقبحات،،(۳)

یعنی معروف یوه جامع کلمه ده.کومه چه ټولو امورو شرعیه ته شامل ده.برابره ده که هغه فرائض وی اوکه مندوبات وی.که اخلاق او آداب وی اوکه هغه امور وی.دکومو نه چه شریعت مطهره منع کړې ده.

اشکال: رسول الله ﷺ صرف د معروف حکم کوی. نوبیا ئې دا څنګه اوفرمائیل.چه په نیکئ کښې زما نافرمانی مه کوئ.

داشکال جواب: په اصل کښې نبی کریم ﷺ دا دې پورتنئ قاعدې ته د اشاره کولو دپاره فرمائیلې دی.چه، ،لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق،،(۴)

اشکال: نبی ﷺ ، ،لاتشرکوا بالله شیأ، ولاتسرقوا، ولاتزنوا، ولا تقتلوا أولادکم ولاتأتوا ببهتان تفترونه بین أیدیکم وأرجلکم ولا تعصوا فی معروف،، ذکراوکړلو.دا ټول منهیات دی.د اوامرو،فرائضو واجباتو نبی ﷺ ذکراونکړل.دا خو نامکمله بیعت دې؟

داشکال جواب: دغور کولوضرورت دې.څکه چه نبی ﷺ ، ،ولاتعصوا فی معروف،، فرمائیلی دی.ددې معنی دا ده.چه دکوم څیز زه حکم ورکوم.هغه به معروف وی.اودهغې کول به ضروری وی.نوپه دې کښې مونځ روژه حج زکاة اوټول فرائض او واجبات راغلل.(۵)

قوله: فَمَنْ وَفَی مِنْکُمْ فَأَجْرُهُ عَلَی اللّٰهِ:

کوم کس چه په تاسوکښې د دې بیعت تقاضې پوره کړی.اوپه خپلووعدو اومعاهدو باندې وفا اوکړی.نودهغه اجرپه الله تعالی باندې دې.

په الله تعالی باندې د اجر د وجوب نوعیت: یاد ساتئ چه دا وجوب استحسانی دې.وجوب

(۱) عمدة القاری(۱\۱۵۵)_
(۲) عمدة القاری (۱\۱۵۵)_
(۳) النهایة لابن الأثیر رحمه الله (۳\۲۱۶) مادة (عرف)_
(۴) فتح الباری(۱\۶۵)_
(۵) فتح الباری(۱\۶۵) وعمدة القاری(۱\۱۶۰)_

حتمی نه دي.په الله تعالى باندې څه څیز واجب نه دې.(۱)هغه مختار کل دې.

﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴾ (۲)

دا بیله خبره ده چه هغه کومه خبره اوکړي نودهغې پوره کول یقینی خبره ده. په دې تیقن باندې دلالت دپاره د ،،علی،، صیغه استعمال شوې ده.لکه چه دا خودلی شی.که تاسو وعده پوره کړئ.اود بیعت په مقتضی باندې عمل اوکړئ. نودالله تعالی د طرفه اجر اوثواب یقینی دې.الله تعالی استحساناً په خپل ځان باندې دا واجب کړې دې.

قوله: وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ:

کوم کس چه په دې ګناهونوکښې د یوې ارتکاب اوکړی.اوبیا هغه ته په دنیا کښې سزا ورکړې شی.نوهغه به دده دپاره کفاره شی.

نوټ: په دې مقام کښې شارحینو دا مسئله چیړلې ده چې حدود کفارات دی اوکه زواجرچونکه دا کتاب الایمان دې اودا مسئله د کتاب الحدود ده، ددې وجې مونږ په کتاب الحدود کښې دا مسئله د ,,د حدودو کفارات کیدو کښې (۲) مذاهب،، په عنوان سره بیان کړې ده هلته رجوع اوکړئ.

[۱۹] ښځوته د نبی علیه السلام وعظ او نصیحت

۱۹ ـ (۳)[۱۷] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي أَضْحًى أَوْ فِطْرٍ إِلَى الْمُصَلَّى، [۲] فَمَرَّ عَلَى النِّسَاءِ [۳] فَقَالَ: ((يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ، فَإِنِّي أُرِيتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ)، [۴] فَقُلْنَ: وَبِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ [۵] قَالَ (تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ، [۶] مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ) [۷] قُلْنَ: مَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ [۸] قَالَ: (أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ؟) [۹] قُلْنَ: بَلَى، قَالَ: (فَذَلِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا) [۱۰] قَالَ: أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ؟) [۱۱] قُلْنَ: بَلَى. قَالَ: (فَذَلِكَ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او ابو سعید خدري رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل د واړه اختر یا د لوي اختر د لمانځه د پاره عید ګاه ته تشریف راوړو، [۲] نو د ښځو یو جماعت ته هم ورغلي (چي د لمانځه د پاره په یو جدا کونج کې جمعه شوې وې) [۳] او هغوئ ته په مخاطب کولو سره یې وفرمایل چې اي د ښځو جماعته تاسو صدقه او خیرات ور کوي،

(۱) فتح الباری (۱۱/۶۵)_

(۲) سورة الأنبياء _۲۳

(۳) اخرجه البخاری کتاب الحیض /باب ترک الحائض الصوم. (۳۰٤) ومسلم فی کتاب الإیمان /باب بیان نقصان الإیمان بنقص الطاعات، وبیان إطلاق لفظ الکفر علی غیر الکفر بالله، ککفر النعمة والحقوق(رقم-۱۳۲ - (۷۹) وابن ماجة کتاب الفتن /باب فتنة النساء(رقم-٤۰۰۳)والنسائی کتاب الزکاة /باب ماجاء فی استکمال الإیمان وزیادته ونقصانه (رقم۲۶۱۳)

ځکه چې ما په تاسو کې اکثره په دوزخ کې لیدلې دي (په دې اوریدو سره) [۴] هغه ښځو عرض وکړو یا رسول الله ﷺ د دې سبب؟ [۵] حضور ﷺ ورته وفرمایل چې تاسو لعن وطعن (سپکې سپورې) ډېر وایئ او د خپلو خاوندانو نا فرماني او ناشکري کوي [۶] او ما په عقل او په دین کې د کمزورې باوجود هوښیار سړي بیوقوف جوړولو کې ستاسو څخه زیات بل څوك نه دي لیدلي، [۷] (په دې اوریدو سره) هغه ښځو عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ زمونږ په عقل او زمونږ په دین کې څه کمي ده؟ [۸] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل آیا د یوې ښځې ګواهي دنیم سړي د ګواهي برابره نه ده (یعني آیا داسې نه ده چې په شریعت کې دوو ښځو ګواهي د نیم سړي د ګواهي برابر ګڼلې کیږي ؟) [۹] هغوئ عرض وکړو چې هو هم داسې ده، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل د دې وجه دښځې د عقل کمزوري ده [۱۰] او آیا داسې نه ده چې کله ښځه د حیض په حالت کې وي نو نه مونځ کولو شي او نه روژه نیولي شي [۱۱] هغوئ اوویل چې هو دغسې ده، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل دا د هغه په دین کې د نقصان وجه ده. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① أَضْحَى : أَيْ فِي عِيدِ أَضْحَى: د لوئې اختر مونځ، ② فِطْرٍ: وړوکې اختر، ③ الْمُصَلَّى: عیدګاه. ④ فَمَرَّ: نو تیرشو، ورغلو، ⑤ مَعْشَرَ: أَيْ جَمَاعَة: ډله، جماعت، ⑥ اللَّعْنَ: چا باندې چې دالله تعالى دطرفه لعنت وی نو ددې مطلب به داوی چې [إِبْعَادُ اللهِ تَعَالَى الْعَبْدَ مِنْ رَحْمَتِهِ بِسَخَطِهِ] او که د بنده د طرفه وی نو [الدعاء بابعاد العبد من رحمة الله] په معنی کښې به وی. ⑦ تَكْفُرْنَ: أى جَحْدُ نِعْمَتِهِ وَإِنْكَارُهَا: کفران او ناشکری د نعمت او د چا احسان نه منل، ⑧ الْعَشِيرَ: أى أَيِ الْمُعَاشِرَ الْمُلَازِمَ: څوك چه ورسره لازم اوسیدونکې وی او ژوند ورسره تیروی، زوج یعنی خاوند. ⑨ نَاقِصَاتٍ: د جمع مؤنث اسم فاعل صیغه ده. نقصان والا، کمزورې، ⑩ أَذْهَبَ: اسم تفضیل دې په معنی د زیات بوتلونکې یعنی ختمونکې. ⑪ لِلُبِّ: أى الْعَقْلُ الْخَالِصُ مِنْ شَوْبِ الْهَوَى: خالص او سوچه عقل چه د خواهشاتو ګډون پکښې نه وی. ⑫ الْحَازِمِ: أَيِ الضَّابِطُ أَمْرَهُ: هوښیار سړې، یعنی هغه کس چه یو کار په غور اوفکر او احتیاط سره کوی.

د راوي مختصر تعارف: د ابو سعید خدری ﷺ نوم سعد بن مالك دې، خو کنیت ئې مشهور شوې دې. قبیلۀ خدره طرفته نسبت دې کومه چې د انصارو یو قبیله ده. دا کثیر الروایت صحابه کرامو کښې دې، څلور شپیتمه هجری کښې مدینه منوره کښې وفات شو. ددوئ عمر څلور اتیا کاله وو.

تسهيلات:

قوله: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي أَضْحًى أَوْفِطْرٍ إِلَى الْمُصَلَّى:

دا ختر مونځ په عیدګاه کښې د ادا کولو مسنونیت: ملا علی قاری رحمه الله فرمائی چې دا عیدګاه ترننه پورې موجوده ده. معلومه شوه چې دهغوئ زمانې پورې وه. اوس خو هیڅ نشته دې.

د اختر مونځ دپاره وتل سنت متوارثه دی. بغیر د ضرورت څخه مسجد کښې د اختر مونځ کول د سنت متوارثه مستمره خلاف دی. خو نن صبا خلق دومره زیات دی چې یو ځائې کښې راجمع کیدل مشکل دی. او داشان تخالف عقائد دومره دی چې اجتماع ممکن نه ده.

قوله: فَمَرَّعَلَى النِّسَاءِ:

زنانو دپاره په وعظ کولو کښې دوه احتمالات: ① د مر صیغه متعدی بالباء وعلی وی، ممکن دی چې نبی کریم ﷺ وعظ دپاره هلته تلې وو،

② دا هم کیدی شی چې هرکله تیریدل اوشو نو بیائې وعظ اوفرمائیلو.

په خیرالقرون کښې د زنانو عیدګاه ته د تلوجواز: ددې څخه معلومه شوه چې په هغه وخت کښې به ښځې هم د مونځ پاره مسجد ته تللې.دا د خیر القرون زمانه وه. وحی به نازلیده. د مدینې منورې پاکه زمکه وه. د صحابه کرامو پاك جماعت وو او د نبی کریم ﷺ مقدس وجود مبارك موجود وو ،نوښځوته ډیرو پابندو سره مسجد ته د راتلو اجازت وو. بیا چې کله حالات خراب شو نو په دوئ باندې رو رو پابندی اولږیده. بیا مکمل ممانعت اوشو. لکه څنګه چې عائشه صدیقه رضی الله عنها څخه روایت کښې واضح دی. وړاندې به ددې مسئلې تفصیل راشی.

قوله: فَقَالَ: أُرِيتُكُنَّ:

د أري ترکیب: أري بمعنی أعلم، درې مفعوله غواړی. اول مفعول: أریتکن، کښې د نائب فاعل تا ده، دویم مفعول کن او اکثر اهل النار، مفعول ثالث دې.

په رؤیت کښې دوه احتمالات: ①د رؤیت څخه قلبی رؤیت مراد دې په دې صورت کښې دا قلبی رؤیت یا په صلوة کسوف کښې شوی وو. یا به په طور د وحی شوی وی. یا به د کشف وانکشاف په صورت کښې شوې وی.

② د رؤیت څخه بصری رؤیت مراد دی په دې صورت کښې د معراج په شپه نبی کریم ﷺ باندې دَ جنت او دَ دوزخ سیل کړې شوې وو. هغه بهٔ ترې مراد وی.

قوله: تَصَدَّقْنَ:

د صدقې دحکم کولو وجه: د صدقې کولو حکم ئې ورته ځکه اوکړو چې صدقه کفاره د سیئاتو جوړیږی ځکه چې حدیث پاك کښې دی چې [الصدقة ترد البلاء] او [الصدقة تطفئ غضب الرب] او [اتقوا النار ولو بشق تمرة] او [كل امرء في ظل صدقته]. په دې وجه نبی کریم ښځو ته د صدقې ورکولو حکم فرمائیلې دې. او د اول څخهٔ ئې ښځو ته د اور څخه د بچ

کیدو علاج اوخودلو چې ښځې مایوسه او پریشانه نه وی. بیا د ښځو جهنم کښې زیاتوالې، د دوئ د دنیاوی محبت په وجه وو. نو صدقې کولو سره حب دنیا او بخل او کنجوسی ختمیږی.

قوله: أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ:

د ښځو څخه مراد: یعنی ما اولیدل چه دوزخ کښې ښځې ډیرې وې، ددې څخه ښځې مراد دی کومې چې وفات شوې وې.

په حدیث باندې یو اشکال: جنت کښې به هر جنتی ته دوه ښځې ملاویږی، ددې څخه معلومه شوه چې ښځې به جنت کښې زیاتې وی، او دلته دوزخ کښې زیاتې خودلې شوی دی. دې دواړو خبرو کښې واضع تعارض دې؟

داشکال درې جوابونه: ① دلته ئې اهل النار اوفرمائیل نو دا ئی د سړو په مقابله کښې نه دی وئیلي بلکه فی نفسه چې کوم تعداد وو هغه کثیر وو، دې ته کثیر اووئیلې شو یعنی دومره زیاتې نه وې پکار.

② د ښځو تعداد دومره زیات دې او ددوئ پیدائش د هلکانو په نسبت دومره په کثرت سره دې چې جنت کښې دوه دوه ملاویدو نه باوجود به دوزخ کښې زیاتې وی.

③ په شروع کښې به دوزخ کښې زیاتې وی، بیا سزا خوړلو څخه وروستو به جنت ته ځی، نو دوزخ کښې به کمې شی.

قوله: قَالَ (تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ:

د لعنت وئیلو دوه صورتونه اود هر یو حکم: ① که یو کس په چا باندې لعنت کوی نو هغه یا خبر کوی چې دا سړې ملعون دې، یعنی د الله تعالی د رحمت څخه ویستلې شوې دې. دا دعوی د علم غیب ده، اودا لوې جرم دې.

② که یو بل ته بد دعا کوی چې الله تعالی دا کس د خپل رحمت څخه لرې کړی. نو دا ډیر لوې بخل دې او ډیر لوې حسد دې او دا ناجائز دې.

په چا باندې لعنت لیږل جائز دی؟: ملا علی قاری رحمه الله لیکلی دی چې تعین سره په چا باندې لعنت لیږل جائز نه دی. تر کومې چې په کفر باندې د مرگ واقع کیدو یقین نه وی لکه څنگه چې وړاندینو خلقو کې ابوجهل وفرعون وغیره دی، او راتلونکو کښې ابلیس دې.

دلعنت دوه قسمونه: ① دالله تعالی د عام رحمت څخه وتل، دا لعنت کافرانو سره خاص دې

② دالله تعالی د خاص رحمت څخه وتل، دا قسم لعنت د فساقو او فجارو دپاره هم اجمالا بغیرد تفصیل وتعین نه جائز دې. لکه [لعن الله الواشمة والمستوشمة] او [لعن الله السارق] وغیره جائز دی چې لعن د وصف ذکر سره شوې دې. یعنی الله تعالی په غلو

باندې لعنت اوکړي، په فسادیانو باندې دې لعنت اوکړي، نو په دې کښې اجمال دې، تعین نشته، دا جائز دی

دښځوزيات لعنت وئيلووجه: بیا دلته تکثرن اللعن فرمائیلې شوی دی، ځکه چې لړ لعنت خو د ښځو عادت جو ړشوې دې. هغه ددوئ د مزاج حصه ده نو په دې کښې څه نرمی کړې شوې ده. لکه د غیبت باره کښې ځینې ائمه وائی چې دا کبیره په ځائې صغیره ده، ګنې پورا امت او خاص کور خواص دامت به فاسق جوړ شي.

قوله: وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ:

ښځوکښې د خاوندناشکري: یعنی ټول عمر د خاوند احسانات په دې باندې وی. خو لږه شان خبره باندې هغه ټول هیروی. او وائی چې [مارأیت منك خیراقط] نکره تحت النفی سره کلی طور باندې دهر څیز نفی کوی.

قوله: مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ:

ښځې سړو لره د دهوکه کولوپه میدان کښې: یعنی ددې عقل دنقص او کمزورئ باوجود تعجب دې چې یو تجربه کار، هوښیار او زیرک سړې څنګه بربادوی، دوئ که هیڅ اونه وائی دَ دوئ په کتلو سره هم بل کس بربادیږی، د بلغم بن باعورا ،دغه شان د سلجوقی حکومت علاؤالدین بادشاه د خپلې ښځې په وینا یو غدار سعدالدین د مرګ څخه بچ کول د کوم غداری چې غازی ارطغرل په دلائلو سره ثابته کړې وه دغه شان د خلافت عثمانی یوبل بادشاه دپاره انګریزانو د وینځې په شکل کښې یوه ښائسته ښځه راليږلې وه چې ته دا عثمانی بادشاه په خپل عشق کښې ګرفتارکړه هغې هم هغه شان اوکړو چې اول د بادشاه په وینځو کښې شامله شوه اود خپل ښائست اوناز اوادا په وجه ئې خبره دې ته راورسوله چې بادشاه دا آزاده کړه اونکاح ئې ورسره وکړه اوبیا ئې ددې څخه اولاد پیدا شول د بادشاه د بلې ښځې څخه یو ځوې وو هغه قابل هم اووده د جانشینی صلاحیتونه په کښې وو خو دې خپل خاوند د هغه څخه بدظنه کړل اوهغه ئې قتل کړل دې دپاره چې بادشاهی زما ځامنوته ملاو شی دا یو اوږد داستان دې د تاریخ په کتابونو کښې ئې کتلې شئ. خلاصه دا چې ډیرو ښځو ډیر قابل اولوئې لوئې شخصیات ګمراه کړی دی.

د ښځوپه ناقص العقل کیدو باندې اشکال: په دې حدیث کښې ئې د سړو مقابله کښې ښځو ته ناقص العقل وئیلی دی. حالانکه ځینې ښځې د سړو په مقابله کښې ډیرې تیزې وی، حکومت کوی.

داشکال جواب: هم په یوه زمانه کې هم یو تعلیم هم یوي علاقه او هم دَ یو خاندان سړو او

ښځوکښې که موازنه اوکړې شی نوښځه په هریو استعدادکښې دَ سړی په نیمئی وی که هغه په عقل کښې وی، که په کتلوکښې وی یا په اوریدلو خبروکولو او تګ اومنډه کښې وی په هریوطاقت کښې نیمه وی. اوکه چرې ته یو سړې چرته دَ ځنګل نه راولی او ښځه دَ جدید دور دَ ښار دَ تعلیم یافته طبقې نه راولی نوښکاره خبره ده چه فرق به وی چه هغه ښځه به هوښیاره، عیاره، مکاره او دعاره وی.

اشکال: دَ حیض بیماری په قدرتی توګه باندې غیر اختیاری طریقې سره ښځې پورې لګیدلې وی نودا دَ دین نقصان ولې اوخودلې شو؟

داشکال جواب: الله تعالی ښځو ته دَ دین حصه دومره ورکړې ده نواوس دا دَ ښځې څه قصور نه دې او نه هغه قصواره ګرځولې شی بلکه دَ دغه تخلیق اوتخلیقی حصې خودنه ئی په ګوته کړې ده کوم چه امر واقعی وو هغه یې وئی خودلو.

نکته: بیا اوګورئی چه هم په دې حدیث کښې دَ عقل دَ نقصان پته اولګیدله چه ښځو په خبرو کښې دَ نبی کریم ترتیب بدل کړو. حضورپاک دَعقل نقصان مقدم ساتلې وو ځکه چه هم عقل مدار اومعیار دې. ښځو په جواب کې دغه مؤخر کړو اودَ دین ذکرئی اول اوکړو. هغوی دَ دین دَ اهتمام دَ وجې نه دا مقدم ذکرکړو.

......

[۲۰] دالله تعالی تکذیب اوهغه ته کنځل کول

۲۰ ـ(۱)[۱۸] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②«قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ، وَشَتَمَنِي وَلَمْ يَكُنْ لَهُ ذَلِكَ، ③فَأَمَّا تَكْذِيبُهُ إِيَّايَ فَقوله: لَنْ يُعِيدَنِي كَمَا بَدَأَنِي، ④وَلَيْسَ أَوَّلُ الْخَلْقِ بِأَهْوَنَ عَلَيَّ مِنْ إِعَادَتِهِ، ⑤وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ فَقوله: اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا، ⑥وَأَنَا الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ أَلِدْ، وَلَمْ أُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لِي كُفُوًا أَحَدٌ»).

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② الله تعالى فرمايي چې بني آدم (انسان ما دروغجن کوي او دا خبره د هغه سره نه ښايي زما په باره کې بد ګويي کوي حالانکه دا د هغه لره مناسب نه دي، ③ د هغه ما در واغجن کول خو دا دي چې هغه وايي څنګه چې الله زه (په دي دنيا کې) په اولني ځل پيدا کړي يم دغسې هغه په آخرت کې ما دوباره هيڅ کله نشي پيدا کولي ④ حالانکه دوباره پيدا کول په مخکني ځل د پيدا کولو څخه ګران نه دي ⑤ او دهغه زما په باره کې بدګويي کول دا دي

[۱] اخرجه البخاری فی قوله قل هو الله أحد يقال لا ينون أحد، أی واحد ۱ - باب. (۱).(رقم: ۴۹۷۴) والنسائی کتاب الجنائز /باب أرواح المؤمنين (رقم-۲۰۷۸)

چې هغه وايي چې الله ځان ته خپل زوي جوړ کړي دي ⑥حالانکه زه يو ازي او بي پرواه يم نه زما څخه څوك پيدا دي او نه زه دچا څخه پيدا يم او نه زما څوك هم سر (سيال) شته

حل اللغات: ① كَذَّبَنِي : أَيْ نَسَبَنِي إِلَى الْكَذِبِ: دروغو ته زما نسبت كوى، ② شَتَمَنِي : تَوْصِيفُ الشَّيْءِ بِمَا هُوَ إِزْرَاءٌ وَنَقْصٌ فِيهِ: ما ته بد رد وائى، چا طرفته د يو داسې څيز نسبت كول چه هغه نقص او عيب وى، دې ته شتم يعنى كنځل يا بد رد وائى. ③ لَنْ يُعِيدَنِي : أَى لَنْ يُحْيِيَنِي بَعْدَ مَوْتِي : دمرګ نه پس به مې دوباره نه شى ژوندې كولې. ④ بَدَأَنِي : أَيْ أَوْجَدَنِي عَنْ عَدَمٍ: چه په اول ځل ئې پيدا كړم د عدم نه ئې وجود ته راوستم. ⑤ أَهْوَنَ : د هان يهون نه، أَيْ لَيْسَ أَسْهَلَ : آسان، ⑥ الصَّمَدُ : أَى غَيْرُ مُحْتَاجٍ إِلَى أَحَدٍ: بې نيازه دې هيچاته محتاج نه دې.

تسهيلات:

قوله: قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ:

دحديثِ قدسى تعريف: دا حديث قدسى دې. او حديث قدسى هغې ته وائى كوم كښې چې نبى كريم ﷺ نسبت الله تعالى ته كوى او داسې وائى چې قَالَ اللّٰه: الله تعالى اوفرمائيل،

په حديث قدسى اوحديث نبوى كښې فرق: ① دحديث قدسى معنى او مضمون آسمانى وى. الفاظ د نبى كريم ﷺ وى او نسبت ئې دالله تعالى طرفته وى. او دقرآن پاك لفظ او معنى دواړه دالله تعالىٰ د طرفنه نازل كړې شوى وى كومې ته چې وحى متلو وائى. او دعام حديث كښې خو معنى دالله‌تعالى د طرفنه راځى او الفاظ د نبى كريم ﷺ وى خو په دې كښې الله تعالى طرفته نسبت نه وى.

قوله: كَذَّبَنِي ابْنُ آدَمَ:

د بعث بعد الموت انكار ته د تكذيب وئيلو وجه: دلته د حشرونشر انكار ته تكذيب وئيلې شوې دې. ځكه چې قرآن پاك كښې الله تعالى حشرونشر او قيامت په دلائلو سره باربار بيان فرمائيلې دې. هركله چې بنده دا اووائى چې حشرنشر نشته دې نو ددې مطلب داشو چې هغه الله تعالى ته د دروغو نسبت كوى چې الله تعالى قرآن پاك كښې څه بيان فرمائيلې دې هغه صحيح نه دې دا صريح تكذيب دې. دې باندې په حديث پاك دا جمله دلالت كوى چې

قوله: لَنْ يُعِيدَنِي: يعنى نشى ژوندې كولې. يابه مې ژوندې نه كړى. يابه مې داسې بدن سره ژوندى نه كړى. دا ټول صورتونه د كفر دى.

قوله: وَلَيْسَ أَوَّلُ الْخَلْقِ بِأَهْوَنَ:

دأهون د صيغې تحقيق: اسم تفضيل نه دې بلكه د اصل فعل په معنى كښې دې. بمعنى

هین دي لکه الصیف أحرمن الشتاء، کښې فعل په اصل معنی کښې مستعمل دي. یعنی زما په قدرت کښې دواړه آسان دی. د اول او ثانی فرق نشته دې. د أهون په قرآن پاك هم ذکر موجود دې. او دې حدیث پاك کښې هم دې.

دالله تعالی دپاره داول اوثانی ایجاد برابری: دا کلام د بندګانو په اعتبار سره دې چې ستاسو په نزد ایجاد مالم یوجد په طور اول پیدا کول د ثانی اعادې ځخه زیات مشکل دی ځکه چې اول پیدا کولو کښې څه مثال سابق او څه نمونه نه وی.هیڅ اصل ئی نه وی، بلکه صرف انشاء او ایجاد مالم یوجد وی او دوباره اعاده کولو کښې سابق مثال او نمونه واصل موجود وی دا دوباره جوړولو کښې تاسو هم وایئ چه، داآسان دی هرکله چې ستاسو په نزد د عام عادت لاندې د یو څیز اعاده آسانه ده. نو دالله تعالی د قدرت په وړاندې دا څه مشکل دی.

قوله: وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ:

الله تعالی ته د اولاد نسبت کولوته د کنځلو وئیلووجه: الله تعالی طرفته د اولاد نسبت په دې وجه کنځل دی چې په دې کښې الله تعالی طرفته ضمنی طور سره د احتیاج او محتاجې نسبت دې. ځکه چې توالد وتناسل ته هغه کس محتاج وی کوم چې استبقاء نوع نسل او إحرار المال وغیره ته محتاج وی او دا نسبت الله تعالی طرفته کول کنځل دی.

دمثال په رنړا کښې وضاحت: حجة الاسلام حضرت مولانا قاسم نانوتوی رحمه الله دا داشان بیان کړی دی چې مثلا یو انسان دې، هغه څخه ماران یا لړمانان پیدا شو، نو ددې باوجود چه دا دواړه حادث او دواړه زوال پذیر دی خو خلاف جنس څیز څخه پیدا کیدو په وجه به هغه کس څومره شرم محسوسوی، نو داشان الله تعالی دپاره اولاد ثابتول څومره عجیبه دی. چې هرکله د دواړو په مینځ هیڅ مماثلت نشته دې، جنسیت هم نشته دې، ددې څخه زیات تحقیر بل څخه کیدیشی. او ددې څخه زیات بد وئیل او شتم به څه وی ؟ هم دا نقصان یهودو کړې دې او وئی وئیل چې عزیر ابن الله، او نصاری اووئیل عیسی ابن الله، او مشرکینو د عربو اووئیل چې الملائکة بنات لله، بیا به یو عیب دا هم منل پکار وی چې دا اولاد به قائمقام وی، نو الله تعالی دپاره دَ فنا او زوال عقیده هم راغله، تعالی الله علوا کبیرا.

۲۱ -()[۰] [۱]وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ: [۲](وَأَمَّا شَتْمُهُ إِيَّايَ فَقولهُ: لِي وَلَدٌ، [۳]وَسُبْحَانِي أَنْ أَتَّخِذَ صَاحِبَةً أَوْ وَلَدًا). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]او د ابن عباس رضي الله عنهما په روایت کې داسې دي [۲]چې د انسان و ما ته رد وبد ویل

[۱] اخرجه البخاری سورة البقرة باب(و قالوا اتخذ الله ولدا سبحانه). (۴۴۸۲)

دا دي چې هغه وايي چې د الله زوي شته ③حالانکه زه ددي نه پاك يم چې ځوك ښځه يا زوي جوړ کم. بخاري

[۲۲] زمانې ته د کنځلو کولو حرمت

۲۲ -(¹)[۱۹] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (②«قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ، يَسُبُّ الدَّهْرَ وَأَنَا الدَّهْرُ ③بِيَدِيَ الْأَمْرُ، أُقَلِّبُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② چې الله تعالى فرمايي بني آدم (انسان) ماته تکليف راکوي (داسې چې) هغه زمانې ته بد وايي حالانکه زمانه (هيڅ نه ده هغه) خو زه يم، ③ټول تصرفات زما په قبضه کې دي او د شپې او ورځې چکر زما په حکم سره کيږي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① يُؤْذِينِي : تکليف راکوی ماته، ② يَسُبُّ: بد رد وائی، کنځل کوی (دا گمان کوی چه نفع ضرر، خوشحالی خفگان خو دا زمانه راولی). ③ الدَّهْرَ: زمانه (او د زمانې پيدا کونکې الله دې نو زمانې ته کنځل کول الله ته کنځل کول دی). ④ أُقَلِّبُ: اړوم راړوم يعنى کموم او زياتوم

تسهيلات: قوله: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ:

داسم مضمرپه ځائې د اسم ظاهر راوړلو وجه: د قاعدې مطابق داحديث د عنه په لفظ سره ذکر کول پکار وو. ځکه ددې څخه وړاندې هم د ابوهريره ﷺ روايت دې خو دلته د نوم وضاحت په دې وجه اوشو چې د سابق حديث په آخر کښې د وفى رواية عن ابن عباس الفاظ وو چې هغې سره دا وهم کيدې شو چې دعنه ضمير ابن عباس طرفته دې، په دې وجه د احتياط په طور و عن ابى هريرة سره وضاحت اوکړې شو، سبحان الله محدثينو به څومره احتياط کولو.

قوله: يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ:

الله تعالى ته د تکليف رسولو مطلب: يو کس ته قولا يا فعلا ناخوښه مکروه امر رسولو ته ايذا وائی. که هغه په دې غير کښې اثر اوکړ ی اوکه نه. الله تعالى او دهغه رسول ته د ايذارسولو څخه مراد داسې کار کول دې کوم سره چې الله تعالى او دهغه رسول خفه کيږي. دويم مطلب د ادې چې چونکه الله تعالى د انسانی افعالو وغيرْه څيزونو د تأثر او انفعال نه پاك دې لهذا دلته د ايذا معاملې څخه مراد دادې چې د ايذا رسولو معامله کوی. ځکه چې حقيقى ايذا څوك الله تعالى ته نه شى رسولې.

¹) اخرجه البخارى كتاب سورة حم الجاثية باب (وما يهلكنا إلا الدهر) الآية.(رقم-٤٨٢٦) ومسلم كتاب الألفاظ من الأدب وغيرها باب النهى عن سب الدهر(٢ - (٢٢٤٦) وابوداود كتاب الأدب/باب فى الرجل يسب الدهر(رقم-٥٢٧٤) واحمد فى مسنده ٤٠١/٤.

[۲۳] د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ صبر او تحمل

۲۳ - (۱)[۲۰] [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «مَا أَحَدٌ أَصْبَرُ عَلَى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللَّهِ، [۳] يَدْعُونَ لَهُ الْوَلَدَ، ثُمَّ يُعَافِيهِمْ وَيَرْزُقُهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو موسیٰ اشعري ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تکليف ورکونکي کلمات په اوريدو سره د الله تعالی څخه زيات صبر او برداشت کونکي بل هيڅوک نشته، [۳] خلق دهغه دپاره زوي ګڼي هغه په دي هم (د هغوئ څخه بدل نه اخلي بلکه) و هغوئ ته عافيت وربخښي او روزي ور رسوي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① أَذًى: د آذَى يُؤْذِي نه اسم مصدر دې په معنی د مُؤْذِي سره، أَيْ كَلَامٌ مُؤْذٍ: يعنی تکليف رسونکې خبرې، ② يَدْعُونَ لَهُ: دعوه کوی او رابلی د الله دپاره، يعنی نسبت ورته کوی. ③ يُعَافِيهِمْ: عافيت ورکوی، ضرر ترې دفع کوی.

تسهيلات: قوله: مَا أَحَدٌ أَصْبَرُ:

دصبر تعريف: ,,الصبر هو حبس النفس عما تشتهيه،، يعنی خواهش والا څيزونو څخه ځان بچ ساتلو ته صبر وائی.

دصبر درې قسمونه:

① **صبر على الطاعة:** حالات چې هر څنګه وی مونږ له عبادت کول پکار دی.

② **صبر على المعصية:** چې هر حال کښې دګناه څخه ځ بچ کيدلو جذبه په زړه کښې وی او ګناه څخه منع کيږی او صبر کوی.

③ **صبر على المصيبة:** داآخری قسم دې، دې ته عوام او خواص صبر وائی. حالانکه د صبر درې قسمونه دی کوم چې وړاندې بيان شو.

اشکال: په مذکوره تعريف سره خو د صبر نسبت الله تعالی طرفته جائز نه دې، بيا دلته د صبر اطلاق په الله تعالی باندې څنګه اوشو؟

داشکال جواب: دصبر نسبت هرکله چې الله تعالی طرفته اوشی نو مراد وی ,,تأخر العذاب عن المستحق،، دا د هغه الفاظو څخه دې د کومو اطلاق چې په الله تعالی باندې د غايت او انجام او د نتيجې په اعتبار سره کيږی لکه څنګه چې د رحمت، حيا وغيره الفاظ دی. دا دمبادی په اعتبار سره دالله تعالی دپاره نه وئيلې کيږی بلکه د منتهی په اعتبار سره وئيلې کيږی.

---

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الأطعمة /باب الصبر علی الأذی (رقم:۶۰۹۹) ومسلم فی کتاب صفة القيامة والجنة والنار /بباب لا أحد أصبر علی أذی من الله عز وجل(۴۹ - (۲۸۰۴)

قوله: عَلَى أَذًى يَسْمَعُهُ مِنَ اللَّهِ:

دالله تعالى د صفت سمع مفهوم: دالله تعالى د آوريدو او سماعت څخه مراد ما يليق بشانه دى. انسان بواسطه جارحه مخصوصه آوري خو الله تعالى بغير د واسطې او بغير د آلې څخه آوري. دې حديث پاك كښې دَ تخلق باخلاق الله تعليم وركړې شوې دې چې الله تعالى قادر دې، آوري هم، بيا هم صبر كوى، نو تاسو خلق هم د صبر عادت خپل كړئى، حالانكه تاسو قادر على الاطلاق نه يئ.

[۲۴] د بنده ګانو په الله باندې حقونه او ددې بالعکس

۲۴ -(۱)[۲۱] [۱] «وَعَنْ مُعَاذٍ قَالَ: [۲] كُنْتُ رِدْفَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَلَى حِمَارٍ [۳] لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ إِلَّا مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ، [۴] فَقَالَ: (يَا مُعَاذُ، هَلْ تَدْرِي مَا حَقُّ اللَّهِ عَلَى عِبَادِهِ؟ وَمَا حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ؟) [۵] قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۶] قَالَ: (فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى الْعِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، [۷] وَحَقَّ الْعِبَادِ عَلَى اللَّهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا) [۸] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَلَا أُبَشِّرُ بِهِ النَّاسَ؟ [۹] قَالَ: لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا)» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت معاذ ﷺ وايي [۲] چې (په يو سفر كښې) په خره باندې زه په حضور ﷺ پسې وروسته سور وم [۳] زما او د حضور ﷺ په مينځ كښې دكجاوې وروستنې حصه حائله وه، [۴] حضور ﷺ (ماته وفرمايل چې) اې معاذه پوهيږې چې په بنده ګانو د الله څه حق دې؟ [۵] ما عرض وكړو الله او د هغه رسول ﷺ بنه پوهيږې، [۶] رسول الله ﷺ وفرمايل په بنده ګانو د الله حق دا دې چې د هغه عبادت وكړې، د هغه سره څوك شريك نه كړې، [۷] او د بنده ګانو په الله دا حق دې چې د الله سره چا شريك نه وې جوړ كړې هغه ته عذاب ورنه كړې (په دې اوريدو سره) [۸] ما عرض وكړو يا رسول الله ﷺ دا زيرى زه خلقو ته ورنكړم؟ [۹] هغه ﷺ وفرمايل خلقو ته دا زيرى مه وركوه ځكه چې هغه به په دې بروسه وكړې (او عمل كول به پريږدې) بخاري او مسلم

حل اللغات: ① رِدْفَ: الَّذِي يَرْكَبُ خَلْفَ الرَّاكِبِ: په سورلئ باندې روستو ناست كس ته رديف وائى. ② مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ: وَهُوَ الْعُودُ الَّذِي يَكُونُ خَلْفَ الرَّاكِبِ: په سورلئ باندې په كجاوه كښې يو لرګې وى هغې ته سرې ډډه لګوى. ③ أُبَشِّرُ: زيرى وركړم، ④ فَيَتَّكِلُوا: د باب افتعال نه، أَيْ يَعْتَمِدُوا: يعنى صرف په دې به اعتماد او بهروسه اوكړى او د نورو اعمالو كوشش اومحنت به پريږدى.

د راوي مختصر تعارف: حضرت معاذ ﷺ دَ نبى كريم ﷺ جليل القدر صحابى دې. عقبه

[۱] اخرجه البخاري كتاب الجهاد والسير /باب اسم الفرس والحمار(رقم-۲۸۵۶) ومسلم كتاب الإيمان/باب من لقى الله بالإيمان وهو غير شاک فيه دخل الجنة وحرم على النار(۴۸ - (۳۰) والترمذى كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ما جاء فى افتراق هذه الأمة (رقم-۲۶۴۳) وابن ماجة كتاب الزهد/باب ما يرجى من رحمة الله يوم القيامة (رقم-۴۲۹۶)

ثالثه اخيره كښې د اوياؤ نفوس قدسيه سره په بيعت كښې شريك وو. په ټولو غزواتو كښې رسول الله ﷺ سره اوګه په اوګه شريك وو. حضورپاك هغه د يمن قاضي او ګورنر مقرر كړې وو. حضورپاك هغوى ته ښه ښه وصيتونه اوفرمائيل او يو څو قدمه دهغوى سورلئ سره پيدل لاړو رخصت ئې كړو. دهغوى تعلق د انصار قبيلهٔ خزرج سره وو لهذا انصارى خزرجى دې. هغوى په طاعون عمواس كښې په ١٨هجرئ كښې وفات شو.

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ رِدْفَ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د رديف د لفظ استعمال: دا لفظ د اس خر وغيره دپاره زيات استعماليږى. لكه څنګه چه په اوښ باندې دوو سورو ته اكثر زميل وائى اوكله په اوښ سور ته هم رديف وائى.

قوله: عَلَى حِمَارٍ:

دنبى عليه په خرباندې سورلى كولو كښې غرض: حضورپاك د تواضع او عاجزئ په توګه كله كله په خرباندې هم سورلى كړې ده په كوم سره چه د خر قسمت راؤچت شو چه دهغه خوله ناپاكه پاتې نه شوه او په جهوټه كښې ئې هم نجاست پاتې نه شو.

دخر مخه غټ خر مراد كيدل: دلته په يوه اهم خبره باندې پوهيدل پكاردى اوهغه دا چه ددې خر نه واړه واړه خرونه مراد نه دى كوم چه زمونږ علاقو كښې موجود دى په كوم چه سورلى كول معيوب ګڼړلې شى. بلكه دلته د خر نه د عربو هغه لوئى خر مراد دې چه د قچر برابر وى لكه څنګه چه غټ سپين خرونه وى په هغې باندې سوريدل څه د عيب خبره نه وه. د حضرت معاذ رضي الله عنه اود حضورپاك په يو ځائى سوريدلونه هم معلوميږى چه دا لوئى خر وو.

قوله: إِلَّا مُؤْخِرَةُ الرَّحْلِ:

د مؤخرة الرحل دوه صورتونه: ① د دوو سرو په مينځ كښې د وړاندې سورلئى دپاره جدا او د روستونى سور دپاره جدا لرګې وى

② صرف د وړاندې سور دپاره وى. د موخرة الرحل اطلاق په دواړو باندې كيدې شى.

د مؤخرة د لفظ په ضبط كښې څلور احتمالات:

① د باب افعال نه د اسم فاعل په وزن باندې.

② دباب تفعيل نه هم د اسم فاعل په وزن باندې راځى.

③ د باب تفعيل نه د اسم مفعول په وزن باندې هم راځى.

④ آخرة الرحل هم راځى. اول او آخرى لغت ډيرفصيح دې.

د كيفيت د بيانولو وجه: ددې هيئت او كيفيت بيانولو كښې قرب بيانول مقصود وو او پوره

کیفیت بیانولو سره دا خودل دی چه صحابی کوم حدیث بیانوی په هغې کښې دَ هیڅ شك شبهې ګنجائش نشته دې ځکه چه هغه په ډیر تیقظ، هوښیارئی او بیدارئی سره دا حدیث دَ حضورپاك نه اوریدلې دې. دَ حدیث الفاظ خو څه چه دَ هغې کیفیات او هیئات پورې دَ هغه په زړه او دماغو کښې محفوظ دی.

قوله: وَحَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللّٰهِ أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا:

دحق مختلفې معانی: ① حق دَ لائق او جدیر په معنی کښې هم راځی.

② حق دَ باطل په مقابله کښې هم راځی،

③ حق دَ ثابت او واجب په معنی کښې هم راځی.

دمعتزلو په نزد حق مطلب: اوس معتزلو حق العبد علی الله کښې حق په معنی دَ واجب اولازم اخستې دې. نو دَهغوی په نیز دَ بندیګانو حق دَ عدل په توګه په الله تعالی باندې واجب او لازم دې. زیربحث حدیث په ظاهری توګه باندې دَ معتزلو دلیل دې. اهل سنت والجماعت دَ حدیث یوڅو توجیهات کوی:

په زیربحث حدیث کښې درې توجیهات: ① خطابی فرمائیلی دی چه دلته حق العبد علی الله صرف دَ اولې جملې په مقابله کښې مشاکلةً راغلې دې، هم دغه رائې دَ شیخ محی الدین ابن عربی رحمه الله هم ده.

② دَحق څومعانې دی. نو په حق الله علی العباد کښې دَ واجب او لا زم معنې او حق العباد علی الله کښې به دَ لائق اوجدیر معنې اخستې شی.

③ دا حق الله تعالی شفقةً، رحمةً، احساناً او اکراماً په خپله ذمه اخستې دې لکه چه پخپله ئی یو عهد په خپل ځان باندې اخستې دې نو په اولنئی جمله کښې حق وجوبی لزومی دې او په دویمه جمله کښې به حق تفضلی احسانی مراد وې.

قوله: أَنْ لَا يُعَذِّبَ مَنْ لَا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا:

د شرک نه کولو په وجه دعذاب څخه حفاظت: یعنی څوک چې د الله تعالی عبادت کوی اودهغه سره شرک نه کوی نودَ الله تعالی دَ حسن سلوك او وعدې تقاضاداده چه دَدې نه پس هغه دې موحد ته عذاب ورنه کړی ځکه چه که توحید سره ئی دَ نیکو اعمالو پابندی کړې ده نودَعدم دخول نار وعده ده اوکه چرې په اعمال صالحه کښې کوتاهی شوې وی نودَ عدم خلودفی النار وعده ده چه دائماً به عذاب نه ورکوی.

قوله: فَقُلْتُ: لَا تُبَشِّرْهُمْ فَيَتَّكِلُوا:

دمذکوره جملې مفهوم: دَ نهی په جواب کښې دَ واقع کیدو دَ وجې ان ناصبه مقدر دې په دې وجه منصوب دې. [اي يتكلوا، اتكال] یقین، اعتماد او دَتکیه په معنی کښې دې

یعنی خلق به صرف د کلمه توحید په اجمال باندې راکلك شی او په اعمالو کښې به سست شی. دلته چه څنګه حضورپاك دَ بیانولو نه منع اوفرمائیله چه په بیان کښې خطره ده هم دَدې په رڼړا کښې حضرت عمر رضی الله عنه حضرت ابوهریره رضی الله عنه په سختئی سره منع کړو چه خلق به په اجمال باندې تکیه اوکړي. معلومه شوه چه دَ حضرت عمر رضی الله عنه هغه فعل صحیح وو.

خلقوته د زیری ورکولو د ممانعت دوه وجوهات: ① نبی علیه السلام حضرت معاذ رضی الله عنه څکه د زیری ورکولو څخه منع کړلو چې د حدیث ظاهری الفاظو ته به اوګوری او صرف د شرك څخه به ځان ساتی او د ایمان د نورو مقتضیاتو به خیال نه ساتی اودا به وائی چې صرف په توحید باندې نجات ملاویږی ځکه چې خلق د دین اسلام د تعلیماتو څخه واقف نه وو.ددې وجې په دې وجه دغه دَ شروع وخت په رڼړا کښې دَ زیری اورولو نه ئی منع کړو لیکن دَاعمالو تفصیل باندې دَ پوهیدونه پس کله چه اعمال راسخ شو اودَ اعمالو پریخودو خطره ختمه شوه نوحضرت معاذ دغه علمی امانت امت ته دَ حواله کولو دَپاره بیان کړو ② په شروع کښې ممانعت وو بیا ئي [بلغوا عنی]اوفرمائیل نو عواموته دَ خودلو عام اجازت اوشو.

فائده: د ممانعت باوجود دحدیث د بیانولو دې وجوهات:

① حضرت معاذ دَ وفات په وخت کښې بیان کړو دې دَپاره چه دَعلم دَ پټولو دَ وعید نه بچ شی لکه څنګه چه راتلونکی روایت کښې دی. نودَ حضورپاك دَ طرف نه حضرت معاذ رضی الله عنه ته دَ بشارت پټ ساتلو حکم وقتی اوعارضی وو دائمی او ابدی نه وو.

② دا ممانعت دَ یو مخصوص جماعت دَپاره وو عام نه وو روستو حضرت معاذ رضی الله عنه دَ عوامو دَپاره بیان کړو.

③ دا ممانعت دَ اسلام دَ ابتدائی دور دَپاره وو او حضرت معاذ رضی الله عنه په آخر وخت کښې بیان کړو.

[۲۵] په مؤمن باندې د جهنم داور حرمت

> ۲۵ –(۱)[۲۲] [۱]وَعَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَمُعَاذٌ رَدِيفُهُ عَلَى الرَّحْلِ، [۲]قَالَ: «(يَا مُعَاذُ) قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ. [۳]قَالَ: (يَا مُعَاذُ) قَالَ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَسَعْدَيْكَ - ثَلَاثًا - قَالَ: [۴]قَالَ: مَا مِنْ أَحَدٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ [۵] إِلَّا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ. [۶]قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفَلَا أُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَيَسْتَبْشِرُوا؟ [۷]قَالَ: إِذًا يَتَّكِلُوا، فَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱]) اخرجه البخاری کتاب العلم /باب من خص بالعلم قوما دون قوم، کراهیة أن لا یفهموا(رقم-۱۲۸) ومسلم کتاب العلم /باب من لقی الله بالإیمان وهو غیر شاك فیه دخل الجنة وحرم علی النار(۵۳ - (۳۲)

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷺ روایت کوي چې یوه ورځ نبي کریم ﷺ هغه وخت چې (د سفر په دوران کې) په سوارلئ وو او معاذ ﷺ ورپسي سور وو، ۲ وي فرمایل اي معاذه، هغه اوویل یا رسول الله ﷺ حاضریم، ۳ بیا حضور ﷺ وفرمایل اي معاذه عرض یي وکړو یا رسول الله ﷺ حاضر یم، حضور ﷺ په دریم ځل مخاطب کولو څخه وروسته وفرمایل اي معاذه، هغه بیا اوویل یا رسول الله ﷺ حاضر یم، دغسې دري ځله مخاطب کولو څخه وروسته یي معاذ ﷺ ته وفرمایل ۴ د الله کوم بنده چې د زړه په صدق سره د دې خبري ګواهي وکړي چې د الله څخه ماسوا بل معبود (د عبادت لایق) نشته او محمد ﷺ د الله رسول دي ۵ نو الله تعالی په هغه د دوزخ اور حرام کوي، ۶ (په دي اوریدو سره) معاذ ﷺ عرض وکړو یا رسول الله د دې (زیری) څخه زه خلق خبر نکړم؟ چې په دي زیري اوریدو سره خوشحاله شي، ۷ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چې یا خلق به په دي بروسه وکړي، (حضرت انس ﷺ وایي چې آخر معاذ ﷺ د دې ویرې څخه چې د حدیث د پټولو) ګناه راباندې رانشي، د خپل وفات په وخت یي حدیث بیان کړلو ،بخاري او مسلم

حل اللغات: ① الرَّحْلِ: کیجاوه، ② لَبَّيْكَ: أَيْ أَجَبْتُ لَكَ إِجَابَةً بَعْدَ إِجَابَةٍ: یعنی زه بار بار آوریدو دپاره حاضر یم. ③ سَعْدَيْكَ: أَيْ سَاعَدْتُ طَاعَتَكَ مُسَاعَدَةً بَعْدَ مُسَاعَدَةٍ: یعنی زه بار بار د خدمت او اطاعت دپاره موجود یم. ④ فَيَسْتَبْشِرُوا: أَيْ يَفْرَحُوا: چه خوشحاله شی خلق، ⑤ يَتَّكِلُوا: د باب افتعال نه، أَيْ يَعْتَمِدُوا: یعنی صرف په دې به اعتماد او بهروسه اوکړی او د نورو اعمالو کوشش اومحنت به پریږدی. ⑥ تَأَثُّمًا: أَيْ تَجَنُّبًا: یعنی چه د علم پټولو دګناه نه بچ شی.

تسهیلات: قوله: قَالَ: (يَامُعَاذُ):

درې ځله د تکراروجه: نبی کریم ﷺ د اهتمام شان په غرض سره درې ځل دا کلمه اوفرمائیله چې راتلونکې خبره ښهٔ په اطمینان سره واوری.توجه برابره وی اود کلام اهتمام وی.

قوله: صِدْقًا مِنْ قَلْبِهِ:

د صدقا من قلبه زیاتی کولو وجه: دا قید ئې د دې دپاره زیاتی کړل چې منافق خلق د دې حدیث څخه خارج شی، ځکه چې صدقا من قلبه کښې استقامت واستدامت دواړه مراد دی. او هغه منافقینو کښې نشته..

قوله: إِلَّا حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ.

اشکال: چې یو کس مثلا شهادتین سره د ګناه ارتکاب اوکړی نو آیا هغه هم حرام علی النار دې، حالانکه بل روایت کښې د عصاة مؤمنین جهنم ته تلل او شفاعت یا سزا تیرولو نه پس راتلل ثابت دی، نو په ظاهره په دې دواړو قسمه روایتونو کښې تضاد

دي. داشان د مذکوره حدیث پیش نظر خود اعمالو حیثیت ختمیږی حالانکه د اعمالو یو مقام دي. الغرض کومو روایاتو کښې چې صرف کلمه توحید جنت ته د داخلیدو ضمانت ګرځولې شوې ده او د حرمت دوزخ فیصله آؤرولې شوې ده، هغه روایات اعمال صالحه لره ضروری ګرزونکی روایتونو سره متعارض او متصادم دی؟

داشکال شپږ جوابونه: ① مطلب دادې چې کلمهٔ شهادت ئی د خپلو ټولو تقاضو اوحقوقو سره اووئیله یعنی اتثال دَ اوامرو ئې اوکړو او اجتناب نواهی ئې اوکړو نو دده دپاره حرمه الله علی النار دې یعنی کلمه خو مفتاح جنت ده خو ددې دپاره غاښونه ضروری دی، کماقال وهب بن منبه رحمه الله.

② که چا ګناه نه وی کړې یا ئې ګناه اوکړه خو په ریښتونې زړه ئې توبه اوکړه او معاف شو نو دا کس به اولاً جنت ته داخلیږی. اود ابتدا څخه په ده باندې دوزخ حرام شو. نو حرمه الله علي النار، په دې باندې صادق دې. خوکه دې کس ګناه اوکړه او توبه ئی اونه ویستله او دنیکی څخه ئې ګناهونه زیات دی، او ګناه ورته معاف هم نشوه، نو داسې کس انتهاء په دوزخ باندې حرام دې، یعنی حرمه الله علي النار دده په حق کښې سزا تیرولو نه پس دی چې دده دپاره دائمی دوزخ نشته دې.

③ ددې څخه تحریم الخلود مراد دې چې همیشه دپاره اور کښې اوسیدل دده دپاره حرام دی. ④ ددې کلمهٔ شهادت څخه دهغه کس کلمه مراد ده کوم چې کلمه اووئیله خو د عملونو موقع ورته ملاؤ نشوه او ددنیا څخه رخصت شو.

⑤ دهر یو څیز یو انفرادی خاصیت وی، انفرادی حالت کښې هغه اثر او خاصیت ظاهریږی او کار کوی خو کله چې نورو څیزونو سره یو ځائې شی نو مغلوب او مخلوط شی او خپل اثر نه ښکاره کوی. لکه زهر شو، ددې خاصیت قتل، وژل دی، خو کله چې نورو څیزونو سره ملاؤ شی معجون مرکب ترې جوړ شی او مفید جوړیږی. او په طور د دوائی استعمالیږی. همداشان د اوبو طبیعت یخوالی دې. خود نمر یا اور ګرموالی سره په دې کښې حرارت پیدا شی او ددې یخوالی ختم شی. هم داشان کلمه شهادت ده. ددې انفرادی خاصیت خو بالکل هم هغه دې کوم چې حدیث پاك کښې مذکور دې چې څوك دا وائی نو په هغه باندې ددوزخ اور حرا م دې. خو قیامت کښې به فیصله په معجون مرکب باندې وی. لهذا نورو څیزونو معاصی او ګناه وغیره سره یوځائې شی نو د کلمه شهادت خاصیت به مغلوب شی او ددې اثر ختمیږ ی. نو انفرادی او ذاتی اثر هم هغه دې کوم چې حدیث پاك کښې راغلې دې، خو په قیامت کښې به فیصله په معجون مرکب باندې کیږی. لهذا ! اور څخه د بچ کیدو دپاره د نیکو عملونو کول اوس هم برقرار دی. او کوم

کس چې ګناهګار دې هغه په اور کښې ګرفتار دې. د سزا تیرولو یا شفاعت نه پس راخلاصیدې شي.

⑥ د دوئ د کافرانو په اور کښې نشی اچولې ځکه چې دهغوئ دپاره خو عذاب په طور د اهانت او تحقیر دې، د مؤمن عذاب په طور د تطهیر دې.

دصاحب مشکاة نهج: صاحب مشکوة ددې حدیث پاك ځخه وروستو ډیر داسې احادیث پیش کړی دی کومو کښې چې د اعمالو ترغیب ورکړې شوې دې. په هغې کښې هغوئ اشاره فرمائیلې ده چې په کلمه طیبه کښې اعمال ملحوظ دي. او د صاحب مشکوة هم دا طریقه ده چې د راتلونکی روایت ځخه د تیر شوې حدیث تفسیر کوی.

قوله: فَأَخْبَرَ بِهَا مُعَاذٌ عِنْدَ مَوْتِهِ تَأَثُّمًا:

په آخری عمر کښې د حدیث د بیانولو وجه: یعنی حضرت معاذ ﷺ د وفات په وخت کښې دا حدیث عوامو ته بیان کړو چې دکتمان علم په ګناه کښې رانشی.

فائده: د بعضې مسئلو عواموته د نه بیانولو ثبوت: دې حدیث ځخه یوه عامه قاعده په ذهن کښې راغله چې ځینې دقیق احکامات ځینو خلقو دپاره د تشویش باعث جوړیږی. نو دداسې خلقو په وړاندې داسې قسمه مسائل ایخودل مناسب نه دی، بلکه ددوئ ځخه پټ ساتل پکار دی. هرکله چې ددې احکامو تعلق یو عمل سره هم نه وی او د عوام الناس دعقلونو ځخه بالاتر هم وی نو عوامو لره په دې کښې اخته کول بربادول نه دی پکار. لکه ځنګه چه دالله تعالی د صفاتو مسائل دی. دا مسائل د عوامو د پوهې ځخه بهر دی، لهذا په دې کښې نه دی پریوتل پکار، کلموا الناس علی قدر عقولهم.

[۲۶] په ایمان باندې مرګ او جنت ته داخلیدل

۲۶ –(۱) [۲۳] ۱ «وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ أَبْيَضُ، وَهُوَ نَائِمٌ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ وَقَدِ اسْتَيْقَظَ، ۳ فَقَالَ: مَا مِنْ عَبْدٍ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذَلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ، ۴ قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ، ۵ قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ، ۶ قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ عَلَى رَغْمِ أَنْفِ أَبِي ذَرٍّ، ۷ وَكَانَ أَبُو ذَرٍّ إِذَا حَدَّثَ بِهَذَا قَالَ: وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي ذَرٍّ.» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوذر غفاري ﷺ وایي چې زه (یوځل) د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضرشوم ۲ نو ده ﷺ یوه سپینه کپړه په ځان اچولي وه او اوده وو، (هغه وخت زه واپس لاړم) بیا دوباره د ده ﷺ په خدمت کې هغه وخت حاضر شوم کله چې دي ﷺ ویښ شوي وو، ۳ ده ﷺ (زما په لیدو سره) او فرمایل کوم سړي چې د زړه د اخلاصه لا

[۱] اخرجه البخاری کتاب اللباس باب الثیاب البیض (ر قم:۵۸۲۷) ومسلم کتاب الإیمان/باب من مات لا یشرک بالله شیئا دخل الجنة، ومن مات مشرکا دخل النار(رقم-۱۵۴ - (۹۴)) واحمد فی مسنده ۱۶۶/۵.

اله الله اووائي (يعني د الله د يو والي د زړه په صدق سره اعتراف او اقرار وکړو) او په دغه عقيده د هغه انتقال وشو، نو هغه به ضرور په جنت کې داخل کيږي، ۴ما عرض وکړو که څه هم هغه د غلا او زنا (په شان د لوي گناهونو) ارتکاب کړي وي، نو رسول الله ﷺ وفرمايل چې برابره خبره ده که هغه د غلا او زنا جرم ولې نه وي کړي،۵ ما بيا (په حيرانتيا سره) پوښتنه وکړه اگر که هغه غلا او زنا جرم ولي نه وي کړي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل چې برابره خبره ده که هغه د غلا او زنا جرم ولي نه وي کړي، ۶ما (په دريم ځل هم ډير په حيرانتيا سره) عرض وکړو چې اگر که هغه د غلا او دزنا جرم کړي وي؟ (په دريم ځل هم) رسول الله ﷺ دغه وفرمايل برابره خبره ده که هغه غلا او زنا ولي نه وي کړي او برابره خبره ده که په ابو ذر هر څومره گرانه تيره ولي نشي، (روايت کونکي وايي چې) ۷کله به ابو ذر ﷺ دا حديث بيا نوي (د فخر په طور) دا اخري فقره: برابره خبره ده که په ابوذر باندې هر څومره گرانه تيره ولي نشي، به يې ضرور نقل کوله. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① اسْتَيْقَظَ: رابيدار شوې وو. ② عَلَى رَغْمِ: أَيْ لُصِقَ بِالرَّغَامِ: رغام خاورو ته وائي، يعنی اگرچه په خاورو کښې ککړه اوگنده شی، د عربو په نزد دا محاوره ده. دا په هغه وخت کښې وئيلې کيږي کله چې دچا مجبوري، تنگسيا، ناخوښي يا ذلت ظاهرول وی څکه چې رغام خاورې ته وائی،

د راوي مختصر تعارف: حضرت ابو ذر غفاری ﷺ د غفار قبيلې سره تعلق لرلو. مکه مکرمه کښې پنځم خوش نصيب وو چې دائرهٔ اسلام کښې داخل شو. متقی پرهيزگار او زاهد وو. ددوئ په مسلك کښې د يو وخت خوراك نه پس بل وخت دپاره خوراك ايښودل يا مال جمع کول جائز نه وو. او چې کله به ئې څوك په مال جمع کولو اوليدلو نو په همسا به ئې وهلو. کله چې ئې اسلام قبول کړو نو خپل قوم طرفته لاړو او هلته ئې د اسلام دعوت شروع کړو. څلورمه هجري د غزوهٔ خندق په موقع مدينې منورې ته راغلو، نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې ابوذر ته به ځانله مړ کيږي،دې دَ تقوی دَ دور او خلق د فتویٰ دور ته رارسيدلی وو. حضرت عثمان ﷺ دوئ ته د مدينې څخه ربذه ته د تللو حکم ورکړو، او هلته په دوه ديرش هجرئ کښې وفات شو. حضرت ابن مسعود ﷺ ددوئ جنازه اوکړه.

قوله: وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ أَبْيَضُ:

د مذکوره کيفيت د بيانولو غرض: ددې کيفيت بيانولو څخه مقصد دا وی چې ماته خبره ښه ياده ده. بلکه کيفيات او هيئات او حالاتو پورې معلوم دی. څه په بيدارئی کښې اعتماد سره خبرې کوم. هيڅوك دې په دې شك نه کوی. داشان دا هم خودل دی چې دمحبوب خدوخال او دهغه خصوصی احوال بيانولو سره لذت محسوسيږي.

قوله: ثُمَّ مَاتَ عَلَى ذٰلِكَ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ:

په کلمه شهادت د دخولِ جنت وعده: په دې روایت باندې خو یوه شبه هغه ده کومه چې سابقه روایت باندې وه چې صرف کلمهٔ شهادت سره څنګه جنتي شو. اعمال چرته لاړل؟ کوم جوابونه چې هلته ورکړې شوي دي دلته هم هغه جوابات دي ① چې دخول اولا یا ثانیا دې ② یا کلمه د خپلو تقاضو سره ده. ③ یا دوزخ کښې دخول ابدي دائمي نه دې. ④ یا فیصله معجون مرکب باندې کیږي، مفرد کلمه باندې نه، ⑤ یا د هغه کس کلمه مراد ده کوم ته چې د عمل موقع ملاؤ نشوه او مړ شو، وغیره وغیره.

د رسالت په عدم ذکر باندې اشکال: شهادت کښې صرف د لا اله الا الله ذکر شوې دې د محمد رسول الله ذکر نه دې شوې؟

داشکال درې جوابونه: ① دا کلمه داسې مشهوره ده چې د لا اله الا الله ذکر کولو سره خپل تر خپله پورا کلمه په ذهن کښې راځي. او دا ټولو ته معلومه ده چې محمد رسول الله څخه بغیر په دې دور کښې دا کلمه نافع نه ده.

② لا اله الا الله په توګه د عَلَم او عنوان ذکر شوې ده، مراد ترې مکمل شهادتین او پوره کلمه ده، لکه پوره سورت فاتحه چې په الحمد شریف سره یادیږي او سورت اخلاص پوره قل هو الله احد سره یادیږي.

③ دلته راویانو اختصار کړې دې.

قوله: قُلْتُ: وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ؟:

د مذکوره جملې جامعیت: دلته همزه استفهام محذوف دې. یعنی أیدخل الجنة وان زنی وان سرق. د حضرت ابوذر ﷺ په سوال کښې جامعیت دې، ځکه چې وإن زنی کښې ټول حقوق الله طرفته اشاره شوې ده. او وإن سرق کښې ټول حقوق العباد طرفته اشاره شوې ده. یعنی حقوق الله او حقوق العباد دواړو کښې کوتاهي کوؤنکې به هم جنت کښې داخلیږي؟

نو نبی کریم ﷺ جواب کښې اوفرمائیل چې د ایمان او تصدیق قلبي په وجه به هغه بالآخر جنت کښې داخلیږي. اګر چې په اعمال صالحه کښې ئې کوتاهي کړې وي.

د ابوذر ﷺ درې ځله تپوس کولو وجه: دحضرت ابوذر ﷺ درې ځل سوال کول د استعجاب او د نور تاکید او وضاحت حاصلولو دپاره وو. او د نبی کریم ﷺ جواب د انکار په طور وو چې دې ولې دومره په تعجب کښې دې. آیا دې د الله تعالی په رحمت کښې بخل کوې؟ حالانکه دهغه ذات رحمت ډیر وسیع دې. که ته خوشحاله یئې او که خفه، معامله هم

داشان ده. زنا او سرقه په اسلام کښې په لويو ګناهونو کښې شميرلې کيږي. هرکله چې ددې حکم معلوم شو نو د وړو ګناهونو حکم به خپل ترخپله معلوم شي..

قوله: وَكَانَ أَبُوذَرٍّ إِذَاحَدَّثَ بِهٰذَا قَالَ::

دنبی علیه السلام په کلماتوسره لذت حاصلول: يعني ابوذر ﷺ په طور د لذت يا د کلام رسول د کمال حفاظت په وجې وان رغم أنف ابی ذر، کلمات به ضرور وئيل. دمحبوب ادا شوی کلماتو څخه به ئې خوند اخستو، او په دې به ئې فخر کولو،

قوله: وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي ذَرٍّ:

دمذکوره جملې مطلب: مطلب دا شو چې پوزه دې خاورو کښې ککړ شه او خاوړې ژنه دې شي، دا دَ ناخوښۍ نه کنايه ده. هسې خو داپورا محاوره عربۍ کښې دَ ناخوښۍ او خفه کيدو دپاره استعماليږي، په دې حديث پاك کښې معتزله او خوارجو باندې ډير په تاکيد سره رد راځی کوم چې مرتکبِ کبيره ته خارج از اسلام وائي..

[۲۷] جنت ته د داخليدو دپاره ضروری عقائد

۲۷-()[۲۴] ۱ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "۲ «مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ۳ وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللّٰهِ وَرَسُولُهُ، وَابْنُ أَمَتِهِ، وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، ۴ وَالْجَنَّةُ وَالنَّارُ حَقٌّ - أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او عباده بن صامت (رض) وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې د دې خبرې ګواهي ورکړي (يعني په ژبه سره اقرار وکړي او په زړه سره يې ريښتيا وګڼي) چې د الله څخه ماسوا بل څوك د عبادت لايق نشته او هيڅوك د هغه شريك نشته او دا چې محمد ﷺ بيشکه د الله بنده او د هغه رسول دي ۳ او د دې خبرې هم ګواهي ورکړي چې) عيسٰي ﷺ (هم) د الله بنده او رسول او د الله د وينځې (مريم) زوي او د هغه کلمه ده کومه چې هغه د مريم طرفته ته اچولې وه او د الله راليږل شوې روح دي ۴ او دا چې جنت او دوزخ حق (او واقعي شيان) دي نو الله تعالی به هغه جنت ته ضرور داخل کي، خواه چې د هغه عملونه هر څنګه وي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① كَلِمَتُهُ: د الله کلمه، ځکه چه دا په کلمه د کُن سره پيدا شوې دې، ② أَلْقَاهَا: أَيْ أَوْصَلَهَا اللّٰهُ تَعَالَى إِلَيْهَا: چه اچولې ئې وه بی بی مریم ته.

[1]) اخرجه البخاری کتاب أحاديث الأنبياء باب قوله:{يا أهل الكتاب لا تغلوا فی دينكم (رقم-۳۴۳۵) ومسلم کتاب الإيمان/باب من لقی الله بالإيمان وهو غير شاك فيه دخل الجنة وحرم على النار۴۶ - (۲۸)) والنسائی کتاب المواقيت/الجمع بين الصلاتين فی الحضر(رقم-۶۰۳)

تسهیلات:

قوله: وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ:

د عیسی علیه السلام د تخصیص کولو وجه: اګرچه ټول نبیان علیهم السلام په عبدیت او رسالت کښې شریك دی او اهل ایمان د ټولو متعلق هم دا عقیده لری خو د حضرت عیسی علیه السلام باره کښې خیالات لرونکی دوه قومونه جزیرهٔ عرب کښې آباد وو. یو یهودیان وو، بل نصاری وو. دې دواړو دحضرت عیسی علیه السلام باره کښې خپلو خیالاتو کښې افراط و تفریط څخه کار اخستې وو.

یو طرفته یهودو نه صرف دا چې د حضرت عیسی علیه السلام درسالت څخه انکار کړې وو بلکه یهودیانو په دوئ علیه السلام باندې بیهوده الزامات لګولی وو. او ددوئ په مور بی بی باندې ئې تهمتونه لګولی وو. او دحضرت عیسی علیه السلام شریعت او انجیل ته ئې د دروغونسبت کړې وو. بل طرفته نصاری د حضرت عیسی علیه السلام باره کښې دومره غلو اوکړه چې هغوئ دوئ ته الله، ابن الله یا ثالث ثلاثة اووئیل. نبی کریم صلی الله علیه وسلم چونکه د ټولو نبیانو علیهم السلام مصدق جوړ کړې شوې او راغلې وو د ټولو حیثیت خودونکې وو او دا شریعت او دا امت چونکه متوسط او معتدل وو، په دې وجه د افراط وتفریط څخه پاکه نظریه نبی کریم صلی الله علیه وسلم دحضرت عیسی علیه السلام باره کښې د جزیرهٔ عرب د خلقو مخکښې کیخوده.

هم ددې خصوصی احوالو او خاص ضرورت لاندې د حضرت عیسی علیه السلام ذکر په خصوصیت سره راغلو چې دهغوی صحیح صورت حال څخه عوام او خواص خبر کړې شی. او د د واړو طرفونو افراط و تفریط باطل کړې شی او دې د پاره دا خلق د دخول جنت مستحق جوړ شی. نو د عبدالله لفظ سره په نصاری باندې رد اوشو چې هغه دالله تعالی بنده وو، دالله تعالی سره شریك نه وو. نه دهغه ځوې وو او رسولو سره په یهودیانوباندې رد اوشو چې دهغه د نبوت څخه ئې انکار کولو.

قوله: وَابْنُ أَمَتِهِ:

په مذکوره جملې سره په نصارو اویهودیانوباندې رد: دې سره هم په دواړو فرقو باندې بلیغ رد اوشو څکه چه نصاری وائی چې هغه ابن الله وو، نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې ابن الله نه وو بلکه ابن امة الله وو. او په یهودو باندې رد اوشو چې حضرت مریم علیها السلام دالله تعالی بندی ګاره وه، یو ولیه وه،

قوله: أَمَتِهِ:

د بی بی مریم الله تعالی ته په نسبت کولوکښې نکته: په دې اضافت تشریفیه سره په یهودو باندې رد اوشو چې مریم دالله تعالی مقبول او پاکه بندئی ده. دې طرفته د زنا نسبت د یهودیانو خباثت او خساست دې، یهودو باندې دا هم رد اوشو چې وائی چه حضرت

عیسی علیه السلام العیاذ بالله دفلانی کس ناجائزه اولاد وو، وې فرمائیل چې د حضرت مریم ځوئې وو او دهغه پلار نه وو، که پلار ئې وې نو دې طرفته به ولې منسوب کیدو؟

قوله: وَكَلِمَتُهُ:

عیسی علیه السلام ته د کلمة الله وئیلو په وجه کښې درې اقوال: ① د کلمه څخه مراد حجة الله دې چې هغه خلقو باندې دالله تعالی د طرفه حجت او دلیل وو چې هغه الله تعالی بغیر د پلار څخه په خپل قدرت سره پیدا کړې وو.

② یعنی کلمۀ کن سره الله تعالی بغیر د پلار څخه پیدا کړو.

③ دخپلې مور بی بی په برات او خپل نبوت اورسالت باندې د وړوکوالی څخه دلیل وو او وې فرمائیل چې: [أَتٰنِيَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا] نو کلمة الله ورته اووئیلې شو.

د اشرف علی تهانوی رحمه الله د یوپادری سره مناظره: حکیم الامت اشرف علی تهانوی رحمه الله خپلو ملفوظاتو کښې خپله یوه واقعه بیان کړې ده چې ما سره د یو پادری مناظره اوټاکلې شوه. او ددې موضوع ابنیة مسیح وه. هرکله چې دمناظرې تاریخ راغلو نو حضرت شیخ الهند ته معلوم شو نو هغه هم مناظره کښې حاضر شو او خیال ئې اوکړو چې داپادری ډیره زیاته تجربه لرې. هسې نه چه نوجوان اشرف علی ته شکست ورنکړې. په دې وجه پخپله راغلو او پخپله مناظرې دپاره پیش شو. عیسائی پادری خپل بیان کښې اووئیل چې ګورئ مسلمانانو! ستاسو قرآن پاك حضرت عیسی علیه السلام ته کلمة وائی. نو اوس تاسو اووائې چې عیسی علیه السلام کلمه وو که نه؟ د پادری دا خیال وو چې مسلمانان به اووائی چې بیشکه قرآن پاك هغه ته کلمه وئیلی دی، نو زه به ورته اووایم چې بس کلمة الله او ابن الله یو څیز دې؟

حضرت شیخ الهند محمود الحسن رحمه الله پورته شو او وې فرمائیل چې بیشکه عیسی علیه السلام کلمه وو اوقرآن پاك هغه ته کلمه وئیلی دی خو د کلمې درې اقسام دی. اسم، فعل، حرف. اوس ته اووایه چې حضرت عیسی علیه السلام په درې واړو کښې کوم یو قسم وو. اوس پادری ډیر حیران پاتې شو او اوتښتیدو.

قوله: وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ:

د مریم معنی: مریم د عابدې په معنی کښې دې. قران کریم کښې دیرش ځل صراحت سره الله تعالی د حضرت مریم نوم اخستې دې، دې سره دالله تعالی دا وئیل مراد دی چې مریم دالله تعالی ښځه نه وه، که داسې وې نو هیڅ یو کس په مجلسونو کښې او د عوام الناس په وړاندې دخپلې ښځې نوم نه اخلی. بیا ئې دې سره دابن مریم کلمه اولګوله چې دې زما نه بلکه د مریم ځوې دې.

قوله: رُوْحٌ مِنْهُ:

عیسی علیه السلام ته د روح وئیلو دوه وجوهات: ① یعنی هغه دَ نفخهٔ جبرائیل څخه پیدا شو او د جبرائیل علیہ السلام نوم روح الامین دې، په دې وجه ورته روح وائی، ② یا دا مطلب چه مړی به ئې ژوندی کول نو ځکه ورته روح وائی.

بهرحال دلته د روح څخه ما به الحیوة حیوانی روح مراد نه د ې. دغه شان دلته من تبعیض دپاره نه دې چې هغې سره جزئیت ثابت شی. بلکه من ابتدائیه دې، معنی ئې داده چې [وروح مخلوق من أمر الله أي بأمر الله]

دعلی بن حسین په جواب د عیسائی عالم اسلام قبلول: علامه طیبی رحمه الله ددې حدیث پاك په تشریح کښې د یو لوې نصرانی عالم واقعه لیکلې ده. هغه د یو قاری صاحب څخه د قرآن کریم دتلاوت په دوران کښې واوریدل چې [وَكَلِمَتُهٗٓ ۚ اَلْقٰهَآ اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ] نو وې وئیل چې عیسایان خو هم ددې څخه زیات بل څه نه وائی. بس هم دا دی چې عیسی علیہ السلام دالله تعالی څخه دې، یعنی دالله تعالی یو جز دې، او نبی دې، دې عیسائی عالم منه کښې من تبعیض دپاره واخستو. په دې باندې د دین اسلام عالم علی بن حسین بن واقد رحمه الله دهغه په وړاندې د قرآن پاك دا آیت مبارك اولوستلو: [وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ] (جاثیه آیت: ۱۳). اوبیا ئې اوفرمائیل چې که من دَ تبعیض دپاره دې نوبیا چې په زمکه او آسمان کښې څه دی ټولو لره د الله تعالی جز تسلیم کړئ، دې آوریدو سره هغه عیسائی مسلمان شو.

قوله: وَالْجَنَّةُ وَالنَّارُ حَقٌّ:

دجنت اوجهنم په وجود وغیره باندې ایمان راوړل: یعنی د دوزخ او جنت چې کوم احوال قرآن و حدیث کښې ذکر دی هغه ټول حق دی، د جنت هم وجود ثابت دې، د دوزخ هم وجود ثابت دې. او په دې کښې د جزا او سزا ټول واقعات هم حق دی. په دې کښې په داسې فلاسفه زنادقه او ملحدینو او دهریانو باندې رد مقصود دې کوم چې دا خبره کوی چې جنت نشته باغونه هیڅ نشته، دوزخ هیڅ نشته، هسې دهوکه ده، مرزا غالب د الحاد په اندازکښې وائی:

قوله: أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ عَلٰى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ:

دګناهګار مسلمان جنت ته داخلیدل: یعنی هغه عمل که ښه وی یا خراب وی، لږ وی یا کثیر وی، هر څنګه چې وی، ددې ښه عقیدې څخه وروستو به هغه کس جنت ته ځی. دد ې حدیث پاك مطلب دادې چې انتهاءً ومآلا به دا کس د جنت مستحق وی. په دې کښې هم په معتزلو او خوارجو باندې واضح رد او تردید دې کوم چې دا ګنړی چې ګناه کبیره

کوونکې اسلام څخه خارج دي.

[۲۸] د اسلام په قبلولو پخوانی ګناهونه معاف کیدل

۲۸ -(۱)[۲۵] [۱]«وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقُلْتُ: ابْسُطْ يَمِينَكَ [۲] فَلْأُبَايِعْكَ، فَبَسَطَ يَمِينَهُ، [۳] فَقَبَضْتُ يَدِي، فَقَالَ: "مَا لَكَ يَا عَمْرُو؟" [۴] قُلْتُ: أَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِطَ، فَقَالَ: تَشْتَرِطُ مَاذَا؟ [۵] قُلْتُ: أَنْ يُغْفَرَ لِي، [۶] قَالَ: "أَمَا عَلِمْتَ يَا عَمْرُو أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ، [۷] وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا، [۸] وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ؟»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ، [۹] وَالْحَدِيثَانِ الْمَرْوِيَّانِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " «قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: (أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ)»، وَالْآخَرُ: " «الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي» ". سَنَذْكُرُهُمَا فِي بَابَيِ الرِّيَاءِ وَالْكِبْرِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو بن العاص ﷺ وايي چې (هر کله الله تعالى د اسلام په رڼا سره زما زړه او دماغ روښانه کړل نو) زه د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم او عرض مې وکړويا رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك رامخکې کړه [۲] زه ستا سره د اسلام بيعت کوم، رسول الله ﷺ (په دې اوريدو سره) خپل لاس (چې کله) رامخکې کې [۳] نو ما خپل لاس را ايسته کې، نو رسول الله ﷺ (په حيرانتيا سره) وفرمايل عمرو څه دي؟ [۴] ما عرض اوکړو يارسول الله ﷺ زه څه شرط لګول غواړم، ده ﷺ وفرمايل څه شرط دي؟ [۵] ما عرض اوکړو (زه غواړم) چې زما (هغه) ټول ګناهونه معاف شي (کوم چې ما د اسلام څخه مخکې کړي وو) [۶] رسول الله ﷺ وفرمايل اې عمرو آيا تاته نه ده معلومه چې اسلام هغه ټول ګناهونه معافوي چې د اسلام قبولولو څخه مخکې شوې وو، [۷] او هجرت هغه ټوله ګناهونه لرې کوي، چې د دې (هجرت) څخه مخکې شوې دي [۸] او حج هغه ټول ګناهونه نيست ونابود کوي چې هغه دحج څخه مخکې يې کړي وي، (مسلم) [۹] او د حضرت ابوهريره ﷺ روايت شوې دواړه حديثونه يعنى قال الله تعالى انا اغني الشركاء عن الشرك الخ او الكبرياء ردائي الخ به د رياء او کبر په باب کې انشاء الله نقل شي.

حل اللغات: ① ابْسُطْ: أَيِ افْتَحْهَا وَمُدَّهَا: لاس پرانيزه او راوړاندې کړه، ② فَلْأُبَايِعْكَ: چه زه بيعت اوکړم تاسره، ③ فَقَبَضْتُ: نوما لاس راټول کړو، ④ يَهْدِمُ: أَيْ يَمْحُو: ختموي، معاف کوي. ⑤ أَغْنَى: د اسم تفضيل صيغه ده، ډير زيات غنى، غيرمحتاج، ⑥ الْكِبْرِيَاءُ: الْعَظَمَةُ وَالتَّجَبُّرُ: لوئى، برترى، بزرګى. ⑦ رِدَائِي: رداء څادر ته وائى. يعنى تكبرزما څادر دي.

د راوي مختصر تعارف: حضرت عمروبن العاص ﷺ دَ رسول الله ﷺ جليل القدرصحابى دي دَهجرت نه پنځه کاله وړاندې ئى اسلام قبول کړې وو او په ټولو جنګونو کښې شريك

[۱]) اخرجه مسلم كتاب الإيمان/باب كون الإسلام يهدم ما قبله وكذا الهجرة والحج(رقم-۱۹۲ - (۱۲۱) ۲۸ - (وعن عمرو بن العاص)

شوې وو او په جنګ صفين کښې حضرت معاويه ﷺ سره وو معامله دَتحکيم کښې شامل وو. دَحضرت عمرفاروق ﷺ په دورکښې مصردَهغوی په لاس فتح شو اوهغوی دَفاتح مصرپه نوم سره مشهورشو اودآخروخت پورې هغوی دَمصرحاکم اوګورنر وو ۴۴هجری کښې دَ ٩٠کالوپه عمرکښې وفات شو.

تسهيلات: قوله: اُبْسُطْ يَمِينَكَ:

په لاس سره د بيعت کولو مسنونيت: تاسو خپل ښې لاس وړاندې راخورکړئی دې دَپاره چه زه په هغې باندې ستاسو بيعت اوکړم معلومه شوه چه په ژبې سره دَ بيعت دَ نسبت لاس په لاس کښې ورکول اصل او غوره دی، دَ ښځو په بيعت کښې رسول الله ﷺ کله هم لاس نه دې ورکړې هلته صرف زبانی بيعت اصل دې، دا دَ اسلام بيعت وو اوهرپيراومرشدله پکاردی چه دَ يوې پردئی ښځې لاس سره دَ بيعت په وخت لاس اونه لګوی.

قوله: فَلِأُبَايِعَكَ:

د مذکوره کلمې په اعراب کښې دوه احتمالات: ① په عين باندې د نصب احتمال هم جائز دې دا احتمال داسې دې چه فاء کلمه زائده وی اودَ دې نه پس لام کلمه په معنی دَ لام "کی" تعليليه وی کوم چه ناصب دَفعل وی يعنی "کی أبايعك" نوعين منصوب دې.

② په عين باندې د ضمه احتمال هم جائز دې او لام به زائده وی په دې صورت کښې به په عين باندې ضمه راځی اوفاء به تفريعيه وی يعنی ابسط يمينك فأبايعك.

قوله: فَقَالَ: تَشْتَرِطُ مَاذَا؟:

په مذکوره جملې باندې اشکال: دَما ذا کلمه چونکه استفهام دې په دې وجه دادَ کلام صدارت غواړی دلته صدارت نشته؟

داشکال جواب: دلته ماذا دکلام په شروع کښې محذوف دې او مذکوره ماذا په آخر کښې دَدې تفسير دې يعنی ماذا تشترط ماذا. ياداسې اوګڼړئی چه حضورپاك دَ انکار او دَتعجب په توګه په استفهام سره پوښتنه اوکړه اتشترط؟ يعنی په اسلام کښې شرط لګوې؟ بيائی پوښتنه اوکړه ماذا؟ څه شرط لګوې نودا ماذا جدا کلمه ده کوم چه جدا سوال سره راغلې ده او په صدرات باندې واقع ده بيادَ کلام مجموعه داسې جوړه شوه تشرط ماذا همزه استفهام حذف کړې شوه.

قوله: أَمَا عَلِمْتَ يَا عَمْرُو:

عمرو ته د علم نسبت کولو مطلب: يعنی ته عقلمند هوښيار په دنياکښې ګرځيدلې او پوهه سړې ئی ولې تانه داخبره پته ده کومه چه دَ يوعقلمندنه هم نه دی پکار. رسول الله ﷺ د

هغه دَعقل حواله ورکړه ګنی عمرو رضی الله عنه په مذکوره مسئله کښې دَ ایمان نه وړاندې څنګه خبرېدلې شو.

قوله: أَنَّ الْإِسْلَامَ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ:

د اسلام سره دګناهونو دمعاف کیدو څخه مراد: دَجمهور علماؤ په نیزکله چه یوغیرمسلم حربی یعنی غیرذمی اسلام قبلوی نواسلام دَهغه صغائر ګناه او کبائرټول ختمه وی اوحقوق الله اوحقوق العباد مظالم اوغیرمظالم ټول ګناهونه ختموی.

قوله: وَأَنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا:

دهجرت څخه مراد: یعنی زما په ژوند کښې دَمکې نه مدینې ته هجرت اودَ فتح مکه نه پس دارالحرب نه داراسلام طرف ته هجرت کول یعنی اسلام، هجرت او حج دریواړه وړاندینی ټول ګناهونه ختموی

قوله: وَأَنَّ الْحَجَّ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ:

په هجرت او حج سره د ټولو ګناهونو په معاف کیدو کښې دوه مذاهب:

① دحافظ تورپشتی رحمه الله اودَمتقدمینو شارحینو خیال دې چه هادم صرف اسلام دې اوحج او هجرت سره صرف صغائرمعاف کیږی مطلقًا اوکبائر هغه وخت معاف کیږی کله چه دې سره توبه یوځائی کړې شی شرط دادې چه دَهغې تعلق حقوق الله سره وی اوکه چرې هغه کبائر حقوق العباد سره متعلق وی نوصاحب حق نه دَ معاف کولونه بغیر صرف په توبې سره هغه هم نه معاف کیږی. خلاصه داشوه چه هجرت اوحج سره کبائرنه معاف کیږی.

② دَعلامه طیبی رحمه الله اوعلامه قسطلانی رحمه الله رائې داده چه دَ اسلام په شان هجرت اوحج سره هم ټول صغائر اوکبائر معاف کیږی اوکوم حکم چه په هادم کیدوکښې دَاسلام دې هم هغه دَحج اوهجرت هم دې.

داول فریق دلیل: دَ نصوص قرآن نه هم دا معلومیږی لکه ﴿ إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ ﴾ دَ نص مقیدنه دَ صغائرَمعاف کیدل معلومیږی لهذا نصوص مطلقه په نصوص مقیده باندې حمل کولوسره به دَ صغائر اوکبائر دَ قید لحاظ ساتلې کیږی.

ددویم فریق دلیل: علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه زه په علماء متقدمین باندې رد کول نه غواړم دَهغوی رائې اوتحقیق په خپل ځائی باندې صحیح دې اودَ عام قواعدو مطابق دې لیکن زه نفس حدیث ته په کتلو اودَدې سیاق اوسباق اواسلوب کلام اودَ بلاغت اوفصاعت اصولو ته په کتلوسره دَدې ویناکولو حق لرم چه دَ اسلام دَپاره کوم خصوصیت ذکرکړې شوې دې هغه خصوصیت هجرت اوحج دَپاره هم حاصل دې ځکه چه په نفس حدیث کښې یوڅو داسې قرائن دی دَ کوم نه چه په واضح توګه دَ اسلام، هجرت

او حج خصوصیت یو شان معلومیږی:

د اسلام او د هجرت او حج د یو شان خصوصیت کیدو قرائن: ① رسول الله ﷺ چه څنګه د اسلام تشبیه د ګناهونو په ختمولو کښې د مکان اوغر ماتونکی هادم د آلې سره ورکړې ده بعینه هم دغه تشبیه ئی حج او هجرت ته هم ورکړې ده چه په هدم ذنوب کښې حج او هجرت هم د اسلام په شان عام او مطلق دي.

② حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه د اسلام نه وړاندې د ټولو ټولو ګناهونو د مغفرت شرط لګولې وو حضورپاك د اسلام نه علاوه هجرت او حج هم د هغه د تسلئی د پاره ذکرکړل چه ته د اسلام خبره کوې زه تاته ښایم چه د مغفرت دا خصوصیت خو د اسلام نه علاوه حج او هجرت کښې هم دي.

③ صیغه د یهدم هرځل مستقلاً تکرارسره راتلل پخپله د دې خبرې دلیل هم دې او تاکیدهم دې چه کوم کار د اسلام دې په مستقل توګه د هجرت او حج هم دې.

③ اسلام حج او هجرت دلته د عطف په ذریعه ذکرکړې شوی دی او معطوف معطوف علیه کښې کمال مناسبت ضروری دې دلته د مناسبت قویه شکل به مساوات فی الحکم کښې ښکاره کیږی چه کوم حکم د اسلام دې هم هغه د دې د معطوفاتو د حج او هجرت دې لهذا څنګه چه اسلام د صغائر او کبائر ټولو د پاره هادم دې حج او هجرت هم هغه شان دی.

④ د علامه طیبی رحمه الله دا تحقیق ډیرښکلې دې او کوم آیت چه علامه توریشتی رحمه الله د استدلال په توګه پیش کړې دې د هغې نه معتزلو هم استدلال کړې دې لیکن د آیت خپل صحیح او واضح تفسیر هم دې کوم چه علامه شبیر احمد عثمانی رحمه الله خپل تفسیر عثمانی کښې نقل کړې دې هلته دې او کتلې شی.

هسې کوم خلق چه د حج مشقتونه زغمی څومیاشتې هلته تیره وی ولې هغوی به د ګناهونو نه توبه نه کوی او د حقوق العباد انتظام به نه کوی؟ دغه شان د هجرت په شان لویه قربانی ولې د توبې به خالی وی؟ کله چه توبه عقلاً او عرفًا ملحق ده نو بیا په مغفرت کښې څه شك دې؟[الکاشف: ۱/۱۷۰-۱۷۱]

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۲۹] جنت ته داخلونکی اعمال

۲۹ – (¹)[۲۶] [۱] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قُلْتُ [۲] يَارَسُوْلَ اللهِ أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِيَ الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِي عَنِ النَّارِ [۳] قَالَ لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ أَمْرٍ عَظِيمٍ وَإِنَّهُ لَيَسِيْرٌ عَلَى مَنْ يَسَّرَهُ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ

[1]) اخرجه الترمذی کتاب الإیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی حرمة الصلاة (رقم-۲۶۱۶) واحمد فی المسند ۴/۲۰۵. وابن ماجة کتاب الفتن/باب کف اللسان فی الفتنة (رقم-۳۹۷۳) واحمد فی المسند ۵/۲۳۱.

٢ تَعْبُدُ اللهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئاً وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصُومُ رَمَضَانَ وَتَحُجُّ الْبَيْتَ ٥ ثُمَّ قَالَ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ ٦ الصَّوْمُ جُنَّةٌ وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيئَةَ كَمَا يُطْفِئُ الْمَاءُ النَّارَ ٧ وَصَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ

ترجمه: ١ حضرت معاذ بن جبل ﷛ وايي چې ما عرض اوکړو ٢ يارسول الله ﷺ ماته څه عمل داسې وښايه چې ما جنت ته بوځي او د دوزخ د اور څخه مي وساتي، ٣ رسول الله ﷺ وفرمايل حقيقت خو دادي چې تا د يو ډير لوي شي پوښتنه کړې ده خو په چا چې يي الله تعالی آسان کړي د هغه د پاره دا ډيره آسانه هم دي، ٤ بيايي وفرمايل د الله تعالی بندګي کوه او د هغه سره څوك شريك مه جوړوه، مونځ په پابندي سره کوه، زکوٰة ورکوه، د رمضان روژې نيسه او د خانهٔ کعبې حج کوه، ٥ بيايي د دې څخه وروسته وفرمايل چې اي معاذه آيا وتا ته د خير او نيکي دروازې ونه ښيم؟ ٦ (نو واوره) روژه (يو داسې) ډال دي (چې د ګناه څخه سړي ساتي او د دوزخ د اور څخه محفوظه ساتي) او د الله په لارکې خرڅ کول ګناه داسې لرې کوي څنګه چې اوبه اور مړ کوي ٧ (او دغسې) د شپې (تهجد) کې د مومن مونځ کول (ګناه ختموي)

حل اللغات: ① يُبَاعِدُنِي : لرې مې کړي، بچ مې اوساتي. ② تُطْفِئُ : يَعْنِي تُذْهِبُهَا وَتَمْحُو: مړکوي يعنی لرې کوي اوختموي (اثر د ګناه)،

١ ثُمَّ تَلَا (تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ) حَتَّى بَلَغَ يَعْمَلُونَ ٢ ثُمَّ قَالَ أَلَا أَدُلُّكَ بِرَأْسِ الْأَمْرِ وَعَمُودِهِ وَذِرْوَةِ سَنَامِهِ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ ٣ قَالَ رَأْسُ الْأَمْرِ الْإِسْلَامُ وَعَمُودُهُ الصَّلَاةُ وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ ٤ ثُمَّ قَالَ أَلَا أُخْبِرُكَ بِمِلَاكِ ذٰلِكَ كُلِّهِ قُلْتُ بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ ٥ قَالَ فَأَخَذَ بِلِسَانِهِ وَقَالَ كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا ٦ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ وَإِنَّا لَمُؤَاخَذُونَ بِمَا نَتَكَلَّمُ بِهِ ٧ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ وَهَلْ يَكُبُّ النَّاسَ فِي النَّارِ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَوْ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه: ١ بيا هغه ﷺ دا آيت تلاوت کې (چې په هغه کې د تهجد کونکو او د شپې دعبادت کونکو فضيلت بيان شوې دي او د دې پوره آيت ترجمه داده: (د مؤمنانو نيکانو) اړخ (په شپې کې) د بسترو څخه جدا وي (او) هغه خپل پروردګار د ويرې او اميد سره يادوي اوڅه (مال) چې مونږ هغه ته ورکړي دي د هغه څخه (د الله په لار کې) خرڅ کوي، هيڅ يو ساه اخستونکي ته معلومه نه چې دهغه مؤمنانو صالحانو د پاره څنګه د سترګو يخوالي پټ ايښودل شوې دي دا دهغوئ د عملونه بدله (انعام) دي چې هغوئ به کول، ٢ بيا حضور ﷺ وفرمايل آيا تاته د هغه شي (يعني دين) سر او د هغه ستن او د هغه دکوهان (بوک) اوچت والي ونه ښايم؟ ماعرض اوکړو چې هو يا رسول الله ﷺ ضرور يي راته اوښايه، ٣ ده ﷺ وفرمايل د دې شي (دين) سر اسلام دي، د دې ستن مونځ دي او د دې دقب (بوک) اوچتوالي جهاد دي، ٤ بيا رسول ﷺ وفرمايل چې آيا تاته د دې ټولوځيزونو بيخ اواصل ونه ښايم؟ ما عرض اوکړو چې اي د الله پيغمبره

ضرور يي راته وښايه، ⑤ ده ﷺ خپله ژبه مبارکه ونیوله او (د هغي طرف ته د اشاري کولو سره) وفرمايل دا بنده ساته، ⑥ ما عرض اوکړو چې اي د الله نبي ﷺ مونږ چې د خپلي ژبي څخه کوم يولفظ راباسو په هغه به هم مواخذه وي؟ ⑦ رسول الله ﷺ وفرمايل معاذ ثكلتك امك (ستا مور دي تا ورك كړي په ښه شان پوه شه چې) ([1]) خلق به پړ مخي په دوزخ کې د دي ژبي (د خرابو) خبرو په وجه غورزول كيږي. احمد، ترمذي، ابن ماجه

حل اللغات: ③ تَتَجَافَى : أَيْ تَتَبَاعَدُ: لرې كيږي، جدا كيږي، ③ الْمَضَاجِعِ: أَيْ الْمَفَارِشِ وَالْمَرَاقِدِ: د بسترو نه او دخوب دځايونو نه، ⑤ رَأْسِ الْأَمْرِ: أَيْ مُخْبِرًا بِأَصْلِ كُلِّ أَمْرٍ: د دين جرړه او اصل يعنى بنياد، ⑥ عَمُوْدِهِ: أَيْ مَا يَقُوْمُ بِهِ وَيَعْتَمِدُ عَلَيْهِ: په كوم چه ولاړ وى يعنى ستن (اومونځ د دين ستن ده)، ⑦ ذِرْوَةِ: أَعْلَى الشَّيْءِ: د هر څيز اوچت ځائې ته وائى، ⑧ سَنَامِهِ: مَا ارْتَفَعَ مِنْ ظَهْرِ الْجَمَلِ قَرِيْبَ عُنُقِهِ: د اوښ څټ سره چه اوچت كوم ځائ وى هغې ته وائى يعنى قُب، د سَنام جمع اسنمة راځى. ⑨ مِلَاكِ: مَا بِهِ إِحْكَامُ الشَّيْءِ: دكوم څيز په ذريعه چه يوبل څيز ته تقويت او استحكام ملاويږى هغې څيز ته ملاك وائى، يعنى اصل او بنياد. ⑩ كُفَّ: أَيِ امْنَعْ: بنده ساته، منع ئي كړه، ⑪ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ: أَيْ فَقَدَتْكَ: ستا مور دې تا ورك كړى يعنى ته دې مړ شي، په ظاهركښې دا خيرې ښكارى خو ددې نه مراد خيرې نه دى بلكه تاديب او تنبيه ده. ⑫ يَكُبُّ: إِذَا صَرَعَهُ عَلَى وَجْهِهِ: دا په مجرد كښې دَ نصر نه پړمخې راغورزولو دَپاره راځى او دَ باب افعال نه لازمى راځى په معنى د پريوتلو. ⑬ مَنَاخِرِهِمْ: أَي ثَقْبُ الْأَنْفِ: مناخر د پوزې سورو ته وائى خو دلته ترې مراد پوزه ده. ⑭ حَصَائِدُ: دا د حصيدة جمع ده، حصيد په وزن د فعيل او فعيل په معنى د مفعول دې، پرې كړې شوى فصل ته وائى خو دلته ترې: أَيْ مَحْصُوْدَاتُهَا: ريبلى شوى څيزونه مراد دى، يعنى په ژبه باندې كړې شوې دګناه خبرې مثلاً ، د كفر خبرې يا كنځل، غيبت، بهتان وغيره.

تسهيلات:

قوله: أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِيَ الْجَنَّةَ:

اشكال: ددې جملې نه معلوميږى چه جنت كښې داخليدل به دَ نيك اعمالو په وجه وى حالانكه په بل روايت كښې تصريح ده چه دَ جنت داخله به دَ الله تعالى په فضل وكرم او رحمت سره وى؟

داشكال دوه جوابونه: ① دا د سبب طرف ته اسناد مجازى دې. نو ترتيب داسې دې چه اخبار النبي ﷺ سبب دې دَ عمل او عمل سبب دې دَ فضلِ الهى او رحمت دَ الله تعالى او د فضلِ الهى سبب دې دَ دخول جنت نو مجازاً دَ عمل طرف ته دَ دخول نسبت صحيح دې.

② دَ بعضې محققينو خيال دې چه نفس داخله خو به هم دَ الله تعالى په فضل سره كيږى مگر دَ درجاتو تقسيم اودَ درجاتو تفاوت به دَ اعمالِ صالحه په تفاوت سره وى.

([1]) دا يوه محاوره ده چې په عربي ژبه کښې د تعجب دپاره ويل كيږي.

قوله: لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ أَمْرٍ عَظِيمٍ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① ستا سوال یو عظیم الشان سوال دې (ځکه چه دَ جنت دَ داخلیدو او دَ دوزخ دَ اور نه دَ خلاصی دَ سبب سوال دې) او چونکه دَدې تعلق امورِ غیبیه سره دې لهذا دَدې جواب دَ هغوی دَپاره آسان دې دَ چا دَپاره چه ئې الله تعالی آسان کړی (اوهغه انبیاء کرام علیهم السلام وی).

② ستا دا سوال دَ مهتم بالشان فعل باره کښې دې ځکه چه داسې افعال په نفس باندې ډیر سخت اوګران وی مګر دَچادَپاره چه الله تعالی آسان کړی دَهغوی دَپاره په دې باندې عمل آسان دې. [کذا اشعة لمعات]

قوله: تَعْبُدُ اللهَ:

د تعبدالله په ترکیب کښې دوه اقوال:

① دا صیغه دَ مبتدا مقدر خبر دې [اي هوأن تعبد الله]

② دا صیغه دَ امر ده په معنی د اعبدالله ده.

دتوحید اهمیت: په دې جمله کښې دَ توحید ذکراوشو او په روستونو جملوکښې دَ اعمال صالحه ذکر راغلې دې ځکه چه دَ توحید نه بغیرهیڅ یو عبادت هډو قبول نه دې.

قوله: أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى أَبْوَابِ الْخَيْرِ:

دابواب الخیر څخه مراد: شیخ توربشتی رحمه الله او ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد نوافل دی ځکه چه په اعمال نافله سره په فرائضو کښې مضبوطیا او استحکام راځی. او هم دغه وجه ده چه نوافل دَ فرائضو باب او دروازه ګرځولې شوې ده. دَ نوافل په ترك کولو سره فرائضوکښې عدم استحکام او کمزوری راځی

قوله: أَلَا أَدُلُّكَ:

خپله په جواب ورکولو کښې نکته: جواب ورکولو کښې حضورپاك دَ حضرت معاذ رضی الله عنه دَ تپوس انتظار اونه کړو بلکه پخپله ئې جواب ورکړو. په دې کښې اشاره ده چه دا مسئله دومره اهم اومهتم بالشان ده چه دَ اوریدونکی دَ جواب انتظار ضروری نه دې.

قوله: الصَّوْمُ جُنَّةٌ:

صوم ته د ډهال وئیلو وجه: دَ روژې په حالت کښې انسان اوګې وی اودَ اولګې اوتندې نه دَ انسان په رګونو کښې دَ وینې اختیار بندیږی او شیطان هم دَ دغه وینې سره دَ انسان په رګونو کښې منډې وهی په دې وجه هغه دَ روژې په حالت کښې په انسان باندې تصرف نه شی کولې ځکه چه روژه قاطع الشهوات ده نو انسان دَ اور نه بچ کیږی.

صوم د دوو څيزونو دپاره ډهال کيدل: ① روژه دَ جهنم د اور دپاره ډهال دې. څنګه چې يو کس د ډهال سره د دشمن نه حملې څخه ځان بچ کوی دغه شان به روژه دار د روژې په ذريعه د جهنم د اور څخه ځان بچ کوی.

② روژه د شيطانی تصرفاتو دپاره هم ډهال دې ددې وضاحت د ,,صوم ته د ډهال وئيلو وجه،، عنوان کښې بيان شو.

دا روژه په هغه وخت کښې ډهال دې چه انسان دا ډهال پخپله اونه شلوی اودَدې شلول دَ روژې سره د منافی امورو مرتکب کيدل دی.

قوله: وَالصَّدَقَةُ تُطْفِئُ الْخَطِيْئَةَ:

د ګناه اود صدقې تشبيه: خطايا خطيئة دَ ګناه په معنی کښې دې. بعضو دې نه صغيره ګناه مراد اخستې ده. دلته دَ تطفئ په لفظ کښې دَ اور مړکولو مفهوم پروت دې. نودَ ګناه تشبيه ئی اورسره ورکړې ده اودَ صدقې تشبيه ئی اوبوسره ورکړې ده. بياهم دَدغه اور په مناسبت سره اطفاء دَ اورمړکولولفظ استعمال کړې شوې دې په دې کې استعارات دی.

د روژې څخه روسته دصدقې په ذکر کولو کښې نکته: روژه دَ ګناهونودَ اور دَپاره ډهال جوړ شو مګر دَ ګناهونودَ ګرمائش بياهم امکان وو نو په دې جمله کښې دَ ګناهونودَ ګرمائش دَختمولودَپاره دَ صدقې ذکر اوکړې شو او په صدقې سره دَ ګناهونو ګرمائش ختميږی.

قوله: وَصَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ:

د مذکوره جملې ترکيب اود تهجدود موقع عظمت: داعبارت مبتداء ده اوکذالك خبر محذوف دې ,,أي تطفئ الخطيئة،، دَ شپې په مينځ کښې ځکه چه په دې وخت کښې کمالِ اخلاص هم وی اوداعمل په نفس باندې سخت اوګران هم وی.

قوله: أَلَا أَدُلُّكَ بِرَأْسِ الْأَمْرِ:

د رأس الامر څخه مراد: حافظ تورپشتی رحمه الله فرمائی چه دَ رأس الأمر نه مراد شهادتين او اسلام دواړه دی او په جواب کښې ئی ورته هم اسلام ذکر کړو.

ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه رأس الأمر نه مراد اصل او جرړه ده او په جواب کښې چه دا کوم اسلام راغلې دې دې نه مراد شهادتين دی.

قوله: وَذِرْوَةُ سَنَامِهِ الْجِهَادُ:

د اوښ د قب سره د جهاد تشبيه ورکول: دلته اسلام ته په مضبوطې جثې والا اوښ سره تشبيه ورکړې شوې ده. بيا دَ اوښ دَ لوازماتو نه دَهغې قُب دې بيا دُ قُب يوه اوچته پورته حصه وی کومه چه دَ رفعت او عظمت ضامن وی او دَ اوښ وغيره مذکر دَ شان ننبه وی. په

اسلام كښې دَ جهاد مقام هم په دې حيثيت سره ښكاره كړې شوې دې.

علامه طيبى رحمه الله فرمائى [إشارة إلى صعوبة الجهاد وعلو أمره وتفوقه على سائر الأعمال] يعنى دَ ذروه په لفظ سره اشاره ده چه جهاد يو ګران كار دې او يوعالى شان حكم دې چه په ټولو اعمالو باندې فوقيت لرى. [الكاشف: ۱/۱۷۷-۱۷۶]

قوله: كُفَّ عَلَيْكَ هٰذَا:

دژبې د حفاظت حكم: يعنى دَ ژبې حفاظت اوكړه او دا دَ فضولياتو او بې فائدې خبرو نه رامنع كړه په دې سره به ټول احكامات او شرائع محفوظ، مضبوط اومستحكم شى.

قوله: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ:

دمعاذ رضى الله عنه حيرانتيا: دلته حضرت معاذ رضي الله عنه په حيرانتيا سره تپوس اوكړو چه آيا دَ ژبې صرف په خبرو باندې به نيول كيږى؟ نوحضورپاك هم لږ شان په سخت انداز كښې جواب وركړو چه په جهنم كښې په حقيقت كښې هم دَ ژبې بې احتياطى بنيادى حيثيت لرى. دَ غټو غټو ګناهونو او غټو غټو فتنو تعلق هم دَ ژبې سره دې.

قوله: إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ:

د ژبې د ګناهونو فصل كټ كونكى لور سره د تشبيه وركولووجه: دلته محصودات الألسنه (يعنى دَ انسان دَ ژبې خبرې اترې اودَ فضول كلام) تشبيه ئې هغه پټى سره وركړې ده چه په تيره لور سره پرې كړې شوې وى. دا يوه فصيح او بليغ تشبيه ده لكه چه ژبه بغيردَ څه تميزنه هرجائز اوناجائز كلام كښې داسې لګيدلې ده لكه څنګه چه لور دَ وښو پرې كولو په وخت كښې دا تميز نه كوى چه هغه كوم قسم وانبه ريبى. آيا فائده وركونكى هم دى اوكه زهريلا دى. بهرحال دلته دَ ژبې خطرې په ډير بليغ انداز كښې خودلې شوې دى څكه چه ژبه دَ خير او شر جرړه ده.

[۳۰] دالله تعالى د رضا دپاره د محبت او بغض ساتلو فضيلت

۳۰-(۱)[۲۷] [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ، وَأَبْغَضَ لِلَّهِ، [۳] وَأَعْطَى لِلَّهِ، وَمَنَعَ لِلَّهِ، فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو امامه رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [۲] كوم سړي چې يوازې د الله د پاره محبت [۳] او د الله د پاره بغض او د ښمني ساتي او د الله د پاره خرڅ كوي نو يقينًا هغه ايمان كامل كي، ابو داود

حل اللغات: ① أَحَبَّ لِلَّهِ: خالص دالله دپاره محبت كوى (دڅه څيز سره يا دكوم انسان سره، نور ئې خپل څه شهوت او غرض نه وى خالص دالله رضا ئې مطلوب وى). ② أَبْغَضَ لِلَّهِ: خالص دالله دپاره

[۱] وابوداود كتاب السنة /باب الدليل على زيادة الإيمان ونقصانه(رقم-۴۶۸۱)

بغض او نفرت کوی (په څه څیز ورکولو کښې، منع کولو کښې، خبروکښې، خاموشئ کښې یعنی هرڅه کښې ئې خالص دالله رضا مطلوب وی، خپل خواهش، نفرت او انتقام وغیره ئې مقصود نه وی.)

۳۱-(¹)[۰] [۱] وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ مَعَ تَقْدِيمٍ وَتَأْخِيرٍ [۲] وَفِيهِ: فَقَدِ اسْتَكْمَلَ إِيمَانَهُ".

ترجمه: [۱] او ترمذي دا روایت دمعاذ بن انس ﷺ څخه څه قدري مخکې والي او وروسته والي د الفاظو سره نقل کړي دي [۲] چې د هغه آخري الفاظ دادي: نو یقیناً هغه خپل ایمان کامل کړلو

دراوي مختصر تعارف: نوم ایاس مگر دَ بعضو په نیز دَ هغه نوم عبدالله بن ثعلبه دې بعضو دَ دې عکس یعنی ثعلبه بن عبدالله وئیلې دي کنیت ابوامامه دَ پلار نوم ثعلبه یا عبدالله وو اودَ قبیله خزرج نه وو.

مرویات: دَ هغه نه دوه روایات نقل دی بعض وائی درې روایات نقل دی.په یوکښې مسلم په دویم کښې بخاری منفرد دی.

تسهیلات: قوله: مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ:

دایمان د تکمیل دپاره د مذکوره صفاتو د تخصیص وجه: نبی کریم ﷺ دې څائې د ایمان د تکمیل څلور څیزونه په طور د علامت بیان فرمائیلی دی. ددې څلورو څیزونو تخصیص ئې په دې وجه فرمائیلې دي چې دا څلور څیزونه د لذائذ نفس د قبیل څخه دی. په دې وجه په دې کښې اخلاص پیدا کول ډیر مشکل دی. هرکَله چې یو کس په لذائذ نفس کښې اخلاص پیدا کولو کښې کامیاب شی نو په نورو څیزونو کښې به بدرجه اولی مخلص وی. او هم دا کمال دې.

[۳۲] په قلبی اعمالو کښې افضل عمل

۳۲-(²)[۲۸] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " [۲] «أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ الْحُبُّ فِي اللَّهِ وَالْبُغْضُ فِي اللَّهِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] (په باطني) عملونو کې د ټولو څخه افضله مرتبه د هغه عمل ده چې د الله د پاره (د چا سره) محبت وي او د الله د پاره (د چا سره) بغض او دښمني ساتي. ابو داود

حل اللغات: ① الْحُبُّ فِي اللَّهِ: دالله د رضا دپاره محبت کول، ② الْبُغْضُ فِي اللَّهِ: دالله د رضا دپاره نفرت او بغض کول (یعنی محبت ئې هم د الله د رضا دپاره وی او نفرت ئې هم د الله د رضا دپاره وی).

---

¹) اخرجه ترمذی کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/بباب (رقم-۲۵۲۱) واحمد فی المسند۳/۵٤۰.

²) وابوداود کتاب السنة/باب مجانبة أهل الأهواء وبغضهم(رقم-٤۵۹۹)

تسهیلات: قوله: أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ الْحُبُّ فِي اللَّهِ..الخ:

د مذکوره عمل د افضلیت وجه: دا اعمال ئې د دې د پاره د ټولونه غوره اوګرځول چه دا اعمال قلبیه دی کوم چه صرف الله تعالی ته معلوم دی ځکه چه د ریاکارئی نه محفوظ دی د قلبی کیفیت د کیدو د وجې نه د ځان خودلو امکان نشته.

[۳۳] د رښتني مومن مسلمان صفات

۳۳ -(۱)[۲۹] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، ③ وَالْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② (کامل او رښتني) مسلمان هغه دي چې د هغه د لاس او ژبي (د ضرر څخه) مسلمان محفوظ وي ③ او (پوخ او صادق) مؤمن هغه دي چې د هغه څخه خلق خپل ځان او مال محفوظ وګڼي. ترمذي نسائي

حل اللغات: ① سَلِمَ: چه سلامت وی، محفوظ وی (خلق)، ② لِسَانِهِ: أَيْ: بِالشَّتْمِ، وَاللَّعْنِ: د ژبې نه مراد دهغې ضررونه دی (مثلاً کنځل، بد رد وئیل، غیبت، بهتان وغیره). ③ يَدِهِ: أي بِالضَّرْبِ، وَالْقَتْلِ: د لاس نه مراد د لاس ضررونه دی. (مثلاً وهل ټکول، قتلول، ورانول وغیره). ④ أَمِنَهُ: يَعْنِي جَعَلُوهُ أَمِينًا: یعنی خلقو دې امین اوګڼړلو دخپل ځان او مال باره کښې یعنی خلق ترې محفوظ وی.

۳۴ -(۲)[۳۰] ① وَزَادَ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ " بِرِوَايَةِ فَضَالَةَ: "② «وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي طَاعَةِ اللَّهِ، ③ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوبَ» ".

ترجمه: ① او شعب الایمان کې بیهقي د فضاله څخه کوم روایت نقل کړي دي په هغه کې دا الفاظ هم دي: ② او (حقیقي) مجاهد هغه دي چې د الله په اطاعت او عبادت کې د خپل نفس سره جهاد اوکړو ③ او (اصل) مهاجر هغه دي چې ټول واړه او لوي ګناهونه یي ترک کړل.

حل اللغات: ① جَاهَدَ: د باب مفاعله نه د ماضی صیغه ده، ځان ئې اوکړولو، یعنی جهاد ئې اوکړو، ② هَجَرَ: أَيْ تَرَكَ: چه پریخودل، ③ الْخَطَايَا: صغیره ګناهونه. ④ الذُّنُوبَ: کبیره ګناهونه.

تسهیلات:

قوله: الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ:

نوټ: ددې حدیث پاك ړومبی حصه باندې کلام حدیث نمبر (۲) کښې تیر شوې دې.

(۱) اخرجه النسائی باب صفة المسلم (رقم-۴۹۹۶) والترمذی کتاب الإیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أن المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده (رقم-۲۶۲۷)

(۲) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۱۱۱۲۲ واحمد فی المسند ۲۱/۶

قوله: وَالْمُجَاهِدُ مَنْ جَاهَدَ نَفْسَهُ فِي طَاعَةِ اللّٰهِ:

نوټ: جهاد سره متعلق مباحث به په کتاب الجهاد کښې راشي دهغې انتظار او کړئ.

قوله: وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ الْخَطَايَا وَالذُّنُوبَ:

د خطايا څخه مراد: د خطايا څخه مراد واړه ګناهونه دی او الذنوب لوې ګناهونوته وائی. ځيني اهل لغت دا ترتيب بيان کړې دي چې (۱) سيئات (۲) خطايا (۳) ذنوب (٤) معاصی دې ترتيب سره واړه او بيا لوې ګناهونه دی، خطايا کښې عمد نشته او په ذنوب کښې عمد شته دې.

[۳۵] دامانت اووعدې د پوره کولو اهميت

۳۵ –()[۳۰] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ قَلَّمَا خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَّا قَالَ: "۳ «لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ»". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترحمه: ۱ او حضرت انس ﷺ وايي ۲ چې رسول الله ﷺ به داسې خطبه کمه ورکړې وي چې په هغه کې يې دا نه وي فرمايلي ۳ چې کوم سړي کې امانت نشته دهغه ايمان هم هيڅ نه دي او په چا کې چې ايفائ عهد (وعده پوره کول) نشته د هغه دين هم هيڅ نه دي. شعب الايمان

حل اللغات: ① قَلَّمَا خَطَبَنَا: په قَلَّمَا کښې ما مصدريه ده، يعنی کم کوز، أَيْ قَلَّ خُطْبَةً: ډيره کمه خطبه به داسې وه.

تسهيلات:

قوله: لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ:

د امانت او عهد په مصداق کښې پنځه اقوال:

① بعضې علماؤ دَامانت نه مراد فرائض، دين او حدود الله اخستی دی.

② په دې حديث کښې دَامانت څخه مراد هغه امانتونه دی چه دَخلقو په خپل مينځ کښې دَ اموالو مجالسو اودکلام رازدارئی او حفاظت سره متعلق دی اودَعهدنه مرادهم دَخلقو په خپل مينځ کښې وعدې اومعاهدې دی په دې کښې به دَ تغليظ اوتشديدپه ايمان کښې نفی دکمال دَايمان ده چه هغه سړې کامل مسلمان نه دې چه دَخلقو په امانتونو کښې خيانت کوی.

---

۱) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ٤٣٥٤ واحمد فی المسند: ۱٥٤/۳

③ دَامانت څخه مراد تکالیف شرعیه دی دکوم طرف ته چه آیت ﴿ إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ﴾ کښې اشاره فرمائیلې شوې ده اودَ عهدڅخه مراد دَعالم ارواح وعده ﴿أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوا بَلٰى﴾ ده په دې صورت کښې دَ ایمان په نفی کښې هیڅ اشکال نشته ځکه چه هغه خوپوره دین دې نوکه داقسم امانت او عهدچرته په یوسړی کښې نه وی نوپه هغه کښې هم ایمان نشته نودَ اصل ایمان نفی ده.دا دویم او دریم نمبر احتمالات شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمہ اللہ بیان کړی دی.

④ ملاعلی قاری رحمہ اللہ فرمائی چه کوم خلق دَعام خیانت او وعده خلافئی عادت شی اوبیاپه دغه وعده خلافئی او خیانت کښې ترقی کولوسره کفرته اورسی نوممکن ده چه داقسم خلق دَدې حدیث مرادوی نوبیابه داحکم په اعتبار مایؤل الیه شی چه په چاکښې آخرکار دیانت او وعده پوره کول نه وی بلکه هغه دکفردرجې ته اورسی نونه دَهغه ایمان شته اونه ئی دین شته، امانت مع الله دادې چه دَهغه دَاوامراو نواهی پوره پوره خیال اوساتلې شی او امانت مع الخلق دادې چه په معاملاتوکښې دَهغوی دَ حقوقوخیال اوساتلې شی نودَحقوق الله اوحقوق العباد لحاظ ساتل کامل ایمان دې.

⑤ دَعلامه شبیراحمدعثمانی رحمہ اللہ رائې ده چه دَ امانت څخه مراد دَایمان او دَ هدایت یوتخم اواستعداددې کوم چه دَانسانانوپه زړونوکښې شیندلې شوې دې دکوم طرف ته چه دَحضرت حذیفه رضی اللہ عنہ روایت اشاره کوی هغه فرمائی "الأمانة نزلت من السماء علی ذر قلوب الرجال الخ" بیاقرآن کریم نازل شونوهغه استعدادزیات ښکاره شو. دَدې روایت په اعتبارسره امانت هغه خلقی او طبعی استعداددې کوم ته چه فطرت وئیلی شی دَدې تفصیل به په کتاب الفتن کښې راشی.

اشکال: دې نه وړاندې تیرشوی دی چه ایمان اودین یودې بیاایمان اودین په جدا جدامعنی ولې پیش کړې شوپه کوم سره چه دَ تباین پته لګی؟

داشکال دوه جوابونه: ① په معنوی اعتبارسره ایمان اودین متحددی دلته دَدواړو ذکرکول معنوی تکرار دې کوم چه دَتاکیددَپاره دې لفظی تکرارنه دې.

② په ایمان اودین او اسلام کښې دَ یورائې مطابق تباین دې نودلته دَ تباین په توګه بیان کړې شو.

......

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٣٦] دابدي خلاصون ضمانت

٣٦ –(١)[٣١] ١ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ يَقُولُ: "«مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ ٣ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ النَّارَ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت عباده بن صامت ﷺ وايي چې ما درسول الله ﷺ څخه دا واوريدل ٢ چې كوم سړي (د زړه د اخلاصه) د دې خبرې ګواهي وكړي چې د الله څخه ماسوا بل څوك د عبادت لايق نشته او محمد ﷺ د هغه رسول دي، ٣ نو الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ (به په خپل فضل وكرم سره) په هغه د دوزخ اور حرام كړي. مسلم

تسهيلات:

نوټ: صرف د شهادتينو په وئيلو د دخول جنت تفصيل وړاندې بار بارتير شوې دي.

[٣٧] دتوحيد په اقرار جنت ته داخليدل

٣٧ –(٢)[٣٢] ١ وَعَنْ عُثْمَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ٢ «مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ ٣ دَخَلَ الْجَنَّةَ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت عثمان بن عفان ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كوم سړي چې په دې (پوخ) اعتقاد وفات شو چې د الله څخه ماسوا بل معبود نشته ٣ نو هغه جنتي دي، مسلم

حل اللغات: ① يَعْلَمُ: أَيْ عِلْمًا يَقِينًا: يقيني طور ورته معلومه وى. دَعلم نه مراد علم يقيني اوعقدجازم دې، صرف معرفت نه دې اوعقدجازم انقياد اوتسليم لره مستلزم دې.

تسهيلات: **قوله:** مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ:

د الله تعالى د وحدانيت د عقيدې ساتلو عظمت: عقد جازم او دَدې عقيدې لرلونه پس په دې كښې هيڅ حرج نشته چه دغه سړى ته دَ زبانى اقرار وخت ملاؤنه شويا وخت ملاؤ شو مګرفوراً ئې په ژبه سره اقرار اونه كړو ياپه زبانى اقراربانديې قادرنه شو يادَ اقرارواجب كيدو هغه ته علم نه وو ياچادَهغه نه دَاقرار مطالبه اونه كړه اودا سړې مخكښې مړشو نو په دې ټولو صورتونو كښې دا سړې جنتى دې اوهم دغه عقيده كافى ده. دَ وهويعلم مفهوم هم دغه دې.

١) اخرجه مسلم كتاب الايمان باب من لقى الله بالإيمان وهو غير شاك فيه دخل الجنة وحرم على النار٤٧ - (٢٩)) والترمذى كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ماجاء فيمن يموت وهويشهد أن لا إله إلا الله (رقم٢٦٣٨)

٢) اخرجه مسلم كتاب الايمان باب أول الإيمان قول لا إله إلا الله(رقم-٤٣ - (٢٦)) واحمد فى المسند ٦٩/١.

قوله: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ:

د نبی علیه السلام د رسالت لزوم: دې جملې سره دَمحمد رسول الله جمله مستلزم ده که څوک دَدې ذکراوکړی اوکه اونه کړی څکه چه لااله الا الله دَ شهادتینو دَ پاره په توګه دَعلم دې نوایمان بالرسالة هم په ده کښې راغلو لکه چه وړاندې تحقیق تیرشوې دې.

قوله: دَخَلَ الْجَنَّةَ:

نوټ: دخول اولی یا که ثانوی وی داټول مباحث تیر شوی دی.

[۳۸] دجنت او د دوزخ واجبونکي اعمال

۳۸ – ()[۳۳] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲] «ثِنْتَانِ مُوجِبَتَانِ" [۳] قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا الْمُوجِبَتَانِ؟ [۴] قَالَ: " مَنْ مَاتَ يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ النَّارَ، [۵] وَمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللَّهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] دوه خبري (جنت او دوزخ) واجب کونکي دي، [۳] یو صحابي عرض وکړو چې هغه کومي دوه خبري دي؟ [۴] حضور ﷺ وفرمایل اوله خبره خو دا چې کوم سړي په دي حال کې مړسو چې هغه د الله سره څوک شریك کړي وو نو هغه به د دوزخ په اورکي اچول کیږی [۵] (او دویمه خبره دا چې) کوم سړي چې په دي حال کې وفات شو چې هغه څوك د الله سره نه وو شریك کړي نو هغه به جنت ته ځي. مسلم

حل اللغات: ① ثِنْتَانِ: داصفت دي دَدې موصوف محذوف دې یعنی: أَيْ خَصْلَتَانِ: دوه صفتونه، دوه خویونه، ② مُوجِبَتَانِ: مَا يَجِبُ بِهِ الْجَنَّةُ أَوِالنَّارُ: واجب کونکی دوه څیزونه (چه هغې سره یا جنت واجبیږی یا دوزخ).

د راوي مختصر تعارف: د دوی نوم حضرت جابر، کنیت ئې ابو عبدالله دې د خزرج قبیلې سره تعلق ساتی د پلار نوم ئې عبدالله او د مور نوم ئې نسیبه وو د دوی نیکه عمرو د خپل خاندان سردار وو په عقبه ثانیه کښې ئې د خپل پلار سره ایمان راوړې وو د احد نه پس په ټولو غزاګانو کښې شریک شوې وو د نبی کریم ﷺ سره ئې په ۱۹ غزاګانو کښې شرکت کړې وو (۲)

---

[1]) اخرجه مسلم كتاب الإيمان/باب من مات لا يشرک بالله شيئا دخل الجنة، ومن مات مشركا دخل النار(رقم-۱۵۱ - (۹۳) واحمد فی المسند :۳۹۱/۳.

[2]) مسند احد (۳۲۹\۳)_ (۲) اسدالغابة (۲۵۷\۲)_ (۳) الادب المفرد)_ (٤) تهذيب التهذيب)_

(۵) مسند احمد (۳۳۰\۳)_

په ۳۷ هجری کښې د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه په خپل مینځ کښې جنګ کښې دوی د حضرت علی رضی الله عنه په ملګرتیا کښې جنګیدلې وو (۲)

حضرت جابر رضی الله عنه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نه پس د نورو خلقو نه هم علم دین زده کړې وو په هغوی کښې حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه، حضرت عمر رضی الله عنه، حضرت علی رضی الله عنه، حضرت ابوعبیده رضی الله عنه، حضرت طلحه رضی الله عنه، حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه، حضرت معاذبن جبل رضی الله عنه، حضرت ابوهریره رضی الله عنه، حضرت عبدالله بن انیس رضی الله عنه، حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه وغیره شامل دی یو ځل ورته معلومه شوه چه حضرت عبدالله بن انیس رضی الله عنه سره یو حدیث دې او هغوی په شام کښې اوسیدو نو دوی اوښ واخستل او بیا هلته لاړلو او هغه حدیث ئې واورید.

د دوی شاګردان هم ډیر دی مثلاً امام باقر، عبدالله بن منکدر، حسین بن محمد بن حنفیه وغیره په خری عمر کښې نابینا شوې وو.

وفات: دحجاج بن یوسف په زمانه کښیې د ۹۴ کالو په عمر کښې وفات شوې وو وصیت ئې کړې وو چه حجاج به زما د جنازې مونځ نه کوی د دې وجې د حضرت عثمان ځوی ابآن د دوی د جنازې مونځ کړې وو او په بقیع کښې دفت شوې وو خو بعضې وائی چه د جنازې مونځ هم حجاج بن یوسف کړې وو.

مرویات: د دوی د روایاتو شمار ۵۴۰ دې په احادیث کښې بۀ ئې ډیر زیات احتیاط کولونبی صلی الله علیه وسلم ته رسولو په ځائې بۀ ئې په ځان باندې حدیث موقوف کولو د ویرې د وجې چه په نبی صلی الله علیه وسلم باندې رانه د څه ټیکی کمې زیاتې اونشی.

تسهیلات:

قوله: ثِنْتَانِ مُوجِبَتَانِ:

د وجوب په مفهوم کښې دوه اقوال: ① واجبونکې او وجوب دَ اهل سنت والجماعة په نیزدَالله تعالی دَخپلې وعدې او احسان اواکرام په توګه دې

② واجبونکې او وجوب د معتزلۀ په نیز پخپله داعمل واجبونکې دې او په الله تعالی باندې بدله ورکول واجب او لا زم وی.

دحدیث مفهوم: دَحدیث مطلب داشو چه کوم سړی دَ شرك جلی ارتکاب اوکړو اوهم په هغې مړشو نودوزخ دَهغه دَپاره واجب دې اوکوم سړی چه شرك نه دې کړې اودَتوحید اسلام په عقیده باندې مړشو نودَهغه دَپاره جنت واجب دې اوکه ګناهونه ئی کړی وی اودَ سزا مستحق شو دوزخ ته لاړو نوهمیشه به هلته نه وی بیابه راوځی او جنت ته به ځی نودَ جنت دخول به کیږی که په اول ځل وی اوکه په دویم ځل وی.

[٣٩] د توحيد په عقيده باندې قائم اوسېدو نکو د پاره د جنت زيري

٣٩-()[٣٣] [١] «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: كُنَّا قُعُودًا حَوْلَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢] وَمَعَنَا أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- فِي نَفَرٍ، [٣] فَقَامَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا، [٤] فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا، وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا، وَفَزِعْنَا [٥] فَقُمْنَا، فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٦] حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطًا لِلْأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ، فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَابًا فَلَمْ أَجِدْ، [٧] فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ -وَالرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ- [٨] قَالَ: فَاحْتَفَزْتُ فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٩] فَقَالَ: "أَبُو هُرَيْرَةَ؟" فَقُلْتُ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ. [١٠] قَالَ: "مَا شَأْنُكَ؟" قُلْتُ: كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا، فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا، فَفَزِعْنَا،

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې (يوه ورځ) مونږ صحابه د رسول الله ﷺ سره شا وخوا ناست وو [٢] او زمونږ سره حضرت ابو بكر ﷺ او حضرت عمر ﷺ هم وو [٣] چې ناڅاپه رسول ﷺ زمونږ د مينځ څخه لاړلو او د باندې يي تشريف يوړو، هر كله چې وخت ډېر تير شو (اووابس يي تشريف رانه وړي) نو مونږ سره سخت فكرشو چې چېرته زمونږ په غيرموجودګۍ كې د يو د ښمن د خوا څخه رسول الله ﷺ ته څه تكليف ونه رسيږي [٤] (په دي خيال سره) مونږ سره بيړه (جلتي) پيدا شوه او لاړلو، چونكه د ټولو څخه مخكښي سړي زه وم چې وويرېدم د دې وجې څخه (د ټولو څخه اول) زه درسول الله ﷺ په تلاش كې بهر راووتم [٥] چې د قبيله بني نجار ديو انصاري باغ ته نزدې ورسيدم، (په دي خيال چې كيدې شي رسول الله ﷺ په دي باغ كې دننه وي) ما (د دننه دورتلو د پاره) څلور واړو طرفونو ته دروازه ولټوله خو (په پريشاني اوويره كې) دروازه په نظر رانغله، [٦] ناڅاپه يوه نالي مي په نظر راغله چې د بهر كوهى څخه باغ ته د ننه تله [٧] نو ما ځان راغونډ كې او په هغه نالي كي داخل شوم او د هغې په ذريعه د رسول الله ﷺ خدمت مبارك ته اورسيدم رسول الله ﷺ (دغه رنګه ناڅاپه زما په ليدو سره په حيرانتيا سره) [٨] وفرمايل ابوهريره ته؟ ما عرض اوكړو چې هو يا رسول الله (ﷺ)، [٩] ده ﷺ وفرمايل څه خبره ده؟ ما عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ ته زمونږ په مينځ كې تشريف فرما وي او بيا ولاړ شوې او روان شوې، [١٠] هركله چې ډېر وخت تير شو او واپس رانغلې نو مونږ وويرېدلو چې چېرته زمونږ په غير موجودګۍ كې (الله دې نه كوي) تا ﷺ ته څه حادثه نه وي پيښه شوې

حل اللغات: ① قُعُودًا: أَيْ قَاعِدِينَ: ناست وو، ② حَوْلَ: ګيرچاپيره، خواوشا، ③ نَفَرٍ: أَيْ مَعَ جَمَاعَةٍ: ټولګې، جماعت (يعنى يوڅو صحابه كرام نورهم وو). دڅريونه ترلسو پورې جماعت باندې دنفراطلاق كيږي بيامطلقًا په قوم او جماعت باندې ددې اطلاق شوې دې. ④ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا: أَيْ

[١] اخرجه مسلم كتاب الإيمان /باب من لقى الله بالإيمان وهو غير شاك فيه دخل الجنة وحرم على النار (رقم-٥٢-(٣١)

مِنْ بَيْنِنَا: اظهر دلته زائد دې د تاکید دپاره راغلې دې، معنی ئې ده: زمونږ دمنځ نه یعنی زمونږ د ډلې او خوا نه، اظهر دَ ظهر جمع ده دَ شا په معنی کښې دې خلق چه کله کینی نودَ شاګانو په مینځ کښې وی. ⑤ فَأَبْطَأَ: أَيْ مَكَثَ وَتَوَقَّفَ عَنَّا كَثِيرًا: ډیر وخت ئې تیر کړو. ⑥ أَنْ يُقْتَطَعَ: دَټکړې ټکړې کیدو په معنی کښې دې. ای أَنْ يُصَابَ بِمَكْرُوهٍ مِنْ عَدُوٍّ أَوْ غَيْرِهِ: چې چرته د یو د ښمن یا بل طرفه رسول الله ﷺ ته څه تکلیف ونه رسیږی. ⑦ دُونَنَا: أَيْ مُتَجَاوِزًا عَنَّا وَبَعِيدًا مِنَّا: زمونږ نه لرې یعنی زمونږ په غیرموجودګئ کښې، ⑧ فَزِعْنَا: أَيِ اضْطَرَبْنَا: مونږ سره جلتی پیدا شوه، پریشانه شو.

[۱] فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ، فَأَتَيْتُ هَذَا الْحَائِطَ فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ، [۲] وَهَؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَاءَ الْحَائِطِ، [۳] فَقَالَ: "يَا أَبَا هُرَيْرَةَ"، وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ، فَقَالَ: "اذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ، [۴] فَمَنْ لَقِيكَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ، [۵] فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيتُ عُمَرَ، [٦] فَقَالَ: مَا هَاتَانِ النَّعْلَانِ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ [۷] قُلْتُ هَاتَانِ نَعْلَا رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعَثَنِي بِهِمَا، مَنْ لَقِيتُ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ، [۸] فَضَرَبَ عُمَرُ بَيْنَ ثَدْيَيَّ، فَخَرَرْتُ لِاسْتِي. [۹] فَقَالَ: ارْجِعْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَجْهَشْتُ بِالْبُكَاءِ، [۱۰] وَرَكِبَنِي عُمَرُ، وَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "مَالَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟"،

ترجمه: [۱] او د ټولو څخه مخکې جلتي په ما خوره شوه نو ستا په لټون کې دې باغ ته راورسیدم، (دلته دروازه په نظر رانغله) نو د ګیدړې په شان ځان را غونډولو سره (د نالي د لارې څخه) دننه راغلم، [۲] پاتې خلق هم زما ترشا را روان دي (په دي اوریدو سره) [۳] رسول الله ﷺ خپلي دواړه چپلي یي ویستلي او ماته یي راکړې او وي فرمایل اي ابوهریره څه دا چپلي د ځان سره یوسه (چي خلقو ته معلومه شی چې ته ماته راغلي يي) [۴] او د باغ څخه بهر چې کوم سړي د زړه د اخلاصه او پوخ یقین سره دا ګواهي ورکولو سره ستا سره یو ځاي شی چې د الله څخه ماسوا بل څوك د عبادت لایق نشته نو هغه ته د جنت زیري ورکه [۵] (حضرت ابوهریره وایي چې د حضور ﷺ په دي پیغام سره زه بهر راووتلم نو) د ټولو څخه مخکې د حضرت عمر ﷺ سره زما ملاقات وشو [٦] هغه پوښتنه وکړه، ابوهریره ﷺ دا چپلي درسره څنګه دي؟ [۷] ما ورته اوویل دا د رسول الله ﷺ چپلي دي هغه (د نښاني په طور) دا چپلي ماته راکړي او د دې دپاره رالیږلي یم چې کوم سړي د زړه د اخلاصه او د پاخه یقین سره دا ګواهي کولو سره راسره یو ځاي شی چې د الله تعالیٰ څخه ماسوا بل څوك د عبادت لایق نشته نو زه هغه ته د جنت زیري ورکړم، [۸] (په دي اوریدو سره) حضرت عمر ﷺ دومره په زورسره په سینه ووهلم چې زه په شا راغوځار شوم [۹] بیا هغه اوویل چې ابوهریره واپس لاړ شه، نو زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې په ژړا ژړا راغلم، [۱۰] د اخوا د حضرت عمر ﷺ بیره په ما خوره وه، اوس څه ګورم چې هغه هم په ما پسې راورسیدي، د دواړو جهانونو سردار ﷺ (په دي حالت

ليدو سره) وفرمايل ابوهريره څه وشو؟

حل اللغات: ⑨ حَائِطًا: أَيْ بُسْتَانًا لَهُ حِيطَانٌ: حائط اصل کښې ديوال ته وائى خو هغه باغ ته هم وائى کوم نه چه ګير چاپيره ديوال وى. دلته ترې همدا مراد دې. ⑩ فَدُرْتُ: دار، يدور دَچاپيره تاويدو په معنى کښې دې. يعنى اومې لټوله (دروازه). ⑪ رَبِيعٌ: أَي نَهْرٌ صَغِيرٌ: وړوکې نهر، نالئ يا لختې، ⑫ الرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ: يعنى ربيع معنى ده جدول يعنى نالئ، لختې، ⑬ فَاحْتَفَزْتُ: وَمَعْنَاهُ تَضَامَمْتُ لِيَسَعَنِي الْمَدْخَلُ: ځان مې راټول کړو چه سوړه کښې ورځائ شم، ⑭ مَا شَأْنُكَ؟: أَي مَا سَبَبُ مَا أَتَاكَ وَاضْطِرَابِكَ؟: يعنى ستا د راتلو او د پريشانئ څه وجه ده؟ ⑮ الثَّعْلَبُ: ګيدړ، ⑯ بَيْنَ ثَدْيَيَّ: أَيْ فِي صَدْرِي: سينه، ⑰ فَخَرَرْتُ: خريخر دَ پريوتلو په معنى کښې دې. أَيْ سَقَطْتُ: اوغورځيدم، پريوتم، ⑱ لِاسْتِي: أَيْ عَلَى مَقْعَدِي: په کوناټو، يعنى په شا پريوتم. ⑲ - فَأَجْهَشْتُ: أَنْ يَفْزَعَ الْإِنْسَانُ إِلَى إِنْسَانٍ وَيَلْجَأَ إِلَيْهِ، وَمَعَ ذَلِكَ يُرِيدُ الْبُكَاءَ: چاته د ويرې نه په ژړغونى آواز کښې فرياد کولو ته اجهاش وائى. جهش او اجهاش مزيد اومجرد دواړه هم په يومعنى کښې دى يعنى ژړا فرياد کولوسره دَچا په پناه کښې تلل لکه ماشوم چه په ژړاکښې مور له ځى دا ژړا يا خود دردد وجې نه وه يا دَ بې عزتئ دَ وجې نه وه. ⑳ الْبُكَاءُ: ژړل، ㉑ وَرَكِبَنِي: أَيْ أَثْقَلَنِي عُمَرُ: د زبردستئ او ويرې بوج راباندې سور وو، ㉒ عَلَى أَثَرِي: أَيْ عَقِبِي: ما پسې، زما نه روسته روسته،

[۱] فَقُلْتُ: لَقِيتُ عُمَرَ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي بَعَثْتَنِي بِهِ، [۲] فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَيَّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاسْتِي فَقَالَ: ارْجِعْ. [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "يَا عُمَرُ! مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ؟" [۴] قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، أَبَعَثْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ بِنَعْلَيْكَ مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ؟ قَالَ: "نَعَمْ". [۵] قَالَ: فَلَا تَفْعَلْ، فَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَتَّكِلَ النَّاسُ عَلَيْهَا، [۶] فَخَلِّهِمْ يَعْمَلُونَ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "فَخَلِّهِمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ما عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ (ما ستا ﷺ) پيغام وړولو سره بهر راووتلم) نو د ټولو څخه مخکې زما ملاقات دحضرت عمر (رضی الله عنه) سره اوشو، ما ستا هغه پيغام ورته اورسوي [۲] (هغه په دې اوريدو سره) دومره په زور سره په سينه ووهلم چې زه په زمکه باندې ولويدم بيا هغه راته اوويل واپس لاړ شه، [۳] د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ (د حضرت عمر رضی الله عنه څخه) پوښتنه وکړه اي عمره رضی الله عنه تا داسې ولې وکړل؟ [۴] هغه اوويل يا رسول الله ﷺ زما مور او پلار دې په تا قربان وي، آيا واقعي تا (ﷺ) ابوهريره ته خپلې چپلې ورکولو سره ددې دپاره راليږلې وو چې کوم سړي دزړه داخلاصه او پوخ يقين سره لا إله الا الله ويلو سره پيدا کوي هغه ته دجنت زيرې ورکړه؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هو، [۵] حضرت عمر رضی الله عنه عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ داسې مه کوي زما سره بيره (جلتى) ده چې چېرته خلق په دې زيرې بروسه اونه کړي (او عمل کول پرې نږدي) [۶] نو تاسو ﷺ هغوئ (زيات څخه زيات) عمل کولو کې مشغول

پريږدي، رسول الله ﷺ وفرمايل (که ستا دا مشوره ده) نو بيا خلق په عمل کولو کې مشغول پريږدي، مسلم

حل اللغات: ⑫بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي: جار مجرور د محذوف سره متعلق دې، أَيْ فَدَيْتُكَ بِأَبِي وَأُمِّي: يعنى زما مور پلار دې په تا باندې قربان وی.⑬يَتَّكِلَ النَّاسُ: أَيْ يَعْتَمِدُوا: يعنى صرف په دې به اعتماد او بهروسه اوکړی او د نورو اعمالو کوشش اومحنت به پريږدی.

تسهيلات:

قوله: وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا، وَفَزِعْنَا:

اشکال: خشينا وړاندې راغلې دې دَدې نه پس دَ فزعنا څه ضرورت وو حالانکه دَ دواړو مفهوم يودې؟

داشکال دوه جوابونه: ① ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه خشيت اوفزع کښې فرق دې خشيت دَ زړه ويره ده دکوم اثرچه تردغه وخته پورې په ظاهری بدن باندې ښکاره شوې نه وی ليکن فزع دَهغه اضطراب نوم دې په کوم کښې چه سړې داسې بې چين شی چه په ظاهری بدن باندې دَهغې اثر ښکاره شی لکه دلته بې چين کيدل اوپاسيدل او په لټون کښې خوريدل ښکاره شو،

②علامه طيبی رحمه الله فرمائی دادَ دوو مترادفينو په يوبل باندې عطف دې اودې سره دَ ويريدو تسلسل خودل مقصودد ی.

داول قول ترجيح: دَملاعلی قاری قول زيات بهتردې ځکه چه په دې کښې دَ تاکيدپه ځائی تاسيس دې اوتاسيس دَ تاکيدنه بهتردې.

قوله: فَلَمْ أَجِدْ:

د دروازې نه موندلودوه وجوهات: ① حضرت ابوهريره رضي الله عنه ته دَ ډيرې بې آرامئی او اضطراب دَ وجې نه دَدروازې علم هم اونه شو ګنی دروازه خوبه وه

② يعنی کولاؤ دروازه ملاؤنه شوه کومې چه وې هغه تړولې بندې وې.

قوله: مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ:

د بئر خارجة په اعراب کښې درې اقوال: ① بئر موصوف اوخارجة صفت دې يعنی دا ناله دَ يوداسې کوهی نه دننه راتله چه هغه کوهی بهروو دا توجيه دَټولونه ښه اودَټولونه زياته مناسب او واضح ده.

② بئر تنوين سره وی مرفوع وی او "ة" ضميرجدار طرف ته راجع وی يعنی من بئرخارجه يعنی يو کوهې چه بهروو بهرحال اول احتمال مشهوردې.

③ بئر مضاف وی اوخارجه مضاف اليه وی اوخارجه دَسړی نوم وی يعنی دَ خارجه

صاحب دَ کوهی نه دا لختې راتلو.

قوله: فَقَالَ: أَبُوهُرَيْرَةَ؟:

په استفهام کښې درې وجوهات: ① استفهام دَتعجب دَپاره دې چه تولې لارې بندې دی ته څنګه راغلې حیرانتیا ده ته ابوهریره ئی؟

② رسول الله ﷺ داسوال یاخودَدې دَپاره اوکړو چه حضورپاك دَ دې بشارت او وحی دَ وجې نه دَ بشریت نه غائب وو نو استفهام په حقیقت باندې مبنی دې چه وئی نه پیژندلو

③ استفهام تقریری دې یعنی هم ابوهریره رضی الله عنه یې؟ ښه ابوهریره یې؟

قوله: وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ:

ابوهریره رضی الله عنه ته د پنړو د ورکولو دوه وجوهات: ① ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه کیدې شی حضورپاك ته مقام نوری کښې تجلی طوری حاصله شوې وی نودَحضرت موسیٰ علیه السلام په شان رسول الله ﷺ ﴿فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى﴾

② علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه خبر سره دَدې چه مفید دَ یقین وو مګر دغه خبرنور یقینی کولودَپاره دَنشانې په توګه نعلین مبارك ورکړې دې دَپاره چه هراوریدونکې بغیردَ څه تردد نه په دې بشارت باندې یقین اوکړی.

د پنړو د تخصیص دوه وجوهات: ① نبی کریم صلی الله علیه وسلم حضرت ابوهریره رضی الله عنه ته خاص کړپنړې په دې وجه ورکړې چې په پنړو سره ئی اشاره اوکړه ثبات علی الدین طرف ته څکه چه دَ ثابت قدمئی او څپلو خاص تعلق دې.

② کیدې شی هغه وخت بل څه څیز موجودنه وو.

قوله: فَمَنْ لَقِيكَ مِن وراء هذا الحائط:

د وراء الحائط قید حیثیت: دَدیوال شاته لفظ په اتفاقی توګه باندې راغلې دې مراد دادې چه دَ چا دا صفت وی چه په یقین سره کلمه لولی هغه جنتی دې که هغه دَ دیوال شاته وی اوکه بل ځائی کښې وی اوکه ابوهریره رضی الله عنه ورته خوشخبری اورسوی اوکه اونه رسوی څکه چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه ټولو خلقوته زیرې څنګه رسولې شو نومراد هم هغه دې چه دَ چاهم داصفت وی هغه جنتی دې.

قوله: وَرَكِبَنِي عُمَرُ وَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي:

د رکوب مطلب: یعنی حضرت عمر رضی الله عنه زه پرینخودم بلکه داسې راپسې شوې وو لکه چه هغه زما په اوږو سور وی مراد متصل اومسلسل راتلل دی.

اشکال: حضرت عمر رضی الله عنه دَ رسول الله ﷺ دَ بشارت په مقابله کښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه ولې اووهلو او وئی غورزولو؟ شیعه روافض هم دا اعتراض کوی چه دَحضرت عمر رضی الله عنه

په ورانډې پوره امت ډير وروکې او بې وسه وو اوددغه مداخلت يوشان په دين کښې جاری وو خلقو به تقيه کوله نوحضرت علی رضي الله عنه هم تقيه اوکړه اوخلافت ئی پريخودو؟

داشکال دوه جوابونه: ① علامه طيبی رحمه الله فرمائی حضرت عمر رضي الله عنه حضرت ابوهريره رضي الله عنه په سختئی سره واپس کړو چه حضور پاک سره به مشوره کوو که ددې بشارت ښکاره کول ضروری نه وی نودمصلحت لاندې دې دا روستوکړې شی دې دپاره چه خلق سست نه شی. علامه ابن حجر رحمه الله فرمائی حضرت عمر رضي الله عنه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه دپاره د معلم او شيخ اواستاذ حيثيت لرلو د څه مصلحت لاندې شاګرد وهل جائزوو ناجائزنه وو.

② حضرت عمر رضي الله عنه ته معلومه وه چه ددې بشارت اعلان خو واجب نه دې بلکه رسول الله صلی الله علیه وسلم خو رحمة اللعالمين وو نوحضورپاك د صحابه کرامو رضي الله عنهم ددې پريشانئی علاج بالضد اوکړو چه دوی پريشان شوی دی اوس دوی ته د جنت زيرې ورکول پکاردی او چونکه په دغه خالی باغ کښې د حضورپاك تعلق دالله تعالی سره داسې اوشو لکه چه حضورپاك په عالم استغراق کښې وو نودا زيرې ئی واؤرولو اوحضرت عمر رضي الله عنه په دغه کيفيت کښې نه وو بلکه په هغوی باندې د جمال په ځائی د جلال صفت غالب وو څکه هغوی سوچ کړې ووچه کيدې شی چه په دې سره خلق سست شی او مونځ پريږدی ددې دينی مصلحت اوشرعی امر د وجې حضرت عمر رضي الله عنه دازيرې د څه مودې دپاره پټ ساتل غوښتل. بل طرف ته دحضرت معاذ رضي الله عنه په روايت کښې پخپله نبی کريم صلی الله علیه وسلم داقسم زيرې اورولونه منع کړې وه نود امتثالِ امر نبی د وجې نه حضرت عمر رضي الله عنه حضرت ابوهريره رضي الله عنه اووهلو او واپس ئی کړو اود وهل لوجه الله وو په دې وجه حضورپاك د حضرت عمر رضي الله عنه مواخذه اونه کړه بلکه دحضرت عمر رضي الله عنه د مشورې لاندې ئی ددغه فيصله په ځائی اوساتله او هغه زيرې ئی پټ اوساتلو.

عجيبه انصاف: حضوراکرم صلی الله علیه وسلم خود عمر مواخذه اونه کړه او نن ملحد اوبې دين راپاسی او اعتراض کوی دا صرف د فساد او د صحابه کرامو د بغض يوه ننبه ده.

[٤٠] د جنت کونجی

٤٠-(¹)[٣٥] [١] وَعَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: [٢] قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " [٣] «مَفَاتِيحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي[٢] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وفرمايل[٣] (په رښتيني زړه او د پوخ يقين سره) د دې خبرې ګواهي ورکول چې د الله څخه ماسوا بل څوك د عبادت لايق نشته، د جنت کيلۍ (حاصلول) دي. احمد

[1]) واحمد فی المسند ٢٤٢/٥

حل اللغات: ① مَفَاتِيحُ: اسم آله ده، دا د مفتاح جمع ده، چابئ ته وائی.

تسهيلات:

قوله: مَفَاتِيحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ:

اشكال: علامه طيبى رحمه الله فرمائيلى دى چه مبتدا او خبر كښې مطابقت نشته چه شهادة ان لا اله الا الله... الخ خبردې كوم چه مفرددې او مفاتيح الجنة جمع ده؟

داشكال جواب: ① شهادت سره معامله دَاسم جنس اوكړې شوه لهذا دَدې اطلاق په قليل اوكثيرباندې صحيح شو نومطابقت پيداشو ② يادَ شهادت هر يو جز مفتاح اوګرځولې شو لهذا مفاتيح وئيل صحيح شو اومطابقت راغلو، عبارت به داسې شى مفاتيح الجنة شهادات أن لا اله الا الله.

دكلمه توحيد خاصيت: نودَ كلمۀ توحيد خاصيت هم دغه دې چه دادَ جنت كنجى ده په دې شرط چه بل څه خارجى عمل بنديزجوړنه شى ځكه چه حكم په معجون مركب باندې كيږى يادا چه كلمه دَخپلوټولوتقاضو سره مراد ده يادا چه دخول اولى يا ثانوى مراد دې يادا چه دَ كلمۀ توحيدنه پس چه دَعمل هډو موقع ملاؤنه شوه نو صرف په كلمه به جنت ته ځى. [الكاشف: ۱۸۹-۱۸۸/۱]

[۴۱] كلمۀ توحيد د نجات (خلاصون) ذريعه ده

۴۱ – (۱)[۳۶] [۱] وَعَنْ عُثْمَانَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «إِنَّ رِجَالًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ تُوُفِّيَ حَزِنُوا عَلَيْهِ، [۲] حَتَّى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوِسُ، [۳] قَالَ عُثْمَانُ: وَكُنْتُ مِنْهُمْ، [۴] فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ مَرَّ عَلَيَّ عُمَرُ وَسَلَّمَ، فَلَمْ أَشْعُرْ بِهِ، [۵] فَاشْتَكَى عُمَرُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - [۶] ثُمَّ أَقْبَلَا حَتَّى سَلَّمَا عَلَيَّ جَمِيعًا، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: مَا حَمَلَكَ أَنْ لَا تَرُدَّ عَلَى أَخِيكَ عُمَرَ سَلَامَهُ؟ [۷] قُلْتُ: مَا فَعَلْتُ، فَقَالَ عُمَرُ: بَلَى، وَاللّٰهِ لَقَدْ فَعَلْتَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عثمان رضي الله عنه بيان كوي چې كوم وخت نبي صلى الله عليه وسلم وفات شو نو د صحابؤ په يو جماعت باندې د غم او خفګان دومره غلبه وه [۲] چې په هغوئ كې د بعضبو خلقو په باره كښې خو دا خطره پيدا شوې وه چې چېرته په شك او وسوسو كې اخته نشي (يعني د دې وهم ښكار نه شي چې هر كله رسول صلى الله عليه وسلم د دې دنيا څخه رخصت شو نو د دين او شريعت قصه هم ختمه شوه) [۳] حضرت عثمان رضي الله عنه وايي چې هغه خلقو كښې يو زه هم وم [۴] (نو د دې لوي حادثي سره سخت پريشان حاله او په غم او فكر كښې وم) زه ناست ووم (چې په دې حالت كې) حضرت عمر رضي الله عنه راسره تير شو او ماته يې سلام وكړو (د ډيرې پريشاني په وجه) ماته معلومه نه شوه (چې هغه كله راسره تير شو او كله

[۱] واحمد في مسند ۱۰/۶.

يي سلام كړې وو، ۵ حضرت عمر ﷺ د دې خبرې شكايت حضرت ابو بكر صديق ﷺ ته اوكړو، ۶ نو حضرت ابوبكر صديق ﷺ او حضرت عمر فاروق ﷺ دواړه ماته راغلل او دواړو ماته سلام اوكړو، حضرت ابوبكر ﷺ زما څخه پوښتنه وكړه، تا د خپل ورور عمر د سلام جواب ولې ورنه كړ؟ ۷ ما اوويل نه داسې نه ده شوې (يعني ماته ددې علم نشته چې عمر ﷺ راغلي وي ما ته يې سلام كړي وي او ما جواب نه وي وركړې) حضرت عمر ﷺ اوويل هو قسم په الله دغسې شوې ده (چې تا زما دسلام جواب نه دې راكړې)

۱ قَالَ: قُلْتُ: وَاللَّهِ مَا شَعَرْتُ أَنَّكَ مَرَرْتَ وَلَا سَلَّمْتَ. قَالَ أَبُو بَكْرٍ: صَدَقَ عُثْمَانُ، قَدْ شَغَلَكَ عَنْ ذَلِكَ أَمْرٌ. ۲ فَقُلْتُ أَجَلْ. قَالَ: مَا هُوَ؟ ۳ قُلْتُ: تَوَفَّى اللَّهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ عَنْ نَجَاةِ هَذَا الْأَمْرِ. ۳ قَالَ أَبُو بَكْرٍ: قَدْ سَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ. ۴ فَقُمْتُ إِلَيْهِ، وَقُلْتُ لَهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، أَنْتَ أَحَقُّ بِهَا. ۵ قَالَ أَبُو بَكْرٍ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا نَجَاةُ هَذَا الْأَمْرِ؟ ۶ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَنْ قَبِلَ مِنِّي الْكَلِمَةَ الَّتِي عَرَضْتُ عَلَى عَمِّي فَرَدَّهَا، فَهِيَ لَهُ نَجَاةٌ" رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ حضرت عثمان ﷺ وايي چې ما اوويل په الله مې دې قسم وي ما ته قطعا ددې احساس نه دې شوې چې ته ماته راغلي يې، او نه دا چې تا ماته سلام كړې دې، حضرت ابوبكر صديق ﷺ وفرمايل عثمان ﷺ رښتيا وايي (ليكن معلوميږي چې) د خاص وجهې څخه ته د دې څخه خبر نه شوې (چې نه ته د عمر ﷺ دراتلو څخه خبر شوې او نه دې د سلام جواب وركړو) ۲ ما اوويل هو، كيدې شي، هغه پوښتنه وكړه هغه څه وجه ده؟ ۳ ما اوويل (د رسول اكرم ﷺ د وفات څه كم صبر ازمونكي وو چې اوس دا غم هم خورم چې نبي كريم ﷺ د دې دنيا څخه تشريف يووړې ليكن مونږ د رسول الله ﷺ څخه دا معلوم نه كړه چې په دې معاملې يعنى په عبادت كنبې د وسوسو پيدا كيدل دشيطان لمسول يا د دوزخ د اور) څخه دخلاصى لار څه ذريعه ده؟ ۴ حضرت ابوبكر صديق ﷺ اوويل (ته غم مه كوه) ما په دې باره كنبې د حضور ﷺ څخه مخكې پوښتنه كړې ده ۵ (حضرت عثمان ﷺ وايي چې) زه (بې اختياره) ور پاڅيدم او ما اوويل زما مور پلار دې په تا قربان شى واقعي ته (د حضور ﷺ څخه دكمال لرلو او د حصولِ علم د غلبهٔ شوق په وجه سره) په دې باره كنبې د پوښتنې كولو زيات لايق وې، ۶ حضرت ابوبكر صديق ﷺ وفرمايل ما عرض كړې وو چې يا رسول الله ﷺ په دې معامله كنبې دخلاصى لار څه صورت دې؟ ۷ نو رسول الله ﷺ فرمايلي وو چې كوم سړې (د زړه د اخلاصه) زما څخه هغه كلمه د توحيد كمه چې ما دخپل ترهٔ ابو طالب په مخكې پيش كړې وه او هغه قبوله نكړه ده قبوله كړه، نو هغه كلمه به دد غه سړې دخلاصى لار ضمانت كولو والا وي. احمد

حل اللغات: ① حَزِنُوا: ډیر غمژن شو، ② کَادَ: أَيْ قَارَبَ: نژدې وه، ③ یُوَسْوِسُ: أَيْ یَقَعُ فِي الْوَسْوَسَةِ: چه په وسوسو کښې به اخته شي. ④ فَلَمْ أَشْعُرْ: زه پوهه نه شوم (ددې لوئې حادثې د غم په وجه). ⑤ أَجَلْ: أَيْ نَعَمْ: آؤ (خبره هم دغسې ده).

د راوي مختصر تعارف: نوم عثمان، ابوعبدالله ابو عمر اوابولیلی کنیت ذوالنورین لقب وو. دَ پلار نوم عفان دَ مور نوم اروی وو. دَحضرت عثمان رضی الله عنه خاندان دَ جاهلیت په زمانه کښې هم یوغیرمعمولی وقعت اواقتدار لرلو.

ولادت: دَ عام الفیل په شپږم کال پیدا شو په اسلام راوړلواومسلمانیدوکښې دَ هغه ۳۴ نمبر وو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم دَ خپلې لور رقیه رضی الله عنها نکاح عتبه بن ابولهب سره کړې وه خو هغه طلاق ورکړونوبیا دَحضرت رقیه رضی الله عنها نکاح حضرت عثمان رضی الله عنه سره اوشوه. دَحبشې طرف ته هجرت کونکوکښې دې اوچه کله مدینې ته مسلمانانوهجرت اوکړونوده هم مدینې ته ئې تشریف یوړو. په غزوه بدرکښې ئې دَحضرت رقیه رضی الله عنها دَ بیمارئی په وجه شرکت اونه کړې شو اوبیا باقی غزاګانو کښې شریك وو. حضرت عثمان رضی الله عنه کاتب وحی وو.

قرآن پاك سره ئی ډیره عشق اومینه وه. دَ دنیانه چه رخصت کیدو نو هم قرآن پاك ئی لوستلو. په هغوی کښې الله تعالی ډیر بې شمیره خوبیانې اوصفتونه ایخودې وو. په هغې کښې یوڅو مشهور دا دی:

① دَالله تعالی ویره ② دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم محبت ③ دَ سنتوتابعداری ④ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم احترامَ ⑤ حیا ⑥ تواضعِ ⑦ پرهیزګاری ⑧ سخاوت ⑨ قربانی ⑩ حسن سلوك.

وفات: دَ جمعې په ورځ دَ مازیګر په وخت ډیر په ظلم سره شهید کړې شو دوو ورځوپورې بې ګوره اوکفنه پروت ووبیا یوڅوکسانو سره دَخطرې تجهیز اوتکفین اوکړو. دَ مسنداحمد دَ روایت نه معلومیږی دَ جنازې مونځ ابن زبیر رضی الله عنه اودَ ابن سعد رضی الله عنه دَروایت نه معلومیږی چه دَ جنازې مونځ حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه اداکړو. په جنت البقیع کښې روستو دَ خښتوپه دیوال کښې دفن کړې شو. بیاروستو ئی دیوال مات کړې شواو په جنت البقیع کښې شامل کړو.

مرویات: دَروایاتوپه نقل کولوکښې ډیر محتاط وو په دې وجه دَهغوی نه صرف ۱۴۲ روایتونه نقل دی. په کومو کښې چه درې متفق علیه دی. اته په بخاری اوپنځه په مسلم کښې دی.دغه شان په بخاری اومسلم کښې دَ هغه نه ۱۶ روایات نقل دی. باقی دَ احادیثو په نورو کتابونوکښې دی.

دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ارتحال سانحه ډیره سخته وه په دې غم باندې عام صحابه کرام بې خوده اوبدحواس شوی وو. دَحضرت عمر فاروق رضی الله عنه په شان جلیل القدر او لوئی همت والا صحابی خودَ مرګ نه دَ یووخت پورې انکاراوکړوکه چرې صدیق اکبر رضی الله عنه عزم

اوهمت غرجوړيدوسره سهاره نه ؤي ورکړې نو نه ده معلومه چه څه به کيدل. هم په دې صدمې سره حضرت عثمان ﷺ هم متاثر شوې وو چه دَ ارتحال رسول ﷺ نقشه داسې پيش کوي:

تسهيلات:

قوله: حَتّٰى كَادَ بَعْضُهُمْ يُوَسْوِسُ:

د نبي عليه السلام په مرګ صحابه کرامو ته شيطاني وسوسې راتلل: أي بأن يقع في نفسه انقضاء هذا الدين وانطفاء الشريعة الغراء بموته يعنى دَ دين دَختميدو وسوسې په زړه کښې راغلې اودَ شريعت دَ رڼړآ انتهاء په خيال کښې راغله. بعضې خو بس کيناستل اوبعضو دمرګ نه انکاراوکړو صرف صديق اکبر ﷺ قائم اودائم پاتې شو.

قوله: فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ مَرَّ عَلَيَّ عُمَرُ وَسَلَّمَ، فَلَمْ أَشْعُرْ بِهِ:

په عدمِ شعور کښې درې احتمالات: ① يعنى ماته دَحضرت عمر ﷺ دَتيريدوهډو احساس اونه شو.

② يعنى ماته دَهغه دَ سلام، شعور او احساس اونه شو،

③ ما ته د هغه د تيريدو اودهغه د سلام دواړو احساس اونه شو،

هم دا درې احتمال زيات واضح دې چه دَ نه تيريدو پته اولګيدله اونه دَ سلام علم اوشو پخپله بې خودئى کښې پروت ووم.

قوله: فَاشْتَكَى عُمَرُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-:

ابوبكررضى الله عنه ته د عثمان رضى الله عنه شكايت: دَدې خبرې شکايت حضرت عمر فاروق ﷺ دَحضرت ابوبکر ﷺ په وړاندې اوکړو چه دومره اوږده موده هم تيره نه ده چه حضرت عثمان ﷺ دَ سلام جواب هم نه راکوى دَدې شکايت نه معلوميږى چه حضرت ابوبکرصديق ﷺ صحابه کرامو ﷺ دَ خليفه جوړيدونه وړاندې خپل مشرګڼړلو اوممکن ده چه دغه وخت خليفه جوړشوې وى. هم دغه خبره ډيره واضح ده.

قوله: قُلْتُ: مَا فَعَلْتُ:

دعثمان رضى الله عنه انكار: دَحضرت عثمان ﷺ نه چه کله حضرت ابوبکر ﷺ اوحضرت عمر ﷺ پوښتنه اوکړه نوهغوى صفا انکاراوکړو چه ماته چاسلام نه دې کړې. داحضرت عثمان ﷺ دَخپل خيال مطابق رښتيااوفرمائيل ځکه چه هغه دَبې خودئى په حالت کښې وو.

قوله: قَدْ شَغَلَكَ عَنْ ذٰلِكَ أَمْرٌ:

دعثمان رضى الله عنه دطرفه عذر بيانول: دادَ صديق اکبر ﷺ دَطرف نه دَحضرت عثمان ﷺ طرف ته التفات دې. امرٌ: کښې تنوين دَ تعظيم دَپاره دې يعنى يولوئى عظيم الشان کارته

دَ سلام کلام نه مشغول ساتلې وې، په دې کښې اشاره ده چه حضرت عثمان ﷺ په دې معامله کښې په حق دې.

قوله: قَبْلَ أَنْ نَسْأَلَهُ عَنْ نَجَاةِ هَذَا الْأَمْرِ:

د امر څخه مراد: یعنې زمافکرداوو چه افسوس مادَ رسول الله ﷺ نه پوښتنه کړې وه چه په دې دین اسلام کښې دَ نجات مدار په کوم شیزباندې دې؟

د الامر په مصداق کښې دوه اقوال: ① نو په دې حدیث کښې دَالامرنه مراد دین اسلام دې په دین اسلام کښې دَ نجات دارومدار کلمهٔ شهادت اوکلمهٔ توحیدباندې دې په آخرت کښې به نجات هم ددې په برکت سره ملاویږي.

② دوسوسو او دې مهلکاتو وشهواتو، مرغوباتو او دَشیطانی اغواء نه سړې څنګه نجات حاصلولې شی چه کامیاب شی اوجنت ته لاړشی. نودَدې جواب هم دغه دې چه دکلمه توحید په تکرار اواستمرار اوپه دې باندې جازم عقیده لرلوسره انسان دَدې ټولو وهمونوته او فاسدخیالاتونه خلاصې حاصلولې شی اوکامیابیدوسره جنت ته تللې شی.

قوله: أَنْتَ أَحَقُّ بِهَا:

د بها په ضمیر کښې درې احتمالات: ① حضرت عثمان ﷺ فرمائی چه ما اووئیل زما مور پلار په تاسو باندې قربان شه تاسو دَدې سوال کولوزیات حقدار وئی

② ما اووئیل زما مور پلار په تاسو باندې قربان شه تاسودَدې خصلت زیات حقداریئی،

③ ما اووئیل زما مور پلار په تاسو باندې قربان شه تاسودَدې نجات زیات حقداریئی.

قوله: مَنْ قَبِلَ مِنِّي الْكَلِمَةَ الَّتِي عَرَضْتُ عَلَى عَمِّي:

د کلمه توحید عظمت: یعنې حضوراکرم اوفرمائیل چه کومه دَتوحیدکلمه ماخپل تره ابوطالب ته پیش کړې وه کومه چه هغه ردکړې وه که چرې هغه قبوله کړې وه نوسره دَ اویاؤکالودګناه اوشرکیاتو به هغه معاف کیدلو نویومسلمان چه دَهغه په زړه، دماغو، رګ او ریشه کښې چه دَتوحیدکلمه وررننوتې وی که چرې هغه دَ زړه په صدق سره لولی نوهغه به په طریقه اولی باندې خلاصې بیاموندونکې جوړشی.

د نبی علیه السلام بلاغت: په دې قسم بیان کښې رسول الله ﷺ په ډیر بلیغ انداز سره دکلمهٔ توحید شان اواهمیت واضح کړې دې که چرې حضورپاك صرف دافرمائیلې وې چه دَدې نه دَ نجات ذریعه کلمهٔ توحیددې نودا اهمیت به نه واضح کیدو.

د ابوطالب مرګ په کفر: دَدې روایت نه داهم معلومه شوه چه دَابوطالب خاتمه په ایمان نه ده شوې شیعه رافضی وائی چه دَ مولاعلی پلاردَټولونه دَ لوئی ایمان والاوو دا څنګه کیدې شی چه دَمولاعلی پلار په ایمان باندې نه وی؟ دَ الله تعالی بندیګان په دې سوچ نه

کوی چه په دَانبیاء کرامو علیهم السلام کښې دَ لویو لویو نبیانو پلاران او نیکونه کله په ایمان باندې رانغله نو په حضرت علی رضي الله عنه کښې څه اشکال دې؟

[٤٢] تولې دنیا ته دکلمهٔ توحید د رسیدلو پیشن ګویی

—()[٣٧] ١ وَعَنِ الْمِقْدَادِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: ٢ لَا يَبْقَى عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ كَلِمَةَ الْإِسْلَامِ بِعِزِّ عَزِيزٍ وَذُلِّ ذَلِيلٍ ٣ إِمَّا يُعِزُّهُمُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَيَجْعَلُهُمْ مِنْ أَهْلِهَا ٤ أَوْيُذِلُّهُمْ فَيَدِينُوْنَ لَهَا ٥ قُلْتُ فَيَكُوْنُ الدِّيْنُ كُلُّهُ لِلّٰهِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه: ١ او د حضرت مقداد رضي الله عنه څخه روایت دې هغه د رسول الله ﷺ دا فرمان اوریدلې وو ٢ چې د زمکې په سر هیڅ یو کور، خواه که هغه د خاورو وي یا د خیمې وي داسې به باقي پاتې نه شي چې په هغه کې به الله تعالی جل جلاله د اسلام کلمه د معزز د عزت سره او د ذلیل د رسوایې سره داخله نه کړي ٣ (نو کوم خلق چې یې د زړه د اخلاصه قبوله کړي) الله تعالی جل جلاله به هغه معزز او ګرځوي او ددې کلمې خاوند به یې جوړ کړي ٤ او (کم خلق چې په خوښې یې قبوله نه کړي) الله تعالی جل جلاله به هغه ذلیله کړي او هغه خلق به د دې کلمې په اطاعت او فرمانبردار کیدو باندې مجبوره وي (داسې چې هغه به جزیه ورکولو سره په اسلامي ملك کې اوسیږي) ٥ ما (په دا اوریدو سره) اوویل بیا خو به ټلور طرفه ته د الله دین وي. احمد

حل اللغات: ① مَدَرٍ: أَيِ اللَّبِنَةُ: مَدَرجمع د مَدَرَة ده، خښتې ته وائی، خو دلته ترې جوړ شوی کورونه مراددی. ② وَبَرٍ: د اوښانو او ګډو وړئ ته وائی، خو دلته ترې ددې نه جوړې شوې خیمې مراد دی. ③ بِعِزِّ عَزِيزٍ: أَيْ مُلْتَبِسَةً بِعِزِّ شَخْصٍ عَزِيزٍ: یعنی کوم خلق چه په تابعدارئی او خوشحالئی سره اسلام قبول کړی اودَمسلمانانو مقابله نه کوی نو په عزت سره به اوسیږی. ④ ذُلِّ ذَلِيلٍ: أَيْ يُذِلُّهُ اللّٰهُ بِهَا حَيْثُ أَبَاهَا: یعنی څوك چه مقابله اوکړی نو داکلمه به هلته هم داخله شی مګرمقابله کونکې دَ هغه ذلیل سړی په ذلت سره څوك چه به الله تعالی خوارکړی اوهغه به دَ قید او بندجزیه او دَ غلامئی دَ ذلتونونه پس ستې تیټ کړی. ⑤ فَيَدِيْنُوْنَ: أَيْ يُطِيعُوْنَ وَيَنْقَادُوْنَ: یعنی ټول خلق به دَدې توحید دکلمې مخې ته تابعدار اوفرمانبردار جوړشی.

دراوي مختصر تعارف: نوم مقداد کنیت ابوکریمة په وزن دَحلیمة یا ابویحیی وو. دَ پلار نوم ئې معدی ابنِ سناد بن عبدالله بن وهب بن ربیعه بن الحارث بن معاویه. دوی دَ وفد په شکل کښې دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضرشوې وو. دَ شام نه نور مسلمانان شواو هم په شام کښې ئې ژوند تیرولو.

وفات: ۸۷ھ کښې وفات شو په هغه وخت کښې دَ هغه عمر ۹۱ کاله وو.

مرویات: دَ هغه نه ۴۷ روایات نقل دی.

---

[۱] واحمد فی مسند ۶/ ٤.

تسهیلات:

قوله: لَايَبْقَى عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ بَيْتُ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ:

د مدراو وبر نه مراد: دادَ ښارپي آبادئی طرف ته اشاره ده چه هلته خلق په پخو مکانونو کښې اوسيږی اودَ "وبر" نه صحرائی او کلی والې آبادئی طرف ته اشاره ده چرته چه اکثر خيمې دَ کور په توګه استعماليږی.

اشکال: په حديث کښې خو راځی چې دين اسلام به د دنيا ګوټ ګوټ اورسيږی. حالانکه دَ چين وغيره دَ لرې لرې علاقو پورې دَ اسلام دعوت نه دې رسيدلې اوغلبه نه ده راغلې؟

داشکال جواب: دلته دَ "الارض" نه مراد جزيرۀ عرب اودَدې نه چاپيره علاقې دی يعنی پوره عربو کښې به صرف يو دين يعنی هرطرف ته به اسلام وی.

قوله: قُلْتُ فَيَكُوْنُ الدِّيْنُ كُلُّهُ لِلّٰهِ:

د مذکوره جملې مطلب: معلوميږی چه داجمله حضرت مقداد رضی الله عنه دَ حضورپاک په مجلس کښې دَ حضورپاک په وړاندې نه ده وئيلې په دې وجه دَ رسول الله ﷺ دَ طرف نه جواب نه دې راغلې ياهغوی هم په هغه مجلس کښې وئيلې دی مګرحضوراکرم ﷺ جواب ورکول ضروری اونه ګڼړل.

د اسلام د غلبې په مفهوم کښې څلور اقوال: ① په پوره دنياباندې غلبه مراد ده اودا غلبه په عمومی توګه باندې دَ خلفاء راشدينو په دورکښې راغلې وه. اسلام دَ غالب دين په توګه مشرق اومغرب کښې خورشوې وو دَ قيصراوکسریٰ تصور ختم شوې وو اودين ترقی کړې وه. دَحديث مطلب دانه دې چه څوك کافربه نه پاتې کيږی بلکه مطلب دا دې چه دين به غالب وی اودا حديث دَ قرآن پاك دَدې آيت نه اقتباس دې: ﴿هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ﴾

② دَ غلبۀ اسلام دا پيشنګوئی دَ جزيرۀ عرب دَپاره وه اوهلته داغلبه دَحضورپاك په مبارکه زمانه کښې حاصله شوې وه، پوره دنياباندې غلبه مرادنه ده.

③ داغلبه به په مکمل توګه باندې دَ حضرت عيسیٰ عليه السلام په دورکښې حاصليږی په هغه وخت به دَ جزيې نظام هم په حکم دَ شريعت محمدی موقوف شی بيابه يا اسلام وی اويابه دکافر مرګ وی.

④ دا غلبه دَ دلائلو او قوت دَ استدلال په اعتبار سره ده او په دې طريقه باندې خو اسلام دَ اول ورځ نه ترننه پورې غالب راروان دې. دَ دلائلو په دنياکښې څوك دَدې مقابله کولې شی؟

مولانا فضل محمد صاحب په توضيحات کښې فرمائی: دا جواب ډير ښه دې ليکن هم

دَدې په آسره باندې کیناستو سره دَ غلبهٔ اسلام دَپاره په عملی میدان کښې نه کوزیدل جهاد پریخودل او دَ اسلامی سیاسی قوت او خلافت دَ حصول نه شاته پاتې کیدل دَ قرآن او حدیث دَ واضحه نصوصو خلاف ورزی ده او دَ صحابه کرامو رضی الله عنهم تاریخ شاته غورزول دی لهذا معطل کیدل او کیناستل جائزنه دی.

[٤٣] د جنت دروازې لره خلاصونکې کونجی

٤٣ –()[٣٨][١] وَعَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [٢] قِيلَ لَهُ: أَلَيْسَ "لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ" مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ؟ [٣] قَالَ: بَلَى، وَلَكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ إِلَّا وَلَهُ أَسْنَانٌ، [٤] فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ فَتَحَ لَكَ، وَإِلَّا لَمْ يَفْتَحْ لَكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ.

ترجمه: [١] او حضرت وهب بن منبه رحمه الله څخه روایت دي [٢] چې د هغه څخه یو چا پوښتنه وکړه چې آیا لااله الا الله د جنت کیلي (چابي) نه ده؟ [٣] وهب رحمه الله اوویل چې بیشکه، لیکن په کیلي کَښې غاښونه هم ضرور دي، [٤] نو که تا داسې کیلي (چابي) راوړل چې په هغه کښې غاښونه موجود وي نو (یقینا) په هغه سره به د جنت دروازې خلاصي شي، کینی تا لره د جنت دروازې نه شی خلاصیدا ي. بخاري ترجمة الباب

حل اللغات: ① مِفْتَاحٌ: اسم آله ده، ددې جمع مفاتیح راځی، چابئ ته وائی. ② أَسْنَانٌ: د سِنٌ جمع ده، غاښونو ته وائی.

د راوي مختصر تعارف: وهب بن منبه تابعی دې، فارسی النسل دې. حضرت جابر رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه ئې روایات نقل کړی دی. دوئ یو ځل وعظ فرمائیلو، چا ترې تپوس اوکړو چې [أليس لا إله إلا الله مفتاح الجنة]؟ نو دوئ جواب اوفرمائیلو چې دچابی دپاره د غاښونو ضرورت هم وی نو هله به چابی کار کوی. او داغاښونه نیک عملونه دی او دَ اسلام ارکان دی، دوئ په ١١٤ هجرئی کښې وفات شو.

تسهیلات:

قوله: وَلَكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ إِلَّا وَلَهُ أَسْنَانٌ:

د اسنان څخه مراد: اسنان غاښونو ته وائی. او دچابی غاښونو څخه د اسلام بقیه څلور ارکان یعنی مونځ، زکوة، روژه او حج بیت الله مراد دی. نو دا نیک عملونه چه کله وی نو هله به د جنت دروازې بیرته کیږی.

قوله: فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ فَتَحَ لَكَ:

په خوارجو او معتزلو باندې رد: که دخول اول څخه وی او که سزا خوړلو څخه ورستو دخول وی، دا قید احترازی ډیر ضروری دې چې د مسلمانانو باره کښې کومه عقیده د معتزلو

---

[١]) اخرجه البخاری کتاب الجنائز باب ما جاء فی الجنائز، ومن کان آخر کلامه: لا إله إلا الله

اوډ خوارجو ده چې ټول خلق د ګناه په وجه د اسلام څخه خارج شو، په دوئ باندې رد اوشی، هم داسې طبقو او هم داسې خلقو باندې دا حدیث پاك بلیغ ترین تردید دې.

[٤٤] د کامل مؤمن هره نیکی په لس چنده

۴۴ –()[۳۹] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ۲ «إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ، ۳ فَكُلُّ حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ، ۴ وَكُلُّ سَيِّئَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ بِمِثْلِهَا حَتَّى لَقِيَ اللَّهَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره ﷺ وایي رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ هر کله چې په تاسو کې یو سړي «د زړه د اخلاصه او د اخلاص نیت په بناء» خپل ایمان ښه جوړ کړي، ۳ نو هغه چې کوم نیك عملونه وکړي په هغه د هغه په عملنامه کې د هغه په شان دلسو څخه د اوه سوو پورې د نیکیو زیات ثواب لیکل کیږي ۴ او څوك چې بد عمل کوي هغه د هغه په عملنامه کښې د هغه یو عمل ګناه لیکل کیږی تر دې چې هغه د الله سره ملاقات وکړي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① أَحْسَنَ: أَيْ أَجَادَ وَأَخْلَصَ: ښه ښائسته او د زړه په اخلاص سره اوکړی، ② ضِعْفٍ: یعنی څو څو چنده.

تسهیلات:

قوله: إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ:

دحسن اسلام څخه مراد: حسن اسلام څخه مراد باطنی طور سره اخلاص او عقد جازم دې کوم چې تصدیق قلبی مع الاعمال دې، یعنی [ظاهراوباطنا] حُسن وی، باطن هم ښه وی او ظاهر هم ښه وی.

قوله: إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ:

د حسن نیت په وجه په ثواب کښې زیادت: یعنی د اخلاص او حسن نیت په وجه اوؤ سوؤ پورې ثواب زیاتیږی، د اخلاص او نیت په تفاوت سره به په ثواب تفاوت راځی.

د زیادت اجر په مقدار کښې دوه اقوال: ① علامه ماوردی رحمه الله فرمائی چې لس چنده پورې ثواب خو یقینی دې او اضافه تر اووؤ سوؤ چندو پورې ده، اوس به ددې څخه زیات ثواب نه ملاویږی. خو

② علامه نووی رحمه الله فرمائی چې مخکښې به هم زیات ثواب ملاویږی او اضافه به په کښې هم وی. اګر چې کروړونو ته شمیر اورسی. دلته د اووؤ سوؤ پورې د شمیر ذکر خو

[1]) اخرجه البخاری کتاب الإیمان/باب حسن إسلام المرء(رقم-٤٢) ومسلم کتاب الإیمان/باب إذا هم العبد بحسنة کتبت، وإذا هم بسیئة لم تکتب(رقم-٢٠٥ - (١٢٩)

صرف د کثرت په وجه سره دي، د حدبندۍ په بنیاد نه دي او آیت مبارك بیان کوی [وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ] چې دا اضافه لا محدود ده، خو دا ضروری دی چې کوم ځائې کښې شریعت تعین نه دي کړې هلته دې یو کس پخپله تعین نه کوی. یعنی دادې نه وائی چې یو کم پنځوس کروړه به ملاویږی بلکه داسې دې اووائی چې په کروړونو ملاویدې شی.

[٤٥] په ایمان باندې د نیکۍ او د ګناه اثر

٤٥ –(١)[٤٠] ١ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - ٢ «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: مَا الْإِيمَانُ؟ ٣ قَالَ: " إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ ; فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ " ٤ قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، فَمَا الْإِثْمُ؟ ٥ قَالَ: " إِذَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ شَيْءٌ فَدَعْهُ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ او حضرت ابو امامه ﷺ روایت کوي ٢ چې یو سړي درسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه (چي یا رسول الله ﷺ) د ایمان د سلامتي علامه څه ده؟ ٣ رسول الله ﷺ وفرمایل هر کله چې ستا نیکي وتاته ښه ښکاره شی او ستا بدي وتاته بده ښکاره شي، (نو پوه شه چې) ته (پوخ) مومن یي، ٤ بیا هغه سړي پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ (علامه د) ګناه څه ده؟ ٥ حضور ﷺ ورته وفرمایل هر کله چې یوه خبره ستا په زړه کښې شك او تردد پیدا کړي (نو پوه شه چې هغه ګناه ده) نو هغه پرېږده. احمد

حل اللغات: ① سَرَّتْكَ: أَيْ حَصَلَ لَكَ فَرَحٌ وَمَسَرَّةٌ: تاته خوشحالی او خوږوالي حاصل شی (په نیک عمل سره). ② سَاءَتْكَ: أَيْ وَقَعَ فِي قَلْبِكَ حُزْنٌ وَمَسَاءَةٌ: ستا په زړه کښې غم او خفګان پیدا شی (د بدعمل دعذاب د ویرې نه). ③ الْإِثْمُ: ګناه، ④ حَاكَ: أَيْ تَرَدَّدَ: تردد، شک.

تسهیلات:

قوله: مَا الْإِيمَانُ؟:

دایمان نښه: سائل دَ حقیقتِ ایمان باره کښې سوال نه دې کړې بلکه دَ ایمان دَ علاماتو او آثارو پوښتنه ئی کړې ده په دې وجه رسول ا لله ﷺ په جواب کښې علامات او آثار خودلی دی.

قوله: إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ:

په نیکۍ خوشحالیدل: یعنی ترکومې چه په زړه کښې داکیفیت دې چه نیکی کولوسره خوشحالی محسوسیږی او په بدئی باندې غم محسوسیږی نو پوهه شه چه ته مؤمن ئی اوکه په نیکئی یا بدئی کښې څه فرق نه محسوسیږی نو پوهه شه چه دَایمان شمع دې مړه شوه.

---

(١) واحمد في المسند ٢٥١/٥.

قوله: إِذَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ شَيْءٌ فَدَعْهُ:

په زړه کښې شک اچونکې څيز پرېښودل: يعنی په زړه کښې ويره پيداشی چه داکارد ګناه دې نو دا پرېږده. دا روايت داسې دې لکه چه "الحلال بين والحرام بين وبينهما متشابهات" يالکه "دع ما يريبك الى ما لايريبك او استفت نفسك الخ". دا حکم او دا فيصله اودامعيار اوپيمانه دهغه زړونودپاره ده چه صفا او روښانه وی دکوموباطنی صفائی چه پوره شوې وی نوهغه به په دې کښې فرق کولې شی دعامو خلقودزړونو فيصله مرادنه ده.

[٤٦] دايمان او اسلام خصلتونه

۴۶ –()[۱] [۴۱] [۱] «وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ (- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -) قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَنْ مَعَكَ عَلَى هَذَا الْأَمْرِ؟ [۳] قَالَ: " حُرٌّ وَعَبْدٌ. " [۴] قُلْتُ: مَا الْإِسْلَامُ؟ قَالَ: " طِيبُ الْكَلَامِ، وَإِطْعَامُ الطَّعَامِ ". [۵] قُلْتُ: مَا الْإِيمَانُ؟ قَالَ: " الصَّبْرُ وَالسَّمَاحَةُ ". [۶] قَالَ: قُلْتُ: أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: " مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ ".

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو بن عبسه ﷺ روايت کوي زه د رسول اکرم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم [۲] او عرض مې اوکړو يا رسول الله ﷺ د دعوت اسلام په شروع کې په دې دين (اسلام) باندې ستا ﷺ سره څوک وو؟ [۳] ده وفرمايل يو آزاد (ابو بکر ﷺ) او يو غلام (بلال ﷺ) [۴] ما عرض اوکړو د اسلام علامت څه دې؟ وې فرمايل پاکې خبرې او (په مسکنانو باندې) ډوډۍ خوړل، [۵] ما عرض اوکړو د ايمان خبرې څه دې؟ وې فرمايل صبر او سخاوت (يعني د بدو خبرو څخه ځان ساتل او په فرمانبرداري باندې چټک کيدل) [۶] ما اوويل کوم مسلمان بهتره دې؟ وې فرمايل هغه چې د هغه د ژبې او دلاس (د ضرر) څخه مسلمان محفوظ وي،

حل اللغات: ① حُرٌّ وَعَبْدٌ: يو آزاد او يو غلام (يعنی ابوبکر اوبلال ﷺ). ② طِيبُ الْكَلَامِ: ښه خبرې. ③ السَّمَاحَةُ: أَيِ السَّخَاوَةُ: يعنی د فقيرانو او محتاجو خلقو سره نيکی کول، مال پرې خرچ کول. ④ سَلِمَ: چه سلامت وی، محفوظ وی (خلق)،

[۱] قَالَ: قُلْتُ: أَيُّ الْإِيمَانِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: " خُلُقٌ حَسَنٌ ". [۲] قَالَ: قُلْتُ: أَيُّ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ؟ [۳] قَالَ: طُولُ الْقُنُوتِ، قَالَ: قُلْتُ: أَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: أَنْ تَهْجُرَ مَا كَرِهَ رَبُّكَ، [۴] قَالَ: فَقُلْتُ: فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: مَنْ عُقِرَ جَوَادُهُ، وَأُهْرِيقَ دَمُهُ. [۵] قَالَ: قُلْتُ: أَيُّ السَّاعَاتِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] ما اوويل په ايمان کښې ښه شي کوم يو دې؟ وې فرمايل ښه اخلاق، [۲] ما اوويل په لمانځه کې کوم شي ښه دې؟ [۳] وې فرمايل تر ډيره وخته پورې ودريدل، ما اوويل کوم هجرت ښه دې؟ وې فرمايل دا چې ته هغه شي پرېږدې چې هغه ستا پرور

---

[۱]) واحمد فی مسند

دګار یې نه خوښوي، [۴] ما اوویل په جهاد کښې افضل څوك دي؟ وي فرمایل هغه سړي افضل دي چې د هغه اس ووژل شي او هغه خپله هم شهید شي، [۵] ما اوویل د ټولو څخه افضل کوم وخت دي؟ ده ﷺ وفرمایل د نیمي شپې اخري حصه. احمد

حل اللغات: ⑤ خُلُق : وَهُوَ صِفَةٌ جَامِعَةٌ لِلْخِصَالِ السَّنِيَّةِ: ټولو ښه اخلاقو ته شامل دي. ⑥ طُولُ الْقُنُوتِ: أَيِ الْقِيَامُ: ډیر وخت اودریدل (په دې کښې قراءت او خشوع هم داخل دی). ⑦ أَيُّ الْهِجْرَةِ: دلته دهجرت نه مراد د هجرت انواع او اقسام دی یعنی کوم قسم هجرت افضل دې؟ ⑧ أَنْ تَهْجُرَ: چه ته پریږدې. ⑨ أَيُّ الْجِهَادِ: دلته هم د جهاد د انواع او اقسام باره کښې تپوس کول مراد دی چه کوم قسم جهاد افضل دې؟ ⑩ عُقِرَ: أَيْ قُتِلَ: خپې ئې کټ کړې شی یعنی قتل کړې شی. ⑪ جَوَادُهُ: أَيْ فَرَسُهُ: کره یعنی قیمتی اس. ⑫ أُهْرِيقَ: أَيْ صُبَّ وَسُكِبَ: توئې کړې شی، اوبهیولې شی.

د راوي مختصر تعارف: حضرت عمروبن عبسه رضی الله عنه څلورم مسلمان دې په شروع کښې ئی اسلام قبول کړو خپل قوم بنی سلیم ته لاړواو هلته اوسیدو او بیا په اوومه هجرئی کښې دَ جنګ خیبرپه موقع ئی هجرت اوکړواو سره مدینې منورې ته لاړو. دوی شامی وو. دوی ته حضورپاك فرمائیلی وو چه کله واؤرې چه ماهجرت اوکړو نوبیاته هم راشه دَدوی کنیت ابونجیح سلمی دې.

تسهیلات:

قوله: مَنْ مَعَكَ عَلَى هَذَا الْأَمْرِ؟:

دسائل مقصد: دَامر نه مراد دین دې یعنی تاسو چه په کوم دین باندې یئی په هغې کښې کوم خلق ستاسو ملګرتیاکوی؟ داسې معلومیږی چه دې صحابی دامعلومول غوښتل چه دا دین قبلونکی دکومې طبقې سره تعلق لری چرته څه مخصوص طبقه خونه ده چه دا دین قبلوی اونور خلق مخالف وی دا صورت هغه وخت کیږی کله چه یوتحریك دَ یوې خاصې ډلې دَ خاص مقصد دَپاره شروع شی په دعوت الهیه کښې دا څیزنه وی بلکه هغه دَ پوره امت دَپاره اودَ هغوی دَ فائدودَپاره عام وی.

قوله: قَالَ: "حُرٌّ وَعَبْدٌ".:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی دلته څه خاص طبقه نشته بلکه هرچاته لاندې طبقې والا غلام وی او اوچتې طبقې والا شریف ته دَ موافقت کولاؤ دعوت دې لکه چه وئیلی شوی دی.

② زما په موافقت کښې یوآزاد دې چه ابوبکر رضی الله عنه دې اوبل غلام چه بلال رضی الله عنه دې دَدې مفهوم تائید دَمسلم شریف دَدې روایت نه کیږی په کوم کښې چه "ومعه یومئذ ابوبکروبلال" الفاظ دی.

اشکال: دغه وخت کښې خو حضرت خدیجه رضي الله عنها هم مسلمانه شوې وه حضرت علی رضي الله عنه هم وو دَهغوی ذکر ولې اونه کړې شو؟

داشکال جواب: حضرت خدیجه رضي الله عنها خودَ ښځونه وه په دې وجه دَهغې ذکر رانغلو اوحضرت علی رضي الله عنه وړوکې وو.

قوله: "قُلْتُ: مَا الْإِسْلَامُ؟

د اسلام د علامت تپوس: په دې حدیث کښې د حقیقت اسلام اودَ ماهیئتِ اسلام سوال نه بلکه دَ علامتِ اسلام سوال وو،

قوله: قَالَ طِيبُ الْكَلَامِ وَإِطْعَامُ الطَّعَامِ:

د جزئینومصداق: په دې جمله کښې دَ اول جزنه روحانی غذا اودویم جزنه بدنی غذامراد ده دَدغه دواړو تعلق حقوق العباد سره دې نو دَحقوق الله اهتمام په طریقه اولی شوې دې.

د دواړو خصلتونود تخصیص وجه: دَدې دواړو جملونه جمیع محامداو خصائل حسنه مقصوددی مګردَدغه دوو تخصیص ئې اوفرمائیلو ځکه چه په اول کښې خو تواضع ده او په دویم کښې دَ سخاوت او اکرام ذکر دې اودا دواړه صفتونه دَ الله تعالی دَمخلوق دَ خدمت دَپاره اصل دی.

قوله: وَالسَّمَاحَةُ:

د سماحة په مصداق کښې دوه اقوال:

① حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی دَ سماحة نه مراد دَ فرائضو ادائیګی ده.

② دَ هرمعدوم په نه ملاویدو باندې صبرکول خوصبردې او په هر موجود باندې سخاوت کولونوم سماحه دې.

نو یوترك فعل او یووجود فعل وی نولکه چه ایمان دَدوو قسمه افعالو نوم شو یوسلبی افعال او دویم وجودی اعمال دَدواړو ملاویدوسره کامل ایمان جوړیږی او دَدغه مجموعې طرف ته په خلق حسن سره اشاره کړې شوې ده.

قوله: أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟:

تقدیری عبارت: دلته سوال دَاشخاصو باره کښې دې یعنی أی أهل الإسلام أفضل یاأی ذوالإسلام أفضل نو په جواب کښې "من سلم المسلمون" وئیل صحیح شو اوحمل صحیح نه دې یادَ من سلم نه وړاندې لفظ دَ اسلام محذوف اومنلې شی "أی إسلام من" نوسوال اوجواب به مطابق شی.

قوله: مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ:

په مؤمن کښې د سلامتیا صفت: دَدې جملې نه وړاندې طيب الكلام او إطعام الطعام ذکروو په

کوم کښې چه تحلیه بالفضائل ذکروو او په دې جمله کښې تخلیه عن الرذائل ذکردې طیب الکلام جمله دَحقوق العباد دَاهمیت دَ وجې نه مقدم کړې شوه ګنی طبعًا او عرفًا دَتخلیه مقام دَ تحلیه نه مقدم وی چه اول ګندګی لرې کړه بیا ښائست اوسنګارکولوسره عطر اولګوه.

قوله: أَيُّ الْإِيمَانِ أَفْضَلُ؟:

تقدیری عبارت: دلته هم سوال دَ اشخاصو باره کښې دې أی أهل الإیمان أفضل یا أی أخلاق الإیمان یا أی خصال الإیمان یا أی شعب الإیمان أفضل.

یوسوال اومختلف جوابونه: حضورپاك لفظ "افضل" سره د ګڼرو سوالونو مختلف جوابونه ورکړی دی ① یا خودَسائل دَ حالت تقاضا وه ② یا دَ زمانې تقاضاوه ③ یادَمقام اومکان تقاضا وه ④ یا افضل یوکلی دې دکوم چه ډیر انواع دی نوچه دکوم افضل ذکراوشوهغه هم دَ دغه کلی دَ انواعو نه یونوع ده خپل مینځ کښې تضادنشته وړاندې په دې باندې کلام شوې دې. په دې کښې وضاحت اوتفصیل دې هغه دې اوکتلې شی.

قوله: خُلُقٌ حَسَنٌ :

دحُسنِ خلق تعریف: بعضې محققینود حسن خلق تعریف داسې کړې دې:

الخلق الحسن هو بسط المحیا وبذل الندی وکف الأذی وأن لا یخاصم لمعرفة الله تعالٰی ولذا قیل الصوفی لایخاصم ولایخاصم.

یعنی ښه اخلاق روښانه ژوند، سخاوت کول، چاته تکلیف نه رسول، اودالله تعالی د معرفت په چا سره جګړه نه کول هم د دې وجې وئیلی شوی دی چې صوفی هغه دې نه چا سره جګړه کوی اونه ده سره جګړه کولې شی.

دَ ښه اخلاقو عظمت: دَاوچتوخصلتونو اواعلی سیرت دَپاره جامع ترین صفت دَحسن اخلاق صفت دې. په ډیرو احادیثوکښې ایمان او حسن خلق یوځائی کړې شوې دې، چنانچه په ابوداؤد شریف کښې یوحدیث دې: "أکمل المؤمنین إیمانا أحسنهم خلقا" دَ قرآن کریم ارشاد دې ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾. دَ حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه چه کله صحابه کرامو رضی الله عنهم پوښتنه اوکړه چه دَحضورپاك اخلاق څنګه وو؟ نوهغې اوفرمائیل "کان خلقه القرآن" یعنی دَ اوامر اونواهی پوره پوره خیال ساتل اخلاق حسنه دی. قرآن کریم چه کوم څیزته ښه اووئیل نبی کریم ﷺ به طبعًا هغه ښه ګڼړل اوقرآن چه کوم کارته بد وئیلی دی نبی کریم ﷺ به هغه طبعًا نه خوښولو دَ "کان خلقه القرآن" هم دغه مطلب دې.

قوله: قَالَ طُولُ الْقُنُوتِ:

دقنوت څلور معانی: علامه انباری رحمه الله فرمائی چه قنوت په څلورو معنو کښې راځی

① الصلوة یعنی مونځ

② طویل القیام یعنی په مانځه کښې اوږده اودریدل.

③ الطاعة یعنی تابعداری

④ السکوت یعنی چپوالې.

دطول القنوت څخه په مراد کښې دوه اقوال:

① بعضو عالمانود طول القنوت څخه قراءت یاخشوع مراد اخستې ده.

② دَاحنافو په نیزطول القنوت نه طول قیام مراددې

قوله: قَالَ: أَنْ تَهْجُرَمَا كَرِهَ رَبُّكَ:

دَهجرت پنځه قسمونه :

①من دارالکفرالی دارالاسلام لکه دَمکې نه مدینې ته چه هجرت وو.

② من دارالکفرالی دارالامن لکه چه دَمکې نه دَحبشې طرف ته چه هجرت وو.

③ من دارالفسق الی دارالتقوی لکه افغانستان کښې دَ طالبانو اسلامی خلافت طرف ته هجرت.

④ هجرة القبائل لتعلّم المسائل لکه چه نن صباد دینی مدرسو طالبان کوی. اودَحضورپاك په زمانه کښې اودَهغې نه پس دَمدینې منورې طرف ته دَعلم زده کولودَپاره چه کوم خلق راتلل هغه هم دَدې قسم هجرت وو.

⑤ هجرة من هجر الخطايا والذنوب دا آخری قسم عام دې.

قوله: فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟:

تقدیری عبارت: یعنی أی ذوی الجهاد أفضل یا أی أهل الجهاد أفضل؟ په دې تقدیر سره دَ کلام په سوال اوجواب کښې مطابقت راځی اومن عقر جواده به صحیح شی.

دمذکوره جهاد د افضلیت وجه: دا قسم جهاد ئی دَ ټولونه غوره ځکه اوګرځولوچه مجاهد په دې کښې ځان اومال دواړه قربان کړل او په مال غنیمت وغیره کښې ئی هیڅ هم حاصل نه کړل لکه چه خالص ثواب پاتې شو. جهادسره متعلق کلام به ان شاء الله کتاب الجهاد کښې کیږی.

[٤٧] د ایمان په حالت کښې د مرګ فضیلت

٤٧ -(١) [٣٢] ١ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "٣ «مَنْ لَقِيَ اللَّهَ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، ٤ وَيُصَلِّي الْخَمْسَ، وَيَصُومُ رَمَضَانَ - ٥ غُفِرَ لَهُ". قُلْتُ: أَفَلَا أُبَشِّرُهُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، ٦ قَالَ: "دَعْهُمْ يَعْمَلُوا»" رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي ٢ ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوریدل ٣ کوم سړي چې دالله طرف ته داسې حال کښې (کوچ) سفر اوکړو چې د الله سره هغه څوك نه وي شريك كړي ٤ پنځه وخته مونځ يي كوي د رمضان روژې يي نيولي ٥ نو هغه به وبخښل شي، ما عرض اوکړو چې يا رسول الله ﷺ آيا زه خلقو ته زيرے واوروم؟ ٦ حضور ﷺ وفرمايل چې هغه په خپل حال پريږده چې په عمل كې مشغوله وي. احمد

حل اللغات: ① لَقِيَ اللَّهَ: يَعْنِي: مَاتَ: الله سره د ملاقات نه مراد مړكيدل دی (ځکه چه مرګ د الله سره د ملاقات ذريعه ده).

تسهيلات: قوله: وَيَصُومُ رَمَضَانَ:

دزکاة او حج د عدم ذکر وجه: دَزکوة او حج ذکر په دې کښې روايت کښې نشته دې. ځکه چه دَ رسول الله ﷺ په نظرکښې دَمثال په توګه یوڅواعمال بیانول وو ټول نه وو یاددې دَپاره چه دَ حج حکم نه وو راغلې اوکیدې شی چه دَزکوة هم نه وی راغلې یاپه دې وجه ئی دواړه ذکرنه کړل چه په مخاطبینو کښې په مالی اعتبارسره دَ دواړو دَ اداکولوقدرت نه وو.

قوله: غُفِرَ لَهُ:

دغفران څلور صورتونه: ① یعنی دَدې رمضان نه دَ راتلونکی رمضان پورې مثلاً ټول صغائر ګناهونه به معاف شی.

② که چرته په صدق د زړه سره ئی توبه اوکړه نو کبائر به ئی هم معاف شی
③ که چرې الله تعالی معافی ورکړی نوټول صغائراوکبائربه ئی معاف شی
④ صغائربه معاف شی نو کبائربه کمزورې پاتې شی.

قوله: قَالَ دَعْهُمْ يَعْمَلُوا:

د زیری نه ورکولو وجه: یعملوا مجزوم دې ځکه چه دَامر په جواب کښې مضارع مجزوم وی. یعنی دوی پریږده چه په عمل کښې ښه محنت اوکړی په عباداتو کښې اضافه اوکړی اودَحدیث په دې اجمالی بشارت باندې اعتماد کولوپه وجه ګناه کښې پرینوځی. دا دَعوامو طریقه اوعادت وی

(١) واحمد فی المسند ٥/٢٣٢

خواصوته د زیري عدم نقصان: خواصو ته بشارت اورولونه پس پریږده نوهغوی په عبادت کښې نورهم پخیږی سره دَدې چه دَ جنت اودوزخ خیال اوچت شی نوهغوی به بیا هم په زهد اوتقوی کښې اوسیږی لکه چه فرمائیلې شوې دی "رحم الله صهيبًا لولم يخف الله لم يعصه" یعنی که دَالله تعالی دَعذاب ویره هم نه وی نوهغوی به بیا هم دَ الله تعالی نافرمانی نه کوی. ګورئی چه رسول الله ﷺ دَدې اجمالی بشارت اورولونه منع کړې ده نوکه چرې عمرفاروق رضي الله عنه حضرت ابوهريره رضي الله عنه منع کړو نوهغه دَ حضورپاك حكم نافذكړو.

[۴۸] افضل ایمان کوم یودې؟

۴۸ -()[۴۳] [۱] وَعَنْهُ أَنَّهُ «سَأَلَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] عَنْ أَفْضَلِ الْإِيمَانِ؟ قَالَ: "أَنْ تُحِبَّ لِلَّهِ، وَتُبْغِضَ لِلَّهِ، وَتُعْمِلَ لِسَانَكَ فِي ذِكْرِ اللَّهِ". [۳] قَالَ: وَمَاذَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ [۴] قَالَ: "أَنْ تُحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ، وَتَكْرَهَ مَا تَكْرَهُ لِنَفْسِكَ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دي چې هغه د نبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه [۲] چې د ايمان اعلي خبري كومي دي؟ حضور ﷺ ورته وفرمايل چې (د چا سره) ستا محبت هم د الله دپاره وي اوبغض او د ښمني هم د الله د پاره وي او ته خپله ژبه (د زړه د اخلاصه) د الله په ذكر كښي مشغوله ساته. [۳] هغه پوښتنه وكړه چې يا رسول الله ﷺ د دې څخه علاوه نوري كمي خبري دي؟ [۴] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې نورو د پاره هغه شي خوښوه كوم چې دځان دپاره خوښوي او كوم شي چې دځان دپاره نه خوښوي هغه دنورو دپاره هم مه خوښوه. احمد

حل اللغات: ① تُعْمِلَ : بِمَعْنَى الِاسْتِعْمَالِ وَالْإِشْغَالِ: يعنى مشغوله ساته (يعنى رطب اللسان اوسيږه په ذكر دالله سره).

تسهيلات:

قوله: عَنْ أَفْضَلِ الْإِيمَانِ؟:

دافضل الايمان څخه مراد: دې نه مراد افضل ايمانيات دى يعنى مقتضيات ايمان كښې دَټولونه افضل كوم يوخيزدې؟ حضورپاك په جواب كښې "حب فى الله، بغض فى الله" او "كثرت ذكرالله" ئى اوخودل په دې باندې كلام شوې دې.

قوله: أَنْ تُحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ:

يعنى كوم څيزچه ستا دَخپل ذات دَپاره خوښ دې هغه دَټولوخلقودَپاره خوښ كړه.

---

[۱]) واحمد في المسند ۲٤٧/٥

اشکال: د دَسري خپل مرغوب ډیرزیات خوښ وی نودابه ډیره گرانه شی چه کوم څیزدې ښه خوښ وی هغه نوروته ورکړه. گاډې ورکړه کور ورکړه، هرخوښ کړې شوې څیز ورکړه، دابه څنگه کیږی؟

داشکال جواب: دَخپل نفس دپاره کوم څیز ښه لگی دَهغې په شان دَهغې په مثل اودَهغې غوندې څیزدَنورودپاره خوښ کړه په زړه کښې خواهش ساته چه کاش ماسره کوم علم دې مال دې عزت دې دَهغې په شان فلانکی سره هم وې.

[۱] بَابُ الْكَبَائِرِ وَعَلَامَاتِ النِّفَاقِ]

د گناه کبیره اودَ نفاق د علاماتو بیان

د باب دوه موضوعات:

په دې باب کښې دَ دوو موضوعاتو متعلق احادیث راغلی دی:

① دَ کبائر گناهونو متعلق ده ② دَ نفاق دَعلاماتو متعلق.

خو اول مونږ د گناهونو په باره کښې څو ضروری خبرې ذکر کوو.

د گناه په تقسیم کښې دوه مذاهب:

① قاضی عیاض مالکی رحمه الله نقل کړی دی چه دَ بعضې محققینورائې داده چه [كل شئ نهى الله عنه فهو كبيرة] استاذ ابواسحاق اسفرائنی شافعی رحمه الله هم دا قول اختیارکړې دې.

② دَ جمهور امت سلفًا خلفًا په نیز دَ گناه کبیره او صغیره تقسیم جاری دې

د اول فریق اول دلیل: ① د دوی استدلال د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَدې قول نه دې. [كل شئ نهى الله عنه فهو كبيرة]

د اول فریق د دلیل جواب: هم دَابن عباس رضی الله عنهما څخه دا قول هم نقل دې: [كل ذنب ختم الله عليه بالنار أو العذاب أو اللعنة أو الغضب فهو كبيرة والا فهو صغيرة] هرکله چې د دوی څخه دواړه قولونه منقول دی.نو ساقط شو.

د اول فریق دویم دلیل: دَ قیاس هم دغه تقاضا ده چه دَ الله تعالی هریومخالفت دَ الله تعالی دَ عظمت په وړاندې گناه کبیره کیدل پکاردی.دَدې وجې نه دا محققین حضرات دَ کبیره او صغیره طرف ته دَ گناه تقسیم نه کوی بلکه دَ دوی په نیز ټول گناهونه کبیره دی.

داول فریق د دویم دلیل جواب: دَ گناه دوه نسبتونه دی: یو دَ الله تعالی دَ مخالفت نسبت دې، دَدې نسبت په وجه اگرچه ټول گناهونه کبیره دی لیکن دَ گناهونودویم نسبت دَدې په خپل مینځ کښې دې. په دې کښې بعضې گناه دبعضې نورو گناهونونه غټې یا وړې وی. هم په دې اعتبارسره دَ جمهورو په نیز دَ گناهونو تقسیم کبیره او صغیره طرف ته ضروری دې.

د دویم فریق دلائل: ① د دوی مستدل دَ الله تعالی دَا ارشاد دې ﴿ إِنْ تَجْتَنِبُوْا كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ﴾ الآية. أي كبائر الذنوب. نكفر عنكم سيئاتكم أي نغفر لكم صغائركم. كما في البيضاوي.

② دَدې قرآنی آیت نه علاوه دَ دې باب په ډیر احادیث کښې هم په دې باندې واضح دلالت کوی چه دَ ګناه تقسیم دکبیره او صغیره طرف ته کیږی. هم دَدې دَپاره امام غزالی رحمه الله کتاب البسیط کښې لیکلی دی چه په کبیره ګناه او صغیره ګناه کښې فرق نه کول یا دَدې فرق انکارکول نادانی او ناپوهی ده.

دَ صغیره او کبیره ګناه په تعریف کښې اقوال: بیا دَ جمهورو په خپل مینځ کښې دَ کبائر او صغائر په تعریف کښې لوئی اختلاف دې او مختلف اقوال دی:

① بعضې محققین دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ قول په رڼا کښې کبیره هرې هغه ګناه ته وائی په کوم چه الله تعالی دَ دوزخ حتمی فیصله کړې وی یا دعذاب یا لعنت او یا دَ غضب قطعی حکم ئی ورکړې وی اوکه چرې داسې نه وی نو بیا هغه صغیره ده.

② چه کوم ګناهونه په مونځ، روژه او حج وغیره حسناتو سره نه معاف کیږی هغه کبائر دی. اوکوم ګناهونه چه په اعمال حسنه سره معاف کیږی هغه صغیره ده.

③ بعضې احنافو فرمائیلی دی چه هره هغه ګناه دَ کوم دَپاره چه شریعت [فاحشة] لفظ استعمال کړې دې او په هغې باندې په منصوصی توګه دنیاوی یا اخروی سزا مقررکړې ده هغه کبیره ده ګنی صغیره ده.

④ علامه بیضاوی رحمه الله فرمائی چه : [الأقرب أن الكبيرة كل ذنب كتب الشارع عليه حدًا أو صرح بالوعيد فيه وإلا فصغيرة].

⑤ ابن قیم رحمه الله فرمائی چه کومه ګناه دَ نورو ګناهونو دَپاره وسیلې او ذریعې حیثیت لری هغه صغیره ده [لکه [النظر إلى الأجنبية واللمس] کوم چه ذریعه دَ زنا ده. داترکومې پورې چه دَ ذرائع په درجه کښې دی نو صغیره دی. اوکومه ګناه چه مقصود بالذات وی لکه زنا نودا کبیره ده.دا تعریف حضرت قاسم نانوتوی رحمه الله خوښ کړې دې. او شیخ الهند محمود الحسن رحمه الله دَ سورت نساء آیت نمبر ۳۱ په تفسیرکښې په کبیره او صغیره باندې چه کوم تفصیلی محقق او مدقق کلام کړې دې هغه هم دَدې تعریف سره نیزدې نیزدې دې.

⑥ ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه کله کله رجالو او دافرادو احوالو په رڼا کښې حالت کبیره او صغیره کیږی. یوه ګناه دَ یو کس دَ پاره کبیره ده نودَ بل دَپاره صغیره ده مثلاً دَ غیرعالم دَ پاره یوه ګناه صغیره ګڼلې شی مګر هم هغه ګناه دَ عالم دَ پاره کبیره ګڼلې شی. یوه ګناه مقبول بنده دَ الله تعالی دَ دَپاره کبیره شمیرلې کیږی خودَ غیرمقبول بنده

دَپاره هم هغه گناه صغیره گنړلې شي. هم دَدې دَپاره وئیلی شوی دی [حسنات الأبرار سیئات المقربین] او وئیلی شوی دی.

⑦ امام غزالی رحمه الله فرمائیلي دي چه هره گناه دَ خپل مافوق په اعتبار سره صغیره ده او دَ خپل ماتحت په اعتبار سره کبیره ده.

⑧ بعضو وئیلی دی چه دَ حالاتو او دمکان په اعتبار سره په گناه کښې فرق راځي. مثلاً په بیت الله کښې دننه اودَ حرم په زمکه باندې دَ زړه وسوسه هم لویه گناه ده. مګر دَ حرم نه بهر هیڅ هم نه دی یا یوه گناه په جمات کښې اوکړې شوه نوهغه کبیره ده لیکن هم هغه گناه دَ جمات نه بهر صغیره جوړیږي.

⑨ امام سفیان ثوری رحمه الله د صغیره او کبیره په باره کښې چې کوم قول کړې دې د هغې مطلب دا دې چه کومه گناه د الله پاک او د بنده ترمینځه ده هغه په استغفار او عفو او شفاعت سره معاف کیدلې شی او هغه ظلمونه کوم چه د بندګانو ترمینځه شوې دی هغه بغیر د صاحب حق د معاف کولو نه نۀ شی معاف کیدې.

⑩ مالک بن مغول رحمه الله فرمائی چه د اهل بدعت گناهونه کبیره دی او د اهل سنت گناهونه صغیره دی دا په دې وجه چه د سلفو نه منقول دی چه د شیطان به نزد بدعت د زیاتې خوښې گناه په مقابله کښ دې، ځکه چه د بدعت نه د توبې توفیق نه ملاویږی او د گناه نه د توبې توفیق ملاویږی په دې وجه بدعت زیات خطرناک څیز دې.

⑪ مفسر سدی رحمه الله فرمائیلې دی چه کبائر خو لوئې لوئې گناهونه دی د کومو نه چه الله پاک منع فرمائیلې ده او د د کبائرو چه کوم مقدمات دی هغه صغائر دی، لکه پردئ زنانه ته کتل، د هغې مس کول، ښکلول وغیره. لهذا اصلی کبیره زنا فی الفرج ده او سترګې خپې توابع د زنا د مقدماتو په درجه کښ دی. لکه چه ابن القیم رحمه الله لیکلې دی. د مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوی رحمه الله اودهغوی د شاګرد رشید شیخ الهند رحمه الله هم دا قول دې.

⑫ امام نووی رحمه الله د علماء کرامو قول نقل کړې دې صغیره کوم چه د کمې درجې گناه ده په دې باندې اصرار کولو سره هغه کبیره جوړیږی لکه چه د سیدنا عمرو بن العاص رضي الله عنه نه منقول دی. ﴿لا کبیرة مع الاستغفار ولا صغیرة مع اصرار﴾ یعنی کبیره په استغفار سره معاف کیږی او په صغیره باندې اصرار کولو سره هغه کبیره جوړیږی. شیخ ابو محمد بن عبدالسلام رحمه الله د اصرار تعریف دا کړې دې چه صغیره گناه داسې مکرر صادریږی چه د هغې نه د دین په جانب کښ لا پرواهی او غفلت معلومیږی.

⑬ امام ابن قیم رحمه الله فرمائی چه د گناه لوئې یا وړه کیدل د فاعل په اعتبار سره دی. د گناه کونکې چه د کومې درجې دې هم هغه درجه به ترې نه گناه هم صادریږی، لکه چه قاضی

بیضاوی رحمه الله په خپل تفسیر کښ نقل کړي دی: ﴿الایری ان الله عاتب نبیه علیه السلام فی کثیر من خطواته التی لم تعد علی غیره خطیئة کما یدل علیه الحدیث فان الصحابة لعلو مرتبتهم عندالله کانو یعدون تلك الاعمال موبقات ای مهلکات لکن من بعدهم لنقص مرتبتهم صارت تلك الاعمال فی اعینهم ادق من الشعر من ههنا سمعت قولهم حسنات الابرار سیئات المقربین فکبائر الرجل الصغیر صغائر وصغائر الرجل الکبیر کبائر﴾

ترجمه: آیا نه شی کتلې چه الله پاک خپل نبی ﷺ ته ډیرو داسې امورو کښ کوم که د غیر نه صادر شوي وې نو صغیره ګناه به هم نه وې شمار کړې شوې تنبیه اوفرمائیله لکه چه احادیث په دې باندې دلالت کوی ځکه چه صحابه کرام رضی الله عنهم د الله پاک په نزد د خپلې مرتبې د اوچت والی د وجې نه دا اعمال د هلاکیدونکې څیزونو نه ګنړی خو د صحابه کرامو رضی الله عنهم نه پس د نقصان د مرتبې د وجې نه دا اعمال د هغوی په نظر کښ د ویښته نه هم باریک شو (په سپکاوی کښ)، هم دا خبره علماء کرامو داسې بیان کړې ده چه د ابرارو نیکئ د مقربین الهی بدئ شمار کولې شی، لهذا د وړوکی سړی لوئې ګناهونه هم واړهٔ شمیر کولې شی (ځکه چه د هغوی مرتبه دومره اوچته نه وی چه دا ګناه د هغوی د شان خلاف معلومه شی) او د غټو خلقو واړهٔ ګناهونه هم د هغوی د اوچت مقام د وجې نه لوئې ګناهونه شمار کولې شی.

⑭ بعض حضراتو وئیلې دی چه د حالاتو په لحاظ سره هم په ګناهونو کښ تفاوت وی، مثلاً مسجد کښ که یو ګناه کولې شی نو دا ګناه به د هغه ګناه په مقابله کښ لویه وی کومه چه د مسجد نه بهر صادر شوې وی لکه چه قاضی بیضاوی وضاحت کړې دې.

⑮ دا هم وئیلې شوې دی چه د کومې ګناه حرمت په دلیل قطعی سره معلوم شوې وی هغه کبیره ده، د کوم حرمت چه په دلیل قطعی سره ثابت نه وی هغه صغیره ګناه ده.

⑯ امام ابو الحسن واحدی رحمه الله وغیره وئیلې دی چه صحیح دا ده چه د کبیره په شریعت کښ هیڅ مشهور تعریف نشته بلکه شریعت په څه ګناهونو باندې د کبیره اطلاق کړې دې او په څه باندې د صغیره، او بعض ګناهونه داسې دی چه په هغې باندې ئې نه د کبائرو اطلاق کړې دې او نه د صغائرو، خو دا دریم قسم ګناهونه هم یو قسم په صغیره یا کبیره کښ داخل دی. او د عدم بیان حکمت دا دې چه بنده هرې ګناه لره کبیره ګنړلو سره د هغې نه پرهیز اوکړی دا هم داسې ده لکه په لیلة القدر یا د جمعې په شپه کښ د دعا د قبلیدو وخت پټ ساتلې شوې دې چه سړې پوره وخت د دې ساعت په انتظار کښ په عبادت تیر کړی. (التعلیق، فتح الملهم، البیضاوی)

د کبائرو په شمیر کښې مختلف اقوال: د کبائرو په تعداد کښ اختلاف دې.

① محقق دواني په شرح عقائد عضديه کښې د بعض اصحاب شافعيه نه د کبائرو تعداد ۷ ليکلي دې ۱: شرک کول، ۲: ناحق قتل، ۳: په پاکې زنانه باندې تهمت لګول، ۴: د يتيم مال خوړل، ۵: سود خوړل، ۶: د ميدان جهاد نه تيخته کول، ۷: د مور پلار نافرماني کول.

② علماء کرامو دا هم وئيلي دی چه د کبائرو هيڅ مخصوص تعداد نشته.

③ د سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوکړې شو چه آيا د کبائرو تعداد اووهٔ دې؟ هغوی جواب ورکړو چه اويا دی.

④ په يو روايت کښ د کبائرو تعداد اووه سوه بيان کړې شوې دې لکه چه په فتح الملهم او بيضاوی کښې دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٤٩] بعضې لوئې ګناهونه

۴۹ –(۱)[۱] ۱ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الذَّنْبِ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ؟ ۳ قَالَ: "أَنْ تَدْعُوَ لِلَّهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ" ۴ قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: "أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ خَشْيَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ". ۵ قَالَ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: "أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ". ۶ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَصْدِيقَهَا: {وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ} [الفرقان: ۶۸]» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي ۲ چې يو سړي پوښتنه وکړه يا رسول الله ﷺ د الله په نيز دټولو څخه لويه ګناه کمه ده؟ ۳ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا چې کوم الله ته پيدا کړي يي ته د هغه سره څوک شريك جوړ کړي، ۴ بيا هغه سړي پوښتنه وکړه، د دې څخه وروسته دټولو څخه لويه ګناه کمه ده؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د اچې ته خپل اولاد په دې خيال وژني چې هغه به ستا سره خوري، ۵ هغه بيا پوښتنه وکړه د دې څخه وروسته کمه ګناه د ټولو څخه لويه ده؟ حضور ﷺ ورته وفرمايل دا چې ته دخپل ګاونډي د ښځي سره زنا وکړي ۶ (عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې) د رسول اکرم ﷺ د دې ارشاد په تصديق کې دا آيات نازل شو (چې د هغه ترجمه د اده:) هغه بندګان خاص دي چې د الله څخه ماسوا بل څوک د عبادت لايق نه ګرځوي او دکم ساه اخستونکي قتلول چې الله حرام کړي دي هغه په ناحقه نه قتلوي او نه زنا کوي (او څوک

[1]) اخرجه البخاری کتاب الديات باب قول الله تعالى: {ومن يقتل مؤمنا متعمدا فجزاؤه جهنم} [النساء: ۹۳](رقم-۶۸۶۱) ومسلم كتاب الإيمان/باب كون الشرک أقبح الذنوب، وبيان أعظمها بعده(رقم-۱۴۲ - (۸۶) وابوداود كتاب الطلاق/باب فی تعظيم الزنا(رقم-۲۳۱۰) اخرجه النسائی كتاب تحريم الدم/باب ذكر أعظم الذنب، واختلاف يحيى وعبد الرحمن على سفيان فی حديث واصل، عن أبي وائل، عن عبد الله فيه (رقم-۴۰۱۳) والترمذی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الفرقان (رقم-۳۱۸۲)واحمد فی المسند ۳۸۰/۱

چې داسې وکړې هغه به په ګناه کښې پریوځي). بخاري او مسلم

حل اللغات: ① نِدًّا: أَيْ مِثْلًا وَنَظِيرًا: مثل او مشابه (په عبادت کښې شریک). ② حَلِيلَةَ: أَيْ زَوْجَتَهُ: د حَلَّ يَحِلُّ نه، په معنی د حلال والی سره، او ښځه خاوند هم یوبل دپاره حلال وی نو ځکه ښځې ته حلیلة اوونیلی شو. ③ جَارِكَ: جار ګاونډی ته وائی.

د راوي مختصر تعارف: د عبدالله بن مسعود ﷺ کنیت ابوعبدالرحمان دې. قدیم الاسلام دې. ځینې وائی چې دده په اسلام قبلولو کښې شپږم نمبر وو. او نبی کریم ﷺ سره ډېر نزدې پاتې شو. تر دې پورې چې خلقو دا اوګڼړل چې دې د نبی کریم ﷺ د کور بنده دې. د نبی کریم ﷺ د اودس، جائې نماز او مسواك خدمت ددوئ په ذمه وو. د حضور نبی کریم راز دار هم وو. حبشې ته ئې هجرت هم اوکړو. بیا بدر کښې شریك شو او روستو ټولو غزواتو کښې شریك شوې دې. نبی کریم ﷺ دده باره کښې فرمائیلی وو چې دا جنتی دې. نبی کریم ﷺ دا هم فرمائیلی وو چې :

[رضیت لأمتی مارضی لها ابن أم عبد وسخطت لها ما سخط لها ابن أم عبد]

دوئ ﷺ په ناسته پاسته او سیرت کښې د نبی کریم ﷺ سره مشابه وو. د کوفې قاضی او معلم مقرر شو، حضرت عمر فاروق ﷺ اهل کوفه ته اووئیل چې ما تاسو ته په خپل ځان ترجیح درکړه چې ابن مسعود ﷺ مې تاسوته درکړو. بیا ئې اوفرمائیل چې [کنیف ملئ علما] یعنی دَ علم ډکه کمره ده. د علم خزانه ده. دوه دیرشم هجرۍ کښې مدینه منوره کښې ددوئ انتقال اوشو، او جنت البقیع کښې مدفون شو. د دوئ عمر شپیتو کالو څخه زیات وو.

تسهیلات:

قوله: أَيُّ الذَّنْبِ أَكْبَرُ عِنْدَ اللَّهِ؟:

د ګناه څلور قسمونه:

① یو قسم هغه دی چې بغیر د توبې او ایمان څخه نه معاف کیږی هغه کفر دې.

② دویم قسم هغه دی کوم چې د مغفرت په امید او دَ استغفار او دَ حسناتو په ذریعه کیږی، هغه صغائر دی.

③ دریم قسم هغه دی کوم چې د الله تعالی د مشیت لاندې دی کوم چې توبې او بغیر دَ توبې دواړو صورتونو کښې معاف کیدېشی. هغه حقوق الله دی.

④ او څلورم هغه دی کوم چې د بدلې اخستو یا معاف کولو څخه بغیر نه معاف کیږی، هغه حقوق العباد دی.

قوله: قَالَ ثُمَّ أَيٌّ؟:

دثم لفظ نوعیت: دلته د أي لفظ د استفهام دپاره دي.[أي أي الشئ أكبر من الذنب بعد الكفر] دلته دا لفظ ثم تراخئ زمانه یا تراخئ رتبه دپاره نه دي. بلکه دا تراخی فی الإخبار دپاره دي.

قوله: أَنْ تَقْتُلَ وَلَدَكَ:

دولد قتلول د پنځوګناهونومجموعه:

د شرک څخه روسته قتل ولد لویه ګناه ځکه اوشمیرلې شوه چې په مذکوره قتل کښې پنځه ګناهونه راجمع شوی دی.

① نفس مسلم قتل لویه ګناه ده.

② واړه ماشومان قتل دویمه ګناه ده.

③ قتل هم بدترین انداز سره چې ژوندی ئې ښخ کړی،

④ صلۀ رحمی نظر انداز کول او قتل کول

⑤ د رزق د ویرې قتل کول چې زما سره ولې خوراك اوکړی ؟ او الله تعالی رازق نه ګڼړل،

په زمانه دجاهلیت کښې د اولاد د قتلولو باره کښې دوه نظریات: ① اوله نظریه دهغه خلقو وه کوم چې اګر چې فی الحال مالدار وو خو راتلونکې وخت کښې ورسره فکر وو چې فقیران نه شو. ددوئ باره کښې ئې اوفرمائیل [وَلَا تَقْتُلُوٓا أَوْلَادَكُم مِّنْ إِمْلَاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ] د لته ئې اولاد خوراك ورکول مقدم کړل چې تاسوسره ددوئ زیاته ویره ده. نو مونږبه دوئ ته هم ورکړو. او تاسو ته هم درکوؤ. دا دقرآن پاك بلاغت او عجیبه اسلوبِ بیان دې.

② دویمه نظریه دهغه خلقو وه چې فی الحال غریب او مفلس وو. هغوئ سره دا غم وو چې اولاد ته به خوراك څنګه ورکوؤ. قرآن کریم ډیر عجیبه بلاغت سره دوئ پوهه کړل: [وَلَا تَقْتُلُوٓا أَوْلَادَكُم مِّنْ إِمْلَاقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ] اولاد ته خوراك ورکول ئې مؤخر کړل، ځکه چې دې خلقو ته فی الحال د خوراك غم وو. اول قرآن کریم دا غم لرې کړو.

قوله: خَشْيَةَ أَنْ يَطْعَمَ مَعَكَ:

د ان یطعم معک په قید کښې دوه احتمالات: ①دا قید اتفاقی دې چې هغه خلق هم په دې و چه اولاد قتل کوی

② دا قید د شناعت او قباحت ظاهرولو دپاره دې چې ستا په پیالۍ تا سره ستا بچې خوراك اوکړو او یوه نمړۍ ئې واخسته او په دې باندې تا هغه قتل کړو. لږ شرم اوکړه.

قوله: "أَنْ تُزَانِيَ حَلِيلَةَ جَارِكَ":

دګاونډئ ښځې سره د زنا په لویوګناهونوکښې د شمیرلو دوه وجوهات: ①په دې کښې زنا ده بل په هغه ځائی کښې ده کوم چه هم دده په پناه او ګاونډ کښې ده. نو په دې کښې یوخو

ابطال حق جوار یعنی دَ ګاونډی دَ حق ابطال راغلو

④ په دې کښې خیانت راغلو. دریم په دې سره معاشره تباه کیږی ځکه چه کله ګاونډی خیانت ګر او غل جوړشی نودَ هغه نه بچ پاتې کیدل ډیر ګران دی. بیا به هرسړې دَخپل کور څوکیدار جوړشی اودَ هیڅ کار دَ پاره به بهرته نه شی تلې.

په روایاتو کښې تعارض: ①دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په نیز دَ کبائر شمیر ۷۰دې.

② دَ سعید بن جبیر رحمه الله په نیز دَدې شمیر اووه سوه دې.

③ دَ ابوطالب مکی رحمه الله په نیز اوولس دی.

④ په مذکوره حدیث کښې دَ دریو ذکردې.

⑤ بعضې روایاتو کښې دَ څلورو ذکر دې

⑥ په یو روایت کښې دَ اووه ذکر راغلې دې نو دا ښکاره تعارض دې؟

دتعارض جواب: حضورپاک دَ مخاطب دَ ضرورت مطابق دَ کبائر ذکر فرمائیلې دې. احصاء او پوره شمیر مقصود نه وو اونه دَتحدید هغوی اراده کړې ده. بل په عدد کښې تعارض نه راځي. دلته د هرې ګناه سره چه کوم قید لګیدلې دې دا د زیات تقبیح، تشنیع او شناعت دَپاره دې لکه چه دَدې تشریح شوې ده.

[۵۰]بعضې لوئې ګناهونه

۵۰-(۱)[۲] ①وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "②«الْكَبَائِرُ: الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَالْيَمِينُ الْغَمُوسُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:① او حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه وایي رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②چې څوك د الله شریك جوړول، د مور وپلار نافرماني کول، ناحقه څوك مړ کول او په دروغو قسم خوړل لوي ګناهونه دي

حل اللغات: ①الْكَبَائِرُ: لوئې ګناهونه، ②عُقُوقُ : دا د عَقّ نه ماخوذ دي، وَهُوَ الشَّقُّ وَالْقَطْعُ: شلولو او پریکولو ته وائی. نو معنی ئې شوه: أَيْ قَطْعُ صِلَتِهِمَا: چه د مور پلار سره سلوك ختموی یعنی نافرمانی ئې کوی. ③الْيَمِينُ : حلف او قسم ته وائی. ④الْغَمُوسُ:غموس د غمس څخه دي، غوپه وهلو ته وائی. چونکه یمین غموس دپاره څه کفاره نشته دي نو بس صرف د دوزخ په اورکښې به غوټه خوری. هم دا دده سزا ده. اوپه شریعت کښې: أَنْ يَحْلِفَ عَلَى الْمَاضِي عَالِمًا بِكَذِبِهِ: یمین غموس هغه قسم ته وائی کوم چې یو کس د ماضی زمانې په یو فعل یا واقعه باندې په قصد سره په دروغه قسم اوکړی.

۱) اخرجه البخاری کتاب الأیمان والنذور/باب الیمین الغموس (رقم-۶۶۷۵) والنسائی کتاب تحریم الدم/ذکر الکبائر (رقم-۴۰۱۱)واحمد فی المسند ۲۰۱/۲.

٥١–()[٠][١]وَفِي رِوَايَةِ أَنَسٍ: "وَشَهَادَةُ الزُّورِ" بَدَلَ: الْيَمِينُ الْغَمُوسُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١]او دحضرت انس ﷛ په روايت كې (په دروغو قسم اخستل) په ځاي (د دروغو ګواهي كول) الفاظ دي. بخاري او مسلم

تسهیلات:

قوله: الْكَبَائِرُ: الْإِشْرَاكُ بِاللهِ:

د شرک څخه مراد: دلته د شرك څخه مراد مطلقا كفر دې. ليكن د شرك لفظ په دې وجه اختيار كړې شوې دې چې د عربو خلق دكفر په درجه كښې په شرك او شعبهٔ شرك كښې اخته وو.

په مشرک او کافر کښې فرق: ① مشرك دالله تعالى دوجود قائل وى. د الله تعالى د قدرتونو څخه هم انكار نه كوى مګر هغه په ذات يا صفات يا عبادات كښې نور حصه دار جوړوى.

② كافر خو يا دَ الله تعالى دَ وجود انكاركوى يا ضروريات دين كښې ديو مهم ضرورت څخه انكار كوى، شرك او كفر او مشرك او كافر كښې هم دا فرق دې.

دَشرک دوه قسمونه: ① شرك اكبر كوم چې پورته بيان شو.

② دويم شرك اصغر، رياكارى او خودنې اوتصنع او سمع فى العبادة ته وائى كوم چې مخلوق ته دخودنې دپاره اوكړې شي.

قوله: وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ:

د مورپلار نافرمانی: د تكليف رسولو هر يو عمل اوقول په عقوق الوالدين كښې داخل دې. اودا ګناه كبيره ده. خو د والدينو غير شرعى حكم منل جائز نه دى. ځكه چې لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق،

د والدینو څخه مراد: والدينو څخه مراد مؤمن والدين دى، اوبيا په دې كښې اجداد و جدات ټول داخل دى.

عقوق الوالدین د شرک سره د یوځائې ذکرکولووجه: عقوق والدين ئې اشراك بالله سره يو ځائې كړو. دې كښې اشاره اوكړې شوه چې الله تعالى د انسانى وجود حقيقى خالق او مالك دې. د هغه ذات نه پس والدين د خپل بچى د وجود دپاره مجازى توګه باندې ظاهرى سبب دې. هم داوجه ده چې قرآن كريم كښې الله تعالى خپلو حقوقو سره د والدينو حقوق يو ځائى ذكركړى دى. [وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا]

١) اخرجه البخارى كتاب الشهادات باب ما قيل فى شهادة الزور(رقم-٢٦٥٤) ومسلم كتاب الايمان باب بيان الكبائر وأكبرها(رقم-١٤٤ -(٨٨)

قوله: وَالْيَمِينُ الْغَمُوسُ:

د یمین غموس په لوئې ګناهونو کښې د شمارلو وجه: دا قسم په دې وجه کبیره ګناه ده چې دې کس د الله تعالی نوم په طور د ضمانت استعمال کړو او په دې کښې ئې دروغ اووئیل.

د یمین درې قسمونه: ① یمین الغموس: هغه قسم دې. کوم چې په تیره شوې زمانه کې په څه خبره په قصد سره خوړلې شوې وی. داسې قسم خوړونکې ګناهګاردې. یعنی داسې کول ګناه کبیره ده. څکه چې په حدیث کې دی. کوم کس چې په دروغه قسم اوخوری. الله تعالی به هغه جهنم کې اچوی.

② یمین منعقده: دا هغه قسم ته وائی چې یو کس په مستقبل کښې دَ یو فعل په کولو یا نه کولو باندې قسم اوکړی، اوبیا ددې خلاف ورزوی اوکړی. نوپه دې کښې کفاره ورکول واجب دی.

③ یمین لغو: دا قسم په ژبه باندې راتلونکې هغه کلمې دې چې په هغې سره د قسم اراده نشی کولې. بس صرف تکیه کلام وی. لکه عربی کښې لا والله وغیره کلمات دی. پښتو کښې وائی ,,قسم دې،، وغیره وغیره. ددې کلماتو ارتکاب هم مناسب نه دې. خوبیا هم په دې قسم کښې باقاعده نیول نشته دې.

[۵۲] اووه هلاکونکی ګناهونه

۵۲ –(١)[٣] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[٢] «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ" [٣] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَمَا هُنَّ؟ [٤] قَالَ: "الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، [٥] وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] (خلقو) د اوو هلاکونکو خبرو څخه ځان ساتي، [٣] پوښتنه وشوه یا رسول الله ﷺ هغه اوه هلاکونکي خبري کومي دي؟ [٤] وي فرمایل ۱: ځوك د الله سره شریك جوړول ۲: جادو کول ۳: د چا قتلول چې الله حرام کړي دي هغه په ناحقه قتلول [٥] ۴: سود خوړل: دیتیم مال خوړل ۶: د جهاد په وخت د دښمن څخه تښتیدل ۷: په پاکو مومنانو او ناخبره ښځو باندې د زنا تهمت لګول. بخاري اومسلم

حل اللغات: ① اِجْتَنِبُوا: أَيِ احْذَرُوا: ځان بچ کړئ، ② الْمُوبِقَاتِ: أَيِ الْمُهْلِكَاتِ: هلاکونکی څیزونه، ③ السِّحْرُ: جادو، ④ إِلَّا بِالْحَقِّ: وَهُوَ أَنْ يَجُوزَ قَتْلُهَا شَرْعًا بِالْقِصَاصِ وَغَيْرِهِ: یعنی دکوم قتل کول چه شرعا جائز وی

---

[١]) اخرجه البخاری کتاب الوصايا /باب قول الله تعالى: {إن الذين يأكلون أموال اليتامى ظلما، إنما يأكلون فى بطونهم نارا وسيصلون سعيرا} [النساء: ١٠](رقم:٢٧٦٦) ومسلم كتاب الايمان/ باب بيان الكبائر وأكبرها(رقم-١٤٥ - (٨٩) وابوداود كتاب الصيد/باب باب ما جاء فى التشديد فى أكل مال اليتيم(رقم-٢٨٧٤)

هغه ددې نه مستثنی دی. ⑤ الرِّبَا: سود، ⑥ الْيَتِيمِ: وَهُوَ صَغِيرٌ لَا أَبَ لَهُ: يتيم هغه ماشوم ته وائی چه پلار ئې وفات شوې وی. ⑦ التَّوَلِّي: أَيِ الْإِدْبَارُ لِلْفِرَارِ: د جهاد نه په تيخته تختيدل. ⑧ يَوْمَ الزَّحْفِ: زحف د ماشوم په خرپوسو ګرځيدلو ته وائی دلته ترې مراد په سخت جنګ کښې د کفارو سره مخامخ کيدل دی. ⑨ قَذْفُ: د زنا تهمت لګول، يَعْنِي رَمْيُهُنَّ بِالزِّنَا: قذف کانړې اوچتول او دچا په سر باندې ويشتل دا قذف دې. بيا په پاک دامنه ښځه باندې تهمت لګولو دپاره استعمال شو، ⑩ الْمُحْصَنَاتِ: أَيِ الْعَفَائِفِ: پاکدامنې زنانه کومې چه الله پاک د زنا نه محفوظ ساتلې دی. ⑪ الْغَافِلَاتِ: كِنَايَةٌ عَنِ الْبَرِيئَاتِ: غافلات دا کنايه ده د بريئات نه، ځکه چه څوک بری وی هغه د الزامونو او بهتان نه غافله وی.

تسهيلات:

قوله: الشِّرْكُ بِاللَّهِ:

د شرک تعريف: شاه ولی رحمه الله د شرك په تعريف کښې ليکی چې دشريعت په اصطلاح کښې شرك دې ته وائی چې کوم صفات خاص الله ﷻ دپاره مختص دی هغه د الله ﷻ نه سوا نورو د پاره ثابتول، نو دې شركٌ دې. لكه دالله ﷻ څخه سوا بل چا ته عالم الغيب اووائی، يا بل څوك په دې کائناتو کښې متصرف، قادراومنی، د مصائبو اومشکلاتو په وخت غائبانه طور دالله ﷻ څخه سوا يو پير يا فقير ته دمدد دپاره راوبلی. يا مالی عباداتو او قوليه عباداتو او بدنی عباداتو کښې يو عبادت دَ غير الله دپاره اوكړی، دا ټول د شرك صورتونه دی.

قوله: وَالسِّحْرُ:

دَ سحر په تعريف کښې درې اقوال:

① د حق په شکل کښې باطل پيش کولو ته سحر وائی.

② هرهغه څيز چې دهغې سبب پټ وی نو هغه سحر دې.

③ انسان چې کومې حيلې کوی هغه سحر دې.

د خارق العادت امورو اووه قسمونه: پهَ سحر اوجادو باندې دَ پوهيدو دَپاره دا ضروری دی چه ديوځو خوارق عادت څيزونو ذکراوکړې شی. چنانچه خوارق عادت څيزونه ټول اووه دی.

① **ارهاصات:** دا داسې خارق عادت افعال دی چه دَ يو نبی دَ نبوت نه مخکښې په توګه دَ تمهيد اودَ نبی دَ راتلونه مخکښې مخکښې دَ اعلان دَپاره پيش کيږی لکه دَ نبوت نه مخکښې دَ کانړو او دَ ونو رسول الله ﷺ ته سلام کول، دَ اوريځو سوري کول، دَ پيدائش په وخت په عالم انسان باندې دَ انقلابی واقعاتو پيش کيدل ټول په ارهاصات وو.

② **معجزات:** دا داسې خارق عادت امور دی چه دَ یو نبی دَ نبوت دَ دعوې دَ اثبات اودَ هغه دَ تصدیق دَپاره اودَ مخالفینودَ عاجز کولو دَپاره دَ نبوت دَدعوې کونکی په لاس باندې ښکاره کیږی لکه دَ حضورپاك په لاس باندې دَ سپوږمئی دوه ټکړې کیدل اودَ ګوتو نه دَ اوبو فوارې روانیدل وغیره وغیره ټولې معجزې دی.

③ **کرامات:** دا داسې خارق عادت امور دی چه دَ سنت دَ تابعدار او دَ یو ایماندار سړی په لاس باندې دَهغه دَ اعزاز او اکرام په توګه باندې ښکاره کیږی. پیغمبر ته دَخپلې معجزې علم هم وی او قصد او اراده ئی هم وی مګر دَ ولی دَپاره دا ضروری نه دی.

④ **معونات:** دا داسې خارق عادت امور ته وائی چه دَ یو مسلمان دَ امداد او اعانت دَپاره ښکاره شی لکه په حالت دَ مجبورئی او مخمصه کښې دَ چا مخې ته خوراك راتلل یا په اوبو باندې تلل یا په هواکښې الوتل وغیره وغیره ټول دَ اعانت او مدد صورتونه دی.

⑤ **استدراج:** دا داسې خارق عادت امور ته وائی چه دَ یو کافر دیو یا فاجر په لاسونودَ هغه دَ مقصود مطابق ښکاره شی لکه چه دَ دجال په احوالوکښې دَ عجیبه تصرفاتو ذکردې. یا دَ اسود عنسی دَ دروغو دَ نبوت دعوی کونکی دَ لاس نه عجائب ښکاره کیدل دا ټول استدراج دې.

⑥ **اهانت:** داداسې خارق عادت امور دی چه دَ یو کافر په لاس باندې ښکاره شی لیکن دَ هغه دَ مطلوب اومقصود خلاف وی لکه چه مسیلمه کذاب دَ یو کانړی یو سترګی په سترګه باندې لاس راښکلو دې دَپاره چه دغه سترګه ئی ټیك شی نودَ هغه سړی صحیح سترګه هم ړنده شوه. یا لکه په باغ کښې ئې دَ اودس باقی پاتې اوبه توئی کړې، دې دَپاره چه برکت راشی نودَ باغ ټولې ونې اوچې شوې. یا په غرغړې کولو سره ئی اوبه په کوهی کښې واچولې نو څه چه په کوهی کښې وې هغه هم اوچې شوې. یا دَ یو ماشوم په سرئی لاس راښکلو نودهغه دماغو کار پریخودو وغیره وغیره.

⑦ **سحر اوجادو:** مګر دَدې په حقیقت کښې اختلاف دې. دَمعتزلو په نیز دَ سحر هیڅ حقیقت نشته دې دا صرف وهم، خیال او تصور دې اودَدې اثرات هم دَ دغه وهم یوه حصه ده. مګر دَ جمهور اهل سنت په نیز سحر دَ یو نفس الامری حقیقت نوم دې دَ کوم په ذریعه چه په انسان باندې مخصوص کیفیات او اثرات جاری کولې شی.

دسحر حقیقت: سحرپه زیردسین سره، هرداسې اثرته وئیلې شی، چه سبب ئې ظاهرنه وی[قاموس](۱)

خواه هغه سبب معنوی وی لکه دخاصوخاصو کلماتو اثر، یادغیرمحسوسو څیزونو اثر وی

(۱) القاموس المحیط: ۱/ ۴۲۱

لکه د پیریانو او شیطانانو اثر، یامسمریزم او کوډې کښې دقوت خیالیه اثر، یادداسې محسوساتو اثر چې هغه محسوسات پټ وی لک دمقناطیسور اښکل [اراکشول] ځان ته اوسپنې لره کله چې مقناطیس دنظر نه پټ وی، یادهغه داروګانو[دوایانو] اثرچه پټ وی یا د ستورو او سیاراتو اثر،

په دې بنا د جادو ډیراقسام جوړیږی خوعرفِ عام کښې هغه څیزونوته جادو وائی چې پکښې دپیریانو اوشیطانانو دخل وی یا د مسمریزم دقوتِ خیالیه اثرپه کښې وی یا دځه الفاظو او کلماتو دخل په کښې وی، ځکه چې داخبره په عقل هم ثاپته ده اوپه تجربې او لیدلو کتلو سره هم، چه قدیم اوجدیدفلسفه ئې هم منی چې دخاص حروفو او کلماتو هم څه تاثیرات وی اوخاص حرف اویا خاص کلمه په خاص شمیرکښې په خاصِ طریقې سره وئیلو کښې اثرات لیدلې کیږی، یاداسې تاثیرات شوچه انسانی وینښتو یا نوکونو او نورو اندامونو لره یادانسان داستعمال جاموسره د نورو څیزونوپه یوځائ کولو پیداکولې شی، چه عرفِ عام کښې ورته ټونړه یاټوټکه کوډې منترونه وئیلې شی او جادو کښې حسابیږی،

اودقرآن اوسنت په اصطلاح کښې سحرداسې یوعجیبه څیزته وئیلې شی چې پکښې دشیطانانوخوشحالولوسره دهغوئ نه مددمومندلې شوی وی، دشیطانانودراضی کولوهم مختلف صورتونه دی کله داسې منترونه پوک وهلې شی چې کفری اوشرکی کلمات پکښې وی دشیطانانوښه والې پکښې بیان شوی وی یادستورووغیره عبادت پکښې کړې شوی وی چې ورسره شیطان خوشحالیږی، کله داسې عملونه اختیارولې شی چې شیطان ئې خوښوی لکه چې په ناحقه دوژلی شوی وینه چې استعمال کړې شی، یادجنابت اوپیلتئ په حالت کښې پاتې کیدل، پاکئې نه ځان ساتل وغیره،

څنګه چې دالله تعالی دپاکوفرشتومدد، هغه اقوالواوافعالوسره حاصلولې شی چې فرشتې ئې خوښوی، مثلا تقوی، پاکی، اوپاکیزګی، بدبوئې اوپلیتئ نه ځان ساتل، دالله ذکراونیک کارونه کول،

داشان دشیطانانوامداد، په داسې اقوالواوافعالوسره حاصلیږی چې شیطانان ئې خوښوی، په دې وجه سحراوجادو کښې داسې خلق کامیابیږی چې ګنده اوپلیت پاتې کیږی، دپاکئ او د الله تعالی دنوم نه لرې پاتې کیږی، دخبیثوکارونوعادت وی، ښځې هم چې دحیض په ورځو کښې داکارونه کوی نواثرلری، باقی دشعبدو، ټونړو، ټوټکو او کوډو منترونو، یادلاس د صفائې کارونویامسمریزم وغیره ته سحر مجاز اوئیلې شی، [روح المعانی] ([1])

[1]) روح المعانی تحت هذه الآية: ١/ ٤٣٦

دسحر قسمونه: امام راغب اصفهانی په مفردات القرآن کښې ليکی چې سِحرمختلف قسمونه لری.

رومبې قسم دسحر: يوقسم ئې نظربندی اوخيال کښې راوستل وی چې په واقع کښې هيڅ حيثيت نه لری لکه ډيرشعبده بازان چې دخپل لاس په چالاکئ سره داسې کارونه کوی چې عام خلق ئې په سترګو نشی ليدلې يادقوتِ خياليه،مسمريزم وغيره په ذريعه دچاپه دماغو داسې اثر واچولې شی چې هغه خوپه سترګويوڅيزوينی اومحسوسوی ئې مګر حقيقت کښې هيڅ نه وی، کله داکار دشيطانانوداثرنه هم کيدې شی چې دچاپه سترګو او دماغو داسې اثرواچولې شی چې يوغير واقعی څيز،واقعی اوګڼړی،په قرآن کريم کښې ذکرشوې دفرعون دساحرانورومبې قسم سحروو لکه ارشادفرمائی،

﴿سَحَرُوٓا أَعْيُنَ النَّاسِ﴾ هغوئ دخلقوپه سترګوجادواوکړو.

اوارشادفرمائی: ﴿يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ﴾ ددوئ دسحرنه دموسی عليه السلام په خيال کښې راتلل شروع شوچه دا [دپړورسيوماران] منډې وهی،

په دې کښې ديخيل لفظ دابنائې چې دساحرانودپړواوهسماګانونه چې ساحرانو په ميدان کښې غورځولې وې نه خوپه حقيقت کښې ماران جوړشوی وواونه هغوئ څه حرکت کړې وو بلکه دحضرت موسی عليه السلام قوتِ خيالی اثرقبول کړواووې ګڼړل چې دامنډې وهونکی ماران دی.

د سحر دويم قسم: بل داسې قسم خيال کښې راوستل اونظربندی ده چې څنې وختونوکښې د شيطانانو داثرنه کيږی لکه چې دقرآن کريم ددې ارشادنه معلوميږی،

قوله تعالی: ﴿هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ ۝ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ﴾ زه تاسوته اوښايم چې په کومو خلقو شيطانان راکوزيږی اوښکته کيږی.په هردوغ تړونکی ګناهګارو باندې راکوزيږی[کښته کيږی] اوبل ځائ کښې ارشادفرمائی:

قوله تعالی: ﴿وَلَٰكِنَّ الشَّيَاطِينَ كَفَرُوا يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ﴾ شيطانانوکفراختيارکړوچه خلقوته ئې سحروراِزده کولو.

دسحر دريم قسم: دسحردريم قسم دادې چې ددې په ذريعه ديوڅيزحقيقت بدل کړې شی لکه چې يوبنيادم يا ځناورنه څه بل ځناوريا کاڼړې جوړکړې شی،امامِ راغب اصفهانی رحمه الله ابوبکرجصاص رحمه الله وغيره حضراتوددې نه انکارکړې دې چې دسحر په ذريعه ديوڅيزحقيقت بدليدې نه شی بلکه دسحراثر صرف په خيال کښې راوستل اونظربندی کيدې شی(۱)، او بس، چنانچه معتزله هم داسې وائی، مګردجمهوروعلماؤتحقيق دادې

---

۱) مفردات القرآن للأصفهانی: ۱/ ۲۲۶

چې په حقيقت اوذات بدليدو كښې نه خوځه عقلي خنډشته اونه شرعي مثلا يوجسم كاڼې جوړشي يايوقسم څيزپه بل قسم څيزكښې بدل شي، او د فلسفيانو ددې مشهور قول چې حقيقتونه بدليدل ممكن نه دي،مطلب دادې چې حقيقتونه محال ممكن او واجب يوپه بل سره نشي بدليدې،چنانچه محال ممكن اوواجب نشي ګرځيدې اوداشان نور صورتونه واخله،

قرآن كريم چې دفرعوني ساحرانوسحرته تخيل وئيلې دې هغې نه دانه لازميږي چې هر سحر، دې صرف تخييل وي،داشان ځنې حضراتودسحرپه ذريعه دحقيقت بدليدوپه جواز، دحضرت كعب احبار رضي الله عنه دهغې حديث نه هم استدلال كړې دې چې په مؤطاامام مالك رحمه الله كښې په روايت دقعقاع بن حكيم داسې منقول دې، لولاكلمات اقولهن لجعلتني اليهود حمارا،() كه مادايوڅوكلمات وظيفه كړې نه وې نويهوديانوبه زما څخه خرجوړكړې وو، د خر مجازي معنى بيوقوف هم كيدې شي خوبې ضرورته دحقيقت نه مجازته تلل د قواعدو نه خلاف دي،نودحديث اصل معنى به هم داوي چې، كه مايوڅوكلمات وظيفه كړې نه وې نو يهوديانوبه مانه خرجوړكړې وې،

دې حديث نه دوه خبرې ثابتې شوې ① دسحرپه ذريعه انسان نه خرجوړيدې شي ② ددغه وظيفه كړوكلماتوتاثيردادې چې سحراوجادوپراثرنشي كولې،حضرت كعب احبار رضي الله عنه نه چې ددغه كلماتوتپوس اوشونوهغوئ رضي الله عنه ورته داكلمات وراوښودل،

اعوذبوجه الله العظيم الذي ليس شئٌ اعظم منه وبكلمات الله التامات التي لايجاوزهن برولا فاجر وبأسماء الله الحسنى كلها ما علمت منها ومالم اعلم من شرماخلق وبرء وذرء [اخرجه في المؤطاباب التعوذِعندالنوم] زه دلوئ الله پناه نيسم چې هيڅ شې ترلوئ نشته اوپناه نيسم دالله دكلمات تاماتوچه ترهيڅ نيک اوبدانسان وړاندې نشي وتلې اوپناه نيسم دالله دټولو اسماء حسنى،چه ئې پيژنم اوكه ئې نه پيژنم دهغه څيز دشرنه چې الله پيداكړو،شته ئې كړواو خورئې كړو [مؤطاامام مالک]

په سحراومعجزه كښې فرق:څنګه چې دپيغمبرانو عليهم السلام اواولياء كرامو رحمهم الله نه خلاف عادت واقعات مخې ته راځي چې ورته خرق عادت وئيلې شي،دسحراوجادوپه اثر،په ظاهره دغسې واقعات هم مخې ته راځي،ځكه ځنې جاهلان په دې كښې فرق نشي كولې او د جادوګرو تعظيم كوي،په دې وجه ددې دواړوترمنځه فرق بيانول ضروري دي،

فرق په دوؤلحاظوسره كيږي،① داصل حقيقت په لحاظ،② اودظاهري نخښونښانوپه لحاظ دحقيقت په لحاظ فرق دادې چې دسحراودجادوداثرنه چې كوم څيزونه مخې ته

---

[1]) مؤطاء باب التعوذ عند النوم: ۷۲۳

راځی هغه داسبابو لاندې وی اومعجزې، کرامات د اسبابولاندې نه وی، کوم اسباب چې په ظاهره مخې ته راشی هغه د تعجب ځیزنه وی مګرځه وخت چې دغه اسباب په ښکاره مخې ته راشی نوعوام د اسبابونه پیژندلو په وجه یې خرقِ عادت بولی، حالانکه په حقیقت کښې دغه دهغه اسبابو لاندې وی چې پټ وی، مثلاً مشرق بعید کښې دنن لیکلې شوې خط که دچاپه وړاندې پریوځی نو لیدونکې به ئې خرقِ عادت اوګڼړی حالانکه پیریانو او شیطانانوته داقوت ورکړې شوې دې [څنګه چې وړاندهم ددې تفصیل بیان شوې دې]

خلاصه داچه په نتیجه کښې ښکاره کیدونکې نخښې نښانې دطبعی [عامو] اسبابو لاندې وی هر کله چې دغه پټ وی نوعوام ئې په غلطئ خرقِ عادت بولی په خلاف د معجزه چې د اسبابولاندنه وی براهِ راست [بلاواسطه] دالله تعالی فعل وی، چنانچه حضرت ابراهیم علیه السلام دپاره الله تعالی اوورته اوفرمائیل چه، په هغوئ علیه السلام یخ شه خو دومره هم یخ نه چې تکلیف پرِ رسی بلکه په داسې شان یخ شه چې سلامتی پرِ حاصلیږی، اوپه دې حکم الهی سره اوریخ شو،

نن هم داسې خلق شته چې څه مصالحې په بدن اومږی اورکښې دننه لاړشی اوسوځی نه، دامعجزه ځکه نشی کیدې چې داسبابو [داروا ومصالحو] په سبب وی، خو هرکله چې داپه ښکاره په نظرنه راځی نوعوام پردوکه شی اوخرقِ عادت ئې بولی

مونږپورته داذکراوکړوچه معجزه براهِ راست دالله تعالی فعل وی لکه چې قرآن کریم کښې په ډاګه فرمائی،

﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾ [د کانړوموټې چې تاسووراوغورځولو] هغه په حقیقت کښې تاسو نه وو ورغوځولې بلکه الله تعالی ورغورځولې ؤو،

مطلب داچه دخاؤرواوکانړوډک موټې غورځول اودهریوکافرسترګوته ئې رسیدل، دا ستاسو ﷺ عمل نه بلکه دالله تعالی فعل دې، داهغه معجزه ده چې دبدرپه غزاکښې ښکاره شوې وه چې رسول الله ﷺ دخاؤرو اود قتکانړو[شګو] ډک موټې دکفاروپه لښکرو راوویشتو چه دټولو سترګوکښې پرې وتې.

دسحر اومعجزې دابیان شوې فرق اګرچه ډیرواضح دې خوبیاهم سوال پیداکیږی چې عوام به په دې فرق څنګه پوهیږی ولې چې ظاهری صورت ددواړویوشان دې؟ جواب ئې دادې چې الله تعالی ددې نظام هم په داشان پیداکړې دې،

① معجزه اوکرامت دداسې خلقوپه ذریعه ښکاره کیږی چې تقوی، پاکیزګی، اخلاق او اعمال ئې دخلقوپه وړاندې وی، خوددې په عکس، دجادواثرصرف دداسې خلقوپه ذریعه ښکاره کیږی چې ګندګی، ناپاک وی، دالله تعالی دنوم اوعبادت نه ئې لرې اوسی. په داشان دغه فرق پیژندل آسان څه چې بالکل ښکاره دې،

② بل انتظام الله تعالی داکړې دې،چه څوک دپیغمبرئ په دروغه دعوی اوکړی اود معجزې په نوم څه جادوکول غواړی نوهیڅرې به نشی کیدې،عام پلیت اوغلیظ انسان که جادوکول غواړی نوهغه کولې شی،

آیاپه پیغمبرانو ﷺ دجادواثرکیدې شی: څنګه چې مونږمخکښې بیان کړی دی چې دجادو اثرد طبعی اسبابواثروی چې انبیاء ﷺ ترهم متاثرکیدې شی اوداد پیغمبرئ دشان نه خلاف خبره څکه نه ده چې هغوئ لره لوږه تنده وی،ناجوړه کیږی اورغیږی.مطلب داچه څنګه پیغمبران ﷺ دظاهری اسباب طبعیئونه متاثرکیږی همدغه شان دباطنی اوپټ اسبابو طبعیئونه هم متاثرکیږی چې د شانِ نبوت نه خلاف خبره نه ده چنانچه په رسول الله ﷺ باندې یهودوسحرکړې وو،په هغوئ ﷺ ددې څنې نخښې ښانې ښکاره شوې وې،په ذریعه دوحی ورته ددغې سحر خبر ورکړې شوې وواوهم دوحی په ذریعه دهغې ازاله شوې وه چې صحیح احادیثونه ثابت دی، داشان د حضرت موسی علیه السلام دسحرنه متاثر کیدل په قرآن کریم کښې ذکردی لکه فرمائی: ﴿فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ﴾.یعنی دموسی علیه السلام په خیال کښې دا راتلل چې دغه پړی او همساګانې ماران دی،موسی علیه السلام باندې ویره راتلل هم ددغه جادواثروو،

قوله:وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ:

د جهاد څخه تښتیدل: یعنی دَ جهاد دَ میدان نه تختیدل لویه ګناه ده. او عزیمت دې چه مجاهدین دې دَ جهاد دَ میدان نه بالکل نه تختی څکه چه په دغه مرګ کښې ژوند پروت دې. نوچه کله دا عقیده وی چه په مرګ کښې حیات دې نوڅوك به اوتختی؟

قوله:وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ:

په پاکدامنوزنانو دزنا تور پورې کول: یعنی پاك دامنه، مسلمانه، آزاده او شریفه ښځه باندې تهمت لګول دکبیره ګناهونونه ده. که چرې ښځه کافره وی نو په هغې باندې تهمت لګول کبیره ګناه نه ده بلکه صغیره ده. دا ټول اووه هلاکونکې او تباه کونکې ګناهونه دی د کوم نه بچ کیدل چه ډیر زیات ضروری دی.

[۵۳]دګناه په وخت دمؤمن څخه دایمان وتل

۵۳ –(۱)[۴] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «لَا يَزْنِي الزَّانِي حِينَ يَزْنِي وَهُوَ

۱) اخرجه البخاری كتاب المظالم والغضب/ باب النهي بغير إذن صاحبه(رقم: ۲۴۷۵) ومسلم كتاب الإيمان/ باب بيان نقصان الإيمان بالمعاصي ونفيه عن المتلبس بالمعصية على إرادة نفي كماله(رقم-۱۰۰ - (۵۷) وابوداود كتاب السنة/باب الدليل على زيادة الإيمان ونقصانه(رقم-۴۶۸۹) والنسائی كتاب قطع السارق باب تعظيم السرقة (رقم-۴۸۷۰) والترمذی كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا يزني الزاني وهو مؤمن (رقم-۲۶۲۵) وابن ما جة كتاب الفتن /باب النهي عن النهبة (رقم-۳۹۳۶)

مُؤْمِنٌ، وَلَا يَسْرِقُ السَّارِقُ حِينَ يَسْرِقُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ، ٣ وَلَا يَشْرَبُ الْخَمْرَ حِينَ يَشْرَبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ، ٤ وَلَا يَنْتَهِبُ نُهْبَةً يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ حِينَ يَنْتَهِبُهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ، ٥ وَلَا يَغُلُّ أَحَدُكُمْ حِينَ يَغُلُّ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ; فَإِيَّاكُمْ إِيَّاكُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ زنا كونكي چې كله زنا كوي نو هغه وخت د هغه ايمان باقي نه پاتې كيږي، او غلا كونكي چې كله غلا كوي نو هغه وخت د هغه ايمان باقي نه پاتې كيږي، ٣ شرابي چې كله شراب څښي نو هغه وخت د هغه ايمان باقي نه پاتې كيږي، ٤ او لوټ مار (په زبردستي اخستل) كوي او خلق هغه (ښكاره) لوټ مار كونكي ويني (ليكن د ويرې څخه بي وسه شي او د چغو وچغارو څخه علاوه د هغه هيڅ نشي خرابولي) نو هغه وخت د هغه ايمان باقي نه پاتې كيږي، ٥ او په تاسو كښې چې كوم يو خيانت كوي نو هغه وخت د هغه ايمان باقي نه پاتې كيږي، نو تاسو (د دې ګناهونو څخه) ځان ساتي، (بخاري او مسلم)

حل اللغات: ① الزَّانِي : زنا كونكې، ② السَّارِقُ: غلا كونكې، ③ وَلَا يَنْتَهِبُ: إِذَا أَغَارَ عَلَى أَحَدٍ وَأَخَذَ مَالَهُ قَهْرًا: په چا باندې حمله كول اودهغه مال په زبردستئ اخستلو ته نهب وائي. ④ نُهْبَةً: الْمَالُ الَّذِي يُنْتَهَبُ: په زور زبردستئ اخستلې شوى مال ته نهبه وائي. ⑤ لَا يَغُلُّ: الْخِيَانَةُ فِي الْغَنِيمَةِ: په مال غنيمت كښې خيانت كولو ته غلول وائي، ⑥ إِيَّاكُمْ إِيَّاكُمْ: دلته تكرار د توكيد او مبالغې دپاره دې، د نحو په اصطلاح كښې دې ته تحذير وائي، أَيْ أُحَذِّرُكُمْ: يعنى زه تاسو ددې مذكوره څيزونو نه ويروم نو تاسو ددې نه ځان بچ كړئ.

٥٤ ـ (١) [٥] ١ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -: ٢ «وَلَا يَقْتُلُ حِينَ يَقْتُلُ وَهُوَ مُؤْمِنٌ». ٣ قَالَ عِكْرِمَةُ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: كَيْفَ يُنْزَعُ الْإِيمَانُ؟ ٤ قَالَ: هَكَذَا، وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ ثُمَّ أَخْرَجَهَا، ٥ فَإِنْ تَابَ عَادَ إِلَيْهِ هَكَذَا، وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ. ٦ وَقَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: لَا يَكُونُ هَذَا مُؤْمِنًا تَامًّا، وَلَا يَكُونُ لَهُ نُورُ الْإِيمَانِ. هَذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ.

ترجمه: ١ او د ابن عباس ﷺ په روايت كښې دا الفاظ هم دي چې: ٢ قتل كونكي كله په ناحقه قتل كوي نو هغه وخت د هغه ايمان باقي نه پاتې كيږي، ٣ عكرمه ﷺ وايي چې ما د حضرت ابن عباس ﷺ څخه (د دې حديث په اوريدو سره) پوښتنه وكړه چې د هغه څخه ايمان څنګه جداشي، ٤ نو هغه اوويل داسې (په دې ويلو سره) هغه د خپلو دواړو لاسونو ګوتې په يو بل كښې داخلي كړې او بيايي هغه ګوتې يو د بل څخه وايستې، ٥ د دې څخه وروسته يې وفرمايل كه چېرته هغه توبه اوباسي نو ايمان داسې واپس راځي (او په دې ويلو سره) هغه خپلې ګوتې بيا په يو بل كې داخلې كړې ٦ او ابو عبد الله

---

(١) اخرجه البخاري كتاب الحدود /باب كتابة العلم (رقم : ١١٤).

(يعني امام بخاري رحمه الله) ويلي دي چې (د دي حديث مطلب دا دي چې) هغه سړي د ګناه کولو په وخت کامل مؤمن نه پاتې کيږي او د هغه څخه د ايمان نور اوځي. بخاري.

حل اللغات: ① يُنْزَعُ : د مضارع مجهول صيغه ده، ويستلې شی، اوبنکلې شی، ② شَبَّكَ : د باب تفعيل نه د دواړو لاسونو ګوتې ئې يوبل کښې ورکولو ته تشبيک وائی، ③ عَادَ : د ماضی صيغه ده د عَود نه، معنی ئې ده: راواپس کيږی، واپس راګرځی.

تسهيلات:

قوله: لَايَزْنِي الزَّانِي الخ:

د معتزلو او خوارجو مستدل: دامسئله وړاندې په كتاب الايمان كښې تيره شوې ده چې د معتزلو او خوارجو په نيز د ګناه كبيره مرتكب خارج عن الاسلام مخلد فى النار دې. بيا د معتزلو په نيز داخل فى الكفر نه دې ځکه چې ددوئ په نيز منزلة بين المنزلتين ده چې نه مسلمان دې او نه اسلام څخه خارج دې. ددوئ په نيز دوزخ کښې هم داشان منزلة بين المنزلتين مقام دې. خوارجو خو داخل فى الكفر هم اومنلو. داحديث د معتزلو او خوارجو دليل دې.

داهل سنت والجماعت عقيده: داهل السنت والجماعت په نيز مرتكب كبيره اسلام څخه خارج نه د ې، په ظاهره دا حديث پاك د نورو نصوصِ قرآنيه اوفرامينِ نبويه څخه متعارض دې لکه:

د اهل سنت والجماعت دلائل: ① [اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ] كه د شرك څخه علاوه كبائر كفر وې نو ددې د مغفرت ګنجائش به چرته وو. معلومه شوه چې دګناه كبيره مرتكب اسلام څخه خارج نه دې.

② [وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا] دلته هغه خلقوته مؤمن وئيلې شوی دی كوم چې خپلو كښې جګړې كوی. حالانکه جګړې كول ګناه كبيره ده.

③ د حدود الله او قصاص چې څومره آيتونه دی په هغې كښې دګناه كبيره مرتكب دپاره يو سزا مقرر ده. كه هغه داسلام څخه خارج وې نو د مرتد سزا به په ده باندې نافذ كيده، معلومه شوه چې د ګناه كبيره مرتكب د اسلام څخه خارج نه دې.

④ د حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه حديث [وان زنى وان سرق] په شان احاديث څخه هم جمهورو استدلال كړې دې. نودا د جمهورو مستدلات هم دی، او د زير بحث حديث متعارض هم دی.

په حديث الباب كښې اوته تاويلات: دزيربحث حديث پاك توجيه او تاويل او دا په صحيح محمل باندې حمل كول ضروری دی چې ټول نصوصو كښې توافق او تطابق راشی، دوه

مطلبونه خو په حدیث پاك كښې مذكور دى.

① علامه تورپشتی رحمه الله فرمائی چې دا كلام په لفظ كښې خبر دې خو معنوى طور باندې انشاء ده. یعنی زانی كه مؤمن دې نو هغه دې زنا نه كوى، ددې توجیه تائید دَ هغه روایت څخه كیږى كوم كښې چې لا یزن جزم او لا نهی سره دې. ملا علی قاری رحمه الله هم دا توجیه كوى مگر په دې باندې دا اعتراض دې چه حین ظرف دَدې توجیه انكاركوى ځكه چه دَ زنا نهی مطلقًا ده. حین یزنی سره مقید كولو څه فائده ده؟

② دلته د زانى د ایمان چې كومه نفی راغلې ده، دا دَ كمالِ ایمان نفی ده. دَ اصل ایمان نفی نه ده.

③ دایمان نورانیت مراددې. امام نووى رحمه الله هم دا توجیه كړې ده چې د ایمان نور باقى نه پاتې كیږى.

④ علامه طیبى رحمه الله دا توجیه كړې ده چې دلته د ایمان د یوې اهمې شعبې دَ حیاء نفی ده ځوك چې دا قبیح فعل كوى هغه مؤمن نه دې یعنی باحیاء نه پاتې كیږى، ددهٔ څخه د ایمان شعبه یعنی حیاء ځى. [الكاشف: ۱/۲۰۱]

⑤ داحكم په زجر، په توبیخ او په تغلیظ او تشدید باندې محمول دې چې ددې قبیح حركت مرتكب مؤمن پاتې نه شو بلكه فاسق فاجر شو. [الكاشف: ۱/۲۰۱]

⑥ ددې څخه د شهودى ایمان نفی مراد ده چې كه دا كس الله ﷻ حاضر ناظر منی نو ددې حضورى په حالت كښې به ئې دا حركت نه كولو. حالانكه د یو وړوكى ماشوم په وړاندې هم دا حركت څوك نه كوى.

⑦ دا حدیث د قطعى دلائلو معارض دې نو متروك دې.

⑧ ددې حدیث څخه مراد دا دې چې ددې كارونو په ارتكاب سره چې ده ته دمؤمن كوم اوچت لقب ملاؤشوې وو دې د هغې اهل پاتې نشوبلكه شرابى اوزناكار اوگرځیدل.

قوله: يَرْفَعُ النَّاسُ إِلَيْهِ فِيهَا أَبْصَارَهُمْ:

د مذكوره جملې مفهوم: یعنی دده په جرأت باندې به تعجب كوى. ددې د ظلم څخه به ویریږى. صرف دَ دهٔ طرفته به په ټیغوټیغو گورى او هیڅ به نشى كولې، ځكه چې ډاكوانو څخه ویریږى.

قوله: وَلَا يَغُلُّ: مال غنیمت كښې خیانت كولو ته غلول وائى. بیا مطلق خیانت باندې ددې اطلاق شوې دې. او وعده خلافى باندې وئیلې شوې دې..

قوله: فَإِيَّاكُمْ إِيَّاكُمْ:

دتكرار مقصد: تاكید دپاره دې یا تحذیر دپاره دى چې بچ شئ بچ كړئى، بچ شئ بچ كړئى،

په دې حديث پاك کښې د حقوق الله او حقوق العباد دواړو ذکر راغلې دې. يعنې د ايمانی حالت تقاضا داده چې هغه کس په دې حقوقو کښې دحدودالله څخه لړ تجاوز هم او نه کړي..

[۵۵] د منافق درې نښې

۵۵-()[۵] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ» ". [۳] زَادَ مُسْلِمٌ: " «وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ» " [۴] ثُمَّ اتَّفَقَا: («إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ» ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ روايت کوي چې نبی کريم ﷺ وفرمايل [۲] د منافق درې علامې دي، [۳] د دې څخه وروسته مسلم رحمه الله په خپل روايت کښې دومره اضافه کړيده چې اګر که هغه مونځ کوي او روژه نيسي او د مسلمان کيدو دعوی هم کوي، [۴] د دې څخه وروسته بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله دواړه متفق دي، (هغه درې علامې دادي) ① کله چې خبره کوي نو دروغ وايي، ② کله چې وعده وکړي نو د هغه خلاف کوي ③ او هر کله چې د هغه سره امانت کيښودل شي نو خيانت پکې وکړي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① اَلْمُنَافِقِ: مَنْ يُظْهِرُ خِلَافَ مَا يُضْمِرُ: منافق هغه چاته وائی چه په زړه کښې يوشان وی او په ښکاره بل شان وی. ② أَخْلَفَ: د باب افعال نه، أَيْ جَعَلَ الْوَعْدَ خِلَافًا بِأَنْ لَمْ يَفِ بِوَعْدِهِ: چه د وعدې خلاف اوکړي او پوره ئې نه کړي. ③ خَانَ: د خان يخون نه مجرد دی، خيانت ئې اوکړو.

تسهيلات: قوله: آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ:

د نفاق تعريف: [إظهار خلاف ما أبطن] په ژبه يو څه وی او په زړ ه کښې بل څه وی. دا دوغلی پاليسی ده. هم دې ته نفاق وائی.

په مبتداء او خبر کښې عدم مطابقت باندې باندې اشکال: دلته يو فنی اشکال دې چې آية مفرد دې اودا مبتدا ده او ثلاث خبر دې اودا جمع ده، نو مبتدا او خبر کښې مطابق نشته دې؟

د اشکال دوه جوابونه: ① دلته درې علامتونو کښې هر علامت جدا جدا دنفاق علامت دې او يو روايت کښې دې چې [علامات المنافق ثلاث]. د هغې څخه معلوميږی چې آية څخه د مفرد اراده نه ده کړې شوې بلکه د جمع معامله کړې شوې ده.

② آية سره د جنس معامله کړې شوې ده. نو اوس مطابق اوشو ځکه چې جنس قليل او کثير باندې استعماليږی.

---

[1]) اخرجه البخاری کتاب الإيمان /باب علامة المنافق (رقم-۳۳) ومسلم کتاب الإيمان /باب بيان خصال المنافق(رقم-۱۰۷ - (۵۹) والنسائی کتاب الإيمان وشرائعه /علامة المنافق(رقم-۵۰۲۱) والترمذی کتاب الإيمان عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء أن الإسلام بدأ غريبا وسيعود غريبا (رقم-۲۶۳۱)واحمد فی المسند ۳۵۷/۲

په احاديثو کښې تعارض: په حديث الباب کښې دنفاق درې نښې ذکرشوی دی.اودحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما په دې حديث کښې څلورخصلتونه ذکرشوی دی.نو د دريو اوڅلورو په مينځ کښې تعارض دې.

د تعارض څلور جوابونه: ① علامه قرطبی رحمه الله فرمائی دا «من باب التجدد فی العلم» د قبيلې څنې دې. يعنی نبی ﷺ ته اول د دريو علم ورکړې شوې وو.اوبيا د څلورو.[1]

② حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه په دواړو احاديثوکښې تعارض نشته.ځکه چه په دې کښې يو زياتی مذموم خصلت کوم چه په کمال نفاق باندې دلالت کوی.ددې نه دا نه لازميږی.چه دا هم د نفاق نښه ده.ځکه چه ممکن ده.چه اصلی نښې درې وی.اودزياتی خصلت په وجه باندې په دې نفاق کښې خلوص پيدا کيږی.مطلب دا دې.چه درې خو د نفس نفاق نښې دی.اوچه څلورمه ورسره ملاؤشی.نودخلوص نفاق نښه ترې جوړه شی.[2]

③ مفهوم دعدد معتبر نه دې.ځکه چه عدد اقل دعدد اکثر نفی نه کوی.[3]

④ په مسلم شريف کښې دحضرت ابوهريره رضی الله عنه په حديث کښې په يوطريق کښې د «من علامات المنافق» الفاظ راغلی دی.[4] ددې نه معلوميږی.چه په درې يا څلوروکښې انحصار مقصود نه دې.بلکه دموقع اومحل په مناسبت سره کله نبی ﷺ د درې نښو بيانولوضرورت محسوس کړې دې.اودرې نښې ئې بيان کړی دی.اوکله ئې د څلورو خصلتونو ضرورت محسوس کړې دې. او څلور ئې بيان کړی دی.[5]

اشکال: دحديث الباب ظاهر دا وائی.چه داسې کس منافق دې.ځکه چه په ده کښې دنفاق خويونه اوخصلتونه موجود دی.حالانکه د اهل سنت والجماعت نيز په اتفاق سره دغه کس دايمان نه خارج نه دې.اوده ته منافق نشی وئيلې؟

داشکال اته جوابونه: ①امام العصرحضرت مولانا انورشاه کشميری رحمه الله خودا فرمائی.چه دعلامت په موجودوالی سره د صاحب علامت وجود نه لازميږی.ګورئ حرارت د بدن د تبې علامت وی. خودا ضروری نه ده.چه کله بدن ګرم وی.نوتبه به وی.بعضې وخت په نمر کښې زيات وخت کيناستو سره هم بدن ګرميږی.حالانکه هغه تبه نه وی.[6]

---

[1] فتح الباری(۱/۸۹)_
[2] فتح الباری(۱/۸۹و ۹۰)_
[3] شرح کرمانی(۱/۱۵۱)_
[4] صحيح مسلم (۱/۵۶) کتاب الإيمان باب خصال المنافق)_
[5] فتح الباری(۱/۹۰)_
[6] فيض الباری(۱/۱۲۴)_

② دشیخ الاسلام علامه ابن تیمیه رحمه الله دتحقیق مطابق چه دنفاق خصلتونه په مومن کښې موجود شی.ددې نه منافق کیدل نه لازمیږی.لکه څنګه چه دکفربعضې افراد کله په مومن کښې موجود شی.نوددې نه دهغه کافرکیدل نه لازمیږی.نودغه شان د نفاق هم مختلف درجې دی.لکه چه دلته د «نفاق دون نفاق» بیان دې.دایمان سره ددې اجتماع ممکن ده.په دواړو کښې تضاد نشته.چه جمع ئې ممکن نه ده.[1]

③ امام نووی رحمه الله فرمائی.چه داکثرومحققینوعالمانو رحمهم الله په رائې کښې ددې معنی دا ده.چه دا خصلتونه دنفاق خصلتونه دی.اوکوم کس چه په دې متصف وی.هغه د منافقانو سره مشابه دې.اودهغوی اخلاق خپلونکې به ګنړلې شی.ددې نه دکافرانوهغه نفاق مراد نه دې.کوم چه به په «فی الدرك الأسفل من النار» وی.په دې صورت کښې به د نفاق نه حقیقی نفاق مراد وی.خوکلام به په تشبیه باندې محمول وی.اود نبی ﷺ د ارشاد مطلب چه «كان منافقاً خالصاً» مطلب به دا وی.چه «كان شديد التشبيه بالمنافقين»[2]

④ امام ترمذی رحمه الله فرمائی.چه «معنى هذا عند أهل العلم نفاق العمل وإنما كان نفاق التكذيب على عهد رسول الله ﷺ»[3] یعنی دلته د نفاق نه، نفاق عملی مراد دې. نفاق تکذیب یعنی «نفاق فی العقیدة»مراد نه دې.دا جواب امام قرطبی اوحافظ ابن حجر رحمهما الله خوښ کړې دې.[4]

⑤ امام خطابی رحمه الله فرمائی.چه ددې نه مقصود انذار او تحذیردې.یعنی د مسلمانانو ویرول مقصود دی.چه ددې خصلتونه عادیان جوړ نشی.دامطلب نه دې.که په دې خصلتونو کې یوخصلت اتفاقی طورخرګندشی.نوددې په وجه پرې دنفاق حکم لګولې شی.[5]

⑥ بعضې عالمان رحمهم الله فرمائی.چه ددې نه مراد اعتیاد دې.یعنی که یوکس ددې خصلتونه عادی شی.نوهغه منافق دې.ځکه چه همیشه دپاره په دې خصلتونوعمل کول دمنافق کاردې.دمومن د شان نه دا خبره دلرې ده.چه همیشه دپاره دروغ وائی.همیشه

---

[1] فیض الباری (۱۲٤/۱)_
[2] شرح نووی علی صحیح مسلم (۵٦/۱) کتاب الإیمان باب خصال المنافق_
[3] جامع ترمذی کتاب الإیمان باب ماجاء فی علامة المنافق رقم ۲٦۳۲)_
[4] فتح الباری (۹۰/۱، ۹۱)_
[5] أعلام الحدیث للخطابی (۱٦۵/۱)_

دپاره وعده ماتوی.همیشه دپاره خیانت کوی.اوکنځلې کوی.(۱)

⑥علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه ددې نه نفاق شرعی مراد نه دې.بلکه نفاق عرفی مراد دې.یوشرعی نفاق دې.یعنی چه دپورته نه اسلام ظاهروی.اودننه ئې کفر پټ کړې وی.او یو نفاق عرفی دې.چه په ظاهراوباطن کښې ئې عمل برابر نه وی.بلکه بعضې وخت د ایمان قلبی عملاً مخالفت کیږی.نودلته هم دغه عرفی نفاق مراد دې.ایمان شرعی مراد نه دې.(۲)

⑧ بعضې حضرات فرمائی.دحدیث په الفاظوکښې اګرچه عموم دې.خوددې خاص اومعین شخص مراد وو.(۳)

[۵۶] منافق جوړونکي څلور خبري

۵۶–(۴)[۲] ⓵وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ⓶«أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا، ⓷وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا: ⓸إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، ⓹وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل⓶ په كوم سړي كې چې څلور خبري وي هغه پوره منافق دي ⓷اوكه په چا كې ددي څخه يوه خبره وموندلې شي (نو پوه شي چي) په هغه كښي د نفاق يو خصلت پيداشو تر څو پورې چې هغه پرې نه ږدي⓸ (او هغه څلور خبري دادي:) ① هركله چې امانت ورسره كيښودل شي په هغه كښي خيانت وكړي، ② چې خبري كوي نو دروغ وايي، ⓹③ چې قول او اقرار وكړي نو د هغه خلاف كوي (يعني دخپلي خبري څخه تښتي) ④ او چې په جنګ شي نو كنځل كوي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① خَصْلَةٌ : خوئی، عادت. ② يَدَعَهَا: أَيْ يَتْرُكَهَا: چه پرې ئې ږدی، ③ غَدَرَ: أَيْ يَنْقُضُ الْعَهْدَ ابْتِدَاءً: لوظ ماتولو كښې به مخكښې كيږی، بې لوظی به كوی. ④ خَاصَمَ: د باب مفاعله نه د ماضی صيغه ده، جنګ كوی، ⑤ فَجَرَ: أَيْ شَتَمَ: كنځل به كوی، ناروا به وائی.

(۱) أعلام الحديث (۱\۱۶۵) وفتح البارى(۱\۹۰)_

(۲) شرح كرمانى(۱\۱۴۹)_

(۳) أعلام الحديث للخطابى(۱\۱۶۶) وفتح البارى(۱\۹۱) وعمدة القارى(۱\۲۲۲)_

(۴) اخرجه البخارى كتاب الإيمان /باب علامة المنافق (رقم-۳۳) (رقم: ۳۴) ومسلم كتاب الايمان باب بيان خصال المنافق(رقم-۱۰۷ - (۵۹) وابوداود كتاب السنة/باب الدليل على زيادة الإيمان ونقصانه(رقم-۴۶۸۸) والنسائى كتاب الإيمان وشرائعه/علامة المنافق(رقم-۵۰۲۰) والترمذى كتاب الإيمان وشرائعه/ باب ما جاء فى علامة المنافق (رقم-۲۶۳۲) واحمد فى المسند ۱۸۹/۲

تسهيلات:

قوله: وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ:

په وعده اومعاهده کښې فرق: په بل حديث کښې وعد راغلې دى اودلته عاهد راغلى دى په دې دواړو کښې فرق دې.وعده د يوطرف څخه وى ددې ماتولو ته وعده خلافى وائى اوعهد د جانبينو په مينځ کښې وى ددې ماتولو ته غدراودهوکه وائى.

د وعده خلافئ د وعيد مصداق: په وعده خلافئ کولو باندې چې کوم وعيد راغلې دې دا په هغه وخت کښې دې چې کله يو کس وعده اوکړى او په زړه کښې پخه اراده اوکړى چې وعده به نه پورا کوم، ليکن که په زړه کښې ئې پخه اراده ده چې وعده به پوره کوم خو بيا ورته څه عذر راپيښ شو او مجبورى راغله نو دا وعيد ددې کس دپاره نه دې.

[٥٧] دمنافق مثال

٥٧ –(٧)[١]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ:[٢]قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ[٣]تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١]او حضرت ابن عمر ﷺ وايي [٢]رسول الله ﷺ وفرمايل د منافق مثال د هغه بزي (چيلئ) په شان دي چې د دوو رمو په مينځ کښي ګرځي راګرځي چې (د خپل نر په لټه کي)[٣] کله دي طرفته او کله هغه طرف ته مائله کيږي. رواه مسلم

حل اللغات: ① الشَّاةِ: چيلئ، بيزه، ② الْعَائِرَةِ: أَيِ الطَّالِبَةِ لِلْفَحْلِ الْمُتَرَدِّدَةِ: دخپل نر په لټون کښې سرګردانه وى، ③تَعِيرُ: أَيْ تَنْفِرُ، وَتَشْرُدُ: پريشانه ګرځيدلو ته وائى.

تسهيلات:

قوله: مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَالشَّاةِ الْعَائِرَةِ:

دتشبيه مقصد: په دې حديث کښې دوُس توب طرف ته اشاره ده چه منافق کله مسلمانانوله اوکله کافرانو له ځى راځى په تذبذب او ترددکښې پروت دې دَشهوت قيدى دې، دَ رجوليت نه عارى دې داسې دَهغه چيلئى په شان دې چه دَشهوت پوره کولودَپاره کله يوې رمې ته اوکله بلې رمې ته اخواديخوامنډې وهى او ګرځى راګرځى. دلته تمثيل دې يعنى تشبيه مرکب بالمرکب ده چه يوطرف ته دَمنافق يوه نظاره ده بل طرف ته دَ جفتى غوښتونکې چيلئى نظاره اوهيئت دې دواړو هيئتونوله يوبل سره تشبيه ورکړې شوې ده کوم چه تمثيل دې لکه:

ديو تحريک په ابتداء کښې د درې قسمه خلقو پيدا کيدل: دلته په دې خبره باندې هم پوهيدل

---

[١] اخرجه مسلم كتاب صفات المنافقين وأحكامهم (رقم) ٢ - (٢٧٧٣) والنسائى كتاب الإيمان وشرائعه/ مثل المنافق (رقم-٥٠٣٧)واحمد فى المسند ٤٢/٢

پکاردي چه هرقسم تحريك وي دَهغې په شروع کښې دوه قسم خلق په ميدان کښې وي
① يودَدغه تحريك راوستونکی اودَدې پيش کونکی خورونکی اوکامياب جوړونکی خلق وی هغوی دَ ځان بازی لګوی اودغه تحريك کاميابئ سره دَ مخ کولوکوشش کوی،
② دَدې په مقابله کښې نورهغه خلق وی چه دا نوې تحريك قطعًا نه برداشت کوی هغوی ځان مړ کولو اوبل مړکولوته تياريږي مګر دغه تحريك وړاندې کيدوته نه پريږدی. دا دواړه فريق په خپل خپل موقف کښې واضح حيثيت لری او په هغې کښې دَ هيڅ قسم لم ليټ نه کارنه اخلی.

③ په دغه تحريك کښې يودريم فريق هغه وخت پيداکيږی کله چه دَ دغه تحريك دَ کاميابيدو څه اميد پيداکيږی دافريق خالص مفاد پرست وی اوهروخت ګوری چه کوم طرف ته ځی اودَملګرتياکولو اعلان کوی اوکه په تحريك کښې څه ناکامی معلوميږی خلق غالب راځی که دَتحريك راوړونکی کامياب ښکاری نودغه مفاد پرست ډله هم هغه نودغه ډله دَ تحريك مخالفينو له په منډه ورځی اودَ وفادارئ اعلان کوی هم دغه مفادپرست ډله دَ منافقانو په نوم باندې اسلام ياده کړې ده.

داسلامی تحریک ابتداء: کله چه اسلام په مکه مکرمه کښې ښکاره شو نوهلته دغه ډله نه وه ځکه چه هلته دَدواړو طرفونه دَ قربانئ ضرورت وو اودا مفادپرست خلق دَ قربانئ والا نه وو. کله چه په مدينه منوره کښې اسلام خور شواودا اميد پيداشو چه اوس اسلام غالب راتلې شی نو په مدينه منوره کښې دَمنافقانودغه ډله راپيدا شوه اودَخپل مفاداتو لاندې کله مسلمانانو سره اوکله کافرانو سره په منډه منډه راتلل. په حديث پاك کښې دَدې طبقې تشبيه جفتی غوښتونکې چيلئی سره ورکړې شوې ده په کوم سره چه دَهغوی خاوره پليته شوه. دا طبقه دَ اسلام دَ شروع نه واخله ترننه پورې يوشان راروانه ده اواسلام ته نقصان رسوی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۸] د يهودو د نبی عليه السلام څخه د نهه آيات بينات باره کښې تپوس کول

۵۸ – (۱)[۸] ۱ «عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ قَالَ: قَالَ يَهُودِيٌّ لِصَاحِبِهِ: ۲ اذْهَبْ بِنَا إِلَى هَذَا النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۳ فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ: لَا تَقُلْ: نَبِيٌّ، إِنَّهُ لَوْ سَمِعَكَ لَكَانَ لَهُ أَرْبَعُ أَعْيُنٍ. ۴ فَأَتَيَا رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَأَلَاهُ عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ، ۵ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا، وَلَا تَسْرِقُوا، وَلَا تَزْنُوا، ۶ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَلَا تَمْشُوا بِبَرِيءٍ إِلَى ذِي سُلْطَانٍ لِيَقْتُلَهُ، وَلَا

[۱]) اخرجه النسائی کتاب تحريم الدم/ الصلب (رقم-۴۰۴۸) والترمذی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی قبلة اليد والرجل (رقم-۲۷۳۳) واحمد فی المسند ۲۳۹/۴

تَسْحَرُوا، ⑦ وَلَا تَأْكُلُوا الرِّبَا، وَلَا تَقْذِفُوا مُحْصَنَةً، وَلَا تُوَلُّوا لِلْفِرَارِ يَوْمَ الزَّحْفِ، ⑧ وَعَلَيْكُمْ خَاصَّةً - الْيَهُودَ - أَنْ لَا تَعْتَدُوا فِي السَّبْتِ". ⑨ قَالَ: فَقَبَّلَا يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ، وَقَالَا: نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ. ⑩ قَالَ: "فَمَا يَمْنَعُكُمْ أَنْ تَتَّبِعُونِي؟". ⑪ قَالَا: إِنَّ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ دَعَا رَبَّهُ أَنْ لَا يَزَالَ مِنْ ذُرِّيَّتِهِ نَبِيٌّ، ⑫ وَإِنَّا نَخَافُ إِنْ تَبِعْنَاكَ أَنْ تَقْتُلَنَا الْيَهُودُ».
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① حضرت صفوان بن عسال ﷺ وايي چې يوه ورځ يو يهودي خپل يو (يهودي) ملګري ته اوويل ② راځه چې دي نبي ﷺ ته ورشو، ③ هغه ملګري ورته اوويل هغه ته نبي مه وايه، ځکه چې که هغه واوريدل (چې يهوديان هم ماته نبي وايي) نو سترګي به يي څلور شی (يعني د خوشحالي څخه به په کپړو کښي نه ځايږي) ④ بهر حال هغه دواړه د رسول الله ﷺ په خدمت کښي راغلل او د رسول الله ﷺ څخه يي د نهو ⑨ ښکاره حکمونو په باره کښي پوښتنه وکړه، ⑤ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ① د الله سره ثوك شريك مه جوړوي، ② غلا مه کوي، ③ زنا مه کوي، ⑥ ④ د کوم نفس وژل چې الله حرام کړي دي هغه ناحقه مه قتلوي، ⑤ د يو چا بي ګناه قتلولو د پاره (په هغه غلط الزام لګولو سره) حاکم ته يي مه بيايئ، ⑥ جادو مه کوي، ⑦ ⑦ سود مه خوري، ٨: په پاك دامني ښځي باندې د زنا تهمت مه لګوي، ٩: په ميدانِ جنګ کښي د ښمن ته شا مه کوي ⑧ او اي يهودو ستاسو د پاره په خاص طور سره واجب دي چې د شنبي د ورځي په معامله کښي (د الله د حکم څخه) زياتي مه کوي، ⑨ روايت کونکي وايي (په دي اوريدو سره) دواړو يهوديانو د رسول الله ﷺ لاس پښې ښکل کړل او وي ويل چې مونږ ګواهي ورکوو چې ته ﷺ په رښتيا نبي يي، ⑩ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل (هرکله چې ستاسو زما په رسالت يقين دي نو) بيا زما د پيروي کولو څخه تاسو کوم شي منع کوي؟ ⑪ هغوئ اوويل حقيقت دا دي چې داود ﷺ خپل د رب څخه دعا غوښتي وه چې همېشه دي د هغه په اولاد کښي نبي وي ⑫ نو مونږ ويريږو که ستا پيروي وکو نو يهوديان به مونږ قتل کړي. ترمذي ابوداؤد نسايي

حل اللغات: ① لَا تَمْشُوا: أَيْ لَا تَسْعَوْا: منډې رامنډې مه وهئ، کوشش مه کوئ، ② بَرِيءٍ: أَيْ بِمُتَبَرِّءٍ مِنَ الْإِثْمِ: بری وی، بې ګناه وی، مجرم نه وی، ③ ذِي سُلْطَانٍ: أَيْ صَاحِبِ قُوَّةٍ: بادشاه، حاکم چاسره چه قوت وی، ④ وَلَا تَقْذِفُوا: د زنا تهمت لګول، يَعْنِي رَمْيُهُنَّ بِالزِّنَا: قذف کانړې اوچتول او دچا په سر باندې ويشتل دا قذف دې. بيا په پاك دامنه ښځه باندې تهمت لګولو دپاره استعمال شو، ⑤ مُحْصَنَةً: أي عَفِيفَةً: پاکدامنه زنانه کومې چه الله پاک د زنا نه محفوظ ساتلې وی، ⑥ لَا تُوَلُّوا: دا د تولی نه دې مخ اړول ا و شاکولو ته وائی، دلته ترې مراد د ميدان جنګ نه تختيدل دی. ⑦ لِلْفِرَارِ: تيخته کول، ⑧ يَوْمَ الزَّحْفِ: أَيِ الْحَرْبِ مَعَ الْكُفَّارِ: د کافرانو سره جنګ مراد دې. ⑨ لَا تَعْتَدُوا: أَيْ لَا تَتَجَاوَزُوا: تجاوز مه کوئ (د الله پاک په حکم کښې).

تسهيلات:

قوله: لَكَانَ لَهُ أَرْبَعُ أَعْيُنٍ:

د مذكوره جملې مطلب: څلور سترګې كنايه دى د شدت فرح او د خوشحالى د انتهاء نه ځكه چې خوشحالى كښې سترګې دومره كهلاؤ شى چې په هره سترګه كښې دوه ګوتونه جوړ شى. نو دوه سترګې لكه چه لوې شى او څلور ترې جوړ ې شى. ددې څخه د يهودو د بغض او عناد اندازه لګى چې په نجى مجلس كښې به ئې په چپه خله اقرار كولو خو ضد كښې راشى او هر څه هير كړى.

قوله: فَسَأَلَاهُ عَنْ تِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ:

په قرآن كښې د تسع آيات ذكر:

① موسى عليه السلام ته د تسع آيات وركولو ذكر په دې آيت كښې دې [وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ] (سورة بنى اسرائيل ايت: ١٠١)

② حضرت موسى عليه السلام ته د الله تعالى حكم دې [وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ فِي تِسْعِ آيَاتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ] (سورة نمل آيت: ١٢)

د تسع آيات په مراد كښې دوه اقوال: ① د حضرت ابن عباس رضي الله عنه او حافظ ابن كثير رحمه الله رائې داده چې په قرآن كريم كښې د تسع آيات بينات څخه مراد معجزات دى يعنى هغه نهه مشهورې معجزې كومې چې حضرت موسى عليه السلام ته ملاؤ شوې وې. هغه دا دى: عصاء، يدبيضاء، دم، طوفان، جراد، قمل، ضفادع، نقصِ ثمرات او سنين يعنى قحط اوچ كالى، د علامه مظهرى خيال دادې چې سورة نمل كښې خو معجزات مراد دى خو په بنى اسرائيل كښې احكامات مراد دى.

② په مذكوره دواړو آياتونوكښې د علامه طيبى رحمه الله او توريشتى رحمه الله رائې داده چې آيات تسع څخه مراد احكامات دى.

③ دَ ملا على قارى رحمه الله رائې داده چې په حديث كښې دواړه احتمالات دى چې سوال د احكاماتو باره كښې هم شوې دې او د معجزاتو باره كښې هم شوې دې. اوس كه سوال د معجزاتو باره كښې دې د كومو ذكر چې قرآن پاك كښې دې نو حضرت نبى كريم صلى الله عليه وسلم اول معجزات بيان كړى دى، دې نه پس ئې احكامات بيان كړى دى. راوى د معجزاتو ذكر نه دې كړې. ځكه چې هغه په قرآن كريم كښې محفوظ موجودې وې او د احكاماتو ذكر ئې اوفرمائيلو اوكه آيات بينات څخه مراد احكامات شي نود دې احتمال هم شته

د دويم فريق دليل: زير بحث حديث ددوى مستدل دې په دې كښې نبى كريم صلى الله عليه وسلم د احكاماتو ذكر فرمائيلې دې. نوپه قرآنى آيتونو كښې د تسع آيات څخه احكام مراد

دی.په دې باندې د ترمذی کتاب التفسیر ۴۰ حدیث دلیل دې. هلته دا لفظ دې[فسألاه عن قول الله تعالی وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ] ددې څخه ښکاره معلومه شوه چې سوال هم دَ احکاماتو باره کښې وو دمعجزاتو باره کښې نه وو نو بیا خبره صفا ده چه حضور عليه السلام دهغه احکاماتو جواب ورکړې دې کوم چه ټولو شرائعو کښې متفق وو

اشکال: سوال داحکاماتو باره کښې وو. حضورپاك دَ نهواحکاماتو په جواب کښې لس احکامات بیان کړل؟

داشکال جواب: په حقیقت کښې دغه خلقو دَ هغه نهو احکاماتو سوال کړې وو چه مشهور او په ټولو مکمل مذهبونو کښې مشهور وو. او یوحکم کوم چه یهودو سره خاص وو هغه ئی په زړه کښې پټ ساتلې وو، دې دَ پاره چه دَ حضورپاك امتحان واخلی. حضورپاك چه کله دَهغې هم جواب ورکړو نو بیائی هغوی خپې لاسونه ښکل کړل او دَ نبوت اقرار او اعتراف ئی اوکړو خوو ئی نه منلو.

قوله: وَقَالَا: نَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ.:

دیهودیانود ایمان نه راوړلو دوه عذرونه پیش کول :

① په دې کښې اقرار اواعتراف دې لیکن په دې کښې یوه دهوکه هم ده. هغه دا چه دَ یهودو عقیده ده چه حضورپاك دَ امیین نبی وو یعنی صرف دَعربو دَ پاره نبی وو دَ ټول جهان دَپاره نه وو نو [إنك نبی أي إلى العرب خاصة]دا دهوکه وه.

② یهودیانواووئیل چه حضرت داؤد عليه السلام دعا غوښتې وه چه نبی دې همیشه هم دَ دوی دَ اولاد نه وی اوحضورپاك دَ هغوی نه نه دې. که چرې مونږ اومنلو اوبه وهلې شو. دا هم هغوی دروغ اووئیل حضرت داؤد عليه السلام هیڅ کله داسې نه دی وئیلی اودائی هم دروغ اووئیل چه که اتباع وکړو نو وهلې کیږو به. دین اسلام خو امن راولی، امن غواړی، امن خوروی. فتنه او فساد خودَ دین دَ مخالفینو طریقه ده.

[۵۹] دایمان درې اصول دین

۵۹ -()[۹][۱] وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲]«ثَلَاثٌ مِنْ أَصْلِ الْإِيمَانِ؛ الْكَفُّ عَمَّنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، لَا تُكَفِّرْهُ بِذَنْبٍ، وَلَا تُخْرِجْهُ مِنَ الْإِسْلَامِ بِعَمَلٍ.[۳] وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُذْ بَعَثَنِيَ اللَّهُ إِلَى أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ الدَّجَّالَ،[۴] لَا يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ، وَلَا عَدْلُ عَادِلٍ. وَالْإِيمَانُ بِالْأَقْدَارِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[۱] او حضرت انس رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل[۲] درې خبرې د ایمان

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الجهاد /باب فی الغزو مع أئمة الجور(رقم-۲۵۳۲)

جړدي ① کوم سړي چې د لا اله الا الله اقرار وکړي هغه سره جنګ او دښمني ختموي، اوس دځه ګناه په وجه هغه ته کافر مه وايئ او نه د څه عمل په وجه په هغه باندې د اسلام څخه د خارج کيدو فتوي لګوي [۳] ② کله چې الله تعالی ﷺ زه رسول راليږلي يم جهاد به هميشه هميشه د پاره جاري وي، تردي چې د دې امت په آخر کښې به يو سړي راشي د جال سره به جنګ وکړي، [۴] د يو عادل (بادشاه) د عدل يا د څه ظالم د ظلم بهانه کولو سره جهاد نشي ختميدي، ③: او تقدير باندې ايمان راوړل، ابو داود.

حل اللغات: ① أَصْلِ : أَيْ أَسَاسُهُ: بنياد، اصل، ② الْكَفُّ: أَيْ الإِمْتِنَاعُ عَنِ التَّعَرُّضِ بِأَهْلِ الْإِسْلَامِ: يعنى کلمه ويونکو سره به جنګ نه شي کولې، ③ لَا تُكَفِّرْهُ: نسبت دکفر به ورته نه کوئ، کافر به ورته نه وايئ. ④ مَاضٍ : أَيْ نَافِذٌ وَجَارٍ وَمُسْتَمِرٌّ: يعنى مسلسل به جاری او نافذ وی، ⑤ لَا يُبْطِلُهُ: أَيْ لَا يُسْقِطُ الْجِهَادَ: ختمولې ئې نه شی، بندولې نه شی جهاد لره، ⑥ جَوْرٌ: ظلم، ⑦ جَابِرٌ: ظالم، ⑧ بِالْأَقْدَارِ: أى بِأَنَّ جَمِيعَ مَا يَجْرِي فِي الْعَالَمِ هُوَ مِنْ قَضَاءِ اللَّهِ وَقَدَرِهِ: تقدير يعنى په دنيا کښې چه څه کيږی دا د الله تعالى په فيصله او قدرت سره کيږی.

تسهيلات: قوله: ثَلَاثٌ مِنْ أَصْلِ الْإِيمَانِ:

په درې اصولوکښې عدم انحصار: دَاصل نه اصولِ دين مراد. دی ليکن په دريوکښې انحصار مقصود نه دې بلَکه دا درې دَهغې نه بعضې دی په دې وجه من تبعيضيه راوړلې شوې دې يا په فروع باندې عمل کولو دَپاره دادرې اصول دی.

قوله: لَا تُكَفِّرْهُ بِذَنْبٍ، وَلَا تُخْرِجْهُ مِنَ الْإِسْلَامِ بِعَمَلٍ:

په خوارجو اومعتزلۀ باندې رد: يعنی کلمه ويونکې مسلمان ته دَ ګناه په وجه دَ اسلام نه خارج کنړلوسره کافرمه وايه دې نه ژبه منع کړه اومه هغه دَاسلام نه خارج ګنړه، په اوله جمله کښې په خوارجو باندې واضح رددې او په جمله ثانيه کښې دَ معتزلو واضح ترديد دې ځکه چه اولنئی فرقه دکبيره ګناه مرتکب ته کافر وائی او داخل فی الکفرئی منی او دويمه فرقه معتزله دې خارج از اسلام ګنړی سره دَدې چه هغوی ده ته داخل فی الکفرنه وائی.

اشکال: که يوسړې مثلاً دَ ضروريات اسلام نه انکارکوی اودې سره کلمه هم وائی نو آيادَده تکفيربه نه کيږی؟

داشکال جواب: دلته حديث کښې "لاتخرجه من الإسلام بعمل" کښې دَعمل نه مرادهغه ګناه ده چه دَ کفريا دَ امارات کفرنه علاوه ده. که يوسړې کفرکوی يادَ ضروريات دين نه انکارکوی يا امارات کفرَخپلوی مثلاً زنار اچوی، يادَمصحف شريف توهين کوی هغه په ګندګئی کښې غورزَه وی نوداسې سړې کافردې دَ ده تکفيربه کيږی سره دَدې چه سل ځل دې کلمه وائی اوبې ګناه مسلمان ته کافروئيل ډير لوئی جرم دې.

قوله: وَالْجِهَادُ مَاضٍ مُذْ بَعَثَنِيَ اللّٰهُ..الخ:
دمذکوره جملې پس منظر: دا دويم اصل دې دَ دې نه وړاندې وثانيها محذوف راويستل به بهتروی. مطلب دا چه دَ جهاد فريضه يوسرې موقوف يا منسوخ کولې نه شی بلکه دا فريضه به جاری وی. شارحينِ حديث ليکلی دی چه بعضې منافقانو اووئيل چه ګورئی لږ صبراوکړئی چه دانبی مړشی دَهغې نه پس به مونږ خپل زوړ مذهب طرف ته واپس راګرځو. حضورپاك ته چه کله معلومه شوه نوحضورپاك اوفرمائيل چه جهاد به جاری وی که چرې دامنافقان اسلام پريږدی نو دَ تورې جهاد به موجودوی چه دوی به پرې کړی.
قوله: مُذْ بَعَثَنِيَ اللّٰهُ:
د مذکوره جملې په مفهوم کښې اقوال:
① يعنی دکله نه زمارب زه نبی جوړکړې ليږلې يم دَهغه وخت نه جهادجاری شوې دې.
① يعنی دکله نه زما رب زه دَمکې نه مدينې ته ليږلې يم دَهغه وخت نه دَ جهادحکم راغلې دې تردې چه دَدې امت آخری سړې به دجال سره جنګ اوکړی
قوله: إِلَىٰ أَنْ يُقَاتِلَ آخِرُ هَٰذِهِ الْأُمَّةِ الدَّجَّالَ،
د امت څخه مراد: دَدغه آخری سړی نه مراد (عيسىٰ عليه السلام) دې اودَ حضرت عيسىٰ عليه السلام دَ نازليدلونه پس به هغه دَدې امت دَ افرادو نه يوفردوی سره دَدې چه نبوت به ورسره وی. نو "آخرهذه الأمة" مطلب صحيح شواو په احاديثوکښې په واضح توګه راغلی دی چه دجال لره قتل کونکې به حضرت عيسىٰ عليه السلام وی.
قوله: لَا يُبْطِلُهُ جَوْرُ جَائِرٍ:
د ظالم حکمران په قيادت کښې دجهاد حکم: يعنی دَ يواسلامی مملکت مشر مثلاً ډير لوئی ظالم دې خوچه کله هغه دَ جهاد اعلان اوکړی نومسلمانانوله پکاردی چه دَ جهاددَپاره اوځی اودابهانه جوړه نه کړی چه سربراه ظالم دې مونږ جهادنه کوو بلکه په حديث کښې دی: الجهادواجب عليكم مع كل أمير برا كان اوفاجرا وان عمل الكبائر. (مشكوة ص ۱۰۰)
قوله: وَلَا عَدْلُ عَادِلٍ:
د کافر د عدالت په وجه د جهاد نه بنديدل: يعنی دَيو کافرحکومت سربراه ډيرعادل دې نودَهغه عدالت اومنصف مزاجی په خپل ځائی مګرجهاددَهغه دَ انصاف اوعدل دَ وجې نشی بنديدلې بلکه دَ اسلام عزت اووقار زياتولودَپاره اودَالله تعالی دکلمې دَ اوچتولودَپاره به دغه منصف مزاج بادشاه اودَ هغه قوم سره جهاد کولې شی.
قوله: وَالْإِيمَانُ بِالْأَقْدَارِ:
نوټ: دايمان بالقدر تفصيل په باب القدر کښې ذکرشوې دې.

[٦٠] د زنا کولو په وخت د بنده څخه د ايمان خارجيدل

٦٠-()[١٠] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٢] «إِذَا زَنَى الْعَبْدُ خَرَجَ مِنْهُ الْإِيمَانُ، فَكَانَ فَوْقَ رَأْسِهِ كَالظُّلَّةِ، [٣] فَإِذَا خَرَجَ مِنْ ذَلِكَ الْعَمَلِ رَجَعَ إِلَيْهِ الْإِيمَانُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] کله چې بنده زنا کوي نو ايمان بهر ځني را وځي او د هغه په سر د سائبان په شان معلق شی [٣] بيا چې هغه ګناه څخه فارغه شی نو ايمان د هغه طرف ته واپس راځي. ترمذي ابوداؤد

حل اللغات: ① الظُّلَّةِ: سائبان، سوري.

تسهيلات:

قوله: إِذَا زَنَى الْعَبْدُ خَرَجَ مِنْهُ الْإِيمَانُ:

اشکال: چې کله ايمان خارج شی نو آيا دا کس کافر شو؟

داشکال جوابونه:

① د زنا په وخت کښې د ايمان نور لاړ شي.

② د زنا په وخت کښې ايماني حياء لاړه شي.

③ د زنا په وخت کښې ايمان شهودی غائب شی،

④ د زنا په وخت کښې د ايمان کمال ترې لاړ شي.

⑤ دا د تغليظ و تشديد په توګه فرمائيلي شوی دی.

⑥ د زنا په وخت کښې وختی طور ترې ايمان لاړ شي، کله چې د قبامت څخه فارغ شی نو ايمان واپس راشی. د کبيرې د ارتکاب په وخت کښې هم دا کس د ايمان د سوری لاندې دی.

خطرناکه خبره: علماء کرامو ليکلی دی که چرې په دې وخت کښې دا کس مړ شو نو د ايمان څخه بغير مړ شو. ځکه چې ايمان خو پرې يو سورې جوړ شوې وو، د دننه څخه وتلې وو. او د واپس راتلو موقع ورته ملاؤ نشوه. (أعاذنا الله منه)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٦١] د رسول الله ﷺ حضرت معاذ ته ﷺ د لسو خبرو وصيت

٦١-()[١١] [١] عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: «أَوْصَانِي رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِعَشْرِ كَلِمَاتٍ، [٢] قَالَ: "لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ شَيْئًا، وَإِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ، [٣] وَلَا تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ وَإِنْ أَمَرَاكَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ، [٣] وَلَا تَتْرُكَنَّ صَلَاةً

---

[1]) اخرجه ابوداود كتاب السنة/باب في القدر(رقم-٤٦٩٠) والترمذي كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لا يزني الزاني وهو مؤمن (رقم-٢٦٢٥)

[2]) واحمد في المسند ٢٣٨/٥

مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا؛ [٥] فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللَّهِ، [٦] وَلَا تَشْرَبَنَّ خَمْرًا فَإِنَّهُ رَأْسُ كُلِّ فَاحِشَةٍ، [٧] وَإِيَّاكَ وَالْمَعْصِيَةَ، فَإِنَّ بِالْمَعْصِيَةِ حَلَّ سَخَطُ اللَّهِ، [٨] وَإِيَّاكَ وَالْفِرَارَ مِنَ الزَّحْفِ، وَإِنْ هَلَكَ النَّاسُ، [٩] وَإِذَا أَصَابَ النَّاسَ مَوْتٌ وَأَنْتَ فِيهِمْ فَاثْبُتْ، [١٠] أَنْفِقْ عَلَى عِيَالِكَ مِنْ طَوْلِكَ، وَلَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا [١١] وَأَخِفْهُمْ فِي اللَّهِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت معاذ ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ ماته د لسو خبرو وصيت اوکړو [٢] نو وي فرمايل ① د الله تعالى سره څوك شريك مه جوړوه كه څه هم تا ووژني او ودې سوزوي، [٣] ٢: د خپل مور وپلار نافرماني مه كوه اګر كه هغه تاته د خپل اهل او مال پريښودو حكم وكړي، [٤] ٣: په قصد سره هيڅ مونځ مه پريږده [٥] ځوك چې په قصد مونځ پريږدي الله تعالى دهغه څخه بري الذمه كيږي، [٦] ۴: شراب مه څښه ولې چې شراب دټولو بدو جړ دي، [٧] ۵: د الله تعالى نافرماني او د ګناه څخه ځان ګوره ځكه چې نافرماني كولو سره د الله غصه راځي، [٨] ٦: جهاد كښې هيڅ كله د ښمنانو څخه تيښته مه كوه اګر كه ستا سره ټول خلق هلاك شي، [٩] ٧: هر كله چې په خلقو كښې مرګ (د وبا په صورت كې) خپورسي اوته په هغوئ كښې موجود يې نو ثابت قدم اوسه يعنى د هغوئ د مينځ څخه مه تښته، [١٠] ٨: په خپل اهل وعيال باندې د خپل وس مطابق خرڅ كوه، ٩: تاديبًا (د ادب دپاره) خپله ډنډه د هغوئ څخه مه لرې كوه، ١٠ [١١]: او د الله تعالى په معامله كښې هغه اوېروه يعنى په اهل وعيال كې كه څه سزاءً يا تاديبًا وهل وټكول ضروري وي نو د هغه څخه بې پروايي مه كوه او هغوئ ته د ښو ښو خبرو نصيحت او تلقين كوه او د دين د احكامو او مسائلو تعليم وركوه او هغه د خرابو خبرو څخه د محفوظه كولو كوشش كوه. احمد

حل اللغات: ① أَوْصَانِي: أَيْ أَمَرَنِي: وصيت ئې كړې يعنى حكم او تاكيد ئې راته كړې دې، ② حُرِّقْتَ: اوسوزولې شې، ③ لَا تَعُقَّنَّ: أَيْ لَا تُخَالِفَنْهُمَا: مخالفت ئې مه كوه، ④ مُتَعَمِّدًا: په قصد سره (اوكه په هيره يا دضرورت په وجه فوت نوشى نو دغه حكم نه دې)، ⑤ بَرِئَتْ: بيزاره دې، (الله تعالى ئې د امن وغيره ذمه نه اخلى)، ⑥ رَأْسَ: بنياد د هرې ګناه ځكه دې چه شراب څكلوسره عقل ختميږي اوكله چه عقل لاړو نو بيا خو دَ هرې ګناه لار كولاؤشوه، ⑦ فَاحِشَةٍ: هرقسم ګناه او ناجائز كار مراد دې (ځكه ورته ام الخبائث هم وائى)، ⑧ إِيَّاكَ: دې نه مراد تحذير دې يعنى ځان بچ كړئ، ⑨ حَلَّ: أَيْ نَزَلَ: راځى، نازليږى، ⑩ سَخَطُ اللَّهِ: غصه اوخفګان دالله، ⑪ الْفِرَارَ: تيختنه كول، ⑫ الزَّحْفِ: أَيِ الْحَرْبِ مَعَ الْكُفَّارِ: د كافرانو سره جنګ مراد دې، ⑬ فَاثْبُتْ: ثابت قدم اوسيږه، ⑭ طَوْلِكَ: أَيْ فَضْلِ مَالِكَ: دَ طاقت، قدرت او وسعت په معنى كښې دې يعنى واجبى نفقات خو په ذمه دى دَزياتى نفقاتو نه هم په بال بچ باندې خرڅ كوه مګردخپل وسعت مطابق. ⑮ أَخِفْهُمْ فِي اللَّهِ: أَيْ: أَنْذِرْهُمْ: يعنى اوئې ويروه دالله تعالى دمخالفت او نافرمانۍ نه.

تسهیلات:

قوله: لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ شَيْئًا وَإِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ:

اشکال: په قرآن کریم کښې دَ اکراه په صورت کښې دکفراوشرک په زباني او ظاهري توګه باندې ارتکاب جائزګرځولې شوې دې دَپاره چه ځان بچ شی لیکن دلته دَحدیث نه دامعلومیږی چه دَ اکراه په حالت کښې هم اجازت نشته؟

دَاشکال دوه جوابونه: ① یوعزیمت دې اویورخصت دې رخصت خو هم دغه دې دَ کوم ذکر چه په قرآن کښې دې چه په زړه سره مؤمن دې صرف په ژبه سره دَ اکراه په صورت کښې دَ کفر کلمه وائی نودَ ځان بچ کولو دَپاره رخصت شته اجازت دې، بل خوا حضورپاک صحابی ته په عزیمت باندې دَعمل کولوحکم ورکړې دې چه ځان ورکړه مګر دَ شرک ارتکاب اونه کړې نو په عزیمت باندې عمل دَ صحابی دَ شان سره برابر وو.

② داکلام په فرضی توګه باندې دې یعنی شرک مه کوئی فرض کړه که تاسو اوسوزولې شئی یا قتل ته پیش کړې شئ مګر دَشرک نه بچ شئ.

قوله: وَلَا تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ:

د مورپلار د تابعدارۍ درې صورتونه: ① که دَ مورپلار حکم دَ شرعی امر کولوسره متعلق دې نو په دې کښې دَ والدینو اطاعت فرض دې.

② که چرې دَ منکرامر دکولو سره دَ مورپلار حکم متعلق دې نودَهغوی اطاعت نه کول فرض دی.

③ که چرې یومباح عمل سره متعلق وی نواطاعت کولې شی په دې شرط چه په اطاعت سره دَ فتنې خوریدو ویره نه وی.

قوله: فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللّٰهِ:

قصداً د مونځ په پریښودو غیرمحفوظ الدم ګرځیدل: شیخ عبدالحق رحمه الله لیکلی دی چه قصداً مونځ پریښودونکی نه دَالله تعالی دَ حفاظت ذمه واری پاسی یعنی اوس داسړې محفوظ الدم پاتې نه شوبلکه مهدورالدم شو.

په قصد سره د مونځ پریښودونکی په حکم کښې پنځه اقوال:

① امام احمد رحمه الله فرمائی چه تارك الصلوة به قتلولې شی اوداَارتداديوشکل دې.

② دَ حضرت امام شافعی رحمه الله اوامام مالك رحمه الله په نیزعمداً مونځ پریښودونکې مرتدنه دې البته واجب القتل دې. اوداسزادَهغه دَ دغې عمل ردعمل دې.

③ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائیلی دی چه تارك الصلوة په جیل کښې واچوئی تردې چه یاتوبه اوکړی اویا په جیل کښې مړشی.

④ شیخ سعدی رحمه الله وئیلی دی چه بیلمانځه ته قرض مه ورکوئی ځکه چه څوک دَالله تعالی قرض نه اداکوی نوهغه به ستاسو حق څه اداکړی.

⑤ بعضي الله والا فرمائی چه بیلمانځه دَ مسلمانانو په قبرستان کښې مه خښوئ، [اشعة المعات: ۱/۸۴ ،بتغیر]

قوله: وَإِذَا أَصَابَ النَّاسَ مُوتٌ وَأَنْتَ فِيهِمْ فَاثْبُتْ:

د وبائي ځائي څخه د تختیدلوحرمت: یعنی چرته چه طاعون وغیره وبائی مرض وی هلته شرعًا تلل جائزنه دی اودَهغه ځائی نه تختیدل هم جائزنه دی داهم داسې ناجائزدی لکه چه دَ دښمن نه په میدان جنګ کښې تخیدل ناجائزدی. ددې مسئلې تحقیق په کتاب الطب کښې راروان دې.

قوله: وَلَا تَرْفَعْ عَنْهُمْ عَصَاكَ أَدَبًا:

دادب ورکولوپه غرض د ماشومانو دوهلوجواز: یعنی دَ تادیب اوتهذیب دَپاره ضروری دی چه هروخت دې همسا په اوګه وی او په دې سره دَ ښځې اوبچو اصلاح جاری ساته مګر دا وهل ټکول چه دَ ادب په توګه وی نه چه دَعذاب اوتعذیب په توګه. خلاصه داچه دَهغوی دَتادیب اوحسنِ تعلیم دَپاره زجر اوتوبیخ وهل ټکول هم پکاردی.

[۶۲] دعهد نبوی څخه پس د نفاق خاتمه

۶۲ -(۱)[۱۲] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: إِنَّمَا النِّفَاقُ كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، [۲] فَأَمَّا الْيَوْمَ فَإِنَّمَا هُوَ الْكُفْرُ، أَوِ الْإِيمَانُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] اوحضرت حذیفه رضی الله عنه وایي د نفاق حکم د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه ختم شو [۲] (اوس به دوه صورتونه وي چي) یا به کفر وي یا ایمان. بخاري

حل اللغات: ① فَأَمَّا الْيَوْمَ: أَيْ: بَعْدَ وَفَاةِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د نن ورځ نه مراد د نبی علیه السلام د وفات نه پس زمانه ده.

د راوي مختصر تعارف: حذیفه بن الیمان رضی الله عنه ئي نوم دي کنیت ابوعبدالله،لقب صاحب سر رسول الله د عطفان د قبیلې سره ئي تعلق ساتلو پلار ئي څوک قتل کړې وو نو مدینې ته راغلې وو او مقیم شوې وو حضرت حذیفه رضی الله عنه د اسلام قبلولو دپاره د مدینې نه مکې ته تلې وو.د غزوه بدر نه علاوه په نورو ټولو غزاګانو کښې ئي شرکت کړې وو.د نبی کریم په زمانه کښې هم په مدینه کښې پاتې وو.روستو بیا په عرق، کوفه، نصیبین او مدائن کښې مقیم وو(۳) حضرت عمر رضی الله عنه د قراق د فتح کولو نه پس د دجلې په خواه شا علاقه باندې افسر مقرر کړې وو.(۴) بیا د مدائن والی جوړ کړې شو.

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب الفتن /باب إذا قال عند قوم شيئا، ثم خرج فقال بخلافه(۷۱۱۴)

حضرت حذیفه رضی الله عنه د فقه، حدیث او د قیامت دورځې پورې چه څومره انقلابات راتلونکي وو دټولو عالم وو. د منافقانو په باره کښې چه دوی ته کوم خصوصي معلومات وو. د دې په وجه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د راز دار په لقب سره یادیدلو. پخپله فرمائی چه د دې وخت نه واخله تر قیامته پورې څومره فتنې دي دټولو ما ته علم دې خو د دې مطلب دا نه دې چه زما نه سوا بل چاته د دې علم نشته بلکه اصل خبره دا چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم په یو مجلس کښې د دې ټولو فتنو خبر مونږ ټولو ته راکړې وو. او اوس زما نه سوا بل څوک باقی نه دی.

زهد: د زهد ئې دا کیفیت وو. چه د مدائن امیروو خو د دې باوجود ئې به د فقیرئ په طرز زندګئ کښې څه فرق نه وو راغلې بلکه په خر باندې به ئې سورلی کوله یوځل ورته امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه څه مال رااولیږلو. نو هغه ټول ئې تقسیم کړل.(۱)

وفات: په ۳۶ هجرئ کښې دحضرت عثمان رضی الله عنه د وفات نه څلویښت ورځې پس وفات شوې وو. په آخری عمر کښې په ژړا کښې مصروف وو. خلقو چه ترې تپوس اوکړو نو وې فرمائیل د دنیا د پریخود په غم کښې نه ژاړم بلکه مرګ راته زیات محبوب دې. خوزما حشر به څنګه وی کله چه ئې آخری ساه واخستله نو وې فرمائیل یا الله زما دپاره خپل ملاقات مبارک کړه څکه چه زه تاسره ډیر محبت کوم(۲)

مرویات: د دوی په د سلو نه زیات روایات منقول دی په دې کښې دولس متفق علیه دی او۸ په په بخاری او۱۷ په مسلم کښې دی (۳)

تسهیلات:

قوله: فَأَمَّا الْيَوْمَ فَإِنَّمَا هُوَ الْكُفْرُ، أَوِ الْإِيمَانُ:

د عهد نبوی څخه روسته د منافق سزا: دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې د څو مصحلتونو په وجه منافقان د مسلمانانو په حکم کښې وو، او د دوئ ټول سازشونه به برداشت کولې شو. حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمائی چې اوس هغه معامله پاتې نشوه، اوس فرض کړه که دا معلومه شي چې یو کس منافق دې نو په هغه باندې به د ارتداد حکم جاری کیږي. او اسلامی حکومت به هغه ته د مرګ سزا ورکوی.

په عهدنبوی کښې منافقانوته دعدمِ تعرض درې وجوهات: ① زیاتومسلمانانوبه منافقان پیژندل نوکه هغوی ئې قتلولې نو په خلقو کښې به دا مشهوره شوې وه چې محمد صلی الله علیه وسلم خپل

---

(۱) اسد الغابة (۳۹۲\۱)_(۲) مسند احمد (۳۸۹\۵)- (۳)تهذیب الکمال)_ (٤)مسلم فی صلاة المسافرین رقم، باب استحباب تطویل القراءة فی صلاة اللیل والبخاری فی التهجد باب طول القیام فی صلاة اللیل رقم. ۱۲۹۲ وکذا نس فی الجنائز رقم، ۱۸۵۰، وجه فی الجنائز رقم، ۱۵۹٤وحم، باقی مسند الکمثرین رقم، ۱۲۰۷۷) (۵)معارف السنن (۴۸۰\۱۳) شرح المهذب (۳۶۷\۱۳)- (۶)

ملګری هم قتلوی نو خلق به د اسلام قبلولو څخه ویریدل او اسلام ته به نزدې هم نه راتلل.
③ د مسلمانانو کثرت او زیات والې پکار وو دې دپاره چې په کافرانو باندې رعب وی.
④ چې منافقان د نبی ﷺ او د صحابه کرامو په ماحول کښې پاتې شی او دهغې څخه متاشره شی اوزژه څخه مسلمانان شی. اوکه قتلولی شو نودا موقع به هغوی ته په لاس نه ورتله.

[۲/۲] بَابٌ فِي الْوَسْوَسَةِ]

دا باب دَ وسوسې په بیان کښې دې

وسوسه او د دې اقسام :

د وسوسې لغوی معنی: وسوسه په لغت کښې نرم آواز او دَ زیوراتو یعنی کالو شرنګارته وائی. بیا وئیلې شی چه کوم خیالات په زړه کښې ظاهریږی که هغه د رذائل او معاصی طرف ته دعوت ورکوی نو دا وسوسه ده. او که د طاعت طرف ته داعی وی نو هغې ته الهام وئیلې شی،

د وسوسې دوه قسمونه: ① ضروریه: دا هغه وسوسه ده کومه چه په زړه کښې پیدا شی او انسان د هغې په لرې کولو باندې قادر نه وی. دا د ټولو امتونو نه معاف کړې شوې دې ځکه چه د دې نه بچ کیدل ګران دی. او انسان الله پاک د یو داسې امر نه دې مکلف کړې چه د هغې پوره کول د هغه په طاقت کښې نه وی. ﴿ لایکلف الله نفسا الا وسعها ﴾

② اختیاریه: دا هغه وسوسه ده کومه چه په زړه کښې جاری کیږی او دوام اختیار کړی او سړې د هغه خیالاتو نه لذت حاصلوی لکه چه د یوې زنانه مینه په زړه کښې داسې ننوځی چه هغه د هغې د خیال نه لذت هم حاصلوی او هغې ته د رسیدلو اراده هم په زړه کښې ساتی خو د دې خیال مطابق ترې څه فعل نه صادر کیږی بلکه صرف خیال ئې راځی نو دا اختیاری قسم د امت محمد ﷺ نه خاص طور سره معاف کړې شو د رسول الله ﷺ د تکریم او تشرف، او د هغوی د امت د خیر امت کیدو د وجې نه خو عقائده فاسده او اخلاق ذمیمه هرګز په دې کښې داخل نه دی.

دخاطرتعریف: هر څه چه په زړه کښې راځی هغې ته خاطر وائی د دې جمع خواطر راځی. دلته هغه خیالات مراد دی کوَم چه په زړه کښې راځی)

دخاطراولنې تقسیم: دخاطردرې قسمونه دی.

① **وسوسه:** خیال راتلل ضعیف وی چه زړه ته د راتلو سره زائل شی دې ته وسوسه وائی په شریعت کښې دا د معفو عنها په درجه کښې دې.

② **تردد:** د وسوسې نه پورته درجه دا ده چه د هغه په خیال کښې داسې تردد وی چه د

هغې قصد اوکړي بیا ئې پرېږدي بیا قصد اوکړي بیا ئې پرېږدي. په خپل قصد باندې مستمر نه وي، د دې نوم تردد دې په دې باندې به هم مواخذه نه وي.

③ **عزم:** د تردد نه پورته درجه دا ده چه په زړه کښې د پیدا کیدونکی خیال طرف ته ئې میلان پیدا شي او د هغې په مقتضاء باندې د عمل کولو کلکه اراده اوکړي هم د دې نوم عزم دې.

دخاطر دویم تقسیم: د تقسیم ثاني په لحاظ سره د خواطر پنځه اقسام دي. ۱: هاجس، ۲: خاطر، ۳: حدیث نفس، ۴: هم، ۵: عزم

① **هاجس:** یو څیز چه کله په زړه کښې ابتداء واقع شي او تیر شي د هغې نوم هاجس دې.

② **خاطر:** که هغه خیال په زړه کښې واقع کیدو سره ګردش کوي د عمل او عدم عمل مطلقا څه رجحان پیدا نه شي نو د دې نوم خاطر دې.

③ **حدیث النفس:** که د انسان نفس د هغه خیال په وجه باندې د فعل او عدم فعل رجحان پیدا کړو خو په فعل یا عدم فعل کښې یو ته ترجیح رانشي نو د دې نوم حدیث نفس دې. دا درې واړه که د یو شر سره متعلق وي نو هیڅ باک نشته. که د خیر سره متعلق وي نو ثواب نشته ترڅو پورې چه ئې د درې واړو په مقتضا باندې عمل نه وي کړې.

④ **هم:** که د انسان نفس د فعل او عدم فعل خبرې لره پیدا کولو سره جانب فعل ته ترجیح ورکړي خو هغه ترجیح قوي نه وي بلکه د وهم په شان مرجوح وي نو دې ته هم وائي. د دې شرعي حکم دا دې چه که د دې تعلق د امر خیر سره وي نو په دې باندې به ثواب مرتب کیږي او که د شر سره متعلق وي نو په دې باندې به هیڅ عقاب نه وي ترڅو چه ئې عمل نه وي کړې.

⑤ **عزم:** که د فعل جانب ته قوي ترجیح راشي چه انسان د فعل د ارتکاب مصمم او کلکه اراده اوکړي او په ترک فعل باندې قدرت نه ساتي نو دې ته عزم وائي. د دې حکم شرعي دا دې چه که د عزم مصمم دپاره د ارتکاب د فعل تعلق د فعل خیر سره وي نو په دې باندې به ثواب ملاویږي او که د شر سره وي نو په دې باندې به مواخذه او عقاب وي. دا پنځه واړه قسمونه یو شاعر سره د حکم نه داسې بیان کړي دي!

مراتب القصد خمس هاجس ذکروا فخاطر فحدیث النفس فاستمعا
یلیه هم فعزم کلها رفعت سوى الاخیر ففیه الاخذ قد وقعا

د عزم دوه قسمونه: ① هغه عزم چې د باطني اعمالو سره متعلق وي بیا دحکم په اعتبار سره دا په دوه قسمه دي.

(الف) کوم چه مفضي الی الکفر دي لکه په وحدانیت او نبوت کښې شک کول، دا کفر دي. په دې قسم باطني اعمالو باندې به عقاب وي.

(ب) هغه عزم چه د قلوب سره متعلق وی کوم چه مفضی الی الکفر نه دی لکه کبر، ریاء، شهرت، عجب، حسد وغیره. دا څیزونه د کفر په درجه کښې نه دی خو د معصیت په درجه کښې ضرور دی لکه چه د جمهورو مسلک دې.

امام حسن بصری رحمه الله فرمائی چه په دې کښې بعض لکه په مسلمانانو باندې بدګمانی کول او حسد کول په دې باندې به هیڅ عقاب نه وی بلکه دا د معفو عنه په درجه کښې دی. ځکه چه دا د هغه څیزونو نه دی چه د هغې په لرې کولو باندې انسان قادر نه دې خو د جمهورو وینا دا ده چه مجاهده بالنفس کولو سره به هغه څیزونه پریخودلې شی.

② چې عزم د اعمال جوارح سره متعلق وی لکه زنا، غلا وغیره، په دې قسم کښې د علماء کرامو اختلاف دې. د امام شافعی رحمه الله نه منقول دی چه د زنا او سرقه به صرف په عزم کولو سره مواخذه نه وی لکه چه په دې حدیث کښې دی چه صرف په وسوسو سره به مواخذه نه وی بلکه د هغې په مقتضی باندې عمل کولو سره به مواخذه وی. اکثر علماء کرام چه په هغوی کښې سفیان ثوری رحمه الله او ابن المبارک رحمه الله قابل ذکر دی په نزد به په عزم بالجزم (کلکه اراده) باندې مواخذه وی لکه چه په قرآن کریم کښې دی ﴿ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ ﴾

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۶۳] په وسوسو باندې عدم مواخذه

۶۳ - (۱)[۱] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُورُهَا، ③ مَا لَمْ تَعْمَلْ بِهِ، أَوْ تَتَكَلَّمْ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ② حقيقت دا دي چې الله تعالى جل جلاله زما د امت د خلقو هغه وسوسي معاف کړي دي کومي چې د هغوئ په زړونو کښې پيدا کيږی ③ تر څو پورې چې هغوئ په هغه وسوسو باندې عمل ونه کړي او هغه په ژبه رانه وړي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① تَجَاوَزَ: أَيْ: عَفَا: معاف کړی ئې دی، ② وَسْوَسَتْ: مَا خَطَرَ فِي قُلُوبِهِمْ مِنَ الْخَوَاطِرِ الرَّدِيئَةِ: د وسوسو نه مراد هغه خراب خيالات دی کوم چه غير اختياری د مسلمان په زړه کښې راځی.

---

[1]) اخرجه البخاری كتاب العتق/باب الخطإ والنسيان فى العتاقة والطلاق ونحوه، ولا عتاقة إلا لوجه الله(رقم: ۲۵۲۸) ومسلم كتاب الإيمان/ باب تجاوز الله عن حديث النفس والخواطر بالقلب، إذا لم تستقر(رقم-۲۰۲ - (۱۲۷) وابوداود كتاب الطلاق/باب فى الوسوسة بالطلاق(رقم-۲۲۰۹) والنسائى كتاب الجهاد/باب: من طلق فى نفسه (رقم-۳۴۳۴) والترمذى كتاب الرضاع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۱۱۷۳) وابن ماجة كتاب النكاح/ باب من طلق فى نفسه ولم يتكلم به (رقم-۲۰۴۰)واحمد فى المسند ۳۹۳/۲.

تسهیلات:

قوله: مَا وَسْوَسَتْ بِهِ صُدُورُهَا:

د مذکوره جملې ترکیب: صدورها مرفوع دې. کوم چې د وسوست فاعل دې. او هم دا راجح دی. یا منصوب دې د ظرفیت په بنیاد باندې او فاعل محذوف دې [أي ماوسوست الشیاطین به فی صدورها] د ها ضمیر امت طرفته راجع دې او امت څخه مراد امت اجابت دې، امت دعوت یعنی کفار مراد نه دی.

په عزم باندې مواخذه: شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائی چې دلته د عزم څخه علاوه وسوسه مراد ده، عزم باندې مواخذه د نورو نصوصو په وجه شته، لکه [والإثم ماحاك فی نفسك وتردد] او یا حدیث [فالقاتل والمقتول فی النار قیل الخ] دې حدیث پاك کښې مقتول هم مجرم گرځولې شوې دې، ځکه چې هغه حریص وو، دخپل زور په قتل باندې کوم چې د عزم درجه ده. خلاصه دا شوه چې مذکوره حدیث پاك څخه په ظاهره د عزم درجه هم معاف ده. خو د نورو نصوصو په وجه عزم مستثنی گرځولې شوې دې. [شعة المعات: ۱/۱۸۵]

اشکال: په قرآن پاك کښې دی «وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِ نَفْسُهُ» د دې آیت څخه معلومیږی چې په مطلق خیالاتو باندې هم مواخذه شته ځکه چې داسې تعبیرپه مواخذه باندې دلالت کوی لکه بل حدیث کښې راځی «نحن اعلم بما کانوا یعملون»

د اشکال جواب: ددې آیت څخه مقصود په وسوسه باندې مواخذه مقصود نه دې بلکه مقصود د الله تعالی کمال علمی دې چې الله تعالی د زړونو پټ خیالاتو باندې هم پوهیږی.

قوله: أَوْ تَتَكَلَّمْ:

د زړه په غلطو عقائدو مواخذه: یعنی که هغه کار قول سره تعلق لری نو تر کومې چې کلام کړې نه دې صرف وسوسه ده نو دا معاف ده، معلومه شوه چې کوم اقوال او افعال او اعمال دَ جوارحو څخه علاوه قلبی عقائدو وغیره سره تعلق لری نو هغه هر وخت گناه ده.

[٦٤] د وسوسې څخه ویره د ایمان نښه ده

٦٤ –(۱)[۲] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: «جَاءَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَسَأَلُوهُ: [۲] إِنَّا نَجِدُ فِي أَنْفُسِنَا مَا يَتَعَاظَمُ أَحَدُنَا أَنْ يَتَكَلَّمَ بِهِ! [۳] قَالَ: "أَوَقَدْ وَجَدْتُمُوهُ؟" قَالُوا: نَعَمْ: قَالَ: (ذَلِكَ صَرِيحُ الْإِيمَانِ)». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم کتاب الایمان باب بیان الوسوسة فی الإیمان وما یقوله من وجدها(رقم-۲۰۹ - (۱۳۲)

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې یوه ورځ د رسول الله ﷺ یو څو صحابه ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض یې اوکړو ۲ چې مونږ په خپلو زړونو کښې بعضې داسې خبرې (یعني وسوسې) لرو چې د کومو په ژبه راوړل هم مونږ بد ګڼو ۳ نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه چې آیا تاسو واقعة داسې لرې (چې کله څه داسې وسوسه ستاسو دننه پیدا کیږي نو خپله ستاسو زړه هغه نه خوښه وي او هغه په ژبه هم تاسو راورل بد ګڼې؟) صحابوو ﷺ عرض اوکړو چې هو، نو نبی کریم ﷺ وفرمایل چې دا ښکاره ایمان دي. مسلم.

حل اللغات: ① نَجِدُ: د موندلو نه مراد هغه خیالات او وسوسې دی کومې چه زړه ته راځی، ② يَتَعَاظَمُ: أَشْيَاءَقَبِيحَةً: د لوئې ګڼړلو او بد ګڼړلو نه مراد هغه ناجائزه خبرې دی چه دهغې ښکاره کول بد ګڼړلې کیږي، ③ صَرِيحُ الْإِيمَانِ: ښکاره ایمان (یعنی دا خبرې ښکاره کول بد ګڼړل د ښکاره ایمان نښه ده).

تسهیلات:

قوله: مَا يَتَعَاظَمُ:

د وسوسې خطرناک ګڼړل: یعنی دَدې تصور اودا په ژبه باندې راوستل مونږ ډیرلوئی جرم ګڼړو لکه چه څوک اووائی "من خلق الله کیف هو؟أین هو؟ تعاظم دَباب تفاعل نه دَ مبالغې دَپاره راغلې دې. "ای نستعظم غایة الاستعظام"

قوله: "أَوَقَدْ وَجَدْتُمُوهُ؟":

د همزه نوعیت: دا همزه استفهامیه دې او واو عاطفه دې معنی ئې دا ده چې ((أي أوقد حصلتموه وقد وجدتموه)) آي ربښتیا داسې خیالات تاسو محسوسوئ

د وجدتموه په مرجع کښې دوه احتمالات: ① ددې مرجع یتعاظم دې او د ,,ذلک،، مشارالیه هم یتعاظم ده مطلب دا شو چې آیا تاسو ربښتیا دا وسوسې ګرانې اوخطرناکې ګڼړې که داسې وی نو یقیناً دا صریح ایمان دې. ځکه چې ددې وسوسو څخه ویره کول اودا سختې ګڼړل الله تعالی او دهغه رسول سره د زیات محبت نښه ده چې دهغوی د شان خلاف وسوسه راتلل هم نه خوښوی.

② د ضمیرجمع وسوسه ده او د،، ذلک،، مشار الیه هم وسوسه ده په دې صورت کښې مطلب دا دې چې ربښتیا تاسو ته وسوسې راځی نوصحابؤ جواب کښې اووئیل آو داسې وسوسې مونږ ته راځی نو نبی علیه السلام اوفرمائیل دا صریح او ښکاره ایمان دې ځکه چې شیطان د غل پشان دې اوغل د هغه کورڅخه غلا کوی په کوم کښې چې سامان وی نوشیطان هم هغه زړه ته وسوسه غورځوی چې په هغې کښې ایمان وی.

[۶۵] د شيطان وسوسي په صورت كښي د الله ﷻ څخه پناه غوښتل

۶۵-()[۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ، فَيَقُولُ: مَنْ خَلَقَ كَذَا؟ حَتَّى يَقُولَ: مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ؟ [۳] فَإِذَا بَلَغَهُ، فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ، وَلْيَنْتَهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په تاسو کې بعضېو سړو ته شيطان راځي او دا وايي چې فلاني فلاني شي چا پيدا کړيدي او هغه شي چا پيدا کړيدي؟ تردي چې بيا هغه داسې وايي چې ستا پروردګار چا پيدا کړي دي؟ [۳] هر کله چې نوبت دي ځاي ته راشي نو هغه ته پکار دي چې د الله څخه پناه وغواړي او دا سلسله ختمه کړي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① بَلَغَهُ: إِذَا بَلَغَ أَحَدُكُمْ هَذَا الْقَوْلَ: کله چې نوبت دې ځائې ته راشی، تردې حده راورسیږی. ② فَلْيَسْتَعِذْ: د شيطان نه دې پناه اوغواړی، ③ وَلْيَنْتَهِ: أَيْ: لِيَتْرُكِ التَّفَكُّرَ: منع دې شی او داسې قسم سوچ اوفکر دې پريږدی.

تسهيلات:

قوله: فَإِذَا بَلَغَهُ:

د ضمير په مرجع کښي دوه احتمالات: ① ضمير مرفوع شيطان طرفته راجع دې، يعنى کله چې شيطان لمسون کښې دې ځائې ته رااورسی نو تاسو الله ﷻ سره پناه غواړئی دشيطان څخه.

② په دې کښې فاعل ضمير مرفوع دې کوم چې أحدكم طرفته راجع دې. او ,,ه،،ضمير د مفعول به دې. [أي إذا بلغ أحدكم هذا القول] يا

قوله: فَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ:

د شيطان په مقابله خپل ځان الله تعالى ته سپارل: علامه خطابى رحمه الله فرمائى چې د شيطان ددې اغوا او د ده دَ وسوسو دا سلسله غير متناهى ده. که هغه ته مهلت ورکړې شی نو دا معامله به ختمه نشی. بلکه وخت په وخت په خطرناکه کيږی. لهذا استعاذه اوکړئی او معامله ختمه کړئی. ځکه چې هغه د تعوذ څخه تښتی. يعنى اعوذبالله ا ومعوذيتن اووائې او دا تصور اوکړئی چې څه دلوئې بادشاه په پناه کښې راغلم، هغه به دشيطان څخه زما حفاظت کوی دې سره به وسوسې ختمې شی. [الكاشف ۱/۲۱۸]

د شيطان څخه د حفاظت لس وظيفې: علامه ابن قيم رحمه الله دَ تعوذاتو (وسوسو) دپاره لس وظيفې تعين فرمائيلی دی.

[۱] اخرجه البخاری کتاب بدء الخلق /باب صفة إبليس وجنوده(رقم: ۳۲۷۶) ومسلم کتاب الايمان باب بيان الوسوسة فى الإيمان وما يقوله من وجدها(رقم-۲۱۴ - (۱۳۴)

① دالله تعالی په ذات پناه غوښتل ② دقرآن پاک د آخری دوو سورتونو لوستل
③ قراءت آیةالکرسی ④ قراءت سورة البقرة
⑤ آمن الرسول لوستل ⑥ حم المؤمن والیه المصیر پورې لوستل
⑦ دالله ذکرپه کثرت سره کول ⑧ کثرت سره لا اله الا الله وئیل
⑨ اودس باندې مداومت کول ⑩ د غیرمحرمو څخه د خپل نظرحفاظت کول

[٦٦] دشیطان دوسوسې ختمولوعلاج

٦٦-(١)[٣] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] لَايَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُونَ حَتَّى يُقَالَ: هَذَا خَلَقَ اللَّهُ الْخَلْقَ؟ فَمَنْ خَلَقَ اللَّهَ؟ فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذَٰلِكَ شَيْئًا، [٣] فَلْيَقُلْ: آمَنْتُ بِاللَّهِ، وَرُسُلِهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره ﷛ روایت کوي چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل [٢] خلق همیشه په خپل زړونو کښې د مخلوقاتو وغیره په باره کښې خیالات زغلوي، تر دې چې وبه ویل شی (یعني په د ماغو کښې به یي دا وسوسه راشي) چې دا ټول مخلوق الله پیدا کړي دي (نو) الله چا پیدا کړي دي؟ د کوم سړي په زړه او په دماغ کښې چې ددې قسم څه خیال یا وسوسه پیداشي [٣] نو هغه دي دا اووائي چې ما په الله تعالیٰ او د هغه په رسول ایمان راوړي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① يَتَسَاءَلُونَ: أَيْ: يَسْأَلُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا: د یوبل نه به تپوسونه کوی.

تسهیلات:

قوله: يَتَسَاءَلُونَ:

په یتساءلون کښې درې احتمالات: ① انسان دخپل نفس څخه سوال کوی [يقال هذاخلق الله الخلق] هذا مبتدا ده، خبر محذوف دې کوم چې معروف یا مشهور دې.
② یعنی انسانان خپلو کښې د یوبل څخه تپوسونه کوی،
③ انسان د شیطان شیطان سره مکالمه کوی خو دا احتمال بعید دې چې د انسان او شیطان په مینځ کښې دامکالمه وی،

قوله: فَلْيَقُلْ: آمَنْتُ بِاللَّهِ، وَرُسُلِهِ

د مذکوره وسوسې علاج: یعنی داسوال او جواب او داخیال د کفر دې، په دې وجه مسلمان له پکار دی چې زر تر زره امنت بالله ورسله اووائی. چې دې سره دده د ایمان تجدید اوشی.

د سوسې دفع کولو بله وظیفه: د سوسې د دَفع کولو یو علاج داهم دې چې د هر مونځ نه پس

(١) اخرجه مسلم کتاب الایمان باب بیان الوسوسة فی الإیمان وما یقوله من وجدها(رقم-٢١٢ - (١٣٤)) وابوداود کتاب السنة /باب فی الجهمیة(رقم-٤٧٢١)

دا آیت اووائی او دم کړی نو وسوسه به نه راځی هغه آیت مبارک [وَقُلْ رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ ۝ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِ ۝]

[٦٧] د هر انسان سره د شیطان او فرښتې مقررتیا

٦٧-()[٥] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ وُكِّلَ بِهِ قَرِينُهُ مِنَ الْجِنِّ، وَقَرِينُهُ مِنَ الْمَلَائِكَةِ». [٣] قَالُوا: وَإِيَّاكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: وَإِيَّايَ، وَلَكِنَّ اللَّهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ فَأَسْلَمَ، فَلَا يَأْمُرُنِي إِلَّا بِخَيْرٍ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن مسعود ﷺ روایت کوي چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل [٢] په تاسو کې هیڅ یو سړي داسې نشته چې هغه سره یو د شیطانانو څخه او یو د فرښتو څخه مقرر شوې نه وي، [٣] صحابؤ ﷺ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ آیا ستا سره هم؟ رسول الله ﷺ وفرمایل زما سره هم لیکن الله ماته ده هغه (جن مؤکل) سره د مقابلې کولو مدد راکړې دې، ځکه زه د هغه (د مکر و دهوکه او ګمراهۍ) څخه محفوظه یم، بلکه تر دې پورې چې هغه هم ماته د نیکې مشوره راکوي. مسلم

حل اللغات: ① وُكِّلَ: بِمَعْنَى التَّسْلِيطِ: دا دَ مجهول صیغه ده، د تسلط او تابع کولو په معنی کښې دې. ② قَرِينُهُ: ملګرې او همزاد ته وائی چه همیشه ورسره لازم اوسیږی جدا کیږی ترینه نه. ③ أَعَانَنِي: زما امداد او نصرت کړې دې (الله تعالی). ④ فَأَسْلَمَ: چه د میم په ضمې سره دَ متکلم صیغه شی نو معنی ئې ده: أَيْ: أَسْلَمُ أَنَا مِنْهُ: زه دهغه نه (یعنی شیطان نه) محفوظ ساتلې شوې یم، اوکه د میم په فتحې سره شی نو د ماضی صیغه ده، معنی ئې ده: مسلمان شو، تابعدار شو (شیطان).

تسهیلات:

قوله: وُكِّلَ بِهِ قَرِينُهُ:

د پیدائش د وخت څخه د انسان دوه ملګری: قرین همزادته وائی چه دَ پیدائش دَ وخت نه انسان سره لګیدلې وی دې دَپاره چه هغه مسخرکړی او خپل تابع ئی جوړکړی. کوم وخت چه انسان پیداکیږی نودَهغه دَ پاره یوشیطان اویوه فرښته مقررکولې شی. فرښته ته ملهم الخیر وائی اوشیطان ته اهرمن وائی

قوله: فَأَسْلَمَ:

اشکال: قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چې اسلم دَماضی صیغه ده یعنی شیطان مسلمان شوې دې.

[1]) اخرجه مسلم كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب تحريش الشيطان وبعثه سراياه لفتنة الناس وأن مع كل إنسان قرينا(رقم-٦٩ - (٢٨١٤)) واحمد فى المسند ٣٨٥/١

د اشکال جوابونه: شیطان څنګه مسلمان شوې دې؟

① علامه خطابی رحمه الله دا هم دَ متکلم مجهول صیغه ده یعنی زه دَده دَ شرنه محفوظ شوې یم.

② بعضې عالمانو اسلم دَ ماضی په صیغه راجح ګرځوی اودَ اسلام راوړلو مطلب دادې چه هغه منقاد مطیع اوفرمانبردارشو. یعنی اسلم څخه لغوی معنی مراد ده شرعی معنی مراد نه ده.

[۶۸] په انسانی بدن کښې د شیطان تصرف

۶۸ –()[۲] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ " إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضی الله عنه وایي رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ په انسان کښې شیطان داسې زغلي لکه څنګه چې په رګونو کښې وینه ګرځلاؤ کوي. بخاري اومسلم

حل اللغات: ① يَجْرِي: أَيْ: يَسْرِي: ګرځي، روان وی. ② مَجْرَى الدَّمِ: مجرٰی مصدر میمی دې، یعنی ګرځی په شان د ګرځیدو د وینې.

تسهیلات:

قوله: يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ:

په انسانی رګونو کښې د شیطان په جریان کښې دوه احتمالات:

① دا کلام په حقیقت باندې مبنی دې چې شیطان پخپله دننه داخل شی او وینې سره ګرځی. کوم ځائې ته چې وینه ځی نو هلته شیطان هم ځی. بیا به کلام دا شان وی چې [یجری من الانسان کجریان الدم أو یجری فی مجاری الدم] نو پخپله دننه ځی اووسوسې اچوی، دا دې خبیث ته الله تعالی یو قوت او سطوت او په ا نسانانو باندې د قابو موندلو اختیار ورکړې دې او دا یو آزمیښت دې.

② کوم کوم ځائې کښې چې په رګونو کښې وینه ګرزی، نو دې ته مجری الدم وئیلې شوې دې. دا کلام تشبیه ده نو په مجاز باندې محمول دې او مجری به مصدر میمی وی یعنی شیطان هغه ځائې پورې وسوسې اچوی کوم ځائې پورې چې وینه ځی

[۱]) اخرجه البخاری کتاب بدء الخلق باب صفة إبليس وجنوده(رقم: ۳۲۸۱) ومسلم کتاب السلام /باب بيان أنه يستحب لمن رئى خاليا بامرأة وكانت زوجته أو محرما له أن يقول هذه فلانة ليدفع ظن السوء به(رقم-۲۳ - (۲۱۷۴) وابوداود کتاب الصوم /باب المعتكف يدخل البيت لحاجته(رقم-۲۴۷۰) وابن ماجة کتاب الصيام/باب باب فی المعتكف يزوره أهله فی المسجد (رقم-۱۷۷۹) واحمد فی المسند ۱۵۶/۳.

[٦٩] د پیدایش په وخت د ماشوم د ژړا سبب

٦٩-()[٧] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ٢ «مَا مِنْ بَنِي آدَمَ مَوْلُودٌ إِلَّا يَمَسُّهُ الشَّيْطَانُ حِينَ يُولَدُ، فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ، ٣ غَيْرَ مَرْيَمَ، وَابْنِهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهریره ﷜ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د بني آدم کره چې کوم ماشوم هم پیدا کیږي شیطان هغه ته رسیږي چې د هغه په وجه ماشوم چغې وهي، ٣ لیکن ابن مریم (حضرت عیسي ﷤) او د هغه مورته شیطان ندي رسیدلي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① مَوْلُودٌ: زیکولې شوې یعنی پیدا شوې ماشوم. ② يَمَسُّهُ: ددې نه حسی مس مراد دې، یعنی ظاهری طورسره ئې سکونډي، نوکاری پرې لګوی. ③ فَيَسْتَهِلُّ: أَيْ: يَصِيحُ: چغې وهی، ④ صَارِخًا: رَافِعًا صَوْتَهُ بِالْبُكَاءِ: په اوچت آواز سره ژاړی،

تسهیلات: قوله: فَيَسْتَهِلُّ صَارِخًا:

د ماشوم د چغې وهلو دوه احتمالات: ① که شیطان په ظاهری طور سره ماشوم مس کوی نو په ده سکونډارې او ټونګې لګولو سره ماشوم چغې وهی.

② که مس ظاهری نه بلکه باطنی وی نو بچې معصوم او پاك طبیعت والا وی دشیطان د وسوسو څخه ناواقف وی، نو دې غیر مانوس ګڼړی او چغې وهی. استهلال د نومولود ماشوم چغو ته وائی.

قوله: غَيْرَ مَرْيَمَ، وَابْنِهَا:

د عیسی علیه السلام د شیطان د مس څخه حفاظت: د مریم علیها السلام مور بی بی دا دعا کړې وه چې [وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ۝] الله تعالی ئې دا دعا قبوله کړه نو محفوظ شو،

اشکال: ددې حدیث څخه معلومیږی چې نبی ﷺ د شیطانی مس څخه مستثنی نه دې بلکه دوی هم شیطان مس کړی دی.

داشکال ځلور جوابونه: ① د نبی ﷺ قرین او شیطان مسلمان شوې وو

② متکلم عادة دَ محاورهٔ کلام څخه پخپله خارجیږی. ګنی نبی کریم ﷺ هم ددې مس څخه محفوظ وو.

[1] اخرجه البخاری کتاب أحاديث الأنبياء/ باب قول الله تعالی {واذكر فی الكتاب مريم إذ انتبذت من أهلها مكانا شرقيا} [مريم: ١٦](رقم-٣٤٣١) ومسلم كتاب الفضائل /باب فضائل عيسى عليه السلام(رقم-١٤٦)واحمد فی المسند ٢٣٣/٢

③ دا جزئی فضیلت دې، چې په دې باندې هیڅ اعتراض نه واقع کیږي.
④ د نبی علیه السلام د شیطانی مس څخه حفاظت په دلالت النص سره ثابت دی ځکه چې نبی علیه السلام د عیسی عليه السلام اوبی بی مریم څخه افضل دې نوهرکله چې هغه دواړه د مس څخه محفوظ دی نو نبی عليه السلام به په طریقه اولی سره محفوظ وی.

٧٠ –(١)[٨] ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "٢ «صِيَاحُ الْمَوْلُودِ حِينَ يَقَعُ نَزْغَةٌ مِنَ الشَّيْطَانِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت کوونکي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل ٢ چې د پیدا کیدو په وخت کې ماشوم ځکه ژاړي چې شیطان یې په تشي وهي (یعني داد ماشوم ژړا د شیطان د اثره څخه ده). بخاري مسلم

حل اللغات: ① صِيَاحُ: چغې وهل، ② يَقَعُ: أَيْ: يَسْقُطُ: چه راغورځیږي، دمور نه جدا کیږي، ③ نَزْغَةٌ: أَيْ: إِصَابَةٌ بِمَا يُؤْذِيهِ: شیطان ئې مس کوی سکوندی او نوکارې پرې لګوی.

[٧١] د ښځې او خاوند په مینځ کښې د شیطان بیلتون راوستل

٧١ –(٢)[٩] ١ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "٢ «إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ٣ ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ يَفْتِنُونَ النَّاسَ، ٤ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: فَعَلْتُ كَذَا، وَكَذَا فَيَقُولُ: مَا صَنَعْتَ شَيْئًا. ٥ قَالَ: ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ: مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ. قَالَ: فَيُدْنِيهِ مِنْهُ، وَيَقُولُ: نِعْمَ أَنْتَ" ٦ قَالَ الْأَعْمَشُ: أُرَاهُ قَالَ: "فَيَلْتَزِمُهُ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل ٢ شیطان د خپل حکومت تخت په اوبو (یعني په سمندر) باندې لګوي ٣ او بیا دهغه ځاي څخه خپل فوځونه روانه کوي چې خلق په فتنه او فساد کې اخته کړي، ٤ د هغه په فوځونو کښې د شیطان د ټولو څخه زیات نزدې هغه دي چې د ټولو څخه لو فتنه پیدا کونکي وي، په هغوئ کښې یو واپس راشي او وايي ما فلاني فلاني فتني پیدا کړي دي، شیطان د هغه په جواب کې وايي تا خو هیڅ ونه کړل، ٥ حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي چې بیاپه هغوئ کښې یو راشي او وايي (ما دیو بنده بې لاري کول شروع کړل او) تر هغه وخت پورې مې هغه پرې نه ښودلی تر دې چې د هغه او د هغه د ښځې په مینځ کښې مې جداوالي راوستي، حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي شیطان (په دې اوریدو سره) هغه ځان ته نزدې کینوي ورته وايي چې تا ښه کار کړیدي، (د حدیث یو روایت کونکي) ٦ اعمش رحمه الله وايي زما خیال دي جابر

١) اخرجه مسلم كتاب الفضائل/باب فضائل عيسى عليه السلام(رقم-١٤٨ - (٢٣٦٧)
٢) اخرجه مسلم كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب تحريش الشيطان وبعثه سراياه لفتنة الناس وأن مع كل إنسان قرينا(رقم-٦٧ - (٢٨١٣))واحمد فى المسند ٣/٣١٤

ﷺ د (فَيُدْنِيه) په ځاي د(فَيَلْتَزِمُهُ) (نو شيطان هغه ځان ته را ترغاړه با شي) دا لفظونه نقل کړي وي. مسلم

حل اللغات: ① عَرْشَهُ : أَيْ: سَرِيرَهُ: تخت، ② سَرَايَاهُ : د سَرِيَّة جمع ده، ډله، جماعت، ③ يَفْتِنُونَ : أَيْ: يُضِلُّوْنَهُمْ: گمراه كوى خلق، ④ فَأَدْنَاهُمْ: أَيْ: أَقْرَبُهُمْ: ټولو كښې نزدې په لحاظ د مرتبې سره، ⑤ مَنْزِلَةً : په مرتبه كښې، ⑥ أَعْظَمُهُمْ: أَيْ: أَكْبَرُهُمْ إِضْلَالاً: غټ گمراه كونكې، ⑦ فَيَلْتَزِمُهُ: أى فَيُعَانِقُهُ: ځان ته ئې نزدې كوى او غاړه ورته وركوى.

تسهيلات:

قوله: يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ:

د تخت په كيخودو كښې دوه احتمالات: ① دا كلام په حقيقت باندې حمل كړې دې چه ابليس په سمندر باندې تخت خوره وى په هغې كينى، خپل اولاد دَ كاروائى دَپاره روانه وى لكه دا خبيث خپل حيثيت دَالله تعالى په مقابله كښې پيش كوى. دَدې تائيد په هغه روايت سره كيږى په كوم كښې چې د ابن صياد ﷺ نه حضورپاك ﷺ پوښتنه اوكړه. "ماذاترى قال أرى عرشاعلى الماءفقال ترى عرش ابليس على البحر"

② دَ ابليس تخت په اوبو باندې دكيخودو پوره صورت مجاز دې دلته تسلط اوقدرت مراد دې

قوله: فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ.:

اشكال: شيطان د مسلمان په قتل باندې دومره نه خوشحاليږى څومره چې په تفريق بين الزوجين باندې خوشحاليږى ددې څخه وجه ده؟

د اشكال درې جوابونه: ① په دې سره ابليس ځكه ډيرخوشحاليږى چه دَ ښځې خاوند مينځ كښې جګړه داسې يومتعدى عمل دې په كوم سره چه په طرفينو كښې ډيرې جګړې اوفسادونه پيداكيږى نودا يو فساد نه بلكه دَډيروفسادو جرړه ده په كوم سره چه شيطان خوشحاليږى.

② بعضې وخت چې تفريق راشى نو زوجينو ته د نوې نكاح موقع په لاس ورنشى اوهريو ښځه اوخاوند په زنا كښې مبتلا شى اوبيا د زنا دا سلسله جارى پاتې شى نو په دې وجې شيطان د زنا په مداومت باندې خوشحاليږى اوپه قتل كښې چې قصاص واخستلى شى نو قصه ختمه شى.

③ دتفريق څخه په طلاق سره تفريق مراد نه دې بلكه دواړه د يوبل په نكاح كښې وى خو ژوند ئې د ښځې او خاوند نه وى بلكه عمر ئې عذاب وى ددې وجې ددې بد اثر په اولاد او په دواړو خاندانو باندې پريخوى.

قوله: نَعَمْ أَنْتَ:

په مذکوره جملې کښې دوه احتمالات: ① دا دَ افعال مدح نه دی یعنی نعم الولد أنت ته څومره ښه بچې ئی؟ څه ښه ئی؟ او بیا هغه سینې سره لګوی.

② دا حرف ایجاب دَ او په معنی کښې دې په دې صورت کښې به معنی دا وی چې یعنی ابلیس وائی چه او کارخو هم تا کړې دې په دې صورت کښې

[٧٢] په جزیرة العرب کښې د شیطان اختلاف بین المسلمین خوروِل

٧٢ –(١)[١٠] ١ وَعَنْهُ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ٢ «إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ مِنْ أَنْ يَعْبُدَهُ الْمُصَلُّونَ فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ، ٣ وَلَكِنَّ التَّحْرِيشَ بَيْنَهُمْ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت جابر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ شیطان د دې خبري څخه نا امیده شوې دي چې په جزیره عرب کښې مونځ ګزاره (یعني مسلمان) د هغه عبادت وکړي ٣ لیکن دهغوئ په مینځ کښې دفتنه او فساد دخورولو څخه نه دي نا امیده شوي. مسلم

حل اللغات: ① أَيِسَ: أَيْ: صَارَ مَحْرُومًا: نا أمیده او محرومه شوې دې، التَّحْرِيشَ: أَيْ: فِي إِغْرَاءِ بَعْضِهِمْ عَلَى بَعْضٍ: چه یو بل سره ظلم زیاتې او جګړې کوی.

تسهیلات:

قوله: الْمُصَلُّونَ:

د مصلون څخه مراد: یعنی مونځ کونکی دَ دې نه مراد مسلمون دې، نو دَ مسلمان اهم عبادت او دَ اسلام اهم جز مونځ ئی ذکر کړو او اشاره ئی اوکړه چه مسلمان هغه دې څوک چه مونځ کوی. دَ شیطان دَ عبادت نه مراد شرك او دَ بتانو عبادت دې.

اشکال: شبه دا پیدا کیږی چه دَ حضور پاك دَ انتقال نه پس په جزیرۀ عرب کښې ٧٥ فیصد خلق دَ اسلام نه اوړیدلې وو. چا دَ زکوة نه انکار اوکړو یائی دَ مسیلمه کذاب یا اسودعنسی یا طلیحه یا سجاح دَ دروغو دَ نبوتونو ملګرتیا اوکړه او دَ ارتداد فتنه عام شوه نو بیا ئی دا څنګه اوفرمائیل چه شیطان نا امیده شوې دې چه بیا په جزیرۀ عرب کښې دَ هغه عبادت شروع شی؟

دا شکال څلور جوابونه: ① په جزیرۀ عرب کښې دَ اسلام دَ انقلاب نه پس دَ کفر دَ انقلاب نه نا امیده شو چه اوس دلته دَ دور جاهلیت او کفر انقلاب نه شی راتلې سره دَ دې چه

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب صفة القیامة والجنة والنار / باب تحریش الشیطان وبعثه سرایاه لفتنة الناس وأن مع کل إنسان قرینا (رقم-٦٥ - (٢٨١٢)) واحمد فی المسند ٣/٣١٤ والترمذی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم / باب ما جاء فی التباغض (رقم-١٩٣٧) واحمد فی المسند ٣/٣١٤

گناهونه اوفساد به کیږي. دَ جزیرې قید ئی ځکه اولګولو چه هغه وخت اسلام صرف هم هلته وو.

② دانا امیدی دَ بت پرستئی دَعبادت نه ده چه په جزیره کښې بیا دَ بتانو عبادت شروع شی اوداعمل ترننه پورې اونه شو چه چاهلته بتان اودرولې وی هغه وخت دَ ارتداددَ فتنې په دوران کښې هم چادَ کفراوشرک داقسم نه وو خپل کړې.

③ دحدیث مطلب دا دې چې شیطان ددې څخه مایوسه شوې دې چې لکه څنګه مخکښې په جزیرة العرب ټول عرب په شرک کښې مبتلا وو دغه شان به ټول په دوباره مشرکان شي.

④ د ان یعبده څخه مراد ارتداد عن الاسلام من حیث کل دې یعنی شیطان ددې څخه مایوسه شوې دې چې دوباره د جزیرة العرب ټول خلق مرتد شي او مشرکان به جوړ شي.

قوله: فِي جَزِيرَةِ الْعَرَبِ:

د جزیرة العرب وجه تسمیه: جزیرهٔ دَ زمکې دَهغه اوچې حصې نوم دې کومه چه دَ څلورو واړوطرفونه اوبو راګیره کړې وی چونکه دَعربودریو طرفوته اوبه دی په دې وجه دې ته دَ حکم اکثری په اعتبار سره جزیره وئیلې شوې ده. ځکه چه دَعربو په شمال کښې دَشام ملك واقع دې کوم چه دَاوبونه خالی دې آو په اکثر طرفونو باندې دَاوبو احاطه شته مثلاً بحرهند، بحرقلزم اودجله و فرات دَدې ملك احاطه کړې ده. حدود اربعه داسې ده چه دَعربو په مشرق طرف کښې خلیج فارس اوبحرعمان واقع دې په مغربی طرف کښې بحیره قلزم او نهر سویزواقع دې په جنوب کښې بحر هندواقع دې او په شمال کښې دَشام ملك دې.

د جزیرة العرب په پنځوحصومشتمل کیدل: جزیره عرب په پنځوحصوباندې مشتمل ده

① تهامه ② نجد ③حجاز ④ عروض ⑤ یمن، کله چه جزیره عرب یادولې شی نودَدې اطلاق په اوږدوالی کښې دَعدن نه عراق پورې کیږې او په پلنوالی کښې دَ جدې نه ترشام پورې. [الکاشف: ۱/۲۲۵]

قوله: وَلَكِنْ التَّحْرِيشَ بَيْنَهُمْ:

دتحریش څخه مراد: یعنی په خپل مینځ کښې دَ جنګولو او فتنه اوفساد اچولونه شیطان ناامیده شوې نه دې بلکه دې کښې به سرګرم وی. چنانچه واقعه شهادت عثمان رضی الله عنه، شهادت علی رضی الله عنه او په نورو جنګونو کښې هم دغه دَ شیطان اغوا کار کړې. نن صبادَ یهودو اونصاریٰ په شکل کښې ابلیس جزیرې ته راغلې دې. "تحریش" دهوکه، فریب او راؤچتولوته وائی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٧٣] د شيطاني وسوسي څخه محفوظ پاته كيدو با ندې د الله جل جلاله شكر ادا كړئ

٧٣ –(١)[١١] ١ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «جَاءَهُ رَجُلٌ، ٢ فَقَالَ: إِنِّي أُحَدِّثُ نَفْسِي بِالشَّيْءِ لَأَنْ أَكُونَ حُمَمَةً أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَتَكَلَّمَ بِهِ ٣ قَالَ: " الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي رَدَّ أَمْرَهُ إِلَى الْوَسْوَسَةِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې يو صحابي را غلي ٢ عرض يي اوكړو (چي يا رسول الله ﷺ) زه په خپل ځان کښې داسې (خراب) خيال پيدا كوم چې په ژبې سره د هغه د اظهار په ځاي سوزيدو سره سكاره جوړيدل زه زيات خوښوم ٣ (په دي اوريدو سره) حضور ﷺ وفرمايل د الله شكر ادا كوه چې هغه دا خيال د وسوسي د حد پورې وساتلي. ابوداؤد

حل اللغات: ١ أُحَدِّثُ: أَيْ: أُكَلِّمُهَا بِالسِّرِّ: زړه کښې خبرې کول، وسوسې راتلل، دا هاجس غير اختياري دي، ٢ حُمَمَةً : أَيْ: فَحْمًا: يعنى سوزيدل او كوئله كيدل ماته خوښ دی ليکن دَ دې وسوسې تصوركول مې خوښ نه دی، په دې کښې دَهواجس نه سخت نفرت دي كوم چه دَ ايمان دَ پوخوالی علامت دي.

تسهيلات: قوله: رَدَّ أَمْرَهُ:

د ضمير په مرجع كښې دوه احتمالات: ١ دَامره: ضميرمجرور دغه راتلونكی سړی ته راجع دي يعنى الحمدلله چه دَدغه رجل معامله دَوسوسې پورې محدودپاتې شوه اووسوسه معاف ده.

٢ د ,,ه،، دَ ضميرمجرور مرجع شيطان دې مطلب داچه الحمدلله دَ شيطان معامله اوس صرف په وسوسه کښې دننه راګيرپاتې ده. اول خوبه هغه په كفركښې سړې اخته كولو اوس دَ ايمان په مقاومت اومزاحمت سره صرف وسوسه اچولې شی كوم چه معاف ده اودې نه وراندې هيڅ نه شی كولې يعنى دا دَ هم وعزم معامله پاتې نه شوه بلکه صرف دَ زړه خطره ده مع الاستقباح والكراهية وذاك صريح الايمان

د وسوسې اچولودرې صورتونه: ١ شاه ولی الله رحمه الله فرمائيلی دی چه دَ شيطان دَ وسوسو او دَهغه دَتاثير مختلف صورتونه دی اوداتغير دَ وسوسه اچولې شوی كس دَ وجې نه كيږي.

١ لويه وسوسه داده چه دَ كفرالقاء اوكړی كله چه په دې کښې ناكام شی اووسوسه شوې كس دَ ايمان په طاقت سره خپل ځان بچ كړی

(١) اخرجه ابوداود كتاب الأدب/باب فى رد الوسوسة(رقم-٥١١٢) واحمد فى المسند:١/٣٤٠.

② بیا شیطانی وسوسه بیاد عام فساد طرف ته راوګرځی او تدبیرمنزل خرابوی سیاست مدنیه خرابوی که چرې کس د دې حملې نه هم بچ شی
③ بیا د خواطرو په صورت کښې شیطان تاثیراچوی په زړه کښې خیال ځی راځی اوداماعاف دی. په نفوس قدسیه باندې خودا اثرهم نه شی اچولې.

په انسان باندې د شیطان او فرښتې تصرف

۷۴ –(۱)[۱۳] ۱ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (۲ «إِنَّ لِلشَّيْطَانِ لَمَّةً بِابْنِ آدَمَ، وَلِلْمَلَكِ لَمَّةً: ۳ فَأَمَّا لَمَّةُ الشَّيْطَانِ فَإِيعَادٌ بِالشَّرِّ، وَتَكْذِيبٌ بِالْحَقِّ، وَأَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَإِيعَادٌ بِالْخَيْرِ، وَتَصْدِيقٌ بِالْحَقِّ ۴ فَمَنْ وَجَدَ ذَلِكَ، فَلْيَعْلَمْ أَنَّهُ مِنَ اللَّهِ، فَلْيَحْمَدِ اللَّهَ، وَمَنْ وَجَدَ الْأُخْرَى، فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ). ۵ ثُمَّ قَرَأَ {الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ} [البقرة: ۲۶۸]»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایلي ۲ چې حقیقت دا دي چې په هر انسان باندې یو تصرف د شیطان وي او یو تصرف د فرښتي، ۳ د شیطان تصرف خو دا دي چې هغه یې بدي ته مائل کوي اوحق ورته دروغ ښکاره کوي او د فرښتي تصرف دا دي چې هغه نیکئ ته اماده کوي او دحق تصدیق کوي، ۴ نو کوم سړي (چې په نیکئ باندې د ملائکې د اماده کولو) دا کیفیت په خپل ځان کښې پیدا کې نو هغه ته پو هېدل پکار دي چې دا دالله تعالی د طرف څخه (هدایت) دي، په دي هغه ته د الله شکر ادا کول پکاردي اوکوم سړي چې په دویم کیفیت (یعني د شیطان وسوسه اچول) په ځان کښې پیداکي نو هغه ته پکار دي چې د شیطان رټل شوي څخه د الله پناه اوغواړي، ۵ بیا حضور صلی الله علیه وسلم دا قرآني آیت اووئیلو (چي د هغه ترجمه دا ده) شیطان تاسي د فقر څخه ویریوی او په ګناه باندې مو اماده کوي. دا روایت ترمذي نقل کړي او و یلي یي دي چې دا حدیث غریب دي.

حل اللغات: ① لَمَّةٌ: دا د إلمام نه دې، نزدې کیدو اوښکته کیدو ته وائی، وَالْمُرَادُ بِهَا مَا يَقَعُ فِي الْقَلْبِ بِوَاسِطَةِ الشَّيْطَانِ، أَوِ الْمَلَكِ، په زړه کښې چه کومه خبره راشی هغې ته لمه وائی که هغه د شیطان دطرفه وی اوکه د فرشتې دطرفه. ② فَإِيعَادٌ: د باب افعال نه مصدر دې د وعید نه، ایعاد او وعید شر دپاره استعمالیږی، البته شاذ ونادر کله ایعاد دخیر دپاره هم استعمالیږی. ③ الْفَحْشَاءِ: أَيِ الْمَعَاصِي: ګناهونه.

تسهیلات: قوله: بِابْنِ آدَمَ:

د ابن آدم څخه مراد: یعنی دې جنس سره مراد انسان دې. علماء کرامو لیکلی دی چې الهام او وسوسه کښې فرق هغه خلق نشی کولې کوم چې حرام خور دی.

(۱) اخرجه الترمذی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب: ومن سورة البقرة (رقم-۲۹۸۸)

قوله: فَإِيعَادٌ بِالشَّرِّ،

د وعد د استعمال دوه صورتونه: ① وعد او ایعاد څخه متعلق فراء نحوی فرمائی چې لفظ وعد خیر او شر دواړه دپاره استعمالیږی. لکه څنګه چې وئلې کیږی چې وعدته خیرا، ووعدته شرا

② که مفعول به مذکور نه وی لکه وعدته نو په دې صورت کښې د وعد لفظ صرف دخیر دپاره وئیلې کیږی.

قوله: فَإِيعَادٌ بِالشَّرِّ وَتَكْذِيبٌ بِالْحَقِّ،

د شیطان د ایعاد مطلب: په شر باندې د شیطان د راپارولو مطلب دادې چې هغه یو کس ته حق تیاره ښائی او په عقائدو کښې ورته شك اچوی، بدی ورته ښکلې کوی، هغه انسان ویروی چې هرکله ته دنیکۍ په لار باندې ځې نو پریشانۍ کښې به اخته کیږې.

وَأَمَّا لَمَّةُ الْمَلَكِ فَإِيعَادٌ بِالْخَيْرِ، وَتَصْدِيقٌ بِالْحَقِّ

د فرښتې د ایعاد مطلب: دفرښتې د راپارولو مطلب دادې چې هغه د نیکۍ جذبه او ددې اهمیت اوپه دې باندې د انعام واکرام شعور په زړه کښې اچوی چې د الله ﷻ په دین کښې کامیابی ده. او دآخرت کامیابی دالله ﷻ په حکمونو منلو کښې پټه ده. که کامیابی غواړې نو دنیکۍ په لار روان شی.

د اهل تصوف نظریه: اهل تصوف علماء فرمائی چې د زړه په دننه حصه کښې واړه واړه سوری اود غوښتې خانې دی، هم دا ځایونه د خیر او شر د ویشتلو ځایونه دی، په دې باندې چې کوم مخلوق قابض شو نو پورا زړه او بدن دهغه دې، په دې باندې شیطان غالب راځی یا فرښتې، کله دا او کله هغه. هم په دې وجه دقلب احوال بدلیږی را بدلیږی.

[۷۵] د وسوسې لرې کولو طریقه

۷۵ – (۱)[۱۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [۲] «لَا يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُونَ، حَتَّى يُقَالَ: هَذَا خَلَقَ اللَّهُ الْخَلْقَ، فَمَنْ خَلَقَ اللَّهَ؟ [۳] فَإِذَا قَالُوا ذَلِكَ فَقُولُوا: {اللَّهُ أَحَدٌ} [الجن: ۲۲]، {اللَّهُ الصَّمَدُ} [الإخلاص: ۲]، {لَمْ يَلِدْ} [الإخلاص: ۳]، {وَلَمْ يُولَدْ} [الإخلاص: ۳]، {وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ} [الإخلاص: ۴] [۴] ثُمَّ لْيَتْفُلْ عَنْ يَسَارِهِ ثَلَاثًا، وَلْيَسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ فِي بَابِ خُطْبَةِ يَوْمِ النَّحْرِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] خلق (به اول د مخلوقاتو وغیره په باره کښې) پوښتنه کوي او بیا به په آخر کښې دا سوال را پورته کړي چې ټول مخلوقات خو الله تعالی پیدا کړي دي نو په خپله الله چا پیدا کړي

[۱]) اخرجه ابوداود کتاب السنة/باب فی الجهمیة(رقم-۴۷۲۲)

دي؟ [۳]کله چې دا سوال راپورته شي نو تاسو وایئ چې الله یو دي، الله بي نیازه دي، نه دده څخه څوك پیدا دي او نه دي د چا څخه پیدا دي او هیڅ څوك هم د هغه همسر (سیال) نشته، [۴]بیا خپل کس طرف دري ځله وتوکې او د شیطان رټل شوي څخه د الله پناه اوغواړي، (ابوداؤد) او (صاحبِ مشکوٰة وایي) چې د عمرو بن احوص روایت (کم چې د مصابیح صاحب دلته نقل کړي وو) موږ به هغه د (خطبه یوم النحر) په باب کښې نقل کړو انشاء الله تعالیٰ.

حل اللغات: ① الصَّمَدُ: أي الْمُسْتَغْنِي عَنْ كُلِّ أَحَدٍ: بې نیازه چه هیچاته ئې حاجت نشاه او هرڅوك ورته محتاج دی. ② يَتْفُلُ: أيْ: لِيَبْصُقْ: أيْ: لِيُلْقِ الْبُزَاقَ مِنَ الْفَمِ: تهوك دې کړی، یعنی د خُلې نه دې لرې لاړې تهوك کړی.

تسهیلات: قوله: فَقُولُوْا: {اللَّهُ الصَّمَدُ}:

د شیطانی وسوسې دفع کولو طریقه: په دې حدیث کښې د شیطانی وسوسې لرې کولو دپاره بله طریقه خودلې شوې دې چې د صفات خمسه استحضار دې اوکړې شی اوددې صفات تخصیص په دې وجه دې چې دا صفات د الله تعالی د توحید مجموعه ده اود انسانی صفاتو سره منافی دی دغه صفات خمسه دا دی.

① الله احد ② الله الصمد ③ لم یلد ④ ولم یولد ⑤ ولم یکن له کفوا احد.

قوله: ثُمَّ يَتْفُلُ:

د لیاړو توکلو وجوهات: ① دا دَ شیطان سره دَنفرت دَ اظهار دَپاره دی.

② دا هغه لره قبیح اومکروه گنړلو دَپاره کیږی په کوم سره چه هغه تختی.

هسې خو زړه گس طرف ته دي اودَ شیطان حمله هم په گس طرف زړه باندې کیږی اوفرښته ښی طرف ته وی. بهر حال دَ توحید اعلان اواقرار دَ شیطان نه دَ نفرت عملی اظهار اودَ تعوذ وظیفه، دادرې څیزونه دَ وسوسو نه دَ بچ کیدو علاج دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۷۶] یوه خطرناکه وسوسه

—(۱)[۱۴] [۱]عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ([۲]«لَنْ يَبْرَحَ النَّاسُ يَتَسَاءَلُونَ، حَتَّى يَقُولُوا: هَذَا اللَّهُ خَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَمَنْ خَلَقَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ؟) رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ، [۳]وَلِمُسْلِمٍ (قَالَ: قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: إِنَّ أُمَّتَكَ لَا يَزَالُونَ يَقُولُونَ: مَا كَذَا؟ مَا كَذَا؟ حَتَّى يَقُولُوا: هَذَا اللَّهُ خَلَقَ الْخَلْقَ، فَمَنْ خَلَقَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ»).؟.

[۱] اخرجه البخاری کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة /باب ما یکره من کثرة السؤال وتکلف ما لا یعنیه(رقم-۷۲۹۶) ومسلم کتاب الإیمان/باب بیان الوسوسة فی الإیمان وما یقوله من وجدها(رقم-۲۱۷ - (۱۳۶)

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] خلق به په خپل منځ کښې پوښتنې کوي (یعني د شیطاني وسوسو په صورت کښې په هغوئ کښې به دارنګه خیالات پیدا کیږي) چې ټوله هر یو شي الله پاک ﷻ پیدا کړي دي (نو) الله پاک چا پیدا کړي دي؟ (د بخاري [۳] اومسلم په روایت کښې دارنګه دي، حضرت انس ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل) الله تعالى فرمایي چې ستا (ﷺ) د امت خلق (که دشیطان د وسوسو د غورزولو څخه هوښیار نه شو نو مخ کښې) به داسې وایي چې دا څه دي او دا څنګه وشو (یعني د مخلوقاتو په باره کښې به تحقیق او تجسس، لټون، کوي) بیا به په آخرکي دا وایي چې ټول څیزونه الله تعالى پیدا کړي دي نو الله بزرګ و برتر چا پیدا کړي دي؟

حل اللغات: ① لَنْ يَبْرَحَ: أَيْ: لَنْ يَزَالُوا: همیشه به وی.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ أُمَّتَكَ:

دامت څخه په مراد کښې دوه احتمالات: ① د امت څخه امت اجابت مراد دې

② د امت څخه امت دعوت مراد دې.

قوله: يَقُولُوا: مَا كَذَا؟ مَا كَذَا؟:

د ماکذا ما کذا څخه مراد: دا الفاظ دَ کثرت سوال څخه کنایه دی، یعنی د کائناتو د څیزونو باره کښې سوال او تحقیق کوی بیا به دالله ﷻ باره سوال اوکړی چه هرکله ټول څیزونه الله ﷻ پیدا کړل نو الله ﷻ چا پیدا کړو؟

د شیطانی وسوسې عظمت: شیطان بتدریج دا سوال په زړونو کښې د وسوسې په طور اچوی چې هرکله دنورو څیزونو خالق الله تعالى دې نو الله ﷻ دپاره هم خالق پکار دې؟ دا وسوسه چونکه کفر طرفته اوړی، په دې وجه فرمائی چې استعاذه کوئی او بیا دپاره دَ تصوراتو او خیالاتو او ددې قسمه نور وسوسو سلسله بنده کړئی، سوچ بل طرفته بوتلونکې وه ځکه چې بنده ته داحق حاصل نه دې چې هغه خالق کښې سوچ اوکړی بلکه ده ته پکار دی چې په مخلوق کښې سوچ کوی، د وسوسو څخه ځان بچ ساتلو دَپاره دالله ﷻ ذکر ښه نسخه ده.

[۷۷] د مانځه د وسوسې غورځولو خنزب شیطان

۷۷ - (۱) [۱۵] [۱] وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قُلْتُ: [۲] يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي، وَبَيْنَ قِرَاءَتِي يُلَبِّسُهَا عَلَيَّ [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (ذَاكَ شَيْطَانٌ

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب السلام/باب التعوذ من شیطان الوسوسة فی الصلاة (۶۸ - (۲۲۰۳) واحمد فی المسند ۴/۲۱۶

يُقَالُ لَهُ خِنْزَبٌ، ۴ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْهُ، وَاتْفُلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا» ۵ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللَّهُ عَنِّي». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت عثمان بن ابي العاص ﷺ وايي چې ما عرض وکړو ۲ چې يا رسول الله ﷺ زما او زما د لمانځه او زما د قرآءت په مينځ کښې شيطان حائل شی او په دي خيژونو کښې شبه (شك) اچوي، ۳ رسول الله ﷺ وفرمايل دا هغه شيطان دي چې هغه ته (خنزب) ويل کيږي، ۴ پس چې کله تاته دده احساس وشي (چې شيطان په وسوسو او شبهاتو کښې اخته کوي) نو ته ددي (شيطان رټل شوي) څخه د الله ﷻ پناه غواړه او ګس طرف ته دري ځله توکه، ۵ حضرت عثمان ﷺ وايي چې (رسول الله ﷺ د دې ارشاد مطابق) ما دغسې وکړه نو الله پاك زه دهغه د وسوسو او شبهاتو څخه محفوظه وساتم. مسلم.

حل اللغات: ۱ حَالَ : أَيْ: يَمْنَعُنِي : پرده جوړيږی يعنی منع کوی مې، ۲ يَلْبِسُهَا : أَيْ: يَخْلِطُ: شبه پيدا کوی، ګډ وډ کوی، ۳ خِنْزَبٌ: أَيِ الْجَرِيءُ عَلَى الْفُجُورِ: دا دهغه شيطان نوم دې چه په مونځ کښې وسوسې پيدا کوی، دخنزب لغوی معنی ده په شر او ګناه کښې جراءت کونکې. ۴ وَاتْفُلْ : أَيْ: لِيَبْصُقْ : أَيْ: لِيُلْقِ الْبُزَاقَ مِنَ الْفَمِ: تهوک دې کړی، يعنی د خُلې نه دې لږې لاړې تهوک کړی.

تسهيلات:

قوله: بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي:

دوسوسې د محل څخه مراد: مراد دا دې چه ماﹶ مونځ کولونه منع کوی دﹶهغه دﹶ وسوسې دﹶ وجې نه زه مونځ شروع کولې هم نه شم. دا توجيه دﹶملاعلی قاری رحمه الله دﹶ تشريح مطابق ده هغه فرمائی چه دلته درې ځل توکانړې توکولو حکم په حديث کښې دې او مسلسل درې ځل توکل په مانځه کښې جائزنه دی لهذا دﹶدې حديث تعلق هغه وسوسې سره دې کومه چه دﹶمونځ شروع کولونه وړاندې وی.

قوله: وَبَيْنَ قِرَاءَتِي:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ۱ يعنی شيطان ما دﹶ قراءت شروع کولونه منع کوی.

۲ يعنی شيطان ما دﹶقراءت شروع کولونه پس په زړه کښې شك پيداکوی نو په قراءت کښې ګړبړ راځی.

په مانځه کښې د شک پيدا کولو دوه طريقې: ۱ يعنی شيطان په مانځه کښې تردد پيداکوی وائی چه څه دې لوستلی دی غلط دی. اوس دا کس سوچ کوی چه ما څه لوستلی دی هغه صحيح وو که غلط.

۲ يعنی دﹶ قراءت په وخت داسې کيفيت پيداکوی چه وړاندې قراءت کول ګران شی.

قوله: فَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْهُ، وَاتْفُلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا:
د اشكال: شبه داده چه دَ مانځه اوقراءت په حالت کښې تکانړې توکل اودتعوذ څنګه حکم اوشو داخودَ مانحه منافی دی؟
داشكال درې جوابونه: ① دا حکم هغه مونځ ګذار ته دې چه دَمانځه نه فارغ شوې دې چه شیطان تاسره څنګه لوبه کړې ده هغه ښکاره خبره ده دَ بیادَپاره حفاظت اوکړه اودَ بل مونځ دَپاره تیارشه.
② داحکم دَهغه کس دَپاره دې چاچه تردغه وخته مونځ نه دې شروع کړې.
③ داحکم هغه وخت وو کوم وخت چه په مانځه کښې خبرې کول جائز وو بیادامنسوخ اوموقوف شو.

[٧٨] په مانځه کښې دوسوسې پرواه نه ساتل

٧٨ –()[٢٦] ١ وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَهُ فَقَالَ: ٢ إِنِّي أَهِمُ فِي صَلَاتِي فَيَكْثُرُ ذٰلِكَ عَلَيَّ ٣ فَقَالَ لَهُ: امْضِ فِي صَلَاتِكَ، فَإِنَّهُ لَنْ يَذْهَبَ ذٰلِكَ عَنْكَ حَتّٰى تَنْصَرِفَ، وَأَنْتَ تَقُولُ: مَا أَتْمَمْتُ صَلَاتِي. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ١ اوحضرت قاسم بن محمد رحمه الله ته يو سړي عرض وکړو ٢ چې ماته په خپل لمانځه کښې وهم کيږي (يعني کله خو دا شك شی چې زما مونځ صحيح نه دي ادا شوې او کله دا وهم شی چې يو رکعت د کولو څخه پاتې شوې دي) په دي وجه سره په ما بوج وي، ٣ هغه وفرمايل (ته داسې خيال ته توجه مه ورکوه او) خپل مونځ پوره کړه ځکه چې هغه (شيطان) به ستا څخه هلته لرې شی چې ته خپل مونځ پوره کړې او اووائي چې هو ما خپل مونځ پوره نه کړې. مالك

حل اللغات: ① أَهِمُ: أي أَهِمُ وَهْمًا: وهم راته کيږی، سهوه کيږم، ② امْضِ: د مجردو نه د امر صيغه ده، په معنى د تللو خو دلته ترې مراد: أي لَاتَلْتَفِتْ: توجه مه ورکوه وسوسوته، ③ تَنْصَرِفَ: أَيْ: تَفْرُغَ مِنَ الصَّلَاةِ: ته راؤ ګرځې يعنی د مونځ نه فارغ شې، ④ مَا أَتْمَمْتُ: ما نه دې پوره کړې (خپل مونځ).
د راوي مختصر تعارف: نوم قاسم ابومحمد کنيت، دَ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دَځوئ محمد بن ابی بکر ځوئ دې. دَ هغه مور ام ولد وه دکومې نوم چه سوده وو. دَ هغه شميردَ مدينې په اووه فقهاؤکښې کيږی، دَهغه دَ پلار چه کله وفات اوشو نوقاسم ماشوم وو. دَهغه تربييت دَ هغه ترور حضرت ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها اوکړو.
علامه ابن سعد رحمه الله دَ حضرت قاسم رحمه الله باره کښې فرمائی هغه ډير دَاوچتې درجې فقيه امام او ډير لوئ دَ حديث حافظ او متقی وو. (٢)

(١) اخرجه مالک فی الموطا رقم الحديث ٣ من كتاب سهو
(٢) طبقات ابن سعد١٣٩/٥).(٢) تهذيب الاسماء ٥٥/١).(٣) تذكره الحفاظ ٨٤/١).(٤) طبقات ابن سعد ١٣٩/٥) (٥) طبقات ابن سعد ١٤٣/٥) (٦) ابوداود فی الجنائز باب فی التلقين) (٧) دليل الفالحين ٣١٦/٣.

امام نووي رحمه الله فرمائي هغه ډير جليل القدر تابعي دې دَ هغه په جلالت توثيق او امامت باندې دَټولو اتفاق دې.(۲). قاسم بن محمد رحمه الله دَ حضرت عائشه رضي الله عنها نه علاوه دَ حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما، حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه هم پوره استفاده کړې ده. دَدوی نه علاوه دَنورو صحابه کرامو نه ئې هم علم حاصل کړې دې. په دې وجه امام ذهبي رحمه الله دَ هغوی باره کښې فرمائي چه ا م او مقتدي وو (۳) دَ هغه حلقه به په مسجدنبوي کښې لګيدله چه دَ منبر نبوي او روړ . نبوي په مينځ کښې چرته چه خوخه (د کور کړکۍ) عمر رضي الله عنه مخامخ وه. (۴)

وفات: په اختلاف دَ روايت ۱۰۷ھ ۱۰۸ھ کښې وفات شوې. دَوفات په وخت کښې دَ هغه عمر اويا يا اتياکاله وو (۵) دَ نوروحالاتودپاره اوګورئی ① طبقات ابن سعد ۱۳۹/۵ ② تهذيب الاسماء ۵۵/۱ ③ تذکرة الحفاظ ۸۴/۱ ④ تهذيب التهذيب ۳۴۲/۸ وغيره.

تسهيلات: قوله:فَيَكْبُرُذٰلِكَ عَلَيَّ:

د نسخو اختلاف اود هريوې نسخې مطلب: ① په يوه نسخه کښې يکثر هم دې دَ اولې نسخې اوتلفظ مطلب دادې چه دا صورت په کثرت سره راځي

په موجوده نسخه کښې يکبردې ددې مطلب دا دې چې پ ما باندې دا کيفيت ډيرسخت تيريږي اوډير دروند ئې محسوسوم.

قوله:فَقَالَ لَهُ:امْضِ فِي صَلَاتِكَ:

د مونځ په جاري ساتلو کښې حکمت: دا دَ اسلوب حکيم په توګه جواب دې چه ته خپل مونځ جاري اوساته. دا وسوسې او وهمونه به ترهغه وخته پورې نه ختميږي ترکومې چه ته دَمانځه نه فارغ شې او شيطان ته داخطاب اونه کړې که چرې ته ګنړې چه زما مونځ نه دې شوې نوګنړه ټيك ده زمامونځ نه دې شوې مګر زه به ئې په دويم ځل کوم هم نه، په دې عزم به وسوسې لرې کيږي.

ديهودو اومسلمانانوپه مونځ کښې فرق: دَحضرت علي رضي الله عنه نه نقل دی چه دَمسلمانانو او يهوديانو په مونځ کښې هم دغه فرق دې چه دَهغوی په مونځونوکښې وسوسې نه راځي او زمونږ په مونځونوکښې وسوسې راځي. په دې سره هغوی رضي الله عنه دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه دَمسلمانانو عمل ژوندې تازه او قانوني دې دَ کوم دَخرابولو دَپاره چه ابليس وسوسې اچوي اودَ يهوديانوعمل دَ هيڅ کارنه دې نو په هغې کښې وسوسې اچولوسره به شيطان څه خرابي راولي. عاقلان وائي چه په کومه ونه کښې ميوه وي خلق هم هغه په کانړو اولي خالي ونه باندې عقلمند خلق کانړي نه اولي. شيطان هم په خالي او ورانوکوڅوکښې محنت نه ضائع کوي بلکه چرته چه ايمان وي هم هلته دَهغه حمله وي.

[۳/۳] بَابُ الْإِيمَانِ بِالْقَدَرِ

دَتقدير بيان

دَتقدير مفهوم:

دقدر لغوى معنى: دال متحرك هم دي او ساكن هم دي. دادَ يو څيز اندازه كول او په يوڅيز كښې دتنګى كولو په معنى كښې استعماليږى. [إنا كل شئ خلقناه بقدر] داهم دغه اندازې اوتقدير طرف ته اشاره ده. نو په لغت كښې تقدير دَ اندازې په معنى كښې دي

ه قدر په اصطلاحى تعريف كښې درې اقوال: ① ملاعلى قارى رحمه الله داتعريف ليكلې دې ,,هو مايقدره الله من القضايا،، الله تعالى چې (په ازل كښې) كومې فيصلې كړى دى دهغې نوم تقديردې.

② القدر تعيين كل مخلوق بمرتبته التى توجد من حسن وقبح ونفع وضرر،، (شرح فقه اكبرى ص: ۱۵) يعنى تقدير

دَهرمخلوق هر حيثيت او صفت دَ تعين نوم دې كه هغه د نفع او دضرر صفت وى او كه حسن او دقباحت صفت وى.

③ الله تعالى دَ عالم دَ پيدائش نه مخكښې دكومو څيزونو اندازه فرمائيلې ده او په لوح محفوظ كښې ئى دغه مقرركړې ده. هم دَ هغې مطابق به دَ دې تفصيلى وجود ظاهريږى هم دغه تَقدير دې. په دې كښې دا نه شى كيدې چه دَ اول نه دَ يو څيز اندازه نه وى شوې اودَتقدير ليكل نه وى شوې او په تفصيل كښې هغه څيز راشى. نوچه كوم څيزونه په كائنات كښې تفصيلاً جارى دى هغه دَ مخكښې نه دَالله تعالى په نيز معين اومقرردى. تاسو داسې اُوګنړئى لكه چه دَ زيد تفصَيلى حالات دَ پيدائش نه واخله تروفات پورې دَ الله تعالى په علم كښې راغلل، اوبيا الله تعالى هغه دَده په تقدير كښې اوليكل. اوس دَ زيد دَ پيداكيدونه پس دَ هغه ټول حركات او سكنات به هم دَ دغه اجمالى ليك مطابق وى. ليكن تقدير دې مجبوره كړې نه دې بلكه ده ته ئى اختياروركړې دې چه دغه آزادانه اختيار سره چه ده څه هم اوكړل اودَ الله تعالى په علم كښې راغله هم دَهغې مطابق به دَ ده تفصيلى حالت ښكاره كيږى.

دتقدير دوه قسمونه:

① **تقدير معلق** :په دې تقدير كښې بدلون راځى خو په تقدير مبرم كښې كله هم فرق او بدلون نه راځى. دې دواړو ته اجل معلق او اجل مبرم هم وائى.

دَ اجل معلق مطلب دا شو چه الله تعالى په تقدير كښې يوه فيصله ليكلې وى مګر هغې سره ئى څه شرائط هم كيخودل مثلاً دا ئى اوليكل چه دَ فلانكى سړى عمر به ۶۰ كاله وى

خو که هغه دَ والدینو خدمت او کړو یا متقی او پرهیز ګارشو نو دَهغه عمر به اتیا کاله شي.

② **تقدیر مبرم:** دادَ الله تعالی هغه حتمي فیصله ده په کومه کښې چه څه متعین او مقرر دي په هغې کښې هیڅ کله بدلون ممکن نه دې. کومه فیصله چه په تقدیر مبرم کښې شوې ده هم هغه کار به کیږي.

اشکال: هرکله چې هرڅيز د الله تعالی په قدرت کښې دې نوبيا د پيغمبرانو راليږلوته څه ضرورت وو ځکه چې تقديرخو به خامخا واقع کيږي ؟

د اشکال جوابونه: ① په مخلوق باندې د اتمام حجت دپاره پيغمبرانٌ راليږلي شوي دي

② ددعوت فضيلت او ثواب حاصلول مقصود وو ځکه ئې پيغمبران راليږلي دي

د تقدير مراتب: شاه ولي الله رحمه الله د تقديرشپږ (۶) مراتب ذکرکړي دي.

① ازلي: په کائنات کښې ترڅن ورځې پورې څه شوي دي يا په راروان وخت کښې به کيږي دا ټول هرڅه د الله تعالی په علم کښې دي دا علم ازلي دې اودا د تقديراولنۍ مرحله ده.

② لوحي: الله تعالی د خپل علم مطابق ټول هرڅه په لوح محفوظ کښې ليکلي دي دا د دتقديردويمه مرحله ده او دا دعلم ازلي صرف حکايت دې نوې څيز نه دې.

③ ظهري: الله تعالی د آدم عليه السلام اولاد د هغه د شا شخه دوه ځله راويستي دي يوځل چې ئې راويستې وو دهغوی باره کښې ئې فرمائيلي وو دا جنتيان دي او دويم ځل چې ئې راويستې وو د هغوی باره کښې ئې فرمائيلي وو دا دوزخيان دي دا هم نوې څيز نه دې.

④ بطني: کله چې بچې د مور په رحم کښې وي او دده تخليقً پوره شي نو د روح پوک وهلو شخه وړاندې فرشته راليږلې شي هغه څلور څيزونه ليکي دهغه عمل دهغه عمر د هغه رزق د هغه نيک بخت يا بدبخت، دا هم نوئې څيز نه دې.

⑤ حولي: د پوره کال دپاره په شب برائت کښې فرشتو ته تکويني امور حواله کولي شي دا هم نوې څيز نه دې.

⑥ يومي: بعضې فرشتو ته روزانه نوي څيزونه حوالي کولي شي دا هم څه نوې څيز نه دې.

د پورتنی تفصيل شخه روسته په احاديثو د تقديرباره کښې تعارض نه پاتې کيږي.

په تقدير باندې دَ ايمان مطلب: شرح السنه کښې ليکلي دي چه په تقدير باندې ايمان راوړل فرض دي او هغه داسې چه بنده دا عقيده اوساتي چه الله تعالی دَ بنديګانو دَ افعالو خالق دې که هغه عمل دَ خير وي اوکه دَ شر وي اودا هرڅه دَ بنديګانو دَ پيدائش نه مخکښې الله تعالی په لوح محفوظ کښې ليکلي دي. اوس چه کوم څه ظاهريږي ټول دَ الله تعالی فيصلې او ارادې سره کيږي. خو الله تعالی په کفر باندې خفه کيږي. په دې وجه ئې دَ کفر

اومعصیت دَپاره دَ سزا وعده کړې ده او په ایمان او طاعت باندې ئې دَ ثواب وعده کړې ده.

تقدیر څه څیز دې؟: تقدیر دَ الله تعالی دَ رازونو نه یو راز دې په کوم باندې چه الله تعالی نه یو مقرب فرښته اونه یو مقرب رسول خبرکړې دې. نو په دې کښې عقلی بحث او تمحیص جائز نه دې بلکه دا عقیده لرل واجب دي چه الله تعالی مخلوق پیدا کولوسره په دوو ډلوکښې تقسیم کړو. یوه ډله ئې په خپل رحمت اوخپل فضل سره دَ جنت دَپاره جوړه کړه او دویمه ډله ئې دَ خپل عدال لاندې دَ دوزخ دَپاره جوړه کړه. دواړو ته ئې اختیار ورکړو څوك ئې مجبوره کړې نه دی. یوسړي دَ تقدیر باره کښې دَ حضرت علی ﷺ نه پوښتنه اوکړه نو هغوی جواب ورکړو [طريق مظلم فلا تسلكه] یوه تیاره لاره ده په دې باندې مه زه. هغه بیا سوال اوکړو نو هغوی اوفرمائیل [بحر عميق فلا تلجه] یو ژور سمندر دې په دې کښې مه ورکوزیږه. دغه سړي بیا سوال اوکړو نو هغوی ورته اوفرمائیل: [سر الله قد خفي عليك فلا تفشه] دَ الله تعالی یو پټ راز دې ددې د راښکاره کولو کوشش مه کوه.

معبد جهنی اودتقدیر څخه انکار: په دور صحابه کښې چا دَ تقدیر نه انکارنه دې کړې اونه دَ چاته په دې کښې څه شك شبه راغلې وه. دَ صحابه کرامو ﷺ بالکل په آخری دور کښې بعضې خلقو په دې مسئله کښې بحثونه شروع کړل. په بصره کښې یو سړې معبد جهنی وو. هغه دا وینا کول شروع کړه چه الله تعالی ته دَ راتلونکی وخت دَ امورو علم دَهغې دَ ظاهریدونه مخکښې نه وي. کله چه یو عمل ظاهر شي نوبیا الله تعالی ته دَ هغې علم اوشی. ددې تعبیر دَهغه په نیز دا وو [الأمر أنف أي مستأنف] یعنی دَ اول نه څه نظام لیکلې شوي یا لوح محفوظ وغیره نشته دې څه چه کیږی هم دَ هغې نه تقدیر جوړیږی. ددې سړي رد پخپله دَ صحابه کرامو کښې حضرت عبدالله بن عمر ﷺ اوکړو. دا عنوان چونکه غلط بلکه ګمراه کونکې وو په دې وجه په دې باندې د تردید راتلونه پس په دې عنوان نه دا مسئله وړاندې لاړه نه شوه.

معتزله اود تقدیر څخه انکار: معتزلو دې ته یو بل رنګ ورکړو اودا ئې وړاندې روانه کړه اوهغه عنوان دا وو چه آیا په بندیګانوکښې دَ خپلو افعالو دَ اختیارولو قدرت شته که نه؟ یعنی بندیګان دَ خپلو افعالو پخپله خالق دی. چنانچه دَ [خلق افعال العباد] په عنوان سره دَ تقدیر دانکار مسئله دَ خلفاو بنو عباس په دور کښې ډیره وړاندې شوه اودَ دې په اصول او فروع باندې ډیرې جګړې اوشوې. هم ددې نه امام احمدبن حنبل ﷺ اودَ معتزلو هغه لویه مشهوره معرکه هم ده چه دَ څو کالو پورې دَ آزمائش میدان جوړ وو. دَ معبد جهنی استاذ سوسن یهودی وو چا چه دَ تقدیر دا جګړه راؤچته کړه. بیا معبد جهنی او دَ هغه نه پس عیلان نومې سړي دا عقیده په عراق او حجاز کښې خوره کړه. عمرو بن

عبد چه کله دا مسئله راؤچته کړه نو حجاج بن یوسف هغه قتل کړو.

په تقدیر اوقضاء کښې فرق: شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله اوفرمائیل چه دَ قضاء اوقدر معنی مشترك ده. دَ یو اطلاق په بل باندې کیږی اوکله کله په مختلف معنوکښې هم استعمالیږی. هغه داسې چه قدر خودَ الله تعالی هغه ازلی اواجمالی فیصله وی چه دَالله تعالی په علم کښې متعین وی اوقضاء دَدې خارجی تفصیلی خاکه وی یا دَدې خارجی تکمیل وی لکه﴿ فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ﴾ دا اووه آسمانونه دَخپل وجود په اعتبارسره هم دَدغه اجمالی تقدیردَپاره خارجی تفصیلی خاکې دی او بعضې وخت قضاء نه مراد علم اجمالی ازلی وی او دَ قدر نه مراد خارج کښې دَدې تفصیلی وجود وی.[اشعة اللمعات: ۹۲/۱]

د تقدیر اوقضاء وضاحت د مثال په رڼرا کښې: بعضې عارفینو دا مسئله په یو مثال سره بیان کړې ده لکه څنګه چه دَ یومصور انجینئر په ذهن کښې یوه خاکه وی بیا هغه په خارج کښې دَهغې نقشه جوړوی. بالکل دغه شان دَ الله تعالی په علم ازلی کښې یو صورت معهوده دې ته قدر وائی هم دَدې مطابق په خارج کښې یو صورت راځی هغه قضاء ده. دَ دې قضاء تابع کیدو سره دَ بنده دَ قدر مطابق عمل کولو ته کسب وائی. مثال ئې داسې دې چه یو مصور انجینئر دَ خپل ذهنی صورت مطابق کاغذ پنسل سره یوه خاکه جوړوی. شاګردان په دې خاکه کښې دَ خطونو لحاظ کولوسره رنګ ډکوی نو صورت ذهنیه قدر دې او په خارج کښې دَدې خاکه قضاء ده او په خاکه کښې رعایت سره رنګ ډکول دَ عبد کسب دې. نوچه څنګه دا رنګ ډکول دَ صورت ذهنیه عین مطابق دې. دغه شان دَ بنده کسب دَ تقدیر الٰهی عین مطابق دې او بنده دَ تقدیر خلاف نه شی کولې. خلاصه دا چه دَ کور جوړولو نه مخکښې چه کومه خاکه په ذهن کښې راځی دا په منزله دَ قدر دې اوهم دَ دغه نقشې مطابق مکان تیارول موجود فی الخارج شو دا قضاء ده. خودَ اکثر علماؤ رائې داده چه په قضاء او قدر کښې ترادف دې دواړه هم یو دی.

دَتقدیر په مسئله کښې (۳)مذاهب:

① **دَ جبریۀ مذهب:** دَ تقدیر متعلق د جبریه مذهب دادې چه انسان په خپلو افعالوکښې مجبور محض دَ جماد په شان دې. دَ هغهٖ دَ افعالو اعتبار نشته دې اودَ تقدیر په مخکښې دې بې وسه او د بې حس کاڼړی په شان دې.

② **دَمعتزله قدریۀ مذهب:** دَدوی مذهب دادې چه انسان په خپلو افعالو کښې آزاد دې دَ یو تقدیر پابندنه دې بلکه دَ خپلو افعالو انسان پخپله خالق دې. دَ مخکښې نه هیڅ لیك نشته دې ګنی مواخذه به محال شی.

③ **د اهل سنت والجماعت مذهب:** دا ده چه الله پاک د ټولو افعال خیر و شر او کفر و ایمان خالق دې او بنده د دې افعال خیر و شر او کفر و ایمان کاسب دې. بیا د اشاعره او او

ماتریدیه ترمینځه د قدرت کاسبه د معانی او مفاهیم په تعین کښې اختلاف دې، د اشاعره په نزد د دې معنی دا ده چه په بنده کښې د دې قدرت سره سره یو قدرت متوهمه موجود وی، یعنی داسې قدرت کوم چه بنده قدرت ګڼړی خو د هغه قدرت هیڅ دخل نه وی. اشاعره وائی چه دا قدرت متوهمه متخیله د بنده د مکلف جوړیدو دپاره کافی دې.

د اهل سنت والجماعت نه علاوه د ټولو مذاهب افکار او خیالات د قرآن او حدیث د تصریحات او د عقل او فهم د خلاف کیدو د وجې نه باطل دی. د قدر په سلسله کښې صفا او پاکه بې غباره عقیده د اهل سنت والجماعت ده.

د اول فریق دلائل: داخلق دَ هغه نصوصو نه استدلال کوی په کوم کښې چه دَ تقدیر ذکر دې لکه [وما تشآءون إلا أن یشآء الله رب العالمین].

د جبریهٔ د د لائلو دوه جوابونه: ① دَ جبریه مذهب صریح البطلان یعنی په واضحه توګه باندې باطل دې ځکه چه په دې سره د الله تبارك وتعالی طرف ته دَ ظلم نسبت لا زمیږی ځکه چه کله انسان مجبور محض دې او هغه ته دَ خپل فعل څه اختیار نشته بلکه چه څه ئی اوکړه هغه هم الله تعالی اوکړه نو بیا انسان دَ جزا او سزا په محکمه کښې راښکل دَ کوم ځائی انصاف دې. نودَ کوم مذهب اوعقیدې دَ وجې نه چه دَ الله تعالی طرف ته دَ ظلم نسبت لا زمیږی دَ هغې په باطل کیدو کښې څه شك شبه کیدې شی؟

② هرعقل مند سړې په خپل وجدان په دې خبره باندې پوهیدې شی چه په افعال اختیاری او غیر اختیاری کښې فرق دې. مثلاً وجدان دا فیصله کوی چه حرکت ارتعاش یعنی دَ لاس شل کیدل او حرکت کول غیر اختیاری دې او حرکت بطش یعنی په قصد او ارادې سره حرکت کول اختیاری دی. دَ جبریه انسان نه بالکل مجبور، معذور، بې بس او بې حس وئیل ضلالت هم دې او حماقت هم دې. که چرې دې داسې مجبور وو نودَ ده ته دَ افعال کولو اونه کولو الله تعالی ولې حکم ورکړو؟ حضرت علی رضی الله عنه هم داسې سړی ته اوفرمائیل چه خپه اوچته کړه او اودریږه. هغه خپه اوچته کړه حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل بله خپه هم اوچته کړه او اودریږه. هغه وئیل چه دا خو ممکن نه دی. په دې باندې حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل بس انسان دومره اختیارمند دې او دومره بې اختیاره دې. نوخلاصه دا شوه چه ترکوم حده پورې انسان تلې شی هم دَ هغه حده پورې دې مکلف او جواب ورکونکې دې او دَ کوم ځائی نه چه وړاندې نه شی تلې دَهغې جواب ورکونکې نه دې.

بیا دَ اختیار او بې اختیاره فیصله خو یو بې عقل سپې هم کوی. ګوره چه کله یو انسان هغه په کاڼړی باندې اولی نوهغه کاڼړې پریږدی او ویشتونکې سړی پسې منډې وهی او غاپی ځکه چه هغه پوهیږی چه دَ بې ساه کاڼړی څه قصور دې اصل قصور خودَ دغه

اختیارمند انسان دي چه په خپل فعل سره کانړي اولي.

اشکال: کله چه دا معلومه شوه چه عقل سلیم اودَ وجدانِ صحیح حتمي فیصله ده اودَ دنیا دا مشاهده ده چه بعضې افعال اختیاري هم دي نو هغه اختیاري څنګه دی حالانکه ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ ﴾ آیت وائي چه دَ انسان اراده نشته دې ټول هر څه دَ الله تعالی په مشئت چلیږي.

د اشکال جواب: انسان ته دَ توجیه الاراده اختیار ورکړې شوې دې یعنی چه کله هغه اراده کوي او توجه کوي نودَ الله تعالی دَ مشئت سره دَده موافقت راځي په دې توجه او دې اراده کښې انسان اختیارمند دې اوهم دغه دَ ده دَپاره قدرت متوهمه دې او هم په دغه قدرتِ متوهمه باندې دَ ده نیول کیږي. یعني دا انسان چه کَله یو کار کول یا نه کول غواړي اوقدم اوچتوي نوهیڅ بندیز نشته انسان حرکت ارادي کوي او بل خوا دَ الله تعالی دَ طرف نه توفیق راځي نو په دې کښې دې مختاردې مجبور نه دې. دادَ هغه خپل فعل دې اوڅه چه کوي نودا دَ اول نه لیکلې شوي دی ځکه چه دَ الله تعالی علم ازلي دې هغه ته دَدې سړي دغه دَ اختیار والا فعل اول معلوم وو او بیائي اولیکلو نواوس چه څه ښکاره کیږي هغه هم دَ دغه لیک مطابق دي.

د مذکوره جواب وضاحت د اول مثال په رڼرا کښې: یودَ ریل ګاډي ټائم ټیبل دې په کوم کښې چه لیکلي دَي چه فلانکې ګاډې به فلانکي وخت کښې دَ فلانکي ځائي نه روانیږي فلانکې ډرائیور به وي او فلانکي ځائي کښې به دومره حصاریږي اوفلانکي سټیشن ته به فلانکي وخت رسیږي. دومره تیل به خوري وغیره وغیره. دغه شان دَ پوره ورځې او پوره سفر ټائم ټیبل تیارشو مخې ته راغلو او مرتب موجود شو. نو تاسو ګورئی چه هغه ګاډې هم په هغه ټائم ټیبل او هم په هغه هدایاتو باندې روانیږي لیکن دا ټائم ټیبل دغه ګاډې نه چلوي بلکه ډرائیور یا دَ ګاډي سسټم دې په کوم سره چه هغه چلیږي. بالکل هم دغه شان لوح محفوظ دې په کوم چه دَ انسان تقدیر لیکلې شوې دې دغه دَ انسان دَ ژوند ټائم ټیبل دې دَ کوم نوم چه قدر اوتقدیر دې. دکوم مطابق چه دَ انسان دَژوند دا ګاډې په خپل کسب او اختیار سره سفر کوي. فرق صرف دومره دې چه دَ الله تعالی علم محیط دې نو دا انساني ګاډې دَ دغه علم اوتقدیر نه مخالفت نه شي کولې اودَ ریل ګاډي په پروګرام کښې تخالف او تغیر راتلې شي کله په مزه کله څنګه اوکله څنګه.

د مذکوره جواب وضاحت د دویم مثال په رڼرا کښې: دَدې یو مثال داسې اوګنړئی چه یو ډاکټر یو بیمار ته اووئیل چه فلانکې څیز خورې نو مرکیږې به. دغه سړي هغه څیز اوخوړلو او مړشو. نو ډاکټر په علامات اجمالیه وجودیه سره خودلې وو چه مړکیږې به. اوس چه دامړ شو نو دَ ډاکټر په وینا سره خو مړ نه شو نه دَ ډاکټر په لیکلو باندې مړ شو بلکه هغه

دَ خپل دې فعل دَ وجې نه مړ شو دکوم نه چه ډاکټر منع کړې وو.
بالکل هم دغه شان دَ الله تعالى په علم کښې چه کوم اجمال دې دکوم نوم چه تقدير دې هغه دَ اول نه موجود دې. په خارج کښې موندلې شوې فعل دَ بنده خپل فعل دې دا بيشکه دَ تقدير موافق دې ليکن دا سړې دَ تقدير نه مجبور نه دې بلکه دَ تقدير دَ ليکلو نه وړاندې الله تعالى دَ هغه احوال په آزاد ماحول کښې اوکتل بيائى اوليکل. نو چه دا اوس څه کيږي دَهغې مطابق کيږي.
دَدې تشريحاتو او توضيحاتو نه پس دا خبره واضحه شوه چه دَجبريه مذهب باطل محض دې اوهغوى چه دَ کوم آيت نه استدلال کړې دې اهل سنت والجماعة فرمائى په هغې کښې دَ انسان دَپاره مستقل دَ اختيار نفى ده لکه څنګه چه معتزله دَ انسان دَپاره دَ مستقل اختيار قائل دى. په دې آيت کښې دَدې ضعيف غير مستقل محدود اختيار نفى نه کيږي کوم چه په نورو نصوصو اوعقل سليم او وجدان صحيح سره انسان ته حاصل دى.
د دويم مذهب د لائل: ① که چرته ټول افعال د الله تعالى تخليق وى نو بيا خو انسان مجبور شوځکه چې هغه د الله تعالى د تخليق وړاندې خپل اختيار نشى استعمالوې اوبيا د انسان د مکلف کولو فائده پاتې نشوه او د ثواب او عقاب استحقاق ختم شو.
د دويم فريق د اول دليل جواب: دا دليل د جبريؤ خلاف چليدې شى خو د اهل سنت والجماعت خلاف نشى چليدې ځکه چې مونږ ددې باوجود چې انسان د افعال خالق نه دې ددې قائل يو چې انسان د اختيار مالک دې مجبور محض نه دې.
② که چرته الله تعالى د انسانانو د افعالو خالق وى نو بيا خو به دې قائم اوقاعد آکل اوشارب وغيره هم وى
د دويم فريق د دويم دليل جواب: عالمه تفتازانى رحمه الله فرمائى چې دا ډيره د جهالت خبره ده ځکه چې په دط صفاتو باندې هغه څوک موصوف کيدې شى چا سره چې دا صفات قائم وى دا مطلب نه دې چې انسان ددې خالق دې ګورى، نه چې الله تعالى د سودا بياض او نوروو ټولو جسمانى صفاتو خالق دې خو په دې صفاتو باندې موصوف کولې نه شى.يعنى که ستاسو خبره ټيک وى نو بيا به د عبد د غيراختيارى افعالو په باره کښې څه وائې آي الله تعالى به په دې باندې موصوف ګڼړئ!
③ الله تعالى فرمائيلى دى «فتارک ا لله احسن الخالقين» دغه شان نور آياتونه په کوم کښې چې د خلق په صفت باندې انسانان موصوف دى ددې څخه دوى استدلال کوى چې معلومه شوه چې انسانان د خپل افعالو په خپله خالق دې.
د دويم فريق د دريم دليل جواب: دلته کښې د تخليق نسبت االله تعالى ته مجارا شوې دې حقيقية نه دې شوې.

الزامی جواب: معتزلؤ ته الزامي جواب داسې دې چه ابليس دَ شر او شرارت ګوډاګې دې دې چا پيدا کړو؟ آيا دَ الله تعالى نه بغيرد ده بل څوک خالق شته چا چه دې پيدا کړو؟ نوتخليقِ شر کمال دې لکه چه تخليق خير کمال دې او کسبِ شر مذموم دې. خو په عام توګه دَ شر نسبت دَ شيطان طرف ته کيږي يا دَ نفس طرف ته نسبت کيږي دې دَ پاره چه دَ الله تعالى په شان کښې بې ادبي او ګستاخي اونه شي.

دَ شر په تخليق کښې حکمت: ټول عقلاء اوحکماء په دې باندې متفق دی چه په دنياوی بادشاه کښې دوه صفتونه موجودکيدل ضروری دی. يو صفت دَ لطف اوکرم او دويم صفت دَ قهر اوجلال، اولنې دَ دې دَپاره چه په خپلو باندې رحم اوکړي الطاف اومهرباني اوکړي. که چرې دا صفت په کښې نه وی نوداسې کنجوس او بخيل سړې به څوک بادشاه جوړ کړي؟ اودَ هغه بادشاهی به څوک اومنی؟ که داسې سړې چرته بادشاه جوړ هم شی نودا نقص او عيب به ډير زر دَ هغه نه بادشاهی واخلی. دويم دَ قهر صفت هم ضروری دې ځکه چه خلق بې ځايه تعدی او تجاوز او بې ځايه خپله من مانی اونه کړي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۷۹] دزمکې اوآسمانونو دتخليق څخه وړاندې د تقدير ليک

۷۹ ـ (۱)[۱] ⦗۱⦘ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (⦗۲⦘ «كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ) ⦗۳⦘ قَالَ: {وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ} [هود: ۷]») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⦗۱⦘ او حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ روايت کوي چې رسول اکرم ﷺ وفرمايل ⦗۲⦘ الله تعالى ﷻ د آسمانونو او زمکې دپيدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو تقديرونه ليکلي دي، ⦗۳⦘ او وي فرمايل (هغه وخت) د الله تعالى ﷻ عرش په اوبو وو. مسلم

حل اللغات: ① مَقَادِيرَ: د مِقْدَار جمع ده، وَهُوَالَّذِي يُعْرَفُ بِهِ قَدْرُالشَّيْءِ: هغه څيز چه په هغې سره د بل څيز اندازه او مقدار معلومولې شی يعنی آله لکه پيمانه، تله وغيره، خو ددې استعمال خپله د مقدار يعنی د اندازې دپاره کيږي.

تسهيلات:

قوله: كَتَبَ اللَّهُ مَقَادِيرَ الْخَلَائِقِ

دليکلومحل: دا ليکل چرته په يوديوان خاص کښې وو ګنی تقدير خودَالله تعالى دَعلم ازلی ابدی اجمالی نوم دې کوم چه دَوخت پابندنه دې بل دَدې ليکلونه وړاندې دَالله

[۱] اخرجه مسلم فى صحيحه رقم الحديث ۱۶ من غير (كان)

تعالى علم په راتلونکى حالاتو باندې محيط وو هغه علام الغيوب دې هغه دَ تفصيلى حالاتو دکتلونه پس دا اجمالى خاکه اوليکله.

د کتب په مفهوم کښې دوه اقوال: ① يعنى الله تعالى په خپل لاس باندې اوليکلو بلکه قلم ته ئې دَ ليکلو حکم ورکړو.

② يعنى الله تعالى دَمخلوق دَپاره تقديرمقررکړو په عربى لغت کښې کتب په معنى دَتعين اوتقررراځى.

قوله: قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِخَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ

په رواياتو کښې تعارض: بعضې رواياتو کښې دَخلويښتو زروکالوذکردې چه په ظاهره ددې حديث سره متعارض دې؟

د تعارض حل: دا فرق دَمختلفو امورو په اعتبارسره دې. بعضې امور پنځوس زره کاله اوبعضې څلويښت زره کاله وړاندې ليکلې شوې دې.

اشکال: هغه وخت زمکه اوآسمان نه وو زمانه نه وه نودَپنځوس زرو کالو تعين څنګه اوشو؟

د اشکال څلور جوابونه: ① داکلام دَ اندازې په توګه دې که چرې زمانه وې نودومره وخت به کيدلې شو.

② دلته ددې څخه طويل مدت مراد دې بعضې عالمانو ددې معنى سل صديانې کړې ده.

③ کيدې شى چې دا اندازه ئې د حرکت عرش څخه لګولى وى.

④ دا عدد د الله تعالى دعلم مطابق دې.

قوله: وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ:

په اوبوباندې د الله تعالى د عرش په کيدو کښې اقوال: ① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دلته دَدنيا اوبه مرادنه دى بلکه دَعرش نه لاندې درياب مراددې دکوم نه چه باران راورېږى.

② علامه بيضاوى رحمه الله فرمائى دَدې مطلب دانه دې چه عرش په اوبوباندې کيخودلې شوې وو بلکه مراددادې چه دَدواړو په مينځ کښې حائل نه وو. په دې سره دَالله تعالى يو قدرت خودل مقصوددى چه پورته عرش دې لاندې اوبه دى اودَ اوبولاندې هوا ده اودا هرڅه دَ الله تعالى په قدرت باندې قائم دى.

③ بعضې کتابونو او حواشى کښې ليکلى دى چه دَ ټولونه اول الله تعالى يومرغلره جوړه کړه بيائى دَ هيبت نظر په هغې باندې واچولو هغه اوبه شوه اوس لاندې صرف اوبه وې او بره عرش وو. دَ (وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ) منظورو بيا الله تعالى دَغضب په نظر سره اوبو ته اوکتل نو اوبه راؤخوټکيدې اوچې شوې. لاندې څه خيرې شان پاتې شو او پورته

یولوکې اوختلو هم دَدغه لوګی نه روستو بیا آسمان جوړشو. ارشاد دې﴿ ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ ﴾ [سورة حم سجده:۱۱۵]. بیا لاندې دَ دغه خیری نه زمکه خوره کړې شوه ارشاد عالی دې ﴿ وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا ﴾[سورة النازعات:۳۰]

اشکال: د زمکې اوآسمان په تخلیق کښې د آیاتونو تعارض جواب د آیات متعارضه ا و دهغې حل څخه نقل کول دی.

[۸۰] هرڅیز په تقدیر سره کیږی

۸۰-()[۲][۱]وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ([۲]«كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ حَتَّى الْعَجْزُ وَالْكَيْسُ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه:[۱] اود حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دي چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل [۲] هر شي په تقدیر سره کیږي تردي چې دانایي (هوښیار توب) او ناداني (کم عقل توب) مسلم

حل اللغات: ① بِقَدَرٍ: أَيْ: بِمِقْدَارٍ: اندازه، (یعنی کومه اندازه او مقدار چه په لوح محفوظ کښې دمخکښې نه لیکلې شوې دې). ② الْعَجْزُ: هوښیارتوب، یا عدم قدرت، ③ الْكَيْسُ: ناپوهی، کم عقل توب.

تسهیلات:

قوله: كُلُّ شَيْءٍ بِقَدَرٍ

د تقدیر جامعیت: دَدې حدیث مطلب دادې چه دَ هوښیار اوکمزورئی کوم صفات دی دا هم دَ تقدیردَاحاطې نه بهر نه دی بلکه قضاء اوقدردَ انسان په ټولو اړخونوباندې محیط دې. صرف جنت او دوزخ پورې تقدیر محدودنه دې بلکه دَدنیا او آخرت ټولې فیصلې او ټول معاملات هم دَدې قضاء او قدر لاندې دی.

قوله: حَتَّى الْعَجْزُ وَالْكَيْسُ:

اشکال: دلته په حدیث کښې دَ"عجز" په مقابل "کیس" لفظ راغلې دې حالانکه دَ قاعدې مطابق دَعجز مقابل قدرت دې او دَ"کیس" مقابل "بلادة" دې نودلته داسې ولې اوشو؟

د اشکال جواب: دلته ئی دَ فنِ بلاغت دَ اصولولاندې دَاحد الضدین نه یوذکرکړې دې او په دې باندې اعتماد کولوسره ئی دویم پریخودې دې نودلته دَ صنعت احتیاط نه کار اخستې شوې دې چه العجز ذکر کولوسره ئی قدرت پریخودو او "الکیس" ذکر کولو سره "بلادت" ئی پریخودې دې، مراد احاطه اواستغراق دې. عبارت داسې دې "العجز والقدرة

[1] اخرجه مسلم فی کتاب القدر/ باب کل شیء بقدر(رقم-۱۸ - (۲۶۵۵) ومالک کتاب القدر باب النهی عن القول بالقدر(رقم۴)

أوالكيس والبلادة من قدر الله"

هم دغه يعنى ضعف اوقدرت ذكاوت وبلادت ټول دَالله تعالى په نيزمقدر دى اوهم دَهغې مطابق ښكاره كيږي.

دعجز اوكيس څخه مراد: حافظ توربشتى رحمه الله فرمائى چه العجز نه مراد عاجز، كمزوري اوضعيف دي. اودَ الكيس نه مراد عقل مند سړي دي يعنى كوم چه په عقل اورائې كښې كمزوري دي هغه هم الله تعالى دَ تقديرلاندې پيداكړې دى اوڅوك چه الكيس اوچالاك او هوښيار مكار دي هغه هم الله تعالى دَ تقدير لاندې پيداكړې دې په يوكمزوري يا طاقتوركښې خپل څه طاقت نشته ټول الله تعالى سره دى لاحول ولاقوة الا بالله.

[۸۱]په عالم ارواح كښې دآدم اوموسى عليهما لسلام مناظره

٨١ –()[٣][١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: («احْتَجَّ آدَمُ، وَمُوسَى عِنْدَ رَبِّهِمَا، فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى؟[٢] قَالَ مُوسَى: أَنْتَ آدَمُ الَّذِي خَلَقَكَ اللَّهُ بِيَدِهِ، وَنَفَخَ فِيكَ مِنْ رُوحِهِ، وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ، وَأَسْكَنَكَ فِي جَنَّتِهِ، ثُمَّ أَهْبَطْتَ النَّاسَ بِخَطِيئَتِكَ إِلَى الْأَرْضِ؟[٣]قَالَ آدَمُ: أَنْتَ مُوسَى الَّذِي اصْطَفَاكَ اللَّهُ بِرِسَالَتِهِ وَبِكَلَامِهِ، وَأَعْطَاكَ الْأَلْوَاحَ فِيهَا تِبْيَانُ كُلِّ شَيْءٍ، وَقَرَّبَكَ نَجِيًّا، فَبِكَمْ وَجَدْتَ اللَّهَ كَتَبَ التَّوْرَاةَ قَبْلَ أَنْ أُخْلَقَ قَالَ مُوسَى: بِأَرْبَعِينَ عَامًا.[٤]قَالَ آدَمُ: فَهَلْ وَجَدْتَ فِيهَا {وَعَصَى آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَى} [طه: ١٢١]؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: أَفَتَلُومُنِي عَلَى أَنْ عَمِلْتُ عَمَلًا كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَيَّ أَنْ أَعْمَلَهُ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي بِأَرْبَعِينَ سَنَةً؟)[٥]قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم وفرمايل (په عالم ارواح كښې) آدم عليه السلام او موسٰي عليه السلام د خپل پروردګار په مخكې مناظره وكړه او حضرت آدم عليه السلام په حضرت موسٰي عليه السلام باندې غالب راغې، [٢]حضرت موسٰي عليه السلام اوويل ته هغه آدم يې چې الله جل جلاله په خپل لاس سره جوړ كړي وې په تاكې يې خپل روح اچولي وو، او په فرښتو باندې يې تا ته سجده كړي وه او په خپل جنت كښې يې ته ساتلي وې او بيا تاپه خپلې خطاء سره خلق زمكې ته راښكته كړل (يعني كه تا خطا نه وه كړې نو زمكې ته به يې نه وې را ښكته كړي او ستا اولاد به په دې دنيا كښې نه خپريدلې بلكه په جنت كښې به وو)[٣] آدم عليه السلام ورته اوويل ته هغه موسٰي عليه السلام يې چې الله جل جلاله خپل منصب رسالت سره نازولې وې او په خبرو كولو سره يې مشرفه كړي وې او تاته يې هغه تختې دركړي وې چې په هغه كښې د هر شي بيان وو او بيا تاته يې د سرګوشي (غوږ

[١]) اخرجه البخارى كتاب القدر،/باب تحاج آدم وموسى عند الله (رقم: ٦٦١٤) ومسلم فى كتاب القدر/باب حجاج آدم وموسى عليهما السلام(رقم-١٥ - (٢٦٥٢) وابوداود كتاب السنة/باب فى القدر(رقم-٤٧٠١) والترمذى كتاب القدر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى حجاج آدم وموسى عليهما السلام (رقم-٢١٣٤) وابن ماجة فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب باب فى القدر(رقم-٨٠)واحمد فى مسند:٢/١١٠.

كښې خبرو) د پاره د تقرب (نژدیکت) عزت بخښلي وو او تاته معلومه ده چې الله تعالیٰ ﷻ زما د پیدایش څخه څومره مخکې تورات لیکلي وو؟ موسیٰ ﷺ ورته اوویل څلويښت کاله مخکې،④ آدم ﷺ ځيني پوښتنه وکړه چې آيا تا په تورات کښې دا ليکل شوې لفظونه نه دي پيدا کړي وَعَصىٰ اٰدَمُ رَبَّهُ فَغَوىٰ، (يعني آدم ﷺ د خپل رب نافرماني وکړه او بدحاله شو،) موسیٰ ﷺ اوويل هو، آدم ﷺ اوويل نو بيا ته ما په هغه عمل ولې ملامت کوې کوم چې الله پاك زما د پيدايش څخه څلويښت کاله مخکې زما دپاره ليکلي وو،⑤ حضور ﷺ ارشاد او فرمايي د دې دليل څخه) آدم ﷺ په موسىٰ ﷺ باندې غالب رالې. مسلم

حل اللغات: ①احْتَجَّ: أَيْ: تَحَاجَّ: يعنى طلب د دليل ئې اوكړو، ②نَفَخَ: پوک وهلې ئې وو، اچولې ئې وو، ③أَهْبَطْتَ النَّاسَ: تا راښکته كړل خلق، (يعنى دخلقو د راښکته كولو سبب جوړشوې چه د اونې نه دې خوراک اوكړو). ④اصْطَفَاكَ: أَيْ: اخْتَارَكَ: غوره كړې ئې وې ته، ⑤الْأَلْوَاحَ: د لوح جمع ده، تختې ته وائى، ددې نه مراد د تورات تختې دې چه په هغې كښې ددين او د وعظ اونصيحت خبرې ليكلې شوې وې. ⑥تِبْيَانُ: أَى إِظْهَارُ: واضحه او ښكاره تفصيلى بيان، ⑦نَجِيًّا: أَى كَلَامٌ فِي السِّرِّ: سرګوشى، پټې خبرې چه په منځ كښې ئې څوک دريم واسطه نه وى، ⑧عَصَىٰ: نافرمانى اوكړه (چه دخپل رب خبره ئې اونه منله). ⑨فَغَوَىٰ: يعنى بد حاله او پريشانه شو. ⑩أَفَتَلُومُنِي: آيا ته ما ملامته كوې؟.

تسهيلات:

قوله: احْتَجَّ آدَمُ وَمُوسَىٰ:

د مناظرې په محل كښې دوه احتمالات: ① دا مناظره په عالم ارواح كښې په تجليات رب كښې اوشوه. په حديث كښې "عندربهما" لفظ موجوددې

② دا مكالمه په ليلة الاسرىٰ كښې شوې وه.

③ په كوم وخت كښې چې په ليلة الاسراء كښې ټول پيغمبران په بيت المقدس كښې راجمع شوى وو نو دا مناظره په هغه وخت كښې شوې وه.دا زيات راجح قول دې.

④ دا مناظره به په عالم آخرت كښې كيږى.

اشكال: د ابن عمر رضي الله عنهما په حديث كښې د تقديرليكلو مقدار پنځوس ذره كاله خودلي شوې دې اوپه دې حديث كښې دى چې د آدم عليه السلام د پيدائش څخه وړاندې څلويښت كاله وړاندې ليكلي شوې دي.

داشكال جواب: ① اجمالاً تقديرپنځوس ذره كاله وړاندې ليكلي شوې دې اوبيا دا دوباره د آدم عليه السلام د پيدائش څخه وړاندې څلويښت كاله وړاندې نقل كړې شوې دې

قوله: وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ:

اشکال: سجده کول خو عبادت دي آيا د غيرالله عبادت کول شرک نه دي که شرک وی نو بيا ولې فرشتو ته الله تعالى حکم اوکړو چې آدم علیه السلام ته سجده اوکړئ؟

داشکال درې جوابونه: ① سجده خو الله تعالى ته وه آدم علیه السلام صرف د جهت او طرف په اعتبار سره قبله ګرځولې شوې وه.

② دا تعظيمى سجده وه عبادتى سجده نه وه. په مخکنو شريعتونوکښې تعظيمى سجده جائز وه په امت محمدى کښې تعظيمى سجده ناجائز ده.

③ دسجدې څخه شرعى سجده مراد نه ده بلکه لغوى سجده مراد ده يعنى ټيټيدل او ټيټيدل حرام نه دى.

قوله: أَهْبَطْتَ النَّاسَ بِخَطِيئَتِكَ إِلَى الْأَرْضِ:

اشکال: په کوم وخت کښې چې آدم علیه السلام د جنت څخه دنيا ته راکوزيدل نو هغه وخت کښې دوى يواځې وو. صرف بى بى حوا ورسره وه نو بيا دا څنګه اووئيلې شو چې تا خلق زمکې ته راکوز کړل.

داشکال درې جوابونه: ① د راروان وخت په اعتبار سره خلق شامل کړې شوى دى.

② الناس دجمعې صيغه ده او دجمعې اطلاق د بعضې عالمانوپه نيزپه ما فوق الواحد باندې هم کيږى او د آسمان څخه آدم علیه السلام سره بى بى حوا هم وه نو دواړه ما فوق الواحد دى ددې وجې پرې د الناس اطلاق صحيح شو.

③ د آدم علیه السلام سره بى بى حوا او شيطان هم وو. په دې اعتبار سره د جمعې صيغه الناس ذکر کړې شوې او شيطان اګرچې انس نه دې خو آدم علیه السلام اوبى بى حوا دواړه انسانان وو د انسانانو د غلبې په وجه شيطان باندې هم تغليباً د انس اطلاق اوشو.

قوله: {وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ}

ددې جملې تفسيرزه د معارف القرآن مفتى شفيع رحمه الله څخه نقل کوى دا اوګورئ.

اشکال: مفتى صاحب رحمهالله فرمائى دې آيت څخه د اسوالونه راپورته کيږى چې آدم علیه السلام او حواء هر کله چې الله ﷻ د يوخاص ونې د خوړلو اودهغې خواته د تلو څخه منع کړې وو او ورسره په دې هم خبرداره کړې شوې وُو چې شيطان ستاسو ښکاه دښمن دې د هغه د مرك اوفريب څخه ځان ساتى، هسې نه چې د جنت نه مو اوباسى.

ددې باوجود ددې دغه اولوالعزم د لوړې درجې پيغمبر د شيطان په دهوکه کولو کښې څنګه راغلو، ولې چې دا ښکاره نافرمانى اوګناه ده حالانکه جمهور امت پدې اتفاق لرى چې پيغمبران علیهم السلام د هرې ورې او لوې ګناه څخه محفوظ وى.

ددې تولو سوالونو جوابونه هم په دې تفسیر معارف القرآن کښې سورۂ بقره اوله سیپاره کښې ورکړې شوی دی، هلته يې اوګورئ.

داشکال جواب: دلته د [عَصٰى] او [غَوٰى] صفا الفاظ د آدم ﷺ دپاره استعمال شوی دی، ددې وجه هم په سورة بقره کښې بیان شوې ده، هغه داسې چې اګر که د آدم ﷺ دغه عمل د شرعی قانون تر مخه په ګناه کښې داخل نه وو لیکن آدم ﷺ رسول او په خاص نزدیکانو دالله ﷻ کښې حساب وو ځکه دهغوئ ﷺ معمولی ښوئیدو ته هم عصیان اوفرمائیلې شو، او په هغې زورنه ورکړې شوه، دغه شان د غوٰی لفظ د دوؤ معنو دپاره استعمالیږی، یو دې دپاره چې دنیوی ژوند لنه تنګ شی اوعیش او روزګار وغیره یې خراب شی،بله معنی يې ګمراه کیدل یا غافله کیدل دی،د تفسیر امامانو قشیری رحمه الله او قرطبی رحمه الله وغیره دلته د غوٰی لفظ رومبۍ معنی اختیار کړې ده، مراد دادې چې دآدم ﷺ د جنت د مزو د ژوند په ځائې دمحنت مشقت ژوند شو.(١)

دپیغمبرانوباره کښې ضروری هدایت: د پیغمبرانو ﷺ باره کښې یو ضروری هدایت د هغوئ د ادب او احترام حفاظت کول: دعصی وغیره قسم الفاظ د قرآن کریم چې د آدم ﷺ په باره کښې استعمال شوی دی، قاضی ابوبکر ابن عربی په خپلو الفاظو کښې دهغې متعلق داسې راې ښکاره کوی:

لایجوز لاحدنا الیوم ان یخبر بذلك عن ادم الا اذ ذکرناه فی اثناء قوله تعالی عنه اوقول نبیه فاما ان یبتدی ذلك من قبل نفسه فلیس بجائز لنا فی اباٰئنا الاذنین الینا المماثلین لنا فکیف ابینا الاقدام الاعظم الاکرام النبی المقدام الذی عذره الله سبحانه وتعالی وتاب علیه وغفرله

نن هیچا دپاره دا جائز نه دی چې آدم ﷺ ته د عصیان لفظ منسوب دی، سوا دهغې ځخه چې د قرآن کریم ددې ایت یا د حدیث نبوی په ضمن کښې راغلې وی ولې چې داسې قسم الفاظ منسوب کول د خپل طرفنه خپلو نزدې پلرونو نیکونو ته هم جائز نه دی بیا هغه رومبې پلار ته یې د تولو پلرونو نیکونو نه وړاندې لوې او عزت مند او دالله ﷻ عزت مند پیغمبر دې، الله ﷻ یې عذر قبول کړو د معافۍ اعلان یې دده دپاره اوکړو[تفسیر قرطبی و بحر محیط](٢)

دامام قشیری اوابونصر رحمهما الله رائې: ځکه قشیری اوبو نصر فرمائیلی دی چې ددې لفظ په وجه آدم ﷺ ته عاصی او غاوی وئیل جائز نه دی چرته چې په قرآن پاك کښې د یو پیغمبر دپاره دغه شان الفاظ راغلی دی یا خو د خلاف اولٰی په باره کښې دی یا د پیغمبر کیدو نه وړاندې وخت دپاره دی، لهذا دقرآنی آیتونو او دحدیث پاك د روایاتو

(١) تفسیر القرطبي تحت هذه الآیة[ج:١١ص:٢٥٧]
(٢) تفسیر القرطبي تحت هذه الآیة[ج:١١ص:٢٥٥، ٢٥٦] و أحکام القرآن لابن العربي [ج: ٥ص:٣٦٠]

په ضمن کښې خو دهغې بیانول صحیح دی، خو دخپله طرفه د هغوئ ﷺ په شان کښې دداسې لفظونو د استعمال اجازت نشته دې [قرطبی] (۱)

قوله: فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى: دَ اعتراض جواب دَالله

اشکال: دلته شبه داده چه حضرت آدم علیه السلام دَحضرت موسیٰ علیه السلام دَ تعالی په وړاندې دَتقدیرحواله ورکولوسره ورکړو دې سره به دګناه دروازه کولاؤشی ځکه چه هرمجرم به دَتقدیر حواله ورکوی او وائی به چه کومه ګناه ما کړې ده په تقدیرکښې هم دغه شان لیکلې وه زما په دې کښې څه قصوردې؟

داشکال جواب:

① دا د آدم علیه السلام د نبوت څخه وړاندې واقعه ده ځکه چې معصیت د عصمت منافی دې.

② په معصیت باندې د تقدیرد لیکلوعذرپیش کول دتوبې د قبولیت نه پس شوې وو او د توبې د قبولیت څخه دا عذر پیش کول جائز دی.

③ تقدیر دَمصائب راتلونه پس دَتسلئی اطمینان او سکون دَپاره وی نوحضرت موسیٰ علیه السلام دَ خپل درد اوتکلیف اظهاراوکړو چه ګوره ته خطا شوې ټول عالم په تکلیف اومصیبتونوکښې راګیرشو. حضرت آدم علیه السلام جواب ورکړو اوهم داسې شوی دی خو څه اوکړو په تقدیرکښې هم داسې لیکلې وو اوس په دغه مصیبتونوباندې صبر کول پکاردی لکه چه حضرت موسیٰ علیه السلام په عمل باندې اعتراض اونه کړو صرف دَ همدردئی او مصیبت اظهارئی اوکړو مګر په ظاهری نظر کښې چه کله وینی اورې نوهغه هم دا ګنړی چه دا اعتراض دې نودَدې جواب دَ دریو مقدماتوپه پوهه باندې موقوف دې:

④ د څلورم جواب دپاره دلته مونږ درې مقدمات بیانوو. هغه مقدمات ثلاثه دا دی. (ا) دا سوال په عالم ارواح کښې شوې دې په عالم اسباب کښې نه. (ب) په ظاهره دا اعتراض دَ قبلولیت توبه نه پس شوې دې. (ج) مجرم لره ملامت کول په عالم اسباب کښې کیږی دې دَپاره چه دَ خپل جرم نه توبه اوکړی او منع شی اونور خلق عبرت واخلی.

کله چه دا دریواړه مقدمات تیارشو نواوس جواب واؤرئی، په عالم ارواح کښې دَتوبې قبلیدلونه پس دَ مجرم دَ منع کیدودَ امکان نه بغیر یادَ چادَ فائدې او عبرت حاصلولو نه بغیر دَحضرت موسیٰ علیه السلام دا کلام په ظاهره صرف الزام وو. دکوم په جواب کښې چه حضرت آدم علیه السلام هم احتجاج بالتقدیر کولو سره جواب ورکړو چه زما څه قصور وو په تقدیرکښې هم داسې لیکلې وو لکه چه هغوی اشاره اوکړه چه په عالم ارواح کښې دَتوبې دَقبلیدونه پس دَغرضِ اصلاح نه بغیر په سابقه ګناه باندې دَ ملامت کونکی هم دغه جواب کیدې شی.

(۱) تفسیر القرطبي [ج:۱۱ص:۲۵۷]

[۸۲] د تقدیر لیکل شوي څیزونه

۸۲–(۱) [۴] ۱ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: حَدَّثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-، وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ: ۲ «إِنَّ خَلْقَ أَحَدِكُمْ يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا نُطْفَةً، ۳ ثُمَّ يَكُونُ عَلَقَةً مِثْلَ ذٰلِكَ، ثُمَّ يَكُونُ مُضْغَةً مِثْلَ ذٰلِكَ، ۴ ثُمَّ يَبْعَثُ اللّٰهُ إِلَيْهِ مَلَكًا بِأَرْبَعِ كَلِمَاتٍ: فَيَكْتُبُ عَمَلَهُ، وَأَجَلَهُ، وَرِزْقَهُ، وَشَقِيٌّ، أَوْ سَعِيدٌ، ۵ ثُمَّ يَنْفُخُ فِيهِ الرُّوحَ فَوَالَّذِي لَا إِلٰهَ غَيْرُهُ إِنَّ أَحَدَكُمْ يَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتّٰى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ، وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ، فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ، فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا. ۶ وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتّٰى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلَّا ذِرَاعٌ فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ، فَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې نبی کریم ﷺ مونږ ته وفرمایل ۲ په تاسو کښې د هرسړي تخلیق داسې کیږي چې (مخکې) د هغه نطفه دمور په رحِم کښې څلویښت ورځې جمع (پرته) وي، ۳ بیا دومره ورځې یعنی څلویښت ورځو څخه وروسته هغه چکې شوې وینه جوړیږي، بیا دومره ورځې وروسته هغه دغو ښې ټکړه شي، ۴ بیا الله تعالی جل جلاله هغه ته یوه فرښته د څلور خبرو د لیکلو د پاره راولیږي، نو هغه فرښته د هغه ① عمل ② د هغه دمرګ وخت ③ د هغه د زرق مقدار ④ او د هغه بدبخت او نیک بخت کیدل (د الله جل جلاله په حکم سره) د هغه په تقدیر کښې لیکي، ۵ قسم دي په هغه ذات چې د هغه څخه سوا بل معبود نشته په تاسو کې یوسړي د جنتیانو په شان عمل کوي، تردې چې د هغه او د جنت په مینځ کښې یوازې د یولاس فاصله پاتې شی چې د تقدیر لیك رامخکې شی او هغه د دوزخیانو په شان کار کول شروع کړي او هغه په دوزخ کښې داخل شي، ۶ او په تاسو کښې یو سړي د دوزخیانو په شان اعمال کوي تر دې چې د هغه او د دوزخ تر مینځ یوازې د یو لاس فاصله پاتې شی چې د تقدیر لیك را مخکې شی او هغه د جنتیانو په شان کار کول شروع کړي او په جنت کښې دا خل شي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① الصَّادِقُ: د اسم فاعل صیغه ده، ډیر ریشتوني، رشتیا ویونکې، ② الْمَصْدُوقُ: داسم مفعول صیغه ده، رشتیا ګنړلي شوې، (بعضې وخت یو سړې ربښتوني وی مګر خلق هغه ربښتوني نه ګنړی. نووئی فرمائیل چه حضورپاك ربښتوني هم دي او دنیا والا ئی ربښتوني ګنړی هم.) ③ عَلَقَةً: أَيْ: دَمًا غَلِيظًا جَامِدًا: چکه وینه، ④ مُضْغَةً: أَيْ: قِطْعَةَ لَحْمٍ: د وینې ټکړه، ⑤ شَقِيٌّ: بد بخت، ⑥ سَعِيدٌ: نیک بخت، ⑦ ذِرَاعٌ: لاس، شرعی ګز (ددې نه مراد نزدیکت دې). ⑧ فَيَسْبِقُ: أَيْ: يَغْلِبُ عَلَيْهِ: رامخکښې شی، غالب شی.

(۱) اخرجه البخاري کتاب بدء الخلق /باب ذکر الملائکة (رقم-۳۲۰۸) ومسلم فی کتاب القدر باب کیفیة خلق الآدمی فی بطن أمه وکتابة رزقه وأجله وعمله وشقاوته وسعادته (رقم-۱ - (۲۶۴۳) وابوداود کتاب السنة/باب الدلیل علی زیادة الإیمان ونقصانه (رقم-۴۷۰۸) والترمذی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن الأعمال بالخواتیم (رقم-۲۱۳۷) وابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فی القدر (رقم-۷۶)

تسهیلات:

قوله:حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دحدثنا په صيغه سره د روايت عظمت: دلته حدثنا هغه مبارك لفظ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه استعمال کړې دې چه په لاکهونو اولياؤ الله او محدثين عظامو په ډير زيات احتياط سره ساتلې. بيا دَ خوند خبره دا ده چه محدث دَحضورپاك ذات بابركات دې. دغه شان په واقعه دَ دجال حديث کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مبارك لفظ [حدثنی تميم الداری] فرمائيلو سره استعمال کړې دې. دا دَ محدثين کرامو او شيوخ الحديث دَپاره لوئی اعزازدې.

قوله:وَهُوَ الصَّادِقُ الْمَصْدُوقُ:

دصادق اومصدوق په مفهوم کښې درې اقوال: ① صادق هغه وی چې ټول اقوال ئې رښتينی وې اومصدوق هغه وی چې د هغه ټول اعمال رښتيا وی.

② صادق هغه دې چې په ښه بد پوهه شی نو رښتيا وائی اومصدوق هغه دې چې د ابتداء څخه رښتينې وی.

③ صادق هغه دې چې د واقعه موافق خبر ورکوی او مصدوق هغه وی چې کوم خبر ورکړی نو واقعه د هغې مطابق واقع کيږی. په نبی علیه السلام کښې دا ټول صفات جمع وو.

په صادق او مصدوق کښې فرق: صادق في نفسه رښتينې وی او مصدوق من غيره رښتينې وی. يعنی نورخلق هم هغه ته رښتينې وائی.

قوله:يُجْمَعُ فِي بَطْنِ أُمِّهِ: حافظ توربشتی رحمه الله دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه يو روايت ذکرکړې دې په کوم کښې چه ذکر دی چه نطفه څلويښت ورځو پورې دَ بچی دَ مور په ټول بدن کښې ترديې چه ديو يو ويښته او دهر يو نوك لاندې گردش کوی اودې نه پس دَ وينې په شکل کښې رحم ته تلو سره قرار نيسی. هم داحقيقت په دې روايت کښې [يجمع فی بطن امه] کښې ذکرکړې شوې دې.

قوله: اربعين يوما:

په مختلفومرحلوکښې د انسان په پيدائش کښې حکمتونه: ①په دې کښې انسان ته د تدريج تعليم ورکول دی چې زه سره د قدرته انسان په څلويښتو ورځو کښې پيدا کوم نو تاسو زما پشان قدرت نه لرئ ولې تلوار کوئ.

② انسان چې په خپلو دې مراحلو باندې نظر اوکړی نو تکبر به کوی.

③ په دې کښې په مور باندې ډيربوج نه وی بلکه په مزه مزه دهغې بدن د رحم د بوج سره بلديږی.

اشکال: ددې حدیث څخه معلومیږی چې فرښتې د دریم اربعین څخه روسته راځی او د مسلم په روایت کښې دی چې څلویښت ورځې پس فرښتې راځی او د نطفه څخه علقه او مضغه جوړیږی نو په دواړو روایاتو کښې تعارض دې.

داشکال جواب: د مسلم په روایت کښې چې د کوم راتګ ذکر دې دهغې څخه فرشته مراد ده چې د نطفې حفاظت کوی اودلته چې د کومې راتګ ذکر دې نو ددې څخه دتقدیرلیکلو واله فرشته مراد ده.نوځه تعارض پاتې نشو.

قوله: فیکتب عمله:

د فرښتو د لیکلو په محل کښې احتمالات: ① دا لیکل د ماشوم په تندی لیکلی شی

② هغه په لاس لیکلی شی

③ په څه تختی یا کاغذ باندې اولیکلی شی اودهغه په غاړه کښې واچولې شی خو مونږ ته په نظر نه راځی.لکه څنګه چې د حفاظت فرښتې موجود وی خو مونږ ته په نظر نه راځی.

اشکال: په دې روایت کښې د څلور خبرو لیکلو ذکر دې او په نورو روایاتوکښې د پنځو خبرو لیکلو ذکر دې دا ښکاره تعارض دې.

داشکال درې جوابونه: ① په دې روایت کښې اختصار دې او هلته تفصیل دې

② عدد اقل د اکثر نفی نه کوی.

③ هلته ئې دوه جدا جدا ذکر کړی دی او دلته ئې دواړه په یوځائې ذکر کړی دی

اشکال: د دې روایت څخه معلومیږی چې اول تقدیرلیکلی شی بیا روح پوک وهلی شی او د بیهقی په روایت کښې ددې بالعکس دی.

د اشکال دوه جوابونه: ① د بیهقی روایت واقعی نه دې

② د بیهقی روایت مرجوح دې او د مشکاة روایت راجح دې.

قوله: فَيَعْمَلُ: دَ الله تعالی په عمل کښې دا دَ اول نه وه چه دا سړې به په خپل کسب او اختیار سره دا کار کوی دَ کوم په وجه چه به دَ جنت یا دوزخ مستحق جوړیږی. دې نه پس په لوح محفوظ کښې په توګه دَ تقدیر اولیکلې شو. فرښتې دَ مور په خیټه کښې ماشوم سره متعلق چه څه لیکی هغه هم دَ دغه تقدیر مطابق دَ لوح محفوظ نه اخستو سره لیکی. فیعمل سره دا اشاره اوکړې شوه چه دَ بنده کسب دَ دخول جنت او دخول دوزخ دَپاره ضروری سبب دې. صرف دَ تقدیر په لیکلو باندې دخول نه دې نو انسان نه مجبور دې اونه مختار دې.

قوله: فَيَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ:

د تقديري ليكلو مسابقت: معلومه شوه چه اعمال امارات، علامات او اسباب دی. اصل فيصله دَتقديرِ الهی دَ وجې نه کيږی. نو آخر هم دَهغه طرف ته واپس راګرځيدل دی.

قوله: فَيَدْخُلُهَا:

د سوء خاتمې څخه ويره: په دې حديث کښې دَ سالك دَپاره تنبيه ده چه هروخت دي په خوف او رجاء کښې اوسی. دعجب تکبر او دبدو اعمالو نه دې ځان اوساتی. اصل اعتبار دَ خاتمې دې.

[۸۳] په خاتمه باندې د اعمالو دارومدار

۸۳ –(¹)[۵] ۱ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ، وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، ۲ وَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ، ۳ وَإِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه روايت کوي چې نبی کريم ﷺ وفرمايل چې بنده د دوزخيانو رنګه کارونه کوي ليکن هغه جنتي وي ۲ او د جنتيانو رنګه کارونه کوي خو هغه دوزخي وي، ۳ ځکه چې (دخلاصی لار او عذاب) دار ومدار په آخري خاتمې باندې دي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① الْخَوَاتِيمِ: أَيْ: مِمَّا يَخْتِمُ عَلَيْهِ أَمْرُ عَمَلِهَا: يعنی په کوم عمل چه دانسان خاتمه اوشی.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْعَبْدَ لَيَعْمَلُ عَمَلَ أَهْلِ النَّارِ:

د سوء خاتمې څخه ويريدل: يعنی د الله ﷻ په علم کښې وو چې هر کس به په خپل کسب او اختيار دا فعل کوی، نو اګر چې ظاهر کښې هغه بهٔ اهل جنت څخه په نظر ښکاری خو د الله ﷻ د علم مطابق به هغه دوزخی وی. او آخر ده دَ اهل دوزخ عمل په خپل کسب او اختيار سره اوکړو نو د اهل دوزخ څخه شو. داشان معامله ددې بل رخ هم ده، نودَ اعمالو دارومدار په خاتمه باندې دې. په عالم غيب کښې دَ چا متعلق دا فيصله نه شی کولې چه دا دوزخی يا جنتی دې. دا مطلب نه دې چې يو مسلمان د خاتمې په اعتبار سره مسلمان وئيل پريږدی. هرکله چې هغه د شريعت پابند دې نو معامله به دمسلم وی، خو د عالم غيب خبره جدا ده. د هغه ځائې فيصله د يو کافر مسلم دپاره د اوسه نه شی کيدې ځکه چې دارومدار په خاتمه باندې دې. حديث د طاعاتو د کثرت تعليم ورکړې دې او عجب

(¹) اخرجه البخاری کتاب القدر /باب: العمل بالخواتيم (رقم-۶۶۰۷) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب غلظ تحريم قتل الإنسان نفسه، وأن من قتل نفسه بشيء عذب به فی النار، وأنه لا يدخل الجنة إلا نفس مسلمة(رقم-۱۷۹ - (۱۱۲)

او تکبرنه ئې منع کړې ده. دا شان د ظاهري اعمالو په وجه په چا باندې د اهل جنت یا اهل جهنم حکم نشي لګولې، ظاهري اعمال صرف علامات دي، اصل فیصله هم هغه ده کومه چې تقدیر کښې لیکلې شوې ده.

[٨٤] د جنت او دوزخ فیصله او تقدير

٨٤-(¹)[٦] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: «دُعِيَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى جِنَازَةِ صَبِيٍّ مِنَ الْأَنْصَارِ، ② فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ طُوبَى لِهَذَا عُصْفُورٌ مِنْ عَصَافِيرِ الْجَنَّةِ، لَمْ يَعْمَلِ السُّوءَ، وَلَمْ يُدْرِكْهُ. ③ فَقَالَ: (أَوَغَيْرُ ذَلِكِ يَا عَائِشَةُ) إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ أَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا، وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ، ④ وَخَلَقَ لِلنَّارِ أَهْلًا، خَلَقَهُمْ لَهَا، وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې د يو انصاري ماشوم په جنازه کښې نبی کريم ﷺ راوغوښتل شو، ② ما اوويل يا رسول الله ﷺ چې دي ماشوم ته دي خوشحالي وي دي خو د جنت د مرغيو څخه يوه مرغي ده ده خو نه څه غلط کار کړي دي او نه د بدي وعمرته رسيدلي دي، ③ حضور ﷺ وفرمايل اي عائشي! چې د دې څخه ما سوا به نور څه وي؟ يعنی د ده د جنتي کيدو مضبوط يقين مه کوه ولي چې الله پاك د جنت د پاره هم مستحق خلق پيدا کړي دي، کله چې هغه د خپلو پلارانو په شاګانو کښې وه. ④ او الله پاک د دوزخ دپاره هم مستحق خلق پيدا کړی دی کله چه هغوی دخپلو پلارانو په شاګانو کښې وو. مسلم

حل اللغات: ① دُعِيَ: مجهول صيغه ده، راوبللې شو، ② صَبِيٍّ: ماشوم، ③ طُوبَى: مَعْنَاهُ فَرَحٌ: خوشحالي او خير دې وی، ④ عُصْفُورٌ: أَيْ: طَيْرٌ صَغِيرٌ: وړه مرغۍ، چنچڼره، ⑤ السُّوءَ: أَيِ: الذَّنْبُ: بدی، ګناه، ⑥ أَصْلَابِ: د صُلب جمع ده، شاګانو ته وائی.

تسهيلات:

قوله: عُصْفُورٌ مِنْ عَصَافِيرِ الْجَنَّةِ:

په تشبيه کښې دوه اقوال: ① ملاعلی قاري رحمه الله فرمائی داتشبيه بليغ ده او په جنت کښې دَ عصافيرکيدل "ولحم طير مما يشتهون" سره ثابت دی.

② داتشبيه نه ده ځکه چه په جنت کښې دَ مشبه به دَپاره دَ عصافيرد چرچڼرو وجود نشته دې دغه شان داخه استعاره وغيره هم نه ده بلکه داکلام په دعویٰ اوادعاء باندې مبنی دې چه اول دعویٰ اوکړې شوه چه په جنت کښې چرچڼرې دی اوبیادې سره تشبيه ورکړې شوه. دَ حضرت عائشه رضي الله عنها خيال وو چه داجنتی دې.

---

¹) اخرجه مسلم كتاب القدر باب معنى كل مولود يولد على الفطرة وحكم موت أطفال الكفار وأطفال المسلمين(رقم-٣٠ -(٢٦٦٢) والنسائى كتاب الجنائز/ باب الصلاة على الصبيان(رقم-١٩٤٧)واحمد فى المسند:٦/ ٢٠/.

قوله: فَقَالَ: أَوَغَيْرُ ذٰلِكِ يَا عَائِشَةُ:

مذكوره جملې په تركيب كښې درې اقوال: ① ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى دَ مشهورروايت مطابق دا عبارت دَ "واؤ" په فتحې او دَ راء په ضمې او دَ كاف په كسرې سره دې لكه چه واؤ حاليه دې اصل عبارت داسې دې "أتعتقدين ما قلت والحق غيرذلك" اوهغه داچه په يقينى توګه باندې داسې نه شى وئيلې چه داماشوم دَاهل جنت نه دې.

② علامه طيبى رحمه الله "اوغيرذلك" كښې واؤ دَ او په معنى كښې هم اخستې دې يعنى "الواقع هذا أوغيرذلك" ③ دا واؤ دَ بل په معنىٰ كښې وى.

قوله: وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ:

د پلرونو په شاګانو كښې د هركس د انجام علم: يعنى دَالله تعالى په علم ازلى كښې دَاول نه دامعلومه وه چه داخلق دوزخيان دى يا جنتيان دى. اصلاب دَ آباؤ دَ وخت نه معلوم وه اوهم دغه شان په لوح محفوظ كښې هم اوليكلې شو ليكن دا هرڅه دَهغه اشخاصو تفصيلى اعمالولره تفصيلاً كتلوسره ليكلې شوى دى. باالآخربه هغه خلق په خپل كسب اواختيار اودَ خپلو افعالو اواعمالودَوجې نه په خپل خپل مقام ته ځى.

اشكال: د مؤمنانود بچو باره كښې خو د رواياتو څخه معلومه ده چې دوى به جنتيان وى نو بيا نبى عليه السلام به عائشه رضي الله عنها باندې اعتراض ولې اوكړو؟

داشكال درې جوابونه: ① دادَهغه وخت خبره ده كوم وخت چه په حضورپاك باندې دَاطفالو باره كښې وحى نه وه راغلې. روستو وحى راغله چه اطفال به په جنت كښې وى.

② ماشومان چونكه د والدينو تابع وى اود والدينو باره كښې په يقين سره نشى وئيلې چې دا جنتيان دى ددې وجې نبى عليه السلام په عائشه رضي الله عنها باندې انكار اوكړو.

③ نبى كريم صلى الله عليه وسلم حضرت عائشه رضي الله عنها ته دا تعليم وركړوچه بغيردَ څه قطعى علم نه قطعى حكم او قطعى فيصله مناسب نه دى ځكه چه ماشومان دَ مورپلار تابعدار وى كيدې شى چه دَ پلارخاتمه بالخيرنه وى بلكه څه بل څه وى.

[٨٥] آيا مونږ په ليكلى شوى تقدير بهروسه وكړو او عمل پريږدو؟

٨٥ –(١)[٧] ١ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: («مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا وَقَدْ كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ، وَمَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ). ٢ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَفَلَا نَتَّكِلُ عَلَى كِتَابِنَا، وَنَدَعُ الْعَمَلَ؟

---

[١] اخرجه البخارى كتاب الجنائز،/باب موعظة المحدث عند القبر، وقعود أصحابه حوله (رقم-١٣٦٢) ومسلم كتاب القدر /باب كيفية خلق الآدمى فى بطن أمه وكتابة رزقه وأجله وعمله وشقاوته وسعادته (رقم-٦ - (٢٦٤٧) والترمذى كتاب القدر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى الشقاء والسعادة (رقم-٢١٣٥) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم /باب التغليظ فى تعمد الكذب على رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-٣١)

٢ قَالَ: اعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ؟ ٣ أَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ السَّعَادَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ، ٥ وَأَمَّا مَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الشَّقَاوَةِ فَسَيُيَسَّرُ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ، ٦ ثُمَّ قَرَأَ: {فَأَمَّا مَنْ أَعْطَى وَاتَّقَى - وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى} [الليل: ٥-٦] الْآيَةَ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت علي كرم الله وجهه روايت كوي چې نبی كريم ﷺ وفرمايل په تاسو كښې د هر سړي ځاي الله تعالى ﷻ په جنت او دوزخ كښې ليكلي دي، (يعني دا معلومه شوې ده چې كوم خلق جنتيان دي او كوم خلق دوزخيان دي) ٢ صحابه ؤ ﷺ عرض وكړو يا رسول الله ﷺ چې آيا مونږ په خپل ليكل شوي تقدير بروسه ونكړو؟ او عمل پريږدو، ٣ رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو عمل كوي ځكه چې كوم سړي د كوم شي د پاره پيدا شوي دي هغه ته به په هغه باندې آساني اوتوفيق وركول كيږي، ٤ نو چې كوم سړي د نيك بختي اهل وي الله پاك ﷻ هغه ته د نيك بختي دعملونو توفيق وركوي ٥ او كوم سړي چې د بد بختي اهل وي هغه ته د بد بختي د عملونو موقع وركول كيږي، ٦ د دې وروسته حضور ﷺ دا آيت اووئيلو (ترجمه) چاچې د الله په لاركي څه وركړه، پرهيزګاري يې وكړه او ښه خبره (دين واسلام) يې رشتيني ومنلي هغه ته به مونږ د آسانتيا ځاي (جنت) آسانه كړو، ليكن چا چې بخل اوكړو او (د نفساني خواهشاتو اود دنياپه رنګ وروغن كښې ګيرشو) اود آخرت د نعمتونو څخه بې پرواشو، او بهتره خبره (دين واسلام) يې دروغ وګڼل نو د هغه دپاره به ګران ځاي (د دوزخ لاره) آسانه كړو الخ. بخاري ومسلم

حل اللغات: ① مَقْعَدُهُ: أَيْ: مَوْضِعُ قُعُودِهِ: ځائې د اوسيدو. ② أَفَلَا نَتَّكِلُ: أي أَفَلَا نَعْتَمِدُ: آيا مونږ اعتماد اونه كړو. ③ مُيَسَّرٌ: أي مُوَفَّقٌ، وَمُهَيَّأٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ: يعنى څه دپاره چه پيدا دې دهغه كار ورته وركړې شوې او آسان كړې شوې دې، ④ السَّعَادَةِ: نيک بخت (جنت والا خلق)، ⑤ فَسَيُيَسَّرُ: أَيْ: يُسَهَّلُ، وَيُوَفَّقُ: ورته آسانولې شي، توفيق ورته وركولې شي. ⑥ الشَّقَاوَةِ: بد بخته (دا د سعادة ضد دې). ⑦ وَاتَّقَى: أَيْ: خَافَ مُخَالَفَتَهُ: اويريږي دالله تعالى د نافرمانئ او دهغه دعذاب نه، او د ګناهونو نه ځان اوساتى. ⑧ الْحُسْنَى: كلمه طيبه يعنى لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ.

تسهيلات:

قوله: كُتِبَ مَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ:

ليكل دعلم مطابق كيدل: يعنى الله ﷻ خپل علم ازلى كښې اوليكل چې ددې سړی خاتمه به په خپل كسب او اختيار په كفر باندې كيږي. نو دده مقام به جهنم وی. يا به ددې خاتمه په خپل كسب او اختيار په ايمان باندې كيږی نو دده مقام به جنت وی.

قوله: قَالَ، اعْمَلُوا:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: ① د علامه خطابی رحمه الله رائې ده چې دلته اصل

کښې دوه څیزونه دی، یو تقدیر الهی دې کوم چې امر باطنی دې. او هم دا څیز مؤثر حقیقی دې، او دخول د جنت یا جهنم ذریعه دې. بل امر ظاهری دې کوم چې د بنده اعمال دی کوم چه په تقدیر باندې مرتب کیدلو۔دپاره د امارت ظاهریه او علامات ظاهریه حیثیت لری.او خپله فی نفسه علت نه دی. صحابه کرامو غوښتل چې دا امر ظاهری یعنی اعمال پریږدی او امر باطنی یعنی په تقدیر باندې اکتفاء اوکړی، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې دا صحیح نه دی بلکه امر ظاهری اختیار کړئی ځکه چې په دې سره دَ امر باطنی دپاره آسانی پیدا کیږی او دا امر باطنی باندې په طور د دلیل او قرینه پیش کولې شی.

② دعلامه طیبی رحمه الله دقول مطابق د صحابه کرامو منشاء داوه چې هغوئ خیال اوکړو چې هرکله د هر کس مقام د اول څخه جنت یا دوزخ دې نو ددې اعمالو بیا څه ضرورت پاتې شو. په دې وجه هغوئ د ترک عمل اجازت طلب کړو. نو نبی کریم ﷺ ورته په جواب کښې د عمل کولو ترغیب ورکړو. او اهمیت ئې ورته بیان کړو چې عمل او عبادت و معبودیت حق دَ الوهیت دې نو د عبدیت تقاضا داده چې په عمل کښې مشغول اوسه. او ددې څخه خپل ځان بری الذمه مه ګڼړه. اګر چې الله ﷻ هر چا دپاره یو مقام لیکلی دې خو ستا عملونه دغې مقام ته دَ رسیدو دَ پاره ظاهری اسباب دی. او هر کس ته به د هغه دَ مقام دَ اعمالو مطابق توفیق ورکولې کیږی. نو اعمال علت نه دې مګر علامت ضرور دې چې دا کس د څه قسمه مقام په تیارئی کښې لګیا دې. نود هر یو د عمل څخه به د هغه د انتهاء سفر معلومات کیږی. [إن خيرا فخير وإن شر أفشر] نو تقدیر د تعطل د اعمالو ذریعه نه دَه بلکه په عملونو کښې د تیزې کولو سبب دې. [الکاشف ٢٤٣، ١/٢٤٤]

[٨٦] لیکل شوې عمل به ضرور دهغه څخه کیږی

٨٦–(١)[٨] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَا، أَدْرَكَ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ، ② فَزِنَا الْعَيْنِ النَّظَرُ، وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ، ③ وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِي، وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذَلِكَ، وَيُكَذِّبُهُ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ④ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: («كُتِبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ نَصِيبُهُ مِنَ الزِّنَا مُدْرِكٌ ذَلِكَ لَا مَحَالَةَ، ⑤ الْعَيْنَانِ زِنَاهُمَا النَّظَرُ، وَالْأُذُنَانِ زِنَاهُمَا الِاسْتِمَاعُ، وَاللِّسَانُ زِنَاهُ الْكَلَامُ، وَالْيَدُ زِنَاهَا الْبَطْشُ، وَالرِّجْلُ زِنَاهَا الْخُطَا، ⑥ وَالْقَلْبُ يَهْوَى وَيَتَمَنَّى، وَيُصَدِّقُ ذَلِكَ الْفَرْجُ، وَيُكَذِّبُهُ»").

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل الله پاک د

[١]) اخرجه البخاری کتاب الدعوات /باب الدعاء مستقبل القبلة(رقم-٦٣٤٣) ومسلم کتاب القدر باب قدر علی ابن آدم حظه من الزنا وغیره(رقم-٢٠ - (٢٦٥٧) وابوداود کتاب الطلاق/ باب فی الطلاق قبل النکاح(رقم-٢١٩٢)واحمد فی المسند:١٧٦/٢

انسان په تقدیر کښې چې څومره حصه د زنا لیکلي ده هغه به ضرور د هغه څخه په عمل کښې کیږي، ۲ د سترګو زنا خو د نامحرم طرف ته کتل دي او د ژبې زنا د نا محرمو ښځو سره شهوت ناکه خبري کول دي ۳ او نفس آرزو او خواهش کوي او شرمګاه د دې آرزو تصدیق کوي یا تکذیب، ۴ (د بخاري رحمه الله و مسلم رحمه الله) یو روایت دي چې: د سړي په تقدیر کښې د زنا څومره حصه لیکل شوې ده هغه به ضرور په عمل کښې راولي، ۵ د سترګو زنا (د نامحرم طرف ته) کتل دي، د غوږونو زنا (د نامحرمي ښځي څخه د شهوت خبري اوریدل او د ژبې زنا د نامحرمي ښځي سره د شهوت) خبري کول دي او د لاسو زنا (نا محرمي ښځي په بده اراده سره) مسه کول دي او د پښو زنا (د بد کاري طرف ته) تلل دي ۶ او زړه آرزو خواهش کوي او شرم ګاه د هغه تصدیق یا تکذیب کوي.

حل اللغات: ① حَظَّهُ : أَيْ: نَصِيبَهُ: حصه، ② لَا مَحَالَةَ: أَيْ: لَا بُدَّ لَهُ: ضرور، خامخا به واقع کیږي، ③ الْمَنْطِقُ: أَيِ: التَّكَلُّمُ عَلَى وَجْهِ الْحُرْمَةِ: د نامحرمه ښځو سره د شهوت خبرې کول، ④ النَّفْسُ: أَيِ: الْقَلْبُ: نفس، زړه، ⑤ تَمَنَّى : آرزو کوی، ⑥ تَشْتَهِي: خواهش کوی، ⑦ الْبَطْشُ: أَيِ: الْأَخْذُ، وَاللَّمْسُ: نیول، لاس اوړل، ⑧ الْخُطَا: د خُطْوَة جمع ده، وَهِيَ مَا بَيْنَ الْقَدَمَيْنِ: د دوه قدمونو منځ کښې فاصلې ته وائی، (دلته ترې تلل مراد دی). ⑨ يَهْوَي: أَيْ: يُحِبُّ، وَيَشْتَهِي: محبت کوی، خواهش لری.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللَّهَ كَتَبَ..الخ:

د کتب په مفهوم کښې دوه اقوال: ① ځینو حضراتو کتب لره د قدر په معنی کښې اخستې دې. [أي قدر في الازل أن يجري على ابن آدم الزنا] دې تقدیر ازلی سره به هغه انسان په خپل کسب او اختیار ددې قسمه زنا ارتکاب کوی. ددې حدیث پاك څخه معلوم شو چې د زنا ډیر مراتب دی. یو زنا نه بغیر زنا ده، بله حظ العین ده، یو حظ اللسان ده یو حظ القلب ده، یو زنا حظ الاذنین ده، ددې ټولو آخر کښې د زنا آخری او عملی درجه ده. کومې ته چې زنا بالفرج وائی. په دې آخری درجه کښې چې څوك مبتلا شو نو دا د الفرج يصدقه مصداق دې. او څوك چه په دې آخری درجه کښې مبتلا کیدو نه بچ شو نو دا د الفرج یکذبه مصداق دې.

② حافظ تورپشتی رحمه الله فرمائی چې کتب د ثبت په معنی کښې دې. د فرض او واجب په معنی کښې نه دې. مراد دادې چې الله تعالی ابن آدم کښې داسې حواس پیدا کړې دی چې دهغې په ذریعه هغه د زنا لذت محسوسوی او دې نه پس هغه دفرج په ذریعه ددې تکمیل کوی، اوس که عملا زنا اوکړه نو د حواسو ددې لذتونو باره کښې دا د فرج د طرفه تصدیق اوشو او که د زنا ئی بالکل ارتکاب ئې اونه کړو نو د حواسو باره کښې داد فرج دَ طرف نه تکذیب اوشو. دَ [والفرج يصدق ذلك ويكذبه] هم دا مطلب دې.

قوله: وَزِنَا اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ:

د اندامونو زنا كول: دا حديث مسلمانانو ته دَ سترګو، غوږونو، ژبې، پوزې اودَ زړه دَ زنا نه دَمنع كولو تعليم وركوى حالانكه خلق دا څيزونه په زنا كښې نه شميرى بلكه صرف عملى زنا جرم ګڼړى.

[۸۷] د تقدير ليک خامخا پوره كيږى

۸۷ـ()[۹] ۱ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: «أَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ مُزَيْنَةَ قَالَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَرَأَيْتَ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ الْيَوْمَ، وَيَكْدَحُونَ فِيهِ؟ ۲ أَشَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ، وَمَضَى فِيهِمْ مِنْ قَدَرٍ سَبَقَ، أَوْ فِيمَا يَسْتَقْبِلُونَ بِهِ مِمَّا أَتَاهُمْ بِهِ نَبِيُّهُمْ، وَثَبَتَتِ الْحُجَّةُ عَلَيْهِمْ؟ ۳ فَقَالَ: لَا، بَلْ شَيْءٌ قُضِيَ عَلَيْهِمْ، وَمَضَى فِيهِمْ، وَتَصْدِيقُ ذَلِكَ فِي كِتَابِ اللَّهِ - عَزَّ وَجَلَّ -: {۴ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّاهَا - فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا} [الشمس: ۷-۸]» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت عمران بن حصين ﷺ روايت كوي چې يو ځل د مزينه قبيلې دوه سړي د رسول الله ﷺ په دربار كې حاضر شو او عرض يي اوكړو چې يا رسول الله (ﷺ) مونږ ته دا اوويلو چې نن (په دنيا كښې) خلق عمل كوي او د عملونو په كوشش كښې لګيا دي، ۲ آيا دا هغه شي دي چې د هغه حكم شوې دي او د تقديرليك جوړ شوې دي، يا دا عمل دهغوئ احكامو موافق دي كوم چې آئينده كيدونكي دي كوم چې د هغوئ نبي راوړي دي او په هغوئ دليل قايم شوې دي، ۳ حضور ﷺ وفرمايل نه، دا هغه شي دي چې د هغه فيصله شويده او د تقديرليك جوړ شويدي او د دې تصديق د كتاب الله د دې آيت څخه كيږي ۴ وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰهَا فَأَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰهَا، (القرآن الحكيم)، (ترجمه) قسم دي د انسان په روح او په هغه ذات چې هغه جوړ كړي دي انسان لره، بيا د هغه د بد كاري او پرهيزګاري (دواړو) القاء يي وكړه. مسلم

حل اللغات: ① مُزَيْنَةَ: اسْمُ قَبِيلَةٍ: يوه قبيله ده. ② يَكْدَحُونَ: كدح هغه محنت او مشقت ته وائى په كوم سره چه په بدن باندې نښې جوړې شى. ③ قُضِيَ: أَيْ: قُدِّرَ فِعْلُهُ عَلَيْهِمْ: چه فيصله او حكم ئې شوې دې يعنى په تقدير كښې دا كار كول دوى دپاره ليكلى شوى دى. ④ مَضَى: د مجردو نه ماضى صيغه ده، په معنى د تللو خو دلته ترې مراد: أَيْ: نَفَذَ: چه جارى شوې او نافذ شوې ده. ⑤ قَدَرٍ: تقدير، ⑥ سَبَقَ: أَيْ: فِي الْأَزَلِ: چه د مخكښې نه په ازل كښې ليكلې شوې دې. ⑦ يَسْتَقْبِلُونَ: چه په مستقبل يعنى آئنده راتلونكې وخت كښې به ئې كوى، يا دوى به ورسره مخامخ كيږى. ⑧ نَفْسٍ: د نفس نه مراد يا خو آدم عليه السلام دې يا ټول نفوس انسانان مراد دى. ⑨ سَوَّاهَا: أَيْ: خَلَقَهَا عَلَى أَحْسَنِ صُورَةٍ: چه برابر ئې كړو يعنى په ښائسته صورت اوشكل ئې جوړ كړو. ⑩ - فَأَلْهَمَهَا: د باب افعال نه د ماضى صيغه ده، الهام او القاء ئې ورته اوكړه، په زړه كښې ئې ورته واچول.

[۱] اخرجه مسلم كتاب القدر باب كيفية خلق الآدمى فى بطن أمه وكتابة رزقه وأجله وعمله وشقاوته وسعادته(رقم ۱۰ (۲۶۵۰)

د راوي مختصر تعارف: د حدیث د راوی نوم عمران بن حصین دې کنیت ئې ابونجید دې دهجرت په اول کښې ئې اسلام قبول کړې وو (۲)

په غزاګانو کښې شرکت: په بعضې غزاګانو کښې د نبی کریم ﷺ سره شریک شوې وو. د نبی کریم ﷺ په ژوند کښې به برابر مدینه منوره ته تللو. د نبی کریم ﷺ د وفات نه پس ئې مدینې ته راتګ پرې خودلو ګوشه نشینی ئې اختیار کړه دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کښې کله چه بصره آباده شوه نو هلته ئې کړه یوړه حضرت عمر رضی الله عنه د فقه تعلیم د دوی په ذمه لګولې وو. (۳) دحضر عمر رضی الله عنه نه پس چه کوم جنګونه شوی وو. نو دوی د دغه جنګونو نه لرې پاتې شوې وو. (۴) عالمه ابن عبد البر رحمه الله فرمائی ((كن من فضلاء الصحابة وفقهائهم)) عمران د فقهاء صحابؤ ځنی وو (۵) حسن بصری رحمه الله فرمائی چه د عمران بن حصین رضی الله عنه پشان بهترین سړې بصرې ته نه دې راغلې (۶)

د ژوند خصوصیات: د دوی د ژوند خصوصیات دا وو. ① د رسول الله ﷺ احترام ② د سنت پابندی ③ په عباداتو کښې ریاضت او مشقت ④ د دوی ذات د خلق مراجع وه. په کومه لاره چه به تیریدلو خلقو به ترې تپوسونه کول

وفات: د استسقاء په بیمارئ بیمار شو. او هم په دغه مرض کښې په ۵۲ هجری کښې په بصره کښې وفات شو (۷)

مرویات: د دوی د مرویاتو تعداد ۱۳۰ دې په احادیثو کښې ډیر زیات محتاط وو. د دې وجې د دوی مرویات کم دی ۸ احادیث متفق علیه دی او په بخاری کښې ۴ او په مسلم کښې ۹ دی

تسهیلات: قوله: مِنْ قَدَرٍ سَبَقَ:

په کلمه د من کښې دوه احتمالات: ① من بیانیه دې په دې صورت کښې به قضاء اوقدر دواړه هم په یومعنی کښې وی اوهم دغه معنی راجح هم ده.

② من تعلیلیه دې. " ای قضی علیهم القضاء لاجل قدر سبق اوفیما یستقبلون به" یعنی په دوی باندې د سابقه تقدیرپه وجه باندې فیصله کړې ده.

قوله: مِمَّا أَتَاهُمْ بِهِ نَبِيُّهُمْ:

د جملې تقدیری عبارت: تقدیری عبارت داسې وی "أخبرنی أی ما یعمل الیوم یجتهدون فیه أشئ یعنی أهو شئ قضی الخ" نو هو مبتدا ده او شئ دَدې خبر دې.

دمذکوره جملې مطلب: یو پوښتنه کونکو دا تپوس اوکړو چه دَ اول نه څه لیکل یا دَ تقدیر فیصله شوې ده یامعامله نوې ده؟ حضورپاک په جواب کښې اوفرمائیل چه او دَ اول نه لیکلې دی.

د دووه تپوئویوجواب ورکولوکښې حکمت: دَ دې دوارو کسانو دَ سوال دَ دوو شقونونه حضوراکرم یو شق اختیارکړو اوسره جواب ارشاداوفرمائیلو چه کوم څه ښکاره کیدو سره راتلونکی وخت کښې راځی هغه دَ سابقه قضاء اوقدر لاندې راځی په دې باندې دَ دلیل په توګه حضوړپاك دا آیت مبارك وړاندې کړو ﴿ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَاهَا ﴾ په دې کښې الهمها دَ ماضی صیغه ده په کوم سره چه دَ قضاء اوقدرسابقیت طرف ته اشاره ده.

[۸۸] دځان خصی کولو حرمت

۸۸ – ()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنِّي رَجُلٌ شَابٌّ، [۲] وَأَنَا أَخَافُ عَلَى نَفْسِي الْعَنَتَ، وَلَا أَجِدُ مَا أَتَزَوَّجُ بِهِ النِّسَاءَ - كَأَنَّهُ يَسْتَأْذِنُهُ فِي الِاخْتِصَاءِ - [۳] قَالَ: فَسَكَتَ عَنِّي، ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذَلِكَ، فَسَكَتَ عَنِّي، ثُمَّ قُلْتُ مِثْلَ ذَلِكَ، [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (يَا أَبَا هُرَيْرَةَ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ، فَاخْتَصِ عَلَى ذَلِكَ، أَوْ ذَرْ») رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ روایت کوي چې ما ونبي کریم ﷺ ته عرض اوکړو چې یا رسول الله (ﷺ) زه یو ځوان سړی یم [۲] او زه د خپل نفس څخه ویریږم چې د بدکاري طرف ته مائل نه شی او په ما کښې دومره طاقت (وس) نشته چې د یو ښځې سره واده وکړم، ګویا ابوهریره ﷺ په خپل ځان کښې د مردانه طاقت د ختمولو اجازت غوښتي، [۳] ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله (ﷺ) په دې اوریدو سره خاموشي اختیار کړه، ما دوباره داسې وویل، نو رسول الله ﷺ بیا چپ پاتې شو، ما بیا عرض اوکړو، په دې ځل هم رسول الله ﷺ څه ونه ویل، ما بیا هم دغسې عرض اوکړو، [۴] نو حضور ﷺ وفرمایل چې ابوهریره (ﷺ) څه چې کیدل دي (هغه ستا په تقدیر کښې لیکلو سره قلم وچ شوې دي، نو تاته اختیاردي که مردانه طاقت ختم کړې یا نه کړې. بخاري.

حل اللغات: ① شَابٌّ: ځوان (زیات شهوت والا)، ② الْعَنَتَ: د ګناه، فجور او زنا په معنی کښې دي. ③ الِاخْتِصَاءِ: أَيْ: قَطْعِ الْأُنْثَيَيْنِ: دخصیتین ویستلو په معنی کښې دي. ④ جَفَّ: اوچ شو قلم، (دا کنایه ده چه د مقداراتو دکتاب نه قلم فارغ شو). ⑤ لَاقٍ: چه پیښیږی به درته، ⑥ فَاخْتَصِ: ته ځان خصی کړې یعنی مردانه قوت ختم کړې، ⑦ ذَرْ: د امر صیغه ده، پریږده (یعنی که مردانه قوت ختموې اوکه نه ختموې).

تسهیلات:

قوله: وَلَا أَجِدُ مَا أَتَزَوَّجُ بِهِ النِّسَاءَ:

د ما د کلمې څخه مراد: د ما د کلمې څخه مراد نفقهٔ واجبه ده. یعنی زه غریب یم اول خو به

---

۱) اخرجه البخاری کتاب النکاح،/باب ما یکره من التبتل والخصاء(رقم-۵۰۷۶) والنسائی کتاب الجهاد/باب: النهی عن التبتل (رقم-۳۲۱۵)

راته ځوک خپله لور خور راکړی که نه! خو ځوک راباندې دا احسان کوی نو زه د ښځې مهر اودهغې د نان نفقې وس هم نه لرم،نود دې تقاضا خودا ده چې زه واده اونکړم خو بل طرف ته زه د قوت شهوانی پوره کولوتقاضا هم لرم هسې نه چې په زنا کښې واقع شم نوپه داسې صورت کښې که زه د زنا څه ځان بچ کولوپه غرض خپل ځان خصی او نامرده کړم دا به زما دپاره څنګه وی؟

قوله: جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ:

د مذکوره جملې مفهوم: د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په بار بار تپوس کولوباندې نبی علیه السلام جواب ورکړو چې د تقدیر لیکولوڅخه روسته قلم وچ شوې دې (یعنی که په تقدیرکښې ستا دپاره ګناه لیکلې شوې وی نوهغه به خامخا واقع کیږی.نو د ځان خصی کولو ضرورت نشته.اوکه نه وی لیکلې شوې نو بلا وجه د خپل اندام ضائع کول جائز نه دی.

دخصی کولود ممانعت وجه: نبی علیه السلام د اختصاء څخه ابوهریره رضی الله عنه څنګه منع کړلو چې دا مثله ده او په اسلام کښې مثله حرامه ده.

قوله: فَاخْتَصِ عَلَى ذَلِكَ، أَوْذَرْ:

په ځان خصی کولو د نبی علیه السلام ناراضتیا: په دې کلام کښې د اختصاء اجازت نه دې، بلکه زجر او توبیخ او ملامتیا او خفګان دې چې تقدیر کښې کوم لیکلی شوی دی هم هغه به کیږی. نوڅه چې مو خوښوی هغه کوئی. او ذر کښې او تسویه او برابری دپاره دی چې د تقدیرپه وړاندې دواړه برابر دی،د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سکوت هم په خفګان دلالت کوی.

[۸۹] د خلقوزړونه د الله تعالی په قدرت کښې دی

۸۹ –(۱)[۱۱] [۱]وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]«إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمَنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ، يُصَرِّفُهُ كَيْفَ يَشَاءُ». [۳]ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]اوحضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما روایت کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل[۲] د ټولو انسانانو زړونه دالله جل جلاله د ګوتو څخه د دوو ګوتو په مینځ کښې داسې دي لکه د انسان یو زړه دي او هغه (خپلو ګوتو سره) چې څنګه غواړي زړونه اړه وي راړه وي، [۳]د دې څخه وروسته حضور صلی الله علیه وسلم د دعا په طور دا وفرمایل اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ (ترجمه) اي د زړونو اړه و نکي الله زمونږ زړونه خپل د اطاعت طرف ته راوګرځوي. مسلم

حل اللغات: ① أُصْبُعَيْنِ: د اصبع تثنیه ده، ګوتو ته وائی. ② يُصَرِّفُهُ: اړوی راړوی ئې.

[۱] اخرجه مسلم کتاب القدر باب تصریف الله تعالی القلوب کیف شاء(رقم-۱۷ - (۲۶۵۴) واحمد فی المسند:۲/۱۶۷

تسهیلات:

قوله: إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ:

دبنی آدم څخه مراد: دَ کلها ضمیر قلوب طرف ته راجع دې په دې حدیث کښې تعمیم دې چه دَ انبیاؤ اولیاؤ صلحاؤ او ابرارو او اشرارو دَ ټولو زړونه دَالله تعالی په قبضه کښې دی.

قوله: بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ:

دمتشابهاتو دوه قسمونه: ① هغه متشابه چه معلوم المعنی یعنی چې معنی ئی معلومه وی او مرادئی معلوم نه وی لکه ید، وجه، اصبع

② هغه متشابه چې غیرمعلوم المعنی والمراد دی لکه حروف مقطعات چه دَ سورتونو په شروع کښې راځی.

دالله تعالی دپاره دید په اثبات کښې درې مذاهب:

① مجسمه مشبه وائی چې د الله تعالی دپاره هم د مخلوقاتو پشان اندامونو مثلاً لاس مخ وغیره شته.

② د اهل سنت والجماعت په نیز د الله تعالی دپاره ید وغیره شته خو د مخلوقاتو پشان نه دی بلکه څنګه چې د الله تعالی د شان سره ښائی هغه شان دی.ځکه چې په نصوصو کښې راغلی دی نو انکار ترې نشی کیدې.

③ دمتاخرینو حضراتو په نیز په کوموکښې چې امام ابوحنیفه رحمه الله هم دې چې په داسې متشابهاتوکښې به تاویل کولی شی هغه تاویل چې د الله تعالی دشان سره ښائی او د نصوصو څخه هم مختلف نه وی.

د اصبعین څخه په مراد کښې درې اقوال: ① صفات په دوه قسمه دی صفات دی صفات جمالی او صفات جلالی چې د کله د نسان زړه ته جمالی صفات متوجی شی نو دانسان زړه طاعاتو طرف ته متوجه شی او چلې ورته صفات جلالی متوجه شی نو د انسان ژړه ګناهونو طرف ته متوجه شی.

② د اصبغین څخه دوه قسمه اثر مراد دې اثر رحمت او اثر غضب وقهر،نو معنی دا شوه چې الله تعالی ته د یوطرف څخه بل طرف ته د زړه په اړولوباندې پوره قدرت دې

③ دا د قبضه قدرت څخه کنایه ده مثلاً د ید څخه قدرت د ، ،وجه، ، څخه ذات مراد دې.

قوله: كَقَلْبٍ وَاحِدٍ:

د تشبیه مقصد: یعنی څنګه چه یوزړه دَ چاطرف ته مائل کولوسره تاوول آسان دی دغه شان دا هم آسان دی چه دَټولو زړونه په دوو ګوتوکښې کیږدی یعنی دَ الله تعالی دَپاره په

ډیرو زړونواو یو زړه کښې انقلاب راوستل یوشان برابر دی. بیا رسول الله ﷺ دحفاظت دپاره وظیفه خودلې ده چه دا لوئی.

قوله: اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ:

د مذکوره جملې مفهوم: دا دعا مؤمنانو اوکافرانو ټولو دپاره ده یعنی د نیکانو خلقو زړونه په نیکۍ پاندې قائم پاتې کړه او بدانو خلقو زړونه د ګناهونو څخه واړوه

[۹۰] د هر ماشوم په فطرت اسلامی پیدا کیدل

۹۰ -()[۱۲] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ (-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-): ۲ «(مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ، أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ، ۳ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ، هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ؟ ثُمَّ يَقُولُ: ۴ {فِطْرَةَ اللّٰهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ} [الروم: ۳۰]» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره ؓ روایت کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ۲ کوم ماشوم چې پیدا کیږی هغه په فطرت پیدا کیږي (یعني د حق شي د قبلولو په هغه کښې صلاحیت وي) بیا د هغه مور او پلار هغه یهودي یا نصراني یا مجوسي جوړ کړي، ۳ لکه څنګه چې یو چار پایه حیوان پوره چار پایه بچي راوړي آیا تاسو په هغه کښې څه کمي پیداکولي شي، بیا هغه ﷺ دا آیت تلاوت وفرمایل ۴ **فِطْرَةَ اللّٰهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ**، (ترجمه) دا د الله تعالی ﷻ د هغه فطرت موافق دي چې په هغه الله تعالی ﷻ خلق پیدا کړي دي د الله په خلقت کښې تغیر او تبدیل نشته دا دین مستحکم دي. بخاري ومسلم

حل اللغات: ① مَوْلُودٍ: زیږکولې شوې یعنی پیدا شوې ماشوم. ② الْفِطْرَةِ: وَهِيَ الْإِيمَانُ: فطرت نه مراد ایمان دې (یعنی د حق شی د قبلولو په هغه کښې صلاحیت وی). ③ يُهَوِّدَانِهِ: أَيْ: يَجْعَلَانِهِ يَهُودِيًّا: یهودی ئې جوړوی، ④ يُنَصِّرَانِهِ: نصرانی ئې جوړوی، ⑤ يُمَجِّسَانِهِ: مجوسی ئې جوړوی، ⑥ تُنْتَجُ: إِذَا تَوَلَّى نِتَاجَهَا حَتَّى وَضَعَتْ: یعنی د څاروی بچی راوړلو یعنی زیږکولو ته وائی. ⑦ الْبَهِيمَةُ: حیوان، چارپایه، څناور، ⑧ جَمْعَاءَ: أَيْ: سَلِيمَةَ الْأَعْضَاءِ: پوره اندامونو والا، ⑨ هَلْ تُحِسُّونَ: أَيْ: هَلْ تُدْرِكُونَ: آیا تاسو بیاموموئ، ⑩ جَدْعَاءَ: أَيْ: مَقْطُوعَةُ الْأُذُنِ: چه غوږونه ئې نه وی یا پریکړې شوی وی، ⑪ الْقَيِّمُ: أَيْ: الْمُسْتَقِيمُ: نیغ چه هیڅ کوږوالې پکښې نه وی.

[1] اخرجه البخاری کتاب الجنائز /باب إذا أسلم الصبی فمات، هل یصلی علیه، وهل یعرض علی الصبی الإسلام(رقم-۱۳۵۸) ومسلم کتاب القدر باب معنی کل مولود یولد علی الفطرة وحکم موت أطفال الکفار وأطفال المسلمین(رقم-۲۲-(۲۶۵۸))واحمد فی المسند:۲/۲۵۱)

تسهیلات:

قوله: يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ:

دفطرت څخه په مراد کښې پنځه اقوال: ① د امام احمد بن حنبل، حافظ ابن عبد البر او ابن قیم رحمهم الله په نیز فطرت څخه مراد دین اسلام دي،

دا شان ابن حجر رحمه الله هم فرمائی چې امام بخاری رحمه الله د سورة روم ایت مبارك کښې دَ فطرت څخه مراد دین اسلام اخستې دي، والفطرة الإسلام.

داول فریق دلائل: د قرآن پاك آیت [فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا]د دوی مستدل دې په دې کښې بالاجماع فطرت څخه مراد دین اسلام دې، او هم دا [ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ] سره تعبیر کړې شوې دې. معلومه شوه چې فطرت او دین یو څیز دې.

په اول فریق اول اعتراض: چې د فطرت څخه مراد اسلام دې او هر ماشوم مسلمان دې نو بیا چه دجنګ په میدان کښې کوم ماشوم ګرفتار شی نوهغه غلام ولې جوړولې شی؟ او دکافر په بچی باندې د جنازې مونځ ولې نه کیږی؟ او دې د خیر الابوین تابع ولې ګرځولې شوې دې؟ حالانکه دې هرحال کښې د فطرت او تخلیق په اعتبار سره مسلمان دې؟ داشان خضر علیه السلام ولې هغه ماشوم قتل کړو؟

په اول فریق دویم اعتراض: دویم اعتراض دادې چې مذکوره حدیث پاك کښې [فأبواه یهودانه] راغلی دی، ددې څخه معلومیږی چې دا فطرت سلیمه مور پلار بدل کړی او یهودی اومجوسی ترې جوړوی. حالانکه کوم آیت چې استشهاد کښې پیش کړې شوې دې په هغې کښې د [لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ] جمله ده چې د اسلام په فطرت کښې تغیر نه راځی. نو په آیت او حدیث کښې تعارض راغلو.

په اول مذهب تبصره: د امام احمد بن حنبل رحمه الله وغیره حضراتو داټول دلائل په خپل ځائې خو مذکوره په ډیرو شقونو مشتمل دوه اعتراضونه ددې حضراتو توجیه (چې فطرت څخه مراد اسلام دې) په مشکل کښې اچوی.

② حافظ تورپشتی رحمه الله او شاه ولی الله رحمه الله او نور علماء کرام فرمائی چې حدیث کښې فطرت څخه مراد حق دقبلولو استعداد او صلاحیت او قابلیت او لیاقت دې، که هغه ماشوم د خپل سره اسلام قبلول غواړی نو په هغه کښې شته صلاحیت شته او بالکل ددې دپاره تیاز دې، که هغه ماشوم غلط ماحول کښې پاتې شی او ددغه استعداد خراب کړی او دهغې څخه غلطه فائده پورته کوی نو هغه د ګیرچاپیره ماحول قصور دې. خو بیا هم د حق د قبلولو استعداد باقی پاتې کیږی. اوګورئی فرعون چې کله د غلط ماحول څخه جدا شو نو هغه د حق د قبلولو اقرار اوکړو، هم دا هغه فطری نعره وه کومه چې دده

د استعداد نتیجه وه. اګر چې دې اقرار ده ته فائده ورنکړه. ځکه چې فائد وخت تیر شوې وو. هم ددې وجې ئې اوفرمائیل چې [لَاتَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللهِ] چې هغه استعداد ئې غلط استعمال کړو مهر وجباریت ښه اولګی خو استعداد بیاهم باقی پاتې کیږی. مهر وجباریت سره د استعداد فائده ختمیږی، اودَ دې نه فائدې ممکن نه پاتیږی. د اصل استعداد موجود کیدل جدا ځیز دې. شیخ عبدالحق رحمه الله او علامه قرطبی رحمه الله هم دا رائې ده چې فطرت د تخلیق په معنی کې دې،ددې ځخه مرادهم دا استعداد دَقبول حق دې.[الکاشف ۱/۲۵۴]

په دویم فریق اعتراض: حضرت خضر علیه السلام هغه ماشوم ولې وژلې وو چې د هغه متعلق روایاتو کښې راغلی دی چې طبع یوم طبع کافرا، که استعداد باقی وو نو ځنګه هغه ته مطبوع علی الکفر اووئیلې شو؟

داعتراض جواب: دائې د عالم الغیب په اعتبار سره اوفرمائیل. اګر چې د عالم شهادت په اعتبار سره په هغه کښې استعداد وو خو دالله ﷻ د علم ازلی مطابق دانجام په اعتبار سره دَ هغه کافر کیدل وو او هم ددې ذکر په طبع یوم طبع کافرا کښې شوې دې.

مثال: دَ دې تخلیقی، جبلی اوفطری استعداد مثال حضرت شاه ولی الله رحمه الله داسې ورکړې دې چه مثلاً صفت رجولیت په ټولو افرادو د رجالو کښې وی مګر دَدې نه هغه افراد اوکسان مستثناء کیدې شی چه رهبانیت اختیارولو سره دَ سړیتوب دا صفت ضائع کوی. ښکاره خبره ده چه هغوی ته دا نه شی وئیلې کیدې چه په هغوی کښې دا صفت نه وو. بالکل هم دغه شان دَ حق دَ قبلولو استعداد دې کوم چه الله تعالی په ټولو انسانانو کښې کیخودې دې لیکن دَهغوی دَ مور پلار هغوی لره یهودی یا نصرانی جوړول یو داسې آفت دې په کوم سره چه دَ هغوی دَ استعداد مصرف بدل شو مګر دا نه شی وئیلې کیدې چه دا سړې دَ دغه استعدادنه محروم وو. البته بعضې وخت الله تعالی دَ خپل قدرت کامله دَ ظهور دَپاره یو ماشوم په اول وخت کښې دَدې استعداد نه محروم او مسلوب کَوی لکه ځنګه چه خضر علیه السلام کوم هلك اوژبي وو لکه چه هغه دَدې عام قاعدې نه مستثناء دې.

③ د فطرت ځخه مراد عقل سلیم دې یعنی که ممانعت نه وی نو حق طرف ته به راغب شی ددې تائید ددې ځخه کیږی چې دین کسبی او اختیاری ځیز دې.

④ د فطرت ځخه مراد د نوع خاص طبیعت دې د کوم په وجه چې هر ساه لرونکې ما ینبغی له اختیاروی او ما لاینبغی ځخه اجتناب کوی.لکه ځنګه چې الله تعالی د شهدو مچې ته یو خاص طبیعت ورکړې دې د کوم په وجه چې هغه ځیز سره استعمالوی کوم چې هغې ته د شهدو په جوړلو کښې مدد ورکوی اود هرهغه ځیز ځخه ځان ساتی کوم

چې شهد خرابوی.

⑤ د فطرت سره څخه په عالم ارواح کښې د ربوبیت اقرارکول دی نو چا چې په خپله خوښه اقرار کړې وو هغه په دنیا کښې ایمان راوړی او چا چې د زور په وجه اقرار کړې وو نو هغه د هغه اقرار ربوبیت څخه انکار کوی.

قوله:[جَدْعَاءَ]

د کټ شوی غوږونووالا څناور سره د کافرانو تشبیه: دَ غوږ پرې کیدو سره دا هم اشاره اوشوه چه دا کافران خلق دَ حق دَ اوریدو نه داسې محروم دی لکه چه غوږونه ئې پرې شوې وی. دَ حق دَ اوریدو آله ورسره نشته. یعنی څنګه چه دَ یو څناور نه هم دغه شان صحیح سالم بچې پیدا کیږی څه غوږ پرې شوې نه وی دغه شان فطرت اسلام صحیح او سالم وی مګر خلق په خپل کسب او اختیار سره دا فطرت برباد کړی. لکه څنګه چه بت پرست خلق دَ څناورو غوږونه وغیره پرې کولوسره یا شلولو سره خرابوی.[الکاشف: ۲۵۴/۱،واشعة المعات: ۱۰۲/۱]

[۹۱]په خطبه کښې د پنځو خبرو ذکر

۹۱ –(۱)[۱۳] ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَامَ فِينَا رَسُولُ اللَّهِ (- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -) بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ ۲ فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ لَا يَنَامُ، وَلَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَنَامَ، ۳ يَخْفِضُ الْقِسْطَ، وَيَرْفَعُهُ، يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ قَبْلَ عَمَلِ النَّهَارِ، وَعَمَلُ النَّهَارِ قَبْلَ عَمَلِ اللَّيْلِ ۴ حِجَابُهُ النُّورُ، ۵ لَوْ كَشَفَهُ لَأَحْرَقَتْ سُبُحَاتُ وَجْهِهِ مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو موسٰي رضی الله عنه روایت کوي چې (یوځل) ددوو جهانونو سردار صلی الله علیه وسلم خطبه ورکړه او پنځه خبري يي وفرمايلي: ۲ الله پاك اوده کیږي نه او اوده کيدل د هغه شان سره مناسب نه دي، ۳ هغه ترازو (تله)بلند وپست (پورته اوښکته) کوي، د ورځي د عمل څخه مخکې د شپې عمل او د شپې د عمل څخه مخکې د ورځي عمل هغه ته رسول کیږی ۴ او د هغه حجاب نور دي ۵ که چېرته هغه اوچته کړي نو د هغه د پاك ذات نور به د مخلوقلاتو د نظر د حد پورې تول څيزونه خاوري ايري کړي. مسلم

حل اللغات: ① يَخْفِضُ : ښکته کوی، ② الْقِسْطَ: تله، ترازو، ③ يَرْفَعُهُ: اوچتوی ئې، ④ حِجَابُهُ: پرده د الله، ⑤ لَوْكَشَفَهُ : أَيْ: لَوْ أَزَالَ الْحِجَابَ: که چرې لرې کړی پرده، ⑥ سُبُحَاتُ: د سُبْحَة جمع ده، أَيْ: أَنْوَارُ وَجْهِهِ: دي نه دَالله تعالى تجليات مراددي يا مخصوص صفات دی چه په انوار الهی اوتجليات ربانی باندې مشتمل دی. ⑦ وَجْهِهِ: أَيِ الذَّاتُ: د وجهه نه مراد ذات دالله تعالى دې.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الإيمان/باب فی قوله علیه السلام: إن الله لا ينام، وفی قوله:حجابه النور لو كشفه لأحرق سبحات وجهه ما انتهى إليه بصره من خلقه(رقم-۲۹۳ - (۱۷۹) وابن ماجة كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فيما أنكرت الجهمية (رقم-۱۹۵)

تسهیلات:

قوله: قَامَ فِينَا:

په خطبه کښې د قیام مسنونیت: دا د وعظ او بیان نه کنایه ده أی قام خطیبًا مذکرًا لنا بخمس کلمات "أی متلبسا بخمس أو قائلا بخمس کلمات" "لاینام" مراد تکاسل او ضعف دې په نوم یعنی خوب کښې دا کامل وی.

قوله: "يُرْفَعُ إِلَيْهِ عَمَلُ اللَّيْلِ"

د رفع اعمال نه څه مراد: دَ رفع اعمال نه مراد دَ اعمالو قبلیدل دی دَ استمرار طرف ته ئی اشاره کړې ده څکه چه ټول اعمال هروخت دَ الله تعالی مخې ته حاضردی په دې کښې دَ شپې ورځې دَ عمل نامې تذکره کړې شوې ده.

قوله: حِجَابُهُ النُّورُ:

د حجاب په مفهوم کښې دوه اقوال: ① دَ حجاب نه مراد مانع دې څه حسی مادی حجاب مراد نه دې څکه چه په الله تعالی باندې هیڅ یو څیز محیط نه دې بلکه دا حجاب نوری دې چه دَ مخلوق دَ پاره دَ خالق رؤیت او کتلو نه مانع دې لکه څنګه چه حسی حجاب مانع وی.
② امام نووی رحمه الله فرمائی دَ حجاب نه مراد دَ الله تعالی هغه دَ جلال صفت دې او دَ هغه نور او عظمت دې چه دَ الله تعالی دَ رؤیت دَ پاره مانع جوړیږی. مثلاً الله تعالی دَ انوارا تو یو پړق په نمر باندې لګیدلې دې نوڅوک خودې او ګوری چه دَ دې په شعاګانو کښې څومره زور دې.

قوله: مَا انْتَهَى إِلَيْهِ بَصَرُهُ مِنْ خَلْقِهِ:

د الله تعالی نور ته په کتلو سره ایره کیدل: نو نظر په عالم باندې محیط دې لهذا پوره عالم به ایره شی. دَ ذات اقدس دَ انوارا تو دا حجاب او یا زره دی دې ته چه کله فرښتې ګوری نو په تسبیح او تهلیل کښې لګیا شی.

[۹۲] د الله جل جلاله خزانې ډکې دی

۹۲ –(۱)[۱۴] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-): ② «يَدُ اللَّهِ مَلْأَى لَا تَغِيضُهَا نَفَقَةٌ، سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ، ③ أَرَأَيْتُمْ مَا أَنْفَقَ مُذْ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ؟ فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَدِهِ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ، ④ وَبِيَدِهِ الْمِيزَانُ يَخْفِضُ، وَيَرْفَعُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ⑤ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: («يَمِينُ اللَّهِ مَلْأَى - قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ: مَلْآنُ - سَحَّاءُ لَا يَغِيضُهَا شَيْءٌ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ»)

[۱]) اخرجه البخاری کتاب تفسیر القرآن/باب: {وکان عرشه علی الماء} [هود: ۷](رقم-۴۶۸۴) واحمد فی المسند: ۴۰۵/۴ ومسلم فی کتاب الزکاة/باب الحث علی النفقة وتبشیر المنفق بالخلف(رقم-۳۷ - (۹۹۳) والترمذی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة المائدة (رقم-۳۰۴۵)واحمد فی المسند:۲۱۳/۲

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره ﷺ روايت كوي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ٢ دالله تعالى ﷻ لاس (يعني د هغه خزانه) ډكه ده، د شپې او د ورځې هروخت خرڅ كول هم په هغه كښې څه كمي نه شي پيدا كولي، ٣ آيا تاسو نه ګورې؟ چې د كله څخه هغه زمكه اوآسمانونه پيداكړي دي او د كله څخه چې د هغه عرش (هم) په اوبو باندې وو، څومره خرڅ كړي دي، ليكن (د دومره زيات) خرڅ كولو باوجود څه چې د هغه په لاس كښې دي (يعني د هغه خزانه) په هغه كښې كمي نه دي راغلي، ٤ او د هغه په لاس كښې ترازو (تله) دي چې هغه بلند اوپست (پورته وښكته) كوي، بخاري و مسلم ٥ او د مسلم روايت دي: د الله پاک ښي لاس ډک دي او د ابن نمير رحمه الله په روايت كښې د الله ﷻ لاس ډک دي اوهميشه وركونكي (شپه اوورځ د خرڅ كولوباوجود) په هغه كې دڅه شي كمي نه راځي.

حل اللغات: ① يَدُاللهِ: أَيْ: خَزَائِنُهُ: دالله تعالى لاس، ددې نه مراد د الله تعالى خزانې دى چرته نه چه خلقوته عطاء او وركړه كوى. ② مَلْأَى: د مَلْآنَ مؤنث دې، په معنى د ډكوالى، دا كنايه ده د نعمتونو د زياتوالى نه، ③ لَاتَغِيضُهَا: أَى لَاتُنْقِصُهَا: نه كموى دې لره، ④ نَفَقَةٌ: أَيْ: إِنْفَاقٌ: خرچ كول، ⑤ سَحَّاءُ: أَى سَحَّ الْمَاءُ: اوبه د بره نه راړولو او بهيولو ته وائى، ددې نه مراد هميشه خرچ كول دى. ⑥ لَمْ يَغِضْ: لَمْ يَنْقِصْ: هيڅ كمې نه دې راغلې.

تسهيلات:

قوله: يَدُاللهِ مَلْأَى:

د مذكوره جملې مفهوم: يعنى د خزانو نه ئې لاسونه ډك دى. قرآن پاك كښې دى [وَإِنْ مِّنْ شَيْءٍ إِلَّا عِنْدَنَا خَزَآئِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ] (سورة الحجر)

قوله: سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ::

د سحاء سره د تشبيه وجه: سحاء په صحراګانو او دشتو كښې وريدونكى باران ته وائى. يعنى د اوبو پشان طبعا دا سخاوت راځاځى. دا دَكثرت سخاوت دپاره كنايه ده.د هـا ضمير يدالله طرفته راجع دې. ا وددې څخه مراد خزائن الله دى، كوم چه لفظ كن فيكون دې

د ليل او نهار تركيب: دا دواړه ،،الليل والنهار،، منصوب دى او ظرف واقع دې. د روايت په آخر كښې يمين الله هم د مسلم په روايت كښې دى. يمين الله ادبا وئيلې شوى دى. او آخر كښې لايغيضها دى، نو شئ فاعل دې او الليل والنهار ددې څخه بدل واقع دې.

دحديث مطلب: د الله تعالى د سخاوت باران دائم الصب دې، مسلسل او د شيبو شيبو باران په شان دهرې زمانې او هر مكان دپاره عام دې. أرأيتم څخه ددې عملى صورت خودلې شوې دې.

[۹۳] د مشرکانو د اولاد جنت یا دوزخ ته د تلو بیان

۹۳-(۱)[۱۵][۱] وَعَنْهُ قَالَ: «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ (- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -) عَنْ ذَرَارِيِّ الْمُشْرِكِينَ قَالَ: اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ روایت کوي چې د نبی کریم ﷺ څخه د مشرکانو د اولاد په باره کښې پوښتنه وشوه (چې د مرګ څخه وروسته به دوزخ ته ځي یا وجنت ته) رسول الله ﷺ وفرمایل الله پاك ښه پوهیږي (که چېرته ژوندي وې نو چې څه عمل به یې کوي). بخاري ومسلم.

حل اللغات: ① ذَرَارِيِّ: یا دا د ذَرءِ نه دې، بِمَعْنَى الْخَلْقِ: پیدائش، یا دا د الذَّرِّ نه دې، بِمَعْنَى التَّفْرِيقِ: خواره کړی (یعنی الله پیدا کړی او په دنیا کښې ئې خواره کړی دی خو دلته ترې مراد ماشومان دی). ② عَامِلِينَ: د جمع اسم فاعل صیغه ده، عمل کونکی (دجنت یا د دوزخ).

تسهیلات:

قوله: اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ:

د مذکوره جملې مفهوم: یعنی الله تعالی ته معلوم دی، تاسو ته به څه معلوم وی او ستاسو سوال به څه وی؟ دا جمله د مشرکانو د اولاد صحیح حقیقت دَ بیانولو یو انداز دې، او ددې څخه د لا علمی اظهار دې.

د مشرکانو د اولاد باره کښې یقینی خبرې نه کولو وجوهات: ① دلته عاملین د حاملین په معنی کښې مستعمل دې یعنی الله تعالی ته ددې علم وو چې د حمل په حالت کښې دوی په کوم فطرت باندې وو.

② نبی کریم ﷺ ته خو معلوم وو خو په اظهار کښې ئې توقف اوفرمائیلو چې اوسه پورې اجازت نه وو،

③ نبی کریم ﷺ ته من جانب الله څه واضح حکم نه وو ملاؤ شوی.

د مشرکانو داولاد باره کښې (۶) مذاهب (اقوال):

په دې مسئله کښې دنصوصو داختلاف په وجه فقهاء کراموهم په دې کښې اختلاف کړې دې، یو څو اقوال ملاحظه کړئی.

① د مشرکانو اولاد به نه په جنت کښې دی نه په دوزخ کې بلکه په اعراف کښې به وی.

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الجنائز /باب ما قیل فی أولاد المشرکین(رقم-۱۳۸۴) ومسلم فی کتاب القدر/باب معنی کل مولود یولد علی الفطرة وحکم موت أطفال الکفار وأطفال المسلمین(رقم-۲۶ - (۲۶۵۹) وابوداود کتاب السنة/ باب فی ذراریّ المشرکین(رقم-۴۷۱۱) والنسائی کتاب الجنائز/باب أولاد المشرکین (رقم-۱۹۵۰)واحمد فی المسند:۹۳.۳۹۳/۲ - (وعنه) أي: عن أبي هريرة رضي الله عنه (قال: سئل رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: عن ذراری المشرکین). جمع ذرية،

② د مشرکانو اولاد به د والدینو تابع وی او دوزخ ته به ځی.
③ د مشرکانو اولاد به جنت ته داخلیږی خو مستقلا نه دی بلکه دجنتیانو د خدامو په حیثیت سره او ددوئ دَ تابع حیثیت سره به وی.
④ د امام ابوحنیفه رحمه الله او دَ اکثر فقهاء کرامو په نیز راجح دا ده چې دمشرکانو په اولاد کښې دې توقف اوکړې شی.
⑤ د دوی باره کښې که الله تعالی ته علم وو چې دوی بالغان شی نو کافران به وی هغوی به په جهنم کښې وی او د کومو باره کښې چې ورته علم وو چې دوی بالغان شی نو مسلمانان به وی نوهغه به جنتیان وی.
⑥ دا جنتیان دی، او نبی کریم ﷺ ته د وحی جدید په ذریعه ددې علم شوې وو.
د راجح قول دلائل: په دې اقوالو کښې شپږم قول راجح دې چې د مشرکانو اولاد به په جنت کښې وی. ددې قول دلائل لاندې بیانولی شی.
① دالله تعالی ارشاد دې ((وما کنا معذبین حتی نبعث رسولا)) ددې آیت څخه معلومیږی چې عاقل بالغ وی اوهغه ته دعوت نه وی رسیدلې نوهغه ته به عذاب نشی ورکولې نوغیربالغ اوغیرمکلف ته خوبه په طریقه اولی سره عذاب نشی ورکولې.
② په شب معراج کښې نبی علیه السلام حضرت ابراهیم علیه السلام څخه ګیرچاپیره ماشومان جمع لیدلی وو د نبی علیه السلام څخه د دوی باره کښې تپوس اوشو نو نبی علیه السلام اوفرمائیل **((هم اولادالناس))** دلته نبی علیه السلام د ,, الناس،، لفظ فرمائیلې دې اوپه الناس کښې مسلمانان او مشرکان ټول داخل دی. د چا تخصیص په کښې نشته.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٩٤] د قلم په ذریعه د جمع ما کان او یکون تقدیر لیکل

٩٤ —(١)[١٦] ① وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (② «إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللَّهُ الْقَلَمُ، فَقَالَ لَهُ اكْتُبْ فَقَالَ: مَا أَكْتُبُ؟ ③ قَالَ: اكْتُبِ الْقَدَرَ. فَكَتَبَ مَا كَانَ وَمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى الْأَبَدِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه: ① حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه روایت کوي چې نبی کریم ﷺ ارشاد وفرمایلې ② چې الله پاك د ټولو څخه مخکې کوم شي پیدا کې هغه قلم وو، بیا یې دي (قلم) ته د لیکلو حکم اوکړو، قلم اوویل اله العالمینه څه ولیکم، ③ د بارګاه الوهیت څخه جواب ورکړل شو، تقدیر ولیکه، نو هغه قلم هغه څیزونه ولیکل کوم چې (تر اوسه پورې)

[١]) اخرجه الترمذی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ب باب (رقم-٢١٥٥)واحمد فی المسند:٥/٣٥٧

شوې دي او هغه څيزونه يي وليکل کوم چې آئنده راتلونکي دي، امام ترمذي رحمه الله دا حديث روايت کړي دي او ويلې يې دی چې دا حديث د سند په اعتبار سره غريب دي.

حل اللغات: ① اَلْقَدَرَ: أي: اَلْمُقَدَّرَ: تقدير، مقادير. ② كَائِنٌ: واقع کيدونکی، راپيښيدونکی دی.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ الْقَلَمَ:

اشکال: په دې روايت کښې د قلم د تخليق ذکر دې چې اول قلم پيدا کړې شوې دې.بل روايت کښې د [اول ماخلق الله نوري] هم دی، او [اول ماخلق اله العقل] هم دی. نو په رواياتو کښې تعارض راغلو؟

داشکل دوه جوابونه: ① دلته اوليت اضافی دې. دَ نوردپاره اوليت حقيقی دې، باقی دپاره اضافی دې. يعنی نور نه پس ټولو کښې اول قلم پيدا کړې شو او بيا ټولو څخه اول عقل پيدا کړې شو. نو د اوليت نسبت به په دې اعتبار سره صحيح شي.

② دخپل خپل نوع په اعتبار سره د اوليت حکم لګولې شوې دې، نو د انواراتو په قسمونو کښې د ټولو څخه وړاندې د محمد ﷺ نوَر پيدا کړې شو او د اقلامو په انواع کښې ټولو څخه وړاندې قلم دَتقديرپيدا کړې شوې دې.اودعقلياتو په آلاتوکښې ټولوڅخه وړاندې عقل پيدا کړې شوې دې.

قوله: فَقَالَ لَهُ اكْتُبْ:

قلم ته د ليکلو حکم: الله ﷻ چې کائنات کوم ترتيب سره پيدا کړې دې لکه آسمان دې، زمکه ده، عرش دې، کرسی ده، باطنی نظام چلولو دپاره فرښتې دی، دا ټول څيزونه هم په دې ترتيب سره ليکل مناسب وو، نو قلم ته حکم اوشو چې اوليکه نو هغه اوليکل،هم دا قضاو قدر دې، اګر چې الله تعالی ددې ليکلو محتاج نه وو خو دا يو نظام دې. او ددې کيدل ډيرمناسب دی.

قوله: فَكَتَبَ مَا كَانَ:

اشکال: قلم په ازل کښې څه اوليکل حالانکه ددې څخه وړاندې خو هډو زمانه نه وه، لهذا د ماکان الفاظ استعمالول درست نه شو؟

داشکال دوه جوابونه:

① په هغه وخت کښې چې کوم کائنات موجود وو هغه ترې مراد دی. لکه آسمان، زمکه، عرش، کرسی.

② د نبی عليه السلام په اعتبار سره د ((ما کان)) اووئيلې شو.يعنی د رسول کريم ﷺ څخه د زمانې څه چې وړاندې څخه شوی وو.هغه ترې مراد دی.

قوله: وَمَا هُوَ كَائِنٌ إِلَى الْأَبَدِ:

دابد په مفهوم کښې درې اقوال:

① دابد ځخه غیرمتناهی موده مراد نه ده بلکه اوږده زمانه مراد ده.
② د دنيا د ختميدو پورې زمانه مراد ده.
③ په جنت او جهنم کښې د استقرار پورې زمانه مراد ده لکه څنګه چې به در منثور کښې د ابن عباس رضی الله عنهما ځخه منقول دی چې ((وماهوكائن الى أن تقوم الساعة)).

[٩٥] په عالم ذر کښې د بنی آدم ځخه دالله تعالی د ربوبیت وعده اخستل

٩٥ ـ(١)[١٧] ① وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «سُئِلَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ: {وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ} [الأعراف: ١٧٢] الْآيَةَ، ② قَالَ عُمَرُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُسْأَلُ عَنْهَا قَالَ " إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ آدَمَ، ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَمِينِهِ، فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً، ③ فَقَالَ: خَلَقْتُ هَؤُلَاءِ لِلْجَنَّةِ، وَبِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَعْمَلُونَ، ④ ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ ذُرِّيَّةً، ⑤ فَقَالَ خَلَقْتُ هَؤُلَاءِ لِلنَّارِ، وَبِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ يَعْمَلُونَ ⑥ فَقَالَ رَجُلٌ: فَفِيمَ الْعَمَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ ⑦ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " إِنَّ اللَّهَ إِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلْجَنَّةِ اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَمُوتَ عَلَى عَمَلٍ مِنْ أَعْمَالِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُدْخِلَهُ بِهِ الْجَنَّةَ، ⑧ وَإِذَا خَلَقَ الْعَبْدَ لِلنَّارِ، اسْتَعْمَلَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى يَمُوتَ عَلَى عَمَلٍ مِنْ أَعْمَالِ أَهْلِ النَّارِ فَيُدْخِلَهُ بِهِ النَّارَ» " رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت مسلم بن يسار رحمه الله روايت کوي چې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ځخه د دې آيت: وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ (١٧٢ الاعراف) (ترجمه) او هر کله چې ستا رب د آدم علیه السلام د شاه ځخه د هغه اولاد پيدا کړي (او پوهه ورته ورکولو سره) د هغوئ ځخه يې د هغوئ متعلق اقرار واخستي چې آيا زه ستاسو رب نه يم؟ نو ټولو جواب ورکړو، ولې نه، مونږ ټول (د دې واقعې) ګواهان جوړيږو، د پاره د دې چې تاسو خلق د قيامت په ورځ دا ونه وايئ چې مونږ خو د دې (توحيد ځخه محض ناخبره وو) ② نو هغه اوويل چې د دې آيت په باره کښې چې درسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه پوښتنه وشوه، نو ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه واوريدل چې وي فرمايل: الله تعالی جل جلاله آدم علیه السلام پيدا کړي بيا يې د هغه په ملا (شا) ښي لاس تيرکي او د هغه ځخه يې د هغه اولاد پيدا کي، ③ او وي فرمايل چې ما دوي د جنت د پاره پيدا کړي دي او د جنتيانو په شان عملونه به دوي کوي، ④ بيا يې خپل لاس د آدم علیه السلام په شا راتير کړو او د هغه ځخه يې د هغه اولاد

[1]) اخرجه ترمذی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب: ومن سورة الأعراف (رقم-٣٠٧٥) ومالک فی کتاب القدر /باب النهی عن القول بالقدر(رقم-٢)واحمد فی المسند:١/ ٤٤

پیدا کي، ⑤او وي فرمایل چې ما دوي د دوزخ دپاره پیدا کړي دي او د دوزخیانو په شان عملونه به دوي کوي، ⑥په دا اوریدو سره یو سړي اوویل یا رسول الله ﷺ بیا د عمل څه ضرورت دي؟ ⑦حضور ﷺ وفرمایل هر کله چې الله تعالی ﷻ یو بنده د جنت د پاره پیدا کوي نوپه هغه دجنتیانو عمل کوي، تر دي چې د هغه (بنده) وفات د جنتیانو غوندي اعمالو باندې کیږي، چنانچې الله تعالی ﷻ د دې اعمالو په بنا هغه په جنت کښې داخلوي ⑧اوهرکله چې الله تعالی ﷻ یو بنده ددوزخ دپاره پیداکوي نودهغه څخه د دوزخیانو په شان اعمال صادره وي، تر دي چې هغه د اهلِ دوزخ په شان اعمالو کولو کښې مړشي، نوهغه ددې اعمالوپه بنا په دوزخ کښې واچوي. موطا مالک ترمذي ابوداؤد

تسهیلات:

قوله: {وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ}:

د آدم علیه السلام د شا څخه د ذریات د راویستلو په طریقه کښې اقوال:

① امام عبدالوهاب شعراني رحمه الله فرمائي چې د آدم علیه السلام په ملا کښې سورې اوکړې شو او دا ترې راویستلې شو.

② هر یو د خپل پلار د ملا څخه راوییستلې شو او دا مکالمه اوشوه.

③ د بدن د ویښتو د مسامونو په ذریعه اویستلې شو،

د اخراج ذریت آدم د اخراج په مقام کښې اقوال:

① دنیا ته د راتلو نه پس راویستلي شو.

② په عالم ارواح کښې راویستلي شو.

③ عرفات سره نزدې نعمان غر دې هغې سره دا واقعه شوې وه. دحضرت ابن عباس رضی الله عنه یو روایت په دې باندې دلالت هم کوي.

اشکال: د قرآن پاک په آیت کښې من ظهورهم لفظ راغلي دې، دهغې څخه معلومیږي چې ټول اولاد د خپل خپل پلارانو دَ ملاګانو څخه راویستلې شوې دې. او مذکوره حدیث پاک کښې ثم مسح ظهره بیمینه کښې تصریح ده چې د اولاد استخراج د آدم علیه السلام د ملا څخه شوې دې؟

داشکال درې جوابونه: ① د استخراج اولاد دوه مرحلې دی، یو پشت آدم څخه د راوتلو مرحله او بله ظهوربنی آدم څخه دراویستلو مرحله ده. حدیث پاک کښې د پشت آدم د مرحلې ذکر دې. او په آیت کښې د ظهور بنی آدم. نو په آیت او حدیث کښې هیڅ تعارض نشته دې. یو کښې بلاواسطه اخراج دې او دویم کښې بالواسطه اخراج ذکر دې.

② د ذریت آدم د اخراج کیفیت دا وو چې اول هابیل او قابیل د آدم علیه السلام د شا څخه

راویستلی شو بیا د هابیل او قابیل د شا څخه چې ترقیامته پورې کوم اولاد پیدا کیږي راویستلی شو نو په قرآن کښې اخراج ترتیبي ذکر شوې دې او په حدیث کښې اخراج واقعي ذکر شوې دې.

③ دا د اسلوب الحکیم د طریقې څخه دې چې اول ئې یوقسم ذکرکړلو او دویم قسم ئې د مخاطب په فهم باندې پریخودو چې ددې څخه به مخاطب پخپله دویم قسم معلوم کړي.

د اشهاد په مراد کښې دوه اقوال: ① په قرآن پاک کښې چې د اشهاد بیان راغلې دې چې ((واشهدهم علی انفسهم)) دې د دې اشهاد باره کښې قاضي بیضاوي رحمه الله فرمائي دا ټوله معامله په یو تمثیل باندې محمول کړې ده چه الله تعالی دلائلِ ربوبیت قائم کړل او دیخوائي په عقول کښې یوه ماده پیدا کړه چه دَ اقرار توحید او ربوبیت په منلو باندې انسان تیارکړي نو انسان ﴿قَالُوْابَلٰى﴾ اووئیل.

② دَ قاضي بیضاوي رحمه الله نه علاوه ټول صوفیاء کرام، محدثین عظام اودَ اهل حق په نیز حق دادی چه دا اشهادحقیقةً في الواقع شوی دی. هغه داسې چه الله تعالی ټول بندیګان دَ آدم علیه السلام دَ شانه اوویستل ټولوسره ئې کلام اوکړو قولاً ئې ترې اقرار واخستو او ټولو اقرار کولو سره وعده اوکړه. دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په روایت کښې دي [فکلمهم قبلا] یعنې الله تعالی مخامخ دغه خلقو سره خبرې اترې اوکلام اوکړو. دا روایت دَ دې حضراتو دلیل دې اوهم دغه مسلك حق دې. دَ قاضي بیضاوي رحمه الله تمثیل په دې روایت کښې نه شي چلیدې.

دوعدې د نه یادیدووجه: چونکه د انسان څخه هیره کیږي ددې وجې هغه وعده زمونږ څخه هیره شوې ده خو ددې مطلب دا نه دې چې وعده نه ده اخستلې شوې څکه چې بعضې پاکیزه نفوسو ته دنیا ته د راتلو څخه روسته هم هغه وعده یاده وه لکه حضرت ذوالنون مصري رحمه الله څخه مرودي دي چې ((کأنه الان في اذني)) یعنې اوس هم هغه داقرار الفاظ زما په غوږونو کښې اوریدې شي دغه شان حضرت علي رضي الله عنه به فرمائیل زه هلته نبي او کس طرف ته ولاړ خلق هم پیژنم چه څوك څوك وو؟عبدالله تستري رحمه الله فرمائي چه ماته دَ عهد الست شاګردي یاده ده. او که چرې تاته هیره هم شي نوڅه دَ حیرانتیا خبره نه ده لوئی لوئی انقلابات راغلي دي. انسان اول نطفه وه بیا علقه بیا مضغه بیا عظام او بیا لحم وشحم کښې بدل شو بیا په وجودکښې راغلو. ولې ستا په هیرولوسره به دَ دې تفصیل حقیقت ختم شي؟ هیڅ کله نه هسې هم ستا دَ هیرولو دَ وجې نه دَ عهد الست په حقانیت باندې هیڅ اثر نه پریوځي. زه ته اووایه چه دا ته کوم خط لیکل پیژنې قرآن لوستل پیژنې نوخامخا به شروع دَ چرته نه خو شوې وی. اوس ته مونږ ته اوښایه چه هغه

دَ شروع حروف او کلمات څه وو؟ چاته یاد دی حالانکه هغه هم یو حقیقت دې.

قوله: ثُمَّ مَسَحَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ.

یوه بلاغی نکته: دې نه مخکښې ئې مسح بیمینه اوفرمائیل ځکه چه هلته مؤمنان وو نو په اعزازی توګه باندې دَ یمین ذکر اوکړې شو اودلته ئې بیده اوفرمائیل ځکه چه دا کافران دی. دَ دوی دَ پاره دَ یمین اعزازی لفظ مناسب نه وو اودَ شمال تصور نه وو نو بیده اوفرمائیل.(استعماله)یعني داهل جنت په عمل کې ئې اولګولو، یعني توفیق ئې ورکړو.

[۹٦] د نبی علیه السلام په لاس کښې دوه کتابونه

۹٦–(۱)[۱۸] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ (-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-)، وَفِي يَدَيْهِ كِتَابَانِ، ۲ فَقَالَ: "أَتَدْرُونَ مَا هَذَانِ الْكِتَابَانِ؟". قُلْنَا: لَا، يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِلَّا أَنْ تُخْبِرَنَا ۳ فَقَالَ لِلَّذِي فِي يَدِهِ الْيُمْنَى: (هَذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ، فِيهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ، وَقَبَائِلِهِمْ، ثُمَّ أُجْمِلَ عَلَى آخِرِهِمْ، فَلَا يُزَادُ فِيهِمْ، وَلَا يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا. ۴ ثُمَّ قَالَ لِلَّذِي فِي شِمَالِهِ: (هَذَا كِتَابٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ فِيهِ أَسْمَاءُ أَهْلِ النَّارِ، وَأَسْمَاءُ آبَائِهِمْ، وَقَبَائِلِهِمْ، ثُمَّ أُجْمِلَ عَلَى آخِرِهِمْ، فَلَا يُزَادُ فِيهِمْ، وَلَا يُنْقَصُ مِنْهُمْ أَبَدًا) ۵ فَقَالَ أَصْحَابُهُ: فَفِيمَ الْعَمَلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ كَانَ أَمْرٌ قَدْ فُرِغَ مِنْهُ؟ ٦ فَقَالَ: (سَدِّدُوا، وَقَارِبُوا، فَإِنَّ صَاحِبَ الْجَنَّةِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ، وَإِنَّ صَاحِبَ النَّارِ يُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ، وَإِنْ عَمِلَ أَيَّ عَمَلٍ). ۷ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِيَدَيْهِ فَنَبَذَهُمَا، ثُمَّ قَالَ: (فَرَغَ رَبُّكُمْ مِنَ الْعِبَادِ {فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ} [الشورى: ۷]» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الله بن عمرو ﷛ روایت کوي چې (یو ځل) نبی کریم ﷺ بهر تشریف راوړو د ده ﷺ په لاسو کښې دوه کتابونه وه ۲ او (اصحابو ﷡ ته یې خطاب کولو سره) وفرمایل تاسو پوهیږې چې دا دواړه کتابونه څه دي، مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ مونږ ته څه معلوم، ته ﷺ یې راته وښایه دا کتابونه څه دي، ۳ رسول الله ﷺ د هغه په باره کښې وفرمایل دا چې کوم په ښي لاس کښې وو دا د الله پاك د طرف څخه دي چې په دي کښې د جنت د خاوندانو د هغوئ د پلرونو او د هغوئ د قبیلو نومونه لیکل شوې دي بیا یې په آخرکي جمع بندي کړي ده نو د دې وجې څخه په دي کې څه کمي بیشي نه کیږي، ۴ د دې څخه وروسته یې د ګس لاس والا کتاب په باره کښې وفرمایل چې دا د الله پاك د طرف څخه یو داسې کتاب دي چې په دي کښې د دوزخ د خاوندانو د هغوئ د پلرونو او د هغوئ د قبیلو نومونه لیکل شوې دي، بیا یې په آخرکي جمع بندي کړي ده، نو د دې وجې څخه په دي کښې نه څه کمي کیږي او نه زیاتي، ۵ دي

(۱) اخرجه ترمذی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن الله کتب کتابا لأهل الجنة وأهل النار (رقم-#۲۱٤۱)واحمد فی المسند:۲/۱٦۷

(اوريدو سره) صحابو رضي الله عنهم عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ چې کله دا شي د مخکې څخه شوې دي (چې د جنت او دوزخ مدار په نوشتهٔ تقدير باندې دي نو بيا د عمل څه ضرورت دي؟)[٦] حضور ﷺ وفرمايل د دين او شريعت مطابق خپل عملونه په ښه شان مضبوط کړي او (د حق تعالیٰ جل جلاله) تقرب (نژديکت) حاصل کړي، ځکه چې د جنتي خاتمه د جنت د خاوندانو په عملونو باندې کيږي، خواه که هغه (په ژوند کښې) څومره (نيك يا بد) عملونه کړي وي، او د دوزخي خاتمه د دوزخ د خاوندانو په عملونو باندې کيږي خواه که د هغه عملونه څنګه هم شوې وي،[٧] بيا حضور ﷺ په خپلو دواړو لاسونو سره اشاره وکړه او کتابونه يې کيښودل يعنی شاته يې کيښودل او وي فرمايل ستاسو پرورد ګار د بنده ګانو په باره کښې د مخکې څخه دا فيصله کړيده چې يو جماعت جنتي دي او يو جماعت دوزخي دي. ترمذي

حل اللغات: ① أَتَدْرُونَ: أَيْ: أَتَعْلَمُونَ: آيا تاسو پوهيږئ؟ ② أُجْمِلَ: أي أُجْمِلَ الْحِسَابُ إِذَا تُمِّمَ: ددې مطلب دادې چې د تفصيل نه پس آخر کښې ددې مجموعی اجمالی فهرست ليکلې شوې وو کوم چې ميزان يا ميزانه وائی. ③ سَدِّدُوا: أَيِ: اجْعَلُوا أَعْمَالَكُمْ مُسْتَقِيمَةً عَلَى طَرِيقِ الْحَقِّ: برابر شئ يعنی خپل اعمال صحيح کړئ او د حق په نيغه لاره باندې روان شئ. ④ قَارِبُوا: أَيِ: اطْلُبُوا قُرْبَةَ اللَّهِ تَعَالَى: نزديکت حاصل کړئ يعنی هغه اعمال کوئ کوم سره چه د الله تعالی نزديکت حاصليږی. ⑤ يُخْتَمُ: خاتمه ئې کولې شی، ⑥ فَنَبَذَهُمَا: أَيْ: طَرَحَ: اوئې غورځول، اوئې ويشتل دواړه (کتابونه يا لاسونه)، ⑦ السَّعِيرِ: ګرم اور يعنی دوزخ.

تسهيلات:

قوله: وَفِي يَدَيْهِ كِتَابَانِ:

د کتابان په مصداق کښې دوه اقوال: ① جمهور محدثين، حضرات علماء او اهل الله واهل باطن ټول وائی چې دا دواړه حسی کتابونه وو کوم طرفته چه اشاره شوې ده. علامه تورپشتی رحمه الله فرمائی چې کومې هستئ باندې مسلسل وحی راځی که عالم غيب څخه هغه ته حسی کتابونه ورکړې شوی وی نو په دې کښې څه استبعاد او څخه استعجاب دې؟ او چونکه دا د عالم غيب کتابونه وو لهذا ددې په ضخامت دې اعتراض اونه کړې شی.

② اهل تاويل علماء کرامو ليکلی دی چې دا څه محسوس، مشاهد او مخصوص کتابونه نه وو بلکه يو مثال او يو تصوير بيانول مقصود وو. هغوئ وائی چې نبی کريم ﷺ ته ددې کتابونو متعلق کامل يقين او قطعی علم وو. کوم چه دمشاهدهٔ حسيه څخه هم زيات قوی وو. نو نبی کريم ﷺ دا غير حسی کتابونه د حسی په طور پيش کړل.

د اشکال جواب: يو کتاب کښې د اهل جنت نومونه ليکلی شوی وو او بل کښې د اهل دوزخ نومونه وو. په دې نن صبا د کمپيوټر دور دې په يوه معمولی غوندې ((يو ايس بی)) کښې لکهونه صفحات ډيټا راځی دغه شان د ګنټو ګنټو فلمونه اوتصويرونه راځی.هرکله چې انسان ته الله تعالی دومره طاقت ورکړې دې نو بيا الله تعالی چې خالق کائنات دې په هغه څه ګران دی.

قوله: فَقَالَ: سَدِّدُوا، وَقَارِبُوا:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چې ددې مطلب دادې چې مکمل عمل کوئی، ګنی قريب قريب ورسره ځئ.

② علامه طيبی رحمه الله فرمائی چې ددې مطلب دادې چې تاسو عباد او بندګان يئ، تاسو ته دسوال کولو حق نشته دې، بلکه صحيح صحيح عمل کوئی، او دالله تعالی قرب حاصلولو د پاره وړاندې لاړشی..

قوله: ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِيَدَيْهِ:

د قال بيديه ترکيب: د قال په صله کښې مختلف حروف راتلو سره ددې معنی بدليږی رابدليږی. [قال عنه أي روي عنه، قال فيه أي عاب عليه قال برأسه أي قال نعم وأجاب، قال بيده أي أشار بيده] دلته هم داشارې په معنی راغلې دې

[قال بثوبه أي رفعه، قال برجله أي مشى قالت عينه أي أومأت كما قيل وقالت له العينان سمعا وطاعة وحدرتا كالدر لما يثقب].

قوله: فَنَبَذَهُمَا:

د نبذ مفهوم: په دې ويشتلو کښې د توهين صورت نه راڅی. بلکه د عالم الغيب کتابونه وو، کله چې ئې لاسونه پريښودل نو کتابونه هم غائب شو. دلته [قال بيديه فنبذهما] په حقيقت کښې دَ [جف القلم بما أنت لاق] په شان دې، معنی داده چې کوم څه کيږی نو هم هغه به کيږی. او فرغ ربکم هم په دې باندې دال دې.

د عالم درې قسمونه:

① عالم مشاهده دې، په کوم کښې چې روح، او جسم دواړه فعال دی. جسم سره صورت هم دې.

② عالم مثال دی په کوم کښې چې صرف صورت وی، جسم نه وی.

③ عالم ارواح دې په کوم کښې چې صرف روح وی.

[٩٧] دم درود او تقدير

٩٧ -(١)[١٩] ١ وَعَنْ أَبِي خِزَامَةَ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيهَا، ٢ وَدَوَاءً نَتَدَاوَى بِهِ، وَتُقَاةً نَتَّقِيهَا، ٣ هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللّٰهِ شَيْئًا؟ قَالَ: (هِيَ مِنْ قَدَرِ اللّٰهِ») رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ او ابو خزامه رحمه الله د خپل پلار مکرم څخه روايت کوي چې هغه وفرمايل چې ما د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يارسول الله ﷺ هغه عمليات کوم چې مونږ (د شفاء د پاره) وايو او هغه دوائياني کوم چې مونږ (د ناجوړي د پاره) استعمالوو ٢ او هغه څيزونه د کوم څخه چې مونږ حفاظت حاصلوو (لکه ډهال او زغره وغيره) ٣ د هغوئ په باره کښې ماته څه اوښايه چې آيا دا ټول څيزونه په نوشتهٔ تقدير کښې څه اثر اندازه کيږي؟ ٤ حضور ﷺ وفرمايل دا څيزونه هم د تقديرد ليك مطابق دي. احمد ترمذي ابن ماجه

حل اللغات: ① رُقًى: دا جمع د رُقْيَة ده، وَهِيَ مَا يُقْرَأُ لِطَلَبِ الشِّفَاءِ: کوم څه چه د شفاء حاصلولو دپاره لوستلې شی. ② نَسْتَرْقِيهَا: چه مونږ ورسره شفاء حاصلول غواړو. ③ تُقَاةً: دا په اصل کښې وُقَاةً دې، ماخوذ دې د وَقَى نه، وَهُوَ مَا يَقِي مِنَ الْعَدُوِّ: کوم څه سره چه د دشمن نه ځان محفوظ کوی يعنی ډهال، زغره وغيره، ④ تَرُدُّ: واپس کوی، منع کوی.

تسهيلات:

قوله: أَرَأَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيهَا:

د دم درود درې قسمونه اود هريو حکم: ① دکوم دم درود معنی چې معلوم نه وی خو رسول کريم ﷺ اجازت ورکړې وی نو هغه هم جائز دی. لکه [شجة قرنية ملحة بحرا] دا دَ لړم ټك لګولو دم دې. دا هم جائز دې.

② په کوم دم درود کښې د الفاظو معنی معلوم نه وی يا په کښې شرکيه الفاظ وی نو دهغې استعمال حرام دې.

③ دکومې معنی چې صحيح وی په شريعت کښې هغه دم استعمال دپاره موجود وی نو هغه دم جائز دې.

نوټ: د دې حديث مزيد تفصيل به ان شاء الله په کتاب الطب کښې راشي.

دم درود او تقدير: بهر حال دصحابی د تپوس او سوال مقصد دا وو چې هرکله ټول امور په مقدراتو کښې دی نو درقيه ادويه دَ حفاظت څيزونو د استعمال څه فائده ده؟ نو نبی کريم ﷺ جواب ورکړو چې دا څيزونه هم په تقدير کښې، تقدير څخه بهر نه دی. نو

(١) أخرجه ترمذی كتاب الطب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى الرقى والأدوية (رقم-٢٠٦٥) وابن ماجة كتاب الطب/باب ما أنزل الله داء، إلا أنزل له شفاء (رقم-٣٤٣٧)

استعمال او اشتغال بالاسباب جائز دی. اتکال بالاسباب جائز نه د ی. جائز تعویزونه هم په هغه وخت کښې ممنوع ګرځی کله چې خلق دا مؤثر بالذات اوګڼړی.

[۹۸] د تقدیر په مسئله کښې د بحث کولو ممانعت

۹۸ -(¹)[۲۰] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: قَالَ: «خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِي الْقَدَرِ، [۲] فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ، حَتَّى كَأَنَّمَا فُقِئَ فِي وَجْنَتَيْهِ حَبُّ الرُّمَّانِ، [۳] فَقَالَ: (أَبِهَذَا أُمِرْتُمْ؟ أَمْ بِهَذَا أُرْسِلْتُ إِلَيْكُمْ؟ [۴] إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حِينَ تَنَازَعُوا فِي هَذَا الْأَمْرِ، [۵] عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ، عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ أَلَّا تَنَازَعُوا فِيهِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ روایت کوي چې (یوه ورځ) مونږ د قضا او قدر په مسئله بحث کولې چې حضور ﷺ تشریف راوړو [۲] (مونږ یې په دې مسئله کښې اخته لیدلو سره) د ده ﷺ مخ مبارک د غصې څخه سور شو او داسې معلومیده لکه چې د انارو داني د ده ﷺ په رخسار مبارک باندې نستیږل شوې وي، [۳] په دې حال کښې رسول الله ﷺ وفرمایل چې آیا تاسو ته د دې شي حکم درکول شوې دي اویا زه د دې د پاره تاسو ته (رسول جوړولو سره) رالیږل شوې یم؟ [۴] پوه شی چې مخکې خلق په دې وجه د هلاکت په کنده کښې غورزول شوې وه چې هغوئ په دې مسئله کښې اخته کیدل خپله مشغله جوړه کړې وه، [۵] نو زه تاسو ته د دې خبري قسم در کوم (او بیا دوباره) قسم درکوم چې تاسو په دې مسئله کښې بحث مه کوي، ترمذي

حل اللغات: ① تَنَازَعُ: أَيْ: تَتَبَاحَثُ: جګړه مو کوله، یعنی مونږ خپل منځ کښې بحث کولو، ② الْقَدَرِ: تقدیر یعنی کوم څه چه الله تعالی دمخکښې نه لیکلی دی، ③ فُقِئَ: أَيْ: شُقَّ، أَوْ عُصِرَ: ماتې شوې یانچوړکړې شوی دی، ④ وَجْنَتَيْهِ: أَيْ: خَدَّيْهِ: دواړه رُخسار، اننګی، ⑤ حَبُّ: دانې، ⑥ الرُّمَّانِ: انار، ⑦ عَزَمْتُ: أَيْ: أَقْسَمْتُ أَوْ أَوْجَبْتُ: قسم درکوم، په تاسو واجب ګرځوم.

۹۹ -(²)[۰] وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ. عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ...

ترجمه: او ابن ماجه داسې روایت د عمرو بن شعیب څخه نقل کړې دې، کوم چې هغه د خپل پلار څخه او هغه د خپل نیکه څخه روایت کړې دي.

تسهیلات:

قوله: وَنَحْنُ نَتَنَازَعُ فِي الْقَدَرِ:

د صحابؤ د جګړې وضاحت: یعنی دا بحث وو. مثلاً یو فریق وئیل چې کله هر څه په دې عالم کائنات کښې د الله ﷻ د مقرر شوی تقدیر لاندې کیږی نو بیا ګناهګارو ته ولې عذاب

¹) اخرجه ترمذی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التشدید فی الخوض فی القدر (رقم۲۱۳۳)
²) اخرجه ابن ما جة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فی القدر(رقم-۸۵)

ورکولې کیږي؟ دویم فریق وئیل چه په دې کښې څه حکمت دې چې ځینې بندګانو دپاره جنت دې او دَ ځینو دپاره دوزخ پیدا کړې شوې دې؟

قوله: فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّ وَجْهُهُ:

د نبی علیه السلام د ناراضګۍ په وجه کښې دوه اقوال: ① د تقدیر کښې بحث مباحثه شرعا ټیک نه دی ځکه چې د دې په نتیجه کښې د سړی په عقیده کښې فساد راځی لکه څنګه چې قدریه او جبریه ګمراه شوې وې.

② کوم څیز چې د انسانی عقل څخه بهر وی، په هغې کښې بحث مباحثه کول بې سود دی. بیا انسان دالله تعالی بنده او غلام دې، نو آیا غلام د خپل آقا دحکمتونو تلاش شروع کړې، چې دا ئې ولې اوکړل، دا ئې ولې اونه کړل، دا به څنګه کوی، دا سوالونه ډیره لوې بې آدبی ده.

د تقدیر باره کښې د ټپوسونو کولو مثال: یو نوکر خپل مالك ته وائی چې نن به ته څه کار کوې؟ کوم ځائې به ئې کوې ؟ولې بدئی کوې؟ او په ښار کښې به ئې کوم ځائې کوې ؟ او کله به ئې کوې ؟ په دې سوالونو کولو سره به مالك دې د کار څخه فارغ کړی چې ته ما د څوکیدارۍ دپاره مقرر کړې وې، ما ته زما په کار کښې د حکمتونو او علتونو د تلاش دپاره نه وې ساتلې. حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی چې د تقدیر په مسئله کښې مسلم ا و غیر مسلم ټول برابر دی.

لهذا د تقدیر اثبات صرف د مسلمان په ذمه نه دې بلکه دا مسئله عقلیه ده او په دې باندې پوهیدل د ټولو ذمه ده.

قوله: حَتَّى كَأَنَّمَا فُقِئَ فِي وَجْنَتَيْهِ:

د غصې په وخت کښې د محبوب مخ سور کیدل: کله چې به نبی علیه السلام غصه شو نو مخ مبارک به ئې سور شو او په بعضې روایاتو کښې راځی چې د دواړو سترګو په مینځ کښې چې کوم رګونه دی هغه به راولاړ شول. د غصې په وخت کښې دغصې او خفګان آثار دانسان په مخ ښکاره کیدل یو فطرتی عمل دې.

قوله: عَزَمْتُ عَلَيْكُمْ:

دتقدیر باره کښې د خاموشۍ اختیارولو تاکید: دا به دعربی په محاوره کښې کیدل چې تاته قسم درکړم، پښتنو کښې هم دا دستور دې چې میلمه ته قسم ورکوی او ورته وائی چې اوخوره.

[١٠٠] د آدم علیه السلام د تخلیق بیان

١٠٠ – ()[٢١] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ([٢] «إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الْأَرْضِ، [٣] فَجَاءَ بَنُو آدَمَ عَلَى قَدْرِ الْأَرْضِ، [٤] مِنْهُمُ الْأَحْمَرُ وَالْأَبْيَضُ، وَالْأَسْوَدُ وَبَيْنَ ذَلِكَ، [٥] وَالسَّهْلُ، وَالْحَزْنُ، وَالْخَبِيثُ، وَالطَّيِّبُ») رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو موسي رضي الله عنه روايت کوي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه دي فرمايلو سره اوريدلي دي [٢] چې الله تعالی جل جلاله د آدم علیه السلام تخليق د يو مُټي خاوري څخه کړي دي چې د هر ځاي د زمکې څخه اخستل شوې وه، [٣] نو د آدم علیه السلام اولاد (د هغې زمکې موافق پيدا شوي، [٤] (په انسانانو کي) بعضې سره، بعضې سپين، بعضې تور، بعضې د درميانه رنګ، بعضې نرم مزاجه، بعضې تيز مزاجه، بعضې پاك او بعضې ناپاك دي. احمد ترمذي ابوداؤد

حل اللغات: ① قَبْضَةٍ: أي مِلءُ الْكَفِّ: موټې، ② السَّهْلُ: أي: اللَّيِّنُ: پوست، نرم طبيعت والا، ③ الْحَزْنُ: أي: الْغَلِيظُ: تيز، سخت طبيعت والا، ④ الْخَبِيثُ: ناپاکه طبيعت والا، ډير سخا بوئ لرونکې ځيز ته وائي. دې نه مراد ډير سخت شرير بدبودار سخاشوې کافر دې. ⑤ الطَّيِّبُ: ښه طبيعت والا، خوشبوئی دار او ښکلې بوئی لرونکې ځيز ته وائی دلته دَدې نه خير او صلاح لرونکې مؤمن مراد دې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ آدَمَ مِنْ قَبْضَةٍ قَبَضَهَا مِنْ جَمِيعِ الْأَرْضِ،

د زمکې څخه د خاورې راخستونکې فرښته: د زمکې په کومو کومو حصو چې به دآدم علیه السلام اولاد اوسيدل نو د هغې ټولو حصوڅخه عز رائيل عليه ا لسلام خاوره راواخستله. حضرت عزرائيل علیه السلام د ټولې زمکې څخه خاوره دامانت په طور سره راخستې وه ددې وجې هم عزرائيل علیه السلام ته د دوی د روحونوقبض کولو ذمه واری حواله کړې شوه چې بدن د کومې خاورې څخه جوړ شوې وو. عزرائيل علیه السلام هم هغه خاوره د لاش په صورت کښې زمکې ته حواله کړې.

قوله: مِنْهُمُ الْأَحْمَرُ وَالْأَبْيَضُ، وَالْأَسْوَدُ وَبَيْنَ ذَلِكَ:

دانسان ظاهری څلور صفات: علامه طيبی رحمه الله فرمائی چه په انسان کښې دا څلور رنګونه ښکاره وو دَهغې ذکر ئی اوفرمائيلو. اودا دَ انسان ظاهری صفات دی
هم دَدې مطابق انسانان پيدا شوی دی. يعنی کيفيات ارضی اوخصوصيات خاکی په حضرت آدم علیه السلام کښې راغله نوبيا دَآدم علیه السلام په اولاد کښې هم راغله.

---

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحديث ٤٦٩٣ والترمذی فی السنن رقم الحديث ٢٩٥٥ واحمد فی المسند: ٤/٤٠٠.

① احمر، يعنی سور.
② ابیض، یعنی سپین.
③ اسود ،یعنی تور.
④ بين بين. يعنی غنم رنگې.

قوله: وَالسَّهْلُ، وَالْحَزْنُ، وَالْخَبِيثُ، وَالطَّيِّبُ:

د انسان باطنی څلور صفات: دَدې ظاهری څلور اوصافو په مقابله کښې دَ څلورو باطنی اوصافو هم په حدیث کښې ذکر دی.هغه دا دی.

① سهل: یعنی نرمی دا د نرمې زمکې صفت دې. خودلته دَ سهل نه دَ نرمو اخلاقو مالك انسان مراد دې

② حزن:د دا سختې زمکې صفت دې.دلته د دې څخه سخت مزاج او بداخلاق انسان مراد دې.

③ خبيث: دا د شاړې او بنجرزمکې صفت دې دلته ترې کافر اوګناهګار مراد دې.

④ طيب:داد زرخيزې زمکې صفت دې.دلته ترې مؤمن اوداﷲ تعالى نيک بنده مراد دې.

[١٠١] په تقدير کښې عدم تغير

١٠١–(١)[٢٢] ①وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ ②إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ خَلَقَ خَلْقَهُ فِيْ ظُلْمَةٍ فَأَلْقَى عَلَيْهِمْ مِنْ نُوْرِهِ ③فَمَنْ أَصَابَهُ مِنْ ذٰلِكَ النُّوْرِ اهْتَدٰى وَمَنْ أَخْطَأَهُ ضَلَّ ④فَلِذٰلِكَ أَقُوْلُ جَفَّ الْقَلَمُ عَلٰى عِلْمِ اللهِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِي

ترجمه: ① او حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي② چې الله تعالى ﷻ خپل مخلوق (انسانان او پيريان) په تياره کښې پيدا کړل او بيا يي په هغوئ د خپل نور عکس واچولو،③ نو چاته چې د دې نور رڼا ميسره شوه هغه په نيغه لار ولګيدي او څوك چې د دې د مقدسو شغلو څخه محروم پاتې شو هغه په ګمراهيَ کښې پاتې شو،④ د دې وجې څخه زه وايم چې په تقدير الٰهي باندې قلم وچ شوې دي (چې اوس په تقدير کښې څه رد وبدل ممکن نه دي). احمد ترمذي

حل اللغات: ① اهْتَدٰي: هدايت ئې بيا موندلو ، دجنت په لار روان شو ، ② أَخْطَأَهُ: أي لَمْ يَصِلْ إِلَيْهِ: تجاوز ئې اوکړو، يعنی دا نور ئې بيا نه موندلو،③ جَفَّ : اوچ شو قلم، (دا کنايه ده چه د مقداراتو دکتاب نه قلم فارغ شو).

١) اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ٢٦٤٢ واحمد فی المسند: ٢/ ١٧٦

تسهيلات:

قوله: خَلَقَ خَلْقَهُ فِي ظُلْمَةٍ:

د ظلمت په مصداق کښې دوه اقوال: ① حافظ تور پشتي رحمة الله عليه فرمائي چې ظلمة څخه مراد خواهشات او شهوات دي کوم چې د انسان په طبيعت کښې دي او دانسان د تخليق دَ وخت څخه دَ ده سره دي.

② شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائي چې د ظلمت څخه مراد د ماشوموالي زمانه ده کومې کښې چې انسان پيدا کيږي او نور څخه مراد دادي چې دې به لوې شي نو دَ شريعت په براهينو باندې به عمل کوي، دا دده دپاره نور دې.

قوله: فَأَلْقَى عَلَيْهِمْ مِنْ نُورِهِ:

د هدايت د نور سره تشبيه: په دې حديث کښې د هدايت خاوندی د نور سره تشبيه ورکړې شوې ده لکه څنګه چې يو کس په تياره کښې په يوه لار باندې تګ کول غواړي نو د رڼړا څخه بغيرنشي تلې دغه شان چا سره چې د الله تعالى هدايت نه وي نوهغه صراط مستقيم او جنت ته نشي رسيدې.

[١٠٢] زړونه د الله جل جلاله د ګوتو څخه د دوو ګوتو په مينځ کښې دي

١٠٢-(١)[٢٣] [١] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ: يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ " [٢] فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللَّهِ! آمَنَّا بِكَ، وَبِمَا جِئْتَ بِهِ، فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا؟ [٣] قَالَ: " نَعَمْ، إِنَّ الْقُلُوبَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللَّهِ، يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به اکثر او زيات په طور د دعا دا فرمايل (يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ) اې د زړونو ګرځونکيه زما زړه په خپل دين قايم ولره، [٢] ما اوويل چې يا رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ په تا صلى الله عليه وسلم باندې ايمان راوړې دي او ستا صلى الله عليه وسلم په راوړې دين او شريعت باندې مې هم ايمان راوړې دي، نو آيا اوس هم ته صلى الله عليه وسلم زمونږ په باره کښې ويريږې (چې چيرته مونږ ګمراه نه شو) [٣] رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل بې شکه زړونه د الله تعالى جل جلاله د ګوتو څخه د دوو ګوتو په مينځ کښې دي (يعني د هغه په تصرف او اختيار کښې دي) چې هغه څنګه غواړي هغه په ګردش (چکر) کښې راولي. رواه الترمذي وابن ماجه

حل اللغات: ① مُقَلِّبَ: أَيْ: مُصَرِّفُهَا: ګرځونکې، اړونکې راړونکې، ② ثَبِّتْ: قائم اوساته، ③ بِمَا جِئْتَ بِهِ: کوم دين چه تا راوړلې دې يعنى قرآن اوحديث.

(١) اخرجه الترمذى كتاب القدر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء أن القلوب بين أصبعى الرحمن (رقم-٢١٤٠) وابن ما جة كتاب الدعاء /بباب دعاء رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-٣٨٣٤)

تسهیلات:

قوله: آمَنَّا بِكَ، وَبِمَا جِئْتَ بِهِ، فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا؟:

د سوء خاتمې څخه ویریدل: یعنی ته معصوم یې. تاد نورو هدایت دپاره دین اوشریعت پیش کړې دې. ستا باره کښې احتمال نشته چې ته به دَ هدایت د لارې څخه واوړې، اوس ظاهر دادی چې ته به دا دعا زمونږ دپاره کوې. نو آیا په شریعت باندې اسلام راوړلو باوجود ستا په موجودګۍ کښې هم زمونږ د ګمراه کیدو احتمال شته دې؟ نبی کریم ﷺ په جواب کښې نعم اوفرمائیل. آؤ ستا دَ اوړیدو څخه ویریږم ځکه چې د انسان زړه درحمان د دوؤ ګوتو په مینځ کښې دې، لهذا کله هم تاسو مخ اړولې شئ. په دې وجه هر وخت د ایمان د حفاظت دعا کول پکار دی.

[۱۰۳]دانسان د زړه مثال

۱۰۳–( )[۲۴] [۱]وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲]«مَثَلُ الْقَلْبِ كَرِيشَةٍ بِأَرْضِ فَلَاةٍ يُقَلِّبُهَا الرِّيَاحُ ظَهْرًا لِبَطْنٍ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱]وحضرت ابو موسیٰ ﷛ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] د زړه مثال داسې دې لکه یو وزر چې په یو میدان کښې پروت وي او هواګانې هغه د شاه څخه د خیټې طرف ته او د خیټې د طرف څخه د شاه طرف ته اړوي را اړوي. احمد

حل اللغات: ① كَرِيشَةٍ: ریشَه دَ مرغئی وزر ته وائی، ② فَلَاةٍ: أَيْ: مَفَازَةٌ خَالِيَةٌ مِنَ النَّبَاتِ: داسې کهلاؤ میدان چه وونې پوټې پکښې نه وی، شاړ میدان، ③ ظَهْرًا: شا، ④ بَطْنٍ: خیټه، یعنی کله دَ شاطرف ته اوکله دَخیټې طرف ته، کله ئې په یو طرف اوکله ئې په بل طرف اړوی راړوی.

تسهیلات:

قوله: مَثَلُ الْقَلْبِ كَرِيشَةٍ بِأَرْضِ فَلَاةٍ:

دانسانی زړه د بڼرې سره تشبیه: په سرعت انقلاب کښې نبی ﷺ د انسانی زړه تشبیه د یوې بڼرې سره ورکړې ده چې هغه په یو میدان او صحراء کښې وی اوبادونه پرې الوزی راؤلوزی، کله ئې یو طرف ته اوړی اوکله بل طرف ته اړوی راړوی. دغه شان دانسان زړه په یوحالت باندې نه پاتې کیږی بلکه د ماحول څخه ډیر زر اثر قبلوی کله نیکۍ ته راغب کیږی اوکله بدئ ته. نود ډیراحتیاط ضرورت دې. دغلطومجلسونوڅخه ځان ساتل اوښه ماحول اختیارول پکار دی.

بڼرې سره دتشبیه وجه: بڼرې سره ئې ځکه تشبیه ورکړه چې دا یو وړوکې څیز دې په معمولی هوا سره په زمکه اوړی راؤړی اوبیا چې په کولاؤ میدان کښې وی.نود اوړیدو راؤړیدو

---

(۱) اخرجه ابن ما جة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب فی القدر(رقم-۸۸)واحمد فی المسند:٤/٤٠٨

احتمال په کښې زيات وی.دغه شان هرطرف ته فتنې او دګمراهۍ اسباب دی.هر وخت انسان د هدايت څخه ګمراهۍ ته اود ګمراهۍ څخه هدايت ته راؤړيدې شی.نودحالاتو څخه زر متاثره کيدوپه وجه ئې د بنړې سره تشبيه ورکړه.

قوله: ظَهْرًا لِبَطْنٍ:

دمذکوره جملې په ترکيب کښې درې احتمالات:

① ظهراً د ,,يقلبها،، د ضميرڅخه بدل دې.او په لبطن کښې لام په معنى د ,,إلى،، دې. لکه څنګه چې د الله تعالى په دې قول کښې لام په معنى د ,,إلى،، دې.((مُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ))

② ظهرا لبطن: دا دواړه الفاظ مفعول مطلق دې.يعنى ,,تقليباً مختلفاً،،

③ دا حال مقدره دې.تقديرى عبارت داسې دې.,,اى يقلبها مختلفة،،

[۱۰٤] په څلورو څيزونو د ايمان راوړلو وجوب

۱۰۳ـ(١)[٢٥] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ: [٣] يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ بَعَثَنِي بِالْحَقِّ، [٤] وَيُؤْمِنُ بِالْمَوْتِ، وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ، وَيُؤْمِنُ بِالْقَدَرِ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او حضرت علي کرم الله وجهه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] چې يو بنده تر هغه وخته پورې مؤمن نشي کيدې تر څو چې هغه په څلورو څيزونو ايمان رانه وړي [٢] ① د دې خبرې ګواهي ورکول چې د الله تعالى ﷻ څخه ما سوا بل څوك د عبادت لايق نشته، ② او زه بغير د شك وشُبهې د الله ﷻ د طرف څخه راليږل شوې رسول يم او (حق دين اسلام) راوړلو سره دنيا ته راغلي يم، [٣] ③ مرګ او د مرګ څخه وروسته (په ميدانِ حشر کې) په راپورته کيدو باندې ايمان روارل، ④ او په تقدير باندې ايمان راوړل. ترمذي ابن ماجه.

حل اللغات: ① اَلْبَعْثِ: دوباره راژوندی کيدل.

تسهيلات:

قوله: لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُؤْمِنَ بِأَرْبَعٍ:

ايمان بالقدر د شهادتينوسره د يوځائې کولووجه: شيخ عبدالحق رحمة الله عليه فرمائى چې د شهادتينو اقرار سره تقدير يو ځائې کړې شو ،دې کښې دې طرفته اشاره اوکړې شوه چې په تقديرباندې ايمان راوړل اوايمان بالشهادتين يو مقام لرى. دا نشى کيدې چې مؤمن جوړيدو دپاره د شهادتينو اقرار خو ضروری وی او په تقدير باندې ايمان نه لرې. بلکه

[١]) اخرجه الترمذى كتاب القدر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الإيمان بالقدر خيره وشره (رقم-٢١٤٥) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فى القدر(رقم-٨٨)

لکه څنګه چې د حقیقت ایمان تعلق د شهادتینو په منلو کښې دې، داشان د تقدیر منل هم د ایمان دپاره ضروری دی.

قوله: وَيُؤْمِنُ بِالْمَوْتِ:

په مرګ باندې د ایمان راوړلو مطلب: د ایمان بالموت مطلب دادې چې دا دنیا فانی ده. ټول څیزونه عارضی او فانی دی، او هر ذی روح د پاره مرګ لازمی او یقینی دې او دا مرګ په حقیقت کښې دالله تعالی په اختیار کښې دې اګرچې ددې نسبت خارجی حوادثو طرفته کیږی. [اشعة المعات: ١/١١١]

قوله: وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ:

په دوباره ژوندون دایمان راوړلو مطلب: یعنی چه په دې باندې ئی ایمان وی چه قیامت به راځی، دَ ذرې ذرې حساب به کیږی. انسان به دخپلي جثي سره هلته حاضریږی. حساب به ورکوی که چرې کامیاب شو نو جنت ته به ځی ګنی دوزخ ته به ځی.

قوله: وَيُؤْمِنُ بِالْقَدَرِ:

په تقدیر باندې دایمان راوړلو فائده: الله تعالی تقدیر مقررولو سره دَ تسلئی او صبر لوئی سامان ورکړې دې. نوچه کوم خلق تقدیر منی هغوی په هر مصیبت باندې دا وائی چه په تقدیر کښې هم داسې لیکلې وو، دَ تقدیر فیصله وه. په دې سره دَ حادثې په وخت کښې ډیره حوصله ملاویږی. لیکن چه کوم خلق تقدیر نه منی لکه کافر یا منکرینِ تقدیر نوهغوی دَ حادثې په وخت دَ درد تکلیف، غم، افسوس اومصیبت نه بل هیڅ نه شی حاصلولې. هغوی سره دَ آسرې دپاره هیڅ هم نه وی او غم برداشت کولو سره ویلی کیږی.

نوټ: په تقدیرد ایمان راؤلومباحث وړاندې تیرشوی دی. دوباره د ذکر کولو ضرورت نشته.

[١٠٥] د مرجیه او قدریه د تکفیراوعدم تکفیر مسئله

١٠٥—(¹)[٢٦] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «صِنْفَانِ مِنْ أُمَّتِي لَيْسَ لَهُمَا فِي الْإِسْلَامِ نَصِيبٌ: ③ الْمُرْجِئَةُ، وَالْقَدَرِيَّةُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ (حَسَنٌ صَحِيحٌ)

ترجمه: ① او دَحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چې رسول الله ﷺ داسې ارشاد اوفرمائیلو ② چې زما په امت کښې دوه ډلې داسې دی چاته چه دَ اسلام هیڅ حصه هم نصیب شوې نه ده ③ او هغوی مُرجۀ او قدریه دی. امام ترمذي رحمه الله دا حدیث نقل کړې دي او وئیلی دی چه دا حدیث غریب دې.

¹) اخرجه ترمذی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الإیمان بالقدر خیره وشره (رقم-٢١٤٩) وابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فی الإیمان (رقم-٦٢)

حل اللغات: ①صِنْفَانِ: أَيْ: نَوْعَانِ: دوه قسمه، ②الْمُرْجِئَةُ: د ارجاء نه دې، وَهُوَالتَّأْخِيرُ: ددې معنی ده: روسته کول، مرجئه یوه خاص فرقه ده، دوی ته مرجئه ځکه وائی چه دوی هم عمل روسته کوی یعنی عمل له اهمیت نه ورکوی. ③الْقَدَرِيَّةُ: دا هم یوه خاص فرقه ده چه د تقدیر منکر دی.

تسهیلات:

قوله:صِنْفَانِ مِنْ أُمَّتِي:

د صنفان څخه مراد: په دې حدیث پاك کښې د دوه قسمه خلقو مذمت کړې شوې دې. او وئیلې شوی دی چې اګر چې دا خلق خپل ځان اسلام طرفته منسوب ګڼړی خو په اسلام کښې ددوئ هیڅ حصه نشته دې. یو د قدریه جماعت او بل د مرجیه جماعت.

قوله:أُمَّتِي:

دامت دوه قسمونه:

①**امت اجابت:** دې څخه مراد د امت هغه خلق دی کومو چې اسلام قبول کړې دې.

②**امت دعوت:** دې کښې هغه ټول جن وانس داخل دی کوم چې به د نبی کریم ﷺ دبعثت نه ترقیامته پورې وجود کې راځی.او کومو چې تر اوسه پورې اسلام لا قبول کړې نه دې. هغوئ چې ترکومې پورې په کفرباندې قائم وی نو په امت دعوت کې به شمیرلې کیږی.

قوله:الْمُرْجِئَةُ:

د مرجئه څخه مراد: ددې څخه مراد جبریه دی، کوم وائی چې بنده مجبور محض دې، دا خلق وائی چې ایمان سره هیڅ ګناه مضر نه ده. لکه څنګه چې کفر سره هیڅ نیکی معتبر نه ده. ددوئ په نیز انسان مجبور محض او خپلو اعمالو کښې بې بس دې، دا خلق د اسبابو قائل نه دی، وائی چې د اعمالو نسبت انسان طرفته داسې دې لکه څنګه چې کانړی یا ونې طرفته یو عمل منسوب کړې شی.

قوله:وَالْقَدَرِيَّةُ:

د قدریه څخه مراد: دې فرقې ته په دې وجه قدریه وئیلې کیږی چې دوئ د تقدیر څخه منکر دی، یا په دې وجه ورته وئیلې کیږی چې دوئ زیات تر بحث په تقدیر کښې کوی. یا په دې و جه ورته قدریه وئیلې کیږی چې دوئ وائی چې مونږ ته الله ﷻ د خپلو افعالو د تخلیق قدرت راکړې دې. د افعالو باره کښې ددوئ عقیده داده چې د افعالِ خیر خالق الله ﷻ دې، او دافعال شر خالق نفس اماره یا شیطان دې. دځینې علماء کرامو خیال دې چې دقدریه عقیده داده چې د افعال خیر خالق نور دې او د افعال شر خالق ظلمت دې، بل حدیث پاك کښې دوئ ته دَ دې امت مجوس وئیلې شوی دی. ځکه چې مجوسیان هم د افعالو خالق دوه منی. د خیر د افعالو خلق دَ هغوی په نیز یزدان او دشر خالق دهغوی په

نیز اهرمن دې. بهرحال دا دواړه فرقې یو حده پورې گمراه دی، کوم خلق چه نور او ظلمت طرفته افعال منسوب کوی

قوله: لَيْسَ لَهُمَا فِي الْإِسْلَامِ نَصِيبٌ:

د مرجیؤ او قدریو په تکفیراوعدم تکفیرکښې (۲) مذاهب:

① بعضې عالمانو دوی ته کافر وئیلی دی

② ځینو ورته کافر نه بلکه مبتدع او فاسق فاجر وئیلی دی.

داول فریق دلیل: په زیربحث حدیث کښې دی ((لیس لهما فی الإسلام نصیب)) معلومه شوه چې دوی کافران دی ځکه چې په اسلام کښې ئې هډو څخه حصه نشته.

د اول فریق د دلیل مرې جوابونه: ① نصیب د بخت اوقسمت په معنی کښې دی چې دوئ بدبخت دی بدنصیب دی

② دلته د نصیب څخه مراد دادې چې دوئ ته د اسلام کامله حصه نه ده ملاؤ شوې. دوئ ناقص مسلمانان دی،

③ داحدیث په تغلیظ وتشدید باندې محمول دی.

④ د امت څخه امت دعوت مراد دې

د دویم فریق دلیل: په زیربحث حدیث کښې دی ((من أمتی)) که چرته دوی کافران وې نو بیا ورته دامت نسبت ولې کوی.

د دواړو فرقو عدم تکفیر دعالمانو په نظر کښې:

① علامه تورپشتی رحمه الله فرمائی چې دا خلق اهل تاویل دی، د دوئ تکفیر نه دی کول پکار.

② جمهور اهل السنة دا وائی چې ددوئ تکفیر څخه دې پرهیز اوکړې شی. ځکه چې دا خلق صریح د کفر اقرار نه کوی او نه د کفر اراده لری، اګر چې ددوئ عقائد خطرناك حد ته رسیدلی دی لیکن هغوئ د کفر اراده نه ده کړې. او تاویل کوی،

[۱۰۶] د تقدیرپه منکرینو د خسف او مسخ عذاب واقع کیدل

۱۰۶ـــ(۱)[۲۷] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " ۲ «يَكُونُ فِي أُمَّتِي خَسْفٌ، وَمَسْخٌ، وَذَلِكَ فِي الْمُكَذِّبِينَ بِالْقَدَرِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وایي چې ما رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داسې اوریدلي دي ۲ چې زما په امت کې به (د الله جل جلاله دردناك عذاب) په زمکه کښې غرقیدل او د شکلونو

[۱] اخرجه الترمذی فی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب (رقم-۲۱۵۲)واحمد فی المسند:۲/۱۰۸

مسخ كيدل هم وي او دا عذاب به په هغه خلقو وي څوك چې د تقدير منكر دي، ابو داود، امام ترمذي رحمه الله هم داسې روايت نقل كړې دي.

حل اللغات: ① خَسْفٌ: أَيْ: غَابَ بِهِ فِي الْأَرْضِ: په زمكه كښې غرقيدو ته خسف وائي. ② مَسْخٌ: أَي تَحْوِيلُ صُورَةٍ إِلَى مَا هُوَ أَقْبَحُ مِنْهَا: خپل اصلي شكل په قبيح او بدشكل كښې بدليدل، شكل ورانيدل.

تسهيلات: قوله: وَمَسْخٌ:

د مسخ دوه صورتونه: ① چه بدنونه، جثې او مخونه ټول هرڅه دَ خنزيرانو او شادوګانو په شكل كښې بدل شي لكه څنګه چه دَ داؤد عليه السلام اوحضرت عيسىٰ عليه السلام په قومونوكښې چه شوي.

② چې بدن هم هغه وي خو مخ ئې بدل شي.

د مسخ په تفسير كښې دوه اقوال:

① بعضې حضراتو دَ خسف نه دَ مخونو توريدل او دَ مسخ نه دَ زړونو توريدل مراد اخستې دي. دا خسف او دا مسخ خودَ رنړا ورځې په شان په دې امت كښې عام دي.

اشكال: دَ خسف او مسخ عذاب به په پخوانو امتونو باندې راتللو. دَدې امت دَپاره حضورپاك دعا فرمائيلې كومه چه قبوله شوه نوبيا خسف او مسخ څنګه؟

داشكال جوابونه: ① په زير بحث حديث كښې چې د كوم خسف اومسخ ذكر دې نو دا د معنى په اعتبار سره جمله شرطيه ده يعنى كه په دې امت كښې خسف اومسخ وې نو د قدرپه منكرينوكښې به واقع شوې وې خو زما په دعا سره ددې امت څخه دا عذاب رفع شوى دى ددې وجې به په قدريؤ باندې هم نه راځي.

② په پخوانو امتونو كښې به دا عذاب په توګه دَ عموم راتلو هغه دَدې امت دَپاره اوس هم منفى دې. په حديث كښې چه دكوم عذاب ذكر دې هغه دَ يومخصوص فرقې دَپاره په مخصوص احوالو كښې دې.

③ علامه خطابى. فرمائى چې خسف اومسخ په دوه قسموه ده ظاهرى اومعنوى نو ظاهرى مسخ اوخسف خو د نبى عليه السلام په دعا سره پورته شوې ده خو معنوى مسخ او خسف په دې امت كښې كه واقع كيږى نو په منكرين قدر باندې به واقع كيږى.

④ په كوم حديث كښې چې د دې امت څخه د خسف او مسخ د محفوظ كيدو خبره راغلې دې نو دهغې څخه عمومى عذاب مراد دې چې زما په امت به پيخ كن عذاب نه راځي چې ټول د سيرمې هلاک شى او څوک هم پاتې نشى اوپه دې حديث كښې چې د كوم خسف او مسخ ذكر راغلې دې نو دا جزوى طور دې چې په بعضې خلقوباندې به دا عذابونه واقع كيږى.

⑤ په حدیث کښې چې د کومې مسخ ذکر راغلې دې نو د دې څخه اخروی مسخ مراد ده او د کوم خسف ذکرچې راغلې دې نو ددې څخه د پل صراط څخه په جهنم کښې غورزیدل مراد دې.

[١٠٧] فرقه قدریه د دې امت مجوس دي

١٠٧–(١)[٢٨] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (٢ «الْقَدَرِيَّةُ مَجُوسُ هَذِهِ الْأُمَّةِ، إِنْ مَرِضُوا فَلَا تَعُودُوهُمْ، ٣ وَإِنْ مَاتُوا فَلَا تَشْهَدُوهُمْ») رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عمر ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ چې فرقه قدریه د دې امت مجوس دي، نو که هغه بیمار شي نو د بیمار پرسي دپاره مه ورځي ٣ او که مړه شي نو د هغوئ په جنازه کښې مه شریکیږي. احمد، ابوداود

تسهیلات: نوټ: دقدریه فرقې باره کښې وضاحت وړاندې دحدیث نمبر(١٠٥) په تسهیل کښې تیر شوې دې.

قوله: إِنْ مَرِضُوا فَلَا تَعُودُوهُمْ:

دعدم عیادت په وجه کښې دوه اقوال: ① کوم خلق چه قدریه کافرګنړي دَهغوی په نیزخودا خبره حقیقت دې چه داکافران دی نو دَدوی عیادت مه کوئی بلکه سوشل بائیکاټ ورسره اوساتئ.

② کوم خلق چه دَقدریه تکفیرنه کوی دَهغوی په نیزداکلام په تغلیظ اوتشدیداو په زجر اوتوبیخ باندې محمول دې.

قوله: وَإِنْ مَاتُوا فَلَا تَشْهَدُوهُمْ:

د جنازې نه کېلو په وجه کښې دوه اقوال: ① کوم خلق چه قدریه کافرګنړي دَهغوی په نیزخودا خبره حقیقت دې چه داکافران دی نو دَدوی په جنازه کښې شرکت مه کوئ. بلکه سوشل بائیکاټ ورسره اوساتئ.

② کوم خلق چه دَقدریه تکفیرنه کوی دَهغوی په نیزجنازه نه کول په تغلیظ اوتشدیداو په زجر اوتوبیخ باندې مبنی دې.

[١٠٨] د قدریه سره ناسته مه اختیاره وئ

١٠٨–(٢)[٢٩] ١ وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (٢ «لَا تُجَالِسُوا أَهْلَ الْقَدَرِ وَلَا تُفَاتِحُوهُمْ») رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[١]) اخرجه ابن ما جة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فی القدر(رقم-٩٢) وابوداود فی السنن رقم الحدیث ٤٦٩١

[٢]) اخرجه احمد فی المسند:١/٣٠ وابوداود فی السنن رقم الحدیث ٤٧١٠

ترجمه: [١] او حضرت عمر ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] د قدریه سره ناسته مه اختیاره وي او نه دوی خپل حکم (ثالث) جوړوي. رواه ابو داود

حل اللغات: ① لَا تُجَالِسُوا : أَيْ: لَا تُوَادِدُوهُمْ: ناسته پاسته ورسره مه کوئ یعنی مینه محبت ورسره مه ساتئ، ځکه چه ناسته پاسته علامت دې دهغوی سره دمینې محبت، ② لَا تُفَاتِحُوهُمْ: أَيْ: لَا تُحَاكِمُوا إِلَيْهِمْ: خپلې فیصلې په دوی مه کوئ، دوی په خپلو فیصلو کښې ثالث مه جوړوئ.

تسهیلات:

قوله: لَا تُجَالِسُوا أَهْلَ الْقَدَرِ.

داقدریؤسره دناستې ممانعت: دا یوه نمونه ده په کوم سره چه امت ته تعلیم ورکړې شوې دې چه دَ اهل باطل، اهل نفاق او دَ خرابې عقیدې اودَ ګمراه خلقو دَ مجلسونونه ځان او ساتئ اوهغوی سره اختلاط مه ساتئ خاص کر هغه خلق چه په دین اسلام پورې مسخرې کوي. هغوی سره تعلقات ساتل په حقیقت کښې هم دَهغوی په اعمالو کښې شریک کیدل دی.

قوله: وَلَا تُفَاتِحُوهُمْ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال: ① هغوی سره مناظره مه کوئی ځکه چه وخت به موضائع کیږی اودَ فائدې امید نشته بلکه دَنقصان خطره ده.

② هغوی سره په سلام کلام کښې شروع مه کوئی.

③ هغوی له فیصلې مه اوړئی. دَ فتاحه معنی فیصله ده.

[١٠٩] شپږ قسمه سړو باندې د لعنت بیان

١٠٩ — (١) [٣٠] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ [رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا] قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ، وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ، وَكُلُّ نَبِيٍّ يُجَابُ: [٣] الزَّائِدُ فِي كِتَابِ اللَّهِ، وَالْمُكَذِّبُ بِقَدَرِ اللَّهِ، [٤] وَالْمُتَسَلِّطُ بِالْجَبَرُوتِ لِيُعِزَّ مَنْ أَذَلَّهُ اللَّهُ، وَيُذِلَّ مَنْ أَعَزَّهُ اللَّهُ، [٥] وَالْمُسْتَحِلُّ لِحُرَمِ اللَّهِ، وَالْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِي مَا حَرَّمَ اللَّهُ، وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِي». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (الْمَدْخَلِ)، وَرَزِينٌ فِي كِتَابِهِ.

ترجمه: [١] او حضرت عائشه ﷺ فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] شپږ سړي داسې دي چې په هغوئ باندې زه لعنت وایم او الله پاك هم هغه لعنتیان ګرځولي دي او د هرنبي دعا قبلیږي [٣] ① په کتاب الله کښې زیاتي کونکي ② تقدیر الٰهي دروغ ګنو نکي [٤] ③ هغه سړي چې هغه په زبردستي غلبه موندلو په بنا یو داسې سړي معزز کړي چې الله جل جلاله ذلیله کړي وي او هغه سړي ذلیله کړي چې الله جل جلاله د عزت او عظمت په دولت سره بنائسته کړي وي [٥] ④ هغه سړي چې د الله جل جلاله د حدودو څخه تجاوز کولو سره څه چې

(١) اخرجه الترمذی فی کتاب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم / باب (رقم-٢١٥٤)

الله جَلَّ جَلَالُهُ حرام کړي وي هغه حلال وګڼي⑤ هغه چې زما د اولاد څخه هغه شي (قتل) حلال وګڼي کوم چې الله جَلَّ جَلَالُهُ حرام کړي دي ⑥ څوك چې زما سنت پریږدي. بیهقي. رزین

حل اللغات: ① يُجَابُ: أَيْ: يُجَابُ دَعْوَتُهُ: مستجاب وی دعا ئې قبلیږي. ② الزَّائِدُ: بِأَنْ يُدْخِلَ فِيهِ مَا لَيْسَ فِيهِ: زیاتوالې پکښې کوی، موجود پکښې نه وی او دوی ئې پکښې داخلوی، یا پکښې بې ځایه تاویلونه کوی. ③ الْمُتَسَلِّطُ : غلبه موندونکی، ④ الْجَبَرُوتِ : د جبر مبالغه ده، وَهُوَ الْقَهْرُ: قهر او زبردستئ ته وائی، ⑤ الْمُسْتَحِلُّ : حلال ګڼرونکې، ⑥ عِتْرَتِي : الْأَقَارِبُ الْقَرِيبَةُ: نزدې اولاد، د بی بی فاطمې اولاد، اهل بیت.

تسهیلات:

قوله: سِتَّةٌ لَعَنْتُهُمْ، وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ، وَكُلُّ نَبِيٍّ يُجَابُ:

دلعنت قسمونه: ① **لعنت کفر:** لعنت دکفردې دا هغه "إبعادمن رحمة الله"دې کوم چه کافرانوسره خاص دې.

دَچامرګ په یقینی توګه باندې په کفرباندې شوې وی نوپه هغه باندې لعنت کول جائز دی مثلاً دَفرعون اوابوجهل مرګ په کفرباندې یقینی شوې دې نوپه ده باندې لعنت وئیل جائز دې.

② **لعنت فسق:** لعنت دَ فسق دې کوم چه "إبعادمن رضاء الله" دادَمسلمان دَپاره دی په شریعت کښې کوم سړې چه په قطعئ توګه په کفرباندې مړشوې نه وی نوپه هغه باندې لعنت جائزجائز نه دې لکه یزید ځکه چې دَ یزیدمرګ په کفرباندې یقینی نه دې.

په یومعین کس باندې لعنت وئیل جائز نه دی.

د ملعون په مصداق کښې دوه احتمالات: ① په زیربحث حدیث کښې دا شپږ خبرې که چرې دَ کافرانودَ پاره دی نودا لعنت دَ کفردې

② که چرې داخلق دَاسلام په دائره کښې وی. نودا لعنت دَ فسق دې.باقی په مسلمان باندې لعنت لیږل څنګه دی نوحافظ تورپشتی رحمه الله فرمائی چې دا حدیث په تغلیظ او تشدید باندې حمل دې.

بعضې قابل تشریح جملې:

① الزَّائِدُ فِي كِتَابِ اللَّهِ: که چرې دکتاب الله په الفاظوکښې څوك زیاتې کوی یادَدې قائل دې نوهغه کافردې اوکه چرې په معنوی توګه تاویل اوتحریف کوی نوهغه مبتدع اوفاسق فاجردې چه دَ شرع مخالف تاویل کوی.

② وَالْمُكَذِّبُ بِقَدَرِ اللَّهِ: داهم هغه معتزله خوارج او قدریه دی.

③ لِيُعِزَّ" یعنی کوموخلقوته چه الله تعالی دَتقوىٰ دَ وجې نه عزت ورکړې دې هغه ذلیل

کړي اوچاته چه الله تعالی دَ فسق دَوجې نه ذلت ورکړې دي دَهغوی عزت اوکړي.

④ وَالْمُسْتَحِلُّ لِحَرَمِ اللَّهِ: ای بیت الله چه په حرم کعبه کښې قتل اوکړي، ښکار اوکړي او واښه پرې کړي.

⑤ وَالْمُسْتَحِلُّ مِنْ عِتْرَتِي: يعنى دَاهل بيت احترام اونه کړي دَهغوی په تعظیم کښې کوتاهي اوکړي دَهغوی حقوق غصب کړي اوهغوی ته تکلیف اورسوي.

⑥ وَالتَّارِكُ لِسُنَّتِي: ترك سنت على طريق الاهانه مراد دي لکه ډیرې پورې تهوقې کول نو دَ ایمان روح به ئې پاتې نه شي سره دَدې چه کلمه به وائي.

[١٠] په مقررشوي ځايې کې مرګ راځي

١٠-()[٣١] ١ وَعَنْ مَطَرِ بْنِ عُكَامِسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (٢ «إِذَا قَضَى اللَّهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً»). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت مطر بن عکاس ﷺ روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر کله چې الله تعالی جل جلاله د يو سړي مرګ په يوه زمکه کښې مقدر کوي نو د هغه زمکي طرف ته د هغه حاجت هم پيدا کوي (چې هلته په تلو باندې مجبوره شي او هلته ورتلو سره د مرګ ښکار شي). احمد، ترمذي

حل اللغات: ① قَضَى اللَّهُ: أَرَادَ، أَوْقَدَّرَ أَوْحَكَمَ: الله اراده اوکړي يا فيصله اوکړي يا مقدر کړي.

تسهیلات:

قوله: إِذَا قَضَى اللَّهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً:

د سليمان عليه السلام د زمانې واقعه: لکه څنګه چې اکثر خلق وائی چې زه دلته خاورې راوړې يم نو دتقدير په وجه بنده هغه ځائې ته رسی کوم ځائې کښې چې دده مرګ مقدر وی. د حضرت سليمان عليه السلام د وزير قصه مشهوره ده چې هغه ته ملك الموت نيغ نيغ اوکتل نو هغه د ډيرې ويرې حضرت سليمان عليه السلام څخه مطالبه اوکړه چې ما يوې جزيرې ته اورسوه، کله چې دې جزيرې ته اورسيدو نو د مرګ فرښتې ددهٔ څخه روح واخستو. دحضرت سليمان عليه السلام په تپوس هغه فرښتې اووئيل چې دهغه مرګ دغه ځائې کښې مقدر وو او وخت ډير کم وو نو په دې ځائې کښې په سوؤنو ميلونو لرې ناست وو، نو ما دا حربه استعمال کړه چې هغه ويريدو او دلته راغلو نو مرګ هم راغلو.

......

١) اخرجه احمد فى المسند: ٢٢/٥ والترمذى فى السنن رقم الحديث ٢١٤٤

[١١١] د مسلمانانو او کافرانو د ماشومانو حکم

١١١ـ(١)[٣٢] ١ «وَعَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! ذَرَارِيُّ الْمُؤْمِنِينَ؟ ٢ قَالَ: (مِنْ آبَائِهِمْ). ٣ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ بِلَا عَمَلٍ؟ قَالَ: (اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ). ٤ قُلْتُ: فَذَرَارِيُّ الْمُشْرِكِينَ؟ ٥ قَالَ: (مِنْ آبَائِهِمْ) قُلْتُ بِلَا عَمَلٍ؟ قَالَ: (اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا عَامِلِينَ).» رَوَاهُ دَاوُدُ.

ترجمه: ١ او حضرت عائشه صديقه ﵂ روايت کوي چې ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ (د جنت او دوزخ په سلسله کي) د مسلمان ماشومانو څه حکم دي؟ ٢ ده ﷺ وفرمايل د خپلو پلرونو تابع دي ٣ يعنى هغه به د خپلو پلرونو سره په جنت کښې وي، ما عرض وکړو يا رسول الله ﷺ بغير د څه عمل څخه؟ ده ﷺ وفرمايل الله تعالى جل جلاله ډير ښه پوهيږي چې هغه ماشومانو به څه کونکي وو، ٤ ما بيا پوښتنه وکړه چې ښه د مشرکانو د اولاد په باره کښې څه حکم دي؟ ٥ رسول الله ﷺ وفرمايل هغه به هم د خپلو پلرونو تابع وي، ما (په حرانتيا سره) پوښتنه وکړه بغير د څه عمل څخه؟ ده ﷺ وفرمايل چې الله ښه پوهيږي چې هغه ماشومانو به څه کول. ابوداؤد

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث تشريح د مشکاة حديث نمبر (٩٣) په تسهيل کښې تيره شوې ده هغې ته رجوع اوکړئ.

[١١٢] ژوندي ماشوم ښخونکي دوزخيان دي

١١٢ـ(٢)[٣٣] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: («الْوَائِدَةُ، وَالْمَوْءُودَةُ فِي النَّارِ»). رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن مسعود ﵁ روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ژوندي ماشوم ښخونکي (ښځه) او موؤده دواړه دوزخيان دي. ابوداؤد

حل اللغات: ① الْوَائِدَةُ: ژوندې ماشوم ښخونکې ښځه، ② الْمَوْءُودَةُ: ژوندې ښخ کړې شوې ماشومه.

تسهيلات:

قوله: الْوَائِدَةُ، وَالْمَوْءُودَةُ فِي النَّارِ:

د لونړو خوښولو وجوهات: ① دبعضې عربو نظريه وه چې دا لونړه د کار روزګار نه وی او نه مونږ سره په جنګ کښې حصه اخستې شی ددې وجې د دوی قتلول پکار دی
② چه زما لور به صباء چا ښځه جوړيږی دا به څنګه برداشت کوم داد شرم اوپيغور خبره ده. (حالانکه پخپله هم د چاد ښځې نه پيدا شوی وو)

[١]) اخرجه ابوداود کتاب السنة/باب فی ذراری المشرکين(رقم-٤٧١٢)
[٢]) اخرجه ابوداود کتاب السنة/باب فی ذراری المشرکين(رقم-٤٧١٧)

اشکال: وائده ژوندئی خښونکې ښځه خو په ظاهره قاتله ده کومه چه دوزخی ده لیکن دا موؤدة مقتوله ولې دَدوزخ مستحق جوړه شوه؟ دَمقتولې مظلومې څه قصوردې؟

جواب: الوائده نه مراد قابله دائی ده او الموؤدةُ نه مراد موؤدة لها ده کومه چه مور ده نودا دایه اومور دواړه په دې جرم کښې شریکې دی په دې وجه اصحاب النار دی.

اشکال: داچه دَ حدیث دَظاهرنه دَاولادتبعیت معلومیږی چه مورئی کافره دوزخئی ده نولورئی هم دغه شان ده.

داشکال جواب: دا چه دې نه ژوندئی خښه کړې شوې بالغه جینئی مراد ده نودغه وخت کښې هغه پخپله کافره وه.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۳۳] دهر بنده متعلق پنځه شیان مقدردی.

۳۳-()[۳۴] ⓵عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (⓶«إِنَّ اللَّهَ عَزَّوَجَلَّ فَرَغَ إِلَى كُلِّ عَبْدٍ مِنْ خَلْقِهِ مِنْ خَمْسٍ: ⓷مِنْ أَجَلِهِ، وَعَمَلِهِ، وَمَضْجَعِهِ، وَأَثَرِهِ، وَرِزْقِهِ») رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ⓵او حضرت ابو درداء ؓ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶الله تعالٰی جَلَّ جَلَالُهُ د خپل هر یو بنده متعلق د پنځو څیزونو څخه (تقدیر لیکلو سره) فارغه شوي دي ⓷۱: د هغه مرګ (چې کله به راځي) ۲: دهغه (نیك او بد) عملونه ۳: د هغه د او سیدو ځاي ۴: د هغه د واپس راتلو ځاي ۵: او د هغه رزق. احمد

حل اللغات: ①فَرَغَ: فارغ شوې دې، ②أَجَلِهِ: أي مُدَّةُ عُمُرِهِ: نیته چه څومره عمر به ئې وی، ③مَضْجَعِهِ: أَيْ: سُكُونِهِ، وَقَرَارِهِ: د اوسیدو ځائې، ④أَثَرِهِ: أَيْ: حَرَكَتِهِ، وَاضْطِرَارِهِ: حرکت او کیفیت، حالات بدلیدل رابدلیدل.

د راوي مختصر تعارف: نوم عویمر کنیت ابودرداء، دَ قبیلې نوم خزرج خاندان عدی بن کعب سره ئې تعلق دې. په شروع کښې به ئې تجارت کولو بیا په عبادت کښې دَ مشغولتیاپه وجه ئې پریخودودَ غزوه بدر دَ وخت پورې مسلمان شوې نه وو دَ احدنه پس په عزواتوکښې شریکیدلو.

دَ حضرت عمر ؓ په وخت کښې دمشق ته لاړو. دَهغه دَ درس حلقه ډیره مشهوره وه. یوه ورځ ئې شمیر اوکړو نو شپاړس سوه طالبان ورسره وو. ډیر دَ عاجزئ خاوند وو. یوځل ئې په دمشق کښې په خپل لاس سره بوټې لګولو یو سړې حیران شو هغه وئیل تاسو په خپل لاس باندې بوټې لګوئی وئی فرمائیل په دې کښې ډیر ثواب دې. (۲) ډیر

[1]) اخرجه احمد فی المسند:۱۹۷/۵.

[2]) مسندابودرداء طیالسی)

زيات ميلمه دوست وو څو څو هفتې به بعضې ميلمانه حصار وو.(۱).

وفات: ۳۲ه کښې وفات شوې وو.

مرويات: دَ رواياتوشمير ئې ۱۷۹ دې. په دې کښې بخاری شريف کښې ۱۳ او مسلم شريف کښې ۸ درج دی باقی دَ احاديثو په نورو کتابونوکښې دی.

تسهيلات:

قوله: فَرَغَ إِلَى كُلِّ عَبْدٍ:

د مذکوره جملې مفهوم: فرغ دَ انتهی معنی لره متضمن دی په دې وجه په صله کښې دَ"الی" کلمه راغلې ده. مراد دا چه الله تعالی دَخپل مخلوق نه دَهربنده متعلق دَ پنځوخبرو تقدير ليکلې دې او فارغ شوې دې اودَ الله تعالی علم دَدغه پنځوخيزونوپورې منتهی شوې دې.

قوله: مِنْ خَلْقِهِ:

د هربنده باره کښې دپنځوخيزونو تقديرليکل: دَهربنده دَ تخليق پنځوکارونونه فراغت شوې، يعنی په دنياکښې چه کوم څيزونه څنګه راتلونکی دی په ازل کښې دَهغې فيصله شوې ده په هغې کښې اوس هيڅ کمې زياتې نه شی کيدې اونه په هغې کښې څه تغير راتلې شی چنانچه دَهرسړی په تقدير کښې ليکلې شوی دی

① **عمر:** دَ ده عمرڅومره دې اومرګ به ورله کله راځی په دې کښې دَ يوسيکنډ بدلون ممکن نه دې.

② **سعادت اوشقاوت:** دغه شان دَانسان دَ خو اوخرابواعمالوباره کښې دَهغه دَ پيدائش نه وړاندې ليکلې شوی دی چه دَ ده انجام به په خيروی اوکه په شر باندې.

③ **سکونت:** بعضو وئيلی دی چه مضجع نه مراد سکون اوقراردې چې دې به د دنيا په کومه کومه زمکه ژوند تيروی.

④ **حرکات يا قدمونه:** او د اَثر نه مرادحرکت دې دَ انسان ټول کيفيات په دې دوو لفظونو کښې راغله. يا اثر نه اقدام مراددی چه په تقدير کښې ليکلې شوی دی چه دَ ده قدمونه به په کوم کوم ځائی لګی. آيت ﴿ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ ﴾ په دې باندې دلالت کوی.

⑤ **رزق:** دغه شان دَانسان دَ رزق مسئله په تقديرکښې دَاول نه ليکلې شوې ده چه ده ته به څومره رزق ملاويږی دَ کوم کوم ځائی نه به ئی خوری کم به ملاويږی يا زيات، حلال به ملاويږی ياحرام ټول هرڅه په تقديرکښې دَاول نه ليکلې شوی دی.

---

۱) مسند ابودرداء طيالسی)

[۱۱۴] د تقدیر په مسئله کښې د بحث مباحثه کونکې حکم

۱۱۴-(۱)[۳۵] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: (۲ «مَنْ تَكَلَّمَ فِي شَيْءٍ مِنَ الْقَدَرِ سُئِلَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ۳ وَمَنْ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيهِ لَمْ يُسْأَلْ عَنْهُ») رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل ۲ چې کوم سړي د تقدیر په مسئله کښې بحث و مباحثه کوي په قیامت کښې به دهغه څخه پوښتنه کول کیږي ۳ او کوم سړي چې په دي باندې ایمان راوړلو سره خاموشي اختیار کړي هغه به د پوښتني(مواخذي) څخه بچ شي. ابن ماجه

تسهیلات:

قوله: مَنْ تَكَلَّمَ فِي شَيْءٍ مِنَ الْقَدَرِ سُئِلَ عَنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د مباحثې دوه قسمونه: ① خوک چې د پوخ علم خاوند وي. اوذ تردد نه پاك وي نودده دپاره دَ فرق باطله دَ شکوك اوشبهات لرې کولودپاره اوهغوی سره مباحثه کولودپاره ضروری حد پورې مباحثه کول جائزدی. دي دپاره چه حق واضح شی. علماء هم دغه علمی پوخوالی مقام باندې وو نو په علم الکلام کښې ئی کلام اوکړو اوکتابونه ئی اولیکل.
② دویم قسم غیرضروری مباحثه ده. د کومې انجام چې قدری یاجبری یاکافر جوړیدل وی. په حدیث کښې چې کومه منع راغلې ده نو دهغې څخه دا دویم قسم مراد دی.

[۱۱۵] د تقدیر متعلق په زړه کې وسوسه

۱۱۵-(۲)[۳۶] ۱ «وَعَنِ ابْنِ الدَّيْلَمِيِّ، قَالَ: أَتَيْتُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ، ۲ فَقُلْتُ لَهُ: قَدْ وَقَعَ فِي نَفْسِي شَيْءٌ مِنَ الْقَدَرِ، فَحَدِّثْنِي لَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُذْهِبَهُ مِنْ قَلْبِي. ۳ فَقَالَ لَوْ أَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ عَذَّبَ أَهْلَ سَمَاوَاتِهِ وَأَهْلَ أَرْضِهِ؟ عَذَّبَهُمْ، وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَهُمْ، وَلَوْ رَحِمَهُمْ كَانَتْ رَحْمَتُهُ خَيْرًا لَهُمْ مِنْ أَعْمَالِهِمْ، ۴ وَلَوْ أَنْفَقْتَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا قَبِلَهُ اللَّهُ مِنْكَ حَتَّى تُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ، ۵ وَتَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ، وَأَنَّ مَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَكَ. وَلَوْ مُتَّ عَلَى غَيْرِ هَذَا لَدَخَلْتَ النَّارَ. ۶ قَالَ: ثُمَّ أَتَيْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ فَقَالَ مِثْلَ ذَلِكَ. ۷ قَالَ ثُمَّ أَتَيْتُ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ، فَقَالَ مِثْلَ ذَلِكَ. ۸ ثُمَّ أَتَيْتُ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ فَحَدَّثَنِي عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِثْلَ ذَلِكَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ اوحضرت ابن دیلمي رحمه الله (تابعي) فرمايي چې زه د حضرت ابي بن کعب (صحابي) په خدمت کې حاضر شوم ۲ او عرض مي اوکړو چې زما په زړه کښې د تقدیر متعلق څه شکونه پیدا کیږي (چې کله ټول څیزونه د نوشتهٔ تقدیر مطابق دي نو بیا دا

---

[۱]) اخرجه ابن ما جة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم /باب فی القدر(رقم-٨٤)
[۲]) اخرجه ابن ما جة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم /باب فی القدر(رقم-٨٤) وابوداود فی السنن رقم الحدیث ٤٦٩٩

ثواب يا عذاب ولي دي؟، نو ته راته يو داسې حديث بيان كه چې د هغه په وجه شايد الله تعالى جل جلاله زما زړه ددې شك (د ګندګې) څخه پاك كړي، [۳] (په دې اوريدو سره) هغه وفرمايل كه چېرته الله تعالى جل جلاله آسمان والا او زمكې والا په عذاب كښې اخته كړي نو هغه په هغوئ باندې هيڅ قسم ظلم كونكې نه دې (يعني كه هغه د آسمانونو والؤو او زمكې والؤو ته هر څومره عذاب وركړي هغه ته ظالم نه شي ويل كيدې) او كه هغه دوي په خپل رحمت سره ونمانځي نو د هغه رحمت به د هغوئ د عملونو څخه يقيناً ښه وي [۴] او كه چېرته تاسو د الله په لاره كښې د أُحد د غره برابر سره زر خرڅ كړې نو ستاسو دا عمل خير د الله جل جلاله په نيز د هغه وخت پورې نه قبليږي چې تر څو تاسو په تقدير باندې كامل عقيده او ايمان ونه ساتې [۵] او په دې پوه شي چې څه چې تاته رسيدلې دي هغه ستاڅخه خطا كيدونكې نه وو او كوم شې چې در څخه منع شوې دې او تاته نه دې رسيدلې نو پوه شه چې هغه ستا په مقدر كښې نه وو او كه چېرته په دې حالت كښې مړ شې چې د دې خلاف دې عقيده وي (يعني په تقدير باندې كامل ايمان نه وي) نو يقيناً دوزخ ته به ځې، [٦] ابن ديلمي رحمه الله وايي چې د ابي بن كعب دې بيان اوريدو سره زه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په خدمت كې حاضر شوم او هغه هم دغه بيان اوكړو، [۷] بيا حذيفه بن يمان ته ورغلم نو هغه هم دغسې وفرمايل [۸] او بيا زه زيد بن ثابت ته ورغلم نو هغه هم د دې قسم د رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث روايت كښې. ابوداؤد ابن ماجه

حل اللغات: ① شَيْءٌ: ددې نه مراد شكوك او شبهات دی (د تقدير باره كښې). ② تَعْلَمَ: دا دَ توقن په معنى كښې دې يعنى يقين اوكړه.

تسهيلات:

قوله: قَدْ وَقَعَ فِي نَفْسِي شَيْءٌ مِنَ الْقَدَرِ:

د تقدير متعلق شك پيدا كيدل: يعنى زما په زړه كښې دَ تقديرباره كښې څه شبهات پيداشوی دی چه كله هرڅه په مقدر كښې دَ وړاندې نه ليكلې شوی دی نوبيادَ ثواب اوعذاب دا قانون دَڅه دَپاره دې؟

قوله: وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَهُمْ:

د الله تعالى عدم ظالم كيدل: الله تعالى ځكه ظالم نه دې چې ټول كائنات دَالله تعالى ملكيت دې په دې وجه په دې كښې الله تعالى ته دَ تصرف حق حاصل دې او په خپل ملكيت كښې دَ څه قسم تصرف ظلم نه دې په دې سره دَ فرقه قدريه او خوارجو ترديد قصوددې چه هغوی هرتصرف دَالله تعالى دَپاره جائزنه ګڼړی. دَحضرت زيدبن ثابت رضي الله عنه نه چه كله هغه تابعى پوښتنه اوكړه نوهغوی داحديث دَ مرفوع حديث په توګه بيان كړو.

قوله: وَلَوْ رَحِمَهُمْ كَانَتْ رَحْمَتُهُ خَيْرًا لَهُمْ مِنْ أَعْمَالِهِمْ:

د دخول جنت سبب رحمت خداوندی: دَدې نه معلومه شوه چه دَ جنت دَ داخليدو دَپاره علت اعمال نه دی بلکه دَالله تعالی رحمت دې اعمال صرف علامات دی.

قوله: وَتَعْلَمَ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ:

د تقدیر د هرې خبرې واقع کيدل: يعنی هغه څيز داسې نه وو چه تاته به نه رسيدلو نو دا خيال مه کوه چه دا زما دَ محنت اوکوشش دَ وجې ماته حاصل شوې دې بلکه داپه تقدير کښې دَاول څخه ليکلې شوې وو. دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَايمان څخه بغيرهيڅ يوعمل قبول نه دې او انسانی محنت اوکوشش دَ تقدير ماتحت دې.

[١١٦] د تقدير په منکرينو د عذاب نازليدلو پيشنګوئی

١١٦ – ()[٣٧] ١ وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلًا أَتَى ابْنَ عُمَرَ فَقَالَ إِنَّ فُلَانًا يُقْرِءُ عَلَيْكَ السَّلَامَ ٢ فَقَالَ إِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّهُ قَدْ أَحْدَثَ فَإِنْ كَانَ قَدْ أَحْدَثَ فَلَا تُقْرِئْهُ مِنِّي السَّلَامَ ٣ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَكُوْنُ فِي أُمَّتِي أَوْفِي هٰذِهِ الْأُمَّةِ خَسْفٌ وَمَسْخٌ أَوْقَذْفٌ فِيْ أَهْلِ الْقَدَرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَةَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ

ترجمه: ١ او د حضرت نافع رحمه الله روايت دي چې يو سړي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر شو او وي ويل چې فلاني سړي وتاته سلام ويلي دي ٢ حضرت ابن عمر رضي الله عنه وفرمايل ماته معلومه شوې ده چې هغه سړې په دين کښې (څه) نوي خبره را ايستلي دي که چېرته واقعي هغه په دين کښې (څه) نوي خبره پيدا کړي وي نو زما د طرف څخه (په جواب کي) هغه ته سلام مه رسوه ٣ ځکه چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چې زما د امت څخه د الله جل جلاله درد ناکه عذاب په زمکه کې غرقيدل او د صورت مسخ کيدل يا د کانړوباران د تقدير څخه انکار کو نکي باندې به وي. ترمذي ابوداؤد ابن ماجه او ا مام ترمذي اوفر مايل چې دا حديث حسن صحيح او غريب دي

حل اللغات: ① أَحْدَثَ: أَيْ: ابْتَدَعَ فِي الدِّيْنِ مَا لَيْسَ مِنْهُ: په دين کښې ئې نوې خبره راويستلې ده يعنی بدعت. ② خَسْفٌ: أَيْ: غَابَ بِهِ فِي الْأَرْضِ: په زمکه کښې غرقيدو ته خسف وائی. ③ مَسْخٌ: أَيْ تَحْوِيلُ صُوْرَةٍ إِلَى مَا هُوَ أَقْبَحُ مِنْهَا: خپل اصلی شکل په قبيح او بدشکل کښې بدليدل، شکل ورانيدل. ④ قَذْفٌ: أَيْ: رَمْيٌ بِالْحِجَارَةِ: د کانړو باران (لکه چه په قوم لوط باندې شوې وو).

د راوي مختصر تعارف: نوم نافع دَ پلارنوم کاوُس ياهرمز وو. دَ عجمی کيدو باندې دَ اکثرو خلقو اتفاق دې. خراسان يا ديلم يا طالقان ياکابل اوسيدونکې وو. په يوجنګ کښې يا

[١] اخرجه الترمذی فی السنن رقم الحديث ١٢٥٢ وابن ماجة فی السنن رقم الحديث ٤٠٦١ وابوداود فی السنن رقم الحديث ٤٦١٣ واحمد فی المسند ٢/ ١٣٦

هسې حضرت عمر رضي الله عنهما هغه اخستې ووهغه ته دَ حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما تربیت ملاو شو. نافع پوه ۳۰ کالو پورې دَ ابن عمر رضي الله عنهما خدمت اوکړو. (۳) امام نووی رحمه الله فرمائی چه نافع جلیل القدر تابعی دې. دَ هغوی په توثیق او جلالت باندې دَ ټولو اتفاق دې. (۴) پخپله ابن عمر رضي الله عنهما ته په نافع باندې فخر وو فرمائیل به ئی الله تعالی دَنافع په ذریعهٔ په مونږ باندې احسان اوکړو. (۵) څنګه چه نافع دَحضرت عمر رضي الله عنهما خدمت اوکړو دغه شان چه ترکومې نافع ژوندې وو په پوره خیال سره به دَ هغوی په خدمت کښې حاضروو (۶)

وفات: ۱۱۷ھ کښې انتقال شو.(۷) دَ نورو حالاتودَ پاره اوګورئی ①تهذیب الاسماء للنوی ۱۲۴/۱ ② تذکرة الحفاظ ۸۰/۱ ③تهذیب التهذیب ۴۱۴/۱۰ ④ طبقات ابن سعد تذکره نافع ⑤ تاریخ ابن خلکان ۱۵۱/۲ ⑥شزرات الذهب ۱۵۴/۱.

تسهیلات:

قوله: اَنَّهُ قَدْ اَحْدَثَ فَإِنْ كَانَ قَدْ أَحْدَثَ فَلَا تُقْرِئْهُ مِنِّي السَّلَامَ:

په بدعتیانو سلام نه اچول: دلته حضرت ابن عمر رضي الله عنه د یو سړی د سلام په جواب کښې قاصد ته اوفرمائیل چې ماته معلومه ده چې کوم کس سلام رالیږلې دې هغه نوی نوی نظریات اونوی بدعتونه ایجاد کړی دی، که داسې وی نو بیا هغه ته زما سلام مه وایه. ددې څخه معلومه شوه چې په هغه کس باندې سلام اچول جائز نه دی کوم چې په دین اسلام کښې بدعتونه پیدا کوی. په دې وجه فقهاء کرامو اهل بدعت سره اختلاط او دهغوئ اکرام او تعظیم مکروه ګرځولې دی.

قوله: أَوْقَذْفٌ:

دتقدیر په منکرینو د کانړو باران: یعنی کوم خلق چې د تقدیر څخه منکر دی په هغوئ باندې به د آسمان څخه کانړی راوریږی. د قوم لوط دلواطت په وجه په هغه قوم باندې دآسمان څخه د کانړو باران شوې وو. دلته د منکرین تقدیر باره کښې د کانړو وریدو ذکر دې. ددې څخه معلومه شوه چې داقبیح عمل به په منکرینِ تقدیر کښې هم په لویه پیمانه وی.

[۱۱۷] د مشرکانو اولاد به په دوزخ کښې وي او د مؤمنانو اولاد به په جنت کښې وي

۱۱۷ -(۱)[۳۸] [۱]وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَأَلَتِ الْخَدِيجَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ عَنْ وَلَدَيْنِ مَاتَا لَهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ[۲] فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ هُمَا فِي النَّارِ[۳] قَالَ فَلَمَّا رَأَى الْكَرَاهَةَ فِي وَجْهِهَا قَالَ لَوْ رَأَيْتِ مَكَانَهُمَا لَأَبْغَضْتِيهِمَا[۴] قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَوَلَدِيْ مِنْكَ قَالَ فِي الْجَنَّةِ[۵] قَالَ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمُؤْمِنِيْنَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي الْجَنَّةِ وَإِنَّ الْمُشْرِكِيْنَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي النَّارِ[۶] ثُمَّ قَرَأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ: وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ

[۱]) اخرجه احمد فی المسند ۱/ ۱۳۴

ترجمه: ۱ او حضرت علي کرم الله وجهه روايت کوي چې حضرت خديجه ﷺ د رسول الله ﷺ څخه د خپل دواړو ماشومانو په باره کې پوښتنه وکړه چې هغه په زمانه جاهليت کې (د اسلام څخه مخکې) مړه شوې وو (چې هغه به جنتيان وي اويا دوزخيان) ۲ رسول الله ﷺ وفرمايل چې هغه دواړه (ماشومان) په دوزخ کښې دي، ۳ حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي چې کله رسول الله ﷺ د حضرت خديجې ﷺ د مخ رنګ (د خپلو ماشومانو په باره کښې د اوريدو سره) بدل شو (يعني هغه يي خفه وليده) نو وي فرمايل که چېرته ته د هغه (ماشومانو) ځاي او د هغوئ حال ووينې چې هغه څنګه د الله تعالى ﷻ د رحمت څخه لرې دي نو ستا به د هغه (ماشومانو) څخه نفرت وشي، ۴ بيا حضرت خديجې ﷺ عرض اوکړو يا رسول الله ﷺ بيه نو زما هغه اولاد کوم چې ستا ﷺ څخه پيدا شوې دي (قاسم او عبدالله) نو ده ﷺ وفرمايل چې هغه په جنت کښې دي، ۵ د دې څخه وروسته حضور ﷺ وفرمايل چې د مؤمنانو اولاد په جنت کې وي او د مشرکانو اولاد په دوزخ کې وي، ۶ د دې څخه وروسته ده ﷺ دا آيت تلاوت کړي: وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ (القرآن) ترجمه: کومو خلقو چې ايمان راوړي او د هغوئ اولاد د هغوئ پيروي وکړه (نو) مونږ به د هغوئ اولاد (په جنت کښې) د هغوئ سره يو ځاي ساتو. احمد

حل اللغات: ① مَكَانَهُمَا: دهغوی ځائې (يعنی جهنم چه څومره خراب او مبغوض دې).

د راوي مختصر تعارف: نوم علی ابوالحسن او ابوتراب کنيت دې. حيدر ئې لقب دې دپلارنوم ابوطالب اودمور نوم ئې فاطمه وو. حضرت علی ﷺ نجيب الطرفين هاشمی وو اود رسول الله ﷺ سکه د تره ځوئ وو. حضرت علی ﷺ د نبوت نه لس کاله وړاندې پيداشوې وو. د لسو کالو په عمر کښې په اسلام مشرف شوې وو. بعضې وائی چه د حضرت خديجة الکبری ﷺ نه پس حضرت ابوبکرصديق ﷺ مسلمان شوې وواوبعضې وائی چه د حضرت خديجة الکبری ﷺ نه پس حضرت علی ﷺ مسلمان شوې وو. په مکه معظمه کښې ديارلس کاله د حضور ﷺ سره وو اوبيائی مدينې منورې ته هجرت اوکړو او په ټولو غزواتوکښې د نبی کريم ﷺ سره وو. دحضرت عثمان غنی ﷺ د شهادت نه پس درې ورځې پس ۲۱ ذی الحجه د دوشنبه په ورځ په مسجد نبوی کښې خليفه جوړکړې شو.[1]

وفات: ۴۰ھ کښې د سحرامامت کولو ابن ملجم په توره باندې ډير خطرناک ګذار اوکړو په سرئی زخم راغلو خلقو ابن ملجم راګيرکړو(طبری) هم په هغه ورځ ۲۰ رمضان ۴۰ھ

[1]) طبری).(۲) الترمذی فی اللباس باب ماجآء فی الحرير والذهب)(۳) البخاری فی اللباس باب لبس الحرير وإفتراشه للرجال وما يجوز منه وفی الأطعمة باب الأکل فی إناء مفضض والأشربة باب الشرب فی آنية الفضة)

کښې دَ دنیانه رخصت شو.
مرویات: دَوروکوالی نه واخله تروفات پورې تقریبًا ۳۰ کاله دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې وو ولې دَ احادیثو په نقل کولوکښې ډیر زیات محتاط وو. په دې وجه دَ هغوی نه ډیر کم روایات دَ احادیثو په کتابونوکښې ملاویږی. دَهغوی نه ټول ۵۸۶ روایتونه نقل دی په کوموکښې چه ۲۰ احادیثوکښې دَ بخاری اومسلم اتفاق دې. ۹ احادیث بخاری شریف کښې او ۱۰ په مسلم کښې منفرددی.
دَ نورو حالاتودپاره اوګورئی ① اسدالغابة ۵۱۷/۵ ②زرقانی۲۸۰/۱ ③ طبری۱۲۷۲ ④ طبقات ابن سعدتذکره حضرت علی رضی الله عنه ⑤اصابه⑥ تاریخ ابن خلدون ۱۰۲/۲ ⑦ فتوح البلدان بلاذری۴۷۷⑧ تهذیب التهذیب ⑨ ازالة الخفاء ⑩ تاریخ الخلفاء وغیره.
تسهیلات:
قوله:عَنْ وَلَدَيْنِ: حضرت خدیجه رضی الله عنها دَخپلو هغه دوو بچوباره کښې تپوس اوکړو چه دَ ړومبی خاوند "هاله" نه وواو په جاهلیت کښې مړه شوی وو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل هغه دواړه په دوزخ کښې دی. دَدې روایت نه هغه خلقو استدلال کړې دې چه وائی چه اولاد به دَخپل والدینو تابع وی دامسئله تیره شوې ده.
قوله:لَوْرَأَيْتِ مَكَانَهُمَا: یعنی که دَدغه بچومستقبل ته تاکتلې اودَهغوی مبغوض عندالله کیدل تاته معلوم وې نوتابه پخپله هغوی مبغوض ګڼړل ځکه چه دَهغوی مستقبل دَ تقدیرپه حوالې سره ډیرخراب او ویرونکې وو.
قوله:وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ:
د نبی علیه السلام د قرآنی آیت څخه استشهاد: رسول الله ﷺ دَ استشهاد په توګه دا آیت تلاوت کړو چه مسلمانانو سره به دَهغوی هغه بچی ملاوولې شی کومو بچوچه دَ مورپلارااطاعت کړې وی دَپاره چه په جنت کښې والدینو ته پوره خوشحالی ملاؤشی اودَمشرکانواولاد به هغوی سره په دوزخ کښې ملاوولې شی دې دَپاره چه کافرانوته په دوزخ کښې پوره غم حاصل شی.
اشکال: بښځه اوبچی په دې ملاوولوکښې خو دَالله تعالی رحمت او شفقت په کمال درجه شو لیکن غیرنبی به دَ نبی مقام ته څنګه رسولې شی. مثلاً دَ انبیاء کرامو زوجات محترمات اودَهغوی اولادته به دَ برابرئی درجه څنګه حاصلیږی.
د اشکال جواب: دَالله تعالی په رحمت سره به ئی درجات خو اوچت وی مګر په خونداو استلذاذ کښې به ئی فرق وی مثلاً حضرت عائشه رضی الله عنها به رسول اکرم ﷺسره په خوراك کښې هغه خوند نه مومی کوم چه به نبی کریم ﷺ ته دَ نبوت دَدرجې په وجه حاصل وی.

[۸۸] دانسان څخه هيره او خطا کيدل

۸۸-(١)[٣٩] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ مَسَحَ ظَهْرَهُ فَسَقَطَ عَنْ ظَهْرِهِ كُلُّ نَسَمَةٍ هُوَ خَالِقُهَا مِنْ ذُرِّيَّتِهِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، [٣] وَجَعَلَ بَيْنَ عَيْنَيْ كُلِّ إِنْسَانٍ مِنْهُمْ وَبِيصًا مِنْ نُورٍ، ثُمَّ عَرَضَهُمْ عَلَى آدَمَ، [٤] فَقَالَ أَيْ رَبِّ! مَنْ هَؤُلَاءِ؟ فَقَالَ ذُرِّيَّتُكَ. فَرَأَى رَجُلًا مِنْهُمْ فَأَعْجَبَهُ، وَبِيصُ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ، [٥] قَالَ: أَيْ رَبِّ! مَنْ هَذَا؟ قَالَ: دَاوُدُ. فَقَالَ: رَبِّ! كَمْ جَعَلْتَ عُمُرَهُ؟ قَالَ: سِتِّينَ سَنَةً. قَالَ: رَبِّ زِدْهُ مِنْ عُمُرِي أَرْبَعِينَ سَنَةً). [٦] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (فَلَمَّا انْقَضَى عُمُرُ آدَمَ إِلَّا أَرْبَعِينَ جَاءَهُ مَلَكُ الْمَوْتِ، [٧] فَقَالَ آدَمُ): أَوَلَمْ يَبْقَ مِنْ عُمُرِي أَرْبَعُونَ سَنَةً؟ [٨] قَالَ: أَوَلَمْ تُعْطِهَا ابْنَكَ دَاوُدَ؟! فَجَحَدَ آدَمُ، فَجَحَدَتْ ذُرِّيَّتُهُ، وَنَسِيَ آدَمُ فَأَكَلَ مِنَ الشَّجَرَةِ، فَنَسِيَتْ ذُرِّيَّتُهُ، وَخَطَأَ وَخَطَأَتْ ذُرِّيَّتُهُ)» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] چې کله الله تعالی جل جلاله آدم علیه السلام پيدا کړونو د هغه په ملا يي لاس را تير کړي (يعني فرشتي ته يي دلاس د را تيرولو حکم ورکړي) نو د هغه د شا څخه هغه ټول روحونه راووتل چې دآدم علیه السلام په اولاد کښې به الله تعالی جل جلاله تر قيامته پورې پيدا کونکي وو [٣] او په هغوئ کښې د هر سړي د دواړو سترګو په مينځ کې د نور رڼا کيښودله، بيايي هغه ټوله د آدم علیه السلام په مخکې مخامخ ودرول [٤] (هغه ټول ليدلو سره) آدم علیه السلام پوښتنه وکړه، پرورد ګاره دا څوك دي؟ پرورد ګار وفرمايل چې دا ټول ستا اولاد دي، آدم علیه السلام په هغوئ کې يو سړي وليدلو چې د هغه دسترګو په مينځ کښې ډيره زياته رڼا هغه ته ډير ښه ښکاره شوه، [٥] پوښتنه يي وکړه اي پرورد ګاره دا څوك دي؟ وي فرمايېل دا داود علیه السلام دي، آدم علیه السلام عرض اوکړو زما په ورد ګاره تا د ده عمر څومره مقرر کړي دي؟ وي فرمايل شپيته کاله، حضرت آدم علیه السلام عرض اوکړو زما پرورد ګاره د ده په عمر کښې زما د عمر څخه څلويښت کاله زيات کړي [٦] (روايت کونکي) وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې دحضرت آدم علیه السلام په عمر کښې څلويښت کاله پاتې شو، نو د مرګ فرشته هغه ته راغله، [٧] آدم علیه السلام هغه ته اوويل چې آيا زما په عمر کښې څلويښت کاله پاتې نه دي، [٨] ملك الموت (د مرګ ملائکي) ورته اوويل چې آيا تا په خپل عمر کښې څلويښت کاله خپل زوي داود علیه السلام ته نه وو ورکړي؟ نو آدم علیه السلام د دې څخه انکار اوکړو، او د ده اولاد هم انکار کوي او آدم علیه السلام (خپل عهد) هير کړي او هغه ممنوعه ونه وخوړله او د هغه اولاد هم هيره کوي او حضرت آدم علیه السلام خطا کړي وه او د هغه اولاد هم خطاوي کوي. ترمذي

[١]) اخرجه الترمذی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب: ومن سورة الأعراف (رقم-٣٠٧٦)

حل اللغات: ① مَسَحَ: لاس ئې پرې راتير كړو، ② فَسَقَطَ: أَيْ: خَرَجَ: نو راؤغورځيدل يعنى راؤوتل. ③ نَسَمَةٍ: دا د نسيم نه ماخوذ دې، نسم ئې جمع راځي، د روح ساه اخستلو ته وائى، خو دلته په معنى د روح دې او مراد ترينه ذِي رُوحٍ: يعنى ساه لرونكې دې. ④ وَبِيصًا: أَيْ: بَرِيقًا وَلَمَعَانًا: ځلا، شعاع، چمک، ⑤ فَجَحَدَ: نو انكار ئې اوكړو(چه ما خو نه دې وركړې).

تسهيلات: قوله: وَبِيصًا:

د بيص څخه مراد: د بيص څخه مراد نور دې ددې نور د چمك څخه مراد دهدايت هغه استعداد دې كوم چې الله تعالى ټولو انسانانو ته عطاء كړې دې. حضرت داؤد عليه السلام كښې دا نور زيات روښانه وو.

اشكال: استعداد دا نور په حضرت داؤد عليه السلام كښې زيات وو نو د حضور نبى كريم ﷺ باره كښې به څه وئيلې كيږى؟

داشكال جواب: ① دا جزئى فضيلت دې او نبى كريم ﷺ ته كُلى فضيلت حاصل دې.

② د محاروهٔ كلام دستور دې چې متكلم د خپل كلام نه خارج او مستثنى وى. نو نبى كريم ﷺ د نورو د رنړا ذكر فرمائيلې دې نو خپله رنړا به ئې اعلى او ارفع وى خو دا محلِ بحث نه دې، په دې وجه ددې د ذكر كولو ضرورت نشته دې.

قوله: قَالَ: دَاوُدُ:

د آدم عليه السلام په داؤد عليه السلام د نظرانتخاب پريوتلو وجه: يعنى د استعداد دا رنړا د حضرت داؤد عليه السلام په تندى كښې ټولو څخه زياته وه نو حضرت آدم عليه السلام ته دوئ خوښ راغلل او ددوئ باره كښې ئې سوال اوكړو.

جواب كښې الله تعالى اوفرمائيل چې دا داؤد دې. حضرت آدم عليه السلام او حضرت داؤد عليه السلام كښې خلافتِ ارضى په توګه قدر مشترك مناسبت موجود وو، او دوئ دواړه د خليفه په لفظ سره داشان ياد كړې شول ﴿يٰدَاوُدُ إِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ﴾ او ﴿إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً﴾ هم ددې مناسبت په وجه د حضرت آدم عليه السلام نظرِ انتخاب په حضرت داؤد عليه السلام باندې پريوتو.

قوله: أَرْبَعِينَ سَنَةً:

اشكال: دې حديث پاك كښې د حضرت آدم عليه السلام متعلق راغلى دى چې دوئ د خپل عمر څخه څلويښت كاله حضرت داؤد عليه السلام ته وركړې وو. او د حضرت داؤد عليه السلام عمر شپيته كاله وو ليكن د مشكوة شريف جلد دويم باب السلام فصل ثالث حديث نمبر ۴۶۶۳ كښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت داشان راغلې دې چې دحضرت داؤد عليه السلام عمر څلويښت كاله وو حضرت آدم عليه السلام ورته شپيته كاله وركړى وو. نو د دواړو احاديثو په مينځ كښې واضح تعارض دې؟

داشكال څلور جوابونه: ① مذكوره حديث پاك او ددې عدد صحيح دې او جلد دويم كښې چرته د يو راوى څخه سهو شوې ده. هغه ځلويښت دَ شپيتو په ځائې او شپيته دَ ځلويښتو په ځائې بيان كړل.

② آدم عليه السلام اول شل كاله عمر وركړې وو اوبيا ئې ځلويښت كاله وركړو نو شپيته پوره شو.

③ كومو راويانوته چې د ځلويښت علم وو نوهغوى ځلويښت ذكر كړى دى او كومو ته چې د شپيتو علم وو نو هغوى شپيته ذكر كړى دى.

④ دويم حديث د اول څخه اولى دې.

قوله: فَجَحَدَ آدَمُ:

اشكال: آدم عليه السلام ورته يوځل عمر وركړو او بيا ئې انكار اوكړو دا خو د پيغمبرد شان سره نه ښائيږى.

داشكال جواب: دا جحود عنادى نه وو بلكه جحود نسيانى وو، چونكه د عالم ارواح مسئله وه نو د زمانې په تيريدو ذهول راغلو، باقى دا خبره قابل غور ده چې دا معامله د عالم ارواح وه، اوس په عالم شهود كښې كه يو كس خپل عمر چاته وركول غواړى نو دا ناجائز دى او نا ممكن دى. ځكه چې دعمر تعين او دمرګ تعين دواړه امور تكوينيه دى، په دې كښې چا ته د مداخلت اجازت نشته دې.

[١١٩] دآدم عليه السلام دشا نه جنتيان او دوزخيان پيدا كول

١١٩-(١)[٣٠] ۞ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: (۞ «خَلَقَ اللَّهُ آدَمَ حِينَ خَلَقَهُ، فَضَرَبَ كَتِفَهُ الْيُمْنَى، فَأَخْرَجَ ذُرِّيَّةً بَيْضَاءَ كَأَنَّهُمُ الذَّرُّ، وَضَرَبَ كَتِفَهُ الْيُسْرَى فَأَخْرَجَ ذُرِّيَّةً سَوْدَاءَ كَأَنَّهُمُ الْحُمَمُ، ۞ فَقَالَ لِلَّذِي فِي يَمِينِهِ: إِلَى الْجَنَّةِ، وَلَا أُبَالِي، ۞ وَقَالَ لِلَّذِي فِي كَتِفِهِ الْيُسْرَى: إِلَى النَّارِ، وَلَا أُبَالِي»). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۞ او حضرت ابو درداء رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۞ كوم وخت چې الله تعالى جل جلاله حضرت آدم عليه السلام پيدا كړو نو د هغه په ښي اوږه يې لاس (دست قدرت) وو هلي او يا (د وهولو حكم يې وركړو) او د هغه څخه يې سپين اولاد راويستي داسې لكه چې ميږيان وو، بيا يې په ګسه اوږه باندې لاس ووهي او د هغه څخه يې تور اولاد راويستي لكه چې هغه تورسكاره دي، ۞ بيا الله پاك د ښي طرف والا اولاد په باره كې وفرمايل چې دا جنتيان دي او ماته ددې هيڅ پروا نشته ۞ او د دې (آدم عليه السلام) د ګس اوږې والا اولاد په باره كښې يې وفرمايل چې دا دوزخيان دي او ماته د دې هيڅ پرواه نشته. احمد

(١) اخرجه احمد فى المسند: ٦/٤٤١

حل اللغات: ① فَضَرَبَ: پس وئې وهلو، لاس ئې پرې راښکلو، ② الذَّرُّ: بضم الذال وفتحها ورو کی میږی ته وائی دا تشبیه په وړوکوالی کښې ده یا په سپین اوصفا کیدو کښې ده. ③ الْحُمَمُ: جمع حمة دَ کوئلې په معنی کښې دې.

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

قوله: فَضَرَبَ كَتِفَهُ الْيُمْنَى: داد تجلیات ربانی دَ القاء یوصورت وو لکه څنګه چه دَنمر شعاګانې په یو څیزباندې پریوځی نودَهغې اثروی.

قوله: بَيْضَاءَ: داسپینوالې او دا رنړا دَ ایمان دَ نوراودَاستعدادتام نښه وه چه په دنیاکښې راتلونه پس به دا سړې دَ ایمان نور خپلوی او په هدایت به راځی اودَدې برعکس ظلمت او تیارې وې چه دکفرنښه وه چه په دنیا کښې راتلونه پس به دا سړې په خپل اختیار باندې په ظلمت او ګمراهئی کښې پریوځی. لهذا دا دواړه تصویرونه په عالم ارواح کښې دَایمان اوکفرعلامتونه جوړشو.

قوله: فَقَالَ: داد أشار په معنی کښې دې.

قوله: إِلَى الْجَنَّةِ: معلومه شوه چه دَالله تعالی په ذمه څه څیز واجب اولازم نه دې اونه یوسړې دَ الله تعالی دَمقاصدو او اغراضو باره کښې څه سوال کولې شی هغه بې نیازه دې. دَ چا دوزخ ته په تلوسره هغه ته ویره او اندیښنه نه کیږی اونه دَ چا په جنت تلوسره دَهغه څه غرض اومطلب تړلې شوې دې بس هغه ﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ﴾ دې.

[۱۳۰] الله بې پروا ذات دې

۱۳۰-(۱)[۴۱] ① وَعَنْ أَبِي نَضْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُقَالُ لَهُ: أَبُو عَبْدِ اللَّهِ - ② دَخَلَ عَلَيْهِ أَصْحَابُهُ يَعُودُونَهُ، وَهُوَ يَبْكِي، ③ فَقَالُوا لَهُ: مَا يُبْكِيكَ؟ أَلَمْ يَقُلْ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (خُذْ مِنْ شَارِبِكَ، ثُمَّ أَقِرَّهُ حَتَّى تَلْقَانِي؟) قَالَ: بَلَى، ④ وَلَكِنْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: (إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَبَضَ بِيَمِينِهِ قَبْضَةً، وَأُخْرَى بِالْيَدِ الْأُخْرَى، وَقَالَ: هَذِهِ لِهَذِهِ، وَهَذِهِ لِهَذِهِ، وَلَا أُبَالِي)، ⑤ وَلَا أَدْرِي فِي أَيِّ الْقَبْضَتَيْنِ أَنَا» رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① او حضرت ابو نضره رحمه الله روایت کوي چې د رسول الله ﷺ په صحابو رضی الله عنهم کې یو سړي وو چې د هغه نوم عبدالله وو، ② د هغه دوستان د بیمار پرسي (پوښتني) د پاره ورغلل (نو هغه ولیدل) چې هغه (ابو عبد الله) ژاړي ③ هغوئ ورته اوويل چې ته کوم شي په ژړا مجبوره کړي يي، حالانکه تاته نبی کریم ﷺ دا ارشاد نه وو فرمایلي چې ته د خپلو شونډو (بریتو) ویښتان واړه که او په دي قایم اوسه تر دي چې ته زما سره (په

۱) اخرجه احمد فی المسند: ۶۸/۵

جنت کي) ملاقات وکړي، ابو عبدالله ﷺ اوویل چې هو ۴ما د نبی کریم ﷺ دا هم فرمان اوریدلي دي چې الله بزرګ او برتر د خپل ښي لاس په موټي کې یو جماعت واخستي او وي فرمایل چې دا (دا ښي لاس والا جماعت) د جنت د پاره دي او دا ګس لاس والا جماعت د دوزخ دپاره دي، او ماته د دې هیڅ پروا نشته، ۵دي وییلو سره ابو عبد الله ﷺ وفرمایل چې ماته معلومه نه ده چې زه په کوم متي کې یم (یعني په ښي متي کې یم اویا ګس متي کښې یم). احمد

حل اللغات: ①يَعُودُونَهُ: داد عیادة نه دې، بیمار پُرسئ یعنی د بیمار پوښتنې ته وائی. ②خُذْ: أَيْ: قُصَّهُ: دا په معنی کټ کولودې یعنی کم کړه (بریت). ③شَارِبَكَ: شارب بریتو ته وائی. ④قَبَضَ: موټې ئې واخستلو، ⑤لَا أُبَالِي: هیڅ پرواه نشته زما.

تسهیلات:

قوله:ثُمَّ أَقِرَّهُ: یعنی دَ شونډو وینبنته کټ کړئی په دې قائم اودائم اوسیږئی معلومه شوه چه په سنت باندې قائم اودائم پاتې کیدل ډیر فائده مندی سره دَدې چه یومعمولی سنت ولې نه وی اودَ سنت نه اعراض دَ زندقه طرف ته بوتلل کوی. (طیبی)[الکاشف: ۱/۲۹۷]

قوله:حَتَّى تَلْقَانِي: یعنی ماسره ستا ملاقات اوشی په حوض کوثرباندې یاپه بل مقام، په دې جمله کښې دَ جنت دَ داخلیدو زیرې دې ځکه چه کافرانوسره به دَحضورپاك ملاقات نه کیږی.

قوله:وَلَا أَدْرِي: یعنی زه نه پیژنم چه زه په کوم موټی کښې یم په دې وجه ژاړم دا دَ "الایمان بین الخوف والرجاء" نقشه ده.

مطلب: دَدې حدیث مطلب اوخلاصه داده چه ابوعبدالله رضي الله عنه یوصحابی وو هغه بیمارشو نور حضرات دَ هغوی تپوس ته لاړل نوهغه ژړل. هغوی دَ ده په ژړاباندې تعجب کولوسره اووئیل ته ولې ژاړې تاته خو نبی کریم ﷺ دَ جنت اوکامیابئی زیرې درکړې وو؟ په دې باندې صحابی قصه شروع کړه اودَ دوو موټو خبره ئی بیان کړه اودَ پریشانئی وجه ئی اوخودله چه"الایمان بین الخوف والرجاء" زه بې ویرې کیدې نه شم.

اشکال: اشکال دادې چه کله دَحضورپاك بشارت ده ته ملاؤ شو نوبیادَ ژړا او په هغه بشارت کښې دَ شك کولوڅه ضرورت وو؟

جواب: ممکن ده چه دَهغوی نه دغه بشارت هیرشوې وی مګردَدې نه بهترجواب دادې چه الله تعالی قادر مطلق اومختارعلی العموم بادشاه دې. دَ هغه وعدې او تولې معاهدې بیشکه رښتونی دی لیکن هغه دَ څه څیز پابندنه دی اونه څه څیزپه هغه باندې واجب العمل دي دَهغه احسان په خپل ځائی مګر دَهغه جلال اوشان جبروت اوکبریائی داسې

ځيزدي چه هرکس اوبشرئی په هیبت کښې اچولې دي. صحابی دَالله تعالی دَدې بې نیازئی طرف ته اشاره اوکړه.

[١٣١] د الله تعالى په ربوبيت با ندې د بنيادمو اقرار

١٣١-()[٤٢] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: (② «أَخَذَ اللَّهُ الْمِيثَاقَ مِنْ ظَهْرِ آدَمَ بِنَعْمَانَ - يَعْنِي عَرَفَةَ - فَأَخْرَجَ مِنْ صُلْبِهِ كُلَّ ذُرِّيَّةٍ ذَرَاهَا، فَنَثَرَهُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالذَّرِّ، ثُمَّ كَلَّمَهُمْ قِبَلًا، ③ قَالَ: {أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ} [الأعراف: ١٧٢]، {④ أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ} [الأعراف: ١٧٣]» رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② الله تعالی ﷻ د میدان عرفي سره نزدې په مقام نعمان کښې د آدم ﷺ د هغه اولاد څخه کوم چې د هغه د شا څخه وتلي وو عهد واخستي، نو د آدم ﷺ د شا څخه يې هغه ټول اولاد راوېستي چې هغه (د ازل څخه تر ابده پورې) پيدا کول وو او هغه ټول يې د مېږيانو په شان د آدم ﷺ په مخکې خواره کړه، بيا الله پاك د هغوئ سره رو برو (مخا مخ) خبري وکړې، ③ او وي فرمايل چې آيا زه ستاسو رب نه يم؟ نو د آدم ﷺ اولاد اوويل چې بې شکه ته زمونږ رب يې، بيا الله پاك وفرمايل دا ګواهي ما ستاسو څخه ځکه واخسته چې صبا د قيامت په ورځ تاسو دا ونه وايئ چې مونږ د دې څخه غافله او ناخبره وو، ④ يا داسې ونه وايئ چې زمونږ پلرونو نيکونو زمونږ څخه مخکې شرك کړي وو، او مونږ د هغوئ اولاد وو، مونږ د هغوئ اطاعت کړي وو، نو آيا ته د باطل پرستو د عملونو په سبب مونږ هلاك کوې. احمد

حل اللغات: ① الْمِيثَاقَ: يَعْنِي: الْعَهْدَ: وعده، لوظ. ② بِنَعْمَانَ: د طائف په لاره کښې يوه وادی ده چه د عرفات شاته ده، يا عرفه سره نزدې يو غر دې. ③ صُلْبِهِ: وَهُوَ فَقَارُ الظَّهْرِ: يعنى د شا نه، ④ ذَرَاهَا: أَيْ: خَلَقَهَا: چه پيدا کوی به ئې الله (ترقيامته پورې). ⑤ فَنَثَرَهُمْ: نثر خورولو او شيندلو ته وائی. ⑥ كَالذَّرِّ: بضم الذال وفتحها وړوکی مېږی ته وائی، يعنی د وړوکو مېږو په شان، دا تشبيه په وړوکوالی کښې ده يا په سپين اوصفا کېدو کښې ده. ⑦ قِبَلًا: أَيْ: عِيَانًا: بالکل مخامخ، په ښکاره (چه په مينځ کښې ئې هيڅ پرده نه وه). ⑧ الْمُبْطِلُونَ: باطل پرست، نافرمان خلق.

تسهیلات:

قوله: بِنَعْمَانَ: دې ته نعمان الاراك وائی.

اما والراقصات بذات عرق ومن صلى بنعمان الاراك

ابن اثير رحمه الله فرمائی چه نعمان عرفات سره د يوغرنوم دې کوم ته چه نعمان سحاب وائی.

[1] اخرجه احمد فى المسند:-١/٢٧٢

هم دَدې احتمالاتو په رڼا کښې راوی په حدیث کښې دَتعین دَپاره "أی عرفة" اووئیل.

قوله: قِبَلًا" مخامخ. دَدې نه معلومه شوه چه داواقعه څه تمثیل یا تشبیه نه ده بلکه داامر واقعی حقیقی دې. دَقبلاالفاظ په دې باندې دال دی.

قوله: قَالُوابَلَى شَهِدْنَا: یعنی روحونو دَ ربوبیت اقرار اوکړو بیاالله تعالی اوفرمائیل چه دا اقرارد ربوبیت او شهادت تاسو نه ځکه واخستې شو چه تاسو دَقیامت په ورځ دا اونه وایئې چه مونږ بې خبروو. دا توجیه اومفهوم به په هغه صورت کښې اخستې شی چه شهدنا هم مقوله دَ قالوابلی شی ای قالوابلی وقالواشهدنا.

دویم احتمال دادې چه شهدنا استیناف وی نوې کلام وی اودَالله تعالی کلام وی دکوم مفهوم چه به داسې شی چه ارواحو اقراردَ ربوبیت اوکړو بیا مونږ دَهغوی په اقرارد ربوبیت باندې ګواه جوړشو أن تقولواأی لئلاتقولوایوم القیامة إناکناعن هذاغافلین.

[۱۳۲] ته زمونږ رب اود عبادت لائق یې

۱۳۲—(۱)[۳۳] [۱] وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فِي قَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: {وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ} [الأعراف: ۱۷۲] قَالَ: [۲] جَمَعَهُمْ فَجَعَلَهُمْ أَزْوَاجًا، ثُمَّ صَوَّرَهُمْ فَاسْتَنْطَقَهُمْ، فَتَكَلَّمُوا، [۳] [۴] ثُمَّ أَخَذَ عَلَيْهِمُ الْعَهْدَ، وَالْمِيثَاقَ، {وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ} [الأعراف: ۱۷۲]. [۵] قَالُوا: بَلَى. [۶] قَالَ: فَإِنِّي أُشْهِدُ عَلَيْكُمُ السَّمَاوَاتِ السَّبْعَ، وَالْأَرَضِينَ السَّبْعَ، [۷] وَأُشْهِدُ عَلَيْكُمْ أَبَاكُمْ آدَمَ أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ: لَمْ نَعْلَمْ بِهَذَا.

ترجمه: [۱] او حضرت ابي بن کعب ﷺ د دې آیت: وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْ آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ، ترجمه: (هر کله چې ستا پرورد ګار د آولاد آدم د شاګانو څخه د هغه اولاد راویستې) په تفسیر کښې فرمایي [۲] چې الله د آدم ﷺ اولاد را جمع کړو او هغه یې قسم قسم وګرزول (یعني څوك یې مالدار او څوك یې غریب کړ) [۳] بیا یې هغوئ ته شکل و صورت ورکړو او بیا یې ورته خبرې وکړو او هغوئ ورسره خبرې وکړې [۴] بیا یې د هغوئ سره قول و اقرار اوکړو او بیا یې هغه په خپل ځان ګواهان کړل او پوښتنه یې ځنې وکړه چې آیا څه ستاسو رب نه یم؟ [۵] اولاد آدم اوویل چې بې شکه (ته زمونږ رب یې) [۶] الله تعالیٰ ﷻ ورته وفرمایل چې زه اوه ۷ آسمانونه او اوه ۷ زمکې ستاسو په مخکې ګواه جوړوم [۷] او ستاسو پلارآدم ﷺ هم ګواه جوړوم، ځکه چې د قیامت په ورځ تاسو داسې ونه وایئ چې مونږ ددې څخه ناخبره وو.

حل اللغات: (۱) فَاسْتَنْطَقَهُمْ: أَيْ: طَلَبَ مِنْهُمُ النُّطْقَ: خبرې کول ئې ترې اوغوښتل.

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۶/۴۴۳

١ اعْلَمُوا أَنَّهُ لَا إِلَهَ غَيْرِي، وَلَا رَبَّ غَيْرِي، وَلَا تُشْرِكُوا بِي شَيْئًا. ٢ إِنِّي سَأُرْسِلُ إِلَيْكُمْ رُسُلِي يُذَكِّرُونَكُمْ عَهْدِي، وَمِيثَاقِي، وَأُنْزِلُ عَلَيْكُمْ كُتُبِي. ٣ قَالُوا: شَهِدْنَا بِأَنَّكَ رَبُّنَا، وَإِلَهُنَا. لَا رَبَّ لَنَا غَيْرُكَ، وَلَا إِلَهَ لَنَا غَيْرُكَ. فَأَقَرُّوا بِذَلِكَ، ٤ وَرَفَعَ عَلَيْهِمْ آدَمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، فَرَأَى الْغَنِيَّ، وَالْفَقِيرَ، وَحَسَنَ الصُّورَةِ، وَدُونَ ذَلِكَ. ٥ فَقَالَ: رَبِّ لَوْلَا سَوَّيْتَ بَيْنَ عِبَادِكَ قَالَ: إِنِّي أَحْبَبْتُ أَنْ أُشْكَرَ، ٦ وَرَأَى الْأَنْبِيَاءَ فِيهِمْ مِثْلَ السُّرُجِ عَلَيْهِمُ النُّورُ، خُصُّوا بِمِيثَاقٍ آخَرَ فِي الرِّسَالَةِ، وَالنُّبُوَّةِ، وَهُوَ قَوْلُهُ تَبَارَكَ، وَتَعَالَى: {وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ} [الأحزاب: ٧] إِلَى قوله: {وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ} [الأحزاب: ٧] كَانَ فِي تِلْكَ الْأَرْوَاحِ، فَأَرْسَلَهُ إِلَى مَرْيَمَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ فَحُدِّثَ عَنْ أُبَيٍّ: أَنَّهُ دَخَلَ مِنْ فِيهَا. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ (دا وخت) تاسو ښه پوه شی چې نه خو زما څخه ماسوا بل څوك د عبادت لايق شته او نه زما څخه ماسوا پرورد ګار شته او خبردار، څوك زما سره شريك نکړې، ٢ زه تاسو ته ډير ژر خپل رسول راليږم چې تاسو ته زما قول و اقرار درياد کړي او په تاسو خپل کتابونه نازلوم ٣ (په دي اوريدو سره) اولاد آدم اوويل مونږ ددي خبري ګواهي ورکوو چې ته زمونږ رب يي او ته زمونږ معبود يي، ستا څخه ماسوا زمونږ هيڅ يو پرور دګار نشته او نه ستا څخه علاوه زمونږ څوك د عبادت لايق شته، نو د آدم ﷺ ټول اولاد دا اقرار وکړو ٤ او حضرت آدم ﷺ يي په هغوئ باندي اوچت کي (هغه خپل نظر اوچت کړي) دا منظر يي ليدلي، آدم ﷺ وليدل چې د هغه اولاد اميران هم دي او فقيران هم، ښايسته هم دي اوبد رنګه هم ٥ (په دي ليدو سره) هغه عرض وکړو اي پرورد ګاره خپل ټول بندګان تا يو شان ولي نه دي جوړ کړي؟ الله تعالی ﷻ وفرمايل زه دا خوښوم چې زما بندګان زما شکر ادا کوي، بيا آدم ﷺ انبياء وليدل چې د چراغونو (ډيوو) په شان روښانه وو په هغوئ رڼا کونکي وو، د هغوئ څخه په خصوصيت سره د رسالت ونبوت عهد وپيمان واخستل شو لکه څنګه چې د الله تعالی ﷻ قول دي: وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى بْنِ مَرْيَمَ (قرآن حکيم) ترجمه: او هر کله چې مونږ د انبياء ﷺ څخه قول واقرار واخستي او ستا محمد (ﷺ) څخه او د نوح (ﷺ) او د ابراهيم (ﷺ) څخه او د موسیٰ (ﷺ) او د عيسیٰ بن مريم (ﷺ) څخه (هم) عهد وپيمان واخستي دهغه روحونو په مينځ کښې حضرت عيسیٰ (ﷺ) هم وو، د هغه روح الله تعالی ﷻ د جبرايبل ﷺ په ذريعه د حضرت بي بي مريم ته راوليږلو، حضرت ابي بيان کوي چې دا روح د حضرت مريم د خلي د طرف څخه د هغي په بدن کې داخل شو. احمد

حل اللغات: ② مِيثَاقِي: ميثاق وعدې او لوظ ته وائی، ③ لَوْلَا سَوَّيْتَ: برابر او يوشان دي ولي نه دی جوړ کړی (ټول انسانان، په حسن وجمال، مال، اعمال وغيره کښې). ④ السُّرُجِ: د سِراج جمع ده، ډيوه، ⑤ خُصُّوا: خاص کړې شوی دی.

تسهیلات:

قوله: خُصُّوا بِمِيثَاقٍ آخَرَ: داعهدوپیمان اودا میثاق میثاق دَ نبوت وو چه خدمت خاص یعنی تبلیغ رسالت دَپاره واخستې شو.

قوله: فَرَأَى الْغَنِيَّ، وَالْفَقِيرَ: حضرت آدم علیه السلام ته تعجب اوشو چه دَهغه په اولادکښې دومره فرق ولې دې چه یو مالدارنوبل دَ رزق محتاج او غریب نوحضرت آدم علیه السلام دَدې دَوجې پوښتنه اوکړه.

[۱۲۳] عادت بدلیدل ډیرمشکل دی

۱۲۳-()[۱۴۴] ۱ «وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَتَذَاكَرُ مَا يَكُونُ، ۲ إِذْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (إِذَا سَمِعْتُمْ بِجَبَلٍ زَالَ عَنْ مَكَانِهِ فَصَدِّقُوهُ، ۳ وَإِذَا سَمِعْتُمْ بِرَجُلٍ تَغَيَّرَ عَنْ خُلُقِهِ فَلَا تُصَدِّقُوا بِهِ، ۴ فَإِنَّهُ يَصِيرُ إِلَى مَا جُبِلَ عَلَيْهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابودرداء رضی الله عنه فرمايي چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، د راتلونکي وخت واقع کیدونکو کارنو باندې مو خبرې کولې ۲ رسول الله صلی الله علیه وسلم (زمونږ خبرې اوریدو سره) وفرمايل هر کله چې تاسو واورې چې يو غر د خپل ځاى څخه ښوریدلي دي نو هغه رشتيا وګڼې ۳ ليکن هر کله چې تاسو دا واورې چې د يوسړي خلقت بدل شوې دي نو د دې اعتبار مه کوې، ۴ ځکه چې انسان د هغه شي طرف ته ځي چې په هغه هغه پيدا شوې دي. احمد

حل اللغات: ① زَالَ: منتقل شو، دخپل ځائې نه اخوا شو، ② تَغَيَّرَ: بدل شو (پیدائشی صفات)، ③ جُبِلَ: أَيْ: خُلِقَ: چه پیدا شوی دی.

تسهیلات:

قوله: وَإِذَا سَمِعْتُمْ:

دجبلت نه بدلیدل: دَدې حدیث نه معلومه شوه چه دَغردَخپل ځائی نه منتقل کیدل او زائل کیدل ممکن دی په دې شرط چه دَدې متعلق څوك اووائی او څه قرینه انکارهم اونه کړی نو تصدیق اوکړه. دَ بعضې مغربی ممالکو بعضې غرونه خوزیږی اودَ خپل ځائی نه اخوا کیږی. دَدې په مقابله کښې که څوك تاسو ته اووائی چه فلانکی سړې دَخپل جبلت نه اوختلې دې نودَهغې تصدیق مه کوه ځکه چه دَطبیعت اوجبلت نه اوختل ممکن نه دی او ظاهری عارضی بدلون به راشی مګر حقیقی بدلون به نه کیږی ربښتیادی.

......

۱) اخرجه احمد في المسند: ۱۳۵/۵

[۱۳۴]د مصیبت رسیدل په تقدیر کښې لیکل شوی دی

۱۳۴ـ(۱)[۴۵] ۱ «وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! لَا يَزَالُ يُصِيبُكَ فِي كُلِّ عَامٍ وَجَعٌ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُومَةِ الَّتِي أَكَلْتَ. ۲ قَالَ: (مَا أَصَابَنِي شَيْءٌ مِنْهَا إِلَّا وَهُوَ مَكْتُوبٌ عَلَيَّ وَآدَمُ فِي طِينَتِهِ)». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او د حضرت ام سلمه رضی الله عنها څخه روایت دي چې هغې و رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې ته (ﷺ) چې کمه د زهرو ډکه د بزي (چیلئ) غوښه تاسو خوړلي وه (کمه چې په خیبر کښې یو یهودي په درخوړلي وه) هرکال د هغه د وجهی څخه تا ته تکلیف رسیږی ۲ ده ﷺ اوویل کوم شي (یعني اذیت اوتکلیف یا بیماري) چې ماته رسي هغه ما لره هغه وخت لیکل شوې وو کله چې آدم علیه السلام په خاوره کښې دننه وو (یعني زما په تقدیر کښې هم داسې لیکلي وو) رواه ابن ماجه.

حل اللغات: ① وَجَعٌ: أَيْ أَلَمٌ: درد، تکلیف، ② الْمَسْمُومَةِ: زهریله، زهر ګډ کړې شوی، ③ مَكْتُوبٌ: لیکلی شوی وو (په تقدیر زما کښې). ④ طِينَتِهِ: خټه.

[۴/۴]بَابُ إِثْبَاتِ عَذَابِ الْقَبْرِ

دَعذاب قبر دَثبوت بیان

په قبرکښې چه څنګه ګناهګار ته عذاب ملاویږی دغه شان نیکانوخلقو ته ثواب هم ملاویږی.

صرف په عذاب باندې اکتفاء ولې؟: حضرت مصنف رحمه الله صرف دَ عذاب ذکرکړې دي اودَ ثواب ذکر ئی نه دې کړې.

دوه جوابونه: ① دَ کافرانو اوفاسقانو شمیر زیات دې په دې وجه ئی دَ هغوی دَ جزاء او سزا ذکراوکړو او په متن او عنوان کښې ئی هغوی ته اهمیت ورکړو.

② لفظ عذاب القبر ذکر کولوسره ثواب القبر خپل پخپله په ذهن کښې راځی. ځکه چه دا دواړه دَ یوبل ضد دی. نو یو ضد ئی ذکر کړو او دویم چه کوم ثواب دې هغه پخپله په ذهن کښې راځی او هم دغه وجه ده چه دَ عذاب قبر په احادیثو کښې صرف دَ عذاب ذکر نه دې بلکه دَ ثواب ذکر عموماً اول راځی او بیا دَ عذاب ذکر راځی.

د قبر دوه اطلاقات: ① دَ لفظ قبر اطلاق حقیقةً هم په دې ظاهری حسی کنده باندې کیږی په کوم کښې چه مړې خښنولې شی. قرآن کریم هم دغه حسی ظاهری مقام ته قبر وئیلې دې ﴿وَلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ﴾

[۱] اخرجه ابن ماجة كتاب باب الجذام (رقم-۳۵۴۶)

④ په مجازي توګه باندې دَ قبر په مفهوم کښې وسعت دې او دَ مرګ نه پس پوره برزخي مقام ته قبر وئیلې شوې دې. لیکن په دې سره دَ ظاهري قبر نفي نه کیږي بلکه دَ قبر نه شروع شي او وړاندې راروانې ټولې مرحلې تردَ قیامت قائمیدو پورې برزخ دې. لهذا که یو سړې اوسوزي یا اوخوړلې شي یا په هواکښې الوتو سره ختم شي هغه دَ برزخ نه غائبیدې نه شي بلکه هم هلته حاضریږي اودَ هغه حساب اوکتاب کیږي.

د عالم درې قسمونه:

① **عالمِ دنیا:** په عالم دنیا کښې دَاحکامو تعلق اولاً او بالذات دبدن سره وي او تبعًا دروح سره وي. هم دغه وجه ده چه که چرې چا څوك په دنیا کښې مراقبه او په روحانی تصرف سره قتل کړو نوقصاص به نه وي ځکه چه بدن څه کردار نه دې اداکړې.

② **عالمِ برزخ:** په عالم برزخ کښې دَ احکامو تعلق اولاً او بالذات روح سره وي او ثانیًا او تبعًا بدن سره وي.

③ **عالمِ آخرت:** عالم آخرت دې هلته دَ احکامو تعلق روح او بدن سره وي ځکه چه روح راکب او بدن مرکوب دې.

په دنیا کښې د بدن او روح د اشتراکی عمل مثال: په دنیاکښې خو عمل دَ دواړو په اشتراك سره شوې دې نودَ حکم جاری کیدل به هم په دواړو باندې کیږي. روح دا نه شي وئیلې چه زه خودَ عالم بالا نه راغلې ووم زه مجرم نه یم بلکه مجرم خو بدن او جثه ده. دَدې دواړو داشتراك عمل مثال دَ ګوډ او ړوند دَ غلا دې چه ګوډ تلې نه شي خو لیدلې شي او ړوند لیدلې نه شي خو تلې شي. لهذا په دواړو کښې اتفاق اوشو ګوډ په ړوند باندې سور شو او لار به ئې ورته خودله او ړوند هغه اوچت کړې وو بوتلوئی. تردې چه باغ ته اورسیدل ګوډ ښه میوې راؤشوکولې او بیا دواړو ښه اوخوړلې. اوس چه دَ باغ مالک دواړه اونیسی نو دواړو ته سزا ورکوی نه ګوډ بچ کیدې شي او نه ړوند په بهانه کولوسره بچ کیدې شي. هم دغه شان چه کله په آخرت کښې دَ بدن او روح معامله پیش شي نو دواړه به مجرمان وي دواړو ته به ثواب او عذاب کیږي. هم دغه وجه ده چه په مراقبه اوروحانی تصرف سره که چا څوك اوو‌ژلو نو په آخرت کښې به ترې بدله اخستې شي.

د عالم برزخ مثال: دَعالم برزخ دَ ټولو نه زیات مناسب حسي مثال خوب اودَ خوب کیفیت دې. مثلاً دوه کسان یو ځائی کښې اوده دی. یو ته په خپل خوب کښې راحت او بل ته تکلیف کیږي. هغه دواړه په خپل خپل خوب کښې دَ مختلف مقاماتو سیل کوی کله مکه، کله مدینه، کله په زمکه اوکله په آسمان کښې ګرځی. څوك په کښې راحت او څوك په کښې زحمت محسوسوی. لیکن دوی سره نیزدې ناست کس ته هیڅ هم نه معلومیږي چه کوم یو ته راحت دې او کوم یو ته زحمت دې. په دې خوب کښې کله سړې

خاندي كله ژاړي كله منډې وهي كله الوزي مګر چا ته هيڅ نه محسوسيږي چه دَ اوده كس څه كيفيت دې او كله كله څه حركات مثلاً خاندل، خبرې كول معلوميږي هم بالكل هم دغه شان په عالم برزخ كښې دَ روح معامله بدن او جثې سره ده هلته هرڅه كيږي مګر چا ليدونكي ته نه محسوسيږي. بس صرف مړي ته احساس كيږي. په عام حالاتو كښې بدن بالكل بې حس معلوميږي. او كله كله دَ روح اثر په بدن باندې هم ظاهريږي.

په قبر كښې بدن سره د روح د تعلق درې قسمونه: قبركښې د بدن سره دَ روح تعلق په درې قسمه باندې دې:

① دَ روح تعلق دَ بدن سره دومره خو وي چه دَهغه بدن دې متاثر نه شي ليكن دَدې تعلق اثر په دنيا باندې نه پريوځي لكه دَ شهيدانو روحونه چه دَهغوی بدن خو سلامت وي ليكن ميراث ئې تقسيميږي اودَ هغوی بيبيانوسره نكاح هم كيدې شي.

② دَ روح تعلق بدن سره دومره مضبوط وي چه دَ بدن صحيح سالم پاتې كيدو سره سره دَهغې اثر په دنيا باندې هم پريوځي. لكه چه دَ انبياء كرامو عليهم السلام روحونه دي. دَهغوی دَ روحونو تعلق دَ بدن سره دومره مضبوط وي چه دَ قبر نه تيريدو سره په دنيا باندې هم اثر لري. دَ كوم نتيجه چه داده چه دَ انبياء كرامو عليهم السلام مال په توګه دَ ميراث نه شي تقسيميدې اودَ هغوی پاكو بيبيانو سره څوك نكاح هم نه شي كولې. او بدن مبارك ئې په قطعي توګه د خاورو نه نه متاثر كيږي.

③ دَ روح تعلق بدن سره ډير كمزورې وي چه نه په دنيا باندې څه اثر كوي او نه په قبر كښې بدن محفوظ ساتلې شي. دادَ عامو مسلمانانو دَ روحونو تعلق دَهغوی دبدنونو سره دې. او دَ بعضې مؤمنانو دَ روحونو تعلق قوي وي په كوم سره چه دَهغوی بدنونه محفوظ پاتې وي ليكن داسې ډير كم وي. كه چرې دَ يو شهيد بدن خاورې خراب كړو نودَ ددې وجه يا خو په شهادت كښې نقصان وي اويا دَ موسم او د زمكې دحالاتو نه متاثر كيدو سره بدن خرابيږي دا يوه عارضي معامله ده.

دَعذاب قبر په كيفيت كښې (۴) مذاهب:

① په قبر كښې بدن وي اوهغه په مثال دَ كاڼړي دې لهذا په قبر كښې نه عذاب شته او نه ثواب ځكه چه ثواب او عذاب په ژوند باندې متفرع دې اوهغه حيات په قبر كښې نشته دې دا عقيده دَ خوارجو او دبعضې معتزلو او مرجئه ده. دا عقيده او دا مسلك دَ قرآن اوحديث او اجماع امت دَ صريح نصوصو خلاف ده لهذا قابل دَ التفات نه ده.

د منكرين عذاب قبر د عدم تكفير وجه: شبه داده چه دَ دومره رواياتو او نصوصو منكرينو تكفير ولې نه شي كولې؟

بعضو تكفير كړې دې ليكن امام ابوحنيفه رحمه الله دَ كف لسان فتویٰ وركړې ده.ځكه چه

دوي تاویل کوی دي وجې نه مُتَأَوِّلِين ته کافر مه وایئی.

② په قبر کښې دَ ثواب اوعذاب تعلق صرف بدن او جثې سره دې دَ روح دې سره هیڅ تعلق نشته دې. دا مسلك دَ محمد بن جریر کرامی او دعبدالله بن کرام دې. علامه خیالی وئیلی دی چه دَ روح نه بغیر دَ خالی بدن دَ عذاب خبره هسې دَ حماقت والا خبره ده. چنانچه هغه لیکی: [جوز بعضهم تعذيب غير الحي ولا شك انه سفسطة] بعضو دَ غیر ژونده عذاب جائز منلي دي په دې کښې شك نشته چه دا یوه احمقانه نظریه ده.

③ په قبرکښې عذاب صرف روح ته کیږی ځکه چه بدنونه خو اکثر ذره ذره کیږی یا سوزیږی یا ئې ځناور خوری. دا مسلك دَ بعضې صوفیاؤ او ابن حزم ظاهری دې مګر په احادیثو سره دَدې هم تردید کیږی.

④ ثواب اوعذاب بدن او روح دواړو ته کیږی اودَ روح دَ بدن دیو جزء سره اتصال وی دا اتصال دَنمر دَ شعاګانو په شان دَاشراق او اشراف په توګه هم کیدې شی چه دَ روح اثر خو دَ بدن په یوجزء باندې پریوځی اوداهم ممکن ده چه دَ روح دَ بدن یو جزء سره تعلق او اتصال کیږی په کوم سره چه بدن راحت او تکلیف محسوسوی اوهم په دې سره فرښتو ته جواب ورکوی دا مسلك دَ اهل حق اهل سنت والجماعة دې.

د عذاب قبر د ثبوت دلائل:

① ﴿اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۚ اَدْخِلُوْۤا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ﴾ [سورت مؤمن: ۴۶].

په دې آیت کښې په واضحه توګه باندې دَ دوو عذابونو ذکردې یو دَ قیامت عذاب او بل دَ قیامت نه مخکښې عذاب اوهم دغه دَ قبر عذاب دې.

② ﴿مِمَّا خَطِيْٓـٰٔتِهِمْ اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا ۙ فَلَمْ يَجِدُوْا لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْصَارًا﴾ [سورت نوح: ۲۵].

دلته فاء تعقیب مع الوصل دَپاره ده یعنی دَ نوح علیه السلام قوم هلته په اوبو کښې غرق شو اودلته په اور کښې داخل کړې شو. ښکاره خبره ده چه دا دَ قیامت نه مخکښې برزخی عذاب دې اوهم دغه عذاب قبر دې ځکه چه قبر دَ برزخ اولنئی مرحله ده.

③ ﴿وَلَوْ تَرٰۤى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْۤا اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ۗ اَلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ﴾ [سورت انعام: ۹۳.]

دَدې آیت تعلق هم هغه عذاب سره دې چه دَ روح دَ وتلو په وخت فرښتې انسان ته ورکوی. ښکاره خبره ده چه دا دَ قیامت نه مخکښې دَ قبر عذاب دې.

④ ﴿وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ مِّنَ الْعَذَابِ الْاَدْنٰى دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ﴾

عذاب اکبر یعنی دَ آخرت دَ لوئی عذاب نه مخکښې په دنیاکښې وړوکې عذاب مراد

دي په دې کښې دَ عالمِ برزخ عذاب (چه دَ لوئی عذاب په مقابله کښې کم دې) هم دَ آيت په مصداق کښې راتلې شی.

⑤ جلال الدين سيوطی رحمه الله په عذابِ قبر باندې اجماع نقل کړې ده.

⑥ دَ مذکوره باب ټول احاديث په اثبات عذابِ قبر باندې دال دی دَ کوم نه چه انکار نه شی کيدې. ځکه چه چرې په دې کښې لفظی تواتر نه وی نومعنوی تواتر خو يقيناً موجود دې. چنانچه حافظ ابن حجر رحمه الله دَعذاب قبر په اثبات باندې ۳۵روايات نقل کړی دی. او جلال الدين سيوطی رحمه الله ۷۰ روايات نقل کړی دی. امام بخاری رحمه الله شپږ روايات جمع کړی دی په مجموعی توګه دا ۱۱۱ روايات جوړيږی.

د عذاب قبر په ثبوت باندې اعتراضات:

په يو وخت کښې کنړو مړو ته په عذاب ورکولو اشکال: په يو وخت کښې په لاکهونو انسانان خښيږی نو فرښتې ټولو ته عذاب څنګه ورکوی؟

د اشکال دوه جوابونه: ① منکر نکير دَ يو څو فرښتو نوم نه دې بلکه دا دَ يومحکمې او نوع نوم دې. دَدوی لاندې بې شميره فرښتې دی چه دا کار سرته رسوي لکه په روح قبض کولو باندې ډيرې فرښتې مقرر دی. دادَ عذابِ قبر ابتدائی مباحث وو. وړاندې دَ سماع موتی يعنی دَ مړو دَ اوريدو مسئله مختصر راځی.

② هلته په رسيدو به درته معلومه شی چه څنګه عذاب ورکوی.

د عذاب قبر په عدم مشاهده باندې اشکال: مونږ دا عذاب نه دې ليدلې که چرې ليدلې موږې نومنلې به مو وې بغيردَ کتو مونږ نه منو؟

د اشکال جواب: کوم څيز چه تاسو نه دې ليدلې نو آيا دَهغې نه به انکارکوئی؟ حالانکه الله تعالی خبر ورکړې دې، دَ الله تعالی رسول ﷺ خبر ورکړې دې. اجماعِ امت بيان کړې دی بيا به هم انکارکوئی. نوبيا جنات تاسو نه دی ليدلی دَ هغې نه هم انکار اوکړئی دې دَپاره چه کافران شئی ځکه چه په قرآن پاك کښې دَدې ثبوت دې. فرښتې تاسو نه دی ليدلی دَهغوی دَ وجود منکر کافردې. دَ انسان په بدن کښې اوسپنه، چونا تاسو نه ده ليدلې نوآيا دَهغې نه به انکار کوئی؟ دَ ماچس په تلی کښې مساله ده په هغې کښې اور دې تاسو کله ليدلې دې؟ په پيئو او ماستوکښې ګُچ دی تاسو کله ليدلی دی نو انکاربه کوئی؟ دَ بې هوشه سړی دَ احوالو تاسو ته څه پته ده نو تاسو به دَ هغې نه انکارکوئی چه ښکاری نه. نودا خو يو بې کاره قاعده ده کومه چه سرسيد احمدخان ايجاد کړې ده اوخلق ئی دهريه کړل.

د ثقلینو د عذاب قبر په نه پوهیدو اشکال: نور ساه والا ستاسو دَ وینا مطابق په عذابِ قبر باندې پوهیږي نو انسان او جنات ولې نه پوهیږي؟ که چرې واقعي عذاب وې نو انسان او جناتو به هم احساس کولو؟

د اشکال جواب: انسانان او جنات چونکه په ایمان بالغیب باندې مکلف دي په دې وجه دَهغوی نه داعذاب پټ ساتلې شوې دې. که هغوی ته ښکاره شوې وې نو ایمان بالغیب به چرته پاتې وې. بل دَ ویرې دَ وجې نه به ئې خپل مړي خښول پریخودې وې.

دعذاب قبر په کیفیاتو اشکال: ګورئي دَعذابِ قبر چه کوم کیفیات په احادیثوکښې راغلي دي چه ماران او اژدهاګانې ټك ورکوي لړم ټك ورکوي فرښتې ګرځونه او سټکونه وهي مړې کینولې شي هغه چغې صورې وهي اومونږ هیڅ هم نه اورو. دَمړي په سینه باندې سامان کیږده هغه به هم هغه شان مودو پورې پروت وي. هغه سره په قبرکښې تیپ کیږده هیڅ پته نه لګي نودا څنګه عذاب کیږي؟

د اشکال جواب: دَ برزخ معامله دَ خوب په شان ده دا په دنیا باندې نه شي قیاس کولې. بل دَدې عذاب اولاً او اصلاً تعلق دروح سره دې. بدن دَ دې تابع دې. درد اوتکلیف خو بدن محسوسوي لیکن په اصل کښې عذاب روح سره متعلق دې نو په بدن باندې مونږ اثرات نه محسوسوو. کله کله په بدن باندې اثرات ظاهریږي مګر په عام توګه باندې داسې نه کیږي.لهذا دَ دنیا نه دَ برزخ مشاهده نه شي کیدې نودَ انکار هیڅ وجه نشته دې.

د مړو د بدن د څناورو خوراک جوړیدو باندې اعتراض: دَمړو دَ بدن اجزاء کله دَ څناورو اوکله دَمرغو خوراك جوړیږي، کله په سمندرکښې دَ کبانو خوراك جوړیږي. کله سوزیدو سره ایره شي نوعذابِ قبر به څنګه کیږي؟

د اشکال جواب: مونږ اول وئیلي وو چه دَ قبر نه مراد عالمِ برزخ دې صرف داخاص کنده نه ده بلکه دَدغه قبر نه شروع کیدوسره دَ قیامت پورې ټول عالمِ برزخ دې چرته چه دَ هریو ساه والا واپس کیدل او رسیدل ضروري دي که هغه په هر یو صورت کښې وي. لهذا که مړې چرته هم وي دَ برزخي عذاب دَپاره به دَهغه دَ څه نه څه جزء موجود وي مګر الله تعالی ته به معلومه وي. لکه چه دَ یو سړي دَ تحریق جسد واقعه په مشکوٰة شریف کښې راتلونکې ده چه هواګانو او سمندر دَهغه دَ بدن اجزاء یوځائی کړل بیا حساب اوشو. هغه وصیت کړې وو چه ما دَ مرګ نه پس اوسوزوئی او ایرې په سمندر او صحرا کښې والوزوئی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۳۵] د رب باره كښې په قبر كي سوال

۱۳۵-(۱)[۱] ۱ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ۲ «اَلْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ؟ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، ۳ فَذَلِكَ قوله: {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ} [إبراهيم: ۲۷].» وَفِي رِوَايَةٍ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: « ۴ {يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ} [إبراهيم: ۲۷] نَزَلَتْ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ، ۵ يُقَالُ لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: رَبِّيَ اللَّهُ، وَنَبِيِّي مُحَمَّدٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت براء بن عازب ﷺ روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم وخت چې د مسلمان څخه په قبركي سوال كيږي نو هغه ګواهي وركوي چې د الله تعالى جل جلاله څخه علاوه بل څوك د عبادت لايق نشته او بي شكه محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دي ۳ او د دې ارشاد رباني هم دا مطلب دي: يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ (القرآن) الله تعالى جل جلاله هغه خلق چې ايمان راوړي د دنيا په ژوند او په آخرت كښې مضبوطه اومحكم طريقي سره ثابت اوقائم لري او په يو روايت كښې دي چې حضور ﷺ وفرمايل ۴ چې دا آيت: يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ، د عذاب قبر په بيان كښې نازل شويدي ۵ (نو په قبر كښې د مړي څخه) سوال كيږي چې ستارب څوك دي؟ هغه ورته وايي چې زما رب الله جل جلاله دي او زما نبي محمد ﷺ دي. بخاري و مسلم

حل اللغات: ① يُثَبِّتُ: ثابت قدم او قائم ساتي، ② اَلْقَوْلِ الثَّابِتِ: محكم او مضبوطه خبره (ددې نه په قبركښې د سوال اوجواب په وخت كښې استقامت او ثابت قدمی مراد ده.)

د راوي مختصر تعارف: دراوی حديث حضرت براء بن عازب رضي الله عنه نوم براء وو كنيت ئې ابوعماره وو د پلار نوم ئې عازب وو اود حارثه خاندان سره ئې تعلق ساتلود دوی ماما ابوبرده بن انبار رضي الله عنه په بدری كښې حاضر شوې وو او په عقبه كښې ئې ايمان راوړې وو د هغوی په بركت سره د هغوی په خاندان كښې اسلام خور شو مسلمان شو او په مدنيه كښې ئې د مصعب بن عمير او ابن ام مكتوم نه قرآن زده كول شروع كړلو په جنګ بدر كښې حضرت براء حاضر شوې وو خو نبی كريم ﷺ د كم عمرئ په وجه واپس كړې وو(۲)

په غزاګانو كښې شركت: په احد، خندق، حديبيه، خيبر او حنين كښې ئې شركت كړې وو د

[۱]) اخرجه البخاری كتاب الجنائز/باب ما جاء فی عذاب القبر(رقم:۱۳۶۹) ومسلم فی كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه(رقم-۷۳ - (۲۸۷۱) وابوداود كتاب السنة/باب فی المسألة فی القبر وعذاب القبر(رقم-۴۷۵۰) والنسائی كتاب الجنائز/ باب عذاب القبر(رقم-۲۰۵۷) والترمذی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة إبراهيم عليه السلام (رقم-۳۱۲۰)

طائف د محاصرې او په حجة الوداع کښې هم شریک وو. دوی ټول په پنځلس غزاګانو کښې شرکت کړې وو

صفات حمیده: په دوی کښې عاجزی او تواضع ډیره زیاته وه خپل ځان به ئې ډیر معمولی ګڼړلو. په کوفه کښې ئې یو کور جوړ کړې وو او هم په هغې کښې به اوسیدلو

روایات: د احادیثو په نقل کولو کښې بهٔ ئې ډیر احتیاط کولو د دوی د مرویاتو شمار ۳۰۵ دې په دې کښې ۳۲ احادیث متفق علیه دی

په احادیثو کښې احتیاط: د احادیثو په نقل کولو کښې د احتیاط په باره کښې فرمائی ((ما کل الحدیث سمعناه من رسول الله ﷺ کان یحدثنا اصحابنا عنه کانت شغلنا عنه رعیة الابل))یعنی ځومره احادیث چه زه بیانوم ضروری نه ده چه ټول به ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی وی ما به اوښان څرول ددې وجې هر وخت د نبی کریم ﷺ سره حاضریدې نشوم(۱)

تسهیلات:

قوله: اَلْمُسْلِمُ إِذَا سُئِلَ فِي الْقَبْرِ؟:

دهرمؤمن سړی اوښځې شخه په قبرکښې تپوس کول: مسلمان ښځه وی او که سړې قبر کښې د منکر نکیر په سوال جواب باندې د شهادتینو اقرار کوی. او منافق وائی چې [لا أدری أقول مایقول الناس] او کافر وائی چې [هاه هاه لاأدری].

د کافر شخه په قبر کښې تپوس کولو کښې دوه اقوال:

① د علامه سیوطی رحمه الله، ابن قیم رحمه الله او ابن عبدالبر رحمه الله د کلام شخه معلومیږی چې دا سوال د منافق او مؤمن شخه په قبر کښې کیږی. د خالص کافر شخه نه کیږی.

ځکه چې دا سوال د امتیاز دپاره کیږی او کافر خو په کفر کښې ممتاز وی. هلته دَ امتیاز ضرورت نشته دې. او کوم ځائې کښې چې په احادیثو کښې راغلی دی چې کافر شخه په قبر کښې سوال کیږی نو هلته ترې منافق مراد دې.

② شاه انور شاه کشمیری رحمه الله او نورو محققینو وئیلی دی چې دا سوال به د ټولو شخه کیږی. او کافر ملزم ګرزولو دپاره به دا سوال کیږی. او دې به ذلیل شی او وائی په [هاه هاه لاأدری]

اشکال: په قیامت کښې به منافقان رنګ په رنګ بهانې جوړوی او ا نکار به کوی،

---

(۱) مسند احمد (۱۴\۲۸۸)_(۲) البخاری فی التفسیر باب قوله ثانی الثنین إذ هما فی الغار رقم، ۳۶۲۹، ومسلم فی فضائل الصحابة باب مناقب ابی بکر الصدیق رقم، ۴۳۸۹، رقم، ۳۰۲۱، وحم، مسند العشرة المبشرة بالجنة رقم، ۱۱). (۳)سیره مصطفی تالیف مولانا محمد ادریس کاندهلوی ج۲ص ۳۶۷).

حالانکه هغه معامله به د الله تعالی په وړاندې وی. نو په قبر او په برزخ کښې ولې داشان صفائی سره جواب ورکوی او اقرار کوی؟

داشکال جواب: چونکه په قبر کښې معامله فرښتو سره وی. نو تکوینی طور دلته په رښتیا وئیلو باندې مجبوریږی. کافران او منافقان به دروغ نشی وئیلې دې دپاره چې فرښتو باندې معامله پټه او مبهم نه وی او د حشر په میدان کښې د الله تعالی په وړاندې که دروغ وائی نو الله ﷻ خو علام الغیوب دې، اعمال نامه موجوده ده، د بدن اندامونه هم د ګواهۍ ورکولو د پاره حاضر دی، په دې وجه هلته میدان کلاؤ ایښودې شوې دې.

قوله: بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ:

د قول ثابت څخه مراد: ددې څخه مراد کلمهٔ توحید او اقرار د شهادتینو دې. دنیا کښې هم الله ﷻ ددې په ذریعه مسلمان ته استقامت بخښلې دې او په آخرت کښې هم د دې په وجه قوت او طاقت او استقامت او رحمت ئې عطاء کوی.

قوله: نَزَلَتْ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ:

اشکال: په دې آیت کښې اهل ایمان دپاره د عذاب څه ذکر نشته دې. بیا دا ئې څنګه اووئیل چې دا آیت د قبر عذاب باره کښې نازل شوې دې؟

داشکال جواب: په دې آیت مبارك کښې د یثبت ذکر دې. او تثبیت فرع ده د تغلیب نو مطلب دا شو چې کله مسلمان د قبر عذاب سره مخامخ شی نو الله ﷻ ورله قول ثابت سره ثبات ورکوی.

[۱۳۶] د سماع موتی مسئله

۱۳۶—(۱) [۲] ⬚۱ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (⬚۲ «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ ⬚۳ أَتَاهُ مَلَكَانِ فَيُقْعِدَانِهِ، فَيَقُولَانِ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ لِمُحَمَّدٍ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ⬚۴ فَأَمَّا الْمُؤْمِنُ فَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ فَيُقَالُ لَهُ: انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ، قَدْ أَبْدَلَكَ اللَّهُ بِهِ مَقْعَدًا مِنَ الْجَنَّةِ، فَيَرَاهُمَا جَمِيعًا. ⬚۵ وَأَمَّا الْمُنَافِقُ وَالْكَافِرُ فَيُقَالُ لَهُ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ: لَا أَدْرِي كُنْتُ أَقُولُ مَا يَقُولُ النَّاسُ فَيُقَالُ لَا دَرَيْتَ وَلَا تَلَيْتَ وَيُضْرَبُ بِمَطَارِقَ مِنْ حَدِيدٍ ضَرْبَةً، فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ.

ترجمه: ⬚۱ او حضرت انس رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⬚۲ چې کله بنده په قبر کښې کیښودل شی او د هغه خپل خپلوان واپس راځي نو هغه مړي د هغوئ د

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب الجنائز/باب: المیت یسمع خفق النعال(رقم-۱۳۳۸) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب عرض مقعد المیت من الجنة أو النار علیه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه(رقم-۷۰ - (۲۸۷۰) وابوداود باب فی المسألة فی القبر وعذاب القبر(رقم-۴۷۵۲) والنسائی کتاب الجنائز/ باب مسألة الکافر (رقم-۲۰۵۱)

چپلو آواز اوري ③ او هغه ته (په قبر کي) دوه فرښتي راځي او هغه کينوي او پوښتنه ځني کوي چې ته د دې سړي محمد ﷺ په باره کښې څه وايې؟ ④ د دې په جواب کښې بنده مؤمن وايي چې زه د دې خبري ګواهي ورکم چې دي (محمد ﷺ) بې شکه د الله ﷻ بنده او رسول دي، بيا هغه بنده ته اوويل شي چې ته خپل د استوګني ځاي په دوزخ کښې ووينه چې هغه الله پاك بدل کړي دي او د هغه په بدل کښې تاته په جنت کښې ځاي درکړي دي، نو هغه بنده دواړه مقامات (جنت او دوزخ) ويني ⑤ او کوم مړي چې منافق يا کافر وي د هغه څخه هم دا سوال کيږي چې د دې سړي (يعني محمد ﷺ) په باره کښې ته څه وايې؟ هغه به د دې په جواب کښې وايي زه هيڅ نه پوهيږم څه چې به نورو خلقو ويل هغه به ما ويل، نو هغه ته اوويل شي چې نه تا د عقل سره وپيژندي او نه تا قرآن شريف اوونيلو؟ د دې سره هغه د اوسپني په ګرزونو باندې ووهل شي چې د هغه د چغو چغارو آواز ماسوا د پيريانو او انسانانو څخه د ته نزدي ټول ځيزونه اوري. بخاري، مسلم لفظونه د بخاري دي

حل اللغات: ① قَرْعَ: أَيْ صَوْتَ دَقِّهَا: د چپلو آواز، کشار، ② نِعَالِهِمْ: د نَعْل جمع ده، پيزار ته وائي. ③ مَقْعَدِكَ: د اوسيدو ځائې، ④ أَبْدَلَكَ: د ابدال نه، باب افعال نه د ماضي صيغه ده، بدل کښې ئې درکړې دې تالره، بدل کړې ئې دې تالره، ⑤ لَا أَدْرِي: زه نه پوهيدم، ماته علم نه وو. ⑥ لَا دَرَيْتَ: أَيْ: لَا عَلِمْتَ: نه تا ځان پوهه کړو چه کوم حق او صحيح دی. ⑦ وَلَا تَلَيْتَ: أَيْ: لَا تَبِعْتَ النَّاجِينَ: اونه دې د نجات موندونکو او پوهه خلقو تابعداری اوکړه. ⑧ بِمَطَارِقَ: په بل ځائې کښې بِمِطْرَقَةٍ لفظ راغلې دې، دا د وهلو يوه آله ده چه ګرز ورته وائی. ⑨ فَيَصِيحُ: په اوچت آواز سره چغې وهی او ژاړی، ⑩ الثَّقَلَيْنِ: أَيْ: الْجِنُّ وَالْإِنْسُ: ددې نه مراد انسانان او جنات دی، دوی ته ثقلين ځکه وائی چه دوی په زمکه بار (بوج) کړې شوی دی.

تسهيلات:

قوله: وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ:

وتولی د قيدوجه: مړۀ دفن کولو نه پس عادتًا خلق واپس ځی، په دې وجه ئې وتولی اوفرمائيلو چې که لاړ نشئ نو بيا هم مړۀ د پيزار کشارې آوری.

قوله: أَتَاهُ مَلَكَانِ:

د فرشتوسمدستی راتلل: حضرت رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله دلته د أتاه ملکان عجيبه شان مفهوم بيان کړې دې چې دا سرعت اتيان ملك طرفته اشاره ده. [انه ليسمع قرع نعالهم أتاه ملكان] يعنی وخت دومره نزدې وی چې مرده لا د پيزار آواز آوری چې په دې کښې فرښتې سوال جواب دپاره حاضرې شی.

قوله: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ:

د بعضي رونړو غلط استدلال: په دې جمله کښې د نبی کریم ﷺ طرفته اشاره ده. او اشاره حاضر او محسوس دپاره وی. لهذا د فرښتو سوال په قبر کښې په یو وخت کښې په لکهونو انسانانو څخه وی. او نبی کریم ﷺ هلته هر قبر کښې حاضریږی. هر ځائې کښې حاضر او ناظر شو، دا استدلال بریلوی حضراتِ د دې جملې نه کوی او د حاضر ناظر مسئله ثابتوی. ددې استدلال ډیر جوابونه دی:

د استدلال څلور جوابونه: ① په قبر کښې د نبی کریم ﷺ شبیه پیش کولې شی او هغوئ طرفته اشاره کولې شی.

② دا اشاره ذهنیه ده. او صاحب د کافیه د اشاره ذهنیه ذکر کړې دې. هرقل ابوسفیان ته اووئیل چې [ما تقول فی هذا الرجل] دعربو په کلام کښې دا عام محاوره ده، په دې څخه څوك حاضر ناظر نه ګنړی.

③ د مړی اود نبی کریم ﷺ په مینځ کښې حجاب لرې کړې شی او نیغ په نیغه ورته نبی کریم ﷺ خودلې شی او سوال ترې کیږی. حافظ ابن حجر رحمه الله دا جواب رد کړې دې چې دا محض یو احتمال دې. بهر حال شارحینو دا جوابات په دې وجه ورکړې دی چې قرآن پاك د حاضر ناظر دا عقیده صرف الله تعالی دپاره خودلې ده.

④ [هذا الرجل] سره څه اضافی تفصیل هم دې یعنی [الذي بعث فيكم] یعنی کوم کس چې تاسو کښې رسول جوړ کړې شوې وو دهغه باره کښې ته څه وائې؟ روستو دا لفظ صریح طور سره په حدیث پاك کښې راځی.

قوله: انْظُرْ إِلَى مَقْعَدِكَ مِنَ النَّارِ:

دهر کس دپاره جنت اوجهنم کښې ځائې: مفسرینو لیکلی دی چې هر مؤمن او کافر دپاره په جنت دوزخ دواړو ځایونو کښې یو یو سیټ تیار دې. که څوك جهنم ته لاړل نو جنت والا سیټ به خالی شی او چاته به په میراث کښې ورکولې کیږی. او که جنت ته لاړو نو دوزخ والا سیټ به د بل چا دپاره میراث شی. هر انسان او هر مکلف دپاره یو سیټ جنت کښې او یو په جهنم کښې وی. [استعه المعات :۱/۱۲۴]

قوله: لَا دَرَيْتَ وَلَا تَلَيْتَ:

د مذکوره الفاظو لغوی تحقیق: دَ لغت اوقیاس مطابق تلوت لفظ راتلل پکار وو مګر دَ دریت دَ ګاونډ او دَدې دَ اثر دَ وجې نه تلیت راوړلې شو لکه چه دَعشایا دَ وجې نه غدایا راوړلې شی. اودَ خزایا په وزن باندې ندامی راوړلې شی لکه چه دَ وفد عبدالقیس په حدیث کښې تشریح تیره شوې ده.

قوله: فَيَصِيحُ صَيْحَةً يَسْمَعُهَا مَنْ يَلِيهِ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ:

د ثقلینوپه عدم سماع کښې دوه وجوهات: ① په دې عالم کائنات باندې دوه ثقیل مخلوقات قائم دی. یو انسان او بل جنات. دوئ ته ثقلین اووئیلې شو، که چرې دَ قبر دا هنګامه ئی واؤریده نودَ دهشت دَ وجې نه به یا مړه شی یا به کور او بال بچ پریږدی او صحراګانو کښې به ورك شی او یا به مړی خښول پریږدی.

② د مړو چغې او فریاد انسانان او جنات نه شی آؤریدلې. که دوئ دا واؤری نو ایمان بالغیب به ختم شی. حالانکه دا خلق دایمان بالغیب مکلف دی.

د سماع الموتي په مسئله کښې (۲) مذاهب:

① حضرت ابن عمر رضی الله عنه او نورحضرات د سماع الموتی قائلین دی.

ابن ملك رحمه الله وئیلی دی چه مړې دَ کړت کړت آواز اوری او په دې کښې دَ دې خبرې دلیل دې چه په قبر کښې مړې ژوندې دې ګنی دَ احساس نه بغیردَ حیات محال دې. بعضو وئیلی دی چه روح واپس راګرځولې شی اومړې ژوندې کولې شی.

② حضرت عائشه رضی الله عنها او نورحضرات دَعدم سماع قائلین دی.

داول فریق دلائل: ① دَحضرت انس رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې د کوم الفاظ چې دا دی. عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: («إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ»[1])

② دَ قلیب بدر واقعه او تفصیلی حدیث دې په کوم کښې چه دا الفاظ دی. («وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ»[2]))

③ مړو ته په قبرونوکښې سلام کول، ابن عبدالبر رحمه الله السلام علیکم یا أهل القبور والا حدیث ته صحیح وئیلې دې.

④ طبرانی یو حدیث نقل کړې دې چه مړې څوك پیژنی هغه دَ لامبولو په وخت دغه لامبونکې پیژنی. علامه ابن کثیر رحمه الله داقسم احادیث په خپل تفسیر کښې راجمع کړی دی دَ کومو چه یو اوږد فهرست دې.

⑤ علامه تفتازانی رحمه الله په عالم برزخ کښې دَ مړو په علم باندې اجماع نقل کړې ده دا

---

[1]) اخرجه البخاری کتاب الجنائز،/باب: المیت یسمع خفق النعال(رقم-۱۳۳۸) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب عرض مقعد المیت من الجنة أو النار علیه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه(رقم-۷۰ - (۲۸۷۰) وابوداود باب فی المسألة فی القبر وعذاب القبر(رقم-۴۷۵۲) والنسائی کتاب الجنائز/ باب مسألة الکافر (رقم-۲۰۵۱)

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب قتل أبی جهل (رقم-۳۹۷۶) ومسلم فی کتاب الجنّة وصفة نعیمها وأهلها/باب عرض مقعد المیّت من الجنّة أو النّار علیه، وإثبات عذاب القبر والتّعوّذ منه(رقم-۷۸ - (۲۸۷۵) واحمد فی المسند: ۱۴۵/۳

سره دَدِې چه محل نظر ده مګر هغوی په شرح مقاصد کښې لیکلې ده.
⑥ ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دَ احادیثو نه ثابته ده چه مړې پیژنی چه څوك هغه ته کفن اچوی، څوك پرې جنازه کوی، څوك ئی اوچتوی، څوك ئی خښوی.
د دویم فریق دلائل: ① ﴿إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ﴾ نه استدلال کړې دې [سورت نحل: ۶۰.]
② ﴿فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ﴾ نه استدلال کړې دې [سورة روم: ۵۲]
③ ﴿وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ وَلَا الْأَمْوَاتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَن يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنتَ بِمُسْمِعٍ مَّن فِي الْقُبُورِ﴾ نه استدلال کړې دې [سورت فاطر: ۲۲.]
④ په عدم سماع اموات باندې دَ امام ابوحنیفه رحمه الله دطرف نه دَ سماع موتٰی نه انکار یا دتوقف دَ قول نه استدلال کړې دې.
⑤ دَ فقهې یوه مسئله ده چه چا قسم اوخوړلو چه فلانکی سره به خبرې نه کوم هغه دَ مرګ نه پس هغه سره خبرې اوکړې نوحانث کیږی به نه. ځکه چه مړی نه اوری. دا مسئله په مسئله ایمان سره یادولې شی. دَدې نه استدلال کړې شوې دې چه مړی نه اوری. شیخ ابن همام رحمه الله نبه دَ عدمِ سماع دَ اثبات کوشش کړې دې.
دقائلینِ سماع موتی عدم قائلینوته جوابونه: ① دَ امام ابوحنیفه رحمه الله طرف ته دَ عدم سماع نسبت صحیح نه دې اوفقهاء احناف مړی سره دَ کلام دَ وجې دَ نه حانث کیدو چه کومه مسئله لیکلې ده هغه دَ قسم او ایمان مسئله ده دکوم مدار چه په عرف باندې دې او په دې سره په عدم سماع باندې استدلال نه شی کولې.
② دَ قرآنی آیاتونو باره کښې دوی فرمائی چه په دې دریواړو آیاتونو کښې نفی دَ اسماع یعنی دَ اورولو نفی ده چه تأسو ورته اورولې نه شئی دَنفس سماع نفی نه ده چه هغوی اوری نه اوریدل په خپل ځائی البته دَ اورولو نفی شوې ده.
اشکال: شبه دا ده چه کله مړی اوری نوبیا دَاسماع او اورولو نفی قرآن کریم ولې اوکړه؟
داشکال درې جوابونه: ① هرهغه عمل کوم چه خارق عادت یا مافوق العادة وی الله تعالی دَ هغې نسبت خپل طرف ته کوی اودَ مخلوق نه دَهغې نفی کوی مثلاً یو سړی بل سړې په ګولئی اوویشتلو اوهغه مړ شو نو نسبت دَ ویشتونکی طرف ته کیږی چه هغه اویشتلو او قتل ئی کړو ځکه چه دَعادت مطابق دَ هغې نه سړې اولګیدو مړشو.. لیکن دَ بدر په میدان کښې حضورپاك یو موټې خاوره دَ کافرانوطرف ته وراوغورزوله په کوم سره چه دَعادت مطابق مرګ نه شو واقع کیدې مګر دغه خاورې مافوق العادة اثر اوخودلو نوالله تعالی دَ هغې نسبت خپل طرف ته اوفرمائیلو اودَ نبی کریم ﷺ نه ئې نفی

اوفرمائیله او ارشاد ئی اوفرمائیلو: ﴿وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ﴾.
دغه شان دَعادت مطابق مړی ته په قبر کښې په ظاهری اسبابو اورول نه شی کیدې په دې وجه دَدې اسماع نفی اوکړې شوه.

④ علامه سیوطی رحمه الله دَدې آیاتونو په تفسیرکښې فرمائی چه په دې کښې دَ سماع او عدم سماع خبره نشته دې بلکه دا دَعدم انفاع او عدم انفاع نفی ده چه نه د اورونکی په اورولوسره دې کافرانوته فائده ده او نه په اوریدو سره اوس دوی ته فائده کیدې شی؟ ځکه چه هغوی خودَ دارالعمل نه تلی دی. په دې وجه عامو علماؤ تصریح کړې ده چه په دې آیاتونوکښې دَ اسماع کومه نفی ده دا تشبیه ده چه په عدم انتفاع کښې داکافران دَ مړو په شان دی چه دا کافران اوری خو مګر فائده نه اوچتوی نو مړی هم اوری مګر فائده نه شی اوچتولې. باقی دَ حضرت عائشه رضی الله عنها په روایت کښې [یعلمون] هم راغلې دې دکوم مطلب چه دا کیدې شی چه دې مړو ته دَ هغه اورولو علم کیږی نو په [یسمعون] او [یعلمون] کښې تعارض راغلو لهذا استدلال تام پاتې نه شو.

③ ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چه په قرآن کریم کښې ﴿إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ﴾ هم دَ آیت حصه ده نوچه کوم خلق دَعام سماع نفی دَدې آیاتونو نه راؤباسی هغوی به دې آیت سره څه کوی ولې هغوی به دا وائی چه کافران نه اوری اومؤمنان په قبرونوکښې اوری؟ داخو به عجیبه خبره وی.

د عدم سماع موتی د قائلینود سماع موتی قائلینو ته جوابونه: دې حضراتو دَ قرآن دَدې آیاتونو په مقابله کښې احادیث پیش کول مناسب اونه ګڼړل په دې وجه هغوی په احادیث ثبوتِ سماع کښې تاویلونه اوکړل او وئی وئیل چه دَ قلیب بدر والا روایت یا خو دَ نبی کریم ﷺ معجزه وه نودا پیغمبری خصوصیت وو اویا دَ تبکیت او تذلیل دَپاره ئی هغوی راژوندی کړې شو. داخصوصی جزئی واقعه ده په کوم چه نور مواقع نه شی قیاس کولې.

② دَ [قرع نعال] والا روایت باره کښې هغوی دَ ابن منیر دَ قول مطابق اووئیل چه په دې کښې ذاذان راوی ضعیف دې یا دَ [قرع نعال] والا روایت دَ سرعت اتیان ملائکه نه کنایه ده اودا یو تشبیهی کلام دې چه دَ ښخولو وخت سره خاص دې.

③ دغه شان په نورو روایتونو دَ سماع موتی کښې ئی یا تاویل کړې یائی دَهغې تضعیف کړې اومعامله ئی دې وینا کولوسره دَ صفا کولو کوشش کړې چه د سماع موتی په نفی سره به دَ شرک لاره بنده شی. او حضرت تهانوی رحمه الله فرمائیلی دی چرته چه دَ شرک خطره وی نوهلته نفی سماع موتی ضروری ده. دې حضراتو دا هم وئیلی دی چه اصل عدم

سماع دي چرته چه سماع موتٰی ثابته ده هغه عارضی ده اصل به په خپل ځائی باندې پاتې وی.

دعدم سماع موتی د عقيدې په وجه مړی د جماداتوپه زمره کښې شاملول: دَعدم سماع موتٰی دلائلو ته په کتلوسره يوې طبقې مړی دَ جماداتو دَقبيلې نه اوګرځول او دَ عذاب قبر نه ئي انکاراوکړو چه کله ژوند نشته او اوري نه نو بيا به عذاب څنګه کيږی؟ هم په دې نظريه باندې معتزله او کثير قسم خلق کلك شو اوهغوی دَعذابِ قبر نه انکاراوکړو. حالانکه عذابِ قبر دَ قرآن اوحديث نه په قطعی توګه ثابت دې دَدې نه انکار کول ګمراهی ده.

د سماع موتی د عقيدې په وجه مړو څخه حاجتونه غوښتل: د مثبتين سماع موتٰی دغه پورته دلائلو په نتيجه کښې دکمزورې عقيدې يوې طبقې مړو ته خطابات شروع کړل اودَهغوی نه قسم قسم حاجتونه غوښتل شروع کړل اومړی ئې مرجع حوائج اوګرځول. حالانکه دا يوعلمی بحث دې چه په خپل ځائی باندې دې. دَ غيرالله نه استمداد او غائبانه حاجاتو کښې څوك رابلل دَ قرآن اوحديث په رڼړا کښې هسې هم حرام دی. بل دا څه ضروری دی چه څوك اوری نو حاجت به پوره کونکې هم وی؟ په ژوندو خلقو کښې څومره دی چه ښه اوری خو بې وسه دی. دلته په دې طرف چه دَ سماع موتٰی منکرينو کله دَ قرآن پاك آياتونو ته اوکتل چه په هغې کښې په ظاهری توګه عدم سماع ده.

انصافی خبره: خلاصه دا چه کوم کوم ځائی کښې په احاديث صحيحه کښې دَ سماع موتٰي ثبوت دې هغه منل پکاردی لکه [سلام عندالقبور] دې اودَ مړی دَ خښولو وخت دې په دې کښې دَ سماع ثبوت ملاويږی نومنل پکار دی دغه شان قليبِ بدر کښې سماع ثابته ده نومنل پکاردی. ليکن چرته چه دَ سماع ثبوت نشته هلته نه دی منل پکار لکه چه څوك سلام کوی نو مونږ به وايو اوريدلې مو دې اوچه کله ئی کلام او درخواست کول شروع کړو نو مونږ وايو نه اوروي ځکه چه دَ سماع اموات نص غير معقول المعنی او خلاف القياس دې نودا په خپله دائره کښې بند پاتې کيدل پکاردی لکه چه دَ اصولو قاعده ده.

حضرت ګنګوهی رحمه الله په خپله رساله لطائف رشيديه کښې په دې باندې اوږد کلام کړې دې. دا رساله په تاليفات رشيديه کښې شامل ده او تاليفات رشيديه ص: ۲۷۶ باندې دا مسئله ذکر ده.

د رشيد احمد ګنګوهی رحمه الله رائې: حضرت ګنګوهی رحمه الله فرمائی مسئله سماع موتٰی په قرن اول کښې مختلف پاتې شوې ده دَدې فيصله خو هډو ممکن نه ده ليکن په تقليد دَخپل مجتهد مقلد که يو دَ ترجيح طرف ته ميلان اوکړی نو څه بده خبره نه ده. [الی ان

قال] الحاصل ارجح مذهب دَ عدم سماع دي دَ قواعدو لاندې نو په احاديث دَ سماع کښې تاويل مناسب دې گڼی بل طرف ته هم مذهب قوی دې. (تاليفات رشيديه ص: ۲۷۶)
که چرې په سماع موتٰی کښې دا طريقه اختيارکړې شي چه فی الجمله سماع موتٰی ثابت ده او فی الجمله نه ده نو په دې سره به په ټولو نصوصو کښې تطبيق اوشي او په اختلاف کښې به نرمی راشي. گڼی په يو ځائی کلکيدو سره دَ بل طرف تذليل اوتضليل که چرته شروع شي نودَ علماء حق او سلف صالحين په نيز کيدې شي چه دا طريقه مناسب نه وی.
نن صبا اسلام ځومره لويو خطرو سره مخ دې مگر اهل حق په خپل مينځ کښې په سماع موتٰی کښې داسي اخته ښکاری لکه چه که چرته په اسلام کښې څه اختلافی مسئله ده نوهغه صرف هم دغه ده او هم په دې باندې جګړې کول فرض دی. حالانکه په يو طرف باندې کلکيدل اودَ بل طرف دَ بزرګانو دَ بې ادبئ قوی خطره ده.

د مفتی محمد شفيع رحمه الله رائې: مفتی اعظم پاکستان مفتی محمد شفيع ديوبندی رحمه الله دَ احکام القرآن په نوم باندې دَ قرآن عظيم په عربی ژبه کښې يو تفسير ليکلې دې چه دَ حکيم الامة حضرت تهانوی رحمه الله فوائد دی اوهم دَهغوی په حکم ئی ليکلې دې. په دې کښې حضرت مفتی صاحب ډير په تفصيل سره دَسماع موتٰی مسئله بيان کړې ده او اثبات سماع موتٰی ئی راجح ګرځولې دې ليکن يو ځائی کښې ليکی چه دَهغې خلاصه داده چه ما کله دَ طرفين دلائلوته اوکتل نو پريشان شوم هم په دې پريشانئی کښې دَ شپې په خوب کښې يو الله والا ماته اوفرمائيل چه ته ولې دې مسئلې پسې لګيدلې ئی عالم برزخ خو يو مستقل عالم دې. کله چه الله تعالی غواړی نودَ ژوندو کلام مړو ته رسوی اوکله چه نه غواړی نو نه ئی رسوی. حضرت مفتی صاحب دَ دغه خوب نه پس اوليکل چه [فأصبحت منشرحاً صدري] يعنی زه دَ شرح صدر په حالت کښې سحر پاسيدم چه واقعی دَعالم برزخ فيصله دلته دَ عالم دنيا نه نه شی کيدې.
دَدې کلام نه هم داخبره ثابتيږی چه فی الجمله سماع ده او فی الجمله عدم سماع ده. لهذا په يو طرف باندې کلکيدو سره دَ بل طرف تضليل اوتجهيل مناسب نه دې. اګرچه په مسئله کښې اختلاف شته اواختلاف خو په مرګ کښې هم دې.

د شيخ الاسلام شبير احمد عثمانی رحمه الله رائې: شيخ الاسلام حضرت مولانا شبير احمدعثمانی رحمه الله دَ سورت روم آيت ۵۳ تفسير کښې ليکی: چه اوس دَ نصوصو نه دَ کومو خبرو په غيرمعمولی طريقې سره اوريدل ثابت شی نوهم دَ هغه حده پورې مونږ له دَ سماع موتٰی قائل کيدل پکاردی. صرف قياس کولوسره نورې خبرې دَ سماع لاندې نه شو راوستلې. بهرحال په آيت کښې دَ اسماع نفی سره مطلقًا دَ سماع نفی نه شی کيدې. والله اعلم. (تفسير عثمانی ص: ۵۴۵) دَ حضرت مولانا شبير احمدعثمانی رحمه الله تحقيق او

فيصله هم دغه ده چه في الجمله اثبات سماع منل پكار دى او في الجمله عدم سماع منل پكار دى. په دې سره به په ټولو نصوصو كښې تطبيق راشي.

د مولانا غلام الله خان رائې: په دې مسئله كښې شيخ القرآن حضرت مولانا غلام الله خان صاحب رحمه الله څنګه دَ اعتدال لار اختيار كړې ده په جواهر القرآن كښې فرمائى:

دَ سماع موتىٰ مسئله دَ صحابه كرامو رضي الله عنهم دَ دور نه مختلف فيه راروانه ده. دا مسئله دَاعتقادات ضروريه نه نه ده دكوم په نفى يا اثبات باندې چه دَ كفر او اسلام مدار دې بلكه دا يوعلمى اوتحقيقى بحث دې په كوم كښې چه بحث او تمحيص اودَ نظر اوتحقيق ګنجائش دې. دامت محمديه دعلماو په مينځ كښې په دې مسئله كښې هميشه دوه رائې را روانې دي دبعضو علماو رائې دا ده چه مړى اورى خو نورو علماؤ دَ خپل تحقيق په بنياد باندې دَ سماع موتىٰ نفى كړې ده.

دَ علماؤ دې دواړو ډلوسره دلائل دى په كوم باندې چه هغوى دَ خپلو خپلو رائيو اوتحقيق بنياد اودرولې دې. كوم علماء چه دَ سماع موتىٰ نفى كوى دَ هغوى استدلال دَ ظواهر قرآن او احاديث صحيحه نه دې خو قائلين سماع هم دَ صحيح احاديثو نه استدلال كوى. (جواهر القرآن ج٢ ص٩٠٢)

[١٢٧] مړى ته خپل ځائى (جنت يا دوزخ) ښكارى

١٢٧—()[٣] ① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (② «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا مَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، ③ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، ④ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، ⑤ فَيُقَالُ: هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللَّهُ إِلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② چې كله په تاسو كښې څوك مړ شى نو په قبر كښې دننه سَحر او ماښام د هغه د اوسيدو ځاي د هغه مخې ته راوړل كيږي ③ كه چېرته هغه جنتي وي نو په جنت كښې د هغه د اوسيدو ځاي ورته وښودل شى ④ او كه دوزخي وي نو په دوزخ كښې د هغه د اوسيدو ځاي ورته وښول شى ⑤ او هغه ته اوويل شى چې دا ستا د اوسيدو ځاي دي د دې انتظار كوه تر دي چې دقيامت په ورځ الله تعالى جل جلاله تا پورته كړي او هلته دي ورسوي. بخاري و مسلم

حل اللغات: ① عُرِضَ: أيْ: أُظْهِرَ: پيش كولې شى ورته يعنى ورته ښكاره كولې شى، ② الْغَدَاةِ: سحر، صبائى، ③ الْعَشِيِّ: ماښام.

---

[١]) اخرجه البخارى كتاب الجنائز/باب الميت يعرض عليه مقعده بالغداة والعشى(رقم-١٣٧٩) ومسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه(رقم-٦٥ - (٢٨٦٦) والنسائى كتاب الجنائز/ باب وضع الجريدة على القبر(رقم-٢٠٧٠) والترمذى كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء فى عذاب القبر (رقم-١٠٧٢) وابن ماجة كتاب الزهد/ باب ذكر القبر والبلى (رقم-٤٢٧٠) ومالك كتاب الجنائز /باب جامع الجنائز(رقم-٤٧)اخرجه احمد فى المسند:١٦/٢

[۱۳۸]د عذاب قبر حق کیدل

۱۳۸-()[۳] ①«وَعَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ يَهُودِيَّةً دَخَلَتْ عَلَيْهَا، فَذَكَرَتْ عَذَابَ الْقَبْرِ② فَقَالَتْ لَهَا: أَعَاذَكِ اللَّهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ،③ فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.④ فَقَالَ: (نَعَمْ، عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ).⑤ قَالَتْ عَائِشَةُ: فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَعْدُ صَلَّى صَلَاةً إِلَّا تَعَوَّذَ بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت عائشه رضی الله عنها روایت کوي چې یو یهودي ښځه هغي ته راغله او هغي د قبر د عذاب ذکر وکړو ②او بیا هغي وحضرت عایشي رضی الله عنها ته اوویل (اي عایشي رضی الله عنها) الله تعالی جل جلاله دي تا د قبر د عذاب څخه محفوظه کړي،③ حضرت عایشي رضی الله عنها د رسول الله ﷺ څخه د قبر د عذاب حال وپښتي،④ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هو د قبر عذاب حق دي،⑤ حضرت عائشه رضی الله عنها فرمایي چې د دې واقعي څخه وروسته ما هیڅ کله رسول الله ﷺ نه دي لیدلي چې یو مونځ یي کړي وي او د قبر د عذاب څخه یي پناه نه وي غوښتي. بخاري و مسلم

حل اللغات: ① أَعَاذَكِ: أَيْ: حَفِظَكِ: بچ او محفوظ دې اوساتی تالره.

تسهیلات: قوله: فَقَالَ: نَعَمْ:

د یهودنړې د خُلې د عذاب قبر خبر: یعنی کله چې یهودنړې ښځې حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته اووئیل چې تا دې الله تعالی د قبر د عذاب څخه اوساتی نو په دې باندې حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها د حضور نبی کریم ﷺ څخه تپوس اوکړو نو حضور نبی کریم ﷺ ا وفرمائیل چې آؤ د قبر عذاب حق دې.

سوال: اوس سوال دادې چې دې یهودنړې ښځې ته د قبر د عذاب څنګه معلومات شوی وو؟ او حضرت عائشه رضی الله عنها ته څنګه معلومات نه وو؟

جواب: ددې جواب دادې چې دې یهودنړې ښځې ته دا علم د تورات څخه اوشو او د تورات تعلیم هم داشان وو. او حضرت عائشه رضی الله عنها ته په دې وجه معلوم نه ووچې اوسه پورې ددې حکم لا د وحی په ذریعه نه وو راغلې. بلکه د مسند احمد او مسلم شریف په یو روایت کښې داشان دی چې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل:

﴿كذب يهود لا عذاب دون يوم القيامة وإنما تفتن اليهود﴾. بیا چې کله د وحی په ذریعه نبی کریم ﷺ ته معلوم شو نو نبی کریم ﷺ به تعوذ فرمائیلو. دا تعوذ د امت د تعلیم دپاره وو کنې نبی کریم ﷺ ته پخپله د عذاب قبر هیڅ خطره نه وه.

---

[1]) اخرجه البخاری کتاب الجنائز /باب المیت یعرض علیه مقعده بالغداة والعشی(رقم-۱۳۷۲) ومسلم فی صحیح (رقم-۱۲۵ - (۵۸۶) والنسائی کتاب الجنائز / باب وضع الجریدة علی القبر(رقم-۲۰۶۷) واحمد فی المسند:۶/ ۱۷۴

[۱۳۹] په قبر کښې ازمائش

۱۳۹–(¹)[۵] ۱ «وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ بَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي حَائِطٍ لِبَنِي النَّجَّارِ عَلَى بَغْلَةٍ لَهُ وَنَحْنُ مَعَهُ، إِذْ حَادَتْ بِهِ فَكَادَتْ تُلْقِيهِ. ۲ وَإِذَا أَقْبُرٌ سِتَّةٌ أَوْ خَمْسَةٌ، فَقَالَ: ۳ (مَنْ يَعْرِفُ أَصْحَابَ هَذِهِ الْأَقْبُرِ؟) ۴ قَالَ رَجُلٌ: أَنَا. قَالَ: (فَمَتَى مَاتُوا؟) قَالَ: فِي الشِّرْكِ. ۵ فَقَالَ: (إِنَّ هَذِهِ الْأُمَّةَ تُبْتَلَى فِي قُبُورِهَا، فَلَوْلَا أَنْ لَا تَدَافَنُوا لَدَعَوْتُ اللَّهَ أَنْ يُسْمِعَكُمْ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ الَّذِي أَسْمَعُ مِنْهُ) ۶ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَقَالَ: (تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ). ۷ قَالُوا: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ النَّارِ. ۸ قَالَ: (تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ قَالُوا: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. ۹ فَقَالَ: (تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ). ۱۰ قَالُوا: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ قَالَ: ۱۱ (تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ). قَالُوا: نَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت زید بن ثابت ﷛ روایت کوي چې یوه ورځ حضور ﷺ د بني نجار په باغ کې په خپل اس خچر باندې سور وو او مونږ هم ورسره وو چې ناڅاپه خچر وغورځیدي او نژدې وه چې رسول الله ﷺ یي راغورزولي وې ۲ ناڅاپه پنځه شپږ قبرونه په نظر راغلل، حضور ﷺ وفرمایل ۳ د دې قبرو نو والا څوك پیژني؟ ۴ یو سړي اوویل زه یي پیژنم، رسول الله ﷺ وفرمایل دوي کله مړه شوې دي؟ (یعني په حالت د کفر کښې مړه شوې دي او که د ایمان سره د دې دنیا څخه رخصت شوې دي) هغه سړي عرض وکړو چې دوي خو د شرك په حالت کښې مړه شوې دي، ۵ حضور ﷺ وفرمایل دا امت په خپلو قبرونو کښې آزمایل کیږي (یعني په دې خلقو باندې د دوي په قبرونو کښې عذاب شروع دي) که چېرته ماته دا بیره (جلتی) نه وې چې تاسو به مړي ښخول پریږدي نو ما به ضرور الله تعالی ﷻ ته خواست کړي وې چې هغه هم تاسو ته د عذاب قبر آواز واوروي، کوم چې زه آورم، ۶ د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ زمونږ طرفته متوجه شو او وي فرمایل د اور د عذاب څخه د الله پناه غواړي، ۷ صحابؤ ﷡ عرض وکړو چې مونږ د اور د عذاب څخه د الله پناه غواړو، ۸ حضور ﷺ وفرمایل چې د قبر د عذاب د الله ﷻ پناه غواړي، صحابؤ عرض وکړو د عذاب قبر څخه مونږ د الله پناه غواړو، ۹ حضور ﷺ وفرمایل د ظاهري او باطني فتنو څخه د الله پناه غواړي، ۱۰ صحابؤ ﷡ عرض اوکړو مونږ د ظاهري او باطني فتنو څخه د الله ﷻ پنا غواړو، ۱۱ بیا حضور ﷺ وفرمایل چې د دجال د فتني څخه د الله ﷻ پنا غواړي، صحابؤ ﷡ عرض اوکړو مونږ د دجال د فتني څخه پنا غواړو. مسلم

---

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب عرض مقعد المیت من الجنة أو النار علیه، وإثبات عذاب القبر والتعوذ منه (رقم-۶۷ - (۲۸۶۷)و احمد فی المسند:۵/۱۹۰

حل اللغات: ① حَايِط: أَيْ بُسْتَان: باغ، ② بَغْلَةٍ: خچر، قچر، ③ حَادَتْ: أَيْ مَالَتْ وَنَفَرَتْ: کږه شوه یعنې یو طرف ته مائله شوه. ④ فَكَادَتْ: نزدې وه، ⑤ تُلْقِيهِ: أَيْ تُسْقِطُهُ: چه غورځولې ئې وو نبی علیه السلام. ⑥ إِذَا أَقْبَرُ: أَيْ ظَهَرَتْ لَنَا قُبُورٌ: یو څو قبرونه په نظر راغلل. ⑦ تُبْتَلَى: أَيْ: تُمْتَحَنُ: آزمائش او امتحان ئې کولې شی. ⑧ الْفِتَنِ: د فِتْنَة جمع ده، فتنه په لغت کښې امتحان ته وائی خو ددې استعمال په مکر او مصیبت وغیره کښې هم کیږی. ⑨ بَطَنَ: باطنی او پټه فتنه (کومه چه د ایمان او عقیدې د فساد سره متعلق وی).

د راوي مختصر تعارف: نوم زید، ابوسعید ابوخارجه اوابو عبدالرحمن کنیت دې.مقری فرضی کاتب الوحی حبر الامت القاب. دَ قبیله خزرج دَ نجار خاندان سره ئی تعلق وو پلار ئی دَ شپږ و کالوپه عمرکښې وفات شوې وو. دَ یولسو کالو په عمر کښې دَ مصعب بن عمیر رضی الله عنه په لاس مسلمان شو اوچه کله حضورپاك صلی الله علیه وسلم مدینې ته تشریف راوړو نودې دَ ۱۷ سورتونو حافظ وو. دغه وخت کښې دَ ده عمر۱۳ کاله وو کوم وخت چه دَ بدر معرکه راغله. دَ هغوی خواهش هم دَ شرکت وو ولې دَ کم عمر په وجه واپس کړې شو په غزوه خندق کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو. په جنګ یمامه کښې هم شریك شوې وو په دې کښې هغه په غشی هم لګیدلې وو خو بدن ته ئی څه نقصان نه وورسیدلې. رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ وحی لیکلو کار دَ ډیرو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین نه اخستې وو په دوی کښې دَ حضرت زیدبن ثابت نوم ډیر ممتاز دې.

ډیر زیات هوښیار اوعقل مندوو. ۵ھ کښې حضورپاك صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ماله دَ خلقو خطونه راځی چه په عبرانی ژبه کښې وی په یهودیانوباندې تسلی نشته نوهغوی په ۱۵ ورځوکښې عبرانی او سریانی ژبې زده کړې. [۱]

فقه کښې هغه امام وو لکه چه دَ خلفاء راشدین رضی الله عنهم او امیر معاویه رضی الله عنه په زمانه کښې هغه مفتی اعظم وو. وئیلې شی چه کومې فتوې هغه ورکړی دی که هغه راجمع کړې شی نو په مدینه کښې ډیر لوئ جلدونه تیاریدې شی. (اعلام الموقعین)

وفات: ۴۵ ھ کښې ۵۵ یا ۵۶ کالو په عمر کښې وفات شو دَهغوی په وفات باندې حضرت ابوهریره رضی الله عنه اوفرمائیل نن حبرالامت لاړو او ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل چه ګورئی علم داسې ځی.

مرویات: دَ هغوی نه دَ روایتونو تعداد ۹۲ دې په دې کښې پنځه متفق علیه دی.

تسهیلات:

قوله: مِنَ الْفِتَنِ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ:

دظاهری اوباطنی فتنې په تعریف کښې دوه اقوال: ① ظاهری فتنه هغه وی چه ظاهری بدن

---

(۱) جاری (مسنداحمد ۵/۱۸۶)

سره متعلق وي او باطني فتنه هغه وي چه دَ ایمان او عقیدې فساد سره متعلق وي.

④ ظاهري فتنه هغه ده کومه چه محسوس شي اودَ کومې اسباب چه هم معلوم وي او باطني فتنه هغه وي کومه چه محسوس نه وي او نه دَهغې اسباب ښکاره وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٣٠] په قبر کښې د مؤمن او منافق حالات

١٣٠-(٦)[٦] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "٢ «إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ يُقَالُ: لِأَحَدِهِمَا: الْمُنْكَرُ، وَالْآخَرُ: النَّكِيرُ. ٣ فَيَقُولَانِ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ ٤ فَيَقُولُ: هُوَ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. ٥ فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا، ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ، ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: نَمْ. ٦ فَيَقُولُ: أَرْجِعُ. إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ. ٧ فَيَقُولَانِ نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ. ٨ وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا قَالَ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ قَوْلًا فَقُلْتُ مِثْلَهُ، لَا أَدْرِي. ٩ فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ، فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ: الْتَئِمِي عَلَيْهِ، فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ فَتَخْتَلِفُ أَضْلَاعُهُ، فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهریره ﷺ روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ٢ چې کله مړي په قبر کې کیښودل شی نو هغه ته دوه توري شین سترګي فرشتي راشي چې په هغه کښې یوې ته منکر او بلې ته نکیر وییل کیږي، ٣ هغه دواړي د دې مړي څخه پوښتنه کوي، چې تا د دې سړي یعنی محمد ﷺ په باره کې څه ویل؟ ٤ که چېرته هغه سړي مؤمن وي نو هغه به وایي چې هغه د الله ﷻ بنده او د هغه رالیږل شوې رسول دي، او زه ګواهي ادا کوم چې د الله ﷻ څخه ماسوا بل هیڅ څوك د عبادت لایق نشته او بې شکه محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او دهغه رسول دي، ٥ په دې اوریدو سره هغه دواړي فرشتي وایي: زمونږ پوهیدو چې ته به یقیناً داسې اووائې، د دې څخه وروسته د هغه د قبر پهِ اوږد والي او پلنوالي کښې اویا اویا ګزه فراخي وکړل شی او دې مړي ته به اوویل شی چې اوده شه، ٦ مړي به وایي چې زه غواړم چې خپل اهل وعیال ته واپس لاړشم چې هغه د خپل حال څخه خبر کړم، فرشتي به هغه ته وایي ته د هغه ناوې په شان اوده شه چې یوازې هغه سړي یې ویښولي شی چې د ټولو څخه ورته زیات محبوب وي، یعنی د هر چا ویښول ښه نه لګیږي ځکه چې په دې سره وحشت کیږي، البته کله چې یې محبوب را ویښوي نو ښه لګیږي، تر دې چې الله ﷻ هغه د هغه ځاي څخه راپورته کوي، ٧ او که هغه مړي منافق وي نو وایي چې ما خلقو څخه څه اوریدلي وو هغه به ما هم ویل، لیکن زه (د دې په

---

١) اخرجه الترمذی کتاب الجنائز عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب ما جاء فی عذاب القبر (رقم-١٠٧٢)

حقیقت) نه پوهیږم ⑧(د منافق دا جواب اوریدو سره) فرښتي وایي زمونږ پوهیدو چې ته به یقینًا داسې وایې، د دې څخه وروسته وزمکې ته د یو ځای کیدو حکم اوسي، نو زمکه به دا مړي داسې سره کنبیکاږي چې د هغه ښي پښتي به ګسه او ګسه پښتي به ښي طرفته را ووځي او په دغسې همیشه عذاب کنبې به اخته وي تر دې چې الله تعالیٰ جَلَّجَلَالُهُ هغه د هغه ځای څخه پورته کړي. ترمذي

حل اللغات: ① قُبِرَ: أَيْ: دُفِنَ: قبر کنبې کیخودې شی یعنی دفن کړې شی. ② أَزْرَقَانِ: شنو سترګو والا، دا صفت په عربو کنبې ډیر زیات مقبوح دې او هیبت ناك دې. ③ اَلْمُنْكَرُ وَالنَّكِيْرُ: منکر د اسم مفعول صیغه ده دباب افعال نه، یعنی ناآشنا، او نکیر د فعیل نه په معنی د مفعول یعنی مکروه او ناخوښه (دا صفات ددوئ د ویرونکی شکل دظاهریدو دپاره دی، کافر او منافق ته هم دا فرښتې راځی). ④ يُفْسَحُ: أَيْ يُوَسَّعُ: فراخیږی، کهلاویږی، ⑤ اَلْعَرُوْسِ: ناوې. ⑥ اَلْتَئِمِي: أَيِ انْضَمِّي وَاجْتَمِعِي: راجوخته شه، راټوله شه، ⑦ فَتَخْتَلِفُ: أَيْ: تَزُوْلُ عَنِ الْهَيْئَةِ الْمُسْتَوِيَةِ: نو ګډ وډ شی او خپل حالت ئې بدل شی. ⑧ أَضْلَاعُهُ: د ضِلَع جمع ده، وَهُوَعَظْمُ الْجَنْبِ: د ډډې هډوکی ته وائی.

تسهیلات:

د بعضې جملو وضاحت:

قوله: إِذَاقُبِرَ الْمَيِّتُ: دا ئې د عام عادت مطابق اوفرمائیل ګنی قبر څخه مراد برزخ دې، اوس که څوك دفن شی که نه فرښتې دامړي په برزخ کنبې بیا موموی او دهٔ ته راځی.

قوله: اَلْمُنْكَرُ، وَالْآخَرُ: النَّكِيْرُ: کافر او منافق ته هم دا فرښتې راځی، او مؤمن دپاره چې کومې راځی په هغوئ کنبې د یو نوم بشیر دې، د بل نوم نذیر دې.

قوله: سَبْعُوْنَ: دا وسعت څخه کنایه دې، تعین ترې مراد نه دې. مدبصر او سبعون کنبې تعارض نشته دې. ځکه چې سبعون کنبې تکثیر او وسعت طرفته اشاره ده کوم چې دمد بصر خلاف نه دی. سبعون فی سبعین کنبې عدد د بل عدد دپاره ظرف دې. او ددې څخه دځلور واړو طرفونو مقدار مراددې. وسعت د قبرد اشخاصو په اعتبارسره هم کیږی.

قوله: كُنَّا نَعْلَمُ: یعنی مونږ ته د مخونو څخه اندازه شوې وه. یا راته د الهام په طور معلوم شوی وو چې تاسو به داسې جواب ورکوئی.

قوله: نَمْ: دائی دَ توجو اخوا کولو دپاره اووئیل چه زه آرام اوکړه.

[۱۳۱] په قبر کنبې د مؤمن او کافر مختلف حالات

۱۳۱ — ( )[۷] ١ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: (٢ «يَأْتِيهِ مَلَكَانِ فَيُجْلِسَانِهِ، فَيَقُوْلَانِ: لَهُ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُوْلُ: رَبِّيَ اللّٰهُ. ٣ فَيَقُوْلَانِ لَهُ: مَا دِيْنُكَ؟ فَيَقُوْلُ دِيْنِيَ الْإِسْلَامُ. ٤

[۱]) اخرجه ابوداود کتاب السنة /باب فی المسألة فی القبر وعذاب القبر(رقم-۴۷۵۳)و احمد فی المسند: ۴/ ۲۸۷

فَيَقُولَانِ: مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ؟ فَيَقُولُ: هُوَ رَسُولُ اللّٰهِ ٥ فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا يُدْرِيكَ؟ فَيَقُولُ: قَرَأْتُ كِتَابَ اللّٰهِ فَآمَنْتُ بِهِ وَصَدَّقْتُ، ٦ فَذٰلِكَ قوله: {يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ} [إبراهيم: ٢٧] الْآيَةَ. ٧ قَالَ: فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: أَنْ صَدَقَ عَبْدِي فَأَفْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ، فَيُفْتَحُ. قَالَ: فَيَأْتِيهِ مِنْ رَوْحِهَا وَطِيبِهَا، وَيُفْسَحُ لَهُ فِيهَا مَدَّ بَصَرِهِ. ٨ وَأَمَّا الْكَافِرُ فَذَكَرَ مَوْتَهُ، قَالَ: وَيُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ وَيَأْتِيهِ مَلَكَانِ، فَيُجْلِسَانِهِ ٩ فَيَقُولَانِ: مَنْ رَبُّكَ؟ فَيَقُولُ: هَاهْ هَاهْ، لَا أَدْرِي! ١٠ فَيَقُولَانِ لَهُ: مَا دِينُكَ؟ فَيَقُولُ: هَاهْ هَاهْ، لَا أَدْرِي! ١١ فَيَقُولَانِ: مَا هٰذَا الرَّجُلُ الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ؟ فَيَقُولُ: هَاهْ هَاهْ، لَا أَدْرِي! ١٢ فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: أَنْ كَذَبَ فَأَفْرِشُوهُ مِنَ النَّارِ، وَأَلْبِسُوهُ مِنَ النَّارِ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ. قَالَ: فَيَأْتِيهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُومِهَا. قَالَ: ١٣ وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتّٰى تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلَاعُهُ، ثُمَّ يُقَيَّضُ لَهُ أَعْمٰى أَصَمُّ، مَعَهُ مِرْزَبَّةٌ مِنْ حَدِيدٍ، لَوْ ضُرِبَ بِهَا جَبَلٌ لَصَارَ تُرَابًا، فَيَضْرِبُهُ بِهَا ضَرْبَةً يَسْمَعُهَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ إِلَّا الثَّقَلَيْنِ، فَيَصِيرُ تُرَابًا، ثُمَّ يُعَادُ فِيهِ الرُّوحُ» "رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: او حضرت براء بن عازب ﷺ روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ١ په قبر کې مړي ته دوه فرشتي راځي او هغه کينوي او پوښتنه ځني کوي چې ستارب څوك دي؟ هغه جواب ورکوي زما رب الله ﷻ دي، ٢ بيا فرشتي پوښتنه کوي چې ستا دين کوم يو دي؟ هغه جواب ورکوي چې زما دين اسلام دي ٣ بيا فرشتي د هغه څخه سوال کوي چې کوم سړي د الله د طرف څخه تاسو ته راليږل شوې وو هغه څوك دي؟ هغه اووائي هغه د الله رسول دي، ٤ بيا فرشتي د هغه څخه سوال کوي دا وتاته چا وښودل، هغه وايي چې ما د الله کتاب ويلي دي او په هغه مي ايمان راوړي او هغه مي ريشتوني وګڼلو (يعني څوك چې د الله ﷻ په کلام باندې ايمان راوړي او هغه به مخ کښې په رسول الله ﷺ باندې ايمان راوړي) ٥ حضور ﷺ وفرمايل دا مطلب دي د الله تعالی ﷻ د دې قول: يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ الْاٰيَةَ يعنی الله هغه خلق ثابت قدم لري چې په ثابته خبره باندې ايمان راوړي (د آيت تر آخره پورې) ٦ حضور ﷺ فرمايي چې د آسمان څخه آواز کونکي (يعني الله تعالی ﷻ يا د هغه په حکم سره فرشته) آواز وکړي او وايي چې زما بنده ريشتيا وويل، نو د هغه د پاره د جنت فرش وغوړوي او هغه ته د جنت کالي ور واغوندي او د هغه د پاره د جنت طرفته يوه دروازه خلاصه کړي (نو د هغه د پاره جنت دروازه خلاصه شي) رسول الله ﷺ وفرمايل (دهغي د روازي څخه) هغه ته د جنت هواوي خوشبوياني راځي او د نظر ترحده پورې د هغه قبر فراخ کړل شي، ٧ او پاتې شو کافر، نو حضور ﷺ دهغه د مرګ ذکر وکړو او د هغه څخه وروسته يي وفرمايل بيا د هغه روح د هغه په بدن کښې واچول شي او هغه ته دوه فرشتي راځي هغه کينوي ٨ پوښتنه ځيني کوي چې ستا رب څوك دي؟ هغه وايي هاه هاه ماته نه دي معلوم، ٩ بيا پوښتنه ځيني کوي ستا دين کوم يو دي؟ هغه وايي هاه هاه ماته نه دي معلوم، ١٠ بيا

پوښتنه ځيني کوي چې دا سړي څوك دي چې د الله د طرف څخه تاسو ته رالیږل شوي وو، هغه وايي هاه هاه ماته نه دي معلوم،⑪ بيا د آسمان څخه يو آواز کونکي آواز وکړي چې دي دروغجن دي، نو د ده د پاره د اور فرش وغوړوي او د اور جامه ور واغو ندي، د ده د پاره د دوزخ طرف ته يوه دروازه خلاصه کړي، رسول الله ﷺ فرمايي د دوزخ څخه به هغه ته ګرمي هواوي او تاؤ راځي⑫ او وي فرمایل د هغه قبر به د هغه د پاره دومره تنك کړل شي چې د يوه طرف پښتي هغه بل طرف ته او د هغه بل طرف پښتي به دي بل طرفته راووځي، بيا په هغه باندې يوه ړنده او کڼه فرشته مقرره شي چې د هغه سره به د وسپني داسې ګرز وي چې که هغه په غرته هم ووهي نو هغه غر به خاوره شي او هغه فرشته به هغه په دي ګرز داسې وهي چې (د هغه د چغو چغارو آوان) به د مشرق څخه تر مغربه ټول مخلوقات اوري، ليکن پيريان او انسان يي نه آوري او د دغه وهلو څخه دا سړي خاوري شي، ددې څخه وروسته بيا په هغه سړي کې روح واچول شي. احمد وابوداؤد

حل اللغات: ① فَأَفْرِشُوهُ: فَاجْعَلُوالَهُ فَرْشًا: دده دپاره بستره خوره کړئ. ② رَوْحِهَا: أَي نَسِيمُ الرِّيحِ: هواګاني دجنت، ③ طِيبِهَا: خوشبو دجنت، ④ يُفْسَحُ: په يو نسخه کښي تُفْتَحُ هم راغلي دي، أَيْ يُوَسَّعُ: فراخيږي، کهلاویږي، ⑤ هَاهْ هَاهْ: دا په عربی لغت کښې يولفظ دي چه دَ ډيرزيات خطرناك اوتحيراوتحسر په وخت ئی انسان وائی لکه په اردوکښې هائې وائې الفاظ راځی لاادری هم دَدي بيان دي. ⑥ حَرِّهَا: أَيْ: حَرِّ النَّارِ: د اور ګرمائش، ⑦ سَمُومِهَا: وَهِيَ الرِّيحُ الْحَارَّةُ: ګرمي هواګاني، ⑧ يُقَيَّضُ: أَيْ: يُسَلَّطُ وَيُوَكَّلُ: مسلط کولې شی، مقرر کولې شی، ⑨ أَعْمَى: أَيْ: زَبَانِيَةٌ لَاعَيْنَ لَهُ: ړندې به وی څکه چه سترګې به ئې نه وی دا زبانیه فرشتې دی. ⑩ أَصَمُّ: أَيْ: لَا يَسْمَعُ صَوْتَ بُكَاءِهِ: کنړې به وی دجهنميانو د چغو سورو آوازونه به نه آوری. ⑪ مِرْزَبَّةٌ: وَهِيَ الَّتِي يُدَقُّ بِهَا الْمَدَرُ: ګرز ته وائی کوم باندې چه اوسپنه يا کاڼری ټکوی. ⑫ الثَّقَلَيْنِ: أَيْ: الْجِنُّ وَالْإِنْسُ: ددې نه مراد انسانان او جنات دی، دوی ته ثقلين څکه وائی چه دوی په زمکه بار (بوج) کړې شوی دی.

تسهیلات:

د بعضې جملو وضاحت:

قوله: مَا يُدْرِيكَ؟: دَدې جملې نه معلومه شوه چه په قبرکښې فرښتې څوسوالونه کوی صرف هغه مشهوردرې سوالونه نه دی کوم چه مشهوردی.

قوله: مَدَّ بَصَرِهِ: يعنی دَ نظردَ حدپورې په قبرکښې وسعت. په دنياکښې دَدې مثال بعضې شيش محل دَ سرو زرو دکانونه دی په کوم کښې چه انسان دَنظردَحد پورې وسعت محسوسوی حالانکه هغه شپږ فټه دکان وی.

قوله: الَّذِي بُعِثَ فِيكُمْ؟: کوموخلقوچه نبی کريم ﷺ منلې وی دَحضورپاك په شريعت ئی

عمل کړې وی په سنت باندې ئی تګ کړې وی هغه به زر اوپیژنی چه دَدغه مبعوث نه مراد محمد عربی ﷺ دې او کوم خلق چه په دنیاکښې بعثت وشریعت نه ړانده کانړه پاتې شو هغوی به هلته هم هغه شان ړانده کانړه پاتې وی.

قوله: فَيُنَادِي مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: لکه څنګه چه په ریډیو باندې اعلان فوراً رسیږی هم دغه شان به دااعلان وی. "أن كذب" یعنی دا کس په باطل باندې ووهم دغه مطلب دې ګنی دلته دروغ نشته دې نه هغه دلته دروغ وئیلی دی.

قوله: أَعْمَى أَصَمُّ: یعنی په منزله دَاعمی دی چه ترس ئی نه راځی او په منزله دَ کانړو دی لکه چه اوری نه، دا په دې وجه چه په مجرم باندې ترس رانه شی نه احساس وی.

قوله: مِرْزَبَّةٌ: ګرز ته وائی کوم چه دَ اوسپنې وی. ثم يعاد: یعنی روح بیان تازه کولې شی. دَدې نه داهم معلومه شوه چه روح دوباره اچولې شی.

[۱۳۲] دآخرت د منزلونو نه ړومبې منزل

۱۳۲—(۱) [۸] [۱] «وَعَنْ عُثْمَانَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّهُ كَانَ إِذَا وَقَفَ عَلَى قَبْرٍ بَكَى حَتَّى يَبُلَّ لِحْيَتَهُ، [۲] فَقِيلَ لَهُ: تُذْكَرُ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَلَا تَبْكِي، وَتَبْكِي مِنْ هَذَا؟! [۳] فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ، [۴] فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ". [۵] قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَا رَأَيْتُ مَنْظَرًا قَطُّ إِلَّا وَالْقَبْرُ أَفْظَعُ مِنْهُ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عثمان رضی الله عنه په باره کښې منقول دي چې هغه به کله د يو قبر سره ودريدلو (نو د الله جل جلاله د ويرې څخه) به يې دومره ژړل چې د هغه ږيره مبارکه به (د اوښکو څخه) لونده شوه، [۲] هغه ته چا اوويل چې کله ته د جنت او دوزخ ذکر کوي نو نه ژاړې او دلته چې ودريږې نو ژاړې، [۳] د دې په جواب کښې هغه اوويل چې نبی کريم ﷺ فرمايلي دي چې د آخرت په منزلونو کښې اولني منزل قبر دي، [۴] نو چا چې د دې منزل څخه دخلاصی لار پيدا کې هغه ته د دې څخه وروسته آساني ده، او چا چې د دې منزل څخه دخلاصی لار نه کې پيدا هغه ته د دې څخه وروسته سخته ګراني ده، [۵] حضرت عثمان رضی الله عنه وايي چې حضور ﷺ وفرمايل چې ما هيڅ کله يو منظر د قبر څخه زيات سخت نه دي ليدلي، ترمذي ابن ماجه او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دي

حل اللغات: ① يَبُلَّ: أَيْ يُبَلِّلُهُ: لمده به شوه (په ژړا او اوښکوسره). ② أَفْظَعُ: دا د فَظُعَ نه دي، يَعْنِي أَشَدَّ وَأَفْزَعَ: ډير سخت ويرونکي منظر.

[۱] اخرجه الترمذی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب (رقم-۲۳۰۸) و احمد فی المسند: ۶۳/۱

تسهیلات:

قوله:بَکّی: دَ الایمان بین الخوف والرجاء په بنیاد به حضرت عثمان رضی الله عنه ژړل. مقربین دالله تعالی په دربار کښې زیات ژاړی. دا ژړل ددې خلاف نه دی چې حضرت عثمان رضی الله عنه په عشره مبشره کښې وو بلکه بشارت والا خو په اعمالواو عباداتو کښې زیات چست وی. او دهرې موقعې او مقام حق ادا کوی، دا نه چې په عباداتو او اعمالو کښې سستی کوی. قبر خو داسې مقام دې چې ټول لذتونه هیروی.

قوله:فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ: وئیلی شی چې د دنیا نهه سوه مصیبتونه د حالت نزع د یو مصیبت برابر دی. د نزع نهه سوه مصیبتونه او د قبر یو مصیبت برابر دی.د قبر نهه سوه مصیبتونه او د محشر یومصیبت او د محشر نهه سوه مصیبتونه او د دوزخ یو مصیبت برابر دی.

[۱۳۳] د دفن نه روسته قبر سره د مړی دپاره دعا غوښتل

۱۳۳—(¹)[۹] ① (وَعَنْهُ)، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا فَرَغَ مِنْ دَفْنِ الْمَيِّتِ وَقَفَ عَلَيْهِ، ② فَقَالَ: "اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ، ثُمَّ سَلُوا لَهُ بِالتَّثْبِيتِ، ③ فَإِنَّهُ الْآنَ يُسْأَلُ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت عثمان رضی الله عنه روایت کوي چې حضور ﷺ چې به کله د مړي د دفن کولو څخه فارغه شو، نو د قبر سر ته به ودریدلو ② او خلقو ته به یې فرمایل د خپل ورور د پاره استغفار وکړي (بخښنه وغواړي) او د هغه د ثابت قدم کیدو دعا وغواړي (یعني چې الله تعالی جل جلاله هغه ثابت قدم وساتي) ③ ځکه چې په دا وخت کښې د هغه څخه سوال کیږي. ابوداؤد

حل اللغات: ① التَّثْبِيتِ: د باب تفعیل نه مصدر دې په معنی: د ثابت قدم ساتلو.

تسهیلات:

قوله:اسْتَغْفِرُوا لِأَخِيكُمْ:

د مړی د خښو څخه روسته دهغه دپاره ددعا ثبوت: دَحدیث شریف دَدې جملونه په قبرباندې استغفار او قبرستان کښې دَدعا مسئله ثابتیږي. لهذا دَمړی دَخښیدونه پس په عام توګه دعاغوښتلې شی. علماء ربانیبون په دې دعا کښې لاسونه اوچتول خلاف اولی لیکلی دی ځکه چه دَمړی نه دَغوښتلو شبه پیداکیدې شی اوکه چرې دَ لاسونو نه اوچتولوسره فتنه خوریږی نولاسونه اوچتولوسره دې دعا غواړی لیکن دَ مړی په محاذات کښې دې نه اودریږی. که په خپل ماحول کښې خپلو دوستانوسره وی نوهغوی ته دې دَارسال یدین حکم ورکړی ځکه چه دا افضل دی.

¹) اخرجه ابوداود کتاب الجنائزباب الاستغفار عند القبر للمیت فی وقت الانصراف(رقم-۳۲۲۱)

قوله: بِالتَّثْبِيتِ؛

مړی دپاره په قبرکښې د تثبت دعا: تثبيت دعاداسې ده "اللهم ثبته اللهم اغفرله اللهم ارحمه" وغیره وغیره.

مړی ته د تلقین کولو حکم داد احنافو مسلك دې شوافع حضراتودَدې حدیث نه دَ مړی دَ خښیدونه پس دَتلقین مسئله هم راویستې ده خوبیاهم دَ تلقین مسئله په سماع موتٰی باندې متفرع ده. کوم حضرات چه دَ سماعِ موتٰی قائل دی هغوی دَتلقین هم قائل دی اوکوم حضرات چه دَسماع موتٰی قائل نه دی هغوی دَ تلقین هم قائل نه دی. کوم چه دَ خښید ونه پس په قبرباندې کیږی،

دتلقین کلمات: حضورپاك فرمائیلی دی چه کله تاسو نه څوم مړشی اوتاسو هغه خښ کړئی نو یو سړې دې دَقبر سرته اودریږی اووائی دې اې فلانکی ابن فلان اې فلانکی بن فلانه، مړې جواب ورکوی که چرې ته نه اورې بیااووایه اې فلانکی هغه کلمه یاده کړه په کومه چه ته دَدې دنیانه رخصت شوې وې اوهغه "اشهدان الا اله الا الله وان محمدًا عبده ورسوله" گواهی ده. بل ته په دې باندې راضی شوې چه الله تعالی ستاپروردگاردې اومحمد ﷺ ستا پیغمبردې اوقرآن ستا لارخودونکې اوامام دې. کله چه دا وئیلی شی نو منکرنکیرد یوبل لاس نیولوسره اووائی چه زه دَدې بنده دَمخې نه بهراوزه زمونږ ده سره څه کاردې ځکه چه دَالله تعالی دَ طرف نه ده ته تلقین کیږی. (مظاهرحق ج۱ص۱۴۹)

دا حدیث ضعیف دې او په دې تلقین کښې اختلاف دې لیکن یوبل تلقین هم دې په کوم کښې چه دَ چا اختلاف نشته. (مشکوة شریف ص ۱۴۹)

د خخولوڅخه روسته د سورة بقره د اول اوآخرڅخه تلاوت کول: دَ سورة بقره نه یوه دَ شروع او آخر نه یوه یوه رکوع لوستل اتفاقی مسئله ده. دَحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې چه مانبی کریم ﷺ نه اوریدلې دی چه کله ستاسو څوك مړه شی نوهغه په کور کښې مه حصاره وئی بلکه زر هغه په قبرکښې دَخښولودَپاره اوړئی بیادَدې مړی سر ته دَ سورة بقره دَ شروع نه اولولئی اودَخپوطرف ته دَ سورت بقره آخر (آمن الرسول) نه اولولئی. بیهقی دَدې روایت تخریج کړې دې مګرصحیح دادې چه دا موقوف دې. یوتلقین دَ زنکدن په وخت کښ دَ شهادتینو تلقین دې دې دَپاره چه مړکیدونکې سړې اوریدو سره لوستل اوکړی. چنانچه حکم دې لقنواموتـاکم الخ.

[۱۳۴] په قبر کښې په کافر نه نوي (۹۹) اژدهاوي مسلط کیدل

۱۳۴-()[۱۰] ۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ لَيُسَلَّطُ عَلَى الْكَافِرِ فِي قَبْرِهِ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ تِنِّينًا تَنْهَسُهُ وَتَلْدَغُهُ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ، ۳ لَوْ أَنَّ تِنِّينًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ مَا أَنْبَتَتْ خَضِرًا» [۱] رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ، وَقَالَ: (سَبْعُونَ) بَدَلَ (تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ).

ترجمه: ۱ او حضرت ابو سعید رضی الله عنه وایي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ په کافر د هغه په قبر کښې نه نوي اژدهاوي (ماران) مسلط کیږي چې هغه به تر قیامته پورې چیچي ۳ او هغه اژدهاوي (ماران) داسې دي چې که په هغه کښې یو مار په زمکه باندې پوك ووهي نو زمکه به د سبزه (شینکي) زرغونولو څخه محرومه شي، دارمي، او ترمذي رحمه الله څخه هم داسې قسم روایت نقل دي لیکن په هغه کښې د یوکم سلو په ځاي د اویاوو شمیر دي.

حل اللغات: ① يُسَلَّطُ: د باب تفعیل نه د مضارع مجهول صیغه ده، مسلط کولې شي، مقرر کولې شي. ② تِنِّينًا: وَهِيَ حَيَّةٌ عَظِيمَةٌ كَثِيرَةُ السُّمِّ: لویه او ډیره زهریله اژدها، ③ تَنْهَسُهُ: النَّهْسُ: أَخْذُ اللَّحْمِ بِأَطْرَافِ الْأَسْنَانِ: په غاښونو سره غوښه شوکول. ④ تَلْدَغُهُ: ضَرْبُ السِّنِّ بِلَا قَطْعٍ لَكِنْ مَعَ إِرْسَالِ السُّمِّ: په غاښونو باندې چک لګولو سره زهر ورپریخودل. ⑤ خَضِرًا: أَيْ نَبَاتًا أَخْضَرَ: شنه اونی بوټي، ګیا وغیره.

تسهیلات:

قوله: تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ تِنِّينًا تَنْهَسُهُ وَتَلْدَغُهُ:

د نهه نوی اژدهاګانو په مسلط کولو کښې درې حکمتونه: ① د الله یو کم سل نومونه مبارك دی، د هر یو نوم جدا جدا خصوصیت دې، کافر چې کله کفر کوی نو د ټولو څخه انکار کوی. لهذا د هر نوم په انکار باندې یو یو اژدها مقرریږی.

② دا دَ شارع کلام دې په دې کښې د تعداد دَ خصوصیاتو یا حکمتونو لټولو ضرورت نشته دې.

③ دالله تعالی رحمتونه په دې کائناتو کښې تقسیم شوی دی او یو کم سل رحمتونه الله تعالی سره خاص دې، او هغه به عالم آخرت کښې ظاهریږی. او مؤمن سره به خاص وی. کافر چونکه ددې ټولو انکار کوی نو د مؤمنینو برعکس کفارو باندې به یو کم سل اژدهاګاني مسلط کیږی.

دترمذی په روایت کښې د یو کم سلو په ځائې د اویاؤ ذکر راغلې دې کوم چې په عربی کلام کښې د تکثیر دپاره راځی. مراد هم هغه یو کم سل دی.

[۱] اخرجه الترمذی کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۴۶۰) و احمد فی المسند: ۳۸/۳

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۳۵] د قبر تنګېدل او فراخه کېدل

۱۳۵—(¹)[۱۱] ۱ عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَى سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ حِينَ تُوُفِّيَ، ۲ فَلَمَّا صَلَّى عَلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَوُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَسُوِّيَ عَلَيْهِ، سَبَّحَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَسَبَّحْنَا طَوِيلًا، ثُمَّ كَبَّرَ، فَكَبَّرْنَا. ۳ فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ لِمَ سَبَّحْتَ ثُمَّ كَبَّرْتَ؟ ۴ قَالَ: "لَقَدْ تَضَايَقَ عَلَى هَذَا الرَّجُلِ الصَّالِحِ قَبْرُهُ حَتَّى فَرَّجَهُ اللّٰهُ عَنْهُ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ﷛ روایت کوي چې د حضرت سعد بن معاذ ﷛ د وفات څخه وروسته مونږ د حضور ﷺ سره د هغه جنازې ته لاړلو، ۲ حضور ﷺ د جنازې مونځ اوکړو او حضرت سعد ﷛ په قبر کښې واچول سواو د قبر خاوره برابره کړې شوه، نو حضور ﷺ تسبیح (یعني سبحان الله) ویل شروع کړه نو مونږ هم تسبیح وویل، بیا حضور ﷺ تکبیر (یعني الله اکبر) اووئیلو زمونږ هم تکبیر وویلي، ۳ بیا د حضور ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې یا رسول الله ﷺ تا تسبیح ولي او بیا تکبیر ولي اووئیلو ؟ ۴ وي فرمایل په دې صالح بنده باندې د هغه قبر تنګ کړل شو، او بیا الله پاك زمونږ د تسبیح اوتکبیر په وجه هغه فراخ کړلو ، احمد

حل اللغات: ① سُوِّيَ: أَيِ التُّرَابُ: برابر کړې شی پرې خاوره، ② تَضَايَقَ: تنګ کړې شو (قبر)، ③ فَرَّجَهُ: أَيْ كَشَفَهُ وَأَزَالَهُ: دا تنګوالې ئې ترې ختم کړو یعنی فراخه ئې کړو.

[۱۳۶] د قبر په مړي باندې راتنګېدل

۱۳۶—(²)[۱۲] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " ۲ «هَذَا الَّذِي تَحَرَّكَ لَهُ الْعَرْشُ، ۳ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ، وَشَهِدَهُ سَبْعُونَ أَلْفًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ، ۴ لَقَدْ ضُمَّ ضَمَّةً ثُمَّ فُرِّجَ عَنْهُ» " رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر ﷛ روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ دې (یعني سعد ابن معاذ ﷛) هغه سړې دې چې د هغه د پاره عرش حرکت وکړو (یعني د هغه چې کله پاك روح آسمان ته ورسیدې نو د عرش مخلوق د خوشحالي اظهار اوکړو) ۳ او د هغه د پاره د آسمان دروازې خلاصې شوې او د هغه په جنازه اویا زره فرشتې حاضرې شوې، ۴ یقینا د هغه قبر تنګ کړې شو بیا هغه تنګي لرې کړل شوه، او (د تسبیح دبرکته) د هغه قبر فراخ شو. نسائي

حل اللغات: ① تَحَرَّكَ : په یو روایت کښې د اِهْتَزَّ لفظ دې، یعنی حرکت کوی، خوزی (د ډیرې

¹) اخرجه احمد فی المسند: ۳/ ۳۶۰

²) اخرجه النسائی کتاب الجنائز / باب ضمة القبر وضغطته (رقم-۲۰۵۵)

خوشحالئ نه). ② ضُمَّ: أَيْ عُصِرَ: زور ورکړې شی، یعني جوخت کړې شو(لکه چه سم ئې نچوړی کړی). ③ ضَمَّةً:د فعلة په وزن دې یو کار یوځل کولو دپاره استعمالیږی. أَيْ: ضَمَّةً وَاحِدَةً: یعنی یوځل زور ورکول. ④ فُرِّجَ:دا تنګوالې ترې ختم کړې شو یعنی قبر ورته فراخه کړې شو.

تسهیلات:

قوله: تَحَرَّكَ لَهُ الْعَرْشُ:

د له ضمیر مرجع: دواړو احادیثوکښې اشاره دَحضرت سعدبن معاذ رضی الله عنه طرف ته ده چه دَجنګ خندق په موقع زخمی شوې وواو روستو شهید شوې وو.

دعرش په حرکت کښې دوه وجوهات: ① علامه سیوطی رحمه الله فرمائی ممکن دی چه دَحضرت سعد رضی الله عنه په وفات باندې په توګه دَغم او افسوس عرش کښې دا حرکت راغلې وی او دادَ غم نه کنایه وی.

② دَعرش حرکت دَخوشحالئ په توګه وو چه دَدغه عظیم الشان انسان دَ روح سره به دَعرش ملاقات اوشی. عرش سره دَدې چه جماددې مګر په خپل انداز سره خو آسمان هم ژاړی اونور جمادات هم ژاړی کله چه یونیك سړې دَ دنیانه ځی. لهذا دَ عرش خوشحالیدل او حرکت کول څه مستبعد امر نه دې.

قوله: لَقَدْ ضُمَّ ضَمَّةً:

د قبرپه راتنګیدو کښې درې اقوال: ① بعضو وئیلی دی په شروع کښې دَ لږ شان زحمت اشاره اوکړه دې دَپاره چه روستو ورته دَ راحت په ښه شان احساس وی.

② په دې حدیث کښې دَ قبرهیبت ناك او خطرناك منظر نه ویرول مقصود دی چه دومره لوئی درجاتو او دَدومره لوئی شان والا صحابی ته اوګوره چه عرش دَهغه دَپاره په حرکت شو. اویا زره فرښتې په جنازه کښې شریکې شوې دَ شهادت اوچته درجه ورته ملاؤشوه دَ آسمان ټولې دروازې دَاستقبال دَپاره کولاؤشوې مګر بیاهم قبردَ راټینګولو کوشش اوکړو نودَ نورو به څه حال وی. په دې وجه چاله هم دَ خپل انجام نه بې خطرې کیدل نه دی پکار.

③ بعضې وئیلی چه قبر په محبت کښې زور ورکړو په کوم سره چه ظاهری تکلیف کیږی مګر باطنی خوند وی. احباب او ابرار سره هم دغه معامله کیږی خو فجارو سره دَتکلیف اوسزا معامله کیږی. داکلام ډیر زیات بعیددې دَ حدیث سیاق اوسباق دا نه قبلوی. والله اعلم [والکاشف: ۱/۳۲۰.]

[۳۷]د قبر ازمانش او امتحان

۳۷—(۱)[۱۳] ۱ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَطِيبًا، ۲ فَذَكَرَ فِتْنَةَ الْقَبْرِ الَّتِي يُفْتَتَنُ فِيهَا الْمَرْءُ، فَلَمَّا ذَكَرَ ذَلِكَ، ۳ ضَجَّ الْمُسْلِمُونَ ضَجَّةً. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ هَكَذَا، وَزَادَ النَّسَائِيُّ: حَالَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ أَنْ أَفْهَمَ كَلَامَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۴ فَلَمَّا سَكَنَتْ ضَجَّتُهُمْ قُلْتُ لِرَجُلٍ قَرِيبٍ مِنِّي، أَيْ بَارَكَ اللَّهُ فِيكَ! مَاذَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ قَوْلِهِ؟ ۵ قَالَ: "قَدْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّكُمْ تُفْتَنُونَ فِي الْقُبُورِ قَرِيبًا مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ»".

ترجمه: ۱ او حضرت اسماء بنت ابي بكر ﷞ روايت كوي چې يوه ورځ نبی کريم ﷺ د خطبي د پاره ودريدلو ۲ او د قبر د فتنې ذکر يي وفرمايلي چې په هغه کښې انسانان اخته کول کيږی ۳ نو د دې ذکر سره مسلمانان وويرېدل او چغې وفريادي شروع کې، دا روايت د بخاري دي او نسائي دومره نور زيات بيان کړي دي چې (د ويرې او دهشت په وجه) د مسلمانانو د چغو او چغارو په سبب ما د حضور ﷺ الفاظ وانه وريدل ۴ کله چې دا چغې چغاري بندي شوې نو ما د خپل نزدي ناست يو سړي ځخه پوښتنه وکړه چې الله دي تاته برکت درکړي (يعني ستا په علم او حلم کښې دې زيات والي وشي) په آخر کښې حضور ﷺ څه وفرمايل؟ ۵ هغه سړي اوويل چې نبی کريم ﷺ وفرمايل چې په ما دا وحي راغلي ده چې تاسو به په قبرونو کې په فتنه کښې واچولي شئ (يعني تاسو به آزمايلي شي) او دا آزمايش او امتحان به د فتنۀ جال نزدي نزدي وي.

حل اللغات: ① ضَجَّ: أَيْ: صَاحُوا وَجَزِعُوا: چغې ئې کړې او ژړا فرياد ئې شروع کړو، ② حَالَتْ: پرده شو، حائل شوې (دا چغې يعنی ددې چغو په وجه مې د نبی ﷺ الفاظ وانه ؤريدل). ③ سَكَنَتْ: چپ شو (يعنی چغې بندې شوې). ④ تُفْتَنُونَ: أَيْ تُمْتَحَنُونَ: تاسوبه په فتنه کښې واچولې شئ يعنی اوبه آزمائلی شئ (په قبرونو کښې).

[۳۸]د مونځګذار په قبر کښې د مونځ کولو خواهش

۳۸—(۲)[۱۴] ۱ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «إِذَا أُدْخِلَ الْمَيِّتُ الْقَبْرَ مُثِّلَتْ لَهُ الشَّمْسُ عِنْدَ غُرُوبِهَا. ۳ فَيَجْلِسُ يَمْسَحُ عَيْنَيْهِ، وَيَقُولُ: دَعُونِي أُصَلِّي» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر روايت ﷜ کوي چې نبی کريم ﷺ وفرمايل ۲ کله چې مړی (مؤمن) په قبر کې دفن شی نو د هغه په مخکې د نمر د لويدو وخت ورواندي کړل شی ۳ نو هغه مړي په لاسو سره سترګو مړلو سره راکيني او وايي ما پريږدي چې مونځ وکړم. ابن ماجه

¹) اخرجه البخاری کتاب الجنائز /باب ما جاء فی عذاب القبر(۱۳۷۳) والنسائی کتاب الجنائز/ باب التعوذ من عذاب القبر (رقم -۲۰۶۲)

²) اخرجه ابن ماجة کتاب الزهد/باب ذکر القبر والبلی (رقم-۴۲۷۲)

حل اللغات: ① مَثَلَتْ: أَيْ: صُوِّرَتْ: یعنی دَنمربه دَ ډوبیدو نظاره پیش کړی مړی ته به ښکاری. ② يَمْسَحُ: مړی به سترګې (لکه څنګه چه څوک دخوب نه راپاڅي نو سترګې مړي). ③ دَعُونِي: أَيْ اتْرُكُوا: پریمې ږدئ (یعني سوال جواب او خبرې راسره مه کوئ).

تسهیلات:

قوله: دَعُونِي أُصَلِّي: دا دَمداومت الصلوة دلیل دې چه کوم خلق پابندئی سره مونځ کوی هغوی سره په هوش بې هوشئی اومرګ اوژوند هره لمحه کښې دَ مونځ فکروی اوداد کامل ایمان نښه ده.

قوله: مَثَلَتْ لَهُ الشَّمْسُ: دا وخت دَ مسافردَپاره دَ پریشانئ وی هغه سوچ کوی چه شپه به کوم ځائی تیروم داسې هم دَعالم شهودعالم دنیا نه دَ عالم غیب او دَ عالم آخرت مسافر دې ده ته پریشانی ده چه نمرډوبیږی مونځ هم دې وخت کښې کول دی مکان لټولو سره شپه تیرول دی. چاسره واقفیت نشته ژبه هم ناآشناده مکان هم ناآشنادې خلق هم ناآشنا دی سوال اوجواب هم ناآشنادې او امتحان هم ناآشنادې. چا پښتو کښې وئیلی دی:

ناشنا وطن ناشنا مکان دې ناشنا کتاب ناشنا تپوس رانه کوینه

یوفارسی شاعر وئیلی دی:

توزلف راکشادی وتاریک شد جهاں اکنوں فتادشام، غریباں کجاروند

[۱۳۹] د نیک عمله اوبدعمله دقبر حالات

۱۳۹—()[۱۵][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "«إِنَّ الْمَيِّتَ يَصِيرُ إِلَى الْقَبْرِ،[۲] فَيَجْلِسُ الرَّجُلُ فِي قَبْرِهِ غَيْرَ فَزِعٍ وَلَا مَشْغُوبٍ،[۳] ثُمَّ يُقَالُ: فِيمَ كُنْتَ؟ فَيَقُولُ: كُنْتُ فِي الْإِسْلَامِ. [۴] فَيُقَالُ: مَا هَذَا الرَّجُلُ؟ فَيَقُولُ: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ جَاءَنَا بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ، فَصَدَّقْنَاهُ. [۵] فَيُقَالُ لَهُ: هَلْ رَأَيْتَ اللَّهَ؟ فَيَقُولُ: مَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَرَى اللَّهَ، [۶] فَيُفْرَجُ لَهُ فُرْجَةٌ قِبَلَ النَّارِ، فَيَنْظُرُ إِلَيْهَا يَحْطِمُ بعضها بعضا، [۷] فَيُقَالُ لَهُ: انْظُرْ إِلَى مَا وَقَاكَ اللَّهُ، ثُمَّ يُفْرَجُ لَهُ فُرْجَةٌ قِبَلَ الْجَنَّةِ، فَيَنْظُرُ إِلَى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيهَا،

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دي چې حضور ﷺ وفرمایل کله چې مړي قبر ته دننه ورسي (یعني دفن کړل شي) [۲] نو نیك بنده په قبر کې دننه داسې کینول کیږي چې نه خو هغه یوه لمحه خوف زده وي او نه ویریدلي، [۳] بیا د هغه څخه پوښتنه کیږی چې ته په کوم دین باندې وې؟ هغه ورته وایي چې زه په دینِ اسلام وم، [۴] بیا د هغه څخه پوښتنه کیږی چې داسړي (محمد ﷺ) څوك دي؟ هغه ورته وایي محمد (ﷺ) د الله رسول دي چې د الله پاك د طرف څخه زمونږ د پاره په ښکاره دلیلونو سره راغي او مونږ یي تصدیق اوکړو، [۵] بیا د هغه څخه سوال کیږی چې آیا تا الله ﷻ لیدلي دي؟ هغه

۱) اخرجه ابن ماجة کتاب الزهد/باب ذکر القبر والبلی (رقم-۴۲۶۸)

به جواب كښې اووائي چې الله تعالىٰ جَلَّجَلَالُهُ خو ځوك نشي ليدي، ⑥ د دې ځخه وروسته د هغه د پاره يو روشن دان د دوزخ طرفته خلاص كړل شي او هغه اخوا (طرفته) ګوري (او د اور لنبې داسې وينې لكه چې هغه يو بل سره خوري) ⑦ او هغه ته اوويل شي چې دا شي وګوره چې الله جَلَّجَلَالُهُ ځيني ته ساتلي يې، بيا د هغه د پاره يو روشندان د جنت طرفته خلاص كړل شي او هغه د جنت تر وتازګي او د هغه ځيزونو ته ګوري،

حل اللغات: ① فَزِعٌ: ويره، خوف. ② مَشْغُوبٍ: وَهُوَ تَهْيِيجُ الشَّرِّ وَالفِتْنَةِ: چه د شر اوفساد او د فتنو نه محفوظ وى. ③ البَيِّنَاتِ: أَيِ: الآيَاتِ الظَّاهِرَاتِ: يعنى ښكاره واضحه دليلونه او معجزات، ④ فَيَفْرَجُ: أَيْ: يَكْشَفُ وَيَفْتَحُ: كهلاؤ شى، پرانستلي شى. ⑤ يَحْطِمُ: أَى يَكْسِرُ وَيَغْلِبُ وَيَأْكُلُ بَعْضُهَا بَعْضًا: يوبل باندې غالب كيږي او يوبل خورى. ⑥ وَقَاكَ اللَّهُ: أَيْ: حَفِظَكَ: ته ئې بچ كړې ئې ستا حفاظت ئې كړې دې (چه ته ئې دګناهونو اود كفر نه ساتلي وې). ⑦ زَهْرَتِهَا: أَيْ حُسْنِهَا وَبَهْجَتِهَا: ښائست او تر وتازګى دجنت.

① فَيُقَالُ لَهُ: هَذَا مَقْعَدُكَ، عَلَى اليَقِينِ كُنْتَ، وَعَلَيْهِ مِتَّ، وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى. ② وَيُجْلَسُ الرَّجُلُ السُّوءُ فِي قَبْرِهِ فَزِعًا مَشْغُوبًا، ③ فَيُقَالُ: فِيمَ كُنْتَ؟ فَيَقُولُ: لَا أَدْرِي! ④ فَيُقَالُ لَهُ: مَا هَذَا الرَّجُلُ؟ فَيَقُولُ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ قَوْلًا فَقُلْتُهُ، ⑤ فَيُفْرَجُ لَهُ فُرْجَةٌ قِبَلَ الجَنَّةِ، فَيَنْظُرُ إِلَى زَهْرَتِهَا وَمَا فِيهَا، فَيُقَالُ لَهُ: انْظُرْ إِلَى مَا صَرَفَ اللَّهُ عَنْكَ، ⑥ ثُمَّ يُفْرَجُ لَهُ فُرْجَةٌ إِلَى النَّارِ، فَيَنْظُرُ إِلَيْهَا يَحْطِمُ بعضيها بعضيا، ⑦ فَيُقَالُ لَهُ: هَذَا مَقْعَدُكَ، عَلَى الشَّكِّ كُنْتَ، وَعَلَيْهِ مِتَّ، وَعَلَيْهِ تُبْعَثُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى» "رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① بيا هغه ته ويل كيږي چې دا ستا ځاى دې، ځكه ستا عقيده مضبوطه او يقين دې كامل وو او د دې يقين واعتماد په حالت كښې ته وفات شوې او په دې حالت كښې به (د قيامت په ورځ) پورته كيږې كه الله پاك وغواړي. ② او بدكاره بنده په (خپل) قبر كښې ويرې په حالت كښې كينول كيږي، ③ بيا به د هغه ځخه پوښتنه وشي چې ته په كوم دين باندې وې؟ هغه به وايي چې زه نه پوهيږم، ④ بيا به د هغه ځخه سوال وشي چې دا سړي (محمد ﷺ) ځوك وو؟ هغه وايي ما چې څه د خلقو ځخه اوريدل هغه به مي ويل، ⑤ د دې ځخه وروسته به د هغه د پاره د جنت طرفته يو روشندان خلاص كړل شي چې د هغه ځخه به د جنت تر وتازګي او د هغه ځيزونه ويني، بيا به هغه ته اوويل شي د دې شي طرف ته اوګوره چې الله پاك ستا ځخه ګرځولي دي، ⑥ بيا به د هغه د پاره د دوزخ طرفته يوه كړكي (دريچه) خلاصه شي او هغه به ويني چې د اور تيزي شغلي يوه بله خوري ⑦ او هغه ته به ويل كيږي چې دا ستا ځاي دې، د هغه شك په سبب چې ته پكي اخته وې او په هغه ته مړشوې او په هغه به ته پورته كيږې كه الله پاك وغواړي. ابن ماجه

حل اللغات: ⑧ صَرَفَ اللَّهُ: چه ګرځولي دي الله تعالى (چه تاته ئې هدايت نه ووكړې اود نيكو اعمالو توفيق ئې نه وو دركړې). ⑨ مَقْعَدُكَ: أَيْ: مَكَانُكَ: ستا د اوسيدو ځائې، ⑩ تُبْعَثُ: ته به پورته كولې شې، دوباره به راپاځولې شې.

تسهيلات:

قوله: هَلْ رَأَيْتَ اللّٰهَ؟:

په قبر کې د درې تپوسونوځخه علاوه نور تپوسونه: چونکه حضوراکرم ﷺ سره متعلق سوال جواب کښې فرښتوته مړی وئیلی وو چه "جاءنابالبينات" هم په دې وجه فرښتې سوال اوکړو چه آياتا خپل رب ليدلې دې چه من عندالله وايئ؟ ددې نه معلومه شوه چه په قبرکښې به دَ مشهور دريو سوالونو ضمن کښې څه نور سوالونه به هم وی لکه دا مذکوره سوال "على اليقين كنت" يعنی ستا عقيده مضبوطه وه په ايمانی کيفياتو کښې څه تزلزل نه وو او هم په دې به اوچتولې شی. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی دايوه جدا مستقل جمله ده.

[٥/٥] بَابُ الْاِعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ

كتاب او سنت باندې د عمل بيان

د اعتصام لغوی معنی: د اعتصام معنی په مضبوطيا سره د نيولو راځی لکه چه د الله پاک ارشاد دې ﴿ وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيعًا ﴾ يعنی کتاب او سنت په مضبوطيا سره اونيسئ. (طيبی)

په کتاب اوسنة د اعتصام مطلب: کتاب او سنت لره په مضبوطيا سره د نيولو مطلب دا دې چه د قرآن او سنت په حقيقت باندې اعتقاد اوساتی او څه چه په دې کښې دی د هغې په تقاضو باندې عمل اوکړی. د بدعت او مذاهب باطله نه دې لرې اوسيږی.

د بدعت په تعريف کښې اقوال: ① په بحر الرائق او ردالمختار کښې دی :

﴿ البدعة مَا أُحْدِثَ عَلَى خِلَافِ الْحَقِّ الْمُتَلَقّٰى عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ مِنْ عِلْمٍ أَوْ عَمَلٍ أَوْحَالٍ بِنَوْعِ شُبْهَةٍ وَاسْتِحْسَانٍ وَجُعِلَ دِيْنًا قَوِيْمًا وَصِرَاطًا مُسْتَقِيْمًا ﴾(بحر الرائق، رد المختار)

(بدعت هغه دې کوم چه د رسول الله ﷺ د طريقې خلاف وی که علم نه وی او که عمل نه وی، که د مشتبهات نه وی او که د استحسان د څه حالت سره متعلق وی)

② په مجالس الابرار کښې دی : ﴿ البدعة لها معنيان احدهما لغوی وهو عام ای الحدث مطلقا، والثانی شرعی خاص ای الزيادة فی الدين او النقصان منه بعد الصحابة بغير اذن من الشارع لا قولا ولا فعلا ولا صريحا ولا اشارة ﴾(مجالس الابرار ص ١٣١)

(د بدعت دوه معنې دی، ١: لغوی او هغه عام ده يعنی مطلق پيدا کړې شوې څيز. ٢: شرعی کوم چه خاص دې يعنی په دين کښې زياتې کمې کول د صحابه کرامو رضی الله عنهم د زمانې نه پس په داسې طريقه چه د دې زيادت يا کمی د رسول الله ﷺ د قول يا فعل نه صراحة يا اشارة هيڅ اجازت نه وی)

③ امام نووی رحمه الله فرمائی : هِیَ کُلُّ شَیْءٍ عُمِلَ عَلٰی غَیْرِ مِثَالٍ سَابِقٍ وفی الشرع: البدعة احداث مالم یکن فی عهد رسول الله ﷺ (حاشية المشكاة عن المرقاة)

(بدعت د هر نوی څیز نوم دې چه د هغې مخکښې څه مثال موجود نه وی او په شریعت کښې هر هغه څیز کوم چه د رسول الله ﷺ په زمانه کښې نه وی د هغې په دین کښې د پیدا کولو نوم بدعت دې)

د امام نووی رحمه الله د تعریف مطابق په حدیث کښې ﴿ کل بدعة ضلالة ﴾ عام مخصوص عنه البعض دې.

د بدعت دوه قسمونه: بعضې حضراتو د بدعت دوه اقسام بیان کړې دی.

① **بدعت هدی:** ددې تعریف دا دې : ماکان واقعا تحت عموم ما ندب الله الیه وحض الله ورسوله فهو فی حیز المدح (کوم څیز چه د الله پاک د خوښ کړې شوې څیز د عموم د لاندې راځی هغه د مدح په درجه کښې دې)

② **بدعت ضلالة:** ددې تعریف دا دې : ماکان فی خلاف امر الله ورسوله فهو فی خیز الانکار والذم (او کوم څیز چه د الله پاک او د هغه د رسول د حکم خلاف وی هغه په مرتبه د انکار او ذم کښې راځی یعنی مذموم دې) (النهاية ص ۹۶)

د بدعت هدی اوبدعت ضلالة کښې د عالمانواقوال: ① امام شافعی رحمه الله فرمائی : ﴿ ما احدث فما یخالف الکتاب والسنة اولاثر اولاجماع فهو ضلالة وما احدث من الخیر فما لا یخالف شیئا من ذلك فلیس بمذموم ﴾ (حاشية المشكاة عن المرقاة)

(هر هغه څیز کوم چه د کتاب الله او سنت رسول الله ﷺ، آثار صحابه او اجماع خلاف پیدا کړې شوې وی هغه گمراهی ده او کوم څیز چه د نیکو نه پیدا کړې شوې وی او هغه د مذکوره څیزونو خلاف نه وی نو هغه مذموم نه دې).

② شیخ عبد الحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائی :"بدانکه هر چه پیدا شده بعد از پیغمبر بدعت است و از آنچه موافق اصول و قواعد سنت اوست وقیاس کرده شده است برآن ان را بدعت حسنه گویند. وآنچه مخالف آن باشد بدعت سیئه خوانند وکلیة ﴿کل بدعة ضلالة﴾ محمول برین است ای بر بدعت سیئة" (اشعة اللمعات)

③ هم د دې قبیلې نه د سیدنا عمر رضي الله عنه ارشاد دې ﴿ نعمة البدعة هذه ﴾ د هذه مشار الیه قیام رمضان دې. (مرقاة)

د شیخ عز الدین په نیز د بدعت پنځه قسمونه: شیخ عز الدین بن عبدالسلام د کتاب القواعد په آخر کښې لیکلې دی چه د بدعت (لغویه) پنځه قسمونه دی.

① **واجب :** چه د هغې په ذریعه آیت قرآنیه او د احادیث نبویه معرفت حاصل شی او د دین او ملت حفاظت په هغې باندې موقوف شی لکه علم نحو او علم الصرف.

② **محرمه :** لکه جبریه، قدریه، مرجئه، مجسمه باندې رد کول داسې بدعت دې کوم چه د واجب په درجه کښې دې ځکه چه د دې فرقو تردید کولو سره د شریعت حفاظ کول فرض کفایه دی.

③ **مندوب:** هر هغه څیز د کوم چه د رسول اللهﷺ په زمانه کښې معمول نه وو لکه د تراویح اجتماع د مدارس دینیه قیام وغیره.

④ **مباح :** لکه په خوراک څکاک او استوګنه کښې توسیع اختیارول.

⑤ **مکروه :** لکه د مسجدونو ډولی کول.

دبدعت مثالونه: ① که یو سړې په یوحکومت کښې جعلی نوټ جوړوی او بیا په هغې باندې جعلی ټهاپه لګولوسره هغه دَ سرکار دَ طرف نه رائج کړې شوې نوټونو کښې داخل کړی او چلوی ئې نوهغه سړې به دَ حکومت او قانون په نظر کښې څومره لوئی مجرم وی؟ بالکل هم دغه شان یو بدعتی سړې دې چه په مستند شریعت کښې دَ خپل طرف نه یوغیرمستند عمل داخلوی اوبیا خلقو ته دهوکه ورکوي او دغه مصنوعی عمل دَ اصلی عمل په صورت کښې دَ رائج کولو کوشش کوی. نوتاسو پخپله اندازه اولګوئی چه دا سړې به دَ الله اودَهغه دَ رسول اودَ اسلامی قانون په نظرکښې څومره لوئی مجرم جوړیږی؟

② دَبدعت مثال داسې اوګڼړئی لکه چه یوه ډاکخانه وی دَ هغې نه ډاکی خطونو او رسیدونو باندې مشتمل یوه تهیلئی بلې ډاکخانې ته رسوی. اوس که چرې دغه ډاکی دا مهر شوې تهیلئ کولاؤ کړی اودَ هغې نه یو خط راؤباسی نو هم دَ حکومت مجرم ګرځی. اوکه چرې په هغه تهیلئ کښې یوبل بنه خط دَخپل طرف نه داخل کړی نوبیاهم مجرم ګرځی. ځکه چه په دننه خطونو باندې دَ حکومت سرکاری مهر لګیدلې وې ډاکی غیرتصدیق شوې بغیرمهر شوې لفافه په هغې کښې داخلوی نودا دَ بغاوت او خیانت په شان یو ډیر لوئی جرم دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۴۰] په دین کښې د هر نوی څیز ایجاد کولو مردودیت

۱۳۰-(۱)[۱] ① عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (② «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ») مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الصلح /باب إذا اصطلحوا علی صلح جور فالصلح مردود (رقم-۲۶۹۷) ومسلم کتاب الأقضیة/باب نقض الأحکام الباطلة، ورد محدثات الأمور(رقم-۱۷ - (۱۷۱۸) ابن ماجة الکتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم]باب تعظیم حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم، والتغلیظ علی من عارضه(رقم-۱۴) وابو داود کتاب السنة/باب فی لزوم السنة(رقم-۴۶۰۶)و احمد فی المسند:۶/۲۷۰

ترجمه: [۱] اوحضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها روایت کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل[۲] چا چې زمونږ په دي دین کښې داسې نوي خبره راوایستله چې هغه په دي کښې نه وي نو هغه مردود دي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① أَحْدَثَ: أَيْ: جَدَّدَ وَابْتَدَعَ: نوې خبره، بدعت ئې راویستلو. ② أَمْرِنَا: أَيْ: فِي دِينِ الْإِسْلَامِ: د دې نه دین اسلام او شریعت مطهره مراد دې. ③ رَدٌّ: أَيْ: مَرْدُودٌ عَلَيْهِ: رد کړې شوې دې، ناقابل قبول دې.

تسهیلات:

قوله: مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هٰذَا:

په هذا سره اشاره کولو کښې حکمت: دلته داشاره قریب صیغه استعمال کړې شوې ده. سره دَدې چه دین محسوس او مبصرنه دې. په دې سره دَ دین اسلام دِیر واضح او روښانه کیدوطرف ته اشاره ده. چه دَ دلائلو او یقینیاتو په اعتبارسره دا دین داسې روښانه دې لکه چه یو محسوس اومبصرخیز وی.

قوله: أَحْدَثَ:

نوټ: د بدعت تعریف د باب په اول کښې تیرشوې دې هغې ته رجوع اوکړئ.

[۱۴۱] هر بدعت ګمراهي ده

۱۴۱ (-)[۲] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ([۲] «أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللَّهِ، وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ، [۳] وَشَرَّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ») رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] جابر رضي الله عنه وایي چې حضور ﷺ په یوه خطبه کښې وفرمایل[۲] وروسته د دې څخه پوهیدل پکار دي چې د ټولو څخه ښه خبره د الله کتاب دي، د ټولو څخه ښه لاره د محمد (ﷺ) لاره ده [۳] او د ټولو څخه بد ترینه شي هغه دي کوم چې (په دین) کې نوي را ایستل شوې وي اوهربدعت (دخپله ځانه په دین کې پیدا کړي نوي خبره) ګمراهيَ ده. مسلم

حل اللغات: ① الْحَدِيثِ: أَيْ: مَا يُتَحَدَّثُ بِهِ وَيُتَكَلَّمُ: خبرې کوم باندې چه کلام کیږي، ② الْهَدْيِ: أَي السِّيرَةُ: سیرت ته وائی په ښه لار باندې هم ددې اطلاق کیږي. ③ مُحْدَثَاتُهَا: يَعْنِي الْبِدَعَ: بدعاتو ته وائی (بدعات اعتقادی، قولی او فعلی ټول پکښې داخل دی). ④ بِدْعَةٍ: أَيْ إِحْدَاثُ مَا لَمْ يَكُنْ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: په لغوی توګه بدعت یو نوې څیز اونوی کار کولوته وائی. او دَ شریعت په اصطلاح کښې بدعت هغه نوې کاردې چه په خیرالقرون کښې نه وی او سلف اوخلف دَهغې طرف ته محتاج وی. او یو سړې هغه دَ ثواب حاصلولو په نیت اوکړی. ⑤ ضَلَالَةٌ: ګمراهی.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة/ باب تخفیف الصلاة والخطبة رقم الحدیث ۲۰۴۲

تسهيلات: قوله: أَمَّا بَعْدُ:

رسول الله ﷺ کیدی شی چه خطبه ارشادفرمائیله په دې وجه ئی دَامام بعدکلمه اوفرمائیله دَدې کلمې متعلق په شروع کښې پوره تفصیل تیرشوې دې.

قوله: وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ:

د هربدعت ګمراهی: په یوروایت کښې راغلی دی "وكل ضلالة في النار" یعنی دَ ګمراهئ اهل خلق به ټول په دوزخ کښې وی. په دین اسلام کښې بدعت یوخطرناك څیزدې په کوم سره چه دَدین مسخ کیدو خطره پیداکیږی اودین فاسد کیږی.

مذکوره حدیث کښې د بدعت څخه مراد: په زیربحث حدیث کښې د بدعت څخه اصطلاحی شرعی بدعت مراد دې دکوم چې ټول افراد مذموم دی باقی پاتې شو بدعت لغویه نودهغې بعضې افراد مستحب بلکه واجب هم دی.ترکومې پورې چې د بدعت شرعی خبره ده نو د دې حدیث په رڼا کښې هرقسم اصطلاحی شرعی بدعت مذموم او ګمراهی ده.

[۱۳۲] دالله تعالی په نیزدرې مبغوض کسان

۱۳۲-(۱)[۳] ⓵ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (⓶ «أَبْغَضُ النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ ثَلَاثَةٌ: ⓷ مُلْحِدٌ فِي الْحَرَمِ، وَمُبْتَغٍ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ، ⓸ وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِءٍ بِغَيْرِ حَقٍّ لِيُهْرِيقَ دَمَهُ») رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ⓵ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ⓶ د الله تعالی جل جلاله په نیزد ټولو څخه لوي مغضوب (یعني هغه خلق چې د هغوئ څخه الله تعالی جل جلاله سخت ناراضه دي) دري دي، ⓷ ۱: په حرم کښې کجروي کونکي، ۲: په اسلام کښې د جاهلیت د زماني طریقو لټونکي، ⓸ ۳: د یو مسلمان د ناحقه وینې طلبګار چې د هغه وینه توي کړي. بخاري

حل اللغات: ① مُلْحِدٌ: أَيْ: ظَالِمٌ أَوْ عَاصٍ: الحاد دَنیغې لار نه اخواکیدل او کږې لارې ته وائی. ② مُبْتَغٍ: أَيْ: طَالِبٌ: لټونکې، تلاش کونکې، ③ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ: د جاهلیت د زماني طور طریقه (لکه لونړه بنخول، جواری وغیره. ④ مُطَّلِبُ: أَيْ: مُجْتَهِدٌ فِي الطَّلَبِ: چه په دې طلب اوکوشش کښې لګیا وی. ⑤ لِيُهْرِيقَ: چه توئې کړی، اوبهیوی.

تسهيلات:

قوله: أَبْغَضُ النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ ثَلَاثَةٌ:

[۱] اخرجه البخاری کتاب الدیات/باب من طلب دم امرئ بغیر حق(رقم-۶۸۸۲)

اشكال: د حدیث د ظاهر څخه دا معلومیږي کوم مسلمان چې په هغه کښې دا درې واړه صفات وي نو د هغه څخه هغه کافر بهتر دې په کوم کښې چې دا درې صفات نه وي.

د اشکال جواب: دلته په حدیث کښې ګناهګار مسلمانان مراد دي ټول خلق مراد نه دي لکه څکه چې په بل حدیث کښې وئیلی شوي دي ((ابغض البلاد الی الله اسواقها)) یعنی په ټولو کښې ناخوښه ځایونه بازارونه دي حالانکه په بازار کښې چې کوم کسان کار کوي هغه ټول مبغوض نه وي.

قوله: مُلْحِدٌ فِي الْحَرَمِ:

د ملحد في الحرم پیژندګلو: ملحد فی الحرم هغه سړې دې چه په حرم شریف کښې دَ شریعت دَ احکامو خلاف ورزی کوي. دَ الله تعالی دَ حرم بې حرمتی کوي. او هلته بدامنی خوروي، جګړه کوي او هلته ښکار کوي. وئیلی شي چه په حرم شریف کښې دَ ګناه تصور کول هم ګناه ده او صغیره هم کبیره شمیرلې کیږي.

قوله: سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ:

د سنة الجاهلية څخه مراد: یعنی دَ اسلام قبلولونه پس په بدبختئی سره دَ جاهلیت رسم اورواج په اسلام کې رائج کوي. مثلاً نوحه کول، ګریوان شلول، ماتم کول، ویښته شوکول قومی تعصب ته هوا ورکول اودَ جاهلیت بدعت په اسلام کښې داخلول وغیره وغیره.

قوله: وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِءٍ:

د مذکوره جملې مطلب: یعنی دَ یومسلمان دَ ناحقه وینې په لټون کښې لګیدل لویه ګناه ده. علماؤ لیکلی دی چه دَدې جملې اودَدې نه دَ مخکښې جملې مطلب دادې چه دا سړې دَ دې ګناهونو دَ لټون دَ وجې نه ګناهګارجوړشوې دې نوچه کوم خلق دا ګناه کونکې وی دَهغوی ځائی به کوم ځائی وی؟

د صفات ثلاثو د تخصیص وجه: دا دریواړه خصلتونه ئې خاص کړل څکه چه :

① په اول صفت کښې دحرم مرکزیت اودهغې د احترام د وجې ددې تخصیص اوکړې شو.

② په دویم صفت کښې دَ حدودِ اسلام رعایت دې.

③ په دریم کښې دَ امن عامه خصوصیت دې.

[۱٤۳] د نبی علیه السلام په تابعداری جنت ته تلل

۳۳-( )[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «(كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى) [۳] قِيلَ: وَمَنْ أَبَى؟ قَالَ: (مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، [۴] وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى») رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الاعتصام والسنة /باب الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم--۷۲۸۰)و احمد فی المسند:۲/

ترجمه: [۱] ابو هریره ﷺ روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] زما ټول امت به په جنت کښې داخل شی لیکن هغه سړي چې هغه انکار اوکړو او سرکشي وکړي هغه به په جنت کښې نه داخلیږي، [۳] نو پوښتنه څیني وشوه هغه کوم سړي دي چې هغه انکار وکړي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړي چې زما اطاعت او فرمانبرداري وکړه هغه په جنت کښې داخل شو [۴] او چا چې زما نافرماني وکړه نو هغه انکار اوسرکشي وکړه. بخاري

حل اللغات: ① أَبَى: أَيِ امْتَنَعَ عَنْ قَبُولِ مَا جِئْتُ بِهِ: انکار نه مراد ددین اسلام نه قبلول دی.

تسهیلات: قوله: كُلُّ أُمَّتِي:

دامت په مصداق کښې دوه احتمالات:

① که د امت څخه امت دعوت مراد وی نو بیا د حدیث مطلب دا شو چې زما ټول امت دعوت به جنت ته داخلیږی خو هغه څوک به نه داخلیږی څوک چې د ((من ابی)) مصداق وی په دې صورت کښې به د «من ابی» مصداق کافر وی.

② که دامت څخه امت اجابت مراد شي نو بیا به د حدیث مطلب دا شي چې زما د امت اجابت ټول خلق به جنت ته داخلیږی خوهغه څوک به نه داخلیږی څوک چې د «من ابی» مصداق وی په دې صورت کښې به د «من ابی» مصداق عصاة المؤمنین وی اودا حدیث به په زجر او توبیخ باندې حمل وی.

[۱٤٤] د نبی علیه السلام مثال

۱۴۴—(۱) [۵] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «جَاءَتْ مَلَائِكَةٌ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَهُوَ نَائِمٌ، [۲] فَقَالُوا إِنَّ لِصَاحِبِكُمْ هَذَا مَثَلًا فَاضْرِبُوا لَهُ مَثَلًا [۳] قَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّهُ نَائِمٌ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانُ. [۴] فَقَالُوا: مَثَلُهُ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى دَارًا وَجَعَلَ فِيهَا مَأْدُبَةً وَبَعَثَ دَاعِيًا، [۵] فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ دَخَلَ الدَّارَ وَأَكَلَ مِنَ الْمَأْدُبَةِ، وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ لَمْ يَدْخُلِ الدَّارَ وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَأْدُبَةِ. [۶] فَقَالُوا: أَوِّلُوهَا لَهُ يَفْقَهْهَا. قَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّهُ نَائِمٌ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّ الْعَيْنَ نَائِمَةٌ وَالْقَلْبَ يَقْظَانُ. [۷] فَقَالُوا: الدَّارُ الْجَنَّةُ، وَالدَّاعِي مُحَمَّدٌ، [۸] فَمَنْ أَطَاعَ مُحَمَّدًا فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ، وَمَنْ عَصَى مُحَمَّدًا فَقَدْ عَصَى اللَّهَ، وَمُحَمَّدٌ فَرْقٌ بَيْنَ النَّاسِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ فرمایي چې څه فرشتي حضور ﷺ ته هغه وخت راغلي چې حضور ﷺ اوده وو، [۲] هغوئ (فرشتو) په خپلو کښې اوویل ستاسو د دې دوست یعنی د حضور ﷺ متعلق یو مثال دي هغه د ده په مخ کښې بیان کړي، [۳] نورو فرشتو اوویل هغه خو اوده دي، نو د بیانولو څه فایده، په هغوئ کښې بعضو اوویل بیشکه سترګي یي اوده دي لیکن زړه یي ویښ دي، [۴] بیا هغوئ اوویل د ده مثال د هغه سړي

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الاعتصام والسنة/ باب الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-۷۲۸۱) والترمذی کتاب الأمثال عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی مثل الله لعباده (رقم-۲۸۶۰)

پشان دي چې هغه کور جوړکي او د طعام خوړلو د پاره يي سترخوان وغوړوي او بيا د خلقو د رابللو د پاره يي يو سړي وليږلي⑤ نو چا چې د بلونکي خبره ومنله هغه به په کور کې داخل شي او طعام (خوراك) به وخوري او چا چې د بلونکي خبره قبوله نه کړه هغه نه په کور کې داخل شو او نه يي خوراك وخوړلو⑥ په دي اوريدو سره فرشتو په خپلو کښې اوويل دا په وضاحت سره بيان کړي چې په دي پوه شي، بعضې فرشتو اوويل چې (د بيان کولو څخه څه فايده ځکه چې هغه خو اوده دي، نورو اوويل بي شکه سترګي يي اوده.دي ليکن زړه خويي ويښ دي، ⑦او بيايي اوويل د کور څخه مراد جنت دي او د بلونکي څخه مراد محمد ﷺ دي،⑧ چا چې د هغه فرمانبرداري وکړه هغه د الله تعالی ﷻ فرمانبرداري وکړه او چا چې دمحمد ﷺ نافرماني وکړه هغه د الله تعالی ﷻ نافرماني وکړه او محمد ﷺ د خلقو په مينځ کښې فرق کونکي دي. بخاري

حل اللغات: ①فَاضْرِبُوا: أَيْ: بَيِّنُوا: جوړکړئ، بيان کړئ، ②يَقْظَانُ: بيدار، ويخ، ③مَأْدُبَةً: أي طَعَامٌ عَامٌ يُدْعَى النَّاسُ إِلَيْهِ كَالْوَلِيمَةِ: عامه روټئ او خيرات ته وائی چه هر چاته پکښې د شريکيدو دعوت وی. ④الدَّاعِيَ: رابلونکې، ⑤أَوِّلُوهَا: أَيْ: فَسِّرُوا: يعنی تاويل او تفسير ددې خوب يا قصې ورته بيان کړئ، ⑥يَفْقَهْهَا: أَيْ يَفْهَمْهَا: چه پوهه شی پرې (نو بيا به پرې خلق هم پوهه کړی). ⑦فَرْقٌ :أَيْ: فَارِقٌ: دا په معنی د فارق سره دې يعنی فرق کونکې دې په مينځ د مؤمن اوکافر کښې، د صالح او فاسق کښې.

تسهيلات:

قوله: وَالْقَلْبَ يَقْظَانُ:

د نبی عليه السلام زړه نه اوده کيدل: دَعامو خلقو دَ خوب اثر ظاهری اوباطنی ټولو اندامونو باندې وی او سترګو سره زړه هم اوده کيدو سره دَ ادراك او شعور نه غافليږی. ليکن دَ نبی په خوب سره صرف ظاهری اندامونه متاثر کيږی دَ زړه په ادراك او شعور باندې دَ خوب اثر نه وی.

دنبی د زړه نه اوده کيدو وجه: دَ ډيرو احاديثونه ثابتيږی چه دَانبياء کرامو زړه نه اوده کيږی. ځکه چه دَنبی په زړه باندې هروخت دَ عالم بالا نه دَ وحی نزول کيږی. نو په خوب او بيدارئی کښې دَعلومِ وحی دَ حصول دَپاره دَزړه تياريدل ضروری وی. هم دغه وجه ده چه دَنبی خوب دَ وحی يو مستقل قسم دې کوم چه قطعی او يقينی وی. حضرت ابراهيم عليه السلام هم دَخوب دَ وجې نه دَ اسماعيل عليه السلام دَ ذبح کولو فيصله اوکړه. که چرې دَ خوب حيثيت يقينی او قطعی نه وې نودَ اولاد دَ قتل په شان عمل ارتکاب به ئی څنګه کولو؟ هم دغه وجه ده چه نبی دَ خوب نه پاسول جائز نه دی. ممکن ده چه وحی کيږی اوهم دغه وجه ده چه دَ انبياء کرامو خوب ناقض وضو نه دې.

اشکال: په کتاب الصلوة کښې لیلة التعریس په نوم سره یو حدیث راځی. په هغې کښې دي چې حضورپاك په یو ځائی کښې ډیره واچوله او ټول لښکر والا اوده شو؟ حضورپاك هم اوده شو اودَ نمر راختو نه پس ئی سترګې کولاؤ شوې او دَ سحرمونځ قضاء شو، که چرې دَ رسول الله ﷺ زړه ویښ وو نو مونځ ولې قضاء شو؟ او په وخت باندې ولې بیدار نه شو؟

داشکال دوه جوابونه: ① دقضاء شوی مونځ عملی تعلیم ورکولودپاره الله تعالی خلاف معمول د نبی ﷺ څخه د صبا مونځ قضاء کړل چې د خوب په وجه د قضاء شوی مونځ احکام معلوم شی.

② دَانسان په بدن کښې دَ هر یو اندام خپل کار او ذمه واری ده. دَ سحر ادراك کول اوهغه لیدل اومعلومول دا دَ زړه ذمه واری نه ده بلکه دَ سترګو ذمه واری ده. هم دغه وجه ده چه که یو سړې سترګې پټې کړی نو دَ ویښې په حالت کښې هم هغه په صبح صادق باندې نه شې پوهیدلې حالانکه زړه ئی بیدار دې مګر سترګې پټې دی. دلته هم دغه شان معامله ده. دَ حضورپاك زړه بیدار وو لیکن دَ سحر پیژندل دَ زړه کار نه وو بلکه دَ سترګو وو او په ظاهری توګه باندې سترګې دَ خوب دَ وجې نه متاثر وې. نودَ سحر ادراك هغه وخت اوشو کله چه نمر بدن په احساس سره متاثر کړو اودَ بدن قوتِ حاسه محسوس کړه چه دَ سحر وخت اووتلو بلکه نمر راختلې دې.

قوله: وَالدَّاعِي مُحَمَّدٌ:

په حدیث کښې تشبیهات: ① د نبی ﷺ تشبیه د رجل سره ورکړې شوې ده.

② د جنت تشبیه د دار سره ورکړې شوې ده.

③ د جنت د نعمتونو تشبیه د مادبة سره ورکړې شوې ده.

اشکال: بعضې نورو روایاتو کښې دَ داعی نه مراد الله تعالی دې. اودَ مادبة نه مراد جنت دې. اودَ دار نه مراد اسلام اخستې شوې دې. د کوم نه چه په ظاهره تعارض معلومیږی.

د تعارض جواب: په دې کښې هیڅ تعارض نشته دې ځکه چه اصل او بلاواسطه داعی الله تعالی دې. او نبی کریم بالواسطه داعی دې نوکله نسبت بلاواسطه اوکله بالواسطه کړې شوې دې.

قوله: وَمُحَمَّدٌ فَرْقٌ بَيْنَ النَّاسِ:

د فرق کیدو مطلب: یعنی حضورپاك دَمؤمن اوکافر په مینځ کښې فارق دې چه د حضورپاك منونکې مؤمن او نه منونکې کافر دې. څوك چه محمدی دې هغه مؤمن دې او څوك چه محمدی نه دې هغه مسلمان نه دې. ځکه چه په میدانِ حقانیت کښې اوس هم دَمحمدیت شهرت او دور دې.

[١٤٥] د سنتو څخه د بې رغبتۍ وعيد

١٤٥-(١)[٦] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى أَزْوَاجِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢] يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] فَلَمَّا أُخْبِرُوا بِهَا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا ; [٤] فَقَالُوا: أَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٥] وَقَدْ غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ؟!.

ترجمه: [١] حضرت انس ﷺ روايت کوي چې دري کسه د نبی کريم ﷺ د بيبيانو په خدمت کې حاضري شو، [٢] چې د هغوئ څخه د نبی کريم ﷺ د عبادت حال وپوښتي، [٣] هر کله چې دوي ته د نبی کريم ﷺ د عبادت حال وښودل شو نو هغوئ ګويا د ده ﷺ عبادت کم وګڼلو [٤] واپس سمدستي يي يووبل ته سره اوويل چې د حضور ﷺ په مقابله کښې زمونږ څه يو [٥] الله تعالی ﷻ خو د هغه مخکې ورستني ټول ګناهونه معاف کړي دي،

حل اللغات: ① رَهْطٍ: اي العِصَابَةُ: جماعت او ډله، (العِصَابَةُ دُونَ العَشَرَةِ، وَقِيلَ: دُونَ الأَرْبَعِينَ) ③ تَقَالُّوهَا: باب تفاعل دي مجرد ئې قلة دي، أَيِ اسْتَقَلُّوهَا: کم ئې اوګڼلو (عبادت د نبی ﷺ).

[١] فَقَالَ أَحَدُهُمْ: أَمَّا أَنَا فَأُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا. [٢] وَقَالَ الآخَرُ: أَنَا أَصُومُ النَّهَارَ أَبَدًا، وَلَا أُفْطِرُ. [٣] وَقَالَ الآخَرُ: أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَدًا، [٤] فَجَاءَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِلَيْهِمْ [٥] فَقَالَ: "أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا؟! [٦] أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ، وَأَتْقَاكُمْ لَهُ، [٧] لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ، وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ، وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ، [٨] فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] په هغوئ کښې يوه اوويل چې اوس خو به زه هميشه ټوله شپه مونځ کوم اوده کيږم به نه، [٢] دويم اوويل چې زه به د ورځې هميشه روژه نيسم او هيڅکله به يي نه پريږدم، [٣] دريم اوويل چې زه به د ښځو څخه بيل اوسم او هيڅ کله به نکاح نه کوم. [٤] نو حضور ﷺ تشريف راوړو، دپوښتني بعدي و فرمايل [٥] تاسو خلقو داسې داسي ويلي دي؟ [٦] خبردار زه ستاسو څخه زيات د الله تعالی ﷻ څخه ويريږم او ستاسو څخه زيات تقوي اختياروم، [٧] ليکن د دي باوجود زه روژه هم نيسم اوکله يي پريږدم هم، زه د شپي مونځ هم کوم او اوده کيږم هم او د ښځو سره نکاح هم کوم [٨] (او دغه زما طريقه ده نو) کوم سړي چې زما د طريقي څخه مخ اړوي، هغه زما څخه نه دي (يعني زما د جماعت څخه خارج دي)، بخاري ومسلم

حل اللغات: ③ أَعْتَزِلُ: أَيْ أَجْتَنِبُهُنَّ: جدا به اوسيږم، ځان به بچ ساتم. ⑦ لَأَخْشَاكُمْ: أخشیٰ د اسم تفضيل صيغه ده، زيات ويريږم په نسبت ستاسو. ⑤ أَتْقَاكُمْ: أتقیٰ د اسم تفضيل صيغه ده، ستاسو په

---

(١) اخرجه البخارى كتاب النكاح /باب الترغيب فى النكاح (رقم-٥٠٦٣) ومسلم كتاب النكاح/ باب استحباب النكاح لمن تاقت نفسه إليه، ووجد مؤنه، واشتغال من عجز عن المؤن بالصوم (رقم-٥ - (١٤٠١))

نسبت زیاته تقوی اختیاروم. ⑥ أَرْقُدُ: اوده کیږم، ⑦ رَغِبَ: أَيْ: مَالَ وَأَعْرَضَ: مخ ئې واړولو، اعراض ئې اوکړو، ⑧ فَلَيْسَ مِنِّي: أَيْ: مِنْ أَشْيَاعِي: زما د جماعت نه نه دې (یعنی دمسلمانانو د ډلې نه نه دې).

تسهیلات: قوله: جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ:

درې سړو څخه مراد: په دې حدیث کښې د درې سړو د سوال او خپل مینځ کښې د خبرو ذکر دې دا درې سړي: ① سیدنا علی، ② سیدنا عثمان بن مظعون ③ سیدنا عبدالله بن رواحه رضی الله عنهم دی.

د درې کسانو مقصود: د دې حضراتو مقصود دا وو چه رسول الله ﷺ ته خو الله پاک بخښنه کړې ده په دې وجه هغوی ته د دومره عبادت ضرورت نشته څومره چه مونږ ته دې. په دې باندې رسول الله ﷺ خبردارې ورکړو چه په دنیا کښې دې د دنیاوی اصولو د رعایت سره د احکام شرعیه پابندی اوکړې شی. ترک دنیا او تجرد په اسلام کښې نشته. دا خو د نصاری طریقه وه چه هغوی به رهبانیت اختیارولو او دا به ئې د عبادت اعلی مقام تصور کولو، اسلام د رهبانیت نفی اوکړه ﴿لا رهبانية في الاسلام﴾ چه په اسلام کښې دنیا ترک کولو سره په ځنګلو او غارونو کښې تلو سره عبادت کول جائز نه دی. په اسلام کښې نفس په قابو کښې ساتل او هغې لره د الله پاک د مرضئ مطابق روانولو دپاره روژه فرض کړې شوې ده نه رهبانیت.

د مذکوره درې کسانو عبادات: ① نوهم دَ دې محنت وړاندې ذکر راغی چې یو اووئیل چې ټوله شپه به مونځ کوم،

② دوئم اووئیل چې همیشه به روژې نیسم، ولا أفطر، یعنی د ایام ممنوعه منهیه څخه علاوه به روژې نیسم، او کله به هم افطار نه کوم.

③ دریم د عدم نکاح عهد اوکړو.

قوله: فَلَيْسَ مِنِّي:

اشکال: نبی کریم ﷺ په دې حدیث کښې فرمائی چې هغه زما څخه یا زمونږ څخه نه دی نو ددې ظاهری مطلب دا دې چې ددې کار د کولو نه پس به هغه کس مسلمان نه وی بلکه اسلام څخه به خارج وی؟

داشکال دوه جوابونه: ① د فلیس منی دا جمله چې ده، ددې تعلق عام اسلام او ایمان سره نه دې بلکه مطلب دادې چې هم په دې جزئیه او په دې عمل کښې دا کس زما څخه نه دې او نه د مسلمانانو په طریقه باندې دې. بلکه په دې جزئې کښې دا کس د بل مذهب والو په شان دې. د مسلمانانو په شان نه دې.

④ دا کلام دَ اسلوب حکیم په طریقه دې چې داشان دَ لاتعلقۍ اعلان کله چې يو مسلمان واوری نو هغه به چغې وهی او ژاړی به چې څه خو دخپل نبی ﷺ اودَ خپلې عقیدې څخه واوړیدم، نو توبه به اوباسی او دې معصیت ته به نزدې هم نه ورځی.

قوله: وَقَدْ غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ: دمذکوره جملې د وضاحت څخه وړاندې دعصمت انبیاء مسئله باندې ځان پوهول ضروری دی.

د عصمت انبیاء مفهوم: د انبیاء ﷺ د معصوم کیدو مطلب دا دې چه الله پاک په انبیاء ﷺ کښې د باقی انسانانو په شان د ګناه د کولو صلاحیت قدرت او اختیار کیخودلې دې خو الله پاک د انبیاء ﷺ خاص طور سره حفاظت فرمائی او د هغوی نه هیڅ ګناه د بشری تقاضو د وجې نهٔ صادر کیږی. ددې داسې مثال دی چې ړوند د بدنظرۍ څخه نشی منع کولی ځکه چې هغه بد نظرکولې نشی نوانبیاء علیهم السلام په ګناه باندې قدرت لری خو ددې باوجود الله تعالی د هغوی حفاظت کوی.

د انبیاء علیهم السلام څخه د ګناه په صدور کښې اقوال:

① داهل سنت والجماعت دا عقیده ده چې انبیاء علیهم السلام قبل النبوة اوبعد النبوة د شرک اوکفرڅخه محفوظ وی اوبعد النبوة عمداً اوسهواً د کبائروڅخه محفوظ وی. او قبل النبوة سهوا اوعمداً د صغائرو اوکبائروصدورترې کیدې شی.

② د اشاعرؤ په نیز انبیاء قبل ازنبوت اوبعد ازنبوت د شرک کفر اوکبائروڅخه محفوظ وی خوبعد النبوة سهوا اوعمداً د صغائرو صدور ترې کیدې شی.

③ د ماتردیؤ په نیزانبیاء علیهم السلام قبل النبوة اوبعدازنبوت د صغائرو اوکبائرو څخه محفوظ وی بیا په دوی کښې بعضې وائی چې قبل ازنبوة سهواً ترې د صغائرو صدور کیدې شی.

④ دحشویه فرقې په نیز انبیاء علیهم السلام معصوم نه دی. (والعیاذ بالله) بلکه د هغوی څخه ګناه کیدې شی.

دعصمت انبیاء دلائل: ① الله تعالی فرمائیلی دی ((وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ)) نبی هرقدم د الله تعالی په تابعداری کښې اوچتوی که ګناه کوی نو دالله تعالی نافرمانی لازمیږی.

② مرتکب د معصیت قابل عتاب وی که نبی ګناه اوکړی نو دامت د طرفه به معتوب وی اودا د نبی د شان خلاف خبره ده.

③ که انبیاء معصوم نه شی نوبیا به د هغوی څنګه کولیَ شی اوهغوی به دالله تعالی د طرفه څنګه نمائندګان جوړشی.

اشکال: په بعضې نصوصو کښې انبياء عليهم السلام ته د ذنب نسبت شوې دې که دوی معصوم وې نو بيا ورته د ذنب نسبت ولې شوې دې؟

د اشکال جوابونه: ① په کومو نصوصو کښې چې نبی ته د ذنب نسبت شوې دې نو دهغې څخه دامت ذنب مراد دې د نبی ذنب مراد نه دې.

② د ذنب څخه مراد خلاف اولی دې ځکه چې د انبياؤ مقام ډير اوچتې دې نو په خلاف اولی باندې هم هغوی ملامته کړې شوی دی. نوهغوی ته چې په کومونصوصو کښې د ذنب نسبت شوې دې د هغې څخه معصيت مراد نه دې.

اشکال:انبياء ﷺ خو بغير د تخصيص نه معصوم او مغفور دی بيا په دې آيت کريمه کښې رسول الله ﷺ ولې خاص کړې شو.

د اشکال جواب:نفس مغفرت ټولو انبياءعظام ﷺ ته عام دې. اعلان مغفرت د رسول الله ﷺ دپاره خاص دې د دې وجه دا ده چه کوم څيزونه د رسول الله ﷺ خاص دی لکه شفاعت کبری، مقام محمود وغيره. که اعلان نه وې کړې شوې نو د قيامت په ورځ باندې به د نورو انبياء کرام ﷺ په شان خپلو لغزشونو لره يادولو سره د قلبی ويرې د وجې نه د خپل خصوصی حق طرف ته پيش قدمی نه کوله. اعلان کولو سره الله پاک رسول الله ﷺ مطمئن کړو. هم دا وجه ده چه کله په ټولو انبياء ﷺ باندې شفاعت کبری پيش کړې شی نو فرمائی به چه محمد ﷺ ته لاړ شئ الله پاک د هغوی مخکښې روستو ټول ګناهونه معاف کړې دی. (فيض الباری)

اشکال :د مغفرت ﴿مَا تَأَخَّرَ﴾ معنی په فهم کښې نه راځی، يعنی چه کومه ګناه به په مستقبل کښې صادر کيږی په ماضی کښې د هغې د معاف کولو څه معنی ده او بيا معافی د ګناه د کولو نه پس راځی او دلته چه کوم څيز معاف کړې شوې دې هغه بالکل په وجود کښې نه دې راغلې.

د اشکال جوابونه:① حافظ تورپشتی رحمه الله جواب ورکولو سره فرمائيلې دی چه دلته د مغفرت نه مراد عدم مواخذه ده يعنی که په مستقبل کښې که څه ګناه صادر هم شوه نو په هغې باندې به مواخذه نه وی يا دا چه د الله پاک د علم مطابق چه کوم ګناهونه په مستقبل کښې صادر کيدونکی دی هغه د مخکښې نه معاف کولې شی. يا دا چه د مغفرت تعلق د آخرت سره دې او د آخرت نه مخکښې ټول څيزونه ماضی دی.

② علامه کشميری رحمه الله د شاه ولی الله نه نقل کړی دی چه په دې آيت کريمه کښې د مغفرت مقتضاء عدم عمل وترک احتياط نه دې بلکه د عمل زيادت او احتياط د دې مقتضی دې. لکه چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه يا رسول الله ﷺ! ستاسو

خو الله پاک مغفرت کړې دې بيا تاسو دومره د عمل مشقت ولې اوچتوئ؟ نو رسول الله ﷺ جواب ورکړو ﴿ افلااکون عبداشکورا﴾نو د اعلان مغفرت مطلب د عمل زيادت او احتياط دې چه د مغفرت شکر ادا کړې شي. لکه چه رسول الله ﷺ په غزوه بدر کښې شريک کيدونکو ته خطاب کولو سره فرمائيلي وو چه څه غواړئ کوئ ستاسو مغفرت کړې شوې دې. لهذا دلته د مغفرت مقتضاء د عمل زيادت دې نه دا چه د تکليف ساقط کول دی.

③ مغفرت د عالم آخرت معامله ده په آخرت کښې به ما تاخرهم ما تقدم اوګرځی نوڅه اشکال پاتې نشو.

④ د ما تقدم او ماتاخراصول وکليه د مخلوق دباره ده خالق دپاره ما تقدم او ماتاخردواړه يو حيزدې.

⑤ په ما تقدم اوما تاخر کښې مقصود ما تقدم دې د ما تاخر ذکر د محاورې په توګه شوې دې لکه څنګه چې دوکاندار ګاهک ته اووائی په دې نرخ کښې کمې زياتې نه کيږی. نودلته هم مقصد کمې دې زياتې د محاورې په طور باندې ذکرشوې دې.

⑥ د ما تقدم ذکر د مغفرت ذپاره دې اود ما تاخرذکر په طور د تکريم دې.

اشکال: صوفياء کرامو هم د دې ګمراه فرقو د اقوالو سره يو شان خبرې کړې دی چه سالک چه کله مقام د معرفت ته اورسيږی نو د هغه نه تکليف د عبادت ختم شی بيا په دواړو کښې څه فرق دې؟

داشکال جواب: د صوفياء کرامو په نزد د تکليف معنی مشقت ده چه د هغې مطلب دا دې چه د سالک په عبادت کښې مشقت نه پاتې کيږی بلکه خوند پکښې پيدا شی. (شرح فقه اکبر ص ١٤٩)

[١٤٦]دبې ځايه پرهيزګارۍ مما نعت

١٣٦–(¹)[٧] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «صَنَعَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- شَيْئًا، فَرَخَّصَ فِيهِ، ② فَتَنَزَّهَ عَنْهُ قَوْمٌ، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-؟ فَخَطَبَ فَحَمِدَ اللَّهَ، ثُمَّ قَالَ: "③ مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَتَنَزَّهُونَ عَنِ الشَّيْءِ أَصْنَعُهُ؟! ④ فَوَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْلَمُهُمْ بِاللَّهِ وَأَشَدُّهُمْ لَهُ خَشْيَةً» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چې سردارِدوعالم ﷺ يو کار اوکړو او د هغه اجازت يې ورکړه ② ليکن بعضې خلقو د هغه څخه پرهيز اوکړو بيا چې حضور ﷺ خبر شو نو ده ﷺ خطبه ورکړه او د الله د حمد او تعريف څخه وروسته يې وفرمايل ③ چې د خلقو څه حال دي چې د هغه شي څخه پرهيز کوي کوم چې زه کوم، ④ په الله مي دي قسم

---

¹) اخرجه البخاری کتاب الادب باب من لم يواجه الناس بالعتاب(رقم-٦١٠١)و احمد فی المسند:٤٥/٦

وي چې زه د الله تعالی ﷻ مرضي او نا مرضي د دوي څخه زياته پيژنم او د دوي څخه زيات د الله څخه ويريږم. بخاري و مسلم

حل اللغات: ① صَنَعَ: أي إِجَادَةُ الْفِعْلِ: کار کولو ته وائي يعنی نبی علیه السلام يو کار اوکړو. ② فَرَخَّصَ: او خلقو ته ئې هم دکار کولو اجازت ورکړو ③ فَتَنَزَّهَ: أَيْ: عَنْ ذٰلِكَ الصُّنْعِ: ليکن بعضې خلقو د هغه کار څخه پرهيز اوکړو.

تسهیلات:

قوله: صَنَعَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- شَيْئًا:

دصنع مصداق: ممکن دی چې ددې کار څخه مراد د روژې په حالت کښې د خپلې ښځې ښکلولو اجازت وی. نبی کريم ﷺ پخپله عمل اوکړو، خلق ئې په رخصت پرېښودل. خو څه خلقو ددې څخه پرهيز اوکړو او احتياط ئې اوکړو، نو نبی کريم ﷺ په دغه موقع دا ارشاد اوفرمائيل.

قوله: فَرَخَّصَ فِيهِ،

د رخصت په مفهوم کښې دوه اقوال:

① يعنی نبی علیه السلام په رخصت باندې دعمل کولو رخصت او اجازت ورکړو.

② په رخصتونو باندې د عمل کولو حکم ئې ورکړو.

مطلب دا چې صحابه کرامو رضی الله عنهم دا خيال اوکړو چې په عزيمت باندې عمل کولو کښې ثواب زيات دې او په رخصت کښې کم دې د نبی علیه السلام مقام خو اوچت دې که هغوی په عزيمت عمل کوی او که په رخصت څه پرواه نه کوی اومونږ خو ګناهګار يو مونږ لره په عزيمت باندې عمل کولو پکار دی.چې زيات څخه زيات کمالات راته حاصل شی نو نبی علیه السلام په دې باندې تنبيه اوفرمائيله چې کله کله په رخصت باندې هم عمل پکار دې چې الله تعالی ته خپله عاجزی او انکساری ښکاره کړی.

په رخصت باندې عمل کولو کښې حکمتونه: ① که په رخصت باندې عمل کوی او نيت ئې د عزيمت وی نو د عزيمت هومره ثواب ملاويږی. ځکه چې الله تعالی ته چې څنګه په خپلو عزيمتونو باندې عمل کول خوش دی دغه شان په رخصتونو باندې عمل کول هم خوښ دی.

② په اعمالو کښې آسانتيا پيدا کيږی

③ د بنده عجز او ضعف ښکاره کيږی.

قوله: إِنِّي لَأَعْلَمُهُمْ:

په عبادت کښې مقصود: يعنی څه ددې ټولو څخه زيات پوهيدونکې يم، او د ټولو څخه زيات متقی هم يم. او دټولو څخه زيات دالله تعالی څخه هم ويريږم. او حقوق الله او

حقوق العباد هم ادا کوم. او دا کارونه او دا څیزونه دالله تعالی د ویرې او تقوی خلاف نه دی. څه خلقو غوښتل چې په عمل کښې د نبی کریم ﷺ څخه وړاندې لاړ شی او د رخصت دَ پریښودلو او په عزیمت باندې د عمل کولو اراده ئې لرله خو معتوب شو. ځکه چې کثرتِ عبادت مقصود او مطلوب نه دی. بلکه شدت اطاعت مقصود و مطلوب دی.

[٣٧] په دنیاوی امورو کښې د نبی د اطاعت عدم وجوب

٣٧-()[٨] ① وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَدِمَ نَبِيُّ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُمْ يُؤَبِّرُونَ النَّخْلَ، ② فَقَالَ: مَا تَصْنَعُونَ؟. قَالُوا: كُنَّا نَصْنَعُهُ. ③ قَالَ: "لَعَلَّكُمْ لَوْ لَمْ تَفْعَلُوا كَانَ خَيْرًا. فَتَرَكُوهُ؟ فَنَقَصَتْ. ④ قَالَ: فَذَكَرُوا ذَلِكَ لَهُ. ⑤ فَقَالَ: إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ أَمْرِ دِينِكُمْ، فَخُذُوا بِهِ ; ⑥ وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ رَأْيِي، فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت رافع بن خدیج ﷺ بیان کوي چې کله سردارِ دوعالم ﷺ مدیني ته تشریف راوړلي هغه وخت د مدیني خلقو د خرماوو په ونو کښې تابیر کولي (یعني دماده ونې ښاخ پریکول په هغه کښې دنرښاخ بندول)، ② حضور ﷺ (دا لیدلو سره) وفرمایل چې تاسو دا څه کوي؟ د مدیني خلقو عرض اوکړو چې مونږ داسې کوو، ③ حضور ﷺ ورته وفرمایل که تاسو داسې ونه کړي نو شائد چې بهتر وي، خلقو د حضور ﷺ دا ارشاد اوریدو سره هغه پریښودل او په هغه کال میوه کمه وشوه، ④ روایت کونکي وایي چې د دې ذکر حضور ﷺ ته وشوه، ⑤ نو حضور ﷺ وفرمایل چې زه هم یو انسان یم، نو کله چې زه تاسو ته داسې حکم درکړم چې ستاسو د دین وي نو هغه قبول کړي ⑥ او کله چې کمه خبره پخپلي رأې سره تاسو ته وکړم نو تاسو پوه شی چې زه هم انسان یم (یعني خطایي پکښې راتلای شي). مسلم

حل اللغات: ① يُؤَبِّرُونَ: أَيْ: يُلَقِّحُونَ: يَعْنِي: يَجْعَلُونَ الذَّكَرَ فِي الْأُنْثَى: تابیر دَباب تفعیل نه دَاصلاح په معنی کښې دی. بل دا دَ تلقیح اوپیوند په معنی کښې هم راځی. چه دَ نر کهجورې قلم په ماده کهجورې کښې اولګولې شی. ② فَنَقَصَتْ: نو کمه اوشوه میوه.

تسهیلات:

قوله: يُؤَبِّرُونَ النَّخْلَ:

د قلم لګولودوه طریقې: ① چه دَ نر کهجورې قلم په ماده کهجورې کښې اولګولې شی. ② چه دَنر کهجورې دَ ونې ګل دَ ماده کهجورې په ګل باندې اولګولې شی دې دَپاره چه میوه زیاته اوکړی.

[1]) اخرجه مسلم کتاب الفضائل/باب وجوب امتثال ما قاله شرعا، دون ما ذکره صلی الله علیه وسلم من معایش الدنیا، علی سبیل الرأی(رقم-١٤٠ - (٢٣٦٢))

د تابیر باره کښې دمدینې دخلقوتعامل: دَمدینې منورې خلقو داعمل دَمدینې په باغونو کښې کولو ځکه چه دَ کهجورې ونه دَ حضرت آدم علیه السلام دَ پاتې شوې ختې دَحصې نه جوړه ده په دې وجه په دې کښې هم هغه عادات دی کوم چه دَ انسان په مذکر او مؤنث کښې دی. په کوم باغ کښې چه نر کهجورنه وی هلته میوه نه کیږی بیا دَدې تابیر په عمل سره فصل کښې اضافه کیږی او میوه هم ښکلې راځی.

قوله: لَعَلَّكُمْ لَوْلَمْ تَفْعَلُوا:

د نبی علیه السلام د مشورې بنیاد: حضورپاك داخیال اوکړوچه دا هم دَ جاهلیت طریقه ده الله تعالی چه څنګه لیکلی وی هم هغه شان به کیږی. نودَدې طریقه کارڅه ضرورت دې؟بل په دې کښې تکلیف اومحنت هم دې. حضور پاك نه نفی اوکړه او نه ئی منع اوکړه بلکه دَدغه عمل ضرورت ئی ختم کړوجواز خو ئی بیاهم باقی دې. بل طرف ته دَالله تعالی په نیز تکوینی توګه باندې په عالم اسباب کښې دَدې عمل او دَدې محنت هم ضرورت وو په دې وجه دَدې عمل په پریخودو سره میوه هم کمه راغله.

قوله: فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ:

په دنیوی امور کښې د نبی علیه السلام د حکم حیثیت: یعنی زه یو انسان یم کله چه زه څه حکم دَدین متعلق تاسوته درکړم نوهغه اختیاره وئی ځکه چه لامحاله هغه به دَ وحی نه وی اوکله چه زه څه حکم دَخپل اجتهاد اورائې نه درکړم نوکیدې شی چه په هغې کښې خطاء وی ځکه چه زه بشریم نودَ صحیح اوخطاء احتمال بهرحال دواړه موجود دی.

قوله: وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ مِنْ رَأْيِي:

په شرعی امورو کښې د نبی علیه السلام دحکم وجوب: یوه سلسله دَ تشریعاتو او دَ شرعی امورو ده په هغې کښې دَ حضورپاك نه دَغلطی امکان نشته ځکه چه ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحٰى ۝﴾ آیت موجوددې دویمه سلسله دَدنیاوی معاملاتو اودَ اسبابو ده نوپه دې کښې دَخطااحتمال کیدې شی. ځکه چه کله ټول توجهات هم دَآخرت طرف ته وی نودَ دنیا پریشانوکښې دَ اخته کیدو چرته فرصت وو؟ دارنګ دنیاوی مشقتونه دَ دنیا دَحصول سره لګیدلی وو کوم چه دنیادارو پیژندل، په دې وجه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "انتم اعلم بامور دنیاکم" یعنی دا دَ سبب او مسبب جوړ او دَ محنت اومشقت په پریخودو باندې دَنقصان ښکاره کیدل تاسو دنیادار ښه پیژنئی.

د یوې غلطی تنبیه: دَدې حدیث مطلب داهیڅ کله نه دې چه حضورپاك خپل امت دَ اقتصادیاتو په میدان کښې اوپه معاملاتو کښې دَ شریعت دَ قواعدو نه آزادولو اعلان کوی لکه چه بعضې ملحدین په دې سره دَخلقو دَ ګمراه کولوکوشش کوی. که چرې دَ حضورپاك مقصد داوې نودَمعاملاتو اودَاخستلوخرڅولوپه زرګونومسائل ئی ولې بیانول؟

[۱۴۸] د نبي علیه السلام په امت باندې د شفقت مثال

۱۳۸ —(۱) [۹] ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «إِنَّمَا مَثَلِي وَمَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَتَى قَوْمًا، ۳ فَقَالَ: يَا قَوْمِ! إِنِّي رَأَيْتُ الْجَيْشَ بِعَيْنَيَّ، وَإِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْعُرْيَانُ! فَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ. ۴ فَأَطَاعَهُ طَائِفَةٌ مِنْ قَوْمِهِ فَأَدْلَجُوا، فَانْطَلَقُوا عَلَى مَهْلِهِمْ، فَنَجَوْا. ۵ وَكَذَّبَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ فَأَصْبَحُوا مَكَانَهُمْ، فَصَبَّحَهُمُ الْجَيْشُ فَأَهْلَكَهُمْ وَاجْتَاحَهُمْ ۶ فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ أَطَاعَنِي فَاتَّبَعَ مَا جِئْتُ بِهِ، وَمَثَلُ مَنْ عَصَانِي وَكَذَّبَ مَا جِئْتُ بِهِ مِنَ الْحَقِّ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو موسی ﷺ روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ۲ زما او د دې شي مثال چې د دې سره زه الله تعالی ﷻ رالیږلی یم (یعني دین او شریعت) د هغه سړي په شان دي چې یو قوم ته راغې ۳ او ورته یې اوویل اي قومه ما په خپلو سترګو یو لښکر لیدلی دي او زه ښکاره بیرونکي یم، نو تاسو خپل نجات (خلاصي) تلاش کړي، ۴ نو د هغه قوم یو جماعت د هغه فرمانبرداري وکړه او د شپې شپې په قلار قلار ووتل او دخلاصی لار یې پیدا کې، ۵ په هغوئ کې یو ډلې هغه دروغجن وګڼلو او د سحر پورې په خپلو کورونو کې وو، نو سحر لښکر راغې او هغه یې هلاك کړل (تردې چې د هغوئ ريښې یې پریکړې) یعنی د هغوئ د نسل خاتمه یې وکړه ۶ نو دا مثال دي د هغه سړي چې زما فرمانبرداري یې وکړه او کوم حکمونه چې ما راوړي دي د هغه پیروي یې وکړه او د هغه سړي هم دا مثال دي چې زما نافرماني یې وکړه او کمه حقه خبره (یعني دین او شریعت) چې ما را وړې دي د هغه تکذیب یې وکړو (دروغ یې وګڼل). بخاري و مسلم

حل اللغات: ① الْجَيْشَ: أَيِ: الْعَسْكَرَ الْكَثِيرَ: لوئي لښکر، ② النَّذِيرُ: ویرونکې، ③ الْعُرْيَانُ: بربنډ یعنی ښکاره ویرونکې یم. ④ فَالنَّجَاءَ النَّجَاءَ: أَيِ: اطْلُبُوا النَّجَاءَ: یعنی نجات تلاش کړئی او دخپل ځان د بچ کولو کوشش اوکړئ. ⑤ طَائِفَةٌ: جماعت، ډله، ⑥ فَأَدْلَجُوا: أَيِ: سَارُوا أَوَّلَ اللَّيْلِ: د شپې په اوله حصه کښې لاړل. ⑦ فَانْطَلَقُوا: أَيْ: ذَهَبُوا وَسَارُوا: لاړل روان شو. ⑧ مَهْلِهِمْ: د مهلت، اطمینان او سکون په معنی کښې دي. ⑨ وَاجْتَاحَهُمْ: أَيِ: اسْتَأْصَلَهُمْ وَأَهْلَكَهُمْ بِالْكُلِّيَّةِ: اجتاح د ويخه او جرړې راويستو په معنی کښې دې، یعنی ټول په ټوله ئې هلاک کړل.

تسهیلات:

قوله: وَإِنِّي أَنَا النَّذِيرُ الْعُرْيَانُ!:

دمذکوره محاورې پس منظر: یعنی زه بربنډ ویرونکې یم. دا یو عام ضرب المثل دي، د عربو خلق دا د زیاتې ویرې او آفت او مصیبت په وخت کښې وائی، ددې صورت به دا وو چې یو کس به خپلې جامې اوشلولې او په سر یا په لرګی به ئی رازوړندې کړې او بالکل

---

۱) اخرجه البخاری کتاب الرقاق باب الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-۷۲۸۳) ومسلم کتاب الفضائل /باب شفقته صلی الله علیه وسلم علی أمته ومبالغته فی تحذیرهم مما یضرهم(رقم-۱۶ - (۲۲۸۳)

به ئې ځان بربنډ کړو او چغې به ئې وهلې چې خلق ده طرفته متوجه شي او دده خبره واوري، روستو دا يو ضرب المثل پاتې شو، چه دَ واضحه اعلان دپاره استعماليږي.

دنبي عليه السلام مقصد: دنبي کريم ﷺ د فرمان مقصد دادې چې لکه څنګه هغه کس خپل قوم د ويرې ښخه خبروی، نو ځه هم داشان تاسو خبروم. د عربو د زمکې په سر او خاص کر قريشو کښې د نذير لفظ د رسول ښخه زيات مشهور وو. کاهنانو به دا ډير استعمالولو. يو کاهنې ښځې چې کله د نبي کريم ﷺ مور بي بي اوليدله نو وې وئيل چې يا خو پخپله نذيره ده يا ددې ښخه نذير پيداکيدونکې دې. هم دا وجه ده چې قرآن پاك کښې د نذير لفظ زيات د نبي کريم ﷺ راغلې دې.

په حديث کښې تشبيهات: ① په حديث کښې د نبي عليه السلام تشبيه د ويرونکی سره ورکړې شوې ده داسې ويرونکې چې په هغې کښې د ويرونکو دپاره شفقت وی هغوی ته دهمکی ورکول نه وی.

② د نبي عليه السلام خبرې منکونکو تشبيه ئې دهغه خلقو سره ورکړې ده چا چې د ويرونکی خبره اومنله اوپه هغې ئې عمل اوکړو.نوهغوی کامياب شو اونجات ئې موندلو.

③ د نبي عليه السلام خبرې نه منکونکو کافرانوتشبيه ئې دهغه خلقو سره ورکړې ده چا چې د ويرونکې منذر خبره اونه منله اودهغه تکذيب ئې اوکړو نو دشمن راغلل اوهغوی ئې تباه اوبرباد کړل.نودغه شان کومو کافرانوچې د نبي عليه السلام خبره اونه منله هغوی هم په دنيا کښې مغلوب شو اوپه آخرت کښې دهغوی بربادی خويقينی ده.

[۱۳۹]دامت داور نه په بچ کولو کښې دَ حضوراکرم ﷺ مثال

۱۳۹–(۱)[۱۰] [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲]«مَثَلِي كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا، فَلَمَّا أَضَاءَتْ مَا حَوْلَهَا، جَعَلَ الْفَرَاشُ وَهَذِهِ الدَّوَابُّ الَّتِي تَقَعُ فِي النَّارِ يَقَعْنَ فِيهَا، [۳]وَجَعَلَ يَحْجُزُهُنَّ وَيَغْلِبْنَهُ فَيَتَقَحَّمْنَ فِيهَا، [۴]فَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ، وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُونَ فِيهَا. [۵]هَذِهِ رِوَايَةُ الْبُخَارِيِّ، وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهَا، وَقَالَ فِي آخِرِهَا: قَالَ: فَذَلِكَ مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ، أَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ: [۶]هَلُمَّ عَنِ النَّارِ، هَلُمَّ عَنِ النَّارِ! فَتَغْلِبُونِي. تَقَحَّمُونَ فِيهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲]زما مثال د هغه سړي په شان دي چې هغه اور لګولي وي [۳]هر کله چې اور ځلورو طرفرنو ته رڼا خوره کړه نو پتنګان (پروانې) او نور هغه حيوانان چې په اور کې غوزيږي راتلو سره په اور کې غورزيدل شروع شو، [۴]اور لګونکي سړي هغه منع کول شروع کړه ليکن هغه نه

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الرقاق باب الدعاء عند الوضوء(رقم-۶۳۸۳) ومسلم کتاب الفضائل/ باب شفقته صلى الله عليه وسلم على أمته ومبالغته فى تحذيرهم مما يضرهم(رقم-۱۸ - (۲۲۸٤) والترمذی کتاب الأمثال عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب ما جاء فى مثل ابن آدم وأجله وأمله (رقم-۲۸۷٤)و احمد فى المسند:۲/۲٤٤

منع کیږي بلکه د هغه په کوششونو باندې غالب راځي او په اور کې غور ځیږي، ۵ هم دغسې زه هم ستاسو له ملا څخه نیولو سره تاسو په اور کې د غورزیدو څخه منع کوم او تاسو په اور کې غورځیږي، ۶ دا روایت د بخاري دي او په مسلم کې هم داسې روایت دي البته د مسلم د روایت آخري الفاظ دا دي: حضور ﷺ وفرمایل چې بالکل داسې مثال زما او ستاسو دي چې زه تاسو د ملاوو څخه نیسم چې تاسو د اور څخه وساتم ۷ او دادرته وایم چې د دوزخ څخه بچ شی زما طرف ته راځي لیکن تاسو په ما غالب راځي او په اورکي غورځیږي.

حل اللغات: ① اسْتَوْقَدَ: بل کړې ئې وی، ② أَضَاءَتْ: روښانه کړی، رڼرا کړی، ③ الْفَرَاشُ: أی دُوَيْبَةٌ: طَيْرٌ تَتَسَاقَطُ فِي النَّارِ: وړوکې شان مرغۍ ده چه الوځی او په اور کښې ځان راغورځولو کوشش کوی، بلبلکۍ او پتنګ ورته وائی. ④ يَحْجُزُهُنَّ: حجز د حجزة جمع ده. معقدالازار دَ پرتوغابښ ځائی یعنی نرئی ملا ته وائی. حجز یحجز دَ نصر نه دَ بندولو او منع کولو په معنی کښې دې. ⑤ يَغْلِبْنَهُ: غالب راځی هغوی په هغه باندې، ⑥ فَيَتَقَحَّمْنَ: أَيْ: يَدْخُلْنَ فِيهَا: تقحم په یومشکل کارکښې ورننوتلو په معنی کښې دې. دلته په اور کښې پریوتل او ورننوتل مراد دی. ⑦ هَلُمَّ: أَسْرِعُوا إِلَيَّ وَأَبْعِدُوا أَنْفُسَكُمْ عَنِ النَّارِ: زما طرف ته راشئ اودَ اور نه لرې شئ او دَ خپل ځان دَ بچ کولو کوشش اوکړئ.

تسهیلات:

قوله: كَمَثَلِ رَجُلٍ: کمثل کاف زائده دې. یعنی مثلی مثل رجل.

قوله: اسْتَوْقَدَ: ،

د اور فائده اونقصان: اِسْتَوْقَدَ دَ اور لګولو په معنی کښې دې. سین، تاء دَ مبالغې دَپاره دی په اصل کښې اوقد وو. دَ استیقاد نار نه هدایت اودَدې دتبلیغ رڼرا مراد ده. یعنی اور دَ رڼرا سبب دې او په تیاره کښې فائده ورکونکې څیزدې. لیکن چه کله دَدې نه اعراض اوکړې شی نو دا به سبب دَ هلاکت جوړ شی. لکه څنګه چه چراغ دَ پتنګانودَپاره رڼرا اودَ لارخودنې سبب دې مګر بیا دغه فائده مند څیز دَهغوی دَ هلاکت ذریعه هم جوړیږی. نو نبی کریم ﷺ چه کوم نور دَ اسلام پیش کړې دې دَدې نفع ورکونکی او نافع څیز نه چه څوك اعراض کوی هم دغه څیز به دَهغه دَ هلاکت سبب هم جوړیږی.

په حدیث کښې تشبیهات: ① دمحرماتو اوممنوعاتو تشبیه د اور سره ورکړې شوې ده لکه څنګه چې اور د هلاکت سبب دې دغه شان ګناهونه هم د هلاکت سبب دي.

② د نبی علیه السلام د محرماتو بیانول د اور بلولو پشان دي لکه څنګه چې خلق د اور څخه فائده اخلی اودهغې د نقصان څخه ځان بچ کوی نو د نبی علیه السلام په ناصحانه بیان سره صحابو رضی الله عنهم حرام او پیژندل اودهغې د نقصان څخه ئې ځان بچ کړل.

③ نبی علیه السلام د خپلو ناصحانه بیاناتو مشرق اومغرب ته د رسیدو تشبیه د ,,ماحولها،، سره ورکړې ده چې لکه څنګه هغه خلقو ته فائده رسیږی کوم چې د اور څخه ګیرچاپیره وی دغه شان زما په بیان سره به د مشرق اومغرب خلقو ته فائده رسیږی.

④ کافران د لاعلمۍ په وجه کفراختیاروی او اور ته ورغورزیږی نو د دې تشبیه ئې دهغه پتنګانو سره ورکړې ده کوم چې په اوربانديې ځان سوزوی.

⑤ نبی علیه السلام خپل امت د اورڅخه بچ کولو تشبیه دهغه کس سره ورکړې ده کوم چې هغه خلق د اورد غورزیدو څخه د بچ کولو کوشش کوی کوم چې اورته ورغورزیږی.

[۱۵۰] د وحی د باران سره تشبیه ورکول

۱۵۰ــ(١)[١١] ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَثَلُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ مِنَ الْهُدَى وَالْعِلْمِ كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيرِ أَصَابَ أَرْضًا، ③ فَكَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَيِّبَةٌ قَبِلَتِ الْمَاءَ، فَأَنْبَتَتِ الْكَلَأَ وَالْعُشْبَ الْكَثِيرَ، ④ وَكَانَتْ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ الْمَاءَ، فَنَفَعَ اللَّهُ بِهَا النَّاسَ، فَشَرِبُوا وَسَقَوْا وَزَرَعُوا، ⑤ وَأَصَابَ مِنْهَا طَائِفَةً أُخْرَى، إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً، وَلَا تُنْبِتُ كَلَأً ⑥ فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِي دِينِ اللَّهِ وَنَفَعَهُ مَا بَعَثَنِي اللَّهُ بِهِ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ، ⑦ وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذَلِكَ رَأْسًا، وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللَّهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ» . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابو موسي رضی الله عنه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② د هغه شي مثال چې الله تعالی جل جلاله ماته راکولو سره زه رالیږلي یم یعنی علم او هدایت د ډیر باران په شان دي چې په زمکه کیږی ③ نو د زمکې ښه ټوټې هغه قبول کړي (یعني په خپل ځان کې جذب کړي) او د هغه څخه ډیر زیات وچ او شنه واښه پیدا شی ④ او د زمکې یوه ټکړه داسې سخته وي چې په هغه اوبه جمع شوې الله جل جلاله د هغې څخه هم خلقو ته نفع ورسوله خلقو هغه وڅښلي او په نورو یي وڅښلي او پټي (فصلونه) یي وربانديې اوبه کړل ⑤ او د باران دا اوبه د زمکې داسې ټکړي ته هم ورسیدي چې هغه بالکل بې آب وګیاه (بې اوبو او بې شینګیا) سخت میدان وو، نو نه خو اوبه وساتلي او نه یي واښه زرغونه کړل نو دا ټول (ذکر شوې مثالونه) دهغه سړي مثال دي چې هغه د الله په دین پوه شو او کوم شي چې الله تعالی جل جلاله زما په وساطت سره رالیږلي وو هغه د هغه څخه فائده واخسته نو هغه په خپله هم زده کړي او نورو ته یي هم وښودلي او د هغه سړي مثال دي چې هغه د الله جل جلاله په دین بانديې پوهیدو بانديې د تکبر په وجه سر پورته نه کړي د الله تعالی جل جلاله هدایت کوم چې زما په ذریعه رالیږل شوې وو قبول نه کړلو ، بخاري ومسلم

---

[١] اخرجه البخاری کتاب العلم باب فضل من علم وعلم(رقم-٧٩) ومسلم کتاب الفضائل/باب بیان مثل ما بعث به النبی صلی الله علیه وسلم من الهدی والعلم(رقم-١٥ - (٢٢٨٢) و احمد فی المسند: ٣٩٩/٤

حل اللغات: ① الْهُدَى: هدايت، ② الْغَيْث: أَي: الْمَطَر الْكَثِير: ډير باران، هغه باران ته وائی کوم چې د ډيرې زيات سکرې او قحط څخه روستو راشی. ③ الْكَلَأ: شين او اوچ واښه دواړو دپاره استعماليږی، ④ الْعُشْب: صرف د شنو وښو دپاره استعماليږی، (او حشيش صرف اوچو وښو ته وائی)، ⑤ أَجَادِبُ: د أَجْدَب جمع ده، وَهِيَ الْأَرْضُ الصُّلْبَةُ: هغه سختې زمکې ته وائی کوم ځائې کښې چې اوبه خو جمع کيديشی خو شنه واښه نه رازرغونيږی. ⑥ سَقَوْا: اوبه ئې اوڅکلې په خلقو، ⑦ زَرَعُوا: پټی ئې پرې اوبه کړل، ⑧ طَائِفَةً: أَي: قِطْعَةً: ددې څخه د زمکې يوه حصه او ټکړه مراد ده. ⑨ قِيعَانٌ: د قَاع جمع ده، صفا ميدان ته وائی. دلته داسې خوشې ميدان مراد دې کوم ځائې کښې چې اوبه نه اودريږی. اونه په کښې شنه واښه زرغونيږی. لا تمسك ماء هم ددې قيعان تفسير دې.

تسهيلات:

قوله: كَمَثَلِ الْغَيْثِ الْكَثِيرِ:

د مثال وضاحت: په حديث کښې د وحی مثال بيان کړې شوې دې اود دوه قسمه خلقو ذکرشوې دې يوهغه خلق چې د وحی دعلم څخه فائده واخلی دويم هغه خلق چې د وحی دعلم څخه فائده وانخی.

دوه قسمه زمکه: په دې طريقه په حديث کښې د دوه قسمه زمکې ذکرشوې دې:

① هغه زمکه چې د باران اوبه جذب کړی اوفائده ترې واخلی ② هغه زمکه چې د باران اوبه جذب نکړی. اوفائده ترې وانخلی

دفائده اخستونکې زمکې دوه قسمونه: بيا کومه زمکه چې اوبه جذب کړی او فائده ترې واخلی نودا په دوه قسمه ده..

① **طيبه:** هغه زمکه چې اوبه جذب کړی اومختلف قسم نباتات رازرغون کړی اوخلق ترې فائده هم واخلی نو دا زمکه نافع اومنتفع دواړه ده.يعنی پخپله هم سيراب شوه اونورو خلقو ته ئې هم د ميوې او قسما قسم نباتاتوپه رازرغونولو سره فائده ورکړه.

② **جادب:** يعنی نافع غيرمنتفع هغه زمکه چې د سخت والی په وجه اوبه خوجمع کړی خوپه خپله ترې فائده وانخلی نونور خلق ترې فائده واخلی نودا زمکه د خپل ځان دپاره فائده منده نه ده خو د نورو دپاره فائده منده شوه.

په ممثل له کښې درې قسمه خلق: اوس د مثال وضاحت داسې دې چې د وحی د علم څخه فائده اخستونکی خلق هم په دوه قسمه دی.① هغه خلق چې د وحی علم ئې زده کړلو عمل ئې پرې اوکړو او نورو خلقو ته ئې هم اوښودل.نو ددوی مثال د هغه زمکې پشان دې چې باران جذب کړی اوقسما قسم نباتات رازرغون کړی نو دوی ته خپله هم د خپل علم فائده اوشوه او نورو خلقو ترې هم فائده واخستله.

② هغه خلق چې علم حاصل کړی خو په خپله ترې فائده وانخلی بلکه نور خلق دده څخه علم حاصل کړی اوعمل پرې اوکړی نود دوی تشبیه د زمکې هغې حصې سره ورکړې شوې ده چې په خپله اوبه اوساتی اوجمع کړی خوخپله ترې فائده نشی اخستې بلکه نور خلق ترې فائده واخلی.

③ هغه خلق چې د تکبر په وجه د وحی علم حاصل نکړی د دوی مثال دهغه قیعان سختې زمکې پشان دې چې نه اوبه جذب کړې اونه چا ته فائده ورکړی ځکه چې فائده خو به هغه صورت کښې وی چې اوبه ئې جذب کړې وې اوپه دې صورت کښې خو دې اوبه د سره جذب کړی اوجمع کړی دې خلقوته برې ترې څه ورکړی.

اشکال: په دې تشبیه کښې مشبه به یعنی اقسام دزمکې درې دی او مشبه یعنی اقسام دانسان دوه دی. نو په مشبه او مشبه کښې مطابقت نشته دې یا داسې اووائې چې په ممثل له او مثال کښې توافق نشته دې.

داشکال جوابونه: ① په مشبه کښې هم درې قسمه انسانان دی. اول هغه انسان چه پخپله هم متعلم او منتفع دې. اودَ نورو دَپاره هم معلم اونافع دې. دا فقهاء کرام دی. دَدوی په مثال کښې دَ زمکې رومبې قسم بیان کړې شوې دې. دویم هغه انسان دې چه دَخپل ځان دَپاره خو نافع دې نه ذخیره جمع کونکې دې مګر دَ نورو دَپاره نه دې یعنی متعلم خودې لیکن معلم نه دې. دریم هغه خلق دی چه نه ئې پخپله دَ دې دولت نه فائده واخسته او نه دَ نورو دَپاره نافع دی. داهغه خلق دی چا چه دَ شریعت طرف ته تش کتل هم برداشت نه کړل.

② حافظ توربشتی رحمه الله فرمائی چې په مشبه به کښې هم دوه څیزونه دی.

(الف) ارض نافع: دې او ددې دوه صورتونه دی. یو اعلی درجه کښې نافع، او بل په ادنی درجه کښې نافع دې. خو نافع په هر صورت کښې دې.

(ب) ارض غیرنافع: اوس په مشبه کښې هم دوه څیزونه دی. یو استفاده کوؤنکې انسان کوم چې نافع دې او دویم استفاده څخه محروم انسان کوم چې غیر نافع دې. او په مشبه به کښې هم دوه څیزونه دی نوهیڅ اعتراض نشته.

دحدیث وضاحت: اوس په دې تشبیهاتو باندې داسې پوهه شئی چه دَ حضورپاك ذات مبارك په منزله دَ سحاب فیاض دې. اووحی آسمانی په منزله دَ بارانِ رحمت ده.

دَ وحی د تعلیماتو د راتلونه پس خلق په دریو قسمونو کښې تقسیمیږی. یو قسم د اعلی او نافع فقهاو دې. دویم قسم دَ نافع محدثینو دې او دریم قسم دَمحرومینو دې چه دَدې میدان رحمت نه بهر دی.

دَ فقهاؤ، محدثینو او کافرانو په مینځ کښې چه کوم خلق دی دَهغوی تذکره په دې حدیث کښې نشته ځکه چه که هغه نیکان وی نو په اول قسم کښې دی ګنی بیا به په دویم قسم کښې په عارضی توګه کښې شمیرلې شی.

[۱۵۱] په قرآن کښې د متشابهاتو د لټونکو مذمت

۱۵۱ — (۱)[۱۴] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «تَلَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ} [آل عمران: ۷] وَقَرَأَ إِلَى: {وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [البقرة: ۲۶۹]. ۲ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: فَإِذَا رَأَيْتَ - وَعِنْدَ مُسْلِمٍ: رَأَيْتُمُ - الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ، ۳ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ سَمَّاهُمُ اللَّهُ، فَاحْذَرُوهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ عائشه رضي الله عنها فرمايي چې حضور ﷺ دا آيت تلاوت کړي **هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ** (ترجمه) الله هغه ذات دي چې په تا ﷺ باندې يې کتاب نازل کړي دي چې د هغه بعضې آياتونه محکم دي، اود آخر آيت **وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ** (عمران ۱۷) (ترجمه) او نصيحت نه اخلي مګر د عقل خاوندان، پورې يې اووئيلو، ۲ حضرت عائشه رضي الله عنها وايي چې دا آيت ويلو سره حضور ﷺ وفرمايل کوم وخت چې ته وويني، او د مسلم په روايت کښې دي هر کله چې تاسو ووينې چې خلق په دي آيتونو کښې لګياوي کوم چې متشابه دي ۳ (نو تاسو پوهه شی چې دا) هغه خلق دي چې د هغوئ نوم الله تعالی جل جلاله کجرويان (يا ګمراه) ښودلي دي نو د دې خلقو څخه ځان ساتي، بخاري و مسلم.

حل اللغات: ۱ مُحْكَمَاتٌ: محکم آيتونه چه واضح او ظاهر وی چه د تاويل احتمال پکښې نه وی.

تسهيلات:

قوله: مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ:

د قرآنی آياتونو دوه قسمونه: ۱ محکمات دی، دا هغه آيتونه دی چه دَ هغې معنې او مطالب مضبوط، واضح، غيرمنسوخ او ظاهر وی. چې په هغې کښې هيڅ قسم ابهام او اخفاء نه وی.

۲ متشابهات دی،

دمتشابهاتو دوه قسمونه: ۱ هغه آيتونه دی کوم چې معلوم المعنی دی خو معلوم المراد نه د ی. لکه: ﴿ يَدُ اللهِ، وَجْهُ اللهِ، اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ، ثُمَّ جَآءَ رَبُّكَ ﴾ وغيره.

۲ هغه آيتونه دی چې دهغې نه لفظی معنی معلوم وی او نه مرادی معنی معلوم دی. لکه حروف معقطعات چې دی کوم چې دسورتونو په شروع کښې راغی،

داول قسم حکم: ددې قسمه متشابهاتو متعلق د علماء کرامو او سلف صالحينو عقيده

(۱) اخرجه البخاری کتاب تفسير القرآن/باب {منه آيات محکمات} [آل عمران: ۷](رقم-۴۵۴۷) ومسلم کتاب العلم/باب النهی عن اتباع متشابه القرآن، والتحذير من متبعيه، والنهی عن الاختلاف فی القرآن(رقم-۱ - (۲۶۶۵) وابوداود کتاب السنة/باب النهی عن الجدال واتباع المتشابه من القرآن(رقم-۴۵۹۸) وابن ماجة کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب اجتناب البدع والجدل (رقم-۴۸)

داده چې په دې کښې هیڅ قسم تاویل اونه کړې شی. بلکه کوم الفاظ چه دی هغه دې بغیر د تاویل څخه هم هغه شان پریښودې شی، خو ﴿ مایلیق بشانه ﴾ الفاظو سره دې اداکړې شی، یعنی ﴿ يَدُ اللهِ ما یلیق بشانه، اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ما یلیق بشانه ﴾ یعنی کوم چې د الله تعالی د شان سره ښائی.

د اول قسم باره کښې د عالمانو اقوال: ① امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چې یدالله کښې د ید ترجمه په قدرت سره کول د الله تعالی په صفاتو کښې تحریف دې. لهذا الفاظ چې څنګه دی هم هغه شان ترجمه دې اوکړې شی.او ورسره دې دا اووئیلې شی : ﴿ مایلیق بشانه ﴾.
② امام مالك رحمه الله څخه چې کله د ﴿اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ﴾ متعلق تپوس اوشو نو وئی فرمائیل ﴿الاستواء معلوم والکیفیة مجهولة والسؤال عنها بدعة﴾

د دویم قسم حکم: د هغې متعلق د علماء کرامو وینا ده چې الله أعلم بمراده بذلك، د سلف صالحینو عقیده دې اوساتلې شی، او هیڅ قسمه تاویل دې اونه کړې شی.

دقرآنی محکماتواو متشابهاتوباره کښې د اهل حق عقیده: کوم خلق چې نیك او صالح دی او دچا قلوب چې په ایمان منور دی هغه خلق په آیات محکمات باندې ایمان لری. او دې ته مدار احکام وائی. او متشابهات هم ددې آیتونو په رڼا کښې منی. لکه قرآن پاك اعلان کوی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم بشر دې. او په دې باندې آیات محکمات موجود دی. لکه ﴿ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ﴾ محکم آیت مبارك دې. ددې په مقابله کښې که چرته لفظ د نور راغلې دې نو هغه ذو معنی او متشابه دې. دا به د محکم په رڼا کښې کتلې شی. بهر حال صفا زړه لرونکی متشابهات منی خو ددې معنی دَ الله تعالی په حواله کوی.

دقرآنی محکماتواو متشابهاتوباره کښې د اهل باطل عقیده: کومو خلقو په زړونو کښې چې زیغ او کوږوالې دې، هغوئ متشابهاتو پسې انخښتی وی او په هغې بې ځایه تاویلات کوی. ددې حدیث پاك څخه معلومه شوه چې کوم خلق په متشابهاتو کښې خپل عقلونه استعمالوی او ددې د اصلی معنی د موندلو کوشش کوی نو دا خلق الله تعالی ککې لارې والا او ګمراهان ګرځولی دی.

دحروف مقطعاتو باره کښې عقیده سائل: د حروف مقطعات معنې الله تعالی نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته خودلی دی. یعنی دا دالله تعالی او درسول کریم صلی الله علیه وسلم په مینځ کښې یو راز دې. او په دې باندې بل څوك نه دی پوهه کړې شوی. دلته په دې خبره هم پوهه شئ چې د اعجاز په اعتبار سره ټول قرآن پاك متشابه یعنی ﴿ متشابه فی الفصاحة والبلاغة والحسن ﴾ دې. او د تاویل اوتفسیر په اعتبار سره ځینې محکم او ځنې متشابه دی، خو دحکم مدار په محکم باندې دې.

[١٥٢] اختلاف کول سبب دهلاکت دي

١٥٢-()[١٣] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «هَجَّرْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمًا، [٢] قَالَ: فَسَمِعَ أَصْوَاتَ رَجُلَيْنِ اخْتَلَفَا فِي آيَةٍ، [٣] فَخَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُعْرَفُ فِي وَجْهِهِ الْغَضَبُ، [٤] فَقَالَ: إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِاخْتِلَافِهِمْ فِي الْكِتَابِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] عبد الله بن عمرو ﷺ روايت کوي چې زه د نبی کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، حضرت عبد الله ﷺ فرمايي چې حضور ﷺ د دوو سړو آوازونه واوريدل چې په يو متشابه آيت کې يي اختلاف کولي (يعني د هغه په معني کې يي جګړه کوله) [٢] حضور ﷺ زمونږ په مينځ کې تشريف راوړو (هغه وخت) يي په مخ مبارك د غصي آثار ښکاره وو، [٣] حضور ﷺ وفرمايل ستاسو څخه مخکې خلق په کتاب الٰهي کې د اختلاف کولو په سبب هلاك شوي دي. مسلم

حل اللغات: ① هَجَّرْتُ: أَيْ أَتَيْتُ فِي الْهَاجِرَةِ أَيِ الظَّهِيرَةِ: يعنى څه بالکل د ماسپخين په وخت کښې حاضر شوم.

تسهيلات:

قوله: فَسَمِعَ أَصْوَاتَ رَجُلَيْنِ:

دا اختلاف په نوعيت کښې اقوال:

① دا اختلاف د قرآنی متشابهاتو او دهغې په معنی کښې وو.

② دا اختلاف د قران پاک په قرآءت کښې وو چې دا آيت به څنګه وئيلی شی.

③ دا اختلاف ديو قرآنی آيت د قرآن څخه کيدو کښې وو چې دا آيت د قرآن حصه ده که نه ده.

په آيت کښې د اختلاف دوه قسمونه:

① هغه اختلاف چې هغه د بنده د هلاکت سبب وی دکوم په وجه کښې په دين کښې شکوک او شبهات پيدا کيږی په حديث کښې هم دا اختلاف مراد دي.

② هغه اختلاف چې د شکوک اوشبهاتولرې کولودپاره وی لکه څنګه چې د مجتهدينو اختلاف دي کله چې په آياتونو يا احاديثو کښې تعارض وی نوهلته هغوی اختلاف کوی خو د هريومقصد د الله تعالی رضا وی. دا اختلاف د الله تعالی رحمت دي اومحمود دي.

[1]) اخرجه مسلم کتاب العلم /باب النهی عن اتباع متشابه القرآن، والتحذير من متبعيه، والنهی عن الاختلاف فی القرآن(رقم-٢ - (٢٦٦٦)و احمد فی المسند: ١٧٩/١

[۱۵۳] د امت لوئي ګناهګار

۱۵۳ ـ (۱) [۱۴] [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] «إِنَّ أَعْظَمَ الْمُسْلِمِينَ فِي الْمُسْلِمِينَ جُرْمًا [۳] مَنْ سَأَلَ عَنْ شَيْءٍ لَمْ يُحَرَّمْ عَلَى النَّاسِ، فَحُرِّمَ مِنْ أَجْلِ مَسْأَلَتِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: [۱] سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه روايت كوي چې نبي اكرم صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] چې په مسلمانانو كې د ټولو څخه لوي ګنهګار هغه سړي دي [۳] چې هغه د يو داسې شي سوال اوكړو چې هغه حرام نه وو ليكن د هغه د سوال كولو سره حرام شو. بخاري ومسلم

حل اللغات: ① جُرْمًا: أَيْ ذَنْبًا وَظُلْمًا: مجرم اوګناهګار.

تسهيلات:

قوله: مَنْ سَأَلَ عَنْ شَيْءٍ:

دتپوس دوه قسمونه: ① هغه تپوس چې په ضرورت باندې مبني وی نوهغه تپوس كول پكار دی ځكه چې په خپله قرآن پاک وئیلی دی ﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ﴾ يعنى د عالمانوڅخه تپوس كوئ دغه شان نبی علیه السلام ښه سوال ته نصف علم فرمائیلي دې. هغه منع نه دی.

② هغه تپوس چې د هغې څخه ضرورت نه وی اوهغه دحرمت د نازليدو سب جوړيدونكې كس دَمسلمانانودَپاره يو بدترين مجرم دې. ځكه چه دَ وحی دَ نازليدلو په وخت ضروری احكام به پخپله نبی كريم صلی الله علیه وسلم بيان فرمائيل. خاموشی به په هغه خبره باندې وه كوم چه به معاف او غيرضروری وو. نو په دې قسم خبروكښې كوششونه اولټونونه كول اوتپوس پښتنه كولوسره سوالونه كول منع كړې شو دې دَپاره چه په عامو مسلمانانو باندې سختی رانه شی. لكه څنګه چه بنی اسرائيلو دَ غوا متعلق سوالونه كولوسره تنګی پيدا كړه. نو دَ دې قسم دَ ځان جوړشوو او سركشئی والا سوالونه منع اوكړې شوه. [الكاشف: ۳۴۶/۱]

[۱۵۴] په آخری زمانه كښې د دروغژنود خبرو څخه د ځان ساتلو حكم

۱۵۴ ـ (۲) [۱۵] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲] «يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ يَأْتُونَكُمْ مِنَ الْأَحَادِيثِ بِمَا لَمْ تَسْمَعُوا أَنْتُمْ وَلَا آبَاؤُكُمْ، [۳] فَإِيَّاكُمْ وَإِيَّاهُمْ، لَا يُضِلُّونَكُمْ وَلَا يَفْتِنُونَكُمْ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1]) اخرجه البخارى كتاب التمنى/باب ما يكره من كثرة السؤال وتكلف ما لا يعنيه(رقم-۷۲۸۹) ومسلم كتاب الفضائل/باب وجوب اتباعه صلى الله عليه وسلم(رقم-۱۳۲ - (۲۳۵۸) وابوداود كتاب السنة/باب لزوم السنة(رقم-۴۶۱۰)

[2]) اخرجه مسلم باب فى الضعفاء والكذابين ومن يرغب عن حديثهم(رقم-۷ - (۷)و احمد فى المسند:۳۴۹/۲

ترجمه: [۱] ابوهريره ﷺ روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] په آخره زمانه کې به داسې دهوکه ورکونکي او دروغجن خلق وي چې هغه به تاسو له داسې حديثونه راوړي چې هغه به نه تاسو اوريدلي وي او نه به ستاسو پلرونو اوريدلي وي، [۳] نو د هغه څخه ځان ساتي او هغه د خپل ځان څخه لرې کړي چې هغه تاسو بې لارې نه کړي او نه مو په فتنه کې وغورځوي. مسلم

حل اللغات: ① دَجَّالُونَ : دجال دَ دجل نه دَمبالغې صيغه ده يعنى ډير غټ دهوکه باز او فريب ورکونکي.

تسهيلات:

قوله: دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ يَأْتُونَكُمْ مِنَ الْأَحَادِيثِ:

د احاديثو په مصداق کښې دوه اقوال: ① ددې احاديث څخه من گړت او موضوعی احاديث مراد دی چې دا دهوکه باز خلق به ئې بيانوی او خلق به گمراه کوی

② دې څخه دا مراد دی چې دا خلق به هغه عقائد خلقو ته وړاندې کوی چې هغه به اسلامی عقائد نه وی بلکه غلط عقائد به وی او خلقو ته به وائی چې مونږ د خپل طرفه تاسو ته دا نه وايو بلکه دا مونږ ته يو قسم الهام شوې دې. نبی عليه السلام د داسو باطل پرستو خلقو د فتنې څخه امت ويروی.

[۱۵۵] داهل کتابو د تفسير حکم

۱۵۵ـ(۱)[۱۶] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ كَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَقْرَءُونَ التَّوْرَاةَ بِالْعِبْرَانِيَّةِ، وَيُفَسِّرُونَهَا بِالْعَرَبِيَّةِ لِأَهْلِ الْإِسْلَامِ. [۲] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: «لَا تُصَدِّقُوا أَهْلَ الْكِتَابِ وَلَا تُكَذِّبُوهُمْ، وَ{قُولُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا} [البقرة: ۱۳۶] الْآيَةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوهريره ﷺ فرمايي چې اهل کتابو تورات په عبراني ژبه کې وئيلو (چې د يهوديانو ژبه ده) او د مسلمانانو د پاره به يې د هغه تفسير په عربي ژبه کې کولي، [۲] نبي کريم ﷺ د هغوئ دا عمل ليدلو سره وصحابو رضی الله عنهم ته وفرمايل تاسو داهل کتابو مه تصديق کوي او مه يې تکذيب کوي (صرف) دا وايئ چې زمونږ په الله جل جلاله باندې او په هغه شي چې په مونږ نازل شوې دې ايمان راوړې دې، د آخر آيت پورې. بخاري

تسهيلات: **قوله:** لَا تُصَدِّقُوا:

داهل کتابو د تفسير درې قسمونه: ① د اهل کتابو يو هغه تفسير دې کوم چې د قرآن او حديثو سره مطابق وی نو دهغې تصديق پکار دې.

② هغه تفسير چې د قرآن او حديث څخه مخالف وی ددې تکذيب پکار دې

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب التفسير باب ما يجوز من تفسير التوراة وغيرها من کتب الله. بالعربية وغيرها(رقم-۷۵۴۲)

③ هغه تفسير چې د قرآن او حديث د نصوصو نه موافقت کوی او نه مخالفت کوی. دا حديث د دې دريم قسم تفسيرباره کښې دې چې مه ئې تصديق کوئ او مه ئې تکذيب کوئ ځکه چې هغوی په خپلو کتابونوکښې ردوبدل اوتحريف کړې دې د تکذيب په صورت کښې کيدې د حق تفسير تکذيب اوشی اود تصديق په صورت کښې کيدې شی د تحريف شده تفسيرتصديق اوشی ځکه نبی عليه السلام د احتياط لار اختيار کړه.

[١٥٦] د بې تحقيقه خبرې نقل کولو ممانعت

١٥٦ –(١)[١٧] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي چې حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل ② چې د انسان د دروغ ويلو دپاره داکافي دي چې هغه کمه خبره واوري (بغير د تحقيق څخه) يي نقل کړي. مسلم

تسهيلات:

قوله: كَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا أَنْ يُحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ:

د مذکوره جملې ترکيب: کفی،، فعل او،،ان تحدث ددې فاعل دې،،بالمرء کښې باء زياتی ده او مرء ددې فاعل او،،کذبا تميز دې.

دحديث مقصد: په دې حديث کښې مسلمانانو ته تعليم ورکړې شوې دې چه هره يوه اوريدلې خبره بغيرد تحقيق نه مه بيانوئی او په دې حديث کښې ډير سخت زجر او وعيد دې دهغه سړې د پاره چه داسې خبره نقل کوی. دکومې چه هغه ته تصديق او تحقيق نه وی خاص کر چه کله احاديث نبوی صلی الله عليه وسلم نقل کوی.

[١٥٧] نااهله خليفګان اودهغونی حکم

١٥٧ –(٢)[١٨] ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «مَا مِنْ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللَّهُ فِي أُمَّتِهِ قَبْلِي إِلَّا كَانَ لَهُ فِي أُمَّتِهِ حَوَارِيُّونَ وَأَصْحَابٌ يَأْخُذُونَ بِسُنَّتِهِ وَيَقْتَدُونَ بِأَمْرِهِ، ③ ثُمَّ إِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوفٌ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ، وَيَفْعَلُونَ مَا لَا يُؤْمَرُونَ، ④ فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ، وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ، ⑤ وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ، ⑥ وَلَيْسَ وَرَاءَ ذَلِكَ مِنَ الْإِيمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابن مسعود رضی الله عنه روايت کوي چې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل ② زما څخه مخکې په هيڅ يو قوم کې الله جل جلاله يو نبي داسې نه دي راليږلي چې د هغه مدد ګار او دوست د

[١]) اخرجه مسلم باب النهى عن الحديث بكل ما سمع(رقم-٥ - (٥)

[٢]) اخرجه مسلم كتاب الإيمان/باب بيان كون النهى عن المنكر من الإيمان، وأن الإيمان يزيد وينقص، وأن الأمر بالمعروف والنهى عن المنكر واجبان(رقم-٨٠ - (٥٠)و احمد فى المسند:٤٥٨/١

هغه قوم څخه نه وي چې د هغه نبي طريقه اختياروي او د هغه د حکمونو پيروي کوي۳ بيا د هغه دوست او مددګار څخه وروسته داسې ناخلف (نالايق) خلق پيدا شي چې هغه خلقو ته داسې خبري کوي چې په خپله يې نه کوي او هغه کارونه به کوي چې دهغه به حکم نه وي ورته شوې (لکه چې د غلطوملايانو او اميرانو او سردارانو طريقه ده)۴ نو په ستاسو کښې چې کوم سړي د هغه خلقو سره په لاس جهاد کوي هغه مؤمن دي ۵ او چې کوم سړي د هغه خلقو سره په خپله ژبه سره جهاد کوي هغه مؤمن دي ۶ او کوم سړي چې د هغه خلقو سره په خپل زړه سره جهاد کوي هغه مؤمن دي،۷ او د دې څخه علاوه چې کوم سړي د هغوئ خلاف دومره هم نشي کولي په هغه کې د اُوري (رائي) د دانې برابر هم ايمان نشته. مسلم

حل اللغات: ① حَوَارِيُّونَ : أَيْ نَاصِرُونَ: مددګار، ② وَيَقْتَدُونَ : أَيْ: يَتْبَعُونَهُ: دهغه اقتداء او تابعداري کوی، ③ تَخْلُفُ: أَيْ تَحْدُثُ: روستو به پيدا کيږی، ④ خُلُوفٌ: د خَلْف جمع ده(په سکون د لام سره)أي الرَّدِيءُ مِنَ الْأَعْقَابِ: روسته راتلونکی نالائقه خلق، بد ملګرې، (که چرې لام مفتوح شي نو بيا به دَ ښه ملګری دَپاره وئيلی شي). ⑤ جَاهَدَهُمْ : أي حَارَبَهُمْ: جهاد ورسره اوکړی،⑥ حَبَّةٌ : دانه، تخم، ⑦ خَرْدَلٍ: اوری، رائی، غوښت.

تسهيلات: قوله: حَوَارِيُّونَ:

دحواريون په مصداق کښې دوه اقوال: ① حواريون د حواری جمع ده دا دهوبی ته وائی چونکه دهوبی هم کپړې پاکوی دغه معنی به دې حديث کښې هم ملحوظ ده او د دې څخه هغه خالص اود دنياوی اغراضو څخه پاک ملګری او امداديان مراد دی څوک چې د پيغمبرانو سره مدد اونصرت کوی.

② د دې څخه خاص رازدار خلق مراد اخستی دی. الکاشف: ۳۵۰/۱.

قوله: فَمَنْ جَاهَدَهُمْ:

د جهاد درې درجې: په حديث کښې د جهاد د درې درجوذکردې.

① **جهادباليد:** يعنی په لاس سره جهاد کول.ددې درجې والا کس د کامل ايمان خاوند دې.

② **جهادباللسان:** يعنی په ژبې د باطل رد کول ددې درجې والا کس ايمان درميانه دې.

③ **جهاد باالقلب:** يَعنی په زړه سره جهاد کول دادې چه دا بد اوګڼړی ددې درجې واکس ايمان ډيرکمزورې دې.

قوله: وَلَيْسَ وَرَاءَ ذَٰلِكَ:

په زړه کښې هم ګناه بد نه ګڼړل: يعنی د کوم کس په زړه کښې د حاکمانو په ناروا کارونو باندې په زړه کښې هم څخه نفرت پيدا نشی نود دوی په زړونو کښې دَ اوری دَ دانې برابر

هم ایمان نشته ځکه چه دا سړې په ګناه باندې راضی شو. او معاصی سره ئی دَ مباح معامله اوکړه په کوم سره چه سړې دَ ایمان نه اووځي. یعنی دغه وخت دَهغه احساس دومره مړ شوې دې چه غلط ځیزونه په زړه سره هم بد نه ګنړی نودَدې مطلب دا شو چه دَهغه دَ ایمان پاره مړه شوې ده لهذا دَ هغه په زړه کنبې دَ ایمان رنړا باقی پاتې نه شوه.

[۱۵۸] هدایت او ګمراهۍ طرف ته د رابلونکو ثواب او ګناه

۱۵۸-()[۱۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا. [۳] وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ، لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړي چې څوك د هدایت طرف ته را وبللي هغه ته به دومره ثواب حاصلیږي څومره چې هغه چاته کوم چې د ده پیروي اختیار کړي او د هغه (پیروي کونکي) په ثواب کې به هیڅ کمي نه کیږی [۳] او کوم څوك چې د ګمراهۍ طرف ته راوبلي د هغه به هغومره ګناه وي لکه څومره چې د هغه چا چې د ده اطاعحت کوي او د هغه په ګناه کنبې به هیڅ کمي هم نه کیږی. مسلم

حل اللغات: ① دَعَا: راؤبلی، دعوت ورکړی، ② هُدًی: هدایت، أي مَا يُهْتَدَى بِهِ مِنَ الْأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ: دلته ددې نه مراد هغه نیک عمل دې چه هدایت ورسره حاصلیږی ③ آثَامِ: د اثم جمع ده، ګناه ته وائی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى:

د نیکۍ دعوت ورکونکی ثواب: څوک چه خلقو ته د هدایت طرف ته دعوت ورکوی نو د هغه په دعوت چه څومره خلق د هغه اتباع کولو سره اعمال صالحه کوی د هغوی ټولو ثواب به دې داعی ته هم ملاویږی. او د دې ثواب د ملاویدو د وجې نه به د هغوی په ثواب کنبې هیڅ کمي نه راځی.

قوله: وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ:

دګمراهۍ د موجد ګناه: او دویم جزء د دې حدیث د دې مقابل دې چه کوم سړې خلقو ته د ګمراهۍ دعوت ورکوی نو څومره خلق چه د هغه د دعوت په اتباع کنبې بد اعمال کوی نو د هغه ټولو ګناه به دې داعی ته هم ملاویږی او د اصل عمل کونکو په ګناه کنبې به هم کمي نه راځی.

[۱]) اخرجه مسلم کتاب القدر/ باب من سن سنة حسنة أو سيئة ومن دعا إلى هدى أو ضلالة(رقم-۱۶ - (۲۶۷٤))و احمد في المسند:۳۹۷/۲ وابوداود کتاب السنة /باب لزوم السنة(رقم-٤٦۰۹) والترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن دعا إلى هدى فاتبع أو إلى ضلالة (رقم-۲۶۷٤) ابن ماجة كتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب من سن سنة حسنة أو سيئة(رقم-۲۰۶)

اشكال: دا حديث ددې آيت څخه معارض ښکاري چې ﴿ ولاتزروازرة وزر اخرى ﴾ ځکه چې په آيت کښې دا دی چې يوکس د بل کس د گناه بارنشي اوچتولې اوپه حديث کښې دا دی چې چا د گناه خبرې ته دعوت ورکړو نو هغه ته به د هغه د گناهونوعذاب هم ملاويږی چا چې دغه گناه کړې وی.

داشكال جواب: دلته اصل گناه کونکی د خپلو گناهونو بوجهـ پخپله اوچتوی، او داعی چه کومه گناه شوې ده هغه د هغه د سبب ضلالت د جوړيدو د وجې او سبب ضلالت کيدل خپله گناه ده. نوځکه چه په دې دواړو کښې هيڅ تعارض نشته،

[١٥٩] دغريبانو دپاره زيرې

١٥٩ـ() [٢٠] [١] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] «بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا، وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره ﷺ روايت کوي چې نبي مکرم ﷺ وفرمايل [٢] اسلام په غربت (غريبي) کې شروع شو او په آخرکي به هم دغسې شی نو د غريبانو د پاره زيری ده. مسلم

حل اللغات: ① غَرِيبًا: نا آشنا (چانه پيژندلو). ② سَيَعُودُ: واپس به اوگرځی (ناآشنا به شي). ③ فَطُوبَى: پس خوشحالی او زيرې دې وی.

تسهيلات:

قوله: بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا:

دحديث په مفهوم کښې دوه اقوال:

① غريب په عربی ژبه کښې ناآشنا او غيرمعروف ته وائی. مطلب دا چې دايمان دارو خلقو تعداد به ډير لږ وی، کمزورې به وی، هيرکړې شوې به وی، دَهغوی دَ حال تپوس کونکی به څوك نه وی. هم دغه خلقو په داسې کمزوری حالت کښې په شروع کښې اسلام قبول کړې وو او بيا به هم دغه شان خلق په اسلام باندې وی. هغوی ته دې مبارکی وی. البته په مينځ دورکښې الحمدلله اسلام ته ډيره ترقی شوې وه. چنانچه په مشرق اومغرب کښې دَ اسلام جهنډا د خلفاء راشدينو ﷺ او د خلفاء بنواميه او په آخره کښې د خلفاء بنوعباس په دور کښې په اکثرعالم باندې اوچته شوه. الحمدلله.

② په شروع کښې دَ اسلام حاملين په معاشره کښې ورك خلق وو و دَ پوره معاشرې نه کټ شوې خلق گڼرلې شو. چه نه به په غم کښې او نه په خوشحالئی کښې هغوی شريکولې شو اونه به په څه قومی اجتماعی کارکښې هغوی يادولې شو. بيا به هم داسې کيږی او

---

(١) اخرجه مسلم كتاب الإيمان/باب بدأ الإسلام غريبا(رقم-٢٣٢ - (١٤٥) والترمذی كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الإسلام بدأ غريبا وسيعود غريبا (رقم-٢٦٢٩)و احمد فی المسند:٣٨٩/٢

اوس هم دغه حال دې چه په محلو کښې هرسړې په خوشحالئی او غم کښې یادولې شی دیندار ه خلق همیشه هیر ولې شی

[۱۱۰] ایمان به د مدینې طرف ته راتول شی

۱۱۰-(۱)[۲۱][۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «إِنَّ الْإِيمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابو هریره ﷜ روایت کوي چې نبي مکرم ﷺ وفرمایل[۲] ایمان به د مدینې طرفته داسې را تول شی لکه څنګه چې یو مارد خپلې غارې طرف ته راټولیږي، بخاري ومسلم

[۱] وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ أَبِي هُرَيْرَةَ (ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ) فِي كِتَابِ الْمَنَاسِكِ[۲] وَحَدِيثَيْ مُعَاوِيَةَ وَجَابِرٍ (لَا يَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي) فِي بَابِ ثَوَابِ هَذِهِ الْأُمَّةِ إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

[۱] او د حضرت ابو هریره ﷜ حدیث ذروني ماترکتکم به مونږ په کتاب مناسک (حج) کې ذکر کوو [۲] او د حضرت معاویه ﷜ او جابر ﷜ دواړه احادیث لایزال من امتي الخ او لایزال طائفة من امتي هم د دې امت د ثواب په باب کې ذکر کو انشاء الله (یعني دا احادیث صاحب د مصابیح په دې باب کې ذکر کړي وو لیکن مونږ هغه په هغه بابونو کې ذکر کوو انشاء الله تعالی.

حل اللغات: ① لَيَأْرِزُ: أَيْ: يَأْوِي وَيَنْضَمُّ: راټولیږي او راغونډیږي به. ② الْحَيَّةُ: مار، ③ جُحْرِهَا: أَيْ: ثَقْبِهَا: خپلې سوړې ته، خپل غار ته.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الْإِيمَانَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا:

د مشار الیه د وخت مصداق: شیخ عبد الحق محدث دهلوی ﷫ لیکلی دی چې دنصوصو څخه معلومیږی چې دا به د خروج دجال په وخت کښې واقع کیږی.

بهر حال حدیث پاك کښې دَ مدینې منورې دَپاره دا اشاره ملاویږی چه مدینه منوره به په مشکل وخت کښې هم دَ اسلام یو مرکز وی. [اشعة المعات: ۱/۱۴۲]

د صاحب مشکاة څخه تسامح: صاحب مشکوة فرمائی چه باب ثواب هذه الأمة لاندې به دوه احادیث راوړم. یو حدیث د حضرت معاویه ﷜ فرمائیلې او دویم حدیث دَحضرت جابر ﷜ دې لیکن هلته صاحب مشکوة دَ حضرت جابر ﷜ دَ حدیث ذکر نه دې فرمائیلې بلکه هیره شوې ترې دې څکه چه ﴿وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا﴾ مشکوة ص ۵۸۳ او ګورئی.

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الحج/باب: الإيمان يأرز إلى المدينة(رقم-۱۸۷۶)و احمد فی المسند:۲/۲۸۶ ومسلم کتاب الإيمان/باب بدأ الإسلام غريبا(رقم-۲۳۳ - (۱۴۷) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الوقت الأول من الفضل (رقم-۱۷۰) ابن ماجة کتاب المناسک /بباب فضل المدينة(رقم-۳۱۱۱)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٦١]د نبي د دعوت مثال

[٦١]—(١)[٢٢] [١]عَنْ رَبِيعَةَ الْجُرَشِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «أُتِيَ نَبِيُّ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٢]فَقِيلَ لَهُ: لِتَنَمْ عَيْنُكَ، وَلْتَسْمَعْ أُذُنُكَ، وَلْيَعْقِلْ قَلْبُكَ. قَالَ: (فَنَامَتْ عَيْنِي، وَسَمِعَتْ أُذُنَايَ، وَعَقَلَ قَلْبِي). [٣]قَالَ: فَقِيلَ لِي: سَيِّدٌ بَنَى دَارًا، فَصَنَعَ فِيهَا مَأْدُبَةً وَأَرْسَلَ دَاعِيًا، فَمَنْ أَجَابَ الدَّاعِيَ، دَخَلَ الدَّارَ، وَأَكَلَ مِنَ الْمَأْدُبَةِ، وَرَضِيَ عَنْهُ السَّيِّدُ، [٤]وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّاعِيَ، لَمْ يَدْخُلِ الدَّارَ، وَلَمْ يَأْكُلْ مِنَ الْمَأْدُبَةِ، وَسَخِطَ عَلَيْهِ السَّيِّدُ). [٥]قَالَ: (فَاللَّهُ السَّيِّدُ، وَمُحَمَّدٌ الدَّاعِي، وَالدَّارُ الْإِسْلَامُ، وَالْمَأْدُبَةُ الْجَنَّةُ»). رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١]ربيعه الجرشي ﷺ روايت کوي چې نبي مکرم ﷺ ته په خوب کې فرښتې ونبودل شوې [٢]او ده ﷺ ته اوويل شو (يعني فرښتو وويل) چې ستا ﷺ سترګې دې اوده يي، ستا ﷺ غوږونه دې واوري او ستا ﷺ زړه دې پوه شي، رسول الله ﷺ وفرمايل زما سترګي اوده شوې زما غوږونو واوريدل او زما زړه پوه شو، [٣]بيا ده ﷺ وفرمايل چې ماته اوويل شو (يعني د مثال په طور فرښتو زما په مخکې بيان وکړې) چې يو سردار کور جوړ کې او دعوت يي تياره کړي بيا يي يو بلونکي وليږي (چې خلق را وبلي) نو چا چې د رابلونکي دعوت قبول کې نوهغه په هغه کور کښې داخل شو او دعوت يي وخوړلي او سردار په دي خوشحاله شو، [٤]اوچا چې د بلونکي دعوت قبول نه کې هغه کورته داخل هم نه شو او نه يي د عوت وخوړلو او نه د هغه څخه سردار خوشحاله شو، [٥]حضور ﷺ وفرمايل په دي مثال کې د سردار څخه مراد الله پاك دي او د رابلونکي څخه مراد محمد ﷺ دي او د کور څخه مراد اسلام دي او د عوت څخه مراد جنت دي. درامي

حل اللغات: ① مَأْدُبَةٌ: أي طَعَامٌ عَامٌّ يُدْعَى النَّاسُ إِلَيْهِ كَالْوَلِيمَةِ: عامه روټئ او خيرات ته وائی چه هر چاته پکښې د شريکيدو دعوت وی. ② السَّيِّدُ: سردار، ③ لَمْ يُجِبْ: قبول ئې نه کړو دعوت، ④ سَخِطَ: غصه شو، ناراضه شو.

تسهيلات:

قوله: لِتَنَمْ عَيْنُكَ، وَلْتَسْمَعْ أُذُنُكَ:

دمذکوره جملې مطلب: داکلمات په لفظونوکښې انشاء دی او په معنی کښې اخباردی. يعنی پکاردی چه دَهغوی سترګې اودې وی. مطلب دا چه په خپلو سترګو سره دې نور څه نه ګوری او په غوږونو دې نور څه وانوری يعنی په غور اوفکر سره دا مثال اوريدل او په دې باندې پوهيدل پکاردی.

١) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ١١

د مذکوره کلام په محل کښې دوه احتمالات:

① کیدې شی چه دا کلام په توګه دَ الهام شوې وی

② کیدې شی فرښتو په حقیقت کښې داکلام حضورپاك مخاطب کولوسره کړې وی. بهرحال حضورپاك په قال سره جواب ورکړو چه زه دَ اوریدلو دَپاره پوره تیاریم.

اشکال: په دې باب کښې دَدې نه مخکښې حدیث نمبر(١٤٣) تیرشوې دې. دَمذکوره حدیث دې حدیث سره په ظاهره تعارض معلومیږی ځکه چه هلته دار جنت ته وئیلي شوې دې اودلته دار اسلام ته وئیلې شوې دې.

داشکال جواب: اسلام دَ جنت دَپاره یو سبب دې اوجنت مسبب دې. نوچرته دَ سبب ذکر دې او چرته دَ مسبب ذکر دې. دا تعارض نه دې. دغه شان بعضې روایاتو کښې دَ السید لفظ راغلې دې دکوم نه مراد چه الله تعالی دې اودَ داعی لفظ دَنبی کریم ﷺ دَپاره استعمال شوې دې. اوچرته دَ داعی نه مراد الله تعالی دې. نو په دې کښې هم تعارض نشته ځکه چه اصلاً داعی خوالله تعالی دې چه بې نیازه دې او بالواسطه داعی رسول الله ﷺ دې.

[١٦٢] دا نکارحدیث فتنه

١٦٢—()[٢٣] ① وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (« لَا أُلْفِيَنَّ أَحَدَكُمْ مُتَّكِئًا عَلَى أَرِيكَتِهِ، يَأْتِيهِ الْأَمْرُ مِنْ أَمْرِي مِمَّا أَمَرْتُ بِهِ أَوْ نَهَيْتُ عَنْهُ، ② فَيَقُولُ لَا أَدْرِي، مَا وَجَدْنَا فِي كِتَابِ اللَّهِ اتَّبَعْنَاهُ »). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ)

ترجمه: ① ابو رافع رضی الله عنه روایت کوي چې نبي مکرم ﷺ وفرمایل زه په تاسو کې څوك په دي حال کې ونه وینم چې هغه په خپل چپرکټ (چار پایي) تکیه لګولي وي او زما د هغه حکمونو څخه چې د هغه ما حکم ورکړي دي یا د څه څخه چې مي منع کړیده څه حکم هم هغه ته ورسیږي ذ③ او هغه (دهغه په اوریدو سره) دا اووائي چې ماته هیڅ معلوم نه دي کوم څه چې مونږ ته د الله په کتاب کې حاصل شو مونږ بس د هغه پیروي کوو. احمد، ابوداؤد، ترمذي، ابن ماجه، بیهقي

حل اللغات: ① لَا أُلْفِيَنَّ: أَيْ لَا أَجِدَنَّ: زه دې اونه وینم (یعنی تاسو په داسې حالت کښې اخته کیږئی مه چې څه تاسو په داسې حالت اوموموم). ② مُتَّكِئًا: چه تکیه ئې لګولې وی. ③ أَرِيكَتِهِ: أَيْ: سَرِيرِهِ الْمُزَيَّنِ بِالْحُلَلِ: شاهی تخت ته اریکة وائی. اوددې جمع أرائك دې. دې ته چپر کټ هم وائی. ④ يَأْتِيهِ الْأَمْرُ: دلته مطلق دین اسلام مراد دې. امر وی اوکه نهی یا بل څه حکم.

(١) اخرجه ابوداود کتاب السنة/باب فی لزوم السنة(رقم-٤٦٠٥)و احمد فی المسند:٨/٦ والترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما نهی عنه أن یقال عند حدیث النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-٢٦٦٣)

د راوي مختصر تعارف: نوم اسلم كنيت ابورافع دَهغه دپاره دومره عزت ډير دې چه دي دَرسول الله ﷺ په غلامانوكښې شميردې. په شروع كښې حضرت ابورافع رضي الله عنه دَحضرت عباس رضي الله عنه غلام وو هغه رسول الله ﷺ ته هديه كړو بيا حضور ﷺ دَحضرت عباس رضي الله عنه دَ مسلمانيدو په خوشحالئى كښې هغه آزادكړو.

دَجنګ بدر نه پس هجرت اوكړو او مدينې ته راغلو اوحضور ﷺ سره اوسيدو. دَ بدر نه علاوه په ټولو جنګونوكښې شريك شوې وو. حضرت علي رضي الله عنه سره سريه ته هم تلې وو اوحضرت علي رضي الله عنه په خپل غيرموجودګئى كښې دَسريه مشرى هغه ته حواله كړې وه. سره دَ دې چه رسول الله ﷺ هغه آزادكړې ووخو هغه اوس هم دَحضور ﷺ په غلامئى كښې راګير وو سره دَ آزاديدو ئى دَ رسول الله ﷺ دَ خدمت شرف نه پريخودو. رسول الله ﷺ به هم هغه سره ډيره مينه كوله اودَهغه هم دَ رسول الله ﷺ غلامى ډيره خوښه وه. هميشه به ئى خپل ځان ته دَ رسول الله ﷺ غلام وئيلو.

وفات: دَ حضرت علي رضي الله عنه دَخلافت دَ شروع زمانه كښې وفات شو.

مرويات: دَ هغوى نه دَ احاديثو په كتابونوكښې ۶۸ روايات ملاويږى په دې كښې بخارى په يو كښې او مسلم په دريوكښې منفرددې. (تهذيب الكمال ص ۴۴۹) دَ نورو حالاتودپاره اوګورئى ① طبقات ابن سعد ۵۱/۱ ② مستدرك حاكم ۵۹۸/۳ ③ تهذيب التهذيب ۹۲/۲ ④ اسد الغابة ۱۹۱/۵ ⑤ تهذيب الكمال ۴۴۹ ⑥ اصابه ۹۲/۴ وغيره.

تسهيلات:

قوله: مُتَّكِئًا عَلَى أَرِيكَتِهِ:

په منكرين حديثو باندې رد: په دې حديث پاك كښې په منكرين حديث باندې بليغ ترديد اورد دې كوم چې خپل ځان ته اهل قرآن وائى اودجهالت په وجه دَاحاديثو څخه انكار كوى دوئ ډير تكبر او غرورسره وائى چې زمونږدپاره صرف قرآن پاك كافى دې. ددې مشاهده علماء حق په هغه وخت كښې كړې وه كله چې هغوئ د وفد په شكل كښې دَ عبدالله چكړالوى منكرحديث په خدمت كښې حاضرشو اوهغه په چپركټ كښې ناست وو، او په غرور سره ئې وئيل چې حسبنا كتاب الله چې بس مونږ دپاره دالله تعالى كتاب كافى دې.

[۱۶۳] دانكار حديث د فتنې پيشنګوئى

۱۶۳—(١)[۲۴][١] وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِيكَرِبَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

(١) اخرجه ابوداود كتاب السنة/ باب فى لزوم السنة(رقم-٤٦٠٤) والترمذى كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما نهى عنه أن يقال عند حديث النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-٢٦٦٤) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب تعظيم حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم، والتغليظ على من عارضه(رقم-١٢)و احمد فى المسند: ١٣٢/٤

(«أَلَا إِنِّي أُوتِيتُ الْقُرْآنَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ، أَلَا يُوشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانٌ عَلَى أَرِيكَتِهِ يَقُولُ: عَلَيْكُمْ بِهَذَا الْقُرْآنِ، فَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَلَالٍ فَأَحِلُّوهُ، وَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوهُ، [۲] وَإِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَمَا حَرَّمَ اللَّهُ؛ [۳] أَلَا لَا يَحِلُّ لَكُمُ الْحِمَارُ الْأَهْلِيُّ، وَلَا كُلُّ ذِي نَابٍ مِنَ السِّبَاعِ [۴] وَلَا لُقَطَةُ مُعَاهِدٍ إِلَّا أَنْ يَسْتَغْنِيَ عَنْهَا صَاحِبُهَا، [۵] وَمَنْ نَزَلَ بِقَوْمٍ، فَعَلَيْهِمْ أَنْ يَقْرُوهُ، فَإِنْ لَمْ يَقْرُوهُ فَلَهُ أَنْ يُعْقِبَهُمْ بِمِثْلِ قِرَاهُ»). رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى الدَّارِمِيُّ نَحْوَهُ، وَكَذَا ابْنُ مَاجَهْ إِلَى قوله: (كَمَا حَرَّمَ اللَّهُ).

ترجمه: [۱] مقدام بن معدیکرب رضي الله عنه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل خبردار شی ماته قرآن راکړل شوې دي او د هغه سره د هغه مثل هم، [۲] خبردار نزدې ده په خپل چپرکټ باندې پروت یو په خیټه موړ سړي به وایي چې بس دا قرآن په خپل ځان لازم وګڼي یعنی فقط په قرآن باندې ځان پوه کړي او په دي عمل کوي او کوم شي چې تاسو په قرآن کې حلال پیدا کې هغه حلال وګڼي او کوم شي چې تاسو په قرآن کې حرام پیدا کې هغه حرام وګڼي [۳] حالانکه کوم څه چې رسول الله ﷺ حرام کړي دي هغه داسې دي لکه چې الله حرام کړي دي، [۴] خبردار نه ستاسو د پاره اهلي (کورني) خرحلال دي او نه داړهور درندګان (څیرونکي حیوانان) [۵] او نه ستاسو د پاره د معاهد (یعني هغه قوم چې د هغه سره معاهده شوې وي) لقطه (ورك شيء) حلال کړي شوې ده، مګر هغه لقطه چې د هغه پرواه د هغه مالك ته نه وي [۶] او کوم سړي چې د یو قوم میلمه وي نو په هغه قوم باندې لازم ده چې د هغه میلمستیا وکړي او که چېرته هغه میلمستیا اونه کړي نو د هغه سړي د پاره دا جائز دي چې هغه د میلمستیا په اندازه د هغوئ څخه حاصل کړي. ابو داود، دارمي، هم داسې روایت نقل کړي دي او ابن ماجه هم تر (کماحرم الله) پوري.

حل اللغات: ① أَلَا: دا حرف تنبیه ده، أَيْ: أُنَبِّهُكُمْ فَتَنَبَّهُوا: یعنی زه تاسوته خبر درکوم نو تاسو خبردار شئ، ② مِثْلَهُ مَعَهُ: أَيْ: مِثْلَ الْقُرْآنِ: یعنی دَ قرآن پاك په شان دَ احکامودَ اثبات دَپاره ماته احادیث هم راکړې شوې دی. او فرق دومره دې چه قرآن وحی متلو ده او احادیث وحی غیر متلو دی. په دواړو باندې عمل کول ضروری دی. حلت او حرمت دَ دواړو نه ثابتیږی. ③ يُوشِكُ: أَيْ: يَقْرُبُ: نزدې ده، ④ شَبْعَانٌ: موړ سړې، په دې لفظ سره دَ هغه سړی دَ بلادت، حماقت، جهالت اوعیش وعشرت طرف ته اشاره ده ځکه چه دَ ډکې خیټې والا بلید او بې وقوف وی. لهذا هغه به دَ بلادت او حماقت دَ وجې نه دَاحادیثونه انکارکوی. ⑤ أَرِيكَتِهِ: أَيْ: سَرِيرِهِ الْمُزَيَّنِ بِالْحُلَلِ: شاهی تخت ته اریکة وائی. اوددې جمع أرائك دې. دې ته چپر کټ هم وائی. ⑥ الْحِمَارُ الْأَهْلِيُّ: کورنی خر (چه په کورکښې ساتلې شوی وی ځنګلی نه وی)، ⑦ ذِي نَابٍ: د داړو والا ځناور ⑧ السِّبَاعِ: أَيْ: سِبَاعُ الْوُحُوشِ: وحشی شلونکی ځناور (مثلاً زمرې، شیرمخ وغیره) ⑨ لُقَطَةُ: چه دچا نه په غفلت او بې خبرئ کښې څه څیز اوغورځیږی هغې ته لقطه وائی. ⑩ مُعَاهِدٍ: چه معاهده ورسره شوې وی.

تسهیلات:

قوله: وَإِنَّ مَا حَرَّمَ رَسُولُ اللهِ ـ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د نبی تحریم دالله تعالی تحریم: یعني دَ رسول الله ﷺ په فرمان سره هم هغه شان څیزونه حرام شوی دی لکه څنګه چه الله تعالی حرام ګرځولی دی. لهذا دَ حضورپاك ذات په حقیقت کښې هم دغه شان شارع دې لکه څنګه چه الله تعالی شارع دې. ځکه چه ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحٰى ۝﴾ واضح آیاتونه دی.

قوله: أَلَا لَا يَحِلُّ لَكُمْ:

په احادیثو حرام شوی څیزونه: دَدې ځائی نه دَهغه څیزونو بیان شروع کړې شوې دې دکومو حرمت چه په سنتِ رسول کښې ذکردې او په قرآن کریم کښې نشته دې. دا ټول څلور څیزونه دی:

① **الحمارُ الاهلي:** ساتلې شوې خر نه چه وحشی خر ځکه چه هغه صحرائی دې او حلال دې. ګوم ته چه زیبرا وائی. دَدې ساتلی شوی خر دَ حرمت حکم په حدیث کښې شته او قرآنِ کریم کښې نشته دې.

② **ذی ناب:** یعنی په غاښونو او پنجو سره دَ ښکار کونکی ځناورو دَ حرمت ذکر په قرآن کښې نشته دې په احادیثو کښې شته.

③ **دمعاهد:** لفظ استعمالول. معاهد یا ذمی وی او یا حلیف کافر وی. دَدې نه معلومه شوه چه دَ غیر ذمی مسلمان لقطه استعمالول په طریقه اولی حرام دی او معمولی څیزچه څوك ئې پخپله اوغورزوی یا دَ پریوتلو نه پس دَهغې دَ اوچتولو ضرورت محسوس نه کړی نوهغه ترې مستثناء دې.

④ **ومن نزل:** دا څلورم څیز دې چه چه څوك مسلمان یو قوم ته راشی نو په هغه قوم باندې دَ هغه میلمستیا واجب ده ګنی میلمه دې دَ خپلې میلمستیا په شان دَهغه خلقو نه دَدې عوض واخلی.

اشکال: دَ چا په مال کښې تعرض کول، یا په زوره اخستل چرته جائز دی په دې حدیث کښې دا اجازت څنګه ورکړې شوې دې؟

داشکال درې جوابونه:

① دا حکم دَ اسلام په شروع کښې وو بیا منسوخ شو.

② په اصل کښې دا به داهل کتاب سره دَ جزي معاهده شوې وه. په دغه معاهده کښې به دا فیصله شوې وه چه که چرې مسلمانان ستاسو په کلی تیریږی نو تاسو به په هغوی باندې خوراك کوئی. لهذا دا دَ جزي او ټیکس حصه وه. په نه ورکولوسره په زور اخستل

جائز وو. دا جواب واضح دی او راتلونکې روایت هم په دې باندې محمول دې کوم چه دَ حضرت عرباض رضی الله عنه نه نقل دې.

④ دا دَ حالت اضطرار حکم دې. چه کوم سړې په مخمصه او اضطرار کښې وی نو هغه دَ ځان بچ کولو دَپاره دا اخستې شی. بیا به عوض واپس کوی هم دغه مطلب دَ اعقاب دې.

[۱۶۳] په معاهد باندې د ظلم حرمت

۱۶۳-(۱)[۲۵] [۱]وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: "[۲]«أَيَحْسَبُ أَحَدُكُمْ مُتَّكِئًا عَلَى أَرِيكَتِهِ يَظُنُّ أَنَّ اللَّهَ لَمْ يُحَرِّمْ شَيْئًا إِلَّا مَا فِي هَذَا الْقُرْآنِ؟ ![۳]أَلَا وَإِنِّي وَاللَّهِ قَدْ أَمَرْتُ وَوَعَظْتُ وَنَهَيْتُ عَنْ أَشْيَاءَ إِنَّهَا لَمِثْلُ الْقُرْآنِ أَوْ أَكْثَرُ، [۴]وَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يُحِلَّ لَكُمْ أَنْ تَدْخُلُوا بُيُوتَ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا بِإِذْنٍ، [۵]وَلَا ضَرْبَ نِسَائِهِمْ وَلَا أَكْلَ ثِمَارِهِمْ إِذَا أَعْطَوْكُمُ الَّذِي عَلَيْهِمْ» "[۶]رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَفِي إِسْنَادِهِ: أَشْعَثُ بْنُ شُعْبَةَ الْمِصِّيصِيُّ، قَدْ تُكُلِّمَ فِيهِ.

ترجمه: [۱]عرباض بن ساریه رضی الله عنه روایت کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم (د خطبې د پاره) ودريدلو او وي فرمايل[۲] چې آيا په تاسو کې څوك په خپل چپرکټ باندې څنګ وهلي دا خيال ساتي چې الله يوازي هغه څيزونه حرام کړي دي کوم چې په قرآن کې ذکر شوي دي [۳]خبردار په الله قسم چې بې شکه ما حکم ورکړيدي ما نصيحت کړي دي او ما څه څيزونه منع کړل کوم چې داشيان هم په مثل د قرآن دي بلکه زيات دي[۴] بې شکه الله تعالى جل جلاله دا ستاسو د پاره نه دي حلال کړي چې تاسو د اهل کتابو کورونو ته بغير د اجازت اخستو څخه داخل شی [۵]او نه ستاسو د پاره د هغوئ ښځې وهل حلال دي او نه ستاسو د پاره دهغوئ دميوو خوړل جائز دي، هرکله چې هغوئ مقررکړل شوي ادا کړي کوم چې د هغوئ په ذمه وي، [۶](ابو داؤد) ددې حديث په سند کې اشعث بن شعبه مِصيصي دي چې د هغه په باره کې کلام شوي دي چې هغه ثقه دي يا نه؟

حل اللغات: ① ضَرْبَ: وهل، (ددې نه مراد يا په لاس يا لرګی وغيره سره وهل دی، يا دا کنايه ده د جماع نه، يعنی جماع کول ورسره جائز نه دی).

د راوي مختصر تعارف: نوم عرباض کنيت ابونجيح دې.دَ پلار نوم ئې ساريه ووا و په صحابه صفه کښې دَ ده شمير کيدلو.دې پخپله فرمائی چه زه څلورم نمبرمسلمان يم مانه وړاندې درې کسان په اسلام کښې داخل شوې وو.والله اعلم.

وفات: شام ته ئې تشريف يوړو او بيا حمص ښارکښې دَخپل ژوند دآخری ورځو پورې هلته وو.دَ هغه دَ شاګردانو هم يولوئ شميروو.

روايات: دَ هغه نه ۷۵ روايات نقل دی ابن حزم ۳۱ وئيلی دی.

[۱]) اخرجه ابوداود كتاب الخراج والإمارة والفيء /باب فى تعشير أهل الذمة إذا اختلفوا بالتجارات(رقم-۳۰۵۰)

تسهيلات:

قوله: إِنَّهَا لَمِثْلُ الْقُرْآنِ أَوْ أَكْثَرُ:

د ،،او،، د كلمې نوعيت: دا او په معنی دَ بل دې. دا دَ شك دَپاره نه بلكه دَ اولنې وحی سره متصل دويمه وحی راغله نو بل اكثر ئی اوفرمائيلو.

قوله: وَلَا ضَرْبَ نِسَائِهِمْ:

دمفتوح قوم د ښځوو هلو حرمت: دې نه مراد دَ مفتوح قوم دَ ښځو وهلو ممانعت دې. دا رنګ دَهغوی دَ کورونو دَ بې حرمتئی ممانعت دې. لکه چه عام طورد فاتحينو عادت وی. دَ دوارو احاديثو خلاصه داده چه داسې احکام ډيرزيات دی دکوم ذکر چه په قرآن کريم کښې نشته ليکن دَ احاديثو نه ثابت دی. دکوم تفصيل چه په حجيت حديث کښې تيرشوې دې.

[١٦٥] صحابؤ ته د نبی علیه السلام نصیحت

١٦٥-() [٢٦] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ يَوْمٍ، ٢ ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيغَةً، ذَرَفَتْ مِنْهَا الْعُيُونُ، وَوَجِلَتْ مِنْهَا الْقُلُوبُ. ٣ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! كَأَنَّ هَذِهِ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا، ٤ فَقَالَ "أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ، وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا، ٥ فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، تَمَسَّكُوا بِهَا وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ، ٦ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ، فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ إِلَّا أَنَّهُمَا لَمْ يَذْكُرَا الصَّلَاةَ.

ترجمه: ١ عرباض بن ساريه ﷺ روايت کوي چې نبي کريم ﷺ مونږ ته مونځ راکي، ٢ زمونږ طرفته ته په متوجه کيدو ،،سره کيناستل او مونږ ته په انتهائي موثر انداز کې نصيحت وکړو چې زمونږ د سترګو څخه اوښکي رواني شوې او په زړونو کې مو بيرہ پيدا شوه، ٣ يو سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ (داسي معلوميږي لکه چې داديو نصيحت کونکي آخري نصيحت وي، نو مونږ ته وصيت اوفرمايه، ٤ ده ﷺ وفرمايل زه تاسو ته نصيحت کوم چې د الله ﷻ څخه وويرېږي او تاسو ته د مسلمان سردار (د حکم) اوريدو او په ځاي راوړلو وصيت کوم اګر که هغه سردار حبشي غلام وي په تاسو کې چې څوك زما څخه وروسته ژوندي پاتې شی هغه به ډير اختلافات ويني، ٥ نو په داسې حالت کې په تاسو لازم دي چې زما او د هدايت يافته خلفائي راشدينو طريقه لازم ونيسئ او په هغه طريقه باندې اعتماد وکړئ او هغه په غاښونو سره مضبوط

---

١) اخرجه ابوداود کتاب السنة/باب فی لزوم السنة(رقم-٤٦٠٧) والترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب ما جاء فی الأخذ بالسنة واجتناب البدع (رقم-٢٦٧٦) وابن ماجة کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب اتباع سنة الخلفاء الراشدين المهديين (رقم-٤٢)

ونيسي ⑥او تاسو په دين کې د نوو نوو خبرو پيدا کولو څخه ځان ساتي ځکه چې هره نوي خبره اونوي کاربدعت دي او هر بدعت گمراهيَ ده. احمد، ابو داؤد، ترمذي، ابن ماجه، مگر په دي روايت کې ترمذي او ابن ماجه د مونځ د کولو ذکر نه دي کړي يعنى د هغوئ په روايت کې د حديث الفاظ صلي بنا رسول الله ﷺ ذکرنه دي بلکه حديث د وعظنا موعظة څخه شروع کيږي.

حل اللغات: ① بَلِيغَةً: بَالَغَ فِيهَا بِالْإِنْذَارِ وَالتَّخْوِيفِ: په انتهائی مؤثر انداز کښې وعظ او نصيحت کول. ② ذَرَفَتْ: أَيْ: دَمَعَتْ: د اوښکو بهيدو په معنى کښې دې. ③ وَجِلَتْ: أَيْ: خَافَتْ: د زړه ويرې او خشوع ته وائى. ④ مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ: جامع نصيحت ته موعظة مودع وائى، ⑤ الْخُلَفَاءِ: جمع د خليفة ده، جانشين، ⑥ الرَّاشِدِينَ: نيغه لار موندونکى. ⑦ الْمَهْدِيِّينَ: هدايت موندونکى (مراد څلور خليفه گان صحابه کرام دى چه هغوى د نبى عليه السلام مکمله تابعدارى کړې وه). ⑧ تَمَسَّكُوا: تاسو لازم اونيسئ (طريقه د خلفاء راشدينو). ⑨ عَضُّوا: په غابښونو سره کلک نيولو ته وائى يعنى کلک اونيسئ، ⑩ النَّوَاجِذِ: ددې نه مراد يا د ژامې غابښونه دى يا په ثنائى پسې چه کوم غابښونه دى يعنى انياب (داړې) هغه مراد دى (په غابښونو سره نيول کنايه ده ددې نه چه په سنت باندې کلک عمل کونکى جوړشئ). ⑪ مُحْدَثَاتِ: يَعْنِي الْبِدَعَ: بدعاتو ته وائى (بدعات اعتقادى، قولى او فعلى ټول پکښې داخل دى).

تسهيلات:

قوله: فَوَعَظَنَا مَوْعِظَةً بَلِيغَةً:

د مزيدنصيحت کولو درخواست وجه: په دې مقام باندې ټولې داسې خبرې ذکر کړې گويا چې نبى کريم ﷺ روان دې ځى هم په دې وجه صحابى د نور نصيحت او وصيت درخواست اوکړو.

قوله: أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ:

دتقوى مثال: ظاهرًا او باطنًا خپله معامله خپل رب سره کولو ته تقوى وائى. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه چې کله د حضرت ابى بن کعب رضی الله عنه څخه د تقوى متعلق تپوس اوکړو نو هغوئ اوفرمائيل چې اې امير المؤمنين ! د تقوى مثال داسې دې لکه څنگه چې يو کس په ازغى جنه لار باندې ځى او خپل جسم او کپړې د ازغو څخه بچ کوى، هم دا د تقوى صورت دې.

قوله: وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ، وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا:

اشکال: په اسلام کښې غلام بادشاه نشى جوړيدې. بلکه حديث پاک کښې راغلى دى چې، الأئمة من قريش، يعنى حاکمان به د قريشو څخه وى. نو بيا دحبشى غلام بادشاهت ئې څنگه واجب الاطاعت اوگرزولو؟

داشکال دوه جوابونه: ① بادشاه جوړیدل علی سبیل المبالغه دی چې دا حبشی غلام په تاسو په زور مسلط شو. نو بیا ددهٔ اطاعت کوئی دا د وخت ضرورت دې. په دې شرط چې غلام دالله تعالی دکتاب مطابق فیصلې کوی. خپل حکم نه چلوی. (أي مالم يأمر بمعصية)
② دا حدیث په دا علی سبیل المبالغة باندې حمل دې. گویا چه معمولی کس هم وی، چې دهغه سر د کشمش د دانې برابر ولې نه وی خو تاسو ئې اطاعت کوئی چې انتظام روان وی، او انتشار پیدا نشی.

قوله: وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ:

دخلفاء راشدینو مصداق: د خلفاء راشدینو څخه مراد خلفاء اربعه دی. مشهور هم دا څلور دی. ددې نه پس حضرت حسن ﷺ او حضرت معاویه ﷺ هم خلافت اوکړو. هغوئ هم خلفاء وو. حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله لره هم علماء کرامو په خلفاء راشدینو کښې شمیر کړې دې.

دخلفاء راشدینو د تخصیص وجه: دلته د څلورو خلفاء کرامو امتیازی شان بیان کړې شوې دې. ددې نه د هغوئ تخصیص مراد دې. د نورو خلفاء کرامو د خلافت نفی مراد نه ده. قیامت پورې به خلفاء راځی خو دلته د خلافت علی منهاج النبوة ذکر کړې شوې دې.

قوله: وَعَضُّوا عَلَيْهَا:

دخلفاء راشدینو په سنتو دعمل کولو حکم: دې حدیث پاک کښې نبی کریم ﷺ خپلو سنتو مبارکو سره دخلفاء راشدینو د سنتو د نیولو هم حکم فرمائیلې دې. ددې څخه معلوم شو چې دخلفاء راشدینو سنت هم معیار دحق دی. حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چې د خلفاء راشدینو مقام د تشریع او اجتهاد په مینځ کښې دې. تشریع دنبی مقام دې. او اجتهاد د ائمه مجتدینو کار دې. د خلفاء راشدینو مقام نه خو د تشریع والا دې بلکه ددې څخه لاندې دې. او نه دمجهدینو والا دی. بلکه ددې څخه پورته دې بلکه ددې دواړو په مینځ کښې دې.

[۱۶۶] دالله تعالی اود شیطان د لارو نقشه

۱۶۶ – (۱)[۲۷] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «خَطَّ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَطًّا، ثُمَّ قَالَ: "هَذَا سَبِيلُ اللَّهِ" [۲] ثُمَّ خَطَّ خُطُوطًا عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ وَقَالَ: "هَذِهِ سُبُلٌ عَلَى كُلِّ سَبِيلٍ مِنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُو إِلَيْهِ" [۳] وَقَرَأَ: {وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ} [الأنعام: ۱۵۳] الْآيَةَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] عبد الله بن مسعود ﷺ وایي چې ضور ﷺ زمونږ د پوهیدلو د پاره یو نیغ

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۴۳۵/۱ والدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲۰۲

خط راښکلو او وي فرمايل چې دا د الله ﷻ لاره ده، [۲] بيا حضور ﷺ د دي خط ښي او ګس طرف ته يو څو واړه خطونه وښکل او وي فرمايل دا هم لاري دي چې په دي کښي په هره يوه لاره شيطان ناست دي چې د خپلي لاري طرفته بلنه کوي، [۳] بيا رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت وفرمايلي ﴿وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ﴾ (ترجمه) او بي شکه دا زما نيغه لار ده لهذا د دې پيروي کوي او د نورولارو پيروي مه کوي هسي نه چې د سمي لاري څخه مو جدا نه کړي. احمد، نسائي، دارمي

حل اللغات: ① خَطَّ: کرښې راښکلو ته وائی.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ خَطَّ خُطُوطًا عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ:

د نيغ او کږو خطونو څخه مراد: دَتقريب فهم دَپاره اودَ پوهه کولودَپاره ئی کرښې راښکلې دی دې دَپاره چه انسان دَ کمی زياتی نه بچ شی. ځکه چه دَ اسلام خط او کرښه په مينځ کښې نيغه او معتدل ده. اوهم دغه دَ شريعت شاهراه اعظم دې. دې نه علاوه کاګه خطوط دَ بدعاتو اوګمراهئی دی کومې چه دَ شيطان لارې دی.

[۱۶۷] خواهشات د شريعت تابع کرخول

۱۶۷ —(¹)[۲۸] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ». رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ)، [۳] وَقَالَ النَّوَوِيُّ فِي (أَرْبَعِينِهِ) هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، رَوَيْنَاهُ فِي كِتَابِ (الْحُجَّةِ). بِإِسْنَادٍ صَحِيحٍ.

ترجمه: [۱] عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما روايت کوي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] په تاسو کې هيڅ يو سړي تر هغه وخت پورې پوره مؤمن نشي جوړيدي تر څو چې د هغه خواهشات د هغه شي (يعني دين او شريعت) تابع نه شی کوم چې ما (د الله ﷻ د طرفه) راوړي دي، دا حديث شرح السنه کې روايت شوې دي [۳] او امام نووي رحمه الله په خپل څهل حديث کې ليکلي دي چې دا حديث صحيح دي کوم چې مونږ په کتاب الحجة کې په صحيح سند سره روايت کړي دي.

حل اللغات: ① هَوَاهُ: أَيْ: مَيْلُ نَفْسِهِ: د هَوِيَ يَهْوِي هَوًى نه، د زړه يو طرف ته اوړيدل او ميلان کول، ② لِمَا جِئْتُ بِهِ: کوم چه ما راوړلی دی (يعنی دين او شريعت).

تسهيلات: قوله: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ:

دايمان په نفی کښې اقوال: ① شيخ مظهر رحمه الله وغيره فرمائی چه دلته داصل ايمان نفی

(¹) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۱۰۴

ده یعنی دَ ایمان مدار دَ شریعت په اتباع دې. نو چه کوم سړې اطاعت کوی نو هغه ئی دې دَپاره کوی چه دا دَهغه دین دې سره دَ دې چه طبیعت ئی نه غواړی په دې باندې هغه ته ثواب هم ملاویږی. لیکن که یوه مسئله داسې ده چه هغه دَ خواهش مطابق ده او زړه ئی غواړی چه په هغې باندې عمل اوکړی اوهغه سړې عمل کوی خودَ اتباع اراده ئی نه وه بلکه دَخواهش پوره کولو اراده ئی وه نودَ دغه سړی دا عمل دین پاتې نه شو لهذا هغه مومن هم نه شو. خلاصه دا چه دَ شریعت اتباع اصل مقصود دې.

② علامه تورپشتی رحمه الله فرمائی چه دا نفی دَ کمال ده چه دَ انسان طبیعت داسې دې چه هغه دَ خپل خواهش اتباع کوی اوهغه په هرڅیز باندې مقدم لری. نوترکومې پورې چه هغه خپل طبیعت، جبلت اوخواهش دَ شریعت تابع کړې نه وی ترهغه وخته پورې کامل مؤمن کیدې نه شی.

[۱۶۸] د سنت ژوندي کولو ثواب، اوبدعت رائج کولو ګناه

۱۶۸- ( )[۲۹] [۱] وَعَنْ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ الْمُزَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «مَنْ أَحْيَا سُنَّةً مِنْ سُنَّتِي قَدْ أُمِيتَتْ بَعْدِي، فَإِنَّ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلَ أُجُورِ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا، [۳] وَمَنِ ابْتَدَعَ بِدْعَةً ضَلَالَةً لَا (يَرْضَاهَا) اللَّهُ وَرَسُولُهُ، كَانَ عَلَيْهِ (مِنَ الْإِثْمِ) مِثْلُ آثَامِ مَنْ عَمِلَ بِهَا لَا يَنْقُصُ مِنْ (أَوْزَارِهِمْ) شَيْئًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] بلال بن حارث مزني رضي الله عنه روایت کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړي چې زما یو داسې سنت ژوندي کړي (یعني رائج یي کي) کوم چې زما څخه وروسته پرېښودل شوې وو نو هغه ته دومره ثواب ورکول کیږي څومره چې په هغه سنت باندې عمل کولو والا ته ورکول کیږي بغیر د دې څخه چې په هغه سنت باندې دعمل کولو والا په ثواب کې څه کمي وشي [۳] او کوم سړي چې د ګمراهيَ څه داسې نوي خبره (بدعت) را وایستي چې په هغه سره الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم نه خوشحالیږي نو په هغه به دومره ګناه وي څومره چې په هغه بدعت باندې د عمل کولو والا ګناه وي بغیر د دې څخه چې د هغه په ګناه کې به هیڅ کمي نه شي کیدي، ترمذي

حل اللغات: ① أَحْيَا: أَيْ: مَنْ أَظْهَرَهَا وَأَشَاعَهَا: ژوندې کړی (د ژوندی کولو نه مراد دا دی چه ښکاره ئې کړی اتباع ئې اوکړی او خور ئې کړی که په قول سره وی اوکه په فعل سره وی. ② أُمِيتَتْ: أَيْ: تُرِكَتْ: مړشوې وی یعنی دغه سنت پرېخودلې شوې وی څوک پرې عمل نه کوی. ③ ابْتَدَعَ: نوې کار یعنی بدعت ئې شروع کړو. ④ آثَامِ: د اثم جمع ده، ګناه ته وائی. ⑤ أَوْزَارِهِمْ: أَوْزَار د وزر جمع ده، بوج ته وائی.

---

۱) اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الأخذ بالسنة واجتناب البدع (رقم-۲۶۷۶)

د راوي مختصر تعارف: بلال، كنيت ابوعبدالرحمان، دپلار نوم: حارث، قبيله مزنى سره ئې تعلق ساتلو. دمزينه قبيلې وفد سره پنځمه هجرئى كښې د«حضور نبى كريم ﷺ» خدمت كښې حاضر شو، فتح مكه كښې حضرت نبى كريم ﷺ سره شريک وو او قبيله مزينه بيرغ دوى سره لاس كښې وو، آخر كښې ئې بصره كښې استوګنه اختيار كړې وه. وفات: ۶۰ هجرئ كښې ددې فانى دنيا نه رخصت شو او دې وخت كښې ددوى عمر اتيا(۸۰) كاله وو.

مرويات: دوى د حضرت نبى كريم ﷺ نه اتلس (۱۸) احاديث مبارک نقل كړى دى.

تسهيل: قوله: مَنْ أَحْيَا:

د احياء څخه مراد: دَدې داحياء او د ژوندى كولو مطلب دادې چه پخپله هم په دې باندې عمل اوكړى او نورو ته هم دَدې ښه تبليغ اوكړى. داسې سړى ته يودَ خپل عمل او يودَ بل دپاره دَعمل د سبب جوړيدو ثواب ملاويږى.

قوله: سُنَّةً مِنْ سُنَّتِي:

دسنت څخه مراد: سنت نه مراد مطلقِ حكم دَ اسلام دې كه هغه فرض وى اوكه دَ واجباتودَ قبيل نه وى يا دَ سنن دَ قسم نه وى.

قوله: قَدْ أُمِيتَتْ بَعْدِي:

د اميتت مفهوم: يعنى داسې سنت ژوندى كړى كوم چې د خلقو د رواج اومعمول څخه وتلى وى اودې مجاهده اوككوش اوكړى او هغه سنت ژوندې كړى نود هغه دپاره دا ثواب دې.

۱۶۹—(۱)[۰] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ.

ترجمه: او دا روايت ابن ماجه د كثير بن عبدالله بن عمر څخه او عمر د خپل پلار څخه او هغه د خپل نيكه څخه روايت كړي دي.

[۱۷۰] حجاز ته د دين اسلام راجمع كيدل

۱۷۰—(۲)[۳۰] ۞ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "«إِنَّ الدِّينَ لَيَأْرِزُ إِلَى الْحِجَازِ كَمَا تَأْرِزُ الْحَيَّةُ إِلَى جُحْرِهَا، ۞ وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّينُ مِنَ الْحِجَازِ مَعْقِلَ الْأُرْوِيَّةِ مِنْ رَأْسِ الْجَبَلِ. ۞ إِنَّ الدِّينَ بَدَأَ غَرِيبًا وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ وَهُمُ الَّذِينَ يُصْلِحُونَ مَا أَفْسَدَ النَّاسُ مِنْ بَعْدِي مِنْ سُنَّتِي» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[۱]) اخرجه ابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم /باب من أحيا سنة قد أميتت(رقم-۲۱۰)

[۲]) اخرجه الترمذى كتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء أن الإسلام بدأ غريبا وسيعود غريبا (رقم-۲۶۳۰)

ترجمه: ۱ عمرو بن عوف رضي الله عنه روایت کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل بې شکه دین (اسلام) به حجاز (مکه ومدینه او د هغه متعلقات) طرف ته داسې راټول شی لکه څنګه چې یو مار د خپل غاري طرف ته راغونډیږي ۲ او دین به په حجاز کې داسې ځاي ونیسي لکه چې یوه بزه د غره په سرکي ځاي نیسي ۳ او دین په ابتداء کې غریب پیدا شوې وو او په آخر کې به هم دغسې شی لکه څنګه چې په ابتداء کې وو، نو غریبانو ته دې زیری وي، ۴ اوداهغه کسان دي چې اصلاح کوي دهغه شي کوم چې زما څخه وروستو خلقو خراب کړي وي زمادسنتو څخه. ترمذي

حل اللغات: ① لَيَأْرِزُ: أَيْ: يَأْوِي وَيَنْضَمُّ: راټولیږی او راغونډیږی به، ② الْحِجَازِ: ددې نه مراد مکه او مدینه او ددې نه خواوشا ګیرچاپیره علاقې دي، ③ الْحَيَّةُ: مار، ④ جُحْرِهَا: أَيْ: ثُقْبِهَا: خپلې سوړې ته، خپل غار ته. ⑤ لَيَعْقِلَنَّ: أَيْ: وَاللهِ لَيَعْتَصِمَنَّ: ځائي به اونیسی یعنی محفوظ به شی. ⑥ مِعْقَلَ: دعقل څخه یا خو مصدر میمی دې یا د ظرف مکان صیغه ده. دلته ترې مراد د غر په څوکه باندې محفوظ مقام دې او په کلام کښې تشبیه ده. ⑦ الْأُرْوِيَّةِ: غرسنی چیلۍ ته ارویه وائی. (یعنی ماده چیلۍ، بزه). ⑧ غَرِيبًا: نا آشنا (چانه پیژندلو نو ملګرتیا به ئې هم ورسره نه کوله). ⑨ فَطُوبَى: یعنی دوئ ته دې مبارك وی، دوئ ته د جنت طوبی بشارت دې.

د راوي مختصر تعارف: نوم عمروابوعبدالله کنیت دَ اسلام په شروع کښې مسلمان شوې اودَ دې نه پس مدینې طرف ته هجرت کړې دې.(۲) په غزوه تبوك کښې چه کله سخت قحط وو دَ هغې دَپاره رسول الله ﷺ تیارې شروع کړو نوعمرو بن عوف رضي الله عنه په خدمت کښې حاضر شو که زمونږ دَپاره هم څه انتظام اوشی نومونږ دَدې جهادنه محروم نه شو. دَهغه دَ پاره څه انتظام اونه شوخوالله تعالی دَ داسې خلقو باره کښې دَ قرآن کریم دا آیت نازل کړو ﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ ﴿٩٢﴾﴾ (سورة التوبه) اونه په دې خلقو باندې څه ګناه شته چه تاله راشی چه هغوی ته سورلی ملاو نه شوه نو تا جواب ورکړو چه ماسره څه داسې څیز نشته چه تاپرې سور کړم. دې اوریدو سره هغه واپس شو اودَ خر دَ نشتوالی په وجه د غمه دَ هغوی سترګو نه اوښکې روانې شوې.

وفات: دَ امیرمعاویه رضي الله عنه په دور کښې مدینې کښې وفات شو(۳)

مرویات: دَ هغوی نه اووه احادیث روایت دی.

تسهیلات:

قوله: وَلَيَعْقِلَنَّ الدِّينُ مِنَ الْحِجَازِ مِعْقَلَ الْأُرْوِيَّةِ مِنْ رَأْسِ الْجَبَلِ:

د اروية څخه مراد: منجد کښې چې د ارویه کوم تصویر دې هغې څخه معلومیږی چې دا

مشك نافه دی. او د وعل چې کوم تصوير دې دهغې څخه اندازه کيږی چې دا غرسنی چيلی ده دکومې چې نيغ او اوچت ښکران وی. او دا د غر ډير په مشکل ځائې کښې اوسيږی. انسان ته داسې محسوسيږی چې ددې په پښو کښې دَ کاڼی او کمرو سره د انښتو يو ماده اومساله ليګيدلې ده. دا دسحر په وخت کښې د رمې په صورت کښې د څرن دپاره راځی. او هم په تياره کښې په يو قطار کښې واپس ځی. ښکاريان ددې ډير خصوصيات بيانوی. او دې ته په پښتو کښې غرخه وائی.

په ارويه کښې د مؤنث راوړلو وجه: نبی کريم ﷺ دلته ارويه مؤنث ذکر فرمائيلې ده. ځکه چې دا دَ ځائې په نيولو کښې دَ مذکر او نر څخه زيات محتاط وی. دې حديث پاک کښې نبی کريم ﷺ پيشن ګوئی کړې ده چې قيامت ته به نزدې فتنې زياتې شی. او دَ فتنو دَ ظاهريدو په وخت کښې به دين اسلام بيا واپس حجاز مقدس ته راغونډ شی. اوپه حجاز مقدس کښې به دې ته د پناه اخستو يو محفوظ مقام ملاؤ شی.

د مذکوره حديث زمانه: دا واقعات به د حضرت مهدی عليه السلام په وخت کښې راخرګنديږی چې دوی به د معاشرې څخه هر لحاظ سره لرې کړې شی. نه به د دوئ په غم کښې څوک تپوس کوی او نه به په خوشحالی کښې.

قوله: فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ وَهُمُ الَّذِينَ..الخ:

دغرباؤ مصداق: دا د دوئ نښه ده چې دوئ په سنتو باندې عمل کوی. خلقو چې به په دين کښې کومه فتنه پيدا کړې وی دهغې اصلاح به کوی. الحمدلله په دې نقشه باندې دَ ديوبندعلماء قائم دی.

[۱۷۱] په بنی اسرائيلو او امت محمدی کښې مماثلت

۱۷۱-(¹)[۳۱] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " «لَيَأْتِيَنَّ عَلَى أُمَّتِي كَمَا أَتَى عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ، [۲] حَتَّى إِنْ كَانَ مِنْهُمْ مَنْ أَتَى أُمَّهُ عَلَانِيَةً، لَكَانَ فِي أُمَّتِي مَنْ يَصْنَعُ ذَلِكَ. [۳] وَإِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ تَفَرَّقَتْ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً " [۴] قَالُوا: مَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: " مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] عبد الله بن عمرو رضي الله عنه روايت کوي چې نبی کريم ﷺ وفرمايل بي شکه زما په امت باندې به يوه داسې زمانه راشي لکه څنګه چې په بني اسرائيلو باندې راغلي وه او په دواړو کې به داسې مماثلت (يو شان والي) وي لکه څنګه چې دواړه څپلي بالکل برابري او ټيک وي [۲] تر دي چې که په بني اسرائيلو کې چا په ډاکه د څپلي مور سره

¹) اخرجه الترمذی کتاب الإيمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ما جاء فی افتراق هذه الأمة (رقم-۲۶۴۲)

بدفعلي کړي وي نو زما په امت کې به هم داسې خلق وي چې هغه به داسې کوي [٣] او بني اسرائيل په دوو اياو فرقو کې تقسيم شوې وه زما امت به په دريو اويا فرقو کې تقسيم شی او هغه ټولي فرقي به دوزخي وي په هغوئ کې به يوازي يوه فرقه جنتي وي، [٤] صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو چې يارسول الله ﷺ جنتي فرقه به کمه يوه وي؟ ده ﷺ وفرمايل په کمه چې زه او زما اصحاب يو، (ترمذي)

حل اللغات: ① حَذْوَ: اِسْتِعَارَةٌ فِي التَّسَاوِي: د يوڅيز دبل څيز سره د برابر والی دپاره استعمالیږی. ② النَّعْلِ: پيزار، څپلئ، ③ تَفَرَّقَتْ: فرقې فرقې شوی وو، مختلفو ډلو کښې تقسيم شوی وو. ④ مِلَّةً: هغه طور طريقې، اقوال او افعال چه يوه ډله، جماعت په هغې باندې متفق وی هغې ته ملت وائی که هغه په حق وی او که په ناحقه.

١٧٢-()[*] [١] وَفِي رِوَايَةِ أَحْمَدَ، وَأَبِي دَاوُدَ، عَنْ مُعَاوِيَةَ: " «ثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ، وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ، وَهِيَ الْجَمَاعَةُ، [٢] وَإِنَّهُ سَيَخْرُجُ فِي أُمَّتِي أَقْوَامٌ تَتَجَارَى بِهِمْ تِلْكَ الْأَهْوَاءُ كَمَا يَتَجَارَى الْكَلْبُ بِصَاحِبِهِ، لَا يَبْقَى مِنْهُ عِرْقٌ وَلَا مَفْصِلٌ إِلَّا دَخَلَهُ».[1]

ترجمه: [١] او احمد او ابوداؤد چې کوم روايت د معاويه رضي الله عنه څخه نقل کړي دي د هغه الفاظ دا دي چې: دوه اويا ډلي به دوزخ ته ځي او يوه ډله به جنت ته ځي او جنتي ډله جماعت دي، [٢] او زما په امت کې به څو قومونه پيدا شي چې په هغوئ کې به خواهشات (يعني په عقايدو او عملونو کې به بدعات) داسې داخليدل وکړي لکه چې د ليوني سپي مَکروب (جراثيم) په هغه چا کښې سرايت کوي چې چيچلي وي چې هيڅ رګ او بند باقي پاتې نه شي.

حل اللغات: ① تَتَجَارَي: أَيْ تَدْخُلُ وَتَجْرِي: داخليږی، جاری کيږی، ② الْأَهْوَاءُ: د هَوًي جمع ده، وَهُوَ مَيْلُ النَّفْسِ إِلَى مَا تَشْتَهِيهِ: خواهشاتو طرف ته د زړه ميلان ته هواء وائی، دلته ددې نه مراد بدعات دی. ③ عِرْقٌ: رګ، ④ مَفْصِلٌ: بند، جوړ.

تسهيلات: **قوله:** حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ:

د مذکوره محاورې مطلب: يعنی څه رنګه چې يو پيزار بل پيزار سره يو شان او مشابه وی نو دغه شان به امت محمديه د يهوديانو او دَ نصاراؤ مشابهت اختيار کړی. دا محاوره دکمال مطابقت او کمال مشابهت په وخت کښې وئيلې کيږی.

قوله: أَتَى أُمَّةً عَلَانِيَةً:

دام په مصداق کښې دوه اقوال: ① علامه طيبی رحمه الله ليکلی دی چې شايد ددې څخه مراد ناسکه مور وی.

[1]) اخرجه ابوداود كتاب السنة/باب شرح السنة(رقم-٤٥٩٧)و احمد فى المسند:١٠٢/٤

② ددې څخه سکه مور هم مراد کيدل څه بلرې خبره نه ده. ځکه چې يورپ په فحاشۍ سره انسان څخه حيوان جوړ کړې دې بلکه بعضې خلقوخوزنا کارى خپله پيشه جوړه کړې ده بلکه وړاندې مې په نټ کښې کتل چې په يوملک کښې دا بل پاس کيدونکې دې چې د خلقو معاشى حالت ښه کولوډپاره ددې خبرې اجازت ورکوى خوهغوى د زناکارۍ اډې جوړې کړى اوپه هغې باندې خپل ضروريات پوره کوى.

قوله: وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي:

دافتراق څخه مراد: دا افتراق او فرقه بندى د فروعاتو په اعتبار سره نه ده بلکه دبنيادى عقائدو په اعتبار سره ده، هم په دې وجه په دې فرقو باندې د دوزخ د اور حکم لګولې شوې دې، يعنى چې دا خلق به د خرابو عقيدو او غلطو نظرياتو په وجه دوزخ ته ځى. او صرف يو نا جيه فرقه به وى چې د خپلو عقيدو په وجه بۀ د دوزخ څخه بچ شى.

دلته په دې خبره پوهيدل پکار دى چې د فرقه ناجيه څخه علاوه دا دوه اويا فرقې د خپلو اصولو او عقائدو په اعتبار سره شپږ دى. بيا هم ددې څخه دفروعاتو په اعتبار سره درې اويا فرقې جوړې شوې دى. هغه شپږ دادى:

① معتزله ② مرجئه ③ مجسمه ④ جبرية ⑤ شيعه ⑥ خوارج

دامت څخه مراد: ددې څخه مراد امت اجابت دې. ځکه چې امت دعوت يعنى غيرمسلمه خو بې شميره فرقې دى. يعنى د امت اجابت به درې اويا فرقې جوړيږى.

د فرق ضالۀ اواهل سنت والجماعت فرق: دا فرق به په عقلى دلائلوسره کيږى او په نقلى دلائلو اوعلاماتوسره به هم اوشى. هغه داسې چه دَدې ناجيه جماعت به دا شان وى چه دَ قرآن کريم حافظان به هم دَدوى نه وى. دَمحدثينو کثرت به هم په دوى کښې وى. فقهاء به هم په دوى کښې وى. باعمل علماء، زاهدان، اهل تصوف، دَ الله تعالى نه ويريدونکى متقيان او پرهيزګاران به په دوى کښې وى او دصحابه کرام هم داشان وو. په نورو فرقو کښې به دا څيزونه موجود نه وى نو هغوى به دَ صحابه کرامو په نقش قدم باندې نه وى. او حضورپاك [ماأناعليه وأصحابى] فرمائيلى دى.

قوله: وَهِيَ الْجَمَاعَةُ:

دجماعة څخه مراد: په دې سره جماعت حقه او جماعت ناجيه طرف ته اشاره ده. بيا دَدې پوره نوم [اهل السنة والجماعة] شو. دا پوره نوم په اصل کښې دَدوى نه وو بلکه دَ ښه عقيدو، نيك اعمال اوافعال، ښه کردار او په صحيح لار تللو دَ وجې نه دَدوى نوم روستو اهل سنت والجماعت شو.

داهل سنت مطلب: دَ اهل سنت مطلب دادې چه په سنت نبوى ﷺ باندې تلونکى خلق اودَ

الجماعة مطلب دا دي چه دَ جماعتِ صحابو پیروکار او دَ هغوی په نقش قدم باندې تلونکی خلق اهل سنت والجماعت دی. کوم خلق چه په سنت باندې تلونکې نه وی یا دَ صحابه کرامو جماعت سره عقیدت نه لری هغوی دَ اهل سنت والجماعت نه خارج دی که هغوی خپل ځان څه هم ګنړی.

قوله: كَمَا يَتَجَارَى الْكَلْبُ بِصَاحِبِهِ:

د يتجاري معنی: دکاف او لام په فتحې سره دَهغې خطرناکې بیمارئی نوم دې چه دَ لیونی سپی دَ چیچلو دَ وجې نه په پوره بدن کښې خوریږی.

لیونی سپی سره د تشبیه وجه: دَ حدیث مطلب دادې چه دَ دې امت دَ اهل باطل بدن او ځان کښې اودَ دوی په هریو رګ کښې به خواهشات او بدعات داسې ورننوتلوسره داخلیږی لکه دَ سپی چیچلو بیماری چه دَ لیونی سپی په رګونو کښې داخلیږی. نوهغه سپې لیونې شی. دکوم دَ وجې نه چه هغه دَ اوبو نه تختی نه اوبه کتلې شی اونه اوبه څکلې شی او څوک چه اوچیچی نوهغه هم دغه شان لیونې شی. هم دغه شان بدعتی دې چه پخپله دَ بدعت بیماری دَ هغه رګ رګ کښې داخلیږی نوهغه حق ته نیزدې کیدې نه شی بلکه دَ حق نه لرې تختی. اوکله چه بل سره ملاویږی نودَ بدعت دا بیماری په هغه کښې هم ورداخلیږی اوهغه هم بدعتی جوړوی. په دې وجه بدعتی واجب الاجتناب دې.

قوله: مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي:

د انبیاؤ مبعثوب کولو ضرورت: دادَ فرقه ناجیه وضاحت دې دَ ما أناعلیه نه اشخاص مع القانون مراد دې. الله تعالی چه څومره آسمانی مذهبونه رالیږلې دی دهغې سره ئی دَ نمونې په توګه انبیاء کرام هم رالیږلی دی. دَ آسمانی قانون بغیر دَ اشخاصو پیروی شرک دې اودَ اشخاصو نه بغیر قانون هم معتبر نه دې.

[١٧٣] دټول امت په ګمراهی باندې عدم اجتماع

١٧٣-(١)[٣٢] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (٢ «إِنَّ اللَّهَ لَا يَجْمَعُ أُمَّتِي أَوْ قَالَ: أُمَّةَ مُحَمَّدٍ - عَلَى ضَلَالَةٍ، ٣ وَيَدُ اللَّهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ، ٤ وَمَنْ شَذَّ شَذَّ فِي النَّارِ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عمر ﷺ روایت کوي چې نبي اکرم ﷺ وفرمایل ٢ چې الله تعالی ﷻ زما امت یا (په ځاي زما د امت) دا وفرمایل چې امت محمدیه به په ګمراهي باندې جمع نه کوي ٢ او د الله تعالی ﷻ لاس په جماعت باندې دي ٣ او څوک چې د جماعت څخه جدا شو هغه به تنها (د جنتیانو د جماعت څخه جدا کیدو سره) په دوزخ کې وغورځول شي. ترمذي

[١] اخرجه الترمذی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی لزوم الجماعة (رقم-٢١٦٧)

حل اللغات: ① يَدُ اللّٰهِ: كِنَايَةٌ عَنِ النُّصْرَةِ وَالْغَلَبَةِ: يعنى د الله تعالى مدد حق جماعت سره دي. ② شَذَّ: أي: انْفَرَدَ عَنِ الْجَمَاعَةِ: يعنى چې د حق جماعت څخه جدا شو نو د عقائدو او خيالاتو په اعتبار سره د كتاب وسنت څخه لرې اوتلو.

تسهيلات: قوله: لَا يَجْمَعُ أُمَّتِي:

د اضافت نوعيت: امتى كښې اضافت تشريفيه دې. او ددې څخه ددې امت شرافت معلوميږى. او په دې كښې د اشاره ده چې د اجماع امت دا شرف صرف دنبى كريم ﷺ امت ته حاصل دې. وړاندينو امتونو ته دا امتياز نه وو حاصل.

د اجماع څخه مراد: ددې اجماع څخه د علماء كرامو او فقهاء كرامو اجماع مراد ده. د عوامو د اجماع هيڅ اعتبار نشته دې. شارحينو ليكلى دى چې ددې حدېث پاك څخه د اجماعِ امت ثبوت ملاويږى.

د اجماع ضرورت: د اجماع په حجيت كښې دا حكمت ضرور دې چې په دين اسلام كښې اختلافات او اړيكې پيدا كيدو په صورت كښې د دين حفاظت دپاره د قوت حافظه او قوت معصومه وجود ضرورى دې، چې دهغې خبره حرف آخر وى او په هغې كښې د غلطئ څه احتمال نه وى. اصل كښې دا قوت معصومه خو نبوت وى. په سابقه امتونو كښې به وخت په وخت پيغمبران راتلل او دا ضرورت به ئې پوره كولو. خو دې امت كښې د ختم نبوت په وجه بل نبى نشى راتلې نو ددې ضرورت پوره كولو دپاره دَ قرآن او حديث په رنړا كښې د اجماع امت وجود دې. ددې امت ددې اوږدې مودې دوران كښې چې د احوالو د تغير په وجه چې كومې نوې نوې مسئلې راپيدا كيږى نو دَ شريعت په رنړا كښې دهغې حل صرف د علماء كرامو اجماع ده، چې د شريعت د حفاظت دپاره د اجماع دا قوت حافظه هر وخت د نوؤ نوؤ مسئلو حل پيش كړى.

د اجماع د حجتيت دليل: اجماع په ادلهٔ اربعؤ كښې يو دليل دې. د اجماع امت حجيت د قرآن پاك څخه هم ثابت دې، د الله تعالى ارشاد دې:

﴿ وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ﴾ ددې ضرورت دپاره نبى اكرم ﷺ دې امت ته د اجماع اختيار وركړې دې. او بيا ئې ددې د محفوظ او مامون حيثيت طرفته اشاره اوفرمائيله چې الله تعالى به دا امت په ګمراهۍ باندې نه جمع كوى. د اجماع دا امتيازى شان صرف دې امت ته د نبوت په بركت ملاؤ شوې دې.

قوله: وَيَدُ اللّٰهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ:

جماعت سره د الله تعالى نصرت: يعنى جماعت من حيث الجماعة چې كله په سنتو باندې قائم وى، كتاب الله ئې كلك نيولې وى، نو د الله تعالى دَ طرفه به دوئ سره مدد كيږى.

[١٧٤] دلوئ جماعت د تابعدارئ حکم

١٧٤-(١)[٣٣] ١ وَعَنْهُ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «٢(اتَّبِعُوا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ ٣ فَإِنَّهُ مَنْ شَذَّ شَذَّ فِي النَّارِ») رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ.

ترجمه: ١ ابن عمر رضي الله عنهما روايت کوي چې نبي اکرم ﷺ وفرمايل ٢ دلوي جماعت پيروي کوي ځکه چې څوك د جماعت څخه جدا شو ٣ هغه به يوازي په اورکي اچول کيږي، ابن ماجه رحمه الله دا حديث د انس رضي الله عنه څخه او ابن عاصم روايت کړي دي په کتاب السنة کي.

حل اللغات: ① السَّوَادَ: أي الْجَمَاعَةِ: جماعت، ډله، ② شَذَّ: أَيْ: انْفَرَدَ عَنِ الْجَمَاعَةِ: يعنى چې د حق جماعت څخه جدا شو نو د عقائدو او خيالاتو په اعتبار سره د کتاب وسنت څخه لرې اوتلو.

تسهيلات:

قوله: اتَّبِعُوا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ:

دسواد اعظم څخه مراد: دَ سواد معنى توروالي دي او ددې اطلاق په جماعت باندې هم کيږي هم ددې مناسبت په وجه د قوم سردار ته سيد وائى چې هغه د قوم دکارونو انتظام کوى. **اعظم** څخه اهل سنت والجماعت دى.

اشکال: اهل حق په هره زمانه کښې دَ اهل باطل په مقابله کښې کم وى بيا هغوى ته سواداعظم يعنى لوئى جماعت څنګه اووئيلې شو؟

داشکال دوه جوابونه: ① دلته د اعظم څخه عظيم اوشان والا جماعت مراد دې.دعدد په اعتبار سره اعظم نه دې مراد ،لکه څنګه چې ابراهيم عليه السلام باندې دهغوى د عظمت په وجه د امة اطلاق شوې دې.

② دَ سواد اعظم نه صرف دَ يو زمانې خلق مراد نه دى بلکه دَ حضرت آدم عليه السلام نه واخله تر ننه پورې چه څومره خلق په حق باندې قائم راروان دى هغه اهل حق سواد اعظم دى او ښکاره خبره ده چه دا لوئى جماعت دې اودَ هرې زمانې دَ اهل باطل نه زيات دى. ددې برعکس کفر يو جماعت نه دې بلکهٔ دَ هرې زمانې هريو جماعت په جدا جدا کفرکښې اخته دې. په کوم کښې چه تسلسل نشته نودغه سواد اعظم نه دې. په دې توجيه سره د اهل بدعت سوال هم ختميږى څوك چه وائى چه مونږ زيات يو نوهم مونږ سواد اعظم يو.

[١٧٥] مسلمان سره د کينه نه ساتلو او په سنت باندې د عمل کولو تاکيد

١٧٥-(٢)[٣٤] ١ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ يَا بُنَيَّ إِنْ

---

[١]) اخرجه ابن ماجة كتاب الفتن/باب السواد الأعظم (رقم-٣٩٥٠)

[٢]) اخرجه الترمذى كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الأخذ بالسنة واجتناب البدع (رقم-٢٦٧٨)

قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ وَلَيْسَ فِي قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ). [۳] ثُمَّ قَالَ: (يَا بُنَيَّ وَذٰلِكَ مِنْ سُنَّتِي، وَمَنْ أَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ أَحَبَّنِي، وَمَنْ أَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه روايت كوي چې نبي اكرم ﷺ ما ته وفرمايل [۲] اې ځويه كه ته په دې باندې قدرت لرې چې د سحر څخه تر ماښامه په دې حال كې تير كړي چې ستا په زړه كې د هيچا سره كينه نه وي نو داسې وكړه [۳] بيا يې وفرمايل اې ځويه دا زما سنت دې نو چې چا زما سنتو سره محبت وساتې هغه زما سره محبت وكړي اوچا چې زما سره محبت وكړي هغه به په جنت كې زما سره وي. ترمذي

حل اللغات: ① غِشٌّ : أي ضِدُّ النُّصْحِ: دا د نصيحت او د اصلاح ضد دې. په دې كښې قلبي خيرې، كينه او بغض او حسد وغيره بد صفات ټول داخل دی.

تسهيلات:

قوله: كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ:

په بغض كينه نه ساتلوسره د نبی عليه السلام رفاقت ملاويدل: يعنی سنتو سره محبت كول او دا خوښول دَ نبی كريم ﷺ سره محبت كول دی. او څوك چې دَ نبی كريم ﷺ سره محبت كوی نو جنت كښې به هم دَ نبی كريم ﷺ سره وی. د سنتو سره د محبت دا مقام دې نو په سنت باندې د عمل كولو به څه مقام وی؟

[۱۷۶] د فساد په وخت كښې په سنت دعمل كولو ثواب

۱۷۶- [۳۵] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ([۲] «مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي، فَلَهُ أَجْرُ مِائَةِ شَهِيدٍ»). رَوَاهُ....)

ترجمه: [۱] ابو هريره رضي الله عنه روايت كوي چې نبي اكرم ﷺ ماته ارشاد وفرمايلي [۲] چې زما د امت د خرابيدو په وخت كښې چې كوم سړي زما په سنتو منګولي ونيولي هغه ته به د سلو شهيدانو ثواب حاصليږي، بيهقي دا روايت په خپل كتاب زهد كې د ابن عباس رضي الله عنهما څخه نقل كړي دي.

حل اللغات: ① تَمَسَّكَ : أَيْ: عَمِلَ : چه منګولې اولګوی يعنی مضبوط اونيسی او عمل اوكړی (په سنت طريقو د نبی عليه السلام باندې).

تسهيلات:

قوله: عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي:

د فساد امت مفهوم: چه اغلبًا او اكثرًا په خلقو كښې جهالت خور شوې وی او هرطرف ته دَ بدعاتو او شركياتو تيارې خورې شوې وی

د سلو شهيدانو ثواب ملاويدو وجه: ياد لرئی چه دې حكمی شهيد دې يعنی د شهيد ثواب

به ورته ملاویږي. په ده باندې به دَ شهید دنیاوی احکام نه جاري کیږي. لهذا ده له به غسل ورکولې شي او کفن به ورته اغوستلې شي. دارنګ دَدې سنت نه مراد داسې سنت دي دَ کوم په ژوندی کولو سره چه دَ دنیا دَ خلقو جګړې اخستې شي. باقاعده اهل باطل سره مقابله کیږي خلق دې دغه سنتو ژوندی ګولوته نه پریږدي. مګر دا سړې په بهادرئی سره مقابله کوي اوسنت ژوندی کوی اودَ معاشرې پرواه نه کوی لکه ډیره ساتل او جهاد ژوندې کولو سنت هم دغه حیثیت دې.

[١٧٧] د یهودیا نو څخه د بعضې خبرو لیکلو مما نعت

١٧٧—(¹)[٣٦] ١ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ «أَتَاهُ عُمَرُ ٢ فَقَالَ: إِنَّا نَسْمَعُ أَحَادِيثَ مِنْ يَهُودَ تُعْجِبُنَا، أَفَتَرَى أَنْ نَكْتُبَ بَعْضَهَا؟ ٣ فَقَالَ: أَمُتَهَوِّكُونَ أَنْتُمْ كَمَا تَهَوَّكَتِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى؟! ٤ لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِهَا بَيْضَاءَ نَقِيَّةً، ٥ وَلَوْ كَانَ مُوسَى حَيًّا مَا وَسِعَهُ إِلَّا اتِّبَاعِي» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ (شُعَبِ الْإِيمَانِ)

ترجمه: ١ جابر ﷺ د حضور ﷺ څخه روایت کوي چې حضرت عمر ﷺ په دربار رسالت کې حاضر شو ٢ او عرض یې وکړو چې مونږ د یهودو حدیثونه اورو او هغه مونږ ته ښه معلومیږي آیا ته ﷺ اجازت راکوي چې مونږ ده هغه څخه بعضې ولیکو؟ ٣ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ایا تاسو هم داسې حیران یې لکه څنګه چې یهود ونصاري حیران وه ٤ (پوه شه چې) بلا شک وشبه ما تاسو ته صفا او روښانه شریعت رواړي دي ٥ که چېرته موسٰی ژوندي وې نو هغه به هم څما په پیروي باندې مجبوره وو. احمد و بیهقي

حل اللغات: ① تُعْجِبُنَا: أَيْ: تَحْسُنُ عِنْدَنَا: مونږ په تعجب کښې اچوی یعنی زمونږ په زړه ډیر ښه لګی. ② أَفَتَرَي : يَعْنِي فَتَأْذَنُ: آیا تاسو دا ښه ګنړئ مونږ دپاره، آیا تاسو مونږته ددې اجازت راکوئ؟. ③ أَمُتَهَوِّكُونَ : أَيْ: أَمُتَحَيِّرُونَ: دا صیغه دَ باب تفعل نه ده او په شروع کښې الف استفهامیه لګیدلې دې. دادَ تحیر او حیرانتیا په معنی کښې دې. آیا تاسو هم حیران یئ (په خپل دین کښې). ④ بَيْضَاءَ: أَيْ: وَاضِحَةً: روښانه یعنی واضحه شریعت، ⑤ نَقِيَّةً: أَيْ: ظَاهِرَةً: پاک صفا یعنی بالکل ښکاره او واضحه. (یعنی روښانه، بې عیب، واضحه، دَ کمی زیاتی نه اودَ شک شبهې نه او دهرقسم عیب نه پاک دې.)

تسهیلات: قوله: أَمُتَهَوِّكُونَ:

دمذکوره جملې مفهوم: یعنی دَهغوی دکتابونو دَمحرف کیدودَ وجې نه هغوي حیران او پریشان دي. اوس هغوی هغه احکامات دَ خپلو راهبانو دَ رائې نه اخلی. آیا تاسو دَهغوی په شان دَ خپل کتاب باره کښې حیران او پریشان یئی چه دا پریخودو سره دَ نورو د

¹) اخرجه احمد فی المسند: ٣٨٧/٣

كتابونو وئيل شروع كول غواړئ. ګورئ تاسو خو قرآن كريم خپل ځان سره ايږدئ آيا تاسو په هغې كښې پريشان او حيران شوى يئ؟ چه آيا دا هم هغه آسمانى كتاب دې كه نه؟ ددې تهديد نه معلومه شوه چه اوس خير او هدايت دَ قيامته پورې هم په قرآن كريم كښې منحصر دې.

[۱۷۸] دمتبع سنت جنت ته داخليدل

۱۷۸ـ(¹)[۳۷] ۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (۲ «مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا، وَعَمِلَ فِي سُنَّةٍ، وَأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ، دَخَلَ الْجَنَّةَ). ۳ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنَّ هَذَا الْيَوْمَ لَكَثِيرٌ فِي النَّاسِ؟ ۵ قَالَ: (وَسَيَكُونُ فِي قُرُونٍ بَعْدِي»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ ابو سعيد خدري ﷺ روايت كوي چې حضور ﷺ وفرمايل ۲ كوم سړي چې حلال رزق وخوري په سنت طريقه باندې عمل وكړو او د هغه د شر څخه خلق په امن كې شو نو هغه به په جنت كې داخليږي، ۳ يو سړي عرض اوكړو چې يا رسول الله ﷺ داسي خلق خونن صبا ډيردي، ۴ رسول الله ﷺ وفرمايل چې زما څخه وروسته به هم داسې خلق وي. ترمذي

حل اللغات: ① طَيِّبًا: أَيْ: مَنْ كَانَ قُوتُهُ حَلَالًا: پاک يعنى دچا خوراک چه حلال وى. ② بَوَائِقَهُ: د بَائِقَةُ جمع ده، وَهِيَ الْمِحْنَةُ الْعَظِيمَةُ: لوې مصيبت او تكليف ته وائى. ③ قُرُونٍ: د قرن جمع ده، أى: أَهْلُ عَصْرٍ: زمانې او مودې ته وائى، دلته ترې اهل عصر مراد دى.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا:

د حلال خوراک د تقديم وجه: په دې حديث پاك كښې ئې حلال رزق مقدم كړيدې. او عمل بالسنه ئې مؤخر كړو. په دې كښې دې حقيقت طرفته اشاره كړې شوې ده چې په سنتو باندې عمل هغه كس كولې شى كوم چې حلال رزق خورى. دالله تعالى ارشاد دې: ﴿يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا﴾. دلته د ﴿ الطَّيِّبَاتِ ﴾ لفظ استعمال شوې دې. د حرام لفظ نه دې استعمال شوې. ځكه چې طيبا خوشبو لره متضمن دې. او د حلال رزق څخه هم د تقوى معنوى خوشبو رازى. د ﴿ الطَّيِّبَاتِ ﴾ څخه داشاره هم ده چې دا كس د مشتبه څيزونو څخه ځان بچ كوى

دحديث جامعيت: په دې حديث پاك كښې دوه عجبيه جملې دى كومو كښې چې د ﴿اكل طيبا﴾ څخه ټولو حقوق الله طرفته اشاره ده. او [وأمن الناس بوائقه] څخه ټولو حقوق

¹) اخرجه الترمذى كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۲۰)

العباد طرفته اشاره ده. او د حقوق الله او د حقوق العباد د مجموعې نوم اسلام او شریعت دې، او شریعت باندې عمل کولو سره جنت ملاوېږي.

قوله: وَسَيَكُونُ فِي قُرُونٍ بَعْدِي:

په هره زمانه کښې دنیکانو خلقو وجود: یعنی نن سبا خو د عهد نبوی ﷺ برکت سره داسې خلق ډیر دی. آیا بیا به هم داسې خلق وی یا به کم شی اوختم به شی؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې بیا به هم تر یو وخته پورې داسې خلق وی یعنی صرف ستاسو زمانې پورې خاص نه دی بلکه تر خیر القرون زمانې پورې به وی.

[۱۷۹] په آخری زمانه کښې د دین په لسمه حصه عمل باندې نجات

۱۷۹–(١)[۳۸] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (②«إِنَّكُمْ فِي زَمَانٍ مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ، ③ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ مَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①ابو هریره رضي الله عنه روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل② تاسو په داسې زمانه کې یئ که په تاسو کې یو سړي د دې احکامو لسمه حصه هم پرېږدي کوم چې ورکول شوې دي نو هغه به هلاك شی ③لیکن یوه زمانه به داسې راشي که یو سړي د دې احکامو په لسمه حصه باندې عمل وکړي نو هغه به دخلاصی لار پیدا کي. ترمذي

حل اللغات: ① عُشْرَ: لسمه حصه، ② هَلَكَ: هلاک به شی، ③ نَجَا: خلاص به شی، کامیاب به شی.

تسهیلات:

قوله: عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ:

په حدیث باندې اشکال: ددې حدیث پاك مطلب باندې پوهیدلودپاره اول په دې سوال باندې پوهیدل پکار دی چې دلته که د مامور به څخه فرائض اسلام مراد واخستې شی نو د حدیث اول جز به صحیح شی که صحابه کرامو د فرائضو لسمه هم پرېښوده نو د هلاکت خطره ده خو د حدیث دویم جز به صحیح نه وی. ځکه چې کوم خلق روستو راځی نو هغوئ دپاره د فرائضِ اسلام یو جز پرېښودل هم جائز نه دی، او چه لا نهه حصې پرېږدی او په لسمه باندې عمل اوکړی او کامیاب شی؟ او که مامور به څخه مستحبات او سنن مراد واخستې شی نو د حدیث دویمه حصه بهٔ صحیح شی چې د سنتو په لسمه باندې عمل کولو والا به کامیاب وی. خو د حدیث اوله حصه به صحیح نه وی. ځکه چې صحابه کرام هم دَ سنتو په معامله کښې دعام امت پشان وو. ځکه چې دَ سنتو په پرېښودو یو کس د وعید او تهدید په دې درجه کښې نه رازی که هغه اول دور وی اوکه دویم دور؟

١) اخرجه الترمذی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۲۶۷)

داشکال جواب: دلته د ماموراتو څخه مراد عام مامورات او فرائض مراد نه دی بلکه دلته ترې امر بالمعروف او نهی عن المنکر مراد دې. او دې ته نورو الفاظ کښې امور تبلیغ وئیلې شی. نو وې فرمائیل چې د امر بالمعروف او دَ تبلیغ په حوالې سره تاسو په داسې زمانه کښې یئ که چرې تاسو یو جز هم پریښودو نو هلاك به شئ. ځکه په دې وخت کښې د حق حامیان زیات دی. او دَ نبوت مبارك دور دې. که چرې تاسو د ددین په تبلیغ او اشاعت کښې سستی کوئی نو اسلام به په جزیرهٔ عرب کښې محدود پاتې شی.

[۱۸۰]د هدایت څخه پس د ګمراهئ سبب

۱۸۰-(¹)[۳۹] [۱]وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«مَا ضَلَّ قَوْمٌ بَعْدَ هُدًى كَانُوا عَلَيْهِ إِلَّا أُوتُوا الْجَدَلَ» [۳]ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- هَذِهِ الْآيَةَ: {مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ} [الزخرف: ۵۸]» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱]ابو امامه رضی الله عنه روایت کوي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل[۲] هدایت موندلو او هدایت باندې قائم پاتې کیدلو څخه وروسته هیڅ یو قوم ګمراه شوې نه دي مګر هغه وخت چې کله پکې جګړه پیدا شوه،[۳] بیا حضور ﷺ دا آیت اووئیلو: **مَا ضَرَبُوهُ لَكَ إِلَّا جَدَلًا بَلْ هُمْ قَوْمٌ خَصِمُونَ**، (قرآن) ترجمه: هغوئ تاسو لره نه بیانوي مثال مګر د جګړې د پاره بلکه هغه قوم جنګ مار دي. ترمذي ابن ماجه

حل اللغات: ① أُوتُوا: أَيْ: أُعْطُوهُ: ورکړې شوه، یعنی پکښې پیدا شوه، ② الْجَدَلَ: وَهُوَ الْخُصُومَةُ: جنګ جګړې او اختلاف په باطل او ناجائزه باندې،③ مَا ضَرَبُوهُ: أَيْ: مَا قَالُوا: نه وائی دوی، یعنی نه بیانوی دا مثال، ④ جَدَلًا: أَيْ لِيُخَاصِمَكَ: دپاره د جګړې او اختلاف تاسره (چه تاته به ناجائزه تکلیف اورسوی نور څه دحق طلب ئې پکښې نه وی). ⑤ خَصِمُونَ: أَيْ: كَثِيرُو الْخُصُومَةِ: ډیر جګړمار خلق دی.

تسهیلات:

قوله: إِلَّا أُوتُوا الْجَدَلَ:

د جدل په مصداق کښې اقوال: ① یعنی کله چې خلق دَسنت په پریخودو به ګمراه کیږی. نو دوئ ته ددې په بدله کښې دَ سزا او عذاب په توګه جګړې او جدل ورکړې کیږی. بیا دوئ په عناد او تعصب سره دخپل مؤقف بې جا حمایت کوی. بیا مکاربه او محاربه اختیار کړی او دا حرامه ده.

② علامه طیبی رحمه الله فرمائی چې جدل څخه مراد عناد او جګړې دی. او د اشان د خپل مذهب او مسلك د ترویج دپاره تعصب کول جدل دې. د خپلو مشائخو او بزرګانو رائې

¹) اخرجه الترمذی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة الزخرف(رقم-۳۲۵۳) وابن ماجة، باب اجتناب البدع والجدل (رقم-۴۸) اخرجه احمد فی المسند: ۲۵۲/۵.

او دهغوی اقوالو باندې په سختۍ سره عمل کول چه کله شریعت دهغوی د اقوالو او افعالو تائید نه کوی. نو دا جدل دې اودا حرام دې.

فائده: که په یو مسئله باندې د پوهې دپاره یا په معلوماتو کښې داضافې دپاره یا سامعینو ته د تعلیم ورکولو یا خبرولو په غرض سره وی نو په دې کښې هیڅ باك نشته دې. دا ممنوع جدال کښې نه دی داخل.

[١٨١] د سختو اعمالو اختیارولو څخه ځان ساتل

١٨١ـ(١)[٤٠] ١ وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ: (٢ «لَا تُشَدِّدُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَيُشَدِّدَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ، ٣ فَإِنَّ قَوْمًا شَدَّدُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ، فَشَدَّدَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ، ٤ فَتِلْكَ بَقَايَاهُمْ فِي الصَّوَامِعِ وَالدِّيَارِ ٥ {وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ} [الحديد:٢٧]» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ انس رضي الله عنه وايي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ٢ تاسو په خپل نفس باندې سختي مه کوي ځکه چې بيا به الله جل جلاله هم په تاسو سختي کوي، ٣ يو قوم (يعني بني اسرائيل) په خپل نفس سختي کړي وه نو الله جل جلاله هم په هغوئ سختي وکړه، ٤ نو نن چې کوم خلق په صوامعو (د عيسايانو د عبادت ځاي) او ديار (د يهوديانو د عبادت ځاي) کې موندل کيږی ٥ دا طريقه دغه خلقو پيدا کړي ده، مونږ په هغوئ باندې فرض کړي نه وه. ابوداؤد

حل اللغات: ① لَا تُشَدِّدُوا: سختی مه کوئ (په خپلو ځانونو چه سخت عملونه کوئ مثلا همیشه روژې نیول، یا ټوله شپه نفلونه کول او ښځو نه جدا اوسیدل وغیره). ② الصَّوَامِعِ: د صَوْمَعَة جمع ده، وَهِيَ مَوْضِعُ عِبَادَةِ الرُّهْبَانِ مِنَ النَّصَارَى: دَ نصاریٰ دَ راهب کوټنړئ ته وائی. ③ الدِّيَارِ: د دَيْر جمع ده. وَهُوَ الْكَنِيسَةُ وَهِيَ مَعْبَدُ الْيَهُودِ: دَ یهودو عبادت خانې ته وائی، دې ته کنیسه هم وائی. ④ رَهْبَانِيَّةً: د رَهِبَ رَهْبَةً نه د فُعْلَانٌ په وزن، أَيْ خَافَ: په معنی د ویرې سره، وهي الْخَصْلَةُ الْمَنْسُوبَةُ إِلَى الرُّهْبَانِ: هغه بدعت ته وائی کوم چه راهب ته منسوب وی. ⑤ ابْتَدَعُوهَا: چه دوی یعنی راهبانو د ځان نه جوړکړې دې. ⑥ مَا كَتَبْنَاهَا: مونږ پرې نه دې فرض کړې (بلکه په خپله ئې جوړکړې او عمل ئې پرې شروع کړې دې).

تسهیلات: **قوله:** لَا تُشَدِّدُوا:

د تشدد څخه ممانعت: یعنی دَ مستحباتو په پریخودو باندې تشدد اوسختی مه کوئی ځکه چه دَ وحی په زمانه کښې دَ سختئی کولو دا نتیجه راوتلې شی چه هغه حکم به فرض شی اوبیا به دَ هغې دَپوره کولو طاقت هم نه وی.

د یهودیانو تشدد: حضورپاك دَ یهودیانو اونصاراؤ مثال هم ورکړو چه هغوی په خپل ځان باندې سختی کولوسره رهباینت اختیارکړو.

---

[١]) اخرجه ابوداود کتاب الأدب/باب فی الحسد(رقم-٤٩٠٤)

د یهودو تشدد: ① ماشومان تختولوسره په خپله نګرانئ کښې پاللوسره راهبان جوړ کړل.
② په زمکه باندې په خپو دَ ګرځیدوپه ځائی پرمخې ګرځیدل. ښځوته نیزدیکیدل ئی ګناه او لوئی معصیت ګنړلو.
③ دَ ویښتوسره به ئی روزانه چتونو پورې ځان تړلو. دَ مرئی غوتې سره به ئی سورې کولو او په هغې کښې به ئي رسئی اچولوسره به خپل ځان چت پورې تړلو. دَ خوندناکو خوراك او څښاك نه، دَ مجامعت دَ ښځونه به ئی خپل ځان لرې ساتلو.

قوله: وَرَهْبَانِيَّةً:

د رهانیت ابتداء: دا لفظ دَ ابتدعوا عامل دَ وجې نه منصوب دې. ښځه بچی اوعام معاشره پریخودو سره په غارونو کښې دَ عبادت دَپاره ځان له ژوندتیرولو عمل ته رهبانیت وائی. عیسایانودا بدعت دَ خپل ځان نه جوړکړې دې. اسلام دَداسې ژوند تیرولواجازت نه ورکوی.

[۱۸۲] د قرآنی آیاتونو پنځه قسمونه

۱۸۲ـ(۱)[۱۴۱] [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ([۲]«نَزَلَ الْقُرْآنُ عَلَى خَمْسَةِ أَوْجُهٍ: حَلَالٍ وَحَرَامٍ، وَمُحْكَمٍ، وَمُتَشَابِهٍ، وَأَمْثَالٍ. [۳] فَأَحِلُّوا الْحَلَالَ، وَحَرِّمُوا الْحَرَامَ، وَاعْمَلُوا بِالْمُحْكَمِ، وَآمِنُوا بِالْمُتَشَابِهِ، وَاعْتَبِرُوا بِالْأَمْثَالِ»). [۴]هَذَا لَفْظُ الْمَصَابِيحِ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)، وَلَفْظُهُ («فَاعْمَلُوا بِالْحَلَالِ، وَاجْتَنِبُوا الْحَرَامَ، وَاتَّبِعُوا الْمُحْكَمَ»).

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل[۲] قرآن کریم په پنځو صورتونو نازل شوې دي ① حلال ② حرام ③ محکم ④ متشابه ⑤ امثال، [۳] نو تاسو حلال حلال وګڼې او حرام حرام وګڼې، په محکم باندې عمل کوي په متشابه باندې ایمان راوړي او د امثال (قصو) څخه عبرت حاصلوي، [۴] دا الفاظ د مصابیح دي او بیهقي چې کوم روایت شعب الایمان کې نقل کړیدي د هغه لفظونه دا دي: لهذا په حلالو عمل کوي او د حرامو څخه ځان ساتي او د محکم پیروي کوي.

حل اللغات: ① أَوْجُهٍ: د وَجْهٌ جمع ده، اقسام او صورتونه او طریقو ته وائی. ② مُحْكَمٍ: چه واضح او ظاهر وی چه د تاویل احتمال پکښې نه وی. ③ مُتَشَابِهٍ: دَ متشابه نه مراد دا وی چه نه صریح امر وی اونه صریح نهی او په دلائلو کښې تشابه ده چه څه دلائل دَ حلت طرف ته اشاره کوی او څه په حرمت دلالت کوی. ④ أَمْثَالٍ: يَعْنِي قَصَصَ الْأُمَمِ الْمَاضِيَةِ: د تیرو شوو امتونو قصې لکه د نوح او صالح علیهما السلام وغیره، ⑤ اعْتَبِرُوا: عبرت حاصلوئ.

[۱]) اخرجه المصابیح السنة رقم الحدیث ۱۴۴

تسهیلات:

قوله: وَمُتَشَابِهٍ:

د متشابه دوه قسمونه: ① هغه متشابه چې معنی او مراد دواړه ئې معلوم نه وی لکه حروف مقطعات
② هغه متشابه چې معنی ئې معلومه وی خو مراد ئې معلوم نه وی لکه «یدالله فوق ایدیهم» دلته د ید معنی معلومه ده خو د الله تعالی دپاره د ید ثبوت ددې مراد مونږ ته معلوم نه دې.

[١٨٣] د امر درې قسمونه

١٨٣–(١)[٣٢] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (٢ «الْأَمْرُ ثَلَاثَةٌ: أَمْرٌ بَيِّنٌ رُشْدُهُ فَاتَّبِعْهُ، وَأَمْرٌ بَيِّنٌ غَيُّهُ فَاجْتَنِبْهُ، وَأَمْرٌ اخْتُلِفَ فِيهِ فَكِلْهُ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل ٢ امر په درې قسمه دې ① هغه امر چې د هغه هدایت ښکاره دې د هغه پیروي کوي ② هغه امر چې د هغه ګمراهي ښکاره ده د هغه څخه ځانونه وژغوري ③ هغه امر چې هغه مختلف فیه دې هغه الله تعالی جل جلاله ته وسپاري. احمد

حل اللغات: ① بَيِّنٌ: أَيْ ظَاهِرٌ: واضحه، ښکاره (لکه مونځ، روژه). ② رُشْدُهُ: هدایت دهغې، ③ غَيُّهُ: أَيْ ضَلَالَتُهُ: ګمراهی دهغې (لکه سود، شراب وغیره). ③ فَكِلْهُ: أَيْ: فَوِّضْ: اوسپارئ.

تسهیلات:

قوله: وَأَمْرٌ اخْتُلِفَ فِيهِ:

د امر په مراد کښې درې اقوال: ① ددې څخه مراد متشابهات دی. چې په هغې کښې اهل زیغ والې اختلاف کوی.
② دې څخه مراد اجتهادی اختلافی مسائل دې په کوم کښې چې دلائل مختلف وی او ددلائلو داختلاف په وجه په کښې اختلاف راغلی وی.
③ دې څخه مراد مسکوته دی د کوم په باره کښې چې د شریعت دطرفه د حلت او حرمت صراحت نه وی نوهغه الله تعالی ته سپارل پکار دی اود اصل په اعتبار سره د اباحت اعتقاد ساتل پکار دی.

[١] لیس عنه احمد فی المسند

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۸۳] دانسانانو شرمخ

۱۸۳–(۱)[۴۳] ① عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الْإِنْسَانِ كَذِئْبِ الْغَنَمِ ③ يَأْخُذُ الشَّاذَّةَ وَالْقَاصِيَةَ وَالنَّاحِيَةَ ④ وَإِيَّاكُمْ وَالشِّعَابَ، وَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَالْعَامَّةِ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① معاذ بن جبل رضي الله عنه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ② چې شیطان د انسان شرمخ دي لکه څنګه چې د بوزي شرمخ وي ③ چې هغه هغه بوزه پورته کوي کمه چې درمي څخه تښتیدلي وي یا د رمي څخه لرې تللي وي یا د رمي په غاړه وي ④ او تاسو د غره د کنډونو (یعني ګمراهيَ) څخه ځان ګوري او د جماعت او مجمع سره ملګرتیا لري. احمد

حل اللغات: ① ذِئْبٌ: شرمخ، ② الشَّاذَّةَ: أي: النَّافِرَةَ: هغه چیلئی ته وائی چه د رمي نه اوتختی او دَ نورو څناورو نه جدا شی. ③ الْقَاصِيَةَ: اَلَّتِي قَصَدَتِ الْبُعْدَ: دَ وښو او اوبو په لټون کښې لرې وتلې چیلئی ته قاصیه وائی. ④ النَّاحِيَةَ: دَغفلت او بې پرواهئ دَ وجې نه چه کله چیلئ دَ رمې نه جدا کیږی هغې ته ناحیه وائی. ⑤ الشِّعَابَ: وَهُوَ الْوَادِي: کنډاؤ ته وائی یعنی وادی (ددې نه مراد هغه ځیزونه دی کوم چه د وادئ سره تړلې وی لکه درندګان، ډاکوان، غلاګر وغیره.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الشَّيْطَانَ ذِئْبُ الْإِنْسَانِ:

د شیطان شرمخ سره د تشبیه وجه: دا تشبیه په فساد هلاکت او تباهی خورولو کښې ده لکه څنګه چه شرمخ دَ ګډو چیلودَپاره دَ هلاکت او فساد سبب دې دغه شان شیطان دَ انسان دَپاره په منزله دَ شرمخ دې.

قوله: وَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ وَالْعَامَّةِ:

د جماعت سره دیو ځائې کیدو ترغیب: خاص کر کله چه چیلئی دَ رمې نه جدا کیږی نو دا هلاکت او فساد زیات خطرناك صورت اختیاروی. دغه شان چه کله یو انسان دَ جماعت حقه نه جدا کیږی دَ جمهورو لار پریخودو سره، دَ حق دَ لوئی لارې نه اخواکیدوسره دقسما قسم ګناهونو په جاړو کښې ورپریوځی. نودَ شیطان دَ پاره دَ هغه ښکارکول آسان شی. لهذا هرسړی له پکار دی چه دَ اهل حق قافلې سره روان شی دې دَپاره چه دَ شیطان دَ حملو نه بچ شی.

(۱) اخرجه احمد في المسند: ۲۴۳/۵

[١٨٥] د جماعت سره د جدا کیدو نقصان

١٨٥ – ()[٣٣] ١ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ ابوذر ﷺ روایت کوي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې د جماعت څخه یوه لویشت برابر هم (یعني د یو ساعت د پاره هم) جدا شو هغه د اسلام پټي د خپلي غاړي څخه ویستله. احمد و ابوداؤد

حل اللغات: ① فَارَقَ: جدا شو، ② شِبْرًا: یوه لویشت، ③ خَلَعَ: أَيْ: نَزَعَ: اوئې ویستله، جدا ئې کړه، ③ رِبْقَةَ: أَيْ: ذِمَّتَهُ: رسئ د اسلام، مراد ذمه واری ده.

د راوي مختصر تعارف: نوم ئې جندب کنیت ئې ابوذر، لقب ئې صدبیح الاسلام وو د پلار نوم ئې جناده او د مور نوم ئې رمله وو د بنوغفار قبیلې سره ئې تعلق ساتلو په اول کښې ډیر مشهور لارشوکونکي ډاکو وو بیا ئې یک دم په ژوند کښې انقلاب راغلو پخپله فرمائی چه د اسلام قبلولو نه درې کاله وړاندې به ما مونځ کولو.

اسلام قبلول: کله چه ئې د نبی کریم ﷺ دعوت واوریدو نو خپل ورو انس ئې د تحقیق کولو دپاره اولیږلو او بیا پخپله راغلو د حضرت علی ﷺ سره ملاؤ شو او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اسلام ئې قبول کړو نبی کریم دوی خپل قوت ته د دعوت دپاره اولیږلو خپل ټول وخت ئې په دعوت او تبلیغ کښې خرچ کولو. نیمه قبیله هم په هغه وخت کښې مسلمانه شوه اونیمه قبیله د هجرت نه پس مسلمانه شوه.

مدینې ته هجرت: د نبی کریم ﷺ د هجرت نه پس ئې مدینې ته هجرت اوکړو او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې به پاتې کیدو.

زهد او تقوی: حضرت ابوذر ﷺ یو تارک الدنیا او زاهد وو د نبی کیم ﷺ او د حضرت ابو بکر ﷺ په زمانه کښې په مدینه کښې اوسیدو د دې نه پس ئې شام ته هجرت او کړو او لاړلو.

د دوی مذهب: د دوی مذهب وو چه کوم مال وی نو هغه د خپل ځان سره ساتل جائز نه دی دا د اوګو تګو او بربنډو حق دې په دې وجه ئې د ټولو صحاب سره اختلاف وو. حضرت عثمان ﷺ دوی مدینې ته راغوښتل دلته ئې هم د خلقو سره اختلاف کولو نو حضرت عثمان ﷺ مجبوره شو اودوی ته ئې اووئیل چه تاسو مکې ته نزدې، ،ربذه،، مقام ته تشریف یوسئ او بعضو وئیلی دی چه دوی په خپله باندې وئیلی وو چه زه به، ،ربذه،، ته لاړ شم اوهلته قیام خوښوم

١) اخرجه ابوداود کتاب السنة /باب فی قتل الخوارج(رقم-٤٧٥٨)اخرجه احمد فی المسند: ١٨٠/٥

وفات: په ربذه کښې د دوی طبیعت زیات خراب شو نو د دوی بی بی په ژړ شوه چه په دې صحراء کښې به څوک دده د تیمارداریٔ یا که مړ شو نو د تکفین بندوبست کوی؟ نو دوی ورته اووئیل زه تاته زیرې درکوم چه هه دا چه نبی کریم ﷺ مونږ ته فرمائیلی وو چه په تاسو کښې به یو په دشته کښې مری هلته به د مسلمانانو یوه ډله راورسی اوهغوی به مو کفن دفن کوی زما نه سوا نور څومره خلقو وو هغوی په آبادیٔ کښې وفات شوی دی صرف زه پاتې یم نو هم داسې اوشوه چه چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د یوې ډلې سره راغلو او دجنازې مونځ ئې پرې اوکړواو د دفن ئې کړو (۱)

مرویات: د دوی د روایاتو شمار ۲۸۱ دې په دې کښې دولس په بخاری او مسلم دواړو کښې دی او په دوو کښې بخاری اوپه اووۀ کښې مسلم منفرد دې.

تسهیلات:

قوله: مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ شِبْرًا:

دمذکوره جملې مفهوم: یعنی کوم کس چې د جماعت څخه جدا شو نوداسې شوه چې هغه د اسلام رسۍ د خپل څټ څخه ویستله ددې څخه مراد د کمال اسلام نفی ده د نفی اسلام نفی نه ده.

قوله: فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ:

د اسلام رسي د څټ څخه په ویستلو کښې دوه اقوال: ① یعنی هغه دَ سټ نه دَ اسلام پټه ویستله داحکم په تغلیظ او تشدید باندې محمول دې.

② دَدې نه مراد دادې چه کله جدا کیدل دَ ده عادت دې نو یو نه یو ورځ به هغه اسلام پریږدی. اودَ هغې پټه به دَ سټ نه ویستلو سره اوغورزوی.

[۱۸۶]د نبی علیه السلام امت ته د دوو څیزونو پریخودل

۱۸۶–(۲)[۳۵] [۱] وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- مُرْسَلًا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ رَسُولِهِ». رَوَاهُ فِي (الْمُوَطَّأِ)

ترجمه: [۱] مالك بن انس رضی الله عنه مرسلاً روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] ما ستاسو په مینځ کې دوه څیزونه پریښي دي ترڅو پورې چې تاسو هغه (مضبوط) نیولي وي نو هیڅ کله به ګمراه نه شی هغه کتاب الله (قرآن مجید) او سنت رسول الله (احادیث) دي. موطا

حل اللغات: ① تَمَسَّكْتُمْ: أَيْ: عَمِلْتُمْ: چه منګولې اولګوئ تاسویعنی عمل اوکړئ (په قرآن اوحدیث باندې).

---

(۱) مستدرک حاکم (۳۴۶\۱۳)_(۲)تهذیب الکمال (ص،۴۴۹۰)_(۳) الترمذی فی صفة القیامة باب ولکن یا حنظلة ساعة وساعة رقم۲۴۴۱،والحدیث الذی فی ذیل هدا الحدیث رواه احمدفی مسند بنی هاشم رقم ۲۵۳۷)

(۲) اخرجه مالک کتاب القدر /باب النهی عن القول بالقدر(رقم-۳)

تسهيلات: قوله: مُرْسَلًا:

دمرسل تعريف: مرسل هغه روايت ته وائی چه يوتابعي دَ حضورپاك نه نيغ په نيغه يو حديث نقل كړي لكه چه [قال الأعمش قال رسول الله صلى الله عليه وسلم].

مذكوره روايت ته د مرسل وئيلو وجه: امام مالك رحمه الله تابعي نه دې بلكه تبع تابعي دې خود ددې باوجود دې روايت ته د منقطع په ځائې مرسل ځكه اوئيلو شو چې دا ئی توسعاً او مسامحةً فرمائيلی دی.

دمرسل روايت په قبوليت كښې اختلاف: دَحديث مرسل په قبوليت كښې داسې اختلاف دې كه چرې دَ دې نقل كونكې راوی ثقه وی اوهغه دَ ثقه راوی نه روايت كوی نودَ امام مالك رحمه الله امام ابوحنيفه رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيزبه دا روايت مقبول وی. امام شافعي رحمه الله فرمائی چه كه دَ مرسل روايت دَ نورو صحيح رواياتو سره توثيق كيږی نو مقبول دې ګڼی نه دې. يعنی چرته په بل روايت سره دَهغې توثيق اوتائيد كيږی اګرچه هغه روايت پخپله مرسل ولې نه وی.

قوله: تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ:

دهدايت دوه چينې: ① قرآن كريم پاك چې د الله تعالى آخرى كتاب دې اودا د هرقسم تحريفاتو څخه پاك دې.

② د نبی عليه السلام سنت يعنی احاديث مقدسه زما نه پس دَ هدايت دَپاره دَ هدايت سامان دې

قوله: لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا:

په قرآن اوسنت د عمل كولوضرورت: الله تعالى انسانانو ته دَ هدايت وركولو وعده كړې ده. اوس به هدايت په كوم صورت سره وركړې كيدې شی؟ اودَ نبی كريم صلى الله عليه وسلم نبوت د آخری نبی نبوت دې دنيا ته بل نبی نه شی راتلې. لهذا دَ هدايت جاری پاتې كيدو حضورپاك دا اعلان كړې دې چې ستاسودګمراهی څخه بچ كونكی دوه څيزونه دی دالله تعالى كتاب او زما سنت.نو چه څوك هم دَ هدايت دا سرچشمې په مضبوطيا سره نيسی هغه به دَ ګمراهونه بچ وی.

[١٨٧] دبدعت په راتلو د سنت ختميدل

١٨٧ـ(١)[٣٦] [١] وَعَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ الثُّمَالِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَا أَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً إِلَّا رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ؛ [٣] فَتَمَسُّكٌ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِنْ إِحْدَاثِ بِدْعَةٍ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] غضيف بن حارث الثمالي رضي الله عنه روايت كوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] چې كله يو قوم په دين كې نوي خبره را وباسي (يعني داسې كار كوم چې د سنتو خلاف وي) نو د

---

(١) اخرجه احمد فی المسند: ٤/١٠٥

هغه په مثل یو سنت پورته کیږي ۳ نو د دې وجي څخه سنت مضبوط نیول د نوي خبري را ایستلو (یعني بدعت) څخه ښه دي. احمد

حل اللغات: ① أَحْدَثَ: أَيْ: جَدَّدَوَابْتَدَعَ: نوې خبره، بدعت ئې راویستلو. ② بِدْعَةً: په لغوی توګه بدعت یو نوې څیز اونوی کار کولوته وائی. او دَ شریعت په اصطلاح کښې بدعت هغه نوې کاردې چه په خیرالقرون کښې نه وی او سلف اوخلف دَهغې طرف ته محتاج وی. او یو سړې هغه دَ ثواب حاصلولو په نیت اوکړی. ③ رُفِعَ: پورته کولې شی یعنی ختمولې شی. ④ فَتَمَسُّكٌ: منګولې لګول یعنی مضبوط نیول او عمل کول (په سنت طریقو د نبی عليه السلام باندې).

تسهیلات: قوله: إِلَّا رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ:

د بدعت په ایجاد د سنت د ختمیدو وجه: بدعت دَ سنت ضد دې اوکله چه دَ بدعت غلبه اوشی نو سنت به اوچتولوسره لاړشی اوهم دغه شان دَدې عکس دې چه کله دَ غلبې په توګه سنت عام شی بدعت به ورانیدوسره ختم شی. دا دواړه دَ یو بل ضد دی چه کله یو ځائی کیدې نه شی.

قوله: فَتَمَسُّكٌ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِنْ إِحْدَاثِ بِدْعَةٍ:

بلاغی نکته: دلته [سنة] کښې تنوین دَ تقلیل دَپاره دې. یعنی وړوکې سنت یا لږ سنت [بدعة] یعنی لوئی بدعت، تنوین دَ تعظیم دَپاره دې.

د خیر دصیغې حیثیت: یعنی سنت په مضبوطیا سره نیول دَ بدعت ایجاد کولو نه بهتر دی. دلته لفظ خیر دَ اسم تفضیل په معنی کښې نه دې بلکه دَ اصل صیغې په معنی کښې استعمال شوې دې. لکه [الصیف احرمن الشتاء] دلته دَ مثلها لفظ دَ ضدین دَ نسبت تضاد دَ وجې نه وئیلې شوې دې.

[۱۸۸] د بدعت په ایجاد د سنت تلل

۱۸۸ـ() [۴۷] ۱ وَعَنْ حَسَّانَ، قَالَ: مَا ابْتَدَعَ قَوْمٌ بِدْعَةً فِي دِينِهِمْ إِلَّا نَزَعَ اللَّهُ مِنْ سُنَّتِهِمْ مِثْلَهَا، ثُمَّ لَا يُعِيدُهَا إِلَيْهِمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ حسان رضي الله عنه فرمایي چې هر کله یو قوم په خپل دین کې نوي خبره (یعني داسې خبره چې د سنتو خلاف وي) را وباسي نو الله تعالی جل جلاله د هغه د سنت څخه د هغه مثل اوباسي (یعني چې هر کله چې څه بدعت پیدا کیږي نو د هغه مثل سنت د دنیا څخه اوچتولي شي) او بیا هغه سنت تر قیامته وهغه طرف ته نه واپس کیږي. دارمي

حل اللغات: ① ابْتَدَعَ: نوې کار یعنی بدعت ئې شروع کړو (چه د سنت سره مقابل وو). ② نَزَعَ: اوباسی یعنی د دنیا نه ئې اوچتوی او ختموی).

۱) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۹۸

تسهیلات: قوله: لَا يُعِيدُهَا إِلَيْهِمْ:

د ختمیدو څخه پس د سنت نه راتلو وجه: دَدې وجه داده چه دا سنت په خپل ځائی باندې کلك او مضبوط وو اودې دَ ونې په شان په زمکه کښې جرړې خښې کړې وې. نوچه کله دا دَ بیخ نه راویستلې شو او ضائع کړې شو نودا دوباره په هغه شکل کښې نه شي قائمِ کیدې. لکه څنګه چه یوه ونه په زمکه کښې خپلې جرړې مضبوطوی. نودَ راویستو سره د هغه ونې جرړې دَ خپل اصلی حالت طرف ته واپس کیدې نه شي. اونه هغه ونه مضبوطه کیدې شي. دغه شان سنت دَ ختمیدونه پس دوباره دَ خپل اولنی حالت په شان مضبوطیدې نه شي. سره دَدې چه هغه دوباره راژوندې هم کړې شي.

[۱۸۹] دبدعتي عزت کولوجرم

۱۸۹ – (¹)[۳۸] ۱ وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ، فَقَدْ أَعَانَ عَلَى هَدْمِ الْإِسْلَامِ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ) مُرْسَلًا.

ترجمه: ۱ ابراهیم بن میسره رضي الله عنه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړي چې د یو بدعتي عزت وکړو هغه د اسلام (ستن) په راوغورزولو کښې مدد اوکړو. بیهقي

حل اللغات: ① وَقَّرَ: أَيْ: عَظَّمَ أَوْنَصَرَ: تعظیم اوعزت ئې اوکړو یا ئې دهغه مدد اوکړو. ② أَعَانَ: مدد ئې اوکړو. ③ هَدْمِ: رانړول، راغورزول.

تسهیلات:

قوله: فَقَدْ أَعَانَ عَلَى هَدْمِ الْإِسْلَامِ:

د اسلام په نړولو کښې د مدد کولومطلب: یعنی په خلقو کښې ئې هغه مقبول جوړکړو دَهغه تعظیم ئی اوکړو اودَ هغه اکرام او احترام ئی اوکړو دکوم په وجه چه په خلقو کښې دَ هغه اعتماد پیدا شو نوهغه سړی دَ اسلام سرحدات راغورزولو کښې امداداوکړو.

قوله: عَلَى هَدْمِ الْإِسْلَامِ:

دبدعت د ایجاد د اسلامی عمارت نړولوسره د تشبیه وجه: هر څیز په خپل حدودو باندې قائم وی. که چرې حدود نه وی نوهغه څیز هم قائم نه شي پاتې کیدې بلکه ختمیږی. نو مبتدع سړې خپل بدعات او نوی نوی څیزونه په اسلام کښې داخلولو سره په اسلام کښې کنډر کوی اودَ هغې حدود راغورزوی. او دَ خپل جهالت په ذریعه سره سنت ختموی اودَ هغې په ځائی بدعت راولی. نوداسې بدعتی مقبول جوړول بعینه دَ اسلام عمارت راغورزولو په شان دې. لهذا دغه سړې هم دَ اسلام حدود راغورزولو کښې د دغه بدعتی امدادی شو.

¹) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۹۴۶۴

[۱۹۰] د قرآن تابعداری د دنیا او آخرت کامیابی

۱۹۰—(۱)[۴۹] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: مَنْ تَعَلَّمَ كِتَابَ اللَّهِ ثُمَّ اتَّبَعَ مَا فِيهِ؛ [۲] هَدَاهُ اللَّهُ مِنَ الضَّلَالَةِ فِي الدُّنْيَا، وَوَقَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ سُوءَ الْحِسَابِ. [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: مَنِ اقْتَدَى بِكِتَابِ اللَّهِ لَا يَضِلُّ فِي الدُّنْيَا وَلَا يَشْقَى فِي الْآخِرَةِ [۴] ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: {فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى} [طه: ۱۲۳]. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي چې کوم سړي د کتاب الله علم حاصل کړي او بیا د هغه شي پیروي یې وکړه کوم چې په کتاب الله کې وي [۲] نو الله تعالی جل جلاله به هغه په دنیا کې د ګمراهۍ څخه لرې کولو سره د هدایت په لاره ولګوي (یعني هغه به د هدایت په لاره ثابت قدم وساتي او د ګمراهۍ څخه به یې وساتي) او د قیامت په ورځ به هغه د خراب حساب څخه محفوظه وي (یعني د ده څخه به مواخذه نه کیږي) [۳] او په یو روایت کې دي چې کوم سړي د کتاب الله پیروي وکړه نو نه به هغه په دنیا کې ګمراه شي او نه به په آخرت کې بد بخته شي (هغه ته به عذاب نه ورکول کیږي) [۴] تر دي وروسته ابن عباس رضی الله عنهما دا آیت تلاوت کښي: فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى. رزین

حل اللغات: ① هَدَاهُ اللَّهُ: أَيْ آمَنَهُ اللَّهُ: هدایت به ورته اوکړي الله پاک یعنی د اسلام په نیغه لار به ئې روان کړي او دګمراهئ نه به ئې بچ اوساتي. ② وَقَاهُ: أَيْ: حَفِظَهُ: بچ به ئې اوساتي او محفوظ به ئې کړي. ③ اقْتَدَي: تابعداری ئې اوکړه (په اعتقاداتو او عباداتو وغیره کښې). ④ لَا يَشْقَى: نه به بدبخته شي (یعنی په دنیا او آخرت کښې به کامیاب شي).

[۱۹۱] د اسلام د بعضې اهمو اعمالو مثال

۱۹۱—(۲)[۵۰] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا، [۲] وَعَنْ جَنْبَتَيِ الصِّرَاطِ سُورَانِ، [۳] فِيهِمَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ، وَعَلَى الْأَبْوَابِ سُتُورٌ مُرْخَاةٌ، [۴] وَعِنْدَ رَأْسِ الصِّرَاطِ دَاعٍ يَقُولُ: اسْتَقِيمُوا عَلَى الصِّرَاطِ وَلَا تَعْوَجُّوا، [۵] وَفَوْقَ ذَلِكَ دَاعٍ يَدْعُو، كُلَّمَا هَمَّ عَبْدٌ أَنْ يَفْتَحَ شَيْئًا مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ قَالَ: وَيْحَكَ! لَا تَفْتَحْهُ؛ فَإِنَّكَ إِنْ تَفْتَحْهُ تَلِجْهُ". [۶] ثُمَّ فَسَّرَهُ فَأَخْبَرَ: "أَنَّ الصِّرَاطَ هُوَ الْإِسْلَامُ، وَأَنَّ الْأَبْوَابَ الْمُفَتَّحَةَ مَحَارِمُ اللَّهِ، وَأَنَّ السُّتُورَ الْمُرْخَاةَ حُدُودُ اللَّهِ، [۷] وَأَنَّ الدَّاعِيَ عَلَى رَأْسِ الصِّرَاطِ هُوَ الْقُرْآنُ، وَأَنَّ الدَّاعِيَ مِنْ فَوْقِهِ وَاعِظُ اللَّهِ فِي قَلْبِ كُلِّ مُؤْمِنٍ»". رَوَاهُ رَزِينٌ، وَرَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود رضی الله عنه روایت کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] الله تعالی جل جلاله یو مثال بیان کړي دي (هغه دا چې) یوه نیغه لاره ده [۳] او د هغه دواړو طرفو ته دوه دیوالونه دي [۴] په هغه دیوالونو کې خلاصي دروازي دي، په هغه دروازو پردي پرتي دي [۵] او د لاري په سر یو بلونکي ولاړ دي چې بلنه کوي وایي چې په نیغه لار راځي په غلطه

---

(۱) اخرجه رزین

(۲) اخرجه احمد فی المسند: ۱۸۲/۴

لاره مه ځي، ⑥د دي آواز کولو والا د پاسه (یعني د هغه ځخه مخکي) ولاړ یو دویم بلونکي دي هر کله چې یو بنده د هغه دروازو ځخه یوه دروازه خلاصول غواړي نو هغه دویم بلونکي وايي په تا افسوس دي دا مه خلاصه وه که دا خلاصه کښې او په دي کښې داخل شی (نو هلته به سخت تکلیف کې یي) ⑦ بیا حضور ﷺ د دي مثال وضاحت وکړو او وي فرمایل د نیغه لاري ځخه مراد اسلام دي (چې د هغه په اختیارولو سره جنت ته رسي) او د خلاصو دروازو ځخه مراد هغه ځیزونه دي کوم چې الله تعالی ﷻ حرام کړي دي (چې د هغه اختیارول د تکمیل اسلام منافي یعنی خلاف دي) او په دروازو د پرتو پردو ځخه مراد د الله تعالی ﷻ قائم کړي حدود دي او د لاري په سر چې بلونکي ولاړ دي د هغه ځخه مراد قرآن کریم دي ⑧او هغه دویم بلونکي چې د اولني بلونکي ځخه مخکې ولاړ دي د هغه ځخه مراد د الله تعالی ﷻ د طرفه ځخه یو نصیحت کونکي شي دي چې هغه د هر مؤمن په زړه کې دي، رزین، احمد

حل اللغات: ① ضَرَبَ: بیان کړې ئي دي (مثال). ② جَنْبَتَي: أَيْ: عَنْ طَرَفَيْهِ: دواړه طرفونه (یعنی ښي اوګس طرف). ③ سُورَانِ: أَيْ: جِدَارَانِ: دوه دیوالونه، ④ مُفَتَّحَةٌ: پرانستي، خلاصي شوې، ⑤ سُتُورٌ: د سِتر جمع ده، پردې ته وائی. ⑥ مُرْخَاةٌ: أَيْ: مُرْسَلَةٌ: زوړندیدو ته وائی. یعنی زوړنده پردې په دروازو باندې پرتې دی. ⑦ لَاتَعْوَجُّوا: د اِعْوِجَاج نه دي، أَيْ: لَاتَمِيلُوا: یعنی په غلطه لاره مه ځئ. ⑧ هَمَّ: أَيْ: قَصَدَوَأَرَادَ: یعنی قصد او اراده ئې اوکړه. ⑨ وَيْحَكَ: دا کلمه د زجر ده، د افسوس په طور د رحم دپاره استعمالیږي. یعنی افسوس دې په تا باندې، ⑩ تَلِجُهُ: أَيْ: تَدْخُلُهُ: یعنی ته به په هغې کښې داخل شې. ⑪ مَحَارِمُ اللّٰهِ: دالله تعالی د طرفه حرام کړې شوی ځیزونه.

تسهیلات:

قوله: وَاعِظُ اللّٰهِ فِي قَلْبِ كُلِّ مُؤْمِنٍ:

د واعظ الله ځخه مراد: دې نه مراد هغه فرښته ده چه دَ هرمؤمن په زړه کښې وی اودَ مؤمن په زړه کښې دَ نیکئی الهام کوی. دَدې پوره تفصیل باب الوسوسه کښې تیرشوې دې [الکاشف: ۳۸۴/۱.]

دشیطان انسان سره دشمنی: بهرحال پوره حدیث مونږ ته دا تعلیم راکوی چه دَ انسان یو پټ دښمن دې دَ هغه نوم شیطان دې. چه هروخت زمونږ په شیش کښې ناست وی چه لږ شان دا مسلمان دَ اهل حق دَ جماعت نه اخوادیخوا شی نو شیطان هغه په مکمل توګه باندې هلاك کړی. الله تعالی دَ دغه پټ دښمن دَ پاره دَ فرښتو یوه خفیه ځوکئی کینولې ده چه دَ نیکو نصیحت او الهام کوی.

١٩٢—(١)[٠] وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ) عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ، وَكَذَا التِّرْمِذِيُّ عَنْهُ إِلَّا أَنَّهُ ذَكَرَ أَخْصَرَ مِنْهُ.

ترجمه: او بيهقي دا روايت په شعب الايمان كې د نواس بن سمعان څخه نقل كړي دي او ترمذي هم د هغه روايت كړيدي دي خو ترمذي مختصراً بيان كړي دي.

[١٩٣] دصحابه كرامو د تابعدارۍ كولو نصيحت

١٩٣—(٢)[٥١] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: مَنْ كَانَ مُسْتَنًّا؛ فَلْيَسْتَنَّ بِمَنْ قَدْ مَاتَ فَإِنَّ الْحَيَّ لَا تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ، ٢ أُولَئِكَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانُوا أَفْضَلَ هَذِهِ الْأُمَّةِ، ٣ أَبَرَّهَا قُلُوبًا وَأَعْمَقَهَا عِلْمًا، وَأَقَلَّهَا تَكَلُّفًا اخْتَارَهُمُ اللَّهُ لِصُحْبَةِ نَبِيِّهِ، وَلِإِقَامَةِ دِينِهِ، ٤ فَاعْرِفُوا لَهُمْ فَضْلَهُمْ، وَاتَّبِعُوهُمْ عَلَى آثَارِهِمْ، وَتَمَسَّكُوا بِمَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ أَخْلَاقِهِمْ وَسِيَرِهِمْ، ٥ فَإِنَّهُمْ كَانُوا عَلَى الْهُدَى الْمُسْتَقِيمِ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: ١ ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې كوم سړي چې د يوي طريقې پيروي كول غواړي نو هغه لره پكار دي چې د هغه خلقو لاره اختيار كړي كوم چې مړه شوې دي ځكه چې ژوندي سړي (په دين) كې د فتنې څخه محفوظه نه وي ٢ او كوم خلق چې مړه شوې دي (او د هغوئ پيروي كول پكار ده) هغه د حضور ﷺ اصحاب ووچې د دې امت د ټولو څخه ښه خلق وو ٣ د زړونو په اعتبارسره د انتها درجې نيك وو، د علم په اعتبار سره انتهايي كامل او ډير كم تكليف كونكي وو، الله تعالىٰ جل جلاله هغه د خپل نبي د رفاقت (ملګرتيا) او دخپل دين د قائمولو د پاره منتخب كړي وو، ٤ نو تاسو د هغوئ بزرګي اوپيژني اودهغوئ د نقشِ قدم پيروي اوكړو تر كمه چې وشي د هغوئ آداب واخلاق اختيار كړي ٥ (ځكه چې) هغه خلق د هدايت په نيغه لاره وو. رزين

حل اللغات: ① مُسْتَنًّا: أَيْ: مُقْتَدِيًا: تابعداري او پيروي كونكې، استنان دَ چا اتباع او دَ چا په نقش قدم باندې تللو ته وئيلې شي. هم دَدې نه سنت دې. ② الْفِتْنَةُ: آزمائش، امتحان، ③ أَبَرَّهَا: داسم تفضيل صيغه ده، أَيْ: أَطْوَعَهَا: ډير تابعدار او نيكان، ④ أَعْمَقَهَا: أَيْ: أَكْثَرَهَا غَوْرًا: ډير زيات اوكامل، ژور علم والا، ⑤ تَمَسَّكُوا: أَيْ: خُذُوا وَاعْمَلُوا: لازم اونيسئ، عمل پرې اوكړئ. ⑥ سِيَرِهِمْ: سِيَر د سيرة جمع ده، سيرت دهغوى يعنى دهغوى طور طريقې.

تسهيلات: قوله: قَدْ مَاتَ فَإِنَّ الْحَيَّ لَا تُؤْمَنُ عَلَيْهِ الْفِتْنَةُ:

د مات او حي څخه مراد: ددې نه هغوى رضي الله عنهم هغه صحابه كرام مراد واخستل چه دَ دنيا نه تلى وو اودَ الحى نه هغوى رضي الله عنهم دَخپلې زمانې تابعين مراد اخستې دى. دَدې ګواهئى نه پس دَ صحابو دَ يو دښمن دَ هيڅ غلطې خبرې اعتبار نشته دې.

---

(١) اخرجه الترمذى كتاب الأمثال عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى مثل الله لعباده (رقم-٢٨٥٩) والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٧٢١٦

(٢) اخرجه رزين

قوله: وَأَعْمَقَهَا عِلْمًا:

دصحابؤ دعلم ژوروالي: یعنی دَ صحابه کرامو ﷺ علم وسیع کیدو سره سره ژور هم وو. هر صحابي دَعلم اومعرفت، فهم و فراست، تدبر اوتفکر، دَعقل او دانش دَ رنړا یوه مناره وه. دَ چا نه چه دَ دنیا مظلومانو او په چهالت کښې اخته انسانانو دَ تعلیم، ترقئی، تهذیب، شرافت، عظمت او دَ انسانیت درس واغستلو. چنانچه یو صحابي تفسر او حدیث کښې بې مثال وو نو څوك په فقه او قرأت کښې امام وو، څوك دَ تصوف علمبردار وو نو څوك په کښې دَعلم الفرائض اوعلم الحلال والحرام امام وو.

قوله: وَأَقَلَّهَا تَكَلُّفًا:

د صحابؤ بې تکلفی: یعنی دَ علم اوعرفان غرونه کیدوسره سره دَ صحابه کرامو ﷺ دَ بې تکلف کیدو دا حال وو چه که هغوی به هرڅومره په اوچت منصب باندې ولې نه وو خپې ابله خپې تلو کښې به ورته هیڅ شرم نه محسوسیدو. او نه به ئی په زمکه باندې مونځ کولو، کیناستلو یا سملاستلو کې څه شرم محسوسولو. په یولوښی کې به لسولسو کسانو خوراك کولو او پیرې پیرې کپړې به ئی اغوستلې. حلال خوراك چه به دَ کوم قسم نه هم راغلو بغیردَ څه تکلف نه به ئی خوړلو کومه کپړا چه به ورته ملاؤ شوه اغوستله به ئی. غرض دا چه دَ بناوټ اوتکلف نه دومره لری وو چه دکوم نه دوراندې تصور هم ممکن نه وو.

قوله: فَاعْرِفُوا لَهُمْ فَضْلَهُمْ:

صحابه اود حق معیار: یعنی دَ هغوی فضیلت اوپیژنئی دَهغې اعتراف اوکړئی دهغوي تابعداري وکړئي ځکه چه هغوی دَ هدایت په لویه لار باندې وو. دادَ حضرت ابن مسعود ﷺ گواهی ده چه دَ خپلو ملګرو او دَ رسول الله ﷺ دَ صحابه کرامو باره کښې هغوی دَ یو څو صحابو او عام تابعینو په مخکښې په توګه دَ معیار او پیمانې کړې

[١٩٣] د صحابه کرامو د نبی علیه السلام په مزاج پوهیدل

١٩٣ — (١)[٥٢] ١ وَعَنْ جَابِرٍ «أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَتَى رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِنُسْخَةٍ مِنَ التَّوْرَاةِ، ٢ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! هَذِهِ نُسْخَةٌ مِنَ التَّوْرَاةِ، فَسَكَتَ ٣ فَجَعَلَ يَقْرَأُ وَوَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَغَيَّرُ. ٤ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ! مَا تَرَى مَا بِوَجْهِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ ! ٥ فَنَظَرَ عُمَرُ إِلَى وَجْهِ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ غَضَبِ اللَّهِ وَغَضَبِ رَسُولِهِ، رَضِينَا بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا. ٦ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ بَدَا لَكُمْ مُوسَى فَاتَّبَعْتُمُوهُ وَتَرَكْتُمُونِي لَضَلَلْتُمْ عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ، وَلَوْ كَانَ حَيًّا وَأَدْرَكَ نُبُوَّتِي لَاتَّبَعَنِي» رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

(١) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ٤٣٥

ترجمه: ۱جابر رضي الله عنه راويت كوي چې يو ځل حضرت عمر ابن خطاب رضي الله عنه نبي كريم ﷺ ته د تورات يوه نسخه راوړه ۲او عرض يي وكړو چې يا رسول الله ﷺ دا د تورات نسخه ده نبي كريم ﷺ چپ شو ۳بيا حضرت عمر رضي الله عنه تورات ويل شروع كړل اخوا د غصي څخه د نبي كريم ﷺ مخ مبارك متغير كيدي ۴(په دي ليدو سره) حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه اوويل اي عمره وركونكي دي تا ورك كې آيا ته د نبي كريم ﷺ مخ مبارك (متغير كيدونكي) نه ويني، ۵حضرت عمر رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ په مخ مبارك د غصي آثارو ليدو سره يي اوويل زه د الله جل جلاله د غضب او د هغه د رسول د غضب څخه پناه غواړم زمونږ د الله تعالى جل جلاله په رب كيدو د اسلام په دين كيدو او د محمد ﷺ په نبي كيدو راضي يو، ۶نبي كريم ﷺ وفرمايل قسم دي په هغه ذات چې د هغه قبضه كې د محمد (ﷺ) ساه ده كه موسٰي (عليه السلام) ستاسو په مينځ كې ښكاره شوې واىي نو تاسو به د هغه پيروي كوله او زه به مو پريښودلم (د هغه په نتيجه كښې به) تاسو د نيغه لاري څخه گمراه شوې وايي او كه هغه ژوندي وې بيابه هم (يقينًا) زما پيروي كوله. دارمي

حل اللغات: ① ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ: ثِكل دَ كاف په كسرې سره د فقدان او وركيدو په معنى كښې دې، او الثَّوَاكِلُ دَ ثَاكِلَةٌ جمع ده هغه ښځې ته وائى دَ كومې بچې چه ورك شوې وى يا هلاك شوې وى او هغه ډيرزيات ژړا فرياد كوى د ثواكل نه مراد نزدې رشته داران دى يعنى: مِنَ الْأُمَّهَاتِ وَالْبَنَاتِ وَالْأَخَوَاتِ: مطلب دا چه تا دې وركونكې مئيندې ورك كړى يا خوئيندې يا لونړه دې ورك كړى يعنى ته دې مړشې، په ظاهركښې دا خيرې ښكارى خو ددې نه مراد خيرې نه دى بلكه تاديب او تنبيه ده. ② لَضَلَلْتُمْ: خامخا گمراه به شئ تاسو، ③ سَوَاءِ السَّبِيلِ: نيغه لار يعنى صراط مستقيم

تسهيلات:

توله: فَجَعَلَ يَقْرَأُ:

عمررضى الله عنه اودعلم حرص: حضرت عمر رضي الله عنه دَعلم حريص او شوقين وو. دَحكمت اومعرفت قدردان وو. يهودو له به كله كله تللو. اول ئى دَ څه نيكو خبرو دَ اوريدو اجازت غوښتې وو اوس ئى څه ښې خبرې اورول شروع كړه. خيال ئى اوكړو چه دا به دَ غيرمحرف او منزل من الله تورات حصه وى. دَ هغوى داخيال نه وو چه حضورپاك به غصه كيږى او حضرت عمر رضي الله عنه په بې خيالئى كښې لوستلو.

توله: ثَكِلَتْكَ الثَّوَاكِلُ:

دمذكوره جملې مفهوم: دا محاوره په عربو كښې عاموخبرو اتروكښې وئيلې شى دې نه حقيقى معنى مراد نه اخلى. حضرت ابوبكر رضي الله عنه اوفرمائيل چه ژړا كونكې ښځې دې په تا باندې اوژاړى يعنى ته ورك شې دَ يوفعل دَ انكار او خفگان په وخت دا جمله دعربو په

محاوره کښې وئيلى كيږي. نو دلته صرف دَ انكار او حيرانتيا دَپاره استعمال شوې ده.

قوله: فَنَظَرَ عُمَرُ:

دنبى عليه السلام د خوشخاله كولو كوشش: حضرت عمر ﷺ خوبيا عمر وو. مُلْهَم و محدث وو اشدهم في امرالله عمر وو. فوري ئى توبه اوكړه او دَ الله تعالى او دَ هغه دَ رسول ﷺ دَ غضب نه ئي تعوذ شروع كړو. دَ رسول الله ﷺ غصه به هم په دې باندې يخيدله. حضورپاك اوفرمائيل كه چرې موسىٰ عليه السلام ژوندې وې نو زما دَ تابعدارئى نه به ئى بل څه لار نه وه ځكه چه دادَ دين اسلام دور دې.

[۱۹۵] په حديث كښې د نسخ درې قسمونه:

۱۹۵ـ()[۵۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «كَلَامِي لَا يَنْسَخُ كَلَامَ اللَّهِ، [۳] وَكَلَامُ اللَّهِ يَنْسَخُ كَلَامِي وَكَلَامُ اللَّهِ يَنْسَخُ بَعْضُهُ بَعْضًا»"

ترجمه: [۱] جابر رضي الله عنه روايت كوي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] زما كلام د الله جل جلاله كلام نه منسوخه كوي [۳] او د الله جل جلاله كلام زما كلام منسوخه كوي او د الله جل جلاله د كلام بعضې حصې بعضې منسوخه كوي.

تسهيلات: .

دنسخ لغوى معنى: دَ نسخ لغوى معنى نقل كول ورانول ليكل وغيره دى.

د نسخ شرعى تعريف: [رفع الحكم الشرعي بدليل شرعي متأخر] يعنى سابقه شرعى حكم په راتلونكى دليل سره اوچتول او اخواكول.

قوله: كَلَامِي لَا يَنْسَخُ كَلَامَ اللَّهِ:

د نسخ څلور قسمونه:

① **نسخ القرآن بالقرآن:** قرآن كريم دَ قرآن كريم دَپاره ناسخ وى. لكه دَ متوفى عنها زوجها عدت اول يو كال وو بيا په څورمياشتو اولسو ورځو سره منسوخ شو.

② **نسخ الحديث بالحديث:** حديث دَ حديث دَپاره ناسخ وى. لكه ((كنت نهيتكم عن زيارة القبور)) د دې حديث په آخرى جملې ((فزوروها)) سره منسوخ دې.

③ **نسخ الحديث بالقرآن:** چې قرآن كريم دَ حديث دَپاره ناسخ وى. لكه څنګه چې اول داحاديثو په رڼا كښې بيت المقدس ته مونځ كولې شو. اوبيا په «فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ» سره منسوخ شو.

[۱]) اخرجه الدارقطني فى السنن رقم الحديث ۹

④ **نسخ القرآن بالحديث:** حديث شريف دَ قرآن كريم دَپاره ناسخ وی. ددې مثال د خپلوانو دپاره وصيت كول د قرآن څخه په دې آيت سره ثابت دې «كُتِبَ عَلَيْكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ» خودا آيت د نبی عليه السلام په دې حديث سره منسوخ دې ((لاوصية لوارث))

په اولنو دريو صورتونو کښې دَ امت اتفاق دې آخری صورت کښې اختلاف دې.

په حديث مشهور باندې د قرآن په نسخ کښې مذاهب:

① دَ امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز په حديث دَ قرآن نسخ جائز نه ده.

② دَ امام مالك رحمه الله او امام ابو حنيفه رحمه الله په نيز باندې حديث مشهور سره نسخ دَ قرآن واقع کيږی.

داول فريق دلائل: ① زير بحث حديث د دوی مستدل دې. ځکه چې په دې کښې نبی کريم ﷺ په صراحت سره فرمائيلی دی چې ((كلامي لاينسخ كلام الله)) يعنی زما حديث قرآن نشي منسوخ کولې.

داول فريق اوداول دليل څلور جوابونه: ① دلته دَ كلامی نه مراد كلام اجتهادی دې په کوم سره چه نسخ دَ كلام الله نه شی کيدې.

② دې څخه مراد دادې چه زما كلام دَ الله تعالی دَ كلام تلاوت نه منسوخ کوی بلکه حکم ئې منسوخ کوی.

③ دا حديث پخپله منسوخ دې.

④ په دې روايت کښې يو راوی جبرون بن واقد دې چه ډير ضعيف بلکه متهم بالكذب دې لهذا دا روايت ناقابل احتجاج دې ځکه چه دَ جمهورو مسلك دادې چه سنت مشهوره متاخره سره كلام الله کښې نسخ راتلې شی.

داول فريق دويم دليل: ② په بل حديث کښې راغلی دی ((اذا روی لكم عنی حديث فاعرضوه علی كتاب الله تعالی فان وافق الكتاب فاقبلوه والا فردوه))

داول فريق د دويم دليل جواب: دا حديث ضعيف دې نو قابل استدلال نه دې.

د دويم فريق دليل: د رشته دارانو دپاره د وصيت آيت په ((لاوصية لوارث)) سره منسوخ دې.

[۱۹۶] دحديث نسخ په حديث سره

۱۹۶ –(١) [۵۴] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ٢ «إِنَّ أَحَادِيثَنَا يَنْسَخُ بَعْضُهَا بَعْضًا كَنَسْخِ الْقُرْآنِ» "

(١) اخرجه الدارقطنی فی السنن رقم الحديث ١٠

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] زما بعضې احاديث بعضې منسوخه کوي څنګه چې «د قرآن بعضې حصې» قرآن منسوخ کوي.

حل اللغات: ① يَنْسَخُ: منسوخ کوی.

تسهيلات:

قوله: كَنَسْخِ الْقُرْآنِ:

د مذکوره جملې په ترکيب اومعنی کښې دوه اقوال: ① لفظ نسخ دلته مصدر واقع شوې دې کوم چه دَ قرآن طرف ته مضاف دې. ددې اضافت دَمفعول طرف ته دي ترجمه ئې داسې ده چه زمونږ احاديث په خپل مينځ کښې يو بل داسې منسوخ کوی. کنسخ القرآن لکه څنګه چه دا احاديث قرآن لره منسوخ کوی. ددې ترجمې مطابق دا حديث دَ ماسبق حديث دَپاره ناسخ شی. او به دادَ احنافو اومالکيه دليل جوړشی. ليکن په دې روايت کښې هم يو راوی محمدبن حارث کاذب دې.

② ددې مصدر اضافت دَ فاعل طرف ته دې اوترجمه ئې داسې ده دَ قرآن بعضې حصه بعضې منسوخ کوی.

[۱۹۷] څلورقسمه احکام او دهغې متعلق هدايات

۱۹۷ـ(۱) [۵۵] [۱] وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «إِنَّ اللّٰهَ فَرَضَ فَرَائِضَ فَلَا تُضَيِّعُوهَا، [۳] وَحَرَّمَ حُرُمَاتٍ فَلَا تَنْتَهِكُوهَا، وَحَدَّ حُدُودًا فَلَا تَعْتَدُوهَا، [۴] وَسَكَتَ عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ غَيْرِ نِسْيَانٍ فَلَا تَبْحَثُوا عَنْهَا» "رَوَى الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] ابو ثعلبه خشني رضي الله عنه راوي دي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالی جل جلاله څو فرائض فرض کړي دي نو تاسو هغه مه ضائع کوي (يعني هغه مه پريږدي د هغوئ شرايط او ارکان مه ترک کوي يا دا چې په هغوئ فرائضو کښې ځان ښوونه او ريا ، شک اوشبه، غرور او تکبر مه کوي) [۳] او څو څيزونه الله تعالی جل جلاله حرام کړي دي (يعني د هغوئ اختيارول يې ګناه ګرځولي ده) نو تاسو هغه ته نزدې مه ورځئ [۴] او څو حدود يې مقرر کړي دي (مثلاً: قصاص وغيره) نو تاسو د هغوئ څخه تجاوز مه کوي (يعني په هغوئ کښې د خپل طرفه څخه کمي زياتي مه کوي) او د څو څيزونو په باره کښې په هيره سره نه (بلکه قصداً) سکوت اختيار کړي دي (يعني څو څيزونه داسې دي چې د هغه په باره کښې وضاحت نه دي شوې چې هغه حرام دي يا حلال يا واجب دي نو هغه په هغه څيزونو کښې تاسو د خپل طرفه څخه) بحث مه کوي، مذکوره درې سره حديثونه دار قطني روايت کړي دي.

(۱) اخرجه الدارقطنی فی السنن رقم الحديث ۴۲ من كتاب رضاع

حل اللغات: ① فَلَا تُضَيِّعُوهَا: مه ئې ضائع کوئ (یعنی شرائط او ارکان پکښې مه پرېږدئ یا دا چه ریا، تکبر اوغرور وغیره پکښې مه کوئ). ② فَلَا تَنْتَهِكُوهَا: أَيْ: لَا تَقْرَبُوهَا: مه نزدې کیږئ (دغې ګناهونو ته). ③ فَلَا تَعْتَدُوهَا: أَيْ: لَا تَتَجَاوَزُوا: تجاوز مه کوئ، مه ورتیرېږئ (ددغې حدودو نه). ④ فَلَا تَبْحَثُوا: أَيْ: لَا تُفَتِّشُوا: بحث پکښې مه کوئ، د یو بل نه پکښې تفتیش او تپوسونه مه کوئ. ⑤ سَكَتَ: أَيْ: تَرَكَ ذِكْرَ أَشْيَاءَ: د بعضې څیزونو تفصیلی ذکر ئې نه دې کړې او دهغې د وجوب اود حرمت او حلت وضاحت ئې نه دې کړې (نو تاسو پکښې توقف کوئ ډیر لټون پکښې مه کوئ).

د راوي مختصر تعارف: دَ ده په نوم کښې ډیر اختلاف دې. اکثرو ورته جرثوم وئیلې ابوثعلبه ئې کنیت دې. دَ اسلام په شروع کښې مسلمان شوې وو. په صلح حدیبیه کښې رسول الله ﷺ سره سور وو او په بعیت رضوان کښې حاضر وو. حضور ﷺ هغه هم دَ هغه قبیلې ته دَدعوت په توګه لیګلې وو. دَ هغه په کوشش او محنت سره دَ هغه ټوله قبیله مسلمانان شو.(۳) دَ شام دَ فتح کیدونه پس هم په شام کښې اوسیدو.

وفات: په خپل ژوند کښې به ئې اکثر وئیل چه الله تعالی به ما ستاسو په شان په ګیټو مړلو مړلو نه وژنی.هم داسې اوشو یوه شپه ئې مونځ کولو چه دَهغه لور خوب اولیدو چه پلار مې مړشو هغه اوویریدله اوپاسیده چه آواز ئې ورکړو نومعلومه شوه چه مونځ کوی. بیائی لږ ساعت پس آواز ورکړو نو څه جواب ملاو نه شومعلومه شوه چه هم دَسجدې په حالت کښې ترې روح الوتې دې.

مرویات: دَهغه نه ۴۰ احادیث نقل دی. په دې کښې په دریو باندې بخاری اومسلم شریف دواړه متفق دی اوَ په یوکښې امام مسلم رحمه الله منفرددې. (۱)

تسهیلات:

نوټ: حدیث کښې څه مشکل نشته.

....

(۱) تهذیب الکمال ص۴۴۶).(۲) ابوداود فی الجهاد باب ما یؤمر به من إنضمام العسکر وسعته).
(۳) طیبی شرح مشکوه. په یوبل روایت کښې "ثم ارکبوها صحاحا"

[۲] كِتَابُ الْعِلْمِ

د علم (دَفضیلت) بیان

ددې باب د احادیثو موضوع: د دې باب احادیث علم، تعلیم، تعلم او د هغې د متعلقاتو او فضیلت او افضلیت په بیان کښې دی نه د ماهیت علم په بیان کښې، ځکه چه په ماهیاتو او حقائق اشیاء کښې غور او فکر کول د دې کتاب موضوع نه ده او نه دا د دې فن کتاب دې. (العینی، التعلیق)

په کتاب العلم د کتاب الایمان دتقدیم وجه: بیا د کتاب الایمان د مقدم کولو وجه دا ده چه ایمان راوړل په مکلف باندې د ټولو نه اول فرض وی. که علم وی او که عمل وی د هر قسم کمال او امر خیر دپاره د مبداء او منشاء کیدو په وجه باندې ئې ایمان مقدم کړو بیا ئې په اعمالو باندې کتاب العلم په دې وجه مقدم کړو چه په علم باندې د ټولو اعمالو د صحت مدار دې. اوس د ابوابو ترمینځه مناسبت هم ښکاره شو. (العینی)

د علم لغوی معنی: علم په لغت کښې دانستن ته وائی.

د علم په اصطلاحی تعریف کښې دوه نظریات:

① د جمهورو خیال دې چه دَعلم تحدید او تعریف ممکن دې اودَ اوچتې درجې دَ وجې نه دا تعریفات اتلسو پورې رسیږی. دکوم نه چه دَعلم دَ شان دَ اوچتوالی اندازه کیږی.

② دبعضې عالمانو نظر دا دې چې دَعلم تعریف یا بالکل نه شی کیدې او یا مشکل ترین څیزدې. چنانچه امام غزالی رحمه الله فرمائی: [نعم تحقیق حقیقته عسیر جدًا] یعنی دَعلم بیخ او حقیقت ته رسیدل ډیر ګران دی. امام رازی رحمه الله فرمائی چونکه علم د اجلي البدیهیات نه دی ځکه دا ناقابل تحدید او تعریف دې.

د علم په تعریف کښې پنځه اقوال: ① امام ابوحنیفه رحمه الله دَعلم تعریف داسې کړې دې:
[معرفة النفس ما لها وما علیها] په دې تعریف کښې علم فقه او تصوف هم داخل شو.

② ملاعلی قاری رحمه الله دَ علم تعریف داسې کړې دې:
[العلم نور فی قلب المؤمن مقتبس من مصابیح مشکوة النبوة من الاقوال المحمدیة والافعال الاحمدیة یهتدي به الی الله وصفاته واحکامه].

③ علامه بدرالدین عینی رحمه الله داسې تعریف کړې دې:
[العلم صفة توجب تمییزاً لا یحتمل النقیض].

④ ماتریدیه دَعلم تعریف داسې کړې دې: [العلم صفة مودعة فی القلب کالقوة الباصرة فی العین والسامعة فی الاذن].

⑤ دَ فلاسفؤ په نیز یو تعریف [حصول صورة الشیئ] دې یو تعریف [الصورة الحاصلة عندالعقل] دې. یو تعریف [الحاضرعندالمدرك] دې.

د علوم شرعیؤ دوه قسمونه: دا شرعی علوم بیا په دوه قسمه دی.

① **وهبی علم:.** وهبی هغه علوم دی دکوم په حاصلولوکښې چه دَ انسان اکتساب نه وی. دا وهبی علوم بیا په دوه قسمه دی.

(ا) اول هغه چه بغیردَ واسطې دَ وحی په ذریعه حاصل شی. دا علوم النبوة دی.

(ب) او دویم هغه چه په کمال اتباع نبی دَ وجې نه ملاؤشی. دا الهام کشف اوفراست باندې مشتمل علوم دی. دَالهام دَپاره علامات نشته او کشف فراست دَپاره علامات وی.

② **علم کسبی:** کسبی علوم دی. دا کسب دَ بشرنه په واسطه دَ بشرحاصلیدونکی علوم دی. کوم ته چه علوم الشرعیات وئیلی شی. په دې کښې یوعلم الاحکام دې په کوم سره چه په مقبول اوغیرمقبول کښې فرق کیږی. که چرې قبلویت ظاهرسره متعلق وی نوداعلم الفقه دې اوکه چرې باطن سره متعلق وی نو دا علم التصوف دې نوعلم تصوف هم په علوم کسبیه کښې داخل دې.

د حکم په اعتبار سره د شرعی علومو اقسام:

①بیاچه کوم څیزونه فرض دی دَهغې علم هم فرض دې

② کوم چه سنت دی دَهغې علم سنت دې

③ اوکوم اعمال چه واجب دی دَهغې علم هم واجب دې.

④ کوم څیزونه چه حرام دی دَهغې علم فرض دې

⑤ کوم چه مکروه تحریمی دی دَهغې علم واجب دې

⑥ کوم چه مکره تنزیهی دی دَهغې علم سنت دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۹۸] د تبلیغ اهمیت

۱۹۸–(¹)[ا] ①عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ③" «بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً، ④وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَايِيلَ وَلَا حَرَجَ، ⑤وَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا، ⑥فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①حضرت عبد الله بن عمرو ؓ راوي دي ②چې رسول الله ﷺ وفرمایل ③زما د

[1]) اخرجه البخاری کتاب أحادیث الأنبیاء/ باب ما ذکر عن بنی إسرائیل (رقم-۳۴۶۱)اخرجه احمد فی المسند:۱۵۹/۲ والترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحدیث عن بنی إسرائیل (رقم-۲۶۶۹)

طرف څخه ورسوي که څه هم يو آيت وي ③ او د بني اسرائيلو څخه چې قصې واوري د خلقو په مخ کښې يې بيان کړي دا ګناه نه ده ⑤ اوکوم سړي چې قصداً زما طرف ته د دروغو خبره منسوب کړي ⑥هغه ته پکاردي چې خپل ځاي په دوزخ کښې تلاش کړي بخاري

حل اللغات: ① بَلِّغُوا: أي: انْقُلُوا إِلَى النَّاسِ: زما د طرفه ئې خلقو ته اورسوئ. يعنى علوم به زما وى اوخورول ستاسو کاردې. زما خبره په مستند طريقه نورو ته اورسوئ ② لَا حَرَجَ: الضِّيقُ وَالْإِثْمُ: څه ګناه او الزام ملامتيا نشته، ③ مُتَعَمِّدًا: په قصد سره، ④ فَلْيَتَبَوَّأْ: جوړ دې کړي، اودې نيسي، ⑤ مَقْعَدَهُ: د اوسيدو ځائې.

تسهيلات: قوله: بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً:

دحديث د حفاظت طرف ته اشاره: يعنى چه يو آيت ولې نه وى دا زما دَ طرف نه اورسوئى. قاضى بيضاوى رحمه الله فرمائى چه رسول الله ﷺ دَ حديث په ځائى دَ آيت تحديث او ابلاغ ترغيب ورکړو. دَ قرآن پاك دَ حفاظت وعده پخپله الله تعالى کړې ده دَدې نه باوجود ددې تبليغ واجب دې. نو په دې سره دَ احاديثو تبليغ په طريقه اولى ثابت شو.

علامه معافى نهروانى رحمه الله فرمائى چه په حديث کښې «آية» راوړلو حکمت دادې چه کله هم څوك حديث اورى نو هغه به دَ قرآنى آيت په تبليغ کښې وړانديوالې او اهتمام کوى، سره دَدې چه آياتونه دَ تعداد په لحاظ سره کم وى. دَدې دَ اهتمام فائده به دا وى چه دَ رسول الله ﷺ نه نقل شوى آياتونه او احاديث ټوله سرمايه به امت ته اورسيږى. [۱]

قوله: وَحَدِّثُوا عَنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: يعنى دَ يهودو او نصارى روايات نقل کولو کښې هيڅ حرج نشته دې. ① شراح فرمائى چه رسول الله ﷺ په شروع کښې دَ صحابه کرامو دَ يهودو په کتابونو لوستلو باندې رټنه کړې وه اودَهغوى کتابونه وئيل ئى منع کړې وو چه هغه دَ محرف کيدو دَ وجې نه دَ فتنې سبب جوړيدې شى. روستو چه احکام اسلام او قواعد دين ته استحکام ملاؤ شو او صحابه کرامو ته دَ يهودو دَتحريفاتو او دَځان نه جوړشوو مضامينو علم اوشو نو حضورپاك دَ يهودو نه روايت شوى اقوالو او حکاياتو دَتحديث اجازت ورکړو. [۲]

② بعض حضرات فرمائى چه حرج دَ ضيق اوتنګئى په معنى کښې دې اودَ حرج مطلب دادې چه دَ يهودو عجيبه او حيرانونکى روايات اوريدو سره په زړه باندې بوج نه دى محسوس کول پکار ځکه چه دَدې قسم روايات يهودو سره ډيرزيات دى. [۳]

---

[۱]) فتح البارى: ۶۱۷/۷
[۲]) فتح البارى: ۶۱۷/۷عمدة القارى:۶۳/۱۶|ارشادالسارى:۴۱۴/۷.
[۳]) فتح البارى: ۶۱۷/۷عمدة القارى:۶۳/۱۶|ارشادالسارى:۴۱۴/۷.

قوله: وَلَاحَرَجَ:

د ولاحرج راؤړلو وجه: بعض شراح فرمائی ((حدثوا)) دَ امر صیغه ده اومفید وجوب دې. مخاطب به دا لفظ په وجوب باندې محمول کولې شو نو حضورپاك دَدې خودلودَپاره چه دا امر دَ وجوب دَپاره نه دې بلکه دَ اباحت دَپاره دې. په آخره کښې دَ ((ولا حرج)) تصریح اوفرمائیله چه دَ یهودو نه دَ روایت نه کولو کښې هیڅ حرج نشته دې.

خلاصه دا چه دَدې حضراتو په نیز((ولا حرج)) مطلب دادې چه دَ یهودو نه په ترك حدیث کښې هیڅ حرج نشته دې اومقصد مخاطب په دې باندې پوهه کول دی چه ((حدثوا)) کښې امر دَ اباحت دَپاره دې. یو قول دادې چه په حدیث کښې صرف دَهغه روایاتو دَتحدیث اجازت ورکړې شوې دې کوم چه په قرآن مجید او احادیث صحیحه کښې راغلی دی.

یو قول دادې چه په روایت کښې اسرائیلی اخبار نقل کولو مطلقًا اجازت ورکړې شوې دې. که هغه سنداً متصل وی اوکه منقطع، ځکه چه دَ اسرائیلی روایاتو په اسنادکښې اتصال متعذر دې. دَدې په خلاف احکام اسلام سره متعلق روایاتو په تحدیث کښې دَ سند اتصال دَاصل درجه لری او رسول الله ﷺ سره دَ قرب عهد دَ وجې نه دا متعذر هم نه دې.

د اسرائیلی روایاتوپه بیانولوکښې د فقهاء اقوال: ① امام مالك رحمه الله ((حدثوا عن بنی إسرائیل)) مطلب دا بیان کړې دې: ((المراد جواز التحدیث عنهم بما کان من أمر حسن. أما ما علم کذبه فلا)) یعنی دَ حدیث مطلب دادې چه دَ اهل کتاب کومې ښه خبرې دی هغه نقل کول جائز دی. خو چه دَ کوم روایت بې بنیاده او غلط کیدل معلوم وی نو هغه نقل کول جائز نه دی.[1]

② امام شافعی رحمه الله فرمائی: ((من المعلوم أن النبی صلی الله علیه وسلم لا یجیز التحدث بالکذب، فالمعنی حدثوا عن بنی إسرائیل بما لا یعلمون کذبه، وأما ما تجوزونه، فلا حرج علیکم فی التحدث به عنهم، وهو نظیر قوله: إذا حدثکم أهل الکتاب فلا تصدقوهم ولا تکذبوهم)).[2]

یعنی دا خبره واضحه ده چه رسول الله ﷺ هیڅ کله دَ دروغونقل کولو اجازت نه ورکوی. نو دَحدیث معنی داده چه دَ اهل کتاب دکوم روایت دَتکذیب څه ذریعه تاسو سره نه وی نوتاسو هغه روایت کولې شئی، اودَهغوی چه کوم روایات تاسو صحیح ګڼړئی دَهغې په نقل کولوکښې هم څه حرج نشته دې. دَدې روایت مضمون دَ رسول الله دَدې روایت په شان دَمعنی دې په کوم کښې چه حضورپاك فرمائیلی: کله چه تاسوته اهل کتاب یو روایت بیان کړی نوتاسو مه دَهغې تصدیق کوئی او مه ئی تکذیب.

---

[1]) فتح الباری: ۲۱۷/۸.
[2]) فتح الباری: ۶۱۸/۸.

د اسرائيلي رواياتو درې قسمونه:

① اول قسم دَهغه رواياتو دې چه په صحيح معنوکښې دَ قرآن اوسنت موافق وی. دَ داسې رواياتو خورونه جائز ده ځکه چه دَ دې صداقت دَ شك نه بالا دې.(١)

② دويم قسم دَ هغه رواياتو دې دکوم مثال چه په قرآن او سنت کښې نه وی مگر دغه روايات دَدې دواړو سره معارض هم نه وی. دغه شان روايات دَ عام اخبار او رواياتو په شان دَ صدق اوکذب دواړو احتمال لری. دا دَعبرت اوترغيب په غرض په دې شرط نقل کول جائز دی چه دا خو نه دَ قضيه مسلمه په توگه پيش کړې شی اونه دَدې نه په څه شرعی حکم باندې استدلال اوکړې شی.(٢)

③ دريم قسم دَهغه رواياتودې چه کتاب اوسنت سره متصادم وی. داسې روايات صرف دَ دروغو په ضمن کښې راځی اودا صرف دَ ابطال او تکذيب په غرض سره پيش کول پکاردی چه دَخلقو په وړاندې دَهغوی کذب محض کيدل ښکاره شی.(٣)

قوله: فَلْيَتَبَوَّأْ:

حديث دَ ځان نه دَ جوړولو سخت وعيد: دا امر انشاء په معنی دَ خبر دې. يعنی دغه سړی په دوزخ کښې ځان له خپل ځائی جوړکړو. په دې حديث کښې دَ ځان دَ احاديثو جوړولو سخت وعيد راغلې دې. هم دَدې په رڼا کښې علامه ابو محمد جوينی رحمه الله حديث دَ ځان نه جوړ ونکی ته کافر وئيلې دې. ليکن جمهور امت دې ته ډيره لويه گناه وئيلې ده. يعنی کوم سړې چه دادَ ځان جوړولو ته جائز وائی نوبيا خودا کفردې گنی نه دې. جمهور امت په دې باندې هم متفق دی چه دَ حديث جوړول مطلق ناجائزدی. که هغه په نيکه اراده سره وی اوکه هرقسم اراده سره وی.

يوه جاهلانه نظريه: بعضې جاهل صوفيان گڼړی چه دَ ترغيب اوترهيب دَپاره دَ ځان نه حديث جوړول جائزدی. په دې کښې دَ دين فائده ده خلقو ته فائده ده څه نقصان نشته دې.

د نظريه ترديد: دين هم په دغه لار راځی چه دَ دين لار وی دَ بې دينۍ په لار باندې دين نه راځی. نوکومه فائده چه په دين باندې دَ دروغو تړلوسره حاصله وی هغه به څه فائده وی؟ هغه خو هم نقصان اونقصان دې. بله خبره داده چه اسلام دَ چا فائدې ته نه گوری هغه دې ته گوری چه دې سره څه معامله اوکړې شوه آيا دَدې ښائسته شکل په ځائی اوساتلې شو که وران کړې شو.

---

(١) منارالقاری شرح مختصر صحيح البخاری: ٢١٣/٤.
(٢) المصدرالسابق.
(٣) المصدرالسابق.

قوله: مُتَعَمِّدًا:

په نبی علیه السلام د دروغو جوړولو دوه صورتونه:

① دَدې لفظ نه معلومه شوه چه دا دَ کذب عمد دَپاره وعید دې. که په غلطئ سره وی یا په کتاب کښې غلطی وی نوهغه دې نه خارج دې.

② بعضې محدثینو لیکلی دی چه متعمداً لفظ په بعضې روایاتوکښې دې او په بعضې کښې دا لفظ نشته دې. لهذا دا وعید دَ عمداً او غیر عمد دواړو صورتونودَپاره دې.

علامه دارقطنی رحمه الله خوتردې پورې لیکلی دی چه په حدیث کښې دَمتعمداً لفظ نشته دې خلقو دا زیات کړې دې. (بحواله مقدمه موضوعات کبیر)

د وعید عمومیت: علامه کرمانی رحمه الله لیکلی دی چه دا وعیدعام دې. که دَ نبی کریم ﷺ په موافقت کښې وی اوکه په مخالفت کښې وی دواړو صورتونوکښې لویه ګناه ده. دَحدیث په اوله جمله کښې دَ تبلیغ ترغیب وو نوخطره وه چه څوک په جوش کښې راتلوسره بغیرخپو سرونو واقعات بیانول شروع نه کړی. په دې وجه ئې په دې جمله کښې اوفرمائیل تبلیغ کوئی خوچه چا بې سند خبرې بیان کړې او په ماباندې ئې دروغ اووئیل نوهغه دې دوزخ ته تلو ته تیارشی.

[۱۹۹] د نبي کریم ﷺ طرف ته د دروغ منسوب کولو ګناه

۱۹۹ —(۱) [۲] [۱] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - وَالْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَا [۲]: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۳] "«مَنْ حَدَّثَ بِحَدِيثٍ يَرَى أَنَّهُ كَذِبٌ، [۴] فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِينَ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] سمره بن جندب او مغیره بن شعبه رضی الله عنهما راویان دي [۲] چي حضور ﷺ وفرمایل [۳] کوم سړي چي زما طرف ته منسوب کولو سره یو داسې حدیث بیان کړي چي د هغه په باره کښې د هغه داخیال وي چي هغه دروغ دي [۴] نو هغه په دروغجنو سړو کښې یو دروغجن دي.

حل اللغات: ① حَدَّثَ: بیان کړی. ② يَرَى: داصیغه مجهول دَ یظن په معنی کښې ده. هم مجهول استعمالیږی. اودَ رؤیت نه مراد رؤیت قلبی دې.

د راوي مختصر تعارف: نوم سمرة کنیت ابوسعید اودَ پلار نوم ئې جندب بن بلال وو. پلار ئې په ماشوموالی کښې وفات شوې وو. مور ئې دې راوستو اومدینې ته راغله او انصارو ته ئې دَنکاح پیغام ورکړو په دې شرط چه څوک ماسره نکاح کوی نوهغه به زما اوزما دَ ځوئ پالنه کوی. په دې شرط باندې مرلی بن شیبان بن ثعلبه سره نکاح اوشوه.

---

(۱) اخرجه مسلم باب وجوب الرواية عن الثقات، وترک الكذابين (رقم-۱) والترمذی كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فيمن روى حديثا وهو يرى أنه كذب (رقم-۲۶۶۲) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم /باب من حدث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم حديثا وهو يرى أنه كذب(رقم-۳۹)اخرجه احمد فى المسند:۱۴/۵

سمره ﷛ په جنګ بدر کښې شريك شوې نه وو. دَ کم عمرئی په وجه کله چه نبی کريم ﷺ يوهلك ته اجازت ورکړو نوده وئيل چه زه خودَ ده نه طاقتوريم. په پرځونوکښې حضرت سمره ﷛ هغه راسملولو نو په احد او بيا دې نه پس په ټولو عزواتوکښې شرکت ئې کولو. په عهدنبوی ﷺ کښې هم په مدينه کښې وو.

وفات: ۵۴ھ کښې وفات شو اودَ وفات کيدو واقعه ئی داسې وه چه بدن ئی يخ شو نودَ علاج دَ پاره به ئی دَ ګرمو اوبوپه ديګ کينولو هم په دې کښې يوځل په خوټکيدلو اوبو کښې پريوتلواو وفات شو.

طبقات ابن سعدکښې ليکلی دی چه په يوه موقعه کله حضرت ابوهريره ﷛، ابومحذوره ﷛ او سمره ﷛ دا دريواړه حضور ﷺ سره ناست وو نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه په تاسوکښې به يوکس په اُور کښې سوزی اومری به.نودَحضور پاك ﷺدا پيشنګوئی دَحضرت سمره ﷛ په باره کښې پوره شوه.(۱)

مرويات: دَ هغه ۱۲۳ احاديث نقل دی. بخاری اومسلم کښې په دوو باندې اتفاق دې. يعنی دواړو نقل کړی دی بخاری کښې يو او مسلم شريف کښې څلور روايتونه منفرد دی.

قوله:وَالْمُغِيرَةِبْنِ شُعْبَةَرَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ:

د حضرت مغيره بن شعبه ﷛ حالات: نوم ئی مغيره کنيت ابوعبدالله، دَ پلار نوم ئی شعبه بن ابی عامر وو. (۵) دَ عزوه خندق په کال يعنی ۵ ھ کښې مسلمان شو اوهم په دغه کال ئی هجرت اوکړو او مدينې ته ئی تشريف يوړو راغلو. په حديبيه اوډيرو عزواتو کښې ورته دَشرکت شرف حاصل شوې وو.حضور ﷺ په يوخاص لښکرکښې هغه او ابوسفيان ﷛ طائف ته ليګلې وو په دې کښې هغوی ډير په بهادرئی سره دښمن ته ماتې ورکړه. وائی چه هغوی دَ نبی پاك ﷺ بدن مبارك په قبرکښې دَ کيخودو په وخت خپله ګوته غورزولې وه. حضرت علی ﷛ اوفرمائيل چه دا راوباسه. هغه دَ رسول الله ﷺ قدم مبارك سره لاس اولګولو او باهر راووتلو نودَ رسول الله ﷺ نه جداکيدونکې هم دا آخری صحابی ﷛ وو(۷).

ډير زيات پوهه صحابی وو. حضرت قبيضه بن جابر وائی چه زه دَ ډيرې مودې پورې مغيره ﷛ سره ووم هغه دومره دَ پوهې سياست سړې وو. که دَ ښار اته دروازې وی او په هغې کښې په يوه کښې هم تلل ګران وی خو مغيره ﷛ به دَ اته واړونه راوځی. (۸)

وفات: ۵۰ھ کښې چه کله په کوفه کښې دَ طاعون وبا خوره شوه نو په هغې کښې وفات شو هغه وخت دَ هغوی عمر ۷۰ اويا کاله وو. (۲)

---

(۱) طبقات ابن سعد ۲۲/۶، اسدالغابة ۳۵/۲)
(۲) ابن اثير ۱۸۲/۳)، (۲)تهذيب الكمال۳۸۵). (۳) مظاهرحق جديد ۵۱۳/٤. (٤)مظاهرحق جديد ۵۱۳/٤.

مرويات: دَ دوی نه دَ روايتونوشمير ۱۳۰ دي. په دې كښې ۹ متفق عليه دی. په يوكښې امام بخاری رحمه الله او په ۲ كښې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

تسهيلات:

قوله: أَحَدُ الْكَاذِبِينَ:

د كاذبين په صيغه كښې دوه احتمالات:

① دادَ تثنيه صيغه منلې ده. چه يو دروغژن خوهغه دې چا چه دروغ جوړكړې دي او دويم دروغژن دا سړې دې څوك چه ئې بيانوی چه دَ ځان نه جوړونكی ملګر تياكوی.

② دادَ جمع صيغه ده اوهم دا راجح ګرځولې شوې ده. يعنی په نورو كذابينوكښې يو دا سړې هم دې ځكه چه دې هم دَهغوی دَ افتراء تائيدكوي او نقل كوی ئې.

دموضوعی حديث بيانولودوه صورتونه: ① موضوعی حديث بيانول حرام دی.

② كه موضوعی حديث دې دپاره بيانوی چې دهغې وضع بيان كړی نودا جائز دې په موضوعاتوباندې علماؤ ډير كتابونه ليكلی دی.

[٢٠٠] نبی عليه السلام د علم تقسيمونكې

٢٠٠-(١)[٣] ١ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ "«مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، ٣ وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللَّهُ يُعْطِي»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ معاويه رضي الله عنه راوي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ٢ د كوم سړي د پاره چې الله تعالی جل جلاله د خير (او نيكي) اراده اوكړو نو هغه ته د دين پوهه وركوي ٣ او زه (علم) تقسيمونكي يم وركونكې خو الله تعالی جل جلاله دي. بخاري او مسلم

حل اللغات: ① يُفَقِّهْهُ: أَيْ: يَجْعَلْهُ عَالِمًا: د احكامو داسرار د علم نوم فقه دې. لهذا فقاهت هغه قابليت او پوهې ته وئيلې كيږی چې دَ هغې په ذريعه انسان د غير حاصل معلوماتو استخراج كولې شی. دا يو عظيم نعمت دې. ② قَاسِمٌ: تقسيمونكې، يعنی دوحی د علومو زه قاسم يم. ③ يُعْطِي: أَيْ: الْفَهْمَ فِي الْعِلْمِ: يعنی الله تعالی وركونكې د فهم دې، ددې مطلب دادې چې بيا الله تعالی انسانانو ته درجه په درجه فهم او ادراك هم عطا كوی. نو څوك د اعلی درجې ذهين وی او څوك متوسط او څوك د ادنی درجې وی.

دراوي مختصر تعارف: نوم معاويه ابوعبدالرحمن كنيت دَ پلارنوم ابوسفيان او دَ مور نوم ئې هنده وواودَ جاهليت په زمانه كښې هم دَ دوی خاندان ممتازوو. دَ مكې دَ فتح په

[1]) اخرجه البخاری كتاب العلم/باب: من يرد الله به خيرا يفقهه فی الدين (رقم-٧١) ومسلم كتاب الزكاة/باب النهی عن المسألة(رقم-١٠٠ - (١٠٣٧) والترمذی كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب إذا أراد الله بعبد خيرا فقهه فی الدين (رقم-٢٦٤٥) وابن ماجة كتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل العلماء والحث على طلب العلم(رقم-٢٢٠) ومالك كتاب وقوت الصلاة/باب جامع ما جاء فی أهل القدر(رقم-٨)اخرجه احمد فی المسند: ٩٢/٤

ورځ حضرت امیرمعاویه رضی الله عنه اوډ هغه پلار حضرت ابوسفیان رضی الله عنه دواړه مسلمانان شوي وو. د بعضي روایتونو نه معلومیږي چه د صلح حدیبیه په زمانه کښې په امیر معاویه رضی الله عنه کښې د اسلام حقانیت راغلي وو ولې د خاندان د ویرې نه ئې اظهار نه کولو. ړومبې روایت ډیر قوی دې. بیا په غزوه حنین او طائف کښې رسول الله ﷺ سره وو. د حنین په جنګ کښې رسول الله ﷺ د مال غنیمت نه هغه ته سل اوبنان ۴۰ اوقیه سره زر یا سپین زرورکړه. (۲) حضرت حسن بن علی رضی الله عنه ۴۰ھ کښې خلافت هغه ته حواله کړو دې نه پس هغه ۱۹ کاله اودرې میاشتې حکومت اوکړوپه کوم کښې چه ډیرې علاقې فتح شوې.

وفات: رجب ۶۰ھ کښې ۷۵ کالوپه عمر کښې هغه ته د ګوزن بیماری اوشوه. په آخری ورځو کښې به ئې فرمائیل چه افسوس زه د قریشو یو عام سړې وې اوحکومت وغیره مې نه کولو. هغوی سره د رسول الله ﷺ څادر قمیص څه ویښته اوڅه نوکونه مبارک وو. هغه نصیحت کړې وو چه د حضور ﷺ په څادر قمیص او ازار کښې ماکفن کړئې. زما په پوزه او د سجدې په اندامونو باندې د رسول الله ﷺ ویښته مبارک او نوکونه مبارک کیږدئې. کیدې شی چه الله تعالی د دې په برکت زما ښښنه اوکړی.(۳) ضحاك رحمه الله جنازه کړې او په دمشق کښې دفن کړې شو.

مرویات: د احادیثو په کتابونوکښې د هغه نه ۱۶۳ روایات ملاویږي. ۴ بخاری اومسلم دواړه کښې دی ۴ کښې بخاری او ۵ مسلم منفرد دې.

تسهیلات:

قوله: يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ:

د مذکوره مضمون تائید: د پورتنی حدیث مضمون د نورو روایتونو نه هم ملاویږي مثلاً شرح السنة کښې حضرت سفیان ثوری رحمه الله دا قول نقل دې چه ماته د طالب علم نه غوره بل څیزنه معلومیږي. په یوروایت کښې دی الله تعالی چه کله یوبنده سره ښیګړه کول غواړی نو په هغه کښې درې صفتونه پیداکوی:

① د دین پوهه ② د دنیانه ویزاره کیدل ③ په عیبونو باندې نظر.

دحدیث مطلب: دحدیث شریف حاصل دادې چه الله تعالی کوم سړی سره د ښیګړې معامله کول غواړی نوهغه ته د دین په معامله کښې ژور نظر او ډیره پوهه ورکوی. هم یوحدیث وی خوډ هغې په فهم کښې مختلف خلق وی بعضې د هغې صرف ظاهر مطلب ګڼړی بعضې د هغې ژوروالی ته رسی او په سوونومسئلې ترې راوباسی. غرض دادې چه چاته په دین کښې پوهه حاصله شی هغه به ډیر خوش نصیب وی.

اشکال: په دې حدیث کښې دا معلومیږي چه خیر او نیکی منحصر دی "تفقه فی الدین" والا کښې یعنی په فقهاؤ کښې سره د دې چه د خیر امور په غیرفقهاؤ کښې هم موندلې شی.

د اشکال دوه جوابونه: ① په خیراً کښې تنوین دَ تعظیم دَ پاره دې مطلب دا چه الله تعالی چاسره دَ ډیر خیر معامله کول غواړی نو هغه ته تفقه فی الدین ورنصیب کړی.
② دادې چه په خیراً کښې تنوین هم دَ تنکیر دَ پاره دې دلته دا کلام دَ تنزیل الناقص بمنزلة المعدومِ دَ قبیل نه دې. مطلب دادې چه سره دَ دې چه غیرفقهاؤسره هم ښیګړه وی خو هغوی دَ فقهاؤ په مقابله کښې دومره ناقص وی لکه چه هغه کالعدم وی.

قوله: وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ:

دعلم تقسیمول: زه علوم تقیسموم. او الله تعالی هر انسان ته دهغې د پوهیدو فهم ورکوی. ددې حدیث پاك تعلق د علومِ نبوت دَ تقسیم سره دې. هم دا وجه ده چې داحدیث محدثین په کتاب العلم کښې راوړی.

[۲۰۱] دجاهلیت د زمانې غوره د اسلام غوره دی

۲۰۱ - [۴] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«النَّاسُ مَعَادِنُ كَمَعَادِنِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، ۳ خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ ۴ إِذَا فَقِهُوا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ سړي کان دي څنګه چې د سرو زرو او سپینو زرو کان وي، ۳ کوم خلق چې په زمانهٔ جاهلیت کښې بهتر وه هغه په اسلام کښې هم بهتر دي ۴ څه وخت چې په دین پوه شي. مسلم

حل اللغات: ① مَعَادِنُ: جمع د مَعْدِن ده، او معدن کان ته وائی، دلته ترې د ښو اخلاقو والا خلق مراد دی. ② خِيَارُهُمْ: غوره، بهترین، ③ فَقِهُوا: أَيْ: إِذَا اسْتَوَوْا فِي الْفِقْهِ: یعنی پوهه د علم پکښې پیدا شی.

تسهیلات:

قوله: النَّاسُ مَعَادِنُ:

دخوئی خصلت په اعتبار سره د خلقو اختلاف: یعنی څنګه چه دَ زمکې په کان کښې سره زر وی، سپین زر وی، تانبه، اوسپنه، زمرد او جواهرات وغیره وی. دغه شان انسانان هم دَ خپلو ښواخلاقو په وجه یو بل نه مختلف وي. دَ انسان ښه اخلاق، شجاعت، مروت، سخاوت، علم، حیاء، ذکاوت او ذهانت وغیره دی.

قوله: خِيَارُهُمْ:

په اسلام راوړلو سره دجاهلیت د دور فضیلت زیادتیدل: یعنی اسلام قبلولو سره نسبی اوچتوالي کم یا ختمیږی نه بلکه په جاهلیت کښې چه دَهغه کوم نسبی خاندانی اوچتوالي اوشرافت وو اسلام قبلولوسره که چرې فقاهت حاصل کړی اوعالم جوړشی نو هغه اوچتوالي او لوئی والي نور هم زیاتیږی. ځکه چه په حدیث کښې دی [الإسلام یزید الشریف شرفًا] اسلام خو انسانی شرافت زیاتوی.

قوله: إِذَا فَقِهُوا:

فضیلت سره د فقهاهت شرطیت: خودا فضیلت او اوچتوالې هغه وخت دې کله چه په اسلام کښې فقاهت حاصل کړی. که یو دَ اوچت خاندان سړی دَ اسلام قبلولو نه پس علم دین او فقاهت حاصل نه کړو او بل دَ کمې درجې والا انسان اسلام ته راتلوسره علم فقه حاصل کړو نودَ دغه اوچت خاندان والا نه به دغه کم خاندان والا اوچت وی ځکه چه شرط فقاهت دې. یعنی دا ملکات پټ وو اسلام دا راښکاره کړل خو شرط دا دې چه دغه انسان دَ تعلیم په کالی سره ځان ښکلې کړی.

د سرواوسپینوزروکانونو سره د تشبیه وجه: په دې حدیث کښې سرو زرو او سپینو زرو سره دَ انسان خوبیانولره تشبیه ورکړې شوې ده په کوم سره چه اشاره ملاویږی لکه څنګه چه دَ دغه پټو خزانودَ راویستلودپاره دَ محنت ضرورت وی دغه شان دَ انسان خوبیانې راښکاره کولودَپاره هم محنت کول ضروري دي. دارنګ بل سره او سپین زر په اور کښې ویلې کیدو سره محنت برداشت کړی نودَ کالی جوړیدو قابل شی. دغه شان انسان له هم په علمی کمالاتوکښې محنت کولوسره خپلې خوبیانې راښکاره کول پکاري دي. دې حدیث هرانسان ته دَ احساس کمترئی نه دَ بچ کیدو تعلیم ورکړې دې.

[٢٠٢] دوه قسمه خلقوسره غبطه کول

٢٠٢-()[٥] ١ وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ- رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ: ٣ رَجُلٍ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَسَلَّطَهُ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ، ٤ وَرَجُلٍ آتَاهُ اللَّهُ الْحِكْمَةَ فَهُوَ يَقْضِي بِهَا وَيُعَلِّمُهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابن مسعود رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د دوو خلقو په باره کښې حسد کول صحیح دي ٣ ① یو خو هغه سړي چې الله جل جلاله مال ورکي او بیا په حقه لاره کښې د خرڅ کولو توفیق ورکړي ٤ ② هغه سړي چې الله جل جلاله علم ورکي او هغه د هغه علم مطابق حکم کوي او نورو ته یي هم ورښايي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① لَا حَسَدَ: وَهُوَ تَمَنِّي زَوَالِ نِعْمَةِ أَحَدٍ وَانْتِقَالُهَا إِلَيْهِ: د غیر د نعمت د زوال تمنا کول چه دغه دې ماته ملاؤ شی دې ته حسد وائی. ② فَسَلَّطَهُ: أَيْ: وَكَّلَهُ اللَّهُ وَوَفَّقَهُ: مسلط اومقرر ئې کړی یعنی الله تعالی ورته په حق لار کښې دخرچ کولو توفیق ورکړی. ③ هَلَكَتِهِ: أَيْ: إِنْفَاقِهِ وَإِهْلَاكِهِ: هلاکولو نه مراد خرچ کول دی او هلاکول ئې ورته ځکه اووئیل چه په حق لار کښې ئې بیخی ختم کړی او هیڅ ورسره پاتې نه شی. ④ الْحِكْمَةَ: وَهِيَ إِصَابَةُ الْحَقِّ بِالْعِلْمِ وَالْعَمَلِ: حق ته رسیدل سره دعلم اوعمل

---

[1] اخرجه البخاری کتاب العلم/باب الاغتباط فی العلم والحکمة(رقم-٧٣) ومسلم کتاب صلاة المسافرين وقصرها /باب فضل من يقوم بالقرآن، ويعلمه، وفضل من تعلم حكمة من فقه، أو غيره فعمل بها وعلمها(رقم-٢٦٨ - (٨١٦)اخرجه احمد فی المسند:٤٣٢/١

نه، دې ته حکمت وائی یعنی ددین د احکامو علم اوپه هغې باندې عمل.

تسهیلات:

قوله: قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَتَيْنِ:

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی.چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل.چه صرف د دوو سرو په خصلتونو باندې رشك كيدل پکار دی.

د حسد په مراد کښې دوه احتمالات: ① په حدیث کښې،، حسد،، حقیقی معنی کښې نه دې. بلکه د ،،غبطه،، په معنی کښې دې.ددې دلیل دا دې.چه امام بخاری رحمه الله هم دا روایت په ،،فضائل القرآن،، کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه هم روایت کړې دې.چه د هغې الفاظ دا دی.((لاحسد إلا في اثنتين: رجل علمه الله القرآن، فهو يتلوه آناء الليل و آناء النهار، فسمعه جار له، فقال: ليتني أوتيتُ ما أوتي فلان فعملت مثل ما يعمل))(۱) دا الفاظ په دې خبره باندې دلالت کوی.چه دلته ،،حسد،، مراد نه دې.په کوم کښې چه د بل کس د نعمت زوال مطلوب وی.بلکه غبطه مراد ده.چه په دې کښې د زوال نه بغیر د هغه د نعمت خپل ځان دپاره دحصول تمنا او خواهش کیږی.

② ،،حسد،، پخپله حقیقی معنی کښې دی. خو په دې صورت کښې به استثناء منقطع وی. او مطلب به دا وی.چه حسد خو په هیڅ صورت کښې هم صحیح نه دې.البته دا دوه خصلتونه محموددی.چه په دې کې هم حسد نشته.نوپه هیڅ ځیز کښې حسد مه کوئ.(۲)

قوله: رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا فَسُلِّطَ عَلَى هَلَكَتِهِ فِي الْحَقِّ:

دالله تعالی په لار کښې مال خرچ کونکې مالدار: په دې روایت کښې ،،سلطه،، دې.او د ابوذر په روایت کښې ،،سُلِّط،، دې.،،هلكة،، په فتحې د هاء او لام سره دې. د دولت مندو عام طور باندې دا حال وی.چه دهغه دولت د هغه په زړه باندې خور (او چاپیره) وی.خو ددې سړی دا کیفیت بیان کړې شوې دې.چه الله تعالی ځنګه ده ته مال ورکړې دې.دغه شان ئې په حق لاره کښې ده ته د خرچ کولو توفیق هم ورکړې دې.

په حق لاره کښې دټول مال خرچ کولو حکم: ددې ځائې نه یوه خبره بله هم معلومه شوه.چه که الله تعالی یوکس ته مال ورکړی.او هغه ټول په ټوله په حق لاره کښې خرچ کړی.نو دې ته به اسراف نشی وئیلې.

اشکال: شبه داده چې حسد خو شرعًا جائز نه دې نو په دې دوؤ ځیزونو کښې ددې اجازت ورلې ورکړې شوې دې؟

---

(۱) صحیح البخاری(۷۵۱\۱۲) کتاب فضائل القرآن، باب إغتباط صاحب القرآن، رقم(۵۰۲۶)_

(۲) فتح الباري(۱۶۷\۱)-

داشکال دوه جوابونه: ① دا کلام د فرض او تقدیر به طور دي چې حسد په هیڅ څیز دې جائز نه دې. خو دا دوه نعمتونه داسې دی که فرض کړه چې چرې حسد جائز وې نو په دې دوؤ څیزونو کښې به جائز وو. خو حسد یوځائې کښې هم جائز نه دې نو په دې دوؤ کښې هم جائز نه دې. څینو دا هم وئیلی دی چې دا دوه خصلتونه دومره لوې دی چې په دې کښې حسد کول هم جائز دی. ګویا که دا دوه څیزونه د حسد د عامې قاعدې څخه مستثنی دی.

② دلته په دې حدیث پاك لفظ د حسد راغلې دې. خو دا د غبطې په معنی استعمال شوې دې. په دې جواب باندې دا اعتراض کیدیشی چه که چرې د حسد څخه مراد غبطه او پسخیدل وو نو بیا صرف په دې دوؤ څیزونو کښې د پسخیدلو داجازت څه مطلب دې؟ هرکله چې پسخیدل یو جائز امر دې نو بیا په هر څیز کښې پکار دې؟

[۲۰۳] د مرګ څخه روسته د درې اعمالو ثواب جاري پاتې کیدل

۲۰۳-(۱)[۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ؟ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةِ أَشْيَاءَ ③: صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② هرکله چې انسان مړشي نو د هغه د عمل سلسله د هغه څخه پرې شي خو د دریو څیزونو د ثواب سلسله باقي وي ③ ① صدقه جاریه ② علم چې د هغه څخه نفع حاصلیږي ③ صالح اولاد چې د مرګ څخه وروسته د هغه د پاره دعا کوي. مسلم

حل اللغات: ① اِنْقَطَعَ: يَعْنِي لَا يَصِلُ إِلَيْهِ أَجْرٌ وَثَوَابٌ مِنْ شَيْءٍ مِنْ عَمَلِهِ: دعمل سلسله ئې ختمه شی یعنی دهغه دعمل اجر او ثواب هغه ته نه ملاویږی. ② يُنْتَفَعُ: چه نفع او فائده ترې اخستلې شی (مثلاً درس تدریس، تصنیف اوتالیف او د علم نشر واشاعت وغیره). ③ يَدْعُو: چه دعا ورله غواړی.

تسهیلات:

قوله: إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ:

د ثواب په اعتبارسره درې جاري پاتې کیدونکې اعمال: دنیا دَعمل کور دې او آخرت دَ بدلې کور دې. انسان چه ترکومې پورې په دنیاکښې ژوند تیروی نودَ هغه ښه او بدعمل جاري وی. لیکن کله چه انسان مړشی دَ هغه دَعمل سلسله ختمه شی. او درې قسمه

---

[۱]) اخرجه مسلم باب الوصية بالثلث /باب ما يلحق الإنسان من الثواب بعد وفاته(۱٤ - (رقم-۱٦۳۱) والترمذي كتاب الأحكام عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في الوقف (رقم-۱۳۷٦) وابوداود كتاب الصيد/باب ما جاء في الصدقة عن الميت (رقم-۲۸۸۰) والنسائي كتاب الوصايا/ فضل الصدقة عن الميت(رقم-۳٦۵۱)اخرجه احمد في المسند:۲/۳۷۲

اعمال داسې دی چه دَ مرګ نه پس هم دَ هغې اعمالو سلسله جاري وی.

①**صدقه جاريه:** صدقه جاريه مثلاً یو سړي زمکه وقف کړی یا کوهې یا تالاب تیار کړی اووقف ئی کړی. اوس دَ هغه دَ مرګ نه پس خلق دَدغه څیزونونه فائده اخلی نودَهغې ثواب مرحوم ته رسیږی.لکه مثلاً څوک جمات جوړ کړی یا کوهې اوباسی یا هسپتال جوړ کړی یا مدرسه جوړه کړی نوترڅو پورې چې خلقو ته ددې څخه فائده حاصلیږی ده به ثواب ملاویږی اګرکه دې په قبر کښې وی.

② **علم نافع:** علم نافع دې یعنی دَ یو عالم باعمل انتقال اوشی په ژوندون کښې هغه مخلوق خدا ته په علم دین سره فائده رسوله او ثواب ئی ګټلو. کله چه وفات شو نوشاته ئی علمی ذخیره پریخوده یا په خپلو تصنیفاتو، تقریراتو او تحریراتو سره اویا دَ قابل قدر شاګردانو په ذریعه یا دَدینی کتابونو دَ وقف کولو په ذریعه اویا خپل اولاد ته علم خودلو سره دَعلم نافع ذخیره خپل شاته پریخوده او دَهغې فائده دَ وفات نه پس هغه ته ملاویږی.الله تعالی دې زما احقرشاه فیصل تالیفات اوتراجم هم په خپل دربار کښې قبول کړی اود دې ثواب تې ماته د مرګ څخه روسته هم رارسوی.امین (تاسو هم آمین اووایې.جزاکم الله)

③ **نیک اولاد:** یو سړې پخپله مړشی او شاته نیك صالح اولاد پریږدی اوهغوی دَخپل مرحوم والدینودَپاره دعاګانې کوی تلاوت کولوسره ایصال ثواب کوی،

قوله: أَوْوَلَدٍصَالِحٍ يَدْعُولَهُ:

دَ نیک اولاد دَ قید فائده: ابن حجر مکی رحمه الله فرمائی دَ صالح نه مراد دلته مؤمن دې. علماء فرمائی دَ اولاد سره دَ صالح قیدل دَ دې دپاره لګولې شوې دې چه ځامن راوچتول پکار دی چه هغوی هم نیکان جوړشی. علماء فرمائی که هلك غیرصالح هم وی اوهغه دعااوکړی نوبیاهم څه فائده ورکولې شی. بعضې علماؤ په ولد صالح کښې یوه عجیبه نکته طرف ته اشاره کړې ده چه مور پلار له پکاردی چه خپل اولاد نیکان جوړ کړی نوهله به هغوی ته فائده وی.

[۲۰۴] دعلم لټون او د جنت لار

۲۰۴-(۱)[۷] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا ③ نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ. ④ وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.

[۱] اخرجه مسلم کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فضل الاجتماع علی تلاوة القرآن وعلی الذکر(رقم-۳۸ - (۲۶۹۹) وابوداود کتاب الأدب/باب فی المعونة للمسلم(رقم-۴۹۴۶) والترمذی کتاب القراءات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۹۴۵) وابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل العلماء والحث علی طلب العلم(رقم-۲۲۵)اخرجه احمد فی المسند:۲۵۲/۲

۵ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ. ٦ وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ. ٧ وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ. ٨ وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، ٩ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، ١٠ وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ. ١١ وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې د دنيا په سختيو او تنګيو کښې د يو مسلمان يوه سختي او تنګي لرې کړي ۳ نو الله تعالى جل جلاله به د قيامت په ورځ د هغه سختي او تنګي لرې کړي ۴ او چا چې په يو مسلمان تنګدست آسانتياوکړه الله تعالى به دهغه سره آسانتياوکړي په دنيااوآخرت کې ۵ اوچاچې د يو مسلمان پرده پوشي وکړه الله جل جلاله به په دنيا او آخرت کښې د هغه پرده پوشي وکړي ۶ او الله جل جلاله تر هغه وخته پورې د يو سړي مدد کوي ترڅو پورې چې هغه د خپل مسلمان ورور مدد کوي ۷ او کوم سړي چې د علم په تلاش کښې په يوه لاره ځي نو الله جل جلاله په هغه د جنت لار آسانوي ۸ او هرکله چې يو جماعت د الله جل جلاله په کور (مسجد يا مدرسه کښې قرآن وايي او نوروته يي ورښايي نو په هغوئ د الله جل جلاله د طرف څخه تسکين نازليږي ۹ رحمت الهى په هغوئ خوريږي او فرښتي په هغوئ چارچاپيره راتاويږي ۱۰ او الله جل جلاله د هغه جماعت ذکر (په فرښتو کښې) کوي چې هغه سره دي ۱۱ او چا چې په عمل کښې تاخير اوکړو په آخرت کښې به د هغه نسب هيڅ په کار نه راځي. مسلم

حل اللغات: ① نَفَّسَ: أَيْ: فَرَّجَ: لرې کړي، ② كُرْبَةً: أَيْ: أَيَّ حَزَنٍ وَعَنَاءٍ: څه مصيبت غم او تکليف، ③ يَسَّرَ: أَيْ: سَهَّلَ: آسانى اوکړى، ④ مُعْسِرٍ: أَيْ: فَقِيرٍ: تنګدسته يعنى فقير، محتاج، ⑤ عَوْنِ: أَيْ: فِي قَضَاءِ حَاجَتِهِ: مدد يعنى دهغه په حاجت پوره کولو کښې مشغول وى، ⑥ سَلَكَ: أَيْ: دَخَلَ أَوْمَشَى: روان شى، لاړ شى، ⑦ يَلْتَمِسُ: لټوى، تلاش کوى، ⑧ السَّكِينَةُ: هِيَ الْوَقَارُ وَالْخَشْيَةُ: تسکين يعنى وقار او اطمينان د زړه (په زړه کښې تياره ختمه شى نور پکښې پيدا شى چه ذوق او شوق ورسره نور هم زيات شى). ⑨ حَفَّتْهُمْ: أَيْ أَحَاطُوا بِهِمْ، أَوْطَافُوا بِهِمْ: دوى نه چار چاپيره تاويږى (تر آسمانه پورې، ددوى قرآن او درسونه آورى او د آفاتو بلياتو نه ددوى حفاظت کوى). ⑩ بَطَّأَ: په معنى د روسته والى سره، أَيْ: مَنْ أَخَّرَهُ: چه روسته ئې کړو هغه لره، د بَطَّأَ ضد التَّعَجُّلِ راځى.

تسهيلات:

قوله: وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ.

دمذكوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال: ① په دې حديث شريف کښې دَ علم دَ طلب يوخاص فضيلت طرف ته اشاره کولې شى کوم سړى چه دَعلم دَ حاصلولودَ پاره خپل خوږ وطن او خپلوانونه جدا شى عيش او آرام پريږدى اوځى نودَهغه دَ دې رياضت او مشقت په وجه دَ هغه دَ پاره دَ جنت لار آسانولې شى.(۲)

② چه کله طالب علم مصیبتونه اوتکلیفونه اوزغمل نوالله تعالی هغه ته په دې باندې دَ عمل کولو توفیق هم ورکوی اوچه کله هغه په خپل علم باندې علم کوی نو دَدې په وجه دَهغه جنت ته دَداخلیدلو لار آسانیږی.

③ دَعلم حصول هم دَ جنت دَ داخلیدلو سبب دې. (۴) دَعلم په وجه هغه دَخیر اعمالوطرف ته لار مومی او په دې علم سره به هغه ته دَ حق او باطل په مینځ کښې تمیز کول آسان شی اودَ غلط او صحیح عمل به هغه ته هدایت کولې شی او په دې باندې عمل کولوسره به هغه په آسانئی سره جنت کښې داخل شی. (۵)

په حدیث کښې ذکرشوی معاشرتی تعلیمات: ①که یو سړې دَخپل مصیبت وهلی رور یو وروکې شان مصیبت لرې کوی نو الله تعالی به دَ قیامت په ورځ دَ هغه نه یو لوئی مصیبت اخواکړی. دلته دَمؤمن مسلمان دَ خدمت خبره ده دَ غیرمسلم نه ده. لهذا کوم خلق چه ایمان او اسلام هیر کړی صرف دَخلقو دَخدمت جذبه په زړه کښې ساتی او خدمت کوی نوهغه په خپل ځائی ښنګه چه هم وی لیکن دَ دې حدیث مصداق نه دې.

② دَ یو تنګدست دَ امداد متعلق دې. یعنی دَیو نادارہ سړی ضرورت دې په دنیاکښې پوره کړو مثلاً هغه قرضدارې دې نویا دې ورته قرض معاف کړو یادې دَهغې دَ اداکولو انتظام اوکړو نو الله تعالی به دَ دنیا او آخرت دَ تنګدستو نه دغه سړی ته خلاصې ورکړی.

③ دَ یو شریف سړی نه بشری کمزوری اوشی اوهغه دګناه ارتکاب اوکړو نوهغه مشهوره وه مه بلکه دَ هغه پرده اوساته دې دَ پاره چه دَهغه ژوند بچ شی ګنی هغه به ضائع شی. اوکه چرې هغه عادی مجرم وی اودَ هغه ګناه خوریږی نودَهغې پټول جائز نه دی.

④ ترکومې چه یو مسلمان دَ بل مسلمان په امداد کښې لګیا وَی نو الله تعالی هم دَ هغه امدادکوی اودا امداد اونصرت مسلسل جاری وی.

⑤ کوم سړې دَعلم دین دَ زده کړې په لار روان شی اودَ تعلیم دَحاصلولو دَپاره محنت کوی نو الله تعالی دَ هغه دَپاره دَ جنت لار آسانه وی.

⑥کله هم دَ مسلمانانو جماعت په یو جمات مدرسه یا خانقاه کښې کینی دَ الله تعالی دَ کتاب قرآن مجید تلاوت کوی اودَ هغې په تعلیم اوتدریس کښې لګیا وی نودَ الله تعالی خاص فرښتې هغه پټوی او په هغوی باندې رحمت راوریږی او الله تعالی خپل ځان سره دَ هغوی تذکره کوی.

⑦ کوم سړې دَهغه نیکو اعمالو شاته کړو یعنی هغه دَ خپلو نیکو اعمالو نه شاته پاتې شو نو خاندان او اوچت حسب نسب هغه وړاندې کولې نه شی. چا ښه وینا کړې ده.

[۲۰۵] د ریاکارۍ د عمل سزا

۲۰۵ -(١)[٨] ①وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ يُقْضَى عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ اسْتُشْهِدَ، ③فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعْمَتَهُ فَعَرَفَهَا، ④فَقَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ ⑤قَالَ: قَاتَلْتُ فِيكَ حَتَّى اسْتُشْهِدْتُ ⑥قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ قَاتَلْتَ لِأَنْ يُقَالَ: جَرِيءٌ، فَقَدْ قِيلَ، ⑦ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ،

ترجمه: ①ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②د قیامت په ورځ به مخکني سړي چې (په هغه به د خلوص نیت پرېښودلو) حکم ولګول شي هغه وي چې (په دنیا کښې) شهید شوې وو ③(په میدان حشر کښې) هغه به پیش کړل شي او الله جل جلاله به هغه ته خپل (ورکړي) نعمتونه را یاد کړي چې هغه ته به یاد شي، ④بیا به الله تعالی جل جلاله هغه ته وفرمایي چې تا د دې نعمتونو په شکر کښې څه کار اوکړو؟ یعنی الله تعالی جل جلاله به هغه ته خپل نعمتونه ښودلو سره الزاماً وفرمایي چې تا د دې نعمتونو په شکرانه کښې څه اعمال وکړل؟ ⑤هغه به اووائي ما ستا په په لار کښې جنګ اوکړو تر دې چې شهید شوم، ⑥الله تعالی جل جلاله به ورته وفرمایي ته دروغجن یې ځکه چې ته د دې د پاره جنګیدلې وې چې تاته بهادر اوویل شي نو وتاته بهادر اوویل شو او ستا اصل مقصد د خلقو څخه حاصل شو (اوس زما څخه څه غواړې) ⑦بیا به حکم وشي چې دې پړمخې راکش کښې تردې چې په اور کښې وغورځول شي.

①وَرَجُلٌ تَعَلَّمَ الْعِلْمَ وَعَلَّمَهُ، وَقَرَأَ الْقُرْآنَ ②فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا. قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا، ③قَالَ: تَعَلَّمْتُ الْعِلْمَ وَعَلَّمْتُهُ، وَقَرَأْتُ فِيكَ الْقُرْآنَ. ④قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ تَعَلَّمْتَ الْعِلْمَ لِيُقَالَ: إِنَّكَ عَالِمٌ، وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ لِيُقَالَ: هُوَ قَارِءٌ، فَقَدْ قِيلَ، ⑤ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ حَتَّى أُلْقِيَ فِي النَّارِ.

ترجمه: ①بیا (دویم) به هغه سړي وي چې هغه علم حاصل کښې نوروته یې تعلیم ورکړي او قرآن یې اوونیلو ②هغه به هم (د الله تعالی جل جلاله په حضور کښې) راوستل شي الله تعالی جل جلاله به ورته خپل ورکړي نعمتونه رایاد کړي چې هغه ته به یاد شي بیا به ځني الله تعالی جل جلاله پوښتنه وکړي چې تا د دې نعمتونو په شکر کښې څه کار وکړي؟ ③هغه به وایي ما علم حاصل کښې او نورو ته مې وروښودل او ستا د پاره مې قرآن اوونیلو، ④الله تعالی جل جلاله به ورته فرمایي ته دروغجن یې، تا علم محض د دې دپاره حاصل کښې چې خلق درته عالم اووائي او قرآن دې د دې د پاره زده کښې چې خلق درته قاري اووائي نو (عالم او قاري) درته اوویل شو، ⑤بیا به حکم وشي چې دې پړمخې بوزي نو په دوزخ کښې به واچول شي،

(١) اخرجه مسلم كتاب الإمارة/ باب من قاتل للرياء والسمعة استحق النار(رقم-١٥٢ - (١٩٠٥) والنسائي كتاب الجهاد/باب باب من قاتل ليقال فلان جريء (رقم-٣١٣٧) اخرجه احمد في المسند:٣٢٢/٢

۱وَرَجُلٌ وَسَّعَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَأَعْطَاهُ مِنْ أَصْنَافِ الْمَالِ كُلِّهِ، ۲فَأُتِيَ بِهِ فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ فَعَرَفَهَا، قَالَ: فَمَا عَمِلْتَ فِيهَا؟ ۳قَالَ: مَا تَرَكْتُ مِنْ سَبِيلٍ تُحِبُّ أَنْ يُنْفَقَ فِيهَا إِلَّا أَنْفَقْتُ فِيهَا لَكَ. ۴قَالَ: كَذَبْتَ، وَلَكِنَّكَ فَعَلْتَ لِيُقَالَ: هُوَ جَوَادٌ; فَقَدْ قِيلَ، ۵ثُمَّ أُمِرَ بِهِ فَسُحِبَ عَلَى وَجْهِهِ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱بیا به (دریم) هغه سړي وي چې الله تعالی ﷻ ورته (په مال کښې) وسعت ورکړي وي او هرقسم مال یي ورته ورکړي وي ۲هغه به هم د الله تعالی ﷻ په حضور کښې راوستل شی الله تعالی ﷻ به هغه ته خپل ورکړي نعمتونه رایاد کړي چې وهغه ته به یاد شي، بیا به ورته الله تعالی ﷻ وفرمایي چې تا د دې نعمتونو په شکر کښې څه اعمال وکړل، ۳هغه به وایي ما هیڅ داسې لار پرې نه ښودله چې په هغه کښې ته خرڅ کول خوښوي او ستا د رضا د پاره ما په هغه کښې خرڅ نه وي کړي، ۴الله تعالی ﷻ به ورته فرمایي چې ته دروغ وایي تا خرڅ ځکه اوکړو چې تاته سخي اوویل شی او سخي درته اوویل شو، ۵بیا به حکم وشي چې دې پړمخي بوځي تردي چې په دوزخ کښې به واچول شي. مسلم

حل اللغات: ① اسْتُشْهِدَ: أَيْ: قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ: شهید شوې وو یعني دالله په لار کښې قتل کړې شوې وو. ② جَرِيءٌ: د فَعِيلٌ په وزن باندې د جَرَاءَةٍ نه مهموز دې، أَيْ: شُجَاعٌ: بهادر، ③ فَسُحِبَ: أَيْ: جُرَّ: رابه ښکلې شی، ④ أَصْنَافِ: انواع او اقسام د مال (لکه نغدې، سامانونه، زمکې او څاروی وغیره). ⑤ جَوَادٌ: أَيْ: سَخِيٌّ كَرِيمٌ: سخاوت کونکې، صدقه اوخیرات کونکې، ⑥ أُلْقِيَ: اوبه غورځولې شی (په اور د دوزخ کښې).

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَوَّلَ النَّاسِ:

په احادیثو کښې تعارض: ① په دې حدیث شریف کښې خودلې شی چه دَ قیامت په ورځ باندې به دَ ټولو نه مخکښې حساب اوفیصله دَ هغه ځان خودونکی شهید کیږی.

② په بل حدیث کې ذکردی چه دَ ټولو نه مخکښې فیصله به دَ قیامت په ورځ دَ مونځ کیږی.

③ په یو بل حدیث کښې راغلی دی چه دَ ټولونه مخکښې فیصله به دَ ناحق وینه تویونکی قاتل اومقتول کیږی.

دتعارض جواب: دَ قیامت په ورځ معاملات اوحقوق العباد کښې دَ ټولو نه مخکښې فیصله دَ ناحق وینې کیږی. دَدې یو صورت خودَ ناحق قتل دې اوبل صورت دَ ریاکارئی او ځان خودونکې وینې دې. لکه چه په دې حدیث کښې دَ هغه ریاکارشهید دَ وینې دې. لهذا په حقوق العباد کښې به دَ دې قسم معاملاتو فیصلې کیږی او په حقوق الله او عبادت کښې به دَ ټولونه مخکښې فیصلې دَ مانځه کیږی. نو هیڅ تعارض نشته دې.

په حديث کښې چه د [اول الناس] کوم اوليت دې په اعتبارد انواع دې. د انواع عبادت فيصلې به جدا وی اود انواع معاملات فيصلې به جدا وی.

قوله: فَعَرَّفَهُ نِعَمَهُ:

اشکال: د نعمتونو سلسله خو بې شميره ده دابه څنګه وريادولې شی؟ او په حديث کښې دی چه هغه ته به عام نعمتونه وريادولې شی اوهغه سړې به د دې ياداش سره د هغې پيژند ګلو هم کوی.

داشکال جواب: نن صبا جدت او جديد آلاتو ددې جواب آسان کړې دې. څکه چه په کمپيوټر سسټم او ټيلی ويژن پروګرامونوکښې اقوال، افعال، حرکات، سکنات، مقامات او زمانيات ټول هرڅه محفوظ کولوسره د ضرورت مطابق کوم يو وخت هم دوباره کتلې شی. نود قادر مطلق بادشاه د پاره د نعمتونو وريادول څه ګران کار دې.

قوله: وَقَرَأْتُ فِيكَ:

د رياکار قاری انجام: يعنی ستا د رضا او خوشحالولود پاره ما قرآن لوستلو، علم مې زده کړو او بل ته مې خودلو. په دې حديث کښې صرف درې کسان مراد نه دی بلکه دا درې قسمه خلق دی د کومو شمير چه هم الله تعالی ته معلوم دې.

د فاسق عالم انجام: دفضيل بن عياض رحمه الله قول دې چه د قيامت په ورځ به فاسق عالم بت پرست نه اول نيولې کيږی څکه پوهه اوناپوهه برابر نشی کيدې. څنګه چه دې درې واړو څيزونو کښې اخلاص او للهيت ضروری دې نوداشان هر عمل کښې اخلاص ضروری دې. که اخلاص نه وی نو لوئې نه لوئې عمل هم يو کس جنت ته نه بلکه جهنم ته د داخليدو سبب جوړيږی.

[٢٠٦] په آخيره زمانه کښې د علم پورته کيدل

٢٠٦ـ(١)[٩] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«إِنَّ اللَّهَ لَا يَقْبِضُ الْعِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ الْعِبَادِ، ٣ وَلَكِنْ يَقْبِضُ الْعِلْمَ بِقَبْضِ الْعُلَمَاءِ، ٤ حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا؛ اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالًا، ٥ فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ، ٦ فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ الله تعالی جل جلاله به علم (په آخري زمانه کښې) داسې نه پورته کوي چې د خلقو (د زړونو او دماغ) څخه به يې وباسي ٣ بلکه علم به داسې پورته کړي چې علماء به د دې دنيا څخه پورته کښې ٤ تر

١) اخرجه البخاری کتاب العلم/باب: کيف يقبض العلم(رقم-١٠٠) ومسلم کتاب العلم /باب رفع العلم وقبضه وظهور الجهل والفتن فی آخر الزمان(رقم-١٣ - (٢٦٧٣) والترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی ذهاب العلم (رقم-٢٦٥٢) وابن ماجة کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم باب اجتناب الرأی والقياس (رقم-٥٢)

دي چې يو عالم به باقي پاتې نشي نو خلق به جاهلان خپل پيشوا جوړ کړي ⑤نو د هغوئ څخه به د مسئلو پوښتنه کوي او هغه به بغير د علم څخه فتوي ورکوي ⑥نو هغه به خپله هم گمراه وي او نور خلق به هم گمراه کوي. بخاري مسلم

حل اللغات: ① لَايَقْبِضُ : أي بِأَنْ يَرْفَعَهُ: نه قبض کوی، نه پورته کوی. ② انْتِزَاعًا : چه اوئې باسی (دخلقو د زړونو اودماغ نه). ③ رُءُوسًا : أَيْ خَلِيفَةً: خپل مشر او خليفه (قاضی، امام وغيره به ئې جوړ کړی). ④ فَضَلُّوا : أَيْ: صَارُوا ضَالِّينَ: په خپله هم گمراه شول، ⑤ وَأَضَلُّوا: أَيْ مُضِلِّينَ لِغَيْرِهِمْ: خلق ئې هم گمراه کړل.

تسهيلات:

قوله: لَايَقْبِضُ الْعِلْمَ:

دعلم په قبض کولو کښې د عالمانو اقوال:

① دغه شان دحضرت عمر رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه علم به داسې نه شی قبض کولې چه دَ سينو نه به اوځی بلکه داسې به وی چه علماء کرام به فنا شی. (١)

② حضرت عبدالله بن ثابت رضي الله عنه فرمائی عالمان به مړه کيږی اودَ هغوی سره به دَ حق نښې هم ختميږی تردې چه جاهلان به زيات شی او عالمان به ختم شی. نو خلق به په جهالت باندې عمل او باطل باندې يقين کول شروع کړی او په دې سره به گمراهی پوره شی. (٢)

③ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی علم دَ هغې دَ قبض کيدو نه وړاندې وړاندې زده کړه. دَ علم قبض کيدل دَ اهل علم دَ دنيانه اوچتيدل دی.

دعلم د پورته کيدو وجوهات: ① دَ علماؤ په زړه کښې به دَ دنيا لالچ راشی او هم هغوی سره به دِعلم قدر نه وی نو بيا نور خلق به ترې څه فائده حاصله کړی.

② په عام توگه به دَ علم اواهل علم قدر ختم شی.

③ دکوم طرف ته چه په دې حديث پاك کښې اشاره فرمائيلې شوې ده اهل حق علماء به دَ دنيا نه اوچتيږی بيا به دَ هغوی په ځائ دنيا پرست خلق راځی چه پخپله به هم گمراه وی او څوك چه دوی سره تعلق ساتی هغه به هم گمراه کوی.

قوله: رُءُوسًا:

درؤوس څخه مراد: دلته د سر لفظ څه په عجيبه معنی کښې دي. څکه چې سر د انسان په بدن کښې هغه حصه ده کومې ته چې بلد العلماء وئيلې شی. څکه چې د علم ټول وسائل

---

(١) العلم والعلماء: ١١٥.

(٢) العلم والعلماء: ١١٧.

او ذرائع په سر کښې دي. لکه قوت مدرکه او ادراك په سر کښې دي. قوت باصره، قوت سامعه، قوت شامه، قوت ذائقه او قوت لامسه ټول په ټوله په سر کښې دي. نو دا د علماء ښار شو.

دحديث مطلب: نو ددې حديث مطلب دا هم شو چې خلق به جاهلانو لره د علم مرکز جوړ کړي نو ګمراه به شي. ځکه چې د جاهل د ماغ چا ته رڼړا نشي ورکولې بلکه هم تياره ورکوي. [اخرجه البخاري ۲۷/۱]

[۲۰۷] په وعظ او نصيحت کښې ميا نه روی کول

۲۰۷ ـ(۱)[۱۰] [۱] وَعَنْ شَقِيقٍ: - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۲] «كَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ يُذَكِّرُ النَّاسَ فِي كُلِّ خَمِيسٍ. [۳] فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ! لَوَدِدْتُ أَنَّكَ ذَكَّرْتَنَا فِي كُلِّ يَوْمٍ. [۴] قَالَ: أَمَا إِنَّهُ يَمْنَعُنِي مِنْ ذَلِكَ أَنِّي أَكْرَهُ أَنْ أُمِلَّكُمْ، [۵] وَإِنِّي أَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ [۶] كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَخَوَّلُنَا بِهَا [۷] مَخَافَةَ السَّآمَةِ عَلَيْنَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] شقيق رحمه الله راوي دي [۲] چې حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به د هر زيارت (جمعرات) په ورځ د خلقو په مخکې وعظ او نصيحت کولې [۳] (يوه ورځ) يو سړي عرض اوکړو اې ابو عبد الرحمٰن! زما خواهش دې چې ته مونږ ته هره ورځ وعظ کوې [۴] عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمايل زه داسې ځکه نه کوم چې په دې سره به تاسو تنګ شی [۵] زه د نصيحت په معامله کښې ستاسو خبر ګيري (خبر اخستل) داسې کوم څنګه چې مونږ ته به د نصيحت په معامله کښې حضور صلی الله علیه وسلم خبر ګيري کوله [۷] او زمونږ د تنګ کيدو خيال به يې ساتلې. بخاري مسلم

حل اللغات: ① خَمِيسٍ: د زيارت ورځ، جمعرات (پنج شنبه). ② أُمِلَّكُمْ: أَيْ: إِمْلَالَكُمْ: تنګول ستاسو، ستومانه کول ستاسو، ③ أَتَخَوَّلُكُمْ: وَهُوَ التَّعَهُّدُ وَحُسْنُ الرِّعَايَةِ: خبرګيرى کول، خير خبر اخستل او دخلقو لحاظ ساتل. ④ السَّآمَةِ: أَيِ الْمَلَالَةِ: ستړى کيدل او ستومانه کيدل.

د راوي مختصر تعارف: دې دَ آل خضرمی مولى دې. دَحضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت نقل کوی اودَ هغوی دَ شاګردانونه يحيى قطان او وکيع وغيره دی. اکثر محدثينو هغه ته ثقه وئيلې تردې چه علامه نووی رحمه الله دَ هغه په عظمت باندې اتفاق نقل کړې دې.

تسهيلات:

قوله: وَإِنِّي أَتَخَوَّلُكُمْ بِالْمَوْعِظَةِ:

(۱) اخرجه البخاری کتاب العلم /باب ما كان النبی صلی الله علیه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم کی لا ينفروا(رقم-۶۸) ومسلم کتاب صفة القيامة والجنة والنار /باب الاقتصاد فی الموعظة(رقم-۸۳ - (۲۸۲۱) والترمذی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الفصاحة والبيان (رقم-۲۸۵۵)اخرجه احمد فی المسند: ۳۷۸/۱

روزانه د وعظ نصیحت کولو څخه دابن مسعود رضی الله عنه انکار: حضرت شقیق رحمه الله تابعي دې هغوی حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته روزانه د وعظ اونصیحت کولو درخواست اوکړو. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د هغه مطالبه مسترد کړه. په کوم سره چه امت ته دا تعلیم ملاؤ شو چه د وعظ اونصیحت او دعوت اوتبلیغ په معامله کښې د اعتدال او احتیاط نه کار اخستل پکاردی. هر وخت او په هره موقع باندې وعظ اونصیحت نه دی کول پکار. ځکه چه په دې سره به د خلقو زړونه ستومانه شی اوهغوی به د دین خبره بوج محسوس کړی. اود دین خبره بوج محسوس کول په حقیقت کښې د نفرت ذریعه ده. اود دین د خبرې نه نفرت کول د کفر سبب دې. نود زیات وعظ او اوږد وعظ انجام به څومره خطرناك وی اود رشد او هدایت په ځائی به رحمت زحمت جوړېدوسره د ګمراهئی ذریعه جوړه شی.

[٢٠٨] د سامعینو د پوهولو دپاره درې ځله خبره کول

٢٠٨-(١)[١١] ①وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ②: «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ أَعَادَهَا ثَلَاثًا③حَتَّى تُفْهَمَ عَنْهُ،④وَإِذَا أَتَى عَلَى قَوْمٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ⑤سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلَاثًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ①انس رضي الله عنه راوي دي ② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به کله څه خبره کوله نو درې ځله به يي کوله ③ تر دې چې خلق به په هغه په ښه شان پوه شو ④او کله به چې حضور صلی الله علیه وسلم يو جماعت ته راغې او د سلام اراده به يي فرمايله ⑤نو درې ځله به يي سلام کولې. بخاري

تسهیلات:

قوله: أَعَادَهَا ثَلَاثًا:

د درې ځله خبرې کولو په مفهوم کښې دوه اقوال:

① نبی علیه السلام به اهمه او ضروری علمی خبره درې ځله فرمائيله. چې په اول ځل ذکی او ذهین خلق په دې پوهه شی. په دويم ځل متوسط ذهين خلق او په دريم ځل غبی خلق په دې پوهه شی. نبی کريم صلی الله علیه وسلم به هره خبره دوباره نه کوله.

② نبی کريم صلی الله علیه وسلم به هره خبره درې درې ځل نه فرمائيله بلکه نبی کريم ته به د دريو ځلو فرمائيلو ضرورت په هغه وخت کښې راپيښيدو کله چې به دا انديښنه وه چې سامعين به پوهه شوی نه وی.

قوله: سَلَّمَ عَلَيْهِمْ ثَلَاثًا:

درې ځله د سلام اچولو په مفهوم کښې دوه اقوال: ① درې ځه د سلام اچولو مطلب دا دي چې نبی علیه السلام به د مجمع اولې حصې ته اول سلام او مينځنۍ حصې ته دويم سلام او مقام

---

[١] اخرجه البخاری كتاب العلم/بباب عظة الإمام النساء وتعليمهن(رقم-٩٨) والترمذی كتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية أن يقول عليك السلام مبتدئا (رقم-٢٧٢٣)

مقصود ته په رسيدلو يا د رخصتيدو په وخت كښې دريم سلام وو. دا نن سبا هم كيږي. د حديث پاك مطلب دا نه دې چې په هم يو ځائې باندې ئې درې ځل سلام كولو.

④ يعنى نبى كريم ﷺ چې به كله مجمع ته راغلو نو سلام به ئې كولو نو دا به ئې درې ځل كولو. دا عادت مبارك به ئې په هغه وخت كښې وو چې كله به مجمع زياته وه. نو د نبى كريم ﷺ اول سلام به په راتلو سره وو، دويم به د مجمع ښى طرفته او دريم به د مجمع ګس طرفته وو.

[٢٠٩] د نيكۍ خودونكى دپاره د نيكۍ كونكى پشان ثواب

٢٠٩-()[١٢]١وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ٢: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣فَقَالَ: إِنَّهُ أُبْدِعَ بِي فَاحْمِلْنِي ٤فَقَالَ: مَا عِنْدِي. ٥فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَنَا أَدُلُّهُ عَلَى مَنْ يَحْمِلُهُ. ٦فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ابو مسعود انصاري رضي الله عنه راوي دي ٢چې يوسړي د حضور ﷺ په خدمت كښې حاضر شو ٣ او عرض يي اوكړو چې زما سوارلئ د تلو څخه عاجزه شويده ته ماته سوارلئ راكړي! ٤ حضور ﷺ ورته وفرمايل زما سره څه سوارلئ نشته (چې وتاته يي دركړم) ٥ يوسړي عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ زه وده ته داسې سړي ښايم چې ده ته به سوارلئ وركړي حضور ﷺ وفرمايل كوم سړي چې د چا د خير طرف ته رهنمايي وكړي ٦ نو هغه ته به هم هغومره ثواب وركول كيږي څومره چې هغه خير (نيكي) باندې عمل كونكي ته وركول كيږي. مسلم

حل اللغات: ① أُبْدِعَ : أَي: انْقَطَعَ رَاحِلَتِي بِي: زما د سورولو نه سترې شوې او عاجزه شوې ده.② فَاحْمِلْنِي : أَيْ: رَكِّبْنِي: ما سور كړه، يعنى ماته سورلى راكړه چه زه پرې سور شم، ③ أَدُلُّهُ: زه به ورته اوښائم.

تسهيلات:

قوله: مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ:

شان ورود: لكه څنګه چه دَ قرآن پاك دَ آيت شان نزول وى نودغه شان دَ بعض احاديثو شان ورود وى چه په يوخاص موقع باندې ارشاد فرمائيلې شوې وى نودغه شان دَ دې حديث هم شان ورود دې. يو صحابى رضي الله عنه چه كله دَ سفرد پاره دَ حضور ﷺ نه سورلى اوغوښتله په دې باندې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ماسره سورلى نشته. يوسړى اووئيل چه زه داسې سړې درښايم چه ده له به سورلى وركړى په دې باندې رسول الله ﷺ دا

(١) اخرجه مسلم كتاب الإمارة/باب فضل إعانة الغازى فى سبيل الله بمركوب وغيره، وخلافته فى أهله بخير(رقم-١٣٣-(١٨٩٣) والترمذى كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء الدال على الخير كفاعله (رقم-٢٦٧١) وابوداود كتاب الأدب/باب فى الدال على الخير(رقم-٥١٢٩)اخرجه احمد فى المسند:٤/١٢٠

پورتني حديث شريف بيان كړو.(٢)

ددعوت اووعظ نصيحت لويه فائده: په دې حديث شريف كښې دَ الله تعالى دَ طرف نه دَ يواوچت انعام او وركړې بيان دې چه سړې پخپله دومره كارنه شى كولې بل ته دې ترغيب وركړى دَ دې كارد پاره دې تياركړى مثلاً دَ ناداركيدو په وجه يا دَ څه بلې وجه نه مال په كثرت سره نه شى خرچ كولې نو نورو له دې ترغيب وركړى دَ خرچ كولو نودا ترغيب وركونكې دَخرچ كونكى سره به هم په ثواب كښې شريك شى.كه يوسړې پخپله روژه نه شى ساتلې حج نه شى كولې جهاد نه شى كولې غرض دا چه دَ كوم يونيك كار دَ پاره بل سړې تياركړى او ترغيب وركړى نو دَ كونكى په شان به ترغيب وركونكى ته هم اجر او ثواب ملاويږى.

[٢١٠] د نيک عمل جاري کولو بدله

٢١٠-(١)[١٣] ١ وَعَنْ جَرِيرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ ٢: «كُنَّا فِي صَدْرِ النَّهَارِ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٣ فَجَاءَ قَوْمٌ عُرَاةٌ مُجْتَابِي النِّمَارِ أَوِ الْعَبَاءِ، ٤ مُتَقَلِّدِي السُّيُوفِ، ٥ عَامَّتُهُمْ مِنْ مُضَرَ، بَلْ كُلُّهُمْ مِنْ مُضَرَ، ٦ فَتَمَعَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِمَا رَأَى بِهِمْ مِنَ الْفَاقَةِ، ٧ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ، فَأَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ، وَأَقَامَ فَصَلَّى ٨ ثُمَّ خَطَبَ فَقَالَ: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ} [النساء: ١] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ {إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا} [النساء: ١]، وَالْآيَةَ الَّتِي فِي الْحَشْرِ {اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ} [الحشر: ١٨] ٩ تَصَدَّقَ رَجُلٌ مِنْ دِينَارِهِ، مِنْ دِرْهَمِهِ، مِنْ ثَوْبِهِ، مِنْ صَاعِ بُرِّهِ مِنْ صَاعِ تَمْرِهِ ١٠ حَتَّى قَالَ" وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ".

ترجمه: ١ جرير رضي الله عنه راوي دي ٢ چې (يوه ورځ) مونږ د ورځې په ابتدايي حصه كښې د حضور ﷺ په خدمت كښې حاضر وو، ٣ يوقوم د حضور ﷺ په خدمت كښې راغي چې بربنډ بدنونه يي وه عبا يا كمبل يي اچولي وي ٤ او په غاړه كښې يي توري زوړند وې ٥ په هغوئ كښې اكثره بلكه ټول د قبيلهٔ مضر خلق وو ٦ په هغوئ د فاقې اثر ليدو سره د حضور ﷺ مخ مبارك متغير شو ٧ حضور ﷺ د هغوئ د پاره خوراک تلاش كښې كورته يي تشريف وړ وړي (خو په كوركي يي څه نه كړه پيدا) نو واپس راغي حضرت بلال رضي الله عنه ته يي (د اذان كولو) حكم اوكړو او تكبير يي اووئيلو او د جمعي يا ماسپښين مونځ وشو، ٨ بيا حضور ﷺ خطبه وويله او دا آيت يي اووئيلو: يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ، الآية، اي خكو د خپل پروردګار څخه وويرېږي چې هغه تاسو د يونفس (آدم عليه السلام) څخه پيدا كړي يئ، پوره آيت يي تلاوت كښې چې د هغه آخري حصه دا

١) اخرجه مسلم كتاب القدر/باب الحث على الصدقة ولو بشق تمرة، أو كلمة طيبة وأنها حجاب من النار(رقم-٦٩ - ١٠١٧) والنسائى كتاب الزكاة/باب التحريض على الصدقة (رقم-٢٥٥٤) والترمذى كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن دعا إلى هدى فاتبع أو إلى ضلالة (رقم-٢٦٧٥) اخرجه احمد فى المسند: ٣٥٩/٤

ده: بیشکه الله تعالی ﷻ دي په تاسو نګهبان (څارونکي) بیا یي دا آیت اووئیلو، چې په سورة حشر کښې دي: وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ، الآية، اي ایمان والاؤ د الله تعالی ﷻ څخه وویرېږي او هر سړي دي وګوري چې صبا له (د قیامت) د پاره هغه څه ذخیره لیږلي ده، [۹] بیا یي وفرمایل خیرات دي وکړي سړي د خپل دینار څخه د خپل درهم څخه د خپلو کپړو څخه د خپلو غنمو د پیماني څخه [۱۰] تر دي چې حضور ﷺ وفرمایل خیرات دي کړي که څه هم د خورما یوه ټوټه وي،

حل اللغات: ① صَدْرِ النَّهَارِ: أَيْ: أَوَّلِهِ: د ورځ شروع، د ورځ ابتدائی حصه، ② عُرَاةٌ: بربنډ یعنی د بدن ا کثره حصه ئې ښکاره وه. ③ مُجْتَابِي: أَيْ لَابِسِي: اغوستې ئې وو، بعضې بدن ئې پټ کړې وو، ④ النِّمَارِ: وَهِيَ أَكْسِيَةٌ مِنْ صُوفٍ: د وړئ نه جوړ شوې څادر، ⑤ الْعَبَاءِ: أي بُرْدَةٌ مِنْ صُوفٍ: د وړئ نه جوړه شوې کمبل، شړئ، ⑥ مُتَقَلِّدِي: په غاړه کښې ئې رازوړندې کړې وې. ⑦ السُّيُوفِ: د سیف جمع ده، توري، ⑧ فَتَمَعَّرَ: أَيْ: فَتَغَيَّرَ: بدل شو (رنګ د مخ د نبی علیه السلام) ⑨ الْفَاقَةِ: أَيِ: الْفَقْرِ الشَّدِيدِ: سخت محتاج او تنګدست خلق وو. ⑩ رَقِيبًا: نګران، (سارونکې دې ستاسو اقوالو او افعالو او حالاتو). ⑪ مِنْ بُرِّهِ: أَيْ: مِنْ قَمْحِهِ وَحِنْطَتِهِ: غنم، اوړه. ⑫ شِقِّ: ټکړه، حصه،

[۱] قَالَ: فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ بِصُرَّةٍ كَادَتْ كَفُّهُ تَعْجِزُ عَنْهَا، بَلْ قَدْ عَجَزَتْ، [۲] ثُمَّ تَتَابَعَ النَّاسُ حَتَّى رَأَيْتُ كَوْمَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَثِيَابٍ. [۳] حَتَّى رَأَيْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَتَهَلَّلُ كَأَنَّهُ مُذْهَبَةٌ [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا [۵] مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ، [۶] وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ [۷] مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] راوي وایي یو انصاري سړي (د دینارو او درهم څخه ډکه) یوه تیلي راوړه چې د هغي په وزن سره د هغه لاس ستړي کیدو ته نزدې وو، بلکه ستړي شوې وو، [۲] بیا خو د خلقو پرله پسي څیزونه راوړل شروع کړل، تر دي چې ما دوه ډیري (کوړي) د غلي او کپړو (جمع شوي) ولیدلي [۳] بیا ما ولیدل چې د حضور ﷺ مخ مبارک د خوشحالي په وجه د کندن (خالص سرو زرو) په شان ځلیدلي، [۴] بیا حضور ﷺ وفرمایل چې کوم څوک په اسلام کښې یوه نیکه طریقه رائج کړي نو هغه ته به د هغه هم ثواب حاصلیږي او د هغه ثواب هم چې د هغه څخه وروسته څوک ورباندې عمل وکړي [۵] لیکن د عمل کونکي په ثواب کښې به هیڅ کمي نه کیږي [۶] او کوم سړي چې په اسلام کښې یوه خرابه طریقه رائج کړه نو د هغه به ورته هم ګناه وي او د هغه سړي هم چې د هغه څخه وروسته په هغه عمل کوي [۷] لیکن د عمل کونکي په ګناه کښې به هیڅ کمي نه کیږي. مسلم

حل اللغات: ⑬ بِصُرَّةٍ: أَيْ: رَبْطَةٍ مِنَ الدَّرَاهِمِ أَوِ الدَّنَانِيرِ: تهیلئ چه دینار او دنانیر پکښې وو. ⑭ كَفُّهُ: تهلې (ددې نه لاس مراد دې). ⑮ تَعْجِزُ: عاجزه کیدو (د دروندوالی په وجه ستړې شوې وو). ⑯ كَوْمَيْنِ:

أي الصُّبْرَةُ: ډهيرى، توپونه. ⑮ يَتَهَلَّلُ: أي: يَسْتَنِيرُ: پرقيدو او ځليدو ﴿يعنى د خوشحالئ اثار پرې ښكاره معلوميدل﴾. ⑱ مُذْهَبَةٌ: هُوَمَا مُوَّهَ بِالذَّهَبِ: چه د سرو زرو اوبه ورله وركړې شوې وى. ⑲ وِزْرُهَا: أي: إِثْمُهَا: بوج يعنى ګناه دهغې بدعمل.

دراوي مختصر تعارف: نوم جرير ابوعمر كنيت جرير دَ يمن دَ شاهى خاندان ركن او قبيله بجيله سردار وو په دې وجه هغه ته بجلى وائى. علامه واقدى فرمائى چه په رمضان ۱۰ھ كښې په اسلامِ كښې داخل شوپه حجة الوداع كښې دَ رسول الله ﷺ هم ركاب وو. كله چه دې دَ اسلام قبلولودَ پاره راغلو نورسول الله ﷺ ورته خپل څادرمبارك خور كړو. (اصابه ۲۴۲/۱) حضرت عثمان رضی الله عنه هغه دَ همدان ګورنر هم جوړكړې وو. دَحضرت عمران رضی الله عنه باره كښې به ئى فرمائيل چه الله تعالى دې په تاباندې رحمت نازل كړى ته په جاهليت كښې هم ښه سردار وو او په اسلام كښې هم ښه سردار ئى. (۱)

وفات: يمنى وو بيا كوفې ته لاړو بيا قرقيبا كښې اوسيدلو او بيا هم دلته په ۵۴ھ كښې وفات شو. (۲)

مرويات: دَ هغوى نه سل (۱۰۰) احاديث نقل دى. ۸ په بخارى اومسلم دواړو كښې مشترك دى يو كښې بخارى او ۷ كښې مسلم منفرد دې. (۳)

تسهيلات:

قوله: قَوْمٌ عُرَاةٌ:

د عراة مطلب: يعنى دَ يو قوم خلق راغله اوهغه خلق په بدنونوباندې بربنډ وو يعنى كپړې كمې وې. دَټول بدن دَپاره ئى كپړې پوره نه وې. هغه كپړې وړينې هم وې او شليدلې هم وې.

قوله: عَامَّتُهُمْ مِنْ مُضَرَ:

د وفد تعارف: دا خلق دَ بنومضروو چه اول كافران وو اودَ قبيله عبدالقيس دښمنان وو. دې مجاهدينوسره كپړې خونه وې مګر دَ جهاددَپاره ئى تورې رازوړندكړې وې. كومې سره چه دَ نن صبا دَ مسلمانانو سترګې غړيدل پكاردى. چه دَ وسلې نه نفرت كوى اودَ دنيا عيش اومزو سره محبت كوى.

قوله: تَصَدَّقَ:

د تصدق په تركيب كښې دوه اقوال: ① علامه ابن انبارى رحمه الله فرمائى دلته په تصدق كښې لام امرمحذوف دې. په اصل كښې ليتصدق وو. لهذا دَ امر غائب صيغه شوه يعنى هرسړى له صدقه كول پكاردى.

---

(۱) تهذيب التهذيب ۳/۲)
(۲) اصابه ۲۴۲/۱)
(۳) تهذيب الكمال ۶۱).

② دا دَماضي صيغه ده کوم چه خبردې مګر دلته دَ انشاء په معنى کښې دې يعنى دَ هرسړی نه چه څه کيدې شی صدقه دې اوکړی. [الکاشف: ١/٤٠٥.]

قوله: کُومِيَن:

دکومين څخه مراد: کوم ډهيرى ته وائى چونکه دَ غلې او. کپړو ډهيرى جوړيږى په دې وجه دلته دَ غونډئى او ډهيرى ذکر راغلې دې. اودَ درهم او دنانيرو ډهيرې عادتاً نه وى په دې وجه دَهغې ذکرهم اونه کړې شو.

ضرورى تنبيه: دلته سنت جارى کولوسره محقق علماء په نيز په دې حديث شريف کښې دَ حسنة قيد دې يعنى هغه طريقه په شريعت کښې دلالةً يا ارشارةً موجود وى او ادله اربعه نه په يودليل کښې داخله وى.داهيڅ کله مراد نه دې چه دَخپل طرف نه يوڅيز جارى کړى هم دَ دې نوم خو بدعت دې او په شريعت کښې داخراب کاردې.(٤)

بعض علماءکرامو ليکلى دى مراد دَ طريقې جارى کولونه دادې چه هغه دَ حضور ﷺ يا دَ خلفاء راشدينو سنت وو خودَ خلقو نه هيرشوى وو نواوس دَهغې طرف ته خلقو له دعوت ورکول اودَ هغې تعليم ورکول او په هغې باندې پخپله عمل کول مراد دى.(٥)

دغه شان په بعض رواياتوکښې من سن فى الاسلام په ځائ ايما داع دعا إلى هدى الفاظ راغلى دى.(٦)

[٢١١] د قابيل دپاره د هر مظلوم د قتل سزا

٢١١-(١)[١٣] ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ② لَا تُقْتَلُ نَفْسٌ ظُلْمًا ③ اِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ اٰدَمَ الْاَوَّلِ كِفْلٌ مِّنْ دَمِهَا لِاَنَّهٗ اَوَّلُ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ④ وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ مُعَاوِيَةَ لَايَزَالُ طَآئِفَةٌ مِنْ اُمَّتِي فِي بَابِ ثَوَابِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اِنْ شَآءَ اللهُ تَعَالٰى.

ترجمه: ① ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې د ظلم په طريقه قتل شی نو د هغه د وينې يوه حصه د آدم) مخکنې ځوي په قابيل باندې وي ③ ځکه چې هغه اولنی سړي دي چې د قتل طريقه يې راويستله، بخاري ومسلم ④ او د معاويه رضي الله عنه هغه حديث چې د هغه ابتدا دا ده: لايزال أُمتي، مونږ به يي انشآء الله تعالٰى په باب ثواب هٰذه الامتي کښې بيان کړو.

حل اللغات: ① كِفْلٌ: أَيْ: نَصِيبٌ: حصه، ② سَنَّ: چه طريقه ئې شروع کړې ده.

---

(١) اخرجه البخارى كتاب الحج/باب خلق آدم صلوات الله عليه وذريته(رقم-٣٣٣٥) ومسلم كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات/باب بيان إثم من سن القتل(رقم-٢٧ - (١٦٧٧) والترمذى تاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء الدال على الخير كفاعله (رقم-٢٦٧٣) ابن ماجة كتاب الديات باب التغليظ فى قتل مسلم ظلما(رقم-٢٦١٦)اخرجه احمد فى المسند:١/٣٨٣

تسهيلات:

قوله: إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الْأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا:

دابن آدم څخه مراد: کوم سړي چې د ظلم په طريقه قتل شي نو د هغه د ويني يوه حصه د آدم دَ آدم عليه السلام ړومبې ځوئ (قابيل) باندې دَ هغه دَ وينې حصه وی.دَ هغه واقعه دَ قرآن په دې آيت کښې بيان کړې شوې ده.﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ﴾ (١)

علامه نووی رحمه الله فرمائی ځوك هم چه څه غلط كار شروع كوی نو هغه ته به دَ دغې گناه هم وی اوځوك چه په دې عمل كوی دَ هغه ټولو گناه به هم ده ته ملاويږی.اودا سلسله به دَ قيامته پورې روانه وی.(٢)

دبدکار شروع کولو خطرناک انجام: په دې حديث شريف تنبيه ده چه سړې دې څه داسې كار نه شروع كوی چه دَ شريعت نه خلاف او خراب كاروی اوروستو بيا خلق په دې كار كښې دَ ده تقليد كوی.نودا دومره لوئ جرم دې چه دَ قيامته پورې ځوك دغه كار كوی نودَ دې ټولوگناه به دَ دې بدعت جاری كونكی دَ پاره وی.لكه چه دَ دې نه وړاندې روايت كښې راغلی وو كه ځوك يوه ښه طريقه جاری كړی نودَ دې ثواب به دغه طريقه جاری كونكی ته دَ هميشه دَ پاره ملاويږی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٢١٢] د طالب علما نو دپاره د فرشتو وزرې خورول

٢١٢-(٣)[١٥] ١ عَنْ كَثِيرِ بْنِ قَيْسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ ٢: «كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاءِ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ ٣ فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا أَبَا الدَّرْدَاءِ! إِنِّي جِئْتُكَ مِنْ مَدِينَةِ رَسُولِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِحَدِيثٍ بَلَغَنِي أَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٤ مَا جِئْتُ لِحَاجَةٍ. ٥ قَالَ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ ٦: "مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَطْلُبُ فِيهِ عِلْمًا سَلَكَ اللَّهُ بِهِ طَرِيقًا مِنْ طُرُقِ الْجَنَّةِ، ٧ وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ،

ترجمه: ١ حضرت كثير ابن قيس وايي ٢ زه (يوصحابي) حضرت ابودرداء رضي الله عنه سره د دمشق په مسجد كښې ناست وم ٣ چې هغه ته يو سړي راغې هغه اوويل زه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ښار څخه تاته د يوحديث د پاره راغلي يم د هغه په باره كښې ماته معلومه شويده

---

(١) سورة مائده ٢٧.

(٢) شرح مسلم للنوى.

(٣) اخرجه ابوداود كتاب العلم/باب الحث على طلب العلم(رقم-٣٦٤١) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب فضل العلماء والحث على طلب العلم(رقم-٢٢٣)

چې هغه ته د نبي کريم ﷺ څخه نقل کوي ۴تا ته زما د راتلو د دې څخه علاوه بل هيڅ غرض نشته ۵په دې اوريدو سره حضرت ابودرداء رضي الله عنه وفرمايل چې) ما د نبي کريم ﷺ څخه دا اوريدلي دي ۶کوم سړي چې يوه لار (خواه هغه اوږده وي يا مختصره) د علم دين حاصلولو د پاره اختياروي نو الله تعالى جل جلاله هغه د جنت په لار بيايي ۷او فرښتې د طالب علم د رضامندي د پاره خپل وزر غوړوي

١وَإِنَّ الْعَالِمَ يَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالْحِيتَانُ فِي جَوْفِ الْمَاءِ، ٢وَإِنَّ فَضْلَ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ ٣كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ، ۴وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، ۵وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا، ۶وَإِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ، ۷فَمَنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ». ۸رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ وَسَمَّاهُ التِّرْمِذِيُّ قَيْسَ بْنَ كَثِيرٍ.

ترجمه: ١او د عالم د پاره هرهغه شي چې په آسمانونو کښې دننه دي (يعني فرښتې) او هغه چې زمکې په سر دي (يعني پيريان او انسانان) او ماهيان چې په اوبو کښې دننه دي دعاء مغفرت کوي ٢او په عابد باندې عالم ته داسې فضيلت دي ٣څنګه چې د څوارلسمې سپوږمې تولو ستورو باندې فضيلت لري ۴او عالمان د انبياؤ وارثان دي ۵انبياؤ په وراثت کښې دينار او درهم نه دي پريښي ۶د هغوئ ورثه علم دي ۷چا چې علم حاصل کښې هغه کامله حصه پيدا کړه ۸، احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه او ترمذي د راوي نوم قيس ابن کثير ذکر کړي دي ليکن صحيح کثير بن قيس دي څنګه چې صاحب مشکوٰة نقل کړي دي.

حل اللغات: ① سَلَكَ : أَيْ: دَخَلَ أَوْ مَشَى: روان شی، لار شی، ② لَتَضَعُ : وَهِيَ فَرْشُ الْجَنَاحِ وَبَسْطُهَا: غوړوی، خوروی. ③ أَجْنِحَتَهَا: وزرې خپلې. ④ الْحِيتَانُ : د حُوت جمع ده، مئی او کب ته وائی. ⑤ الْبَدْرِ : أَيْ: لَيْلَةَ الرَّابِعَ عَشَرَ: د څوارلسمې شپې سپوږمئ ته بدر وائی. ⑥ بِحَظٍّ : يَعْنِي نَصِيبًا: حصه، نصيب، ⑦ وَافِرٍ: أَيْ تَامًّا: کامله، پوره.

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ أَبِي الدَّرْدَاءِ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ :

د مسجد دمشق محل وقوع :دمشق د صحابه کرامو مرکز وو. او ددين د سپايانو يو لاره وه. او د فوجيانو بندرګاه وه. هم په دې ځائې به صحابه کرام تيريدل او افريقي ته به تلل. دا د صحابه کرامو يو خصوصيت وو چې هغوئ به د علم او طلبِ علم په لار کښې ډير مشقتونه زغمل. هم په دې سلسله کښې ديو صحابی دا سفر دې. دده شوق او جذبې ته اوګورئی چې مدينې منورې نه تر شام پورې تقريبًا اته سوه کلوميټره سفر صرف په يو حديث پسې کوی. بل ئې څه مقصد نه وو.

ځينې روایاتو کښې راغلي دي چې دا صحابي د سورلۍ څخه لاندې هم نه وو راکوز شوې چې دعلم دا سفرخالص دعلم دپاره اوشي. سبحان الله دا وو د نيت د اخلاص مقام.

قوله: بَلَغَنِي أَنَّكَ تُحَدِّثُهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حديث اوريدوپه غرض کښې دوه احتمالات: ① دې کس ته حديث معلوم وو خو په په واسطې سره حديث معلوم وو او دائې غوښتل چې پخپله ئې د ابو الدرداء څخه واؤرى او علو سند هم حاصل کړې. او د سند واسطه هم ختمه شي. ځکه چې ﴿ الاسناد من الدين ولولا الاسناد لقال من شاء ما شاء ﴾

② اجمالاً ده ته حديث معلوم وو. د تفصيل معلومولو په غرض ئې سفر اختيار کړو.

د بيان کړې حديث په بيانولو کښې دوه احتمالات:

① دَ کوم حديث دَ اوريدودَپاره چې دا صحابي ددمشق اوږد سفر اختيار کړې وو نو ابودرداء رضي الله عنه ورته هم هغه حديث کړو،

② حضرت ابو الدرداء چې ددې صاحب شوق اوکتلو نو هغوئ ته ئې دا حديث د زيرى په طور واؤرولو چې په دې سره خوشحاله شي. او ددوئ مطلوبه حديث ورته جدا بيان کړلو.

قوله: وَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا رِضًا لِطَالِبِ الْعِلْمِ:

د وزرو خورولو څخه مقصود: د اعزاز او اکرام او تواضع په طور فرښتې وزورې غوړوى. لکه څنګه چه د بادشاه د اعزاز دپاره دده د ګاډهى مخې ته په ميلونو قالين غوړولې کيږى او په دې باندې دده ګاډهى تيريږى.

دوزرو په خورولو کښې دوه احتمالات:

① دا حديث په مجاز باندې محمول وى، يعنى فرښتې تواضع او عاجزى کوى. يعنى وزرې خورول په طلب علم باندې د الله تعالى د رحمت نه کنايه وى.

② دا کلام په حقيقت باندې محمول شي او مونږ ته ددې مشاهده نه وى. وائى چې يو طالب عالم د خپلو پښو لاندې زمکه زور سره اووهله چې فرښتې چرته دى چې زه هغوئ لره چقنړى کړم نو دده پښې شلې شوې. (قاله الحافظ توربشتى رحمه الله)

قوله: يَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ:

دعالمانودپاره د غير ذى عقل څيزونود دعا کولووجه: حشرات الارض، بهائم، او حيتان فى البحر او ميږى وغيره غير ذى عقل څيزونه د عالمانو دپاره ځکه دعا غواړى چې ځنارونو او حيوانانو ته د خپل خالق او مالك علم وى. او دوئ ته د مرګ او قيامت اجمالى علم هم وى. ددوئ په اجمالى علم کښې داهم دى چې ددوئ بقاء او د کائناتو بقاء ددين دَ بقاء سره تړلى ده. او دَ دين اسلام بقاء د علم او د علماء کرامو د بقاء سره تړلې ده.

که دین پاتې نشي نو د کائناتو وجود هم باقي نه پاتې کيږي. په دې وجه هر ځناور د علماء کرامو د بقاء دپاره دعا کوی چې ددوئ خپل وجود او د کائناتو د عالم وجود محفوظ پاتې شي. عالم بالله او عالم بأمر الله دپاره دا دعاګانې کيږي.

قوله: كَفَضْلِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى سَائِرِ الْكَوَاكِبِ:

سپوږمۍ سره د عالم د تشبيه ورکولو وجه: دا يوه عجيبه تشبيه ده. څکه چه څنګه د سپوږمۍ رنړا سره جهان منور کيږي نو داشان د عالم په علم سره جهان روښانه کيږي. لکه څنګه چې د سپوږمۍ رڼا د نمر د رنړا څخه حاصله شوې ده، همداشان د علماء کرامو د علم رڼاد علم نبوت د رڼا څخه مستفاده ده.

د عوامو مثال لکه د ستورو دې، د علماء کرامو لکه د سپوږمۍ دې. او رسالت مآب لکه دنمر دې. لکه څنګه د نمر په وړ اندې ستورې بې نوره ښکاری، او دَنمر په موجودګۍ کښې سپوږمۍ پټيږي، هم داشان د علماء کرامو په موجودګۍ کښې د عوامو دعلم هيڅ حيثيت نشته دې او درسول الله ﷺ دعلم په وړاندې د علماء کرامو د علم هيڅ حيثيت نشته دې.

قوله: وَإِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ:

د وارث حقيقى مصداق: وارث هغه وی چه دَ مورث په ټول مال جائيداد کښې حصه دار وی. که چرې صرف په يو څيز کښې حصه داردې نو وارث نه دې بلکه قرض خوا او دائن دې.

کوم عالمان د وراثة النبی ﷺ مصداق دی؟: دَ حضورپاك وارثان به هغه علماء وی چه دَ حضورپاك اخلاقيات، معاملات، دَ حضورپاك علوم او امانات، ديانات معاشيات اودَ معاشرات جامع وی. دَ حضورپاك دَ دعوت اوجهاد اودَ حضورپاك دَ عباداتو او رياضاتو امين وی. صرف يوې شعبې پسې لګيدونکې سرې وارث کيدې نه شي. معلومه شوه چه دَعلماؤنه دلته مراد عالم بامرالله او عالم بالله دی.

قوله: وَإِنَّ الْأَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا:

د شيعه ګانود غلطې نظريې ترديد: ددې جملې نه معلومه شوه چه انبياء کرامو مادی ميراث نه دې پريخودې. بلکه روحانی ميراث يعنی علم ئی پريخودې دې. نو روافض په خپلې دې قول کښې په غلطئی باندې دی چه حضرت فاطمه رضی الله عنها ته دَ حضورپاك ميراث ورنه کړې شو. مونږ تپوس کوو چه کله حضورپاك اوفرمائيل چه زما ميراث به نه تقسيميږی [ما ترکناه فهوصدقة] کوم څه چه مونږ پريخودل هغه ټول په مسلمانانو باندې صدقه ده نوميراث دَ کوم ځائی نه راغلو؟ پريږده څه فرض کړه ميراث وو نو حضورپاك په خپل ژوند کښې تقسيم ولې نه کړو؟ يا چه کله حضرت علی رضی الله عنه خليفه جوړ شو نو هغوی ولې تقسيم نه کړو؟ اودَ فدك باغ ئی ولې واپس وانخستلو؟

[۲۳] په عابد باندې د عالم فضیلت

۲۳-(۱)[۱۲] ①وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ②: «ذُكِرَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلَانِ: أَحَدُهُمَا عَابِدٌ وَالْآخَرُ عَالِمٌ، ③فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ) ④ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: (إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ وَأَهْلَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ حَتَّى النَّمْلَةَ فِي جُحْرِهَا، وَحَتَّى الْحُوتَ، ⑤لَيُصَلُّونَ عَلَى مُعَلِّمِ النَّاسِ الْخَيْرَ)». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①أبي أُمامه باهلي ﷺ روادي دي ②چې د حضور ﷺ په مخکې د دوو سړو ذکر وشو په هغوئ کښې يو عابد او دويم عالم وو (يعني د حضور ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې په دې دواړو کښې کوم يو افضل دي) ③حضور ﷺ وفرمايل د عالم په عابد داسې فضيلت دي لکه څنګه چې زما فضيلت په هغه سړي دي چې په تاسو کښې د ادنې درجې وي، ④بيا د دې څخه وروسته حضور ﷺ وفرمايل بلاشبه الله تعالىٰ جل جلاله د هغه فرښتې او د آسمانو او زمکو ټول مخلوقات تر دې چې ميږيان په خپلو سوريانو کښې او ماهيَان په (اوبو کښې) ⑤د هغه سړي د پاره دعا د خير کوي چې خلقو ته خير ښيګړه (يعني علم دين) ورښايي، ترمذي

حل اللغات: ① أَدْنَاكُمْ: چه ادنا وی يعنی کم درجې والا وی په تاسو کښې، ② جُحْرِهَا: أَيْ: ثُقْبِهَا: خپلې سوړې ته، خپل غار ته. ③ الْحُوتَ: کب، مئې، ④ لَيُصَلُّونَ: أَيْ: يَدْعُونَ بِالْخَيْرِ: دلته د صلوة نه مراد د خير او برکت دعاګانې غوښتل دی.

۲۳-(۲)[۰] ①وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ مَكْحُولٍ مُرْسَلًا، وَلَمْ يَذْكُرْ: رَجُلَانِ وَقَالَ: ②(«فَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعَابِدِ كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ. ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: {إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ} [فاطر: ۲۸]» ③وَسَرَدَ الْحَدِيثَ إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: ①دا روايت د مکحول څخه په مرسل طريقه باندې ورايت کړي دي چې په هغه کښې د لفظ رجلان ذکر نشته او ويلي يي دي چې حضور ﷺ وفرمايل ②په عابد باندې وعالم ته داسې فضيلت دي لکه څنګه چې زما په تاسو کښې په يو ادنې سړي باندې دي، بيا حضور ﷺ دا آيت اووئيلو: إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَآءُ، ترجمه: د الله تعالىٰ جل جلاله په بنده ګانو کښې علماء د الله تعالىٰ جل جلاله څخه ويريږي، ③بيا يي پوره حديث تر آخره پورې دغسې بيان کړي دي.

حل اللغات: ① يَخْشَى: أَيْ خَوْفٌ مَعَ التَّعْظِيمِ: د خشيت نه مراد ويريدل دی سره د تعظيم نه.

---

[۱]) اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب ما جاء فی فضل الفقه علی العبادة (رقم-۲۶۸۵)
[۲]) اخرجه الدارمی عن مکحول رقم الحديث ۲۸۹

تسهيلات:

قوله: كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ:

د مذكوره نسبت وضاحت: ددې توضيح دا ده چې دا نسبت يو غير متناهي نسبت دې. څكه چې په كائناتو كښې د نبى رتبه او درجه دومره اوچته ده چې دهغې نه پس دالله تعالى شان دې. نو نبى كريم ﷺ د ادنى (امتى) ا ودخپلې اوچتې در جې او د رتبې تفاوت سره دعابد او عالم تشبيه وركړې ده. داشان د عالم او غير عالم نسبت هم غير متناهي دې. نو څنګه چې د نبى كريم ﷺ دفضيلت اندازه د يو ادنى امتى په مقابله كښې نشى لګولې نو داشان ديو عالم د فضيلت اندازه د يو غير عالم په مقابله كښې نشى لګولې.

نوټ: ددې حديث مضمون د حديث نمبر ٢١٢ د مضمون پشان دې مكمله تشريح هلته تيره شوې ده.

[٢١٥] طالبانو ته د خير رسولو وصيت

٢١٥ـ(١)[١٧] [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] (« إِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ، [٣] وَإِنَّ رِجَالًا يَأْتُونَكُمْ مِنْ أَقْطَارِ الْأَرْضِ يَتَفَقَّهُونَ فِي الدِّينِ، [٤] فَإِذَا أَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوا بِهِمْ خَيْرًا »). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] ابي سعيد خدري ﷺ راوي دي [٢] چې رسول الله ﷺ وفرمايل خلق ستاسو (يعني د صحابه ﷺ) تابع دي [٣] او ډير خلق په علم دين باندې د پوهيدو د پاره د اطراف عالم څخه تاسو ته راځي [٤] نو كله چې هغه تاسو لره راشي نو د هغوئ سره د خير ښيګړي معامله كوي. ترمذي

حل اللغات: ① تَبَعٌ: د تَابِع جمع ده، لكه خَدَم چه د خَادِمْ جمع ده، تابعدارى او پيروى كولو ته وائى. ② أَقْطَارِ: أَيْ: جَوَانِبِهَا: اطرافو ته وائى. ③ فَاسْتَوْصُوا: مَعْنَاهُ مُرُوهُمْ بِالْخَيْرِ وَعِظُوهُمْ وَعَلِّمُوهُمْ: يعنى خير ښيګړه ورسره كوئ، نصيحت ورته كوئ او علم ورته زده كړئ.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ النَّاسَ لَكُمْ تَبَعٌ:

صحابه د حق معيار دى: يعنى اې صحابوٴ! راتلونكى خلق په دين كښې ستاسو تابع دى. تاسو د خپلو راتلونكو خلقو د پاره متبوع يئ، هغوئ به ستاسو په نقش قدم باندې روان وى، او ستاسو زمانې كښې به تاسو ته راځى او ستاسو څخه به دعلم زدكړه كوى. ددې

(١) اخرجه الترمذى كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الاستيصاء بمن يطلب العلم (رقم-٢٦٥٠) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب الوصاة بطلبة العلم (رقم-٢٤٩)

حدیث څخه دا خبره واضح شوه چې صحابه کرام دَ راتلونکی امت دپاره معیار د حق دی.

قوله: فَإِذَاأَتَوْكُمْ فَاسْتَوْصُوابِهِمْ خَيْرًا:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① چې کله هغه خلق ستاسو مخکښې له راشي نو دهغوئ د ښګړې دپاره هغوئ ته نصیحت کوئی. په دې کښې کوتاهی مه کوئی. دهغوی ښهٔ تربیت کوئی.

② زه تاسو ته نصیحت کوم تاسو ددوئ باره کښې زما نصیحت قبول کړئی. او دوئ سره ښیګړه اوکړئی.

د دینی مدارسو دطالبانوعظمت: ددې حدیث پاك څخه ثابت شو چې ددینی مدارسو طلباء کرام د نبی کریم ﷺ ملیمانه دی، ددوئ ناقدری نه دی کول پکار. الحمد لله د حدیث پاك دا نقشه نن هم په دینی مدارسو کښې موجود ده.

[٢٢] د خیر د خبرې دلټولو ترغیب

٢٢—( )[١٨] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ②(«الْكَلِمَةُ الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْحَكِيمِ، فَحَيْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا»). ③رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَإِبْرَاهِيمُ بْنُ الْفَضْلِ الرَّاوِي يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه: ①ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ②په دین کښې فایده ورکونکي خبره د هوښیار سړي مطلوب ده نو هغه چې چېرته دا پیدا کښې د دې مستحق دي، ③ترمذي، ابن ماجه او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث غریب دي او په دې حدیث کښې یو راوي ابراهیم ابن فضل دي چې په روایت د حدیث کښې ضعیف ګڼل کیږي.

حل اللغات: ① الْحِكْمَةُ : هِيَ الْفِقْهُ فِي الدِّينِ: حافظ توربشتی رحمه الله فرمائی چې د حکمت څخه مراد فقاهت دې، د دانائی خبره ده. علمی نکته او علمی مسئله ده. ② ضَالَّةُ : أَيْ: مَطْلُوبُهُ: ورک شوې څیز چه دهغې په طلب او تلاش کښې وی، یعنی مقصودی ضروری ورک شوې څیز. ③ الْحَكِيمِ: هُوَ الْمُتْقِنُ لِلْأُمُورِ: هر یو کار په مضبوطیا او په ښه طریقه سره کونکې.

تسهیلات:

قوله: فَحَيْثُ وَجَدَهَا:

دحیث په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① چې ددین خبره وی نو دَ عمل دَپاره چه کوم نیك او مؤمن کس ته دا ملاؤ شی نو دا دې قبوله کړی. او په دې دې عمل اوکړی. ﴿ انظروا الی ما قیل ولا تنظروا الی من قال﴾ په دې سوچ کښې مه پریوزئی. چې ما دا خبره د یو

[1]) اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل الفقه علی العبادة (رقم-٢٦٨٧)

کمزوری کس څخه آؤریدلې وه، په دې باندې زه څنګه عمل اوکړم؟ که د یو بزرګ څخه مې آؤریدلې وې نو عمل به مې پرې کړې وې.

۴ یعنی دخیر خبره چې چرته څخه هم ملاؤشی نو دا مسلمان لره پکار دی چې دا قبوله کړی کیدې شی اول داخبره دنااهل سره وه.اوس اهل ته ملاؤ شو نو ددې قدر دې اوکړی.

نصیحت د هرچا څخه قبلول: شیخ سعدی رحمه الله هم دا حقیقت ظاهر کړې دې فرمائی

مرد باید که گیرد اندر گوش.......... گر نوشت است پند بر دیوار

غلط است آنچه مدعی گوید.......... خفته را خفته کے کند بیدار

یعنی انسان له پکار دی چې نصیحت قبول کړی که هغه په یو دیوال باندې لیکلې شوې ولې نه وی. مدعی غلط وائی چې یو اودهٔ کس بل اودهٔ کس څنګه راپاسوی. (ګوره د دیوال دَ نصیحت نه فائده اوشوه،خلاصه دا چه علمی نکته دَ مؤمن نه ورکه شوې متاع ده).

[۲۱۷] عالم دین په شیطان باندې د زرو عابدانو نه زیات سخت دې

۲۱۷-(۱) [۱۹] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ ۲ فَقِيْهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضی الله عنه راوي دي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ۲ یو فقیه (یعني عالم دین) په شیطان باندې د یوزر عابدانو څخه زیات سخت دي. ترمذي ابن ماجه

حل اللغات: ① اَشَدُّ: صیغه د اسم تفضیل ده، ډیر سخت.

تسهیلات:

قوله: فَقِيْهٌ وَاحِدًا......مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ:

دفقیه اوعابد څخه مراد: فقیه څخه مراد هغه کس دې چې د دین اسلام پوهه ورته حاصل وی. که هغه په هر ځائې کښې وی او په هره شعبه کښې وی. عابد څخه مراد هغه عابد دې کوم ته چې فرائض معلوم وی خو د احکامو مقاصد نه پیژني. عابد څخه مراد جاهل عابد نه دې ځکه چې هغه پخپله خطرناک وی،

دعبدالقادر جیلانی اوشیطان واقعه: یوه قصه مشهوره ده چې یو ځل ابلیس د حضرت شیخ عبد القادر جیلانی رحمه الله په خدمت کښې د شپې په وخت کښې حاضر شو، او فضا ئې په رنګارنګ رنړاګانو سره ښائسته کړه او وې وئیل چې زه فرښته یم او الله تعالی رالیږلې یم چې عبدالقادر جیلانی رحمه الله ډیر عبادت کړې دې او اوس هغه معاف دې، هغه ته دَ نور عبادت کولو ضرورت نشته دې.

---

۱) اخرجه ترمذی کتاب العلم عن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ/ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْفِقْهِ عَلَى الْعِبَادَةِ (رقم-۲۶۸۱) وابن ماجة کتاب فی الایمان وفضائل الصحابة والعلم بَابُ فَضْلِ الْعُلَمَاءِ وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِ الْعِلْمِ (رقم-۲۲۲)

شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله جواب ورکړو چې لرې شه مردود شیطانه، الله تعالی نبی کریم ﷺ تر مرګه پورې د عبادت کولو پابند جوړ کړې وو څه څوك یم چې ماته به معافی اوکړې شی. ابلیس اووئیل چې هم اوس ما څلویښت پیران په دې طریقه ګمراه کړل. خو تاسره لوئی علم وو چې په هغې بچ شوئی.
شیخ ورته اووئیل چې ورك شه شیطان مردوده څه په علم سره نه بلکه دالله تعالی په فضل سره بچ شوم.

[۲۱۸] د علم حاصلولو فرضیت

۲۱۸—(۱)[۲۰] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ ۲ طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ وَمُسْلِمَةٍ ۳ وَوَاضِعُ الْعِلْمِ عِنْدَ غَيْرِ أَهْلِهِ كَمُقَلِّدِ الْخَنَازِيْرِ الْجَوْهَرَ وَاللُّؤْلُؤَ وَالذَّهَبَ، ۴ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ إِلَى قَوْلِهِ مُسْلِمٍ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ مَتْنُهُ مَشْهُوْرٌ وَإِسْنَادُهُ ضَعِيْفٌ وَقَدْ رُوِيَ مِنْ أَوْجُهٍ كُلُّهَا ضَعِيْفَةٌ.

ترجمه: ۱ انس رضی الله عنه راوي دي ۲ چې نبی کریم ﷺ وفرمایل علم حاصلول په هر مسلمان سړي او ښځي باندې فرض دي ۳ او نا اهل ته علم ښودل داسې دي لکه یو سړي چې د خنزیر په غاړه کښې د جواهراتو ملغلرو او د سرو زرو هار واچوي، ۴ (ابن ماجه) او بیهقي دا روایت په شعب الایمان کښې د لفظ مسلم پورې نقل کړي دي او ویلي یي دي چې د دې حدیث متن مشهور دي او اسناد یي ضعیف دي او دا حدیث په مختلفو طریقو سره بیان شوې دي او هغه ټول ضعیف دي.

حل اللغات: ① وَاضِعُ الْعِلْمِ: علم ښودونکې، علم زده کونکې، ② مُقَلِّد: چاته غاړه کښې اچول. ③ اَلْجَوْهَرَ: جواهرات، ④ اَللُّؤْلُؤَ: ملغلرې (د سرو زرو په شان قیمتی دهاتونه دی).

تسهیلات:

قوله: طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيْضَةٌ:

دعلم د فرضیت مصداق: ضروری علوم خو په هرمسلمان باندې فرض دی یعنی هرعاقل بالغ مسلمان ښځه اوسړی باندې دَ حالت راهنه حدپورې علم فرض دې. دَحالت راهنه مطلب دادې چه په کوم حالت کښې هم مسلمان دې دَهغه حالت دَجائزیاناجائز کیدودَحد پورې علم حاصلول فرض دی. دَدې نه علاوه مصادر اوماخذ معلومول فرض کفایه دی. په علاقه کښې دَدې قسم جیدعالم موجودګی فرض کفایه ده ګنی ټول په ټول به ګناهګاران وی.

۱) اخرجه ابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم / بَابِ فَضْلِ الْعُلَمَاءِ وَالْحَثِّ عَلَى طَلَبِ الْعِلْمِ (رقم-۲۲۴)

قوله: غَيْرِأَهْلِهِ:

د غير اهل مصداق: دَنااهل خلقو نه مراد هغه خلق دی چه دَ دنيا طالب، اهل اهواء اواهل بدعت دی. يادَنااهل نه مراد هغه نالائق طالبان دی په کوم کښې چه دَعلم دين دَ زده کړې صلاحيت نه وی. نودَهغوی مخې ته علم پيش کول او وړاندې کول دَعلم ناقدری ده لکه چه دَخنزير په غاړه کښې دَ ګلونو اميل يادَ جواهراتو اوملغلرو اويادَ سرو زرو هار واچولې شی.

قوله: كَمُقَلِّدِ الْخَنَازِيرِ:

نا اهل ته د علم خودلوپه مذمت کښې بليغه تشبيه: په دې جمله کښې نالائق کس او بې ادب طالب علم ته دَعلم خودلو مثال خودلې شوې دې چه نالائق اوبې ادب ته علم خودل داسې دی لکه چه يوسړې دَ سرو زرو او سپينوزرو هار او دَ ملغلرو اوجواهراتوهار دَ خنزير په غاړه کښې زوړند کړی. لکه څنګه چه خنزير يونالائق اومبغوض اومنحوس ځناور دې. اوده ته دَ جواهراتو اوملغلرو هار اچول دَ دغه جواهراتو توهين دې. دغه شان بې ادب اوګستاخ ته علم خودل دَعلم توهين دې. ځکه چه دين دَادب اواحترام نوم دې دَعارفينو کلام دې "الدين كله أدب" يعنی دين ټول ادب دې. قال الشاعر:

[۲۱۹] په منافق کښې دوه خويونه نه جمع کيږی

۲۱۹-(۱)[۲۱] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ([۲] «خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِي مُنَافِقٍ: حُسْنُ سَمْتٍ، وَلَا فِقْهٌ فِي الدِّينِ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ابوهريره رضي الله عنه راوي دي [۲] چې نبي مکرم صلى الله عليه وسلم وفرمايل دوه خصلتونه داسې دي چې په منافق کښې نه جمع کيږی ① يو نيک خلق (ښه خوي) ② دويم ديني پوهه. ترمذي

حل اللغات: ① خَصْلَتَانِ : دوه عادتونه، خويونه، ② حُسْنُ سَمْتٍ: أَيْ: خُلُقٍ وَسِيرَةٌ: ښه اخلاق، ښه سيرت، ③ فِقْهٌ فِي الدِّينِ: يعنی د دين اسلام پوهه.

تسهيلات:

قوله: خَصْلَتَانِ لَا تَجْتَمِعَانِ فِي مُنَافِقٍ:

په منافق کښې د مذکوره دواړو خصلتونو د نه جمع کيدو وجه: منافق که عملی وی او که اعتقادی وی په ده کښې مذکوره دوه خصلتونه ځکه نه جمع کيږی که په منافق کښې دا دواړه خصلتونه جمع شو نو په حق اوباطل کښې به فرق پاتې نشی ددې وجې په منافق کښې د دې دواړه خلصتونه جمع کيدل نشی کيدې ځکه چې منافق د اسلامی اخلاقو څخه هم مرحوی وی اود دين اسلام څخه هم محروم وی ځکه چې دا دواړه خصلتونه نور

[۱]) اخرجه الترمذی کتاب فی الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب ما جاء فی فضل الفقه علی العبادة (رقم-۲٦٨٤)

او باطنی رنړا ده او منافق د دې نور څخه محروم وی.

دعلامه طیبی تحقیق: علامه طیبی رحمه الله فرمائی چې ددې حدیث مطلب دا نه دی چې په منافق کښې دا دواړه خصلتونه نه جمع کیږی یوپه کښې راتلې شی بلکه مقصود مسلمانانوته ترغیب ورکول دی چې دا دواړه صفتونه په ځان کښې پیدا کړئ.

قوله: حُسْنُ سَمْتٍ:

دحسن سمت څخه مراد: حسن خلق او خوش خلقی ته حسن سمت وئیلې شوی دی. د ښو اخلاقو مطلب دادې چې د الله تعالی مخلوق دپاره یو مجسمه جوړ شی. او د خیرښیګړې ذریعه جوړ شی. دوست او دښمن ورته ټول برابر په نظر راځی. دا اسلامی ښه اخلاق دی. او دا په منافق کښې نه وی. یو تاجرانه اخلاق وی کوم چې یو تاجر اخستونکی سره برقرار ساتی. حدیث مبارک کښې دا اخلاق مراد نه دی. دریم قسم د مشن اخلاق وی. لکه انګریزانو کښې د مشن تحت اخلاق وی. هغوئ هرې یوې بې حیایئ ته د اخلاقونوم ورکوی او مسلمانان ګمراه کوی. دا خو اخلاق نه دی بلکه بداخلاقی ده.

قوله: وَلَا فِقْهٌ فِي الدِّينِ:

د فقه فی الدین حقیقت: علامه توربشتی رحمه الله فرمائی چې حقیقة فی فی الدین څخه مراد دا دې چې کله د دین صحیح قدر اوحقیقت په زړه کښې پیدا شی نوددې په وجه د الله تعالی معرفت اود نبی علیه السلام صداقت اود قرآن په حقانیت په زړه کښې یقین پیدا شی اوبیا د دې ظهور په ژبې سره اوشی اوعملی جامی ورته حاصله شی.اوهم دې خوف اوتقوی او ویره وئیلې شی.

[۲۲۰] په طلب علم د في سبیل الله اطلاق

۲۲۰—(¹)[۲۲] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲] («مَنْ خَرَجَ فِي طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَرْجِعَ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] انس رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړي چې د کور څخه د علم حاصلولو د پاره ووتي هغه چې ترڅو پورې کورته واپس رانشي د الله جل جلاله په لار کښې دي. ترمذي، دارمي

حل اللغات: ① فِي سَبِيلِ اللَّهِ: أَيْ: فِي الْجِهَادِ: د فی سبیل الله نه مراد جهاد دي.

تسهیلات:

قوله: فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ:

د طالب علم په في سبیل الله کیدو څخه مراد: طالب علم چونکه علم په دې سفر ډیر

¹) اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فضل طلب العلم (رقم-۲٦٤٧)

زیات مشقتونه برداشت کوی، په دې وجه ده ته د مجاهده فی سبیل الله ثواب ملاویږی. دا مطلب نه دې چې طالب مجاهد فی سبیل الله جوړ شی. بلکه مطلب دادې چې دده د مشقتونو او کوششونو په وجه ده د جهاد فی سبیل الله ثواب ملاویږی. ددې حدیث په وجه ځینې فقهاء کرام مصرف زکوة فی سبیل الله کښې مجاهدینو سره طلباء علم دین هم شامل کړی دی.

[٢٢١] د علم طلب د صغیره ګناهونو کفاره

٢٢١—(١)[٢٣] ١ وَعَنْ سَخْبَرَةَ الْأَزْدِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- (٢ «مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضَى»). ٣ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ ضَعِيفُ الْإِسْنَادِ وَأَبُو دَاوُدَ الرَّاوِي يُضَعَّفُ.

ترجمه: ١ سنجره ازدي رضی الله عنه راوي دي چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې علم طلب کوي نو هغه د تیرو (صغیره) ګناهونو د پاره کفاره کیږی ٣، ترمذي، دارمي، او امام ترمذي فرمایلي دي دا حدیث ضعیف الاسناد دي یعنی د دې حدیث یو راوي ابوداؤد په روایت حدیث کښې ضعیف شمارل کیږي.

حل اللغات: ① كَفَّارَةً: وَهِيَ مَا يَسْتُرُ الذُّنُوبَ: د کفاره نه مراد ګناهونه رژول او ختمول دی. ② مَضَى: کوم چه تیرشوی دی (یعنی مخکینی ګناهونه).

تسهیلات:

قوله: كَانَ كَفَّارَةً:

د علم په طلب سره د ګناهونو معاف کیدل: که دې نیك عمل سره دې کس توبه اوویستله نو دده واړه لوې ګناهونه ټول معاف کیږی. اوکه توب او نه باسی نود علم برکت سره واړه ګناهونه معاف کیږی. او لوې ګناهونه به کمزوری شی.

قوله: هَذَا حَدِيثٌ ضَعِيفُ الْإِسْنَادِ:

دحدیث تضعیف: امام ترمذی رحمه الله ددې حدیث سند ضعیف ګرزولي دې. او وئیلی ئې دی چې ابوداود نومې راوی ضعیف دې. یاد ساتی چې دا راوی د ابو داؤد شریف مؤلف نه دې بلکه بل څوک کس دې چې ضعیف دې.

[٢٢٢] د مؤمن په علم نه مړیدل

٢٢٢—(٢)[٢٤] ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: (٢ «لَنْ يَشْبَعَ الْمُؤْمِنُ مِنْ خَيْرٍ يَسْمَعُهُ حَتَّى يَكُونَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةَ»). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[١] اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فضل طلب العلم (رقم-٢٦٤٨)
[٢] اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل الفقه علی العبادة (رقم-٢٦٨٦)

ترجمه: ١ ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ مؤمن په خير (علم) نه مړيږي هغه اوري (يعني حاصلوي) يې تر دي چې د هغه انتها جنت وي. ترمذي

حل اللغات: ① لَنْ يَشْبَعَ: هيڅرې نه مړيږي. ② مُنْتَهَاهُ: أي: غَايَتُهُ: انتهاء او آخرى حد.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يَكُونَ مُنْتَهَاهُ الْجَنَّةَ:

طالب علم ته د خاتمې بالخير بشارت: ددې حديث څخه معلومه شوه چې يو كس په حقيقت كښې د علم طلب كوى نو دې به سوء خاتمې څخه محفوظ وى ځكه چې د ده منتهى جنت دې نو جنت ته كافر نشى داخليدې.

[٢٢٣] د علم د پټولو سزا

٢٢٣-()[٢٥] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " ٢ «وَمَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ ٣: أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ ابو هريره رضي الله عنه راوي دي چې نبى كريم ﷺ وفرمايل ٢ د كم سړي څخه چې د علم څه داسې خبره وپوښتل شى چې هغه ته معلومه وي خو هغه پټه كړه (يعني ني وښودله) ٣ نو د قيامت په ورځ به د هغه په خُله كښې د اور واګي واچول شي. احمد، ابوداؤد، ترمذي

حل اللغات: ① كَتَمَهُ: پټ ئې اوساتلو دغه علم (دا وعيد د فرائضو او واجباتو متعلق دې). ② أُلْجِمَ: أي: أُدْخِلَ فِي فَمِهِ لِجَامٌ: د اور د واګې مطلب دادې چې دا كس به دوزخ كښې داخليږى. ځكه چې د اور واګې بل چرته نشى اچولې كيدې.

تسهيلات: قوله: ثُمَّ كَتَمَهُ:

د علم د بيانولو ضرورت: دَدې حديث نه په ظاهره دامعلوميږى چه كله هم څوك سوال اوكړى نو زر دَ هغې جواب وركوه. حضرت شاه ولى الله محدث دهلوى رحمه الله فرمائى چه سوال كونكى ته په جواب وركولوكښې دومره وخت لګول چه هغه اول خپله خبره پوره كړى دا دَ علم په پټولوكښې داخل نه دى. حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى دَ دې حديث نه دا مسئله ښكاره كيږى چه دَ مسئلې جواب وركول ډير زر ضرورى دى.(٣) علم پټول دَ ګناهونو نه دى. (۴)

قوله: أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ:

دعلم په پټولو وعيد دپاره درې شرطونه: دَ علم دَپټولو دَ وعيد مستحق كيدو دَ پاره علماء كرامو يوڅو شرطونه بيان كړى دى چه په دې كوم يو شرط هم راغلو نودَ علم

١) اخرجه الترمذى كتاب العلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء فى كتمان العلم (رقم-٢۶۴٩) اخرجه احمد فى المسند:٢/٢۶٣

پټولو په ګناه کښې به وی.
① چه پخپله په مسئله کښې تردد وی دَ دې تردد په وجه پټوالی کوی نوګناهګار نه دې.
② چه سوال کونکی صادق طالب نه وی دَ هغه څه بل څه مطلب وی نو په نه خودلو باندې څه ګناه نشته.
③ هلته بل څوک دَ مسئلې خودونکې نه وی اوکه هلته بل څوک عالم وی نو دَ علم دَ پټولو په وعید کښې به داخل نه وی. (٥)

٢٢٣ــ(١)[٥] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَنَسٍ.

ترجمه: او ابن ماجه دا د حضرت انس ﷺ څخه روایت کړي دي.

[٢٢٥] د فخر د پاره د علم حاصلولو سزا

٢٢٥ــ(٢)[٢٦] ١ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - (٢ «مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ أَوْ لِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ، أَوْ يَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ إِلَيْهِ ٣: أَدْخَلَهُ اللَّهُ النَّارَ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ کعب بن مالک ﷺ راوي دي چې نبی کریم ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړي چې علم په دې غرض سره حاصل کښې ①چې د هغه په ذریعه په علماؤ باندې فخر وکړي ②د ناپوهانو سره جګړې وکړي ③او خلق د ځان طرف ته متوجه کړي ٣ نو الله تعالی جل جلاله به هغه په جهنم کښې داخل کښې، ترمذي

٢٢٦ــ(٣)[٥] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ.

ترجمه: او ابن ماجه داحدیث د حضرت ابن عمر ﷺ څخه روایت کړي دي.

حل اللغات: ① لِيُجَارِيَ: أَيْ لِيُقَاوِمَ: دا دمجارات څخه دې. تکبر، تعلی او فخر او مباهات ته وائی. ② لِيُمَارِيَ: أَنْ: يُجَادِلَ: چه جګړه اوکړی. ③ السُّفَهَاءَ: دا د سَفِيه جمع ده، وَهُوَ قَلِيلُ الْعَقْلِ: کم عقل او ناپوهه ته وائی. ④ يَصْرِفَ: أَيْ: يُمِيلُ: راوګرځوی، راواړوی (په دې علم سره).

د راوي مختصر تعارف: نوم ئې کعب، کنیت ئې ابوعبدالله د پلار نوم ئې مالک د مور نوم ئې لیلی بنت زید بن ثعلبه وو د بنو سلمه قبیلې سره ئې تعلق وو دجاهلیت په زمانه کښې ئې ابو بشر کنیت وو نبی کریم ﷺ ورته کنیت بدل کړو او ابو عبدالله ئې ورکته کیخودلو په عقبه ثانیه کښې د اویا کسانو سره دې هم شامل وو (٤)

[١] اخرجه ابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب من سئل عن علم فکتمه(رقم-٢٦٤)
[٢] اخرجه الترمذی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب ما جاء فیمن یطلب بعلمه الدنیا (رقم-٢٦٥٤)
[٣] اخرجه ابن ماجة تاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/ب باب الانتفاع بالعلم والعمل به(رقم-٢٥٣)
[٤] بخاری (١١٠٥٥)-

په غزواتو کښې شرکت: په جنګ بدر کښې شریک شوې نه وو د احد نه پس په ټولو غزاګانو کښې ئې شرکت کړې وو په تبوک کښې ئې شرکت کړې نه وو اګرچه اراده ئې وه او د دې غزا دپاره حضرت کعب رضی اللہ عنہ اوښ هم تیار کړې وو خو په نن صبا کښې پاتې شو تردې چه نبی کریم ﷺ واپس تشریف راوړلو بیا پنځوس ورځې پس د دوی توبه قبوله شوه

د فتنې څخه اجتناب: د حضرت امیر معویه رضی اللہ عنہ او حضرت علی رضی اللہ عنہ دواړو د جنګونو نه یو طرف ته وو د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې په مسلمانانو کښې درې شاعران وو په هغوی کښې یو کعب رضی اللہ عنہ هم وو د دوی په کلام کښې ډیر اثرووکله چه د دوس قبیلې خلقو ددوی دوه شعرونه واویدل نو ټول مسلمانان شول

قضینا من تهامة کل ریب وخیبر ثم اغمدنا السیوفا
نخیرها ولو نطقت لقالت قواطعهن دوسا وثقیفا

ترجمه: د تهامه او خیبر د خلقو نه مونږ کینه لرې کړه او توری مو په تیکو کښې واپس کړې،اوس مونږ هغوی دوباره راپاسوو اوکه وئیلی شو نو اوبه وایو چه اس د دوس یا ثقیف نمبر دې

وفات: د حضرت امیر معاویه رضی اللہ عنہ په زمانه کښې په ۵۰ هجرئ کښې د ۷۷ کالو په عمر کښې وفات شو.

مرویات: د دوی د روایاتو تعداد ۸۰ دې په بخاری او مسلم کښې درې روایات متفق علیه دی او په بخاری کښې یو او په مسلم کښې دوه منفرد دی

تسهیلات:

قوله: مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ لِيُجَارِيَ بِهِ الْعُلَمَاءَ:

دعلم مقصد: علم یو نور دې. او دا دالله تعالی د صفاتو څخه یو صفت دې ددې په حصول سره دَ انسان په ظاهری او باطنی حالت کښې صالح انقلاب راتلل پکار دی. او د علم مقصد دا کیدل پکار دې چې دا کس دَ رسول کریم ﷺ په نیابت او وراثت علمی کښې ددین دا رڼړا د الله د مخلوق زړونو کښې او ددوئ په دماغونو کښې واچوی او هغه روښانه کړی.

عالمانوسره دمناظرې دپاره علم کول: که څوک علم د دې دپاره کوی چې عالمانو سره به پرې مناظرې کوم اوهغوی په رسوا کوم نودا د علم مقصد نه دې اودا کس ګناهګار دې.په دې علم ده ته دفائدې په ځائې نقصان رسیږی.

قوله: أَوْلِيُمَارِيَ بِهِ السُّفَهَاءَ:

جاهلانوسره جګړو دپاره علم کول: دغه شان که څوک د ناپوهه او جاهلو خلقو سره دجګړو دپاره علم کوی چې په هغوی باندې خپل رعب قائم کړی نودا علم هم د

هلاکت باعث دي.

قوله: أَوْيَصْرِفَ بِهِ وُجُوهَ النَّاسِ إِلَيْهِ:

د شهرت دپاره علم کول: دغه شان که څوک د دې دپاره علم کوی چې صبا زه لوئې شخصیت جوړ شم. اوپه خلقو کښې مې یو مقام او عزت جوړ شی او دهغوی څخه دنیا حاصله کړم. نودا نیت هم د اخلاص سره منافی دې. ددې څخه توبه ویستل پکار دی.

قوله: أَدْخَلَهُ اللَّهُ النَّارَ:

د بې اخلاص علم نتیجه: علم ډیر لوئې دولت دې خو چې په دې کښې هم اخلاص نه وی نو دجنت په ځائې د علم خاوند جهنم ته ځی. لکه څنګه چې په حدیث کښې راغلی چې د ټول څخه اول به جهنم ته درې قسمه خلق اچولی شی په هغوی کښې یو قاری او عالم دې چې په علم کښې ئې

[۲۲۷] دعلم په ذریعه د دنیا د متاع حاصلولو سزا

۲۲۷—(۱)[۲۷] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② "«مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا ③مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ، ④لَا يَتَعَلَّمُهُ إِلَّا لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا؛ ⑤لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» " يَعْنِي رِيحَهَا. رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ①ابوهریره ﷺ راوي دي چې نبی کریم ﷺ وفرمایل ②چا چې هغه علم ③چې په هغه سره د الله تعالی ﷻ رضا طلب کیږي ④په دې غرض سره زده کړې چې د هغه په ذریعه د دنیا متاع حاصل کړي ⑤نو د قیامت په ورځ به هغه ته د جنت خوشبويي هم نه حاصليږي. احمد ابوداؤد، ابن ماجه

حل اللغات: ① يُبْتَغَى: أَيْ: مِمَّا يُطْلَبُ: چه تلاش او طلب کولې شی په هغې سره، ② عَرَضًا: أَيْ: حَظًّا مَالًا: څه حصه دمال اوعزت، ③ عَرْفَ: أَيْ رِيحَهَا الطَّيِّبَةَ: دجنت خوشبوداره هواګانې.

تسهیلات:

قوله: مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا:

دعلم حاصلولو غرض: یعنی دَعلم دَ حاصلولو نه غرض صرف او صرف دنیاوی نودَهغه دَپاره دا وعید دې که په حصول علم سره ئی غرض دَدین حفاظت اودَ الله تعالی خوشحالی اورضا وی اوبیا په دې باندې دَ دنیا ترتب اوشی اوده ته دنیاهم حاصله شی نو په دې کښې څه حرج نشته. اواکثرهم داسې کیږی چه الله تعالی داسې عالم ته دین اودنیا دواړه ورکوی.

[۱]) اخرجه ابوداود کتاب السنة/باب فی طلب العلم لغیر الله تعالی(رقم-۳۶۶۴) اخرجه احمد فی المسند:۳۳۸/۲ وابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب الانتفاع بالعلم والعمل به(رقم-۲۵۳)

قوله: لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ:

سوال: دلته یوشبه ده چه داسې به کله هم دَ جنت بوئی نه محسوسوی نودَدې مطلب داشو چه دا سړې خو کافر شو حالانکه شرعی قاعده داسې نه ده؟

جواب: دَدې شبه دوه جوابات دی اول جواب دادې چه اول ځل داخلیدوسره به دَ جنت خوشبوئی نه بوئی کوی بلکه دَ سزا او عذاب تیرولونه پس به جنت ته ځی.

دویم جواب: دادې چه کوم سړی دَالله تعالی دَ رضادپاره علم حاصل کړو اودَ دنیاوی اغراضونه جدا ئی دَ دین خدمت کولو هغه به دَ حشرپه میدان کښې دَ جنت دَداخلیدونه وړاندې دَ جنت خوشبوئی حاصلولې شی. ځکه چه دَهغه مسامات به کولاؤوی نو په میدان حشرکښې دَهغې خوشبوئی نه مزه اخلی. لیکن چه کوم سړی دین دَ دنیاوی اغراضو دَپاره حاصل کړې وی او په هغې کښې دَ الله تعالی دَ خوشحالولو شائبه نه وی نو په دغه فاسدو اغراضو سره به دَ هغه دَ بدن مسامات بند شوی وی لهذا هغه به په میدان حشرکښې دَ جنت دَ خوشبوئی نه محروم وی. دا یوه ځان له خبره ده چه هغه به بیاجنت کښې داخلیږی مګر په میدان حشرکښې به دَ جنت دَ خوشبوئی دَ خوند اومزې نه محروم وی.

دریم جواب: دادې چه دا "تغلیظًا تشدیدًا تهدیدًا" فرمائیلی شوی دی.

[۲۲۸] طالب او عالم دپاره د رسول الله ﷺ دعا

۲۲۸-(۱)[۲۸] ﴿۱﴾وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-﴿۲﴾ ‹‹نَضَّرَ اللَّهُ عَبْدًا سَمِعَ مَقَالَتِي فَحَفِظَهَا وَوَعَاهَا وَأَدَّاهَا،﴿۳﴾ فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرِ فَقِيهٍ،﴿۴﴾ وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ.﴿۵﴾ ثَلَاثٌ لَا يَغِلُّ عَلَيْهِنَّ قَلْبُ مُسْلِمٍ: إِخْلَاصُ الْعَمَلِ لِلَّهِ، وَالنَّصِيحَةُ لِلْمُسْلِمِينَ، وَلُزُومُ جَمَاعَتِهِمْ،﴿۶﴾ فَإِنَّ دَعْوَتَهُمْ تُحِيطُ مِنْ وَرَائِهِمْ››. رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الْمَدْخَلِ.

ترجمه: ﴿۱﴾ابن مسعود رضی الله عنه راوي دي ﴿۲﴾چې نبي کریم ﷺ وفرمایل الله تعالی[1] دي هغه بنده تازه لري (یعني قدر ومنزلت دي زیات کړي او د دین ودنیا خوشحالیو سره دي لري) چې هغه زما څه خبره واوریده هغه یي یا د وساتله او څنګه چې یي اوریدلي وه هغسي یي خلقو ته ورسوله ﴿۳﴾ځکه چې بعضې حاملِ فقه (یعني د علمِ دین حامل) فقیه (یعني پوه) نه وي ﴿۴﴾او بعضې حاملِ فقه وهغه خلقو ته رسوي چې د هغوئ څخه زیات فقیه (یعني پوه) وي ﴿۵﴾او دري څیزونه داسې دي چې په هغه کې د مسلمان زړه خیانت نه کوي ① یو خو عمل په خاص طور سره د الله تعالی جل جلاله د پاره کول ② د مسلمانانو سره نیکي کول ③ او دریم د مسلمانانو جماعت لازم نیول ﴿۶﴾ځکه چې د جماعت دعا

[1] اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحث علی تبلیغ السماع (رقم-۲۶۵۸)

دخلورو طرفو څخه په دوي چاپيره وي، شافعي اوبيهقي په مدخل کښې

حل اللغات: ① نَضَّرَ: اى الحُسْنُ وَالرَّوْنَقُ: تروتازګی، ښائست، ② مَقَالَتِي: أَيْ حَدِيثِي: يعنى احاديث، ③ فَحَفِظَهَا: يادول يا محفوظ ئې کړي (په ژبه، زړه يا کتابت سره). ④ وَعَاهَا: أَيْ: دَامَ عَلَى حِفْظِهَا: هميشوالي او اهتمام کوي ددې د يادولو او دحفاظت کولو. ⑤ أَدَّاهَا: أَيْ: أَوْصَلَهَا إِلَى النَّاسِ وَعَلَّمَهَا: يعنى خلقوته ئې اورسوی، خلقو ته ئې اوښائی، ⑥ فَرُبَّ: اسْتُعِيرَتْ لِلتَّكْثِيرِ: ډير ځله (يعنى دكثرت او زياتوالى ښودلو دپاره استعمالیږی). ⑦ حَامِلِ فِقْهٍ: أَيْ: عِلْمٍ: علم زده کونکې، ⑧ لَا يَغِلُّ: دا د إغْلَال نه دې خيانت ته وائی، يعنى خيانت نه کوی، ⑨ لُزُومُ: لازم اوسيدل، هميشه کلک اوسيدل، ⑩ تُحِيطُ: أَيْ: تَدُورُ: چاپيره وي.

٢٢٩-(١)[٥] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ. إِلَّا أَنَّ التِّرْمِذِيَّ، وَأَبَا دَاوُدَ لَمْ يَذْكُرَا: (ثَلَاثٌ لَا يَغِلُّ عَلَيْهِنَّ) إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: احمد، ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي، خو ترمذي او ابوداؤد د حديث الفاظ: ثَلَاثٌ لَا يَغُلُّ عَلَيْهِنَّ ترآخره نه دي ذکر کړي.

تسهيلات:

قوله: فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرُ فَقِيهٍ:

دمحدثينو دوه قسمونه: ① بعضې علماء دَ حديث الفاظ ياد ساتونکی وی هغوی فقاهت او زياته پوهه نه لری. هغوی دَ الفاظوخو ماهران وی ليکن دَ استنباط نه قاصر وی. او دَمسائلو دَ استخراج نه عاجز وی.

② دَ الفاظو ياد لرونکی بعضې علماء خو پوهيږی مګر هغوی چه دَ چا په وړاندې حديث بيانوی اکثر وختونو کښې هغه اوريدونکی دَ اورونکی نه زيات عالمان او پوهه وی. لهذا حديث ياد لرونکوله پکاردی چه هغوی دې حديث پخپلو الفاظو سره په حفاظت نورو ته اورسوی.

قوله: ثَلَاثٌ لَا يَغِلُّ عَلَيْهِنَّ:

دمذکوره جملې د ماقبل سره مناسبت: په زيربحث حديث دحديث د الفاظويادولو او نورو ته د رسولو ترغيب ورکړې شوې دې. ليکن بعضې وخت په دغه تبليغ او خورونو کښې څه بنديزونه راپيښيږی مثلاً رياکاری يا حسد يا ځان له کيدل يا چرته ګوټ کښې کيناستل دَ دغه تبليغ نه مانع جوړيږی. هم ددې دَ بيانولودَپاره ئی مذکوره جمله ارشاد فرمائيلې ده:

[1]) اخرجه ابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب من بلغ علما (رقم-٢٣٠)

قوله: لَا يَغِلُّ عَلَيْهِنَّ:

د لایغل په اعراب کښې دوه احتمالات: ① که چرې لَا يُغِلُّ د یاء په پیش او دغین په کسرې سره دَ باب افعال نه اولوستلې شی نودا لفظ دَ غلول نه دې او دَ خیانت په معنی کښې به وی. غلول په مال دَ غنیمت کښې خیانت ته هم وائی. په دې صورت کښې به دَ حدیث شریف مطلب داشی چې په دې دریو وارو څیزونوکښې دَمسلمان زړه خیانت نه شی کولې. بلکه هرمسلمان دَ دې دریو څیزونو متعلق تبلیغ او خورونوکښې بغیردَ څه خیانت نه شوق لری.

② که چرې دَ لَا يَغِلُّ دَ یا په زبر سره اودَ غین په زیر سره وی نودا غل دَ حسد اوکینې په معنی کښې دې. په دې صورت کښې دَ حدیث شریف مطلب دا شوچه دَ الله تعالی دَ رضا دَ پاره په اخلاص عمل، دَ مسلمانانو ښیگړه، نصیحت، خیرخواهی اودَ مسلمانانو جماعت سره یوځائی اوسیدل دا درې څیزونه داسې دی په کوم باندې چه دَ یومسلمان په زړه کښې دَ څه قسم کینه اوحسد باقی نه شی پاتې کیدې. هر یو مسلمان به دَ دې دریو څیزونو متعلق په تبلیغ او خورونوکښې هیڅ کوتاهی نه کوی.

قوله: وَلُزُومُ جَمَاعَتِهِمْ، فَإِنَّ دَعْوَتَهُمْ تُحِيطُ مِنْ وَرَائِهِمْ:

دمسلمانود جماعت سره د پاتې کیدو فائده: اجمله دَدې نه مخکښې [ولزوم جماعتهم] دَپاره تفصیل اوعلت دې. اوفاء دَ تفصیل اوتوضیح دَپاره اخستې شی. مطلب دا چه هرمسلمان په قلبی توگه دَ مسلمانانو جماعت سره تړلې پاتې کیدل پکاردی ځکه چه دَمسلمانانو دَ جماعت دعاگانې دَ ټولو دَپاره عام دی. هغه په جماعت کښې شاملیدو سره دَ دغه دعاگانو مستحق کیدې شی.

[۲۳۰] د نبي کریم ﷺ د خبرې د رسونکي مقام

۲۳۰—(۱)[۲۹] ۱ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: ۲ "«نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا شَيْئًا فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ، ۳ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى لَهُ مِنْ سَامِعٍ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ ابن مسعود رضی الله عنه راوي دي ۲ چې ما د رسول الله ﷺ څخه واوریدل چې الله جل جلاله دي هغه سړي تازه لري (یعني خوشحاله او باعزته دي لري) چې زما څه خبره یي واوریده او څنگه چې یي اوریدلي وه هغسي یي ورسوله ۳ اکثره هغه خلق چاته چې یي رسولي شی د اوریدونکي څخه زیات یاد لرونکي وي، ترمذي ابن ماجه

حل اللغات: ① نَضَّرَ: أَيْ: نَوَّرَ: تروتازه او روښانه دي ساتی، ② شَيْئًا: يَعُمُّ الْأَقْوَالَ وَالْأَفْعَالَ: د شیئًا نه

[۱]) اخرجه الترمذی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب ما جاء فی الحث علی تبلیغ السماع (رقم-۲۶۵۸) اخرجه احمد فی المسند: ۴۳۷/۱ وابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب من بلغ علما (رقم۲۳۲)

مراد د نبی علیہ السلام او د صحابه کرامو اقوال او افعال دی، ③ فَبَلَّغَهُ: أَيْ: نَقَلَ: اوئي رسول، وړاندې خلقو ته ئې نقل کړی دا اوریدلی اقوال یا افعال، ④ أَوْعَى: أَيْ: أَحْفَظُ وَأَضْبَطُ: ياد لرونکې او اهتمام سره حفاظت کونکې.

٢٣١-(١)[٠] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ.

ترجمه: او دارمي دا حديث د ابو درداء رضی الله عنه څخه روايت کړي دي.

تسهیلات:

نوټ: د زیربحث حدیث تشریح دې څخه وړاندې د حدیث نمبر(٢٢٨) په تسهيل کښې تيره شوې ده.

[٢٣٢] په نبي کريم ﷺ د دروغو ويلو سزا

٢٣٢-(٢)[٣٠] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «اتَّقُوا الْحَدِيثَ عَنِّي إِلَّا مَا عَلِمْتُمْ. ٣ فَمَنْ كَذَبَ عَلَيَّ مُتَعَمِّدًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ٢ زما د جانب څخه حديث بيانولو څخه بچ شی خو هغه حديث بيانوې چې هغه تاسو رښتيني وګڼئ ٣ او کم سړي چې قصداً په ما دروغ اووائي هغه ته پکار دي چې خپل ځايي په دوزخ کې جوړ کړي، ترمذي

حل اللغات: ① اتَّقُوا: أَيِ: احْذَرُوا: اويريږئ، بچ اوسيږئ، ② مُتَعَمِّدًا: په قصد سره، ③ فَلْيَتَبَوَّأْ: جوړ دې کړي، اودې نيسي، ④ مَقْعَدَهُ: د اوسيدو ځائې.

٢٣٣-(٣)[٠] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَجَابِرٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ: "«اتَّقُوا الْحَدِيثَ عَنِّي إِلَّا مَا عَلِمْتُمْ»".

ترجمه: او ابن ماجه دا حديث د ابن مسعود رضی الله عنه او د جابر رضی الله عنه څخه روايت کړي دي او هغوئ دا لفظونه نه دي ذکر: اِتَّقُوا الْحَدِيثَ عَنِّي إِلَّا مَا عَلِمْتُمْ.

.....

[٢٣٤] په قران کښې د خپل عقل څخه د څه ويلو سزا

[1]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ٢٣٠

[2]) اخرجه الترمذی كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الذى يفسر القرآن برايه (رقم-٢٩٥١)

[3]) اخرجه ابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب التغليظ فى تعمد الكذب على رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-٣٠)

۲۳۴—(¹)[۳۱] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «وَمَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ». ۳ وَفِي رِوَايَةٍ: «مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِغَيْرِ عِلْمٍ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي ۲ چې نبي کريم ﷺ وفرمايل کم سړي چې په قرآن کې د خپل عقل څخه څه اوويل هغه ته پکار دي چې خپل ځايي په اُورکي جوړ کړي، ۳ او د يو روايت الفاظ دادي چې کم سړي بغير د علم څخه په قرآن کې څه اووائي هغه ته پکار دي چې خپل ځايي په دوزخ کې جوړ کړي، ترمذي

حل اللغات: ① بِرَأْيِهِ: أَيْ: مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِهِ: په خپله رائې سره (يعنى د ايمه ؤ او د اهل لغت اقوالو ته او شرعى قواعدو طرف ته د رجوع کولو نه بغير) ② أي بِغَيْرِ عِلْمٍ: أَيْ: دَلِيلٍ: يعنى بغير دڅه دليل نه.

[۲۳۵] په قرآن کښې خپله رايه ورکول

۲۳۵—(²)[۳۲] ۱ وَعَنْ جُنْدُبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ۲ «مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ فَأَصَابَ فَقَدْ أَخْطَأَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ۱ جندب رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ۲ چا چې په قرآن کې د خپلي رايي څخه څه اوويل او هغه د حقيقت او واقع مطابق هم وي نو بيا هم هغه غلطي وکړه، ترمذي، ابوداؤد

حل اللغات: ① فَأَصَابَ: أَيْ: وَلَوْ صَارَ مُصِيبًا: اورسيدلو حق ته، يعنى که اتفاقا هغه صحيح هم وى. ② أَخْطَأَ: أَيْ: فَهُوَ مُخْطِئٌ: نو بيا ئې هم خطاء کار اوکړو.

د راوي مختصر تعارف: نوم جندب دَ پلار نوم عبدالله.دَ سفيان بجلى علقى نمسې وو.دا عقله قبيله دَ بجلى يوښاخ دې دَ دې سره دَ هغه تعلق وو.اول په کوفه کښې اوسيدلو بيا بصرې ته لاړو اوهم هلته وفات شو.

مرويات: دَ هغه ۴۳ احاديث نقل دى ۱۲ بخارى اومسلم کښې دى په ۷ باندې دَ بخارى اومسلم دواړه متفق دى.

تسهيلات:

قوله: مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِرَأْيِهِ:

دلته مناسب ګڼړم چې د مفتى محمد تقى عثمانى رحمه الله د تصنيف ,,علوم القرآن ،،

---

¹) اخرجه الترمذى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الذى يفسر القرآن برأيه (رقم-۲۹۵۰)

²) اخرجه ابوداود كتاب العلم/ باب الكلام فى كتاب الله بغير علم(رقم-۳۶۵۲) والترمذى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء فى الذى يفسر القرآن برأيه (رقم-۲۹۵۲)

تالیف څخه عبارت نقل کړم د کوم ترجمه چې احقرشاه فیصل په پښتو کښې لیکلې ده.

په قران کښې د رائې د استعمال مفهوم: علامه ماوردی رحمه الله فرمائی.غلو پسند خلقو ددې حدیث نه دا مطلب اخستلې دې. چې په قرآن کریم کښې څه خبره د فکر او رائې په بنیاد سره کول جائز نه ده.تر دې چې د اجتهاد په ذریعه د قرآن کریم نه داسې معانی راویستل هم جائز نه دی.کوم چې د اصول شرعیتٔ سره مطابق وی.خو دا خیال تیک نه دې.ځکه چې پخپله قرآن پاك د تدبر او استنباط ځائې په ځائې ستائنه کړې ده.او که فکر او تدبر باندې بالکل پابندی اولګولې شی.نو د قرآن او سنت نه به د شرعی احکامو او قوانینو د راویستلو دروازه بیخی بنده شی.نو ددې حدیث مطلب په هر قسم رائې باندې پابندی لګول نه دی.(١) په دې خبره د جمهورو عالمانو اتفاق دې. چې د قرآن او حدیث د نورو دلائلو په رڼا کښې ددې حدیث مطلب هرګز دا نه دې.چې په قرآن کښې غور فکر او عقل او رائې ته بیخی څه دخل نشته.بلکه ددې اصل مقصد ددې دې. چې د قرآن کریم د تفسیر دپاره چې کوم اصول اجماعی طور باندې مسلم او منلی شوی دی.چې هغه پریږدی.باقی کوم تفسیر صرف د رائې په بنیاد باندې شوې وی.نو هغه ناجائز دې. اوکه په داسې قسم تفسیر کښې یو کس اتفاقا څه صحیح نتیجې ته اورسی نو بیا هم هغه خطاکار دې. ځکه چې هغه غلطه لاره اختیار کړله.اوس د اصول تفسیر پریخودلو ډیر صورتونه کیدیشی.

دتفسیر دااصولو پریخودلو صورتونه: ① کوم کس چې د قرآن کریم په تفسیرکښې د خبروکولو اهلیت نه لری.او هغه صرف په خپله رائې باندې تفسیر شروع کړی.

② چې د یو آیت څه تفسیر ښکاره د نبی ﷺ یا صحابه کرامو رضی الله عنهم یا تابعین نه ثابت وی. هغه پریږدی.او صرف په خپل عقل باندې څه معنی بیان کړی.

③ په کومو آیاتونو کښې چې د صحابه کرامو یا تابعینو نه ښکاره تفسیر نقل نه وی.او په هغې کښې د لغت او ژبې او ادب اصولو د پښخؤ لاندې کړی.او څه بله تشریح بیان کړی.

④ دقرآن او سنت نه براه راست د احکامو او قوانینو د راویستلو د اجتهاد اهلیت نه لری.او بیا هم اجتهاد شروع کړی.

⑤ د قران کریم متشابه آیاتونه (د کومو په باره کښې چې قرآن په خپله وئیلې دی.چې ددې سل فیصده صحیح مراد د الله جل جلاله نه سوا بل څوك نه پیژنی.) د هغې په جزم او یقین سره بل تفسیر بیان کړی.او په هغې باندې باقی اوسی.

⑥ چې د قرآن کریم داسې تفسیر بیان کړی.چې په هغې سره د اسلام د نورو اجتماعی

---

١) ماخوذ از الاتقان ٢/١٨٠ نوع ٧٨]

طور سره مسلم او منلی شوی عقائد یا احکام مجروح شی.
⑤ د تفسیر په معامله کښے چې په کوم ځائې کښې د عقل او فکر استعمال جائز دې. نوهلته یقینی طور دلیل نه بغیر خپله ذاتی رائې تیك او د نورو مجتهدینو رائګانے یقینی طور باطلې ګڼری.

دا ټول صورتونه،په رائې سره د تفسیرکولو ،، دی.د کومو نه چې په پورتنی حدیث کښې منع شوې ده.په یو بل حدیث کښې دا ټولو صورتونه په یوه مختصره جمله کښې راګیر شوی دی.((من قال فی القرآن بغیرعلم فلیتبوأمقعده من النار)) کوم کس چې په قرآن کریم کښې بغیر د علم نه څه خبره اوکړله.نو هغه خپل ځائې په جهنم کښې تیار کړلو.

[۲۳۶] په قران کښې جګړه کول کفر دي

۲۳۶—(¹)[۳۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "۲ «الْمِرَاءُ فِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ ابوهریره رضی الله عنه راوي دي نبی کریم ﷺ وفرمایل ۲ په قرآن کې جګړه کول کفر دي، احمد، ابوداؤد

حل اللغات: ① الْمِرَاءُ: أَيِ الْجِدَالُ: جګړه کول.② كُفْرٌ: کفردي (څکه چه دانجام نه ئې اونه پریدلو، یا څکه چه جګړه کول په قرآن کښې دا شک دې، اوپه قرآن کښې شک کول کفر دې).

تسهیلات:

قوله: الْمِرَاءُفِي الْقُرْآنِ كُفْرٌ:

په قرآن کښې په جګړې کولودکفرد اطلاق وجه: یعنی کوم سړې چه دَخپل خواهش پوره کولودَپاره دَ قرآن کریم آیاتونه اونصوص په خپل مینځ کښې ټکراوهی او په هغې کښې بې ځایه تاویل کوی اویوآیت پریږدی اوبل قبلوی داکفردې مثلاً هغه کس آیت ﴿ مَآ أَصَابَ مِنْ مُّصِيبَةٍ فَبِإِذْنِ اللّهِ ﴾ آیت ﴿ وَمَآ أَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ ﴾ سره متعارض جوړوی اوخپل مینځ کښې جګړه کوی. یوفریق یوایت اخلی دویم پریږدی اوبل فریق یو آیت اخلی دویم پریږدی نودا صورت دَ جانبینودَپاره دَخطرې اودَ کفرسبب دې. څکه چه دا داسې خطرناك عمل دې چه په مزه مزه دَدې نوبت کفرته رسیږی.

[۲۳۷] قرآنی آیاتونه د خپلې باطلې نظریې دپاره پیش کول

۲۳۷—(²)[۳۴] ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ ۲: «سَمِعَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَوْمًا يَتَدَارَءُونَ فِي الْقُرْآنِ، ۳ فَقَالَ: " إِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِهَذَا: ۴ ضَرَبُوا كِتَابَ اللَّهِ بَعْضَهُ بِبَعْضٍ، ۵ وَإِنَّمَا

¹) اخرجه ابوداود کتاب السنة/باب النهی عن الجدال فی القرآن(رقم-۴۶۰۳)اخرجه احمد فی المسند:۲/۲۸۶.
²) اخرجه ابن ماجة کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/ باب فی القدر(رقم-۸۵)اخرجه احمد فی المسند:۲/۱۸۵

نَزَلَ كِتَابُ اللّٰهِ يُصَدِّقُ بَعْضُهُ بعضًا، فَلَا تُكَذِّبُوا بَعْضُهُ بِبعضٍ. ٦ فَمَا عَلِمْتُمْ مِنْهُ فَقُولُوا، وَمَا جَهِلْتُمْ فَكِلُوهُ إِلَى عَالِمِهِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ عمرو ابن شعيب رحمه الله د خپل پلار څخه او هغه د خپل نيکه څخه روايت کوي ٢ چې رسول الله ﷺ د يو جماعت په باره کې واوريدل چې هغه په خپلو کې د قرآن په باره کې بحث او جګړې کوي ٣ نو حضور ﷺ وفرمايل بيشکه ستاسو څخه مخکې خلق په دې سبب هلاك شول ٤ چې هغوئ د کتاب الله بعضې حصه په بعضې ووهله يعنى په آيت کې تضاد او اختلاف ثابت کې (چې فلاني آيت د دې آيت مخالف دي او دا آيت د فلاني آيت مخالف دي) ٥ او بېشکه د کتاب الله بعضې حصي د بعضې تصديق کوي نو تاسو د قرآن بعضې حصي په بعضې سره مه دروغ کوي ٦ او د هغه په باره کې چې څومره تاسو پيژني هغه بيان کوي او کومه چې نه پيژني (درته نه وي معلومه) هغه د پوهيدونکو طرف ته وسپاري، احمد، ابن ماجه

حل اللغات: ① يَتَدَارَءُونَ: أَيْ: يَخْتَلِفُونَ: اختلاف کول د يوبل سره، د يوبل خبره او دليل رد کولو ته تَدَارُء وائى، دې نه مراد بحث اوجګړه کول اودَ قرآن کريم آياتونه په خپل مينځ کښې تکراوهل دى. ② ضَرَبُوا: أَيْ: خَلَطَ: چه اوويشتلوهغوى، يوه حصه د بلې حصې سره ګډ وډ کول يا يوه حصه په بله حصه باندې رد کول مراد دى. ③ جَهِلْتُمْ: چه تاسوته معلوم نه وى، تاسو پرې نه پوهيږئ، ④ فَكِلُوهُ: أَيْ: رُدُّوهُ وَفَوِّضُوهُ: واپس کوئ، ور سپارئ.

د راوي مختصر تعارف: نوم عمرو، شعيب بن محمدبن عبدالله بن عمرو بن العاص څوئ دې. هغه په عامه توګه دَ خپل پلارنه اودَسعيدبن المسيب رحمه الله نه روايات اوريدلى دى. داسندد احاديثو په کتابونو کښې ډير په کثرت سره موندلې شى." ابيه" ضمير دَ عمرو رحمه الله طرف ته راجع دې او د ابيه مصداق شعيب دې.

تسهيلات: قوله: عَنْ عَمْرِوبْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ:

د جده په ضمير کښې دوه احتمالات:

① عمرو دې دَدې مصداق محمد دې. يعنى شعيب دَ عمرو نيکه محمدنه روايت کوى.

② دَ جده مرجع ابيه دې اوس به دَ جده مصداق عبدالله بن عمرو وى کوم چه دَ شعيب نيکه دې. مطلب به دا وى چه شعيب دَ خپل نيکه عبدالله نه روايت کوى. دَ دې احتمالاتو په وجه په دې سندکښې اختلاف شوې دې چه دا سنددَ احتجاج قابل دې که نه. صحيح رائې دا ده چه دا سند دَ احتجاج قابل دې کم نه کم دَ حسن په درجه کښې دې. اصحاب السنن اوامام احمد رحمه الله وغيره دا سندقبول کړې دې. (١) هغه په ١١٨هـ کښې وفات شوې دې.

---

(١) ميزان الاعتدال ٢٦٦/٣وتذريب الراوى ٢٥٧/٢)

تسهیلات:

قوله: قَوْمًا يَتَدَارَءُونَ فِي الْقُرْآنِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چې د حدیث مصداق هغه خلق دی چې یوفریق د خپلې مدعا دپاره د قرآن پاک یو آیت پیش کړی اوبل فریق بل آیت پیش کړی اوهریو د بل فریق د قرآنی مستدل تکذیب کوی.یا په هغې کښې غلط تاویل کوی.د دوی مقصود د حق اظهار نه وی بلکه دخپل مسلک تائید وی.دا طریقه د هلاکت باعث ده.

② قاضی بیضاوی رحمه الله فرمائی د حدیث مصداق هغه خلق دی چې د تکذیب په غرض دقران پاک بعضې آیاتونه د بعضې نورو سره متضاد ثابتولو کوشش کوی.دا طریقه د هلاکت ده.قرآن پاک د الله تعالی کتاب دې په دې کښې یوه خبره هم د بلې څخه مخالف او متضاد نه ده.اوپه کوموځایونوکښې چې په ظاهره تضاد معلومیږی.په هغې کښې تطبیق پکار دې.د قرآن پاک په متعارض آیاتونو باندې تاسو زما عاجز شاه فیصل یو کتاب ,, آیات متعارضه اودهغې حل،، په نوم مطالعه کولې شئ.په دې کتاب هغه آیاتونه راجمع شوی دی کوم چې په ظاهره متعارض ښکاری.اوبیا په هغې کښې تطبیقات شوی دی. دلته یودوه مثالونه دهغې څخه رانقل کوم.

قرانی آیت: ① ﴿وَإِذْ وَٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً...الخ﴾ پاره ۱ رکوع ۶ سورة البقرة

د اولنی آیت مفهوم: په ړومبي آیت کښې خو فرمائی چه مونږ د موسی علیه السلام سره د څلویښتو شپو وعده کړې وه چه هغوی دې کوه طور ته د څلویښتو ورځو دپاره تشریف راوړی مونږ به هغه ته تورات ورکوو

متعارض آیت: ② ﴿وَوَٰعَدْنَا مُوسَىٰ ثَلَٰثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَٰهَا بِعَشْرٍ فَتَمَّ مِيقَٰتُ رَبِّهِۦٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً﴾ پاره ۹ رکوع ۷ سورة اعراف

د دویم آیت مفهوم: او په دې آیت کښې چه د دیرشو شپو وعده اوشوه بیا د لسو شپو اضافه کولو سره ئې څلویښت ورځې پوره کړې پس په دواړه کښې په ظاهر کښې تعارض دې.

د تعارض حل: د دې تعارض جواب دا دې چه په دې دواړو آیتونو د اجمال او تفصیل فرق دې څه تعارض پکښې نشته اصل وعده د دیرشو ورځو وه چه تاسو کوه طور ته تشریف راوړئ او یوه میاشت په عبادت کښې تیره کړئ موسی علیه السلام یوه میاشت د الله پاک په عبادت کښې تیره کړه او مسلسل روژې ئې اونیولې په مینځ کښې ئې افطار اونکړو چه هغې ته صوم وصال وائی په دیرشمه ورځ ئې افطار اوکړو الله پاک ورته اوفرمائیل چه تاسو د روژې هغه بوئی (کوم چه د معدې نه راوچتیږی) ختم کړو کوم چه ماته د مشکو نه هم زیات محبوب دې په دې وجه تاسو لس روژې نورې اونیسئ او موسی علیه السلام لس روژې نورې هم اونیولې

دغه شان دا څلوېښت ورځې شوې دا د اربعين تفصيل شو كوم چه په دويم آيت كښې ذكر كړې شوې دې هم دې لره په اول آيت كښې دواړه عددنو لره جمع كولوسره اجمالاحاصل او نتيجه بيان كړې شوې ده او فرمائى ﴿وَإِذْ وٰعَدْنَا مُوسَىٰٓ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً﴾ او هيڅ يو څيز لره د اجمال نه پس تفصيل سره ذكر كولو كښې هيڅ تعارض نشته (جمل، خازن، مدارک، بيان القران)

قوله: وَمَا جَهِلْتُمْ فَكِلُوهُ إِلَىٰ عَالِمِهِ :

دعالم په مصداق كښې دوه اقوال: ① دلته د عالم څخه مراد الله تعالى دې مطلب دا چې په كومو آياتونو تاسو نه پوهيږئ لكه حروف مقطعات يا دالله تعالى صفات لكه، يد،ساق، وجه، وغيره نو هغه الله تعالى ته اوسپارئ.

② د عالم څخه مراد هغه انسان دې چې په قرآن او حديث مهارت لرى.لكه د صحابه كرامو په زمانه كښې حضرت عبدالله بن عباس رضى ا لله عنهما شو.اوداسې وه هم.چې كله به عاموصحابه كرامورضى الله عنهم ته په قرآن كښې څه مشكل پيښ شو.نوعبدالله بن عباس رضى الله عنهما ته به ئې رجوع كوله.

اشكال: په ظاهره داسې معلوميږى چې جګړه كونكى صحابه كرامو رضى الله عنهم وو. حالانكه صحابه خوداوچت مقام خاوندان وو.هغوى به څنګه په قرآن كښې داسې اختلاف كړى وى كوم چې پخوانو امتونو په خپلو كتابونوكښې كړې وو.

داشكال دوه جوابونه: ① د دې مخاطبين منافقان وو.اومنافقانوچې په قرآن پاک كښې كوم اختلاف كولونو هغه اختلاف د سابقه قومونو د اختلاف سره ملاويدل.

② داسې نه ده چې صحابه كرامو په كتاب الله كښې غلط تاويل اواختلاف كړې وو.بلكه نبى عليه السلام دا ارشاد د سدأ للباب په طورسره فرمائيلې دې چې تاسو ځان په كتاب الله كښې د اختلاف كولو اود دې داسې معنى اخستلوڅخه اوساتئ كوم چې د قرآن د تكذيب اوستاسو دهلاكت سبب اوګرځى.

[۲۳۸] د قرآن په اووه لغاتو نازليدل

٢٣٨ــ(١)[٣٥] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " [٢] «أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ، [٣] لِكُلِّ آيَةٍ مِنْهَا ظَهْرٌ وَبَطْنٌ، [٤] وَلِكُلِّ حَدٍّ مُطَّلَعٌ» ". رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: [١] ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي [٢] چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې قرآن كريم په اوه شان نازل شوې دي [٣] په هغه كې هرآيت لپاره ظاهر دي او باطن دي [٤] او د هر حد د پاره يو ځاي د خبر داريدو دي، شرح السنة

(١) اخرجه البذاز وطبرانى فى الاوسط.

حل اللغات: ①سَبْعَةِ أَحْرُفٍ: اووه قراءتونه يا اووه لغات (د عربو مراد دی)، ②ظَهْرٌ: ظاهر، ښکاره (چه دتاويل ضرورت پکښې نه وی)، ③بَطْنٌ: پټ (چه تاويل پکښې کولې شی)، ④حَدٌّ: دَ نهايت او طرف په معنى کښې دې. ⑤مُطَّلَعٌ: دَ رسيدومقام ته وئيلې شی. د حد معلوم معنى شوه: حَدُّ كُلِّ حَرْفٍ مَعْلُومٌ فِي التِّلَاوَةِ: چه په تلاوت کښې د هر يو حرف طرف او انتهاء معلومه ده چه دهغې نه مخالفت کول جائز نه دی.

تسهيلات:

قوله: أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ:

د قرآن پاک په اووه لغاتو نازليدل: د سبعة احرف په مفهوم او مراد کښې مختلف توجيهات شوی دی. کشف البارى شرح صحيح بخارى کښې زما محترم استاذ حضرت سليم الله خان نورالله مرقده ډير اوږد تفصيل کړې دې ځوک که دزيات تفصيل طلبګار وی نوما احقر شاه فيصل په پښتو کښې د کشف البارى د څلوريشتو جلدونو ترجمه کړې ده.هغې ته دې رجوع اوکړی.دلته زه د شاه ولى الله رحمه الله تشريح نقل کوم.کومه چې زياته راجحه ده.حضرت شاه ولى الله رحمه الله فرمائی:

د احرف لغوی معنی: "احرف" دَحرف جمع ده کوم چه دَ لغاتو په معنى کښې دې. "اى سبعة لغات"

په اووه لغاتو د قرآن پاک نزول: دَ قرآن نزول دَ قريشو په لغت کښې شوې وو مګردَدې نه علاوه په عربو کښې شپږ لغات مشهور اومتعارف وو کوم چه دادی:

①لغت قريش ②لغت بنوطي ③لغت بنوتميم

④لغت هوازن ⑤لغت اهل يمن ⑥لغت ثقيف

⑦لغت هذيل.

دَدې قبائلولغات چونکه مختلف وواوهره قبيله دَ بلې.قبيلې په لغت باندې نه پوهيدله او دَ قرآن کريم لوستل اويادول ګرانيدل. رسول الله ﷺ دَالله تعالى نه دعااوغوښتله نوالله تعالى دَ اوؤ لغاتوپورې آسانى پيداکړه اودَ اووه لغاتوپورې دَ لوستلو اجازت ورکړې شو.

دا اجازت داسې نه وو چه هرلغت کښې اووه قسمه لوستل وو مګر په مجموعى اعتبار سره دَدغه لغاتو شمير اوؤ ته اورسيدو. دَ قبائلواختلاف هم داسې وو

لکه پښتوژبه کښې دَمختلف قومونو په نيز دَ لحاف مختلف نومونه دی مثلاً: ①بړستن ②رضائى ③کنجړ ④تلتك ⑤ ترنګړ ⑥نالئى وغيره دا هم دَ يوې ژبې ويونکوقبائلو په ژبه کښې اختلاف دې.

د مذکوره تشریح تائید دیوې واقعې څخه: یوعربی کلی وال ته حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا آیت لوستلو. [طعام الاثیم] هغه سړی دَ اثیم لفظ په ژبه باندې نه شو اداکولې. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل چه "ان طعام الفاجر" وایه هغه به داسې وئیل.

دقرآن پاک د تدوین درې مراحل: ① په عهد رسالت کښې قرآن پاک ټول په یوځائې راجمع شوې نه وو لکه نن صبا چې د سورة فاتحه څخه تر والناس پورې ټول په مصحف کښې راجمع دي بلکه د نبی علیه السلام په زمانه کښې دمختلفو صحابه کرامو سره دقرآن پاک مختلف آیاتونو او سورتونه په تحریری شکل کښې موجود وو.د قرآن پاک دا متفرق تحریری حصې د نبی علیه السلام ترمرګه پورې وی.اوهریوصحابی به د خپل لغت په رڼا کښې قرآن پاک لوستلو.

② بیا دا طریقه دَ حضورپاك څخه دَ صدیق اکبر رضي الله عنه دَ زمانې پورې روانه وه. بیا دَحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په اصرارباندې صدیق اکبر رضي الله عنه حضرت زیدبن ثابت رضي الله عنه ته حکم ورکړو چه قرآن کریم په لیکلوسره یوځائی راجمع کړئی په دې لحاظ سره حضرت عمر فاروق رضي الله عنه جامع قرآن مشهورشو.

③ بیادَ حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې مختلف قبائل په اسلام کښې داخل شو اودَ قرآن دَدې اووه لغاتودَ اختلاف دَ وجې نه خپل مینځ کښې تنازعات شروع شو نودَعراق ګورنر حضرت حذیفه بن یمان رضي الله عنه حضرت عثمان رضي الله عنه ته اوفرمائیل چه دا امت دَ اختلاف او افتراق وړاندې بچ کړه. بیاحضرت عثمان رضي الله عنه اوفرمائیل چه قرآن کریم په شروع کښې دَ قریشو په لغت کښې نازل شوې وو. لهذا دَ دغه لغت مطابق قرآن پاك راجمع کړئی اودَ لغت قریش نه علاوه لغات ختم کړئی. نوهم داسې اوشو اوپه دې باندې دَ صحابه کرامو اجماع هم اوشوه اوحضرت عثمان رضي الله عنه دَ جامع قرآن په نوم سره مشهور شو.

قوله: «لِكُلِّ آيَةٍ مِنْهَا ظَهْرٌ وَبَطْنٌ»:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې اووه اقوال: ① دَهدایت یوظاهر دې یعنی دَدې معانیؤ تعلق دَ اعمال ظاهری سره دې اویوباطن دې یعنی احکام باطنه سره هم دَدې تعلق دې.

② دَهریوآیت یوه ظاهری معنی ده اویوه تاویلی اوباطنی معنی ده نوتاویل باطن دې او ظاهرظاهردې.

③ د ظهر څخه دَ هرآیت یوه ظاهری معنی ده په کوم چې ټول اهل زبان او علماء پوهیږی اود بطن څخه باطنی معنی مراد ده کوم باندې چه علماء باطن او اهل معرفت او طریقت پوهیږی.

④ د ظهر څخه مراد لفظ دې اود بطن څخه مراد معنی ده.

⑤ د ظهر څخه قرآنی واقعات اود پخوانی قومونو هلاکت مراد دي اود بطن څخه مواعظ اودعبرت خبرې مراد دي.
⑥ دظهر څخه مراد قرآن پاک اود بطن څخه مراد احادیث دی.
⑦ د ظهرڅخه مراد د قرآن پاک قراءت اود بطن څخه مراد په دې کښې غور اوفکر دي.

قوله: وَلِكُلِّ حَدٍّ مَطْلَعٌ:

تقدیری عبارت: دلته څه عبارت محذوف دې اصل عبارت داسې دي ((ولكل ظهروبطن حد، وولكل حد مطلع)) یعنی ظهراوبطن دپاره یوحد دې اودهرحد دپاره یوه انتهاء ده.

دمذکوره جملې مطلب: دَدې جملې مطلب دا شوچه دَهرآیت دَ ظاهر اوباطن یوحد اویوطرف دې اودَ دغه حد اوطرف یومقام دې کوم ته په رسیدو اودَهغې دَ حاصلیدو نه پس سړې په دغه حداونهایت باندې خبردارشی.

د ظاهر د مطلع څخه مراد: نودآیت په ظاهرباندې دَخبردار کیدو مطلب دادې چه دَ عربی ژبې اصول او قواعد اوپیژنئی علم صرف ونحو اوعلم لغت اوپیژنئی اودَ آیت شان دَ نزول او دَ ناسخ او منسوخ علم حاصل کړئی داظاهرته دَ رسیدومطلع اومقام دې.

د باطن د مطلع څخه مراد: دَ باطن مطلع دادې چه ریاضت اومجاهده کولوسره دَ قرآن حکیم په احکامو اومعانی باندې عمل اوکړې شی. په عبادت باندې خپل زړه اودماغ روښانه کولوسره دَقرآن کریم معارف اواسرارحاصل کړې شی.

[۲۳۹] علمونه درې دی

٢٣٩ –(١)[٣٦] [١]وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢]«الْعِلْمُ ثَلَاثَةٌ: آيَةٌ مُحْكَمَةٌ، أَوْ سُنَّةٌ قَائِمَةٌ، أَوْ فَرِيضَةٌ عَادِلَةٌ. [٣]وَمَا كَانَ سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ فَضْلٌ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١]او عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما راوي دي [٢]چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل علم درې دي ① آیت محکم (یعني مضبوطه) ② سُنت قائمه ③ فریضهٔ عادله، [٤]او د دې څخه علاوه چې څه دي هغه زائده دي، ابوداؤد، ابنِ ماجه

حل اللغات: ① آيَةٌ مُحْكَمَةٌ: أَيْ: غَيْرُ مَنْسُوخَةٍ: داهغه احکام دی چه محکم او بلا تردد او واضحه وی او په هغې کښې دَنسخ امکان نه وی اونه په دې کښې اشتباه وی. لهذا دَمتشابهاتو رجوع هم دَدې محکماتوطرف ته کیږی. په دې جملې سره دکتاب الله حیثیت طرف ته اشاره ده. ② سُنَّةٌ قَائِمَةٌ: أَيْ: ثَابِتَةٌ صَحِيحَةٌ: دَ سنت قائمه نه مراد غیرمنسوخ سنت دی په دې جملې سره سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف

---

[١]) ابوداود كتاب الفرائض /باب ما جاء فى تعليم الفرائض(رقم-٢٨٨٥) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب اجتناب الرأى والقياس (رقم-٥٤)

ته اشاره ده. ③ فَرِيضَةٌ عَادِلَةٌ: أي الحُكْمُ الْمُسْتَنبَطُ مِنَ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ بِالْقِيَاسِ: يعنى هغه احکام چه په طريقه دَ استنباط دَ قرآن اوحديث دواړو نه مستخرج وی. ④ فَضْلٌ: دا د فُضُولٍ نه ماخوذ دي، يعنى زياتى، يعنى ددې علومو نه ماسوا ټول زياتي او فضول دی.

تسهيلات:

قوله: الْعِلْمُ ثَلَاثَةٌ:

دعلم څخه مراد: يعنى علوم شرعيه معتبره درې دی. او د هغې نه علاوه چه کوم دی هغه د ضرورت نه زياتي او غير ضروري دی وړاندې د هغه دريو بيان دې.

د علم ثلاثه څخه مراد: په حديث کښې چې د کومو درې علومو ذکر دې هغه دا دی.

قوله: آيَةٌ مُحْكَمَةٌ، أَوْسُنَّةٌ قَائِمَةٌ:

① آيات محکمه: يعنى غير منسوخه يا صريحه چه د تاويل احتمال نه لری.

② احاديث صحيحه ثابته

قوله: أَوْفَرِيضَةٌ عَادِلَةٌ:

د فريضة عادله په مصداق کښې دوه احتمالات: ① د فريضه عادله څخه مراد هغه احکام او اصول دی چه د هغې نه تقسيم بين الورثة په عدل سره يعنى پوره پوره کيدې شی او دا خبره د علم الفرائض نه حاصليږی

② د فريضة عادلة څخه مطلق هغه فرائض او احکام مراد دی چه په هغې باندې عمل واجب دې، او د عادله نه مراد مساويه، يعنى هغه احکام مستنبطه چه مساوی او موافق وی ﴿مايوخذمن الكتاب والسنة﴾ والله تعالى اعلم،

[٢٣٠] درې خلق به قصه بيانوي

٢٣٠—(١)[٣٧] ① وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا يَقُصُّ إِلَّا أَمِيرٌ أَوْ مَأْمُورٌ أَوْ مُخْتَالٌ»" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه راوي دي ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل درې خلق به قصه بيانوي ① حاکم ② يا محکوم ③ يا تکبر کونکي، رواه ابوداؤد

حل اللغات: ① أَمِيرٌ: أَيْ: حَاكِمٌ: حاکم، بادشاه، ② مَأْمُورٌ: أَيْ: مَأْذُونٌ لَهُ: محکوم يعنى چاته چه دحاکم د طرفه اجازت ورکړې شوی وی او خپل نائب ئې مقرر کړې وی. ③ مُخْتَالٌ: أَيْ: مُفْتَخِرٌ: غرور او تکبر کونکې چه د حاکم جوړيدو دپاره کوشش کوی.

[١]) اخرجه ابوداود كتاب العلم/ باب فى القصص(رقم-٣٦٦٥)اخرجه احمد فى المسند:٢٧/٦

٢٣١—()[٠] وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، وَفِي رِوَايَتِهِ: "أَوْمُرَاءٍ" بَدَلَ "مُخْتَالٌ"

ترجمه: او دارمي دا حديث د عمرو بن شعيب ﷺ څخه روايت کړي دي او د دارمي په روايت کې د لفظ مُخْتَالٌ يعنى تکبر کونکي په ځاي او مُرَاءٍ (رياکار) دي.

حل اللغات: ① مُرَاءٍ: رياکار، ② مُخْتَالٌ: دا لفظ دَاختيال نه دَتکبرپه معنى کښې دې.

د راوي مختصر تعارف: نوم ئې عوف دَپلار نوم ئې مالك، کنيت ابوعبدالرحمن اودَ قبيله الاشجعی سره ئې تعلق وو. دَ خيبر په غزوه کښې دَ ټولو نه اول شريك شو اوهم هغه سره اسلامی جهنډا وه. دَمکې دَ فتحې په ورځ هم دَ هغه دَ قوم جهنډا دَ هغه په لاس کښې وه. دَ شام په ملك کښې اوسيدلو وائی چه هم هلته دَ هغه وفات په کال ٧٣هـ کښې اوشو.

مرويات: دَهغه نه ٦٧ احاديث دَاحاديثوپه کتابونوکښې ملاويږی. په هغې کښې شپږ په بخاری اومسلم کښې دی. په يوکښې امام بخاری رحمه الله منفرد اوباقی کښې امام مسلم رحمه الله منفرددې.

تسهيلات: قوله: لَا يَقُصُّ:

دلته يقص به معنى د واعظ په معنى ده. اوواعظ هغه چاته وائی چې هغه د قرآن اوحديث په رڼا کښې مطلب دادې چه دَ جمعې دَ اخترونو او دَ نورو خطبوحق غيرذمه وار کسانوته نشته.

قوله: إِلَّا أَمِيرٌ أَوْمَأْمُورٌ أَوْمُخْتَالٌ:

درې قسمه واعظان:

① په حديث کښې د درې قسمه واعظانوذکر دې.

① امير: يعنى هغه اميرچه شرعًا دَمسلمانانو خليفه اوبادشاه وی او په شرعی توګه باندې هم ذمه وار وی.

② مامور: يعنى کوم سړې چه دَشرعی اميراوحاکم دَ طرفه په وعظ نصيحت کولو باندې ماموروی. يانيغ په نيغه دَالله تعالى دَ طرفه مقرروی لکه علماء کرام کله چې حاکمان نااهل اوجاهلان وی. نودا عالمان من جانب الله په وعظ اوتقرير باندې مقرر دی.

③ تکبرکونکې واعظ دې، څوک چې دوعظ کولو په وجه تکبر کوی. نودا دريم کس د وعظ کولو لائق نه دې.

[1]) اخرجه ابن ماجة کتاب العمرى/ باب القصص (رقم-٣٧٥٣) والدارمى فى السنن رقم الحديث ٢٧٧٩

[٢٣٢] دې غلطې فتوې او مشوره ورکولو ګناه

٢٣٢-()[٣٨] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ، ٣ وَمَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيهِ بِأَمْرٍ يَعْلَمُ أَنَّ الرُّشْدَ فِي غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ کوم سړي ته چې بغير علم څخه فتوې ورکول شوه نو د هغه ګناه به په هغه سړي وي چې هغه هغه ته غلطه فتوې ورکړي ده ٣ او کوم سړي چې خپل يو مسلمان ورور ته د داسې کار په باره کې مشوره ورکړه چې د هغه متعلق هغه پوهيږي چې د هغه خير په هغه کې نشته نو هغه سره يي خيانت وکړلو، ابوداؤد

حل اللغات: ① أُفْتِيَ : په صيغه د معروف سره، فتوى ورکونکې، مفتى، ② أَفْتَاهُ: بِمَعْنَى اسْتَفْتَى: چاچه فتوى طلب کړې ده، يعنى مُستفتى، ③ أَشَارَ: بِمَعْنَى الْمَشُورَةِ: مشوره ئې ورکړه، ④ الرُّشْدَ: أَي: الْمَصْلَحَةَ: ښيګړه، خير. ⑤ خَانَهُ: خيانت ئې اوکړو د مشورې اخستونکى سره.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ:

د فتوى ورکولو دوه صورتونه او د هر يو حکم: ① دَفتوى تپوس کونکى مستفتى باندې لازم دى چه هغه دَ عالم اوماهرمفتى څخه دَ مسئلې پوښتنه اوکړى دې دَپاره چه هغه ورته صحيح مسئله اوښائى. که چرې تپوس کونکى دَ يونااهل نه پوښتنه اوکړه اوهغه غلطه مسئله اوخودله نو په دې غلطئ کښې به مفتى اومستفتى دواړه ګناهګار وى.

② که تپوس کونکى ښه لټون، تحقيق او اعتماد څخه پس دَچا څخه دَمسئلې تپوس اوکړو اوهغه عالم صاحب جبه او دستارخو وو مګر په حقيقت کښې يونابلده تش جاهل وو اوهغه غلطه مسئله ورأوخودله نوصرف هم دغه غير عالم مفتى به ګناهګاروى.

قوله: وَمَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيهِ بِأَمْرٍ يَعْلَمُ أَنَّ الرُّشْدَ فِي غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ:

په مشوره کښې خيانت: که يوکس بل ته غلطه مشوره ورکړه اوده ته دا پته هم وه چې زما دا مشوره غلطه ده که ده پرې عمل اوکړو نو نقصان به ورته رسيږى. نوده ورسره خيانت اوکړو اودې خيانتګرشو. دا ياد ساتئ چې خيانت صرف په محسوس ځيزونوکښې نه وى بلکه عزت، راز، دا ټول ځيزونه په امانت کښې داخل دى. ددې وجې غلطې مشورې باندې د خيانت اطلاق شوې دې.

(1) اخرجه ابوداود كتاب العلم/ باب التوقى فى الفتيا(رقم-٣٦٥٧) وابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب اجتناب الرأى والقياس (رقم-٥٣)اخرجه احمد فى المسند:٢٠/١

[۲۴۳] د مغالطه ورکولو مما نعت

۲۴۳ —(۱)[۳۹] [۱]وَعَنْ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنِ الْأُغْلُوطَاتِ.» رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت معاویه رضی الله عنه وايي [۲]چې رسول الله ﷺ د مغالطه ورکولو څخه منع فرمايلي ده، ابوداؤد

حل اللغات: ① الْأُغْلُوطَاتِ: دا د أُغْلُوطَةٍ جمع ده، داسې تپوسونه او سوالونه چه هغه انسان لره په مغالطه او پريشانئ کښې اچوي.

تسهیلات: قوله: نَهَى عَنِ الْأُغْلُوطَاتِ:

د اغلوطات څخه مراد: په هره ژبه کښې په خپل خپل اندازسره مشکلې او ګرانې خبرې وی دې ته په پښتو کښې دورې وائی او اردو کښې ورته پهيليان وائی.مثلاً مونږ چې ماشومان وو.نودا دوره به مو کوله وايه دا څه دی ,, بې ستنو کوټه په کښې ناست دې شهزاده،، دکوټې څخه به زمونږ مراد قبروو.اود شهزاده څخه به زمونږ مراد کامل مؤمن وو.

د اغلوطه مثال: يوسړې داسې وائی "من قال قال الله فقدكفر" اوس اوريدونکی قال دَ قول ګنړی او ويونکې دا قيلوله اخلی په دې کښې دَايمان دَپاره خطرات دی نودَدې نه منع فرمائيلې شوې ده.

دحديث مطلب: د حديث مطلب داشوچه علماء کرامو لره په مغالطه کښې اچولودَپاره دَهغوی نه داسې قسم پوښتنه نه دی کول پکار چه پيچيده او ذومعنی کيدودَوجې نه دَ پريشانی او دَ تکليف دَ رسولوسبب شی.

د اغلوطات د ممانعت دوه وجوهات: شاه ولی الله رحمه الله فرمائيلی دی چې د اغلوطات څخه د ممانعت ډير وجوهات دی په هغو کښې دوه وجوهات دا دی.

① په دې سره بغيرڅه ضرورته عالمان په پريشانئ کښې اچولی شی.اويومسلمان ته تکليف ورکول لويه ګناه نو عالم ته خو په طريقه اولی سره ګناه ده.

② تپوس کونکې په داسې قسم تپوس سره خپل فوقيت او علميت ښکاره کول غواړی اودا تکبر او ريا ده نوځکه په حديث کښې د دې څخه منع اوشوه.

[۲۴۴] تاسي فرائض اوقرآن زده کړئ

۲۴۴ —(۲)[۴۰] [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲]«تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَالْقُرْآنَ وَعَلِّمُوا النَّاسَ[۳] فَإِنِّي مَقْبُوضٌ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[۱]) اخرجه ابوداود کتاب العلم / باب التوقی فی الفتيا(رقم- ۳۶۵۶)
[۲]) اخرجه الترمذی کتاب الفرائض عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی تعليم الفرائض (رقم-۲۰۹۱)

ترجمه: ۱ ابو هریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ تاسو فرائض (یعني فرض څیزونه یا علم فرائض-میراث) او قرآن کریم زده کړي او نورو ته یي هم وښایئ ۳ ځکه چې زه به قبض کړل شم (یعني د دې عالم څخه به پورته شم. ترمذي

حل اللغات: ① الْفَرَائِضَ: أُرِيدَ بِهَا فَرَائِضُ الْإِسْلَامِ أَوْ فَرَائِضُ الْإِرْثِ: دې نه مراد یا د اسلام فرض احکامات دي یا علم میراث دې. ② مَقْبُوضٌ: أَيْ: سَأُقْبَضُ: زر ده چه زه به قبض کړې شم (یعنی زه هم ستاسو په شان انسان یم دنیا څخه تلونکې یم څه همیشه خوبه ژوندې نه یم، نو تاسو زما د ژوند نه فائده واخلئ).

تسهیلات:

قوله: تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ:

د فرائض په مصداق کښې دوه اقوال:

① د فرائض څخه علم میراث مراد دې. ځکه چې علم الفرائض د میراث نوم دې. او دا منلې شوې خبره ده چې علومو کښې به د ټولو څخه اول پورته کیدلو څیز علم میراث وی.

② د فرائض څخه د قرآن پاك او احادیثو څخه ثابت شوی احکام مراد دی.

قوله: وَالْقُرْآنَ:

یعنی دقرآن پاك د زده کولو اهتمام کوئی ځکه چې زما څخه روسته امت دپاره دهدایت دنجات یوه لارده هغه صرف قرآن پاك دې. اوکه د فرائض څخه احکام فرضیه مراد واخستې شی نو بیا والقرآن په طور د تاکید ذکر شوې دې چې ددې اهمیت واضح شی.

قوله: فَإِنِّي مَقْبُوضٌ:

د اولنی توجیه قرینه: په اوله توجیه یعنی علم میراث مراد اخستلو باندې هم دا قرینه ده چې زه دنیا څخه تلونکې یم، تاسو د علم میراث زیات اهتمام کوئی. او دا خلقو ته هم اوښائی.

[۲۳۵] علم به د خلقو څخه اوچت شي

٢٣٥—(¹) [٣١] ۱ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ ۲: «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَشَخَصَ بِبَصَرِهِ إِلَى السَّمَاءِ ۳ ثُمَّ قَالَ: " هَذَا أَوَانٌ يُخْتَلَسُ فِيهِ الْعِلْمُ مِنَ النَّاسِ، ۴ حَتَّى لَا يَقْدِرُوا مِنْهُ عَلَى شَيْءٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ ابودرداء رضی الله عنه وايي ۲ یوه ورځ مونږ د حضور ﷺ سره ملګري وو چې حضور ﷺ د آسمان طرف ته نظر وکړو ۳ او وي فرمایل دا وخت دي چې علم به د خلقو څخه لاړشي ۴ تردي چې هغوئ به د علم په ذریعه په هیڅ شي قدرت نه لري.

¹) اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی ذهاب العلم (رقم-۲۶۵۳)

حل اللغات: ① تَشَخَّصَ: أَيْ: رَفَعَ: پورته ئې کړو، بره ئې اوکتل. ② أَوَانٌ: أَيْ: وَقْتٌ: وخت، ③ يُخْتَلَسُ: أَيْ: يُخْتَطَفُ وَيُسْلَبُ: اختلاف د تختولو او وچتولو په معنى دې. ④ العِلْمُ: دلته د علم ځنځه مراد د وحی علم دې.

تسهيلات:

قوله: هَذَا أَوَانٌ يُخْتَلَسُ فِيهِ الْعِلْمُ مِنَ النَّاسِ:

د علم په مصداق كښې دوه اقوال: ① د نبى كريم ﷺ عادت مبارك داوو چې د وحی په انتظار کښې به ئې اکثر آسمان طرفته کتل. دې ځل دوحی په دوران کښې نبی کریم ﷺ ته د وحی په ذریعه ددوئ علیہ السلام د وفات خبر ورکړې شو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې اوس وخت راغلو چې وحی بنده شی. یعنی دعلم ځنځه مراد وحی ده.دې سره نبی کریم ﷺ خپل وفات طرفته اشاره اوکړه.

② دعلم ځنځه مراد علم دین دې په دې صورت کښې نبی علیہ السلام دقیامت ته نزدې د علم پورته کیدو پیشنګوئی ورکړه چې علم به د عالمان په وفات کیدو سره ختم شی اوجاهلان خلق به پاتی شی.چې دعلم دین واقفیت به ورسره نه وی.

[٢٣٦] دَمدينې دلوئې عالم پيشنګوئى

٢٣٦-(¹)[٤٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - رِوَايَةً: [٢] "«يُوشِكُ أَنْ يَضْرِبَ النَّاسُ أَكْبَادَ الْإِبِلِ يَطْلُبُونَ الْعِلْمَ، [٣] فَلَا يَجِدُونَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَالِمِ الْمَدِينَةِ»". [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِي جَامِعِهِ قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: إِنَّهُ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، وَمِثْلُهُ عَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، [٥] قَالَ إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى: وَسَمِعْتُ ابْنَ عُيَيْنَةَ أَنَّهُ قَالَ: هُوَ الْعُمَرِيُّ الزَّاهِدُ وَاسْمُهُ عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضی الله عنه ځنځه روايتا منقول دي [٢] هغه زمانه نزدې ده چې خلق به دعلم حاصلولو د پاره د اوښانو ځګرونه وشلوي [٣] ليکن د مدينې د عالم ځنځه لوي عالم به هيڅ چېرته پيدا نکړي (ترمذي) [٤] او په جامع ترمذي کې ابن عيينه رحمه الله ځنځه منقول دي چې د مدينې هغه عالم مالك ابن انس دي او عبد الرزاق هم دا ليکلي دي [٥] او د اسحق ابن موسیٰ بيان دي ما د ابن عيينه ځنځه دا واوريدل چې د مدينې هغه عالم عمري زاهد دي يعنی هغه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خاندان ځنځه دي د هغه نوم عبد العزيز بن عبد الله دي

حل اللغات: ① يُوشِكُ: أَيْ: يَقْرُبُ: نزدې ده، ② يَضْرِبَ: ضرب د وهلو په معنى راځی. خو دلته ترې مراد سفر دې. ③ أَكْبَادَ: د كبد جمع ده، ځيګر ته وائی.

¹) اخرجه الترمذی کتاب العلم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی عالم المدینة (رقم-٢٦٨٠) اخرجه احمد فی المسند:٢/٢٩٩

تسهیلات:

قوله: يُوشِكُ أَنْ يَضْرِبَ النَّاسُ أَكْبَادَ الْإِبِلِ يَطْلُبُونَ الْعِلْمَ:

د اکباد الابل څخه مراد: داوښانو دَ ځیګر وهلوپه لفظ کښې د تیز ا و سریع معنی استعاره ده. ځکه چه کله یو ځناور تیزه منډه وهی نو دده په جګر کښې حرکت پیدا کیږی. لکه چه ځیګر ئی وهلې کیږی. بهر حال ددې جملې څخه لرې سفر مراد دې.

قوله: فَلَا يَجِدُونَ أَحَدًا أَعْلَمَ مِنْ عَالِمِ الْمَدِينَةِ:

دعالم المدینه په مصداق کښې درې اقوال: دحدیث پاك دا پیشن ګوئی د یوې خاصې زمانې د یو مخصوص عالم باره کښې ده. کوم چې به مدینه منوره کښې سکونت اختیاروی.

① ددې څخه مراد خلیفه راشد عمر بن عبدالعزیز دې دا دریم قول دې.

② ددې عالم څخه مراد عمری زاهد دی. د چا نوم چې عبدالله بن العزیز بن عبدالله دې.

③ سفیان بن عیینه رحمه الله او مشهور محدث شیخ عبدالرزاق رحمه الله د حدیث پاك مصداق امام ما لك صاحب ګرځولې دې. داکثروعالمانو هم دا رائې ده. ځکه چې د ټولې دنیا څخه د لرې لرې نه په زرګونو شاګردان مدینې ته په اوښانو راغلی وو. او پخپله امام مالك رحمه الله د مدینې عالم وو. ځکه چې وړوکی اودس ماتی او لوې اودس ما تی څخه سوا بهٔ دوئ د مدینې منورې نه نه وتل. داسې نور څوك کیدې شی!

[۲۳۷] په هر سل کاله کښې مجدد

۲۳۷ – (۱) [۳۳] ①وَعَنْهُ، فِيمَا أَعْلَمُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ ③مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①ابوهریره رضی الله عنه وایي چې د حضور صلی الله علیه وسلم څخه چې ماته څه معلوم دي هغه دا دي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②الله جل جلاله د دې امت د نفع د پاره هر سل کاله (یعنی په هره صدي)کي یو سړي رالیږي ③چې هغه دین تازه کوي. ابوداؤد

حل اللغات: ① يَبْعَثُ: دَلیږلو اوچتولو او پیداکولوپه معنی کښې استعمالیږی. ② رَأْسِ: ددې نه مراد یا ابتداء ده، یا انتهاء ده (کله چه علم او سنت طریقې کمې شی جهالت او بدعت زیات شی). ③ يُجَدِّدُ: أَيْ: يُبَيِّنُ السُّنَّةَ: د دین د نوی کولو نه مراد سنت طریقې واضحه بیانول دی اود بدعت کراهت بیانول دی.

¹) اخرجه ابوداود کتاب الترجل /باب ما یذکر فی قرن المائة (رقم-٤٢٩١)

تسهيلات:

قوله: يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ:

دراس څخه مراد: د رأس اطلاق د صدی په اول هم کیږي اوپه آخر هم کیږي.یعنی الله تعالی به د هرې صدی په اول یا په آخر کښې یو مجدد پیدا کوي.

قوله: مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا:

دمجدد تعريف: مجدد هغه وی چې د علوم دينيه ظاهريه اوباطنيه عالم باعمله وی.د سنت محی اوناصر وی اود بدعت قامع اوختمونکې وی.

دمجدد مركزي توقوع: دَ ټولې دنيادَپاره يومجدد ضروری نه دی بلکه دَ جدا جدا علاقو او ملکونودَپاره په يوه زمانه کښې ډير مجددين کيدې شی. بلکه يوصالح جماعت ته هم مجدد وئيلې کيدې شی. ليکن دَمجدد دَپاره ضروری دی چه دَهغه حرکات اوسکنات اودَ هغه اعمال اوافعال دَ رسول الله ﷺ دَ سنت سلسلې سره تړلې شوې وی اودَ ده په وجه په علمی اوعملی اعتبار سره دين ته غلبه حاصله شی. په يولاس کښې ئی قرآن او په بل کښې حديث وی هرمحرك مجدد نه وی.

دمختلفو زمانو مجددين: دچا په باره کښې په تعين سره نشی وئيلې چې دا د دې صدی مجدد دې البته په غالب ګمان سره وئيلی شی ددې وجې بعضې عالمانو په مختلفو صديانو کښې د مجددينو دا تفصيل ذکر کړې دې.

① داولنی صدی مجدد عمربن عبدالعزيزرحمه الله وو.

② د دويمې صدی مجدد امام شافعی رحمه الله دې.

③ د دريمې صدی مجددين قاضی ابوالعباس ابن شريح شافعی، ابوالحسن اشعری، محمد بن جرير طبری رحمهم الله دی.

④ د څلورمې صدی مجددين ابوبکر بن باقلانی او ابوالطيب صعلوکی رحمهما الله دی.

⑤ دپنځم صدی مجدد امام غزالی رحمه الله دې.

⑥ د شپږمې صدی مجدد امام فخرالدين رازی رحمه الله دې.

⑦ د اوومې صدی مجدد تقي الدين ابن دقيق العيد رحمه الله دې.

⑧ داتمې صدی مجددين زين الدين عراقی،شمس الدين جزری اوسراج الدين بلقينی رحمهم الله وو.

⑨ دنهمې صدی مجددين جلال الدين عبدالرحمن سيوطی، شمس الدين سخاوی رحمهما الله وو.

⑩ د لسم صدی مجددين شهاب الدين رملی او ملا علی قاری رحمهما الله وو.

ددې څخه روسته مجدد شيخ احمد سرهندی رحمه الله وو.اود څلوارلسمې صدی مجدد رشيد احمد ګنګوهی وو.

[٢٣٨] د راتلونكي جماعت نيك خلك

٢٣٨ - ()[٣٤][١]وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعُذْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢]«يَحْمِلُ هَذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُولُهُ، [٣]يَنْفُونَ عَنْهُ تَحْرِيفَ الْغَالِينَ، وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِينَ، وَتَأْوِيلَ الْجَاهِلِينَ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ"

ترجمه: [١]او ابراهيم بن عبد الرحمٰن عذري راوي دي چې حضور ﷺ وفرمايل [٢]هر آينده راتلونكي جماعت څخه به د هغه نيك (يعني ثقه معتمد) خلق دا علم (كتاب وسنت) حاصلوي [٣]او هغه خلق به د دې علم په ذريعه (په آيات او احاديثو كې) ① د حد څخه تير شوو خلقو تحريف ② د باطلو افتراء ګاني ③ او د جاهلانو تاويلات لرې كوي، (بيهقي)

حل اللغات: ① يَحْمِلُ: أَيْ: يَحْفَظُ: اوچتولو ته وائي، ددې نه مراد حاصلول او زده كول دي. ② خَلَفٍ: هُوَالرَّجُلُ الصَّالِحُ الَّذِي يَأْتِي بَعْدَ أَحَدٍ: خلف په لام باندې فتحه، روسته راتلونكى خو خلقوته وائى دلته دَ خوخلقو جماعت مرادې. ③ عُدُولُهُ: أَيْ: ثِقَاتُهُ: نيک او معتمد پرهيزګاره خلق، ④ يَنْفُونَ: د مضارع صيغه ده، أَيْ: نَافِينَ: لرې كوى، ختموى، ⑤ تَحْرِيفَ: لفظ دخپل مفهوم نه اړول (يعنى غلط مطلب ئې بيانول) ⑥ الْغَالِينَ: د غَلَا يَغْلُو نه، دَ غالٍ جمع ده دَحد نه تيريدلو په معنى كښې دې دلته په دين كښې غلوكونكى مبتدعين اواهل بدعت مراد دى. ⑦ انْتِحَالَ: ادِّعَاءُ قَوْلٍ: دَ دروغونسبت ته وائى يعنى دَاهل باطل دَدروغونسبتونه كوم چه هغوى دَعلماؤ او دَ بزرګانو طرف ته كوى اودَ دروغوحوالې وركوى. ⑧ الْمُبْطِلِينَ: باطل پرست خلق، ⑨ تَأْوِيلَ: تاويلونه كول.

د راوي مختصر تعارف: نوم ابراهيم دَ پلار نوم عبدالرحمن بن عوف دې. دَ ده كنيت ابواسحاق زهرى قرشى دې. دَحضرت عمر بن خطاب په زمانه كښې په وړوكوالى كښې راوړلې شو.

وفات: دده وفات ٩٥ھ يا ٩٦ ھ كښې شوې دغه وخت دَهغه عمر ٣٢ كاله وو.

[١]رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِهِ الْمَدْخَلِ مِنْ حَدِيثِ بَقِيَّةَ بْنِ الْوَلِيدِ عَنْ مُعَانِ ابْنِ رِفَاعَةَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْعُذْرِيِّ [٢]وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ جَابِرٍ فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ فِي بَابِ التَّيَمُّمِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالَى.

[١] (دا حديث بيهقي په خپل كتاب مدخل كې بقية بن وليد څخه نقل كړي دي او هغه د معان بن مرفاعه څخه او هغه د ابراهيم بن عبد الرحمٰن عذري څخه نقل كړي دي) [٢] او د حضرت جابر ﷺ روايت چې د هغه ابتداء دا ده فانما شفاء العي السوال به مونږ په باب تيمم كې بيان كو ان شاء الله تعالى.

تسهيلات:

قوله: يَحْمِلُ هَذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُولُهُ:

[1]) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث

د مذکوره جملې ترکیب: د "هذا العلم" لفظ دَ یحمل دَپاره مفعول به دې او "عدوله" دَدې فاعل دې. "من کل خلف" یحمل سره متعلق دې. ملاعلی قاری رحمه الله لیکلی دی چه "من کل خلف" کښې که چرې من زائده شی نو دادَیحمل فاعل اوعدوله به ددې بدل شی.
دعادل تعریف: عدل دَ عادل نه معتدل او افراط اوتفریط نه پاك اوثقه اومعتمد خلق مرادی.

قوله: يَنْفُونَ عَنْهُ تَحْرِيفَ الْغَالِينَ:

دتحریف لغوی معنی: دا په لغت کښې بدلولو ته وائی.

دتحریف اصطلاحی تعریف: د قرآن یا حدیث په نص کښې لفظی یا معنوی بدلون راوستل.

دتحریف درې قسمونه:

① هغه لفظی تحریف چې په هغې سره په معنی کښې تبدیلی راځی.

② هغه لفظی تحریف چې په هغې سره په معنی کښې تبدیلی نه راځی.

③ معنوی تحریف: چې د نص الفاظ په خپل ځائې وی خو په معنی کښې تبدیلی راشی.

دحدیث مطلب: د الغالین څخه مراد هغه مبتدعین دی چې په قرآن اوحدیث کښې د یو نص کومه معنی وی هغه پرېږدی اود خپل مقصود معنی ترې مراد واخلی.اوپه دې طریقه په نصوص شرعیه کښې تحریف اوتبدیلی راولی.

قوله: وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِينَ:

د انتحال معنی: انتحال د چا قول یا شعر خپل ځان ته منسوب کولو ته وائی

دمبطلین په مصداق کښې دوه اقوال:

① په حدیث کښې د انتحال څخه مراد د دروغژنو خلقو دروغ لرې کول دی.

② په حدیث کښې د انتحال څخه دباطل څیز سره تشبیه ورکول مقصود دی.

قوله: وَتَأْوِيلَ الْجَاهِلِينَ:

تاویل الجاهلین څخه مراد: د جاهلو د تاویل څخه مراد د قرآن داسې تفسیر کول دی کوم چې د نو۲رو شرعی نصوصو په رڼا کښې صحیح نه وی.لکه دنبی علیه السلام په حق کښې دعیسی علیه السلام پیشن ګوئی چې ((وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ)) دا په غلام احمد قادیانی باندې حمل کول.دغه شان د نورو باطل پرستو خلقو غلط تاویلونه ټول په دې کښې شامل دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۲۳۹] د علم حاصلولو په وخت کښې د مرګ فضيلت

۲۳۹-(١)[٣٥] ① عَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَنْ جَاءَهُ الْمَوْتُ وَهُوَ يَطْلُبُ الْعِلْمَ لِيُحْيِيَ بِهِ الْإِسْلَامَ، ③ فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّينَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ»". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① حسن بصري رحمه الله څخه په طريق مرسل روايت دي چې رسول ﷺ وفرمايل ② د کوم سړي مرګ چې په داسې حال کې راشي چې هغه علم حاصلوي او هغه علم په دې غرض حاصلوي چې د هغه په ذريعه اسلام رائج کړي ③ نو په جنت کې به د انبياؤ او د هغه په مينځ کې يوازې د يوې درجې فرق وي [او هغه فرق مرتبه نبوت ده]. دارمي

حل اللغات: ① لِيُحْيِيَ: دپاره ددې چه اسلام پرې ژوندې کړي (د اسلام ژوندی کولو نه مراد ددې د قواعدو او احکامو تبليغ او خورول دی).

د راوي مختصر تعارف: نوم حسن کنيت ابوسعيد دَ پلار نوم يسار دَ هغه مور پلار غلامان وو. ۲۱ھ کښې چه کله دَ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دَ خلافت دوه کاله باقي پاتې وو نو پيدا شو. حضرت حسن بصری رحمه الله ته دَ ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها د رضاعت شرف هم حاصل دې. دَ دې داسې صورت وو چه دَ هغه مور به هروخت دَ کور په کارروزګارکښې اخته وه نوچه کله به حضرت حسن بصری رحمه الله ژړل حضرت ام سلمه رضي الله عنها به دَ چپ کولودَ پاره خپله سينه مبارکه دَ هغه په خُله کښې ورکوله.حسن بصری دَحضرت ام سلمه رضي الله عنها په غيږ کښې لوئ شوې دَ دې نه علاوه دَ نور ازواج مطهرات کورونوته به هم دَ هغوی تګ راتګ کيدلو. (۳) دَ دې دا برکت شو چه حسن بصری په علمي او روحانی هر اعتبارسره دَ کمال نه ډك وو لکه چه ابن سعد رحمه الله فرمائي: **كان الحسن جامعاً عالمًا عاليًا رفيعًا فقيهًا مامونًا عابدًا ناسكًا كثير العلم فصيحًا جميلاً الخ.** حضرت حسن بصری رحمه الله جامع الصفات وو، اوچته مرتبه، اوچت عزت فقيه وو مامون وو عابد زاهد وو ډير علم والا وو فصيح اوبليغ او ښکلي اوښائسته وو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: **علامةٌ من بحو العلم فقيه النفس كبير الشأن ديم النظير صليح التذكير بليغ الموعظة رأس في انواع.** (۲) علامه نووی رحمه الله فرمائی دَ هغوی دَ جلالت په شان دَ ټولو اتفاق دې. (۲)

---

(۱) اخرجه الدارمي فى السنن رقم الحديث ۳۵۴

(۲) تذكره الحفاظ ۶۲/۱،(۲) تهذيب الاسماء ۱۶۱/۱) (۳)طبقات ابن سعد ۱۲۷/۷) (٤) طبقات ابن سعد)

(۵) ابن خلکان ۱۲۸/۱) (۶) الترمذی فى الفتن باب فى الأمر بالمعروف والنهى عن المنكر)

(۷) الترمذی فى الفتن باب ماجاء فى أفضل الجهاد كلمة عدل عند سلطان جائر)

(۸) الترمذی فى الفتن باب ماجاء فى أفضل الجهاد كلمة عدل عند سلطان جائر)

وفات: په آخری وخت کښې ئی لیکونکې راوغوښتلو اووئی لیکل چه حسن دَ دې ګواهی ورکوی چه لااله الا الله محمد الرسول الله.چاچه دَ مرګ په وخت کښې په صدق زړه سره دَ دې ګواهی ورکړه هغه به جنت ته داخلیږی.(۳) ۱۱۲ ھ کښې دَ جمعې په شپه وفات شو.محدث ایوب اوحمیدی الطویل غسل ورکړو.(۴) بله ورځ دَ جمعې په ورځ جنازه اوچته شوه.دومره مخلوق راغلو چه ښار ټول خالی شو.په جامع مسجد بصره کښې دَ مازیګر مونځ کونکې څوك نه وو. (۵)

تسهیلات:

قوله:عَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا:

د حسن مصداق:دَحسن نه مراد حسن بصری رحمه الله دې. دَتابعینو په طبقه کښې چه کله مطلق دَحسن نوم راشی نودَهغې څخه مراد حسن بصری رحمه الله وی. اودَ صحابه کرامو په طبقه کښې چه کله مطلق دَعبدالله نوم راشی نودې څخه مراد حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وی.

قوله:فَبَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّينَ دَرَجَةٌ وَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ:

د عالمانواونبیانوپه مینځ کښې د یوې درجې فرق:په جنت کښې سل درجې دی کومې چه به انبیاءکرامو علیهم السلام ته ملاویږی. اوکوم خلق چه دَ انبیاء کرامو نائبین علماء دی هغوی ته به یوکم سل درجې ملاویږی. په دې وجه دَهغوی اودَ انبیاء کرامو په مینځ کښې دَ یوې درجې فرق خودلې شوې دې اودادرجه دَ نبوت ده. چه دَعلم دین دَ اشاعت اواحیاء دَپاره چه کوم عالم اوطالب محنت کوی او مړشی نودَ نبوت نه علاوه به ټولې درجې هغه ته ملاویږی.

[۲۵۰] د عالم فضیلت په عابد باندې

۲۵۰ – (۱)[۳٦] [۱]وَعَنْهُ مُرْسَلًا، قَالَ[۲]: «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَجُلَيْنِ كَانَا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ، [۳]أَحَدُهُمَا كَانَ عَالِمًا يُصَلِّي الْمَكْتُوبَةَ، ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ، [۴]وَالْآخَرُ يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ، [۵]أَيُّهُمَا أَفْضَلُ؟ [٦]قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَضْلُ هَذَا الْعَالِمِ الَّذِي يُصَلِّي الْمَكْتُوبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ عَلَى الْعَابِدِ الَّذِي يَصُومُ النَّهَارَ وَيَقُومُ اللَّيْلَ [۷]كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱]حسن بصري رحمه الله څخه بطریق مرسل روایت دي [۲]حضور صلی الله علیه وسلم څخه د بني اسرائیلو د دوو سړیو په باره کې سوال وشو [۳]په هغوئ کې یو خو عالم وو او چې فرض مونځ به یې کوي بیا به ناست وو خلقو ته به یې (د دین) علم ښووي [۴]او دویم سړي هغه وو چې د ورځې به روژه وو او ټوله شپه به یې عبادت کولو (د حضور صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه

(۱) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۳۴۰

وشوه؟ ٥چې په دي دواړو کې کوم يو بهتر دي؟ ٦حضور ﷺ ورته وفرمايل هغه عالم چې فرض مونځ يي کوي او بيا يي خلقو ته علم ښوويي په هغه عابد چې د ورځي يي روژه وه او د شپي يي عبادت کوي داسې فضيلت حاصل دي ٧څنګه چې ماته په تاسو کې په يو ادنې سړي باندې فضيلت حاصل دي. دارمي

حل اللغات: ① الْخَيْرَ: أَيِ: الْعِلْمَ وَالْعِبَادَةَ: دخير نه مراد علم دين، عبادت او د زهد او تقوخی وغيره اخلاقو تعليم ورکول دی.② الْعَابِدِ: عبادت ګذار، ③ أَدْنَاكُمْ: چه ادنا وی يعنی کم درجې والا وی په تاسو کښې.

تسهيلات:

قوله: كَفَضْلِي عَلَى أَدْنَاكُمْ:

دعالم څخه مراد: دلته دَ عالم نه هغه سړې مراددې چه فرائض او واجبات اداکولونه پس باقی وختونه خلقوته دَ دين په خودلوکښې لګوی.

د عالم د فضيلت وجه: دَعالم فضيلت خو هم په دې وجه په عابد باندې دې څکه چه عابددَ عبادت په ذريعه صرف خپله نفع غواړی خوعالم علم نورو ته ښائی اودَ نوروګټه غواړی.

[٢٥١] د فقيه فی الدين دوه صفتونه

٢٥١-()[٣٧] ١وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢«نِعْمَ الرَّجُلُ الْفَقِيهُ فِي الدِّينِ; ٣إِنِ احْتِيجَ إِلَيْهِ نَفَعَ، ٤وَإِنِ اسْتُغْنِيَ عَنْهُ أَغْنَى نَفْسَهُ» "رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: ١علي كرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢بهتر سړي هغه دي چې د دين پوهه لري ٣که هغه ته څه حاجت راوړل شو نو هغه نفع ورسوله ٤او که د هغه څخه يي بي پروايي وکړه نو هغه هم خپل نفس بي پروا وساتي. رزين

حل اللغات: ① نِعْمَ: بهتر او کامل، ② احْتِيجَ: أَيْ: إِنِ احْتَاجَ النَّاسُ: خلقو ورته څه دينی حاجت راوړی، ③ اسْتُغْنِيَ: چه خلق ترې بې پرواهی اوکړی.

تسهيلات:

قوله: نِعْمَ الرَّجُلُ الْفَقِيهُ فِي الدِّينِ ;إِنِ احْتِيجَ إِلَيْهِ نَفَعَ:

طلبګارو ته د علم ورکولو فضيلت:

په حديث کښې دهغه عالم تعريف شوې دې چې د علم توهين نه کوی بلکه که څوک ترې په يوه دينی جذبه تپوس کوی نودې ورته ښه په خوشحالئ جواب ورکوی.اوهغه ته نفع او فائده ور رسوی.او که دخلقو د طلب باوجود دې خپل علم پټ ساتی نو د داسې کس باره کښې په احاديثو کښې وعيدات راغلی دی.الله تعالی دې ترې مونږ محفوظ کړی.

¹) اخرجه رزين

قوله: وَإِنِ اسْتُغْنِيَ عَنْهُ أَغْنَى نَفْسَهُ:

د مستغنی عالم فضیلت: که څوک دده څخه دعلم طلب نه کوی اود ده دعلم ورسره څخه قدر نه وی نو په دې صورت کښې عالم لره پکار دی چې د خپل علم پخپله د توهین اوسپکاوی څخه حفاظت وکړی.

علم لره د توهین څخه ساتلو کښې د امام مالک کردار: امام مالک رحمه الله ته هارون الرشید وئیلی وو.چې تاسو زما دربار ته تشریف راوړئ، چې زما بچو ته د قرآن او حدیث درس ورکوئ. هغوی ورته اوفرمائیل «العلم یزارو ولا یزور» یعنی خلق په علم پسې ځي علم چا پسې نه ورځی. هارون الرشید ورسره خبره اومنله اوخپل بچی ئې د هغوی حلق درس ته لیګل.

علم لره د توهین څخه ساتلو کښې د امام بخاری کردار: دغه شان امام بخاری ته چې کله د بخاری حاکم دا اووئیل چې ته زما دربار ته راځه چې زما بچو ته حدیث ښائې نوهغوی ترې انکار اوکړو چې دا د علم اود نبی ﷺ د احادیثو توهین دې.ددې په سزا کښې د بخارا حاکم دې د بخاری څخه جلا وطن کړل او هم د دې جلاوطنې په حالت کښې د خرتنګ په مقام کښې وفات شو خو د حاکم مطالبه ئې اونه منله او علم ئې دسپکاوی څخه بچ کړلو.

[۲۵۲] د وعظ او نصیحت د مؤثر جوړولو اصول

۲۵۲ـ(۱)[۳۸] [۱] وَعَنْ عِكْرِمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ قَالَ[۲]: «حَدِّثِ النَّاسَ كُلَّ جُمُعَةٍ مَرَّةً، فَإِنْ أَبَيْتَ فَمَرَّتَيْنِ، فَإِنْ أَكْثَرْتَ فَثَلَاثَ مَرَّاتٍ، [۳] وَلَا تُمِلَّ النَّاسَ هَذَا الْقُرْآنَ ; [۴] وَلَا أُلْفِيَنَّكَ تَأْتِي الْقَوْمَ وَهُمْ فِي حَدِيثٍ مِنْ حَدِيثِهِمْ [۵] فَتَقُصُّ عَلَيْهِمْ فَتَقْطَعُ عَلَيْهِمْ حَدِيثَهُمْ فَتُمِلُّهُمْ، [۶] وَلَكِنْ أَنْصِتْ، فَإِذَا أَمَرُوكَ فَحَدِّثْهُمْ وَهُمْ يَشْتَهُونَهُ، [۷] وَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ، [۸] فَإِنِّي عَهِدْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَأَصْحَابَهُ لَا يَفْعَلُونَ ذَلِكَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] عکرمه رضی الله عنه څخه روایت دي چې ابن عباس رضی الله عنه عکرمه رحمه الله ته وفرمایل [۲] چې ته هره جمعه یو ځل د خلقو په مخکې حدیث بیانوه که دا قبول نه کړي (یعني په هفته کې یو ځل وعظ او نصیحت کافي نه ګڼي) نو په هفته کې دوه ځله او که ډیر کوي نو په هفته کې ته دري ځله وعظ او نصیحت کولي شی [۳] او ته خلق د دې قرآن څخه مه تنګوه (یعني په هفته کښې د دریو ځلو څخه زیات وعظ او نصیحت کولو سره خلق مه تنګوه) [۴] او زه دي تا داسې حالت کې پیدا نه کم چې ته یو قوم ته ورسي او هغه په خپلو خبرو کې مشغول وي [۵] او ته د هغوئ خبري قطع کولو سره د هغوئ په مخکې وعظ او نصیحت شروع کې او دغسې در څخه هغه ستړي شی [۶] په داسې موقع تاته پکار دي چې

۱) اخرجه البخاری فی صحیحه رقم الحدیث ۶۳۳۷ واحمد فی المسند ۶/ ۲۱۷

ته چپ اوسي البته که هغوئ درته د وعظ ونصیحت فرمائش وکړي نو ترڅو پورې چې هغه خواهش مند وي ته د هغوئ په مخکې حدیث بیانوه ⑦ او ته په دعا کې مقفي عبارت ته نظر وکړه او د هغه څخه ځان ساته ⑧ چنانچې ما معلومه کړي ده چې حضور ﷺ او صحابهٔ کرام ؓ به داسې نه کول (یعني په دعاکې به یې مقفي عبارت نه استعمالوي) بخاري

حل اللغات: ① أَبَيْتَ: که ته انکار اوکړې یعنی ته دا قبول نه کړې او کافی اونه ګڼړې، ② لَاتُمِلَّ: مه سترې کوه یعنی مه تنګوه اومه ئې ستومانه کوه. ③ لَاأُلْفِيَنَّكَ: أَيْ: لَاأُجِدَنَّكَ: زه دې اونه وینم (یعنی ته په داسې حالت کښې مه اخته کیږه چې څه تا په داسې حالت اوومومم). ④ فَتَقُصُّ: یعنی د وعظ او نصیحت قصې ورته شروع کړې، ⑤ فَتَقْطَعُ: یعنی ته دهغوی خبرې قطع کړې او خپل وعظ ورته شروع کړې، ⑥ السَّجْعَ: په ترنم او وزن کښې دعا کول، مقفی الفاظ وئیل. ⑦ عَهِدْتُ: أَيْ: عَرَفْتُهُ: ما معلومه ګړې ده.

تسهیلات: قوله: حَدِّثِ النَّاسَ كُلَّ جُمُعَةٍ مَرَّةً، فَإِنْ أَبَيْتَ فَمَرَّتَيْنِ، فَإِنْ أَكْثَرْتَ فَثَلَاثَ مَرَّاتٍ:

عکرمه ته د ابن عباس تعلیم: دې حدیث پاك کښې حضرت ابن عباس ؓ خپل شاګرد ته رومبی خبره دا اوفرمائیله چې دجمعې په پوره هفته کښې عوامو ته یو ځل یا زیات نه زیات دري ځل وعظ او نصیحت کوه.

قوله: وَلَاتُمِلَّ النَّاسَ هَذَاالْقُرْآنَ:

په وعظ کښې میانه روی اختیارول: په وعظ او نصیحت کښې دَ اعتدال اودَ موقع او ماحول لحاظ ساتل پکار دی. ځکه چه دَ اثر په اعتبار سره دا دَ دعوت او تبلیغ یو بنیادی رکن دې. او په دې باندې د تبلیغ پورا دارومدار دې. مثلاً

① یو کس په سفر باندې روانیږی د هغې ضروری سامان ځان دپاره تیاروی اوڅوک ورته وعظ نصیحت شروع کړی.

② یو کس دامتحان دپاره تیارې کوی او څوک ورته دقرآن پاک یاحدیث تعلیم شروع کړی.

③ یو کس ځان دفتر ته رسوی او څوک ورته په لاره کښې دعوت شروع کړی.

④ یو کس سحر وختی دوکان ته ځان رسوی اوڅوک ورته وعظ نصیحت شروع کړی.

قوله: فَتَقُصُّ عَلَيْهِمْ فَتَقْطَعُ عَلَيْهِمْ حَدِيثَهُمْ فَتُمِلُّهُمْ:

په وعظ باندې د چا د ستومانه کولوممانعت: دریمه خبره ئې دا اوفرمائیله چې ته داسې بالکل مه کوه چې ته یو قوم ته ورشې او هغوئ خپلو خبرو کښې اخته وی او ته ورته زر وعظ او نصیحت شروع کړې اودهغوئ خبرې ملتوی کړې بلکه ته خاموشی سره کینه او دهغوئ خبرې آوره. که هغوئ تاته د وعظ او نصیحت حکم درکړی نو ته دهغوئ د خوښې مطابق څه لږې شان خبرې اوکړه.

قوله: وَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ:

د وزنداري دعا دوه صورتونه: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما خپل شاګرد عکرمه ته فرمائی چې کله ته دعا غواړې نو دَ سجع او قافيې نه ځان بچ ساته. د سجع دوه صورتونه دی.

① يو په تكلف سره په سجع سره دعا كول دی. دا ځكه ممنوع ده چې په دې كښې مسجع الفاظو جوړلو طرف ته توجه وی الله تعالى طرف ته توجه نه وی او په دعا كښې خو لازمی څيز دا دی چې سړې په زړه سره الله تعالى ته متوجه وی. ځكه چې الله تعالى دغافل زړه دعا نه قبلوی.

② بلا تكلفه كه په دعا كښې مسجع الفاظ راځي نو په دې كښې څه قباحت نشته ځكه چې په احاديثو كښې ډيرې دعاګانې داسې شته چې د هغې الفاظ مسجع دی.

[۲۵۳] طالب علم ته دوه ثوابونه ملاويدل

۲۵۳ ـ (١)[٢٤٩] ١وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢«مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ فَأَدْرَكَهُ كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنَ الْأَجْرِ، ٣فَإِنْ لَمْ يُدْرِكْهُ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنَ الْأَجْرِ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ واثله بن اسقع رضی الله عنه څخه روايت دي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمايل ٢ كوم سړي چې د علم طالب وي او هغه ته علم حاصل هم شو نو هغه ته به دوه چنده ثواب حاصليږي ٣ او كه علم ورته حاصل نشي نو يوه حصه ثواب به وركول كيږي. دارمي

حل اللغات: ① فَأَدْرَكَهُ: أَيْ: حَصَّلَهُ: بيائې مومی يعنى حاصل ئې كړی، ② كِفْلَانِ: أي نَصِيبَانِ: دوه حصې، دوه ثوابونه.

تسهيلات:

قوله: مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ فَأَدْرَكَهُ كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنَ الْأَجْرِ:

د طلب علم دوه صورتونه: ① په يوصورت كښې طالب علم ته دوه ثوابونه ملاويږی. يو دَ دَمحنت اومشقت او دويم په حصول علم باندې ملاويږی. ځكه چه په حصول علم سره به دَ اشاعت علم لار كولاويږی او په علم باندې به دَعمل كولوهم موقع ملاويږی. لهذا غبرګ ثواب به ملاويږی.

② اوكه د محنت اومشقت باوجود ورته علم حاصل نه شو نويوثواب به ورته ضرور ملاويږی. اوهغه دده د محبت او مشقت ثواب دې.

[1]) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ٣٣٥

[٢٥٣] د مرګ څخه روسته انسان ته رسيدونکی نيک اعمال

٢٥٣-(١)[٥٠] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٢] "«إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ: عِلْمًا عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ، وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ، أَوْ مُصْحَفًا وَرَّثَهُ، أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ، أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيلِ بَنَاهُ، أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ، أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِي صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ، [٣] تَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)

ترجمه: [١] ابو هريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول اکرم ﷺ وفرمايل [٢] مؤمن ته د هغه د عمل يا د کومو نيکيو چې د مرګ څخه وروسته ثواب رسيږي په هغه کې ① يو خو علم دي چې هغه زده کړئ او خپور يي کې ② دويم نيک اولاد دي چې وروسته يي پريښودلي ③ دريم قرآن دي چې د وارثانو د پاره يي پريښي وي ④ څلورم مسجد دي چې په خپل ژوند کې يي جوړ کړي وي ⑤ پنځم مسافرخانه ده ⑥ شپږم نهر دي چې جاري کړي وي ⑦ اووم هغه خيرات دي چې هغه په خپلي تندرستي او په ژوند کې د خپل مال څخه ايستلي وي [٣] او د دې ټولو څيزونو ثواب د هغه د مرګ څخه وروسته هغه ته رسي. ابن ماجه بيهقي

حل اللغات: ① يَلْحَقُ :ورته رسيږی، ملاويږی، ② نَشَرَهُ: خور ئي کړی (دا خوروول عام دی که په تعليم اوتعلم سره وی، که په تصنيف تاليف سره وی اوکه په کتابونو وقف کولو سره وی). ③ مُصْحَفًا : قرآن مجيد ، ④ وَرَّثَهُ: أَيْ: تَرَكَهُ لِلْوَرَثَةِ: چه په ميراث کښې ئې پريخودلو. ⑤ أَجْرَاهُ: أَيْ: جَعَلَهُ جَارِيًا: نهر ئې جاری کړو (چه ټول خلق ترې فائده واخلی).

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ:

مړی پسې د ايصال ثواب څو صورتونه: په دې حديث کښې دهغه اعمالو ذکر دې د کومو ثواب چې يو انسان پسې دهغه د مرګ څخه روسته هم رسيږی او هغه ته ملاويږی.

① علم چې هغه زده کړی اوخورئې کړی.

② نيک اولاد چې وروسته يي پريښودې وی.

③ قرآن چې د وارثانو د پاره يي پريښودې وی هغوی په کښې تلاوت کوی.

④ جمات چې په خپل ژوند کښې ئې جوړ کړی وی.

⑤ مسافرخانه ده چې مسافرپه کښې شپه کوی.

⑥ نهر چې جاری کړې ئي وی اوخلق ترې فائده اخلی.

١) اخرجه ابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم /باب ثواب معلم الناس الخير(رقم-٢٤٢)

⑥ هغه صدقه چې په خپل صحت او په ژوند کښې ئې د خپل مال څخه صدقه کړې وی.
اشکال: په یوبل حدیث کښې خو د درې اعمالو ذکر دې چې سړی ته د هغه د مرګ څخه روسته هم دهغې ثواب رسیږی اودلته په دې حدیث کښې د دریوڅخه زیات اعمال بیان شوی دی.دا تعارض دې.
دااشکال درې جوابونه: ① په دې کښې تعارض نشته ځکه چې عدد اقل دعدد اکثرنفی نه کوی.
② په هغه حدیث کښې د خاص څیزونو بیان وو.اودلته په دې حدیث کښې عمومی بیان دې.
③ په دې حدیث کښې د علم او ولد صالح څخه علاوه باقی ټول اعمال په یو کښې شامل دی. یعنی باقی ټول په صدقه جاریه کښې شامل دی.

[۲۵۵] طالب علم ته د جنت لار آسانیدل

۲۵۵—( )[۵۱] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] «إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ أَوْحَى إِلَيَّ: أَنَّهُ مَنْ سَلَكَ مَسْلَكًا فِي طَلَبِ الْعِلْمِ، [۳] سَهَّلْتُ لَهُ طَرِيقَ الْجَنَّةِ [۴] وَمَنْ سَلَبْتُ كَرِيمَتَيْهِ، أَثَبْتُهُ عَلَيْهِمَا الْجَنَّةَ، [۵] وَفَضْلٌ فِي عِلْمٍ خَيْرٌ مِنْ فَضْلٍ فِي عِبَادَةٍ، [۶] وَمِلَاكُ الدِّينِ الْوَرَعُ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ"

ترجمه: [۱] عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي ما د رسول اکرم ﷺ څخه اوريدلي دي [۲] چې الله جل جلاله زما طرف ته دا وحي خفي رالیږلي ده چې څوک د طلب علم د پاره لار اختيار کړي [۳] نو زه به په هغه د جنت لار آسانه کړم [۴] او د کوم سړي څخه چې ما دوه سترګي اخستي وي (يعني نابينا شوې وي) نو د دې دنياوي نعمت څخه د محرومي او په دې د صبر او شکر په بناء به زه د دې بدله هغه ته جنت ورکړم [۵] او په علم کې زيادت په عبادت کې د زديات څخه ښه دي [۶] او د دين جړ (بيخ) پرهيز ګاري ده. بيهقي

حل اللغات: ① سَلَكَ: أَيْ: دَخَلَ أَوْذَهَبَ: لاړ شي، روان شي، ② مَسْلَكًا: أَيْ: طَرِيقًا: لار (يا څه سبب دعلم د زده کړې دپاره اختيار کړی)، ③ سَهَّلْتُ: أَيْ: يَسَّرْتُ: زه ورته آسانوم. ④ سَلَبْتُ: أَيْ: أَخَذْتُ: اخستې مې وی، ⑤ كَرِيمَتَيْهِ: أَيْ: عَيْنَيْهِ: سترګوته وائی (دلته ترې مراد نظر دې). ⑥ أَثَبْتُهُ: أَيْ: جَازَيْتُهُ: ثواب او بدله به ورکړم. ⑦ مِلَاكُ: أَيْ: أَصْلُهُ وَصَلَاحُهُ: بنیاد او جرړه، ⑧ الْوَرَعُ: أَي التَّقْوَي عَنِ الْمُحَرَّمَاتِ: د حرام او شبهاتو نه ځان ساتل.

تسهیلات:

قوله: وَمَنْ سَلَبْتُ كَرِيمَتَيْهِ:

دکريمتيه څخه مراد: په زور دَاخستلو په معنی کښې دې. کريمتيه دواړه سترګوته وائی مراد ترې نه دَ سترګو رڼړا تلل دی ځکه چه دَ زيات کسب دَ وجې نه دَ نور پټې اوچيږی.

۱) اخرجه البيهقي فى شعب الايمان رقم الحديث ۵۷۵۱

قوله: وَمِلَاكُ الدِّينِ الْوَرَعُ:

د ورع فضیلت: ورع په تقوی او پرهیزګاری ته وائی مطلب دا چې څوک د حرامو او مشتبهاتو څخه ځان ساتی نو اصل تقوی اوپرهیزګاری هم دا ده ددې په مقابله کښې که یو کس ډیر عبادت کوی خو ورسره ګناهونه هم کوی.نودې د هغه چا پشان نشی کیدې څوک چې صرف فرائض ادا کوی خو ځان د هرقسم ګناه څخه بچ ساتی.

[۲۵۶] لږ ساعت د علم درس د ټولې شپې د عبادت څخه بهتر دې

۲۵۶ —(¹)[۵۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «تَدَارُسُ الْعِلْمِ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ خَيْرٌ مِنْ إِحْيَائِهَا». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې رسول اکرم ﷺ وفرمایل [۲] د شپې لږ ساعت د علم درس ورکول د ټولې شپې رونولو څخه ښه دي. دارمي

حل اللغات: ① تَدَارُسُ: درس تدریس کول (دعلم کتابت او مطالعه هم په دې کښې شامل ده). ② إِحْيَائِهَا: أَيْ: مِنْ إِحْيَاءِ اللَّيْلِ بِالْعِبَادَةِ: یعنی ټوله شپه په عبادت کښې تیرولو ته احیاء اللیل وائی.

تسهیلات:

قوله: تَدَارُسُ الْعِلْمِ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ خَيْرٌ مِنْ إِحْيَائِهَا:

د لږ علمی درس د ټولې شپې په عبادت باندې فضیلت: یعنی یو ساعت اودلږ وخت دپاره دَعلمی درس اوتدریس مشغله دَټولې شپې دَ عبادت نه بهتردی ځکه چه دَعبادت تعلق انسان ذات سره دې اوعلمی مشغله درس اوتدریس تحریر اوتصنیف دَامت اسلامی عمومی خدمت دې. بل عابد او دَ هغه عبادت یووختی اوعارضی عمل دې اوعلمی مشغله دائمی اومتعدی اوپوخ عمل دې. په دې وجه داغوره دې.

[۲۵۷] د علمی مجلس د عبادت په مجلس فضیلت

۲۵۷ —(²)[۵۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَرَّ بِمَجْلِسَيْنِ فِي مَسْجِدِهِ [۳] فَقَالَ: كِلَاهُمَا عَلَى خَيْرٍ وَأَحَدُهُمَا أَفْضَلُ مِنْ صَاحِبِهِ [۴]: أَمَّا هَؤُلَاءِ فَيَدْعُونَ اللَّهَ وَيَرْغَبُونَ إِلَيْهِ، فَإِنْ شَاءَ أَعْطَاهُمْ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُمْ). [۵] وَأَمَّا هَؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُونَ الْفِقْهَ أَوِ الْعِلْمَ وَيُعَلِّمُونَ الْجَاهِلَ، فَهُمْ أَفْضَلُ، [۶] وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا". [۷] ثُمَّ جَلَسَ فِيهِمْ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمایي [۲] یو ځل حضور ﷺ په دوو مجلسونو تیر شو چې په مسجد نبوي (ﷺ) کې منعقد وو. [۳] حضور ﷺ وفرمایل دواړه په خیر دي لیکن په دوي کې یو په نیکئ کې د دویم څخه ښه دي [۴] یو جماعت په عبادت کې مصروف دي

¹) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ١٤
²) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ٣٤٩

الله ﷻ يادوي او هغه ته د خپل رغبت اظهار كوي (يعني د مقصد د حاصلولو د پاره د الله ﷻ څخه) اميد واره دي (اود مقصد حصول د الله په خوښي باندې موقوف دي) كه الله ﷻ وغواړي نو وربه كړي او كه ونه غواړي نو وربه نه كړي [۵] او بل جماعت فقه يا علم حاصلوي او جاهلانو ته علم ښايي نو دا خلق ښه دي [٦] او زه هم معلم جوړولو سره راليږل شوې يم [۷] بيا حضور ﷺ خپله هم په هغه علمي مجلس كې كيناستل. دارمي

حل اللغات: ① يَرْغَبُونَ: مينه او شوق لري (دهغه څه چه د الله تعالى سره دي يعنى ثواب). ② بُعِثْتُ: راليږلې شوې يم، ③ مُعَلِّمًا: ښودونكې د علم، استاذ.

تسهيلات:

قوله: وَأَمَّا هَؤُلَاءِ فَيَتَعَلَّمُونَ الْفِقْهَ أَوِ الْعِلْمَ وَيُعَلِّمُونَ الْجَاهِلَ، فَهُمْ أَفْضَلُ،

دعلمى مجلس د فضيلت وجه: دَعلم دَمجلس فائده ګټه وركونكې او متعدى ده په دې وجه دا افضل دې. دَ مجلسِ عبادت اودَعابدينو دَ فضيلت نفى مقصودنه ده. ځكه چې دواړه مجلسونه په خيراونيكۍ باندې قائم وو.

قوله: وَإِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا:

دمعلم نبى عليه السلام سره نسبت: په دې حديث كښې د مدرسينو او معلمينو دپاره يو ډير لوئې اعزاز دې. ځكه چې څوک د تعلم فريضه ادا كوى نود هغه د نبى عليه السلام سره يوه نسبت پيدا شو. اود محبوب سره معمولى نسبت هم د عاشقانو په نيزډير لوئې سعادت دې.

قوله: ثُمَّ جَلَسَ فِيهِمْ:

د نبى عليه السلام دعلم په مجلس كښې كيناستل: اګرچې د ذكر او علم دواړه مجلسونه د خير څخه خالى نه وو. خونبى عليه السلام چې د علم مجلس كښې كيناستلو نو په دې كيناستو سره هغوى خپل امت ته عملى ترغيب وركوى چې تاسو ذكر هم كوئ خود تعليم اوتعلم څخه هم مه غافله كيږئ.

[۲۵۸] د څلويښت حديثو نو يادولو ثواب

۲۵۸ ـ (۱) [۵۴] [۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ـ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ـ قَالَ [۲]: «سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: مَا حَدُّ الْعِلْمِ الَّذِي إِذَا بَلَغَهُ الرَّجُلُ كَانَ فَقِيهًا؟ [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ـ: "مَنْ حَفِظَ عَلَى أُمَّتِي أَرْبَعِينَ حَدِيثًا فِي أَمْرِ دِينِهَا، بَعَثَهُ اللَّهُ فَقِيهًا، وَكُنْتُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَافِعًا وَشَهِيدًا»

ترجمه: [۱] ابودرداء رضي الله عنه راوي دي [۲] چې رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې د هغه علم مقدار څه دي چې كله انسان هغومره علم حاصل كړي نو فقيه (عالم) جوړ شي او په آخرت كې هغه د علماؤ په زمره كې شميرل كيږي؟، [۳] حضور ﷺ وفرمايل كوم سړي چې

[۱]) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۱۷۲۶

زما امت ته د فایدي رسولو د پاره د امرِ دین څلویښت حدیثونه یاد کړي نو الله ﷻ به په قیامت کې هغه فقیه (دیني عالم) پورته کړي او د قیامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کونکي او د هغه په اطاعت گواه یم.

حل اللغات: ① فَقِيهًا: يَعْنِي عَالِمًا: د فقیه نه مراد د علم دین عالم دی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ حَفِظَ عَلَى أُمَّتِي:

امت ته د څلویښتو احادیثو زده کولو ترغیب: په دې حدیث کښې نبی ﷺ امت ته د احادیثو رسولو ترغیب ورکوی. که زیات نه وی کم ازکم څلویښت احادیث امت ته رسول پکار دی چې د دې فضیلت په حاملینو کښې شامل شی.

په امت د یادولو مختلفې طریقې: په لاندینی طریقو کښې چې په کومه طریقه هم دا زده کړه حاصله شی نو د دې فضیلت مستحق به وی.

① د درس اوتدریس په ذریعه ئې امت ته اورسوی.
② دتالیف اوتصنیف په ذریعه ئې امت ته اورسوی.
③ دعمل په ذریعه ئې امت ته اورسوی.
④ د انټرنټ په ذریعه ئې امت ته اورسوی.
⑤ د سی ډی په ذریعه ئې امت ته اورسوی.
⑥ د موبائل په ذریعه ئې امت ته اورسوی.
⑦ د اخبار په ذریعه ئې امت ته اورسوی.

قوله: فِي أَمْرِ دِينِهَا:

د دین مصداق: هسې خو احادیث په واقعاتو باندې هم شامل دی خودلته ترې د احکامو احادیث مراد کیدې شی.

قوله: بَعَثَهُ اللَّهُ فَقِيهًا،

د فقهاء په صفت کښې شاملیدل: ډیر لوئې فضیلت دې چې څوک صرف څلویښت احادیث امت ته اورسوی نو د قیامت په ورځ به دفقهاء په صف کښې پاسیږی او هغوی سره به ئې حشر کیږی. نو چې حشرئې د فقهاء سره وی خو جنت کښې به هم دهغوی سره وی.

قوله: وَكُنْتُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَافِعًا وَشَهِيدًا:

د قیامت په ورځ دشفاعت اوشهادت زیرې: صرف دڅلویښتو احادیثو په زده کولو به نبی ﷺ دهغه دپاره شفاعت هم کوی اودهغوی په ایمان او صلاح باندې به گواهی

هم ورکوی. څه لوئې سعادت دې چې شفاعت هم او شهادت هم.

په اربعينات باندې ليکونکی مصنفين: د مذکوره سعادت حاصلولو دپاره د امت بعضې عالمانو صرف په څلويښتو احاديثو باندې رسالې ليکلی دی. په هغوی کښې د بعضو عالمانو نومونه دا دی.

① امام دارقنطی، ② امام حاکم (صاحب مستدرک) ③ امام ابونعيم.
④ ابوعبدالرحمن سلمی ⑤ امام ابوبکربيهقی ⑥ امام نووی.

[۲۵۹] تر ټولو لوي سخي

۲۵۹—(۱)[۵۵] [۱] وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " [۲] «هَلْ تَدْرُونَ مَنْ أَجْوَدُ جُودًا؟ " قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۳] قَالَ: " اللَّهُ تَعَالَى أَجْوَدُ جُودًا، ثُمَّ أَنَا أَجْوَدُ بَنِي آدَمَ [۴] وَأَجْوَدُهُمْ مِنْ بَعْدِي رَجُلٌ عَلِمَ عِلْمًا فَنَشَرَهُ، [۵] يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمِيرًا وَحْدَهُ أَوْ قَالَ: أُمَّةً وَاحِدَةً».

ترجمه: [۱] او انس بن مالک رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ (د صحابه ؤ مخاطب کولو سره) وفرمايل [۲] آيا تاسو پوهيږئ چې د سخاوت په معامله کې د ټولو څخه لوي سخي څوك دي؟ صحابه ؤ عرض وکړو الله جل جلاله او د هغه رسول ښه پوهيږي، [۳] حضور ﷺ وفرمايل په سخاوت کولو کې الله جل جلاله د ټولو څخه زيات سخي دي او په بني آدمو کې د ټولو څخه زيات سخي زه يم [۴] بيا په خلقو کې زما څخه وروسته د ټولو څخه لوي سخي به هغه سړي وي چې هغه علم زده کې او هغه يې خپور کښې (يعني خلقو ته يې وښودل) [۵] هغه سړي به د قيامت په ورځ د يو امير يا وې وفرمايل د يوې ډلې په شان راځي.

حل اللغات: ① هَلْ تَدْرُونَ : آيا تاسو پوهيږئ، ② أَجْوَدُ جُودًا: أَيْ أَحْسَنُ جُودًا: لوئې سخی، ډير سخاوت کونکې، ③ فَنَشَرَهُ: خور ئې کړی (دا خورول عام دی که په تعليم اوتعلّم سره وی، که په تصنيف تاليف سره وی اوکه په کتابونو وقف کولو سره وی). ④ أَمِيرًا : اميربه وی ځانله يعنی مستقل (يا دا چه د يوجماعت امير به وی چه هغه به صرف دده تابع وی).

تسهيلات:

قوله: هَلْ تَدْرُونَ مَنْ أَجْوَدُ جُودًا:

دالله تعالی جود اوسخا: يعنی په ټولوسخيانوکښې دَ سخاوت په اعتبارسره الله تعالی دَټولونه لوئی سخی دې ځکه چه دَ عالَم دَ پيداکولودَ شروع نه واخله ترننه پورې هر ساه والا ته اوټولو کافرانو مشرکانوته او په ټولو ابرارو او اشرارو باندې خوراك کوی ښنباك کوی اودَنعمت خوانچه ئی خوره کړې ده.

---

۱) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۱۷۶۷

قوله: رَجُلٌ عَلِمَ عِلْمًا فَنَشَرَهُ:

د علم د خورولو ذرائع: نبی علیه السلام فرمائی زما څخه روسته هغه سړې د ټولوڅخه زيات سخی دې.چې علم زده کړی اوبيا ئې امت ته اورسوی اوپه هغوی کښې خور ئې کړی.دعلم خورولو مختلف ذرائع دی.مثلاً:

① د درس وتدريس په ذريعه.

② دتاليف اوتصنيف په ذريعه.

③ د وعظ اونصيحت په ذريعه.

④ د دعوت اوتبليغ په ذريعه.

⑤ د سوشل ميډيا انټرنټ وغيره په ذريعه.

⑥ د سی ډی، کمپيوټر، وغيره جديد آلاتوپه ذريعه.

⑦ د نشراواشاعت په ذريعه.

قوله: يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمِيرًا وَحْدَهُ أَوْقَالَ: أُمَّةً وَاحِدَةً

ديک تنها باوجود جماعت: يعنی ځان له به وی خو امير په شان به راځی لکه چه دهغه ماتحت يوه ګنړه وی. ځکه چه هغه چه ځاته خودنه کړې ده يا دهغه تعليمات چه دچا پورې اورسيدل اوهغوی وړاندې نوروته اورسول نودَ لاکهونوعمل به ده ته ملاويږی په دې وجه به هغه ځان له کيدو باوجود هم اميروی.

[۲٦۰] دوه حرص کونکي نه مړيږی

٢٦٠ –()[٥٦][١]وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ[٢]: "«مَنْهُومَانِ لَا يَشْبَعَانِ: مَنْهُومٌ فِي الْعِلْمِ لَا يَشْبَعُ مِنْهُ، وَمَنْهُومٌ فِي الدُّنْيَا لَا يَشْبَعُ مِنْهَا»".

ترجمه: [١]انس بن مالك رضي الله عنه راوي دي [٢]چې رسول الله ﷺ وفرمايل حرص کونکي دوه سړي دي چې د هغوئ خيټه نه ډکيږي ① په علم کې حرص کونکي چې د هغه سينه هيڅ کله د علم څخه نه ډکيږي ② د دنيا حرص کونکي چې د هغه خيټه د دنيا څخه هيڅ کله نه ډکيږي، مذکوره بالا دري سره حديثونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې روايت کړي دي، امام احمد رحمه الله د ابو درداء رضي الله عنه د حديث په باره کې فرمايلي دي چې د دې متن په خلقو کې مشهور دي ليکن د دې اسناد صحيح نه دي.

حل اللغات: ① مَنْهُومَانِ: أي حَرِيصَانِ: حرص کونکی دوه کسان، ② لَا يَشْبَعَانِ: أَيْ لَا يَقْنَعَانِ: دواړه نه مړيږی، نه بس کوی يعنی په لږه ګذاره نه کوی.

---

[١]) روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في " شعب الإيمان " وقال: قال الإمام أحمد في حديث أبي الدرداء: هذا متن مشهور فيما بين الناس، وليس له إسناد صحيح.

تسهيلات:

دحديث سندي حيثيت: دَحضرت ابو الدردار رضي الله عنه دَحديث متعلق امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائي په خلقو كښې دَدې حديث متن مشهوردې مكردَدې سندصحيح نه دې. امام نووي رحمه الله فرمائي چه دا حديث بيشكه ضعيف دې ليكن دَ دې طرق متعدددي لهذا په دې كښې قوت شته. بل طرف ته علماء كرامو تصريح كړې ده چه فضائل اعمال كښې چه قدرې ضعيف حديث هم قبلولې شي په دې شرط چه هغه چرته يوحديث يا شرعي قاعدې سره متصادم نه وي.

قوله: مَنْهُومٌ فِي الْعِلْمِ لَا يَشْبَعُ مِنْهُ:

په علم نه مړيدل: يقينا ځوك چې دعلم خوند واخلي نوهغه په علم نه مړيږي. ځكه چې په علم كښې باطني لذت او خوند دې. په علم كښې عزت او شرافت دې. په علم كښې تقوى اوپرهيزګاري ده، دعلم په ذريعه الله او رسول صلى الله عليه وسلم ملاويږي. هركله چې دا دومره فائدې په يوځيز كښې وي نوپه هغې ځوك مړيږي هيڅ كله نه.

قوله: وَمَنْهُومٌ فِي الدُّنْيَا لَا يَشْبَعُ مِنْهَا:

په دنيا نه مړيدل: دا خو زمونږ مشاهده ده چې دا مرداره دنيا چې څومره چا سره زياتيږي هومره به ئې حرص او لالچ نور هم زياتيږي. د دې تائيد په يو بل حديث سره هم كيږي نبي عليه السلام فرمائي كه دبنى آدم د دوه خوړونو چې د سرو او سپينو ځخه ډك وي مالك شي نو دې به په هغې باندې هم قانع او صبر نشي بلكه د دريمې په لټون كښې به وي.

[٢٦١] دوه حريصان برابر نه دي

٢٦١ ـ( )[٥٧] [١] وَعَنْ عَوْنٍ، [٢] قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ: مَنْهُومَانِ لَا يَشْبَعَانِ: صَاحِبُ الْعِلْمِ، وَصَاحِبُ الدُّنْيَا، وَلَا يَسْتَوِيَانِ ; [٣] أَمَّا صَاحِبُ الْعِلْمِ فَيَزْدَادُ رِضًى لِلرَّحْمَنِ، وَأَمَّا صَاحِبُ الدُّنْيَا فَيَتَمَادَى فِي الطُّغْيَانِ. [٤] ثُمَّ قَرَأَ عَبْدُ اللَّهِ {كَلَّا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَيَطْغَى - أَنْ رَآهُ اسْتَغْنَى} [العلق: ٦-٧] [٥] قَالَ: وَقَالَ الْآخَرُ: {إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ} [فاطر: ٢٨]. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] عون راوي دي [٢] چې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وفرمايل دوه حريصان دي چې د هغوئ خيټه هيڅ كله نه ډكيږي ① يو عالم ② او دويم دنيا دار ليكن دوي (په درجه كي) برابر نه دي [٣] ځكه چې عالم خو د الله جل جلاله رضا مندي زياتوي او دنيا دار په شركښي كې زياتي كوي [٤] بيا عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه د دنيا دار په حق كې (د دليل په طور) دا آيت اووئيلو: (د آيت ژباړه) خبردار! انسان البته سركښي كوي هركله چې هغه خپل ځان (د

---

(١) اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ٣٣٢

کثرت مال په بناء د خلقو شخه) غني ګڼي [٥] حضرت عون وايي عبد الله بن مسعود ﷺ د عالم په حق کې دا آيت اوويلو (ترجمه:) د الله ﷻ په بنده ګانو کې عالمان د الله ﷻ شخه ويرېږي. دارمي

حل اللغات: ① فَيَتَمَادَي: أَيْ: يَزْدَادُ: زياتوالي او فراخوالي کوي، ② الطُّغْيَانِ: سرکشي، فساد، ③ اسْتَغْنَى: ځان بې پرواه ګڼړی دخلقو نه (دخپل مال د ډير والی په وجه). ④ يَخْشَى: أي خَوْفٌ مَعَ التَّعْظِيمِ: د خشيت نه مراد ويريدل دی سره د تعظيم نه.

تسهيلات:

قوله: مَنْهُومَانِ لَايَشْبَعَانِ:

نوټ: د زيربحث حديث او سابقه حديث نمبر(٢٦٠) حديث مضمون يوشان دې تسهيل ئې په هغې کښې اوګورئ.

[٢٦٢] د امراؤ په صحبت کښې د فايدې په ځايې نقصان وی

٢٦٢-()[٥٨] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«إِنَّ أُنَاسًا مِنْ أُمَّتِي سَيَتَفَقَّهُونَ فِي الدِّينِ وَيَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ، [٣] وَيَقُولُونَ: نَأْتِي الْأُمَرَاءَ فَنُصِيبُ مِنْ دُنْيَاهُمْ وَنَعْتَزِلُهُمْ بِدِينِنَا. [٤] وَلَا يَكُونُ ذَلِكَ، كَمَا لَا يُجْتَنَى مِنَ الْقَتَادِ إِلَّا الشَّوْكُ، كَذَلِكَ لَا يُجْتَنَى مِنْ قُرْبِهِمْ [٥] إِلَّا - قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ: كَأَنَّهُ يَعْنِي - الْخَطَايَا»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] ابن عباس ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] زما په امت کې به ډير خلق پوهه (يعني د دين علم) حاصل کړي او قرآن به وايي [٣] او وايي به چې زمونږ امراؤ ته ورتلو سره د هغوئ د دنيا او دولت شخه خپله حصه حاصلوو او خپل دين به د هغوئ شخه يو طرف ته ساتو [٤] ليکن داسې نه کيږي (چې دين او دنيا يوځاي) جمع کړل شي او د امراؤ په صحبت کې د فائدي په ځاي نقصان وي څنګه چې د خارداري (ازغني) ونې شخه يوازي ازغي حاصليدي شی دغسې د امراؤ دصحبت شخه نه حاصليږي [٥] مګر. محمد ابن صباح وايي ګويا د حضور ﷺ مراد دلفظ الآ شخه خطايا وو، ابن ماجه

حل اللغات: ① سَيَتَفَقَّهُونَ: أي يَطْلُبُونَ الفِقْهَ وَيُحَصِّلُونَهُ: علم فقه يعنى ددين علم به حاصل کړی، ② نَعْتَزِلُهُمْ: أَيْ: نَبْعُدُ عَنْهُمْ: لرې به ترې ساتو، ③ لَا يُجْتَنَى: أَيْ: لَايُؤْخَذُ: نه شی اخستلې او حاصلولې، ④ الْقَتَادِ: أي شَجَرٌ كُلُّهُ شَوْكٌ: ازغی داره اونه، ⑤ الشَّوْكُ: ازغی (چه زخمی کول کوی او تکليف رسوی).

تسهيلات:

قوله: نَأْتِي الْأُمَرَاءَ فَنُصِيبُ مِنْ دُنْيَاهُمْ وَنَعْتَزِلُهُمْ بِدِينِنَا:

بعضې خوش فهمه عالمان: دحديث مطلب دادې چه په دې امت کښې به بعضې داسې

---

[١]) اخرجه ابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم /باب الانتفاع بالعلم والعمل به(رقم-٢٥٥)

مطلب پرست علماء پيدا كيږي چه دَ هغوى سوچ او مقصد به صرف دَ دنيا حاصلول وى دَ دې غرض دَ حاصلولو دَ پاره به هغوى مالدارانو اوجاگيردارانو پسې گرځى راگرځى اوكه هغوى ته پيغورورکولې شى نووائى به يار مونږ مالى فائدې خوحاصلوو ليكن خپل دين په خپل زړه كښې محفوظ ساتو.

قوله: وَلَا يَكُونُ ذٰلِكَ، كَمَا لَا يُجْتَنٰى مِنَ الْقَتَادِ إِلَّا الشَّوْكُ:

د دنيادارود صحبت نقصان: رسول الله ﷺ فرمائى دا د دې خلقو خوش فهمى ده.د مالدارانو سره ناسته پاسته او دهغوى په مجلسونوكښې گډون د نقصان څخه خالى نه وى. بيا نبى عليه السلام د دې مثال وركوى اوفرمائى: د حاكمان په گډون كښې د دينى نقصان څخه بچ كيدل دا داسې محال دى لكه چه دَ يوازغى دارې بې ميوې ونې نه ميوه حاصلول دَهغې نه خو صرف ازغى حاصليدلې شى اوميوه ملاويدل محال دى.

قوله: كَذٰلِكَ لَا يُجْتَنٰى مِنْ قُرْبِهِمْ إِلَّا:

د مذكوره جملې مطلب: حضورپاك دَ "الا" نه پس څه لفظ نه دې ارشاد فرمائيلې او په "الا" باندې ئى كلام ختم كړې دې. دَ امام بخارى رحمه الله استاذ محمدبن صباح رحمه الله فرمائى چه حضورپاك لكه چه دَ الخطايادَ كلمې اراده كړې وه مگر په ژبه باندې ئى ادانه كړه

په جرم نه بيانولو كښې نكته: په دې كښې دانكته هم كيدې شى چه حضورپاك دا جرم مبهم پريخودو او ارشاد ئى اوفرمائيلوچه دا دومره لوئى جرم دې چه په ژبه باندې هم نه شى راوړلې كيدې.

[۲۶۳] د علم حفاظت كونكى ته د دنيا سردارى ملاويدل

۲۶۳-(۱)[۵۹] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ ۲: لَوْ أَنَّ أَهْلَ الْعِلْمِ صَانُوا الْعِلْمَ وَوَضَعُوهُ عِنْدَ أَهْلِهِ، لَسَادُوا بِهِ أَهْلَ زَمَانِهِمْ، ۳ وَلٰكِنَّهُمْ بَذَلُوهُ لِأَهْلِ الدُّنْيَا لِيَنَالُوا بِهِ مِنْ دُنْيَاهُمْ، فَهَانُوا عَلَيْهِمْ ۴ سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ۵ " «مَنْ جَعَلَ الْهُمُومَ هَمًّا وَاحِدًا هَمَّ آخِرَتِهِ، كَفَاهُ اللّٰهُ هَمَّ دُنْيَاهُ، ۶ وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الْهُمُومُ فِي أَحْوَالِ الدُّنْيَا، لَمْ يُبَالِ اللّٰهُ فِي أَيِّ أَوْدِيَتِهَا هَلَكَ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ. وَرَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)

ترجمه: ۱ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په حقله روايت دي چي هغه وفرمايل ۲ كه اهل علم (يعني علماء) د علم حفاظت وكړي او علم د هغه د اهل (يعني د قدر دانو) په مخكي كيږدي نو هغۀ به بيشكه د خپل علم په سبب د دنيا والؤ سردار جوړ شى ۳ ليكن علماؤ داسې ونه كړل بلكه هغوئ علم په دنيا دارو (يا په حاكمانو د وخت) باندې خرڅ كې چې د هغه په ذريعه هغوئ دنيا (يعني د دنيا جاه وجلال) حاصل كې او د علم حقيقي مقصد

۱) اخرجه ابن ماجة كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب الانتفاع بالعلم والعمل به(رقم-۲۵۷)

يعنى د دنيا والؤ هدايت او نصيحت پرېښودو نو هغه د دنيا والو په نظر کې ذليل شو ④ما د نبی كريم ﷺ څخه اوريدلي دي ⑤كوم سړي چې په خپلو مقاصدو کې يوازي يو مقصد يعنى د آخرت مقصد اختيار كې نو الله ﷻ د هغه دنياوي مقصد هم پوره كوي ⑥او د كوم سړي مقاصد چې ګډوډ وي څنګه چې د دنيا حالت وي نو بيا الله تعالیٰ ﷻ ته پروا نشته چې هغه خواه په كوم ځنګل (يعني د دنيا په كوم حالت) کې هلاك شي، ابن ماجه، بيهقي دا حديث په شعب الايمان کې

حل اللغات: ① صَانُوا: أَيْ: حَفِظُوهُ: حفاظت ئې کړې دې، ② وَضَعُوهُ: كيږدی، پيش كړی، ③ لَسَادُوا: أَيْ: فَاقُوا بِالسِّيَادَةِ: سرداران او مشران به شی. ④ بَذَلُوهُ: خرچ ئې کړو دا علم، ⑤ لِيَنَالُوا: چه حاصل کړی دوی، ⑥ فَهَانُوا: ذليله او سپک شو، ⑦ الْهُمُومَ: د هَمٌّ جمع ده، دغم په معنى كښې راځى دلته مقاصد او حالات مراددی. ⑧ تَشَعَّبَتْ: أَيْ: تَفَرَّقَتْ: ددې ترجمه ګډوډكيدل، مختلف كيدل، ښاخ په ښاخ كيدل دی. ⑨ لَمْ يُبَالِ اللهُ: أَيْ: لَا يَنْظُرُ إِلَيْهِ نَظَرَ رَحْمَةٍ: الله تعالى ئې هيڅ پرواه نه ساتی، يعنى د رحمت نظر پرې نه كوی. ⑩ أَوْدِيَتِهَا: د وَادِيَةٌ جمع ده، خوړ، ځنګل.

٢٦٣ـــ()[٥] عَنِ ابْنِ عُمَرَ مِنْ قوله: (مَنْ جَعَلَ الْهُمُومَ) إِلَى آخِرِهِ.

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه څخه د من جعل الهموم څخه تر آخر پورې روايت کړې دي.

تسهيلات:

قوله: صَانُوا الْعِلْمَ وَوَضَعُوهُ عِنْدَ أَهْلِهِ، لَسَادُوا بِهِ أَهْلَ زَمَانِهِمْ:

دعلم دحفاظت وصيت: حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی چې عالمانو لره پكار دی چې د خپل علم حفاظت اوكړی اوحفاظت ئې دا دې چې په دې باندې د دنيا حاصلولو څخه ځان اوساتی. كه چرته عالمانو په دې عمل وكړو نودوی ته به د آخرت د اوچت مقام سره سره په دنيا كښې هم سيادت اوقيادت ملاؤ شی. خلق به ئې لكه د بادشاهانو قدر اوعزت كوی. اوكه دوی په خپل علم سره دنيا حاصلول غواړی نو بيا به بې عزته اوبې قيادته شی.

قوله: مَنْ جَعَلَ الْهُمُومَ هَمًّا وَاحِدًا هَمَّ آخِرَتِهِ، كَفَاهُ اللهُ هَمَّ دُنْيَاهُ:

آخرت دخپل ژوند مقصد جوړول: يعنى چاچې د خپل ژوند مقصد آخرت وګرځول نو الله تعالى به د ده دنياوی ضروريات د غيبو دخزانو څخه پوره كوی. كه نن صبا مونږ وګورو اګرچې په مدارسو كښې د عالمانو وظيفه ډيره كمه وی. خو د دې باوجود په معاشره كښې د عزت ژوند تيروی. بالخصوص زمونږ شيوخ چې دنياوی اعتبار سره ډير كم حيثيت واله دی خو چې قدر اوعزت ته ئې وګورئ نو سړې ورته پسخيږی. او الله تعالى په عوامو كښې

[1]) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ١٠٣٤٠

داسې کسان دهغوی د خدمت دپاره تیار کړی وی چې څه دنیاوی کار وی نودغه عوام خلق د هغوی دغه کار کوی اودا خپل سعادت ګنړی.

خود داری: ستاسود فائدې دپاره درته لیکم چې ما کله علم وکړو نو یقیناً معاشی او اقتصادی لحاظ سره ډیر کمزورې ووم.خوبیا هم نه مې د چا څخه سرسایه غوښتې ده اونه زکواة ، نه مې د چا څخه سوال کړې وو.اونه مې ورته خپل حاجت بیان کړې وو.اګرچې په جمات کښې راسره د امامت اوخطابت ذمه واری هم وه خو داختر په موقع مې چا څخه د قربانۍ د څرمنو مطالبه نه ده کړې.بلکه خود داری مې خپله کړې وه.ددې نتیجه دا راووتله.چې نن زه د خپلې محلې په یو جامع مسجد کښې دامامت او خطابت خدمت هم کوم. اود دوی څخه تنخواه نه اخلم ځکه په کالج کښې پروفیسریم،د فیصل کتب خانه په نوم مې خپله مکتبه ده.اود تالیف اوتصنیف په میدان کښې زما کتابونه ستاسو وړاندې دی. زما عالمانو او طالبانو رونړو د خپلو ضروریاتو پوره کولو دپاره دتجارت پیشه اختیار کړئ په دې کښې عزت هم دې اودولت هم.لکه څنګه چې زمونږ مشرانو د علمی مصروفیاتو باوجود خپل تجارت اومضاربت هم جاری ساتلې وو. دامام اعظم رحمه الله مثال ستاسو وړاندې دې یوطرف ته به ئې د تدریس مشغله لرله اوبل طرف ته به ئې مضاربت کولو.بهر صورت دا زما یوه رائې ده کیدې شی تاسو ما سره په دې کښې متفق نشی.بهر صورت الله تعالی دې ما او تاسو ټول د عوامود محتاجۍ څخه وساتی.

[۲۶۵] دعلم آفت اوضائع کول

۲۶۵ —( )[۶۰] ١ وَعَنِ الْأَعْمَشِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ٢ «آفَةُ الْعِلْمِ النِّسْيَانُ، ٣ وَإِضَاعَتُهُ أَنْ تُحَدِّثَ بِهِ غَيْرَ أَهْلِهِ». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه: ١ اعمش راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د علم آفت هیریدل دي ٣ او د علم ضائع کول دا دي چې د نا اهل په مخکې بیان شي، دارمي د ارسال په طریقه روایت کړي دي

حل اللغات: ① آفَةُ: مصیبت، بندیز، ② إِضَاعَتُهُ: ضائع کول د علم.

تسهیلات: قوله: آفَةُ الْعِلْمِ النِّسْيَانُ:

دعلم هیرولو آفت: حصول علم یوعظیم دولت دې اودَهردولت په حاصلولو کښې بندیزونه هم وی نودَعلم دَحصول مخې ته هم لوئی بندیزونه دی. لکه چه وئیلی شوی دی "لکل شئ آفة وللعلم آفات." داخودَ حصول علم نه وړاندې آفات دی مګردَعلم حصول نه پس لوئی آفت رائی اوهغه دَعلم هیرول اونسیان دې.

[۱] اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۶۲۴

د علم هيرولو اسباب:

① د علم ناقدري كول چې دې تقاضې پوره نه كړې شي.
② چې نالائق ته علم اوښودلې شي. په كوم سره چې د علم توهين اوشو.
③ په علم باندې عمل نه كول

امام شافعي ته د خپل استاذ نصيحت: امام شافعي رحمه الله د هيريدو د بيمارئي ذكر خپل استاذ وكيع رحمه الله ته اوكړو نوهغوى ورته د نيكو اعمالو وصيت اوكړو. هغوى خپله دا واقعه په اشعارو كښې بيان كړې ده. فرمائي.

شكوت الى وكيع سوء حفظي فأوصاني الى ترك المعاصي
فـإن العلم نور من نور الله ونور الله لا يعطى لعاصي

ترجمه: ① ما (خپل استاذ) وكيع ته د خپلې حافظې د كمزورئ شكايت وكړو. (چې څه يادوم هغه راته نه يادېږي يا راځخه هيرېږي) نوهغوى راته د ګناهونو پرېخودو وصيت وكړو. (كه داغواړې چې علم تا سره محفوظ پاتې شي نو د ګناهونو ځخه ځان ساته)
② ځكه چې علم د الله تعالى د نور ځخه يوه رڼا ده او د الله تعالى رڼا ګناهګار ته نشي وركولې.

قوله: وَإِضَاعَتُهُ أَنْ تُحَدِّثَ بِهِ غَيْرَ أَهْلِهِ:

نااهلو ته علم خودل: علم يوه قيمتي ملغره ده دا هغه چاته وركول پكار وى چا سره چې ئې قدر وي. د علي رضي الله عنه قول دې ځوک چې نااهلو ته علم ښائي دا داسې ده لكه چې ځوک د خنزير په غاړه كښې ملغلرې اچوي. بهرصورت د علم قدر پكار دې. اوځوک چې د دې طلبګار وي هغوى ته ئې خودل پكار دي. نااهله او ناقدره خلقو ته علم خودل د علم سپكاوې دې.

[٢٦٦] د عالمانو د زړونو ځخه د علم وتلو سبب

٢٦٦ـ(١)[٢٦١] ① وَعَنْ سُفْيَانَ، ② أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ لِكَعْبٍ: مَنْ أَرْبَابُ الْعِلْمِ؟ ③ قَالَ: الَّذِينَ يَعْمَلُونَ بِمَا يَعْلَمُونَ. ④ قَالَ فَمَا أَخْرَجَ الْعِلْمَ مِنْ قُلُوبِ الْعُلَمَاءِ؟ ⑤ قَالَ: الطَّمَعُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① سفيان راوي دي ② چې حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه و حضرت كعب رضي الله عنه ته وفرمايل ستا په نيز صاحبِ علم ځوك دي؟ ③ كعب رضي الله عنه جواب وركړو هغه خلق چې د خپل علم موافق عمل كوي، ④ بيا حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنه وكړه كوم شي د عالمانو د زړونو ځخه علم باسي ⑤ كعب رضي الله عنه وفرمايل طمع ولالچ. دارمي

(١) اخرجه الدارمى فى السنن رقم الحديث ٥٨٤

حل اللغات: ① أَرْبَابُ العِلْمِ: أَيْ مَنْ مَلَكَ العِلْمَ وَرَسَخَ فِيهِ: دعلم خاوندان څوک چه مضبوط علم حاصل کړی او عمل پرې کوی. ② الطَّمَعُ: د دنیا لالچ او دې سره محبت.

تسهیلات:

قوله: فَمَا أَخْرَجَ العِلْمَ مِنْ قُلُوبِ العُلَمَاءِ؟ قَالَ: الطَّمَعُ:

د طمع اولالچ تباهی: طمع اولالچ یوداسې آفت اوبلاده دکوم دَ وجې نه چه سړې دَعلم تقاضې نه شی پوره کولې. کله چه په زړه کښې هروخت دَدنیادارونه ددنیادَحاصلولولالچ موجود ی نوداسې سړې حق څنګه بیانولې شی؟ اوکله چه حق پټ کړی نودَعلم نور اودَهغې عظمت اوبرکت به دَهغه دَزړه نه ختم شی او اوخی به. په یوحدیث کښې دی: "كُن في الإياس مما في أيدي الناس تكن أغنى الناس" (که دا غواړې چې په خلقو کښې عزتمند مند شې نو) دخلقو سره چې څه وی دهغې څخه بې طمعه شه نودټولوڅه به زیات عزتمند شې.

[۲۶۷] بدترین اوافضل ترین خلق

۲۶۷—( )[۶۳] ① وَعَنِ الأَحْوَصِ بْنِ حَكِيمٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ أَبِيهِ، قَالَ ②: «سَأَلَ رَجُلٌ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنِ الشَّرِّ. ③ فَقَالَ: "لَا تَسْأَلُونِي عَنِ الشَّرِّ، وَسَلُونِي عَنِ الخَيْرِ" يَقُولُهَا ثَلَاثًا، ④ ثُمَّ قَالَ: "أَلَا إِنَّ شَرَّ الشَّرِّ شِرَارُ العُلَمَاءِ، وَإِنَّ خَيْرَ الخَيْرِ خِيَارُ العُلَمَاءِ"». رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① احوص بن حکیم د خپل پلار څخه نقل کوي ② چې یو سړي د رسول الله ﷺ څخه د شر په باره کې پوښتنه وکړه ③ حضور ﷺ ورته وفرمایل زما څخه د شر په باره کې پوښتنه مه کوي بلکه د خیر په باره کې پوښتنه کوي او دا جملي یي دري ځله اد اکړي ④ بیا ئ اوفرمائیل چه خبر دار په خرابو خلقو کې بد ترین خراب علماء دي او په ښه خلقو کې د ټولو څخه ښه علماء دي. دارمي

حل اللغات: ① شَرُّ الشَّرِّ: أَيْ: أَعْظَمُهُ: په شرونو کښې د ټولو نه لوئې شروالا خلق یعنی بدترین او خراب خلق. ② خَيْرُ الخَيْرِ: د خیر والا په خلقو کښې دټولو نه لوئې خیر والا خلق، ③ شِرَارُ العُلَمَاءِ: بد تر او خراب علماء، ④ خِيَارُ العُلَمَاءِ: ښه او غوره علماء.

تسهیلات:

قوله: لَا تَسْأَلُونِي عَنِ الشَّرِّ:

د بدئ باره کښې د تپوس کولوممانعت: مطلب دادې چه دا سړې دَبدترین سړی متعلق معلومات کول غواړی چه دَټولونه بدترین سړې څوک دې نو حضورپاك دا جواب ورکړو. دَحدیث سیاق اوسباق نه هم دغه مطلب ډیرواضح معلومیږی. بهرحال حضورپاك دَ

---

(۱) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ۳۷۰

داسې قسم سوال نه منع فرمائیلې ده. حضورپاك خو ټول رحمت وو نو دَ هغوی نه صرف دَ بدئی باره کښې نه بلکه دَبدئی او نیکئی دواړو متعلق سوال کول پکاروو.

قوله: شَرَّ الشَّرِّ شِرَارُ الْعُلَمَاءِ:

دعالمانو بدترین کیدو وجه: عالماء سوء دَټولو څخه بدترین ځکه دی چې دَعلماؤ شر او دَهغوی بدی متعدی ده لکه څنګه چه دَهغوی نیکی متعدی ده. ځکه چه په معاشره کښې دَعلماؤ ذات دَ یومعیاری نمونې او دَ پیمانې حیثیت لری. که چرې علماء دَاوچت معیاروی نوعوام به هم دَ هغوی په تقلید کښې دَ اوچت مثال قائم کولو کوشش کوی. ګنی عامه تباهی به راشی. دَدې حدیث نه علماء سوء مراد دی.

قوله: وَإِنَّ خَيْرَ الْخَيْرِ خِيَارُ الْعُلَمَاءِ:

د عالمانو بهترین کیدو وجه: دمخکنی صورت بالعکس که عالمان ښه وی په خپل علم عمل کوی او نورته ئې ښائی نود دوی په وجه په معاشره کښې خیر خورېږی. اوخلق د نیکۍ په لاره روانیږی. عالمانو او نیکانو سره دخلقو په زړونوکښې مینه محبت پیدا کیږی. ددې وجې عالمان په خلقو کښې افضل اوغوره مخلوق دې.

[۲٦٨] بد ترین عالم

٢٦٨ـ(١) [٦٣] ①وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: ②إِنَّ مِنْ أَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ: عَالِمٌ لَا يَنْتَفِعُ بِعِلْمِهِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①ابو درداء ﷛ فرمایي ②چې د قیامت په ورځ به د الله ﷻ په نیز په مرتبه کښې دټولو څخه بدتر عالم هغه وي چې هغه د خپل علم څخه فایده پورته نه کړي. دارمي

حل اللغات: ① مَنْزِلَةً: أَيْ مَرْتَبَةً: مرتبه او درجه.

تسهیلات:

قوله: عَالِمٌ لَا يَنْتَفِعُ بِعِلْمِهِ:

نوټ: ددې حدیث مضمون دې څخه وړاندې د حدیث نمبر(٢٦٧) په تسهیل کښې تیرشوې دې.

[٢٦٩] اسلامی عمارت غورځونکی اعمال

٢٦٩ـ(٢) [٦٤] ①وَعَنْ زِيَادِ بْنِ حُدَيْرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ لِي عُمَرُ②: هَلْ تَعْرِفُ مَا يَهْدِمُ الْإِسْلَامَ؟ ③قَالَ: قُلْتُ: لَا! قَالَ: يَهْدِمُهُ زَلَّةُ الْعَالِمِ، وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ وَحُكْمُ الْأَئِمَّةِ الْمُضِلِّينَ، رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ①زیاد بن حُدَیر راوي دي چې حضرت عمر ﷛ ماته وفرمایل ②آیا ته پوهیږې چې د اسلام عمارت غورځونکي کوم شي دي ③ما اوویل ماته نه ده معلومه حضرت عمر

(١) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ٢٦٢
(٢) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحدیث ٢١٤

ﷺ وفرمایل ①د عالم ښویدل یعنی په یوه مسئله کې د عالم غلطي کول ②او د هغه گناه کول د منافق په کتاب الله کې جگړه کول ③او د گمراه سردارانو حکم جاري کول د اسلام دعمارت تباهي او بربادي وي. دارمي

حل اللغات: ① يَهْدِمُ: د هدم معنی ده: إِسْقَاطُ الْبِنَاءِ: بنیاد نړول او ورانول. ② زَلَّةُ الْعَالِمِ: أَيْ عَثْرَتُهُ بِتَقْصِيْرٍ مِنْهُ: دعالم خوئیدل (یعنی داسې خطاپه کوم سره چه ټول خلق گمراه شي اوداسلام بنیادی پنځه ارکان هم راپریوځی). ③ جِدَالُ: جگړه (چه په ښکاره مسلمان وی خوپه زړه کښې د اسلام دشمن وی). ④ الْمُضِلِّيْنَ: گمراهان.

تسهیلات:

قوله: يَهْدِمُهُ زَلَّةُ الْعَالِمِ:

دعالم د بې احتیاطۍ نتیجه: عالم په یوه علاقه کښې د علماء نیابت کوی نوکه دعالم څخه گناه یا غلط کار وشی نوعوام په ټولوعالمانوپسې خبرې شروع کړی په دې طریقه په معاشره کښې د عالم بې قدری شروع شي اود عالم بې قدری دعلم څخه د بې رغبتۍ سبب دې.نوخلق به علم حاصلول پرېږدی.په دې طریقه به په معاشره کښې جهل خور شی.اود اسلام بنیاد به کمزورې شي.

قوله: وَجِدَالُ الْمُنَافِقِ بِالْكِتَابِ:

دمنافق څخه مراد: یعنی په خلې دَ اسلام تعریفونه کوی او په زړه کښې دَاسلام بیخ راکنی اودَ اسلام اصل شکل ورانوی.او په نصوصو کښې غلط تاویلات کوی لکه روافض اوخوراج اونور اهل بدعت طبقات. شوکوم چه دَعلماؤ په شکل کښې دَ جاهلانو نه هم بدتردی. لکه چه وئیلی شوی دی "ویل للجاهل مرة وللعالم سبع مرات"

قوله: وَحُكْمُ الْأَئِمَّةِ الْمُضِلِّيْنَ:

دحاکمانو دگمراهۍ تباهي: حکمران طبقې سره طاقت اوقوت وي اوقانون هم د هغوی په لاس کښې وی ددې وجې کوم حاکمان چې گمراه او دد ین څه لرې وی نوهره ورځ په پارلیمنټ کښې داسې قوانین جوړوی چې د اسلام خلاف وی.ددې وجې د حاکمانو د گمراهۍ د دین اسلام د عمارت راغورځولو سره تشبیه ورکړې شوې ده.

[۲٧٠] د علم دوه قسمونه دي

٢٧٠-(۱)[٦٥] [۱]وَعَنِ الْحَسَنِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-،[۲]قَالَ: الْعِلْمُ عِلْمَانِ: فَعِلْمٌ فِي الْقَلْبِ فَذَاكَ الْعِلْمُ النَّافِعُ، وَعِلْمٌ عَلَى اللِّسَانِ فَذَلِكَ حُجَّةُ اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ عَلَى ابْنِ آدَمَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

(۱) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ٣٦٤

ترجمه: [١] حسن بصري رحمه الله فرمايي [٢] د علم دوه قسمونه دي ① يو هغه علم چې په زړه کې دننه وي دا علم خو نفع ورکوي ② او دويم هغه علم دي چې د ژبې په سر دي دا علم په سړي د الله جل جلاله دليل او حجت دي. دارمي

حل اللغات: ① حُجَّةُ اللهِ: دالله تعالى دليل او حجت دې (چه تاسو په خپل علم باندې عمل ولې نه دې کړې؟).

تسهيلات:

قوله: فَعِلْمٌ فِي الْقَلْبِ فَذَاكَ الْعِلْمُ النَّافِعُ:

دعلم نافع تعريف:

① حضرت حسن بصری رحمه الله دعلم په دوو قسمونو کنبې يو علم نافع خودلې دې او د دې تعريف ئې دا کړې دې چې علم نافع هغه دې. چې د زړه سره تعلق ساتي.

② حضرت شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائی علم نافع هغه علم دې په کوم سره چه زړه روښانه شی او بيا داعلم نافع په انسانی معاملاتو باندې احاطه کوی نومعاملات صحيح کيږی. [اشعة المعات: ١٩٠١.]

قوله: وَعِلْمٌ عَلَى اللِّسَانِ:

علم لسانی: علم لسانی يعنی د ژبې علم هغه دې چې نه په زړه باندې اثرکوی اونه بل څوك متاثرکولې شی.

قوله: فَذَلِكَ حُجَّةُ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى ابْنِ آدَمَ:

په بنده د علم حجتيت: يعنی بې عمل اوصرف زبانی علم په بندګانو باندې دالله تعالی حجت اودليل اوسند دې. الله تعالی به بندګانوته الزام ورکوی او فرمائی به چه ماتاسوته علم درکړې وو تاسو په هغې باندې ولې عمل اونه کړو؟

[٢٧١] ابوهريره رضی الله عنه سره دوه قسمه علمونه

٢٧١-(١)[٦٦] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ [٢]: حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وِعَاءَيْنِ، فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَبَثَثْتُهُ فِيكُمْ، وَأَمَّا الْآخَرُ فَلَوْ بَثَثْتُهُ قُطِعَ هَذَا الْبُلْعُومُ - يَعْنِي مَجْرَى الطَّعَامِ - رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه فرمايي [٢] چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دوه ګوډي علمونه ياد کړي دي په هغه کې خو مي ① يو ستاسو په مينځ کې خورکړي دي ② او دويم هغه علم دي که زه هغه بيان کړم نو زما دا مري (غاړه) به پري کړل شی. بخاري

حل اللغات: ① وِعَاءَيْنِ: دوه ډک لوخی (يعنی ما دنبی کريم صلى الله عليه وسلم څخه دَ علم دوه لوښی ډک کړی

١) اخرجه البخاری کتاب العلم/باب حفظ العلم (رقم-١٢٠)

دی او یاد کړی مې دی. ② فَبَثَثْتُهُ: دا د بَثَّ يَبُثُّ نه دَ خورولو په معنی کښې دې. أَيْ: أَظْهَرْتُهُ بِالنَّقْلِ: خور کړې مې دې یعنی په ښودلو مې تاسو ته ښکاره کړې دې. ③ قُطِعَ: پرې به کړې شی، کټ به کړې شی. ④ الْبُلْعُومُ: أَيِ الْحُلْقُومُ: دا د حلقوم په وزن باندې دې. مراد ترې حلقوم او مرۍ ده یعنی د خوراک د تیریدلو لار.

تسهیلات:

قوله: فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَبَثَثْتُهُ فِيكُمْ:

عام شرعی علم؛ ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چې یو علم خو ما عوامو کښې خور کړو د کوم تعلق چې ظاهر او علم الاحکام سره وو.

قوله: وَأَمَّا الْآخَرُ فَلَوْ بَثَثْتُهُ قُطِعَ هَذَا الْبُلْعُومُ:

د دویم علم په مفهوم کښې پنځه اقوال: ① د دې څخه د عارفانو او اهل الله متعلق علوم مراد دی. ابوهریره فرمائی که ما دا بیانول شروع کړل نو خلق به په دې د نه پوهیدلو په وجه زما مرۍ پرې کړی.

② د دې علم تعلق د راتلونکو فتنه ګرو او فتنه خورونکو حکمرانانو سره دې. که ما دَ دغه فتنو نشاندهی اوکړه او دغه علم مې ظاهر کړو، نو دا خلق به ما حلال کړی.

③ ددې څخه مراد د فتنې احادیث دی لکه دحضرت عمر، عثمان شهادت وغیره شول.

④ ددې څخه د بادشاهانو نومونه اودهغوی حالات مراد دی. لکه یوحدیث کښې ابوهریره رضی الله عنه به کله کله فرمائیل ((لوشئت أن اسميهم بني فلان وبني فلان))

⑤ ددې څخه احوال تکوینیه مراد دی.

اشکال: وړاندې د حدیث په پټولو او نه بیانولو باندې وعید راغلې دې نوبیا ابوهریره رضی الله عنه ولې بعضې علوم چاته نه بیانول.

داشکال دوه جوابونه: ① د کتمان علم وعیدد هغه احادیثو په باره کښې دې د کومو تعلق چې عقائدو یا احکامو سره وی اود ابوهریره رضی الله عنه دحدیث مصداق هغه علوم دی د کوم وضاحت چې وړاندې عنوان کښې اوشو.

② دکتمان علم وعید په هغه صورت کښې دې چې څوک خواص او اهل وی دهغوی څخه علم پټ کړې شی اوابوهریره رضی الله عنه که کوم احادیث نه بیانول هغه ئې عوامو ته نه بیانول نوذمه مورد الزام او عتاب نه دې.

دابوهریره رضی الله عنه دعا: حضرت ابوهریره رضی الله عنه دعا کړې وه چې الله تعالی ما د هلکانو د حکمرانۍ څخه وړاندې وړاندې واخلی، نو د یزید حکومت راتلو څخه وړاندې وړاندې دوئ وفات شوی وو.

[٢٤٣] د خپلې لاعلمۍ اظهار کول

٢٤٣–(١)[٦٧] ①وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ -، قَالَ②: يَا أَيُّهَا النَّاسُ! مَنْ عَلِمَ شَيْئًا فَلْيَقُلْ بِهِ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلْ: اللّٰهُ أَعْلَمُ، ③فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ تَقُولَ لِمَا لَا تَعْلَمُ: اللّٰهُ أَعْلَمُ. ④قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى لِنَبِيِّهِ {قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ} [ص:٨٦] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او روایت دې چې حضرت عبد الله ﷺ خلقوته مخاطب کولو سره وویل، ②اې خلقو کوم سړې چې په کومه خبره پوهیږي نو پکار دي چې هغه بیان کړي او په کومه چې نه پوهیږي نو پکار دي چې اووائي چې الله ﷻ ښه پوهیږي ③ځکه چې د کوم شي په باره کښې هغه ته علم نشته د هغه په باره کې (والله اعلم) ویل هم د علم یو قسم دي (یعني د معلوم د غیر معلوم څخه تمیز کول هم د علم یوقسم دي) ④الله ﷻ د خپل نبي په واسطي سره فرمایي چې **قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ** یعنی اې محمده! (ﷺ) اووئیلو چې زه په دي قرآن ستاسو څخه څه بدله نه غوارم او زه د تکلف کونکو خلقو څخه نه یم. بخاري

حل اللغات: ① الْمُتَكَلِّفِينَ: أَيْ: مِنَ الَّذِينَ يَتَصَنَّعُونَ: د تکلف کونکو نه مراد په بناوټ او خوله جوړولو سره یوه خبره کول چه مخاطب متاثر شي.

تسهیلات:

قوله: فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ تَقُولَ لِمَا لَا تَعْلَمُ: اللّٰهُ أَعْلَمُ:

دخپلې لاعلمۍ اقرار: دا معلومه ده چې مونږ ته الله تعالی کوم علم راکړې دې هغه د الله تعالی دعلم په مقابله کښې ډیر کم دې ددې وجې که یوکس ته یوه مسئله نه ورځی نوپه دې کښې شرم نه دې پکار چې دا مسئله ماته نه راځی الله تعالی ښه پوهیږی، بلکه د خپلې لاعلمۍ اقرار پکار دې. ځکه چې دا اقرار کول هم یو قسم علم دې چې سړی ته د خپل جهل علم وی. اوچې یو کس جاهل وی اودخپل جهل ورته هم پته نه لږی نودا خو جهل علی جهل شو. دامام ابوحنیفه رحمه الله څخه په شپږ دیرشو مسئلو کښې دا منقول دی چې هغوی فرمائیل دی ((لاأعلم)) یعنی زه نه پوهیږم.

[٢٤٣] د استاذ په انتخاب کښې د احتیاط ضرورت

٢٤٣–(٢)[٦٨] ①وَعَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ②: إِنَّ هٰذَا الْعِلْمَ دِينٌ، فَانْظُرُوا عَمَّنْ تَأْخُذُونَ دِينَكُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[١] اخرجه البخاری کتاب تفسیر القرآن/باب قوله:{وما أنا من المتكلفين} [ص: ٨٦](رقم-٤٨٠٩) ومسلم کتاب صفة القیامة والجنة والنار/باب الدخان(رقم-٣٩ - (٢٧٩٨)

[٢] اخرجه مسلم باب فی أن الإسناد من الدین وأن الروایة لا تکون إلا عن الثقات وأن جرح الرواة بما هو فیهم جائز بل واجب وأنه لیس من الغیبة المحرمة بل من الذب عن الشریعة المکرمة

ترجمه: [١] ابن سيرين رحمه الله فرمايي [٢] چې دا علم (يعني د کتاب او سنت علم) دين دي هرکله چې تاسو دا حاصلوي نو دا ګوري چې خپل دين د چا څخه حاصلوي. مسلم

د راوي مختصر تعارف: نوم محمد کنيت ابوبکر دَ پلار نوم سيرين کوم چه دَ حرا يا عراق اوسيدونکې وو. سيرين دَ حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښې راګيرکړې شو راغلو اودَ حضرت انس بن مالك رضي الله عنه په غلامئی کښې راغلو. حضرت انس رضي الله عنه دَ هغه نه شل يا څلويښت زره درهم واخستل اوهغه ئی آزاد کړو.

محمد رحمه الله دَ انس بن مالك رضي الله عنه سره اوسيدوکښې علم الهی حاصل کړو اودې سره سره ئی دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه او حضرت حسن بصری رحمه الله نه هم ښه فيض حاصل کړو.

حضرت انس بن مالك رضي الله عنه هم هغه ته دَ جنازې دَمونځ کولو وصيت کړې وو.

امام نووی رحمه الله دَ هغوی باره کښې فرمائی هغه په علم تفسير حديث فقه تعبيررويا وغيره فنونوکښې امام وو.ابن حبان رحمه الله وائی محمدبن سيرين رحمه الله دَبصرې دَ ټولونه زيات پرهيزګار فقيه فاضل او حافظ دَ خوب تعبيرکونکې وو.

دَ دې هرڅه باوجود به دَ الله تعالی نه ډير ويريدلو. هشام بن حسان رحمه الله وائی حضرت محمد بن سيرين رحمه الله به مونږ دَ ورځې په خندا ليدلو خودَ شپې په تيروکښې به دَ هغه دَ ژړا آواز راوچتيدو. دَمرګ په ذکر کولوسره به په هغه لکه دَ مرګ په شان کيفيت پيداکيدلو.

وفات: دَ شنبه په ورځ ١١٠ ھ کښې تقريبًا دَ ٨٠ کالو په عمر کښې دَدنيا نه رخصت شو او خپل حقيقی مالك له ئی تشريف يوړو. د نورو حالاتو دَ پاره اوګورئی ابن خلکان ٤٥٣/١، تهذيب التهذيب ٢١٥/٩، طبقات ابن سعد ٤٠/٧، تذکرة الحفاظ ٦٧/١، شذرات الذهب ١٣٩/١.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ هٰذَا الْعِلْمَ دِينٌ ;فَانْظُرُوا عَمَّنْ تَأْخُذُونَ دِينَكُمْ:

داستاذ په انتخاب کښې احتياط: يعنی دَ علم دين دَپاره ضروری دی چه دَچانه علم حاصلولې شی په هغه دا تسلی او اعتماد وی چه هغه متدين، متقی، پرهيزګار او دَ صحيح عقائدو حامل دې. دَهرکس اوناکس مخې ته دَ شاګردپه توګه کيناستل عقلمندی نه ده ځکه چه دَاستاذ اثروی. په دينی مدرسوکښې استاذان ديندار وی نوسره دَفلسفې اومنطق خودلوترننه پورې څوك طالب علم ګمراه نه شو

[٢٧٣] د قاريانو د مقام نزاکت

٢٧٣ —(١)[٦٩] [١] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ [٢]: يَا مَعْشَرَ الْقُرَّاءِ! اسْتَقِيمُوا، فَقَدْ سَبَقْتُمْ سَبْقًا بَعِيدًا، [٣] وَإِنْ أَخَذْتُمْ يَمِينًا وَشِمَالًا لَقَدْ ضَلَلْتُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او روايت دي چې حضرت حذيفه رضي الله عنه قاريان مخاطب کولو سره وفرمايل [٢] اي د قاريانو جماعته په نيغه لار قايم اوسي [٣] ځکه چې تاسو لوي سبقت وړي دي که تاسو د نيغه لاري څخه ايسته شی نو په لو ګمراهۍ کې به اخته شي. بخاري

حل اللغات: ① مَعْشَرَ: ډله، جماعت، ② اسْتَقِيمُوا: قائم اوسيږئ، د استقامت نه مراد په صحيح عقيده باندې قائم اوسيدل او په علم نافع باندې عمل کول دی. ③ سَبَقْتُمْ: تاسو وړاندې شوی يئ، أی لِأَنَّكُمْ أَدْرَكْتُمْ أَوَائِلَ الْإِسْلَامِ: د وړاندې کيدو نه مراد دټولو نه مخکښې اسلام راوړل دی.

تسهیلات:

قوله: وَإِنْ أُخِذْتُمْ يَمِينًا وَشِمَالًا لَقَدْ ضَلَلْتُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا:

دا خطاب اګر چې قاريانوته دې خو مراد ترې ټول عالمان دی ددې تفصيل و وړاندې د مشکاة حديث نمبر(٢٦٧) په تسهيل کښې تيرشوې دې.

[٢٧٥] الله تعالی ته ناخوښه قاريان

٢٧٥ —(٢)[٧٠] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [٢] «تَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ جُبِّ الْحَزَنِ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَا جُبُّ الْحَزَنِ؟ [٣] قَالَ: "وَادٍ فِي جَهَنَّمَ تَتَعَوَّذُ مِنْهُ جَهَنَّمُ كُلَّ يَوْمٍ أَرْبَعَمِائَةِ مَرَّةٍ". [٤] قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَنْ يَدْخُلُهَا؟ قَالَ: "الْقُرَّاءُ الْمُرَاءُونَ بِأَعْمَالِهِمْ» ". [٥] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَكَذَا ابْنُ مَاجَهْ، وَزَادَ فِيهِ: " «وَإِنَّ مِنْ أَبْغَضِ الْقُرَّاءِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى الَّذِينَ يَزُورُونَ الْأُمَرَاءَ» " قَالَ الْمُحَارِبِيُّ: يَعْنِي الْجَوَرَةَ.

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ (صحابه مخاطب کولو سره) وفرمايل [٢] تاسو د الله جل جلاله څخه پناغواړي د جُبّ الحزن يعنی د غم د کوهی څخه صحابوو رضي الله عنهم عرض وکړو يا رسول الله ﷺ د غم کوهی کوم يو دي [٣] حضور ﷺ وفرمايل په هغه دوزخ کې يوه کنده ده چې د هغه څخه دوزخ په ورځ کې څلور سوه ځله پنا غواړي [٤] صحابوو رضي الله عنهم عرض وکړو يا رسول ﷺ په دي کې به څوک داخليږي حضور ﷺ وفرمايل هغه قرآن ويونکي چې خپل اعمال د خپل ښوونې د پاره کوي، [٥] ترمذي ابن ماجه، او د ابن ماجه په روايت کې دا الفاظ زيات دي چې د الله جل جلاله په نيز مبغوض ترين قاريان هغه دي چې د سردارانو سره ملاقات کوي د دې حديث راوي

[١]) اخرجه البخاری کتاب التمنی /باب الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم (رقم-٧٢٨٢)

[٢]) اخرجه الترمذی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الرياء والسمعة (رقم-٢٣٨٣)

محاربي ويلي دي چې سردارانو څخه مراد ظالم سرداران دي.

حل اللغات: ① تَعَوَّذُوا: پناه غواړئ، ② جُبّ الْحَزَنِ: أَيْ مِنْ بِئْرٍ فِيهَا الْحُزْنُ: د غم کوهې (دا په جهنم کښې يوه ژوره کنده ده). ③ وَادٍ: وادی، کنده، ④ الْمُرَاءُونَ: دجمع اسم فاعل صيغه ده، ريا کاری کونکی دی، ښودنه کونکی دی، ⑤ يَزُورُونَ: زيارت او ملاقات کونکی دی، ⑥ الْأُمَرَاءَ: بادشاهان، سرداران.

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ مِنْ أَبْغَضِ الْقُرَّاءِ إِلَى اللَّهِ تَعَالَى الَّذِينَ يَزُورُونَ الْأُمَرَاءَ:

نوټ: دعالمانو او قاريانو دپاره د حاکمانو او مالدارنو دربارونو ته ورتلل او دهغوی څخه دنياوی مفاد حاصلولو دې تفصيل وړاندې د مشکاة حديث نمبر (٢٧٥) په تسهيل کښې تيرشوې دې.

[٢٧٦] د اسلام به يوازې نوم پاتې شي

٢٧٦ - (١) [٧١] ١ وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ "«يُوشِكُ أَنْ يَأْتِيَ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ ① لَا يَبْقَى مِنَ الْإِسْلَامِ إِلَّا اسْمُهُ. ② وَلَا يَبْقَى مِنَ الْقُرْآنِ إِلَّا رَسْمُهُ، ③ مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ مِنَ الْهُدَى، ④ عُلَمَاؤُهُمْ شَرُّ مَنْ تَحْتَ أَدِيمِ السَّمَاءِ، مِنْ عِنْدِهِمْ تَخْرُجُ الْفِتْنَةُ، وَفِيهِمْ تَعُودُ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)

ترجمه: ١ او حضرت علي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ٢ دير نزدې په خلقو به يو داسې وخت راشي ① چې د اسلام څخه به يوازې د هغه نوم باقي پاتې شی ② او قرآن څخه به يوازې د هغه تورې باقي پاتې شی ③ د هغوئ مسجدونه به په ظاهره آباد وي خو په حقيقت کې به د هدايت څخه خالي وي ④ د هغوئ علماء به د آسمان څخه په لاندې مخلوق کې د ټولو څخه بدترين وي د هغوئ څخه به (د ظالمانو د حمايت او مدد په وجه سره) په دين کې فتنه پيدا کيږي او هغوئ ته به واپس راځي يعنی په هغوئ به ظالم مسلط کولې شي. بيهقي

حل اللغات: ① يُوشِكُ: دا د افعال مقاربه ؤ نه دې. أَيْ: يَقْرُبُ: نزدې ده، ② رَسْمُهُ: أَيْ: أَثَرُهُ الظَّاهِرُ: رسم او عادت (ددې نه مراد قرآن ليکل، لفظی تلاوت او قرأت دې چه علم به وی عمل به نه وی، تلاوت به وی تدبّر به نه وی). ③ عَامِرَةٌ: أَيْ بِالْأَبْنِيَةِ الْمُرْتَفِعَةِ: آباد به وی په لحاظ د تعمير او آبادئ سره (غټې غټې بلډنګونه به ئې وی، قالينونه او فانوسونه به وی خو مونځګذار او عبادت ګذار به پکښې نه وی). ④ خَرَابٌ: خراب به وی (مرشد او هادی يعنی سمه لار ښودونکی به پکښې نه وی). ⑤ الْهُدَى: هدايت (يا ددې نه مراد هادی دې يعنی لار ښودونکې). ⑥ أَدِيمِ: أَيْ: وَجْهِهَا: اديم څرمن ته وائی دلته ترې د آسمان مخ مراد دې. ⑦ تَعُودُ: واپس کيږی به، راګرځی به.

(١) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ١٩٠٨

تسهيلات:

قوله: لَايَبْقَى مِنَ الْإِسْلَامِ إِلَّا اسْمُهُ:

يوه بلاغي نكته: امام طيبي رحمه الله فرمائي چې په حديث کښې د اسلام سره د اسمه او د قرآن سره د رسمه ذکر اوشو.په دې کښې دا نکته ده چې په آخره زمانه کښې به قاريان د قرآن پاک د تجويد خو به ډير خيال ساتي هريو لفظ به د خپل خپل مخرج څخه ادا کوي خو ددې په مطلب به نه پوهيږي چې په دې آيت کښې الله تعالى څه فرمائي.

قوله: مَسَاجِدُهُمْ عَامِرَةٌ

دجماتونو ظاهري آبادي: يعني په آخره زمانه کښې به جماتونه د زيب اوزينت او نقش ونګار په اعتبار سره ډير ښائسته وي.نن صبا که اوګورې نو په جماتونو کښې ټائليونه لګيدلي دي.قالينونه په کښې خواره شوي وي اواې سی ګان په کښې لګيدلي وي خو چې دجمعې په وخت کښې اوګورې نو يو يا دوه صفتونه به وي.نبي عليه السلام څوارلس سوه کاله وړاندې ددې خبرې پيشنګوئي کړې ده.

قوله: وَهِيَ خَرَابٌ مِنَ الْهُدَى

د خراب په مفهوم کښې درې اقوال:

① په جماتونو کښې به دين اوهدايت خودنکی څوک نه وی بلکه امامان به هم جاهلان وی ددې وجې به د هدايت څخه خالي وي.

② جماتونه به په ظاهري نقش اونګار سره ډير ښائسته وي خو د اعمالو په اعتبار سره به شاړ وی ځکه چې مونځګذار به په کښې نه وی اوکه وی هم د نشت برابر به وی.

③ دخراب څخه مراد د بدعتيانو بدعات دی چې په جماتونو کښې به بدعات او خرافات کيږي.نود هدايت څخه به ځکه خالي وي.

[۲۷۷] علم به څنګه پورته شي؟

۲۷۷—(۱)[۴۲] ① وَعَنْ زِيَادِ بْنِ لَبِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ②: «ذَكَرَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - شَيْئًا: فَقَالَ: ذَاكَ عِنْدَ أَوَانِ ذَهَابِ الْعِلْمِ " ③قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَكَيْفَ يَذْهَبُ الْعِلْمُ وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَنُقْرِئُهُ أَبْنَاءَنَا وَيُقْرِئُهُ أَبْنَاؤُنَا أَبْنَاءَهُمْ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ؟ ④فَقَالَ: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ زِيَادُ! إِنْ كُنْتُ لَأُرَاكَ مِنْ أَفْقَهِ رَجُلٍ بِالْمَدِينَةِ! ⑤أَوَلَيْسَ هَذِهِ الْيَهُودُ وَالنَّصَارَى يَقْرَءُونَ التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ لَا يَعْمَلُونَ بِشَيْءٍ مِمَّا فِيهِمَا؟» ! " رَوَاهُ

۱) اخرجه ابن ماجة كتاب الفتن /باب ذهاب القرآن والعلم (رقم-۴۰۴۸) اخرجه احمد فى المسند: ۴/۱۶۰

أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْهُ نَحْوَهُ.

ترجمه: [١]زياد بن لبيد رضي الله عنه راوي دي [٢]چې رسول الله ﷺ د يو شي يعنی د فتنه او ابتلاء ذکر وکړو بيا يي وفرمايل دا به هغه وخت وي کله چې علم لاړ شی (په دي اوريدو سره) [٣]ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ علم به څنګه لاړ شی حالانکه زمونږ قرآن وايو خپلو بچو ته يي هم ورښايو زمونږ بچيان به يي بيا خپلو بچيانو ته ورښايي او دا سلسله به تر قيامته پورې جاري وي [۴]حضور ﷺ وفرمايل اي زياد ! ستا مور دي در باندې بوره شی ما خو ته د مديني په خلقو کې ډير غټ عالم ګڼلې [۵]آيا يهود او نصارئ تورات او انجيل نه وايي؟ ليکن ددي باوجودپه دي کتابونو کې چې څه دي (يعني احکام) په هغه کې په هيڅ يو عمل نه کوي، احمد ابن ماجه، او ترمذي دغسې روايت د زياد څخه

حل اللغات: ① أَوَانِ : أَيْ: وَقْتَ: وخت ته وائی. ② ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ : أَيْ فَقَدْتكَ: ستا مور دې تا ورک کړی يعنی ته دې مړ شې، په ظاهرکښې دا خيرې ښکاری خو ددې نه مراد خيرې نه دی بلکه تاديب او تنبيه ده.

٢٧٨-(١)[٠]وَكَذَا الدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ.

ترجمه: او د غسي دارمي د ابي امامه رضي الله عنه څخه نقل کړي دي.

تسهیلات:

قوله: لَا يَعْمَلُونَ بِشَيْءٍ مِمَّا فِيهِمَا:

د اهل کتابو ګمراهی : يعنی د تورات او انجيل تعليم جاری دې. خو دهغې په مندرجاتو او تعليماتو باندې عمل کول ختم شوی دی. په دې وجه ددوئ سره د علم عمارت منهدم شوې دې. کتابونه موجود دی، د تعليم انتظام هم شته دې خو علم تلې دې. په دې وجه چې عمل نشته دې. ددې حديث څخه په واضحه توګه معلومه شوه چې دعمل انحطاط راځی د علم انحطاط دې. فکرمند علماء کرام د نصاب د اصلاح کوشش کوی. مشورو دپاسه مشورې کيږی خو اصل بيمارئی ته دچا پام نشته چې په کومه اداره کښې صرف عمله او طلباء نه بلکه انتظاميه او مربی اساتذه کرامو پورې په مونځ کښې سستی کوی او په عملی ميدان کښې روستو دی نو هلته به علمی انحطاب نه راځی نو نور به څه

(١) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ٢٤٠

راځي؟ نبي كريم ﷺ پيشگوئی کړې ده او هغه بالکل صحيح ثابت شوه، مونږ له د عمل اصلاح کول پکار دی.

[۲۷۹] علم به پورته شی او فتني به ښکاره شي

۲۷۹—(¹)[۴۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۲] «تَعَلَّمُوا الْعِلْمَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ، [۳] تَعَلَّمُوا الْفَرَائِضَ وَعَلِّمُوهَا النَّاسَ، [۴] تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ وَعَلِّمُوهُ النَّاسَ; [۵] فَإِنِّي امْرُؤٌ مَقْبُوضٌ، [۶] وَالْعِلْمُ سَيُنْقَبِضُ بَعْدِي، [۷] وَتَظْهَرُ الْفِتَنُ [۸] حَتَّى يَخْتَلِفَ اثْنَانِ فِي فَرِيضَةٍ لَا يَجِدَانِ أَحَدًا يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا»، رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي [۲] چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل علم زده کړي او وي ښايئ [۳] علم فرائض (يا فرض احکام) زده کړي [۴] او خلقو ته يي هم وښايي (دغسي) قرآن زده کړي او خلقو ته يي هم وښايي [۵] ځکه چې بيشکه زه يو سړي يم او پورته به شم [۶] او علم به هم پورته شی [۷] او فتني به ظاهري شی [۸] تر دي چې دوه خلق به په يوه فرض مسئله کي اختلاف کوي او هيڅوك به داسې پيدا نه کړي چې د هغه دواړو په مينځ کې فيصله وکړي (يعني د علم د کم کيدو او د فتنو زياتيدو به داحال شي. دارمي، دار قطني

حل اللغات: ① الْفَرَائِضَ: أُرِيدَ بِهَا فَرَائِضُ الْإِسْلَامِ أَوْ فَرَائِضُ الْإِرْثِ: دې نه مراد يا د اسلام فرض احکامات دی يا علم ميراث دې. ② مَقْبُوضٌ: أَيْ: سَأُقْبَضُ: زر ده چه زه به قبض کړې شم (يعنی زه هم ستاسو په شان انسان يم دنيا ځخه تلونکې يم ځه هميشه خوبه ژوندې نه يم، نو تاسو زما د ژوند نه فائده واخلئ). ③ سَيُنْقَبِضُ: زر ده چه قبض به شی علم يعنی پروته به کړې شی، ④ يَفْصِلُ: چه فيصله اوکړی (ځکه چه علم به کم شی او فتنه به زياته شی).

تسهيلات:

نوټ: دې حديث تشريح وړاندې د مشکاة حديث نمبر (۲۴۴) په تسهيل کښې تيره شوې ده.

[۲۸۰] دکوم علم ځخه چه نفع نه اخستل کيږی دهغې مثال

۲۸۰—(²)[۴۴] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «مَثَلُ عِلْمٍ لَا يُنْتَفَعُ بِهِ كَمَثَلِ كَنْزٍ لَا يُنْفَقُ مِنْهُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] ابو هريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د هغه علم مثال چې د

---

¹) اخرجه الدارمی فی السنن رقم الحديث ۲۲۱ والدارقطنی فی السنن رقم الحديث ۴۵

²) اخرجه احمد فی المسند: ۴۹۹/۲ و الدارمی فی السنن رقم الحديث ۵۵۶

هغه څخه نفع وانخستل شی (یعني نورو ته ونه ښودل شی او نه عمل پرې وشي) د هغه خزاني په شان دي چې هغه څخه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې هیڅ خرڅ نه کړل شي. احمد، دارمي

حل اللغات: ① لَایُنْتَفَعُ: چه فائده ترې وانه خستلې شی (چه عمل پرې اوکړې شی او بل ته اوخودلې شی حالانکه علم فی نفسه خپله فائده مند دې). ② كَنْز: خزانه.

تسهيلات:

قوله: كَمَثَلِ كَنْزٍ لَايُنْفَقُ مِنْهُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ:

دعلم د خزانې سره د تشبيه ورکولو وجه: یعنی دَهغه علم مثال دکوم نه چه څوك څه فائده اوچته نه کړی دَ بې فائدې کیخودې شوې خزانې په شان دې دکومې نه چه یوه پیسه دَ څه ښیګړې په کار خرچ نه شی اونه په خپل بال بچ باندې خرچ کړې شی اونه ئی په خپل ځان باندې خرچ کړی. او نه ئی په قومی اجتماعی امورو کښې خرچ کړی اونه ئی په جهادفی سبیل الله کښې خرچ کړی.

د تشبيه سره مقصود: علامه طيبى رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمائی په دې تشبيه سره صرف دومره خودل مقصود دې چه دَعلم نه فائده اواستفاده نه کول داسې دی لکه چه دَ خزانې نه خرچ کول. علامه طيبى رَحِمَهُ اللّٰهُ نور لیکی که چرې دَدې تشبيه نه مراد عام تشبيه واخستې شی نوبیا دَعلم تشبيه خزانې سره ورکول صحیح نه دی ځکه چه علم خرچ کولوسره زیاتیږی او خزانه کمیږی. علم باقی پاتې کیږی اوخزانه فانی کیږی دَعلم غلا نه کیږی او دَ خزانې غلا کیږی. [الکاشف:۱/۳۶۵.]

الحمد لله د ډیرمحنت اوکوشش څخه روسته هغه ورځ هم راغله چې د تسهیلات دولس جلدونه تکمیل ته اورسیدل او په لسم اویولسم جلد کښې لږ غوندې کار پاتې دې ددې اول جلد څه حصه ما تبرک دپاره دَ مسجد نبوی په لائبریری کښې هم کړې وه او په مسجد حرام کښې مې د دې مقدمه لیکلې وه الله تعالی دې ورته د دې مبارکو ځایونو په برکت داسې مقبولیت ورکړی څنګه چې یې زما تسهیل الهدایه ته ورکړې دې.او دا دې زما او زما د معاونینو د آخرت د نجات ذریعه جوړه کړی آمین بتاریخ ۲۸ ستمبر ۲۰۲۰ء

....

أنوار الهلالين

لفواید قیودات الجلالین

پښتو ترجمه — څلور جلدونه مکمل

جمالین شرح جلالین

شارح: محمد جمال بلندشهری
مدرس د دارالعلوم دیوبند
پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل
فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده، امداد العلوم پیښور، وفاق المدارس

خصوصیات

① لغوی تحقیق، چې ددې لفظ په لغت کښې څه معنی ده.
② صرفی تحقیق مثلاً دا کلمه د څه صیغه ده وغیره
③ نحوی تحقیق مثلاً دا کلمه په ترکیب کښې څه واقع شوې ده.
④ بلاغی تحقیق چې په دې اضافي قید کښې کومه بلاغی نکته ده.
⑤ فقهي تحقیق چې په دې اضافي قید سره کومې مسئلې ته اشاره ده.
⑥ د قراءت تحقیق چې په دې مقام کښې دا قراءت څنګه دې.
⑦ تقدیرات راویستل چې دلته کوم لفظ مقدر پروت دې.
⑧ د تقدیری عباراتو وجه او سبب بیانول.

خورونکی
فیصل کتب خانه
محله جنګی پیښور موبائل نمبر: ٠٣١٥٩٥٩٥٧١٧